د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# عزیز التفاسیر

د قرآن کریم پښتو ترجمه او تفسیر

ابو حذیفه

مولوي سلطان عزیز عزیز عفی عنه

ناشر

دار الحکمة العلمیة

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

﴿ وَإِنَّهُۥ لَكِتَٰبٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ ﴾ [حم السجدة]

او بېشکه دا ذکر (قرآن) هرومرو کلک (قوي) کتاب دی

# عزيز التفاسير

د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير

د "الفرقان" [۲۱] ایت څخه تر، "الشعراء، النمل، القصص، العنکبوت، الروم، لقمان، السجدة" پورې

نهم ټوک

مولوي سلطان عزيز (عزيز) أبو حذيفه عفى الله عنه

حسن خيل مومند: د نجم المدارس پخوانی استاذ

ناشر: دار الکنوز العلمية

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

- د دې کتاب لیکنه د الله ﷻ په توفیق په دار الهجرة (پېښور - پاکستان) کې په ۱٤۱۱/۲/۳ هـ ق = ۱۳٦۹/٦/۲ هـ ش نیته د جمعې د شپې په دوه بجو پیل، او په ۱٤۲٦/٤/۱۲ هـ ق = ۱۳۸٤/۱/۳۱ هـ ش نیته پای ته ورسیده.

- په ۱٤۲۹/۱/۱ هـ ق= ۱۳۸٦/۱۰/۲۰ هـ ش نیته بې بیا کتنه، تصحیح او ډیزاین ترسره شوه او د الله ﷻ په فضل چاپ ته چمتو شو.

- له شروع نه تر پایه وربانديې اوولس کاله، څلور میاشتې او اوولس ورځې تېرې شوې، البته په دې حساب کې هره میاشت د دیرشو ورځو په لحاظ نیولې شوې ده.

- کمپوز: مولوي تبیان الحق عزیز حقاني. تصحیح: قاضي اسامه عزیز. د (دکتور اظهار الحق عزیز، نبراس الحق عزیز او حذیفه عزیز) په همکارۍ. ډیزاین: نبراس الحق عزیز، د حذیفه عزیز په همکارۍ.


# څلورم چاپ

## ۱٤۳۷ هـ ق / ۱۳۹۵ هـ ش



## د دې کتاب ټول حقوق محفوظ دي



د اړیکو پتې:

۱) بریښنالیک azizultafasir@gmail.com

۲) ګرځنده تلفون (۰۰۹۲۳۰۰۵۸٤٦۳٥۱)، (۰۰۹۲۳۱٦٥۲۷۹۳۰۳)

د لاسته راوړلو پتې:

۱) رشیدیه کتب خانه، کابل، افغانستان.

ګرځنده تلفون (۰۷۷۱۹٦۱۰۲۸)، (۰۷۹۰۹٦۲۸۰۷)

۲) رشیدیه کتب خانه، صدف پلازه، محله جنګي، د قصه خواني شاته، پېښور، پاکستان.

تلفون (۰۹۱۲٥٦٥٥۳۸)


Scanned by CamScanner




Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ نَرَىٰ رَبَّنَا ۗ لَقَدِ
ٱسْتَكْبَرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾ يَوْمَ يَرَوْنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشْرَىٰ يَوْمَئِذٍ
لِّلْمُجْرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٢٢﴾ وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً
مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا ﴿٢٤﴾ ﴾

[٢١] او هغه کسان وايي کوم چې زمونږ د ملاقات (د قيامت د قيام) څخه نه ډارېږي چې په مونږ باندې (د پيغمبر د تصديق دپاره) ولې پرښتې نه رالېږلې کېږي يا ولې (په همدې ارتباط) مونږ خپل رب ﷻ نه ګورو؟ (چې تصديق يې ترې واورو).

يقيناً دوى (دغه کسان) د خپلو ځانونو په هکله لويې کوي او (هم په تکبر او ظلم کښې) د اندازې څخه تجاوز کوي ډېر لوى تجاوز.

[٢٢] په کومه ورځ (د مرګ يا د قيامت په ورځ) چې دغه کسان پرښتې وګوري په دغې ورځ کښې به مجرمانو (همدغو ظالمانو) ته هيڅ زيرى (د خوشالۍ خبر) نه وي، (بلکې د غم او عذاب په نزول باندې به باوري شي) او (پرښتو ته) به ووايي چې (مونږ ستاسو څخه) مانع منعه کړى شوې (کلکه پرده) غواړو (چې تاسو ونه ګورو).

[٢٣] او مونږ به (د کفارو) هغو عملونو ته قصد وکړو کوم چې (په دنيا کښې يې) عملي کړي وه هرڅه عمل چې وي نو وبه يې ګرځوو شيندلى شوى ګرد (بالکل به يې ضائع کړو).

[٢٤] د جنت ملګري (جنتيان) به په دغې ورځ کښې (د دوزخيانو څخه) د قرار نيولو د ځاى د حيثه ډېر غوره وي او (هم) به د استراحت د ځاى د حيثه ډېر ښايسته وي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د مشرکانو باطل اقوال حکايت شوي وه، په دې ايتونو کښې همدغه موضوع تعقيب شوې ده او د هغوى د څه نورو اقوالو ذکر نازل شوى دى او هم يې نتائجو ته څه اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

اى پيغمبره! د مشرکانو (کفارو) څه نور باطل اقوال او هم د دوى د باطلو اقوالو نتائج په خپل امت باندې داسې قرائت کړه چې:

١ ـ هغه کسان کوم چې د قيامت د ورځې د قيام څخه نه ډارېږي (يا ورته دروغ برېښي او يا يې په قصدي توګه دروغ ګڼي) وايي چې محمد ﷺ خپلې د نبوت په دعوې کښې رښتينى نه دى، ځکه چې:

الف: که نومړى پکښې رښتينى وى نو په مونږ باندې به پرښتې رالېږلې شوې وى او مونږ ته به يې راپېژندلې وى چې دا د الله ﷻ پيغمبر دى تاسو يې په همدې صفت باندې وپېژنئ؛

ب: او يا به مونږ خپل رب ﷻ ليدلى وى او د نومړي تصديق به يې زمونږ په وړاندې کړى وى

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې دا زما پیغمبر دی او زما د پلوه تاسو ته دراستولی شوی دی تاسو یې اطاعت وکړئ او نبوت یې قبول کړئ.

نو کله چې دا یو کار هم ونه شو نو معلومه شوه چې نوموړي په خپله دعوه کښې دروغژن دي، او مونږ د دروغژن اطاعت نه شو کولی.

٢ـ ای پیغمبره! د مشرکانو ذکر شوي اقوال د ډېر لوی تکبر څخه نمایندګي کوي دوی ته خپل ځانونه په خپل زړه کښې ډېر لوی برېښي او حتی خپل ځانونه د دې خبرې جوګه بولي چې یا د پرښتو د نزول افتخار حاصل کړي او یا د الله ﷻ په دیدار باندې مشرف شي، حال دا چې دوی د دغه یوه کار دپاره هم جوګه نه دي بلکې دوی په ظلم کښې ډېر لوی تجاوز کوي او تکبر یې د اندازې څخه وتلی دی، د دغه بې حده تکبر او ظلم نتائج به وګوري.

٣ـ د پرښتو ملاقات خو په دنیا کښې څه وړوکی کار نه دی چې هرڅوک یې لیاقت ولري او یا یې هرڅوک د ملاقات توان ولري.

هو! د قیامت په ورځ به مشرکان پرښتې وګوري او د ملاقات زور به یې ورته څرګند شي، خو په دغې ورځ کښې به هغوی ته هیڅ خوشالي نه وي بلکې په دغې ورځ کښې به همدغه مجرمان وایي چې زمونږ او د پرښتو ترمنځ دې کلک او قوي مانع تحقق ومومي، مونږ د پرښتو ملاقات نه غواړو، په مونږ کښې د دوی د لیدلو وسه نشته.

یا په بل عبارت: په دغې ورځ کښې به مشرکان د پرښتو ملاقات نه غواړي خو پرښتې به د دوی ملاقات غواړي چې د سر او پښو څخه به یې ونیسي او دوزخ ته به یې سر په څړې ورواچوي (نو تادي مه کوئ د پرښتو لیدل درروان دي).

٤ـ په دغې ورځ کښې به مشرکان د خپلو ځانونو د نجات دپاره هیڅ وسیله مونده نه کړي، د دوی باطل معبودان به یې د عبادت څخه انکار وکړي او کوم نېک عملونه چې دوی په دنیا کښې کړي دي لکه مېلمه پالنه، صله رحمي او یا کوم عملونه چې دوی ته په دنیا کښې نېک برېښي هغه به ټول مونږ ضائع کړو او د ګرد په شان به یې خواره واره او شیت پیت کړو، حتی چې د بېرته راغونډولو اُمید به یې هم د چا سره پاتې نه شي.

٥ـ خو بالمقابل په دغې ورځ کښې به مؤمنانو ته د دوی روغه عقیده او صالح عملونه ډېره ګټه ورسوي، او د جنت خاوندان به یې وګرځوي، نو دوی به په دغې ورځ کښې د خپل قرار ځای د حیثه ډېر بهتر وي او د خپل ارام ځای د حیثه به ډېر ښایسته وي چې جنتونو ته به په دائمي توګه داخل کړی شي او د هر ډول ستوماني څخه به ورته ارامي وروبښله شي.

## توضیحات

١ـ په ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا﴾ کښې د ﴿لَا يَرْجُونَ﴾ کلمه د "رَجَاء" (اُمید) څخه اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس:٧] ایت لاندې لیکلي دي چې د اُمید سره د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فوت کېدلو خوف لازم وي، نو څکه نوموړې کلمه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "لا يخافون" سره تفسیره کړې ده، یعني دا خبرې هغه کسان کوي کوم چې زمونږ د ملاقات (د قیامت د ورځې د قیام) څخه نه دارېږي، که بالفرض دوی ترې څه دار درلودی نو دغسې خبرې به یې نه وی کړې.

## د پرښتو د راښکته کېدلو معناوې

۲ـ د ﴿لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ﴾ کلمات علماوو کرامو په لاندې دوه وو معناوو باندې تفسیر کړي دي[۱]:

الف: مشرکانو د بهانو د نیولو دپاره غوښتل چې په هر یوه باندې د وحې پرښتې وریښکته شي او کتاب وریاندې ورنازل شي، همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً﴾ [المدثر:۵۲] یعني بلکې د دوی (کفارو) هر سړی دا اراده لري او غواړي چې خورې پاڼې (کتاب) ورکړی شي (او د نبوت مقام ته ورسېږي).

ب: هغوی غوښتل چې د شهادت دپاره وریاندې پرښتې وریښکته شي چې دا (محمد ﷺ) په رښتیا پیغمبر دی، همدا خبره الله ﷻ د هغوی د خولو څخه حکایت کړې ده چې: ﴿أَوْ تَأْتِيَ بِٱللَّهِ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةِ قَبِيلًا﴾ [الإسراء:۹۲] یعني مشرکان وایي چې: تر هغه به په تا باندې ایمان رانه وړو ترڅو چې ته مونږ ته الله ﷻ او پرښتې د مخامخ خبرو دپاره راولې او زمونږ په وړاندې ستا د نبوت تصدیق وکړي.

## تبصره

۳ـ که څه هم خینو علماوو کرامو دوهم تفسیر ته د مقام په لحاظ ترجیح ورکړې ده[۲] مګر څرنګه چې دواړه معناوې سره یو تربله منافات نه لري او مشرکانو دواړه ډوله خبرې کولې نو د بدلیت په اعتبار سره د دواړو په اراده کولو کښې هم څه باک نشته.

## عُتُو څه معنی؟

۴ـ په ﴿وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا﴾ کښې د "عُتُوّ" کلمه د حد او اندازې څخه د تجاوز دپاره وضعه شوې ده[۳]، خو په دې مقام کښې یې معنی داسې راځېږي چې: مشرکانو په خپل کفر او تکبر کښې د اندازې څخه ډېر لوی تجاوز کړی دی چې خپلو ځانونو ته د پرښتو په نزول او یا د الله ﷻ په دیدار باندې قول کوي، په اصطلاح د هغوی تکبر د چتې څخه وتلی دی.

## مشرکان به پرښتې څه وخت وګوري؟

۵ـ په ﴿يَوْمَ يَرَوْنَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةَ﴾ کښې د پرښتو د رؤیت او لیدلو وخت مفسرینو کرامو[۴] په دوه وو وختونو باندې تفسیر کړي دي چې د دواړو اراده کول هم څه منافات نه لري هغه دا چې:

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۱۴۳؛ تفسیر ابي السعود: ج۶ ص۲۱۱
(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۳
(۳) القاموس المحیط ج۳ ص۱۵۳
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۲ ص۲۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: مشركان به پرښتې په هغه وخت كښې وګوري كله چې دوى ته د ارواګانو د قبض دپاره ورشي او په ډېر غضب سره ترې ارواګانې قبض كړي. په همدې مضمون باندې په [الأنعام:٩٣] ايت كښې صراحت شوى دى.

ب: هغوى به پرښتې د قيامت په ورځ وګوري، چې په دغه وخت كښې به د هيڅا څخه پټې نه وي، نو مؤمنانو ته به بشارت او د خوشالۍ زيرى وركوي او كفار به د الله ﷻ عذاب ته ورټېل وهي، العياذ بالله ﷻ من العذاب.

## د حجر معنى

٦ـ په ﴿ وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴾ كښې لاندې ټكو ته توجه پكار ده[١]:

الف: د ﴿ حِجْرًا ﴾ كلمه د حرام معنى وركوي چې همدغه معنى په ﴿ مَّحْجُورًا ﴾ سره تاكيده شوې ده، دا د يو پلوه او د بل پلوه په ﴿ وَيَقُولُونَ ﴾ كښې مستتر ضمير پرښتو ته راجع دى.

يعنې د قيامت په ورځ يا د ځنكدن په حال كښې به پرښتې مؤمنانو ته په جنتونو سره بشارت او زيرى وركړي او كفارو ته به ووايي چې نن ورځ په تاسو باندې بشارت حرام ګرځېدلى دى ډېر كلك حرام، چې هيڅكله به ترې استفاده ونه شئ كړى.

ب: نومورې كلمه د منعې په معنى سره ده چې په ﴿ مَّحْجُورًا ﴾ سره همدغه معنى تاكيده شوې ده، او په دې باندې علاوه په ﴿ وَيَقُولُونَ ﴾ كښې مستتر ضمير كفارو (مشركانو) ته راجع دى. نو حاصل يې داسې راځي چې: نن ورځ خو مشركان د پرښتو د ليدلو غوښتنه كوي خو داسې وخت ورروان دى چې دوى به پرښتو ته ووايي چې مونږ ستاسو د ليدلو څخه د ډېر كلك مانع مطالبه كوو چې زمونږ او ستاسو ترمنځ قوي مانع او پرده ودروله شي (ستاسو په ليدلو او كتلو كښې زمونږ تعذيب نغښتى دى).

مشركان به په دغه وخت كښې څكه په ذكرو شوو كلماتو باندې تلفظ وكړي چې دوى به په دنيا كښې د زيات خطر په وخت كښې په همدغو كلماتو سره پنا غوښتله، دوى به خيال وكړي چې دلته به هم ورباندې پنا راكړه شي او د عذابه به بچ كړى شو.

## تبصره

٧ـ كه څه هم ځينو علماوو كرامو لومړۍ معنى ته ترجيح وركړې ده[٢] خو مونږ ته د مقام په لحاظ سره دوهمه معنى ترجيح لري، اما د لومړۍ معنى اراده كول هم د بدليت په اعتبار سره نه ردوو.

## هباء څه معنى؟

٨ـ په ﴿ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴾ كښې مفسرينو كرامو د ﴿ هَبَآء ﴾ كلمه په متعددو معناوو باندې

---

(١) زاد المسير ج٦ ص١٠؛ التفسير الكبير ج٢٤ ص٧١

(٢) تفسير الطبري ج١٩ ص٣؛ تفسير البغوي ج٣ ص٣٦٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تفسیره کړې ده[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې نوموړې کلمه به د غبار (ګرد) سره مرادفه وي[۲]، چې په ﴿ مَّنثُورًا ﴾ سره تاکیده شوې ده، یعني مونږ به د کفارو عملونو ته قصد وکړو او داسې به یې تیت پرک کړو لکه چې په تېز باد سره خاوره تیته او وشیندله شي.

د کفارو د اعمالو د ضائع ګرځولو څخه په دې مقام کښې د کنایې په توګه په ﴿ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴾ سره تعبیر شوی دی او په [النور:۳۹] ایت کښې د "سَرَاب" سره تشبیه ورکړه شوې ده او بالآخره په [إبراهيم:۱۹] ایت کښې د ایرو د ډېرۍ غوندې ګڼلی شوي دي چې تېز باد وربانديې وچلېږي.

## د مَقِيل معنی

۹_ په ﴿ خَيۡرٌ مُّسۡتَقَرًّا وَأَحۡسَنُ مَقِيلًا ﴾ کښې د "مَقِيل" کلمه یا میمي مصدر ده او یا اسم ظرف ده خو اصل باب یې: "قَالَ يَقِيلُ قَيْلُوْلَةً" دی. "قَيْلُوْلَةٌ" د غرمې د استراحت دپاره وضعه شوې ده برابره خبره ده چې خوب ورسره ملګری وي او که نه[۳]. په دې مقام کښې بدون د خوبه استراحت مطلب دی ځکه چې په جنتیانو باندې خوب نه ورعارضېږي، ځکه چې خوب د مرګ ورور دی.

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: «إِنَّ حِسَابَ الْخَلْقِ يَكْمَلُ فِيْ وَقْتِ إِرْتِفَاعِ النَّهَارِ وَيَقِيلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فِي الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّهَارِ فِي النَّارِ»[۴] یعني یقیناً د ټولو خلکو حساب به د قیامت په ورځ د لمر د پورته کېدلو په وخت کښې پوره شي چې ورځ نیمایي ته ورسېږي نو د نیمې ورځې استراحت به جنتیان په جنت کښې وکړي او دوزخیان به یې په دوزخ کښې وکړي (په دوزخ کښې به واچول شي). یا په بل عبارت، د حساب د فیصله کېدلو وخت به داسې وي لکه چې په دنیا کښې لمر د اسمان نیمایي ته پورته شي که نه نو هلته خو به د لمر د ختلو او پرېوتلو نظام د منځه تللی وي.

په دې باندې علاوه دوزخیانو ته د مقیل یا استراحت نسبت محض د مشاکلة په توګه دی او بس.

## یادونه

۱۰_ کوم تحقیق چې د الله ﷻ په توفیق د [الفرقان:۱۵] ایت لاندې د ﴿ خَيۡرٌ ﴾ په کلمه کښې تېر شوی دی همغه تحقیق دې په دې مقام کښې د "خَيْر، أَحْسَن" د کلمو په هکله په نظر کښې ونیول شي.

﴿ وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ۝٢٥ ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّ لِلرَّحۡمَٰنِ وَكَانَ يَوۡمًا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ عَسِيرًا ۝٢٦ وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۲ ص۵۱۳
(۲) القاموس المحیط ج۴ ص۴۷۷
(۳) لسان العرب ج۱۱ ص۵۷۷؛ مفردات الراغب ص۴۳۵
(۴) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۹

Scanned by CamScanner

ٱتَّخَذْتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلاً ﴿٢٧﴾ يَٰوَيْلَتَىٰ لَيْتَنِى لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلاً ﴿٢٨﴾ لَّقَدْ أَضَلَّنِى
عَنِ ٱلذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَآءَنِى ۗ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِلْإِنسَٰنِ خَذُولاً ﴿٢٩﴾ وَقَالَ ٱلرَّسُولُ
يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُوا۟ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِىٍّ عَدُوًّا مِّنَ
ٱلْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾ ﴾

[۲۵] او (ای پیغمبره!) هغه ورځ (یاده کړه) چې اسمان په (سپینې) وریځې سره وچوي (سپینې وریځې ترې راڅرګندې شي) او (هم ترې) پرښتې رانښکته کړی شي رانښکته کول.

[۲۶] چې حقه (او ربښتیانی) واکداري به (ظاهرًا او باطنًا) په دغې ورځ کښې دہر مهربان الله ﷻ ته (ثابته) وي، او دا ورځ به په کفارو باندې دېره سخته ورځ وي.

[۲۷] او (ای پیغمبره! د مثال په توګه) ته هغه ورځ یاده کړه چې هر ظالم (کافر) به په خپلو لاسونو باندې (د حسرت او افسوس د کبله) چکونه لګوي، (او) وایي به چې: ای ارمان (او افسوس دی ما لره) چې ما د پیغمبر ﷺ لاره نیولې وی (او مخالفت مې ترې نه وی کړی).

[۲۸] ای زما افسوسه! (راشه چې همدا دې وخت دی) ای ارمان (او ای کاش!) چې ما فلانکی (شیطان) په دوستۍ سره نه وی نیولی.

[۲۹] یقینًا هغه خو زه د ذکر (قرآن کریم) څخه له هغه نه وروسته بې لارې کړم چې ماته (د پیغمبر په لاس) راغلی وه.

او (یقینًا) د انسان دپاره (د اړتیا په وخت کښې) شیطان یوازې پرېښودونکی دی (چې نصرت ورسره نه کوي او نه یې کولی شي).

[۳۰] (مشرکان هغه خبرې کوي) او پیغمبر وايي چې: ای زما ربه! یقینًا زما قوم دغه قرآن پرېښودل شوی نیولی دی (عقیدةً او عملاً یې ورباندې پرېښنې دی).

[۳۱] او (الله ﷻ ورته تسلي ورکوي چې: ای پیغمبره!) همدغه ډول (ستا غوندې) مونږ هر یو پیغمبر ته د مجرمانو (کافرانو) څخه دښمنان ګرځولي وه (نو لکه څنګه چې هغوی حوصله کوله ته هم حوصله کوه)، او ستا رب ﷻ د هدایت کوونکي او نصرت کوونکي په حیث بس دی (چې کامل قدرت لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ایتونه د مؤمنانو د حالت په بیان باندې تمام شوي وه چې د قیامت په ورځ به د استقرار دپاره دېر ښه ځای ولري او هم به د ارامګاه په لحاظ د هر چا څخه ښایسته ارامګاه ولري، په دې ایتونو کښې د کفارو او مشرکانو حالت ته اشاره شوې ده چې د قیامت په ورځ به د لوی حسرت سره مخامخ شي نو حاصل یې داسې راځي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې څه حالات قرانت کړه چې د کفارو د حسرت حالت هم پکښې نغښتی دی هغه دا چې:

۱ـ هغه ورځ ورپه یاده کړه چې د اسمانونو نظام درې ورې شي او د یوې امتیازي وریځې د پیدا کېدلو (څرګندېدلو) سره اسمانونه وچوي او دروازې-دروازې وګرځي. او په دې باندې علاوه د اسمانونو پرښتې به ځمکې ته راښکته کړی شي په یو امتیازي راښته کولو سره، چې هر څوک به یې وګوري او لوی ازدحام به جوړ شي.

۲ـ نو په دغې ورځ کښې به ټوله واکداري په ډېر مهربان الله ﷻ پورې اختصاص مونده کړي، په دغه ورځ کښې به د ده ﷻ څخه په غیر هیڅوک مونده نه شي چې د واکدارۍ او پاچاهۍ دعوه وکړي، د دنیا ټول پاچاهان به د فقیرانو په قطار کښې ودرېږي او ټول خلک به هر یو انفرادي حیثیت ولري او بس.

۳ـ نو د همدې کبله به دغه ورځ په کفارو باندې ډېره سخته او ډېره غمژنه وي، چې ټول به پکښې د حسرت او افسوس سره مخامخ شي. د مثال په توګه:

۴ـ ته هغه ورځ خپل امت ته د عبرت اخستلو دپاره ورپه یاده کړه چې:

الف: چې دنیاوې ظالم او کافر به له ډېره حسرته په خپلو ګوتو نه بلکې په خپلو دواړو لاسونو باندې غاښونه لګوي او چکونه به ترې کوي او په عین حال کښې به وایي چې:

ب: ای کاش! چې ما د پیغمبر سره لاره نیولې وی او د همغه په لاره تللی وی.

ج: ای زما افسوسه! راشه همدا دې وخت دی، کاش چې ما فلانکی (جني شیطان او انسي شیطان) په دوستۍ سره نه وی نیولی او د هغه په لاره باندې نه وی تللی چې ماته په ډېر زیات ضرر باندې تمام شو ځکه چې:

د: زه یې د حقې لارې څخه بې لارې کړم او کوم نصیحت چې ماته راغلی وه د هغه څخه یې غافل کړم حال دا چې د نصیحت قبول زما په قابو کښې وه او ماته د خپل مهربان رب ﷻ د پلوه راغلی وه.

۵ـ ځکه به نوموړی ظالم د قیامت په ورځ د لوی حسرت او افسوس سره مخامخ شي چې یقیناً شیطان د انسان دپاره څذول دی چې د خوشالۍ په وخت کښې ورته د دروغو وعدې ورکوي ترڅو یې د حقې لارې څخه واړوي، او د غم او حسرت په وخت کښې یې یوازې پرېښودونکی دی چې خپل غم کوه او خپل غم به کوم، نه زه تاته کومک درکولی شم او نه ته زما کومکې ګرځېدلی شې.

۶ـ ای خلکو! دا وه د کافر او ظالم حال چې د قیامت په ورځ ورسره هرو مرو او ضرور ملاقي کېدونکی دی. دا د یو پلوه، او د بل پلوه تاسو د نوموړي کافر او ظالم د غرور او تکبر دنیاوي حال درپه زړه کړئ چې د الله ﷻ پیغمبر یې په سپکو او سپورو خبرو سره او هم په چتې پلمو نیولو سره تر پوزو راوستلی دی تردې چې د خپل رب ﷻ په حضور کښې عرض کوي چې: ای زما ربه! زما دغه کافر قوم دغه قرآن (چې د دوی د نصیحت دپاره نازل شوی دی) پرېښی دی او عمل ورباندې نه کوي، او برسېره په دې د جادو او شعر لقبونه هم ورباندې ږدي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ خپل پیغمبر ته توصیه کوي چې:

الف: بې حوصلې کېږه مه، او خپل صبر او استقامت مه خرابوه، په دغو مشکلاتو کښې یوازې ته نه یې واقع شوی بلکې مونږ په ټولو زمانو کښې د هر پیغمبر دپاره د مجرمانو د جملې څخه دښمنان پیدا کړي وه چې همدغسې ستغې سپورې خبرې به یې ورته کولې لکه څنګه یې چې تاته کوي، نو لکه څنګه چې هغوی صبر کاوه ته هم صبر کوه، د قیامت ورځ راروانه ده چې هر چاته به د خپلو کړو وړو جزا یا سزا ورکړی شي.

ب: ته په دې باندې مه غمژن کېږه چې ستا قوم ستا قرآن قبول نه کړ، د عدم قبول مسئولیت خو یې تاته متوجه نه دی، او د دې تشویش هم مه کوه چې کفار به د اسلام د ترقي مخنیوی وکړي، او دا څکه چې ستا رب ﷻ د هدایت د حیثه کافي دی هدایت د همده ﷻ په اختیار کښې دی، او همدارنګه د نصرت او کومک د حیثه هم کافي دی چې د ارادې مخه یې هیڅوک نه شي نیولی.

## توضیحات

۱ـ ځینو علماوو کرامو په ﴿وَيَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلْغَمَٰمِ﴾ کښې د ﴿بِٱلْغَمَٰمِ﴾ د "ب" په توري کښې متعدد احتمالات لیکلي دي چې دا توری د "مع" په معنی سره دی، یا د سبب معنی ورکوي او داسې نور[۱]، نو که څه هم دغه ټول احتمالات پکښې صحت لري مګر کومه معنی چې مونږ ته واضحه برېښي هغه دا ده چې د "عن" معنی ورکړي، یعنې او هغه ورځ یاده کړه چې اسمان د سپینې وریځې څخه وچوي او هغه راڅرګنده شي، او په عین حال کښې پرښتې رابښکته کړی شي رابښکته کول.

په دې تقدیر به ذکر شوی ایت شریف دې ایت شریف ته ورته وي چې: ﴿يَوْمَ تَشَقَّقُ ٱلْأَرْضُ عَنْهُمْ﴾ [ق: ۴۴] یعنې هغه ورځ یاده کړه چې ځمکه د مړو څخه وچوي او ټول ترې راووځي او په جلتی سره د محشر میدان ته روان شي.

## عَضٌ یا عَضِیْضٌ څه معنی؟

۲ـ په ﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ﴾ کښې د ﴿يَعَضُّ﴾ کلمه د "عَضٌ" ـ لکه "مَدٌّ" ـ یا د "عَضِیْضٌ" ـ لکه "قَتِیلٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "عَضٌ" یا "عَضِیْضٌ" دې ته ویل کېږي چې څوک یو شی په غاښونو کښې کلک ونیسي[۲] چې په پښتو کښې ورته چک یا خوله لګول وایي.

که څه هم لرې نه ده چې د قیامت په ورځ هر ظالم (کافر) په خپلو لاسونو باندې په حقیقي توګه خوله ولګوي[۳] خو دغه ډول کلام په عربي محاوراتو کښې د ډېر زیات ندامت او پښېمانتیا دپاره استعمالېږي[۴].

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۲ ص۵۱۶؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۲۷۵

(۲) لسان العرب ج۶ ص۱۸۸

(۳) روح المعاني ج۱۹ ص۱۲

(۴) مفردات الراغب ص۳۴۹؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۲۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ظالم او فُلان څوک-څوک دي؟

۳_ مفسرینو کرامو په دې اړه متعدد اقوال کړي دي چې په ﴿ وَيَوْمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ ﴾ کښې "ظَالِم" د چا څخه عبارت دی؟ او په ﴿ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ﴾ کښې د "فُلان" کلمه د چا څخه تعبیر ده[1]؟. خو د عبد الله عباس رضي الله عنهما په شمول جمهور علماء کرام وايي چې په ﴿ ٱلظَّالِمُ ﴾ کښې "عُقْبَة بْنُ أبِيْ مُعَيْط" ته اشاره ده او د ﴿ فُلَانًا ﴾ څخه "أبَيُّ بْنُ خَلَفَ بْنِ وَهَبْ" مراد دی؛ دوی په همدې هکله يو قيصه ذکره کړې ده[2] چې د هغې مهم ټکي دا دي:

الف: عُقْبَة بْنُ أبِيْ مُعَيْط د سفر څخه راغلی وه او د خپل عادت په مطابق يې د مکې اشرافو ته مېلمستيا تياره کړه، خو په دعوت شوو کسانو کښې نبي کريم ﷺ هم شامل وه، چې نوموړي ورسره څه ناسته پاسته درلوده.

ب: نبي کريم ﷺ دعوت قبول کړ او د نوموړي کور ته ورغی مګر د خوراک او څښاک څخه يې تر هغه منعه وکړه ترڅو چې نوموړی په ايمان مشرف شي.

ج: نو د څه بهانو انو څخه وروسته نوموړي طيبه کلمه وويلې او نبي کريم ﷺ د هغه په کور کښې خوراک او څښاک وکړ.

د: د نوموړي (عقبه) په ايمان راوړلو باندې د هغه صميمي او مخلص دوست (أبي بن خلف) خبر شو نو خپله دوستي يې په دې پورې مشروطه کړه چې نوموړی بېرته کفر ته واوړي.

ه: نو هغه د خپل دوست د راضي کولو دپاره بېرته مرتد شو خو دوست يې په ارتداد باندې باور ونه کړ ترڅو چې نوموړی د نبي کريم ﷺ مبارک مخ ته لاړې ورتوف کړې، چې نوموړی د دغې غټې بې ادبۍ مرتکب هم شو.

نو دوی وايي چې په ذکرو شوو ايتونو کښې د عُقْبَة او أُبَيَّ هغه قيصه منعکسه شوې ده چې د قيامت په ورځ به تحقق ومومي.

## دواړه خبرې رښتيا شوې

۴_ د نبي کريم ﷺ دواړه خبرې رښتيا شوې هغه داسې چې:

الف: کله چې "عُقبه بن ابي معيط" ورته لاړې ورتوف کړې نو نبي کريم ﷺ ورته وويلې چې که ته چرته د مکې معظمې څخه بهر ماته لاس ته راغلې نو سر به دې د تنې څخه په توره باندې والوزوم[3].

نو د بدر په اسيرانو کښې نوموړی عُقبه هم شامل وه، نو نبي کريم ﷺ خپله خبره رښتيا کړه او علي ﷺ يا عاصم بن ثابت ﷺ ته يې امر وکړ او د نوموړي سر يې د تنې څخه جدا کړ (قتل يې کړ)[4].

---

(١) زاد المسير ج۶ ص١٢
(٢) اسباب النزول للواحدي ص٢٢٥؛ تفسير البغوي ج٣ ص٣۶٧؛ تفسير القرطبي ج١٣ ص٢٥؛ المحرر الوجيز ج١٢ ص٢١
(٣) تفسير البغوي ج٣ ص٣۶٧
(۴) سيرت ابن هشام ج٢ ص٢٨٧؛ سنن ابي داوُد ج٢ ص١٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب- أبي بن خلف بن وهب به نبي کريم ﷺ باندې ډېر ټکه کړې وه؛ چې زه به دې ووژنم، خو نبي کريم ﷺ ورته بالمقابل اطلاع ورکړې وه چې نوموړی به دا کار ونه کړي او زه به يې -إن شاء الله- وکږم[۱]. نو د اُحد په غزا کښې بې نوموړی په خپل مبارک لاس سره په نېزه باندې وواهه او څه وخت وروسته په مکه معظمه کښې د همدې ټپ څخه مړ شو[۲].

## تبصره

۵- مونږ ته داسې برېښي چې د ﴿ٱلظَّالِمُ﴾ څخه به مطلق ظالم (کافر) مطلب وي، او د ﴿فُلَانًا﴾ څخه به هغه بل ظالم او کافر مطلب وي چې د ده د خوشالۍ دپاره لومړني ظالم خپل پيغمبر يا د اسلامي داعي دعوت رد کړی وي او يا يې د قبولولو څخه خپل ځان ګوښه کړی وي، برابره خبره ده چې دوی دواړه پخوا تېر شوي وي او يا به په وروستنيو زمانو کښې کښې صورت ونيسي؛ مونږ څکه اطلاق او عموم خوښ کړ چې:

الف: په همدغه اطلاق او عموم باندې د ﴿فُلَانًا﴾ کلمه دلالت کوي، چې د قيامت تر ورځې پورې به هريو غولولی شوی ظالم د خپل-خپل غولوونکي نوم اخلي، مثلاً څوک به وايي چې کاش چې خالد مې په دوستۍ سره نه وی نيولی او څوک به د عَمرو څخه شکايت کوي او داسې نور، خو الله ﷻ د ټولو څخه په ﴿فُلَانًا﴾ سره تعبير وکړ.

که بالفرض مشخص کافر مطلب وی نو د ﴿فُلَانًا﴾ په عوض به د هغه نوم نازل شوی وی.

ب: دا قيصه په ﴿وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِلْإِنسَٰنِ خَذُولًا﴾ سره تعقيبه شوې ده چې د ټولو انسانانو سره ښه تناسب لري.

ج: په دې باندې علاوه، په نصوصو کښې د مفاهيمو عموم ته کتلی کېږي او د مواردو خصوص د اعتبار وړ نه وي.

## خذلان څه معنی؟

۶- په ذکر شوي تعقيب کښې شيطان ته د "خَذُول" لقب ورکړی شوی دی، "خَذُول" د مبالغې صيغه ده او د "خَذل" يا "خِذلان" څخه اشتقاقه شوې ده، "خَذل" يا "خِذلان" دېته وايي چې څوک د بل چا سره خپل کومک په داسې حال کښې قطعه کړي چې هغه ورته ډېر احتياج وي او هم يې کومک او نصرت ته سترګې په لار او په تمه وي[۳].

يعني يقيناً چې د انسان په هکله شيطان ډېر بې وفا دی چې د پوره احتياج په وخت کښې يې يوازې پرېږدي او خپله بېزاري ترې اعلانوي. لکه چې الله ﷻ د نوموړي د خولې څخه حکايت کوي

---

(۱) روح المعاني ج۱۹ ص۱۲

(۲) سيرت ابن هشام ج۳ ص۸۲

(۳) مفردات الراغب ص۱۴۵؛ لسان العرب ج۱۱ ص۲۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَعَدَكُمْ وَعْدَ ٱلْحَقِّ وَوَعَدتُّكُمْ فَأَخْلَفْتُكُمْ﴾ [إبراهيم: ٢٢] يعني د قيامت په ورځ چې خبره فيصله شي نو شيطان به خپلو پيروانو ته ووايي چې: يقيناً الله ﷻ ستاسو سره حقه وعده کړې وه خو تاسو وربانديې اعتماد ونه کړ او ما درسره وعده کړې وه خو زما وعده د دروغو وعده وه، د همدې کبله زه په خپله وعده باندې ونه درېدم او کومک مې درسره ونه کړ او نه يې کولی شم، نو نن ورځ نه زه ستاسو په درد خورم او نه تاسو زما په درد باندې دوا کېدلی شئ.

## د ايت شريف ارشاد

٧ـ ذکر شوي ايتونه مونږ ته ارشاد کوي چې: لکه څنګه چې جني شيطان بې وفا دی همدارنګه د ده شاګردان (انسي شيطانان) هم بې وفا دي، نو په کار دي چې هيڅوک د هغه چا سره انډيوالي ونه کړي او خبره يې ونه مني کوم چې د شريعت د چوکاټ څخه بهر کشول کوي. د همدې ډول انډيوالۍ اضرارو ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث شريف کښې اشاره کړې ده چې: «وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً»[١] يعني بد انډيوالان او ملګري د بنۍ د پوکوونکي (پښن) مثال لري چې په باد سره اور تازه کوي، نو د نومړي ترڅنګ ناسته د دوه وو حالاتو څخه خالي نه ده: يا به دې په اور سره جامې وسوزوي او که دا ونه شي نو بده وږمه خو به ستا دماغ ته ورسېږي.

همدارنګه د بد سړي انډيوالي به دې يا بربنډ کړي يا د تقوی لباس به درڅخه بالکل وباسي، او يا به دې غير شرعي کارونو سره حساسيت کم کړي چې په غير شرعي کارونو سره به غُصه نه درځې او په ورو-ورو به ورسره اشنا شې. يا په بل عبارت: بد انډيوالان به يا سړی کافر کړي او يا به يې ګنهګار کړي. مونږ ته دې الله ﷻ د دواړو څخه پنا راکړي.

## يو نحوي تحليل

٨ـ په ﴿وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِي﴾ الآية، په عطف کښې علماء کرام لاندې دوه نظره لري[٢]:

الف: ځينې وايي چې دا ايت شريف په ﴿يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ﴾ باندې عطف دی، يعني هغه ورځ ياده کړه چې ظالم د ډېر ندامت څخه خپل لاسونه په غاښونو باندې وچيچي او په همدغه حال کښې وربانديې د الله ﷻ پيغمبر شهادت هم ورکړي چې دغه ظالم او د ده امثالو قرآن کريم مهجور ګرځولی وه او بالکل يې د خپلو ځانونو دپاره د ستور العمل نه وه جوړ کړی.

ب: او ځينې وايي چې دا ايت په ﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا﴾ الآية، باندې عطف دی او د دواړو ترمنځ نور ايتونه د معترضو جملو حيثيت لري، نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: کفار دغسې او هاغسې خبرې کوي چې د قيامت په ورځ به يې انجام وګوري، او د همدې کبله د الله ﷻ پيغمبر شکايت کوي چې زما قوم په ذکرو شوو بهانو سره قرآن کريم مهجور ګرځولی دی.

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٨٣٠

(٢) روح المعاني ج١٩ ص١٢؛ البحر المحيط ج٨ ص١٠٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زمونږ په فکر دوهم تحلیل د لومړي تحلیل څخه بهتر دی چې د وروستني متصل ایت سره په ډېره ښه وجه پیوند اخلي؛ چې د شکایت په مقابل کښې ورته د الله ﷻ د پلوه حوصله او صبر کول توصیه شوه چې د پخوانیو پیغمبرانو غوندې د دښمنانو په مقابل کښې د زغم څخه کار واخله، دنیا د امتحان میدان دی د فیصلې میدان وروسته راروان دی.

## شکایت دی ښېرا نه ده

۹ـ په ذکر شوي ایت شریف کښې الله ﷻ د خپل پیغمبر ﷺ څخه شکایت حکایت کړ ترڅو مشرکان په غوږ ووهي چې که پیغمبر ﷺ د خپل شکایت سره ښېراوې ملګرې کړي نو په تاسو به لوی مصیبت درنازل شي او ټول به پوپنا شئ؛

نو تاسو خپل پیغمبر ـ چې د "رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ" لقب ورکړی شوی دی ـ دې ته مه مجبوروئ چې په تاسو باندې د عذاب د نزول دپاره د سوال لاسونه پورته کړي او الله ﷻ یې قبول کړي.

## یادونه

۱۰ـ د الله ﷻ په توفیق د [المؤمنون:۶۷] ایت لاندې په ﴿ ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴾ کښې د "مَهْجُور" کلمه ښه پوره شرحه شوې ده چې بیا شرحه کولو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً كَذَٰلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾ وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾ ٱلَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُوْلَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٣٤﴾ ﴾

[۳۲] او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی وایي چې: ولې په ده (محمد) باندې قرآن ټول په یو ځل نازل نه کړی شو (او په وقفه ئیزه توګه پرې نازل کړی شو).

(جواب یې دا دی چې:) مونږ په همدغه ډول باندې د دې دپاره (نازل کړ) ترڅو پرې ستا زړه (د حفظ او فهم د حیثه) تثبیت (او محکم) کړو.

او (ترڅو) یې (په تا باندې) په وقفه ئیزه توګه قرائت کړو، په وقفه ئیزه توګه قرائت (چې ستا په ذهن کښې کینې).

[۳۳] او (بل د دې دپاره چې) کفار تاته هیڅ مثال (عجیب اعتراض) رانه وړي (وړاندې نه کړي) مګر مونږ یې په حقه (د واقع مطابق جواب) دروړو (درکړو چې مخه یې ونیسي)، او (هم د دې دپاره چې مونږ تاته) د تفسیر (او بیان) د حیثه په احسن (کلام) سره (درتګ وکړو او درنازل یې کړو، چې د اعتراض بنیاد وباسي).

[۳۴] هغه کسان چې دوی به دوزخ ته په خپلو مخونو باندې حشر کړی شي همدغه (کسان) د مکان (د اوسېدانې د ځای) د حیثه ډېر بد دي او د لارې د حیثه ډېر بې لارې دي (نو ځکه اعتراضات کوي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

د مشرکانو د اعتراضاتو د جوابولو په لړ کښې دلته د هغوی یو بل اعتراض جواب شوی دی، یا په بل عبارت: په دې ایتونو کښې د مشرکانو د هغه اعتراض دلیل رد شوی دی کوم چې الله ﷻ د هغوی د خولو څخه په [الفرقان:۴] ایت کښې حکایت کړی وه چې دا کتاب الهي کتاب نه دی بلکې د دروغو مجموعه ده. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

هغه کسان وایي کومو چې کفر او شرک اختیار کړی دی چې دا کتاب (قرآن کریم) الهي کتاب نه دی بلکې د دروغو مجموعه ده چې د نبوت د مدعي سره نورو خلکو کومک کړی دی او د خلکو د غولونې دپاره یې ورباندې د الهي کتاب نوم ایښی دی. ځکه چې که دا رښتیاني الهي کتاب وی نو ولې د نبوت په مدعي باندې په یو ځل نازل نه کړی شو، الله ﷻ خو وخت ته ضرورت نه لري بلکې هر یو کار د سترګو په رپ (طرفة العین) کښې کولی شي. دا د انسان کار دی چې د یو شي د جوړولو دپاره اوږد وخت ته ضرورت لري.

نو ای پیغمبره! د مشرکانو ذکر شوی اعتراض یا دلیل په لاندې ټکو کښې جواب کړه چې:

۱ـ مونږ لکه څنګه چې یو کار د سترګو په رپ کښې کوو همدارنګه که مو اراده وشي او حکمتونه یې غوښتنه وکړي په اوږد وخت کښې یې هم ترسره کوو؛ د قرآن کریم وقفه نیز نزول د همدې قبیلې څخه دی چې حکمتونه د همدغه ډول نزول غوښتنه کوي. د مثال په توګه:

الف: مونږ ځکه په تاباندې قرآن کریم په یو ځل درنازل نه کړ او په ورو-ورو او مدار سره یې درنازلوو ترڅو موقع په موقع ستا مبارک زړه ته ورباندې ډاډ او قوت ورکړو، چې ستا مبارک زړه ورته وخت په وخت ضرورت لري.

ب: څرنګه چې ته لیک او لوست نه شې کولی نو مونږ په تاباندې خپل کتاب په ارامۍ سره درنازل کړ، ترڅو ته وکړی شې چې په خپل ذهن کښې یې وساتې، که بالفرض په یو ځل مو نازل کړی وی نو حفظ او په یاد ساتل به یې په تاباندې ډېر درانده تمام شوي وی.

ج: ستا د زمانې کفار په مختلفو وختونو کښې په تاباندې مختلف نومونه ږدي او مختلف اعتراضات درباندې واردوي، نو د قرآن کریم د نزول په تعدد سره یې مونږ رد نازلوو، او په ډېره بهتره طریقه باندې د هغو جوابونه درزده کوو. یا په بل عبارت: څرنګه چې مشرکان خپل اعتراضات په یو وار نه واردوي، همدارنګه مونږ قرآن کریم په یو وار نه نازلوو، که بالفرض هغوی هغه کار کړی وی نو مونږ به دا کار کړی وی.

د: په دې باندې علاوه که مونږ په تاباندې قرآن کریم په یو ځل نازل کړی وی نو ته به مجبور وی چې د کفارو د هر اعتراض د مخنیوي دپاره دې پکښې بېلې-بېلې پلټنې کړې وی چې د هغه اعتراض جواب دا دی او د دغه جواب دا دی. نو الله ﷻ په تاباندې ډېر مهربان دی چې د پلټنې بوج یې درباندې کېښنود او وخت په وخت یې په احسن بیان سره د هغوی د اعتراضاتو مخنیوی پخپله وکړ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هـ: بالآخره څرنګه چې قرآن کريم په تشريعي احکامو باندې مشتمل دی او تشريعي احکام د غذاء حيثيت لري او د اوقاتو اختصاص ورته ضرور دی نو مونږ څکه قرآن کريم په يو ځل درنازل نه کړ ترڅو تشريعي احکام په مناسبو وختونو کښې درزده کړو.

٢ـ نو د قرآن کريم په تدريجي نزول کښې زښت ډېر حکمتونه نغښتي دي، خو هرڅوک چې د حقائقو د پلټنې څخه سرچپه روان وي او د حکمتونو څخه معکوسه نتيجه اخلي هغوی همغه کسان دي چې دوزخ ته به سرچپه حشر کړی شي او په خپلو مخونو باندې به سرچپه ورروان شي.

همدغه کسان د مکان په اعتبار ډېر بد او ناکاره دي او د لارې د حيثه ډېر بې لارې او ګمراهان دي، نو تاته په کار دي چې د دغو کسانو په خبرو باندې بې حوصلې نه شي.

## توضيحات

١ـ تقريبًا ټول علماء کرام په دې متفق دي چې تورات او انجيل او هم زبور درېواره اسماني کتابونه په يو ځل نازل شوي دي[١] او دا څکه چې موسی ، عيسی  او داود  درېوارو ليک او لوست کولی شو[٢]، خو يوازې قران کريم په وقفو-وقفو په درويشتو کلونو کښې نازل شوی دی څکه چې نبي کريم ﷺ ليک او لوست نه شو کولی.

نو د وخت مشرکانو وربادې نيوکه وکړه چې که دا قران کريم رښتيانی اسماني کتاب وی نو په کار وه چې دا هم د هغو غوندې په يو ځل نازل شوی وی، همدغه اعتراض ته په دې ايتونو کښې جواب ورکړی شوی دی.

مګر خينې مفسرين کرام دا خبره نه مني چې ذکر شوي درېواره کتابونه په يو ځل نازل شوي وه، بلکې هغه هم په وقفه-وقفه نازل شوي دي[٣]، والله  اعلم.

## سوال جواب

٢ـ که څوک وايي چې د ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ کلمات په اعراب کښې څه شی واقع شوي دي او په "ذَٰلِكَ" سره څه شي ته اشاره ده؟

مونږ وايو چې: په "ذَٰلِكَ" سره هغه وقفه-وقفه تنزيل ته اشاره ده کوم چې د مقدرې جملې مضمون دی، په دې جملې باندې وراندېنی مذکوره جمله دلالت کوي، او ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ د خپل متعلق په اعتبار د همدغې مقدرې جملې دپاره مفعول مطلق دی[٤]، نو تصوير يې داسې کېږي چې: "أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا نَزَّلْنَا عَلَيْكَ هذا الْقُرآنَ تَنْزِيلًا مِثْلَ ذَٰلِكَ التَّنْزِيلِ الْمُفَرَّقِ" يعني ای پيغمبره! يقينًا مونږ په تاباندې دغه قرآن کريم په وقفه-وقفه نازل کړی دی، دغه ډول په وقفه-وقفه نازلول ﴿ لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ ﴾ الآية.

---

(١) روح المعاني ج١٩ ص١٥
(٢) تفسير الكشاف ج٣ ص٢٧٨
(٣) تفسير القاسمي ج١٢ ص٢٦١
(٤) تفسير ابي السعود ج٦ ص٢١٦



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ترتيل څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَرَتَّلۡنَٰهُ تَرۡتِيلًا ﴾ کښې د "تَرْتِيل" کلمه دېته وضعه شوې ده چې د يوه شي د مرتبو اجزاوو ترمنځ فاصله (وت) واقع کړی شي[۱] لکه د غاښونو ترمنځ چې فاصله (وِت) موجوديت ولري. نو په دې تقدير دغه جمله د هغې مقدرې جملې تفسير واقع کېږي کومې ته چې لږ وړاندې په دوهمه توضيح کښې اشاره شوې ده، يعنې مونږ په تاباندې دغه قرآن کريم په وقفه-وقفه درنازل کړ، په وقفه-وقفه نازلول (د نزولونو ترمنځ مو فاصلې واقع کړې).

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وايي چې په ﴿ إِلَّا جِئۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَأَحۡسَنَ تَفۡسِيرًا ﴾ کښې د "أَحۡسَنَ" کلمې ته څه شي نصب ورکړی دی؟

مونږ وايو چې: دغه کلمه منصوبه نه ده بلکې مجروره ده چې په "الْحَقِّ" باندې عطفه ده او د "ب" توري جر ورکړی دی خو د غير انصراف د کبله يې جر په فتحې سره صورت نيولی دی[۲].

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پيغمبره! په وقفه ئيز نزول کښې بل حکمت دا دی چې هر کله کفار تاته څه باطل مثالونه وړاندې کړي او څه غير مناسب لقبونه درباندې کېږدي نو مونږ يې په مقابل کښې حق نازل کړو چې د باطل ماغزه وباسي، او په داسې احسنه طريقه باندې جواب ورکړو چې هرڅوک په واضحه توګه وپوهېږي چې دغه لقبونه ناحقه دي.

## د وقفه ئيز نزول نور حکمتونه

۵ـ د وقفه ئيز نزول کومو حکمتونو ته چې په ايتونو کښې اشاره شوې وه هغه خو د الله ﷻ په توفيق د مطلب خلاصه کښې مونږ وليکل خو دلتهورباندې وراضافه کوو چې:

د قرآن کريم وقفه ئيز نزول او ګټې يوازې نبي کريم ﷺ پورې حصرې نه وې، بلکې ټولو مسلمانانو ته دغه ډول نزول ډېر زيات په ګټه تمام شو او مشرکانو ته هم په ګټه تمامېده خو هغوی ترې غفلت وکړ مثلاً:

الف: د هغه وخت مسلمانان هم په اکثرې توګه د ليک او لوست څخه بې برخې وه، نو په وقفه ئيز نزول سره ورته د قرآن کريم حفظ او فهم دواړه اسان شوه.

ب: په دغه ډول نزول سره د وخت مسلمانان د تشريعي احکامو تعميل ته اماده شوه، که ټول ورباندې په يو ځل نازل شوی وی نو احتمال وه چې پوره يې نه وی عملي کړی.

همدغه اساني د شرابو په تحريم کښې پوره څرګنده ده چې بيان يې د [البقرة:۲۱۹] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

ج: د قرآن کريم د هر ايت يا ايتونو په نزول سره د يو پلوه د نبوت علامات تازه کېدل، او د بل

(۱) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۲۳
(۲) تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پلوه د قرآن کريم د مقابلې دپاره د مشرکانو بيا-بيا رابللو صورت نيوه، چې هر کرت به د عجز سره مخامخ کېدل، که بالفرض قرآن کريم په يو خل نازل شوی وی نو هغوی به يې فقط په يو خل سره د مقابلې څخه عاجزان شوي وی.

## يادونه

٦- نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې فرمايلي دي چې د قيامت په ورځ به خلک په درې ډوله د حشر ميدان ته ورغونډ کړی شي، څوک پياده، څوک سواره او څوک په مخونو[١]، دا حديث مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء:٩٧] ايت لاندې په لفظ سره ليکلی دی هيله ده چې هلته يو خل مراجعه وکړی شي.

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَٰرُونَ وَزِيرًا ﴿٣٥﴾ فَقُلْنَا ٱذْهَبَآ إِلَى ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا فَدَمَّرْنَٰهُمْ تَدْمِيرًا ﴿٣٦﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا۟ ٱلرُّسُلَ أَغْرَقْنَٰهُمْ وَجَعَلْنَٰهُمْ لِلنَّاسِ ءَايَةً ۖ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣٧﴾ وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَأَصْحَٰبَ ٱلرَّسِّ وَقُرُونًۢا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ﴿٣٨﴾ وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ ٱلْأَمْثَٰلَ ۖ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ أَتَوْا۟ عَلَى ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِىٓ أُمْطِرَتْ مَطَرَ ٱلسَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا۟ يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴿٤٠﴾ ﴾

[٣٥] او يقيناً مونږ موسى ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړی وه او (هم) مو د ده سره د ده ورور (هارون ﷺ) وزير (ملګری او کومکی) ګرځولی وه.

[٣٦] نو مونږ دواړو ته وويلې چې: (معهود) قوم ته (د دعوت دپاره) لاړ شئ.

(ای پيغمبره! دغه قوم) هغه کسان وه کومو چې زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت کړی وه، نو دوی مونږ هلاک کړه هلاکول (دوی مو د خرمې د قلزم په بحيره کښې غرق کړه).

[٣٧] او (مونږ) د نوح ﷺ قوم (هم) هغه وخت (هلاک کې) کله چې دوی (الهي) پيغمبرانو ته (د نوح ﷺ په شمول) د دروغو نسبت وکړ (چې) دوی مو (ټول په عالمي طوفان کښې) غرق کړه او (د قيامت تر ورځې پورې مو) د خلکو دپاره (د خپل قدرت) يوه (عظيم الشانه) نښه وګرځول. او مونږ (په آخرت کښې د ټولو) ظالمانو دپاره دردناک عذاب (دوزخ) تيار کړی دی.

[٣٨] او (همدارنګه مونږ) عاديان او ثموديان او (هم) اصحاب الرس او په دغه منځ (منځو کښې) ډېرې پيړۍ (هلاک کړي دي).

[٣٩] او هر يوه (هلاک کړی شوي قوم) لره مونږ (د خپل قدرت مثالونه د عبرت دپاره) بيان کړی

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١٤٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وه، او هر یو قوم (طبعیت نه بلکې) مونږ هلاک کړی دی هلاکول.

[۴۰] او یقینًا (ای پیغمبره!) دوی (د مکې مشرکان) په هغه ښار (ښارونو) باندې (د خپلو سفرونو په وخت کښې) ورځي په کومو باندې چې باران ورولی شوی وه بد باران (د ډېرو باران).

نو ایا دوی (تر اوسه پورې) نه وه چې دا (ښارونه) یې (د زړه په سترګو) لیدلی وي (او عبرت یې ترې اخستی وي)، بلکې (حقیقي خبره دا ده چې) دوی د بیا راپورته کېدلو (را ژوندي کېدلو څخه نه داربېږي (او نه ورباندې عقیده لري).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندې په [الفرقان: ۳۱] ایت کښې الله ﷻ د ډاډینې په ترځ کښې نبي کریم ﷺ ته اشاره کړې وه چې پخوانیو پیغمبرانو هم دښمنان درلوده خو په عاقبت کښې یې دښمنان هلاک شوه، په دې ایتونو کښې د همغه ایت د مضمون په تعقیب څه مثالونه ښودل شوي دي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه وړاندېنې أیتونه په ﴿ وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ باندې تمام شوي وه او په دې ایتونو کښې کفار په غوږ باندې وهل شوي دي که تاسو د خپل پیغمبر سره همدغې بدې وضعې ته ادامه ورکړئ نو ستاسو انجام به هم د هغوی د انجام غوندې صورت خپل کړي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د خپلې تسلۍ او د کفارو د عبرت دپاره لاندې مثالونه قرائت کړه:

۱_ د هرڅه څخه وړاندې د موسی ؑ او هارون ؑ د حالاتو یادونه وکړه چې:

الف: مونږ موسی ؑ ته کتاب (تورات) ورکړی وه او هم د ده ؑ ورور هارون ؑ مو ورسره په نبوت او دعوت کښې د کومکي په حیث ګرځولي وه، ترڅو دوی دواړه وکړی شي چې فرعونیانو ته په صحیحه توګه زمونږ هدایات او ارشادات وروسوي.

ب: دوی دواړو ته مونږ ارشاد وکړ او مخاطب مو کړه چې تاسو دواړه هغه معهود قوم ته لاړ شئ کوم چې تاسو یې ډېر ښه پېژنئ چې فرعون ته په الوهیت قائل دي.

ای پیغمبره! نوموړی قوم هغه قوم وه کومو چې د موسی ؑ د معجزاتو تکذیب کړی وه او د توحید ټول انفسي او افاقي دلایل یې د ښو لاندې کړي وه، د همدې کبله دوی د فرعون په عبادت باندې لګیا وه.

ج: دوی دواړه ورغله او ښه په جرئت سره یې زمونږ هدایات وررسول او د نبوت د اثبات دپاره یې معجزات ورڅرګند کړه.

د: خو هغوی یې تکذیب وکړ او د جادو نوم یې ورباندې کېښود، نو څکه مو ټول هلاک کړه او د قلزم په بحیره کښې مو غرق کړه.

۲_ همدارنګه مونږ نوح ؑ خپل قوم ته ولېږه چې د بوت پرستۍ مخه یې ونیسي خو د ډېر اوږد دعوت سره‌سره (چې نهه نیم سوه کاله یې دوام وکړ) هغوی د خپلو کفریاتو څخه لاس وانخست او یوازې د نوح ؑ نه بلکې د ټولو پیغمبرانو د حقانیت څخه یې انکار وکړ. نو:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دغه قوم هم مونږ هلاک کړه او ټوله دنيا مو ورباندې درياب وګرځوله (پکښې غرق مو کړه) او نوح ﷺ او ورسره مسلمانانو ته مو په بېړۍ کښې نجات ورکړ.

ب: د دغه بوت پرست قوم غرقول مو د قيامت د ورځې پورې د ټولو خلکو دپاره د خپل کامل قدرت يوه نښه وګرځوله.

ج: بالآخره د ټولو ظالمانو (کافرانو) دپاره عمومًا او د نورو قوم دپاره خصوصًا مونږ په قيامت کښې دردناک عذاب تيار کړی دی، چې برسېره په دنياوي عذاب به ورسره مخامخ شي.

۳ـ همدارنګه مونږ عاديان هلاک کړه چې هود ﷺ مو د پيغمبر په حيث ورلېږلی وه، او هم مو ثموديان هلاک کړه چې صالح ﷺ مو وراستولی وه چې دواړو ډلو هرې يوې د خپل‌خپل پيغمبر تکذيب وکړ او خپل ځانونه يې په لوی لاس د هلاکت کندې ته واچول.

۴ـ د کوهي خاوندان مو هم هلاک کړه بلکې په دې منځکښې مو ډېرې پېړۍ د منځه يوړې البته کله چې هغوی د خپلو پيغمبرانو تکذيب وکړ او زمونږ په دلايلو باندې يې خپل غوږونه کاڼه کړه، نو څوک مو په يو ډول عذاب مبتلا کړه او څوک مو په بل ډول عذاب باندې اخته او هلاک کړه.

۵ـ مونږ هيڅ قوم په ناڅاپه توګه نه دی هلاک کړي بلکې هر يوه ته مو د پخوانيو هلاکو شوو قومونو مثالونه د عبرت دپاره بيان کړي دي، او هم مو د راتلونکو عذابونو د نزول څخه ډار کړی دی خو د دې سره‌سره هغوی خپلو‌خپلو کفرياتو ته ادامه ورکړه او د عبرتي مثالونو څخه يې عبرت وانخست.
نو د همدغه دائمي غفلت د کبله مونږ هر يو تکذيب کوونکی قوم هلاک کړ البته په عجيبه او خارق العاده هلاکولو سره.

۶ـ ای پيغمبره! مونږ د همدغې تکذيب د کبله د لوط ﷺ قوم هم هلاک کړی دی چې:

الف: کنډوالې کورونه او ښارونه يې سمدستي هم د هيچا څخه پټ نه دي، د مکې معظمې مشرکان شام ته په خپلو سفرونو کښې په همدغو کنډوالو باندې تېرېږي.

ب: په دغه قوم او همدغه ښار باندې ډېر بد باران ورولی شوی وه چې د کاڼو باران ورباندې وکړی شو او ښارونه يې سرچپه کړی شوه.

ج: نو ای پيغمبره! ايا ستا د زمانې کفار دغو کنډوالو ته د زړه په سترګو نه ګوري او عبرت ترې نه اخلي؟

د: نو د کفرياتو څخه د لاس د نه اخستلو وجه يې دا نه ده چې دوی کنډوالې نه ګوري بلکې وجه يې دا ده چې دوی د قبرونو څخه په بيا راژوندي کېدلو باندې عقيده نه لري او د قيامت د ورځې څخه نه ډارېږي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ﴾ کښې د "کتاب" څخه تورات مراد دی چې همدا يې متبادره معنی ده خو مطلب دا نه دی چې موسی ﷺ فرعون ته د تورات سره ورغلی وه بلکې مطلب دا دی

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې موسی ﷺ ته مو د فرعونیانو د غرق څخه وروسته تورات هم ورکړی وه ترڅو ورباندې بني اسرائیل سمې لارې ته سوق کړي.

۲_ په ﴿ هَـٰرُونَ وَزِيرًا ﴾ کښې د "وَزِیر" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [طه:۲۹] ایت لاندې ډېره ښه تحلیله شوې ده چې د کومک کوونکې معنی ورکوي نو بیا تحلیلولو ته یې اړتیا نه ګورو.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې په ﴿ فَقُلْنَا ٱذْهَبَآ إِلَى ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾ کښې سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځي چې د "آيَاتِنَا" څخه به هغه نهه معجزې مطلب وي په کومو سره چې موسی ﷺ فرعون ته ورغلی وه او په [الإسراء:۱۰۱] ایت کښې ورته اشاره شوې ده، نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: تاسو دواړه هغه قوم ته ورشئ کومو چې زمونږ د ایتونو لا پخوا تکذیب کړی دی؛ حال دا چې د فرعونیانو تکذیب خو د ورتګ څخه وروسته صورت ونیوه؟

مونږ وايو چې:

الف: د "آیاتِنا" څخه د توحید انفسي او افاقي دلایل مطلب دي[۱] چې هغوی یې لا د موسی ﷺ د ورتګ څخه وړاندې تکذیب کړی وه، او فرعون ته په الوهیت قائل شوي وه.

ب: د "آیاتِنا" څخه همغه نهه معجزات مراد دي خو ماضي ﴿ كَذَّبُوا ﴾ د مضارع (یکذبون) په معنی سره ده[۲]، یعنې هغه قوم ته ورشئ چې هغوی به زمونږ په معجزاتو باندې باور ونه کړي مګر د حجت اتمام خو به ورباندې پوره شي.

ج: همغه نهه معجزات ترې مطلب دي خو موسی ﷺ او هارون ﷺ ته خطاب په ﴿ إِلَى ٱلْقَوْمِ ﴾ باندې تمام شوی دی، او د ﴿ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾ کلمات په حکایت کښې اضافه شوي دي[۳]، نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

نو مونږ هغوی دواړو ته توصیه وکړه چې تاسو دواړه معهود قوم (فرعونیانو) ته ورشئ او توحید ته یې راوبلئ.

ای پیغمبره! دغه معهود قوم هغه کسان وه کومو چې زمونږ نهه معجزاتو ته د دروغو نسبت کړی وه چې په همدې سبب مونږ پوپنا کړ او بنیاد مو ورورویست.

مونږ ته همدغه دریم جواب په زړه پورې برېښي، والله ﷻ أعلم بمراده بذلك.

## د "دمار" او "تبار" معناوې

۴_ په ﴿ فَدَمَّرْنَـٰهُمْ ﴾ کښې د "دَمَّرْنَا" کلمه اصلاً د "دَمَار" _لکه "شَرَاب"_ څخه او په ﴿ وَكُلًّا تَبَّرْنَا ﴾

(۱) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۱۳؛ روح المعاني ج۱۹ ص۱۸

(۲) التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۸۱

(۳) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۲۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې د ﴿ تَدۡمِيرٗا ﴾ کلمه اصلاً د "تَبار" ـ لکه "شَرَاب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، او دغه دواړه (دَمَار، تَبَار) د هلاکولو معنی ورکوي[1]، ته به وایې چې دواړه مترادفې دي.

یعنې نو مونږ فرعونیان هلاک کړه چې د قلزم په بحیره کښې مو غرق کړه. او همدارنګه مونږ پخوانې کفري پېړۍ هره یوه هلاکه کړه هلاکول، البته د کفریاتو د کبله.

## یو نحوي تحلیل

۵ـ په ﴿ وَقَوۡمَ نُوحٖ لَّمَّا كَذَّبُواْ ٱلرُّسُلَ ﴾ کښې د "قَوۡمَ" کلمه په مقدر "دَمَّرۡنَا" سره منصوبه ده چې ﴿ فَدَمَّرۡنَٰهُمۡ تَدۡمِيرٗا ﴾ جمله ورباندې دلالت کوي[2]، کومه چې د فرعونیانو هلاکت سره تړاو لري، خو د همدغې جملې په مفعول (هُمۡ) باندې نه شي عطف کېدلی څکه چې دا جمله د "ف" توري په اعتبار سره د موسی ﷺ او هارون ﷺ په ورتګ باندې مرتبه شوې ده، حال دا چې د نوح ﷺ قوم ډېر پخوا هلاک کړی شوی وه.

مګر همدغه مقدره جمله په ﴿ أَغۡرَقۡنَٰهُمۡ ﴾ سره تفسیره شوې ده، یعنې مونږ د نوح ﷺ قوم د تکذیب په سبب هلاک کړه او په امتیازي ډول سره مو غرق کړه خو په عین حال کښې مو نوح ﷺ او د کښتۍ سورو ته نجات ورکړ.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه څرنګه چې ټول پیغمبران د شریعتونو په اصولو او هم په عقیدوي احکامو کښې متحد دي نو د یوه تکذیب په حقیقت کښې د ټولو تکذیب دی د همدې کبله د نوح ﷺ تکذیب ته د جمعې په صیغه ﴿ كَذَّبُواْ ٱلرُّسُلَ ﴾ سره اشاره وشوه.

## أَصۡحَٰبَ ٱلرَّسِّ څوک وه؟

۶ـ په ﴿ وَأَصۡحَٰبَ ٱلرَّسِّ ﴾ کښې د "رَسِّ" کلمه متعددې معناوې لري، لکه د یوه کار ابتدایي حال، د یوه شي لږ اثار، د قبر کنودل او هغه څا کومه چې په ډبرو باندې جوړه شوې وي او داسې نورې[3]. مګر په دې کښې چې د اصحاب الرس څخه کوم قوم مراد دی، دوی ته کوم پیغمبر وراستولی شوی وه، چرته اوسېدل، دغه لقب ولې ورکړی شوی دی؟ او داسې نور[4]؛ علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي.

خو څرنګه چې دغه ټول اقوال په صحیحو احادیثو باندې اتکاء نه لري او قرآن کریم پکښې ساکت دی، په دې باندې علاوه په بیان کښې یې څه خاصه ګټه هم نشته، نو د همدې کبله مونږ د اصحاب الرس په هکله په همدومره بیان باندې اکتفاء کوو چې:

هغوی یو کافر قوم وه چې خپل پیغمبر یې قبول نه کړ، نو الله ﷻ ورته په غضب شو او داسې عذاب

---

(۱) مفردات الراغب ص۱۷۳؛ لسان العرب ج۴ ص۸۸

(۲) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۲۱۸

(۳) القاموس المحیط ج۲ ص۲۳۶

(۴) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۱۵؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۳۲؛ زاد المسیر ج۶ ص۱۶

Scanned by CamScanner

يې ورباندې ورنازل کړ چې د هغوی بېخ او بنياد يې ووېست، لکه څنګه يې چې د عاديانو او ثموديانو بېخ او بنياد ويستلی وه "فاعتبروا ياأولي الأبصار".

## په "ذَٰلِكَ" سره څه شي ته اشاره ده؟

۷ـ په ﴿وَقُرُونًا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا﴾ کښې په ﴿ذَٰلِكَ﴾ سره د مذکور په تاويل سره ذکرو شوو هلاکو شوو قومونو ته اشاره ده، لکه د نوح ﷺ قوم، عاديان، ثموديان او اصحاب الرس. نو حاصل يې داسې راځېږي چې: د ذکرو شوو قومونو په منځ منځکښې مونږ ډېر قومونه او ډېرې پېړۍ هلاکې کړې دي چې په شمار او کيفياتو باندې يې زمونږ څخه پرته بل څوک خبر نه دی.

﴿وَإِذَا رَأَوْكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾ إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ آلِهَتِنَا لَوْلَا أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾ أَرَأَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُ هَوَاهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾﴾

[۴۱] او کله چې (ای پيغمبره!) مشرکان تا وګوري نو تا (بل شی) نه نيسي، مګر مسخره، (او يو تربله د ملنډو په توګه پوښتنه کوي چې:) ايا دا هغه سړی دی چې الله ﷺ د پيغمبر په حيث (مونږ ته) مبعوث کړی دی؟

[۴۲] (دا هم وايي چې:) يقيناً دغه (سړی) نژدې وه چې مونږ د خپلو معبودانو (د عبادت) څخه بې لارې کړي که (دا خبره) نه وی چې مونږ په خپلو معبودانو باندې صبر وکړ (او ورباندې کلک شوو نو ضرور به يې په توحيد باندې قناعت راکړی وی).

او ډېر ژر دی چې دوی به د عذاب د ليدلو په وخت کښې پوه شي چې څوک د لارې د حيثه ډېر بې لارې دی؟ (ته که دوی؟).

[۴۳] (ای پيغمبره!) ته (مونږ ته) د هغه چا په هکله خبر راکړه (د پوښتنو جواب ووايه) چا چې خپل معبود خپل خواهش نيولی وي (د خپل هوا او هوس عبادت کوي؛ پوښتنې دا دي) ايا ته په هغه باندې وکيل (څارونکی) تاکلی شوی يې؟ (دغسې نه ده نو د هغه جنايت ستا په غاړه نه اچول کېږي).

[۴۴] ايا ته ګومان کوې چې د هغوی اکثريت اورېدل کوي يا د عقل څخه کار اخلي؟ (دغسې هم نه ده)، هغوی نه دي مګر د څارويو غوندې (بې غوږه او بې عقله دي)، بلکې (لا د څارويو څخه د لارې د حيثه زيات بې لارې دي (نو ګيله يا تمه ترې په کار نه ده).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د ځينو پخوانيو هلاکو شوو کفري قومونو د مثالونو ذکر نازل شوی وه،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ترخو ورباندې نبي کریم ﷺ متسلي شي او د وخت کفار ترې د عبرت درس واخلي. په دې ایتونو کښې د یو پلوه د وخت د کفارو عکس العمل ته اشاره شوې ده او د بله پلوه پکښې نبي کریم ﷺ ته د تاکید دپاره د تسلی (ډاډینې) توصیه بیا تکرار شوې ده نو حاصل یې داسې راځېږي:

اې پیغمبره! اوس لاندې موضوعات قرائت کړه:

۱ـ په دې عوض چې د پخوانیو قومونو په ذکر سره د وخت د مشرکانو عناد څه کم شي او عبرت ترې واخلي، د دوی عکس العمل دا دی چې عناد یې په مستمر ډول اضافه کېږي حتی په تاباندې ملنډې وهي او مسخرې درباندې کوي، چې:

الف: کله د مشرکانو سترګې په تا باندې ولګېږي نو سمدستي دې بل شی نه نیسي مګر مسخره او خندنی، د همدې کبله:

ب: تاته د مسخرو په توګه اشاره کوي او یو تر بله سره د ملنډو په توګه وایي چې: ایا دغه سړی هغه دی کوم چې الله ﷻ (د ده په خیال) د پیغمبر په حیث رالېږلی دی؟ ایا په مکه او طائف کښې د دغه څخه بل بهتر سړی نه وه چې د پیغمبر په حیث مبعوث شوی وی؟ (دغه نه دی مګر دروغژن دی).

ج: په دغه سړي کښې نور څه کمال نشته همدا کمال پکښې دی چې ډېر قوي جادوګر دی او نطقیه قوه یې ډېره قوي ده، حتی نژدې وه چې د جادو په زور سره مونږ د حقې لارې څخه واړوي او د ګمراهی په لار مو سوق کړي.

د: مګر د هغه د ګمراه کولو مخه مونږ فقط په همدې باندې ونیوه چې د خپلو معبودانو په عبادت باندې کلک شوو او خپل استقامت مو خراب نه کړ، که بالفرض د بوتانو په نسبت زمونږ په اخلاص کښې څه قصور وی نو هرومرو به یې بې دینه کړي وی او ګمراهان به یې راڅخه جوړ کړي وی.

۲ـ اې پیغمبره! ډېر وخت وروسته نه بلکې لږ وخت وروسته به ذکر شوي مسخره کوونکي پوه شي چې د لارې د حیثه خطاکار څوک دي؟ دوی لاره ورکه کړې ده او که ته په غلطه لاره باندې روان یې؟

هو! دا به هغه وخت وي کله چې دوی عذاب په سترګو باندې وګوري او خپله غلطي ښه پوره ورڅرګنده شي، خو د دغه وخت پوهه به ورته هیڅ ګټه ونه رسوي، بلکې حسرت او افسوس به یې لاپسې وراضافه کړي.

۳ـ اې پیغمبره! د مشرکانو په ذکره شوي کړنلاره باندې مه متاثره کېږه او خپل ځان په پرېشانۍ حال کښې مه اچوه.

د دې دپاره چې تاته همدغه توصیه ښه پوره جوته شي نو د هغه چا په باره کښې چې خپل معبود یې خپل خواهشات ګرځولي وي لاندې دوه وو پوښتنو ته جواب ورکړه:

الف: یوه دا چې ایا ته په هغوی باندې د وکیل په حیث ټاکلی شوی یې چې مسئولیت به یې تاته راجع شي او په جنایاتو باندې به یې ته ونیولی شې؟

ب: بله دا چې ایا ته دا ګومان کوې چې د هغوی اکثریت یا په غوږونو باندې د بل چا څخه څه اوربدل کوي او یا پخپله د عقل څخه څه کار اخلي چې پخپله پوه شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوره واضحه ده چې د دغو دواړو پوښتنو جوابونه منفي دي، چې نه د هغوی مسئولیت تاته راجع دی او نه هغوی د چا خبره اوري او بالآخره نه هغوی د عقل څخه کار اخلي، بلکې هغوی د څارويو څخه هم ښکته دي.

نو د دغو خلکو څخه د بې ادبۍ او مسخرو په هکله څه ګیله نه ده په کار، او نه ترې د ایمان د راوړلو تمه صورت موندلی شي.

## توضيحات

۱ـ په دې مقام کښې الله ﷻ فقط د مشرکانو د تمسخر کلمات راحکایت کړي دي چې: ﴿أَهَٰذَا ٱلَّذِي بَعَثَ ٱللَّهُ رَسُولًا﴾ ایا دا هغه سړی دی چې الله ﷻ د پیغمبر په حیث رالېږلی دی؟

خو په بل مقام کښې یې ورته جواب هم نازل کړی دی چې: ﴿وَقَالُواْ لَوْلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ ۝ أَهُمْ يَقْسِمُونَ رَحْمَتَ رَبِّكَ﴾ [الزخرف: ۳۱، ۳۲] یعني مشرکان وایي چې دغه قرآن کریم ولې د طائف او مکې معظمې د دوه وو ښارونو څخه په یوه لوی بډایي او مالدار باندې نازل نه کړی شو؟ که بالفرض دا ربښتیانی الهي کتاب وی نو په دغه فقیر سړي به نه وی نازل شوی بلکې یو غټ سړی به ورته انتخاب شوی وی، ایا په ټولو خلکو کښې همدغه (محمد) د رسالت دپاره غوره کړی شو؟

ای پیغمبره! ایا دوی (مشرکان) ستا د رب ﷻ د رحمت وېش کوي؟ دغسې نه ده، ستا رب ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې د رحمت (نبوت) د ورکړې لیاقت څوک لري او څوک یې نه لري.

۲ـ د ﴿إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا لَوْلَآ أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا﴾ څخه لاندې دوه مطلبه د اشارې په توګه څرګندېږي:

الف: د نبي کریم ﷺ د نبوت دلایل ډېر قوي او موثر وه، د همدې کبله مشرکانو اعتراف وکړ چې که مونږ په خپله شرکي عقیده باندې بې دلیله ضد نه وی نیولي نو نژدې وه چې د نبوت مدعي مونږ ته د توحیدي عقیدې په اثبات او د شرکي عقیدې په ابطال باندې قناعت راکړی وی.

ب: مشرکانو خپلې استهزایي خبرې پخپله ردې کړې چې:

د نبوت مدعي د تمسخر لایق نه دی بلکې ډېر هوښیار او پوه سړی دی، حتی نژدې وه چې د غټانو په شمول مونږ ټولو ته په یوازې ځان په توحید باندې قناعت راکړي. یا په بل عبارت: که د بوتانو په عبادت کښې زمونږ سر تنبګي نه وی نو د دغه یوه سړي عقل په مونږ باندې د پاسه وه او مونږ یې د مقابلې څخه ناتوانه وو، خو مونږ ته خپلې سر تنبګۍ ډېره ګټه راورسوله.

## یادونې

۳ـ په دې مقام کښې د ښه وضاحت دپاره لاندې دوه ټکي یاد ساتل په کار دي:

الف: د الله ﷻ په توفیق مونږ د [الأنعام: ۴۰] ایت لاندې لیکلي دي چې د ﴿أَرَءَيْتَ﴾ کلمه د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"أَخْبِرْنِي" (ماته خبر راکړه) معنی ورکوي، نو په کار دي چې د تحلیل دپاره همله مراجعه وکړی شي، چې بیا تحلیل یې اوږدوالی پېښوي.

ب: مونږ ـ لله ﷻ الحمد والمنة ـ د [الأعراف:۱۷۹] ایت لاندې د دې خبرې څو متعددې وجې لیکلې دي چې کفار د څارویو څخه په ګمراهۍ کښې څنګه زیات دي؟، نو هیله ده چې د ﴿ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴾ د تفسیر دپاره هغه وجې یو ځل وکتلی شي.

﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ ٱلظِّلَّ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا ٱلشَّمْسَ عَلَيْهِ
دَلِيلًا ﴿٤٥﴾ ثُمَّ قَبَضْنَٰهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِبَاسًا وَٱلنَّوْمَ
سُبَاتًا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورًا ﴿٤٧﴾ وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ۚ
وَأَنزَلْنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾ لِّنُحْـِۧىَ بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا وَنُسْقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقْنَآ أَنْعَٰمًا
وَأَنَاسِىَّ كَثِيرًا ﴿٤٩﴾ وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا۟ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ﴿٥٠﴾
وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ﴿٥١﴾ فَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدْهُم بِهِۦ
جِهَادًا كَبِيرًا ﴿٥٢﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ
وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٥٣﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا
وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا ﴿٥٤﴾ وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ
وَكَانَ ٱلْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِۦ ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾ ﴾

[۴۵] (ای پیغمبره!) ته د خپل رب ﷻ (قدرت) ته نه ګورې چې څنګه یې سوری اوږد کړی دی؟ (اوږد یې پیدا کړی دی او حرکت ورکوي) او که چېرته د همده ﷻ اراده شوې وی نو ضرور به یې سوری (ځای په ځای) ساکن (ولاړ) ګرځولی وی. بیا مونږ په همدې سورې باندې لمر دلالت کونکی جوړ کړی دی (چې شغلې یې د سورې په ضد دی او تاسو ورته احتیاج لرئ).

[۴۶] بیا مونږ همدا سوری خپل اقدس ذات ته راټولوو لږ لږ راټولول (د عدم خوا ته یې راکاږو).

[۴۷] او ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې شپه یې ستاسو دپاره لباس (پټوونکې) ګرځولې ده، او (هم) یې (درته) خوب راحت (ارامتیا ګرځولی دی) او (هم) یې (درته) ورځ د پورته کېدلو (او خورېدلو) وخت ګرځولې ده.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۸] او ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د خپل رحمت (باران) څخه مخکښې زیری درکوونکي بادونه چلوي (چې وریځې راپورته کوي او حرکت ورکوي).
او (بیا) مونږ د اسمان د پلوه پاکیزه اوبه (باران) دربشکته کوو.
[۴۹] د دې دپاره چې مونږ وریاندې مړ ښار (وچه کلکه ځمکه) ژوندۍ کړو او (هم) وریاندې د هغو (ساکښانو) څخه کوم چې مونږ پیدا کړي دي ډېر څاروي او بنیادمان خړوبه کړو.
[۵۰] او یقینًا مونږ باران د بنیادمانو ترمنځ (په ډول- ډول سره) اړوو را اړوو ترڅو (پرې) دوی عبرت واخلي (او توحید ته پرې راجع شي).
خو اکثره خلک (د هر شي څخه) منعه کوي مګر د ناشکرۍ څخه (نو اکثریت یې ناشکران دي).
[۵۱] او (ای پیغمبره!) که زمونږ اراده شوې وی نو په هره قریه (ښار) کښې به مو (بېل- بېل) ډاروونکی (پیغمبر) مبعوث کړی وی (نو مکلفیت او اجر به دې دواړه کم شوي وی).
[۵۲] نو ته د کفارو اطاعت مه کوه (بې اطاعتۍ ته یې ادامه ورکړه) او په قرآن کریم باندې ورسره لوی جهاد وکړه (قوي دعوت ورکړه).
[۵۳] او ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې دوه دریابونه (خوږ او تریو) یې سره ګډ کړي (پیوسته کړي) دي، چې دغه (یو) ډېر خوندور خوږ دی او دغه (بل) ډېر مالګین تریو (او تریخ) دی.
او د دواړو دریابونو ترمنځ یې پرده ډېره کلکه (قدرتي) پرده ګرځولې ده (چې یو په بل باندې بغاوت نه شي کولی او د اوبو کیفیت یې د منځه نه شي وړلی).
[۵۴] او ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د اوبو (نطفې) څخه یې انسان پیدا کړی دی نو (د) نسب او خسرګنۍ (خاوند) یې ګرځولی دی (دوه ډوله قرابتونه یې ورکړي دي) او ستا رب ﷻ (په هر شي باندې) د قدرت څښتن دی (چې بدون د قرابتونو څخه یې هم پیدا کولی شوه).
[۵۵] او مشرکان د الله ﷻ څخه په غیر د هغو شیانو (بوتانو) عبادت کوي چې نه ورته ګټه رسولی شي (د عبادت په صورت کښې) او نه ورته ضرر رسولی شي (د عدم عبادت په صورت کښې).
او (په دې باندې علاوه) کافر انسان د خپل رب ﷻ په خلاف (د شیطان سره) کومک کوونکی دی (خلک ورسره د اسلام څخه اړوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د اسلام د حقانیت په هکله د مشرکانو اعتراضات جواب شوي او شبهات یې رد شوي وه، او په دې ایتونو کښې یې د حقانیت د اثبات دلایل نازل شوي دي.
یا په بل عبارت: هلته په تخلیه کښې بحث روان وه او دلته په تحلیه کښې بحث صورت نیسي، او تخلیه خو د همېشه دپاره په تحلیه باندې وړاندې وي، نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! د مشرکانو د اعتراضاتو او شبهاتو د بیان څخه وروسته اوس په خپل دعوتي اُمت باندې د توحید څه دلایل قرائت کړه ترڅو ورته د اسلام حقانیت څرګند شي هغه دا چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ ایا ته نه گوري (ته نه پوهېږې؟) بلکې پوهېږې چې ستا رب ﷻ په سوري کښې د خپل قدرت ځومره نښې او علامات نغښتې دي او د خلکو دپاره يې پکښې ځومره نعمتونه ځای په ځای کړي دي هغه دا چې:

الف: ستا رب ﷻ په ځومره عجيبه ډول سره سوری اوږدوي (پيدا کوي) او د ځمکې تول مخ ورباندې نیسي؟!، که بالفرض ستا رب ﷻ ځمکه یا شفافه او یا روښانه پيدا کړې وی نو د ځمکې په مخ باندې به سوري موجوديت نه درلودی، او د سکونت قابله به نه وی، نو د سوري موجوديت د قدرت یوه نښه ده او د نعمتونو څخه يو نعمت دی.

ب: که ستا د رب ﷻ اراده شوې وی نو د موجوديت په صورت کښې به يې سوری ساکن (بې حرکته) گرځولی وی، چې په دغه صورت کښې به هم د انسانانو ډېر مصالح فوت شوي وی. نو د سوري حرکت د قدرت بل حجت او د نعمتونو څخه بل نعمت دی.

ج: بيا مونږ په همدغه سوري باندې لمر دليل گرځولی دی، یا په بل عبارت: په دنيا کښې مو رڼا پيدا کړې ده چې د سوري ضد ده، او سوری ورباندې ډېر ښه تشخيص کېږي او انسانان ترې گټه اخلي. او دا ځکه چې:

انسانان بلکې ساکښان لکه څنگه چې سوري ته اړتيا لري همدارنگه د لمر رڼا ته هم احتياج دي نو د دواړو ضدينو څخه استفاده کوي.

نو د سوري تشخيص د قدرت بله نښه او د نعمتونو څخه بل نعمت دی.

د: بيا مونږ په همدغه سوري باندې مختلف حالات (بدلون رابدلون) ورعارضوو چې کله يوې خوا ته لنډېږي او بلې خواته اوږدېږي او هم کله وراندې شي او کله ببرته شي او بالآخره کله بني طرف ته کېږي او کله کيڼ خواته اوړي، او حتی کله يې په ورو-ورو خپل اقدس ذات ته راغونډوو او بالکل خاتمه ورکوو (د عدم سره يې مخامخ کوو).

که بالفرض په سوري کښې ذکر شوی د حالاتو بدلون نه وی نو د خلکو ډېرې ښېگڼې او ډېر مصالح به فوت شوي وی، نو د سوري بدلون د قدرت بل حجت او د نعمتونو څخه بل نعمت دی.

۲_ ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: ستاسو دپاره يې شپه لباس گرځولې ده چې تاسو پکښې پټېږئ او د دښمنانو څخه ورباندې نجات مونده کوئ.

ب: همدغه اقدس ذات ﷻ ستاسو دپاره خوب د ارامۍ سبب جوړ کړی دی چې د خوب څخه وروسته ستاسو عقل او فکر په ځای کيږي او په اندامونو کښې مو نشاط او تازگي وده کوي، که بالفرض تاسو خوب نه درلودی نو ډېر ژر به د کمزورۍ سره مخامخ شوي وی.

ج: همدغه اقدس ذات ﷻ ستاسو دپاره ورځ د خوب څخه د راپورته کېدلو او په ځمکه کښې د معيشت دپاره د خوځېدلو وخت گرځولې ده چې خپلې اړتياوې پکښې پوره کړئ.

ایا د الله ﷻ څخه په غير بل څوک شته چې د شپې او ورځې او یا د خوب واک او اختيار ولري؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: د باران څخه وړاندې بادونه چلوي او وريځو ته وربانديې د يو خاى څخه بل خاى ته حرکت ورکوي، او هم وربانديې خلکو ته زيرى په برخه کېږي چې دغه دى د الله ﷻ رحمت (باران) درروان دى.

ب: مونږ د بله پلوه نه بلکې د اسمان د پلوه په څمکه باندې پاکې او سپېڅلې اوبه نازلوو، چې د څښلو دپاره پاکې دي، او د وينځلو دپاره پاکوونکې دي.

ج: د باران اوبه مونږ د دې دپاره نازلوو چې مړ ښار وربانديې را ژوندى کړو او سپېره ډاګونه او بيدياوې وربانديې ترو تازه کړو او په حاصل يې ودروو.

د: په همدغه اوبو باندې مونږ خپل ټول مخلوقات خړوبوو، نو حشرات، حيوانات، څاروي، مرغان او بنيادمان او نور ساکنبان ترې استفاده کوي او خپل ژوند ته وربانديې ادامه ورکوي.

دغه استفاده کوونکې مخلوقات دومره ډېر دي چې په شمار او اندازه باندې يې د الله ﷻ څخه په غير بل څوک نه پوهېږي.

ه: او يقيناً مونږ همدغه د باران اوبه د انسانانو ترمنځ اړوو او رااړوو چې په چا باندې يې نرى وروو، په چا باندې په شبېو-شبېو، په چا باندې پرښک او په چا باندې د غټو څاڅکو والا، بالآخره په ځينو باندې يې ژر-ژر ورنازلوو او په ځينو باندې وچکالې ورولو او داسې نور.

دا ټول کيفيات د دې دپاره بدلوو او رابدلوو ترڅو دوى تدبر او فکر وکړي چې د خپل رب ﷻ په وحدانيت قائل شي.

خو اکثره خلک زمونږ د نعمتونو شکريه نه کوي او په دلايلو کښې مو سوچ نه کوي، نو ته به وايې چې د هر شي څخه يې منعه کړې ده او ترې اوښتې دي مګر يوازې د يوه شي څخه لاس نه اخلي چې هغه د ناشکرۍ څخه عبارت دى.

**يوه توصيه:**

۴ـ اى پيغمبره! څرنګه چې په خلکو کښې ناشکري او کفران زيات دى او مخنيوى يې ډېر زيات جهاد ته ضرورت لري، او په دې باندې علاوه ته د ټولو عالمونو دپاره استولى شوى يې، چې ستا څخه وروسته بل پيغمبر نشته، نو ته په خپل استقامت باندې ډېر زور واچوه او زيات صبر وکړه ترڅو ستا درجې لا زياتې لوړې شي.

که زمونږ اراده شوې وى چې د دعوت بوج په تاباندې کم کړو نو مونږ به په هر ښار کښې جدا-جدا ويروونکي استولي وى، خو په دې صورت کښې به ستا اجرونه هم کم وى.

نو د همدې کبله تاته مونږ توصيه کوو چې د کفارو د اطاعت څخه خپل ځان همدغسې په څنګ وساته، او په همدغه قرآن باندې چې تاته مو درنازل کړى دى لوى جهاد وکړه او د خپل اُمت دپاره د لوى جهاد (نه ستړي کيدونکي جهاد) ډېره کېږده ترڅو د قيامت تر ورځې پورې ادامه مونده کړي، او ترڅو هغه خلا ډکه شي کومه چې د پيغمبرانو د عدم ارسال څخه منځته راځي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵_ ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: دوه دریابونه سره یو تربله پیوسته کوي حال داچې دغه یو دریاب ډېر خوږ او تنده ماتوونکی دی او دغه بل دریاب ډېر تریو دی ته به وایې چې ټوله مالګه ده (چې ترېووالی یې ترېخوالي ته مایل دی).

ب: خو د دغه پیوستون سره-سره د یوه دریاب اوبه د بل سره نه ګډېږي چې په منځکښې یې ستا رب ﷻ ډېره مضبوطه معنوي پرده قائمه کړې ده، د دې قدرتي پردې په اثر د یوه اوبه د بل په اوبو کښې نه ورداخلېږي چې تروش ګوټې اوبه ترې جوړې شي.

۶_ ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: د نرمو اوبو څخه یې انسان پیدا کړی دی چې نه پکښې کلکوالي موجودیت درلود او نه د عقل او تمیز او نورو حواسو لرونکې وې، خو انسان ته ترې ستا رب ﷻ ښه قوي، کلک او د عقل او حواسو درلودونکي بدنونه جوړ کړه.

ب: همدغه یو انسان یې بیا په دوه وو برخو باندې تقسیم کړ چې:

یوه برخه نارینه دي او د نسب خاوندان دي چې د نسب خپلولي په همدوی پورې ارتباط لري، لکه پلارتوب او زوی توب. او بله برخه زنانه دي چې غیر نسبي خپلولي ورپورې مربوطه ده، لکه ترورتوب او خواښېتوب او داسې نور. او دا ځکه چې:

ستا رب ﷻ په هر شي باندې قادر دی او هرڅه یې د لاسه پوره دي همده ﷻ کولی شوه چې ټول انسانان یې ځانته-ځانته پیدا کړي وی، خو دغه ډول موجودیت د دوی په ګټه نه وه، او د زړه سوي ټول اسباب د منځه تلل.

**یوه تبصره:**

۷_ ای پیغمبره! وړاندې چې ذکر شوه هغه دلایل او براهین دي چې ته یې په ابلاغ باندې مکلف یې، او دومره واضحه دي چې هیڅوک ترې سترګې نه شي پټولی او په هر میدان کښې به ته د همدغو دلایلو په اثر بریالی او کامیاب یې؛ مګر بالمقابل ستا دښمنان (کفار) د خپلو باطلو معتقداتو دپاره هیڅ دلیل او برهان نه شي قائمولی.

بلکې دوی د الله ﷻ څخه پرته د هغو شیانو عبادت کوي کوم چې هغوی ته نه څه ګټه رسولی شي او نه ترې د کوم ضرر مخنیوی کولی شي.

خو د دې سره-سره دغه مهان او سپک انسان (چې د خپل ځان څخه د ټیټ مخلوق عبادت کوي) دومره سپین سترګی دی چې د خپل رب ﷻ په ضد د شیطان سره کومک کوي، او د خپل رب ﷻ د دین څخه خلک اړوي او یا یې ترې مخه نیسي.

## توضیحات

۱_ په دې مقام کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: په ﴿مَدَّ ٱلظِّلَّ﴾ کښې د ﴿مَدَّ﴾ کلمه د "مَدٌّ" ـلکه "شَدٌّ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "مَدٌّ" خو د اوږدولو دپاره وضعه شوی دی، مګر دلته په لاندې دوه وو معناوو باندې مشتمل دی:

اول: چې اوږد پیدا کړی شوی وي، لکه د سهار سوری.

دوهم: چې په تدریج سره اوږد کړی شوی او غزولی شوی وي، لکه د زوال سوری چې د غرمې څخه په اوږدېدلو پیل کوي او د لمر پرېواته تر وخته پورې غزېږي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه ذکره شوې د ﴿مَدَّ﴾ کلمه په ضمني توګه په لنډون باندې هم دلالت کوي، یعني ته ګوره چې ستا رب ﷻ سوري ته څنګه حرکت ورکوي، کله د لنډولو طرف ته او کله د اوږدولو طرف ته.

د همدغې ضمني معنی د کېبله نوموړې کلمه د ﴿وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا﴾ په جمله باندې تعقيبه شوه، یعني که ستا د رب ﷻ اراده شوې وی نو سوری به یې حرکت ته نه وی پرېښی او ځای په ځای به یې ودرولی وی، چې په دې صورت کښې به د انسانانو ډېر منافع فوت شوي وی.

ب: د ﴿ٱلظِّلَّ﴾ کلمه په همدې ایت کښې علماوو کرامو په لاندې معناوو باندې تفسیره کړې ده:

اول: جمهور علماء کرام (د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په شمول) وايي چې د لته د ﴿ٱلظِّلَّ﴾ د کلمې څخه د هغه وخت سوری مطلب دی کوم چې د سبا د راختلو څخه پیل کېږي او د لمر په راختلو باندې اختتام پیدا کوي[۱].

دوهم: د ځینو نورو علماوو کرامو په نزد دلته د ﴿ٱلظِّلَّ﴾ څخه متعارف سوری مراد دی[۲] کوم چې د لمر د سترګې سره اوړي او را اوړي.

زمونږ په فکر ذکرې شوې دواړه معناوې په خپل منځکښې څه منافات نه لري نو بهتره دا ده چې دغه د ﴿ٱلظِّلَّ﴾ کلمه په اطلاق سره پرېښودله شي چې دواړو ته شامله شي، چې ایت شریف د دواړو معناوو تحمل کولی شي.

ج: په ﴿ثُمَّ جَعَلْنَا ٱلشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلاً﴾ کښې لمر ته په سوري باندې د دلیل (لارښود) لقب ورکړی شوی دی، او دا ځکه چې د لمر شغلې د سوري ضد دي او خلک وايي چې هر شی په خپل ضد سره ډېر ښه پېژاندل کېږي، که الله ﷻ د لمر شغلې نه وی پیدا کړې نو سوری به چا نه وی پېژاندلی او خلک به د همېشه دپاره د لمر د ګټو څخه محروم وی.

په دې تفسیر سره په ذکره شوې جمله کښې الله ﷻ خپل یوه بل لوی نعمت ته اشاره کړې ده، چې مونږ ستاسو دپاره لمر هم پیدا کړی دی، چې رڼا یې د سوري په ضد ده، او تاسو د دواړو ضدینو څخه استفاده کوئ. یا په بل عبارت: تاسو نه په سوچه سوري کښې ژوند کولی شئ او نه د سوچه لمر د زغم توان لرئ، او بالآخره نه د دواړو څخه بې پروایي کولی شئ.

---

(۱) تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۲۰: الدر المنثور ج۶ ص۲۶۱

(۲) تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: د ﴿ ثُمَّ قَبَضۡنَٰهُ إِلَيۡنَا ﴾ جمله د سوري د معدومولو (نشت کولو) څخه کنايه ده، د همدې کبله د مړه کولو څخه په "قَبَضَهُ اللهُ إِلَيْهِ" سره تعبير کېږي[1] چې فلانی سړی الله ﷻ خپل اقدس ذات ته قبض کړ (وفات شو).

دا د يو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ قَبۡضٗا يَسِيرٗا ﴾ کښې د "يَسِير" کلمه که څه هم د اسان معنی ورکوي مګر کله-کله د قليل (لږ) په معنی باندې هم استعمالېږي[2]، چې په دې مقام کښې همدغه استعمال اراده کړی شوی دی.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: مونږ د اوږدولو څخه وروسته ذکر شوی سوری لږ لږ په تدريج سره کموو او د منځه يې وړو، آن تردې چې په نتيجه کښې بالکل ټول د منځه لاړ شي او معدوم شي.

## د سُبَات او نُشُور معناوې

٢ـ په ﴿ وَٱلنَّوۡمَ سُبَاتٗا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ نُشُورٗا ﴾ کښې د "سُبَات" کلمه د راحت او ارام کولو دپاره وضعه شوې ده[3] او بالمقابل د "نُشُور" کلمه د خوربدلو معنی ورکوي، يعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې شپه د ارام کولو دپاره مساعده ګرځولې ده چې تاسو پکښې استراحت کوئ او په مقابل کښې يې درته ورځ د خوربدلو وخت جوړه کړې ده چې تاسو پکښې د روزۍ د لټون دپاره په ځمکه کښې خواره واره شئ.

نو تاسو هم استراحت ته ضرورت لرئ چې حواس مو ارام ونيسي او هم خوربدلو ته اړ ياست چې خپلو خانونو ته روزي مونده کړئ، همدغه مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ ﴾ [الجمعة: ١٠] يعنې کله چې د جمعې لمونځ اداء کړی شي نو تاسو په ځمکه کښې خواره شئ او د الله ﷻ فضل (حلال مال) ولټوئ.

## يو صرفي تحليل

٣ـ په ﴿ أَنۡعَٰمٗا وَأَنَاسِيَّ كَثِيرٗا ﴾ کښې د "أَنَاسِيّ" کلمه په اصل کښې "أَنَاسِيْنَ" وه چې د انسان جمعه ده، لکه "بَسَاتِيْنَ" چې د "بُسْتَان" جمعه ده، نو د "ن" توری په "ي" بدل شو او د ادغام څخه وروسته تري "أَنَاسِيّ" جوړ شو، او يا پکښې هيڅ تغير نه دی واقع شوی او د "إِنْسِيّ" جمعه ده لکه "كَرَاسِيّ" چې د "كُرْسِيّ" جمعه ده[4]. په هر تقدير د ﴿ كَثِيرٗا ﴾ کلمه د ﴿ أَنۡعَٰمٗا وَأَنَاسِيَّ ﴾ د مجموعې دپاره صفت واقع شوې ده[5]، يعنې په ذکرو شوو اوبو باندې مونږ زښت ډېر څاروي او انسانان خړوبوو.

---

(١) لسان العرب ج٧ ص٢١٣
(٢) مفردات الراغب ص٥٧٧
(٣) القاموس المحيط ج٢ ص٥٠٥
(٤) لسان العرب ج٦ ص١٢
(٥) روح المعاني ج١٩ ص٣١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې په اوبو سره خو ټول ځاروي او ټول انسانان بلکې په ځمکه باندې ټول ساکښان خړوبېږي، نو د ﴿ كَثِيرًا ﴾ د کلمې په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: د "كَثِير" کلمه کله-کله په مطلق کثرت (ډېروالي) باندې دلالت کوي بې د دې چې د کليت (ټولو) يا جزئيت (ځينو) نفي کول په لحاظ کښې وساتل شي، همدې خبرې ته د الله ﷻ په توفيق د [البقرة: ۲۶] ايت لاندې اشاره شوې ده. په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی، والله ﷻ اعلم.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې مونږ د باران په اوبو باندې په مستقيمه توګه زښت ډېر ځاروي او بنيادمان خړوبوو البته کوم چې د ښارونو څخه بهر په بيديا ګانو کښې سکونت لري، او په غير مستقيم ډول خو ټولو ساکښانو ته د باران په اوبو باندې ژوند وربښو چې د سيندونو او چينو اوبه هم اصلاً د باران څخه منشا اخلي.

### د "هٗ" ضمير مرجع څه شی دی؟

۵_ په ﴿ وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ بَيْنَهُمْ ﴾ کښې د "هٗ" ضمير په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد صورتونه ښودلي دي[۱] چې مونږ فقط د دوه وو صورتونو په ذکر باندې اکتفاء کوو. هغه دا چې:

الف: دغه ضمير د وړاندېنيو جملاتو مضمون ته راجع دی[۲] چې په "هٰذَا الْقَوْلُ" سره ترې تعبير کولی شو[۳] نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې:

يقيناً مونږ دغه بيان (چې بادونه راپورته کوو او د اسمان د پلوه پرې پاکيزه اوبه نازلوو، او هم په همدغو اوبو سره مړه ځمکه راژوندۍ کوو او ساکښان پرې خړوبوو) په ټولو اسماني کتابونو کښې (د بنيادمانو ترمنځ) بيا-بيا نازل کړی دی ترڅو پکښې دوی تدبر وکړي او توحيد ته پرې خپل ځانونه ورسوي خو د دوی اکثريت پکښې تدبر نه کوي او د ناشکرۍ څخه کار اخلي.

ب: دغه ضمير په ﴿ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً ﴾ کښې ﴿ مَآء ﴾ ته راجع دی لکه څنګه چې په "بِهٖ، نُسْقِيَهٗ" کښې دواړه ضميرونه ورته راجع دي.

اما د "تَصْرِيْف" (د خلکو ترمنځ د اړولو او را اړولو) مثالونه يې دا دي:

اول: الله ﷻ په ځينو خلکو باندې لږ باران او په ځينو نورو باندې ډېر باران ورروي.

دوهم: چرته د اسمانه تېز باران او چرته نرم باران رابښکته کوي.

دريم: چرته يې ځاځکي غټ-غټ او چرته يې ځاځکي واړه-واړه وي.

څلورم: چرته تالنده وي او چرته زول وي.

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۴ ص۹۸

(۲) تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۲۴؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۲۸۵

(۳) روح المعاني ج۱۹ ص۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پنځم: چرته باران کال وي او چرته وچکالي او قحطي وي، او داسې نور.
نو په دې تقدير يې حاصل داسې اخستل کېږي چې:
يقيناً مونږ د خلکو ترمنځ په مختلفو صورتونو سره د باران اوبه اړوو او را اړوو، ترڅو پکښې دوی تفکر او تدبر وکړي او د توحيد نتيجې ته ورباندې ورسېږي؛ مګر د دوی اکثريت ناشکري کوي او خپل ځانونه پرې يا کفر ته وباسي او يا يې ورباندې په کفر کښې لا ګلکوي.

## تبصره

۶_ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسيرونه يو تربله سره څه منافات نه لري او د بدليت په لحاظ دواړه اراده کېدلی شي، خو مونږ ته دوهم تفسير په زړه پوری برېښي چې د لاندې روايتونو څخه يې هم تائيد څرګندېږي:

الف: يوه ورځ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وفرمايل چې: «لَيْسَ عَامٌ بِأَكْثَرَ مَطَرًا مِنْ عَامٍ وَلَكِنَّ اللهَ يُصَرِّفُهُ كَيْفَ يَشَاءُ» يعنې يو کال د بل کال څخه د باران د حيثه زيات نه دی مګر الله ﷻ باران تاووي څنګه يې چې اراده وشي (په ځينو ځايونو لږ باران وروي او په ځينو نورو ډېر)، «ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الآيَةَ»[۱] بيا نو نوموړي صحابي ؓ د استشهاد په توګه ذکر شوی ايت شريف قرائت کړ.

ب: عبد الله بن مسعود ؓ په خپل يوه اوږده حديث کښې ذکر شوی ايت شريف تفسير کړی دی[۲] چې مضمون يې لاندې لوستلی شئ:

اول: د باران په اندازه کښې ټول کلونه يو برابر دي (د يوه کال د باران اندازه د بل کال د باران د اندازې څخه کمه يا زياته نه ده، په هر کال کښې د باران وزن او پيمانه په يوه اندازه ده).

دوهم: کله چې يو قوم ګناهونه وکړي نو الله ﷻ ترې باران بل قوم ته تاو کړي.

درېم: او که ټول ګناهونه او عصيان وکړي نو الله ﷻ بيا همدغه (د دوی برخه باران) په دريابونو او بيابانونو باندې وروي.

## د خلکو اکثريت څنګه ناشکري کوي؟

۷_ پاتې شوه دا خبره چې د خلکو اکثريت څنګه ناشکري کوي؟ نو دا په لاندې حديث شريف کښې په ډېره ښه توګه واضحه شوې ده:

يوه ورځې د حديبې په مقام کښې د سبا د لمانځه څخه وروسته په داسې حال کښې چې د شپې باران شوی وه نبي کريم ﷺ په يوه قدسي حديث کښې د الله ﷻ څخه داسې حکايت وکړ چې: «أَصْبَحَ مِنْ عِبَادِي مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ. فَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِفَضْلِ اللهِ وَرَحْمَتِهِ فَذَلِكَ مُؤْمِنٌ بِي وَكَافِرٌ بِالْكَوْكَبِ وَأَمَّا مَنْ قَالَ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا فَذَلِكَ كَافِرٌ بِي وَمُؤْمِنٌ بِالْكَوْكَبِ»[۳] يعنې الله ﷻ فرمايي چې: په دغه باران

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۳۲۱
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۳۷۲
(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۱۱۷، ۱۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره زما د بندګانو څخه ځيني په ماباندې مؤمنان شوه او ځيني راباندې كافران شوه، نو هر چا چې وويل چې په مونږ باندې د الله ﷻ په فضل او رحمت سره باران وكړى شو نو دغه سړى په ما باندې مؤمن شو او په ستوري باندې كافر شو. او هر چا چې وويل چې په مونږ باندې د دغه او هاغه ستوري په راختلو سره باران وكړى شو نو دغه سړى په ما باندې كافر شو او په ستوري باندې مؤمن شو.

## په قرآن سره دعوت لوى جهاد دى

٨ـ په ﴿ وَجَٰهِدۡهُم بِهِۦ جِهَادٗا كَبِيرٗا ﴾ كښې الله ﷻ نبي كريم ﷺ ته توصيه كړې ده چې په قرآن كريم سره د كفارو په مقابل كښې لوى جهاد وكړه، براهين او زواجر ورته قرائت كړه او د پخوانيو هلاكو شوو كفارو حالات ورته بيان كړه او د قيامت د ورځې په كيفياتو باندې اطلاع وركړه او داسې نور.

څرنګه چې ذكر شوى ايت شريف د هجرت څخه وړاندې نازل شوى دى چې مسلح (وسلوال) جهاد لا نه وه فرض شوى نو معلومه شوه چې د في سبيل الله وسلوال جهاد څخه في سبيل الله دعوت لوى جهاد دى چې هم پكښې اجرونه زيات دي او هم پكښې مسئوليت ډېر لوى دى، بلكې په كيفيت او نتائجو كښې هم د هغه څخه دا لوړ دى، كه نه نو نبي كريم ﷺ ته به توصيه شوې وى چې ته سمدستي وړوكى جهاد كوه او لوى جهاد ته منتظر اوسه چې فرضيت يې در روان دى.

د وخت مشركانو (كفارو) هم ذكر شوى مطلب درك كړى وه، د همدې كبله الله ﷻ ترې حكايت كړى دى چې: ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَا تَسۡمَعُواْ لِهَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ وَٱلۡغَوۡاْ فِيهِ لَعَلَّكُمۡ تَغۡلِبُونَ ﴾ [فصلت:٢٦] يعني او هغه كسان كومو چې كفر غوره كړى دى (خپلو پيروانو او لوېرانو ته) وايي چې تاسو دغه قرآن ته غوږ مه ږدئ (چې اثر درباندې ونه كړي) او د قرائت په وخت كښې يې شور كوئ (چې نور خلك يې هم وانه وري)، شايد چې تاسو (په دغې طريقې سره په قرآن باندې) غلبه موندونكي كړئ (كه نه نو د هغه اثر ډېر قوي دى او د ډېر لوى جهاد څخه نمايندګي كوي).

نو د هرې زمانې په علماوو كرامو باندې فرض ده چې خپله فريضه (دعوت إلى الله) وپېژني او په عمل كښې يې پياده كړي، كه نه نو د قيامت په ورځ به د ډېر لوى مسئوليت سره مخامخ شي "اللهم وفقنا لما تحب وترضى آمين يا مجيب الداعين".

## د دريابونو ترمنځ پرده موجوديت لري

٩ـ په ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِي مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ هَٰذَا عَذۡبٞ فُرَاتٞ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٞ وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٗا وَحِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ﴾ كښې دوه وو ټكو ته توجه په كار ده: چې يو د ايت شريف د لغاتو د معناوو شرحه ده او بل دا چې په دې مقام كښې د دوه وو بحرونو څخه كوم-كوم بحرونه مطلب دي؟ او قوي پرده (بَرزَخ) د څه شي څخه عبارت دى؟ نو:

الف: د لغاتو معناوې يې دا دي:

اول: د ﴿ مَرَجَ ﴾ كلمه د "مَرْجٌ" ـ لكه "ضَرْبٌ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "مَرْجٌ" اصلاً د خلط

Scanned by CamScanner

د میرویس لباسین لخوا سکین شو



(ګډوډېدلو) دپاره وضعه شوی دی، خو په چراګاه (څرځای) کښې هم استعمالېږي چې هلته څاروي پرېښودل کېږي چې په خپله خوښه پکښې ازاد وګرځي راوګرځي[۱].

خو په دې مقام کښې ترې د "خلط" معنی مراده نه ده ځکه چې په عین ایت کښې د "بَرزَخ" د کلمې سره منافات لري، بلکې د خلط سره لازمه معنی ترې مراده ده چې "اتصال" دی.

دوهم: د ﴿ عَذْبٌ فُرَاتٌ ﴾ هره یوه کلمه صفت مشبه ده[۲] او هره یوه د خوندورو خوږو اوبو دپاره وضعه شوې ده چې دوهمه د اولې معنی تاکیدوي[۳] چې د دواړو څخه مونږ په ډېرو خوږو او خوندورو اوبو سره تعبیر کوو.

دریم: د ﴿ مِلْحٌ أُجَاجٌ ﴾ هره یوه کلمه هم صفت مشبه ده[۴] او هره یوه د ترووو اوبو دپاره وضعه شوې ده نو دوهمه د لومړۍ کلمې د معنی تاکید کوي، چې مونږ ترې د شدیدو ترووو او ترخو اوبو معنی اخلو.

څلورم: مونږ د الله ﷻ په توفیق د "بَرزَخ" کلمه د [المؤمنون: ۱۰۰] ایت لاندې ښه تحلیله کړې ده چې د پردې او حائل معنی ورکوي، او همدارنګه مو ـ لله ﷻ الحمد والمنة ـ د [الفرقان:۲۲] ایت لاندې د "حِجْر، مَحْجُور" دواړو کلمو په هکله لیکلي دي چې دوهمه د لومړنۍ تاکید دی او دواړه په کلک مانع او حائل باندې دلالت کوي.

نو په دې مقام کښې به د دریواړو کلمو (بَرزَخ، حِجْر، مَحْجُور) څخه په مجموعي توګه ډېره زیاته قوي پرده (حائله) مراده وي چې د هیچا په توان کښې ممکنه نه وي چې هغه د منځه یوسي او د بحرونو اوبه سره ګډې کړي.

ب: په دې خبره کښې (چې د بحرونو څخه کوم-کوم بحرونه مطلب دي او قوي پرده د څه شي څخه عبارت ده؟) علماء کرام په لاندې دوه وو ډلو باندې ویشل شوي دي:

اول: یو بحر د ټولو سیندونو د مجموعې څخه عبارت دی لکه: سیحون، جیحون او د ټولې دنیا نور سیندونه، چې د ټولو اوبه خوږې او مزه ناکې دي. او د بل بحر څخه د ټولو دریابونو مجموعه مطلب ده چې د ځمکې زیاته برخه یې اشغال کړې ده او اوبه یې تروې او ترخې دي[۵].

همدارنګه د ځمکې په داخل کښې هم دواړه ډوله اوبه چلېږي، د همدې کبله ځینې ځاګانې خوږې اوبه لري او په ځینو نورو کښې تروې او ترخې اوبه موجودې وي.

دغه ډله علماء کرام وایي چې د قوي پردې څخه دلته ځمکه مطلب ده چې هم د دریابونو او سیندونو ترمنځ حائله ده او هم په خپله ګېډه کښې خوږې اوبه او تروې اوبه نه پرېږدي چې سره ګډې وډې شي.

---

(۱) النهاية في غريب الحديث والأثر ج۴ ص۳۱۴؛ تفسير الطبري ج۱۹ ص۲۳
(۲) اضواء البيان ج۶ ص۳۳۹
(۳) القاموس المحيط ج۳ ص۱۷۶؛ لسان العرب ج۲ ص۶۵
(۴) مفردات الراغب ص۶؛ لسان العرب ج۲ ص۲۰۷
(۵) التفسير الكبير ج۲۴ ص۱۰۱؛ في ظلال القرآن ج۵ ص۲۵۷۲؛ المحرر الوجيز ج۱۲ ص۳۰؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: بله ډله علماء کرام وايي چې دواړه دريابونه د متعارفو دريابونو څخه عبارت دي چې هم پکښې خوږې اوبه شته او هم په تروو او ترخو اوبو باندې مشتمل دي؛ چې دواړه ډوله اوبه په خپل منځکښې سره پيوستون لري خو ګډون په هيڅ صورت سره نه قبلوي.

په دې تقدير کلکه پرده د هغې قوې پردې څخه عبارت ده چې د الله ﷻ د کامل قدرت څخه نمايندګي کوي، او په سترګو باندې نه ليدله کېږي[1]، خو د دواړو ډولونو اوبو ترمنځ حائله ده چې يو ډول هم بغاوت ته نه پرېږدي.

## تبصره

۱۰ـ مونږ لرې نه ګڼو چې اول تفسير په اشارة النص سره مراد شي، خو په عبارة النص سره راته فقط دوهم تفسير ترجيح لري او دا ځکه چې:

الف: په وړاندېنې توضيح کښې لږ وړاندې تېر شوه چې په ﴿مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ﴾ کښې د ﴿مَرَجَ﴾ کلمه په خلط او پيوستون باندې دلالت کوي، حال دا چې په اول تفسير کښې د دواړو دريابونو ترمنځ ځمکې ته د برزخ (حائل) لقب ورکړی شوی دی چې دواړه دريابونه پيوستون ته نه پرېږدي، او کله چې د يوه درياب اوبه (سيندونه) په بل درياب کښې ورولوېږي او سره پيوسته شي نو بيا خپل خوږوالی نه شي حفظ کولی، نو په دې صورت کښې ځمکه برزخ (حائل) نه جوړېږي.

ب: بلکې په بل ايت شريف کښې د دواړو دريابونو په پيوستون باندې صراحت شوی دی چې: ﴿مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ ۝ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٞ لَّا يَبۡغِيَانِ﴾ [الرحمن: ۱۹، ۲۰] يعني الله ﷻ دوه دريابونه خوشې کړي (بهولي) دي چې يو تربله سره پيوسته کېږي، حال دا چې د دواړو ترمنځ پرده ده چې يو په بل باندې بغاوت نه کوي (خو په لومړي تفسير سره پيوستون بالکل صورت نه نيسي).

که څه هم دواړه دريابونه د بغاوت صلاحيت لري، چې يا دواړه ترخه شي او يا دواړه خواږه وګرځي او بالآخره يا دواړه خوږ لوړی جوړ شي.

دغه پرده دومره قوي ده چې که د دواړو دريابونو څخه په يوه کاسه کښې اوبه واچولی شي هم يو تربله سره بغاوت نه کوي.

ج: که څه هم په سيندونو باندې د بحرونو اطلاق کېږي لکه په [الکهف: ۶۰] ايت کښې، مګر متبادره معنی يې هغه لوی دريابونه دي کوم چې په ځمکه راچاپېر دي، نو ترڅو چې متبادره معنی امکان لري بايد چې غير متبادره معنی اراده نه کړی شي، لکه څنګه چې په اولني تفسير کښې اراده کړی شوې ده.

د: د دريابونو ذکر شوي دوه ډولونه ليدلی شوي هم دي لکه چې امام الشنقيطي رحمه الله عليه وايي چې: زه يوه ورځ د يو لوی درياب په غاړه ناست وم چې يو لاس به مې اوبو ته ښکته کړ خوږې اوبه

(۱) تفسير الطبري ج۱۹ ص۲۵؛ روح المعاني ج۱۹ ص۳۵؛ تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به لاس ته راغلې او چې په عين وخت کښې به مې بل لاس ورتيت کړ نو تروې اوبه مې را اوچتې کړې. لنډه دا چې د درياب په همدغه يو ځای کښې دواړه ډوله اوبه موجودې وې او ترمنځ يې د الهي کامل قدرت پرده پرته وه چې په سترګو نه ليده کېدله[1].

په دې باندې علاوه عدم ليدل خو په عدم موجوديت باندې دلالت نه کوي لکه چې د زوزو مازوزو بند چا نه دی ليدلی خو مسلمان ترې انکار نه کوي.

ه: داسې معلومېږي چې د قرآن کريم د نزول په وخت هم د ذکرو شوو دوه وو درياښونو په موجوديت باندې خلکو عقيده درلوده او ورته ثابت وه؛ که نه نو مشرکان خو اعتراض کولو ته شنه ناست وه، دا موقع به يې بې اعتراضه نه وی پرېښې.

## عجيبه حکمتونه

۱۱ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ اکثره لوی‌لوی درياښونه تروه پيدا کړي دي؟

مونږ وايو چې: الله ﷻ د حکمت څښتن دی چې هر يو کار يې په بې‌شمېره حکمتونو باندې ولاړ دی، نو لوی‌لوی درياښونه يې د ډېرو حکمتونو په بنياد تروه پيدا کړي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ[2]:

الف: که د لويو‌لويو درياښونو اوبه تروې او مالګينې نه وی نو بوی به يې کړی وی او د ډېرو زمانو په تېرېدلو سره به ورستې شوې وی، نو حيواناتو به پکښې ژوند نه وی کړی.

د همدې کبله الله ﷻ د سترګو اوښکې تروې پيدا کړي دي ترڅو سترګو ته ضرر ناکې واقع نه شي او خلک ړانده نه کړي.

ب: که د درياښونو اوبه بدبويه او فاسدې شوې وی نو ټوله ځمکه به د استوګنې څخه وتلې وی، ټوله به بوی نيولې وی، او هيڅ ساکښ به وربانډې ژوند نه وی کړی، او داسې نور.

## د نسب او صهر ارتباط

۱۲ـ که څه هم ﴿فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا﴾ عبارت اصلاً د مضاف (ذا) په حذف سره دی چې مونږ ترې په "ذَا نَسَبٍ وَصِهْرٍ" سره تعبير کولی شو[3]، خو بيا د مضاف اعراب (نَصْب) د هغه د حذف څخه وروسته په مضاف اليه باندې اجراء شوی دی، يعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې انسانان يې د يوې نطفې څخه پيدا کړي دي او په عين حال کښې يې په دوه وو ډولونو باندې وېشلي دي. هغه دا چې:

الف: يو ډول انسان د نسب خاوند دی او نارينه دی چې اولادونه همده ته منسوبېږي چې فلانی د فلانې زوی.

ب: بل ډول انسان يې د صهر (نکاحي) قرابت خاوند جوړ کړی دی چې هغه د ښځينه انسان څخه

---

(۱) اضواء البيان ج۶ ص۳۴

(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۳۴؛ الجواهر للطنطاوي ج۱۲ ص۲۲۱

(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۳۷۳؛ تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبارت دی چې پردي خلک ورباندې راخپلېږي.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿وَأَنَّهُۥ خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلۡأُنثَىٰ ۝ مِن نُّطۡفَةٍ إِذَا تُمۡنَىٰ﴾ [النجم:۴۵، ۴۶] یعنې په پخوانیو صحیفو کښې دا خبره هم لیکلې شوې وه چې یقیناً الله ﷻ دوه فرده (جوړه) پیدا کړې ده، چې یو نارینه دی او بل ښځینه دی، البته دغه جوړه یې د یوې نطفې څخه پیدا کړې ده کله چې هغه په رحم کښې واچوله شي.

دا د یو پلوه او د بله پلوه مونږ ته څه لرې نه برېښي چې هر یو انسان (نارینه وي او که ښځینه) ذکر شوي دواړه قرابتونه ولري. او دا څکه چې:

نارینه انسان نظر څینو کسانو ته د نسب خاوند دی لکه پلارتوب او زوی توب، او څینو نورو ته د نکاحي قرابت درلودونکی دی، چې د چا زوم دی او د چا خسر دی.

همدارنګه زنانه هم د چا لور او د چا مور ده، او هم د چا خوابنې او د چا انګور ده.

په هر تقدیر قرابت او خپلولي (هر ډول چې وي) لوی نعمت دی چې د خواخوږۍ او تعاون بنیاد او بنسټ ګڼلی کېږي. که بالفرض انسان د قرابت خاوند نه وی ګرخولی شوی نو ژوند به یې د څارویو غوندې بې مینې او بې محبته وی، او تعاون به یې په منځکښې نه وی.

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ۝٥٦ قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ۝٥٧ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ۝٥٨ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۚ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرٗا ۝٥٩ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسۡجُدُواْۤ لِلرَّحۡمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ أَنَسۡجُدُ لِمَا تَأۡمُرُنَا وَزَادَهُمۡ نُفُورٗا۩ ۝٦٠﴾

[۵۶] او (ای پیغمبره!) مونږ ته په هیڅ حال کښې نه یې استولی مګر (په جنت سره) زیری ورکوونکی او (په دوزخ سره) ډاروونکی.

[۵۷] ته (خلکو ته) ووایه چې: زه ستاسو څخه (د قرآن کریم) په تبلیغ باندې هیڅ اجر (مزدوري) نه غواړم، مګر (فقط همدا مزدوري) چې څوک اراده ولري چې خپل رب ﷻ ته (روغه) لاره ونیسي (نو هغه ته روغه لاره وروښایم).

[۵۸] او (ای پیغمبره!) په هغه ژوندي (ابدي او ازلي) ذات ﷻ باندې توکل وکړه کوم چې نه مړ کېږي (فنا ورباندې نه ورځي)، او د همده ﷻ د حمد سره تسبیح (د عیوبو څخه پاکي) هم (ملګرې) کوه.

او همدی ﷻ د خپلو بندګانو په ګناهونو باندې د خبردارۍ د لحاظه بس دی (چې هر چاته موافقه سزا ورکړي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٥٩] (په) هغه اقدس ذات ﷻ (باندې توکل کوه) چې اسمانونه او ځمکې او هغه څه چې د دواړو ترمنځ دي (دا ټول) يې په شپږو ورځو کښې پيدا کړه (او) بيا يې په عرش العظيم باندې (د خپل اقدس ذات سره مناسبه) استواء وکړه.

د ډېر مهربان الله ﷻ (ورباندې مناسبه استواء وکړه) نو ته (د نورو زياتو معلوماتو دپاره) په همده ﷻ باندې د خبردار شخصه پوښتنه وکړه (چې نور صفات يې هم درته بيان کړي).

[٦٠] او کله چې مشرکانو ته (ستا د پلوه) وويل شي چې د ډېر مهربان الله ﷻ ته سجده وکړئ (چې رحمن نومېږي)، نو دوی وايي چې: او رحمن څه شی دی؟ ايا مونږ هغه شي ته سجده وکړو چې ته راته ورباندې امر کوې (او مونږ يې نه پېژنو)؟

او (ستا همدا د سجده کولو امر) ورته (د اسلام څخه لا) نفرت زياتوي (او کفر يې ورته قوي کوي).

## ارتباطونه

١ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې الله ﷻ د خپل توحيد دلايل نازل کړي وه او نبي کريم ﷺ ته يې توصيه کړې وه چې په قرآن کريم باندې لوی جهاد ته ادامه ورکړي.

په دې ايتونو کښې الله ﷻ د يو پلوه په لوی جهاد کښې د نبي کريم ﷺ مکلفيت مشخص کړی دی او د بله پلوه يې هغو ارشاداتو ته اشاره کړې ده کوم ته چې نبي کريم ﷺ د لوی جهاد په اوږدو کښې ضرورت درلود چې دا وايه او دا کوه.

٢ـ د هغو ايتونو په پای کښې ټول کفار د شيطان کومکيان ښودل شوي وه، او د دې ايتونو په پای کښې د همدغې دوستۍ نتيجه ښودله کېږي. نو حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! د لوی جهاد په چلولو کښې لاندې وصايا په نظر کښې ونيسه:

١ـ لوی جهاد د دې څخه عبارت دی چې ته د خپل رب ﷻ د توحيد دلايل خلکو ته ابلاغ کړې او په همدغه مطلب باندې د سوچه عقيدې دعوت ورکړې، او هم د قبول په صورت کښې ورته بشارت ورسوې او د عدم قبول په صورت کښې يې د أخروي عذاب څخه وډار کړې. دا ستا مکلفيت دی، د دې څخه علاوه ته د يو پيغمبر په صفت نور مکلفيت نه لرې او دا ځکه چې ته خو مونږ نه يې استولی مګر فقط په داسې حال چې ته زيری ورکوونکی او ډاروونکی يې او بس.

٢ـ د جهاد په جريان کښې کفار مخاطب کړه او ورته ووايه چې زه خو ستاسو څخه د دغه قرآن کريم په دررسونه باندې څه مزدوري نه غواړم او نه درته د څه شي تمه لرم، که بالفرض ما دا کار کولی نو تاسو به د عدم قبول دپاره څه وجه په لاس کښې درلودلې وی.

زما ټوله غوښتنه ستاسو څخه فقط همدا ده چې ستاسو هرڅوک چې د خپل رب ﷻ په لاره باندې تلل غواړي نو زه هغه ته همدغه لار ورښايم (زه ورته لارښود يم) چې په دې زمانه کښې فقط همدا زه لارښود يم او بس.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو که زما په دغې وینا باندې تاسو د اُجرت او مزدورۍ نوم ږدئ نو وربانديې کېږدئ، د همدغې خبرې څخه په غیر نور هیڅ شی زه ستاسو څخه نه غواړم نو دا راته ووایاست چې اوس نو ستاسو د ایمان نه راوړلو وجه څه شی کېدلی شي؟

۳ــ د جهاد په جریان کښې فقط په خپل رب ﷻ باندې توکل کوه او د کفارو د غاښ چیچې څخه هیڅ مه ډارېږه او دا خکه چې:

الف: ستا رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې همېشه ژوندی دی او هیڅکله د موت (مرګ) سره نه مخامخ کېږي ځکه چې مرګ د ممکناتو خاصه ده او ستا رب ﷻ د ممکناتو د سلسلې څخه بهر دی، د همده ﷻ څخه په غیر نور ټول موجودات فاني کېدونکي دي، او د فاني کېدونکو څخه ډار په کار نه دی.

نو ته په همدغه ازلي او ابدي الله ﷻ باندې توکل کوه او د همده ﷻ د تسبیحاتو سره حمدونه او ثناوې هم وایه.

ب: د کفارو د کفر مسئولیت تاته نه راجع کېږي، د هغوی جنایات د هغوی په غاړه دي چې ستا رب ﷻ ته ښه پوره څرګند دي، او همدا خبره بس ده چې الله ﷻ د خپلو بندګانو په ګناهونو او جنایاتو باندې خبردار دی، ته هیڅ تشویش مه کوه.

ج: ته به ولې په خپل رب ﷻ باندې توکل نه کوې چې همدې ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ټول اسمانونه او ټولې ځمکې یې په شپږو ورځو کښې پیدا کړي دي.

او بیا یې په عرش عظیم باندې د خپل اقدس شان سره مناسبه استواء کړې ده، او هم یې د ټولو تکویناتو واګې په خپل اختیار کښې اخستې دي، نو ټول اختیار د همده ﷻ په واک کښې دی، د بل چا د لاسه هیڅ پوره نه دي.

د: په دې باندې علاوه ستا رب ﷻ ډېر مهربان دی، ډېر ژر به د لوی جهاد په اوږدو کښې ستا مشکلات حل کړي او دښمنان به دې ذلیل او مقهور وګرځوي.

هـ: د دې دپاره چې تاته د خپل رب ﷻ ډېره لویه مهرباني ډېره ښه جوته شي نو د هغه چا څخه پوښتنه وکړه چې د الرحمن (ډېر مهربان الله ﷻ) په لوړو صفاتو باندې ښه پوره خبرتیا لري، یا په بل عبارت: پخپله د همده ﷻ څخه پوښتنه وکړه چې د هغو بې اندازې نعمتونو په هکله معلومات درکړي کومې یې چې د ځمکو او اسمانونو په پیدایښت کښې نغښتې دي.

و: هو! هغه بنیادمان هم وربانديې څه ناڅه اجمالي معلومات درکولی شي کومو ته چې د پخوانیو اسماني کتابونو علم ورکړی شوی دی او د همدغه علم په رڼا کښې یې په تابانديې هم ایمان راوړی دی لکه عبد الله بن سلام ﷺ او نور.

ز: اما د دوی څخه په غیر نور خلک خو یا په الرحمن ﷻ باندې خبرتیا نه لري او یا یې وربانديې خپل خانونه ګول اچولي دي، حتی:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ح: کله چې دوی ته ستا د پلوه وويل شي چې: الرحمن ﷻ ته سرونه په سجده کېږدئ او خاص همده ﷻ ته عبادت وکړئ، نو خپل ځانونه بالکل ناخبره نيسي او په تعجب سره داسې پوښتنه نه کوي چې الرحمن څوک دی؟ بلکې وايي چې: الرحمن څه شی دی چې مونږ ورته سجده وکړو؟.

ط: او بيا تاته په ډېره بېباکانه توګه مخ در اړوي او درته وايي چې: ايا مونږ هغه شي ته سجده وکړو چې ته راته پرې امر کوې حال دا چې مونږ يې نه پېژنو؟

ي: د همدې کبله همدغه ارشاد (چې الرحمن ﷻ ته سجده وکړئ!) د هغوی نفرت لا زياتوي او د کفري خبرو په کولو سره يې د هدايت څخه لا لرې کېږي (چې د شيطان سره يې اندېوالي لا قوي کېږي).

## توضيحات

۱_ په ﴿ قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ عَلَيۡهِ ﴾ ضمير هغه (تبليغ) ته راجع دی په کوم باندې چې په وړاندېنې ايت کښې د "أَرْسَلْنَا، مُبَشِّرًا، نَذِيرًا" کلمات دلالت کوي ځکه چې "رسول"، "مبشر" او "نذير" هغه څوک کېدلی شي چې د پيغامونو تبليغ (رسونه) يې په غاړه وي.

ب: د ﴿ إِلَّا مَن شَآءَ ﴾ استثناء کښې علماء کرام دوه نظره لري[1]:

اول: جمهور علماء کرام وايي چې: دا استثناء منقطعه ده، نو ټول عبارت يې داسې راځېږي چې: "إِلَّا مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَى رَبِّهِ سَبِيلًا فَلْيَفْعَلْ" يعنې زه ستاسو څخه په خپل تبليغ او دعوت باندې څه أجرت او مزدوري نه غواړم، مګر هغه څوک چې خپل رب ﷻ ته د سمې لارې د موندلو اراده لري هغه دې خپله اراده عملي کړي او په ما پسې دې راشي چې مطلب ته ورسېږي.

دوهم: د ځينو نورو په نظر دغه استثناء ادعاءً متصله ده چې د سمې لارې موندل أجرت ګڼلی شوی دی، نو په دې تقدير يې حاصل داسې راځېږي چې: زه خو په تبليغ باندې ستاسو څخه بل هيڅ أجرت نه غواړم فقط همدا أجرت غواړم څوک چې خپل رب ﷻ ته د سمې لارې د موندلو نيت لري چې هغه ته لاره وروښايم چې دغسې لاړ شه، يا په بل عبارت: که تاسو دغه کار او دغې غوښتنې ته د أجرت لقب ورکوئ نو رښتيا چې زه د أجرت غوښتونکی يم.

که څه هم ذکر شوي دواړه نظرونه سره څه منافات نه لري د بدليت په اعتبار سره دواړه هم اراده کېدلی شي مګر مونږ ته دوهم نظر په زړه پورې برېښي چې لطافت او باريکي پکښې زياته ده.

## يادونه

۲_ دا پنځم ايت دی چې د ﴿ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ﴾ کلمات پکښې نازل شوي دي. په دې هکله چې مونږ ته الله ﷻ څه راښودلي وه او هم يې راته لېکل ضرور برېښېدلي وه هغه مو د همده ﷻ په

---

(۱) تفسير الكشاف ج۳ ص۲۸۸؛ اللباب في علوم الكتاب ج۱۴ ص۵۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



توفيق د [الأعراف:۵۴] ايت لاندي (چې د اول خل دپاره پکښې ذکر شوي کلمات نازل شوي دي) ليکلي دي، نو بيا ليکل يې کتاب اوږدوي.

## ځو مهم او په زړه پوري مطالب

۳ـ د ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرٗا﴾ په اعراب او نورو مربوطاتو کښې مفسرينو کرامو متعدد تحليلونه کړي دي[۱]، که د چا زړه اوږد بحث ته نه په تنګېږي نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ د همغو ټکو په ذکر باندې اکتفاء کوو کوم چې راته په زړه پوري برېښېدلي دي هغه دا چې:

الف: د ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ﴾ معرزه کلمه د ﴿ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ﴾ د مستتر ضمير ځخه بدل واقع شوې ده، لکه چې په ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ﴾ [طه:۵] ايت کښې ورباندې صراحت شوی دی.

ب: په ﴿بِهِ﴾ کښې د "ب" توری د ﴿خَبِيرٗا﴾ په کلمې پورې تعلق نيسي چې وروسته ترې متصله ذکره ده او د "هـ" ضمير يې د ﴿ٱلرَّحۡمَٰنُ﴾ کلمې ته راجع دی چې وړاندې ترې متصله ذکره ده.

ج: په دې خبره کښې چې دلته د ﴿خَبِيرٗا﴾ مصداق ځوک دی؟ يا په بل عبارت: د چا په هکله نبي کريم ﷺ ته توصيه شوې ده (چې د "الرّحمن" په ارتباط ترې پوښتنه وکړي او معلومات ترې واخلي)؟ علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۲] لاندې مثالونه يې د نظره تېر کړئ:

اول: دلته د ﴿خَبِيرٗا﴾ د کلمې مصداق هغه ځوک دی د کوم ځخه چې الله ﷻ په بل ايت کښې په ﴿وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ﴾ سره تعبير کړی دی چې فرمايلي يې دي: ﴿قُلۡ كَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدَۢا بَيۡنِي وَبَيۡنَكُمۡ وَمَنۡ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلۡكِتَٰبِ﴾ [الرعد:۴۳] يعني اې پيغمبره! کفار تاته وايي چې ته د الله ﷻ د پلوه د پيغمبر په حيث نه يې را استولی شوی نو ته ورته په جواب کښې ووايه چې زما او ستاسو په منځکښې الله ﷻ د شهادت ورکوونکي په حيث او هم هغه ځوک د شاهد په حيث بس دی چې د چا په نزد د اسماني کتاب علم وي، لکه پربښتې، د اهل الکتابو علماء او د قرآن کريم علماء.

نو په دې تقدير به يې د معنى حاصل داسې راوځېږي چې: اې پيغمبره! د هغه چا ځخه د "الرّحمن" په هکله پوښتنه وکړه کوم چې د همده ﷻ په شان باندې ځه ناځه خبردار دی، لکه جبرائيل ؑ او عبد الله بن سلام او نور.

په دې باندې علاوه الله ﷻ نبي کريم ﷺ ته توصيه کړې ده چې: ﴿فَإِن كُنتَ فِي شَكّٖ مِّمَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ فَسۡـَٔلِ ٱلَّذِينَ يَقۡرَءُونَ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكَ﴾ [يونس:۹۴] يعني نو اې پيغمبره! که ته (بالفرض المحال) د هغه کتاب ځخه په شک کښې يې کوم چې مونږ تاته درنازل کړی دی نو د هغو کسانو ځخه (په همدې هکله) پوښتنه وکړه کوم چې ستا ځخه وړاندې اسماني کتاب قرائت کوي او ورباندې نازل شوی دی.

دوهم: دلته د ذکرې شوې کلمې مصداق الله ﷻ دی چې په هر شي باندې خبردار دی، يعني اې

---

(۱) تفسير القاسمي ج۱۲ ص۲۷۱؛ روح المعاني ج۱۹ ص۳۸؛ تفسير القرطبي ج۱۳ ص۶۴؛ التفسير الکبير ج۲۴ ص۱۰۵
(۲) زاد المسير ج۶ ص۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پيغمبره! ته د "الرّحمن" (ډېر مهربان الله ﷻ) په ارتباط د همده ﷻ څخه پوښتنه وکړه چې د څومره حکمتونو په بنياد يې په شپږو ورځو کښې دنيا پيدا کړې ده او بيا يې پرې د خپل اقدس ذات سره مناسبه استواء کړې ده؟!، ترڅو نور معلومات هم درنازل کړي.

د دې توجيه تائيد د وړاندېني ايت شريف څخه په لاس راځي چې الله ﷻ د ﴿ خَبِيرًا ﴾ په نامه باندې د خپل اقدس ذات څخه تعبير کړی دی چې: ﴿ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴾، نو ګومان کېږي چې دلته به هم همدغه کلمه د الله ﷻ د اقدس ذات څخه عبارت وي.

## تبصره

۴ـ مونږ ته ذکر شوي دواړه نظرونه په زړه پوري برېښي حال دا چې څه منافات هم سره نه لري، نو بهتره دا ده چې د بدليت په لحاظ سره دواړه اراده کړی شي، والله ﷻ أعلم بمراده.

هو! د لومړني نظر په ارتباط د سړي په ذهن کښې يوه پوښتنه ګرځي چې د څه حکمت په بنياد نبي کريم ﷺ ته توصيه وشوه چې د اهل الکتابو څخه او يا د بل کوم عالِم څخه د ډېر مهربان "الرّحمن" په هکله معلومات واخله؟.

نو د دې پوښتنې جواب مونږ د الله ﷻ په توفيق د [يونس:۹۴] ايت لاندې ليکلي دي، هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

خو دلته ورباندې اضافه کوو چې: په دغې توصيه کښې اصلاً مشرکان په غوږ وهلی شوي دي چې د الله ﷻ په هکله د خپلې ګېډې څخه خبرې مه کوئ بلکې د نبي کريم ﷺ څخه يې معلومات واخلئ چې الله ﷻ ورته خپل اقدس ذات ورپېژندلی دی او روزمره ورته وحې کوي.

## هېر مو نه شي

۵ـ هېر مو نه شي چې د [الإسراء: ۱۱۰] ايت لاندې د ﴿ وَمَا ٱلرَّحْمَٰنُ ﴾ په ارتباط څه بيان تېر شوی دی ـلله الحمد والمنةـ چې په دې مقام کښې يې د نظره تېرول بې ګټې نه دي.

## د تلاوت اومه سجده

۶ـ په [الفرقان: ۶۰] ايت کښې د تلاوت اومه سجده ده چې د الله ﷻ په توفيق مونږ يې څه ضروري احکام د [الأعراف:۲۰۶] ايت لاندې ليکلي دي هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا مُّنِيرًا ۝٦١ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ شُكُورًا ۝٦٢ وَعِبَادُ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى ٱلْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلْجَٰهِلُونَ قَالُوا۟ سَلَٰمًا ۝٦٣

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَـٰمًا ﴿٦٤﴾ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ
جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾ إِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٦٦﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَآ
أَنفَقُوا۟ لَمْ يُسْرِفُوا۟ وَلَمْ يَقْتُرُوا۟ وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾ ﴾

[۶۱] هغه اقدس ذات ﷻ ډېر زيات برکتناک (او د نعمتونو خاوند) دی چې په اسمان کښې يې ستوري ګرځولي (پيدا کړي) دي، او (هم) يې پکښې (لمر) ډېوه ګرځولې ده او (بالآخره هم يې پکښې) روښانه سپوږمۍ (پيدا کړې ده).

[۶۲] او همدا (د ذکرو شوو شيانو پيداکوونکی) هغه اقدس ذات دی چې شپه او ورځ يې (هره يوه د بلې) نائبه ګرځولې ده (چې د استمرار په توګه يوه د بلې ځای نيسي).

(البته) د هغه چا د (عبرت) دپاره کوم چې اراده لري چې پند واخلي (او) يا اراده لري چې (خپل رب ﷻ ته) شکر ګزاري وکړي (همدوی ترې استفاده کوي).

[۶۳] او د ډېر مهربان الله ﷻ (مخلص) بندګان هغه دي کوم چې په ځمکه باندې د پوستوالي (تواضع) په حال ګرځي (تکبر نه کوي)، او کله چې ورته جُهال (ناپوهان په ستغو خبرو باندې) خطاب وکړي نو دوی ورته سلام وايي (د متارکې په سلام سره جواب ورکوي اود بالمثل جواب ځخه ډډه کوي).

[۶۴] او (د ده ﷻ مخلص بندګان) هغه دي کوم چې خپل رب ﷻ ته په داسې حال کښې شپه تېروي چې سجده کوونکي او قيام کوونکي (لمونځ ودروونکي) وي.

[۶۵] او هغه دي کوم چې (په همدغه حال کښې هم) وايي چې: ای زمونږ ربه! زمونږ ځخه د دوزخ عذاب په ښنګ کړه (مونږ ترې بچ وساته)، يقيناً د دوزخ عذاب (د دوزخيانو سره) لازم دي (کفارو پورې نښتي ونښلي بيا ترې نه جدا کېږي).

[۶۶] يقيناً دوزخ د ارام نيولو او اوسېدلو د حيثه ډېر بد (او ناکاره) ځای دی.

[۶۷] او (د الله ﷻ مخلص بندګان) هغه دي چې کله دوی انفاق کوي (خپل مال مصرفوي نو) نه اسراف (د شرعي حد ځخه تجاوز) کوي او نه (ترې) شومتيا (بخل) کوي.

او (يا په بل عبارت) د دوی انفاق د دغه مذکور (بيان) ترمنځ ډېر کلک ولاړ وي (چې يوې خوا ته هم مَيلان نه کوي).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې نبي کريم ﷺ ته توصيه شوې وه چې د الرَّحمن (ډېر مهربان الله ﷻ) د صفاتو په هکله د همده ﷻ ځخه زيات معلومات وغواړه چې په هر شي باندې خبردار دی، په دې ايتونو کښې د ده ﷻ د صفاتو په ارتباط ځه نور معلومات نازل شوي دي.

۲ـ هلته د کفارو عناد او تکبر ته اشاره شوې وه او د هغوی سپکه او ستغه خطابه راحکايت شوې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دہ چې ﴿ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ او الرحمن څه شی دی؟.

او دلته د یو پلوه نبي کریم ﷺ ته د نوموړو جاهلانو د خطابې جواب ښودلی شوی دی، او د بله پلوه بالمقابل د مؤمنانو تواضع او لوړو صفاتو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د وړاندېنیو ارشاداتو په نظر کښې نیولو سره اوس په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱_ هغه اقدس ذات (الرحمن ﷻ) ډېر برکتناک دی او تول بې انتهاء نعمتونه او برکتونه په همده ﷻ پورې اختصاص لري، چې اوه اسمانونه یې بې ستنو پیدا کړي دي او په ستورو باندې یې ښایسته کړي دي، په دې باندې علاوه ډېره لویه ډېوه (لمر) یې هم پکښې پیدا کړې دی او په روښانه سپوږمۍ باندې یې هم رڼا کړې دي.

۲_ الرحمن هغه اقدس ذات (ﷻ) دی چې شپه یې د ورځې پیروه ګرځولې ده چې په دوامداره توګه وریسې روانه ده او همدارنګه ورځ یې هم د شپې تابع جوړه کړې ده چې په نه ستړې کېدونکو هلو ځلو سره شپه تعقیبوي او دغه تعاقب به د قیامت تر ورځې پورې ادامه ولري.

۳_ دغه نعمتونه او د توحید دلایل د هغه چا دپاره درنازل شوه کوم چې د پند او عبرت اخستلو اراده لري او هم غواړي چې د خپل رب ﷻ د نعمتونو شکریه وکړي، یا په بل عبارت همدوی ترې ګټه اخلي او بس. اما کفار د ډېر مهربان (الرحمن) ﷻ د نعمتونو څخه دنیاوي استفاده کوي خو په معرفت او پېژاندنه باندې یې خپل خانونه ګول اچوي او وایي چې: ﴿ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ ﴾ او الرحمن څه شی دی؟

۴_ بالمقابل د الرحمن (ډېر مهربان الله ﷻ) مخلص بندګان لاندې صفات لري:

الف: دوی هغه کسان دي چې په ځمکه کښې په ارامۍ اوتواضع سره ګرځي راګرځي او د کفارو په شان تکبر نه کوي اود خپل رب ﷻ د نعمتونو څخه نه منکرېږي.

ب: دوی د جُهالو جواب په جهل سره نه ورکوي بلکې کله چې د هغوی د پلوه په ستغو او سپورو خبرو باندې مخاطب شي نو دوی پرې د متارکې سلام اچوي او خپله حوصله د لاسه نه ورکوي.

نو (ای پیغمبره!) ته هم د کفارو (جُهالو) د دې خطابې (چې: وَمَا الرَّحْمٰنُ) په اورېدلو سره مه بې حوصلې کېږه او خپل استقامت مه خرابوه.

ج: د الرحمن سوچه بندګان هغه دي چې خپل رب ﷻ ته په عبادت باندې شپه سبا کوي، چې کله ورته په سجده پراته وي او کله ورته په تواضع ولاړ وي او بالآخره کله ورته په رکوع باندې مشغول وي (لمونځونه کوي).

د: دغه مخلص بندګان د عبادت سره‌سره د خپل رب ﷻ د عذابه ډارېږي او خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کوي چې: ای زموږ ربه! زموږ څخه د دوزخ د عذاب مخه واړوې اوموږ ته ترې نجات راکړې، او دا ځکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د دوزخ عذاب دوامدار او نه جدا کېدونکی دی.

دوهم: دغه دوزخ د ارام نېولو ډېر بد خای دی او د اوسېداني (مېشت کېدلو) ډېر ناکاره او خطرناک خای دی.

هـ: د الرحمن ﷻ سوچه بندګان د کفارو په شان مسرفان نه دي بلکې کله چې دوی د خپلو مالونو څخه انفاق (خرڅ) کوي نو د شرعي چوکاټ څخه تجاوز نه کوي چې خپل مالونه په نامشروعو کارونو کښې مصرف کړي، او نه دومره تنګي کوي چې په مشروعو خایونو کښې یې ونه لګوي او بخل وکړي.

بلکې دوی په دوامداره توګه د دغه او هغه (اسراف او بخل) ترمنځ په اعتدال باندې ولاړ وي، نه هغې خواته میلان کوي او نه دې خواته کږېږي، بلکې د دوی هر یو کس د اسراف او بخل ترمنځ لکه ونه مستقیم په خپل مکان وي که خزان وربانديې ورشي که بهار.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا ﴾ کښې د الله ﷻ په توفیق د "تَبَارَكَ" کلمه د [الفرقان:۱] ایت لاندې او د "بُرُوج" کلمه د [الحجر:۱۶] ایت لاندې دواړه ښې توضیح شوي دي چې بیا توضیح کولو ته یې اړتیا نه ګورو.

۲ـ که څه هم په ﴿ وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا ﴾ کښې د "سِرَاج" کلمه د هغه روښانه شي دپاره وضعه شوې ده د کوم څخه چې د شپې د پلوه د رڼا کار اخستل کېږي[1] چې په پښتو کښې ترې په ډېوې سره تعبیر کوو خو په دې مقام کښې ترې لمر مراد دی، په همدې معنی باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَجَعَلَ ٱلشَّمْسَ سِرَاجًا ﴾ [نوح:۱۶] یعنې ته نه ګورې چې الله ﷻ په څنګه عالي شان کیفیت سره اوه اسمانونه یو د بل دپاسه پیدا کړي دي او سپوږمۍ یې پکښې د شپې د پلوه رڼا ګرځولې ده او لمر یې پکښې د ورځې د پلوه ډېوه ګرځولی دی.

## خلفة څه معنی؟

۳ـ په ﴿ وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ خِلْفَةً ﴾ کښې د ﴿ خِلْفَةً ﴾ کلمه د هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې د بل شي په تعقیب (وروسته) صورت نیسي[2]، ته به وایې چې هغه د دې خلیفه او نائب دی.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې شپه یې د ورځې دپاره نائبه ګرځولې ده او ورځې ته یې د شپې نیابت وربښلی دی، نو نه د دواړو څخه دنیا خالي کېږي او نه پکښې سره دواړه جمعه کېږي.

نو دغه دواړه (شپه او ورځ) د یو پلوه د بنیادمانو دپاره ډېر لوی نعمتونه دي، او د بله پلوه د الله ﷻ ډېر لوی قدرتي دلایل دي، چې یوازې پند اخستونکي او شکر ګزاران ترې استفاده کوي او بس.

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص۲۹۷
(۲) مفردات الراغب ص۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د "هَوْن" معنی

۴ـ په ﴿ يَمْشُونَ عَلَى ٱلْأَرْضِ هَوْنًا ﴾ کښې د "هَوْن" کلمه او همدارنګه د "هُوْن، هَوَان" کلمې، دربواړه د ذلت او سپکوالي او هم د پوستوالي معنی ورکوي، چې څه بيان يې د الله ﷻ په توفيق د [النحل: ۵۹] ايت لاندې تېر شوي دي.

خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې په بنيادمانو کښې سپکوالی او پوستوالی په لاندې دوه ډولونو سره صورت نيسي[۱]:

الف: يو هغه ډول دی چې د بل چا د پلوه په سړي باندې عارض او تحميل شي، لکه چې په کفارو باندې به د قيامت په ورځ د الله ﷻ د پلوه د عذاب په صورت کښې عارض او ورنازل شي

ب: بل هغه دی چې څوک يې د خپل خان دپاره خوښ کړي، دا ډول پوستوالی او سپکوالی د وقار او تواضع معنی ورکوي، چې په مقابل کښې يې د تکبر او "مَرَح" کلمات استعمالېږي لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿ وَلَا تَمْشِ فِي ٱلْأَرْضِ مَرَحًا ﴾ [الإسراء: ۳۷] يعني او ته په ځمکه باندې د ډېرې (افراطي) خوشالۍ (تکبر) په حال کښې مه ګرځه.

په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: د الله ﷻ مخلص بندګان هغه دي کوم چې په ځمکه باندې د تکبر او افراطي خوشالۍ په حال کښې نه ګرځي بلکې د وقار او تواضع په حال کښې ورباندې تلل کوي.

## د متارکې سلام

۵ـ په ﴿ وَإِذَا خَاطَبَهُمُ ٱلْجَٰهِلُونَ قَالُواْ سَلَٰمًا ﴾ کښې هغه مسنونه سلام مطلب نه دی کوم چې يو مسلمان يې په بل مسلمان باندې د ملاقات په وخت کښې اچوي او د الله ﷻ څخه ورته د عذابونو څخه نجات غواړي بلکې دلته د متارکې (پرېښودلو) سلام مطلب دی چې څوک د جُهالو د پلوه په سپکو او سپورو خبرو سره وکنځل شي خو هغه بالمثل جواب ورنه کړي بلکې د سلام په اچولو باندې جواب ورکړي، ته به وايي چې جُهال مخاطب ګرځوي چې زما د پلوه د بالمثل جواب (سپکو او سپورو) کنځلو څخه تاسو ته سلامتيا ده، همدغه جواب الله ﷻ د ابراهيم ﷺ د خولې څخه په [مريم: ۴۷] ايت کښې مونږ ته راحکايت کړی دی البته کله چې د خپل پلار د پلوه وکنځل شو.

## يادونه

۶ـ په ﴿ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَٰمًا ﴾ کښې د ﴿ سُجَّدًا وَقِيَٰمًا ﴾ کلمات د لمانځه څخه کنايي دي، مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء: ۷۸] ايت لاندې ليکلي دي چې د لمانځه څخه کله-کله په ارکانو يا په يو رکن سره تعبير کېږي، په دې مقام کښې ترې په دوه وو رکنونو (سجدې، قيام) سره تعبير شوی

(۱) لسان العرب ج۱۳ ص۴۳۹؛ مفردات الراغب ص۵۴۵



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی، یعنې او د الله ﷻ مخلص بندګان هغه دي چې د خپل رب ﷻ د رضا دپاره په داسې حال شپه تېروي چې لمونځ کوونکي وي.

## غرام څه معنی؟

٧ـ په ﴿ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ﴾ کښې د "غَرَام" کلمه د دائمي شر دپاره وضعه شوې ده چې په چا باندې ورنازل شي نو بیا ترې نه جدا کېږي[١]، اما کوم عذاب چې د چا څخه جدا کېږي هغه ته د "غَرَام" لقب نه شي ورکولی[٢]. نو حاصل یې داسې کېږي چې: د الله ﷻ مخلص بندګان د یو پلوه د خپل رب ﷻ د رضا دپاره د شپې عبادتونه کوي چې د ریاکارۍ څخه لرې وي او د بله پلوه په عین حال کښې د خپل رب ﷻ د عذاب څخه ډارېږي او دا ځکه چې د ده ﷻ د دوزخ عذاب داسې عذاب او داسې شر دی چې کله د چا سره لزوم مونده کړي نو بیا ترې نه جدا کېږي.

یا په بل عبارت: مخلص بندګان د خپل رب ﷻ څخه هم ډارېږي او هم ورته اُمید او تمه کوي (ځکه چې ایمان یې د خوف او رجاء ترمنځ وي).

## د إِسْرَاف او قُتَار معناوې

٨ـ په ﴿ لَمْ يُسْرِفُواْ وَلَمْ يَقْتُرُواْ ﴾ کښې د ﴿ لَمْ يُسْرِفُواْ ﴾ کلمه د "إِسْرَاف" څخه اشتقاقه شوې ده چې پوره شرحه یې د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:١٤١] ایت لاندې تېره شوې ده چې د شرعي چوکاټ څخه د تجاوز معنی ورکوي.

همدارنګه د ﴿ وَلَمْ يَقْتُرُواْ ﴾ کلمه د "قُتَار" څخه اخستله شوې ده چې د کلکې شومتیا دپاره وضعه شوې ده او پوره بیان یې د الله ﷻ په فضل د [الإسراء:١٠٠] ایت لاندې تېر شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

## یو نحوي تحلیل

٩ـ د ﴿ وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴾ په نحوي تحلیل کښې علماوو کرامو متعدد صورتونه تجویز کړي دي[٣]، خو کوم تحلیل چې مونږ ته لنډ او په زړه پورې برېښي هغه په لاندې ټکو باندې ولاړ دی:

الف: په ﴿ وَكَانَ ﴾ کښې مستتر ضمیر د "كَانَ" دپاره اسم دی او هغه انفاق ته راجع دی په کوم باندې چې د ﴿ أَنفَقُوا ﴾ کلمه دلالت کوي.

ب: د ﴿ بَيْنَ ﴾ کلمه په ﴿ قَوَامًا ﴾ پورې تعلق نیسي.

ج: په ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د "مذکور" په تاویل سره "إسراف" او "قُتَار" دواړو ته اشاره ده چې د ﴿ لَمْ يُسْرِفُواْ ﴾، ﴿ لَمْ يَقْتُرُواْ ﴾ دواړو کلمو دپاره مصدرونه دي.

---

(١) لسان العرب ج١٢ ص٤٣٦؛ القاموس المحيط ج٣ ص٣٨٨
(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص٣٢٥
(٣) تفسير ابي السعود ج٦ ص٢٢٩؛ اللباب في علوم الكتاب ج١٢ ص٥٦٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: د ﴿قَوَامًا﴾ کلمه د "كَانَ" دپاره خبر دی.

نو د معنی حاصل یې داسې راځي چې: د الله ﷻ مخلص بندګان هغه دي کوم چې د خپل مالي انفاق په وخت کښې نه اسراف کوي او نه د بخل (شومتیا) مرتکب کېږي، بلکې د هغوی انفاق د دغو دواړو (اسراف او شومتیا) ترمنځ د هر کلک ولاړ وي چې یوې خوا ته هم میلان نه کوي.

همدې مضمون ته په [الإسراء:٢٩] ایت کښې اشاره شوې ده، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## یادونه

١٠_ په ذکر شوو ایتونو کښې د مخلصو بندګانو لاندې پنځو صفاتو ته اشاره شوې ده هغه دا چې: دوی تکبر نه کوي، د جاهلانو سره ناندرۍ نه وهي، د تهجد لمونځونه کوي، د دوزخ څخه پنا غواړي، په انفاق (خرڅ) کښې اقتصاد (منځلاریتوب) کوي.

﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾ يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾ إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا فَأُولَٰئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴿٧٠﴾ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهُ يَتُوبُ إِلَى اللَّهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾﴾

[٦٨] او (د الله ﷻ مخلص بندګان) هغه دي چې د الله ﷻ سره بل معبود نه بلي (شریک ورسره نه دروي)، او هغه نفس نه وژني د کوم (وژل) چې الله ﷻ حرام کړي وي، مګر په حقه سره، او (همدارنګه) زنا نه کوي.

او هرڅوک چې ذکر شوي کارونه وکړي (او یا ادامه ورکړي) نو (د خپلو اعمالو) د عقوبت (سزا) سره به ملاقي (مخامخ) شي.

[٦٩] هغه ته به د قیامت په ورځ عذاب (عقوبت) غبرګ کړی شي، او په همدې عذاب کښې به د ذلت (او سپکوالي) په حال کښې د همېشه دپاره اوسېدانه کوي.

[٧٠] مګر هغه څوک به (د عذاب او سپکاوي څخه بچ کړی شي) کوم چې توبه تائب شي او (بیا) خپل ایمان ته ادامه ورکړي، او (هم) عمل وکړي نېک (او صالح) عمل.

نو دغه کسان چې دي الله ﷻ به یې بدۍ په نېکیو تبدیلې کړي (د لا ډېرو نېکیو توفیق او توان به ورکړي). او (دا ځکه چې) الله ﷻ بښونکی (او) مهربان دی.

[٧١] او هر څوک چې (د ګناهونو څخه_ هر ډول ګناه چې وي) توبه وکړي او (هم) صالح عمل

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وکړي، نو يقيناً هغه (بل چاته نه بلکې) الله ﷻ ته رجوع کوي (رجوع هم عادي رجوع نه بلکې) عالي شانه رجوع

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو مضمون تعقيب شوی دی او د مخلصو بندګانو څه نورو صفاتو ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د ډېر مهربان الله ﷻ د مخلصو بندګانو څه نور صفات هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

۱ ـ د الرحمن مخلص بندګان هغه دي کوم چې لاندې صفات او خاصيتونه لري:

الف: هغوی د الله ﷻ په عبادت کښې بل چاته برخه نه ورکوي بلکې په سوچه توحيد باندې ولاړ وي او صرف د همده ﷻ عبادت کوي او بېرته کفر ته نه تاوېږي.

يا په بل عبارت: هغوی د مشرکانو غوندې نه دي چې د خپل رب ﷻ په عبادت کښې بوتانو ته په اشتراک باندې قائل دي، هغوی په رښتيانيو معناوو کښې شرکي عقيده پرېښې ده چې د خپل عمر په اوږدو کښې ورته ميلان قدرې هم نه کوي

ب: هغوی هغه څوک نه وژني د کوم قتل (وژل) چې الله ﷻ حرام کړی دی، هو! که شرعي اذن يې مونده کړ نو بيا ترې ډډه نه کوي، البته دا هله چې شريعت يې په وژلو امر وکړي او يا اجازه ورکړي.

ج: هغوی د زنا څخه خان ساتې او خپل غليظ عورتونه په غير شرعي محلونو کښې نه استعمالوي.

۲ ـ ای پيغمبره! مخلص بندګان ځکه د ذکرو شوو کارونو د اجراء کولو څخه خپل ځانونه ساتي او هرڅوک چې په دغو کارونو کښې اخته وي او يا ترې د لاس اخستلو څخه وروسته بېرته ورتاو شي نو:

الف: د خپلو ګناهونو د عقوبت (سزا) سره به مخامخ شي او د تېښتې لاره به مونده نه کړي.

ب: هغه ته به د قيامت په ورځ غبرګ عذاب ورکړی شي ځکه چې د يو پلوه يې پخپله جنايتونه وکړه او د بله پلوه يې د نورو جنايتکارانو دپاره بنياد کېښود او زمينه يې ورته برابره کړه.

ج: هغه به په همدغه عذاب کښې په داسې حال کښې د همېشه دپاره واچولی شي چې د ډېر سپک او ذليله (حقير) به ګرځولی شوی وي.

۳ ـ مګر هغه کسان به د ذکرې شوې دائمي سزا څخه نجات موندونکي وي کوم چې:

الف: د کفر په شمول د ذکرو شوو ګناهونو څخه توبه تائب شي او خپل رب ﷻ ته رجوع وکړي (په ايمان مشرف شي)

ب: بيا خپل ايمان ته ادامه ورکړي او په ايماني حال باندې د مرګ تر وخته باقي پاتې شي.

ج: په ايمان باندې علاوه عملونه هم وکړي البته نېک او صالح عملونه چې د خپل ايمان رڼا ورباندې تازه وساتي.

نو دغو کسانو ته به الله ﷻ د سپکوونکي عذاب او په همدې عذاب کښې د همېشه والي څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نجات ورکړي او په دې باندې علاوه د دوی ګناهونه به هم په نېکيو باندې تبديل کړي؛ او دا ځکه چې الله ﷻ بښونکی او مهربان دی.

۴_ ای پيغمبره! د الله ﷻ بښنه او مهرباني يوازې په ذکرو شوو کسانو پورې اختصاص نه لري بلکې هغه څوک پکښې هم شامليدی شي چې د کفرياتو او جناياتو څخه توبه تائب شي او هم نېک عمل وکړي، نو يقيناً هغه بل چاته رجوع نه ده کړې بلکې الله ﷻ ته يې رجوع کړې ده چې په خپلو بندګانو او په خپلو رجوع کوونکو باندې مهربان دی او هم ورته بښونکی دی.

او همدارنګه هغه څه بې ارزښته رجوع نه ده کړې بلکې ډېره عالي او عظيم الشانه رجوع يې کړې ده چې د ډېر مهربان الله ﷻ په نزد باعزته رجوع ده (د قيامت په ورځ به يې ثمرات او نتائج وګوري).

## توضيحات

۱_ مونږ _د الله ﷻ په توفيق_ د دې سورت (الفرقان) په سريزه کښې ليکلي دي چې د دې سورت په درېوو ايتونو کښې (چې ذکر شوي ايتونه دي) اختلاف دی، ځينې وايي چې دا هم د نور سورت غونډې مکي دي، او ځينې وايي چې: فقط دا درې ايتونه پکښې مدني دي (د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي).

د اختلاف وجه يې دا ده چې د شان نزول روايتونه يې متعدد دي چې ځينې يوه خوا تقويه کوي او ځينې بلې خوا ته ترجيح ورکوي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: يوه ورځ وحشي بن حرب _چا چې د احد په غزا کښې د نبي کريم ﷺ تره (حمزه ؓ) وژلی وه_ ده ﷺ ته ورغی او د اورېدو خبرو په ضمن کښې يې د ايمان د راوړلو ورانديز وکړ، نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه او ايمان يې راووړ[۱]. د دې روايت څه څرګندېږي چې دا ايتونه مدني دي، ځکه چې د احد د غزا څخه وروسته نازل شوي دي.

ب: خو بالمقابل د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په نزد دا ايتونه مکي دي، د ده ؓ د يوه روايت مضمون دا دی چې کله ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَـٰهًا آخَرَ﴾ الآية، نازل شو نو مشرکانو وويلې چې: مونږ د عفوې مستحق نه ياستو، ځکه چې مونږ دغه کارونه (شرک، قتل، زنا) درېواړه کړي دي، نو الله ﷻ د هغوی د اشتباه پورته کولو دپاره د ذکر شوي ايت شريف په تعقيب بل ايت نازل کړ چې: ﴿إِلَّا مَن تَابَ وَآمَنَ﴾ الآية[۲].

## تبصره

۲_ مونږ ته داسې برېښي _ والله ﷻ أعلم_ چې: دا ايتونه به په مکه معظمه کښې نازل شوي وي او د وحشي په قيصه کښې به نبي کريم ﷺ د استشهاد په توګه لوستي وي، او صحابه وو کرامو ؓ

---

(۱) اسباب النزول للواحدي ص۲۲۷
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په لوستلو باندې هم د نزول اطلاق کړی دی. د ښه وضاحت دپاره لاندې یو مثال ولولئ:

د عبد الله بن مسعود ﷺ د یوه حدیث مضمون دی چې یوه ورځې یوه سړي د نبي کریم ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

سړی: ای د الله رسوله! کومه ګناه د الله ﷻ په نزد ډېره لویه ده؟

نبي کریم ﷺ: دا ګناه ډېره لویه ده چې ته د الله ﷻ سره په عبادت کښې په شریک باندې قائل شي حال دا چې همده ﷻ پیدا کړی یې.

سړی: بیا کومه ګناه ډېره لویه ده؟

نبي کریم ﷺ: بیا دا ګناه ډېره لویه ده چې د دې وېرې ته خپل اولاد ووژنې چې ستا سره خوراک څښاک وکړي.

سړی: بیا کومه یوه ډېره لویه ده؟

نبي کریم ﷺ: بیا دا چې د خپل ګاونډي د مېرمن سره زنا وکړې، «فَأَنْزَلَ اللّٰهُ ﷻ تَصْدِيقَهَا»[1] نو الله ﷻ د نبي کریم ﷺ د خبرو تصدیق په ذکر شوي ایت کښې نازل کړ چې: ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ﴾ الآية.

خو ذکر شوی عین حدیث نورو محدثینو کرامو په لاندې تفاوت سره روایت کړی دی[2] چې:

الف: پوښتونکی یو نامعلوم سړی نه بلکې پخپله راوي (عبد الله بن مسعود ﷺ) ښودل شوی دی.

ب: د «فَأَنْزَلَ اللّٰهُ ﷻ تَصْدِيقَهَا» په عوض «وَتَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ» (یعنې او دغه ایت یې تلاوت کړ) روایت شوی دی، او په نزول باندې یې د تلاوت اطلاق کړی دی.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونه

۳ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: الله ﷻ په وړاندېنیو ایتونو کښې د خپلو مخلصو بندګانو ثبوتي صفات نازل کړي دي چې په تحلیه (ښایسته کولو) باندې مشتمل دي، او په دې ایتونو کښې یې د هغوی سلبي صفات نازل کړي دي چې په تخلیه (د عیوبو څخه په پاکی) باندې اشتمال لري.

نو پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد ایتونو ته معکوس ترتیب ورنه کړی شو، ترڅو تخلیه په تحلیه باندې مخکښې شوې وی، لکه چې په واقع کښې ورباندې وړاندې ده؟

مونږ وایو چې: په دې ایتونو کښې هغه سلبي صفات مطلب نه دي کومو چې په مخلصو بندګانو کښې د ایمان د راوړلو څخه مخکښې صورت نیولی وه، ترڅو اعتراض وارد شي. بلکې دلته مطلب دا دی چې مخلص بندګان د ایمان د راوړلو څخه وروسته د دغو قبیحو افعالو څخه خانونه ساتي، او بیا ورته رجوع نه کوي، د همدې کبله دغه سلبي صفات هر یو د مضارع په صیغې سره نازل شوي دي چې: "لا يَدْعُونَ ، لا يَقْتُلُونَ ، لا يَزْنُونَ" او مضارع خو په حال او استقبال باندې دلالت کوي.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۶۳
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که څوک وایي چې: د ﴿ وَلَا يَقْتُلُونَ ٱلنَّفْسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلْحَقِّ ﴾ څخه څرګندېږي چې ځینې په حقه قتلونه هم شته، نو هغه کوم-کوم قتلونه دي؟

مونږ وایو چې: په حقه قتلونه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۷۸] ایت لاندې لیکلي دي چې تعداد یې شپږو ته رسېږي، خو په دې مقام کښې وربانديې اوم دول وراضافه کوو چې د محارب کافر (د چا سره چې جهاد فرض ګرځېدلی دی) د قتل څخه عبارت دی چې دا هم په حقه قتل کښې شامل دی.

ج: که څوک وایي چې: په ﴿ يَلْقَ أَثَامًا ﴾ کښې د "أثام" کلمه څه معنی؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې دغه کلمه په دوزخ کښې د یوې کندې نوم دی[1] مګر متبادره دا ده چې دغه کلمه د "إثم" د کلمې سره مرادفه ده چې په "آثام" سره جمعه کېږي او د ګناه معنی ورکوي، خو په دې مقام کښې ترې د ګناهونو عقوبت او عذاب مطلب دی[2].

د: که څوک وایي چې: د ﴿ يُضَٰعَفْ لَهُ ٱلْعَذَابُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴾ څخه څرګندېږي چې ذکرو شوو جنایتکارانو ته به د قیامت په ورځ غبرګ عذاب ورکړی شي، حال دا چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا ﴾ [الأنعام:۱۶۰] یعنې او هرڅوک چې په بدۍ (ګناه) سره راتګ وکړي نو هغه ته به جزا (سزا) ورنه کړی شي مګر د همغې ګناه مثل؟

مونږ وایو چې: څرنګه چې کفار د خپلو جنایاتو په سبب د نورو خلکو دپاره د کفریاتو او جنایاتو بنیادونه ږدي او یا یې تازه ساتي نو دوی ته غبرګ عذاب ورکول کېږي، یو د ګمراه کېدلو او بل د ګمراه کولو.

د همدې کبله به الله ﷻ د قیامت په ورځ دوزخیان مخاطب کړي چې: ﴿ لِكُلٍّ ضِعْفٌ ﴾ [الأعراف:۳۸] یعنې او ستاسو د هر یوه (مشر او کشر) دپاره غبرګ عذاب دی، چې هر یوه د خپلې ګمراهۍ دپاسه بل ګمراه کړی دی.

ه: که څوک وایي چې: د ﴿ وَيَخْلُدْ فِيهِۦ مُهَانًا ﴾ څخه معلومېږي چې قاتل او زناکار به په دوزخ کښې همېشه وي، حال دا چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾ [النساء:۴۸] یعنې الله ﷻ دا خبره نه بښي چې څوک ورته په شرک باندې قائل شي اما د دې شرک (او کفر) څخه په غیر نور ګناهونه هغه چاته بښي چې اراده یې ورته وشي.

مونږ وایو چې: په ﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ﴾ کښې د ﴿ ذَٰلِكَ ﴾ کلمه د ذکر شوو درېوارو جنایاتو (شرک، قتل، زنا) مجموعې ته اشاره ده، او پوره واضحه ده چې مشرکان او کفار به په دوزخ کښې همېشه وي، برابره خبره ده چې د قتل او زنا مرتکب شوي وي او که نه. په همدې مطلب باندې د شان نزول روایتونه دلالت کوي لکه چې وړاندې ذکره شوه، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) لسان العرب جج۱۲ ص۶

(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



و. که څوک وايي چې: الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُۥ جَهَنَّمُ خَـٰلِدًا فِيهَا﴾ الآية [النساء:٩٣] يعنې هرڅوک چې يومؤمن (په ظلم سره) په قصدي توګه ووژني نو د هغه جزا دوزخ دی چې همېشه به پکښې پروت وي.

يا په بل عبارت: په دوزخ کښې د همېشه والي دپاره يوازې قتل هم کفايت کوي، که څه هم قاتل کافر نه وي بلکې مسلمان وي.

مونږ وايو چې: د ذکر شوي ايت لاندې په دې کتاب کښې د الله ﷻ په توفيق د دغه سوال دپاره متعدد جوابونه ليکلی شوي دي چې تحقيقي جواب پکښې دا وه چې: «هِيَ جَزَاؤُهُ فَإِنْ شَاءَ اللهُ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنْهُ فَعَلَ»[1] يعنې دغه دوزخ د همېشه والي په توګه د قاتل جزا ده (ورسره مناسبه او اندول ده) اما که د الله ﷻ اراده وشي چې د دغه ډول جزا څخه ورتېر شي نو دا کار به وکړي، څه مانع نشته.

ز. که څوک وايي چې: په ﴿فَأُوْلَـٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَـٰتٍ﴾ کښې په نېکيو باندې د بديو بدلون څه معنی؟

مونږ وايو چې: دغه بدلون علماوو کرامو په لاندې دوه وو ډولو باندې تفسير کړي دي[2]:

اول: يو دا چې دا بدلون به په دنيا کښې صورت ونيسي چې الله ﷻ به ورته د توبې په اثر ګناهونه عفوه کړي او د طاعتونو توفيق به ورکړي نو د هغوی ځای به په دغو ډک کړي.

دوهم: بل دا چې تبديلي به په آخرت کښې تحقق مونده کړي چې توبه کوونکو ته به الله ﷻ برسېره د ګناهونو په بدلو باندې د هغو په تعداد نېکۍ هم ورعنايت کړي. د ښه وضاحت دپاره د يوه حديث لاندې مضمون ولولئ:

يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: زه په هغه سړي باندې علم لرم چې جنت ته به د ټولو جنتيانو څخه وروسته ورداخل شي او د دوزخ څخه به د ټولو بهر وتونکو څخه وروسته بهر شي داسې چې:

د يوه سړي په هکله به امر وکړی شي چې هغه ته خپل واړه-واړه ګناهونه وروړاندې کړئ او د لويو-لويو ګناهونو څخه يې سکوت وکړئ، کله چې دغه کار صورت ونيسي نو ورته به وويلی شي چې: ايا تا په هغې او دغې ورځ هغه او دغه ګناهونه کړي وه؟

نوموړی به د هرې پوښتنې جواب په "هو" سره ورکړي چې د انکار توان به نه لري، خو په عين حال کښې به ډارېږي چې د لويو-لويو ګناهونو پوښتنې ورته متوجه نه کړی شي.

بيا به ورته وويلی شي چې: تاته د الله ﷻ د پلوه د هرې ګناه (بدی) په عوض يوه-يوه نيکي درکړی شوه. نو په دغه وخت کښې به نوموړی ګناهګار عرض وکړي چې: ای زما ربه! ما خو څه نور اعمال (ګناهونه) هم کړي وه، چې هغه دلته نه ګورم. يا په بل عبارت کاش چې د هغو په عوض هم راته نېکي راکړی شوې وی.

---

(١) سنن ابي داوٗد ج٢ ص٢٣١

(٢) تفسير ابن کثير ج٣ ص٣٢٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د حديث راوي (ابو ذر ﷺ) وايي چې «فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ ضَحِكَ حَتّٰى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ»[١] نو په دغه وخت کښې ما يقيناً د الله ﷻ پيغمبر ﷺ وليد چې (تعجب يې وکړ او) ويې خندل حتى چې دواړه نېغ‌نېغ غاښونه يې ښکاره شوه.

ح: که څوک وايي چې: د ﴿ وَمَن تَابَ ﴾ الآية، مضمون خو په وړاندېني ايت کښې بيان شوی و، چې ﴿ إِلَّا مَن تَابَ ﴾ الآية؛ نو پوښتنه دا ده چې په تکراري نزول کښې يې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: په وړاندېني ايت کښې صرف د درېوو جناياتو (شرک، قتل، زنا) څخه د توبه کوونکو حال ته اشاره شوې وه او په دې ايت کښې د مطلقې توبې حکم بيان شوی دی، دغه ډول کلام ته په عربي لغت کښې "التعميم بعد التخصيص" وايي، يعنې عام وروسته د خاص څخه.

ي: که څوک وايي چې: په ﴿ وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابًا ﴾ کښې د شرط او جزا څخه خبريه جمله تشکيله شوې ده او په خبريه جمله کښې ضرور ده چې بايد مفيده وي حال دا چې په دې مقام کښې ظاهراً مفيده نه برېښي بلکې د دې جملې په څېر ښکاري چې: "إِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَالشَّمْسُ طَلَعَتْ" کله چې لمر راوخېژي نو لمر راوخېژي؟

مونږ وايو چې: دغه سوال ته علماوو کرامو متعدد جوابونه ليکلي دي[٢] خو کوم جواب چې لنډ او متبادر څرګندېږي هغه دا دی چې دلته شرط او جزا يو تربله په دوه وو تکو باندې جدا کېږي چې يو د ﴿ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ کلمات دي او بل د ﴿ مَتَابًا ﴾ کلمه ده چې تنوين پکښې د تعظيم دپاره دی. نو حاصل يې داسې راځېږي چې: هرڅوک چې د مطلقې ګناه څخه توبه تائب شي نو هغه بل چاته نه بلکې الله ﷻ ته رجوع وکړه چې په خپلو بندګانو باندې ډېر مهربان او توبه ورته ډېره محبوبه ده، نو د همدې کبله دغه رجوع کول ډېر عظيم الشان رجوع کول دي چې په دنيا او آخرت کښې به ورته په ګټه تمام شي.

۴ـ هېر مو نه شي چې په ذکرو شوو ايتونو کښې د مخلصو بندګانو د پنځو صفاتو څخه علاوه درېوو نورو صفتونو ته اشاره شوې ده هغه دا چې: دوی د شرک څخه ځانونه ساتي، ناحقه قتل نه کوي، زنا نه کوي.

او څلور نور صفات يې په راتلونکو ايتونو کښې راروان دي، هغه دا چې: دوی د عېشياتو مجالسو ته نه حاضرېږي، او د حضور په صورت کښې پرې کريمانه تېرېدنه کوي، او هم په نصائحو او دلايلو باندې پند اخلي، او د ټولو مؤمنانو خير غواړي. نو ټول دولس (١٢) صفات شوه.

﴿ وَٱلَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ ٱلزُّورَ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِٱللَّغْوِ مَرُّوا۟ كِرَامًا ﴿٧٢﴾ وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا۟ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا۟ عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾ وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ

---

(١) صحيح مسلم ج١ ص١٠۶

(٢) تفسير ابي السعود ج۶ ص٢٣٠؛ تفسير الکشاف ج٣ ص٢٩۵؛ البحر المحيط ج٨ ص١٣١؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص۴۶٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴿٧٤﴾ أُولَٰئِكَ يُجْزَوْنَ الْغُرْفَةَ بِمَا صَبَرُوا وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَامًا ﴿٧٥﴾ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٧٦﴾ قُلْ مَا يَعْبَأُ بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَاؤُكُمْ ۖ فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾ ﴾

[۷۲] او (د ډېر مهربان الله ﷻ مخلص بندګان) هغه دي کوم چې باطلو (غیر شرعي کارونو) ته نه حاضرېږي او کله چې په چټي (بېکاره کارونو) باندې تېرېږي نو د کرامت (او شرافت) په حال (پرې) تېرېږي (چې اشتراک پکښې نه کوي او دعوت إلی الحق نه پرېږدي).

[۷۳] او هغه دي کوم چې کله د خپل رب ﷻ په ایتونو باندې پند ورکړی شي نو په داسې حال کښې ورباندې نسکور نه پرېوځي چې کاڼه او ړانده وي (بلکې عبرت ترې اخلي).

[۷۴] او هغه دي کوم چې وايي: ای زمونږ ربه! مونږ ته د خپلو مېرمنو او اولادونو څخه د سترګو یخوونکي وبښې (چې د دوی په تقوی سره مونږ خوښ او خوشاله شو).

او (ای زمونږ ربه!) مونږ د متقیانو دپاره امامان وګرځوې (مونږ ته د دوی د امامت لیاقت راکړې).

[۷۵] (ای پیغمبره!) دغه کسان (چې وړاندې یې صفات ذکر شوه) دوی ته به د دوی د صبر په سبب د (جنتي) ماڼیو جزا ورکړی شي، او هم به دوی په (جنتي) ماڼیو کښې د تحفو او سلامونو سره ملاقي کړی شي (یو تربله به تحفې ورکوي او سلامونه به اچوي).

[۷۶] په داسې حال کښې چې (هلته) به پکښې همېشه وي، (دا جنت) ډېر ښه دی د قرارۍ د ځای د حیثه او (هم) د اوسېدانې د ځای د حیثه.

[۷۷] (ای پیغمبره! ته خلکو ته) ووایه چې: زما رب ﷻ به تاسو ته هیڅ اعتناء (توجه) ونه کړي (او عزت به درنه کړي) که چرته ستاسو بلنه (عبادت) نه وي (تاسو مخلص بندګان جوړ نه شی).

نو یقینًا (تاسو عبادت ونه کړ چې د پیغمبر ﷺ) تکذیب مو وکړ، نو ډېر ژر دی چې د خپل تکذیب (سزا به درپورې) لازمه شي (او درپورې به ونښلي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د مخلصو بندګانو متباقي صفاتو ته اشاره شوې ده چې د معنی حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د ډېر مهربان الله ﷻ د مخلصو بندګانو څه نور صفات او څینې نور مطالب هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ــ د الله ﷻ د مخلصو بندګانو څه نور صفات دا دي:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د الله ﷻ مخلص بندګان هغه دي کوم چې نه د دروغو او باطلو مجالسو ته حاضرېږي او نه په دروغو شهادت ورکوي چې د بل چا د دروغو تصدیق وکړي چې دا رښتیا دي.

ب: دوی عبثو مجالسو ته نه حاضرېږي او اشتراک پکښې نه کوي. خو کله چې ورباندې تېرېږي نو په شریفانه او کریمانه حال سره ورباندې تېرېږي چې د یو پلوه هلته د اشتراک په نیت توقف نه کوي او د بله پلوه د نومړو مجالسو اشتراک کوونکو ته نصیحت کوي ترڅو ترې هغوی هم اجتناب وکړي.

ج: دغه مخلص بندګان هغه دي چې کله د بل پلوه هغوی ته پند ورکړی شي او د خپل رب ﷻ قدرتي دلایلو او احکامو ته متوجه کړی شي او یا یې چرته په خپلو سترګو وګوري نو:

اول: دوی ورباندې د کڼو خلکو په توګه نه ورلوېږي چې د ناصح نصیحت ته غوږ کښېنږدي او خپل خان ورباندې کوڼ واچوي.

دوهم: همدارنګه په هغه وخت کښې هم د ړندو عادت او خوی نه خپلوي چې په کائناتو او یا په قرآن کریم او نورو اسماني کتابونو کښې یې په قدرتي دلایلو باندې سترګې ونښلي، نو په دغه وخت کښې هم خپل خانونه د هغه چا په قطار کښې نه دروي د کومو چې د زړه سترګې ړندې دي او بصیرت نه لري.

د: دغه مخلص بندګان برسېره په دې چې په عملي توګه خپلو اولادونو او عامو مسلمانانو ته د هدایت دعوت ورکوي، د خپل رب ﷻ په حضور کښې ورته داسې غوښتنې هم کوي چې:

اول: ای زمونږ ربه! مونږ ته داسې مېرمنې او داسې اولادونه راوبښې چې د تقوی او دینداری د امله ورباندې زمونږ سترګې یخې شي او ورباندې خوشاله شو. یا په بل عبارت: ای زمونږ ربه! زمونږ مېرمنو او اولادونو ته هدایت وکړې (د نېکیو توفیق ورکړې او د بدیو څخه یې اجتناب په برخه کړې).

دوهم: ای زمونږ ربه! مونږ د متقیانو دپاره امامان وګرځوې چې مونږ ورته د تقوی بنیاد کېږدو او زمینه ورته برابره کړو. یا په بل عبارت: مونږ متقیان جوړ کړې چې متقیان راپسې اقتداء وکړي، او فاجران (جنایتکاران) مو مه جوړوې چې عاصیان او ګنهګاران راپسې اقتداء وکړي.

۲ـ ای پیغمبره! الله ﷻ خپلو مخلصو بندګانو ته (چې وړاندې یې متعدد صفات درنازل شوه) وعده ورکوي چې:

الف: هغوی ته به د هغه صبر او استقامت د کبله کوم چې وړاندې یاد کړی شوه، د اوچتو ماڼیو نېکه جزا ورکړی شي، او د جنتونو خاوندان به وګرځولی شي.

ب: په دغو ماڼیو او جنتونو کښې به هغوی د تحفو او سلامونو سره ملاقي کړی شي چې د هرې دروازې د پلوه به ورباندې پرښتې ورداخلېږي چې مبارک مو شه او دلته د هر آفت او هر غم څخه سلامت او خوشاله اوسئ.

همدارنګه به هلته یو تربله تحفې وړاندې کوي او یو په بل باندې به سلامونه اچوي.

ج: په دې باندې علاوه هغوی به په دغو ماڼیو او جنتونو کښې همېشه وي او هیڅکله به ترې بهر نه کړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا نو د هغوی دپاره ډېره خوشالي او خوښي ده ځکه چې دغه ماڼۍ او جنتونه د ارام نیولو او
اوسېدلو د حیثه ډېر ښایسته او خوندور ځایونه دي.

۳_ ای پیغمبره! خپل دعوتي أمت ته دي ووايه چې:

الف: تاسو ټول زما رب ﷻ د خپل عبادت دپاره پیدا کړي یاست ترڅو تاسو ټول د امتحان لاندې واقع کړی شئ، د همدې کبله یې ذکرو شوو مخلصو بندګانو ته په جنتونو کښې اوچتې ماڼۍ وربښلي دي.

ب: نو که ستاسو عبادت او اخلاص موجودیت ونه لري زما رب ﷻ به تاسو ته هیڅ ارزښت ورنه کړي او نه به درته څه اهتمام وکړي، بلکې په هر ډول عذاب باندې مو چې اخته کوي پرې اخته به مو کړي.

ج: نو کله چې تاسو ای کفارو! د ذکرو شوو مخلصو بندګانو غوندې د خپل رب عبادت خپل نه کړ بلکې د ده ﷻ د پیغمبر ﷺ تکذیب مو وکړ او په هغې لارې باندې لاړ نه شوئ په کومې باندې چې تاسو د اهتمام مستحق ګرځئ نو د خپلو کړو وړو او د خپل تکذیب جزا ته منتظر اوسئ چې ډېر ژر به درپورې ډېره کلکه ونښلي او بیا به درڅخه هیڅکله جدا نه شي.

## توضیحات

۱_ په ﴿وَٱلَّذِينَ لَا يَشۡهَدُونَ ٱلزُّورَ﴾ کښې د ﴿يَشۡهَدُونَ﴾ کلمه د اشتقاق په لحاظ لاندې دوه احتماله لري[۱]:

الف: چې د "شُهُود" څخه اشتقاقه شي چې د "حضور" معنی ورکوي، نو په دې تقدیر به د ﴿ٱلزُّورَ﴾ څخه باطل او ناجائز مجالس مطلب شي، یعنې هغوی غیر شرعي مجالسو ته نه حاضرېږي.

ب: چې د "شهادة" څخه مشتقه وګڼله شي، نو په دې تقدیر به د ﴿ٱلزُّورَ﴾ څخه معهود دروغ مراد کړی شي چې په ناجائزه طریقه په چا باندې شهادت ورکړي، یعنې هغوی د دروغو شهادت نه ورکوي.

زمونږ په فکر ذکر شوي دواړه احتماله یو تربله څه منافات نه لري نو څه لرې نه ده چې د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي، چې مخلص بندګان د دغو دواړو کارونو څخه خپل ځانونه په څنګ ساتي.

خو د دې سره‌سره د راتلونکې توضیح څخه د لومړي احتمال ترجیح معلومېږي لکه چې لږ وروسته به د الله ﷻ په توفیق واضحه شي.

## لغو څه معنی؟

۲_ په ﴿وَإِذَا مَرُّواْ بِٱللَّغۡوِ مَرُّواْ كِرَامٗا﴾ کښې د "لَغْو" کلمه اصلاً د هغه بې ارزښته شي یا بې ارزښته کلام دپاره وضعه شوې ده کوم چې د اعتماد قابل نه وي[۲] لکه عبث کارونه او عبثې خبرې.

(۱) مفردات الراغب ص۲۷۶

(۲) القاموس المحیط ج۴ ص۱۵۵

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۱] چې د ټولو بهتره او جامع معنی یې هغه ده کومه چې شیخ المفسرین علیه الرحمة غوره کړې ده. هغه دا چې دلته «زور» ښي کلمه د باطل (غیر مشروع) معنی ورکوي[۲].

نو په دې تقدیر د "اللَّغْو" کلمه په معنی کښې د "الزُّور" کلمې ته ورنژدې کیږي.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه د ﴿ كِرَامًا ﴾ کلمه د "كَرِيْم" جمعه ده، په دې مقام کښې "كَرِيْم" د هغه چا لقب دی کوم چې په باطلو کښې د اشتراک څخه ډډه کوي او په مخنیوي کښې یې زیار باسي. نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: مخلص بندګان باطلو او غیر شرعي کارونو او مجالسو ته نه حاضرېږي او که بالفرض د تېرېدلو په حال کښې ورباندې پېښ شي نو هلته بیا کریمانه او شریفانه تېرېدل غوره کوي چې د اشتراک څخه یې اجتناب کوي او په مخنیوي کښې یې زیار باسي.

همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ په خپل یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «فالنَّاسُ رَجُلَان رَجُلٌ بَرٌّ تَقِيٌّ كَرِيمٌ عَلَى الله وَفَاجِرٌ شَقِيٌّ هَيِّنٌ عَلَى الله»[۳] یعنې نو ټول خلک فقط په دوه ډوله سړیو کښې حصر کېږي. یو هغه سړی کوم چې نېکوکار او متقي وي او په الله ﷻ باندې د عزت او کرامت خاوند وي، او بل هغه څوک چې جنایتکار او بدبخته وي او په الله ﷻ باندې سپک او حقیر وي (څه ارزښت ورته نه لري).

## قرة څه معنی؟

۳ــ په ﴿ هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ ﴾ کښې د ﴿ قُرَّة ﴾ کلمه د یخنی او سړوښې دپاره وضعه شوې ده، برابره خبره ده چې د اورې (دوبې) یخني وي او که د ژمي[۴]. دغه کلمه د خپلې معنی (یخنی) سره د ډېر ښه مناسبت لرې چې د یخنی په حال کښې اوبه منجمدې ګرځي او د حرکت څخه لوېږي (استقرار نیسي)، او په تودوښه کښې حرکت کوي او بهېږي.

په عربي محاوره کښې د "قُرَّةُ أَعْيُنٍ" کلمه د کنایې په توګه د خوشالی په حال کښې استعمالېږي، شاید چې وجه به یې دا وي چې کله-کله د ډېرې خوشالی د کبله هم د بنیادم د سترګو څخه اوښکې بهېږي خو دا اوښکې یخې او سړې وي، اما کومې اوښکې چې د غم په وخت کښې د چا د سترګو څخه وبهېږي هغه ګرمې او تودې وي[۵].

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای زمونږ ربه! زمونږ ټول متعلقین لکه مېرمنې او اولادونه (لمسیان کړوسیان) په شریعت باندې برابر کړه چې زمونږ سترګې ورباندې یخې شي او په دنیا او آخرت کښې ورباندې خوشاله شو.

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۲۷
(۲) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۵۰
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶۳
(۴) لسان العرب ج۵ ص۸۲
(۵) روح المعاني ج۱۹ ص۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو دا سوال د ابراهيم ﷺ سوال ته ورته دی چې: ﴿ رَبِّ ٱجْعَلْنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي ﴾ [ابراهيم: ۴۰] يعنې ای زما ربه! ما د لمانځه ودروونکی وګرځوه او زما د اولادې څخه هم ځينې د لمانځه ودرونکي وګرځوه چې زما سترګې روباندې يخې شي او وروباندې خوښ اوخوشاله شم.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَٱجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا ﴾ کښې د ﴿ إِمَامًا ﴾ کلمه مفرده ده چې د ﴿ وَٱجْعَلْنَا ﴾ دپاره دوهم مفعول ده خو اول مفعول "نا" يې جمعه ده حال دا چې د عربيت د قواعدو په مقتضی بايد چې "ائمة" نازل شوی وی ترڅو دواړو مفعولونو په جمعيت کښې مطابقت موندلی وی؟

مونږ وايو چې: د دې سوال دپاره علماوو کرامو ګڼ جوابونه کړي دي[1] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د ﴿ إِمَامًا ﴾ کلمه مفرده ده مګر په دې مقام کښې ترې جمعه مراده ده لکه څنګه چې په ﴿ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيٓ ﴾ [الشعراء: ۷۷] او په ﴿ وَهُمْ لَكُمْ عَدُوٌّ ﴾ [الكهف: ۵۰] ايتونو کښې د ﴿ عَدُوٌّ ﴾ کلمه مفرده ده مګر مراد ترې جمعه "أعداء" ده[2].

ب: دغه کلمه مصدر دی (لکه صِيَامٌ) او په مصدر کښې خو جمعه هم شامله ده چې اطلاق يې په جمعه باندې هم کېږي لکه ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ﴾ [البقرة: ۶].

ج: د ﴿ وَٱجْعَلْنَا ﴾ جمله په حقيقت کښې د متعددو جملو څخه موجزه (مختصره) کړی شوې ده[3]، ته به وايې چې هر مخلص بنده به په خپل وخت کښې ويلي وي او يا به ووايي چې: اِجْعَلْنِيْ لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا، اِجْعَلْنِيْ لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا، اِجْعَلْنِيْ لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا.... تر اخره پورې.

خو د "اِجْعَلْنِيْ" ټولې کلمې د ايجاز او اختصار په توګه په ﴿ وَٱجْعَلْنَا ﴾ سره حکايت شوي دي، لکه څنګه چې په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ﴾ [المؤمنون: ۵۱] کښې د ﴿ كُلُواْ ﴾ کلمه د هغو متعددو کلمو (كُلْ، كُلْ، كُلْ... تر اخره پورې) څخه اختصار کړی شوې ده کومې چې هر پيغمبر ته د الله ﷻ د پلوه په خپلو-خپلو وختونوکښې ويلی شوې وې.

اما د ﴿ إِمَامًا ﴾ کلمه په خپل افرادي حال باندې راحکايت شوې ده ترڅو په اصلي عبارت باندې دلالت وکړي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: مخلصان بندګان هر يو د خپل ځان دپاره د متقيانو د امامت او مقتديت غوښتنه کوي.

## ماثور تفسير

۵ـ په ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ يُجْزَوْنَ ٱلْغُرْفَةَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْغُرْفَةَ ﴾ کلمه نبي کريم ﷺ داسې توصيفه کړې ده

---

(۱) تفسير الكشاف ج۳ ص۲۹۶؛ تفسير الطبري ج۱۹ ص۵۴؛ زاد المسير ج۶ ص۲۸

(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۵۳

(۳) تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې «إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ الْغُرَفَ فِي الْجَنَّةِ كَمَا تَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ فِي السَّمَاءِ»[١] يعني يقيناً په جنت کښې به جنتيان خپلې مانۍ يو تربله دومره لوړې او اوچتې ګوري لکه چې تاسو په دنيا کښې په اسمان کښې ستورې اوچت او هسک ګورئ.

## عِبْءٌ څه معنی؟

٦- په ﴿قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّي لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ﴾ کښې د ﴿يَعْبَؤُا﴾ کلمه د "عِبْءٌ" -لکه "ثِقْلٌ"- څخه اشتقاقه شوې ده، چې د ثقل او دروندوالي معنی ورکوي[٢]. خو علماوو کرامو يې په دې مقام کښې د ﴿دُعَآؤُكُمْ﴾ په لحاظ متعدد تفسيرونه کړي دي[٣] چې ايت شريف د مراتبو په تفاوت سره د ټولو تحمل کولی شي مګر کوم تفسير چې د مقام سره ښه مناسب دی او په تبادر سره د سړي ذهن ته ورځي هغه په لاندې نکاتو ولاړ دی:

الف: د "دُعَاء" کلمه مصدر ده او د عبادت معنی ورکوي، چې خپل فاعل ته مضافه ده.

ب: په ايت شريف کښې جنس انسانان مخاطب کړی شوي دي چې مسلمانان او کفار دواړه ډلې پکښې شاملې دي.

ج: خو په ﴿دُعَآؤُكُمْ﴾ کښې د مسلمانانو په لحاظ خطاب صورت نيولی دی او په ﴿كَذَّبْتُمْ﴾ کښې يې د کفارو په ملحوظ صورت موندلی دی.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې: ای بندګانو! که ستاسو عبادت او اطاعت نه وي، نو زما رب ﷻ به په تاسو باندې هيڅ پروا ونه کړي او په هيڅ ارزښت او وزن (عزت) به درته قائل نه شي، د همدې عبادت د کبله تاسو ته په جنت کښې اوچتې مانۍ درکوي او د عذابه مو پرې بچ کوي، په همدغه عبادت سره تاسو د ځارويو د قطاره راوځئ، بلکې تاسو د همدې عبادت دپاره پيدا کړی شوي ياست.

خو ځرنګه چې تاسو عبادت او اطاعت ته شا کړه او تکذيب او کفر ته مو ملاوې وتړلې نو څکه تاسو د ذکرو شوو جنتي هسکو مانيو څخه محروم کړی شوئ او ډېر ژر به درپورې زما د رب ﷻ عذاب په دنيا او آخرت کښې کلک ونښلي، چې بيا به هيڅکله درڅخه جدا نه شي.

د الله ﷻ په توفيق او بې اندازې مهربانيو سره د "الفُرقان" سورت ختم شو.

والحمد لله ﷻ علی نعمائه.

١٤٢٠/٨/١٠ هـ ق = ١٣٧٨/٧/٢٨ هـ ش = ١٩٩٩/١٠/٢٠ م

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٩٧٠؛ مسند احمد بن حنبل ج٨ ص٤٤٣

(٢) لسان العرب ج١ ص١١٧

(٣) التفسير الكبير ج٢٤ ص١١٧؛ اللباب في علوم الكتاب ج١٢ ص٥٧٩

Scanned by CamScanner

# الشعراء (٢٦)



Scanned by CamScanner

د میروس لیاسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ دا سورت د "الشعراء" په نامه نومولی شوی دی چې همدغه کلمه د دې سورت په [۲۲۴] ایت کښې نازله شوې ده، ته به وایې چې کفار (مشرکان) په غوږ باندې وهل کېږي چې په قرآن کریم باندې د شعر نوم او په نبي کريم ﷺ باندې د شاعر نوم مه ږدئ، تاسو فقط د دې یوه سورت مضامین په نظر کښې ونیسئ او په دقت سره فکر وکړئ چې ایا د شعر سره څه مناسبت لري؟

۲ـ دا سورت د جمهورو علماوو کرامو په نزد مکي سورت دی چې د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[1]، مګر په وروستنیو څلورو ایتونو کښې یې څه اختلاف شته چې د ځینو علماوو کرامو په نزد مدني ایتونه دي او د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي[2].

۳ـ د دې سورت د ایتونو ټوله شمېره دوه سوه اوه ویشتو (۲۲۷) ته رسېږي[3] او د کلمو شمېره یې دولس سوه او اوه نوي (۱۲۹۷) ده. که څه هم د دې سورت د حروفو (تورو) شمېر چندان ډېر نه دی ایله پنځو زرو پنځو سوو او دوه څلوېښتو (۵۵۴۲) ته پورته کېږي[4] مګر د ایتونو په تعداد کښې تر یوازې د "البقرة" سورت زیات دي او بس. یا په بل عبارت: دا سورت د ایتونو د شمېر په لحاظ سره په ټول قرآن کريم کښې دوهم نمره دی.

## تناسب او محتویات

۴ـ څرنګه چې دواړه سورتونه (الفرقان، الشعراء) مکي سورتونه دي نو که څه هم د دواړو محتویات په اجمال او تفصیل سره فرق لري مګر تشابه او تناسب یې ډېر زیات دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: دواړه سورتونه د قرآن کريم په توصیف او تمجید باندې پیل شوي دي.

ب: په دواړو کښې د الله ﷻ په توحید او د نبي کريم ﷺ په نبوت باندې دلایل اقامه کړی شوي دي، او هم پکښې د قیامت د ورځې تذکر شوی دی.

ج: په دواړو کښې د کفارو (مشرکانو) اعتراضات او شبهات جواب شوي دي.

د: په دواړو کښې نبي کريم ﷺ ته تسلي او ډاډینه ورکړه شوې ده.

هـ: په دواړو کښې د پخوانیو ځینو پیغمبرانو قیصې د عبرت دپاره اجمالاً او یا تفصیلاً نازلې شوې دي.

و: بالآخره په دواړو کښې د تاریخ په اوږدو کښې د کفارو عناد ته اشارې شوې دي او داسې نور.

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۸۷
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۸۰
(۳) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۵۸
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ طسٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ﴿٢﴾ لَعَلَّكَ بَٰخِعٌ نَّفْسَكَ أَلَّا يَكُونُوا۟ مُؤْمِنِينَ
﴿٣﴾ إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ءَايَةً فَظَلَّتْ أَعْنَٰقُهُمْ لَهَا خَٰضِعِينَ ﴿٤﴾ وَمَا يَأْتِيهِم
مِّن ذِكْرٍ مِّنَ ٱلرَّحْمَٰنِ مُحْدَثٍ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهُ مُعْرِضِينَ ﴿٥﴾ فَقَدْ كَذَّبُوا۟ فَسَيَأْتِيهِمْ أَنۢبَٰٓؤُا۟ مَا
كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَى ٱلْأَرْضِ كَمْ أَنۢبَتْنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوْجٍ كَرِيمٍ ﴿٧﴾ إِنَّ
فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٩﴾ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه

[۱]

[۲] دغه (راتلونکي ایتونه) د ښکند (او ښکندوونکي) کتاب (قرآن کریم) ایتونه دي.

[۳] شاید چې ته خپل ځان لره (له غمه) د دې کبله وژونکی شې چې کفار نه مسلمانېږي (ایمان نه راوړي، خو ته وربانديې دومره غمژن کېږه مه، ځکه چې:)

[۴] که زمونږ اراده وشي نو په دوی بانديې به د اسمانه (عظیم الشانه قدرتي) نښه ورنازله کړو، نو د دوی څټونه به ورته عاجزي کوونکي وګرځي (او د مخالفت توان به ترې سلب کړي).

[۵] او دوی (کفارو) ته د ډېر مهربان الله ﷻ د جانبه هیڅ نوی (نازل شوی) ذکر (ایت) نه ورځي مګر دوی ترې اعراض کوونکي (مخ اړوونکي) دي.

[۶] نو یقینًا کفارو (ټولو ایتونو ته) د دروغو نسبت وکړ نو ژر به دوی ته د هغه شي (د حالاتو خبرونه ورشي په کومو بانديې چې دوی (برسېره په تکذیب) ملنډې وهې.

[۷] ایا (کفار تکذیب ته ادامه ورکوي) او ځمکې ته نه ګوري چې د هرې کریمانه (شریفانه) نوعې ښځه مو پکښې څومره ډېر نباتات زرغون کړي دي.

[۸] یقینًا په دغو (زرغونولو) کښې هرو مرو (ډېره لویه قدرتي) نښه ده، (حال دا چې) د خلکو اکثریت ایمان راوړونکي نه دي.

[۹] او بې شکه (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ ضرور همدی د کلکې ارادې خاوند (او) مهربان دی.

## ارتباطونه

د "الفرقان" د وروستني ایت مضمون دا وه چې: ای انسانانو! په تاسو بانديې د عذاب د عدم نزول وجه صرف ستاسو عبادت دی چې د همدغه عبادت دپاره د امتحان په ملحوظ پیدا کړی شوي یاست، کله چې تاسو د عبادت څخه انکار وکړ او په شریعت بانديې مو مسخرې (ملنډې) پیل کړې

نو ډېر ژر به ستاسو سره عذاب په دنيا او آخرت كښې لازم وګرځولی شي.

د دې سورت "الشعراء" په لومړنيو ايتونو كښې د ذكر شوي مضمون په اړوند لاندې مطالبو ته اشاره شوې ده:

١ـ ای كفارو! په تاسو باندې د عذاب نزول حتمي دی، تاسو د پخوانيو هلاكو شوو قومونو څخه عبرت واخلئ، د الله ﷻ عذاب وروسته كېږي خو دروغ كېږي نه، ضرور به تاسو د هغوی په تګلاره سوق كړی شئ.

٢ـ الله ﷻ قدرت لري چې تاسو تكذيب ته پرېنږدي او مجبوروونكي معجزات درباندې درنازل كړي او دا څكه چې هغه ﷻ عزيز (د كلكې ارادې خاوند) دی، خو د مجبوريت ايمان د ده ﷻ په نزد باندې مقبول نه دی.

مګر د دې سره-سره رحيم (ډېر مهربان) هم دی نو ستاسو په تعذيب كښې عجله نه كوي او د سوچ او فكر فرصت دركوي، ترڅو د عقل څخه كار واخلئ او په اجباري توګه نه بلكې په اختياري توګه ايمان راوړئ چې د دنيا او آخرت خوشالی مو پكښې نغښتې دي.

## د مطلب خلاصه

يعني ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" څخه وروسته په خپل أمت باندې لاندې مطالب قرائت كړه چې:

١ـ د دغه سورت ايتونه د هغه كتاب ايتونه دي كوم چې خپل خان پخپله اثباتوي، او په خپل اعجاز سره خپل حقانيت پخپله څرګندوي، دا څكه چې دا كتاب د هغو تورو څخه تركيب شوی دی د كومو څخه چې د خلكو كلامونه تركيب مومي ـ لكه ﴿ طسٓمٓ ﴾ او داسې نور ـ خو د دې سره-سره ټول فصحاء او ټول بلغاء بلكې ټول مخلوقات يې د يوه وړوكي ايت د مثل د جوړولو توان نه لري.

د انسانانو ترمنځ تفاوت شته (په ذكاوت، مهارت او نورو صفاتو كښې يو برابر نه دي) خو دومره تفاوت نشته لكه د ځمكې او اسمان، چې فقط يو نفر دې ټول كتاب جوړ كړي او نور ټول دې په مجموعي او اتفاقي توګه د يوه ايت د جوړولو توان ونه لري. كه بالفرض المحال دا كتاب تا د خپله خانه جوړ كړی وی نو ضرور به نورو خلكو هم لږ يا ډېر ايتونه جوړ كړي وی اوستا سره به يې د انسانيت په مقتضی څه ناڅه سيالي كړې وی.

نو پوره واضحه شوه چې دا كتاب د مخلوق كتاب نه دی بلكې د خالق ﷻ كتاب دی او بس. او دا هم واضحه شوه چې د كفارو د تكذيب وجه دا نه ده چې تا ورته خپل نبوت په اثبات نه دی رسولی، بلكې د دوی د تكذيب وجه فقط عناد دی او بس.

٢ـ نو په همدې بنياد ته ـ ای پيغمبره ـ په دې خبره باندې مه غمژن كېږه چې كفار ايمان نه راوړي او تا د يوه پيغمبر په حيث نه قبلوي، كه ته ډېر دوامداره غمژن شې نو شايد چې ته د خپل خان هلاكوونكی جوړ شې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ هو! تاته فقط يو ډول معجزه نه ده درکړه شوې، هغه دا چې مونږ د اسمانه په کفارو باندې داسې خارق العاده (قدرتي نښه) ورنازله کړو چې ايمان راوړلو ته يې مَجبور کړي او د تکبر اورمېږونه يې ورمات کړي (سرونه يې ټيټ کړي) او هيڅ د ترديد او عدم قبول توان ونه لري.

خو دا ډول معجزه ځکه تاته نه ده درکړه شوې ـ او نه به درکړه شي ـ چې په دغه وخت کښې ايمان راوړل زمونږ په نزد مقبول نه دي، چې د امتحان (ازمېښت) لمن تولېږي او هم د دغه ډول معجزې نزول د حکمت مقتضی نه ده.

۴ـ هو! د معجزاتو لېږل د الله ﷻ د ډېرې زياتې مهرباني له امله صورت نيسي ترڅو په يوه نه په بله معجزه باندې کفار قانع شي او ايمان راوړي، خو په کفارو باندې حسرت دی چې په زښتو ډېرو معجزاتو کښې په يوه هم نه قانع کېږي او ايمان نه راوړي. يا په بل عبارت د قرآن کريم هر يو ايت بېله بېله معجزه ده خو د کفارو حالت داسې دی چې دوی ته هيڅ تازه نازل شوی ذکر او پند نه ورځي (نه ورنازلېږي) مگر دوی ترې انکار او اعراض کوي، نو څومره چې د ايتونو نزول اضافه کېږي او ستا د نبوت دلايل زياتېږي په همغې اندازه د کفارو کفر شدت او کلکوالی مونده کوي، او تمسخر او خندنې يې لا زيات صورت نيسي.

۵ـ نو کفار د ګڼو معجزو د موجوديت سره-سره خپل تکذيب ته ادامه ورکوي نو ډېر ژر به دوی د هغو حقائقو په حالاتو باندې خبر شي کوم چې دوی ورباندې مسخرې کوي او ملنډې ورباندې وهي، هلته به پښېمانه شي خو څه گټه به ورته ونه شي رسولی.

۶ـ هسې نه چې مونږ د حقائقو د درک دپاره يوازې په نقليه دلايلو باندې اکتفاء کړې ده، بلکې په دنيا کښې مو په همدغه مطلب باندې زښت ډېر تکويني دلايل هم اقامه کړي دي؛ د مثال په توګه:

ايا کفار خپل کفر ته ادامه ورکوي او دغې ځمکې ته نه ګوري کومه چې د دوی د پښو لاندې ده، چې د کرامت او فوائدو څخه ډک څومره نباتات مو پکښې زرغون کړي دي چې د دوی او د دوی د څارويو معيشت ورپورې مربوط دی؟ ايا زمونږ څخه پرته بل څوک دا کار کولی شي؟ ايا څوک د يوه نبات په زرغونولو کښې اشتراک درلودلی شي؟ ايا دا ټول عبث پيدا کړی شوي دي؟ چې په پای کښې به هيڅ حساب کتاب ونه لري؟!

۷ـ ای پيغمبره! يقيناً چې د نباتاتو په زرغونولو کښې د قدرت ډېره عظيم الشانه نښه پرته ده او کفايت کوي چې په همدغې يوې نښې باندې کفار قناعت وکړي او ايمان راوړي، خو په دوی باندې افسوس دی چې اکثريت يې د دغسې څرګند دليل د ليدلو سره-سره ايمان نه راوړي او د کفر څخه لاس نه اخلي.

۸ـ ای پيغمبره! يقيناً ستا رب ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی هيڅوک يې د ارادې مخه نه شي نيولی چې سمدستي ورباندې عذاب ورنازل کړي، خو د دې سره-سره مهربان هم دی او مهلت ورکوي ترڅو دوی ښه فکر وکړي او په خپلو کفرياتو باندې پښېمانه شي. که نه نو ستا رب ﷻ ته يې سمدستي پوپنا کول څه مشکل کار نه دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ که څه هم د ﴿ لَعَلَّكَ بَـٰخِعٌ نَّفْسَكَ ﴾ غوندې عبارت وړاندې په [الكهف:۶] ایت کښې تېر شوی دی او مونږ پکښې د الله ﷻ په توفیق څه شرحه لیکلې ده خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې شرحه وراضافه کوو:

الف: ﴿ بَـٰخِعٌ ﴾ کلمه د "بَخْعٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "بَخْعٌ" دېته ویل کېږي چې سړی خپل ځان له ډېره غمه ووژني[۱].

ب: د "لَعَلَّ" کلمه دلته د ترجي (أمید) دپاره نه ده بلکې دلته د اشفاق (نرمي کولو) دپاره ده[۲].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! ته په خپل ځان باندې څه نرمي او شفقت وکړه او د دې کبله یې د وژلو سره مه مخامخ کوه چې کفار ایمان نه راوړي او په قرآن کریم او نورو څرګندو معجزاتو باندې سترګې پټوي.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوي دي چې: ﴿ فَلَا تَذْهَبْ نَفْسُكَ عَلَيْهِمْ حَسَرَٰتٍ ﴾ [فاطر:۸] یعنې ای پیغمبره! ستا مبارک نفس (روح) دې په کفارو باندې د حسرتونو د کبله د منځه لاړ نه شي چې دوی ایمان نه راوړي.

په دې ایت شریف کښې لاندې دوه وو نکتو ته اشاره ده:

اول: نبي کریم ﷺ د کفارو په کفر باندې ډېر زیات غمژن کېده او په ایمان باندې یې ډېر زیات حارص وه (باید چې ټول د اعیان همدا ډول زړه سوی ولري).

دوهم: نبي کریم ﷺ د هغوی په کافر پاتې کېدلو باندې د همغوی د منافعو دپاره د حسرت او غم سره مخامخ وه چې د جنت څخه محروم شوه او په دائمي توګه دوزخیان جوړ شوه، نه د خپلو منافعو دپاره چې زما أجرت او مزدوري فوته شوه، (باید اسلامي داعیان دغه نکته هېره نه کړي).

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: په ﴿ فَظَلَّتْ أَعْنَـٰقُهُمْ لَهَا خَـٰضِعِينَ ﴾ کښې د ﴿ خَـٰضِعِينَ ﴾ کلمه سالمه جمعه ده او په ﴿ أَعْنَـٰقُهُمْ ﴾ باندې حمله شوې ده، او په سالمه جمعه کښې دا شرط ده چې باید د مذکرو ذوالعقولو په صفاتو کښې صورت ونیسي، حال دا چې د "أَعْنَاق" په کلمه کښې نه تذکیر شته او نه د عقل خاونده ده؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[۳]، خو په زړه پوری جواب یې دا دی چې: د "أَعْنَاق" کلمې د خپل مضاف الیه "هُمْ" څخه تذکیر او تعقیل دواړه کسب کړي دي، نه به وایې چې هم مذکره ده او هم عاقله ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۵
(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۲۹۸
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۳۸۱؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دغه ډول خارق العاده نښې يو نظير

٣_ په ذکر شوي ايت شريف کښې چې کومې خارق العاده نښې ته اشاره ده د هغې د نظير بيان الله ﷻ د يهودانو په هکله نازل کړی دی چې: ﴿ وَإِذْ نَتَقْنَا ٱلْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَأَنَّهُۥ ظُلَّةٌ ﴾ [الأعراف:١٧١] يعني: ته هغه وخت ورياد کړه چې مونږ د دوی (يهودو) په سرونو باندې د چترۍ په ډول غر ورپورته کړ، چې ايمان راوړئ (خپل ايمان تجديد کړئ) که نه نو د غره لاندې به چيت پيت کړی شئ.

﴿ وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱئْتِ ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٠﴾ قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّىٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾ وَيَضِيقُ صَدْرِى وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِى فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَٰرُونَ ﴿١٣﴾ وَلَهُمْ عَلَىَّ ذَنۢبٌ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾ قَالَ كَلَّا ۖ فَٱذْهَبَا بِـَٔايَٰتِنَآ ۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسْتَمِعُونَ ﴿١٥﴾ فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٧﴾ ﴾

[١٠] او هغه وخت ياد کړه چې ستا رب ﷻ موسی ﷺ ته (بلا کيف) اواز وکړه چې: (ای موسی!) ظالم قوم ته ورشه (چې په خپلو ځانونو باندې په کفر او په بني اسرائيلو باندې د حقوقو په سلبولو سره ظلم کوي).

[١١] (يعني فرعون او) د فرعون قوم ته (ورشه او نقلي دلايل ورو‌ړه)، ايا دوی (د الله ﷻ د عذابه) نه ډارېږي (او د کونيه دلايلو څخه عبرت نه اخلي)؟

[١٢] موسی ووېلې چې: ای زما ربه! يقينًا زه ډارېږم چې فرعونيان (به سمدلاسه) زما تکذيب وکړي (او دعوت ته به مې پرېنږدي، ځکه چې تکبر يې ډېر زيات دی).

[١٣] او زما سينه تنګېږي (حوصله مې کمه ده)، او (هم) زما ژبه (ښه) نه چلېږي، نو ته (يو استولی شوی) هارون ﷺ ته واستوه (چې هغه هم زما سره د پيغمبر په حيث ملګری شي).

[١٤] او فرعونيانو لره په ماباندې يوه ګناه (د يوې ګناه دعوه) هم شته، نو زه ډارېږم چې هغوی به ما (په کسات اخستلو کښې) ووژني (او د دعوت سلسله به پرې کړي).

[١٥] ستا رب ﷻ ووېلې چې: دغسې نه ده (چې هغوی به تا ووژني، دا توان به زه هغوی ته ورنه کړم) نو تاسو دواړه زمونږ د معجزاتو سره لاړ شئ يقينًا مونږ (د نصرت او کومک د حيثه) ستاسو سره اورېدونکي (او سوال قبلوونکي) ياستو.

[١٦] نو دواړه فرعون ته ورشئ نو ورته ووایاست چې: يقينًا مونږ دواړه د رب العالمين لېږلی شوي ياستو.

[١٧] چې (په مونږ باندې ايمان راوړه او) بني اسرائيل زمونږ سره ولېږه (خوشې کړه چې مونږ يې اصلي تاتوبي شام ته بوځو).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې نبي کريم ﷺ ته توصيه شوې وه چې د کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې خپل ځان له غمه مه وژنه، او کفار پکښې ترهيب شوي وه چې ډېر ژر به د خپلو استهزاګانو په پايلو باندې خبر کړی شي. په دې ايتونو کښې د کفارو څخه د اوو هلاکو شوو قومونو قيصې د مثال په توګه شروع شوي دي چې د ټولو په اول سر کښې فرعونيان واقع دي کوم چې په تکبر کښې اول نمره ګڼل وه، ترڅو د يو پلوه د نبي کريم ﷺ دپاره د تسکين او ډاډينې باعثې جوړې شي او د بله پلوه د وخت د کفارو دپاره پرې عبرتي درس ورکړی شي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

اې پيغمبره! ته د خپل ځان د تسکين دپاره او د وخت د کفارو د عبرت دپاره د فرعونيانو قيصه ياده کړه چې ستا رب ﷻ ورته څومره عالي شان پيغمبر (موسی عليه السلام) ورلېږلی وه او هغوی د ده عليه السلام دعوت څنګه رد کړ، د قيصې څه لنډيز دا دی:

١ـ ستا رب ﷻ موسی عليه السلام ته د خپلې ارادې مطابق نبوت ورکړ، چې هغه عليه السلام يې هيڅ غوښتنه نه وه کړې او نه يې د نبوت د ورکړې اُميد درلود، خو په ناڅاپي توګه يې ورته په بلا کيفه ډول باندې اواز وکړه چې: اې موسی! ته زما د پلوه پيغمبر وګرځولی شوې، نو ظالم قوم ته لاړ شه او دعوت ورکړه چې د ظلم (کفر) څخه لاس واخلي او په تاباندې ايمان راوړي، دغه ظالم قوم د فرعون قوم دی چې همده ورته خپل ځان د معبود په صفت تراشلی دی. ايا دغه ظالم قوم زمونږ د عذاب (نيولو) څخه خپل ځانونه نه ساتي؟ دوی ته په کار دي چې وډار شي او خپل ځانونه ترې په ډډه کړي.

٢ـ موسی عليه السلام د رسالت د قبول او په دې باندې د خوشالېدلو څخه وروسته خپل څه ضروريات وړاندې کړه او عرض يې وکړ چې:

الف: زه تمه نه لرم چې هغوی به ايمان راوړي بلکې زه ډارېږم چې سمدلاسه به زما تکذيب وکړي (دوی ډېر زيات متکبران دي). هو! زما په ورتګ سره به ورباندې حجت اتمام شي او د قيامت په ورځ به اعتذار ونه کړی شي چې مونږ ته پيغمبر نه وه راغلی. نو اې زما ربه! د دعوت په اوږدو کښې زما سره خپل نصرت او امداد جاري وساته.

ب: زما حوصله کمزورې ده او په ستغو سپورو خبرو باندې مې سينه تنګېږي، څه لرې نه ده چې د دعوت په جريان کښې زه د بې حوصلګۍ سره مخامخ شم او د خپلې دندې په وړاندې بيولو کښې پاتې راشم، دا د يو پلوه.

ج: او د بله پلوه زما ژبه عموماً ښه نه چلېږي او په هغه وخت کښې ډېر بندش پيدا کوي کله مې چې سينه تنګه شي او په غُصه شم.

نو زما هيله او سوال دا دی چې ته هارون (زما ورور) ته هم نبوت ورکړه او په دغې درنه دنده کښې يې راسره د يو پيغمبر په حيث شريک کړه. که څه هم زما ورور سمدستي په مصر کښې اوسېږي او د مناجات د مقام څخه ډېر لرې پروت دی خو زما هيله دا ده چې هملته د نبوت زيری

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورکوونکې پرښته ور واستوه او همدغه د نبوت تاج ورپه سر کړه. او دا ځکه چې زما د ورور (هارون) حوصله غټه ده، ډېر ژر نه په غصه کېږي، په ژبه کښې هم زما څخه فصيح دی چې ژبه یې زما غوندې بندش او لکنه نه لري.

د: په دې باندې علاوه فرعونيان په ما باندې د يوې گناه (د يوه نفر د قتل) دعوه هم لري چې د همدغه قتل د کبله زه د مصر څخه د مدين ښار ته تښتېدلی وم، او په هارون باندې داسې دعوه نشته، نو زه دارېږم چې هغوی به زما دعوت ته غوږ کښېنږدي او سمدستي به د خپل انتقام په لټه کښې پرېوځي او ما به قتل کړي.

يا په بل عبارت: ای زما ربه! زه خو دا دی ستا د پلوه مکلف شوم چې خپل شخصي دښمن دعوت کړم د کوم څخه چې زه په پټه کښې ژوند کوم، نو ستا کومک او نصرت ته ډېر زيات اړ او محتاج يم، هسې نه چې د شخصي دښمنۍ د کبله په دعوت کښې فتور (سستي) واقع شي.

٣_ الله ﷻ موسی ﷺ ته داډ ورکړ او ورته يې وفرمايل چې:

الف: هيڅکله به داسې ونه شي چې فرعونيان په انتقام کښې تا ووژني.

ب: نو تاسو دواړه زمونږ د معجزاتو سره لاړ شئ؛ ترځو پرې هلته د خپل نبوت څرگندونه وکړئ. تاسو داډه اوسئ؛ زمونږ نصرت او کومک ستاسو ملگری دی او مونږ ستاسو سوال جواب او خبرې اترې اورو.

ج: تاسو دواړه فرعون ته ورشئ؛ او ورته ووايـاست چې:

اول: ای فرعونه! که څه هم مونږ دوه پيغمبران ياستو او تاته د رب العالمين د پلوه را استولې شوي ياستو مگر ستا په نسبت د يوه پيغمبر حيثيت لرو چې د دواړو خبره او دعوت يو دی. هغه دا چې: په مونږ باندې ايمان راوړه او مونږ د الهي پيغمبرانو په حيث ومنه چې د ابدي دوزخ څخه بچ شې؛ او په دنيا او آخرت کښې کامياب شې.

دوهم: زمونږ سره بني اسرائيل پرېږده چې مونږ يې بېرته خپل اصلي ټاټوبي ته بوځو، د کوم څخه چې د يوسف ﷺ په ذريعه راوتلي وه چې د شام خاوره ده.

## توضيحات

١_ په ﴿ وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ ﴾ الآية، کښې چې کومو ټکو ته اشاره شوې ده هغه د "طه" سورت په لومړي رکوع کښې نازل شوي دي، هيله ده چې همدلته مراجعه وکړی شي.

### دا مستانفه جمله ده

٢_ د ﴿ أَلَا يَتَّقُونَ ﴾ د جملې په هکله علماوو کرامو متعدد نظريات ليکلي دي[١] چې د کوم اعراب په محل کښې واقع ده او يا د سره اعرابي محل نه لري بلکې نحوي مستانفه جمله ده[٢].

---

(١) تفسير الكشاف ج٣ ص٣٠١؛ روح المعاني ج١٩ ص٦٤

(٢) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٤٦٦

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته همدغه خبره متعينه برېښي چې د وړاندېنې کلام سره فقط معنوي ارتباط لري او بس. نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي چې: ای موسی! که څه هم د فرعونيانو په وړاندې زما د توحيد دلايل زښت ډېر دي (تول دنيا ورباندې ډکه ده) په کار وه چې هغوی بدون ستا د ورتګ څخه په همغو دلايلو باندې استناد کړی وی او فرعون ته يې د الوهيت لقب نه وی ورکړی او نه هغه دغه لقب د خپل خان دپاره خوښ کړی وی، خو دا کار ونه شو. د همدې کبله تاته د تعجب په توګه پوښتنه متوجه کوم چې: ايا هغوی د الله ﷻ د عذابه نه ډارېږي؟ ايا دوی د کونيه دلايلو څخه کار نه اخلي؟ هو! هغوی په دغو دلايلو باندې سترګې پټې کړي دي نو ته هغوی ته د توحيد دعوت ورکړه، او په معجزاتو سره يې د غفلت له خوبه راويښ کړه.

## يادونې

۳_ په دې مقام کښې د ښه وضاحت دپاره د محترمو لوستونکو پام لاندې يادونو ته را اړوو:

الف: د الله ﷻ په توفيق د موسی ﷺ د سينه تنګی په هکله په همدې کتاب کښې د [الأعراف: ۱۵۴] ايت لاندې ښه کافي بحث تېر شوی دی چې يو خل کتل يې ګټور دي.

ب: همدارنګه مونږ د [طه:۲۷] ايت لاندې د موسی ﷺ د مبارکې ژبې د لکنې (غوټې) په باب ګټور معلومات ليکلي دي، والحمد لله ﷻ.

ج: په ﴿ فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَـٰرُونَ ﴾ کښې د "أرْسِلْ" دپاره مفعول مقدر دی چې د "إلَى" توری ورباندې دلالت کوي، چې علماوو کرامو ترې په "ملكا" يا "جبرائيل" سره تعبير کړی دی. يعنې نو هارون ﷺ ته پرښته يا جبرائيل امين ﷺ ورولېږه او د نبوت تاج ورپه سر کړه چې زما سره په دعوت کښې کومکي او ملګری جوړ شي.

د: په ﴿ فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴾ کښې هغې قيصې ته اشاره شوې ده کومه چې د موسی ﷺ او د يوه قبطي (فرعوني) سړي ترمنځ پېښه شوې وه، چې بشپړ تفصيل يې د [القصص:۱۵] ايت لاندې راروان دی، إن شاء الله ﷻ.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي: چې کله موسی ﷺ د کسات اخستلو څخه ډارېده نو مصر ته ولې په سفر باندې روان وه؟ يا په بل عبارت: په همدغه سفر کښې موسی ﷺ د نبوت د ورکړې څخه وړاندې د کسات اخستلو څخه نه ډارېده نو په څه وجه ورسره د نبوت د ورکړې څخه وروسته ذکر شوی خوف او ډار پيدا شو؟

مونږ وايو چې: موسی ﷺ غوښتل چې په پټه سره به لس کاله وروسته مصر ته ورننوځي چې موضوع به خلکو ته ورپه ياده نه وي، او نه به يې څوک وپېژني چې دا فلانی دی، اما د رسالت سره خو دغه ډول (پټ) ورننوتل ممکن نه وه نو ځکه ورسره خوف پيدا شو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه پوښتنې او د هغو جوابونه

۵ـ په دې مقام کښې نحوي قواعدو ته په پام سره لاندې دوه پوښتنې راپورته کېږي:

الف: په ﴿ إِنَّا مَعَكُم مُّسْتَمِعُونَ ﴾ کښې د "كُمْ" په کلمې سره موسی ﷺ او هارون ﷺ مخاطب کړی شوي دي نو په کار وه چې د ﴿ مَعَكُم ﴾ په عوض "مَعَكُمَا" نازل شوی وی، نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد دغسې نازل نه شو؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو دغه پوښتنه په متعددو طریقو باندې جوابه کړې ده[1] خو بهتر جواب یې دا دی چې د ﴿ مَعَكُم ﴾ په نزول سره هغوی دواړو ته ډاډ ورکړی شوی دی چې تاسو به د دعوت په اوږدو کښې دوه په دوه پاتې نه شئ بلکې ډېر پیروان به ولرئ؛ لکه چې همدغې اشارې هلته په مصر کښې تحقق مونده کړ او هغو کسانو هم ورباندې ایمان راووړ کوم چې د دوی دواړو د مقابلې دپاره راغونډ شوي وه، لکه د ساحرانو ډله.

یا په بل عبارت: تاسو دواړه به په راتلونکي کښې یو دعوتي ټولگی تشکیل کړئ او مونږ به د استمرار په توگه ستاسو د خبرو اترو او سوالونو او غوښتنو اورېدونکي او قبلوونکي یاستو، نو تاسو دواړه ډاډه اوسئ.

ب: څرنگه چې په ﴿ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ کښې د "نا" ضمير د موسی ﷺ او هارون ﷺ څخه عبارت دی، نو نظر نحوي قواعدو ته په کار وه چې د ﴿ رَسُولُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ په عوض "رَسُولا رَبِّ الْعَالَمِينَ" نازل شوی وی، نود دغه ډول په عدم نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: دغې پوښتنې ته هم ډېر جوابونه شوي دي[2]، خو په زړه پورې جواب یې دا دی چې په دغه ډول نزول سره فرعون په غوږ وهلی شوی دی چې: ای فرعونه! که څه هم موسی ﷺ او هارون ﷺ دوه پیغمبران دي خو په نسبت سره تاته دواړه د یو پیغمبر حیثیت لري، چې د دواړو خبره یوه ده او دعوت یې یو دی.

که بالفرض "رَسُولا رَبِّ الْعَالَمِينَ" نازل شوی وی نو امکان یې درلود چې نوموړي پرې اعتراض کړی وی چې که ستاسو خبره رښتیا وی نو تاسو به تعدد نه درلودی او یو نفر به د پیغمبر په حیث رالېږلی شوی وی، نو کله چې د ﴿ رَسُولُ ﴾ کلمه مفرده نازله شوه نو د هغه د اعتراض مخه ونیول شوه، د همدې کبله یې پرې اعتراض هم وارد نه کړ، والله ﷻ اعلم.

﴿ قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ١٨ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِى فَعَلْتَ وَأَنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ١٩ قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ٢٠ فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا

---

(١) تفسير القرطبي ج١٣ ص٩٣؛ البحر المحيط ج٨ ص١٤٥

(٢) اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص١٢؛ التفسير الكبير ج٢٣ ص١٢٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ
عَبَّدتَّ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٣﴾ قَالَ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِن كُنتُم مُّوقِنِينَ ﴿٢٤﴾ قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُۥٓ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾ قَالَ رَبُّكُمْ
وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ ٱلَّذِيٓ أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾ قَالَ
رَبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَآ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ قَالَ لَئِنِ ٱتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي
لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ ٱلْمَسْجُونِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُّبِينٍ ﴿٣٠﴾ قَالَ فَأْتِ بِهِۦٓ إِن
كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣١﴾ فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴿٣٢﴾ وَنَزَعَ يَدَهُۥ فَإِذَا
هِيَ بَيْضَآءُ لِلنَّٰظِرِينَ ﴿٣٣﴾ ﴾

[١٨] فرعون وویلې چې: (ای موسی!) ایا ته مونږ په خپلو (کورونو) کښې د ماشومتوب په حال کښې نه وې روزلی؟! (بلکې روزلی مو وې)، او (هم) ته د خپل عمر څخه په مونږ کښې (ډېر) کلونه اوسېدلی وې (دلته دې ډېر عمر تېر کړی دی).

[١٩] او (همدارنګه) تا هغه فعل کړی دی کوم چې تا کړی دی (چې دواړو جانبو ته معلوم دی) حال دا چې ته د ناشکرانو څخه یې (چې هلته دې هم ناشکري کړې ده چې قتل دې وکړ، او اوس دې هم ناشکری، ته ملا تړلې ده چې زما مقابلې ته را اوچت شوی یې).

[٢٠] موسی عليه السلام (ورته په جواب کښې) وویلې چې: ما نوموړی فعل په هغه وخت کښې کړی وه چې زه د ناخبرانو (او خطاکارانو) څخه وم (زه هلته پیغمبر نه وم او قصد مې نه وه کړی چې قتل وکړم).

[٢١] نو کله چې زه ستاسو (د ظلم او تکبر) د امله وډار شوم، ستاسو څخه (د مدین په لور) وتښېدلم، نو ماته خپل رب ﷻ علم (او حکمت) راکړ او د پیغمبرانو د جملې څخه یې وګرځولم (که بالفرض ستاسو د ظلم ډار نه وی نو زه به نه وی تښتېدلی).

[٢٢] او دغه (په تاسو کښې) روزنه (ستا په خیال) یو لوی نعمت دی چې په ماباندې یې احسان باروې، (دغه نعمت) په دې سبب صورت نیولی وه چې تا (ټول) بني اسرائیل غلامان ګرځولي وه (او د دوی نارینه ماشومان دې ذبحه کول، که تا دا کار نه وی کړی ذکره شوې روزنه به نه وی متحققه شوې).

[٢٣] فرعون وویلې چې: (هغه) رب العالمین څه شی دی (د کوم عبادت ته چې ته ما وربولې)؟

[٢٤] موسی (جواب ورکړ او) وېې ویلې چې (رب العالمین) د اسمانو او ځمکو او د هغو شیانو رب دی کوم چې د دغو دواړو ترمنځ (موجودیت) لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(نو) که تاسو یقین کوونکي یاست (په دغې خبرې به یقین او باور وکړئ).

[۲۵] فرعون هغو کسانو ته وویلې کوم چې د ده په چاپېریال کښې (موجود) وه، چې ایا تاسو (دغه جواب ته) غوږ نه نیسئ؟ (تاسو دغه جواب نه اورئ چې د سوال سره مطابقت نه لري)؟!

[۲۶] موسی ﷺ (خپل جواب ښه واضحه کړه او) وېې ویلې چې (رب العالمین) ستاسو رب او ستاسو د پخوانیو پلرونو رب (هم) دی.

[۲۷] فرعون (بیا د خپل چاپېریال کسانو ته) وویلې چې: یقیناً ستاسو هغه پیغمبر چې (په خپل خیال) تاسو ته دراستولي شوی دی هرومرو لیونی دی (چې ستاسو رب نه پېژني چې زه یم).

[۲۸] موسی ﷺ (په خپل جواب باندې نوره رڼا هم واچوله او) وېې ویلې چې: (رب العالمین) د مشرق او مغرب او هغو شیانو رب (هم) دی کوم چې د (دغو) دواړو ترمنځ موجود دي (ربوبیت یې په اسمان باندې هم جاري دی)، که تاسو یاست چې د عقل څخه کار اخلئ (او لیونیان نه یاست نو په دغې خبرې به عقیده وکړئ).

[۲۹] فرعون (ورته) وویلې: که چرته هرو مرو زما څخه په غیر ته بل معبود ونیسې نو خامخا به ضرور تا د بندیانو (اسیرانو) د جملې څخه وګرځوم.

[۳۰] موسی ﷺ وویلې چې: ایا (ته به دغه کار وکړې) اګر که زه تاته (په خپل نبوت باندې) څرګند دلیل راوړم (قائم کړم)؟

[۳۱] فرعون وویلې چې: نو ته دا (څرګند دلیل) راوړه (قائم کړه) که ته د رښتیا ویوونکو څخه یې.

[۳۲] نو (سمدستي) موسی ﷺ خپله همسا وغورځوله نو ناڅاپه دا (همسا) څرګنده اژدها (ښامار) وه.

[۳۳] او خپل لاس یې (ګرېوان ته ننویست او بیا یې) راوویست نو ناڅاپه دا (لاس) د لیدونکو (او نظر کوونکو) دپاره تک سپین ځلیده (چې تول یې هک پک کړه).

## د مطلب خلاصه

یعنې د وړاندېنې ارشاد په غوښتنه موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړه فرعون ته ورغله او خپل دعوت یې داسې شروع کړه چې: ای فرعونه! مونږ د رب العالمین د پلوه تاته را استولې شوي یاستو نو په مونږ باندې ایمان راوړه او بني اسرائیل راسره پرېږده چې خپل اصلي ټاټوبي (شام) ته بېرته لاړ شي. نو فرعون ورسره په لاندې ډول د مباحثې او سوال جواب سلسله اوږده کړه:

۱ـ فرعون موسی ﷺ ته خطاب وکړ چې:

الف: ایا ته مونږ په خپل کور کښې تازه زېږېدلی ماشوم نه وې تربیه کړی؟ ایا ستا ټوله روزنه مونږ نه ده ترسره کړې؟ ایا د دغې ټولې روزنې نتیجه دا شوه چې بېرته په مونږ باندې راوګرځېدلې او مونږ ته دعوت راکوې چې د رب العالمین بندګان جوړ شو؟

ب: ایا تا د خپل عمر څخه ډېر کلونه په مونږ کښې نه دي تېر کړي؟ ایا ستا ټوله نشا او نما زمونږ په نعمتونو باندې نه ده ترسره شوې؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: ایا تا هغه فعل نه دی کړی کوم چې تا کړی دی؟ (ایا زمونږ د قومیانو څخه دې یو تن نه دی وژلی) ستا دپاره فقط همدا هم ډېره غټه خبره ده چې مونږ دې ژوندی پرېږدو.

د: ای موسی! ته بل څوک نه یې بلکې هغه څوک یې چې زمونږ د نعمتونو ناشکري کوې او خپل جنایت دې هېر کړی دی.

۲_ موسی ﷺ د فرعون ذکره شوي خطابه داسې جوابه کړه:

الف: رښتیا چې ما هغه کار کړی دی کوم ته چې تاسو د جنایت لقب ورکوئ، حال دا چې هغه کار ما په قصدي توګه نه وه کړی، ما نه وه غوښتي چې ستا قومي ووژنم، د همدې کبله ما هلته کومه جارحه او وژونکې آله نه وه کارولې بلکې نوموړی د سوک څپېړې په جنګ کښې مړ شو. یا په بل عبارت: زه ناخبره وم چې هغه به زما په سوک باندې مړ کېږي که نه نو سوک به مې هم نه وی ورکړی. ایا په خطا قتل باندې هم څوک جنایتکار ګڼلی کېږي؟

ب: ستاسو د ظلم او تکبر د کبله زه ستاسو په نزد جنایتکار وګڼلی شوم او زما د وژلو پلان مو جوړ کړ او د کسات اخستلو دسیسه مو راته طرحه کړه، نو زه ستاسو څخه وډار شوم او همدا ستاسو د لاسه مې لس کاله په جلا وطنی کښې تېر کړه، او د مدین ښار ته وتښتېدلم هلته مې پنا یووړه.

ج: زه چې نن په پوره جرئت تاته دعوت درکوم دا د دې خبرې دلیل دی چې ماته خپل رب ﷻ نبوت رابښلی دی او د پیغمبرانو د جملې څخه یې ګرځولی یم (ماته یې امر کړی دی چې تا د خپل رب ﷻ توحید ته وروبولم). که بالفرض ماته د نبوت منصب نه وی راکړی شوی نو نن به هم زه همغسې په ډار کښې وي لکه چې لس کاله وړاندې په ډار کښې وم، او هیڅکله به ستا په وړاندې په ډاګه نه وی درېدلی او خپل ځان به مې نه وی درڅرګند کړی.

د: ایا دا کیفیت ستا په نزد یو نعمت دی او په ما باندې یې احسانوې چې ټول بني اسرائیل دې خپل غلامان او وینځې ګرځولي وه او فعلاً هم خپلې همدغې ظالمانه تګلارې ته ادامه ورکوې؟

که بالفرض ستا ظالمانه رویه نه وی (چې زمونږ د قومیانو نارینه اولادونه به دې ذبحه کول) نو زه به خپلې مور په سینه کښې نه وی اچولی او ستا په کور کښې به مې روزنه نه وی موندلې. ستا احسان اېښودل به هله په ځای خبره وی چې ستا کور ته زه خپلې مور دروړی وی او تا هلته روزلی وی، نو زه خو ستا کور ته خپلې مور نه بلکې سیند دروړی وم، چې خپل رب ﷻ په قدرتي توګه ستا په کور کښې تربیه کرم.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه تا خو ټول بني اسرائیل غلامان جوړ کړي دي، ایا ته نه شرمېږې چې د یوه ماشوم د روزنې د خبرې یاد کوې او د نورو بني اسرائیلو د غلام ګرځولو خبره دې له یاده ویستلې ده. تا باید د معبود په صفت نه بلکې د یوه پاچا په صفت زما د قومیانو ماشومان د قبطیانو د ماشومانو په څېر روزلي وی او ذبحه کړي دې نه وی.

۳_ فرعون وویلې چې: ای موسی! هغه رب العالمین څه شی دی د کوم عبادت ته چې ما دعوتوې؟ ایا هغه انسان دی یا پېری دی او یا بل شی؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ موسی ﷺ جواب ورکړ چې: رب العالمين د هغه اقدس ذات څخه عبارت دی چې د اسمانونو او ځمکو او هم د هغو ټولو شيانو تربيه کوونکی او روزونکی دی چې د دغو دواړو ترمنځ موجوديت لري. که تاسو يقين کوونکي ياست نو زما په خبره يقين وکړئ او رب العالمين په همدغه صفت باندې وپېژنئ.

۵_ د موسی ﷺ په جواب باندې فرعون خپلو هغو مشرانو ته مخ ور واړاوه کوم چې د ده په شاوخوا کښې ناست وه او په ده باندې يې د الوهيت عقيده درلوده، او ورته يې وويلې چې: ايا تاسو د موسی ﷺ جواب نه اورئ؟ چې زه ترې د يوه شي پوښتنه کوم او هغه په بل شي باندې جواب راکوي.

يا په بل عبارت: زه ترې د "رب العالمين" په باب پوښتنه کوم نه د "العالمين"، حال دا چې هغه د "العالمين" په تفصيل سره جواب راکوي، ځکه چې د "رَبُّ الْعَالَمِينَ" او د "رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا" خو فقط په اجمال او تفصيل سره فرق دی او بس، او د "رب" په تعريف کښې خو شموليت نه لري.

۶_ موسی ﷺ خپل ذکر شوی جواب ښه واضحه کړ چې: رب العالمين د هغه اقدس ذات څخه عبارت دی چې هغه ستاسو او ستاسو د پخوانيو تېرو شوو پلرونو رب هم دی. يا په بل عبارت: ای فرعونه! ته رب نه يې د ربوبيت دعوه مه کوه، بلکې ته پخپله مربوب يې، که بالفرض ته رب وی نو ستاسو د پلرونو رب څوک وه، هلته خو ته لا پيدا شوی هم نه وې.

۷_ په عوض د دې چې فرعون د موسی ﷺ جواب رد کړي، بيا يې خپل اراکين (د مجلس مشران) مخاطب کړه چې دغه سړی کوم چې تاسو ته يې خپل ځان د پيغمبر په صفت تراشلی دی، يقيناً ليونی دی، دا ځکه چې زما د ربوبيت څخه يې انکار وکړ بلکې زه يې هم په مربوبينو کښې شامل کړم. يا په بل عبارت: د ده د ليونتوب غټه نښه دا ده چې دې ستاسو رب نه پېژني، ايا دی نه ګوري چې د مصر واکداري د چا ده؟ ايا دغه واکداري او دغه ويالې (چې زما څخه لاندې بهېږي) زما نه دي؟

۸_ موسی ﷺ خپل جواب ته څه نور وضاحت هم ورکړ چې: رب العالمين هغه اقدس ذات دی چې د لمر خېژول او پرېوستل د همده ﷻ په اختيار کښې دي، د باد او باران بلکې د ټولو کائنات الجو اختيار د همده ﷻ سره دی. ايا ته لمر راخېژولی او يا پرېوستلی شې؟ ايا ته بادونه چلولی شې او د يوه څاڅکي د باران د راښکته کولو توان لرې؟ ايا د ورځې او شپې اختلاف او بدلون ستا په توان کښې شته؟

۹_ کله چې فرعون د استدلال په ميدان کښې ماتې وخوړه نو سرکشۍ او توبيخ ته يې لاس واچاوه او موسی ﷺ يې مخاطب کړ چې: که ته زما څخه په غير بل معبود ونيسې او زما د ربوبيت څخه انکار وکړې نو هرو مرو او ضرور به دې زه د بنديانو او زندانيانو په ډله کښې شامل کړم، ستا غوندې ليونيان زما په جيلونو (بنديخانو) کښې ډېر پراته دي.

۱۰_ موسی ﷺ نوموړي متکبر ته پوښتنه متوجه کړه چې: ايا ته به په هغه صورت کښې هم د خپلې همدغې سر زورۍ څخه کار اخلې کله چې زه تاته د خپل نبوت او رسالت د اثبات دپاره پوره څرګند دليل قائم کړم چې زه په رښتيا پيغمبر يم؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



١١_ فرعون وويلې چې: ايا ستا سره د خپلې مدعى د اثبات دپاره څرګند دليل هم شته؟ که دغسې دليل لرې نو راوړاندې يې کړه او دا خبره ورباندې تصديق کړه چې بې شکه ته د صادقانو د ډلې څخه يې.

١٢_ سمدستي موسى ﷺ لاندې دوه دليلونه ورڅرګند کړه:

الف: خپله همسا يې وغورځوله چې د هغې څخه لويه اژدها جوړه شوه، او هيچا شک او شبه نه کوله چې دا واقعيت نه دى، خو کله چې موسى ﷺ همدغې اژدها (ښامار) ته لاس ورواچاوه نو سمدستي بېرته همسا وګرځېده.

ب: همدارنګه موسى ﷺ خپل لاس په خپل ګرېوان کښې ورداخل کړ او بېرته يې رابهر کړ نو تک سپين وځلېد تا به ويل چې د لمر يوه ټوټه ده، او ټول کتونکي ورته هک پک او حيران ودرېدل. خو مجردې چې بېرته يې ګرېوان ته ورننويست او بيا يې رابهر کړ نو خپل عادي رنګ او عادي حال ته وګرځېد.

## توضيحات

١_ په ﴿ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا ﴾ کښې چې کومې قيصې ته اشاره شوې ده د هغې په ارتباط د "القصص" په لومړنيو ايتونو کښې _د الله ﷻ په توفيق_ څه تفصيل راروان دى.

## موسى ﷺ څومره عمر درلود؟

٢_ په ﴿ وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴾ کښې اشاره شوې ده چې موسى ﷺ د خپل عمر څه برخه د فرعون په کور کښې تېره کړې وه، چې تفصيل يې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:١٣٣] ايت لاندې تېر شوى دى خو . په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې ځينو علماوو کرامو د موسى ﷺ عمر ته په لاندې ډول شرحه ورکړې ده[١]:

الف: موسى ﷺ د خپل عمر دېرش (٣٠) کاله د فرعون په کور کښې تېر کړه.

ب: لس (١٠) کاله د شعيب ﷺ سره د مدين په ښار کښې جلا وطنه وه.

ج: دېرش (٣٠) کاله يې فرعون ته دعوت وچلاوه.

د: او بالآخره پنځوس (٥٠) کاله د فرعون د غرقېدلو څخه وروسته هم ژوندى وه.

نو ټول عمر يې يو سلو شل (١٢٠) کالو ته رسېده، والله ﷻ أعلم.

## متعدد تفسيرونه

٣_ په ﴿ وَأَنتَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ کښې علماوو کرامو د ﴿ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ کلمې دپاره متعدد تفسيرونه کړي دي[٢] خو کوم تفسير چې مونږ ته په دې مقام کښې په زړه پورى برېښي هغه دا دى

---

(١) الإتقان في علوم القرآن ج٢ ص١٣٩؛ تفسير المظهري ج٧ ص٦٣

(٢) تفسير كبير ج٢٤ ص١٢٥؛ تفسير الكشاف ج٣ ص٣٠٥؛ المحرر الوجيز ج١٢ ص٥٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې: دغه کلمه د کفر څخه نه بلکې د کفران څخه اشتقاقه شوې ده چې د ناشکرۍ معنی ورکوي[١]، نو حاصل یې به یې داسې راوځېژي چې:

ای موسی! ته ډېر ناشکره سړی یې او دا ځکه چې ته مونږ په خپل کور کښې د ماشومتوب په حال کښې په ډېر ناز او عزت سره غټ کړې، خو کله چې دېرش کلن شوې نو زمونږ احسانات دې تر پښو لاندې کړه او همدا زمونږ د خدمتګارانو څخه دې یو سړی وواژه او ماته دې سپک نظر وکړ. زه اوس هم ستا سره احسان کوم چې د هغه په کسات (بدل) کښې دې نه وژنم، خو ته نن هم خپلې ناشکرۍ ته ادامه ورکوې او غواړې چې زما پاچاهي په بل مخ چپه کړې. نو ښه دا ده چې زما احسانات په نظر کښې ونیسې او له دغه کاره لاس واخلې کوم چې تا شروع کړی دی.

دا د یو پلوه، او د بل پلوه الله ﷻ خپله هغه وعده پوره کړه کومه یې چې موسی ؈ ته په [الشعراء: ١٥] ایت کښې په ﴿ كَلَّا ﴾ سره ورکړې وه چې فرعونیان تا نه شي وژلی، د همدې کبله هغوی د موسی ؈ وژلو ته اقدام ونه شو کړی حتی چې د دې جرئت یې هم ونه درلود چې په صراحت سره ورته د قاتل لقب ورکړي، بلکې دغه مطلب ته یې په کنایي توګه اشاره وکړه چې: ﴿ وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ ٱلَّتِى فَعَلْتَ ﴾ او تا هغه ډول فعل کړی دی کوم چې تا کړی دی (قبطي دې وژلی دی).

## ضَلال څه معنی؟

٤_ په ﴿ وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴾ کښې د "ضَالِّين" کلمه د "ضَلال" څخه اشتقاقه شوې ده، مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یوسف:٨] ایت لاندې د "ضَلال" دپاره متعددې معناوې ذکرې کړې دې خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په لاندې دوه معناوو سره تفسیر کړی دی[٢]:

الف: دلته د "ضَلال" کلمه د جهل او ناپوهۍ معنی ورکوي، په همدې معنی باندې د ﴿ فَوَهَبَ لِى رَبِّى حُكْمًا وَجَعَلَنِى مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ تعقیب دلالت کوي، یعنې: هو! ما هغه فعل کړی وه کوم ته چې ته اشاره کوې خو هغه داسې وخت وه چې ماته د نبوت علم نه وه راکړی شوی او د پیغمبرانو د جملې څخه نه وم ګرځولی شوی، نو دغه کار د ناپوهۍ د کبله صورت نیولی وه، په کار دې چې ماته پرې د ملامتۍ ګوته ونه نیوله شي.

ب: دغه کلمه د خطأ (غیر قصد) په معنی سره ده، یعنې: دغه کار (قتل) ما په خطا سره کړی وه او د وژلو نیت (قصد) مې نه وه، د همدې کبله مې جارحه او قاتله آله نه وه کارولې بلکې فقط د سوک څخه مې کار اخستی وه، که ستاسو د ظلم او تجاوز ډار نه وی نو زه به بالکل نه وی تښتېدلی. په همدې مضمون باندې د ﴿ فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ ﴾ کلمات لارښوونه کوي.

زمونږ په فکر ذکرې شوې دواړه معناوې سره څه منافات نه لري، نو بهتره دا ده چې د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي.

---

(١) مفردات الراغب ص٤٥١

(٢) تفسیر الطبري ج١٩ ص٦٧؛ تفسیر ابن کثیر ج٣ ص٣٣٢؛ تفسیر البغوي ج٣ ص٣٨٣؛ تفسیر القرطبي ج١٢ ص٩٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دا اقرار دی که انکار؟

۵ـ په ﴿ وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِي إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ کښې د اعراب په لحاظ متعدد تحليلونه شوي دي[١]، خوکوم تحليل چې مونږ ته لنډ او بې تکلفه برېښي هغه په لاندې ډکو باندې ولاړ دی:

الف: د "تِلْكَ" کلمه مبتدأ ده اوهغه روزنې ته اشاره ده په کومې باندې چې د ﴿ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا ﴾ جمله دلالت کوي.

ب: د ﴿ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ ﴾ کلمات موصوف او صفت دي چې د ذکرې شوې مبتدأ دپاره خبر واقع شوي دي.

ج: د ﴿ أَنْ عَبَّدتَّ بَنِي إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ کلمات د مقدرې مبتدأ "هِيَ" دپاره خبر دي چې د ﴿ نِعْمَةٌ ﴾ کلمې ته راجع ده، نو دغه جمله د ﴿ نِعْمَةٌ ﴾ دپاره تفسيره واقع شوې ده.

لنډه دا چې په دې ايت شريف کښې د لف او نشر غير مرتب په ډول د فرعون د اولنې اعتراض جواب نغښتی دی.

اما مضمون يې علماوو کرامو په لاندې دوه وو ډولونو باندې اخستی دی:

اول: ځينې وايې چې دا جمله د موسى ﷺ د پلوه د فرعون په لومړي اعتراض باندې اقرار ده[٢] چې هو! دغه روزنه ـ چې ستا په کور کښې ماته راکړې شوې وه ـ يو نعمت او يو احسان وه چې ستا د پلوه په ماباندې اېښودلی شوی وه، او دا خکه چې تا ټول بني اسرائيل غلامان ګرځولي وه او د هغوی زامن دې وژل مګر په عين حال کښې دې زه نه غلام جوړ کړم او نه دې ووژلم. خو دا نعمت زما د دعوت مخه نه شي نيولی چې زه پرې د الله ﷻ د پلوه مکلف شوی يم.

دوهم: ځينې نور وايې چې په ذکرې شوې جملې سره موسى ﷺ د فرعون د نعمت انکار وکړ[٣] چې:

ای فرعونه! دغه ستا په کور کښې زما تربيه او روزنه ستا په نزد يو نعمت دی چې ته يې په ماباندې ږدې، خو دغې تربيې او روزنې د دې کبله صورت نيولی وه چې تا ټول بني اسرائيل (زما قوميان) غلامان جوړ کړي وه او په هغوی باندې ستا ظلم د اندازې ځخه وتلی وه چې نارينه تازه زېږېدلي ماشومان به دې ورته ذبحه کول او لورګانې به دې ورته ژوندۍ پرېښودلې، د همدغه ظلم او تېرې په نتيجه کښې زه خپلې مور په درياب کښې واچولم او ستا کور ته در ورسولی شوم، که تا دغه ظلم نه کولی نو زه به خپلې مور په خپلې غېږ کښې روزلی وی او ستا په کور کښې به نه وی روزلی شوی. لنډه دا چې ستا په کور کښې زما روزنه ستا احسان نه دی بلکې ستا د ظلم يو ځرګند مثال دی، ته بايد وشرمېږې او د نعمت نوم ورباندې کېنږدې.

---

(١) روح المعاني ج١٩ ص٦٩: اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص١٦

(٢) البحر المحيط ج٨ ص١٤٨

(٣) المحرر الوجيز ج١٢ ص٥٦: تفسير القاسمي ج١٣ ص٩



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

٦_ مونږ ته د مقام، دقت او باریکی په لحاظ دغه دوهم ډول مضمون ترجیح لري او غوره راته برېښي، والله ﷻ أعلم.

## فرعون څه ډول کفري عقیده درلوده؟

٧_ که څوک وايي: داسې څرګندېږي چې فرعون دهري وه (د الله ﷻ په موجوديت باندې قائل نه وه) د همدې کبله يې موسى عليه السلام ته پوښتنه راجع کړه چې: ﴿وَمَا رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ او رب العالمين څه شى دى؟ حال دا چې د ځينو نورو نصوصو څخه معلومېږي چې نوموړی د هرې نه وه، نصوص دا دي:

الف: ﴿قَالَ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَآ أَنزَلَ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ [الإسراء:١٠٢] يعني موسى عليه السلام فرعون ته وويلې چې: يقيناً ته په خپل زړه کښې پوهېږې چې دغه نهه معجزات بل هيچا نه دي نازل کړي مګر د اسمانونو او ځمکو رب ﷻ نازل کړي دي.

نو فرعون دغه وينا رد نه کړه چې زه د اسمانونو او ځمکو رب نه پېژنم او نه يې معجزات پېژنم، بلکې په سکوت سره يې د هغه عليه السلام خبره تائيده کړه.

ب: ﴿وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗا﴾ [النمل:١٤] يعني فرعونيانو د ظلم او تکبر د کبله زمونږ د معجزاتو څخه په داسې حال انکار وکړ چې د دوی نفسونو (زړونو) ورباندې يقين کاوه چې دا په حقه سره د الله ﷻ د جانبه راغلي (نازلې) شوې دي.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا ذکر شوي دواړه ډوله ايتونه سره تضاد او منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: ظاهره دا ده چې فرعون د خالق الکائنات ﷻ په موجوديت باندې پوهېده مګر د عناد د کبله يې ورباندې اعتراف نه کاوه او د خلکو د اغفال دپاره يې ترې انکار کاوه، دغه ډول انکار ته د خلکو په اصطلاح کښې "تجاهل عارفانه" وايي[١] چې خپل ځان په قصدي توګه د جاهلانو او ناپوهانو په قطار کښې ودروي چې زه نه پوهېږم، حال دا چې حقيقت هغسې نه وي.

## سوال جواب

٨_ که څوک وايي چې: د ذکر شوي جواب په بنياد په کار وه چې د موسى عليه السلام د پلوه فرعون د يوه مؤمن په صفت پېژندلی شوی وی، ايمان خو بل شی نه دی بلکې د همدغه ذکر شوي علم څخه عبارت دی؟

مونږ وايو چې: ايمان د محض علم څخه عبارت نه دی چې په مقابل کښې يې جهل او ناپوهي واقع کېږي، بلکې ايمان د هغه علم (تصديق) څخه عبارت دی د کوم سره چې د هغه ضد (انکار او تکذيب) ملګری نه وي[٢]، کوم علم او معرفت چې د تصور په رتبه کښې واقع وي او د تصديق مقام

(١) اضواء البيان ج٦ ص٣٧۴
(٢) شرح المقاصد ج٢ ص٢٥٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته نه وي رسېدلى او يا د تصديق مقام ته رسېدلى وي خو انكار (تكذيب) ورسره ملګرى وي هغه ايمان نه ګڼلى كېږي. همدې مضمون ته د [البقرة:۱۴۶] ايت لاندې اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

لنډه دا چې فرعون په خالق الكائنات ﷻ باندې يقين درلود خو تصديق يې ورباندې نه درلود، چې د يقين سره يې انكار (تكذيب) ملګرى كړى وه، لكه چې په عين ايت كښې ورباندې د ﴿ وَجَحَدُوا۟ بِهَا ﴾ كلمه دلالت كوي چې د جحود (انكار) څخه اشتقاقه شوې ده.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۹_ كه څوک وايي چې: الله ﷻ په دې مقام كښې د فرعون د خولې څخه د ﴿ وَمَا رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ كلمات حكايت كړي دي خو په عين حادثه او عين مجلس كښې يې ترې د ﴿ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ﴾ [طه:۴۹] (يعنې اى موسى! ستاسو دواړو رب څوک دى؟) كلمات هم حكايت كړي دي؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا دغه دواړه حكايتونه سره يو تربله منافات نه لري؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال دپاره لاندې جوابونه صورت نيولى شي:

الف: د مختلفو عبارتونو ترمنځ چې كوم مضمون مشترک دى همغه مضمون فرعون د سوال په توګه موسى ﷺ ته راجع كړى وه[1]، چې مونږ د دغه مشترک مضمون د موندلو څخه عاجز ياستو. نو د همدغه مشترک مضمون څخه الله ﷻ په يوه ايت كښې په يوه عبارت سره او په بل ايت كښې په بل عبارت سره تعبير كړى دى.

ب: مونږ ته دا بهتره برېښي چې د فرعون د خولې څخه به دواړه عبارتونه وتلي وي او څه ضرورت نشته چې دواړه عبارتونه په مشترک مضمون باندې تحميل كړو، والله ﷻ أعلم.

## يادونه

۱۰_ په ﴿ فَإِذَا هِىَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ﴾ كښې د ﴿ ثُعْبَانٌ ﴾ كلمه_د الله ﷻ په توفيق_د [الأعراف:۱۱۷] لاندې څه اندازه شرحه شوې ده چې اضافه شرحې ته يې څه اړتيا نه ګورو.

﴿ قَالَ لِلْمَلَإِ حَوْلَهُۥٓ إِنَّ هَٰذَا لَسَٰحِرٌ عَلِيمٌ ۝٣٤ يُرِيدُ أَن يُخْرِجَكُم مِّنْ أَرْضِكُم بِسِحْرِهِۦ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ۝٣٥ قَالُوٓا۟ أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَٱبْعَثْ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَٰشِرِينَ ۝٣٦ يَأْتُوكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيمٍ ۝٣٧ فَجُمِعَ ٱلسَّحَرَةُ لِمِيقَٰتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ۝٣٨ وَقِيلَ لِلنَّاسِ هَلْ أَنتُم مُّجْتَمِعُونَ ۝٣٩ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُوا۟ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ۝٤٠ فَلَمَّا جَآءَ

[1] روح المعاني ج۱۹ ص۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلسَّحَرَةُ قَالُوا۟ لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ ٱلْغَـٰلِبِينَ ﴿٤١﴾ قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ
ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾ قَالَ لَهُم مُّوسَىٰٓ أَلْقُوا۟ مَآ أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾ فَأَلْقَوْا۟ حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا۟
بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ ٱلْغَـٰلِبُونَ ﴿٤٤﴾ فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِىَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾
فَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سَـٰجِدِينَ ﴿٤٦﴾ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَـٰرُونَ ﴿٤٨﴾
قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ۚ
لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَـٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٤٩﴾ قَالُوا۟ لَا ضَيْرَ ۖ إِنَّآ إِلَىٰ
رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿٥٠﴾ إِنَّا نَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَـٰيَـٰنَآ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٥١﴾ ﴾

[۳۴] فرعون د خپل چاپېریال (د مشرانو) ټولګي ته وویلې چې: یقینًا دغه (موسی ﷺ) بې شکه ډېر پوه جادوګر دی.

[۳۵] نوموړی غواړي چې تاسو د خپلې ځمکې (خپل وطن مصر) څخه د خپل جادو په سبب (په زور) وباسي، نو هغه څه شی دی چې تاسو پرې امر کوئ؟ (تاسو څه مشوره راکوئ چې څه وکړم؟).

[۳۶] د چاپیریال مشرانو وویلې چې: موسی ﷺ او د ده ورور (هارون ﷺ) وروسته کړه (د دوی موضوع وځنډوه) او په (خپلو) ښارونو کښې راغونډوونکي (پولیس) ولېږه (خواره کړه چې:)

[۳۷] تاته هر ښه پوه تکړه جادوګر راولي (چې دجادو مقابله یې وکړي او پړ یې کړي).

[۳۸] نو پوه تکړه جادوګران د معلومې ورځې ټاکلي وخت ته راغونډ کړی شول.

[۳۹] او خلکو ته وویلی شوه چې: ایا تاسو (په خپله خوښه د جادوګرانو مقابلې ته) راغونډېدونکي یاست؟ (چې ننداره یې په خپلو سترګو وګورئ).

[۴۰] شاید چې مونږ (په اخلاص سره) د جادوګرانو (د دین) پیروي وکړو (ادامه ورکړو) که چرته همدوی (د مقابلې په میدان کښې) غالب (برلاسي) شوه.

[۴۱] نو کله چې جادوګران (د مقابلې میدان ته) راغله (او مقابلې ته ودرېده) نو فرعون ته یې وویلې چې: ایا مونږ لره به یقینًا څه مزدوري (اِنعام) وي که چرته (په مقابله کښې) مونږ همدا مونږ غلبه درلودونکي شوو (وګرځو او موسی ﷺ ته ماتې ورکړو)؟

[۴۲] فرعون (ورته په جواب کښې) وویلې چې: هو! (ولې نه) او (په انعام باندې علاوه به) یقینًا تاسو هرومرو په دغه وخت کښې د مقربینو (ماته د نژدې کسانو) څخه یاست.

[۴۳] هغوی (ساحرانو) ته موسی ﷺ وویلې چې: تاسو هغه څه وغورځوئ د کوم شي چې تاسو غورځوونکي یاست (لومړی نوبت تاسو واخلئ).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۴] نو هغوی خپل پړي (رسۍ) او خپلې همساګانې (د جادوګرانو په حيث) وغورځولې او ويې ويلې چې: د فرعون په عزت (لويۍ) سوګند دی چې يقيناً ضرور همدا مونږ غلبه موندونکي ياستو

[۴۵] نو (سمدستي) موسی ﷺ خپله همسا ورو غورځوله نو ناڅاپه همدا (همسا اژدها جوړه شوه او) هغه شيان يې (ټول) په سرعت سره ښويه تېر کړه کوم چې هغوی (د حقيقت څخه) اړولي وه (او ماران يې ځرګند کړي وه).

[۴٦] نو (د) همدې منظرې د لېدلو د کبله) ساحران (په څمکه باندې الله ﷻ ته) سجده کوونکي پرېويستلی شوه (او ايمان يې راووړ).

[۴۷] دوی وويلې چې: مونږ په رب العالمين باندې ايمان راوړی دی.

[۴۸] چې د موسی او هارون رب دی (د فرعون د ربوبيت څخه منکر ياستو).

[۴۹] فرعون (جادوګرانو ته) وويلې چې: ايا تاسو موسی (ﷺ) ته د هغه څخه وړاندې معتقد شوئ (ايمان مو پرې راووړ) چې ما درته اجازه درکړې وی؟ (ستاسو د دغه بدکار وجه دا ده چې: يقيناً دا (موسی ﷺ) هرو مرو ستاسو هغه مشر دی کوم چې تاسو ته يې جادو درزده کړی دی (دا ستاسو استاذ دی، تاسو په دستوري توګه خپل ځانونه مغلوب معرفي کړه).

نو ډېر ژر به تاسو پوه شئ (چې زه ستاسو سره څه کوم)، زه به هرومرو ضرور ستاسو لاسونه او ستاسو پښې ردو بدل پرې کړم او هرو مرو ضرور به تاسو ټول په دار (باندې زوړند) کړم.

[۵۰] تازه مؤمنانو (ساحرانو) وويلې چې: (د دغو تعذيبونو مونږ ته) هيڅ ضرر نشته (مونږ يې پروا نه کوو ځکه چې) يقيناً مونږ (ستا د باطل دين څخه د) خپل رب ﷻ (حق دين) ته ورتاويدونکي ياستو.

[۵۱] يقيناً مونږ تمه لرو چې مونږ ته خپل رب ﷻ زمونږ ګناهونه (په دې سبب) وبښي چې (په دغه ميدان کښې) مونږ اولني مؤمنان شوو (او نورو ته مو بنياد کېښود).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې چې د کومو حالاتو بيان ته اشاره شوې ده هغو په هغه وخت کښې صورت نيولی وه چې فرعون د يو پلوه د استدلالاتو په مقابل کښې ماتې وخوړه او د بله پلوه پکښې د دوه وو معجزاتو (همسا، لاس) زهره وچوله. نو حاصل يې داسې راځېږي:

۱ـ فرعون خپلو اراکينو (مشرانو) ته مخ ورواړاوه چې:

الف: يقيناً دغه سړی (موسی ﷺ) هرو مرو ډېر پوه جادوګر دی، چې د سترګو په رپ کښې يې د همسا څخه اژدها جوړه کړه او خپل لاس يې تک سپين وبرېښاوه.

ب: د دغه جادوګر نور څه نيت نه دی فقط همدا يې نيت دی چې د جادو په زور باندې تاسو له دې وطنه وشړي او پخپله ورباندې منګولې ښخې کړي؛ يا په بل عبارت: نوموړی غواړي چې د يوسف پاچاهي بيرته راژوندۍ کړي.

ج: نو هغه څه شی دی چې تاسو ورباندې امر کوئ، ستاسو څه مشوره ده چې د نوموړي سره څه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وکړم، ایا سمدستي یې په وژلو اقدام وکړم؟ حال دا چې د وژلو بهانه ورته تیاره موجوده ده چې پخوا یې زمونږ څخه یو سړی وژلی وه، د همغه کسات به ترې واخلم.

۲ـ د شورى غړو (د مجلس مشرانو) مشوره ورکړه او ـد فرعون د وړاندېز په عبارت ـ دوی ورته امر وکړ چې:

الف: موسی (عليه السلام) او د ده ورور (هارون عليه السلام) ته لږ څه مهلت ورکړه او د وژلو خبره یې څه وخت وروسته کړه، ترڅو د دواړو باطل مسلک ټولو خلکو ته څرګند شي. نو:

ب: په خپلو ټولو ښارونو کښې پولیس خواره کړه، ترڅو تاته د هرې څنډې څخه هر یو ښه پوه او هر یو ښه تکړه جادوګر راولي، بیا نو د خپلو دغو تکړه جادوګرانو ډلې ته امر وکړه چې د موسی (عليه السلام) جادو مات کړي، بیا نو که د دوی دواړو سره هر یو عمل اجراء کړې کوم ضرر به پکښې نه وي، او که نه نو خلک به ګومان وکړي چې مونږ یې د مقابلې توان نه لرو ځکه مو دوی دواړه د منځه یووړه.

۳ـ فرعون همدغه نقشه عملي کړه. نو:

الف: تکړه جادوګرانو یوه لویه اجتماع تشکیله کړه او د موسی عليه السلام مقابلې ته ودرېده، البته په هغه وخت کښې چې د مقابلې دپاره لا د وړاندې څخه ټاکلی شوی وه چې دا مقابله به د جشن په ورځ د جشن په میدان کښې د څاښت په وخت کښې صورت نیسي.

ب: د دغې مقابلې د ننداړې دپاره خلک تشویق کړی شوه چې ټول په ټاکلې ورځ په ټاکلي ځای کښې حاضر شي، ترڅو په خپلو سترګو د مقابلې ننداره وکړي.

یا په بل عبارت: په خلکو باندې د راغونډولو په هکله زور او جبر ونه کړی شو څو متنفر نه شي، بلکې هغوی ته په ډېره پسته او نرمه لهجه وویلی شوه چې ایا تاسو د ذکرې شوې مقابلې د ليدلو دپاره راغونډېدونکي یاست؟ مونږ آرزو لرو چې تاسو مهرباني وکړئ او ننداړې ته تشریف راوړئ او دا ځکه چې:

ج: دغه مقابله زمونږ دپاره یوه حیاتي موضوع ده چې زمونږ د دین قوت پکښې نغښتی دی. یا په بل عبارت: که څه هم مونږ په خپل دین باندې کلک یاستو، که جادوګران مغلوب شي او که غالب شي مونږ د خپل دین څخه اووښتونکي نه یاستو، اما د جادوګرانو د غلبې په صورت کښې شاید چې مونږ خپل دین ته د قلبي بصیرت په رڼا کښې ادامه ورکړو، او د همدې دین په حقانیت به مو سرونه ښه خلاص شي.

۴ـ نو کله چې خلک راغونډ شوه او ټاکلی وخت راورسېد او هم جادوګران په ډېر غرور سره مقابلې ته ودرېده نو لاندې سوال جواب یې وکړ:

الف: دوی ټولو په یوه خوله فرعون مخاطب کړ چې: ایا مونږ لره به یقینًا څه أجرت او څه انعام راکړی شي، البته کله چې مونږ غالب شوو او مقابله مو وګټله؟

ب: فرعون په "هوا" سره جواب ورکړ چې: أجرت او انعام ستاسو منلی شوی حق دی خو په دې باندې علاوه به تاسو په دغه صورت کښې زما د نږدې ملګرو څخه وګرځولی شئ؛ چې هر وخت به

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بدون د اجازې راتلای شئ او په خپله خوښه به بهرته وځئ، نه به په تاسو باندې په داخلېدلو کښې څه قید قیود وي او نه په وتلو کښې چې ژر شئ وځئ چې وخت مو خلاص شو (ستاسو د مجلس وخت به محدود نه وي).

۵ـ کله چې جادوګرانو ذکر شوی اطمنان ترلاسه کړ نو په ډېر غرور سره یې مقابله په لاندې ډول سره پیل کړه:

الف: دوی موسی ﷺ ته اختیار ورکړ چې: خوښه دې چې لومړی نوبت مونږ ته راکوې چې زمونږ د جادو جواب ته راکړې، او یا لومړی نوبت ته پخپله اخلې چې مونږ جواب درکړو؟

ب: موسی ﷺ لومړی نوبت هغوی ته ورکړ چې په میدان کښې هغه څه وغورځوئ د کوم چې تاسو غورځوونکي یاست، تاسو خپله وسه تمامه کړئ او څه چې په توان کښې لرئ هغه ټول څرګند کړئ.

ج: جادوګرانو لومړی نوبت واخست او خپل پړي او همساګانې یې میدان ته وغورځولې او څه یې چې زده وه هغه ټول منترونه یې ورباندې ولوستل، او:

د: کله یې چې د خپلو منترونو زور ولید نو ټولو په یوه خوله وویلې چې: زمونږ دې د فرعون په عزت باندې سوګند وي چې یقیناً همدا مونږ د غلبې خاوندان یاستو، زمونږ د جادو مقابله هیڅوک نه شي کولی. ته به وایې چې موسی ﷺ په غوږ باندې وهي چې دغه دی اوس ستا نوبت دی، ایا ته زمونږ جواب ویلی شې؟

۶ـ سمدستي بدون د مقدماتو او منترونو څخه موسی ﷺ خپله همسا د مقابلې میدان ته وروغورځوله. نو:

الف: د سترګو په رپ کښې ترې یوه لویه اژدها جوړه شوه او په ډېرې جلتۍ سره یې بې درنګه د جادوګرانو د جادو په خوړلو باندې شروع وکړه، چې د هغوی دروغین ماران یې د څرمې ښویه تېر کړه او یو یې هم پرېښنبود.

ب: بیا نو موسی ﷺ خپلې اژدها ته لاس ور واچاوه چې د سترګو په رپ کښې بېرته خپلې پخوانۍ بڼې ته ورتاوه شوه او همسا ترې جوړه شوه! تا به ویل چې دا هیڅکله اژدها نه وه ګرځېدلې.

۷ـ ذکرې شوې منظرې په ټولو خلکو اثر واچاوه خو په جادو ګرانو باندې یې د نورو څخه اثر زیات وه ځکه چې دوی اهل الفن وه او د جادو او معجزې په فرق باندې د نورو څخه ښه پوهېده. نو د همدې کبله دوی په ډېره تونډۍ سره الله ﷻ ته په سجده پرېواته، تابه ویل چې د شا د پلوه چا ټېل وهل او په سجده باندې یې وغورځول، او هم دوی ټولو په یوه خوله وویلې چې: مونږ د فرعون د ربوبیت څخه انکار کوو، مونږ په هغه رب العالمین ﷻ باندې ایمان راوړی دی کوم چې د موسی ﷺ او هارون ﷺ رب دی او دوی دواړه یې عبادت ته دعوت چلوي.

۸ـ په دغه وخت کښې فرعون ډېر په غُصه او ډېر وارخطا شو نو تازه ایمان راوړونکي یې تهدید کړه او نور خلک یې په غوږ ووهل چې دغه ډول کار ته زړه ښه نه کړي، نو په ډېره قهرجنه لهجه یې هغوی مخاطب کړه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ایا تاسو د هغه ځخه وړاندې ایمان راووړ چې ما درته اجازه درکړې وی؟

ب: ستاسو دغه عجله د دې خبرې دلیل دی چې تاسو په جادو کښې اخلاص ځرګند نه کړ او په لوی لاس مو په دستوري توګه خپل خانونه پړه وښودل، که تاسو د جادوګری په اجراء کښې اخلاص کړی وی نو ضرور به تاسو برلاسي شوي وی.

ج: حقیقت دا دی چې تاسو د موسی شاګردان یاست او هغه ستاسو استاذ دی چې جادو یې درته ښودلی دی، ستاسو ټولو خبره یوه ده هغه مو مشر دی او تاسو یې کشران یاست.

د: نو هرومرو ډېر ژر به تاسو پوه شئ چې زه ستاسو سره څه کوم، زه به خامخا ضرور ستاسو لاسونه او پښې ردوبدل پرې کړم او هرومرو ضرور به تاسو ټول په دار خوړند کړم ترڅو درځخه نور خلک عبرت واخلي، بیا دې نو ستاسو مشر (موسی ﷺ) تاسو زما ځخه خلاص کړي (که خلاصولی مو شي).

۹ـ جادوګرانو (تازه ایمان راوړونکو مؤمنانو) په ډېر متانت او ارامی سره د فرعون د تهدید په مقابل کښې وویلې چې:

الف: مونږ د وژلو او د اندامونو د پرې کولو هیڅ پروا نه لرو، څه چې ستا زړه غواړي هغه په مونږ باندې اجراء کړه، ستا د ټولو تعذیبونو نتیجه فقط مرګ دی او په دنیا کښې د مرګ ځخه خلاصی نشته.

ب: مونږ هغه ژوند غوره کړی دی په کوم باندې چې مرګ نه شي ورتلی، مونږ د آخرت ژوند غواړو، مونږ خپل رب ﷻ ته ورتاویدونکي یاستو، چې هیڅکله به ستا تهدیدات په مونږ اثر ونه شي اچولی.

ج: مونږ خپل رب ﷻ ته تمه کوو چې پخواني ګناهونه راته وبښي او په دې باندې مو ونه نیسي چې د ده ﷻ د پیغمبر په مقابله کښې په مجادله باندې اخته وو.

د: مونږ ویاړو چې د خپل رب ﷻ په پیغمبر (موسی ﷺ) باندې ړومبی ایمان راوړونکي وګرځېدو. ای فرعونه! موسی ﷺ په حقه پیغمبر دی چې ته به یې هیڅکله مقابله ونه کړی شي، دا دی مونږ ورباندې د ټولو ځخه وړاندې ایمان راووړ او نور ایمان راوړونکي هم را روان دي.

## توضیحات

۱ـ د ذکرو شوو ایتونو په ارتباط لاندې بحثونه وړاندې تېر شوي دي. والحمد لله ﷻ:

الف: د ﴿ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴾ جمله د [الأعراف: ۱۱۰] ایت په توضیحاتو کښې توضیح شوې ده.

ب: په ﴿ قَالُوٓاْ أَرۡجِهۡ وَأَخَاهُ ﴾ کښې د ﴿ أَرۡجِهۡ ﴾ کلمه د [الأعراف: ۱۱۱] ایت لاندې تحلیله شوې ده.

ج: همدارنګه په دې موضوع کښې هم د [الأعراف: ۱۲۴] ایت لاندې تحقیق شوی دی چې ایا تازه مسلمانان (جادوګران) د فرعون د پلوه شهیدان کړی شوه او ځنګه.

د: په "الأعراف" او "طه" دواړو سورتونو کښې څه نورو نکاتو ته هم اشارې شوې دي چې باید هملته ولوستلی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

٢_ که څوک وايي چې: فرعونيان خو د ساحرانو سره په مسلک او دين کښې متحد وه چې ټول د فرعون په الوهيت قائل او معتقد وه، حال دا چې د ﴿ لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ ٱلسَّحَرَةَ إِن كَانُواْ هُمُ ٱلْغَٰلِبِينَ ﴾ څخه څرګنديږي چې هغوی د ساحرانو د دين پيروي په غلبې پورې مربوطه کړې وه او وړاندې ورسره په عقيده کښې متحد نه وه؟

مونږ وايو: ځينو علماوو کرامو د ﴿ ٱلسَّحَرَةَ ﴾ د کلمې څخه موسى ﷺ او هارون ﷺ او هم د دوی قوميان مراد کړي دي[1]، يعنې دوی خپل خانونه باانصافه معرفي کړه چې که دغه موسى ﷺ ږله برلاسي شوه نو مونږ به خپل اصلي مسلک پرېږدو او د همدوی پيروي به وکړو.

مګر دا جواب د يو پلوه متبادر نه دی او د بله پلوه د ﴿ ٱلسَّحَرَةَ ﴾ د کلمې مراد جوت نه برېښي ځکه چې په متصل ايت ﴿ فَلَمَّا جَآءَ ٱلسَّحَرَةُ ﴾ کښې بې شکه د ﴿ ٱلسَّحَرَةَ ﴾ څخه د فرعون راغوښتلي شوي جادوګران مراد دي، نه موسى ﷺ او د ده قوميان.

نو بهتر جواب دا دی چې: دلته د ﴿ نَتَّبِعُ ﴾ د کلمې څخه د پيروۍ شروع مطلب نه ده څو اعتراض وارد شي، بلکې پيروۍ ته په اخلاص سره ادامه ورکول مطلب دي. نو حاصل به يې داسې راځي: شايد چې مونږ په ډېر اخلاص سره په دوامداره توګه د خپلو ساحرانو د دين پيروي وکړو البته کله چې مونږ د هغوی غلبه په خپلو سترګو وګورو.

د دې ډول استعمال يو نظير په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ ءَامِنُواْ ﴾ [النساء: ١٣٦] کښې وړاندې تېر شوی دی، چې ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! خپل ايمان ته په اخلاص سره ادامه ورکړئ.

## ضَيْر څه معنی؟

٣_ په ﴿ قَالُواْ لَا ضَيْرَ ﴾ کښې د ﴿ ضَيْرَ ﴾ کلمه او د "ضَوْر، ضُرّ، ضَرُوْرَة" کلمات ټول سره مترادف دي، بلکې اجوف او مضاعف يوه معنی ورکوي[2]. يعنې تازه مؤمنانو د فرعون د تهديد په مقابل کښې وويلې چې: مونږ ته د وژلو يا په دارکولو سره هيڅ ضرر او باک نشته، هرڅه چې وي تېر به شي، مونږ _لله الحمد_ د خپلو ځانونو دپاره دائمي ژوند وګاټه، مونږ د مرګ څخه نه ډارېږو.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

٤_ که څوک وايي چې: الله ﷻ د تازه مؤمنانو د خولې څخه حکايت کړی دی چې: ﴿ أَن كُنَّآ أَوَّلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ يعنې مونږ په دې سبب خپل رب ﷻ ته تمه لرو چې مغفرت به راته وکړي چې مونږ په موسى ﷺ باندې اولني ايمان راوړونکي ياستو. نو پوښتنه دا ده چې بني اسرائيلو خو د دوی څخه وړاندې ايمان راوړی وه[3] نو په ايمان راوړلو کښې دوی اول نمره ګان نه بلکې دوهم نمره ګان ګڼل کېږي؟

(١) تفسير المظهري ج٧ ص٦٦
(٢) تفسير القرطبي ج١٣ ص٩٩؛ مفردات الراغب ص٣٠٨
(٣) المحرر الوجيز ج١٢ ص٦٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: په دې مقام کښې د اوليت لاندې معناوې کېدلی شي[1]:

الف: دوی د فرعون د اتباعو څخه اولني مؤمنان وګرځېدل.

ب: په عام محضر کښې دوی د هر چا څخه په ايمان راوړلو کښې مخکښې جوړ شوه.

ج: دوی هغه خلک وه کومو چې د فرعون په وړاندې په جرئت سره د موسی ﷺ په نبوت باندې اعتراف وکړ، څه لرې نه ده چې که په دغه وخت کښې آسيه (د فرعون مېرمن) رضي الله عنها يا د فرعون د قوم څخه يو مؤمن سړی په ايمان باندې مشرف شوي وي نو د هغوی ايمان به لا نوموړي متکبر ته نه وه څرګند شوی.

د: د دوی د اوليت څخه د امامت معنی مطلب وه، يعنې مونږ په ايمان راوړلو سره په غټه اجتماع کښې د ايمان راوړلو بنسټ اېښودونکي ياستو.

ه: بالآخره دا هم څه لرې نه ده چې هغوی خپلو ځانونو ته د اوليت لقب د خپلو معلوماتو په وجه ورکړی وي، چې دوی ته به نه وه معلومه چې پخوا لا بل چا ايمان راوړی دی، والله ﷻ أعلم.

﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِىٓ إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَـٰشِرِينَ ﴿٥٣﴾ إِنَّ هَـٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿٥٤﴾ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴿٥٥﴾ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَـٰذِرُونَ ﴿٥٦﴾ فَأَخْرَجْنَـٰهُم مِّن جَنَّـٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ وَأَوْرَثْنَـٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾ ﴾

[۵۲] او مونږ موسی ﷺ ته وحې وکړه چې د شپې (په تياره کښې) زما بندګان (د مصر څخه روان کړه (خو خبر اوسئ چې) يقينًا تاسو تعقيب کړی شوي ياست (فرعونيان درپسې در روان دي).

[۵۳] نو (دوی په شپه کښې د مصر څخه روان شوه او) فرعون په خپلو ښارونو کښې راغونډوونکي (پوليس) ولېږل (خواره کړه چې لښکريان راغونډ کړي).

[۵۴] (د فرعون د پلوه خلکو ته وويلی شو چې:) يقينًا دغه (بني اسرائيل) هرومرو يوه لږه (وړه) ډلګۍ ده.

[۵۵] او (د دغې کمزورۍ سره-سره) دوی مونږ لره (په خپلو ځانونو باندې) غُصه کوونکی دی (مونږ يې په غُصه کړي ياستو نو غواړو چې خپله غُصه ورباندې سره کړو).

[۵۶] او يقينًا مونږ ټول ويښ (بېدار او هم مسلح) ياستو (د احتياط څخه پوره کار اخلو).

[۵۷] نو (فرعونيانو لښکر تيار کړ او بني اسرائيل يې تعقيب کړه چې په دغې طريقې سره) مونږ دوی د باغونو او چينو (جاري اوبو) څخه وويستل.

---

(١) اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص٢٨؛ تفسير المظهري ج٧ ص٦٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[٥٨] او (هم مو) له خزانو او با کرامته مقامونو (څخه اخراج کړه چې دوی به پرې فخر کاوه).

[٥٩] (ای پیغمبره! مونږ د فرعونیانو څخه باغونه او نور شیان) دغه ډول (واخستل) او بني اسرائیلو ته مو نوموړي شیان (بالمثل) وریا ورکړه.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د فرعون او فرعونیانو انجام ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! د ذکرو شوو دوه وو معجزاتو څخه علاوه موسی ﷺ فرعونیانو ته خپلې نورې معجزې هم وخت په وخت وښودلې مګر هغوی پرې باور ونه کړ او نتیجه یې دا شوه چې:

١ـ مونږ موسی ﷺ ته وحې وکړه چې د شپې-شپې په توره تیاره کښې زما بندګان (بني اسرائیل) د مصر څخه روان کړه او حرکت ورکړه، خو تاسو ټول په دې باندې پوه شئ چې فرعون تاسو بې تعقیبه نه پرېږدي او ضرور درپسې در روانېږي خو تاسو به خپله حوصله نه خرابوئ او وارخطاکېږئ به نه.

٢ـ کله چې موسی ﷺ زمونږ د هدایت په مطابق خپلو قومیانو ته حرکت ورکړ نو فرعون داسې کړنلاره خپله کړه چې په خپلو ټولو ښارونو (په خپل ټول قلمرو) کښې یې پولیس خواره کړه، خو دا ځل یې د جادوګرانو په عوض د خپل رعیت مخور کسان او جنګیالي منصبداران راغونډ کړه او خلکو ته یې وویلې چې:

الف: دغه د موسی ﷺ ډله وره ډله ده او د ورانکارۍ د کبله یې مونږ تر پوزو رسولي یاستو، زمونږ د دین تقبیح وایي او غواړي چې خلک بې لارې کړي.

ب: دغه وره ډله پخوا هم دلته په مصر کښې اوسېدله خو په فساد کښې یې ګوتې نه وهلې نو مونږ هم ورباندې څه غرض نه کاوه، دا چې نن ورته مونږ په غُصه یاستو دا ټوله ګناه په همدوی باندې ده، همدوی خپلو خانونو ته مونږ په غُصه کړي یاستو او درګرده غُصه مو لا نوره هم اضافه کوي.

ج: دا دی دوی غواړي چې د مصر څخه ووخي او زمونږ په مقابله کښې یوه جنګي جبهه جوړه کړي، ترڅو مونږ د دې وطن څخه وشړي او پخپله پکښې حکومت وچلوي، یا په بل عبارت: دوی غواړي چې د خپل نیکه (یوسف ﷺ) حکومت راژوندی کړي.

د: خو په دې مطلب کښې به هیڅکله کامیاب نه شي، ځکه چې مونږ ټول مسلح یاستو او هغوی خلع سلاح دي، مونږ هوښیار یاستو خپله آینده سنجولی شو (د دوی په شومو اغراضو باندې پوهېږو).

هـ: نو تاسو ټول راغونډ شئ چې مخه یې ونیسو او بېرته یې مصر ته راستانه کړو ترڅو د پخوا په شان زمونږ په خدمت کښې مشغول وګرځي.

٣ـ نو د موسی ﷺ او د بني اسرائیلو د تعقیب دپاره فرعون ښه غټ لښکر چمتو کړ او خپل لوی-لوی منصبداران یې پکښې شامل کړه. نو:

الف: پخپله فرعون د لښکر دپاره د اعلی قومندان په حیث په اول سر کښې روان شو او د مصر څخه د قلزم د بحیرې په لور وخوځید. کوم لور ته چې موسی ﷺ او د ده ﷺ ملګري لا پخوا روان شوي وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: په دغه ډول سره مونږ فرعونيان د مصر څخه وويستل او باغونه او چيني او هم خزانې او باكرامته خايونه او ماڼۍ مو ترې پاتې كړې، چې بېرته ورته راستانه نه شوه.

ج: اى پيغمبره! مونږ دغسې كارونه هم كوو، او لويو-لويو متكبرانو ته دغسې ماتې وركوو.

د: مونږ د فرعونيانو څخه باعزته ژوند واخست او بني اسرائيلو ته مو ورپا وركړ، او دا ځكه چې دوى توان نه درلود چې د فرعون د غلامۍ څخه خانونه خلاص كړي او يا يې د منځه يوسي خو دا كارونه مونږ په قدرتي توګه وكړه.

## توضيحات

١ـ مونږ د [الشعراء:١٨] ايت لاندې ليكلي دي ـوالحمد لله ﷻـ چې موسى ﷺ فرعونيانو ته دبرش كاله دعوت وچلاوه، خو څه نتيجه يې ورنه كړه چې په ايمان مشرف شوي وى، بلكې په انجام كښې ټول غرق شوه چې په همدې ايتونو كښې ورته اشاره شوې ده.

## بيا پوليس واستول شوه

٢ـ په ﴿ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِى ٱلْمَدَآئِنِ حَـٰشِرِينَ ﴾ كښې اشاره ده چې فرعون خپل پوليس دوه ځله د خپل مملكت په ټولو ښارونو كښې خواره كړي او لېږلي وه، اول ځل يې د دې دپاره استولي وه چې ښه تكړه جادوګران ورته راغونډ كړي، چې په [الشعراء:٣٦] ايت كښې ورته اشاره شوې ده؛ او دوهم ځل يې د دې دپاره استولي وه چې جنګي خلك او تكړه منصبداران ورته راغونډ كړي. داسې معلومېږي ـوالله ﷻ أعلمـ چې دا ځل به يې لښكري چونيو ته پوليس استولي وي چرته چې د هغوى استوګنځايونو شتون درلود.

## د څو لغاتو معناوې

٣ـ په دې مقام كښې د لاندې لغاتو معناوې د نظره تېرې كړې:

الف: په ﴿ إِنَّ هَـٰٓؤُلَآءِ لَشِرْذِمَةٌ ﴾ كښې د "شِرْذِمَة" كلمه د "قَلِيل" د معنى دپاره وضعه شوې ده[١]، نو كله چې د ﴿ قَلِيلُونَ ﴾ په كلمه باندې توصيفه شوې هم ده نو ډېره وړه ډله ترې مرادېږي، يعني دغه بني اسرائيل ډېر زيات لږ خلك دي او مونږ زښت ډېر ياستو.

ب: په ﴿ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَآئِظُونَ ﴾ كښې د "غَائِظُون" كلمه د "غَيْظ" څخه اشتقاه شوې ده چې د شديدې غُصې معنى وركوي او باب يې متعدي (غاظه، يغيظه، غيظًا) جوړېږي[٢]، نو حاصل يې داسې راځېږي چې: بني اسرائيل وړوكى ټولګى دى، تر اوسه پورې چې دوى ژوندي پاتې وه بل څه وجه نه وه فقط زمونږ حوصله او زغم وه چې دوى ته يې فرصت وركړى وه، دوى په دوامداره توګه مونږ په

(١) لسان العرب ج١٢ ص٣٢٢

(٢) القاموس المحيط ج٣ ص٤٣٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غُصه کوي نو آخر يې مونږ مجبور کړو چې خپله غُصه ورباندې سړه کړو او انتقام ترې واخلو، نو تاسو تکړه جنګيالان يو هم په کور کښې پاتې نه شئ او ټول راغونډ شئ چې هغوی تعقيب کړو.

ځينو علماوو کرامو د فرعونيانو د هغه لښکر تعداد ډېر غټ ښودلی دی کوم چې د موسی ﷺ په تعقيب پسې خوځېدلی وه[1]، که څوک يې د لوستلوشوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

ج: په ﴿ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَٰذِرُونَ ﴾ کښې د ﴿ حَٰذِرُونَ ﴾ کلمه د "حِذر" ـلکه "عِلم" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې لاندې دوه معناوې درلودلی شي[2]:

اول: چې "حِذر" د بېدارۍ او هوښيارۍ معنی ورکړي، يعنې مونږ ټول ويښ او بېدار او هم هوښيار او احتياط کاري خلک ياستو، مونږ د خپل مملکت څخه د خطر مخنيوی کولی شو، د لښکرو سوق کول زمونږ د ډار نښه نه بلکې د احتياط کارۍ نښه ده.

دوهم: چې "حِذر" د وسلې (سلاح) معنی ورکوي، يعنې مونږ ټول مسلح (وسلوال) ياستو او د چا د تعقيب پسې چې مونږ ملاوې تړلې دي هغوی ټول بې وسلې (خلع سلاح) دي، هغوی زمونږ په مقابل کښې هيڅکله هم مقاومت نه شي کولی، نو تاسو په ډاډه زړه هغوی تعقيب کړئ.

که څه هم ذکرې شوې دواړه معناوې سره څه منافات نه لري مګر د فرعونيانو د تکبر او غرور سره اوله معنی ډېره ښه سلښت نيسي، چې په دغو خبرو سره يې په خپلې وارخطايۍ باندې پرده اچوله.

## يو اعرابي تحليل

۴ـ د ﴿ كَذَٰلِكَ ﴾ د کلماتو په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد تحليلونه کړي دي، خو کوم تحليل چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې دغه کلمات د مقدر "أَخَذْنَا" دپاره مفعول واقع شوي دي او فعليه جمله تشکيلوي چې د ﴿ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ فعليه جمله ورباندې عطفه ده. نو حاصل يې داسې راځېږي چې: مونږ د فرعونيانو څخه په دغسې طريقې سره باغونه او فاخره مکانونه او نور شيان واخستل او بني اسرائيلو ته مو بالمثل ورکړه.

## ايا بني اسرائيل مصر ته ستانه شوه؟

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَأَوْرَثْنَٰهَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ کښې د "هَا" بارز منصوب ضمير د "جَنَّات، عُيُون، كُنُوز، مَقَام كَرِيم" مجموعې ته راجع دی، نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ذکر شوي شيان مونږ د فرعونيانو څخه واخستل او بني اسرائيلو ته مو ورکړه. نو پوښتنه دا ده چې بني اسرائيل خو د فرعونيانو د غرق څخه وروسته د سينا (تيه) په بيديا کښې بند پاتې شوه او بېرته مصر ته ستانه نه شوه، لکه چې په همدې خبره باندې د قرآن کريم زښت ډېر ايتونه دلالت کوي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

---

(۱) روح المعاني ج۱۹ ص۸۱

(۲) تفسير الكشاف ج۳ ص۳۱۵؛ القاموس المحيط ج۳ ص۴۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ﴿ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡأَرۡضَ ٱلۡمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِي كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡ ﴾ [المائدة: ٢١] الآيات، يعني د سينا په بيديا کښې موسی ﷺ خپل قوم مخاطب کړ چې: ای زما قومه! تاسو هغې مقدسې خمکې (شام) ته په جهاد سره ورداخل شئ کومه چې الله ﷻ ستاسو دپاره په خپل علم کښې تاکلې ده او وعده يې درکړې ده.

ب: ﴿ وَجَٰوَزۡنَا بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٖ يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡ ﴾ [الأعراف:١٣٨] الآيات يعنې مونږ بني اسرائيل د بحر (قلزم) څخه هغې خوا ته ورتېر کړه، نو دوی هلته په يو قوم باندې ورغله چې د خپلو بوتانو په عبادت باندې کلک ولاړ وه. نو دوی د موسی ﷺ څخه وغوښتل چې مونږ ته هم دغسې يو معبود ودروه لکه چې دغه قوم يې لري.

لنډه دا چې د سينا د بيديا پېښې ټولې دلالت کوي چې بني اسرائيل بېرته مصر ته نه دي ستانه شوي، چې د قرآن کريم په متعددو ايتونو کښې ورته اشارې شوې دي.

مونږ وايو چې: علماوو کرامو ذکر شوي سوال ته متعدد جوابونه کړي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: ځينې علماء کرام د سينا د بيديا واقعات بالکل ناليدلي نيسي او وايي چې: د فرعونيانو د غرق څخه وروسته بني اسرائيل په مصر باندې قابض شوي دي[١].

يا به د دوی نظر دا وي چې بني اسرائيل د مصر د دورې څخه وروسته د سينا بيديا ته تللي دي او هغو واقعاتو پکښې صورت نيولی دی کوم چې په قرآن کريم کښې خای په ځای بيان شوي دي ـ والله ﷻ أعلم ـ او يا به دوی د هغه چا قول راجح ګڼي څوک چې د درياب په قوسي انفلاق باندې قائل دي[٢]، چې موسی ﷺ او د ده ملګرو ته په درياب کښې د الله ﷻ په کامل قدرت سره داسې کوڅې جوړې شوې چې دواړه طرفونه يې مصر ته وتلي وه، نو بني اسرائيل همغې وچې ځمکې ته ورغله د کومې څخه چې په درياب کښې ورښکته شوي وه، او فرعونيان په همدغو قوسي دريابي کوڅو کښې غرق شوه.

دوهم: ځينې علماء کرام وايي چې: د ﴿ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا ﴾ مطلب دا نه دی چې سمدستي بني اسرائيل مصر ته ورستانه شوه او د فرعونيانو باغونه او نور شيان يې تملک کړه، بلکې مطلب يې دا دی چې د زمانې په اوږدو کښې همدغه کار صورت ونيوه، چې د سليمان ﷺ سلطنت ـ چې د بني اسرائيلو څخه وه ـ مصر ته هم شامل شوی وه[٣].

دريم: ځينې نور علماء کرام د ذکرو شوو دواړو قولونو ترمنځ په تطابق باندې قول کوي چې: د فرعونيانو د غرق څخه وروسته بني اسرائيل په دوه وو ډلو باندې وويشلی شوه، ځينې بېرته مصر ته ستانه شوه، او ځينې نور د موسی ﷺ سره د سينا بيديا ته لاړه او بيا د يوشع ﷺ په زمانه کښې د جهاد په برکت په شام باندې قابض شوه.

---

(١) تفسير القرطبي ج١٣ ص١٠٥
(٢) المحرر الوجيز ج١٢ ص٦٥؛ روح المعاني ج١٩ ص٨٧
(٣) المحرر الوجيز ج١٢ ص٦٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځلورم: ځينې وايي چې: د ﴿ وَأَوۡرَثۡنَٰهَا ﴾ معنی دا ده چې مونږ د فرعونيانو ځخه باغونه او نور شيان پاتې کړه او دوی مو پوپنا کړه خو بني اسرائيلو ته مو بالمثل باغونه او نور شيان د شام په ځمکه کښې ورکړه[1]. نو په دې قول سره د "هَا" ضمير مطلقو باغونو او نورو شيانو ته راجع دی، نه مشخصو ته.

دا ډول استعمال په ټولو محاورو کښې موندل کېږي، لکه چې يوه پښتون شاعر ويلي دي چې[2]:

ځوک له خاورو ايرو پاځوي تخت ورکا :: ځوک له تخته د ايرو په ډېران ولي

پوره واضحه ده چې په دغه شعر کښې مشخص تخت او مشخص ډېران مطلب نه دی، بلکې مطلب دا دی چې الله ﷻ چاته عزت ورکوي (په تخت يې کېنوي) او ځوک توهينوي (له تخته يې کوزوي)، ته به وايې چې د ايرو په ډېران يې غورځولی دی.

## تبصره

٦_ الله ﷻ د خپل کتاب په مراد باندې ډېر ښه پوهېږي خو مونږ ته داسې برېښي چې په ايت شريف کښې به د ذکرو شوو ځلورو اقوالو ځخه دوهم او ځلورم قول ته اشاره وي. دا ځکه چې الله ﷻ د جهاد په برکت بني اسرائيلو ته د زمانو په اوږدو کښې هم د شام برکتناکه ځمکه ورکړې ده او هم يې د سليمان ؑ په سلسله د مصر په ځمکه باندې قابض ګرځولي دي، لکه چې همدې مطلب ته د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:١٣٧] ايت لاندې اشاره شوې ده.

﴿ فَأَتۡبَعُوهُم مُّشۡرِقِينَ ﴿٦٠﴾ فَلَمَّا تَرَٰٓءَا ٱلۡجَمۡعَانِ قَالَ أَصۡحَٰبُ مُوسَىٰٓ إِنَّا لَمُدۡرَكُونَ
﴿٦١﴾ قَالَ كَلَّآۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهۡدِينِ ﴿٦٢﴾ فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ
فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٦٣﴾ وَأَزۡلَفۡنَا ثَمَّ ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٤﴾ وَأَنجَيۡنَا مُوسَىٰ وَمَن
مَّعَهُۥٓ أَجۡمَعِينَ ﴿٦٥﴾ ثُمَّ أَغۡرَقۡنَا ٱلۡأٓخَرِينَ ﴿٦٦﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ
﴿٦٧﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٦٨﴾ ﴾

[٦٠] نو فرعونيان په بني اسرائيلو پسې (روان) شوه (او) په داسې حال کښې (ور ورسېدل) چې هغوی د لمر د ختلو په وخت کښې داخلېدونکي وه (تازه لمر راختلی وه).

[٦١] نو کله چې دواړو ډلو يوه بله ولېده نو د موسی ؑ ملګرو (ډلې) وويلې چې: يقيناً مونږ هرو مرو موندلی شوي (نيولی شوي) ياستو (د نجات لاره نشته).

---

(١) روح المعاني ج١٩ ص٨٣

(٢) د عبد الرحمن مومند ديوان ص٢٥٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۲] موسی ﷺ (ورته ډاډ ورکړ او ورته یې) وویلې چې: دغسې نه ده یقینًا زما سره خپل رب ﷻ (په نصرت سره ملګری) دی، ژر ده چې (د نجات لاره به) راته وښایي

[۶۳] نو مونږ موسی ﷺ ته وحې وکړه چې په خپله همسا سره دریاب ووهه، نو (دریاب یې وواهه او سمدستي) وچاود (ټوټې-ټوټې شو او خای په خای ودرېد او کوڅې پکښې جوړې شوې)، نو هره یوه ټوټه یې د ډېر لوی غره غوندې وګرځېدله (په بل عبارت: د اوبو دیوالونه جوړه شوه).

[۶۴] او مونږ همدغه خای ته نور خلک (فرعونیان) ورنژدې کړه (د ببرته ستنېدلو توان مو ورنه کړ چې وتښتي).

[۶۵] او مونږ موسی ﷺ ته او هغو ټولو کسانو ته (د فرعونیانو او هم د غرق څخه) نجات ورکړ کوم چې د ده ﷺ سره ملګري وه.

[۶۶] بیا مو نور خلک (فرعونیان ټول په دریاب کښې) غرق کړه.

[۶۷] یقینًا په دغه (ذکر شوي بیان) کښې (زما د قدرت او ستا د نبوت) عظیم الشانه نښه (پټه پرته) ده، حال دا دی چې په (هره زمانه کښې) د خلکو اکثریت ایمان راوړونکي نه دي.

[۶۸] او یقینًا (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ هرو مرو همدې د کلکې ارادې خاوند (او هم) ډېر مهربان دی (چې سمدستي کفار نه هلاکوي او د توبې فرصت ورکوي).

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! د موسی ﷺ د تعقیب دپاره فرعون ښه غټ لښکر تیار کړ نو:

۱ـ په تعقیب پسې یې روان شوه، آن تر دې چې د لمر خاته په وخت کښې هغوی ته ور ورسېده، او د خپل قابر لاندې یې واقع کړه.

۲ـ نو کله چې لږ څه ښه ورنژدې شوه او دواړو ډلو سره یو تربله ولیده، نو فرعونیان ډېر خوشاله شوه چې دغه دی اوس خپل مطلب ته ورسېدو، او بني اسرائیل ډېر خپه او غمګین شوه چې د یو پلوه د دښمن مجهز لښکر راروان دی او د بله پلوه لوی دریاب په وړاندې ښهېږي چې تېرېدل ترې ممکن نه دي.

نو د همدې کبله یې موسی ﷺ ته خپل غم او اندېښنه څرګنده کړه چې: یقینًا مونږ موندلی شوي کسان یاستو، او په سات ګړی کښې به د فرعونیانو په اسارت کښې واقع شو.

۳ـ موسی ﷺ خپلو ملګرو (بني اسرائیلو) ته ډاډ ورکړ چې: دغسې نه ده لکه څنګه چې تاسو خیال کوئ او دا خکه چې زما سره خپل رب ﷻ ملګری دی، مونږ د همده ﷻ په توصیه باندې دغه طرف ته راوتلي یاستو، بالآخره زما د رب خبره ربښتیا شوه (چې فرعونیان به مونږ تعقیب کړي) نو تاسو هیڅ مه خپه کېږئ ډېر ژر دی چې ماته به خپل رب ﷻ د نجات لاره را معلومه او څرګنده کړي.

۴ـ نو په همدغه وخت کښې مونږ موسی ﷺ ته وحې وکړه او د نجات لاره مو ورته وښودله چې:

الف: ای موسی! ته په خپلې همسا سره دریاب ووهه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: موسى ﷺ په خپلې همسا باندې درياب وواهه چې د وهلو سره سم يې انفلاق وکړ او وچاود او ټوټې-ټوټې شو. نو:

ج: هره يوه ټوټه د يوه لوی غره په شان ودرېده او متعددې کوڅې پکښې جوړې شوې، او سمدستي د ختو څخه وچې هم شوې.

د: بيا مونږ موسى ﷺ ته وحې وکړه چې د نجات دپاره د خپلو ملګرو سره په دغو دريابې کوڅو او لارو کښې درياب ته ورننکته شي؛

ه: نو دوی د هدايت سره سم درياب ته ورننکته شوه او په عين حال کښې مونږ هغه نور (فرعونيان) همدغه ځای ته ورنژدې کړه او بيا مو جرئت ورکړ چې بني اسرائيل د درياب په داخل کښې تعقيب کړي. نو:

و: نتيجه دا شوه چې موسى ﷺ او ورسره ملګرو ته مو په مجموعي ډول نجات ورکړ، چې روغ رمټ د درياب بلې خواته پورېواته او د دښمن او د درياب دواړو څخه خلاص او بچ شوه. اما کله چې د فرعوني لښکر وروستنی نفر دريابې کوڅو ته ورداخل شو او اولنی نفر يې لا د درياب بلې خوا ته نه وه رسېدلی نو په دغه وخت کښې مو درياب ته امر وکړ چې په خپل طبعي حالت باندې وبهېږي، نو په نتيجه کښې فرعونيان د ځرمې غرق شوه او يو نفر يې هم ژوندی پاتې نه شو.

۵ـ ای پيغمبره! د ذکرې شوې قيصې په بيان کښې ستا د نبوت ډېر لوی عظيم الشان دليل نغښتی دی، ځکه چې ته خو د هغو جرياناتو په وخت کښې حاضر نه وې چې موسى ﷺ د نبوت منصب ترلاسه کړ او بيا يې د فرعون په دعوت باندې لاس پورې کړ، ته خو نه د مقابلې په ميدان کښې حاضر وې او نه دې د فرعون د غرقېدلو په وخت موجوديت درلود، نو ځرګنده شوه چې ته په حقه پيغمبر يې او کوم بيانات چې تا ورکړه هغه ټول تاته د خپل رب ﷻ د پلوه وحې شوي دي. خو د دغو ځرګندو دلايلو سره-سره ستا د زمانې د کفارو څخه اکثريت ايمان نه راوړي او ستا په نبوت باندې نه معتقد کېږي، ځکه چې دا په هره زمانه کښې د خلکو عادت دی.

۶ـ ای پيغمبره! يقيناً چې ستا رب ﷻ همدی د کلکې ارادې خاوند دی هېڅوک يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، نو که اراده وکړي ستا د زمانې په کفارو باندې به هم د فرعونيانو په څېر مهلک حالت ورنازل کړي، خو د دې سره-سره رحيم او ډېر مهربان هم دی چې دوی ته د تفکر دپاره فرصت ورکوي او تعذيب يې ټالوي؛ نو دوی ته په کار دي چې د همدغه فرصت څخه ګټه پورته کړي او په ايمان باندې مشرف شي.

## توضيحات

۱ـ په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د نبوت په لومړي مرحله کښې موسى ﷺ ويلي وه چې: ﴿ رَبِّ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴾ [الشعراء: ١٢] يعني ای زما ربه! زه داړېږم چې فرعونيان به ماته د دروغژن نسبت وکړي (زه تمه نه لرم چې ايمان به راباندې راوړي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځرنګه چې موسی ﷺ ته د هغوی تکبر ښه ځرګند وه او خوی (عادت) یې ورته ښه معلوم وه، نو په نتیجه کښې د ده خبره رښتیا شوه چې هغو ځو معدودو کسانو وربانديې ایمان راوړ کومو ته چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس:۸۳] ایت لاندې اشاره کړې ده، او نورو ټولو وربانديې کفر غوره کړ او د هلاکت سره مخامخ شوه.

ب: د فرعونیانو د پلوه د موسی ﷺ تعقیب د قریشو (مشرکانو) تعقیب ته ورته وه چې د مکې معظمې څخه د نبي کریم ﷺ د مقابلې دپاره آن د بدر مقام ته ورغله، نو هغوی د غرق سره مخامخ شوه او دوی د فاحش شکست سره لاس او ګرېوان شوه.

ج: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۱۳۶] ایت لاندې تحقیق کړی دی چې فرعونیان د نیل په رود (سیند) کښې نه بلکې د قلزم په بحیره کښې غرق شوي دي، چې بیا تحقیقولو ته یې اړتیا نه ګورو.

## طَوْد څه معنی؟

۲_ په ﴿ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَٱلطَّوْدِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ کښې د "طَوْد" کلمه د لوی غره دپاره وضعه شوې ده[۱]، خو کله چې په دې مقام کښې په ﴿ ٱلْعَظِيمِ ﴾ باندې توصیفه شوې ده نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: د دریاب هره یوه ټوټه په لویو غرونو کښې د ډېر لوی غره غوندې وګرځېدله.

## په دریاب کښې دولس کوڅې جوړې شوې

۳_ که څوک وایي چې: د دغو بحري ټوټو شمېر څومره ته رسېدلی وه؟

مونږ وایو چې: د ټوټو په شمېر او نورو کیفیاتو کښې یې ځینو تفاسیرو ډېر اوږد بحث کړی دی[۲] که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ فقط همدومره لیکو چې د ټولو شمېر چې هرڅو ته رسېدلی وي، وي به، مګر د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما او هم د عبد الله بن مسعود ﷺ په روایت د کوڅو تعداد دولسو ته رسېده[۳]، لکه چې پخپله بني اسرائیل دولس قومه وه چې د یعقوب ﷺ د دولسو زامنو اولاده وه، او د هر قوم دپاره جدا کوڅه ټاکلې شوې وه.

خو الله ﷻ دغه دولس لارې (کوڅې) سمدستي د ختو څخه هم وچې کلکې وګرځولې، تا به ویل چې هیڅکله وربانديې اوبه نه دي تېرې شوې[۴]. الله ﷻ همدغه وچوالي ته اشاره کړې ده چې: ﴿ فَٱضْرِبْ لَهُمْ طَرِيقًا فِى ٱلْبَحْرِ يَبَسًا ﴾ [طه:۷۷] یعنې مونږ موسی ته وحي وکړه چې: زما بندګان د مصر څخه د شپې روان کړه او په دریاب کښې ورته وچه لاره ووهه (جوړه کړه).

خلک د همدغو کوڅو په هکله سره وایي چې: هغه کومه خمکه ده چې په ټول عمر کښې وربانديې فقط یو ځل لمر لګېدلی دی؟ نو هغه د همدغو کوڅو خمکه ده چې یوځل په لمر سره وچه شوې ده.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۱۸
(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۸۶
(۳) الدر المنثور ج۶ ص۳۰۱؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۳۶
(۴) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې په ﴿ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴾ کښې د "هُمْ" ضمير کومو خلکو ته راجع دی؟ يا په بل عبارت: د فرعونيانو اکثريت ايمان راوړونکي نه وه او که د نبي کريم ﷺ د زمانې د کفارو اکثريت ايمان راوړونکي نه دي؟

مونږ وايو چې:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې: ذکر شوی د "هُمْ" ضمير فرعونيانو ته راجع دی[1]، يعنې الله ﷻ مونږ ته خبر راکړی دی چې د هغوی اکثريت ايمان راوړونکی نه وه. شايد چې دغه ډله علماء کرام به د ﴿ كَانَ ﴾ په کلمه باندې استدلال نيسي چې د ماضي صيغه ده او په تېره زمانه باندې دلالت کوي[2].

ب: ځينې علماء کرام وايي چې: نوموړی ضمير د نبي کريم ﷺ دعوتي أُمت ته راجع دی[3]، يعنې ای پيغمبره! دغه ذکره شوې قيصه ستا د نبوت د اثبات دپاره ډېر ښه څرګند دليل دی او د دې زمانې د کفارو دپاره ډېر ښه عبرتي درس دی، خو د دوی اکثريت ايمان راوړونکی نه دی، چې ستا نبوت قبول کړي او عبرتي درس ترې واخلي.

همدا مضمون په بل ايت کښې داسې منعکس شوی دی چې: ﴿ وَمَآ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ ﴾ [يوسف:١٠٣] يعنې ای پيغمبره! که څه هم ته د خلکو په ايمان باندې ډېر حرص کوې چې په ايمان باندې مشرف شي، مګر حقيقت دا دی چې په يوه زمانه کښې هم د خلکو اکثريت ايمان راوړونکی نه دی.

### تبصره

۵_ ځينو مفسرينو کرامو د ذکر شوي ضمير په مرجع کښې ډېر اوږد بحث کړی دی[4]، مګر کوم شی چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې:

الف: د "كَانَ" کلمه کله-کله د استمرار دپاره هم استعمالېږي[5]، لکه چې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَكَانَ ٱلْإِنسَـٰنُ كَفُورًا ﴾ [الإسراء:٦٧] يعنې انسان په دوامداره توګه ناشکره دی.

ب: زمونږ په فکر ذکر شوی ضمير مطلق انسان ته راجع دی چې ذکرو شوو دواړو نظرونو ته شامل دی، نو ضرورت نشته چې يوې زمانې پورې اختصاص ورکړو.

يعنې ای پيغمبره! مطلق انسان ناشکره دی د همدې کبله نه په موسی ﷺ باندې د خپلې زمانې

---

(١) تفسير المظهري ج٧ ص٦٩

(٢) التفسير الكبير ج٢۴ ص١۴١

(٣) تفسير ابي السعود ج٦ ص٢۴٦

(۴) روح المعاني ج١٩ ص٩٠

(۵) لسان العرب ج٣ ص٣٦٧؛ مفردات الراغب ص۴٦١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د اکثریت خلکو ایمان راوړ او نه به په تابانديې د دوی اکثریت ایمان راوړي، که څه هم ته ورته بې شمېره معجزې او د خپل نبوت دلایل ورڅرګند کړې.

## یادونې

۶ـ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو ډېر څه لیکلي دي که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې ورته مراجعه وکړي، مونږ ته یې دلته رانقلول ګټور څرګند نه شوه نو د همدې کبله یې مونږ محض په نوملیک باندې اکتفاء کوو هغه دا چې:

الف: أمیر المؤمنین عمر ﷺ د مصر رودنیل ته خط لیږلی وه چې وچلېږه او هغه یې اطاعت کړی وه[۱].

ب: موسی ﷺ چې کله د مصر څخه د شام په لور روان شوی وه نو د یوسف ﷺ د هډوکو تابوت یې هم د خپله ځانه سره نقل کړی وه[۲].

ج: د نظربندی او چالاکی زښتې ډېرې عجیبې قیصې[۳].

﴿وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ إِبۡرَٰهِيمَ ﴿٦٩﴾ إِذۡ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦ مَا تَعۡبُدُونَ ﴿٧٠﴾ قَالُواْ نَعۡبُدُ أَصۡنَامٗا فَنَظَلُّ لَهَا عَٰكِفِينَ ﴿٧١﴾ قَالَ هَلۡ يَسۡمَعُونَكُمۡ إِذۡ تَدۡعُونَ ﴿٧٢﴾ أَوۡ يَنفَعُونَكُمۡ أَوۡ يَضُرُّونَ ﴿٧٣﴾ قَالُواْ بَلۡ وَجَدۡنَآ ءَابَآءَنَا كَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ﴿٧٤﴾ قَالَ أَفَرَءَيۡتُم مَّا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ ﴿٧٥﴾ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلۡأَقۡدَمُونَ ﴿٧٦﴾ فَإِنَّهُمۡ عَدُوّٞ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾ ٱلَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهۡدِينِ ﴿٧٨﴾ وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ ﴿٧٩﴾ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ﴿٨٠﴾ وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ ﴿٨١﴾ وَٱلَّذِيٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾﴾

[۶۹] او (ای پیغمبره!) په خپل اُمت باندې د ابراهیم ﷺ مهم خبر (مهمه قیصه) ولوله.

[۷۰] کله یې چې خپل پلار (آزر) او خپل قوم ته وویلې چې: هغه څه شی دی چې تاسو یې عبادت کوئ؟

[۷۱] هغوی وویلې چې: مونږ د بوتانو عبادت کوو او په دوامداره توګه ورته په عبادت سره ودرېدونکي یاستو (مونږ ته ډېر درانه دي).

[۷۲] ابراهیم وویلې چې: ایا تاسو ته خپل بوتان اورېدل کوي چې کله یې تاسو بلئ؛ (ستاسو سوالونه اوري)؟

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۳ ص۱۰۳
(۲) الدر المنثور ج۶ ص۲۰۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۳۵
(۳) الجواهر للطنطاوي ج۱۴ ص۳۰_۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۳] (او) یا تاسو ته (د عبادت په صورت کښې) ګټه رسوي، (او) یا (درته د عدم عبادت په صورت کښې) زیان او تاوان) رسوي؟

[۷۴] هغوی (نمرودیانو) وویلې چې: (نه) بلکې مونږ خپل پلرونه موندلي دي چې دغه ډول (عبادت) به یې کاوه.

[۷۵] ابراهیم ﷺ وویلې چې: ایا نو تاسو ګورئ (پوهېږئ؟ بلکې وپوهېږئ!) هغه شیان چې تاسو یاست چې عبادت یې کوئ.

[۷۶] تاسو او ستاسو پخواني پلرونه (هم وه چې د دوی عبادت به یې کاوه).

[۷۷] نو یقینًا دوی (دغه ټول بوتان) زما دپاره دښمنان دي، مګر رب العالمین (ﷻ، چې ستاسو معبود نه دی زما معبود دی او زما کارساز دی او دا ښکاره.)

[۷۸] رب العالمین ﷻ هغه اقدس ذات دی چې زه یې پیدا کړی یم نو همدی ﷻ راته (د دنیا او آخرت) سمه لاره ښایي.

[۷۹] او هغه اقدس ذات دی چې ماته خوراک راکوي او ماته څښاک راکوي (زما اړتیاوې پوره کوي).

[۸۰] او چې کله زه مریض (ناروغ) شم نو همدی ﷻ شفاء راکوي.

[۸۱] او هغه اقدس ذات دی چې ما مړ کوي (زما روح قبض کوي) بیا به مې (د قیامت په ورځ بېرته) ژوندی کړي.

[۸۲] او هغه اقدس ذات دی چې زه (ورته) تمه لرم چې د جزا په ورځ به راته زما ګناه وبښي (او د خلاف الاولی کارونو څخه به راتېر شي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د موسی ﷺ او د فرعونیانو د قیصې په تعقیب د ابراهیم ﷺ (رئیس الموحدین) او د نمرودیانو د قیصې ځینې نکات حکایت شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس د عبرت دپاره په خپل اُمت باندې عمومًا او د مکې په مشرکانو باندې خصوصًا (چې خپل ځانونه ابراهیمي دین ته منسوب بولي) د ابراهیم ﷺ او د نمرودیانو د قیصې ځینې مهم ټکي قرائت کړه چې:

۱ـ هغه وخت ورياد کړه چې کله ابراهیم ﷺ خپل پلار او خپل قوم (نمرودیانو) ته په تحقیر آمېزه لهجه وویلې چې: هغه څه شیان دي چې تاسو یې عبادت کوئ؟ هغه څه ارزښت لري؟ ایا تاسو پخپله د هغو څخه بهتر نه یاست؟ چې خبرې کولی شئ او ارډېل مو په توان کښې شته دي.

۲ـ هغوی (په جواب کښې) وویلې چې: مونږ د خپلو بوتانو عبادت کوو، چې مونږ ته دومره ګران او معزز دي چې په دوامداره توګه ورته په عبادت باندې ولاړ یاستو او په هیڅ وخت کښې ترې غفلت نه کوو، ته هم باید زمونږ د بوتانو سپکاوی ونه کړې، چې چرته درته په غُصه نه شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ابراهیم ﷺ بیا هغوی ته پوښتنې راجع کړې چې:

الف: ایا کله چې تاسو خپل بوتان وبلئ او اواز ورته وکړئ، نو هغوی ستاسو خبره اوري؟ (هغوی تاسو ته په جواب کښې "هوا" یا "نه!" ویلی شي؟).

ب: ایا ستاسو بوتان (معبودان) تاسو ته د عبادت او اطاعت په صورت کښې څه ګټه در رسولی شي؟ او د بې اطاعتۍ او عدم عبادت په وخت کښې تاسو ته د څه ضرر توان لري چې انتقام درڅخه واخلي؟

۴ـ نمرودیانو په جواب کښې وویلې چې: زمونږ بوتان دغه یو کار هم نه شي کولی خو مونږ خپل پلرونه او نیکونه په همدغه حال باندې موندلي دي چې په عبادت باندې به یې هغسې کلک وه، لکه چې نن ورځ وړباندې مونږ کلک یاستو. ای ابراهیمه! ایا تاته زمونږ پلرونه په باطله لاره باندې روان ښکاري؟ ایا مونږ د خپلو پلرونو تګلاره پرېږدو او ستا پیروي وکړو؟ دا هیڅکله نه شي کېدلی.

۵ـ ابراهیم ﷺ هغوی ته یوه ډېره مهمه اطلاع ورکړه او د تعریض په توګه یې ورته خپله تګلاره څرګنده کړه چې: ای مشرکانو! ایا نو تاسو ګورئ (تاسو په دې باندې پوهېږئ)؟ باید تاسو پرې پوه شئ چې هغه بوتان د کومو چې تاسو عبادت کوئ او د کومو چې ستاسو پخوانیو پلرونو عبادت کاوه، هغه ټول زما دښمنان دي، او همدارنګه زه د هغو دښمن یم، زه د هغو سره بغض او کینه لرم بلکې زه ترې خپله بېزاري اعلانوم، او دا ځکه چې د دغو بوتانو په توان کښې هیڅ شی نشته.

مګر بالمقابل تاسو په دې باندې هم پوه شئ چې رب العالمین زما دوست دی، زه یې عبادت کوم او مینه محبت ورسره لرم او زه د همدې ﷻ څخه دارېږم او دا ځکه چې:

الف: همدغه رب العالمین ﷻ زه د نشت څخه پیدا کړی یم، او روزمره راته د دنیا او آخرت سمه سیده لاره ښایي، عقل او حواس ټول همده ﷻ راکړي دي.

ب: همدغه رب العالمین ﷻ ماته خوراک او څښاک راکوي، او د ژوند ضروریات راپوره کوي او کړمې (اړتیاوې) مې تکمیلوي.

ج: او چې کله زه مریض شم نو همدی ﷻ شفا راکوي او د مرض څخه مې خلاصوي.

د: همدغه رب العالمین ﷻ ـ چې زه یې عبادت کوم ـ هغه اقدس ذات دی کوم چې ماته یې ژوند راکړی دی او په ما کښې یې روح پو کړی دی، او کوم چې همدغه روح به د خپلې ارادې سره سم زما څخه بېرته اخلي او د مرګ سره به مخامخ کېږم، او بالآخره کوم چې ما به د قیامت په ورځ بیا ژوندی کوي او قبض کړی شوی روح به ماته بېرته عنایت کوي.

هـ: په دې ټولو باندې علاوه، رب العالمین هغه اقدس ذات دی چې زه ورته تمه لرم چې د جزا په ورځ به راته ګناهونه او خطاګانې (خلاف الاولی کارونه) وبښي.

نو ای مشرکانو! ایا ستاسو بوتان د ذکرو شوو کارونو څخه کوم یو کار کولی شي؟ یا یې کوم یو کړی دی؟ او بالآخره تاسو ورته د ګناهونو د عفوې او مغفرت څه تمه درلودلی شئ؟ کله چې د رب العالمین صفات ستاسو په باطلو معبودانو کښې یو هم نشته نو ایا په دغو کښې د عبادت استحقاق شته؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١_ كه څوک وايي چې: د ﴿ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ ﴾ ايت او همدارنګه د نورو ايتونو څخه څرګندېږي چې ابراهيم ﷺ خپل پلار ته دعوت ورکړی دی چې د شرک څخه لاس واخلي او په توحيد باندې قائم شي، اما _نظر زمونږ معلوماتو ته_ د مور په هکله دعوت ترې نه دی حکايت شوی، نو پوښتنه دا ده چې د دې څه وجه ده؟

مونږ وايو: د دې وجه دا ده چې د ابراهيم مور مؤمنه وه[1] او په ده باندې يې ايمان راوړی وه، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآب.

### الأسلوب الاحمق وپېژنئ

٢_ كه څوک وايي چې په ﴿ نَعْبُدُ أَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عَـٰكِفِينَ ﴾ كښې خو د مشركانو جواب په ﴿ نَعْبُدُ أَصْنَامًا ﴾ باندې پوره كېده، نو پوښتنه دا ده چې: څه وجه ده چې هغوی پرې د ﴿ فَنَظَلُّ لَهَا عَـٰكِفِينَ ﴾ كلمات اضافه كړه؟

مونږ وايو: چې كله جواب وركوونكی په خپل جواب كښې داسې كلمات اضافه كړي په كومو كښې چې څه ګټه او حكمت مرموز وي نو هغه جواب ته د "الأسلوب الحكيم" لقب وركولی كېږي، لكه چې يو مثال يې په [البقرة:١٨٩] ايت كښې نازل شوی دی.

او كه بالمقابل داسې كلمات پكښې زيات كړي كومې چې په فتنه او فساد باندې لاربنوونه كوي نو هغه جواب د "الأسلوب الأحمق" په نامه نومولی كېږي[2].

دا جـواب د هـمدې قبيلې څخه دی، ځكه چې: په دې مقام كښې مشركانو په اضافه كلماتو سره خپل زيات خبث او فساد څرګند كړی دی، چې مونږ د خپلو بوتانو په عبادت باندې افتخار كوو او په دوامداره توګه ورته په سجده پراته ياستو، يا په بل عبارت: مونږ ته خپل معبودان درانه دي خو ته ورته سپک نظر كوې او په ﴿ مَا تَعْبُدُونَ ﴾ سره ترې تعبير كوې چې ستاسو معبودان څه شی دي؟

### پوښتنې او جوابونه

٣_ د ﴿ فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيٓ ﴾ په ارتباط د سړي په ذهن كښې لاندې پوښتنې چورلېږي:

الف: د ﴿ فَإِنَّهُمْ ﴾ ضمير بوتانو ته راجع دی حال دا چې بوتان جمادات دي، د عداوة نسبت ورته صحت نه شي موندلی؟

مونږ وايو چې:

اول: دلته د قيامت د ورځې عداوة مطلب دی او هلته خو په جماداتو كښې هم عداوة حكايت

---

[1] زاد المسير ج٦ ص٤١

[2] روح المعاني ج١٩ ص٩٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوی دی؛ الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴾ [مريم: ٨٢] يعنې مشركان خپلو بوتانو ته تمه لري چې په درد باندې به يې وخوري، مګر خبره دغسې نه ده، د قيامت په ورځ به د دوی بوتان (معبودان) د دوی د عبادت څخه انكار وكړي او په همدوی باندې به دښمنان جوړ شي.

دوهم: څرنګه چې د بوتانو عبادت د عبادت كوونكو دپاره د الله ﷻ د غضب باعث دی نو د مجاز په توګه داسې وګڼل شوه لكه چې همدوی ذو العقول وي، او عداوة ترې متصور وي.

ب: كه څوک وايي چې: د ﴿ عَدُوٌّ ﴾ كلمه د "إِنَّ" دپاره خبر ده، نو په كار وه چې "أَعْدَاء" نازله شوې وی ترڅو د هغه د اسم "هُمْ" سره په جمعيت كښې مطابقه شوې وی؟

مونږ وايو چې: د دغې پوښتنې دپاره خو علماوو كرامو متعدد جوابونه كړي دي[١]، يو جواب يې دا دی چې د "عَدُوّ" كلمه د هغو كلماتو څخه ده كومې چې د إفراد څخه علاوه په جمعيت كښې هم كله-كله استعمالېږي[٢]. په دې مقام كښې همدغه استعمال د اجراء لاندې نيولی شوی دی نو د ﴿ عَدُوٌّ ﴾ څخه "أَعْدَاء" مطلب دی.

## دا منقطعه استثناء ده

۴ـ كه څه هم ځينو علماوو كرامو نظر دې ته چې مشركانو په خپلو معبودانو كښې الله ﷻ هم شامل ګڼلو نو په ﴿ إِلَّا رَبَّ الْعَالَمِينَ ﴾ كښې استثناء متصله اخستې ده[٣] نو حاصل يې داسې راځېږولی دی چې: ای مشركانو! ستاسو ټول معبودان ماته دښمنان دي مګر يكي يو معبود "رَبُّ الْعَالَمِين" مو راته دښمن نه دی.

خو څرنګه چې شركي عبادت د الله ﷻ په نزد د عدم عبادت سره يو برابر دی نو بهتره ده چې الله ﷻ د هغوی په معبودانو كښې شامل ونه ګڼل شي ترڅو ذكره شوې استثناء منقطه وګرځي. نو حاصل به يې داسې راوځېږي چې: ای مشركانو! ستاسو ټول معبودان زما دښمنان دي او بالفرض المحال كه زه يې عبادت وكړم نو د الله ﷻ غضب او عذاب ته به مې وركش كړي، او هيڅ اړتيا به مې پوره نه كړي، مګر رب العالمين (چې ستاسو معبود نه دی بلكې زما معبود دی) زما ټول احتياجات پوره كوي او هر شی يې د توانه پوره دی، نو معبوديت د همده ﷻ سره مناسب دی او بس.

## سوال جواب

۵ـ كه څوک وايي چې: په دې كښې څه حكمت دی چې ابراهيم عليه السلام په ﴿ وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ ﴾ كښې د يو پلوه د خپلې ګناه (خلاف الأولى) مغفرت د ﴿ أَطْمَعُ ﴾ په كلمه باندې وغوښت چې په شک باندې دلالت كوي حال دا چې پيغمبرانو ته خو مغفرت قطعي دی، او د

---

(١) روح المعاني ج١٩ ص٩٥؛ التفسير الكبير ج٢۴ ص١۴٣

(٢) تفسير الكشاف ج٣ ص٢١٩

(٣) زاد المسير ج۶ ص۴٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بله پلوه يې مغفرت ته د قيامت د ورځې ﴿ يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴾ پورې اختصاص ورکړ حال دا چې دغه اختصاص ته څه اړتيا نه وه؟

مونږ وايو چې: ابراهيم ؑ په ذکرو شوو عباراتو کښې مشرکان په غوږ باندې وهلي دي چې تاسو بايد په ﴿ يَوْمَ ٱلدِّينِ ﴾ باندې عقيده وکړئ او هلته د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو د مغفرت تمه وکړئ، چې دغه دواړه (په قيامت عقيده او د ګناهونو د مغفرت تمه) سره لازم او ملزوم دي.

د همدې کبله کله چې يوه ورځ عائشې (أم المؤمنين رضي الله عنها) د نبي کريم ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې: اې د الله رسوله! ابن جدعان (پخواني مشرک) خو د جاهليت په زمانه کښې مسکينانو ته خوراک ورکړی دی او د خپلوانو سره يې صله الرحمي (خواخوږي) کړې ده، ايا نومورې ته به (دغه کارونه) څه ګټه رسوونکي واقع شي؟ نو نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: دا به ورته ګټه ونه رسوي ځکه چې: «إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ»[1] يقيناً نومورې يوه ورځ هم نه دي ويلي چې: اې زما ربه! ماته د جزا په ورځ زما ګناه وبښه (يا په بل عبارت: نومورې د قيامت په ورځ عقيده نه درلوده).

﴿ رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٨٣﴾ وَٱجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي ٱلْآخِرِينَ ﴿٨٤﴾ وَٱجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨٥﴾ وَٱغْفِرْ لِأَبِيٓ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿٨٧﴾ يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴿٨٨﴾ إِلَّا مَنْ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ ﴿٨٩﴾ ﴾

[۸۳] اې زما ربه! ماته (په دنيا کښې) د حقو فيصلو (او حقو خبرو) توان راوبښې او (په آخرت کښې) مې د صالحانو (انبياوو د ټولګي) سره پيوسته کړې (کوم چې د عِلّيّين په اعلى مقام کښې مېشت دي).

[۸۴] او ماته په وروستنيو (راتلونکو خلکو) کښې رښتينې ياد وګرځوې (راکړې، چې اقتداء راپسې وکړي).

[۸۵] او ما د جنت النعيم (د نعمتونو د جنت) د وارثانو (وريا ورکړی شوو) څخه وګرځوې.

[۸۶] او زما پلار ته مغفرت (هدايت) وکړې يقيناً نومورې د ګمراهانو څخه دی.

[۸۷] او ما په ورځ د بعثت کښې (چې خلک د قبرونو څخه راپورته کړی شي) مه رسوا کوې.

[۸۸] په هغې ورځ کښې چې (هيڅ ته) نه مالونه ګټه رسولی شي او نه زامن.

[۸۹] مګر هغه څوک چې الله ﷻ ته (د شرک او کفر څخه) په روغ زړه ورغلی وي (مړ شوی وي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د مشرکانو سره د توحيد په هکله د ابراهيم ؑ د سوال جواب مقابله راحکايته شوې وه او په دې ايتونو کښې هغه سوالونه نازل شوي دي کوم چې د ده ؑ د پلوه د الله ﷻ

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۱۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په حضور کښې وړاندې شوي وه، او د تعريض په توګه يې هغوی پر غوږ وهلي وه چې: ايا تاسو د خپلو بوتانو څخه دغه او هغه شيان غوښتلی شئ لکه څنګه يې چې زه د خپل رب ﷻ څخه غواړم؟ او ايا هغوی د دغسې سوالونو د اجابت توان لري؟ نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

اى پيغمبره! اوس په خپل اُمت باندې هغه سوالونه قرائت کړه کوم چې ابراهيم ﷺ د خپل رب ﷻ په حضور کښې وړاندې کړي وه او کوم چې د پخې (قوي) عقيدې څخه استازيتوب کوي، او ورکړه يې يوازې په الله ﷻ پورې اختصاص لري، هغه دا چې:

١ـ اى زما ربه! ماته حکمت (او د حقو حکمونو او فيصلو توان) راکړې.

٢ـ اى زما ربه! ما د صالحانو (او نېکانو) سره پيوسته کړه او د همغوی په ډله کښې مې وشمېره.

٣ـ اى زما ربه! ما په وروستنيو خلکو کښې په نېک نامه ياد کړې، چې ماته دعاء وکړي او ستا د احکامو په تعميل کښې ما پسې اقتداء وکړي.

۴ـ اى زما ربه! ما د هغو کسانو څخه وګرځوه کومو ته چې ستا د پلوه په وړيا توګه جنة النعيم ورکول کېږي (او د اُخروي نعمتونو مستحق ګرځولی شوي دي).

۵ـ اى زما ربه! زما پلار ته مغفرت وکړې يقيناً نوموړی سمدستي د ګمراهانو څخه دی او په غلطه لاره روان دی.

۶ـ اى زما ربه! ما په هغې ورځ کښې د رسوايۍ او خجالت څخه وساتې په کومه کښې چې هيڅاته نه هغه مالونه څه ګټه رسولی شي کوم يې چې په دنيا کښې په خيريه کارونو کښې لګولي وي، او نه ورته هغه اولادونه په درد خوري کوم چې په‌دنيا کښې مؤمنان وه او د صالحه اعمالو خاوندان وه، مګر دغه دواړه په دغې ورځ کښې هغه چاته ګټور تمامېږي کوم چې الله ﷻ ته په روغ زړه ورغلي وي (عقيدوي مريض نه وي) او په همدغې سالمې عقيدې باندې مړ شوی هم وي، نو دغسې کسانو ته په نوموړي ورځ کښې د خيرات شوو مالونو اجر ورکول کېږي او هم ورته صالح اولادونه شفاعت کولی شي.

د همدې کبله زه د خپل ګمراه پلار دپاره د خپل رب ﷻ څخه مغفرت غواړم چې هدايت ورته وکړي او په ايمان باندې يې مشرف کړي ترڅو ورته زه په هغې ورځ کښې شفاعت وکړی شم.

## توضيحات

١ـ په ﴿ وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴾ کښې د "الصَّالِحِين" د کلمې څخه د پيغمبرانو هغه ټولګی مطلب دی کوم چې د "عِلِّيِّين" په لوړ مقام کښې د قيامت تر ورځې پورې مېشت دی، همدغه ټولګي ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې د ځنکدن په حال يې کښې فرمايلي دي چې: «اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ الْأَعْلَى»[١] اى الله! ماته مغفرت وکړې او په ما باندې رحم وکړې او (هم) ما د لوړ ټولګي (د پيغمبرانو د ډلې) سره پيوسته کړې.

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٨۴٧؛ صحيح مسلم ج٢ ص٢٨۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د ذکر شوي سوال قبول ته اشاره کړې ده چې: ﴿ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلْآخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ [النحل:۱۲۲] یعنې او یقیناً ابراهیم ﷺ په آخرت کښې د صالحانو (د لوړو درجاتو د خاوندانو) څخه دی.

## لسان صدق څه معنی؟

۲ـ دا ایت شریف ﴿ وَٱجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي ٱلْآخِرِينَ ﴾ علماوو کرامو په متعددو ډولونو سره تفسیر کړی دی[1] لکه:

الف: د مجاز په توګه د ﴿ لِسَانَ ﴾ څخه یادښت مطلب دی، چې په لسان (ژبه) باندې صورت نیسي، یعنې ای زما ربه! په وروستنیو خلکو کښې ماته رښتینی یادښت راکړه، یا په بل عبارت: ماته په راتلونکو خلکو کښې عام مقبولیت راپېرزو کړه چې اقتداء راپسې وکړي او د امام په صفت مې قبول کړي.

ب: د ﴿ لِسَانَ صِدْقٍ ﴾ څخه یو رښتنی داعي (پیغمبر) مطلب دی، یعنې: ای زما ربه! زما په اولاده کښې داسې یو پیغمبر مبعوث کړه چې نبوت یې د قیامت تر ورځې پورې ادامه ولري، او زما خط السیر ژوندی وساتي، ترڅو زما دعوتي اجرونه قطعه نه شي او د دنیا تر پایه پورې پاینښت ولري.

مونږ ته داسې برېښي چې ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري او دواړه الله ﷻ ابراهیم ﷺ ته ورکړي دي، چې د ده ﷺ په اولاده کښې یې آخر الزمان پیغمبر (محمد ﷺ) مبعوث کړی دی چې دین به یې د قیامت تر ورځې پورې باقي پاتې وي، نبي کریم ﷺ همدغه مطلب ته په یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «دَعْوَةُ أَبِي إِبْرَاهِيمَ»[2] یعنې زه د خپل نیکه ابراهیم ﷺ دعاء یم چې په ماباندې ورته الله ﷻ قبوله کړې ده.

همدارنګه ابراهیم ﷺ ته الله ﷻ عام مقبولیت هم وربښلی دی چې په وروستنیو ټولو ادیانو کښې عام مقبولیت لري او ټول پیروان یې د اتباع مدعیان دي، البته څوک په حقه لکه محمدي (ﷺ) أمت، او څوک په غلطه لکه یهود، نصاری او داسې نور.

## یادونه

۳ـ په دې موضوع کښې چې ابراهیم ﷺ خپل مشرک پلار (آزر) ته په ﴿ وَٱغْفِرْ لِأَبِيٓ ﴾ سره مغفرت غوښتی وه، د [التوبة:۱۱۴] ایت لاندې بنه تحقیقي بحث تېر شوی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا تحقیقولو ته یې څه اړتیا نه ګورو نو محققین دې هملته مراجعه وکړي.

## د "خِزْيٌ" یا "خَزَايَةٌ" معناوې

۴ـ په ﴿ وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴾ کښې د ﴿ وَلَا تُخْزِنِي ﴾ کلمه د "خِزْيٌ" یا "خَزَايَةٌ" څخه اشتقاقه شوې

---

[1] تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۳۸؛ روح المعاني ج۱۹ ص۹۸
[2] مسند احمد بن حنبل ج۶ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده، او مونږ د [آل عمران:١٩٢] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق ليكلي دي چې دغه دواړه مصدرونه بالترتيب د شرمنده ګرځولو (خجالت كولو) او شرمنده ګرځېدلو (خجالت كېدلو) معناوې وركوي.

خو د مقام په لحاظ بهتره بريښي چې دلته به يې اصلي مصدر "خِزْيٌ" (شرمول او رسوا كول) وي، لكه چې همدا مضمون په يوه حديث شريف كښې منعكس شوى دى هغه دا چې نبي كريم ﷺ په خپل يوه اوږده كلام كښې فرمايلي دي چې: «يَا رَبِّ! إِنَّكَ وَعَدْتَنِي أَنْ لَا تُخْزِيَنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ فَأَيُّ خِزْيٍ أَخْزَى مِنْ أَبِي الْأَبْعَدِ» يعني د قيامت په ورځ به ابراهيم ﷺ ووايي چې: اى زما ربه! تا خو ماسره وعده كړې وه چې زه به تا په هغې ورځ كښې نه شرمنده كوم (نه به دې رسوا او خجالت كوم) په كومه كښې چې خلك د قبرونو څخه راپورته كړى شي، نو د دې څخه به غټه (زياته) رسوايي څه شى وي چې نن ورځ زما پلار ستا د رحمت څخه لرې دى او په سات ګرى كښې به دوزخ ته ورتېل وهلى شي؟

الله ﷻ به جواب وركړي چې: «إِنِّي حَرَّمْتُ الْجَنَّةَ عَلَى الْكَافِرِينَ»[١] يقيناً ما خپل جنت په كفارو باندې حرام ګرځولى دى او ستا پلار په دنيا كښې كافر وه (د سليم زړه درلودونكى نه وه).

## سليم زړه څه معنې؟

٥ـ د ﴿يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ۝ إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾ په استثناء كښې علماوو كرامو متعدد احتمالات ليكلي دي[٢]، مګر كوم احتمال چې بې تكلفه او د مقام سره ښه مناسب دى هغه دا دى چې: دغې استثناء ﴿إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ﴾ به د ﴿لَا يَنفَعُ﴾ د كلمې د مقدر مفعول (احداً) څخه صورت نيولى وي، دا د يو پلوه، او د بله پلوه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) د "قَلْبٍ سَلِيمٍ" تفسير داسې كړى دى چې: «أَنْ يَشْهَدَ بِأَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ»[٣] يعني سليم او روغ زړه هغه دى كوم چې د الله ﷻ په توحيد باندې شهادت وركوي او د كفري او شركي عقيدې څخه روغ رمټ پاتې وي.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: اى زما ربه! زه خكه ستا په حضور كښې د خپل پلار په هكله د مغفرت (هدايت) سوال كوم چې د قيامت ورځ را روانه ده، په دغې ورځ كښې خو هيچاته مالونه او زامن ګټه نه شي رسولى مګر هغه چاته چې الله ﷻ ته په سالم زړه ورغلى وي (د توحيد په عقيده او شهادت باندې مړ شوى وي). نو كه نن ورځ زما پلار د كفر د مرض څخه روغ نه شي او په همدغې كفري عقيدې باندې مړ شي نو زه به هم ورته څه ګټه ونه شم رسولى او شفاعت به يې ونه شم كړى، او كه په توحيدي عقيدې باندې مړ شي نو بيا خو ورته زه شفاعت كولى شم، او تاته دېر أميد دى چې زما شفاعت به ورته ګټور هم واقع كړې.

يا په بل عبارت: لكه څنګه چې ابراهيم ﷺ د سليم زړه خاوند وه لكه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿إِذْ جَاءَ رَبَّهُ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾ [الصافات:٨٤] يعني اى پيغمبره! هغه وخت ياد كړه چې ابراهيم ﷺ خپل

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص٤٧٣
(٢) تفسير الكشاف ج٣ ص٣٢٠
(٣) تفسير ابن كثير ج٣ ص٣٣٩

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رب ﷻ ته په سليم زړه سره ورغی (د مرګ د ګړۍ پورې د توحيد په عقيده ولاړ وه)؛ همدارنګه هغه ﷺ غوښتل چې پلار يې هم د سليم زړه خاوند شي.

لنډه دا چې د ابراهيم ﷺ ذکر شوی سوال د نبي کريم ﷺ هغه دعوت ته ورته دی کوم يې چې خپل تره (ابو طالب) ته د مرض الموت په حال کښې ورکړی وه چې: «أيْ عَمِّ قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ كَلِمَةً أُحَاجُّ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللّٰهِ»[١] يعنې ای زما کاکا! ته د توحيد کلمه ووايه چې زه ورباندې د قيامت په ورځ د الله ﷻ په وړاندې ستا دپاره استدلال وکړم او مغفرت درته ترې وغواړم.

مګر د ابراهيم ﷺ د پلار غوندې ابو طالب هم په خپل کفر باندې کلک شو (د کفري دوستانو خبره يې ومنله) او د "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ" د کلمې د ويلو څخه يې منعه وکړه بلکې ورروستنۍ خبره يې دا وه چې زه د عبد المطلب په دين باندې مړ کېږم.

## زړه پاچا دی

۶ـ د بدن دپاره زړه د پاچا مثال لري چې په ټولو اندامونو او جوارحو باندې د خپلې ارادې حکومت چلوي، او د خپلې غوښتنې مطابق يې ښرخوي، د همدې کبله نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ»[٢] يعنې او اګاه اوسئ چې يقيناً په بدن کښې يوه ټوټه بې هډوکو غوښه ده، کله چې هغه صالحه شي نو ټول بدن صالح کېږي، او کله چې فاسده شي نو ټول بدن فاسدېږي (بې لارې کېږي) اګاه اوسئ چې دغه غوښه د زړه څخه عبارت ده.

﴿ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾ وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ
تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾ مِن دُونِ ٱللَّهِ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴿٩٣﴾ فَكُبْكِبُوا۟ فِيهَا هُمْ وَٱلْغَاوُۥنَ
﴿٩٤﴾ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾ قَالُوا۟ وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾ تَٱللَّهِ إِن كُنَّا لَفِى ضَلَٰلٍ
مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٩٨﴾ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾ فَمَا لَنَا مِن
شَٰفِعِينَ ﴿١٠٠﴾ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾ فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٠٣﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾ ﴾

[۹۰] او متقيانو (مؤمنانو) ته به (د محشر په ميدان کښې) جنت ورنږدې کړی شي (چې په ليدلو باندې يې خوشاله شي).

---

(١) صحيح البخاري ج٢ ص٧٠٣
(٢) صحيح البخاري ج١ ص١ ص١٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹۱] او ګمراهانو ته به (پکښې) دوزخ ښکاره کړی شي (چې په لیدلو یې خپه شي).

[۹۲] او ګمراهانو ته به (په دغې ورځ کښې د تخجیل دپاره) وویلی شي چې: هغه (بوتان) چرته دي د کومو چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې (د هغو) عبادت به مو کاوه؟

[۹۳] (البته) د الله ﷻ څخه په غیر. ایا هغوی (نن ورځ) ستاسو سره نصرت (کومک) کوي؟ (او) یا هغوی (د خپلو ځانونو څخه د عذاب) مخه نیولی شي؟ (چې د خپلو ځانونو سره نصرت وکړي او نجات ورکړي).

[۹۴] نو (بیا) به (دغه) بوتان سر په ځړې (په شدت سره) په دوزخ کښې ور وغورځولی شي؛ دوی او ګمراهان (د دوی عبادت کوونکي هم).

[۹۵] او د ابلیس لښکرې هم (بلکې) ټول (به پکښې ور واچولی شي او دوزخ به ورباندې ډک کړی شي).

[۹۶] ګمراهان به په داسې حال کښې چې (د خپلو بوتانو سره) به جګړې کوي ووایي چې:

[۹۷] په الله ﷻ باندې سوګند دی چې: یقیناً مونږ په ښکاره ګمراهۍ کښې وو.

[۹۸] (البته) هغه وخت چې تاسو (ناتوانه) مو د رب العالمین سره (په عبادت کښې) برابرولئ (او د الوهیت لقب مو درکاوه).

[۹۹] او مونږ په (دغې ښکاره) ګمراهۍ کښې نه یاستو اچولي مګر مجرمانو (جنایتکارانو).

[۱۰۰] نو (نن ورځ) مونږ ته هیڅ شفاعت کوونکی نشته (تاسو شفاعت نه شئ کولی).

[۱۰۱] او نه (مونږ ته) ګرم (مخلص) دوستان شته، (تاسو راته دښمنان وګرځېدلئ).

[۱۰۲] نو ای کاش! چې مونږ لره بېرته (دنیا ته) بیا ورتلل وی نو چې د مؤمنانو څخه ګرځېدلي وی.

[۱۰۳] (ای پیغمبره!) یقیناً په دغه (بیان) کښې (د توحید او نبوت) لویه نښه ده، او (اما په یوه زمانه کښې هم) د خلکو اکثریت ایمان راوړونکي نه دي.

[۱۰۴] او یقیناً ستا رب ﷻ ضرور همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) ډېر مهربان دی.

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې الله ﷻ د ابراهیم ﷺ د مبارکې خولې څخه د قیامت د ورځې د حالاتو یو مثال راحکایت کړی وه او په دې ایتونو کښې یې د همدغې ورځ څه نور حالات هم نازل کړي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د قیامت د ورځې څه نور حالات هم قرائت کړه ترڅو ورته خپل ځانونه چمتو کړي او تیاري ورته ونیسي هغه دا چې:

۱ـ د محشر په میدان کښې به متقیانو (مؤمنانو) ته جنت ورنږدې کړی شي ترڅو دوی ته نعمتونه او سپېڅلي مکانونه ښکاره شي او هلته د ورداخلېدلو څخه لا پخوا روحاً خوشاله شي، چې که د الله ﷻ رضا وي نو سات کړی ته به د دغو نعمتونو څخه استفاده وکړو.

۲ـ بالمقابل به ګمراهانو او بې لارې خلکو ته په همدغه میدان کښې دوزخ ورښکاره کړی شي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ترڅو دوی وپوهېږي چې دغه يې استوګنځای دی او ترڅو د دخول څخه لا وړاندې په روحي عذاب باندې اخته شي.

۳ـ په دغه وخت کښې به دوزخيانو (کفارو) ته د توبيخ او تخجيل دپاره لاندې پوښتنې متوجه کړی شي چې:

الف: ای کفارو! ستاسو د باطلو معبودانو نصرت چرته دی؟ چې تاسو به يې د الله ﷻ څخه په غير عبادت کاوه او تاسو ورته په تمه وئ چې څه ګټه به درته ورسوي، ترڅو نن ورځ تاسو د دغه دوزخ څخه بچ کړي چې تاسو يې په سترګو ګورئ.

ب: ايا هغوی ستاسو نصرت کولی شي؟ او يا هغوی د خپلو ځانونو څخه د عذاب مخه اړولی شي؟

۴ـ بيا به دوزخ ته دوزخيان په لاندې ترتيب سره ورټېل وهلی شي:

الف: لومړی به پکښې همدغه باطل معبودان (بوتان) په ډېر شدت سره ور واچولی شي، ترڅو ترې د خپلو عبادت کوونکو د نصرت اُميد پرې شي.

ب: بيا به نو د عابدينو (ګمراهانو) د ورټېل وهلو نوبت ورسېږي او ټول به ورټېل وهلی شي.

ج: همدارنګه به ابليس او د ده ټول جني لښکرې به هم هملته ور وغورځولی شي، حال دا چې هيڅوک به هم نه له خپله ځانه او نه د بل چا څخه د عذاب د مخنيوي توان ولري.

۵ـ بيا به کفار په داسې حال کښې خپلو بوتانو ته ووايي چې د هغوی سره به جګړه کوي او ملامته به ورباندې وراچوي، چې: مونږ په الله ﷻ باندې سوګند يادوو چې يقيناً مونږ په هغه وخت کښې د ښکاره ګمراهۍ مرتکب وو چې ستاسو غوندې ناتوانه مخلوق مو د رب العالمين سره برابر کړی وه او په عبادت کښې مو ورسره شريکان ګرځولي وه، که مونږ هلته ستاسو په دغې ناتوانۍ باندې پوه وی نو هيڅکله به موتاسو ته خپل سرونه په عبادت سره نه وی ښکته کړي.

۶ـ حقيقت دا دی چې مونږ بل هيڅوا هم نه ياستو ګمراه کړي مګر فقط او فقط د مجرمانو دلې؛ چې انسي او جني شيطانانو زمونږ په بې لارې کولو کښې سره لاس يو کړی وه او مونږ يې د حق څخه په څنګ کړو. که د دوی شيطانت نه وی نو ـ ای بوتانو ـ تاسو خو په دنيا کښې جمادات وئ او هيڅ مو د لاسه پوره نه وه، ستاسو ناتواني خو لا هلته څرګنده وه خو په مونږ باندې شيطانانو سترګې پټې کړې وې.

۷ـ بيا به دوزخيان د خپل تحسر او پښيمانۍ څرګندونه وکړي او وبه وايي چې:

الف: ای زمونږ حسرته اَو افسوسه! راشه چې همدا دې وخت دی، نن ورځ مونږ نه شفاعت کوونکي لرو چې زمونږ دپاره د الله ﷻ په حضور کښې شفاعت وکړي او د عذابه مو خلاص کړي بلکې هغه څوک پخپله په عذاب اخته دي کومو ته چې مونږ د شفاعت تمه درلوده او په همدې منظور مو ورته عبادت کړی وه، او نه کوم رښتينی دوست لرو چې په مونږ باندې يې زړه وسوزي او د دوستۍ د کبله زمونږ په خلاصون کښې کوم قدم پورته کړي، او څه ګټه راته راورسوي.

ب: په دې باندې علاوه، اوس بېرته دنيا ته ستنېدل هم نشته، نو ای کاش! چې مونږ يو ځل بيا هلته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ستانه کړی شوي وی، نو مونږ به د هیڅ شیطان خبره نه وی منلې او هم به مو د الله ﷻ په عبادت کښې شریک نه وی درولی، بلکې مونږ به په ربښتیانی توګه د مؤمنانو د ډلې څخه ګرځېدلې وی، مونږ ایله په ایله اوس پوه شوو چې مونږ په غلطه لاره باندې روان وو او سمه لاره مو پرېښې وه.

۸ـ ای پیغمبره! یقینًا چې د ابراهیم ؈ د قیصې او هم د آخرت د حالاتو په بیان کښې د الله ﷻ د کامل قدرت او ستا د نبوت ډېر عظیم الشان دلیل نغښتی دی. که بالفرض المحال ته په حقه پیغمبر نه وی نو د ذکرو شوو بیاناتو څخه به دې هیڅ شی نه وی قرائت کړی.

خو د دې سره-سره د خلکو اکثریت نه پخوا ایمان راوړونکی وه ـلکه چې په ابراهیم ؈ باندې یې ایمان رانه ووړـ او نه اوس ایمان راوړونکی دی چې په تاباندې ایمان راوړي.

۹ـ ستا د زمانې کفار هم د دې جوګه دي چې عذاب ورباندې ورنازل کړی شي خو یقینًا ستا رب ﷻ د دې سره-سره چې د کلکې ارادې خاوند دی (هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی) ډېر مهربان هم دی، چې هغوی ته مهلت او فرصت ورکوي ترڅو د کفریاتو څخه توبه تائب او په سمه لاره باندې روان شي

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: ذکر شوي ایتونه د ابراهیم ؈ د مبارکې خولې څخه حکایت دی او که الله ﷻ د هغه ؈ په بیان باندې علاوه د قیامت د ورځې څه نور حالات هم شرحه کړي دي؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو دا ایتونه هم د ابراهیم ؈ د کلام تتمه ګڼلې دي[۱]. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دا ایتونه به په حکایت کښې شامل نه وي او د الله ﷻ د پلوه به د قیامت د ورځې په باب اضافه معلومات وي.

۲ـ د ﴿ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ دپاره لاندې دوه تفسیره صورت نیولی شي[۲]:

الف: د دخول په وخت کښې به جنتیانو ته جنت ورنژدې کړی شي چې د سترګو په رپ کښې به هملته وروړسېږي، ته به وایې چې ورته رانژدې کړی شوی دی.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ ﴾ [ق:۳۱] یعنې جنت به متقیانو ته ورنژدې کړی شي چې لرې به ترې نه وي.

ب: چې جنت به جنتیانو ته د خپله ځایه انتقال او ورنژدې کړی شي، ته به وایې چې د هغوی د استقبال دپاره یې مخې ته ورشي. الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی او هرڅه یې د توانه پوره دي.

۳ـ د ﴿ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴾ ایت نبي کریم ﷺ تفسیر کړی دی چې: «يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا»[۳] یعنې د قیامت په ورځ به په داسې حال کښې

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۱۵۲
(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۱۰۲
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوزخ راوستلی شي چې اويا زره مهارونه (پړي) به لري، او د هر مهار (پړي) سره به اويا زره پرښتې وي، چې د حشر ميدان ته به يې راکاږي.

## کُبْکُبَة څه معنی؟

۴ـ په ﴿ فَكُبْكِبُوا فِيهَا ﴾ کښې د "کُبْکِبُوا" کلمه د "کَبْکَبَةٌ" ـلکه "دَحْرَجَةٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "کَبْکَبَةٌ" په يوه زور خای کښې د مکرر (بيا-بيا) غورځولو معنی ورکوي(۱).

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د ذکرې شوې کلمې په مستتر ضمير کښې علماوو کرامو(۲) متعدد احتمالات ليکلي دي چې چاته راجع دي، خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمير به د کفارو باطلو معبودانو ته راجع وي(۳) لکه څنګه چې د ﴿ هَلْ يَنصُرُونَكُمْ أَوْ يَنتَصِرُونَ ﴾ مستتر ضميرونه همدوی ته راجع دي، او د "غَاوُن" کلمه به په باطله سره د عبادت کوونکو معنی ورکړي.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: نو د کفارو باطل معبودان او پخپله کفار او همدارنګه ابليس او د ده لښکري دوی ټول به لاندې باندې پر مخونو باندې په دوزخ کښې ور واچولی شي او په داخل د دوزخ کښې به په مکرره توګه ورتېل وهلی کېږي او ملاقونه به ورکول کېږي آن تر دې چې بېخ ته يې ورسولی شي، أعاذنا الله ﷻ منها.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: په ﴿ وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴾ کښې د "جُنُود" کلمه د کومو لښکرو معنی ورکوي، يا په بل عبارت: د ابليس لښکري څوک-څوک دي؟

مونږ وايو چې: د ابليس لښکري د ده د پيروانو څخه عبارت دي. برابره خبره ده چې د انسانانو څخه وي او که د جنيانو څخه وي(۴). مګر څرنګه چې په دې مقام کښې د ابليس انسي پيروانو ته د ﴿ وَٱلْغَاوُۥنَ ﴾ په کلمه باندې اشاره شوې ده نو شايد چې دلته به تری د ده جني پيروان مطلب وي، برابره خبره ده چې د ده خپله اولاده وي او يا نور پيريان وي. والله ﷻ أعلم

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۶ـ که څوک وايي چې په ﴿ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ کښې د "کُمْ" په ضمير سره چاته خطاب دی، يا په بل عبارت: دوزخيان به په دوزخ کښې د چا سره په جګړه بوخت شي؟

مونږ وايو چې: که څه هم دوزخيان به هلته د شيطان او خپلو مشرانو او هم د خپلو بوتانو (باطلو معبودانو) سره جګړې وکړي. مګر په دې مقام کښې داسې معلومېږي چې دلته به د خپلو بوتانو

---

(۱) لسان العرب ج۱ ص۶۹۷- القاموس المحيط ج۴ ص۵
(۲) روح المعاني ج۹ ص۱۰۳
(۳) البحر المحيط ج۸ ص۱۶۹
(۴) تفسير الطبري ج۱۹ ص۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سره جګړه مطلب وي، ځکه چې د يو پلوه په همدوی کښې خبره راروانه ده او د بله پلوه شيطان او مشرانو ته په ﴿ وَمَآ أَضَلَّنَآ إِلَّا ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ په کلمې سره اشاره شوې ده.

په همدې مضمون باندې الله ﷻ بل ايت هم نازل کړی دی چې: ﴿ فَأَلْقَوْاْ إِلَيْهِمُ ٱلْقَوْلَ إِنَّكُمْ لَكَـٰذِبُونَ ﴾ [النحل: ٨٦] يعني د قيامت په ورځ چې کفار په خپلو بوتانو باندې ملامته ورواچوي نو هغوی به ورته خبره بېرته ورمسترده کړي او جواب به ورکړي چې تاسو دروغژنان یاست.

## سوال جواب

٧ـ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې الله ﷻ د کفارو د خولې څخه په ﴿ فَمَا لَنَا مِن شَـٰفِعِينَ ﴾ کښې د ﴿ شَـٰفِعِينَ ﴾ کلمه جمعه او په ﴿ وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴾ کښې ترې د ﴿ صَدِيقٍ ﴾ کلمه مفرده حکايت کړې ده؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د همدغه سوال دپاره متعدد جوابونه کړي دي[١] خو کوم جواب چې په زړه پورې بربښي هغه دا دی چې: د "صَدِيق" کلمه د خپل ضد "عَدُوّ" په شان په إفراد او جمعې دواړو کښې استعمالېږي نو دلته ترې د جمعيت معنی مراده ده[٢]، نو څرنګه چې د ﴿ شَـٰفِعِينَ ﴾ شفاعتګرو او ښخو دوستانو دواړه جمعې په ﴿ فَمَا لَنَا ﴾ کښې د کفارو د جمعې سره مقابلې واقع شوې دي نو توزيع فائده کوي؛ نو حاصل به داسې راوخېژي چې: د قيامت په ورځ به کفار وايي چې زمونږ يوه نفر ته هم نه يو شفاعتګر شته او نه يو ګرم (مخلص) دوست.

﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٠٥﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٠٦﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٠٩﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١١٠﴾ قَالُوٓاْ أَنُؤْمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلْأَرْذَلُونَ ﴿١١١﴾ قَالَ وَمَا عِلْمِي بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿١١٢﴾ إِنْ حِسَابُهُمْ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّي لَوْ تَشْعُرُونَ ﴿١١٣﴾ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾ قَالُواْ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَـٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾ قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَٱفْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ فَأَنجَيْنَـٰهُ وَمَن مَّعَهُۥ فِي ٱلْفُلْكِ ٱلْمَشْحُونِ ﴿١١٩﴾ ثُمَّ

---

(١) تفسير الكشاف ج٣ ص٣٢٢

(٢) اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص٥٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَغْرَقْنَا بَعْدُ ٱلْبَاقِينَ ﴿١٢٠﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٢١﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٢٢﴾ ﴾

[١٠٥] د نوح عليه السلام قوم ټولو پیغمبرانو ته د دورغو نسبت وکړ.

[١٠٦] هغه وخت چې دوی ته د دوی (نسبي) ورور (خواخوږي) نوح عليه السلام وویلې چې: ایا تاسو (د الله ﷻ څخه) نه ډارېږئ؟ (چې شرک ته ادامه ورکوئ).

[١٠٧] یقیناً زه ستاسو دپاره (د الله ﷻ د پلوه) را استولی شوی امانتکر یم.

[١٠٨] نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ (بوت پرستي پرېږدئ).

[١٠٩] او زه ستاسو څخه د پیغام په رسونه څه أجرت (مزدوري) نه غواړم، زما أجرت نه دی مګر په رب العالمین باندې دی (چې پخپله یې په خپل اقدس ذات ﷻ باندې لطفاً منلی دی).

[١١٠] نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او (صرف) زما اطاعت وکړئ.

[١١١] د نوح عليه السلام قوم (په جواب کښې) وویلې چې: ایا مونږ په داسې حال کښې په تا باندې ایمان راوړو چې بې شرفان (فقیران) ستا پیروي کوي؟!

[١١٢] نوح عليه السلام (د نوموړو جواب رد کړ او ورته یې) وویلې چې: زما په هغه عمل باندې علم نشته کوم چې زما پیروان دي چې (هغه عمل) کوي (او نه یې پوښتنه کوم، زه خو د ټولو خلکو دپاره را استولی شوی یم).

[١١٣] زما د پیروانو محاسبه خو نه ده مګر زما په رب ﷻ باندې ده (چې په زړونو باندې یې پوهېږي)، که تاسو څه شعور (لږ علم) ولرئ (نو د هغوی اخلاص او بې اخلاصي به د ایمان نه راوړولو دپاره پلمه ونه نیسئ).

[١١٤] او (بله دا واورئ چې) زه (په هیڅ صورت سره) د مومنانو (خپلو پیروانو) شړونکی نه یم.

[١١٥] زه نه یم مګر څرګند ډاروونکی یم.

[١١٦] د نوح عليه السلام قوم وویلې چې: ای نوحه! که چرته ته (د دغه توحیدي دعوت څخه) منعه نه شې نو هرومرو ضرور به ته د رجم کړی شوو څخه وګرځې (مونږ به دې په کاڼو ووژنو).

[١١٧] نوح عليه السلام وویلې چې: ای زما ربه! یقیناً زما قوم زه (د اوږده دعوت څخه وروسته) تکذیب کړم.

[١١٨] نو زما ترمنځ او زما د قوم ترمنځ فیصله وکړې فیصله کول (چې ټول هلاک کړې) او ما او هغه چاته نجات راکړې کوم چې زما سره دي چې (په ما باندې) د ایمان راوړونکو څخه عبارت دي.

[١١٩] نو مونږ نوح عليه السلام ته او هغه چاته نجات ورکړ کوم چې ورسره په ډکه بېړۍ کښې (سواره) وه.

[١٢٠] بیا مو (د دوی د نجات څخه) وروسته پاتې خلک (کفار ټول) غرق کړه.

[١٢١] (ای پیغمبره!) یقیناً په دغه (بیان) کښې (د الله ﷻ د کامل قدرت او ستا د نبوت) عظیم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الشانه نښه شته، او د خلکو اکثریت (په يوه زمانه کښې هم) ايمان راوړونکي نه دي.

[١٢٢] او بې شکه ستا رب ﷻ هرو مرو همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) ډېر مهربان دی (چې د قدرت سره-سره کفارو ته مهلت ورکوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د نوح ﷺ عبرتي قيصې ته اشاره شوې ده او هغه نکات يې نازل شوي دي کوم چې د دې مقام سره مناسب وه، نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د عبرت اخستلو دپاره په خپل أمت باندې د نوح ﷺ د قیصې ځینې نکات قرائت کړه هغه دا چې:

١ـ د نوح ﷺ قوم هم د هغو خلکو د جملې څخه وه کومو چې یوازې نوح ﷺ نه وه تکذیب کړی بلکې ټول پیغمبران یې دروغژنان ګڼلي وه، نو هغه وخت یاد کړه کله چې د دوی نسبي ورور او خواخوږي او زړه سواندي نوح ﷺ دوی ته وویلې چې:

الف: ای زما قومه! ایا تاسو د الله ﷻ د عذابه نه ډارېږئ او خپل ځانونه ترې نه ساتئ؟ بلکې خپل ځانونه ترې په وقايه کښې کړئ، نو د شرک څخه لاس واخلئ، په توحيد قائل شئ او زما په رسالت باندې اقرار وکړئ او دا څکه چې:

ب: يقيناً زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه رالېږلی شوی یم، او کوم پيغام چې ماته راکړی شوی دی په هغه کښې ډېر زيات امانتګر یم، او هو بهو یې تاسو ته رسوم.

په دې باندې علاوه، ما خو په تاسو کښې د نبوت څخه وړاندې هم ډېر عمر تېر کړی دی او تاسو ته ثابته ده چې زه امانتګر یم، نو کله چې ما د بندګانو سره خيانت نه دی کړی نو د الله ﷻ سره به څنګه خیانت وکړم چې خپل ځان په دروغو رالېږلی شوی درمعرفي کړم.

ج: نو تاسو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ، ترڅو تاسو په دنیا او آخرت کښې د خوشالیو خاوندان وګرځئ.

د: ای زما قومه! زه ستاسو څخه د الله ﷻ د پیغامونو په رسونه باندې څه مزدوري او أجرت نه غوارم، بلکې د هيڅ شي تمه درڅخه نه لرم، زما أجرت او ثواب په هغه اقدس ذات ﷻ باندې دی چې زه يې تاسو ته را استولی یم. يا په بل عبارت: زما أجرت په رب العالمين باندې دی چې پخپله يې په خپل اقدس ذات باندې ماته منلی دی. که بالفرض المحال ما ستاسو څخه أجرت غوښتلی وی نو د عدم اطاعت دپاره به ستاسو څه بهانه جوړه شوې وی.

ه: کله چې أجرت هم درڅخه نه غوارم نو تاسو ته په کار دي چې دالله ﷻ څخه وډار شئ او زما خبرې ومنئ او قبولې يې کړئ.

٢ـ ذکر شوي کافر او مشرک قوم نوح ﷺ ته جواب ورکړ چې: ای نوحه! که ته د الله ﷻ امانتګر رسول شې او أجرت هم راڅخه ونه غواړې، نو د دې سره-سره مونږ په تا باندې ايمان نه راوړو، څکه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: کومو خلکو چې په تاباندې ایمان راوړی دی هغوی سادګان دي او تا غولولی دي، مونږ هوښیار خلک یاستو، ته مونږ نه شې غولولی.

ب: هغوی فقیران دي، په تاباندې یې په اخلاص سره نه بلکې د تمې دپاره ایمان راوړی دی، او مونږ بډایان یاستو تاته څه تمه نه لرو.

ج: هغوی اهل الحرف (کسبه) دي، څوک موچیان، څوک جولاګان او څوک نور کسب کوونکي دي، او مونږ شرمېږو چې په مجالسو کښې ورسره کېنو وکړو، نو د هر څه څخه وړاندې ته د خپلو مجالسو څخه هغوی وشړه نو بیا به ګورو چې ایمان درباندې راوړو او که نه. نو ای نوحه! ایا مونږ په تاباندې په داسې حال کښې ایمان راوړو چې ستا پیروي حقیر خلک کوي؟ دا کار به هیڅکله ونه کړو.

۳ـ نوح ﷺ خپل قوم ته په لاندې ټکو کښې جواب ورکړ چې:

الف: زه پوه نه یم چې زما پیروان څه څه کارونه کوي، او نه زما دا کار دی چې په ایمان راوړلو کښې شرطونه ولګوم، زه ټولو خلکو ته را استولی شوی یم، چې هر کسب کوي، کوي به یې.

ب: زما پیروانو په ماباندې په ظاهر کښې ایمان راوړی دی، او ماته همدا ظاهر کفایت کوي، زه د هغوی د زړونو مالک نه یم او نه یې زما سره محاسبه ده، د هغوی د زړونو مالک الله ﷻ دی او همدی ﷻ به ورسره محاسبه کوي، همدی ﷻ پوهېږي چې په اخلاص سره یې ایمان راوړی دی او که د غرض دپاره. که تاسو څه شعور او لږ څه کمه پوهه لرئ نو په دغو واهیانو باندې استدلال مه نیسئ او د ایمان د نه راوړلو دپاره یې بهانې مه جوړوئ.

ج: تاسو په دې باندې پوه شئ چې زه ستاسو د خوشالولو د کبله د خپلو پیروانو (مؤمنانو) شړونکی نه یم، او هیڅکله به دغه کار ته اقدام ونه کړم.

د: زه د الله ﷻ په نزد نور څه مسئولیت نه لرم زه فقط او فقط په څرګنده توګه ډاروونکی یم، ستاسو په کفر باندې زه نه نیولی کېږم، ستاسو کفر همدا ستاسو د غاړې هار دی او بس.

۴ـ د اوږده دعوت څخه وروسته نوح ﷺ د خپل قوم د پلوه مخاطب کړی شو چې: ای نوحه! که ته د دغه دعوت څخه لاس وانخلې نو ضرور هرو مرو به ته د رجم کړی شوو خلکو څخه وګرځې، او د ډېرو لاندې به دې مړ کړو، مونږ دې زیاتي پوزو ته راوستلي یاستو.

۵ـ نو په دغه وخت کښې نوح ﷺ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې:

الف: ای زما ربه! ته خو ډېر ښه پوهېږي چې زما هلې ځلې موثرې واقع نه شوې، او یقیناً ماته خپل قوم د دروغژن نسبت وکړو، او په راتلونکي کښې مې هم ورته امید نشته چې د کفر او شرک څخه به لاس واخلي.

ب: ای زما ربه! زما او زما د قوم ترمنځ حقه فیصله وکړې، چې ماته او هغو کسانو ته نجات راکړې کوم چې زما سره دي او په ماباندې یې ایمان راوړی دی، او زما په دغه کافر قوم باندې مهلک عذاب ورنازل کړې چې بېخ او بنیاد یې وباسي.

۶ـ ای پیغمبره! مونږ د نوح ﷺ سوال قبول کړ نو نوح ﷺ او هغو کسانو ته مو نجات ورکړ کوم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې د ده ﷺ سره په دګه بېړۍ کښې سواره وه، بلکې ټوله بېړۍ مو د نجات خاونده وګرځوله او د انسانانو په شمول ـ هر شی چې پکښې وه هغه مو ټول د هلاک څخه بچ کړه.

او بیا مو د دوی د نجات څخه وروسته د بېړۍ د سورو څخه په غیر ټول پاتې مخلوق په اوبو کښې غرق کړ او ټوله دنیا مو ورته دریاب وګرځوله.

۷ـ یقینًا په دغه بیان کښې د الله ﷻ د کامل قدرت او ستا د نبوت ډېر لوی عظیم الشانه نښه پټه ده خو د دې سره ـ سره نه د پخوانیو خلکو اکثریت ایمان رواړی وه او نه به ستا د زمانې اکثریت ایمان راوړي.

۸ـ ستا د زمانې کفار هم د دې جوګه دي چې مهلک عذاب وربانديې ورنازل کړی شي، خو ای پیغمبره! یقینًا ستا رب ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی او په عین وخت کښې ډېر مهربان هم دی، کفارو ته مهلت ورکوي چې توبه تائب او په ایمان مشرف شي.

## توضیحات

۱ـ د نوح ﷺ د قیصې ښه ډېر تفصیل د هود ﷺ په سورت او نورو سورتونو کښې ځای په ځای تېر شوی دی والحمد لله ﷻ، او همدارنګه د نوح په سورت کښې ـ إن شاء الله ﷻ ـ راروان دی، نو مونږ نه غواړو چې دلته وربانديې کتاب اوږد کړو، هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایي چې: د نوح ﷺ قوم خو یوازې د نوح ﷺ تکذیب کړی وه حال دا چې الله ﷻ د دوی تکذیب ﴿ٱلْمُرْسَلِينَ﴾ ټولو پیغمبرانو ته منسوب کړ؟

مونږ وایو چې: هر یو پیغمبر خپل قوم ته وایي چې د الله ﷻ ټول پیغمبران په حقه دي، نو کله چې کوم قوم د خپل پیغمبر تکذیب وکړي نو هغوی په حقیقت کښې ذکره شوې خبره هم تکذیبه کړه او د ټولو پیغمبرانو څخه یې انکار وکړ، نو د یوه پیغمبر تکذیب د ټولو پیغمبرانو تکذیب ته متضمن دی.

په دې باندې علاوه، د نوح ﷺ قوم په اصل کښې د رسالت څخه انکاري وه، نو که بالفرض هغوی ته د څرمې ټول پیغمبران ور استولي شوي وی هم نو د ټولو څخه به یې انکار کړی وی. همدارنګه ټول پیغمبران په عقایدو او هم د شریعتونو په أصولو کښې متحد دي نو د یوه پیغمبر تکذیب د ټولو پیغمبرانو د تکذیب معنی ورکوي.

## هېر مو نه شي

۳ـ هېر مو نه شي چې ذکر شوی سوال جواب د دې سورت (الشعراء) په لاندې ایتونو کښې هم صورت نیسي:

الف: د هود ﷺ د قیصې په [۱۲۳] ایت کښې.

ب: د صالح ﷺ د قیصې په [۱۴۱] ایت کښې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: د لوط ﷺ د قیصې په [۱۶۰] ایت کښې.
د: د شعیب ﷺ د قیصې په [۱۷۶] ایت کښې.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په همدغه مقام کښې الله ﷻ د نوح ﷺ د مبارکې خولې څخه د ﴿ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴾ کلام تکرارًا حکایت کړه؟

مونږ وایو چې: ذکر شوي کلام د دلایلو په اعتبار سره تکرار موندلی دی چې هر یو دلیل په استقلال سره د همدغه کلام غوښتونکی دی. مثلاً:

الف: نوح ﷺ هغوی مخاطب کړه چې: زه امانتګر پیغمبر یم باید تاسو د امانت د کبله زما څخه انکار ونه کړئ، نو د الله ﷻ څخه ودار شئ او زما اطاعت وکړئ چې زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی.

ب: زه ستاسو څخه څه أجرت نه غواړم چې په تاسو باندې بوج شي او خان ته ګټه وکړم. یا په بل عبارت: زما دعوت بې غرضه دی او ستاسو په ګټه دی؛ نو د الله ﷻ څخه ودار شئ او زما اطاعت وکړئ چې زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی.

## په یاد ولرئ

۵ـ په یاد ولرئ چې همدغه سوال جواب ته ورته سوال جواب د دې سورت (الشعراء) په لاندې ایتونو کښې هم صورت نیسي:

الف: د هود ﷺ د قیصې په [۱۲۶] او [۱۳۱] ایتونو کښې.
ب: د صالح ﷺ د قیصې په [۱۴۴] او [۱۵۰] ایتونو کښې.

## رَذل، رُذال څه معنی؟

۶ـ په ﴿ وَٱتَّبَعَكَ ٱلْأَرْذَلُونَ ﴾ کښې د "أرذَلُون" کلمه د "أرذَل" ـ لکه "أشرَف" ـ جمعه ده، لکه چې څه شرحه یې د [هود: ۲۷] ایت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

دغه کلمه د "رَذل" یا "رُذال" څخه اشتقاقه شوې ده چې د حقارت او سپکوالي دپاره وضعه شوې دي[1]، او په مقابل کښې یې "فَضل" او "شرف" استعمالېږي او ورسره تضاد لري.

دغه کلمه لکه چې په "أرذَلُون" باندې جمعه شوې ده، همدارنګه په "أرذال، أرادِل، أرذلاء، رُذُول" باندې هم جمعه کېږي[2].

د نوح ﷺ قوم خکه د وخت مؤمنانو ته ذکر شوی لقب ورکاوه چې دوی بدایان نه وه بلکې په کار او کسب باندې یې د رزق پلټنه کوله. لکه جولاګري، حجامت او داسې نور، او د هغوی په نزد

(۱) القاموس المحیط ج۲ ص۳۲۹؛ مفردات الراغب ص۱۹۹
(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۲۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تول شرف او عزت په مالدارۍ او بډای توب کښې منحصر وه، لکه چې په هره زمانه کښې کفار همدا خیال لري.

﴿كَذَّبَتْ عَادٌ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٢٣﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٢٤﴾ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ
أَمِينٌ ﴿١٢٥﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٢٦﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ
ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٢٧﴾ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعْبَثُونَ ﴿١٢٨﴾ وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ
﴿١٢٩﴾ وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٣١﴾ وَٱتَّقُوا۟ ٱلَّذِىٓ أَمَدَّكُم
بِمَا تَعْلَمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمَدَّكُم بِأَنْعَـٰمٍ وَبَنِينَ ﴿١٣٣﴾ وَجَنَّـٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٣٤﴾ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ
عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٣٥﴾ قَالُوا۟ سَوَآءٌ عَلَيْنَآ أَوَعَظْتَ أَمْ لَمْ تَكُن مِّنَ ٱلْوَٰعِظِينَ ﴿١٣٦﴾
إِنْ هَـٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَـٰهُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ
لَـَٔايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾﴾

[۱۲۳] د عاد قبیلې (عادیانو) ټولو پیغمبرانو ﷺ ته د دروغو نسبت وکړ.

[۱۲۴] کله چې دوی ته د دوی (خواخوږي نسبي) ورور هود ﷺ وویلې چې: ایا تاسو (د الله ﷻ څخه) نه ډارېږئ (او د عذابه يې خپل ځانونه نه ساتئ)؟.

[۱۲۵] یقیناً زه ستاسو دپاره، امانتګر رالېږلی شوی یم.

[۱۲۶] نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ (ترڅو د الهي عذابه بچ پاتې شئ).

[۱۲۷] او زه ستاسو څخه په پیغام رسونه باندې هیڅ عوض (او مزدوري) نه غواړم (چې په تاسو باندې بوج شي)، زما عوض (ثواب او اجر) نه دی مګر په رب العالمین ﷻ باندې دی (چې لطفاً یې په خپل اقدس ذات باندې لازم کړی دی).

[۱۲۸] ایا تاسو په هره لوړه باندې یوه نښه (یادګار) په داسې حال کښې ابادوئ چې تاسو عبث کوونکي یاست (کوم صحیح غرض په نظر کښې نه لرئ)؟

[۱۲۹] او تاسو ډېرې کلکې (او دنګې) بنګلې جوړوئ، شاید (ستاسو په خیال) تاسو به (په دنیا کښې) همېشه اوسېږئ (او د مرګ سره به ترې انتقال ونه کړئ).

[۱۳۰] او کله چې تاسو (چاته) په شدت (او قوت) سره د لاس وراچولو نیت وکړئ نو تاسو په داسې حال کښې لاس وراچوئ چې سرکښي کوونکي (تکبر کوونکي) یاست (تاسو هیڅ زړه سوی او ترحم نه لرئ).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۳۱] نو د الله ﷻ څخه ودار شئ او زما اطاعت وکړئ (د خپلو عقایدو په اصطلاح باندې علاوه خپل اعمال هم اصلاح کړئ).

[۱۳۲] او تاسو د هغه اقدس ذات ﷻ څخه ودار شئ چې ستاسو سره يې په هغو نعمتونو سره امداد کړی دی (درکړي يې دي) په کومو باندې چې تاسو پوهېږئ (تاسو ته معلوم دي).

[۱۳۳] (مثلاً) ستاسو سره يې په څارويو او زامنو (په ورکړې) سره امداد کړی دی.

[۱۳۴] او په باغونو او چینو (بهېدونکو اوبو) سره (هم).

[۱۳۵] یقیناً زه په تاسو باندې د (همدې ناشکرۍ د دوام په صورت کښې) د لويې ورځې د عذاب څخه ډارېږم.

[۱۳٦] عادیانو وویلې (هود ﷺ ته يې جواب ورکړ) چې: په مونږ باندې (په عدم تاثیر کښې) برابره ده چې ته (مونږ ته) وعظ وکړې (توحید ته مو دعوت کړې او) یا ته د وعظ کوونکو (دعوت کوونکو) څخه ونه ګرځې (ساکت پاتې شې).

[۱۳۷] دغه (دین چې مونږ ورباندې روان یاستو) نه دی مګر د لومړنیو خلکو خوی (او دین) دی، (او مونږ د هغوی تقلید کوونکي یاستو).

[۱۳۸] او مونږ معذب کړی شوي نه یاستو (په مونږ باندې عذاب نه نازلېږي).

[۱۳۹] نو عادیانو هود ﷺ تکذیب کړ، نو مونږ (تول د خرمې) هلاک کړه (او تېز باد مو ورباندې وچلاوه).

(ای پیغمبره!) یقیناً په دغه (ذکر شوي بیان) کښې (ستا د نبوت او د الله ﷻ د توحید) لويه (قدرتي) نښه (پرته) ده او (د دې سره‌سره) د خلکو اکثریت ایمان راوړونکي نه دي.

[۱۴۰] او یقیناً ستا رب ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) ډېر مهربان دی.

## د مطلب خلاصه

د پیغمبرانو د عبرتي قیصو څخه په دې ایتونو کښې د هود ﷺ د قیصې ځینې نکات نازل شوي دي چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د هود ﷺ څه حالات ولوله ترڅو ترې عبرت واخلي، هغه دا چې:

۱ـ عادیانو هم تولو پیغمبرانو ته هغه وخت د دروغو نسبت وکړ کله چې دوی ته نسبي خواخوږي ورور (هود ﷺ) وویلې چې: ای زما قومه! د شرک او کفر څخه لاس واخلئ او د الله ﷻ د عذاب څخه ودار شئ او خپل ځانونه په لوی لاس د الهي غضب په کنده کښې مه غورځوئ. ایا تاسو د بل چا د عذاب څخه نه بلکې د الله ﷻ د عذاب څخه نه ډارېږئ چې په هر شي باندې قادر دی؟

۲ـ دا فرصت له لاسه مه ورکوئ. یقیناً زه ستاسو دپاره امانتګر رالېږلی شوی یم، چې مَا انزل الله درته هو بهو بیانوم او هیڅ کمبود او زیادت پکښې نه وراچوم. او برسېره په دې زه خو په تاسو کښې لا د وړاندې څخه په امانتګر باندې مشهور وم.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ چې په امانتدارۍ سره درته الهي احکام بیانوم. او په دې باندې علاوه:

۴ـ زه ستاسو څخه په خپل بیان او په خپل دعوت باندې کوم مزدوري او عوض هم نه غواړم، هسې نه چې زه بالکل عوض نه اخلم بلکې زما أجرت او ثواب په رب العالمین ﷻ باندې دی چې د مهربانۍ د مخې یې په خپل اقدس ذات باندې لازم کړی دی، که بالفرض المحال ما ستاسو څخه په خپل دعوت باندې عوض غوښتی وی نو ستاسو به حق وی چې په مabandې مو اتهام لګولی وی او زما اطاعت مو نه وی کړی.

۵ـ ای زما قومه! ما ستاسو دپاره الهي شریعت راوړی دی چې ستاسو د دنیا او آخرت ښېګڼې پکښې نغښتې دي، تاسو خو یوازې عقیدوي فساد نه لرئ بلکې اعمال او کړه وړه مو ټول فاسد دي او اصلاح غواړي. د مثال په توګه:

الف: ایا تاسو په هره لوړه باندې بې فایدې منارې او یادګارونه جوړوئ؟ حال دا چې دا ټول عبثیات دي چې صرف د دنیاوي افتخاراتو په بنیاد صورت نیسي.

ب: تاسو د آخرت ژوند بالکل هېر کړ دی او په دنیا کښې ډېر ښایسته مکانونه او ډنګې ماڼۍ جوړوئ، او دومره زیار پکښې باسئ لکه چې تاسو به دلته همېشه یاست او د مرګ سره به نه مخامخ کېږئ، حال دا چې خبره داسې نه ده، د مرګ څخه نه شئ خلاصېدلی.

ج: کله چې تاسو هغه چاته لاس اچوئ او حمله ورباندې کوئ چې تاسو ورباندې زورور یاست، نو متکبرانه او بې رحمانه حمله پرې کوئ، د الله ﷻ په مخلوق باندې ستاسو بالکل زړه نه سوزي.

۶ـ نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ، د خپلو عقایدو په اصلاح باندې علاوه خپل اعمال هم اصلاح کړئ (لکه چې وړاندې یې مثالونو ته اشاره وشوه).

۷ـ ای زما قومه! د هغه اقدس ذات ﷻ څخه وډار شئ او شکریه یې وکړئ چې ستاسو سره یې په بې شمېره نعمتونو باندې امداد کړی دی، او تاسو یې په خپلو سترګو ګورئ او درته معلوم دي لکه:

الف: تاسو ته یې څاروي دربښلي او ستاسو دپاره یې تابع او منقاد ګرځولي دي، چې هم یې غوښې خورئ، هم ورباندې درانه بارونه انتقالوئ او همدارنګه ورڅخه نورې استفادې هم کوئ.

ب: ستاسو سره یې په زامنو سره امداد کړی دی چې د یو پلوه مو په ژوند کښې کومکیان دي او د بله پلوه مو خلیفه ګان دي.

ج: تاسو ته الله ﷻ د تورو خاورو څخه ښایسته باغونه راویستلي دي چې په ډول- ډول مېوه لرونکو او غیرو مېوه لرونکو ونو باندې مشتمل دي.

د: همدارنګه یې درته د ځمکې څخه چینې راخوټولې دي او سیندونه یې درته پکښې بهولي دي.

۸ـ نو ای زما قومه! ستاسو د ناشکرۍ د کبله زه په تاسو باندې د لویې ورځې د عذاب څخه داربږم، نو په مابandې ایمان راوړئ او د کفر او کفریاتو څخه لاس واخلئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



٩_ هود ﷺ ته خپل قوم د دعوت د تردید په هکله وویلې چې:

الف: ای هوده! ستا نصائح په مونږ باندې هیڅ اغیز نه لري او دعوت دې راباندې بالکل بې اثره دی، بلکې په مونږ باندې دا خبره یو برابر ده چې ته مونږ ته وعظ وکړې او توحید ته مو دعوت کړې، او که خپل ځان د واعظینو څخه جوړ نه کړې، ستا سکوت او عدم سکوت ته مونږ په یوه نظر ګورو. او دا څکه چې:

ب: په کومه لاره باندې چې مونږ روان یاستو دا زمونږ د پخوانیو (پلرونو او نیکونو) خوی او عادت دی، چې هغوی ورباندې تللي دي مونږ هم ورباندې ځو.

په پخوانیو خلکو کښې هم ځینو خلکو د نبوت دعوې کړې وې، ته هم د همغو غوندې د نبوت دعوه کوونکی یې چې په دروغو دې خپل ځان پیغمبر تراشلی دی.

ج: مونږ د عذابه نه ډارېږو او ستا په خبره هیڅ باور نه لرو، بلکې مونږ معذب کړی شوي نه یاستو.

١٠_ نو په دغه ډول سره عادیانو د خپل پیغمبر (هود ﷺ) تکذیب وکړ نو مونږ دوی ټول د ځرمې هلاک او پوپنا کړه، چې اوه شپې او اته ورځې مو ورباندې تېز باد وچلاوه، چې د خرماګانو د ډډونو غوندې یې په ځمکه باندې وغورځول.

١١_ ای پیغمبره! په دې مقام کښې هم په خپل اُمت باندې دا مطالب قرائت کړه چې:

الف: په ذکر شوي بیان کښې د الله ﷻ د قدرت او توحید او هم ستا د نبوت ډېره لویه نښه نغښتې ده، خو د خلکو اکثریت نه پخوا ایمان راوړی دی او نه به وروسته ایمان راوړي.

ب: یقینًا ستا رب ﷻ د کلکې او قوې ارادې خاوند دی او په هر وخت کښې کولی شي چې په کفارو باندې خپل عذاب ورنازل کړي. خو د دې سره-سره ډېر مهربان هم دی چې دوی ته فرصت او مهلت ورکوي ترڅو دوی توبه تائب شي، او د عذاب مخه ترې واړوي.

## توضیحات

١_ په ﴿ أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ ءَايَةً تَعْبَثُونَ ﴾ کښې د ﴿ رِيعٍ ﴾ کلمه د "ريعة" جمعه ده[1] چې علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او ځینې علماوو کرام وایي چې: د نوموړې کلمې اطلاق په هر لوړ (اوچت) ځای یا په هر غره باندې کېږي چې د ډېرې لرې مسافې څخه لیدل کېږي[2].

ب: دا کلمه د هغې لارې نوم دی کومه چې د دوه وو غرونو ترمنځ غزېدلې وي[3].

خو مونږ ته په دې مقام کښې اولنی تفسیر راجح برېښي چې د ﴿ ءَايَةً ﴾ د کلمې سره ډېر ښه تناسب لري؛ دا یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ تَعْبَثُونَ ﴾ کلمه د "عَبَث" _لکه "شَرَف"_ څخه اشتقاقه شوې

(١) اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص٦٠
(٢) تفسير البغوي ج٣ ص٣٩٣؛ لسان العرب ج٨ ص١٣٩
(٣) روح المعاني ج١٩ ص١١٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده، "عَبَث" د هغه کار کولو دپاره وضعه شوی دی کوم چې په صحيح غرض باندې مشتمل نه وي بلکې محض د لوبو او ساتېرۍ دپاره صورت ونيسي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای زما قومه! ايا تاسو خپل ضروريات هېر کړي دي او په کفر باندې علاوه په عبثياتو او د لوبو په کارونو باندې مشغول ياست؟ تاسو په هر اوچت ځای باندې منارې او تعميرات جوړوئ چې ضرورت ورته نه لرئ او نه پکښې استوګنه کوئ، بلکې ستاسو غرض پکښې فقط همدا دی چې ستاسو د قوت او مهارت دپاره د يوې نښې او يوه يادګار په حيث پاتې شي، نو تاسو ته په کار دي چې د عبثياتو څخه لاس واخلئ او په ضرورياتو باندې مشغول شئ.

## مصانع څه معنی؟

٢ـ په ﴿وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ﴾ کښې د ﴿مَصَانِعَ﴾ کلمه د "مَصْنَعَةٌ" جمعه ده[١]، چې د ښارونو او مانيو (بنګلو) دپاره وضعه شوې ده[٢]، نو د معنی حاصل يې داسې راخېژي چې:

ای زما قومه! عجيبه ده چې تاسو د خپل دنياوي ژوند دپاره څومره زيات زيار باسئ او مانۍ قوي او ښکلې جوړوئ لکه چې تاسو به دلته همېشه ياست، اما بالمقابل د اُخروي ژوند دپاره هيڅ تياری نه نيسئ لکه چې تاسو هيڅ مرګ نه لرئ چې هلته ورانتقال شئ، حال دا چې تاسو به هرو مرو په مرګ سره دا دنيا پرېږدئ او هلته به دائمي ژوند پيل کوئ، نو تاسو ته په کار دي چې د دائمي کور د تياري غم وخورئ او هېر يې نه کړئ، لکه چې اوس مو هېر کړی دی.

## د بَطش معنی

٣ـ په ﴿وَإِذَا بَطَشْتُم بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ﴾ کښې د ﴿بَطَشْتُم﴾، ﴿بَطَشْتُمْ﴾ دواړه کلمې د "بَطْش" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقې شوې دي، "بَطْش" په قوت سره کلکو نيولو ته وايي[٣].

څرنګه چې عاديان ډېر بې رحمه او په زړونو باندې سخت خلک وه، نو ځکه هود ﷺ دوی ته په خپلو نصائحو کښې د نرمۍ او ترحم نصيحت هم شامل کړ چې: ای زما قومه! تاسو د الله ﷻ په مخلوق باندې زړه وسوزئ، په غير شرعي توګه ځوک مه نيسئ او سکنجې مه ورکوئ، دا ډېر لوی تکبر دی او د تکبر انجام خراب وي.

## هېر مو نه شي!

٤ـ هېر مو نه شي چې د عاديانو غوندې د دې زمانې کفار هم په عقيدوي فساد (کفر) باندې برسېره په عملي فساد باندې هم اخته دي، چې په لهو لعب (عبثياتو) کښې مشغول دي او د دنيا د ژوند دپاره ډېر کلک او قوي کورونه جوړوي ته به وايې چې دوی به دلته همېشه وي؛ خو د آخرت د ژوند دپاره هيڅ تياری نه نيسي ته به وايې چې دوی مرګ نه لري.

---

(١) تفسير القرطبي ج١٣ ص١٢٤
(٢) القاموس المحيط ج٢ ص٨٦٠
(٣) القاموس المحيط ج١ ص٢٨٧؛ لسان العرب ج٦ ص٢٦٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه، د دې زمانې په کفارو کښې هم بې رحمې زښته ډېره ده چې په ډول-ډول شکنجو او تعذیبونو سره مسلمانان زوروي او تعذیبوي، د افغانستان په څوارلس کلن جهاد کښې بې ډېر مثالونه تېر شوي دي، حتی چې د خلقیانو (کمونستانو) د پلوه خینې مسلمانان ژوندي دفن کړی شوي دي او سترګې ترې ویستلی شوي دي او داسې نور.

نو د آخر الزمان اُمت دپاره په کار ده چې د عادیانو څخه عبرت واخلي او خپل خانونه عقیدةً او عملاً سم کړي چې د الله ﷻ د عذاب سره مخامخ نه شي. اما په خصوصي توګه د دې اُمت مسلمانو ته هم په کار دي چې په ټول اسلام کښې داخل شي او په انتخابي توګه ورباندې عمل ونه کړي بلکې په کلي توګه یې په خپلو خانونو باندې تطبیق کړي.

د دې مقام د ښه وضاحت دپاره لاندې احادیث د نظره تېر کړئ:

الف: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ»[1] یعنې د سړي مسلمانۍ ته دا کار هم ډېر ډول او سنګار وربښي چې هغه کارونه پرېږدي کوم چې هغه ته مقصودي نه وي، او د عبثیاتو څخه وي.

ب: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وایي چې: یوه ورځې نبي کریم ﷺ زما په اوږو باندې مبارک لاس کېښود او راته ویې فرمایل: «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ»[2] په دنیا کښې داسې اوسه لکه چې (دلته) مسافر (بې وطنه) یې او یا په لارې باندې تېرېدونکی یې، (دنیا پورې زړه مه تړه او آخرت مه هېروه).

ج: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «...قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ»[3] یعنې دوه ډلې خلک اهل النار دي چې ما نه دي لیدلي وروسته به پیدا شي، یوه ډله داسې قوم دی چې د غوایانو د لکیو غوندې متروکې (قمچنې) به ورسره وي او خلک به ورباندې وهي.

## سوال جواب

**۵ـ که څوک وایي چې: په ﴿ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ کښې د ﴿ هَٰذَآ ﴾ په کلمې سره څه شي ته اشاره ده؟**

مونږ وایو چې: د ذکرې شوې کلمې په مشار إلیه کښې علماوو کرمو متعدد احتمالات لیکلي دي[4]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: په دې کلمې سره هغه دین ته اشاره ده په کوم باندې چې عادیان روان وه، او مقام ورباندې

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص٥٩

(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٩٤٩

(٣) صحيح مسلم ج٢ ص٣٨٣

(٤) المحرر الوجيز ج١٢ ص٣٧؛ تفسير ابن كثير ج٣ ص٣٤٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلالت کوي. یعنې: ای هوده! زمونږ دین زمونږ د پلرونو (پخوانیو) دین دی چې مونږ ته په میراث باندې پاتې دی، مونږ به یې په هیڅ صورت باندې پرېږدو.

ب: هغه وعظ ته اشاره ده په کوم باندې چې وراندېني کلمات دلالت کوي. یعنې: ای هوده! ستا دعوت او وعظ د پخوانیو خلکو عادت دی، ستا غوندې په دروغو باندې د نبوت مدعیان پخوا هم ډېر تېر شوي دي، لکه څنګه چې هغوی وربانديې عقیده نه ده کړې مونږ هم په تا باندې ایمان راوړونکي نه یاستو.

ج: هغه حال ته اشاره ده په کوم باندې چې دنیا روانه ده، یعنې په دغه حال باندې چې مونږ یاستو (چې پیدا کېږو او مره کېږو) پخواني هم په همدغه حال باندې تېر شوي دي او هیڅوک بېرته د قبره څخه نه دي راپورته شوي.

که څه هم ذکر شوي درېواړه احتمالات سره یو تربله منافات نه لري څه لرې نه ده چې د بدلیت په لحاظ درېواړه مراد وي، اما لاندې وجوهو ته په کتلو سره لومړنی احتمال قوي برېښي، والله ﷻ اعلم.

اول: د همدغه لومړي احتمال په مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَمَا نَحْنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوْلِكَ ﴾ [هود:۵۳] یعنې ای هوده! ستا نبوت مونږ ته په ثبوت نه دی رسېدلی نو مونږ ستا د خبرې د کبله د خپلو معبودانو پرېښودونکي نه یاستو، مونږ به هیڅکله د خپل دین څخه بله خوا نه کړی شو.

دوهم: متصل ایت ﴿ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴾ هم همدغه احتمال تائیدوي چې: ستا خبرې ټولې دروغې دي، مونږ ستا په تهدید سره د عذابه ډارېدونکي نه یاستو بلکې مونږ معذب کړی شوي نه یاستو او هیڅکله به راباندې عذاب نازل نه کړی شي.

﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ
أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ
ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُونَ فِى مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ
طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ
﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾ قَالُوٓا۟
إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٥٣﴾ مَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا فَأْتِ بِـَٔايَةٍ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ
﴿١٥٤﴾ قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴿١٥٥﴾ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عَذَابُ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿۱۵۶﴾ فَعَقَرُوهَا فَأَصْبَحُوا نَادِمِينَ ﴿۱۵۷﴾ فَأَخَذَهُمُ الْعَذَابُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿۱۵۸﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۵۹﴾

[۱۴۱] د ثمود قبیلې (ثمودیانو) هم پیغمبرانو ته د دروغو نسبت وکړ.

[۱۴۲] کله چې ورورو ته د دوی (خواخوږي نسبي) ورور صالح علیه السلام وویل چې ایا تاسو (د الله ﷻ له عذابه نه) وار نه یاست؟ (ولې) د هغه د عذابه څخه نه ساتئ؟!

[۱۴۳] یقیناً زه ستاسو دپاره (د الله ﷻ د جانبه) امانتګار رالیږل شوی یم.

[۱۴۴] نو د الله ﷻ څخه ووار شئ؛ او زما اطاعت وکړئ (چې زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی).

[۱۴۵] او زه ستاسو څخه په پیغام رسونه (رسالت) باندې هیڅ عوض نه غواړم؛ زما اجر او ثواب نه دی مګر په رب العالمین ﷻ باندې دی (چې لطفاً یې په خپل اقدس ذات باندې منلی دی).

[۱۴۶] ایا تاسو به په هغو (نعمتونو) کېښې د امنیت درلودلو په حال پرېښودل شئ؟ او هلته به پاتې) کوم چې دلته (ستاسو په شاو خوا کېښې) موجودیت لري؟

[۱۴۷] (په بل عبارت: ایا تاسو به) په باغونو او چینو (بهېدونکو اوبو) کېښې (پاتې پرېښودل شئ؟).

[۱۴۸] او (ایا تاسو به) په کښتونو او د خرماوو په داسې ونو کېښې (پرېښودل شئ) چې میوې (کجورې) یې (د ډېروالي د کبله) خپلې په خپلو نورو کېښې ننوتلې دي.

[۱۴۹] (ایا) تاسو د غرونو څخه (په غرونو کېښې) په داسې حال کېښې کوټې (او کورونه) تراشئ چې تکبر کوونکي (او فخر کوونکي) یاست (نو دا تکبر به در باندې سرچپه نه شي؟).

[۱۵۰] نو د الله ﷻ څخه ووار شئ؛ او زما اطاعت وکړئ (چې زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دی).

[۱۵۱] او تاسو د حد څخه د تېرېدونکو د امر اطاعت مه کوئ (چې دا د شیطان اطاعت دی).

[۱۵۲] (البته) هغه (د حد څخه تېرېدونکي) کسان چې په ځمکه کېښې فساد ولنه کوي او (په هیڅ وخت کېښې په ځمکه کېښې) اصلاح نه کوي (د هیڅ خیر نه غواړي).

[۱۵۳] ثمودیانو (صالح علیه السلام ته) وویل چې: یقیناً ته د جادو کړی شوو څخه یې (چې د خپلو پلرونو دین دې پرېښود).

[۱۵۴] ته نه یې مګر زمونږ په شان بنیادم یې، نو ته (په خپل نبوت باندې) دلیل راوړه (البته هغه دلیل چې مونږ یې فرمایش درکوو)، که ته د صادقانو څخه یې (زمونږ فرمایش پوره کړه).

[۱۵۵] صالح علیه السلام وویل چې: دغه ده (د معجزې) اوښه (چې تاسو یې فرمایش راکړی وه، البته دا) داسې اوښه ده چې هغې ته د اوبو یو نوبت دی او ستاسو (د څارویو) دپاره د اوبو د معلومې (ټاکلې) ورځې بل نوبت دی.

[۱۵۶] او تاسو دغې اوښې ته بدي (ضرر) مه رسوئ (او خپل نوبت ورکړئ)، نو (که ضرر ورته ورسوئ) د لویې ورځې عذاب به مو ونیسي (عذاب به درباندې نازل شي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۵۷] نو هغوی د معجزې اوښه زخمي کړه (چې حلاله يې کړه) نو دوی په داسې حال باندې وګرځېده چې (په زخمي کولو باندې يې بې وخته) پښېمانه کوونکي شوه.

[۱۵۸] نو (درې ورځې وروسته) هغوی لره الهي عذاب ونيوه (چې ټول پنا شوه).

يقينًا په دغه (بيان) کښې (د قدرت) ډېره لويه نښه پرته ده، او د خلکو اکثريت (په يوه زمانه کښې هم) ايمان راوړونکی نه دی.

[۱۵۹] او يقينًا (ای پيغمبره!) ستا رب ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او هم) ډېر مهربان دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د صالح ﷺ د قيصې څېنو مهمو ټکو ته اشاره شوې ده، چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د صالح ﷺ او د ده د قوم قيصه ولوله چې عبرت ترې واخلي هغه دا چې:

۱_ د عاديانو په شان ثموديانو هم د ټولو پيغمبرانو تکذيب وکړ او د مطلق رسالت څخه انکاري شوه. څکه چې:

۲_ ثموديانو ته د دوی خواخوږي نسبي ورور صالح ﷺ د نصيحت په توګه وويلې چې:

الف: ايا تاسو د الله ﷻ څخه نه ډارېږئ؟ او د ده ﷻ د عذابه خپل خانونه بچ نه ساتئ؟ چې په کفرياتو او شرکياتو باندې اخته ياست.

ب: يقينًا ستاسو د هدايت دپاره د الله ﷻ د پلوه زه د يو پيغمبر په حيث را استولی شوی يم، او کوم پيغامونه چې ستاسو دپاره ماته راکړه شوي دي په هغو کښې د پوره امانت خاوند يم، چې هو بهو يې تاسو ته در رسوم.

ج: نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ او د شرک څخه لاس واخلئ:

د: په دې باندې علاوه زه خو ستاسو څخه د پيغامونو په رسونه باندې کوم عوض نه غواړم چې په تاسو باندې بوج شي او يا ما په خودغرضۍ باندې متهم کړئ، بلکې زه ستاسو اُجرت او عوض ته څه اړتيا او احتياج هم نه لرم او دا څکه چې:

هـ: زما اُجرت او ثواب په بل چا نه دی بلکې په رب العالمين ﷻ باندې دی چې د خپل لطف د کبله يې په خپل اقدس ذات ﷻ باندې منلی دی او هيڅکله په خپله وعده کښې خلف هم نه کوي، چې اجر رانه کړي.

و: ای زما قومه! ايا تاسو خيال کوئ چې په هغو نعمتونو کښې به تاسو د همېشه دپاره په امن کښې اوسېږئ کوم چې ستاسو په شاوخوا کښې موجوديت لري او تاسو ترې ډول-ډول استفادې کوئ؟

ز: يا په بل عبارت، ستاسو څه خيال دی چې ستاسو دغه باغونه او بهېدونکې اوبه (راخوټېدونکې چينې) او هم دغه رنګارنګ کښتونه او د کجورو لوړې او دنګې ونې به چې په وږو کښې يې د ګڼوالي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د کبله او د کجورو د ډېروالي د کبله ځیني دانې په ځیني نورو کښې ننوتلې دي، همېشه وي او هیڅکله به وربانديې زوال ورنه شي؟ دغسې نه ده دا ټول زوال لري.

ح: اى زما قومه! ایا تاسو د غرونو څخه په ډېر مهارت سره کوټې او کورونه تراشئ او افتخار وربانديې کوئ؟ او ستاسو ګومان دى چې دغه تراشلى شوي کورونه او کوټې به تاسو د الهي عذاب څخه وساتي او هلته به پکښې پټ شئ؟ دا ګومان مه کوئ؛ د الله ﷻ د عذاب څخه هيڅ شى چاته نجات نه شي ورکولی، نو ډېر ژر به مو افتخار او تکبر په سر مات شي.

ط: نو د الله ﷻ څخه وډار شئ چې بنیاد ویستونکی عذاب به دربانديې نازل کړي، او زما اطاعت وکړئ چې زما اطاعت د الله ﷻ اطاعت دى او د ده ﷻ رضاء زما په اطاعت کښې نغښتې ده.

ي: تاسو د مسرفانو (د حد څخه د تجاوز کوونکو) او د شیطان اطاعت مه کوئ او هم د هغو مشرانو خبره مه منئ کوم چې د شیطان په لښکر کښې شامل دي او تاسو کفرياتو ته راکاږي.

البته دغه د مسرفانو ډله د هغو کسانو څخه عبارت ده چې:

اول: په ځمکه کښې فساد ته وده ورکوي او کفریات او جنایات پکښې خوروي.

دوهم: او د اصلاح غوښتونکي نه دي، او نه غواړي چې خلک د خير په لاره سوق شي.

۳ـ ثموديانو صالح ﷺ ته په لاندې ډول جواب ورکړ او د ده ﷺ نصائح یې رد کړه چې:

الف: اى صالحه! ته خو په مونږ کښې ډېر د تمې سړى وې، زمونږ تاته اُمید وه چې ته به په راتلونکي کښې د خپلو پلرونو د دين ډېر خدمت وکړې، حال دا چې تا زمونږ اُمیدونه د خاورو سره برابر کړه، د دې بله وجه نه شي کېدلی بې د دې چې ته جادو کړى شوى یې، او د جادو په اثر دې فکر بالکل سرچپه شوى دى، چې د خپلو پلرونو معبودان ردوې او د باطلو لقب ورکوې.

ب: په دې باندې علاوه، ته خو بل څوک نه یې بلکې زمونږ غوندې بنیادم یې، نو دا امتیاز تا د کومه کړ چې ته پیغمبر شوې او مونږ پیغمبران نه شوو؛ که بالفرض الله ﷻ اراده کړې وى چې مونږ ته پیغمبر راواستوي نو هرو مرو به یې انسان نه بلکې پرښته د همدغه منصب دپاره ټاکلې وى.

ج: نو که ته د نبوت په ادعاء باندې کلک یې، نو مونږ ته په خپل نبوت باندې هغه معجزه راوړه د کومې چې مونږ تاته فرمایش درکوو او مونږ یې درڅخه غواړو، که په خپله مدعى کښې د صادقانو څخه یې نو ژر شه زمونږ فرمایش پوره کړه.

۴ـ کوم فرمایش چې ثمودیانو صالح ﷺ ته ورکړى وه (چې د اوښې معجزه مونږ ته حاضره کړه، بیا به ستا په نبوت باندې عقیده وکړو) هغه فرمایش الله ﷻ پوره کړ. نو:

الف: صالح ﷺ ثمودیان مخاطب کړه چې دا هغه فرمایشي معجزه ده چې تاسو وربانديې زيات زور اچولی وه، دا یوه قدرتي اوښه ده چې په معجزانه توګه خلق کړى شوې ده، د دې اوښې ټول کړه وړه د عادي اوښې په څېر نه دي. د همدې کبله:

ب: د دې اوښې څخه ستاسو څاروي ډارېږي او په اوبه خوړ کښې ورسره نه شي جمعه کېدلی، نو په کار دي چې ذکره شوې اوښه ستاسو د څارویو سره په وار اوبه خوړ ته ورخوشې کړى شي، چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د دغې اوښې دپاره معلومه (متعینه) ورځ وټاکلی شي، په دې ورځ کښې به ستاسو څاروي اوبه خور ته نه پرېښودل کېږي.

ج: په دې باندې علاوه تاسو دغې اوښې ته څه ضرر مه رسوئ او د عادي اوښې خیال ورته مه کوئ، که نه نو تاسو به د لويې ورځې عذاب ونیسي، چې په دنیا کښې به درباندې بنیاد ویستونکی عذاب درنازل کړی شي او په آخرت کښې به د دوزخ د عذاب سره مخامخ کړی شئ.

۵_ ای پیغمبره! ثمودیانو د صالح ﷺ نصیحت ته اعتناء ونه کړه او د اوبه خور وېش یې تحمل نه کړی شو نو:

الف: د همدې کبله یې ذکره شوې قدرتي اوښه د خپل یوه بدبخت سړي په لاس باندې لومړی زخمي او بیا یې مړه کړه (نحره یې کړه).

ب: د اوښې د وژلو سره جوخت هغوی ته د عذاب نښې نښانې ښکارندې شوې نو د همدې کبله د هغې په وژلو باندې پښېمانه شوه، خو پښېماني ورته څه ګټه ونه شوه رسولی، او الهي عذاب ترې راچاپېر شو او ټول یې پوپنا کړه.

۶_ ای پیغمبره! په ذکر شوې بیان کښې ډېره لویه قدرتي نښه پرته ده چې ستا نبوت ورباندې په ډېره ښه وجه په اثبات رسېږي، خو د دې سره سره د خلکو اکثریت ایمان راوړونکی نه وه، او ایمان راوړونکی نه دی.

۷_ په دې باندې علاوه، ستا رب ﷻ هرومرو همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی هیڅوک یې د ارادې مخنیوی نه شي کولی، خو ډېر مهربان هم دی چې خلکو ته د توبې او ایمان راوړلو دپاره فرصت ورکوي او په عجله سره ورباندې عذاب نه ورنازلوي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَٰهُنَا آمِنِينَ ﴾ کښې د "مَا" کلمه په راتلونکو متصلو دوه وو ایتونو کښې تفسیره شوې ده، یعنې: ای ثمودیانو! ایا تاسو به د کفریاتو سره-سره په هغو نعمتونو کښې باقي پرېښودل شي چې دغلته (ستاسو په شاوخوا کښې) موجودیت لري، چې د باغونو او نورو شیانو څخه عبارت دي؟ ایا دغه نعمتونه به زوال ونه لري؟ ایا تاسو به د مهلک عذاب سره مخامخ نه شئ؟ (دا خیال مو د خپلو مغزو څخه وباسئ).

## د دوه وو لغاتو معناوې

۲_په ﴿ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴾ کښې د لاندې دوه وو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: د "طَلْع" کلمه د خرما د ونې هغه وږي ته په لومړي حال کښې ویله کېږي کوم چې لا د شخولې څخه نه وي راوتلی[1]، خو په دې مقام کښې علماوو کرامو په میوه (کجورو) باندې تفسیره

(۱) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کړې ده[۱]. يا په بل عبارت: دلته د ذکرې شوې کلمې څخه د کجورو وږی په هغه حال کښې مطلب دی چې د شخولې څخه راوتلی وي او په کجورو باندې بنه ډک وي، د همدې کبله ذکرې شوې کلمې ته د "هَضِيم" لقب ورکړی شوی دی.

ب: د ﴿ هَضِيمٌ ﴾ کلمه د "هَضْم" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "هَضْم" د يوه پاسته شي ميده ميده کولو ته ويل کېږي[۲]، نو په هغه طعام باندې هم د "هَضْم" اطلاق کېږي کوم چې په ګېډه کښې مات مات (ميده ميده) شي.

نو د معنى حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ستاسو په ماحول کښې د کجورو داسې ګڼې ونې دي چې وږي يې د ډېروالي د کبله يو په بل کښې ننوتلي دي، ته به وايې چې يو په بل کښې هضم شوي (ميده-ميده) شوي او پکښې منحل شوي دي.

همدې مضمون ته په بل ايت کښې داسې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَٱلنَّخْلَ بَاسِقَٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيدٌ ﴾ [ق: ۱۰] يعنې مونږ په اوبو سره د خرماوو داسې دنګې (لوړې) ونې زرغونې کړې دي چې د کجورو وږي يې لاندې باندې (او يو په بل سواره) دي.

## فاره څه معنى؟

۳ـ په ﴿ وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴾ کښې د ﴿ فَٰرِهِينَ ﴾ کلمه د "فَارِه" جمعه ده چې علماوو کرامو په لاندې دوه وو معناوو سره تفسيره کړې ده[۳]:

الف: دا کلمه د "فَرِهَ يَفْرَهُ" ـ لکه "شَرُفَ يَشْرُفُ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د متکبر معنى ورکوي. يعنې اى زما قومه! تاسو په غرونو کښې د فخر دپاره کورونه او کوټې تراشئ او تکبر پرې کوئ نو ستاسو څه خيال دی چې د کبر کاسه به مو نسکوره نه شي او دا خوشالي به درباندې سرچپه نه شي؟

ب: دغې کلمې د "فَرُهَ يَفْرُهُ" ـ لکه "ضَرَبَ يَضْرِبُ" ـ څخه اشتقاق موندلی دی چې د حاذق (ماهر) معنى ورکوي، يعنې: اى زما قومه! تاسو په ډېر مهارت سره په غرونو کښې کوټې او کورونه تراشئ چې نور څوک دغه کار نه شي کولی، نو تاسو د دغه نعمت شکريه وکړئ او د الله ﷻ څخه ودار شئ.

مونږ ته دواړه تفسيرونه په زړه پورې برېښي، نو که د بدليت په لحاظ دواړه اراده کړی شي هيڅ باک يې نشته.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴾ د جملې مضمون خو د ﴿ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ﴾ په جمله کښې اداء شوی دی، نو د همدغه مضمون په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

---

(۱) تفسير الخازن ج۳ ص۴۸۶؛ تفسير المظهري ج۷ ص۷۹
(۲) تفسير الطبري ج۱۹ ص۱۰۰
(۳) القاموس المحيط ج۳ ص۴۸۵؛ لسان العرب ج۱۳ ص۵۲۱؛ روح المعاني ج۱۹ ص۱۱۳؛ الدر المنثور ج۶ ص۳۱۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وايو چې: د ذکرې شوې جملې په نزول سره واضحه شوې ده چې دغو مفسدانو د دوام په توګه په ځمکه کښې فسادونه کول، هسې نه چې کله-کله به يې اصلاح هم د لاسه واقع کېدله.

دغه مضمون په بل ايت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ وَكَانَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٖ يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُونَ ﴾ [النمل:۴۸] يعنې او د ثموديانو په ښار (حجر) کښې د فساد مشران نهه اشخاص وه چې په ځمکه کښې به يې د دوام په توګه فسادونه خورول او هيڅکله به يې اصلاح نه کوله.

د فتنې همدغو نهو مشرانو د لاندې فسادونو طرحې هم جوړې کړې وې:

الف: دوی دسيسه تياره کړې وه چې: د شپې په تياره کښې به د صالح عليه السلام په کور باندې مرګونې حمله کوي او صالح عليه السلام به وژني خو سبا ته به خلکو ته وايي چې مونږ ترې هيڅ خبر نه ياستو [النمل:۴۹].

ب: همدغو فسادي مشرانو د ناقة الله (د معجزې د اوښې) د قتل پلان هم جوړ کړی وه.

که څه هم دوی دغه پلان د يوه بدبخت سړي په لاس باندې تطبيق کړ چې "قَدَارُ بۡنُ سَالِفٍ" نومېده[١]، مګر د پلان په تطبيق باندې ټول راضي وه او ټولو غوښتل چې اوښه ووژله شي، د همدې کبله په ﴿ فَعَقَرُوهَا ﴾ کښې د "عَقۡر" (زخمي کولو) نسبت ټولو ثموديانو ته شوی دی، چې لومړی يې زخمي کړه او بيا يې مړه کړه.

پاتې شوه دا خبره چې په کوم اندام باندې يې زخمي کړه، نو د دې بيان د [هود:۶۵] ايت لاندې تېر شوی دی ـ لله الحمد والشکر ـ چې تکراري بيان ته يې اړتيا نه ګورو.

## يادونه

۵ـ مونږ د الله جل جلاله په توفيق د صالح عليه السلام د خارق العاده اوښې په هکله د [الأعراف:۷۷] ايت لاندې څه معلومات ليکلي دي. او په دې مقام کښې هم پکښې ځينو علماوو کرامو څه تفصيل ليکلی دی[٢]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته او يا دلته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې د ﴿ فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ ﴾ څخه څرګندېږي چې ثموديان په خپلو کړو باندې پښېمان شوه، او پښېماني خو د توبې معنی ورکوي، نو پوښتنه دا ده چې: د پښېمانتيا څخه وروسته ورباندې څنګه عذاب ورنازل شو حال دا چې الله جل جلاله توبه قبلوونکی او مهربان دی؟

مونږ وايو چې: که څه هم علماوو کرامو د ذکر شوي سوال دپاره ډېر جوابونه کړي دي[٣] خو کوم

---

(١) الدر المنثور ج۶ ص۳۱۶

(٢) تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۴۴

(٣) روح المعاني ج۱۹ ص۱۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جواب چې په زړه پورې دی هغه دا دی چې: د ثمودیانو توبه بې وخته وه، دوی هغه وخت توبې ته اقدام وکړ کله چې وربانديې د الهي عذاب نزول شروع شو، په همدغه حال کښې دوی درې ورځې ژوندي وه، او همدغه درې ورځې د دوی د ندامت ورځې وې.

همدغه جواب ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُوا۟ فِى دَارِكُمْ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍ ۖ ذَٰلِكَ وَعْدٌ غَيْرُ مَكْذُوبٍ ﴾ [هود:۶۵] یعنې: کله چې ثمودیانو د معجزې اوښه زخمي او بیا نحره (حلاله) کړه نو صالح ﷺ هغوی ته وویل: اوس نو تاسو په خپلو کورونو کښې فقط درې ورځې مزې چړچې وکړئ (ستاسو عمر فقط همدا درې ورځې پاتې دی) بیا به تاسو ټول پوپنا شئ، دغه وعده دروغ کړی شوې نه ده، هرو مرو ربنتیا کېږي.

## په یاد ولرئ

۷ـ کوم عذاب ته چې په ﴿ فَأَخَذَهُمُ ٱلْعَذَابُ ﴾ کښې اشاره شوې ده، هغه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۷۸] ایت لاندې ښه پوره څېړلی دی چې بیا څېړلو ته یې اړتیا نه ګورو.

﴿ كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّى لَكُمْ
رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا
عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٤﴾ أَتَأْتُونَ ٱلذُّكْرَانَ مِنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم
مِّنْ أَزْوَٰجِكُم ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾ قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ
ٱلْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ إِنِّى لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾ رَبِّ نَجِّنِى وَأَهْلِى مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾
فَنَجَّيْنَٰهُ وَأَهْلَهُۥٓ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾ إِلَّا عَجُوزًا فِى ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿١٧١﴾ ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْـَٔاخَرِينَ ﴿١٧٢﴾ وَأَمْطَرْنَا
عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿١٧٣﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾
وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾ ﴾

[۱۶۰] د لوط ﷺ قوم ټولو پیغمبرانو ته د دروغو نسبت وکړ.

[۱۶۱] کله چې دوی ته د دوی (نسبي خواخوږي) ورور لوط ﷺ وویل چې: ایا تاسو (د الله ﷻ څخه) نه دارېږئ (او د ده ﷻ د عذابه ځانونه نه ساتئ)؟.

[۱۶۲] یقیناً زه ستاسو دپاره امانتګر پیغمبر یم.

[۱۶۳] نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ (چې زما اطاعت د همده ﷻ اطاعت دی).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۶۴] او زه ستاسو څخه په پیغام رسونه باندې هیڅ عوض (او مزدوري) نه غواړم، زما أجر (او
ثواب) نه دی مګر په رب العالمین ﷻ باندې دی (چې لطفًا یې په خپل اقدس ذات باندې منلی دی).

[۱۶۵] ایا د ټولو عالمونو څخه (بوازې همدا) تاسو نارینه وو ته (د جنسي ارتباط په حیث ورځئ)

[۱۶۶] او هغه زنانه پرېږدئ کومې چې ستاسو رب ﷻ ستاسو دپاره پیدا کړې دي چې ستاسو د
مېرمنو څخه عبارت دي؟ بلکې (حقیقت دا دی چې تاسو (د انساني چوکاټ څخه تجاوز
کوونکي) قوم یاست.

[۱۶۷] هغوی (په جواب کښې) وویلې چې: ای لوطه! که ته (د دغو خبرو او دعوت څخه منع)
نه شې نو هرومرو ضرور به ته (د دې وطن څخه) د ویستلی شوو (خلکو) څخه وګرځې (او به دا به
چې ساکت پاتې شې).

[۱۶۸] لوط ﷺ وویلې چې: یقینًا زه ستاسو (دغه کرغېړن) عمل ته د غضب کېدونکو (بلې
څخه یم (نو غلی نه شم کېناستلی).

[۱۶۹] (بیا لوط ﷺ خپل رب ته د سوال لاسونه پورته کړه چې) ای زما ربه! ماته او زما اهل ته
هغه کار (د سزا) څخه نجات راکړې کوم چې دوی یې عملي کوي (او په دوی باندې عذاب ورنازل کړې).

[۱۷۰] نو مونږ لوط ﷺ او د ده ﷺ ټول اهل (ټبر) ته نجات ورکړ.

[۱۷۱] مګر نه (یوې) بوډۍ (کافرې) ښځې ته چې (زمونږ په علم او تقدیر کښې په هلاکو شوو
کښې) د باقي (پاتې) کېدونکو څخه وه.

[۱۷۲] بیا (د دوی د نجات څخه وروسته) مونږ نور خلک هلاک کړه.

[۱۷۳] او په دوی باندې مو (د خپل غضب د اظهار دپاره) باران وورواوه باران ورول (چې ډبرې
مو وربانداې وورولې)، نو د ډارولی شوو کسانو باران ډېر بد باران وه.

[۱۷۴] (ای پیغمبره!) یقینًا په دغه (ذکر شوي بیان) کښې ډېره لویه قدرتي نښه پرته ده (چې زما
په وحدانیت او ستا په نبوت باندې دلالت کوي)، او (بو خل بیا په خپل أمت باندې قرائت کړه چې)
د خلکو اکثریت (پخوا هم ایمان راوړونکي نه وه او په راتلونکي کښې هم) ایمان راوړونکي نه دي.

[۱۷۵] او یقینًا ستا رب ﷻ همدی د کلکې (نه ماتېدونکې) ارادې خاوند (او) ډېر مهربان دی
(چې خلکو ته د توبې فرصت ورکوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د لوط ﷺ د قیصې ځینو نکاتو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې
راځېژي چې: ای پیغمبره! په خپل أمت باندې د لوط ﷺ د قیصې ځینې عبرتي ټکي قرائت کړه چې
عبرت ترې واخلي، هغه دا چې:

۱ـ د لوط ﷺ قوم هم ټولو پیغمبرانو ته د دروغژنو نسبت وکړ، کله چې د دوی نسبي خواخوږي
ورور (لوط ﷺ) هغوی ته وویلې چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ایا تاسو د الله ﷻ څخه نه ډارېږئ او د ده ﷻ د عذابه خپل خانونه نه په وقایه کښې کوئ چې کفریات پرېږدئ او په توحید عقیده خپله کړئ؟

ب: یقینًا زه ستاسو دپاره امانتګر پیغمبر یم، چې الهي پیغامونه درته هو بهو رسوم او په هیڅ ډول سره خیانت پکښې نه کوم.

ج: نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ، چې زما اطاعت بعینه د الله ﷻ اطاعت دی (زه همده ﷻ را استولی یم).

د: او زه ستاسو څخه د پیغامونو په رسونه باندې څه أجرت او عوض هم نه غواړم چې په تاسو باندې بوج شي او یا په ما باندې د خودغرضی اتهام ولګوئ. زما أجرت او ثوابونه خو نه دي مګر په رب العالمین ﷻ باندې دي چې لطفًا یې په خپل اقدس ذات باندې منلي دي او په خپلو وعدو باندې پوره وفاء کوونکی دی، زما همدغه أجرت بس دی.

هـ: ای زما قومه! د ټولو عالمونو څخه یوازې همدا تاسو نارینه وو ته د جنسي ارتباط په حیث ورځئ؟! حال دا چې ستاسو څخه وړاندې بل هیڅ قوم دغه بد او کرغېړن عمل ته اقدام نه دی کړی.

و: او تاسو دغه بدکار ته څه مجبوریت هم نه لرئ، الله ﷻ ستاسو د غریزې د اشباع دپاره ستاسو زنانه پیدا کړې دي، خو تاسو داسې مخلوق یاست چې خپلې هغه زنانه پرېږدئ کومې چې ستاسو رب ﷻ ستاسو دپاوه پیدا کړې دي او د هغه مخلوق سره جنسي ارتباط نیسئ کوم چې ستاسو رب ﷻ د همدغه کار دپاره نه دي پیدا کړي. نو:

ز: اصلي خبره دا ده چې تاسو د انساني حد څخه تجاوز کوونکي خلک یاست، تاسو ته په کار دي چې د کفر او دغه تجاوز څخه لاس واخلئ.

۲ـ د لوط ﵇ قوم په ډېر تهدید سره جواب ورکړ چې: ای لوطه! که ته د دغه نصیحت او دعوت څخه لاس وانخلې نو هرو مرو به ته د دغه ښار څخه وویستلی شې، ستا غوندې ډېر کسان مونږ د دې ښارونو څخه ویستلي دي، نو په خپل خان رحم وکړه او سکوت اختیار کړه (یا په بل عبارت: زمونږ سیل کوه چې مونږ څه کوو).

۳ـ لوط ﵇ یو ځل بیا خپل قوم مخاطب کړ چې:

الف: زه سکوت نه شم اختیارولی او غلی نه شم کېناستلی او دا خکه چې زه د هغه عمل دپاره کوم چې تاسو یې مرتکب کېږئ، د ښمنانو د ډلې څخه یم. نو زه به هرومرو د خپلې دښمنی اظهار کوم، زه ورته په غُصه یم، زه به ضرور خپله غُصه څرګندوم.

ب: بیا لوط ﵇ خپل رب ﷻ ته سوال وکړ چې: ای ربه! ماته او زما اهل ته د هغه عمل او هغې جزا څخه نجات راکړې په کوم باندې چې زما قوم اخته دی، او په دوی باندې د خپل غضب یو مثالي (عذاب) ورنازل کړې، چې په راتلونکي زمانه کښې د خلکو دپاره یو مثال وګرځي.

۴ـ نو مونږ د لوط ﵇ سوال قبول کړ چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: لوط ﷺ ته او د یوې بوډۍ زنانه څخه په غير د ده ﷺ ټول اهل (ټبر) ته مو نجات ورکړ او بیا مو متباقي ټول قوم هلاک کړ، چې په هلاک شوي متباقي کافر قوم کښې ذکره شوې بوډۍ هم شامله وه، کومه چې د لوط ﷺ خپله ماندینه (مېرمن) وه.

ب: او د هلاکت څخه علاوه مو ورباندې یو ډول باران هم (د توهین دپاره) وورواوه، چې دېر بد باران وه چې د ډبرو څخه یې تشکیل موندلی وه، او په هغه قوم باندې ورنازل شوی وه کوم چې الهي عذابه ډارولی شوی وه خو هغوی ترې نه وه ډارېدلي.

۵_ ای پیغمبره! په ذکر شوي بیان کښې د الله ﷻ د کامل قدرت او ستا د ربنتیاني نبوت دېره غټه (عظیم الشانه) نښه نغښتې ده، خو خلک ترې عبرت نه اخلي، د همدې کبله نه په پخوانیو زمانو کښې د خلکو اکثریت ایمان راوړی دی او نه به ستا په زمانه کښې ایمان راوړونکی وګرځي نو ته بې حوصلې کېږه مه، او ډاډه اوسېږه.

۶_ په دې باندې علاوه دا خبره هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه چې: یقیناً ستا رب ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، هیڅوک یې د ارادې په وړاندې څنډ نه شي واقع کېدلی، خو د دې سره سره ډېر مهربان هم دی، د همدې کبله په عذاب باندې عجله نه کوي او کفارو ته موقع او فرصت ورکوي چې توبه تائب شي او د کفریاتو څخه لاس واخلي.

## توضیحات

۱_ که څه هم ځینو علماوو کرامو[۱] په ﴿ أَتَأْتُونَ ٱلذُّكْرَانَ مِنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ کښې د "مِنْ" توري نه ﴿ ٱلذُّكْرَانَ ﴾ د کلمې سره تعلق ورکړی دی او حاصل یې داسې راویستلی دی چې: ایا تاسو د عالمونو څخه نارینه وو ته د جنسي ارتباط دپاره ورتلل کوئ، حال دا چې په عالمونو _یعنې په انسانانو_ کښې خو زنانه ډېرې دي چې الله ﷻ درته په نکاح سره جائزې کړې دي.

مګر مونږ ته بهتره بربښي چې ذکر شوي توري (مِن) ته د ﴿ أَتَأْتُونَ ﴾ پورې تعلق ورکړی شي، یعنې: ای زما قومه! ایا د ټولو عالمونو څخه یوازې تاسو هغه خلک یاست چې نارینه وو ته د جنسي ارتباط دپاره ورتګ کوئ؟! چې ستاسو څخه وړاندې هیچا دغه کار ته اقدام نه دی کړی

مونږ څکه د "مِن" د توري دغه ډول تعلق بهتر وګڼو چې په همدغه مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ [الأعراف: ۸۰] یعنې او مونږ لوط ﷺ د پیغمبر په حیث لېږلی وه کله چې هغه خپل قوم ته وویلې چې: ایا تاسو داسې بې شرمه کار ته ورتګ کوئ چې ستاسو څخه وړاندې ورته د عالمونو څخه هیچا اقدام نه دی کړی، نو تاسو د دغه کار بنیاد اېښودونکي یاست.

او عین مضمون په [العنکبوت:۲۸] ایت کښې هم راوړان دی، إن شاء الله ﷻ.

---

(۱) التفسير الكبير ج۲۴ ص۱۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ﴿قِلَى، قَلاء﴾ معناوې

٢_ په ﴿ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴾ کښې د "قالين" کلمه د "قِلَى" یا "قلاء" څخه اشتقاقه شوې ده، چې د ډېر زیات بغض او بدو ګڼلو معنی ورکوي[١]، یعنې لوط ﷺ د کفارو د تهدید په مقابل کښې وویلې چې: یقیناً ستاسو د دغه کرغېړن عمل سره تولې پرېښتې او د قیامت د ورځې پورې ټول مؤمنان بغض کوونکي دي، او زه هم د همدغې ډلې څخه یم چې ډېر په کرکه ورته ګورم او ډېر بد یې ګڼم، نو د همدې کبله ستاسو د تهدید پروا نه لرم او غلی نه شم کېناستلی چې تقبیح یې نه کړم.

## سوال جواب

٣_ که څوک وایي چې: په ﴿ إِلَّا عَجُوزًا فِي ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ کښې د ﴿ فِي ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ کلمات د متعلق په اعتبار سره د ﴿ عَجُوزًا ﴾ دپاره صفت واقع شوی دی، نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې مونږ لوط او د ده ﷺ ټول ټبر ته نجات ورکړ مګر په هلاکو شوو کښې پاتې شوې بوډۍ ته مو نجات ورنه کړ. نو پوښتنه دا ده چې: دغه بوډۍ (د لوط ﷺ ماندینه) خو په لمرخاته کښې په هلاکو شوو کښې شامله شوه چې په کفارو باندې عذاب ورنازل شو، اما د نجات په وخت کښې خو (چې په شپه کښې یې صورت نیولی وه) نو مورې په هلاکو شوو کښې شامله نه وه بلکې ژوندۍ وه، ایا ذکره شوې استثناء صحت موندلی شي؟

مونږ وایو چې: د نجات په وخت کښې الله ﷻ مقدره کړې وه چې دغه بوډۍ په هلاکو شوو کښې شامله او پاتې ده، نو د الله ﷻ علم او تقدیر داسې وګڼلی شو لکه چې سمدستي شامله وي، نو ځکه یې د نجات موندونکو څخه استثناء صحت موندلی کړ.

په همدې مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ قَدَّرْنَٰهَا مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴾ [النمل:٥٧] یعنې: نو مونږ لوط ﷺ او د ده ﷺ اهل ته نجات ورکړ مګر د ده ﷺ ماندینې ته مو نجات ورنه کړ چې په عین وخت کښې مونږ نومورې د هغه کسانو څخه مقدره کړې وه کوم چې په هلاک شوو کښې پاتې کېدونکی وه.

﴿ كَذَّبَ أَصْحَٰبُ لْـَٔيْكَةِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾ إِنِّي لَكُمْ
رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا
عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٠﴾ أَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ
ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿١٨٣﴾

[١] لسان العرب ج١٥ ص١٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَٱتَّقُواْ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ وَٱلْجِبِلَّةَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٨٤﴾ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلْمُسَحَّرِينَ ﴿١٨٥﴾ وَمَآ
أَنتَ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿١٨٦﴾ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن
كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿١٨٧﴾ قَالَ رَبِّىٓ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨٨﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ
يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ
﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾

[۱۷۶] د ځنګله ملګرو ټولو پیغمبرانو ته د دروغو نسبت وکړ.

[۱۷۷] کله چې دوی ته شعیب ﷺ وویلې چې: ایا تاسو (د الله ﷻ څخه) نه ډارېږئ (چې کفریاتو ته ادامه ورکوئ)؟

[۱۷۸] یقینًا زه ستاسو دپاره (د الله ﷻ د پلوه) امانتګر پیغمبر یم.

[۱۷۹] نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ (چې د هغه ﷻ اطاعت زما په اطاعت کښې نغښتی دی).

[۱۸۰] او زه ستاسو څخه په پیغام رسونه باندې څه أُجرت (عوض) نه غوارم، زما أُجرت (او ثواب) نه دی مګر په رب العالمین ﷻ باندې دی (چې لطفًا یې په خپل اقدس ذات باندې منلی دی).

[۱۸۱] تاسو (خلکو ته) پیمانه پوره ورکوئ او (په پیمانه کښې) د کمبود کوونکو د ډلې څخه مه کېږئ (مه جوړېږئ).

[۱۸۲] او تاسو په سمې (برابرې) تلې سره تول وکړئ.

[۱۸۳] او تاسو خلکو ته د هغوی شیان ناقص (کم) مه ځېږوئ (چې ډنډې ووهئ)، او (همدارنګه تاسو په ځمکه کښې په داسې حال حرکت مه کوئ چې فساد اچوونکي یاست (تاسو پکښې په اصلاح سره حرکت وکړئ).

[۱۸۴] او تاسو د هغه اقدس ذات ﷻ څخه وډار شئ چې تاسو یې (د نشت څخه) پیدا کړې یاست او لومړنی ټولګی یې هم (پیدا کړی دی لکه ستاسو پلرونه او نور).

[۱۸۵] د ځنګله ملګرو (د شعیب ﷺ په جواب کښې ) وویلې چې: یقینًا ته د جادو کړی شوو (د ډلې) څخه یې (چا درباندې جادوکړی دی چې عقل یې درخراب کړی دی).

[۱۸۶] او ته نه یې مګر زمونږ په شان بنیادم یې او یقینًا مونږ (د تنزل په صورت کښې) په تاباندې ګومان کوو چې ته هرومرو د دروغژنانو څخه یې (که تنزل ونه کړو نو زمونږ په همدغې خبره یقین دی).

[۱۸۷] نو ته په مونږ باندې د اسمانه ټوټې راوغورځوه که چرته ته د صادقانو (د جملې څخه) یې (مونږ ستا د تهدید څخه نه ډارېږو).

Scanned by CamScanner

[۱۸۸] شعیب ﷺ وویلې چې: زما رب ﷻ په هغو کارونو باندې ډېر ښه پوهېږي چې تاسو يې عملي کوئ (نو تاسو ته به په مناسب ډول سزا درکړي، د عذاب نزول د همده ﷻ په واک کښې دی او بس).
[۱۸۹] نو د ځنګله ملګرو شعیب ﷺ تکذیب کړ نو دوی لره د سیوري (چترۍ) د ورځې عذاب ونیول (او ټول پوپنا شوه). یقینًا دا (عذاب) د لويې (سختې) ورځې عذاب وه.
[۱۹۰] بې شکه په دغه (بیان) کښې (د الهي قدرت) هرومرو ډېره لويه نښه پرته ده، او د خلکو اکثریت (په یوه زمانه کښې هم) ایمان راوړونکی نه دی.
[۱۹۱] او یقینًا ستا رب ﷻ (ای پیغمبره!) د کلکې (قوې) ارادې خاوند دی (خو د دې سره- سره) ډېر مهربان هم دی (خلکو ته د توبه کولو وخت ورکوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د شعیب ﷺ د قیصې ځینو عبرتي نکاتو ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځېږي: ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د شعیب ﷺ د حالاتو ځینې نکات د عبرت دپاره قرائت کړه هغه دا چې:
۱_ د ځنګله ملګرو ټولو پیغمبرانو ته _د شعیب ﷺ په شمول_ د دروغو نسبت وکړ البته کله چې دوی ته شعیب ﷺ وویلې چې:
الف: ایا تاسو د الله ﷻ څخه نه ډارېږئ؟ ایا تاسو د ده ﷻ د عذابه خپل ځانونه نه په وقایه کښې کوئ؟ چې ایمان راوړئ او د کفریاتو څخه لاس واخلئ.
ب: یقینًا زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه رالېږلی شوی یم، ترڅو تاسو ته الهي پیغامونه په ډېرې امانتدارۍ سره هو بهو ورسوم.
ج: نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او زما اطاعت وکړئ چې زما اطاعت بالکل د الله ﷻ اطاعت دی.
د: او زه ستاسو څخه په پیغام رسولو باندې هیڅ اُجرت او عوض نه غواړم، زما عوض او اجر په بل هیچا باندې نه دی مګر په هغه رب العالمین ﷻ باندې دی چې په خپل اقدس ذات باندې يې په خپل لطف سره منلی دی او وعده کړې يې دی.
ایا د ده ﷻ څخه پرته بل څوک شته چې په خپله وعده باندې د ده ﷻ څخه ډېر زیات کلک وي؟
هـ: ای زما قومه! په تاسو کښې یوازې عقیدوي انحراف رواج نه دی بلکې تاسو برسېره په عقیدوي فساد باندې په عملي فسادونو باندې هم اخته یاست، نو د الله ﷻ څخه وډار شئ او خلکو ته پیمانه پوره ورکوئ، او د هغو کسانو څخه مه کېږئ کوم چې په پیمانو کښې نقصان واقع کوي او تګي کوي.
و: همدارنګه تاسو ته توصیه کوم چې په برابره تله باندې وزن وکړئ او په تله کښې ډنډې مه وهئ او داسې مه کوئ چې خلکو ته د هغوی مالونه او شیان د تګۍ په ذریعه ناقص وخېژوئ، حال دا چې کله خپلو ځانونو ته تول کوئ نو بیا پکښې ډنډې نه وهئ او نقصان پکښې نه واقع کوئ.
ز: لنډه دا چې په ځمکه کښې د فساد کوونکو په حیث حرکت مه کوئ، بلکې د فسادونو څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاس واخلئ هر یو فساد چې وي (خپل خانونه په عملي او عقیدوي دواړو لحاظونو سره د فساد څخه خالي کړئ).

ح: د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ چې تاسو یې هم پیدا کړي یاست او ـ ستاسو د پلرونو په شمول وړاندېني او مخکیني خلک یې هم پیدا کړي دي، الله ﷻ په هر شي باندې قدرت لري، د ستړګو په رپ کښې ستاسو د ټولو بنیاد ویستلی شي.

۲ـ د ځنګله ملګرو د شعیب ﷺ په جواب کښې وویلې چې:

الف: یقینًا په تاباندې جادو کړی شوی دی چې ستا دماغ یې خراب کړې دي او اوتې بوتې وایې، ټول خلک په یوه لاره روان دي او تا بله لاره خپله کړې ده او دعوت هم ورته چلوې.

ب: ته خو بل څوک نه یې بلکې زمونږ غوندې یو بنیادم یې، نو دا امتیاز تاته د کومه شو چې ته پیغمبر وګرځولی شوې او مونږ نه؛ که بالفرض الله ﷻ مونږ ته د پیغمبر د را استولو اراده کړې وی نو ضرور به یې مونږ ته پرښته را استولې وی. نو د همدې کبله:

ج: مونږ یقین لرو چې ته دروغژن یې، خو که ډېر تنزل وکړو نو وبه وایو چې مونږ په تاباندې ګومان کوو چې ته د دروغژنانو د ډلې څخه یې او په دروغو دې مونږ ته خپل خان پیغمبر تراشلی دی، چې په خپل نبوت باندې کوم دلیل هم نه لرې.

د: که ته رښتیانی پیغمبر او د صادقانو د ډلې څخه یې نو په مونږ باندې د اسمانه ټوټې راوغورځوه چې مونږ ټول ترې لاندې مړه شو، مونږ ستا د تهدیداتو څخه نه ډارېږو او نه ستا د خبرو د اورېدلو حوصله لرو.

۳ـ شعیب ﷺ هغوی مخاطب کړه چې: د عذاب نزول زما په لاس کښې نه دی، زه نه شم کولی چې په تاسو باندې د اسمان کومه ټوټه دروغورځوم او یا درباندې ځمکه خسف کړم، او نه ما تاسو ته د عذاب د نازلولو لاپه کړې ده. د عذاب نازلول فقط د الله ﷻ په واک کښې دی او بس چې ستاسو په اعمالو او کړو وړو باندې ډېر ښه پوهېږي، اختیار لري چې څه ډول عذاب دریاندې نازلوي او یا د څه وخته پورې فرصت درکوي.

۴ـ خو د شعیب ﷺ د جدو جهد سره ـسره هغوی پرې ایمان رانه ووړ او تکذیب یې کړ، نو هغوی د سیورې د ورځې عذاب ونیول چې مونږ وریاندې ورنازل کړ او د ټولو بنیاد مو پرې وویست. یقینًا دغه عذاب د لویې دردناکې ورځې عذاب وه چې ډېره بده ورځ وریاندې ورغله او د ځرمې پوپنا شوه.

۵ـ ای پیغمبره! یقینًا په دغه ذکر شوي بیان کښې ستا د نبوت د اثبات دپاره او ستا د رب ﷻ د توحید دپاره ډېره لویه نښه پرته ده، خو خلک ورڅخه عبرت نه اخلي، نو د همدې کبله د دوی اکثریت نه پخوا ایمان راوړونکی وه او نه به په راتلونکي کښې ایمان راوړونکی وګرځي.

بې شکه ستا رب ﷻ په هر وخت کښې د کلکې ارادې خاوند دی چې هیڅوک یې د ارادې مخه نه شي بندولی، چې د عذاب د راښکته کولو مخنیوی یې وکړي، خو د دې سره ـسره ډېر مهربان هم دی چې د عذاب په نزول باندې عجله نه کوي او د ایمان راوړلو فرصت د خلکو د لاسه نه وباسي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

١_ که څوک وايي چې د شعيب ﷺ د قوم څخه په ﴿ كَذَّبَ أَصْحَـٰبُ لْـَٔيْكَةِ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ کښې د ﴿أَصْحَـٰبُ لْـَٔيْكَةِ ﴾ په کلمه سره تعبير شوی دی او په [الحج:۴۴] ايت کښې په ﴿ وَأَصْحَـٰبُ مَدْيَنَ ﴾ سره ياد شوي دي. نو پوښتنه دا ده چې: ايا دغه دواړه نومونه (مَدْيَن، الأَيْكَة) د يوه ښار نومونه دي چې په مصداق کښې متحد دي او که څنګه؟

مونږ وايو چې: لکه څنګه د [الأعراف:۸۵] ايت لاندې ورته د الله ﷻ په توفيق اشاره شوې ده، علماء کرام د ذکر شوي سوال په جواب کښې په لاندې دوه ول اختلاف لري:

الف: ځيني علماء کرام وايي چې: دواړه نومونه سره په مصداق کښې متحد دي(١)، نو د شعيب قوم ته په دې اعتبار د "أَصْحَابُ مَدْيَن" لقب ورکړی شوی دی چې د دوی د ښار نوم همدغه وه، او د "أَصْحَابُ الأَيْكَة" په نامه څکه ياديږي چې هغوی د ونو ځنګل درلود، چې د "الأَيْكَة" کلمه اصلاً د ونو د ځنګل معنی ورکوي(٢). څرنګه چې دغه کافر قوم د همدغه ځنګله عبادت کاوه نو په دې مقام کښې د ﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ ﴾ سره د "أَخُوهُمْ" کلمه نازله نه شوه څکه چې د إخوت څخه د اشتراک ورمه پورته کيږي، ترڅو شعيب ﷺ د دغې ورمې څخه په څنګ وساتلی شي.

ب: ځيني علماوو کرام وايي چې: شعيب ﷺ يوه قوم ته لېږلی شوی وه چې هغوی اوه ښارونه درلوده، د يوه نوم "مَدْيَن" او د بل ښار نوم "الأَيْكَة" وه(٣)، بلکې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د يوه روايت څخه هم د ښارونو تعدد معلوميږي(۴).

هو! د دغو ټولو ښارونو اوسېدونکي په کفر باندې علاوه په شر او فساد او هم فسق او فجور کښې په يو خوی او په يوه لاره باندې روان وه، چې په پيمانه کښې يې کمبود کاوه او په تله کښې يې ډنډي وهله او داسې نور.

نو څرنګه چې شعيب ﷺ د "الأَيْكَة" د ښارونو سره نسبي اړيکې نه درلودې(۵)، نو په دې مقام کښې د ﴿ إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ ﴾ په عوض "إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ شُعَيْبٌ" نازل نه کړی شو. خو شعيب ﷺ د "مَدْيَن" د ښاريانو سره نسبي اړيکې درلودې د همدې کبله الله ﷻ مونږ ته حکايت کړی دی چې: ﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ﴾ [هود:۸۴] يعنې: او مونږ د مدين ښاريانو ته د دوی نسبي خواخوږی ورور شعيب ﷺ لېږلی وه.

الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهيږي خو مونږ ته دوهم قول راجح برېښي، او څه

(١) تفسير ابن كثير ج٣ ص٣۴۵
(٢) تفسير القرطبي ج١٣ ص١٣۵
(٣) المحرر الوجيز ج١٢ ص٧٧
(۴) الدر المنثور ج۶ ص٣١٨
(۵) روح المعاني ج١٩ ص١٧٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مانع نه ګورو چې د ښارونو په تعدد باندې قول وکړو.

پاتې شوه د ورمې خبره، نو چا چې د شعيب ﷺ د قوم دپاره د "الأيكة" په معبوديت باندې قول کړی دی هغوی خپل قول د سلفو صالحينو کوم روايت ته نه دی منسوب کړی، ته به وايې چې يو اجتهادي احتمال يې ليکلی دی، په دې باندې علاوه، د يو پيغمبر په شان کښې ورمه هم څه ارزښت نه لري او نه د چا ذهن ته ورځي.

## سوال جواب

٦ـ که څوک وايي چې: په کوم مطلب باندې چې د ﴿ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُخْسِرِينَ ﴾ جمله دلالت کوي عين مطلب د ﴿ وَلَا تَبْخَسُوا۟ ٱلنَّاسَ أَشْيَآءَهُمْ ﴾ د جملې څخه هم فهمېږي، نو پوښتنه دا ده چې د دغه يوه مطلب په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: دلته يو مطلب تکراري نه دی نازل شوی بلکې په لومړنۍ جمله باندې د ﴿ أَوْفُوا۟ ٱلْكَيْلَ ﴾ د جملې مضمون تاکيد شوی دی، يعنې تاسو پيمانه کول پوره کړئ او په همدې هکله د ناقص کوونکو د ډلې څخه مه ګرځئ. او په دوهمه جمله باندې د ﴿ وَزِنُوا۟ بِٱلْقِسْطَاسِ ٱلْمُسْتَقِيمِ ﴾ مضمون تائيد شوی دی، يعنې تاسو په انصافي تله باندې تول وکړئ او د خلکو مالونه او نور شيان په ډنډې وهلو سره ناقص مه ګرځوئ.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه د الله ﷻ په توفيق د [الإسراء:٣٥] ايت لاندې د "الْقِسْطَاس" کلمه ډېره ښه تحليله شوې ده چې بيا تحليلولو ته يې اړتيا نه ګورو.

## جِبِلَّة څه معنی؟

٣ـ په ﴿ وَٱلْجِبِلَّةَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ کښې د "جِبِلَّة" کلمه چې د "جَبَل" د کلمې سره په اصلي تورو کښې متحده ده، که څه هم په دې مقام کښې علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسيره کړې ده[١]، مګر عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئيس المفسرين) وايي چې: دلته د جماعت او لوی تولګي معنی ورکوي[٢] لکه چې غر غټ او لوی وي. يعنې او تاسو د هغه الله ﷻ څخه وډار شئ چې تاسو يې د نشت څخه پيدا کړي ياست او پخوانی (اولنی) غټ تولګی يې هم پيدا کړی دی چې ستاسو د پلرونو او نورو مخلوقاتو څخه عبارت دی چې د غرونو غوندې غټ-غټ تولګي وه.

عين مضمون په بل ايت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ ءَابَآئِكُمُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ [الشعراء ٢٦] يعنې موسی ﷺ فرعونيانو ته وويلې چې: رب العالمين هغه اقدس ذات دی چې ستاسو رب دی او ستاسو د ړومبنيو (پخوانيو) پلرونو هم رب دی، لکه څنګه چې ستاسو ضروريات پوره کوي همدارنګه يې د هغوی ضروريات هم په خپلو-خپلو وختونو کښې پوره کړي دي.

---

(١) روح المعاني ج١٩ ص١١٩؛ القاموس المحيط ج١ ص٤٤٠

(٢) تفسير الطبري ج١٩ ص١٠٩؛ لسان العرب ج١١ ص٩٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ په ﴿ فَأَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾ کښې د "كِسَف" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [الإسراء:۹۲] ایت لاندې ښه پوره تحلیله شوې ده چې د "كِسَفَة" جمعه ده او د ټوټو معنی ورکوي، نو بیا تحلیلولو ته اړتیا نه ګورو.

## يَوْم الظُّلَّة د کومې ورځې نوم دی؟

۵_ په ﴿ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ﴾ کښې د ﴿ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ﴾ د هغې ورځې نوم دی په کومه کښې چې د شعیب ﷺ په قوم باندې بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل شو، او دا نوم ورته ځکه ایښودلی شوی دی چې:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او د ځو نورو سلفو صالحینو په روایت: کله چې د شعیب ﷺ د قوم د هلاک وخت راورسېد نو الله ﷻ وربانديې ډېره سخته تودوښه (ګرمي) ورنازله کړه، چې نه يې د کورونو په داخل کښې طاقت کېده او نه بهر، او حتی نه ورته اوبو څه ګټه رسولی شوه، بلکې ټول وطن ورته تنور وګرځېد.

په عین حال کښې الله ﷻ په بیديا کښې یوه وريځ (الظُّلَّة) راپورته کړه چې دوی ټول د هغې سیورې ته ور وخغلېده، چې څه ناڅه سړه هوا ترې لاندې چلېده، نو یو تربله يې سره ناري کړي چې هلئ دلته راشئ، دلته څه ګوزاره کېږي.

کله چې دوی ټول هلته ورغونډ شوه نو د همدغې وريځې (الظُّلَّة) څخه وربانديې الله ﷻ سوزوونکی اور ورښکته کړ چې ټول يې د مولخانو غونديې کباب کړه، نو دغې ورځې ته ﴿ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ﴾ ویل کېږي[1].

## د دغې ورځې عذاب

۶_ څرنګه چې په ﴿ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِ ﴾ کښې د ﴿ عَذَاب ﴾ اضافت ﴿ يَوْمِ ﴾ ورځې ته شوی دی خو تشخیص شوی نه دی چې د دغې ورځې عذاب په څه ډول وه، نو داسې معلومېږي چې په ذکر شوي قوم باندې په دغې ورځ کښې متعدد عذابونه نازل شوي دي. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: په دغې ورځ کښې وربانديې د پاسه اور ورښکته شو، چې د پنځمې توضیح په روایت کښې يې لږ وړاندې تفصیل تېر شو، والحمد لله ﷻ.

ب: ځمکه وربانديې وچړقوله شوه، لکه چې په [الأعراف:۹۱] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

ج: همدارنګه یوه هیبتي چیغه او کړیکه هم وربانديې مسلطه شوې وه، چې په [هود:۹۴] ایت کښې وربانديې صراحت شوی دی.

---

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۳۲۰؛ تفسير الطبري ج۱۹ ص۱۱۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٩٢﴾ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ﴿١٩٣﴾ عَلَىٰ قَلۡبِكَ لِتَكُونَ مِنَ
ٱلۡمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾ بِلِسَانٍ عَرَبِيّٖ مُّبِينٖ ﴿١٩٥﴾ وَإِنَّهُۥ لَفِي زُبُرِ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾ أَوَلَمۡ يَكُن لَّهُمۡ ءَايَةً
أَن يَعۡلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُاْ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾ وَلَوۡ نَزَّلۡنَٰهُ عَلَىٰ بَعۡضِ ٱلۡأَعۡجَمِينَ ﴿١٩٨﴾ فَقَرَأَهُۥ
عَلَيۡهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ﴿١٩٩﴾ كَذَٰلِكَ سَلَكۡنَٰهُ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٢٠٠﴾ لَا
يُؤۡمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ﴿٢٠١﴾ فَيَأۡتِيَهُم بَغۡتَةٗ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾
فَيَقُولُواْ هَلۡ نَحۡنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾ ﴾

[۱۹۲] او يقيناً دا (قرآن كريم) هرومرو د رب العالمين ﷻ نازل كړى شوى دى.

[۱۹۳] قرآن كريم (د رب العالمين ﷻ د پلوه) امانتګرې پرښتې (جبرائيل عليه السلام) نازل كړى دى.

[۱۹۴] (البته) ستا په (مبارک) زړه باندې (يې نازل كړى دى) د دې دپاره چې ته د ډاروونكو د ډلې څخه شې (خلک پرې د الهي عذابه وډار كړې).

[۱۹۵] (دا قرآن كريم يې) په روښانه عربي ژبې (لغت) سره (نازل كړى دى).

[۱۹۶] او يقيناً دا (قرآن كريم د ذكر له لحاظه) د لومړنيو (پخوانيو پيغمبرانو) په صحيفو (او كتابونو) كښې (هم ليكلى) دى.

[۱۹۷] ايا د كفارو دپاره (د قرآن كريم په حقانيت كښې دا كافي) دليل نه دى چې د بني اسرائيلو علماء ورباندې علم لري (چې دا الهي كتاب دى؟ دا ورته لوى دليل دى خو دوى عناد نيولي دي).

[۱۹۸] او (عناد يې دومره كلک دى چې) كه مونږ دا قرآن كريم (د عربيت او فصاحت او بلاغت درلودلو سره-سره) په ځينو اعجميانو (غير ناطقو ساكښانو) باندې نازل كړى وې.

[۱۹۹] نو دوى (غير ناطقو) دا قرآن كريم په (عنادي) كفارو باندې لوستى وى نو (په دغه خارق العاده حال كښې به هم) هغوى پرې ايمان راوړونكي نه وى (ايمان به يې ورباندې نه وى راوړى او څه بهانه به يې ورته تراشلې وى).

[۲۰۰] (اى پيغمبره!) مونږ په دغه ډول (بليغ بيان) سره قرآن كريم د مجرمانو (كفارو) په زړونو كښې ورننباسو (خو د عناد كبله پكښې ځاى نه نيسي).

[۲۰۱] (نو عنادي) كفار به ورباندې تر هغه ايمان رانه وړي ترڅو چې دردناک عذاب وګوري.

[۲۰۲] نو چې دوى ته په داسې حال كښې ناڅاپه ورشي (ور ورسيږي) چې دوى (ورباندې) شعور (لږ خبر هم) ونه لري.

[۲۰۳] نو (په دغه وخت كښې) به ووايي چې: ايا مونږ ته مهلت راكړى شوى دى؟ (كاشكې چې لږ فرصت راكړى شوى وى چې ايمان مو راوړى وي).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

د دې سورت (الشعراء) په لومړنيو ايتونو کښې د مقدمې په توګه لاندې مطالبو ته اشاره شوې وه:
۱_ نبي کريم ﷺ په حقه د الله ﷻ د پلوه خلکو ته را استولی شوی دی.
۲_ قرآن کريم په حقه د الله ﷻ د پلوه په نبي کريم ﷺ باندې نازل شوی دی (د ده ﷺ خپل تصنيف نه دی).
۳_ د کفارو د ايمان د نه راوړلو وجه دا ده چې دوی عناد نيولي دي، که همدغه حال ته ادامه ورکړي نو په انجام کښې به د الهي عذاب سره مخامخ شي، لکه چې همدا د عناديانو انجام دی.
بيا الله ﷻ د اُوو پيغمبرانو د قيصو ځينې نکات نازل کړه چې ذکر شوي درېواړه مطالب يې په ډېره ښه توګه په اثبات ورسول.
کله چې د اُوو قيصو د نکاتو ذکر ختم شو، نو په دې ايتونو کښې: کلام مخ ببرته د ذکرو شوو درېواړو مطالبو اثبات ته واړول شو، چې حاصل يې داسې راځي:
۱_ يعنې ای پيغمبره! د خپل صداقت او د قرآن کريم د حقانيت څه نور دلايل هم په خپل اُمت باندې قرائت کړه ترڅو واضحه شي چې کفار عناد نيولي دي ځکه ايمان نه راوړي. هغه دا چې:
الف: دا کتاب په تاباندې د رب العالمين ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی، که بالفرض د رب العالمين ﷻ د پلوه نه بلکې په عالمونو کښې د بل چا د پلوه نازل شوی وی او يا تا پخپله جوړ کړی وی نو ضرور به داسې شخص يا داسې ټولګی موندلی شوی وی چې اقلاً د دې کتاب په مثل يې يو ايت يا يو سورت جوړ کړی وی.
ب: دا کتاب د رب العالمين ﷻ د پلوه يوې امانتګرې پرښتې (جبرائيل ﷺ) رالېږلی کړی دی چې هو بهو يې تاته دروړی او ستا په مبارک زړه باندې يې درنازل کړی دی، نو د نزول په جريان کښې هم پکښې د زيادت او نقصان د واقع کېدلو امکان نشته.
ج: البته دا د دې دپاره چې ته د ډاروونکو د ډلې څخه وګرځې، دا ځکه چې د خلکو سره توان نشته چې جبرائيل ﷺ څخه مستقيماً څه زده کړي او يا ورسره ملاقات وکړي.
د: هو! رب العالمين د قرآن کريم د نزول دپاره د عربي څرګند لغت خوښ کړ چې ستا لومړني مخاطبين په همدغه لغت باندې خبرې کوي، که نه نو د ايمان د نه راوړلو دپاره به دوی ته ډېره ښه بهانه په لاس ورغلې وه، چې مونږ عرب ياستو او کتاب راته په غير عربي لغت کښې نازل شوی دی.
۲_ د قرآن کريم د حقانيت بل دليل دا دی چې يقيناً د پخوانيو خلکو په کتابونو کښې هم ذکر شوی دی چې آخر الزمان پيغمبر به مبعوث کېږي او هغه ته به کتاب هم ورکولی کېږي، نو دا دی ته مبعوث شوې او دا قرآن کريم درکړی شو او د پخوانيو کتابونو (لکه تورات او انجيل) خبره تصديق شوه.
په همدغه مضمون باندې د بني اسرائيلو ټول علماء علم لري او ورباندې پوه دي، خو دا بېله خبره ده چې ځينې ورباندې اقرار کوي او ځينې نور ترې په قصدي او عنادي توګه انکاري دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې ايا د قرآن کريم د حقانيت دپاره دا دليل کافي نه دی چې د بني اسرائيلو علماء ورباندې پوهېږي او هغوی يې پېژني او شاهدي ورباندې وايي؟

٣ـ د قرآن کريم د حقانيت دلايل پوره واضحه دي خو د مشرکانو د ايمان د نه راوړلو وجه دا ده چې دوی عناد نيولي دي. د مثال په توګه: مشرکان تاته وايي چې دا کتاب الهي کتاب نه دی دا ستا خپل تصنيف دی، چې ته هم عرب يې او کتاب هم په عربي لغت باندې صورت نيولی دی.

خو که بالفرض دا کتاب مونږ په يوه اعجمي سړي او يا په بل غير ناطق څاروي باندې نازل کړی وی هم دوی به ورباندې ايمان نه وی راوړی او بهانه به يې نيولی وی چې: عجيبه ده چې کتاب عربي دی او په اعجمي باندې نازل شوی دی، ايا دا به مناسبه نه وه چې همدا کتاب په يوه عربي سړي باندې نزول موندلی وی، نو څرګنده شوه چې دا د الله ﷻ د پلوه نه دی نازل شوی که نه نو دغسې نامناسبه نزول به صورت نه وی نيولی بلکې د دغه اعجمي په زړه کښې پېرې ننوتلی دی او په عربي ژبه خبرې کوي.

٤ـ ای پيغمبره! مونږ په دغسې قوي دلايلو سره دا قرآن کريم د مجرمانو او مشرکانو په زړونو کښې ورننباسو چې په هيڅ معقوله وجه ترې انکار نه شي کولی، بې د دې چې عناداً او تکبراً ترې انکار اختيار کړي.

٥ـ د دې کبله چې کفار عناد نيولي دي نو:

الف: تر هغه به په قرآن کريم باندې ايمان رانه وړي ترڅو چې په خپلو سترګو سره دردناک عذاب وګوري، چې ناڅاپه ورباندې ورنازل شي او دوی يې په ورنازلېدلو باندې هيڅ شعور او لږ علم ونه لري.

ب: په دغه وخت کښې به افسوس کوي او وايي به چې: ايا مونږ ته څه مهلت او فرصت راکولی کېږي چې مونږ ايمان راوړو او په سابقه خطا باندې پرده واچوو؟

نو په دغه وخت کښې به نه دوی ته فرصت او مهلت ورکړی شي او نه به د دوی پښېماني په درد وخوري چې ايمان يې قبول شي.

## توضيحات

١ـ په ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ کښې د "هٗ" ضمير قرآن کريم ته راجع دی چې د همدې سورت په لومړنيو ايتونو ﴿ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴾ [٢]، ﴿ مِّن ذِكۡرٖ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ﴾ [٥] کښې ترې په کتاب او ذکر سره تعبير شوی دی. نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

يقيناً دا قرآن کريم د رب العالمين ﷻ د پلوه نازل کړی شوی دی او د همده ﷻ د پلوه يې نزول جريان لري، که نه نو د پخوانيو پيغمبرانو په زمانو کښې خو تا موجوديت نه درلود، چې د هغوی خبرې دې اورېدلې وي او يا دې د هغوی حالات ليدلي وي.

همدارنګه ته نه لوستونکی يې او نه استاذ لرې، او نه نن ورځ چاته رښتياني معلومات شته چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تا به ترې اخذ او زده کړه کړې وي، نو پوره واضحه شوه چې دا د رب العالمین ﷻ د پلوه نازل شوی دی چې هر څه ورته معلوم او څرګند دي.

## رُوحُ الأَمِين څوک دی؟

۲ـ په ﴿ نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلۡأَمِينُ ۝ عَلَىٰ قَلۡبِكَ ﴾ کښې د علماوو کرامو په اجماع سره د "رُوحُ الأمِين" څخه جبرائیل ﷺ مراد دی[1] لکه چې الله ﷻ وړاندې صراحت کړی دی چې: ﴿ قُلۡ مَن كَانَ عَدُوًّا لِّجِبۡرِيلَ فَإِنَّهُۥ نَزَّلَهُۥ عَلَىٰ قَلۡبِكَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ ﴾ [البقرة:۹۷] یعنې: ای پیغمبره! یهودانو ته ووایه چې: هرڅوک چې د جبرائیل ﷺ دپاره د دې کبله دښمن وي چې په تاباندې یې قرآن کریم نازل کړی دی نو یقینًا ده ﷺ خو ستا په مبارک زړه باندې د الله ﷻ په امر نازل کړی دی؛ نو همغه کس په حقیقت کښې د الله ﷻ دپاره هم دښمن دی.

پاتې شوه دا خبره چې دغې مقدسې پرښتې ته د "رُوحُ الأمِين" لقب په څه مناسبت ورکړی شوی دی؟ نو د دې وجه دا ده[2] چې دغه پرښته د الله ﷻ د پلوه په ډېرې امانتدارۍ سره وحې انتقالوي، او وحې د بندګانو دپاره د "رُوح" مثال لري چې ابدي ژوند وړباندې ترلاسه کېږي، نو ذکره شوې پرښته داسې وګڼله شوه لکه چې ټوله سراسري روح وي. او یا دا چې ټوله سراسري روح ده او د خلکو په خبر نه ده چې په بدنونو کښې یې أرواح (رواګانې) موجودیت لري[3].

د همدې موضوع څه شرحه د [النحل:۱۰۲] ایت لاندې تېره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ هلته دې وکتله شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ په دې مقام کښې د ﴿ عَلَىٰ قَلۡبِكَ ﴾ په عوض "عَلَيۡكَ" نازل نه کړ، حال دا چې دا عبارت لنډ دی او مطلب وړباندې اداء کېږي؟

مونږ وایو چې: الله ﷻ د خپل کتاب په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي، خو داسې برېښي چې د "قَلۡب" د کلمې په نزول سره به دې ته اشاره شوې وي چې الله ﷻ د نبي کریم ﷺ په مبارک زړه کښې قرآن کریم داسې ځای په ځای کړی دی چې ترې نه هېرېږي. د همدې مضمون څخه په بل ایت شریف کښې داسې تعبیر شوی دی چې: ﴿ إِنَّ عَلَيۡنَا جَمۡعَهُۥ وَقُرۡءَانَهُۥ ﴾ [القيامة: ۱۷] یعنې: ای پیغمبره! د قرآن کریم د وحې په وخت کښې تادې او عجله مه کوه، یقینًا ستا په مبارک زړه کښې د دې قرآن راغونډول (حفظ کول) په مونږ باندې دي، او بیا یې ستا په مبارکه ژبه لوستل هم په مونږ باندې دي، ته هیڅ تشویش مه کوه چې ستا څخه به هېر شي او یا به یې هو بهو ونه شې لوستلی.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۷۹
(۲) البحر المحيط ج۷ ص۲۴۸
(۳) روح المعاني ج۱۹ ص۱۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: د "قرآن" کلمه خو بالاتفاق د نظم او معنی _دواړو_ د مجموعي دپاره وضعه شوې ده[۱]، او په ﴿ وَإِنَّهُۥ لَفِى زُبُرِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ کښې د "إِنَّهُ" ضمير هم دغه "القرآن" ته راجع دی لکه چې لږ وړاندې په ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ کښې د "إِنَّهُ" ضمير هم دغه "القرآن" ته راجع وه. نو پوښتنه دا ده چې: پخواني اسماني کتابونه (تورات، انجيل، زبور) خو درېواړه په عجمي لغت باندې نازل شوي وه، ايا د دې امکان شته چې عجمي کتاب په عربي کتاب باندې اشتمال ولري؟

مونږ وايو چې: د پخوانيو کتابونو اشتمال معنی دا نه ده چې په "القرآن" باندې "من حيث انه القرآن" مشتمل وه، بلکې په لاندې دوه وو لحاظونو سره يې درباندې اشتمال درلود[۲]:

الف: هلته د دې کتاب (القرآن) ذکر موجود وه چې آخر الزمان پيغمبر به مبعوث کېږي او اسماني کتاب به ورکول کېږي.

همدا مضمون د عيسى عليه السلام څخه داسې حکايت کړی دی چې: ﴿ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ﴾ [الصف: ۶] يعني عيسى عليه السلام بني اسرائيلو ته وويلې چې زه ستاسو دپاره د الله ﷻ د پلوه په داسې حال را استولی شوی يم چې زه په يوه بل پيغمبر باندې زېری درکوونکی يم کوم به چې زما څخه وروسته راشي او احمد به يې نوم وي (او د کتاب درلودونکی به هم وي).

ب: هغه کتابونه د دې کتاب په هغو مضامينو باندې مشتمل وه کوم چې نه منسوخېږي او په ټولو اسماني اديانو کښې يې موجوديت درلود لکه عقيدوي احکام او د فرعي احکامو کليات او يا لکه د الله ﷻ اسماء او صفات او داسې نور. د همدې کبله الله ﷻ دې کتاب (قرآن کريم) ته د "مُصَدِّق" لقب ورکړی دی چې: ﴿ وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتَٰبٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ ﴾ [البقرة: ۸۹] يعني: او هرکله چې اهل الکتابو ته د الله ﷻ د نزد څخه په داسې حال باندې کتاب (قرآن کريم) ورغی چې د هغو کتابونو تصديق کوونکی دی کوم چې د دوی سره دي، هم هغوی پرې کفر اختيار کړ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: نظر پاسني جواب ته په کار وه چې ابو حنيفه عليه الرحمة د قرآن کريم په عجمي ترجمه او معنی باندې (په هره ژبه چې وي) لمونځ جائز نه وی ګڼلی ځکه چې يوازې معنی او ترجمه خو قرآن نه دی، او په لمانځه کښې د قرآن کريم قرائت فرض دی؟

مونږ وايو چې:

الف: نوموړي امام عليه الرحمة د خپل قول څخه رجوع کړې ده[۳]، نو د همدې رجوع په بنياد نه سوال ته ځای پاتې کېږي او نه جواب ته.

---

(۱) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۷۹
(۲) تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۶۴
(۳) تفسير المظهري ج۷ ص۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: كه څه هم نوموړي امام علیه الرحمة د ځينو حكمتونو او ځينو اسرارو د كبله په ذكر شوي جواز باندې حكم كړى وه او ضرورت ورته ښكاره شوى وه مګر د ده په نزد هم "القرآن" بدون د نظم څخه يوازې د معنى دپاره نه دى وضعه شوى، د همدې كبله نوموړي امام علیه الرحمة ويلې دي چې جنب سړى او حائضې ښځې ته جائزه ده چې د قرآن كريم ترجمه ولولي[1].

كه بالفرض هغه علیه الرحمة ته يوازې معنى قرآن بربنښدلى نو د دغه جواز حكم به يې نه وى كړى چې: ذكر شوي دواړه اشخاص بالاتفاق د قرآن كريم د تلاوت څخه منعه كړى شوي دي.

په ذكره شوې موضوع كښې مونږ همدومره بحث كافي وګڼه څومره چې وړاندې تېر شو، كه څوك د دې څخه زيات اوږد بحث غواړي نو ځينو اوږدو كتابونو[2] ته دې مراجعه وكړي.

## د بني اسرائيلو علماء يعني څوك؟

٦ـ څرنګه چې الله ﷻ په ﴿ أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُا۟ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ كښې د ﴿ عُلَمَٰٓؤُا۟ ﴾ كلمه مطلقه نازله كړې ده، نو ظاهره دا ده چې دا كلمه به د بني اسرائيلو ټولو علماوو ته شامله وي برابره خبره ده چې مسلمانان وي ـلكه عبد الله بن سلام او نورـ او يا كفار وي، خو مسلمانان يې اظهار كوي او كفار په عنادي توګه ورباندې خپلې خولې پټوي، ته به وايې چې بالكل نه پوهېږي چې دا په حقه اسماني كتاب دى او دا په حقه آخر الزمان پيغمبر دى.

## د أعجم يا أعجمي معناوې

٧ـ په ﴿ وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ ٱلْأَعْجَمِينَ ﴾ كښې د "أَعْجَمِينَ" كلمه جمعه ده خو په مفرد باندې يې په لاندې دوه ډولونو سره تلفظ كېږي[3]:

الف: "أَعْجَمِيٌّ" چې د تاكيد دپاره ورپورې د نسبت مشدده "ي" پيوسته شوې ده، لكه چې په "أحمري" كښې د "ي" توري د مبالغې دپاره دى.

ب: "أَعْجَمٌ" چې دغه "ي" ورپورې پيوستون نه لري. هوا ذكره شوې مشدده نسبتي "ي" د جمعيت په حال كښې هم كله د تخفيف دپاره حذفېږي او كله باقي پاتې كېږي، د همدې كبله په ذكر شوي ايت كښې "عَلَى بَعْضِ الأَعْجَمِيِّين" قرائت هم روايت شوى دى[4].

"أَعْجَمُ يا أَعْجَمِيٌّ" دواړه كلمې هره يوه هغه چاته يا هغه ساكښ ته وضعه شوې ده كوم چې كلام يا اواز ولري خو په اواز كښې يې إبهام وي، لكه ګونګى عرب يا غير عرب انسان او يا مرغه او څاروى[5]. خو پخپله په كلام باندې يې هم اطلاق كېږي؛ يا په بل عبارت: ذكرې شوې دواړه

---

(١) نور الأنوار في الأصول وحواشيه ص١٠
(٢) روح المعاني ج١٩ ص١٢٥
(٣) تفسير الكشاف ج٣ ص٣٣٦
(٤) المحرر الوجيز ج١٢ ص٨٠
(٥) اضواء البيان ج٦ ص٣٨١؛ القاموس المحيط ج٢ ص١٦٥

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



كلمې د متكلم او كلام دواړو صفت واقع كېدلى شي[١] لكه څنګه چې په "فَصِيح" او "بَلِيغ" سره دواړه (متكلم او كلام) اتصاف مومي.

نو په دې مقام كښې به يې د معنى حاصل داسې راوځېژي چې: اى پيغمبره! ته د كفارو په كافر پاتې كېدلو باندې ډېر مه غمژن كېږه، دوى عناد نيولي دي چې په قرآن كريم باندې د بشري كتاب نوم ږدي او په إعجاز باندې يې سترګې پټوي، كه بالفرض مونږ دغه قرآن كريم په عربي لغت كښې په همغه إعجازي كيفيت سره د يوه غير عرب سړي په ژبه او يا د يوه څاروي او يا مرغه په ژبه په مشركانو باندې قرائت كړى وى -چې بالكل د كتاب د جوړولو احتمال نه لري- نو هم دوى به وربانديې ايمان نه وى راوړى او څه نورې بهانې او پلمې به يې تراشلې وى.

## سوال جواب

٨- كه څوك وايي چې: په ﴿ كَذَٰلِكَ سَلَكۡنَٰهُ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴾ كښې د ﴿ سَلَكۡنَٰهُ ﴾ غائب ضمير څه شي ته راجع دى؟

مونږ وايو چې: كه څه هم ځينو علماوو كرامو دغه ضمير هغه كفر ته راجع ګڼلى دى په كوم باندې چې ﴿ مَا كَانُواْ بِهِۦ مُؤۡمِنِينَ ﴾ دلالت كوي[٢] نو حاصل يې داسې اخستى دى چې: اى پيغمبره! مونږ د كفارو او مجرمانو په زړونو كښې په دغه ډول سره كفر ورننباسو او مهر ورباندې وهو چې هيڅ دليل او برهان ورباندې اثر نه شي اچولي او عناد يې ورځ په ورځ زياتېږي؛ مګر بهتره دا ده چې ذكر شوى ضمير قرآن كريم ته راجع شي لكه چې وړاندې ببرته ضمائر هم قرآن كريم ته راجع دي[٣]، ترڅو د يو پلوه د ضمائرو د انتشار مخه ونيوه شي او د بله پلوه د ايت شريف متبادره معنى واخستله شي. نو حاصل به يې داسې راوځېژي چې: اى پيغمبره! مونږ په دغسې پخو دلايلو سره -چې وړاندې ذكر شوه- د مجرمانو او كفارو په زړونو كښې قرآن كريم ورننباسو چې ايمان راوړي او عقيده پرې وكړي لكه چې مؤمنانو ورباندې ايمان راوړى دى او عقيده يې ورباندې كړې ده؛ خو د دې سره-سره د هغوى په زړونو كښې د عناد د كبله ځاى نه نيسي او ورپورې نه نښلي.

عين همدغه مضمون ته په [الحجر:١٢] ايت كښې هم اشاره شوې ده چې څه وضاحت هلته وركړى شوى دى، والحمد لله ﷻ.

﴿ أَفَبِعَذَابِنَا يَسۡتَعۡجِلُونَ ٢٠٤ أَفَرَءَيۡتَ إِن مَّتَّعۡنَٰهُمۡ سِنِينَ ٢٠٥ ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُواْ يُوعَدُونَ ٢٠٦ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يُمَتَّعُونَ ٢٠٧ وَمَآ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ٢٠٨ ذِكۡرَىٰ وَمَا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ٢٠٩ ﴾

(١) لسان العرب ج١٢ ص٣٨٦
(٢) تفسير البغوي ج٣ ص٣٩٩؛ تفسير ابن كثير ج٣ ص٣٤٨
(٣) تفسير ابي السعود ج٦ ص٢٦٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۰۴] ایا نو مشرکان (د بل چا په عذاب باندې نه بلکې) زمونږ په عذاب باندې په توندی سره غوښتنه کوي؟

[۲۰۵] ایا ته ګورې (ته مونږ ته خبر راکړه چې:) که مونږ دغو (عذاب غوښتونکی) ته ډېر کلونه نفعه ورکړو (په دنیا کښې ښه ډېر عمرونه ور وبښو او ښه اوږد مهلت ورپېرزو کړو).

[۲۰۶] (او) بیا ورته هغه عذاب ورشي (ور ورسېږي) کوم چې دوی دي چې (د نزول) وعده یې ورسره کېدې.

[۲۰۷] نو د دوی (د عذاب) څخه به هغه (مهلت) څه شی دفعه کړي کوم چې دوی وه چې نفعه وربانديې ورکړه شوې وه (او یا به پکښې څه تخفیف راولي)؟

[۲۰۸] او مونږ هیڅ کلی (ښار) نه دی هلاک کړی مګر په داسې حال کښې چې هغوی (د دې دپاره) ډاروونکي درلودل.

[۲۰۹] چې هغوی ته پند ورکړي (او زمونږ احکام ورپه زړه کړي)، او مونږ ظالمان (تیری کوونکي) نه یاستو (چې پرته د ډاروونکو د ورلیږلو څخه یې هلاک کړو).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندې ایتونه په دې تمام شوي وه چې کله عنادي کفارو ته دردناک عذاب ورسېږي نو سمدستي د مهلت غوښتنه کوي چې ایا مونږ ته به مهلت راکړی شي چې د خپلو کفریاتو څخه توبه تائب شو.

دا ایتونه په دې شروع شوي دي چې عنادي کفار د دردناک عذاب په نزول سره عجله کوي او غواړي چې مهلت یې ختم کړو، نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

۱ـ ای پیغمبره! عنادي کفار د عجیبه حالت درلودونکي دي:

الف: اوس (چې مونږ ورته مهلت ورکړی دی ترڅو د فرصت څخه استفاده وکړي او ایمان راوړي) د مهلت د ختمولو غوښتنه کوي چې هله ژر شه په مونږ باندې الهي عذاب رانازل کړه؛ ایا نو دوی د بل چا په عذاب باندې نه بلکې زمونږ په عذاب سره عجله کوي؟

ب: مونږ د عذاب په ورنازلولو باندې په هر وخت کښې کامل قدرت لرو، خو کله چې وربانديې د دوی د غوښتنې مطابق دردناک عذاب ورښکته کړو نو سمدستي به بیا مهلت غواړي.

ج: حقیقت دا دی چې عنادي کفار په هیڅ وخت کښې د مهلت څخه استفاده نه شي کولی او نه ورته د عذاب په مخنیوي یا د عذاب په تخفیف کښې څه ګټه رسولی شي. او دا ځکه چې:

د: ایا نو ته نه ګورې چې که مونږ همدغو عنادي کفارو ته ډېر کلونه وخت ورکړو چې د دنیا د نعمتونو څخه استفاده وکړي او د خپلې عقیدې د سمون په هکله فکر وکړي، او بیا د ډېرو کلونو څخه وروسته وربانديې موعود دردناک عذاب ورنازل شي، نو دوی ته به د ډېرو کلونو مهلت څه فائده وکړي؟ ایا په دغو ډېرو کلونو کښې به د دوی عقل سر ته ورشي او په خپلې ګمراهۍ باندې به

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوه شي؟ ايا دغه ډېر کلونه فرصت به د دوی څخه د عذاب مخه بنده کړي؟ او يا به يې په عذاب کښې څه تخفيف پېښ کړي؟

هـ: همدارنګه که مونږ د عذاب د نزول څخه وروسته د عنادي کفارو څخه د عذاب مخه واړوو او بيا نوی او تازه مهلت ورکړو او يا ـ بالفرض المحال ـ دوی د محشر د ميدان څخه بېرته دنيا ته راستانه کړو چې خپلې پخوانۍ خطاوې تلافي کړي او په سمه لاره باندې روان شي، نو ايا دوی به د دغه تازه مهلت څخه استفاده وکړي او په سمه لاره به روان شي؟

دوی به بيا هم خپل پخواني کفريات تکرار کړي؛ نو دوی په هيڅ صورت د مهلت او فرصت څخه ګټه نه پورته کوي.

و: ای پيغمبره! نو د دغو عنادي کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې مه غمژن کېږه، د دوی په هکله ستا دنده فقط همدا ده چې الهي پيغامونه ورته ورسوې او د الهي عذاب څخه يې وډار کړې، نور نو دوی پوهېږي او ستا رب ﷻ.

٢ـ همدارنګه مونږ په پخوانيو زمانو کښې هم هيڅ قوم نه دی هلاک کړی او هيڅ ښار مو نه دی پوپنا کړی مګر ډاروونکي (پيغمبران) به مو ور ولېږل، البته د دې دپاره چې هغوی ته پند ورکړي او زمونږ احکام ورته وخت په وخت په تکراري توګه ابلاغ کړي.

خو کله به چې هغوی پند قبول نه کړ او د پيغامونو په ابلاغ باندې به يې غوږونه کاڼه کړه نو مونږ به وړباندې بنياد ويستونکی عذاب ورنازل کړ، دا ځکه چې مونږ هيڅکله ظلم کوونکي او تېری کوونکي نه ياستو، چې د پيغمبرانو د لېږلو څخه پرته کوم قوم پوپنا کړو.

## توضيحات

١ـ د ﴿ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يُمَتَّعُونَ ﴾ څخه د اشارې په توګه معلومېږي چې د دنيا د ډېرو کلونو اسودګي او خوشالي په اُخروي عذاب کښې هيڅ تخفيف نه شي راوستلی، او بالمقابل د دنيا غمونه او مشقتونه چې هرڅومره ډېر او هر څومره اوږده شي د جنت په خوشاليو کښې هيڅ ترېخوالی نه شي پېښولی.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې فرمايي: «يُؤْتَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنَ الْكُفَّارِ فَيُقَالُ اغْمِسُوهُ فِي النَّارِ غَمْسَةً فَيُغْمَسُ فِيهَا ثُمَّ يُقَالُ لَهُ أَيْ فُلانُ هَلْ أَصَابَكَ نَعِيمٌ قَطُّ فَيَقُولُ لا مَا أَصَابَنِي نَعِيمٌ قَطُّ، وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ الْمُؤْمِنِينَ ضُرًّا وَبَلاءً فَيُقَالُ اغْمِسُوهُ غَمْسَةً فِي الْجَنَّةِ فَيُغْمَسُ فِيهَا غَمْسَةً فَيُقَالُ لَهُ أَيْ فُلانُ هَلْ أَصَابَكَ ضُرٌّ قَطُّ أَوْ بَلاءٌ فَيَقُولُ مَا أَصَابَنِي قَطُّ ضُرٌّ وَلا بَلاءٌ»[١] يعنې: د قيامت په ورځ به د کفارو د جملې څخه د دنياوالو ښه زيات نعمت درلودونکی سړی حاضر کړی شي چې د ده په اندازه به هيڅوک د پراخو نعمتونو درلودونکی نه وي تېر شوی. نو د ده په هکله به امر وکړی شي چې دوزخ کښې يوه غوټه ورکړئ؛ نو فقط يوه غوټه به پکښې ورکړی شي. بيا به ورته وويلی شي چې

(١) سنن ابي ماجه ص ٣٢٠

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای فلانیه! ایا تاته کله هم څه نعمت رسېدلی دی؟ ایا په دنیا کښې تا چرته څه خوشالي لیدلي ده؟ نوموړی به جواب ورکړي چې ماته هیڅکله نعمت نه دی رسېدلی او ما هیڅکله چرته خوشالي نه ده لیدلې. یا په بل عبارت: د دنیا ټولې خوشالۍ به د دوزخ په یوې غوټې سره هېرې کړي.

او د مومنانو څخه به هغه مومن سرې راوستلی شي چې په هیڅا باندې د ده څخه زیات مشقتونه او بلاګانې نه وي ورغلي، چې په غمونو کښې اول نمره تېر شوی وي. نو د ده په هکله به هم ووېلی شي چې د جنت په نعمتونو کښې یوه غوټه ورکړئ، نو د جنت د نعمتونو څخه مزه به وروڅکلی شي. بیا به ترې پوښتنه وکړی شي: چې ای فلانیه! ایا په تا باندې په دنیا کښې څه مشقت او څه درد یا غم درغلی دی او یا څه آفت او بلاء دربانديې کله نازله شوې وه؟

نو مومن به جواب ورکړي چې هیڅکله په ما باندې نه څه غم او درد راغلی دی او نه مې چرته څه مشقت او زحمت لیدلی دی. یا په بل عبارت: د دنیا ټول کړاوونه او سختۍ به یې د جنت د لږ مزې په څکلو سره د یاده ووځي.

## یو اعرابي تحلیل

۲ـ په ﴿ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ۞ ذِكْرَىٰ ﴾ کښې د ﴿ ذِكْرَىٰ ﴾ د کلمې په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات جائز ګڼلي دي[1]، خو مونږ دا خوښه کړه چې دغه کلمه به تقدیراً منصوبه وي او د ﴿ لَهَا مُنذِرُونَ ﴾ دپاره به "مفعول له" واقع شوې وي. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:

مونږ هیڅ قریه او ښار نه دی هلاک کړی مګر په داسې حال کښې چې زمونږ د پلوه به یې داروونکي (پیغمبران) درلوده، چې د دې دپاره به وراستولی شوي وه چې پند ورکړي او شرعي احکام ورپه زده کړي، خو د دې سره-سره به هغوی پند قبول نه کړ او د پیغمبرانو تکذیب ته به یې ادامه ورکړه نو مونږ به وربانديې بنیاد ویستونکی عذاب ورنازل کړ.

﴿ وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ ٱلشَّيَـٰطِينُ ۞ وَمَا يَنۢبَغِى لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ ۞ إِنَّهُمْ عَنِ ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ۞ ﴾

[۲۱۰] او دا (قرآن کریم) شیطانانو نه دی رانښکته کړی (بلکې روح الأمین نازل کړی دی).

[۲۱۱] او نه شیطانانو ته مناسبه ده (چې رانښکته یې کړي، ځکه چې مضامین یې د دوی په ضد دي)، او (حتی) نه وسه (توان) لري (چې دا کار وکړي. او دا ځکه چې):

[۲۱۲] یقیناً شیطانان (د پرښتو د خبرو) د اورېدلو څخه هرو مرو په څنګ کړی شوي دي (نو د الهي کلام د اورېدلو توان به د کومه کړي، دوی خو د غوږ نیولو په وخت کښې په شغلو باندې ویشتلی کېږي).

---

[1] البحر المحیط ج۸ ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د عنادي کفارو څخه په غير نورو ټولو خلکو ته د قرآن کريم حقانيت په اثبات رسول شوی وه او په دې ايتونو کښې د عنادي کفارو يو اعتراض او اتهام جواب شوی دی چې: دا کتاب په محمد باندې رُوح الأمين نه دی نازل کړی بلکې دا د شيطانانو کار دی.

د همدې کبله کله چې د څه حکمتونو په اساس د جبرائيل ﷺ نازلېدل وځنډېده نو يوې قريشې ښځې (د ابو لهب مېرمنې) وويلې چې: «أَبْطَأَ عَلَيْهِ شَيْطَانُهُ»[١] يعنې په محمد باندې د خپل شيطان د پلوه نزول ټال شو او کهانت يې ورباندې بند کړ. نو الله ﷻ د همدغه اتهام د رد دپاره د "الضُّحَىٰ" سورت نازل کړ.

په دغو ايتونو کښې هم د ذکر شوي اتهام او اعتراض جواب نازل شوی دی، نو حاصل يې داسې راخېژي چې: ای پيغمبره! دا کتاب په تا باندې رُوحُ الأمين (جبرائيل ﷺ) نازل کړی دی او شيطانانو نه دی نازل کړی لکه څنګه چې عنادي کفار ورباندې د عوامو د اغفال او غولونې دپاره تور او تهمت لګوي. او دا ځکه چې:

١ـ دا کتاب سراسري ارشاد او هدايت دی او هم صداقت او عدالت دی او هم أمر بالمعروف او نهي عن المنکر دی، چې دا يو هم د شيطانانو سره څه مناسبت نه لري، چې په ځمکه کښې فسادونه خوروي او خلک په جنګ اچوي، د هغوی کار خو أمر بالمنکر او نهی عن المعروف دی او داسې نور.

٢ـ په شيطانانو کښې دا توان نشته چې قرآن کريم ته ورنږدې قدرې شي پاتې خو لا رانازلول، ځکه چې دوی د پرښتو د کلام د اورېدلو څخه عزل کړی شوي دي، نو د الله ﷻ د کلام اورېدل خو ورته بالکل محال کار دی، نو څرګنده شوه چې د عنادي کفارو ذکر شوی اعتراض بېخې بې بنياده دی.

## توضيحات

١ـ د ﴿وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ﴾ الآية، جمله د ﴿نَزَلَ بِهِ ٱلرُّوحُ ٱلْأَمِينُ﴾ [الشعراء:١٩٣] په جمله باندې عطفه ده[٢]، نو حاصل يې هغسې راخېژي څنګه چې ورته وړاندې په خلاصه مطلب کښې اشاره وشوه.

## عزل څه معنی؟

٢ـ په ﴿إِنَّهُمْ عَنِ ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ﴾ کښې د "مَعْزُولُونَ" کلمه د "عَزْل" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "عَزْل" دېته وايي چې يو شی د يو پلو څخه بل پلو ته جدا او په څنګ کړی شي[٣].

په دې مقام کښې يې د معنی حاصل داسې راخېژي چې: شيطانان په هيڅ وجه د قرآن کريم د رانښکته کولو توان نه لري، ځکه چې دغه کار خو به په هغه وخت کښې صورت نيولی شوی چې د

---

(١) صحيح البخاري ج١ ص١٥١
(٢) تفسير المظهري ج٧ ص٨٦
(٣) القاموس المحيط ج٣ ص٢١٧

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغوی څخه د وحي د اورېدلو توان نه وي اخستلی شوی، هغوی خو د پرښتو د خبرو صلاحیت د لامه ورکړی دی نو د الهي وحې د اورېدلو توان به د کومه کړي.

په همدې موضوع کښې چې شیطانان د پرښتو خبرې نه شي اورېدلی او په شغلو باندې ویشتلی کېږي، د الله ﷻ په توفیق د [الحجر:١٨] ایت لاندې ښه تحقیقي بحث تېر شوی دی چې بیا تحقیقولو ته یې څه اړتیا نه ګورو.

﴿فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾ فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾ وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾ الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ ﴿٢١٩﴾ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾﴾

[٢١٣] نو (ای پیغمبره!) ته د الله ﷻ سره بل معبود مه بله! (عبادت یې مه کوه!) نو ته به د عذاب کړی شوو څخه شي (الهي عذاب به درباندې نازل شي).

[٢١٤] او خپل نژدې اقارب (قومیان) دې (د الله ﷻ د عذابه) وډار کړه.

[٢١٥] او خپل وزر دې هغه چاته ښکته کړه (نرمي ورسره وکړه) کوم چې ستا پیروي کوي چې د مؤمنانو څخه عبارت دي.

[٢١٦] نو که ستا (نژدې) خپلوانو (قومیانو) ستا نافرماني وکړه (او ستا دعوت یې رد کې) نو (ورته) ووایه چې: یقیناً زه د هغه شي څخه بېزار یم کوم چې تاسو یې کوئ (چې د کفر څخه عبارت دی).

[٢١٧] او د کلکې ارادې په خاوند (او په) ډېر مهربان (الله ﷻ) باندې توکل وکړه.

[٢١٨] (په) هغه اقدس ذات ﷻ (باندې توکل وکړه) چې تا ګوري (البته په) هغه حین کښې چې ته (دعوت او انذار ته) پورته کېږې (حفاظت یې درسره ملګری دی).

[٢١٩] او (هغه اقدس ذات ﷻ چې) په سجده کوونکو کښې ستا تاوېدل راتاوېدل (هم ګوري).

[٢٢٠] یقیناً همدا (اقدس ذات) ﷻ د ټولو اقوالو اورېدونکی (او په هر شي باندې) ښه پوه دی (همدی ﷻ ستا د دښمنانو ټول اقوال اوري او په ټولو پلانونو باندې یې پوه دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

آن د [الشعراء:١٩٢] ایت څخه راپه دېخوا د قرآن کریم د حقانیت او صداقت دلایلو ته اشاره شوې وه، او په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته صراحتاً او ټول اُمت ته اشارةً په همدې ارتباط څه ارشادات نازل شوي دي چې عمل ورباندې وکړي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د قرآن کریم حقانیت او صداقت په اثبات ورسېد خو د دې سره-سره عنادي کفار په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل انکار باندې کلک ولاړ دي، نو ته د هغوی په دائمي انکار باندې ډېر مه غمژن کېږه چې تولد توجه دې هغې خوا ته واوړي، بلکې لاندې ارشاداتو ته هم توجه وکړه او په عمل کښې يې پياده کړه:

۱ــ نو ته د الله ﷻ سره بل معبود مه دروه او په عبادت کښې ورسره شريک مه نيسه (همدغې توحيدي خاصيت ته ادامه ورکړه)، که نه نو ته به هم د معذبينو څخه وګرځولی شې او د کفارو غوندې به په تاباندې هم د الله ﷻ د پلوه غضب وورولی شي.

۲ــ همدارنګه په خاصه توګه خپل نژدې خپلوان د الله ﷻ د عذابه وډار کړه چې د شرکياتو او کفرياتو څخه ځانونه وساتي او يا ترې ځانونه خلاص کړي، که نه نو دوی به هم د نورو کفارو غوندې معذب کړی شي او ستا قرابت به ورته هيڅ ګټه ونه شي رسولی.

۳ــ کفار غواړي چې ته د خپله څنګه مؤمنان وشړې چې هغوی ته حقير او سپک په نظر ورځي، خو پام کوه چې دا کار ونه کړې، بلکې د هغو کسانو دپاره خپلې وزرې ښکته کړه او خپل ځان ته يې رانژدې کړه کوم چې ستا پيروي کوي او خبره دې مني، البته چې دغه کسان د مطلق مؤمنانو څخه عبارت دي؛ برابره خبره ده چې ستا د نژدې خپلوانو په ډله کښې شامل وي او يا شامل نه وي.

۴ــ نو که ستا د دعوت او انذار څخه وروسته ستا نژدې خپلوانو عصيان ته ادامه ورکړه او ستا دعوت يې قبول نه کړ نو په ډاګه ورته ووايه چې: زه ستاسو څخه او ستاسو د عملونو څخه بېزار يم، نه مې تاسو په کار ياست او نه ستاسو عملونه.

۵ــ ذکر شوي عاصيانو او نافرمانانو ته ښه په جرئت سره خپل دريځ څرګند کړه او د ضرر څخه يې بالکل مه ډارېږه بلکې په خپل رب ﷻ باندې توکل وکړه، او دا خکه چې:

الف: ستا رب ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی چې نه څوک د ده ﷻ د ارادې په وړاندې خنډ واقع کېدلی شي او نه د ده ﷻ د ارادې څخه په غير څه شی موجوديت موندلی شي.

ب: خو د دې سره-سره ډېر مهربان هم دی، نو سمدستي چې په کفارو باندې عذاب نه ورښکته کوي وجه يې دا ده چې هغوی ته فرصت ورکوي ترڅو توبه تائب شي او د کفرياتو څخه ايمان ته راوګرځي.

ج: ای پيغمبره! ته همېشه د خپل رب ﷻ د حفاظت لاندې يې، په هغه وخت کښې هم تا ګوري چې ولاړېږې او يا کښېنې او هم يا ګرځې راګرځې او توحيد ته دعوت چلوې او داسې نور.

د: حتی ستا رب ﷻ په هغه وخت کښې هم تا ګوري چې ته په سجده کوونکو (تهجد کوونکو) باندې نظارت او نګراني کوې او په توره شپه کښې يې په حالاتو باندې خپل ځان خبروې.

ه: لنډه دا چې: يقينًا ستا رب ﷻ د ټولو خبرو اورېدونکی دی، په هر چا پورې چې تعلق ولري، او په ټولو حالاتو باندې پوه دی، برابره خبره ده چې ستا حالات وي او يا ستا د دښمنانو حالات وي چې د کومې دسيسې پلان درته طرحه کوي او داسې نور.

## توضيحات

۱ــ په ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ﴾ کښې د "عَشِيرَة" کلمه مونث د الله ﷻ په توفيق د [التوبة: ۲۴]

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ایت لاندې د ضرورت په اندازه څېړلې ده چې زیاتې څېړنې ته یې اړتیا نه ګورو، خو په دې مقام کښې وریاندې وراضافه کوو چې:

د دې ایت لاندې -چې بحث پکښې روان دی- ځینو علماوو کرامو د خپلوانو طبقات تقریباً په شپږو درجو باندې ویشلي دي او د هرې درجې نوم یې هم ذکر کړی دی لکه "قَبِیْلَةٌ" او "عِمَارَةٌ" او داسې نور[۱]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو لطفاً دې همته مراجعه وکړي.

## نبي کریم ﷺ اراشادات عملي کړه

۲- کله چې ذکر شوي ارشادات نازل شوه نو نبي کریم ﷺ سمدستي په عمل کښې پیاده کړه، د تعمیل صورتونه یې په ګڼو احادیثو کښې روایت شوي دي، ځینو مفسرینو کرامو ته دې الله ﷻ اجرونه ورکړي چې په همدې هکله یې د احادیثو یوه مجموعه راغونډه کړې ده[۲] خو مونږ فقط د لاندې یوه حدیث په رانقلولو باندې اکتفاء کوو. هغه دا چې:

د ذکرو شوو ارشاداتو په نزول سره نبي کریم ﷺ د صفا په غونډۍ ودرېد او هرې قبیلې ته یې په نامه‌نامه غږ وکړ چې: ای فلاني خېلو! ای فلاني خېلو! دلته راغونډ شئ!.

د همدغه مبارک اواز په اورېدو سره د ابو لهب په شمول ټول قریش هلته ورغله حتی چا چې څه عذر درلود هغه خپل استازی ورواستاوه ترڅو وګوري چې څه خبره ده. نو نبي کریم ﷺ دغه ټوله اجتماع مخاطبه کړه او داسې سوال جواب یې ورسره وکړ چې:

الف: نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل چې: «أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلاً بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ؟» یعني: زه تاسو ته یوه پوښتنه راجع کوم او ستاسو څخه غواړم چې ماته یې جواب راکړئ هغه دا چې که زه تاسو ته ووایم چې د همدې وطن او همدې وادۍ په داخل کښې ستاسو دپاره د سورو یو زورور لښکر پټ دی او غواړي چې په تاسو باندې په شپه کښې ناڅاپي حمله وکړي او تاسو ټول تاله ترغه کړي، نو ایا تاسو به زما تصدیق کوونکي وګرځئ او زما د خبرې تصدیق به وکړئ؟

ب: نو ټولو په یوه خوله جواب ورکړ چې: «نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلاَّ صِدْقًا» هو! مونږ به ستا تصدیق وکړو، او دا ځکه چې مونږ ته ستا صداقت او رښتینوالی په تجربې سره ثابت دی.

ج: نو نبي کریم ﷺ وویلې چې: «فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ» یقیناً زه ستاسو دپاره د ډېر سخت عذاب د نازلېدلو څخه وراندې ډاروونکی یم، چې د شرک څخه لاس واخلئ او د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریک مه دروئ که نه نو د ډېر سخت عذاب سره به مخامخ شئ.

د: د اجتماع د ګډون کوونکو څخه ابو لهب وویلې چې: «تَبًّا لَكَ سَائِرَ الْيَوْمِ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا؟» باقي ورځ دې تا لره هلاک وي (یا په بل عبارت: ژوندی پاتې نه شې) ایا تا مونږ د دې خبرې دپاره راغونډ کړي یاستو؟

---

[۱] روح المعاني ج۱۹ ص۱۳۴

[۲] تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۴۹؛ الدر المنثور ج۶ ص۳۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ه: «فَنَزَلَتْ ﴿ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ ﴾ (السورة)»[۱] نو الله ﷻ دا سورت نازل کړ چې: ﴿ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ﴾ (السورة) يعنې د ابو لهب لاسونه دې هلاک شي او ژوندی دې پاتې نه شي.

## يادونه

۳_ که څه هم ځينو علماوو کرامو په ﴿ فَإِنْ عَصَوْكَ ﴾ کښې مستتر ضمير ﴿ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ ته راجع ګڼلی دی[۲] چې نژدې ذکر دی، يعنې که مؤمنانو ستا څخه په عمل کښې عصيان وکړ نو ته ترې خپله بېزاري اعلانه کړه؛ مګر بهتره او ظاهره دا ده چې ذکر شوی ضمير په ﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ ﴾ کښې "عَشِيرَة" ته راجع وګڼل شي[۳] چې بحث په همدوی کښې راروان دی، يعنې که ستا نژدې خپلوانو دعوت قبول نه کړ او خپل عصيان ته يې ادامه ورکړه نو خپله بېزاري ترې اعلانه کړه، او د ضرر څخه يې مه ډارېږه او په الله ﷻ باندې توکل وکړه چې هيڅ ضرر به درته ونه شي رسولی.

## سوال جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ﴿ حِينَ تَقُومُ ﴾ کښې د ﴿ تَقُومُ ﴾ کلمه د "قِيام" څخه اشتقاقه شوې ده، نو پوښتنه دا ده چې دلته د قيام څخه د څه شي دپاره قيام او ورپورته کېدل مطلب دي؟

مونږ وايو چې: که څه هم دلته قيام مطلق دی هر ډول پورته کېدلو ته شامل دی لکه لمانځه ته قيام، يا دعوت او انذار ته قيام او داسې نور[۴]، مګر څرنګه چې لږ وړاندې په ﴿ وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ ﴾ کښې د "أَنذِرْ" کلمه نازله شوې ده نو مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به د قيام څخه د انذار او دعوت دپاره د قيام او ورپورته کېدل مطلب وي، لکه چې په همدې مطلب باندې په بل ايت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُدَّثِّرُ ۝ قُمْ فَأَنذِرْ ﴾ [المدثر: ۱، ۲] يعنې: ای خپل ځان په جامه کښې راتاوونکيه (پيغمبره)! پورته شه او د خپل رب ﷻ د عذابه خلک وډار کړه.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵_ که څوک وايي چې: نبي کريم ﷺ خو په هر وخت کښې د الله ﷻ تر نظر لاندې وه لکه چې فرمايي: ﴿ وَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا ﴾ [الطور: ۴۸] يعنې او ته د خپل رب ﷻ حکم او فيصلې ته صبر وکړه (ورته منتظر اوسه) ځکه چې يقيناً ته زمونږ د بلا کيفه سترګو لاندې يې او زمونږ حفاظت همېشه ستا ملګری دی؛ نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنياد په دې مقام کښې يوازې د هغه حال ذکر ته تخصيص ورکړی شوی دی کوم ته چې په ﴿ وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾ کښې اشاره شوې ده؟ يعنې: الله ﷻ په سجده کوونکو (لمونځ کوونکو) کښې ستا تاوېدل او راتاوېدل ګوري.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۲
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۹۴
(۳) روح المعاني ج۱۹ ص۱۳۶
(۴) تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۵۲؛ تفسير المظهري ج۷ ص۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې:

الف: لېږ وړاندې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه وکړه چې: ﴿ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ یعنې: او ته خپلې وزرې هغه چاته ښکته (خورې) کړه کوم چې ستا پیروي کوي چې د مؤمنانو څخه عبارت دي، د دوی سره ناسته ولاړه کوه او د مشرکانو د غوښتنې په مطابق یې د خپلو مجالسو څخه مه شړه.

نو په دې ایت کښې د ناستې ولاړې صورت حال ته اشاره شوې ده چې: ای پیغمبره! الله ﷻ د مؤمنانو سره ستا ناسته ولاړه ګوري چې کله ورسره د جمعې په لمانځه باندې مشغول یې او په امامت سره ورته د لمانځه ارکان اداء کوې (لکه قیام، رکوع، سجود)، او کله په تهجد کوونکو مؤمنانو باندې د شپې د مخې دوره وهې او د لیدلو څخه یې خوند اخلې او داسې نور. نو د مؤمنانو سره همدغې وضعې ته ادامه ورکړه او پام کوه چې د مشرکانو غوښتنه قبوله نه کړې چې د خپلو مجالسو او ناستې پاستې څخه یې وشړې او د خپلو برکاتو څخه یې محروم کړې.

ب: دا سورت مکي سورت دی او په مکه معظمه کښې مؤمنان کمزوري وه نو الله ﷻ خپل پیغمبر ﷺ ته ډاډ ورکړ چې: غمژن کېږه مه، الله ﷻ ستا قوت او د مؤمنانو ډېروالی ګوري چې په نږدې وخت کښې به ستا دښمنان تاله ترغه شي او ستا پیروان (مؤمنان) به د قوت خاوندان شي؛ نو ډېر ژر به داسې وخت راشي چې ته به بې غمه د خپلو پیروانو په منځکښې اوږې رااوړې او دوی ټول به ستا په شاوخوا باندې راتاو وي او په ارامۍ سره به د خپل رب ﷻ په عبادت باندې مشغول یاست.

## یادونه

۶- ځینو مفسرینو کرامو د ﴿ وَتَقَلُّبَكَ فِي ٱلسَّٰجِدِينَ ﴾ ایت شریف په نورو ډولونو سره تفسیر کړی دی او څه احکام یې ترې استنباط کړي دي[1]، خو مونږ ته هغه ټول بې ارتباطه څرګند شوه نو ځکه مو پکښې بحث ونه کړ، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

﴿ هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ﴿٢٢٢﴾ يُلۡقُونَ ٱلسَّمۡعَ وَأَكۡثَرُهُمۡ كَٰذِبُونَ ﴿٢٢٣﴾ وَٱلشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ ٱلۡغَاوُۥنَ ﴿٢٢٤﴾ أَلَمۡ تَرَ أَنَّهُمۡ فِي كُلِّ وَادٖ يَهِيمُونَ ﴿٢٢٥﴾ وَأَنَّهُمۡ يَقُولُونَ مَا لَا يَفۡعَلُونَ ﴿٢٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَذَكَرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا وَٱنتَصَرُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُواْۗ وَسَيَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَيَّ مُنقَلَبٖ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾ ﴾

(۱) تفسیر المظهري ج۷ ص۸۹؛ روح المعاني ج۱۹ ص۱۳۸؛ التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۱۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۲۱] ایا مونږ تاسو ته په هغه چا باندې خبر درکړو چې شیطانان (وربانډې) وربښکته کېږي؟
[۲۲۲] شیطانان په هر ډېر دروغژن (او) ډېر ګنهګار باندې وربښکته کېږي.
[۲۲۳] (او دغه) دروغژنان (شیطانانو ته) غوږ ږدي، او د دوی اکثریت (د اقوالو د حیثه دروغژنان دي (اکثره خبرې یې دروغې دي).
[۲۲۴] او شاعران چې دي د دوی پیروي ګمراهان کوي (نه لاره موندونکي).
[۲۲۵] ایا ته نه ګورې چې یقیناً دوی (د هرې موضوع) په کنده کښې (د لیونیانو غوندې) ورلوېږي (او د حق او باطل لحاظ یې نه ساتي).
[۲۲۶] او (ته نه ګورې چې) یقیناً دوی هغه څه وایي چې کوي یې نه.
[۲۲۷] مګر هغه کسان (ذکر شوي خاصیتونه نه لري) کومو چې ایمان راوړی وي او نېک عملونه کوي او (هم) الله ﷻ ډېر یادوي، او د هغه وخت څخه وروسته انتقام اخلي چې په دوی باندې ظلم وکړی شي (په بدۍ سره وستایل شي).
او ژر دی چې هغه کسان به پوه شي کومو چې ظلم کړی دی (کفر یې اختیار کړی دی) چې دوی به د ورتاوېدلو کوم ځای ته ورتاو شي (چې د دوزخ څخه عبارت دی).

## ارتباط

په دې ایتونو کښې یو ځل بیا د نبي کریم ﷺ صداقت او د قرآن کریم حقانیت ته اشاره شوې ده.

## سوال جواب

که څوک وایي چې: په دې مقام کښې د نبي کریم ﷺ د صداقت او د قرآن کریم د حقانیت په هکله لاندې ایتونه نازل شوي دي:

۱ـ ﴿ وَإِنَّهُۥ لَتَنزِيلُ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴾ الآیات.

۲ـ ﴿ وَمَا تَنَزَّلَتۡ بِهِ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴾ الآیات.

۳ـ ﴿ هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴾ الآیات.

نو پوښتنه دا ده چې د څه حکمت په بنیاد د ایتونو دغه درېواړه مجموعې په اتصال سره نازلې نه شوې او د ځینو ایتونو په نزول سره یوه د بلې څخه جدا کړی شوې ده؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ اعلمـ چې: په دغه ډول نزول کښې دې ته اشاره ده چې هره یوه مجموعه د مطالبو د اثبات دپاره مستقل دلیل ده. نو که بالفرض درېواړه مجموعې په اتصال سره نازلې شوې وی نو چا به په درېواړو باندې د یوه دلیل ګومان کړی وی، حال دا چې حقیقت دغسې نه دی.

## د مطلب خلاصه

یعني ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د خپل صداقت او د قرآن کریم د حقانیت څه نور دلایل هم قرائت کړه او د کفارو هغه اتهام رد کړه چې په تا باندې د کاهن یا شاعـر نوم ږدي او قـرآن کریم ته د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کهانت (جوګی) یا شعر لقب ورکوي، هغه دا چې:

١ـ محمد ﷺ ربښتیانی پیغمبر دی او جوګي نه دی لکه چې تاسو وربانديې اتهام لګوئ، او دا ځکه چې د ده صفات د جوګیانو او کاهنانو د صفاتو سره بالکل منافات لري، ایا زه تاسو ته خبر درکړم چې جوګیان څوک څوک دي؟ او شیطانان په چا چا باندې نازلېږي؟

شیطانان په هغو کسانو باندې ورنازلېږي چې د لاندې صفاتو درلودونکي وي:

الف: چې هغوی ډېر دروغژنان وي.

ب: چې هغوی ډېر بدکاره او په خمکه کښې فساد اچوونکي وي.

ج: چې هغوی د شیطانانو خبرو ته غوږ ږدي او دروغ ترې زده کوي، د همدې کبله یې اکثره خبرې دروغې وي.

نو ایا ذکر شوي د کاهنانو او جوګیانو صفات په محمد ﷺ کښې موندلی کېږي؟ ایا تاسو ترې په پخواني خلوېښت کلن عمر کښې چرته دروغ اورېدلي دي؟ ایا محمد ﷺ په دوامداره توګه امر بالمعروف او نهي عن المنکر کښې مشغول نه دی؟

نو که بالفرض المحال ستاسو خبرې څه حقیقت درلودی نو د ذکرو شوو صفاتو په عوض به د جوګیانو د صفاتو درلودونکی وی.

٢ـ همدارنګه محمد ﷺ شاعر هم نه دی او دا ځکه چې:

الف: د شاعرانو په شاوخوا کښې ګمراهان راغونډېږي او هر فاسق او فاجر یې پیروي کوي. ایا د محمد ﷺ ټول پیروان صالحان نه دي؟ ایا د ده ﷺ په ملګرو کښې تاسو چرته فاسق او فاجر لیدلی دی؟

لنډه دا چې شاعر حقې لارې ته هدایت نه شي کولی او محمد ﷺ هادي دی.

ب: شاعران په هره موضوع کښې د لیونیانو په څېر ورلولېږي، ته به وایې چې ترې اوښان دي او په خپل اوبه خور باندې په ځغاسته ورتوېږي. دوی چې هره یوه موضوع په نظر کښې ونیسي نو بیا هیڅ فکر نه کوي چې په دې کښې بحث کول ښه کار دی او که بدکار، د دوی نهایي هدف فقط د خپلو اشعارو سیلابونه وي او بس.

نو ایا تاسو د محمد ﷺ څخه چرته دغه ډول عمل لیدلی دی؟

ج: شاعران په خپلو اشعارو کښې هغه خبرې کوي کومې چې په عمل کښې نه پیاده کوي او د عمل جامه نه وراغوندي (دوی په قول کښې زړور وي خو په عمل کښې بې زړه وي).

ایا تاسو ته چرته محمد ﷺ داسې خبره کړې ده چې هغې ته یې د عمل جامه نه وي وراغوستې؟ ایا د جهاد په صفونو کښې د هر چا څخه وړاندېوالی نه لري؟ ایا د ده شجاعت او مېړانې ته څوک رسېدلی شي؟ ایا د ده په نزد بدون د عمله فقط د خولې وینا د الله ﷻ د غضب موجب نه ده؟

٣ـ هو! د شاعرانو د جملې څخه ـ چې وړاندې یې صفات بیان شوه ـ یوه ډله وتلې ده چې د ذکرو شوو صفاتو درلودونکي نه دي. هغوی دا دي:

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: چا چې په الله ﷻ باندې ايمان راوړی وي او هيڅ شريک ورسره نه دروي، او همدارنګه په محمد ﷺ باندې د يو پيغمبر په حيث معتقد وي.

ب: څوک چې نېک عملونه کوي او د بې عمله خبرو څخه ځان ساتي او د باطلو په تقويه کښې شعرونه نه وايي.

ج: څوک چې الله ﷻ ډېر يادوي او د شيطان انديوالي نه کوي.

د: څوک چې د حق نصرت او پلوي کوي، او د کفارو څخه انتقام اخلي البته کله چې دوی مظلومان واقع شي او هغوی درباندې تعرضي شعري حملې وکړي.

۴ـ ای پيغمبره! په ذکرو شوو دلايلو سره ستا صداقت او د قرآن کريم حقانيت ښه پوره څرګند شو، خو د دې سره‌سره ظالمان (کفار) د عناد د کبله د خپلو کفرياتو څخه لاس نه اخلي.

نو ډېر ژر دی چې دوی به پوه شي چې د بيرته ورتاوېدلو کوم ځای ته دوی بېرته ورتاوېږي؟ يا په بل عبارت: دوی به د دوزخ عذابونه په خپلو سترګو وګوري او په خپلو کړو به بې وخته پښېمانه شي، چې هيڅ ګټه به ورته ونه شي رسولی.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ ﴾ کښې د ﴿ يُلْقُونَ ﴾ کلمه د "إلْقَاءٌ" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې د "إصْغَاءٌ" يعنې غوږ ايښودلو معنی ورکوي[1]. نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې جوګيان د شيطانانو دروغينو خبرو ته غوږ نيسي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې لږ وړاندې تېر شوه چې: ﴿ إِنَّهُمْ عَنِ ٱلسَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴾ [الشعراء:۲۱۲] يعنې يقيناً شيطانان پرښتو ته د غوږ ايښودلو څخه په ځنګ کړی شوي دي، نو څه توان نه لري چې څه غيبي خبره ترې واوري؛ نو پوښتنه دا ده چې ايا دا ايت: ﴿ يُلْقُونَ ٱلسَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَٰذِبُونَ ﴾ چې بحث پکښې روان دی د هغه ايت سره مناقض او منافي نه دی؟

مونږ وايو چې:

الف: په هغه ايت کښې مطلب دا وه چې نن ورخ شيطانان د پرښتو خبرو ته په هغه ډول سره غوږ نه شي نيوی لکه څنګه به يې چې د نبي کريم ﷺ د بعثت څخه وړاندې ورته غوږ نيوه او څه با ارزښته استفاده به يې ترې کولی شوه[2]. په دې ايت کښې عين مضمون منعکس شوی دی چې دوی د پرښتو خبرو ته غوږ نيسي خو فقط د ګوډو ماتې استفادې څخه پرته باارزښته استفاده ترې نه شي کولی.

---

(۱) مفردات الراغب ص۴۷۴

(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۱۴۳؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۳۴۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدا جواب د [الحجر:١٨] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق ښه مشرح لیکلی شوی دی.

ب: دغه ایت خو به د هغه ایت سره په هغه وخت کښې تناقض درلودلی وی چې د ﴿ يُلْقُونَ ﴾ مستتر ضمیر شیطانانو ته راجع وی او جواب ته به ارتیا پیښه شوې وی، حال دا چې دغه ضمیر کاهنانو ته راجع دی[1] چې د ﴿ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴾ کلمات ورباندې دلالت کوي.

نو په دې تقدیر نه سوال شته او نه جواب، او حاصل یې داسې راځېږي چې: شیطانان په کاهنانو باندې ورښکته کېږي چې په دروغو او معصیتونو باندې اخته دي، او د خپلو استاذانو وسوسو او شیطانتونو ته غوږ ږدي او بیا ورباندې خلک غولوي. اما نبي کریم ﷺ خو د هر ډول دروغو او معصیتونو څخه معصوم دی نو شیطانان ورسره هیڅ تناسب نه لري چې ورباندې ورښکته شي او وسوسې ورواچوي.

په دې ایت کښې ځینو مفسرینو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[2] که د چا اوږده بیان ته زړه نه په تنګېږي نو هملته دې مراجعه وکړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ـ که څوک وایي چې: د ﴿ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴾ څخه څرګندېږي چې جوګیان ټول دروغژنان دي حال دا چې ﴿ وَأَكْثَرُهُمْ كَٰذِبُونَ ﴾ دلالت کوي چې فقط اکثریت یې دروغژنان دي؟

مونږ وایو چې: دلته اکثریت د اشخاصو په لحاظ نه دی چې اعتراض وارد شي، بلکې د اقوالو په لحاظ دی، یعنې د جوګیانو د خبرو اکثریت دروغ دي مثلاً په سلو کښې یې کله-کله فقط یوه رښتیا مونډله کېږي؛ حال دا چې د نبي کریم ﷺ ټول اقوال رښتیا او د واقع سره مطابق دي.

## هَيْمٌ څه معنی؟

۴ـ په ﴿ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَهِيمُونَ ﴾ کلمه د "هَيْمٌ" ـ لکه "بَيْعٌ" ـ څخه اشتقاق شوې ده، "هَيْمٌ" هغه لیونتوب ته وایي چې چاته د عشق له کبله ورپېښ شي، یا هغې تندې ته وایي د کومې له کبله چې اوښان په خپل اوبه خور باندې په ډېره بېړه او څغاسته ورتوی شي[3].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: د شاعرانو عادت دی چې د اشعارو د جوړولو په وخت کښې د عشقي لیونیانو غوندې او یا د ډېرو سختو تږو اوښانو غوندې ورباندې پیل کوي، چې نه د رښتیا او دروغو خیال ساتي او نه واقعیت اوغیر واقعیت ته ګوري، کله یو سړی په توصیف سره اسمان ته اوچت کړي او کله یې په تقبیح او بد ویلو سره تحت الثری (د ځمکې تل) ته ورسوي او په یوه سړي باندې د خپلو اغراضو په اختلاف سره متناقض نومونه ږدي.

(۱) البحر المحیط ج۸ ص۱۹۹؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۸۵
(۲) التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۱۷۴؛ روح المعاني ج۹ ص۱۳۹
(۳) القاموس المحیط ج۲ ص۵۵۷؛ لسان العرب ج۱۲ ص۶۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: شعر خو تولو عربو پېژانده چې د منظوم قافيه درلودونکي کلام څخه عبارت دی، او عرب لا څه چې عجم هم په دې باندې پوهېده چې قرآن کريم منظوم قافيه درلودونکی کلام نه دی، دا د يو پلوه، او د بله پلوه د عربو په نزد خو شعر معزز کلام بريښېده او شاعرانو ته به يې د ډېر عزت په نظر کتل. نو پوښتنه دا ده چې په څه غرض او په کومه تراشلې شوې پلمه باندې مشرکانو نبي کريم ﷺ ته د شاعر لقب ورکاوه او يا يې په کوم غرض او په کومه پلمه باندې قرآن کريم د اشعارو د مجموعې په نامه سره باله؟

مونږ وايو چې: د رد د وجوهو څخه خرګندېږي ـ لکه چې شرحه يې د مطلب په خلاصه کښې تېره شوې ده ـ چې د مشرکانو په نزد د مړو بېرته راژوندي کېدل او د قيامت قيام او نور شرعي حقائق تخيلات او غير واقع ګڼل کېده.

يا په بل عبارت: لکه څنګه چې د شاعرانو کلام په حقائقو نه بلکې په تخيلاتو باندې ولاړ وي لکه چې وايي: "اَحْسَنُ الشِّعْرِ اَكْذَبُهٗ" يعني ډېر ښايسته شعر هغه دی کوم چې ښه ډېر دروغژن وي او په کوم کښې چې دروغ ښه ډېر وي؛ همدارنګه هغوی د ذکر شوي لقب په اېښودلو سره عوام خلک دې ته هڅول چې په قرآن کريم باندې باور اوعقيده مه کوئ، چې مضامين يې د شعريه تخيلاتو څخه په غير بل شی نه دي او په حقائقو باندې ولاړ نه دي.

د همدې کبله په ايتونو کښې د همدغې غولونې په رد باندې زور اچولی شوی دی، که بالفرض د دوی په نزد قرآن کريم منظوم قافيه درلودونکی کلام وی، نو بيا به الله ﷻ په ايتونو کښې همدغه خنډه رده کړې وی.

## د شعر په باب څو شرعي احکام

۶ـ په دې مقام کښې د محترمو لوستونکو پام لاندې شرعي احکامو ته را اړوو:

الف: که کوم سړی د کفارو اشعار د کوم مسلمان سړي د خولې څخه د حکايت په توګه واوري، څه باک يې نشته، خو چې په کفرياتو او عبثياتو باندې مشتمل نه وي. او دا ځکه چې:

د يوه صحابي ﷺ د وينا مضمون دی چې: ما نبي کريم ﷺ ته د أُمَيَّة بن أبي الصَّلْت (کافر) اشعار اورول نو د هر بيت په اورېدلو سره به يې راته امر کاوه چې بل هم راته واوروه، آن تردې چې تول اشعار (بيتونه) سلو ته ورسېده، بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «كَادَ أَنْ يُسْلِمَ»[1] يعني: نژدې وه چې نوموړی کافر شاعر مسلمان شوی وی.

ب: د دې خبرې باک نشته چې په جومات کښې هغه اشعار ولوستلی شي په کومو کښې چې شرعي مضامين انځور شوي وي. او دا ځکه چې:

(۱) سنن ابن ماجه ص ۲۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د أم المؤمنين (عائشي رضي الله عنها) د وينا لنډ مضمون دی چې حسان بن ثابت ﷺ ته به په جومات کښې د نبي کريم ﷺ په امر ممبر اېښودل کېده چې د هغه د پاسه به يې د نبي کريم ﷺ څخه د کفارو په مقابل کښې دفاع کوله[١].

او همدارنګه د جابر بن سمرة ﷺ د وينا لنډ مضمون دی چې: زه د نبي کريم ﷺ سره د سلو کرتو څخه زيات ناست شوی يم چې صحابه وو کرامو ﷺ به يې په حضور کښې اشعار لوستل او د جاهليت د زمانې خينې کارونه به يې يادول، حال دا چې: «وَهُوَ سَاكِتٌ فَرُبَّمَا تَبَسَّمَ مَعَهُمْ»[٢] نبي کريم ﷺ به چپ وه خو کله-کله به يې ورسره مسکا هم کوله.

ج: د کفارو په ضد د اشعارو ويل هم يو ډول جهاد دی؛ نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ»[٣] يعني يقيناً مؤمن سړی په خپله توره او په خپله ژبه (دواړو) سره جهاد کوي.

همدارنګه نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «فَهِيَ أَسْرَعُ فِيهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ»[٤] يعني نو شعرونه په کفارو کښې د غشو د ويشتلو څخه په زياتې تېزۍ سره اثر کوي.

د: همدې کبله به نبي کريم ﷺ حسان بن ثابت ﷺ (شاعر) ته دعاء کوله او مخاطب کاوه به يې چې: «يَا حَسَّانُ أَجِبْ عَنْ رَسُولِ اللهِ اللَّهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ»[٥] يعني: ای حسانه! د الله ﷻ د پيغمبر د پلوه (کفارو ته) جواب ورکړه، ای الله! حسان په روح القدس (جبرائيل أمين ﷺ) سره تائيد کړې.

ذ: سړي ته جائزه نه ده چې په مباحو اشعارو کښې دومره توغل (د حد څخه تيری) وکړي چې د قرآن کريم د تلاوت، د شرعي علومو د زده کړې او هم د الله ﷻ د ذکر څخه يې غافل کړي. دا ځکه چې:

ابو سعيد الخدري ﷺ وايي چې: مونږ د نبي کريم ﷺ سره په "عَرْج" نومې ځای کښې روان وو چې يو شاعر راپېښ شو او د شعر په ويلو باندې اخته وه، نو نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: «خُذُوا الشَّيْطَانَ لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا»[٦] يعني دغه شيطان (شاعر) راونيسئ، ضرور چې د کوم سړي ګېډه د زوو د حيثه ډکه شي دا ورته د دې څخه بهتره ده چې د شعر د حيثه ډکه شي (چې قرآن او علم او الهي اذکارو ته پکښې ځای پاتې نه شي).

شايد چې همدغه ډول اشعارو ته به اشاره شوې وي چې په جومات کښې دې ونه ولوستلی شي چې: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسْتَقَادَ فِي الْمَسْجِدِ وَأَنْ تُنْشَدَ فِيهِ الْأَشْعَارُ وَأَنْ تُقَامَ فِيهِ الْحُدُودُ»[٧] يعني نبي کريم ﷺ د دې څخه منعه کړې ده چې په جومات کښې قصاص واخستل شي

---

(١) جامع الترمذي ج٢ ص١١١
(٢) جامع الترمذي ج٢ ص١١٢
(٣) مسند احمد بن حنبل ج٥ ص٣٥٠
(٤) جامع الترمذي ج٢ ص١١٢
(٥) صحيح البخاري ج١ ص٦٥
(٦) صحيح مسلم ج٢ ص٢٤٠
(٧) سنن ابي داؤد ج٢ ص٢٦١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او چې شعرونه پکښې ولوستل شي او بالآخره چې حدود پکښې جاري کړی شي.

هـ: عائشه أم المؤمنين رضي الله عنها وايي چې: «اَلشِّعْرُ كَلَامٌ فَمِنْهُ حَسَنٌ وَمِنْهُ قَبِيحٌ فَخُذِ الْحَسَنَ وَدَعِ الْقَبِيحَ»[1] يعنې شعر خو بل شی نه دی بلکې کلام (خبرې) دي، چې ځينې يې ښې دي او ځينې يې بدې او بدرنګې دي، نو ښې يې واخله او بدرنګې يې پرېږده.

د همدې کبله نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً»[2] يعنې يقيناً ځينې اشعار حکمت دی چې خلک د غير شرعي کارونو څخه منعه کوي.

و: بد اشعار او په تېره بيا هغه اشعار چې سرود او رقص ورسره ملګری وي، د بې دينۍ د خپرولو په ذريعه ده. د همدې مطلب د تائيد دپاره لاندې اثر ولولئ:

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې کله مکه معظمه فتحه شوه نو شيطان (ابليس) په ژړغوني لهجه اواز پورته کړ او خپله ټوله اولاده يې ورغونډه شوه، نو دوی يې مخاطب کړه چې: "اِيْئَسُوْا أَنْ تَرُدُّوا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ عَلَى الشِّرْكِ بَعْدَ يَوْمِكُمْ هٰذَا وَلٰكِنْ اَفْشُوْا فِيْهِمَا الشِّعْرَ"[3] يعنې تاسو د دې څخه نا اميده شئ چې د دې ورځې څخه وروسته به د محمد امت بېرته په شرک باندې ورتاو کړئ، خو تاسو په مدينه منوره او مکه معظمه کښې شعر خور کړئ او رواج ورکړئ، چې دا د اخلاقي فساد د خپرېدو ښه ذريعه ده.

که تاسو څخه څوک پوښتنه وکړي چې "رقية الزنا" څه شی دی، يعنې هغه کوم يو دم دی چې شيطان يې په خلکو باندې چف کوي او زنا ته يې سوق کوي؟ نو جواب ورکړئ چې د زنا دم غير شرعي شعرونه او غزلې دي.

## وربه شي خبر به شي

٧_ څرنګه چې الله ﷻ په دې سورت (الشعراء) کښې د نبي کريم ﷺ صداقت او د قرآن کريم حقانيت په بيلا بيلو اساليبو او طريقو سره په اثبات ورساوه، خو کفارو او مشرکانو خپلې کفري او شرکي تګلارې ته تغير ورنه کړ، نو الله ﷻ دغه سورت په ﴿ وَسَيَعْلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَيَّ مُنقَلَبٍ يَنقَلِبُونَ ﴾ سره ختم کړ. نو حاصل يې داسې راځېږي چې: د هر ژر دی چې کفار به خپله غلطي په خپلو سترګو وګوري او هم به پوه شي چې د بېرته ورتاوېدلو کوم ځای ته دوی ورتاوېږي او هلته څومره سخت عذابونه دي.

د الله ﷻ په فضل او توفيق سره د [الشعراء] سورت ترجمه او تفسير پای ته ورسېده

نَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ وَمِنْ غَضَبِ الْجَبَّارِ، وَصَلَّى اللهُ عَلَى رَسُوْلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِيْنَ.

١٤٢٠/٩/٧ هـ ق - ١٣٧٨/٩/٢٥ هـ ش - ١٩٩٩/١٢/١٦ م.

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص٤٠٥

(٢) صحيح البخاري ج٢ ص٩٠٨

(٣) تفسير القرطبي ١٣ ص١٥٢

Scanned by CamScanner

# النمل (۲۷)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سريزه

١ـ دغه سورت ته د نورو سورتونو څخه په دې بېلتون ورکړی شوی دی چې د ﴿ ٱلنَّمْلُ ﴾ کلمې ته يې اضافت موندلی دی کومه چې د دې سورت په [١٨] ايت کښې نازله شوې ده، خو مباحث يې په ذکره شوې کلمه پورې انحصار نه لري.

٢ـ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې نازل شوی دی[١].

٣ـ د دې سورت د ايتونو شمېره درې نوي (٩٣) ايتونو ته رسېږي[٢].

٤ـ د کلمو شمېره يې يو زرو يو سلو نهه څلوېښت (١١٤٩) ده[٣].

٥ـ د حرفونو شمېره يې څلور زره اوه سوه نهه نوي (٤٧٩٩) ده[٤].

## د دې سورت اجمالي محتويات

٦ـ په دې سورت کښې د نورو مکي سورتونو غوندې د مباحثو محور (څلورلين) عقيدوي موضوعات دي، لکه د الله ﷻ وحدانيت، د نبي کريم ﷺ نبوت او داسې نور؛ خو په دې باندې علاوه لاندې محتويات هم پکښې شامل دي:

الف: غيبي علم د الله ﷻ پورې خاص دی، د همدې کبله سليمان ﷺ ـد دې سره‌سره چې پيغمبر وه ـ د بلقيس په حکومت باندې علمي احاطه نه درلوده.

ب: شکر ګزاري د خپله شکر ګزار په ګټه تمامېږي.

ج: د قيامت د قيام څخه وړاندې به په ځمکه کښې "دابة الأرض" پيدا کړی شي.

## د سورتونو تناسب

٧ـ دا سورت (ٱلنَّمْل) او وړاندېنی سورت (ٱلشُّعَرَاء) سره ډېرې کلکې اړيکې لري، لاندې څو مثالونه يې ولولئ:

الف: په دواړو سورتونو کښې د قرآن کريم اعجاز او حقانيت ته اشاره شوې ده.

ب: هغه هم د څو پيغمبرانو په عبرتي قيصو باندې مشتمل وه، او دلته هم د څو پيغمبرانو قيصو ته اشاره کېږي. خو:

دلته د موسی ﷺ او لوط ﷺ د قيصو څينې مهمې نکتې د هغه سورت د تکميل په توګه نازلې شوې دي، او د داوُد ﷺ او سليمان ﷺ د حالاتو څو نمونو په ابتدايي توګه نزول موندلی دی.

ج: په دواړو سورتونو کښې د نبي کريم ﷺ تسلي او ډاډينه په نظر کښې نيولې شوې ده.

د: په دواړو کښې کفار خپل ناکاره انجام ته متوجه کړی شوي دي، اوداسې نور.

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص٤٠٥؛ الدر المنثور ج٦ ص٣٤٠
(٢) تفسير الطبري ج١٩ ص١٣١؛ تفسير القرطبي ج١٢ ص١٥٤
(٣) اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص١٠٣
(٤) تفسير الخازن ج٤ ص٥٠١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بسم الله الرحمن الرحيم

﴿طس تلك ءايت القرءان وكتاب مبين ۝١ هدى وبشرى للمؤمنين ۝٢ الذين
يقيمون الصلوة ويؤتون الزكوة وهم بالآخرة هم يوقنون ۝٣ إن الذين لا يؤمنون
بالآخرة زينا لهم أعملهم فهم يعمهون ۝٤ أولئك الذين لهم سوء العذاب وهم في
الآخرة هم الأخسرون ۝٥ وإنك لتلقى القرءان من لدن حكيم عليم ۝٦﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱]

دغه (ایتونه چې درروان دي) د قرآن کریم او څرګند (یا څرګندوونکي) کتاب ایتونه دي.

[۲] په داسې حال کښې چې (دا ایتونه) د مؤمنانو دپاره هدایت او بشارت دی (چې همدوی ترې ګټه پورته کوي).

[۳] هغه مؤمنان چې لمونځ دروي او زکات ورکوي او دوی په آخرت (قیامت) سره همدوی یقین (او باور) کوي.

[۴] یقیناً هغه کسان چې په آخرت (د قیامت په ورځ) ایمان نه راوړي، مونږ ورته خپل (بد) عملونه ښایسته کړي دي، نو دوی پکښې سرګردانه تاوېږي (راتاوېږي او د نجات لار ترې نه شي موندلی).

[۵] دغه (دله) هغه کسان دي چې دوی ته (په دنیا کښې) بد عذاب دی، او دوی په آخرت کښې همدوی ډېر زیات تاوانیان دي (چې هلته یې عذاب دائمي دی او انقطاع نه لري).

[۶] او (ای پیغمبره!) یقیناً تاته د حکمت (او) د پوهې د څښتن (الله ﷻ) له نزد څخه هرومرو قرآن کریم دراچول کېږي (وحې کېږي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وراندېنی سورت په لاندې مطالبو باندې ختم شوی وه:

۱ـ نبي کریم ﷺ په حقه پیغمبر دی، جوګی (کاهن) او شاعر نه دی.

۲ـ دا کتاب (قرآن کریم) په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، جوګ او شعر نه دی.

۳ـ څوک چې د نبي کریم ﷺ نبوت او د قرآن کریم حقانیت نه مني نو هغوی به ډېر ژر پوه شي چې د عذاب په کومه کنده کښې به ورواچولی شي.

په دې ایتونو کښې په همدغو مطالبو باندې وراندې بېرته څه رڼا اچوله شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته یو ځل بیا په خپل أمت باندې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ دغه راتلونکی سورت یا راتلونکي ایتونه د هغه قرآن کریم سورت یا ایتونه دي چې مونږ تاته په حقه سره درنازل کړي دي. یا په بل عبارت: دا د هغه کتاب برخې دي کوم چې خپل ځان پخپله په اثبات رسوي، بلکې د اثبات دلیل یې بالکل څرګند او واضحه دي، هغه دا چې:

دغه کتاب د هغو تورو او کلماتو څخه ترکیب شوی دی د کومو څخه چې د عربي ژبو خلکو محاورې او کتابونه ترکیب شوي دي، لکه "ط، س" او داسې نور، خو د دې سره-سره هیڅوک د دې کتاب غوندې نه یو سورت جوړولی شي او نه د یوه ایت په جوړولو باندې قدرت لري، حال دا چې دا کتاب ګڼ شمېر سورتونه او زښت ډېر ایتونه لري.

د انسانانو ترمنځ د اذهانو تفاوت شته خو دومره تفاوت نشته لکه د ځمکې او د اسمان، چې یو کس د ټول کتاب په جوړولو قدرت ولري او نور ټول انسانان د یوه ایت د جوړولو توان ونه لري، نو معلومه شوه چې دا د مخلوق کلام نه دی بلکې د خالق ﷻ کلام دی.

۲ـ که څه هم دا کتاب ټولو خلکو ته هدایت او بشارت دی، باید چې ټول ترې ګټه پورته کړي، خو په عملي توګه ترې یوازې مؤمنان ګټه پورته کوي چې لاندې صفات ولري:

الف: هغه مؤمنان چې د دې کتاب د هدایت سره سم لمونځونه دروي او بدني عبادتونه کوي.

ب: هغه مؤمنان چې د خپلو مالونو زکاتونه ورکوي او په مالي عبادت باندې مصروف وي.

ج: هغه مؤمنان چې همدوی په آخرت باندې پخه عقیده لري، چې د مرګ څخه وروسته بیا راژوندي کېدل حق دي ترڅو هرڅوک د خپلو کړو وړو جزا یا سزا وګوري (دا دنیا الله ﷻ عبث نه ده پیدا کړې او حساب کتاب زاروان دی).

۳ـ هو! کوم کسان چې په آخرت باندې عقیده نه لري نو:

الف: د هغوی د نېکۍ استعداد ختم دی، او مونږ یې په زړونو باندې مهر لګولی دی.

ب: هغوی ته مونږ د قبیحو اعمالو ښایست په زړونو کښې خلق کړی دی چې خپله دغه تګلاره ورته بهتره برېښي او سرګردانه پکښې تاوېږي راتاوېږي، او د نجات لار نه شي موندلی.

ج: دغه کسان هغه کسان دي چې د همدوی دپاره په دنیا کښې ډېر بد او سخت عذاب ټاکلی شوی دی.

د: او په آخرت کښې همدغه کسان ډېر زیانکاران او تاوانیان دي، چې په هیڅ وجه یې د زیان او تاوان جبران نه شي کېدلی او نه یې عذاب انقطاع لري.

۴ـ ای پیغمبره! بې شکه دا قرآن کریم تاته د بل چا د پلوه نه بلکې د الله ﷻ د پلوه په وحې سره درکول کېږي، چې د ډېر لوی حکمت خاوند دی او هم د ډېر لوی علم درلودونکی دی، نو ځکه یې دا قرآن کریم تاته د حکمتونو او علومو څخه مالامال ډک کړی دی.

## توضیحات

۱ـ د دې سورت ذکر شوي لومړني ایتونه د "البقرة" د لومړنیو ایتونو سره په مطالبو کښې زیاته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تشابه لري، چې پوره بیان يې هملته تېر شوی دی ـ لله ﷻ الحمد والشكر ـ خو دلته ورباندې لاندې وضاحتونه ورزیاتوو:

الف: په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱلْآخِرَةِ زَيَّنَّا لَهُمْ أَعْمَٰلَهُمْ فَهُمْ يَعْمَهُونَ ﴾ ایت شریف کښې د ﴿ خَتَمَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ وَعَلَىٰ سَمْعِهِمْ ﴾ الآية، مضمون اداء شوی دی.

یا په بل عبارت: الله ﷻ په دې مقام کښې د ﴿ خَتَمَ ﴾ ځخه په تزيين (ښایسته کولو) سره تعبیر کړی دی، چې پوره شرحه یې د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:٢١٢] ایت لاندې تېره شوې ده.

نو حاصل يې داسې راځېږي چې: مونږ عنادي کفارو ته د دوی کفري کړنلاره ښایسته کړې ده، ځکه چې دوی خپل هغه بصیرت ضائع کړی دی په کوم باندې چې د حق او باطل فرق صورت نیسي.

ب: په ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَهُمْ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴾ کښې د ﴿ سُوٓءُ ٱلْعَذَابِ ﴾ "بد عذاب" ځخه دنیاوي عذاب مطلب دی، لکه چې د بدر په غزا کښې ورباندې کفار اخته شوه، نو نظر دغه عذاب ته هغوی خاسران (زیانکاران) دي چې په مرګ سره ختم شوه.

ج: په ﴿ وَهُمْ فِي ٱلْآخِرَةِ هُمُ ٱلْأَخْسَرُونَ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې أخروي عذاب ته په کتلو سره کفار "أخسرون" ډېر زیانکاران دي، چې هلته نه مرګ شته او نه یې عذاب انقطاع مونده کوي بلکې ابد الآباد به پکښې پراته وي.

٢ـ په ﴿ وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى ٱلْقُرْءَانَ ﴾ کښې د ﴿ لَتُلَقَّى ﴾ کلمه اصلاً د "لِقاء" ځخه اشتقاقه شوې ده چې د "إلقاء" او وحې معنی ورکوي[1]. یعنې: ای پیغمبره! دا قرآن کریم تاته د حکیم او علیم اقدس ذات ﷻ د پلوه د وحې په توګه دراچولی کېږي او درښودلی کېږي، نو ته د کفارو د خطر ځخه هیڅ تشویش مه کوه، دا به ضرور خپل وروستني پړاو ته رسېږي او هیڅوک به یې د وړاندې تګ مخنیوی ونه کړی شي.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا ﴾ [المزمل:٥] یعنې په یقین سره به مونږ په تاباندې درونه قول (قرآن کریم) د وحې په ذریعه درواچوو (درنازل کړو)، نو خپل ځان ورته چمتو کړه.

﴿ إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ إِنِّيٓ ءَانَسْتُ نَارًا سَـَٔاتِيكُم مِّنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ ءَاتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴿٧﴾ فَلَمَّا جَآءَهَا نُودِيَ أَنۢ بُورِكَ مَن فِي ٱلنَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا وَسُبْحَٰنَ ٱللَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨﴾ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّهُۥٓ أَنَا ٱللَّهُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٩﴾ وَأَلْقِ عَصَاكَ ۚ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ۚ يَٰمُوسَىٰ لَا تَخَفْ إِنِّي لَا يَخَافُ لَدَيَّ ٱلْمُرْسَلُونَ

[1] القاموس المحيط ج٤ ص١٦٤؛ لسان العرب ج١٥ ص٢٥٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًا بَعْدَ سُوٓءٍ فَإِنِّي غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١١﴾ وَأَدْخِلْ يَدَكَ فِي جَيْبِكَ
تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ فِي تِسْعِ ءَايَٰتٍ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ
﴿١٢﴾ فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ ءَايَٰتُنَا مُبْصِرَةً قَالُوا۟ هَٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١٣﴾ وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ
أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿١٤﴾ ﴾

[۷] هغه وخت یاد کړه چې موسی ﷺ خپل اهل (خپلې مېرمنې) ته وویلې چې: یقیناً ما اُور ولید (تاسو همدلته تم شئ)، ژر دی چې زه به تاسو ته د اُور (له ځای) څخه (د لارې د موندلو) خبر راوړم، او یا به تاسو ته را اخستلې شوې (د اُور) شغله راوړم، شاید چې تاسو (ترې اور بل کړئ او) تودوښنه (وربانديې) حاصله کړئ.

[۸] نو کله چې موسی ﷺ اُور ته ورغی نو (هلته) ورته اواز وکړی شو چې: (ای موسی!) هغه ځوک برکتناک ګرځولی شوی دی کوم چې په دغه اُور (رڼا) کښې دی او هغه ځوک هم چې د اُور (رڼا) په چاپېریال کښې موجود دی (چې ته پخپله هم پکښې شامل یې)، او الله ﷻ ته (د هر ډول نواقصو او امثالو څخه) پاکي ده چې رب العالمین دی (او د ټولو مخلوقاتو خالق دی).

[۹] ای موسی! یقیناً شان دا دی چې همدا زه (خبرې کوونکی) الله ﷻ یم، د کلکې ارادې خاوند (او هم) د حکمت څښتن (یم).

[۱۰] او (ای موسی!) ته خپله همسا (په ځمکه) وغورځوه.

(موسی ﷺ خپله همسا د امر سره سمه وغورځوله) نو کله یې چې ولیده چې (اژدها ترې جوړه شوه او) د نري مار په څېر (تېزه) ښوريږي، نو په داسې حال کښې یې ترې مخ واړاوه چې بېرته تښتېدونکی وه او (ورباندې) راتاو نه شو.

(بیا ورته اواز وشو چې) ای موسی! ډارېږه مه، یقیناً زه چې یم زما په نزد پیغمبران نه ډارېږي (او ته هم یو پیغمبر یې).

[۱۱] مګر هغه څوک (ډارېږي) چې (پیغمبر نه وي او په خپل ځان) ظلم وکړي، بیا د بدۍ (ظلم څخه وروسته نیکي عوض کړي (په بدل کښې یې نیکي وکړي او توبه وباسي)، نو یقیناً زه بښونکی (او) مهربان یم (په دوی باندې هم زما د پلوه ډار نه شته).

[۱۲] او (ای موسی!) خپل لاس دې په خپل ګرېوان کښې ننباسه نو (بېرته به) بدون د مرض (او عیب) څخه تک سپین (ځلېدونکی) راووځي.

(دغه دواړه معجزې) په نهو معجزو کښې (شاملې) دي (نهه به درته پوره کړم)، (نو ته د دغو معجزو سره) فرعون او د ده قوم ته (د پیغمبر په حیث لاړ شه)، یقیناً دوی (فرعونیان) فسق کوونکی قوم دی (توحید ته دعوت ورکړه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۳] نو کله چې فرعونیانو ته (د موسی ﷺ په لاس) زمونږ معجزې په داسې حال کښې ورغلې (وروړسولی شوې) چې بصیرت درلودونکې وې (د خلکو د اذهانو روښانوونکې وې) نو هغوی وویلې چې دغه (هره یوه معجزه) ښکاره جادو دی.

[۱۴] او فرعونیانو په معجزو سره د ظلم او تکبر (عناد) د کبله په داسې حال کښې انکار وکړ چې نفسونو (زړونو) یې ورباندې کلک یقین کاوه (چې دا حقې دي).

نو (ای پیغمبره!) ته وګوره چې د فساد اچوونکو (فرعونیانو) عاقبت څنګه شو؟ (چې ټول په قلزم کښې غرق شوه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنې ایتونه په دې تمام شوي وه چې: ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه تاته قرآن کریم درکړی شوی دی چې د حکمتونو او علومو څخه مالامال ډک دی؛ په دې ایتونو کښې د موسی ﷺ د نبوت په ذکر سره د نورو پیغمبرانو د حالاتو بیان شروع شوی دی چې د حکمتونو او علومو څخه نمایندګي کوي. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! په دې قرآن کریم کښې په خپلو اُمتیانو باندې د موسی ﷺ د نبوت ابتدایي حال قرائت کړه، ترڅو دوی پوه شي چې ته په حقه پیغمبر یې چې د وحې په ذریعه معلومات درکول کېږي، هغه دا چې:

۱ـ هغه وخت ورپه یاد کړه چې کله موسی ﷺ خپلې مېرمنې سره د مدین د ښار څخه د مصر په لور روان وه، حال دا چې د یوه پلوه تکه توره شپه وه او ژمی وه چې سړوښه زښته ډېره وه،او د بله پلوه دوی دواړو هغه لاره غلطه کړې وه کومه چې مصر ته غزېدلې وه او دوی دواړو غوښتل چې مصر ته پرې خانونه ورسوي.

نو موسی ﷺ خپلې مېرمنې ته په لاندې ټکو کښې داډینه او مشورې ورکړې:

الف: زه هغه دی اُور ګورم چې بلېږي.

ب: تاسو همدلته تم شئ، زه همدغه اُور ته ورځم.

ج: هلته به یا څوک مونده کړم او د لارې معلومات به ترې واخلم چې د مصر په طرف کومه لاره غزېدلې ده، او یا به ترې د کوم اوچوکي په څوکه کښې د اُور شغله راوړم چې تاسو ورباندې دلته اُور بل کړئ او خپل خانونه ورباندې تاوده کړئ، او یا به دواړه مطلبه ترلاسه کړم.

۲ـ نو کله چې موسی ﷺ خپله مېرمن هلته منتظره کړه او پخپله د لیدلي شوي اُور په خوا روان او وررسېد، نو هلته ورته داسې اواز وکړی شو چې:

الف: ای موسی! دغه رڼا چې تاته اُور برېښي دا په حقیقت کښې اور نه دی چې سوزول کوي بلکې دا یو الهي نُور او رڼا ده، چې سراسري برکت دی. څوک چې د دغه اُور (رڼا) په داخل کښې دی او څوک چې د دغه اُور (رڼا) په شاوخوا کښې موجودیت لري هغه ټول برکتناک دي، چې خلکو ته به یې خیر

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورسېږي او د ضرر څخه به يې په امان کښې وي، ته هم په همدغې برکتناکه ډله کښې شامل يې.

ب: الله ﷻ ته د ټولو عيوبو او نواقصو څخه پاکي ده چې په عالمونو کښې د هيچا سره شباهت نه لري او نه په څه شي کښې حلول کوي، بلکې همدی ﷻ د ټولو عالمونو رب دی او ټول يې پيدا کړي دي، همدا خبره په ذهن کښې کلکه ونيسه او پوه شه چې:

ج: ای موسی! يقيناً شان دا دی چې همدا زه ارشاد کوونکی او خبرې کوونکی الله ﷻ يم، چې په هر کار کښې مې اراده نافذه ده او هيڅوک او هيڅ شی مې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی، او همدارنګه همدا زه د حکمت څښتن يم، هر يو کار مې د حکمت په بنياد صورت نيسي، دا چې زه اوس تاته مستقيماً ارشادات درکوم دا هم د حکمت غوښتنه ده.

د: ای موسی! زما د پلوه تاته د نبوت تاج درپه سر کړی شو او د دې دپاره چې ستا په نبوت باندې خلک باور وکړی شي، نو تاته به متعددې معجزې درکړم. د مثال په توګه: ته خو د خپل لاس همسا په ځمکه باندې وغورځوه.

ای پيغمبره! موسی ﷺ سمدستي خپله همسا په ځمکه باندې وغورځوله، نو ويې لېدله چې د هغې څخه لوی بنامار (اژدها) جوړه شوه او په ځغاسته کښې دومره کړندې وه لکه چې نری مار په تېزۍ سره خوځيږي او ځغلي.

کله چې موسی ﷺ ذکره شوې اژدها وليدله نو په داسې حال کښې ترې بېرته په شاتلونکی وه چې خپل مخ يې ترې واړاوه او بېرته وربانديې ورتاو نه شو. په عين وخت کښې مونږ موسی ﷺ ته توصيه وکړه چې:

ه: ای موسی! ډارېږه مه، يقيناً ته د پيغمبرانو د جملې څخه يو پيغمبر يې او پيغمبران خو په ټولو حالاتو کښې او په خاصه توګه زما په نزد (د مناجات په حال کښې) د هيڅ شي څخه نه ډارېږي، ځکه چې پيغمبرانو ته زما د پلوه هيڅ خطر نشته او همدوی زما د عذابونو څخه په امن کښې دي.

و: زما په نزد د پيغمبرانو څخه په غير نورو خلکو ته د عذاب خطر شته دی، نو دوی ته په کار دي چې زما څخه وډار شي، مګر هغه څوک چې ظلم (ګناه) وکړي او بيا خپله ګناه او بدي په نېکۍ او ښه حال باندې بدله کړي (توبه وباسي) نو يقيناً زه د هغه دپاره بښونکی او مهربان يم.

ز: ای موسی! ستا د معجزاتو دوهم مثال دا دی چې: ته دې خپل لاس په خپل ګرېوان کښې دننه کړه، نو په داسې حال کښې به تک سپين رابهر شي چې کوم عيب او مرض به ورپورې پيوستون ونه لري، او چې بيايې ورننباسې او بېرته يې راوباسې نو سمدستي به خپل اصلي حال ته واوړي.

موسی ﷺ خپله دغه معجزه هم په عملي شکل سره وليده.

ح: بيا مونږ موسی ﷺ ته ارشاد وکړ چې دغه دواړه معجزې په هغو نهو معجزو کښې شاملې دي په کومو باندې به چې ته د فرعونيانو په وړاندې په خپل رسالت او نبوت باندې استدلال کوې.

ط: نو ای موسی! ته د دغو معجزو سره فرعون او د ده قوم ته لاړ شه او هغوی ته دعوت ورکړه چې د کفرياتو او فسق او فجور څخه لاس واخلي او د الله ﷻ بندګۍ او عبادت ته راتاو شي، ځکه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې یقینًا دوی ټول فاسقان دي، او داسې قوم دی چې د الله ﷻ د اطاعت څخه وتلی دی.

٣_ ای پیغمبره! هرکله چې موسی ﷺ زمونږ د ارشاداتو سره سم د داسې معجزاتو سره هغوی ته ورغی کومې چې بصیرت درلودونکې وې او خلکو ته یې دومره بصیرت ورکاوه چې د موسی ﷺ په رسالت اونبوت باندې باور وکړي، نو:

الف: د هر څه څخه وړاندې هغوی وویلې چې: دغه خوارق معجزات نه دي بلکې دا جادو دی او موسی ﷺ جادوګر دی.

ب: هغوی د معجزاتو څخه د ظلم او تکبر په وجه په داسې حال انکار وکړ چې په زړونو کښې یې وربانديې باور درلوده چې دا جادو نه دی او رښتیانی معجزې دي، خو قبولې یې نه کړې او خپلو کفریاتو ته یې ادامه ورکړه.

٤_ نو ته وګوره چې د مفسدانو (فرعونیانو) عاقبت څنګه شو؟ ایا د قلزم په بحیره کښې د څرمې غرق نه شوه؟ نو په کار دي چې ستا د دعوتې اُمت کفار ترې عبرت واخلي او حق ته غاړې کېږدي.

## توضیحات

١_ مونږ د الله ﷻ په توفیق د ﴿ إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا ﴾ په اړه لاندې توضیحات لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو:

الف: د موسی ﷺ د مېرمنې څخه د تفخیم او تکریم په توګه په "أهل" سره تعبیر شوی دی او د جمعې ضمائر ورته راجع کړی شوي دي [طه: ١٠] ایت.

ب: د "نار" کلمه په څلورو معناوو باندې دلالت کوي، یا په بل عبارت: اُور په څلور ډوله دی، او دلته څلورم ډول اُور مراد دی چې رڼا لري او حرارت نه لري، څه لرې نه ده چې مونږ ترې په نُور سره تعبیر وکړو [طه:١٢] ایت.

## د دریوو لغاتو معناوې

٢_ په ﴿ أَوْ ءَاتِيكُم بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَّعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ﴾ کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: "شِهَاب" هغې شغلې ته ویل کېږي، کومه چې د بل کړی شوې اُور څخه پورته کېږي[١].

ب: "قَبَس" د غټ اُور د هغې کوچنۍ برخې څخه عبارت دی چې بل ځای ته انتقال او هلته ترې اُور بل کړی شي[٢]، خو په دې مقام کښې د "شِهَاب" دپاره صفت واقع شوی دی، چې په "مَقْبُوس" سره ترې تعبیر کېږي[٣] او د اخستلې شوي معنی ورکوي.

ج: د ﴿ تَصْطَلُونَ ﴾ کلمه په اصل کښې "تَصْتَلُونَ" وه چې د "ط" توری پکښې د "ت" څخه بدل

---

(١) مفردات الراغب ص ٢٧٤
(٢) لسان العرب ج ٦ ص ١٦٧
(٣) تفسير ابي السعود ج ٦ ص ٢٧٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راغلی دی، او د مجردو مصدر یې "صَلْيٌ" ـلکه "ضَرْبٌ"ـ دی، "صَلْيٌ" د یو شي کباب کولو او په اور کښې د سوزولو دپاره غورځولو ته وضعه شوی دی، خو کله چې د افتعال تر باب لاندې واقع شي ـلکه چې دلته واقع شوی دیـ نو بیا ترې د تودېدلو معنی اخستله کېږي[1].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: تاسو زما تر بېرته راستنېدلو پورې دلته تم شئ او ما پسې مه راځئ، زه به د دغه اُور څخه تاسو ته د لارې خبر راوړم که هلته څوک وه او لاره ورته معلومه وه، او یا به ترې اخستله شوې شغله راوړم، شاید تاسو ترې دلته اُور بل کړئ او خپل ځانونه وربانديې تاوده کړئ.

## هېر مو نه شي

٣ـ هېر مو نه شي چې د دې تکړې ﴿ أَنۢ بُورِكَ مَن فِى ٱلنَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ په تفسیر کښې علماوو کرامو ښه اوږد بحث کړی دی[2]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

خو کوم تفسیر چې مونږ ته بهتر برېښېدلی دی هغه په لاندې نکاتو باندې ولاړ دی:

الف: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) څخه روایت دی چې: «كَانَتْ تِلْكَ النَّارُ نُورًا»[3] یعنې دغه اُور په حقیقت کښې سوزوونکی اُور نه وه، بلکې هغه یو نُور (رڼا) وه چې موسی علیه السلام وربانديې د اُور ګومان کړی وه.

ب: که څه هم اکثره مفسرین کرام وایي[4] چې د ﴿ مَن فِى ٱلنَّارِ ﴾ څخه پرښتې مطلب دي چې دغه بابرکته مقام ته راښکته شوې وې، او د ﴿ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ څخه یوازې موسی علیه السلام مطلب دی، مګر مونږ ته داسې برېښي ـوالله ﷻ أعلمـ چې د ﴿ وَمَنْ حَوْلَهَا ﴾ کلمات به د موسی علیه السلام څخه علاوه هغو پرښتو ته هم شامل وي په کومو باندې چې د نُور څخه بهر منطقه مالامال ډکه وه، زمونږ په نزد د دغو کلماتو څخه د پرښتو ډېروالی څرګندېږي.

ج: مونږ څکه د اکثرو علماوو قول ته ترجیح ورنه کړه چې زمونږ په نزد ذکر شوی نُور هغه نُور نه وه کوم ته چې نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «حِجَابُهُ النُّورُ»[5] یعنې د الله ﷻ د دیدار حاجب (مانع) نُور دی نو څکه یې په دنیا کښې د مخلوق سره د لیدلو توان نشته.

که بالفرض ذکر شوی نُور همدغه نُور وی نو د یو پلوه به هلته پرښتو شتون نه وی درلودلی چې همدغه حجاب به یې مانع ګرځېدلی وی، او د بله پلوه به موسی علیه السلام هم بې هوښه شوی وی لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ جَعَلَهُۥ دَكًّا وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا ﴾ [الأعراف:١٤٣] یعنې: نو هرکله چې د موسی علیه السلام رب ﷻ (د رب لږ څه نُور) غره ته ورڅرګند شو نو غر یې هوار کړ او موسی علیه السلام

(١) القاموس المحیط ج٢ ص٨٤٧
(٢) تفسیر الطبري ج١٩ ص١٣٣؛ المحرر الوجیز ج١٢ ص٩٢؛ التفسیر الکبیر ج٢٤ ص١٨٢
(٣) الدر المنثور ج٦ ص٣٤١
(٤) تفسیر البغوي ج٣ ص٤٠٦
(٥) صحیح مسلم ج١ ص٩٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په څمکه باندې) بې هوښه (بې خوده) پرېووت.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د ﴿ فَلَمَّا تَجَلَّىٰ رَبُّهُۥ لِلْجَبَلِ ﴾ تفسير په «ظَهَرَ نُورُ رَبِّهِ لِلْجَبَلِ»[۱] سره کړی دی، یعنې: نو کله چې غره ته د موسی ﷺ د رب ﷻ څه نُور ورڅرګند شو.

بلکې ذکر شوی نُور هلته د دې دپاره خلق کړی شوی وه چې موسی ﷺ د خپل اهل څخه جدا او د الله ﷻ په مناجات باندې مشرف شي، او د نبوت منصب ترلاسه کړي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېژي چې: ای موسی! په کومه سيمه کښې چې ته فعلاً قرار لرې دا يوه مبارکه سيمه ده او د رحمت په پرېښتو باندې ډکه ده، چې ځوک د نُور په داخل کښې دي او ځوک ترې بهر په شاوخوا کښې موجوديت لري، نو تاته نبوت درکړی شو او ته هم مبارک وګرځېدلې چې ډېر خلک به ستا په ذريعه په ايمان باندې مشرف شي.

ای موسی! د دغه نُور ـ چې تا وربانډې د اُور ګومان کاوه ـ څخه خو تا د لږ ګټې تمه درلوده چې يا به وربانډې هغه ورکه شوې لاره مونده کړې کومه چې مصر ته غزېدلې ده، يا به وربانډې د خپل اهل د سړوښې مخنيوی وکړې او څه ګټه به درته ورسوې، خو دا دی ته به اوس يوازې خپل اهل ته نه بلکې ټولو خلکو ته داسې ګټه ورسوې چې د دوزخ د ګرمۍ څخه به نجات ورکړې، او داسې لاره به ورته په ګوته کړې کومه چې سمه سيده جنت ته غزېدلې ده.

## موسی ﷺ ډېر سخت وډار شو

۴ـ د ﴿ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ ﴾ څخه داسې معلومېږي چې کله د همسا څخه په قدرتي توګه تېزه اژدها جوړه شوه نو موسی ﷺ ترې د بشريت د کبله ډېر سخت وډار شو، لکه چې ذکري شوې کلمې وربانډې په لاندې ډول دلالت کوي:

الف: ﴿ وَلَّىٰ ﴾ يعنې: موسی ﷺ سمدستي د اژدها د ليدلو څخه مخ واړاوه.

ب: ﴿ مُدْبِرًا ﴾ يعنې: په داسې حال کښې يې ترې اعراض وکړ چې بېرته ستون شو او د تېښتې لاره يې خپله کړه.

ج: ﴿ وَلَمْ يُعَقِّبْ ﴾ يعنې: د شا ګرځولو څخه وروسته نه بېرته ښامار ته ورستون شو او نه يې ورته سترګې ور واړولې چې يو ځل بيا ورته وګوري[۲].

## دا منقطعه استثناء ده

۵ـ که څه هم د ﴿ إِلَّا مَن ظَلَمَ ثُمَّ بَدَّلَ حُسْنًۢا بَعْدَ سُوٓءٍ فَإِنِّى غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ په استثناء کښې مفسرينو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[۳] که ځوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مګر

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۱۹۷
(۲) لسان العرب ج۱ ص۵۱۹؛ مفردات الراغب ص۳۵۳
(۳) تفسير ابي السعود ج۶ ص۲۷۵؛ تفسير الطبري ج۱۹ ص۱۳۶؛ تفسير القرطبي ج۱۳ ص۱۶۱؛ روح المعاني ج۱۹ ص۱۶۵؛ البحر المحيط ج۸ ص۲۱۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته بهتره برېښي چې دغه استثناء به منقطعه وي، ځکه چې د ﴿ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴾ کلمه (چې په دې مقام کښې مستثنی منه واقع شوې ده) ﴿ مَن ظَلَمَ ﴾ ته نه شي شامله‌دلی ترڅو ترې په "إلاّ" سره اخراج شي او د متصلې استثناء تعریف وربانديې صدق مونده کړي.

## سوال جواب

۶_ که څوک وايي چې: په منقطعه استثناء کښې خو د "إلاّ" توری د "لکِنّ" معنی ورکوي چې د استدراک دپاره دی، یا په بل عبارت: په "لکِنّ" سره خو هغه توهم د منځه وړل کېږي کوم چې د وړاندېنې کلام څخه د چا ذهن ته ورځي[1]، نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام کښې ذکر شوی توهم څه شی دی؟

مونږ وایو: چې کله الله ﷻ په وړاندېنې کلام کښې ټول پیغمبران د خوف او ډار څخه بچ وبلل نو څه لرې نه ده چې د چا توهم (خیال) ته ورشي چې د پیغمبرانو اُمتیان به هم د خوف او ډار څخه بچ وي، نو الله ﷻ دغه توهم په ﴿ إِلَّا مَن ظَلَمَ ﴾ سره پورته کړ. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای موسی! زما په نزد ټول پیغمبران د څرمې نه ډارېږي چې زه به وربانديې عذاب ورنازل کړم، نو ته هم زما په نزد مه ډارېږه چې ښامار به دربانديې مسلط کړم، اما د پیغمبرانو څخه په غیر نور خلک هم د خوف څخه بچ کېدلی شي خو چې د ظلم او ګناه څخه وروسته نیکي وکړي او توبه وباسي، نو په دغه صورت کښې زه غفور او رحیم یم، نو څه لرې نه ده چې مغفرت ورته وکړم او د خوف څخه امان ورکړم.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وايي چې په ﴿ وَجَحَدُواْ بِهَا وَٱسۡتَيۡقَنَتۡهَآ أَنفُسُهُمۡ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗا ﴾ کښې د "جَحَدُوا" کلمه د "جُحود" څخه اشتقاقه شوې ده چې د انکار معنی ورکوي، او د "اسۡتَيۡقَنَتۡهَا" کلمې د "إِسۡتِيۡقَان" څخه اشتقاق موندلی دی چې په کلک یقین بانديې دلالت کوي؛ نو پوښتنه دا ده چې: ایا دا ممکنه ده چې فرعونیانو دې په یوه حال کښې په معجزاتو بانديې هم یقین کړی وی او هم دې ترې منکران شوي وي؟ ایا په یوه زړه کښې دوه متضاد صفتونه تحقق موندلی شي؟

مونږ وایو چې د همدغه سوال په ارتباط د الله ﷻ په توفیق د [الإسراء:۱۰۲] او [الشعراء:۲۳] ایتونو لاندې څه وضاحتونه تېر شوي دي خو په دې مقام کښې وربانديې لاندې وضاحت وراضافه کوو چې: د یقین سره د هغه انکار جمعه کېدل څه محال او غیر ممکن کار نه دی کوم چې په عناد او تکبر بانديې ولاړ وي، او د فرعونیانو انکار د همدې قبیلې څخه وه د همدې کبله الله ﷻ په ﴿ ظُلۡمٗا وَعُلُوّٗا ﴾ سره مقید کړی دی.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: فرعونیان د معجزو څخه واقعًا منکران نه وه بلکې د عناد او تکبر د کبله یې ترې انکار کاوه، او د الله ﷻ په نزد هغه یقین د اعتبار وړ دی او ایمان

---

(۱) شرح ملا جامي في النحو ص۳۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ګڼلې کېږي چې د هر ډول انکار څخه پاک وي او د ایمان ضد (انکار) ورسره ملګرى نه وي، که څه هم تکبري او عنادي انکار وي.

په دې جواب باندې علاوه په عین موضوع کښې ځینو مفسرینو کرامو څه نور تحقیق هم کړى دى(۱) که څوک یې د لوستولو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ وَسُلَيْمَـٰنَ عِلْمًا ۖ وَقَالَا ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ
ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥﴾ وَوَرِثَ سُلَيْمَـٰنُ دَاوُۥدَ ۖ وَقَالَ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِن
كُلِّ شَىْءٍ ۖ إِنَّ هَـٰذَا لَهُوَ ٱلْفَضْلُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٦﴾ وَحُشِرَ لِسُلَيْمَـٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ
وَٱلطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٧﴾ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوْا۟ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّمْلُ ٱدْخُلُوا۟
مَسَـٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمَـٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١٨﴾ فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن
قَوْلِهَا وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِىٓ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَىَّ وَأَنْ أَعْمَلَ
صَـٰلِحًا تَرْضَىٰهُ وَأَدْخِلْنِى بِرَحْمَتِكَ فِى عِبَادِكَ ٱلصَّـٰلِحِينَ ﴿١٩﴾﴾

[۱۵] او بې شکه مونږ داوُد ؑ او سلیمان ؑ (دواړو) ته علم ورکړى وه، او دوى دواړو وویلې چې: ټولې ستاینې هغه الله ﷻ لره دي چې مونږ یې د خپلو مؤمنانو بندګانو څخه په ډېرو باندې بهتر ګرځولي یاستو.

[۱۶] او (په علم او نبوت کښې) سلیمان ؑ د (خپل پلار) داوُد ؑ وارث (قائم مقام) شو، او سلیمان ؑ (خلک مخاطب کړه او ورته یې) وویلې چې: اى خلکو! مونږ ته د مرغانو وینا رابنودلې شوې ده او مونږ ته د هر (ضروري) شي څخه (غټه برخه) راکړه شوې ده، یقیناً چې دغه (احسان) هرومرو همدا ځرګند فضل دى (چې مونږ ته پرې امتیاز راکړى شوى دى).

[۱۷] او سلیمان ؑ ته د پیریانو او انسانانو او (هم) د مرغانو څخه خپل (تشکیل شوى) لښکر راټول کړى شو (او د تیارسي په حال ودرېد)، نو دوى (د خورېدلو او بې نظمیو څخه) را ایسارول کېده.

[۱۸] آن تردې چې دوى (سلیمان ؑ او د ده لښکر) په وَادِ النَّمْل (د مېږتنو په خوړ) باندې ورغله (ورنژدې شوه) نو یوه مېږۍ (یا یوې مېږۍ) وویلې چې: اى مېږتنو! تاسو (ټول) د خپلو اوسېدانې ځایونو ته ننوځئ چې هرومرو سلیمان ؑ او د ده ؑ لښکر مو په داسې حال کښې مات (جیت پیت) نه کړي چې دوى به (په تاسو باندې) شعور نه لري (درباندې به خبر نه وي).

(۱) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۹] نو سليمان ﷺ د هغې د وينا (د اورېدلو) څخه په داسې حال کښې مسکی شو چې (د خپل رب ﷻ په نعمتونو باندې) خندېدونکی وه (خوشالي کوونکی وه).

او (بيا يې) وويلې چې: ای زما ربه! ماته (د نېکيو) الهام وکړه (او د بديو څخه مې را ايسار کړه) چې (ترڅو) زه ستا د هغو نعمتونو شکر وباسم کوم چې تا په ماباندې او زما په مور او پلار (داوُد ﷺ) باندې (انعام) کړی دی، او چې (ترڅو) زه (ستا په توفيق سره) داسې صالح عمل وکړم چې ته يې خوښوې (او ته ورباندې راضي کېږې)، او (ای زما ربه!) ما د خپل رحمت په سبب د خپلو صالحو بندګانو په ډله کښې داخل کړه (کوم چې ته يې جنت ته ننباسې).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د هغو نعمتونو ذکر شوی وه کوم چې موسی ﷺ ته ورکړی شوي وه، او په دې ايتونو کښې داوُد ﷺ او سليمان ﷺ ته د ورکړی شوو نعمتونو ذکر کېږي خو د سليمان ﷺ په حالاتو زياته رڼا اچولې شوې ده چې څومره علمي پانګه ورکړه شوې وه او هغه ورباندې څومره شکر ګزار وه. نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د داوُد ﷺ او سليمان ﷺ څه حالات قرائت کړه ترڅو ستا د نبوت د اثبات دپاره څرګند دليل جوړ شي، هغه دا چې:

۱ـ مونږ داوُد ﷺ او د ده زوی سليمان ﷺ ته امتيازي علوم ورکړي وه، نو دوی دواړه شکرګزاران بندګان وه او دواړو به وويلې چې: ټولې ستاينې او ثناګانې هغه اقدس ذات ﷻ پورې مختصې دي چې مونږ ته يې د علومو په نسبت په خپلو ډېرو مؤمنانو بندګانو باندې بهتري راپېرزو کړې ده او ورباندې ممتاز يې ګرځولي ياستو.

۲ـ لکه څنګه چې هغوی دواړو ته امتيازي علوم ورکړی شوي وه همدارنګه دواړه په نبوت باندې سرلوړي کړی شوي هم وه، نو د داوُد ﷺ څخه وروسته د نبوت په منصب کښې سليمان ﷺ د خپل پلار (داوُد ﷺ) په مقام کښې ودرېد او هغه ﷺ علمي وارث وګرځېد.

۳ـ سليمان ﷺ خلکو ته دعوت ورکړ چې په شريعت باندې منګولې ښخې کړي، او د خپل نبوت د اثبات دپاره يې د هغوی توجه لاندې ټکو ته واړوله:

الف: ای خلکو! مونږ ته د الله ﷻ د پلوه د مرغانو خبرې رانبودلې شوې دي، دا ستاسو دپاره ډېره لويه معجزه ده چې زه په حقه پيغمبر يم، که نه نو مونږ به د هغوی په چېنهار باندې نه وی پوه شوي چې دوی څه وايي.

ب: په دې باندې علاوه مونږ ته د هغو ټولو شيانو څخه ښه غټه برخه راکړه شوې ده، کوم چې د يوه پاچا او سياستمدار سره مناسبه وي، يا په بل عبارت: مونږ ته په نبوت باندې برسېره حکومت او پاچاهي هم راکړه شوې ده.

ج: يقيناً دغه ذکر شوي شيان بالکل څرګند فضل دی چې مونږ تـه د الله ﷻ د پلوه راعنايت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوي دي، مونږ د دغو نعمتونو شکريه کوو، نو تاسو يې هم بايد شکريه وکړئ او په الهي شريعت باندې کلک شئ.

۴- ای پيغمبره! په خپل أمت باندې د سليمان ﷺ يوه قيصه ولوله چې د ده ﷺ فضائل او علمي بهترې پکښې انځور شوي دي هغه دا چې:

الف: يو ځل سليمان ﷺ خپلو لښکرو ته د تيارښې امر صادر کړ چې د سفر اراده يې درلوده.

ب: نو سمدستي ورته ښه غټ لښکر تيار شو چې د پيريانو او انسانانو او هم د مرغانو څخه يې تشکيل موندلی وه، خو د دې سره-سره چې دغه غټ لښکر د مختلفو اجناسو څخه تشکيل شوی وه، حرکت يې ډېر منظم او د اداري لاندې وه، نه يې په پيل کښې بې نظمي واقع کېدلی شوې او نه په اخر کښې.

ج: سليمان ﷺ د خپل سمبال کړی شوي لښکر سره حرکت وکړ اوتول د باد په چلښت سره د ځمکې څخه پورته شوه او والوتل، آن تر دې چې د مېږتنو په يوه جاله باندې ورغله. نو:

د: نو د مېږتنو مشر په خپلو اتباعو باندې غږ وکړ چې: ای مېږتنو! تاسو ټول خپلو کورونو او د اوسېدانې ځايونو ته ننوځئ او يو هم دباندې پاتې نه شئ، او دا ځکه چې سليمان ﷺ د يوه عظيم الشان لښکر سره زمونږ د جالې په لور په حرکت دی، هسې نه چې په همدې ځای کښې رانښکته شي او دمه وکړي، او تاسو چيت پيت کړي نو زه درته توصيه کوم چې هرومرو او ضرور دې سليمان ﷺ او د ده لښکر په داسې حال کښې تاسو د پښو لاندې ميده-ميده نه کړي چې دوی درباندې خبر او پوه نه وي چې دلته لا ستاسو جاله ده.

ه: نو کله چې سليمان ﷺ د مېږتنو د مشر ذکره شوې توصيه واورېده نو مسکی شو او په خندا-خندا کښې يې وويلې چې:

اول: ای زما ربه! زما همت پياوړی کړې او افکار مې د تشتت څخه وساتې، ترڅو د هغو نعمتونو شکريه وکړم کوم چې تا په ما باندې نازل کړي دي او زما په مور او پلار باندې دې راورولي دي.

دوهم: او همدارنګه ماته د دې توان راکړې چې زه داسې صالح عملونه وکړم کوم چې ته خوښوې او ته ورباندې راضي کېږې.

دريم: ای زما ربه! ما په خپل رحمت سره د قيامت په ورځ د خپلو صالحو بندګانو په تولګي کښې شامل کړې.

## توضيحات

۱- په ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُدَ وَسُلَيْمَـٰنَ عِلْمًا ﴾ کښې د "عِلْمًا" کلمه مطلقه ده، الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې دوی دواړو ته به يې کوم-کوم علوم ورښودلي وه، خو د داوُد ﷺ د علم يوه مثال ته په بل ايت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ وَعَلَّمْنَـٰهُ صَنْعَةَ لَبُوسٍ لَّكُمْ لِتُحْصِنَكُم مِّنۢ بَأْسِكُمْ ﴾ [الأنبياء: ۸۰] يعني او مونږ داوُد ﷺ ته ستاسو دپاره د زغرو د جوړولو صنعت ورښودلی وه، د دې دپاره

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې تاسو د خپلو جنګونو له ضرره بچ کړي.

اما د سليمان ﷺ د علم يو مثال خو په راتلونکي ايت کښې راروان دی چې: ﴿ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ ﴾ يعنې مونږ ته د مرغانو اوازونه (خبرې) ښودلې شوې دي.

## د ايت شريف ارشاد

٢_ په ﴿ ٱلَّذِى فَضَّلَنَا عَلَىٰ كَثِيرٍ مِّنْ عِبَادِهِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ کښې الله ﷻ د دې اُمت علماوو کرامو ته ارشاد کړی دی چې په خپلو ورکړی شوو علومو باندې شکريه وکړي او تواضع ورسره ملګرې کړي، لکه څنګه چې سليمان ﷺ د تواضع په توګه اشاره وکړه چې په علومو کښې زما څخه لوړ رتبه مؤمنان هم شته دي، هسې نه چې زه په ټولو کښې اول نمره يم.

## سوال جواب

٣_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَوَرِثَ سُلَيْمَـٰنُ دَاوُۥدَ ﴾ کښې يوازې سليمان ﷺ د داود ﷺ وارث ګڼلی شوی دی، حال دا چې داود ﷺ خو سل (١٠٠) مېرمنې درلودې[1]، نو پوښتنه دا ده چې ايا نور وارثان يې نه درلوده؟

مونږ وايو چې: داود ﷺ نور وارثان درلوده حتی چې د سليمان ﷺ په شمول ترې نولس (١٩) زامن پاتې وه[2]، مګر په دې مقام کښې د "وراثة" څخه مالي وراثت مطلب نه دی څکه چې د پيغمبرانو په مال کښې د مرګ څخه وروسته ټول اُمتيان اشتراک لري، لکه چې تحقيق يې د [مريم:۶] ايت لاندې تېر شوي دي والحمد لله ﷻ، بلکې دلته په خلافت او نبوت کښې وراثت مطلب دی.

نو د معنی حاصل يې داسې راخېژي چې: داود ﷺ د خپل خلافت او نيابت دپاره سليمان ﷺ وټاکه _چې عمر يې ايله دولس يا ديارلس کاله وه[3]_ چې بيا وروسته ورته الله ﷻ نبوت هم ورکړ نو په نبوت او خلافت دواړو کښې د خپل پلار (داود ﷺ) په ځای باندې ودرېد او قائم مقام يې جوړ شو.

## څو پوښتنې او د هغو جوابونه

۴_ په ﴿ وَقَالَ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ ٱلطَّيْرِ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَىْءٍ ﴾ کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: ايا په "عُلِّمْنَا، أُوتِينَا" کښې د "نَا، نَا" ضميرونه د داوُد ﷺ او سليمان ﷺ (دواړو) څخه عبارت دي لکه چې لږ وړاندې په ﴿ فَضَّلَنَا ﴾ کښې د "نَا" ضمير د دواړو څخه عبارت وه؟ يا په بل عبارت: ايا داوُد ﷺ ته هم د مرغانو خبرې ورښودلې شوې وې؟

مونږ وايو چې: د ﴿ فَضَّلَنَا ﴾ کلمه د "قَالَا" دپاره مقوله ده، يعنې داوُد ﷺ او سليمان ﷺ دواړو

(١) تفسير ابن کثير ج٣ ص٣٥٨
(٢) تفسير ابي السعود ج۶ ص٢٧۶
(٣) تفسير روح المعاني ج١٩ ص١٧٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ويلي چې: ټول حمدونه هغه اقدس ذات ﷻ پورې مختص دي چې مونږ ته يې په ډېرو مؤمنانو باندې بهتري راکړې ده.

او د "عُلِّمْنَا، أُوتِينَا" دواړه کلمې د "قَالَ" دپاره مقولې دي چې يوازې د سليمان ﷺ څخه حکايت دي، نو ظاهره دا ده چې داؤد ﷺ ته به د مرغانو په خبرو باندې پوهه نه وه ورښودلې شوې، مګر کله به يې چې ذکر کاوه نو مرغانو به ورسره بدرګه کاوه، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَٱلطَّيْرَ مَحْشُورَةً ﴾ [ص:١٩] يعنې: او مونږ داؤد ﷺ ته مرغان په داسې حال کښې تابع ګرځولي وه چې هغه ته به (د ذکر کولو په وخت کښې) ورغونډ کړی شوي وه.

په دې باندې علاوه، متبادره دا ده چې سليمان ﷺ به خلکو ته ذکر شوې خطابه د خپل پلار د مرينې څخه وروسته ورکړې وي چې نيابت يې اشغال کړی وه او د نبوت تاج ورپه سر کړی شوی وه، نو په خطابه کښې به يې يوازې د خپل ځان د حالاتو بيان مراد وه او بس.

ب: که څوک وايي چې د ذکر شوي جواب غوښتنه دا ده: چې سليمان ﷺ د خپل ځان څخه د "نَا، نَا" په عوض په "نِي، نِي" سره تعبير کړی وی، چې په انفراد (يو کس) باندې دلالت کوي؟

مونږ وايو چې:

اول: د مرغانو په خبرو باندې په پوهېدلو کښې د سليمان ﷺ اُمت هم بې برخې نه وه، چې همده ﷺ د پلوه به ورته ترجماني کېدلی.

دوهم: د پيغمبر فضائل د اُمت د فضائلو څخه هم استازيتوب کوي، د همدې کبله مونږ د "خَيْرُ الأُمَمِ" لقب ګټلی دی، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِنَّكُمْ وَفَّيْتُمْ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللهِ»[1] يعنې ای زما اُمته! يقيناً تاسو اويا اُمته پوره کړي دي (ستاسو څخه وړاندې ډېر اُمتونه تېر شوي دي) چې تاسو د ټولو بهتر اُمت ياست او په الله ﷻ باندې د زيات عزت او کرامت درلودونکی اُمت ياست.

درېم: که څه هم د مفرد څخه په جمعه سره تعبير کول د تعظيم دپاره صورت نيسي د همدې کبله الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴾ [ق:١٦] يعنې او مونږ انسان ته د ده د شارګونو څخه (په علم او قدرت سره) ډېر زيات نژدې ياستو؛ مګر کله-کله د تواضع په غرض هم تحقق مومي، لکه چې زمونږ هر يو کس د انفراد په حال کښې هم وايي چې: "اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ" يعنې ای الله! مونږ ته (ما ته) سمه لاره راوښايې.

د سليمان ﷺ د راحکايت شوو اقوالو څخه معلومېږي چې هغه ﷺ د خپل ځان څخه د "نَا، نَا" په تعبير کښې تواضع مطلب وه. همدا مطلب په ذکره شوې مجموعه کښې د [١٦] ايت څخه څرګندېږي.

د همدې کبله مونږ (د کتاب مؤلف) د سليمان ﷺ په څېر د خپل ځان څخه په "مونږ" سره د تواضع په غرض تعبير کوو، بالفرض که په "زه" سره ترې تعبير وکړو نو ځينې کسان (خصوصاً عناديان) به ترې د تکبر معنی واخلي، العياذ بالله ﷻ منه.

(١) سنن ابن ماجه ص٣١٧؛ مسند احمد بن حنبل ج٧ ص٢٣٧

Scanned by CamScanner

ج: ایا سلیمان ﷺ ته د مرغانو (الوتونکو ساکښانو) څخه په غیر د نورو ساکښانو خبرې هم وربښودلی شوې وې او که څنګه؟

مونږ وایو چې: راتلونکي ایتونه دلالت کوي چې سلیمان ﷺ د مېږتنو په خبرو باندې پوهېده، حال دا چې مېږتانه په الوتونکو ساکښانو کښې شامل نه دي. که څه هم مېږتانه کله-کله په عارضي توګه وزرې درلودلی شي خو په دغه وخت کښې ورته بیا مېږتانه نه ویل کېږي.

نو څه لرې نه ده چې د الوتونکو څخه په غیر د نورو ساکښانو په خبرو باندې هم پوهېده.

د: ایا سلیمان ﷺ ته د ټولو مرغانو په خبرو باندې پوهه ورکړه شوې وه؟

مونږ وایو چې: ظاهره دا ده چې پوهې یې د یوې نوعې پورې اختصاص نه درلود بلکې د هرې نوعې مرغانو خبرې وربښولې شوې وې. د همدې کبله ځینو علماوو کرامو په یوه اوږده حدیث کښې د مختلفو مرغانو خبرې د سلیمان ﷺ د مبارکې خولې څخه راحکایت کړې دي، چې فلانکی مرغی داسې وایي او فلانکی هغسې وایي[۱]، که څوک یې د لوستلو شوق لرې نو همغلته دې مراجعه وکړي.

ه: ایا سلیمان ﷺ ته هر شی ورکړی شوي وه چې په ﴿ وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ ﴾ کښې ورباندې د ﴿ كُلِّ ﴾ کلمه دلالت کوي چې د احاطې او استغراق دپاره وضعه شوې ده؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې کلمه د مجاز یا کنایې په توګه د کثرت او ډېروالي دپاره هم استعمالېږي که څه هم ټول افراد یکښې نه وي احاطه شوي، او په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی[۲]، نو حاصل یې داسې کېږي چې: او مونږ ته هغه ټول شیان په کثرت سره راکړی شوي دي کومو ته چې یو پاچا اړتیا لري[۳]، یا په بل عبارت: زمونږ اړتیاوې پوره کړی شوي دي.

## وَزْعٌ څه معنی؟

و: په ﴿ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴾ کښې د ﴿ يُوزَعُونَ ﴾ کلمه د "وَزْعٌ" -لکه "ضَرْبٌ"- څخه اشتقاقه شوې ده "وَزْعٌ" خو اصلاً منعه کولو ته ویل کېږي[۴]. خو د لښکر اداره او تنظیم هم په همدې نامه باندې یادېږي، نو حاصل یې داسې راځېږي چې: د سلیمان ﷺ لښکر د دې سره-سره چې د متضادو افرادو څخه یې تشکیل مونده کاوه -لکه پیریان، بنیادمان او مرغان- خو په عین حال کښې د کامل تنظیم لاندې وه، چې نه څوک وړاندې کېدلو ته پرېښودل کېده او نه څوک وروسته پاتې کېدلی شو بلکې په منظمه توګه به یې حرکت کاوه.

## لښکرکشي د څه دپاره؟

۶- ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې: سلیمان ﷺ دغه لښکرکشي یا "سوق الجیشي" د

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۱۶۵؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۰۹
(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۱۷۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۵۸
(۴) مفردات الراغب ص۵۵۸؛ لسان العرب ج۸ ص۳۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جهاد دپاره کړې وه[1] ترڅو هغه خلک ایل کړي کوم چې ده ﷺ ته غاړه ایښودونکي نه وه؛ نه یې ورنه د پاچا په حیث او نه د یوه پیغمبر په حیث اطاعت کاوه.

که څوک غواړي چې د ذکر شوي لښکر عظمت او شهامت او هم دا چې څومره مجهز وه ولولي، نو څینو اوږدو کتابونو[2] ته دې مراجعه وکړي.

## څو د پام وړ ټکي

۷ـ په ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡاْ عَلَىٰ وَادِ ٱلنَّمۡلِ ﴾ الآية، کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په ﴿ وَادِ ٱلنَّمۡلِ ﴾ کښې د "وَادِي" کلمه د دوه وو غرونو منځ ته او یا هغه ځای ته وضعه شوې ده په کوم کښې چې اوبه بهېږي[3]، چې په پښتو کښې ورته خوړ وایي.

په دې مقام کښې د ﴿ وَادِ ٱلنَّمۡلِ ﴾ څخه په شام یا طائف کښې یوه سیمه مراده ده چې میږتانه پکښې زښت ډېر وه[4]، په اصطلاح د میږتنو جاله وه.

ب: که څوک وایي چې: په ﴿ قَالَتۡ نَمۡلَةٌ ﴾ کښې د ﴿ نَمۡلَةٌ ﴾ کلمې د "ة" توری د تانیث دپاره دی که د وحدت دپاره؟ یا په بل عبارت: میږتنو ته نر میږي قومنده ورکړه چې خپلو مساکنو ته ننوځئ، او که ښځې میږۍ دا کار وکړ؟

مونږ وایو چې: څینو مفسرینو کرامو ذکر شوی توری (ة) د تانیث دپاره اخستی دی او د قومندانې میږۍ په اړه یې په یوه قیصه باندې علاوه نور بیان هم لیکلي دي[5]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي؛ لنډه دا چې د دوی په نزد په ﴿ نَمۡلَةٌ ﴾ سره موئنثه میږۍ مراده ده.

مگر څینې نور علماء کرام وایي چې: د اعتبار وړ خبره دا ده چې دغه توری دلته د وحدت دپاره دی، نو لکه څنگه چې په "قُمۡلَةٌ" کښې د "ة" توری د سپږې په وحدت باندې دلالت کوي همدارنگه د ﴿ نَمۡلَةٌ ﴾ د "ة" توری هم د میږي وحدت ته اشاره ده، برابره خبره چې میږۍ مذکر وي او که موئث وي[6] نو سړی نه پوهېږي چې د میږتنو قوماندان به مذکر وه او که موئث، الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي.

ج: که څوک وایي چې: د میږتنو مشر یا مشره څنگه پوه شوه چې دغه دی سلیمان ﷺ (د الله ﷻ پیغمبر) د خپل لښکر سره رارسېدونکی دی؟

مونږ وایو چې: دا یوه خارق العاده پوهه وه چې هغه یا هغې ته الله ﷻ ور الهام کړې وه، د دغه ډول خارق العاده یو نظیر په یوه اوږده حدیث کښې د ابو هریره ﷺ څخه روایت شوی دی چې څه لنډ مضمون یې دا دی:

---

(۱) روح المعاني ج۱۹ ص۱۷۲
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۱۰
(۳) مفردات الراغب ص۵۵۴؛ لسان العرب ج۱۵ ص۳۸۴
(۴) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۱۷۸؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۵۱۰
(۵) تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۵۵؛ حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۴۸۸
(۶) البحر المحیط ج۸ ص۲۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یوه ورځ د یوه یهودي شپونکي ښځه لیوه (شرمخ) ګډه وتښتوله خو هغه تالاش وکړ او ترې راخلاصه یې کړه، نو لیوه ورته په یوه غونډۍ باندې نېغ کېناست او د شپونکي سره یې لاندې خبرې اترې وکړې:

اول: لیوه (شرمخ) وویلې چې: تا خو زما ښځه هغه رزق د لاسه وویست چې ماته د الله ﷻ د پلوه را روزي شوی وه.

دوهم: شپونکي وویلې چې: په الله ﷻ سوګند دی چې، دغسې عجیبه شی ما هیڅکله نه دی لیدلی چې لیوه خبرې کوي!.

درېیم: لیوه وویلې چې: د دې څخه ډېر عجیبه لا دا ده چې د دغو دوه وو تورو غرونو ترمنځ (په مدینه منوره کښې) یو سړی (محمد ﷺ) دی چې تاسو ته (د یوه پیغمبر په حیث) د وړاندې او ېبړنه زمانو حالات بیانوي.

بیا ذکر شوی یهودي شپونکی نبي کریم ﷺ ته ورغی او ذکره شوې قیصه یې ورته تېره کړه، نو نبي کریم ﷺ یې تصدیق وکړ او بیا یې وفرمایل چې: «إِنَّهَا أَمَارَةٌ مِنْ أَمَارَاتِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ قَدْ أَوْشَكَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْرُجَ فَلَا يَرْجِعَ حَتَّى تُحَدِّثَهُ نَعْلَاهُ وَسَوْطُهُ مَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ»[۱] یعنې: یقیناً دا د هغو نښو څخه یوه نښه ده کومې چې د قیامت د قیام څخه وړاندې تحقق مومي، داسې وخت هم راتلونکی دی چې نژدې به وي یو سړی چې د خپله کوره بهر لاړ شي نو بېرته به لا نه وي راستون شوی چې هغه ته به خپلې پڼې او خپله متروکه هغه کارونه بیان کړي (او پرې خبر به یې کړي) کوم چې د ده اهل (کور والاوو) د ده څخه وروسته کړي وي.

د: که څوک وایي چې: ﴿ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ ﴾ کلمه د "حَطْمٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د ماتولو (او چیت پیت کولو) معنی ورکوي[۲]، حال دا چې سلیمان ﷺ خو د خپل ټول لښکر سره د باد په ذریعه په هوا راروان وه او مېږتانه لاندې په ځمکه باندې خواره واره وه، نو پوښتنه دا ده چې د مېږتنو مشره او یا مشر له کومې وجې په خپلو اتباعو باندې وډاره شوه چې د لښکر لاندې به چیت پیت شي؟

مونږ وایو چې: که څه هم د دغه سوال دپاره مفسرینو کرامو څه نور جوابونه کړي دي[۳]، خو بهتر جواب یې دا دی چې د مېږتنو مشر یا مشره وډاره شوه چې که په دغه مقام کښې سلیمان ﷺ د خپل لښکر سره رابښکته شي نو دغه کار به صورت ونیسي، نو د احتمالي خطر د کبله یې هغوی ته ذکره شوې توصیه وکړه.

په دې باندې علاوه، دا څه لرې نه ده چې هغه یا هغې ته به دومره پوهه ورکړه شوې وه چې دغه دی سلیمان ﷺ د لوی لښکر سره در رسېدونکی دی، خو په دې باندې به نه وي پوه کړی شوی چې دوی پیاده نه دي بلکې په هوا کښې در روان دي.

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۱۷۵
(۲) مفردات الراغب ص۱۲۲
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۱۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د سلیمان ﷺ د خپل لښکر وادِ النمل ته د میږیانو د چالاکۍ څخه ډېر مینه لرونکی وه چې د هغو د مشر یا مشرې قومنده یې واورېدله(١)، او څه لرې نه ده چې الله ﷻ په خارق العاده توګه د هغه ﷺ غوږو ته رسولې وي، او یا به باد ور وړې وي چې ځینې علماء کرام وایي: الله ﷻ باد ته امر کړی وه چې ای باده په ځمکه کښې چې هر څوک څه خبره کوي نو هغه به ته اخلې او سمدستي به یې د سلیمان ﷺ غوږو ته رسوې(٢).

و: ځینو مفسرینو کرامو د میږیانو په هکله زیات ډېر معلومات لیکلي دي او زیات ډېر قابلیتونه او عادتونه یې ورته ثابت کړي دي(٣)، نو که څوک یې د لوستلو شوق لري نو همغه ته دې مراجعه وکړي موږ ته یې دلته راقلول ګټور څرګند نه شوه.

## خندا په درې ډوله ده

۸_ په ﴿فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا﴾ کښې د "تَبَسَّمَ" کلمه د "تَبَسُّم" څخه اشتقاق شوې ده او د ﴿ضَاحِكًا﴾ کلمې د "ضِحك" څخه اشتقاق موندلی. نو "تَبَسُّم"، "ضِحك" او "قَهقَهَة" درې واړه د خنداګانو ډولونه دي چې فرقونه یې لاندې لوستلی شئ(٤):

الف: "تبسُّم" هغې خندا ته ویل کېږي د کومې سره چې د خولې څخه څه اواز پورته نه شي خو په شونډو کښې څه خوشالي څرګنده شي، چې لیدونکي یې پوهېږي او اورېدونکي یې نه پوهېږي، دغې خندا ته په پښتو کښې "مسکا" وایي.

ب: "ضِحك" هغې خندا ته وایي چې شونډې یې بېرته شي (غاښونه ښکاره شي) او څه اواز هم ورسره ملګری وي چې نژدې خلک یې اوري او بس.

ج: "قهقهه" د همدغې خندا لوړ دی چې د "ضحك" په نامه یادېږي خو په هغه وخت چې ضمیمه (ملګری) یې په نژدې خلکو باندې برسېره اواز لرې خلک هم اورېدلی شي.

داسې معلومېږي چې سلیمان به د میږیانو د مشر یا مشرې د خبرو په اورېدلو سره لومړی مسکی شوی وي او بیا به یې خپله خندا د ضحک مرتبې ته رسولې وي چې جائزه مرتبه ده. اما درېیمه درجه خندا (قهقهه) شرعاً جائزه نه ده.

## سوال جواب

۹_ که څوک وایي چې: څه وجه وه چې سلیمان ﷺ د میږیانو د مشر یا مشرې د خبرې په اورېدلو سره مسکی او بیا په خندا شو؟

موږ وایو چې: سلیمان ﷺ په هغو نعمتونو باندې خپله خوشالي څرګنده کړه کومو ته یې چې د

(١) المحرر الوجيز ج١٢ ص١٠٠
(٢) الدر المنثور ج٦ ص٣٣٨
(٣) الجواهر للطنطاوي ج١٣ ص١٣٧_١٧٢؛ تفسير المراغي ج١٩ ص١٢٩
(٤) روح المعاني ج١٩ ص١٧٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لرې مسافې څخه د مېږتنو د مشرې يا مشر د وينا په سبب فکر شو، د همدې کبله يې خپله خدا د
الله ﷻ په مناجات باندې ختمه کړه چې: ﴿ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ ﴾ الآية.

## يادونه

١٠_ په ﴿ رَبِّ أَوْزِعْنِىٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ﴾ کښې د ﴿ أَوْزِعْنِىٓ ﴾ کلمه د "وَزَعَ" _لکه ضَرَبَ_ څخ
اشتقاقه شوې ده او مونږ د الله ﷻ په توفيق وړاندې په پنځمه توضيح کښې ليکلي دي چې "وَزَعَ" د منع
کولو دپاره وضعه شوې ده، خو ذکره شوې کلمه دلته مفسرينو په "أَلْهِمْنِي" سره تفسيره کړې ده[1].
نو داسې معلومېږي چې دغه تفسير به د معنى په لازم سره صورت نيولى وي، نو حاصل به يې
داسې راوخېژي چې: اى زما ربه! ما د هغو کارونو څخه منعه کړې کوم چې ما د شکر گزار څخه
لرې کوي، او هغه کارونه په زړه کښې راواچوې چې ته وربانديې راضي کېږې او ستا د نعمتونو د
شکرگزارۍ سبب جوړېږي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

١١_ که څوک وايي چې د ﴿ وَأَنْ أَعْمَلَ صَٰلِحًا ﴾ او ﴿ وَأَدْخِلْنِى بِرَحْمَتِكَ فِى عِبَادِكَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾
دواړه جملې په يوه مضمون باندې دلالت کوي، نو د کومې وجې د کبله سليمان ﷺ په يوه جمله
باندې اکتفاء ونه کړه؟
مونږ وايو چې: د دواړو جملو په مضمونونو کښې توپير شته دى، هغه دا چې لومړۍ جمله په
دنيا پورې تړاو لري او دوهمه په آخرت پورې. نو حاصل يې داسې راخېژي چې: اى زما ربه! ماته په
دنيا کښې توفيق راکړې چې نېک عملونه وکړم، او په آخرت کښې مې د پيغمبرانو سره خپلې رضا
او جنت ته داخل کړې.
نو په حقيقت کښې سليمان ﷺ د هغو نعمتونو غوښتنه کړې ده کوم چې ابراهيم ﷺ ته ورکړى
شوي وه، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ فِى ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْءَاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ [النحل:
١٢٢] يعني: او مونږ ابراهيم ﷺ ته په دنيا کښې حسنة (نيکي) ورکړې وه او يقينًا نوموړى ﷺ په
آخرت کښې د صالحانو د ډلې څخه دى.

﴿ وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِىَ لَآ أَرَى ٱلْهُدْهُدَ أَمْ كَانَ مِنَ ٱلْغَآئِبِينَ ﴿٢٠﴾
لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا أَوْ لَأَا۟ذْبَحَنَّهُۥٓ أَوْ لَيَأْتِيَنِّى بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ ﴿٢١﴾ فَمَكَثَ غَيْرَ بَعِيدٍ
فَقَالَ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍۭ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾ إِنِّى وَجَدتُّ ٱمْرَأَةً

(١) تفسير الطبري ج١٩ ص١٤٣

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تَمْلِكُهُمْ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾ وَجَدتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُونَ
لِلشَّمْسِ مِن دُونِ اللَّهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ فَهُمْ لَا
يَهْتَدُونَ ﴿٢٤﴾ أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَيَعْلَمُ مَا
تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ۩ ﴿٢٦﴾

[۲۰] او سلیمان ﷺ مرغان ولټول (د دوی حاضري يې واخسته او هُدهُد يې تر نظر لاندې رانغی) نو يې ويلي چې: مالره څه دي چې زه هُدهُد نه ګورم ايا نوموړی د غائبانو (غير حاضرانو) څخه دی؟

[۲۱] هرومرو ضرور به زه هغه (د غياب په صورت کښې) په سخت عذاب سره معذب کړم (او) يا به يې هرومرو ضرور ذبحه کړم (او) يا به (د خپل خان د نجات دپاره) ماته هرومرو ځرګند دليل راوړي.

[۲۲] نو هُدهُد (لږ) ځنډ وکړ نه لرې (نه ډېر)، نو (بيا راغی او) وې ويلي چې: (ای پيغمبره!) ما په هغو شيانو باندې (د علم د حيثه) احاطه کړې ده په کومو باندې چې تا احاطه نه ده کړې (او په کامله توګه پرې علم نه لرې) او (لږ څه تفصيل يې دا دی چې) ما تاته د سبأ د ښار څخه باوري (تحقيقي) خبر راوړی دی.

[۲۳] ما (هلته) يوه ښځه (بلقيسه) وموندله چې په دوی (د سبأ په اوسېدونکو) باندې يې حکومت کاوه، او نوموړې ښځې (ملکې) ته (د پاچاهۍ) د هر شي څخه (پرېمانه) ورکړی شوي وه، او (په دې باندې علاوه) د نوموړې ملکې دپاره لوی (قيمتي) تخت هم وه.

[۲۴] ما مَلِکه او د هغې قوم (رعيت) وموندل چې د الله ﷻ څخه په غير يې لمر ته سجدې کولې (دوی د خرمې لمر پرستان وه)، او شيطان ورته خپل (کفري) عملونه ښايسته کړي وه نو دوی يې د (سمې) لارې څخه اړولي وه، نو دوی (بدون د جهاده) لاره نه مونده کوي (په سمه لاره باندې نه ځي).

[۲۵] (شيطان) د دې دپاره (بلقيسيان د لارې څخه اړولي وه) چې دوی هغه الله ﷻ ته سجدې ونه کړي چې په اسمانونو کښې پټ شيان راوباسي (رابنکاره کوي لکه ستوري، باران او داسې نور)، او په ځمکو کښې (پټ شيان هم بهر راوباسي لکه تخمونه او داسې نور).

او (ای بلقسيانو!) الله ﷻ په هغو شيانو باندې (هم) پوهېږي چې تاسو يې پټوئ او په هغو باندې (هم) چې تاسو يې ځرګندوئ (بلکې پټ او ښکاره ورته يو برابر دي).

[۲۶] الله ﷻ چې دی (په حقه سره) معبود نشته مګر همدی ﷻ دی، چې د (داسې) لوی عرش رب دی (چې په ټولو مخلوقاتو باندې يې احاطه کړې ده).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې دې ته هم اشاره شوې وه چې د سليمان ﷺ په لښکرو کښې مرغان هم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شامل وه، په دې ایتونو کښې هغې قیصې ته اشاره کېږي کومه چې د یوه مرغه (هُدهُد) او سلیمان ترمنځ پېښنه شوې وه چې حاصل یې داسې راځېږي:

اې پیغمبره! د مېړنتو د عبرتي قیصې څخه وروسته اوس په خپل اُمت باندې د هُدهُد (ملاچرګک) عبرتي قیصه ولوله، هغه دا چې:

۱_ یوه ورځې سلیمان ﷺ د خپلو پیروانو څخه د مرغانو پلټنه وکړه چې څوک شته او څوک نشته، خو د پلټنې په اوږدو کښې یې هُدهُد په نظر ورنغی، نو د همدې کبله یې وویلې چې:

الف: څه دي مالره چې هُدهُد (ملاچرګک) نه ګورم؟ ایا نوموړی دلته چرته پټ ناست دی او که غیر حاضر دی، خپلې دندې ته نه دی حاضر شوی؟

ب: خامخا او هرومرو به (د غیاب په صورت کښې) ورسره داسې چال چلند وکړم چې:

اول: یا به یې په سخت عذاب سره معذب کړم، ښکې به یې وباسم او په پنجره کښې به یې ایسار کړم.

دوهم: یا به یې ذبحه کړم، او ژوند ته به یې خاتمه ورکړم.

دریم: یا به دغه یوه جزا هم ورنه کړم، البته په هغه صورت کښې چې د خپل غیاب د اعتذار دپاره څرګند دلیل راوړی او خپل ځان ته نجات ورکړي.

۲_ ډېر وخت لا تېر نه وه، په ساتګرۍ کښې ذکر شوی غائب ملاچرګک د سلیمان ﷺ په وړاندې حاضر شو او د خپل غیاب معذرت یې په لاندې ډول وړاندې کړ:

الف: اې جنابه! ماته مه په غُصه کېږه او زما معذرت قبول کړه، چې په خپل غیاب کښې مې په داسې علومو باندې احاطه کړې ده چې ته ورباندې احاطه نه لرې. یا په بل عبارت: ما ستا د پاره ګټور معلومات راغونډ کړي دي او اجازه راکړه چې درته بیان یې کړم.

ب: ما ستا دپاره د سبأ د ښار څخه یقیني مهم خبرونه راوړي دي.

ج: هغه دا چې زه د خپل غیاب په وخت کښې د سبأ ښار ته تللی وم: د دغه مملکت پاچاهي د ښځې په لاس کښې ده، دغې ملکې ته د پاچاهۍ د لوازمو څخه هر شی ورکړی شوی دی چې د یوه شي هم ورسره کمبود نشته حتی چې د زینت د ډېر ښایست خاونده هم ده، او هم دغه ملکه یو عظیم الشان تخت لري چې په جواهرو او زیوراتو باندې جړاو شوی دی.

د: اې جنابه! د دین په لحاظ د دغو خلکو خاصیتونه دا وه چې:

اول: دوی ټولو د څرمې د الله ﷻ څخه په غیر لمر ته سجدې کولې او په عبادت یې مشغول وه.

دوهم: دوی ته همدغه غیر جائز عملونه شیطان ښایسته کړي وه او ډېر ورباندې کلک ولاړ وه.

دریم: (یا په بل عبارت:) شیطان ذکر شوي خلک د سمې لارې څخه اړولي وه نو دوی به په راتلونکي کښې هم سمه لاره موندلې نه کړي، نو جهاد ته اړتیا لیده کېږي چې ته ورباندې جهاد شروع کړې ترڅو د شیطان څخه خلاص شي او سمې لارې ته راواوړي.

هـ: البته د سبأ د ښار اوسېدونکي د دې دپاره شیطان د سمې لارې څخه اړولي وه ترڅو دوی هغه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذات اقدس ﷻ ته سجدې ونه کړي کوم چې په اسمانونو کښې پټ شيان راوباسي، لکه چې د باران څاڅکي او د ړلی دانې په ځمکه وربنکته کوي، همدارنګه هغه پټې دانې هم راوباسي او رازرغونوي کومې چې د تُخمونو په شکل په خاورو کښې پټې پرتې وي، نو همداراز به د قيامت په ورځ په ځمکه کښې خاورې شوي ساکښان هم را ژوندي کړي او د حشر ميدان ته به يې ترې راوباسي.

و: ای د سبأ اوسېدونکو! الله ﷻ هغو شيانو باندې هم پوه دی کوم چې تاسو يې په خپلو زړونو کښې پټوئ او هغه هم ورته معلوم دي کوم چې تاسو يې ښکاره کوئ. بلکې الله ﷻ ته د پټ او ښکاره هيڅ فرق نشته. او دا ځکه چې: الله ﷻ چې دی په ځنګه باندې معبود دی او د عبادت مستحق نشته مګر همدی ﷻ دی، چې د عظيم الشان عرش رب او خاوند دی. البته هغه عرش عظيم چې په ټولو مخلوقاتو باندې يې احاطه کړې ده.

## توضيحات

١_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيْرَ فَقَالَ مَا لِىَ لَآ أَرَى ٱلْهُدْهُدَ ﴾ کښې د کومې وجې د کبله سليمان ﷺ د هُدهُد موجوديت ضروري وباله؟

مونږ وايو چې: د دغې وجې په تشخيص کښې مفسرينو کرامو اوږده بيانات ليکلي دي[1] چې ځه خلاصه يې لاندې لوستلی شئ:

الف: په ذکر شوي سفر کښې -چې د ميرېتنو قبصې پکښې صورت نيولی وه- اويا په بل سفر کښې، د سليمان ﷺ اوبو ته ضرورت شو، چې وچ بيابان او بيديا کښې ښکته شوي وه، او هُدهُد په مرغانو کښې هغه مرغه وه چې د ځمکې په داخل کښې يې اوبه ليدلی شوې چې دلته نژدې دي او دلته ډېرې ژورې دي. نو سليمان ﷺ هغه وپاته چې په ځمکه کښې نژدې اوبه ورته معلومې کړي، ترڅو يې پيريان راوباسي او لښکر ترې استفاده وکړي.

هو! د دې سره-سره چې هُدهُد په خاورو کښې پټې اوبه ګوري خو هغه تلاک نه ګوري چې د ده د ښکار کولو دپاره اېښودلی شوی وي او په نرۍ خاورو باندې پټ کړی شوی وي، او دا ځکه چې: "إذا نَزَلَ الْقَدَرُ عَمِيَ الْبَصَرُ وَذَهَبَ الْحَذَرُ"[2] يعنې کله چې ليکلی شوی وخت راورسېږي نو سترګې ړندې شي او ډار لاړ شي.

ب: د سليمان ﷺ د تخت د پاسه به مرغانو خپل وزرونه خورول ترڅو د لمر ځخه ورباندې سيوري وکړي، د پوښتنې په ورځ کښې د هُدهُد وَزَر خای خالي وه او په سليمان ﷺ باندې ترې د لمر شغله ولګېده، نو ځکه يې پوښتنه وکړه چې هدهد چرته دی، چې په ماباندې د لمر وړانګه راپرېوتله.

ج: سليمان ﷺ به د خپل رعيت هر يوه پوښتنه کوله چې په مجلس کښې به حاضر نه شو، نو په دغې ورځ کښې هُدهُد غائب وه ځکه د پوښتنې لاندې واقع شو.

---

(١) روح المعاني ج١٩ ص١٨٢؛ تفسير القرطبي ج١٣ ص١٧٧؛ تفسير الخازن ج٣ ص٥١٢؛ المحرر الوجيز ج١٢ ص١٠٢
(٢) تفسير ابن کثير ج٣ ص٣٥٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: هرې نوعې مرغانو په خپلو منځو کښې نوبت تړلی وه چې وار په وار به د سليمان ﷺ په حضور کښې حاضرېدل، ترڅو د هدايت په مطابق اجراءات وکړي، نو څرنګه چې هُدهُد په خپل نوبت کښې حضور نه درلود نو خکه د پلټنې لاندې راغی.

## تبصره

٢ـ که څه هم ذکرې شوې څلور واړه وجې احتمالات دي، په ايت او په صحيح حديث باندې نه دي ثابتې شوې(١)، نو څه لرې نه ده چې د هُدهُد پلټنې څو کرته صورت نيولی وي او هغه څو کرته غائب شوی وي، خو په يوه غياب کښې به يې ورته د بلقيسې د پاچاهۍ خبر راوړی وي.

خو مونږ ته څلورمه وجه د ايت شريف سره ډېره نژدې برېښي او دا خکه چې په ﴿ وَتَفَقَّدَ ٱلطَّيْرَ ﴾ کښې "تَفَقَّدَ" کلمه د "تَفَقُّدْ" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَفَقُّدْ" د دې دپاره وضعه شوی دی چې سړی د يوه شي په فقدان (نشتوالي) باندې خان پوه کړي، چې شته که نشته.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېژي چې: سليمان ﷺ د مرغانو پلټنه وکړه او د دوی حاضري يې واخسته چې کوم مرغه شته او کوم نشته، نو په نتيجه کښې څرګنده شوه چې ملاچرګک (هدهد) غير حاضر وه، او خپل نوبت ته نه وه حاضر شوی.

که بالفرض سليمان ﷺ يوازې د ملا صيب پلټنه کړې وی ـلکه چې د نورو درېواړو وجوهو څخه څرګندېږي ـ نو د ذکر شوي عبارت په عوض به "وَتَفَقَّدَ ٱلْهُدْهُدَ" نازل شوی وي.

## سخت عذاب د کوم عذاب څخه عبارت وه؟

٣ـ په ﴿ لَأُعَذِّبَنَّهُۥ عَذَابًا شَدِيدًا ﴾ کښې علماوو کرامو شديد عذاب په متعددو معناوو باندې تفسير کړی دی، چې تقريبًا دولسو معناوو ته رسېږي، لکه د بڼکو ويستل او لمر ته غورځول، يا په پنجره کښې ايسارول او د خپلو سيالانو څخه جدا کول، يا د خپل خدمت څخه شړل او داسې نورې(٢).

خو ظاهره دا ده چې ذکرې شوې معناوې په محض تمثيلي حيثيت لري، نه په پکښې حصر مطلب وي او نه په پکښې تعين مراد وي.

## سوال جواب

٤ـ که څوک وايي چې: د دې خبرې څه مانع موجود وه چې سليمان ﷺ د غائب هُدهُد کار د بل هُدهُد څخه اخستی وی او هغه ته يې عتاب نه وي متوجه کړی، هُدهُدان خو څه کم نه وه؟

مونږ وايو چې: په وړاندې تبصره کښې واضحه شوه چې ذکر شوی حضور نوبتي حضور وه چې خاص او معهود هُدهُد پکښې ناغېږي کړې وه، يا په بل عبارت: د عتاب وجه دا نه وه چې د هغه کار ترسره نه شو بلکې وجه يې دا وه چې عصيان او نافرمانی صورت نيولی وه.

---

(١) تفسير الطبري ج١٩ ص١٤٤

(٢) زاد المسير ج٦ ص٦٣؛ تفسير المظهري ج٧ ص١٠٨؛ البحر المحيط ج٨ ص٢٢٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه، غائب هُدهُد د نورو هُدهُدانو مشر او رئیس وه(١)، نو کومه پوهه چې هغه ته ورکړه شوې وه نورو ته نه وه ورکړه شوې. لنډه دا چې لکه څنګه چې د انسانانو په پوهه کښې تفاوت شته دی او ټول یو برابر نه دي همدارنګه د مرغانو (هُدهُدانو) بلکې د ټولو ساکښانو پوهه او شعور هم بې تفاوته نه دی(٢).

## سَبَأ د کوم وطن نوم دی؟

۵_ که څه هم په ﴿ وَجِئْتُكَ مِن سَبَإٍ بِنَبَإٍ يَقِينٍ ﴾ کښې د "سبا" د کلمې په هکله _إن شاء الله ﷻ_ د [سبا:۱۵] ایت لاندې څه ګټور معلومات راوان دي خو په دې مقام کښې د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: سبأ د هغه ښار نوم دی کوم چې د "صَنعَاء" د ښار څخه (چې د یمن پایتخت دی) د دریوو مزلونو په فاصله کښې پروت دی(٣)، او د شام څخه (چې د سلیمان ؑ پایتخت وه) لږ تر لږه یو نیم زره میله لرې دی(٤).

ب: په کوم وخت کښې چې ملاچرګک د سبأ د ښار لیدنه کړې وه هلته وربانديې د ښځې حکومت چلېده چې "بلقیس" نومېده(٥)، او ځینو علماوو کرامو یې ښې اوږدې سوانح لیکلي دي(٦)، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۶_ که څوک وایي چې: ایا دا عجیبه نه ده چې په یو نیم زره میله فاصله کښې سلیمان ؑ د بلقیسې په حکومت باندې خبر نه وه او په لومړي ځل پرې ملا صیب خبر کړ، حال دا چې پیریان یې تابع وه او باد ورته مسخر وه چې خبرونه به یې ورته رسول؟

مونږ وایو چې: په ایت شریف کښې د ملا صیب د خولې څخه دا کلمات ﴿ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهِۦ ﴾ راحکایت شوي دي، یعنې: ما تاته د داسې وطن معلومات راوړی دی چې ته هم وربانديې خبر یې خو علمي احاطه پرې نه لرې، چې په سترګو دې نه دی لیدلی او ما په غړولو سترګو لیدلی دی.

لنډه دا چې سلیمان ؑ وربانديې خبر وه خو لیدلی یې نه وه او نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ»(٧) یعنې خبرېدل د لیدلو غوندې نه دي، لیدل ډېر قوي دي.

---

(١) الدر المنثور ج٧ ص٣٤٩

(٢) في ظلال القرآن ج٥ ص٢٦٢٦

(٣) لسان العرب ج١ ص٩٤

(٤) تفهيم القرآن ج٣ ص٧٧٨

(٥) المحرر الوجيز ج١٢ ص١٠٤

(٦) روح المعاني ج١٩ ص١٨٨

(٧) مسند احمد بن حنبل ج١ ص٤٦١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۷_ په ﴿ وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ ﴾ کښې د ﴿ كُلِّ ﴾ د کلمې څخه کثرت مراد دی، یعنې هغې ته ښه پریمانه شیان ورکړی شوي دي او اړتیاوې یې پوره کړی شوي دي. په همدې ارتباط د [النمل: ۱۶] ایت لاندې څه تحقیق تېر شوي دي ـ والحمد لله ﷻ ـ هغه دي یو ځل بیا وکتلی شي د ډېر خولږې نه وي.

## د بلقیسې عجیبه تخت

۸_ په ﴿ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴾ کښې د بلقیسې عجیبه تخت ته اشاره شوې ده چې ځینو مفسرینو کرامو ډېر ښه تشریح کړی دی او ښه ډېر معلومات یې پکښې لیکلي دي[۱]، مونږ همدومره لیکو چې: «سَرِيرٌ كَرِيمٌ حُسْنُ الصَّنْعَةِ وَغَلَاءُ الثَّمَنِ»[۲] یعنې هغه تخت د دوه وو وجو د کبله د کرامت څخه ډک وه، یو دا چې صنعت (جوړښت) یې ښایسته وه او بل پکښې ډېر قیمتي جواهر کارېدلي وه.

## د تلاوت اتمه سجده

۹_ په ﴿ أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ ﴾ الآية کښې د تلاوت اتمه سجده ده چې مونږ یې اړونده احکام د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف: ۲۰۶] ایت لاندې لیکلي دي، هیله ده چې علاقمندان هملته مراجعه وکړي.

## یو نحوي تحلیل

۱۰_ د ﴿ أَلَّا يَسْجُدُوا لِلَّهِ ﴾ په اعراب کښې علماوو کرامو متعدد تحلیلونه کړي دي[۳] خو کوم تحلیل چې مونږ ته لنډ او متبادر برېښي هغه دا دی چې دلته أجليه "ل" مقدر دی او وراندې په ﴿ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيلِ ﴾ کښې د "صَدَّ" پورې تعلق نیسي. نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې:
نو شیطان د بلقیسې رعیت د دې دپاره د سمې لارې څخه اړوي ترڅو دوی هغه الله ﷻ ته سجده او عبادت ونه کړي چې په اسمانونو او ځمکو کښې پټ شیان بهر راوباسي؛ د همدې کبله یې د سبا ښار ـ چې تر اوسه پټ وه او چا وربانډې علمي احاطه نه ده کړې ـ راڅرګند کړ او زه یې هلته ورو وستلم.

## څو سوالونه او جوابونه

۱۱_ ظاهره دا ده چې: د ﴿ أَحَطتُ بِمَا لَمْ تُحِطْ ﴾ څخه نیولې آن تر ﴿ هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴾ پورې ټولې جملې د هُدهُد د خولې څخه الله ﷻ راحکایت کړې دي[۴]، نو په همدې هکله د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:
الف: په ذکر شوي کلام سره خو هُدهُد یوازې سلیمان ﷺ مخاطب کړی وه او خپل اعتذار یې

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۲۸۱
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۲
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۱۴۲
(۴) البحر المحیط ج۸ ص۲۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته وړاندې کړې وه، نو پوښتنه دا ده چې: په ﴿ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴾ کښې د جمعې په دواړو مستترو ضمیرونو سره څوک مخاطب ګرځولي شوي دي؟

مونږ وايو چې: په دغو دواړو ضمیرونو کښې لاندې دوه صورتونه تحقق موندلی شي او دواړه صحت لري:

اول: په دغو دواړو باندې هغه څوک مخاطب ګرځېدلی دی کوم چې د سلیمان ﷺ په شاوخوا کښې موجود وه، او د هُدهُد معذرت يې اورېده.

د همدې کبله سلیمان ﷺ هُدهُد ته د متکلم مع الغير په صيغه جواب ورکړ چې: ﴿ سَنَنظُرُ ﴾ [النمل:۲۷] يعنې ژر دی چې مونږ به وګورو چې ته رښتیا وايې او که ته دروغژن يې. اعتراض به په هغه وخت کښې په ځای وی چې د اعتذار د اورېدلو په وخت کښې سلیمان ﷺ ګوښی وی.

دوهم: په دغو دواړو ضمیرونو سره بلقسیان د التفات په توګه مخاطب ګرځولی شوي دي، التفات د غیاب څخه خطاب ته صورت نیولی دی.

نو حاصل يې داسې راځېږي: هدهد وويلې چې هغوی باید هغه الله ﷻ ته سجدې وکړي کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې پټ شیان بهر ته راوباسي، او په دې باندې علاوه: ای بلقسیانو! الله ﷻ په هغو شیانو باندې هم پوهېږي چې تاسو يې په زړونو کښې پټوی او په هغو باندې هم چې تاسو يې ښکاره کوئ.

بلکې پټ او ښکاره ورته یو برابر دي.

ب: که څوک وايي چې: هُدهُد په څه باندې پوه شو چې بلقسیان کفار دي؟ ایا مرغان کافر او مسلمان پېژني؟ ایا مرغان هم د الله ﷻ په توحید باندې دلایل اقامه کولی شي؟

مونږ وايو چې: د دغه سوال جواب د الله ﷻ په توفیق د [النمل: ۱۸] ایت لاندې تېر شوی دی او په یوه مثال سره واضحه شوی دی، هیله ده چې علاقمندان هملته اومې (۷) توضیح ته مراجعه وکړي، چې د مېږتنو مشره د سلیمان ﷺ په راتګ باندې څنګه پوه شوه.

ج: که څوک وايي چې: ایا دا عجیبه نه ده چې د ملاچرګک د پلوه د بلقیسې تخت په "عظيم" سره توصیف شو چې ﴿ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴾، او په عین لقب باندې يې د الله ﷻ عرش هم وستایه چې: ﴿ هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴾، په کار دا وه چې هغه ته يې دغه لقب نه وی ورکړی؟

مونږ وايو چې: ملاچرګک (هدهد) د دواړو عرشونو فرق ته په تنکیر او تعریف سره اشاره کړې ده هغه دا چې:

د بلقیسې تخت دومره لوی نه دی چې لویوالی يې هر چاته ځرګند وي، بلکې هغه یوازې د بلقیسیانو په نزد لوی دی او یوازې همدوی ته لوی ښکارېږي او په دنیاوي پاچاهانو کښې نومورې د لوی تخت خاونده ده، اما د الله ﷻ عرش د ټولو مخلوقاتو په نزد عظیم دی او ټول يې په عظمت سره پېژني.

څه لري نه ده چې ملا صیب به خپل کلام ته د همدغه اعتراض د کبله په ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴾ سره اختتام ورکړی وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿قَالَ سَنَنظُرُ أَصَدَقْتَ أَمْ كُنتَ مِنَ ٱلْكَـٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾ ٱذْهَب بِّكِتَـٰبِى هَـٰذَا فَأَلْقِهْ إِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَٱنظُرْ مَاذَا يَرْجِعُونَ ﴿٢٨﴾﴾

[۲۷] سلیمان ﷺ (د هُدهُد د اعتذار په هکله) وویلې چې: ژر به وګورو چې ایا تا رښتیانی اعتذار وړاندې کړ او یا ته د دروغژنانو د ډلې څخه یې. (د صدق او کذب د معلومولو طریقه دا ده چې)

[۲۸] زما دغه مکتوب (لیک) یوسه (چې زما مُهر ورباندې لګېدلی دی) نو هغوی (بلقیسیانو) ته یې ور وغورځوه، بیا ترې په څنګ شه نو وګوره چې هغه څه شی دی چې دوی (پرې بلقیس ته) رجوع کوي (او مشوره ورکوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هُدهُد د معذرت په هکله د سلیمان ﷺ عکس العمل ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! سلیمان ﷺ د هُدهُد معذرت سمدستي قبول نه کړ ترڅو چې د هغه دروغ او رښتیا معلوم کړي، نو د همدې کبله یې ورته وویلې چې:

۱ـ مونږ به وګورو چې ته رښتیا وایې او که ته د دروغژنانو څخه یې او د دروغو معذرت دې وړاندې کړی دی.

نو سمدستي یې د بلقیسې په نامه یو لیک ولیکه او مُهر یې کړ او هُدهُد یې مخاطب کړ چې:

۲ـ ای هُدهُده! زما دغه لیک واخله او د ټولو بلقیسیانو په نمایندګۍ یې هغې ته په خارق العاده توګه ورو‌غورځوه.

۳ـ بیا ترې ببرته راستون شه خو په عین حال کښې وګوره او ښه فکر وکړه چې هغوی د مکتوب په باب یو تریله په څه خبرو اترو رجوع کوي او په مقابل کښې یې څه تصمیم نیسي؛ یا په بل عبارت: چې هغوی بلقیسې ته څه مشوره ورکوي.

## توضیحات

۱ـ د لیک په ور رسولو کښې مفسرینو کرامو لاندې دوه صورتونه لیکلي دي:

الف: بلقیسه (ملکه) دخوب په خپله کوټه کښې ویده وه او هُدهُد د درویځې څخه ورداخل شو او لیک یې ورته په سینه باندې کېښود[۱].

ب: ذکره شوې ملکه په تخت باندې ناسته وه او چارچاپېر یې لښکریانو پېره او ګزمه کوله چې هُدهُد ورغی او په سر باندې یې ورته خپل وزرونه ورپول، کله چې هغې خپل سر ورپورته کړ نو لیک یې ورباندې ور وغورځاوه[۲].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۶۱؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۰۷

(۲) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۱۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې باندې علاوه، ځینې علماء کرام وايي چې بلقیسه هیڅ پوهه نه شوه چې دغه لیک ماته د کومه طرفه راواچولی شو، که نه نو خپل قوم ته خو به یې دومره ویلي وی چې د دغه لیک راوړونکی هُدهُد وه[۱]. مګر مونږ ته دوهمه وجه د ایت شریف سره نږدې برېښي او دا څکه چې:

اول: په ﴿ فَأَلْقِهْ إِلَيْهِمْ ﴾ کښې د "أَلْقِ" کلمه د "اِلْقَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې د وراچولو معنی ورکوي، نه د اینښودلو (لکه چې د اولې وجې غوښتنه ده).

دوهم: د ﴿ إِلَيْهِمْ ﴾ څخه څرګندېږي چې هُدهُد ته توصیه شوې وه چې مکتوب په علني توګه ورسوه چې ټول بلقیسیان یې وګوري، که نه نو د ﴿ إِلَيْهِمْ ﴾ په عوض به یې ورته په "إِلَيْهَا" سره توصیه کړې وی چې یوازې بلقیسې ته یې ورواچوه.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: په ﴿ مَاذَا يَرْجِعُونَ ﴾ کښې د ﴿ يَرْجِعُونَ ﴾ د کلمې دپاره مرجع څه شی دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم اکثرو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې مرجع یې پخپله بلقیسیان دي[۲]، یعنې ای هُدهده! د لیک د وراچولو څخه وروسته د هغوی څخه په څنګ شه، او چرته غلی کېنه او وګوره! چې بلقیسیان زما د لیک په هکله هغې ته په څه شي رجوع کوي او هغې ته څه مشوره ورکوي، نو دغه معلومات هم د خانه سره راوړه.

مګر دا هم څه لرې نه ده چې په ایت شریف کښې مطلب دا وي چې لیک وروغورځوه او بیا ترې بېرته راستون شه، نو ته هم وګوره او مونږ به هم وګورو چې هغوی د لیک د جواب په هکله په څه شي سره رجوع کوي او په همدې اړه څه ډول غبرګون څرګندوي، بیا به نو ورسره مناسب چال چلند کوو.

## یادونه

۳ـ که څوک غواړي چې د مرغانو ډېر عجائب او غرائب ولولي نو ځینو اوږدو کتابونو[۳] ته دې مراجعه وکړي چې ښه خوندور بحث یې پکښې کړی دی، خو دلته رانقلول یې مونږ ته ګټور نه برېښېدل.

﴿ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ إِنِّىٓ أُلْقِىَ إِلَىَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾ إِنَّهُۥ مِن سُلَيْمَٰنَ وَإِنَّهُۥ بِسْمِ ٱللَّهِ

ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾ أَلَّا تَعْلُوا۟ عَلَىَّ وَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾ قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَفْتُونِى فِىٓ

أَمْرِى مَا كُنتُ قَاطِعَةً أَمْرًا حَتَّىٰ تَشْهَدُونِ ﴿٣٢﴾ قَالُوا۟ نَحْنُ أُو۟لُوا۟ قُوَّةٍ وَأُو۟لُوا۟ بَأْسٍ

(۱) في ظلال القرآن ج۵ ص۲۶۳۹

(۲) البحر المحيط ج۸ ص۲۳۲؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۳۶۳

(۳) الجواهر للطنطاوي ج۱۳ ص۱۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شَدِيدٍ وَٱلۡأَمۡرُ إِلَيۡكِ فَٱنظُرِي مَاذَا تَأۡمُرِينَ ﴿٣٣﴾ قَالَتۡ إِنَّ ٱلۡمُلُوكَ إِذَا دَخَلُواْ قَرۡيَةً
أَفۡسَدُوهَا وَجَعَلُوٓاْ أَعِزَّةَ أَهۡلِهَآ أَذِلَّةٗۚ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ﴿٣٤﴾ وَإِنِّي مُرۡسِلَةٌ إِلَيۡهِم بِهَدِيَّةٖ
فَنَاظِرَةُۢ بِمَ يَرۡجِعُ ٱلۡمُرۡسَلُونَ ﴿٣٥﴾ ﴾

[۲۹] بلقیسې وویلې چې: ای (د مشرانو) ډلې! یقیناً ماته د کرامت څخه ډک مکتوب را اچولی شوی دی.

[۳۰] بې شکه دا (مکتوب) د سلیمان د پلوه (رالېږلی شوی) دی (چې د شاماتو پاچا دی)، او بې شکه (د) مکتوب (مضمون) دا دی چې: "بسم الله الرحمن الرحیم".

[۳۱] تاسو په ماباندې لویي (او تکبر) مه کوئ او تاسو ماته غاړې ایښودونکي راشئ (تسلیم شئ).

[۳۲] بلقیسې وویلې چې: ای (د مشرانو) ډلې! ماته زما په (ذکر شوي) کار کښې قوي فیصله راکړئ!، زه د هیڅ کار پرې کوونکی نه یم ترڅو چې تاسو ماته حاضر شئ (او ماته څه پرېکړه تصویبه کړئ).

[۳۳] (د مشرانو) ډلې وویلې چې: مونږ د ښه قوت خاوند یاستو او د سخت جنګ څښتنان یاستو (د خپل وطن دفاع ته چمتو یاستو)، او امر (اختیار او حکم) تالره دی، نو ته وګوره! هغه څه (حکم) دی کوم چې ته (ورباندې مونږ ته) امر کوې (چې په سر او سترګو یې اجراء کړو).

[۳۴] بلقیسې وویلې چې: یقیناً (دنیاوي) پاچاهان کله چې دوی یوه ښار ته (د غلبې په صورت کښې) ورننوځي نو هغه فاسدوي (خرابوي)، او د ښار د اهالیو معزز خلک ذلیله جوړوي.

او (ای پیغمبره! د بلقیسې خبره ریښتیا ده) دوی همدغسې کوي.

[۳۵] او (دا یې هم وویلې چې): یقیناً زه چې یم (دغو) خلکو ته د (ډیرې سترې) تحفې ورلېږونکې یم، نو (بیا) کتونکې یم چې (د هغوی د پلوه ماته زما) لېږلی شوي کسان په څه شي سره رجوع کوي (چې زما تحفه به قبوله کړي او که به یې رده کړي، نو بیا به دوهم تصمیم نیسم).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هغه صورت حال ته اشاره شوې ده کوم ته چې بلقیسې د سلیمان د مکتوب په هکله عملي لباس وراغوستی وه، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! کله چې بلقیسه په ذکر شوي مکتوب باندې پوه شوه. نو:

۱ـ د هر شي څخه وړاندې یې خپله شورا دائره کړه او هغه یې مخاطبه کړه چې:

الف: ای د شورا غړو! تاسو په ډېر دقت سره غوږ ونیسئ چې د ننۍ ورځې موضوع زه تاسو ته واضحه کړم هغه دا چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ماته په ډېره یوه عجیبه طریقه باندې یو لیک رارسېدلی دی چې د یوه مرغه د پلوه راباندې راواچولی شو، تر اوسه پورې دغسې کار ما نه چرته لیدلی وه او نه مې اورېدلې وه.

ج: دا لیک ډېر باکرامته لیک دی د کرامت یوه وجه یې همدا ده چې دا لیک د هغه چا د پلوه رالېږلی شوی دی چې مرغان هم د هغه په ولکه کښې دي، او ورته منقاد دي.

د: د لیک شکل دا دی چې: دا لیک د سلیمان بن داوُد ﷺ د پلوه را استولی شوی دی چې د شاماتو پاچا دی.

هـ: یقیناً دا لیک د دنیا د پاچاهانو د لیکونو په شان نه دی چې په خپلو نومونو او یا د خپلو بوتانو په نومونو باندې یې شروع کوي، بلکې دا لیک په "بسم الله الرحمن الرحيم" سره پیل شوی دی، یعنې د الله ﷻ په نامه پیل شوی دی چې ډېر مهربان او زیات بارحمه دی.

و: د لیک مضمون ډېر لنډ او ډېر جامع دی چې: ای د سبأ د ښار اوسېدونکو! په ماباندې لویي او تکبر مه کوئ (چې اطاعت ته مې غاړې کېښېږدئ)، ماته په داسې حال کښې راشئ چې غاړې اېښودونکي یاست.

۲ـ د موضوع د توضیح کولو څخه وروسته د ډېر تاکید دپاره یو ځل بیا هغې د خپلې شورا غړي د موضوع اهمیت ته متوجه کړه چې:

الف: ای د شورا غړو! زه دغه لیک په ډېر مشکل کښې اچولې یم، ماته د مشکل د حل کولو لاره راپه ګوته کړئ او ښه قوي فیصله راکړئ چې زه په دغه کار کښې څه وکړم.

ب: تاسو خو پوهېږئ چې زه هیڅ کار ستاسو د فیصلې څخه په غیر نه اجراء کوم، ترڅو چې تاسو حاضر شئ او فیصله وکړئ بیا نو زه اجراءات کوم، په دغه کار کښې هم زما تګلاره همدغه ده.

۳ـ د شورا غړو تولو په یوه خوله د جنګ لاره غوره کړه او ویې ویلې چې:

الف: مونږ خو د ښه قوت خاوندان یاستو او په جنګي لحاظ هم د سخت جنګ درلودونکي یاستو چې نظامي وسائل ښه پرېمانه لرو. یا په بل عبارت: مونږ د سلیمان ﷺ د مقابلې توان لرو او د خپل مملکت څخه دفاع کولی شو، فقط ستا قومندې ته ګورو او بس.

ب: مونږ د دې څخه اضافه په دغه کار کښې وروستۍ پرېکړه تاته سپارو او ستا خوښې ته منتظر یاستو، نو ته پکښې فکر وکړه، ته چې مونږ ته هر څه امر وکړې هغه زمونږ قبول دی.

۴ـ بلقیسې خپله نهایي پرېکړه داسې اعلانه کړه چې:

الف: سمدستي د جنګ لاره ښه نه ده، ترڅو چې مونږ د سولې له لارې مشکل حل کړی شو نو باید جنګ ته لاس وانچوو. او دا خکه چې د دنیا د پاچاهانو عادت دی چې کله کوم ښار ته په جنګي قوت سره داخل شي نو هغه خرابوي او باعزته خلک یې ذلیله ګرځوي.

ب: نو که مونږ بالفرض د جنګ لاره خپله کړو نو ضرور به سلیمان د خپل لښکر سره زمونږ ښار ته داخلېږي او همدلته به جنګ پیل کېږي او همدا به د جنګ میدان جوړېږي.

ج: نو که مونږ بېرته وتلو ته مجبور کړه نو ډېره ښه ده او که نه نو زمونږ ښار به خراب او وران

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ويجاړ کړي. په دې باندې علاوه، زمونږ د ښار (مملکت) باعزته کسان به ذليلان وګرځوي او د ډېرې زياتې بې عزتۍ سره به يې مخامخ کړي.

اى پيغمبره! د بلقيسې خبره ربښتيا ده چې د دنيا پاچاهان همدغسې عادت لري چې د خپلې مخې سره ښارونه خرابوي او خلک سپکوي او داسې نور.

د: نوموړې خپلو خبرو ته ادامه وکړه او خپل نهايي نظر يې په لاندې ډول سره څرګند کړ چې: زه غواړم چې د ليک رالېږونکو سره داسې چال چلند وکړم چې: د هر څه څخه وړاندې هغوى ته زه د يوې عظيم الشاني تحفې لېږونکې يم، بيا به ګورم چې هغوى زما د تحفې په هکله څه غبرګون څرګندوي بيا به نو د هغوى د غبرګون مطابق تصميم نيسم چې څه ورسره وکړم.

## توضيحات

١ـ که څوک وايي چې: څه وجه وه چې بلقيس د سليمان ﷺ ليک ته په ﴿ أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ﴾ کښې د "كَرِيم" لقب ورکړ چې ماته ډېر باکرامته مکتوب را اچولى شوى دى؟

مونږ وايو چې: د مکتوب د کرامت دپاره علماوو کرامو متعددې وجې ليکلې دي چې تقريباً اتو وجو ته رسېږي[١]، خو بهتر وجوه يې هغه دي کوم چې پخپله د ايت شريف څخه څرګندېږي هغه دا چې:

الف: د ﴿ أُلْقِيَ ﴾ کلمه د لالت کوي چې د دې کتاب کرامت دا دى چې ماته را رسېدلو بې په عجيبه او خارق العاده توګه صورت نيولى دى، چې د يوه مرغه د پلوه ماته راواچولى شو. داسې معلومېږي چې د ليک د رالېږونکي حکومت په مرغانو باندې هم چلېږي.

ب: د ذکر شوي ليک رالېږونکي د الله ﷻ په نامه سره خپل ليک پيل کړى دى او "بسم الله الرحمن الرحيم" يې په لومړي سر کښې ليکلى شوى دى.

که څه هم بلقيسيان لمر پرستان وه خو د الله ﷻ په موجوديت باندې معتقد وه.

ج: ليک ډېر لنډ او ډېر معنى دار دى چې: ﴿ أَلَّا تَعْلُوا۟ عَلَيَّ وَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴾، يعنې تاسو په ما باندې تکبر مه کوئ او ماته غاړه اېښودونکې راشئ.

## د ليک شکل څنګه وه؟

٢ـ ځينې علماء کرام وايي چې د سليمان ﷺ د ليک شکل په لاندې ډول وه[٢]:

بسم الله الرحمن الرحيم.

مِنْ عَبْدِ اللهِ سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ إِلَى بِلْقِيْسَ مَلِكَةِ سَبَأَ

السَّلَامُ عَلَى مَنْ اِتَّبَعَ الْهُدَى. اَمَّا بَعْدُ!

لا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَآتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ.

[خاتم سليمان]

---

(١) زاد المسير ج۶ ص۶۵

(٢) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص۴۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دوه ډوله تفسير

۳ـ په ﴿ وَكَذَٰلِكَ يَفۡعَلُونَ ﴾ جمله علماوو کرامو په لاندې دوه ډولونو سره تفسیره کړې ده[۱]:

الف: ځيني علماء كرام وايي چې دا جمله د بلقيسې د كلام حكايت دی چې هغې خپل وړاندېنی كلام تاكيد كړی دی، نو مطلب يې داسې راځېږي چې: ای د شورا غړو! دنياوي پاچاهان د غلبې په صورت كښې ښارونه ورانوي او اوسېدونكي يې بې عزته كوي؛ او همدغسې كوي لكه څنگه چې ما ووېلې، تاسو زما په دغې خبره كښې هيڅ شک شبه مه كوئ.

ب: په دې جملې سره د بلقيسې د كلام په منځكښې د معترضې جملې په شكل د الله ﷻ د پلوه د هغې د كلام مضمون تاكيد او تصديق شوی دی. يعنې: ای پيغمبره! دنياوي پاچاهان د غلبې په صورت كښې همدغسې كوي لكه څنگه چې بلقيسې د خپلې شورا غړو ته خپل نظر څرگند كړی وه (د هغې خبره رښتيا ده).

مونږ ته همدغه دوهم تفسير په زړه پورې برېښي، ځكه چې په همدې تفسير باندې ﴿ وَكَذَٰلِكَ ﴾ كښې حرفي خطابي "كَ" دلالت كوي چې يو كس ته ورباندې خطاب صورت نيسي، دغه كس په دې مقام كښې نبي كريم ﷺ دی.

كه بالفرض ذكره شوې جمله د بلقيسې د كلام حكايت وی نو ضرور به د "وَكَذَٰلِكُمۡ" په جمعې سره نازله شوې وی، او دا ځكه چې هغې خو په ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَؤُاْ ﴾ سره خپلې تولې شورا ته خطابه وركوله.

## هدية څه معنی؟

۴ـ په ﴿ وَإِنِّي مُرۡسِلَةٌ إِلَيۡهِم بِهَدِيَّةٍ ﴾ كښې د "هَدِيَّة" كلمه د هغې شي نوم دی كوم چې انسانان يې يو تربله د محبت د اظهار دپاره وړيا وركوي[۲]، چې په پښتو كښې ورته سوغات ويل كيږي.

همدې مضمون ته نبي كريم ﷺ اشاره كړې ده چې: «تَهَادَوۡا فَإِنَّ الۡهَدِيَّةَ تُذۡهِبُ وَحَرَ الصَّدۡرِ»[۳] يعنې تاسو يو تربله سره هديې او تحفې (سوغاتونه) وركوئ ځكه چې هديه (تحفه) د زړه كينه او عداوت د منځه وړي.

څرنگه چې د سليمان عليه السلام ليک بلقيسې ته په خارق العاده توگه ورسېد، نو هغه پرې ډېره وداره شوه او د يوې غټې تحفې ور استولو ته يې اقدام وكړ، ترڅو معلوم كړي چې:

الف: كه سليمان عليه السلام دنياوي پاچا وي او پيغمبر نه وي نو تحفه به قبوله كړي او مونږ به يې د شره او جنگه خلاص شو، دا به د ښو اړيكو بنياد وگرځي.

ب: او كه په پاچاهۍ باندې علاوه پيغمبر هم وي، نو ضرور به زمونږ تحفې را مستردې كړي او ترهغه به راضي نه شي ترڅو چې مونږ د هغه شريعت ته غاړې كېږدو او ورته تسليم شو.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۱۹۵؛ روح المعاني ج۱۹ ص۱۹۸

(۲) مفردات الراغب ص۵۳۹

(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۳۴؛ مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۳۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې مونږ د جنګ پلویان نه یاستو، یا به په تحفو سره د سلیمان ﷺ دښمنۍ په محبت باندې بدله کړو او یا به ورته خپل ځانونه بې قیده او شرطه تسلیم کړو، په دواړو صورتونو کښې به د هغه د جنګ څخه بچ شو.

۵ـ پاتې شوه دا خبره چې سلیمان ﷺ ته د بلقیسې عظیم الشانه تحفه په کومو کومو قیمتي شیانو باندې مشتمله وه، نو د هغې په تفصیل کښې خینو مفسرینو کرامو[1] زښت ډېر اوږده بیانات لیکلي دي؛ که څوک یې د لوستو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ ونه غوښتل چې دا کتاب (عزیز التفاسیر) ورباندې اوږد کړو او څه مهمه ګټه ترلاسه نه کړی شو.

﴿فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٖ فَمَآ ءَاتَىٰنِۦَ ٱللَّهُ خَيۡرٞ مِّمَّآ ءَاتَىٰكُم بَلۡ أَنتُم بِهَدِيَّتِكُمۡ تَفۡرَحُونَ ﴿٣٦﴾ ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ فَلَنَأۡتِيَنَّهُم بِجُنُودٖ لَّا قِبَلَ لَهُم بِهَا وَلَنُخۡرِجَنَّهُم مِّنۡهَآ أَذِلَّةٗ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ﴿٣٧﴾﴾

[۳۶] نو کله چې (د بلقیسې قاصد او لېږلی شوی) سلیمان ﷺ ته ورغی نو هغه (ورته) ووېلې چې: ایا تاسو ماته په (دنیاوي) مال سره امداد راکوئ؟! نو هغه شی (نبوت او مال) چې ماته الله ﷻ راکړي دي ډېر بهتر دی د هغه شي (مال) څخه چې تاسو ته یې درکړي دي، (زه په مال سره نه خوشالېږم) بلکې تاسو په خپلې هدیې (تحفې سره) خوشالېږئ (تاسو ته ډېر لوی شی برېښي، زه ستاسو په ایمان راوړلو باندې خوښېږم او بس).

[۳۷] (ای د بلقیسې قاصده!) ته بېرته هغوی ته (د خپلو تحفو سره) ورستون شه، نو هرو مرو ضرور به مونږ (د عدم اطاعت په صورت کښې) هغوی ته د داسې لښکر سره ورشو چې د مقابلې توان به یې ونه لري، او هرو مرو ضرور به هغوی د سبأ د ښار څخه په داسې حال کښې وباسو چې د سپکاوي او حقارت سره به مخامخ وي او په همدغه کیفیت به راضي هم وي (چې د وژلو څخه به ورته بهتر وي).

## د مطلب خلاصه

یعنې: بلقیسې خپل تصمیم عملي کړ او ښه قیمت لرونکې تحفه یې ترتیب کړه نو:

۱ـ د یوه وفد په ذریعه یې سلیمان ﷺ ته ور واستوله.

۲ـ کله چې د وفد مشر ذکره شوې تحفه سلیمان ﷺ ته وړاندې کړه نو د هغه ﷺ د پلوه په عکس العمل کښې دغه وفد مخاطب کړی شو چې:

الف: ای د بلقیسې جرګې! ایا تاسو زما سره په بل شی نه بلکې په دنیاوي مال سره امداد کوئ؟ ستاسو امدادي مالونه او تحفې ماته هیڅ ارزښت نه لري.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۱۷؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۱۹۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: بلکې الله ﷻ چې کوم شی ماته راکړی دی هغه د هغه شي څخه بهتر دی کوم یې چې تاسو ته درکړی دی، ماته یې پاچاهي راکړې ده، چې د هیڅ شي کمبود راسره نشته، او هم یې په نبوت سره سرلوړی کړی یم.

ج: تاسو ما د دې دپاره نه یاست دعوت کړي چې زه ستاسو څخه دنیاوي مال ترلاسه کړم، او وریاندې خوشاله شم، هغه تاسو یاست چې دنیاوي مال درته باارزښته برېښي او دغه تحفه (چې تاسو د خپلو خانونو سره دلته راوړې ده) ډېره عظیم الشانه په نظر درځي او په همدې خوښېږئ او خوشالي وریاندې کوئ.

د: زه چې په کوم شي باندې خوشالېږم او ستاسو څخه یې غواړم، هغه ایمان دی، چې ما د یوه پیغمبر په صفت قبول کړئ او ایمان راباندې راوړئ.

ه: ای د وفد مشره! ته د خپلو تحفو سره بېرته خپلو وطنوالو ته ورستون شه او یو ځل بیا ورته زما هغه دعوت تکرار کړه کوم چې ما د هُدهُد په ذریعه ورلېږلی وه، هغه دا چې په ماباندې تکبر مه کوئ او غاړې راته کېږدئ. که نه نو:

و: هرومرو او ضرور به مونږ د داسې عظیم الشانه لښکر سره ورشو چې هغوی به یې هیڅ مقابله ونه شي کړی، او هم به یې هرومرو ضرور د سبا د ښار څخه د ذلت په حال کښې وباسو، په دغه وخت کښې به هغوی په همدغه ذلت او سپکاوې باندې راضي او خوشاله وې چې د وژلو څخه به ورته غوره برېښي. هغوی به هرومرو پښېمانه وګرځي خو په هغه وخت کښې به ورته پښېماني څه ګټه ونه کړي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ ﴾ کښې د ﴿ جَآءَ ﴾ مستتر ضمیر چاته راجع دی؟ مونږ وایو چې: دغه ضمیر "رَسُول" ته راجع دی چې په وړاندې ایت کښې وریاندې د ﴿ وَإِنِّي مُرۡسِلَةٌ إِلَيۡهِم بِهَدِيَّةٖ ﴾ کلمات دلالت کوي.

دغه رسول (لېږلی شوی) د جرګې مشر وه چې "المنذر بن عمرو" نومېده[1]؛ نو شاید چې د لومړي ملاقات په وخت کښې به یوازې همده خبرې کړې وي او د جرګې نور غړي به ساکت وه، نو ځکه الله ﷻ په حکایت کښې د ورتګ نسبت یوازې همده ته وکړ چې: ﴿ فَلَمَّا جَآءَ سُلَيۡمَٰنَ ﴾، او نور غړي یې یاد نه کړه. اما د خبرو اترو په مجالسو کښې ټولو اشتراک درلود او نصائح ټولو ته متوجه وه، نو الله ﷻ په ﴿ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٖ ﴾ کښې ټولو ته خطابه راحکایت کړه.

بالآخره لکه څنګه چې عادت دی چې پیغام یا اخطار یوازې د جرګې مشر ته ورکول کېږي، نو سلیمان ﷺ به هم د ترخیص په وخت کښې یوازې همدی مخاطب کړی وي، چې مونږ ته یې الله ﷻ په افراد ﴿ ٱرۡجِعۡ إِلَيۡهِمۡ ﴾ سره حکایت را نازل کړ.

[1] تفسیر البغوي ج۳ ص۴۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د ذلة او صغر معناوې

۲_ په ﴿ وَلَنُخْرِجَنَّهُم مِّنْهَآ أَذِلَّةً وَهُمْ صَٰغِرُونَ ﴾ کښې د لاندې کلمو معناوې ولولئ:

الف: د "أذلّة" کلمه د "ذَلِيل" جمعه ده او د "ذل" څخه اشتقاقه شوې ده، "ذل" هغه سپکاوی او حقارت ته وضعه شوی دی کوم چې د مغلوبيت څخه پيدا شوی وي[۱].

ب: د ﴿ صَٰغِرُونَ ﴾ کلمه د "صَاغِر" جمعه ده، "صَاغِر" هغه چاته ويل کېږي کوم چې د څه مجبوريت د کبله په خپل سپکاوي اوحقارت باندې راضي وي[۲].

نو د معنی حاصل يې داسې راځي چې: ای د بلقيسې قاصده! ته بېرته ورستون شه او پوه شه چې که بلقيسيان زما هغه پيغام او دعوت قبول نه کړي کوم چې هغوی ته د هُدهُد په ذريعه رسېدلی وه، نو هرومرو به زمونږ د قوي لښکر د پلوه هغوی د حقارت او سپکاوې سره مخامخ شي او په همدغه حال کښې به د سبأ د ښار څخه د ذلت او سپکاوې په درلودلو سره وويستلی شي، په دغه وخت کښې به هغوی په همدغه سپکاوي او حقارت باندې راضي او خوشاله هم وي چې د وژلو څخه به ورته بهتر بريښي.

﴿ قَالَ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ أَيُّكُمْ يَأْتِينِى بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِى مُسْلِمِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّى عَلَيْهِ لَقَوِىٌّ أَمِينٌ ﴿٣٩﴾ قَالَ ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ ۚ فَلَمَّا رَءَاهُ مُسْتَقِرًّا عِندَهُۥ قَالَ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّى لِيَبْلُوَنِىٓ ءَأَشْكُرُ أَمْ أَكْفُرُ ۖ وَمَن شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّى غَنِىٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾ قَالَ نَكِّرُوا۟ لَهَا عَرْشَهَا نَنظُرْ أَتَهْتَدِىٓ أَمْ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾ ﴾

[۳۸] سليمان ﷺ وويلې چې: ای (د مشرانو) ډلې! ستاسو کوم يو کس به ماته د بلقيسې تخت راوړي، (البته) د دې څخه وړاندې چې هغوی ماته غاړې اېښودونکي راشي (راوړسېږي).

[۳۹] د پيريانو څخه قوي (غښتلي) کس وويلې چې: زه به يې درته راوړم (البته) د دې څخه مخکښې چې ته د خپل مقام څخه پورته شې (او د خلکو فيصلې بس کړې)، او يقيناً زه په دغه (انتقال) باندې د قوت (توان) خاوند يم (او هم) امانتګر يم.

[۴۰] هغه چا وويلې د کوم په نزد چې د اسماني کتاب څخه علم وه (اسم اعظم يې پېژاند) چې:

(۱) مفردات الراغب ص۱۸۳
(۲) القاموس المحيط ج۲ ص۸۲۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زه به يې درته راوړم (البته) د دې ځخه وړاندې چې تاته خپل نظر بېرته راتاو شي (د سترګو په رپ کښې به يې راوړسوم).

نوکله چې (هغه د سترګو په رپ کښې تخت حاضر کړ او) سليمان ﷺ تخت په خپل نزد باندې قرار نيوونکی (اېښودل شوی) وليد نو وېې ويلې چې: دغه (تخت) زما د رب ﷻ د فضل (د کبله دلته اېښودل شوی) دی، (البته دا) د دې دپاره چې ما امتحان کړي چې زه (د خپل رب ﷻ) شکر ګذاري کوم او که ناشکري يې غوره کوم، او هرڅوک چې شکر ګذاري وکړي نو يقيناً هغه د خپل ځان دپاره شکر ګذاري وکړه (ګټه يې همده ته راجع ده او بس)، او هرڅوک چې ناشکري وکړي نو يقيناً زما رب ﷻ (د خلکو د شکر ګذارۍ ځخه) بې پروا دی (او) د کرم خاوند دی.

[۴۱] (بيا) سليمان ﷺ وويلې چې: بلقيسې ته خپل تخت ناآشنا وګرځوئ (ځه تغير پکښې واقع کړئ، البته) د دې دپاره چې مونږ وګورو چې نوموړې (خپل تخت ته د پېژندلو) لاره مومي (او) يا دا د هغو کسانو ځخه ده چې لاره (ورته) نه شي موندلی.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د هغه وخت مهمو ټکو ته اشاره شوې ده چې کله بلقيسه د سليمان ﷺ د ملاقات دپاره ور روانه شوه او د شام حدودو ته ور ورسېدله، نو حاصل يې داسې راځېږي:

اې پيغمبره! کله چې بلقيسې ته خپل وفد (جرګه) بېرته ورستنه شوه او خپل قاصد ورته ټول کيفيت هو بهو بيان کړ او په اخطار باندې يې هم خبره کړه، نو سمدستي د سليمان ﷺ د ملاقات دپاره ورروانه شوه، خو کله چې وړباندې سليمان خبر شو نو بيا لاندې حالات پېښ شوه:

۱ـ سليمان ﷺ د خپلې پاچاهۍ معزز او مخور کسان مخاطب کړه چې: زه غواړم چې د بلقيسې تخت د يمن ځخه دلته را انتقال کړم، بلکې په دومره عجله سره يې رانقلول غواړم چې د هغې د منقاد ګرځېدلو ځخه وړاندې دلته را ورسولی شي، نو په تاسو کښې ځوک دی چې دا کار وکړي؟

۲ـ د پېريانو د جملې ځخه يوه قوي نفر ورته اطمنان ورکړ چې دا کار به زه وکړم او د هغه وخت ځخه وړاندې به يې دلته ستا په حضور کښې کېږدم چې ته د خپل دغه ځای ځخه پورته شې چې اوس وړباندې د فيصلو دپاره ناست يې، ته بالکل بې غمه اوسه زه په دغه کار باندې وسه لرم او قوت مې وړباندې د پاسه دی، او په دې باندې علاوه امانتګر هم يم چې د تخت د زېوراتو ځخه به په هيڅ شي کښې خيانت ونه کړم او نه به يې پرېږدم چې بل ځوک پکښې خيانت وکړي.

۳ـ د نوموړي عفريت (قوي) په تعقيب هغه چا سليمان ﷺ ته خبر ورکړ د چا په نزد چې د کتاب الله ځخه ځه خاص علم موجوديت درلود، چې زه به ذکر شوی تخت د هغه ځخه وړاندې ستا په مخکښې کېږدم او درته به يې حاضر کړم چې يوه شي ته د کتلو ځخه وروسته تاته خپل نظر بېرته درتاو شي. يا په بل عبارت: زه به يې د سترګو په رپ کښې راوړسوم.

۴ـ د سليمان ﷺ د همدغه دوهم نفر خبره خوښه شوه چې په علم باندې يې اتکاء درلوده، نو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدی یې د تخت په راوړلو باندې مامور کړ او هغه سمدستي خپل ماموریت ترسره کړ او تخت یې د یمن څخه شام ته د سترګو په رپ کېدو راورساوه.

۵ـ نو کله چې سلیمان ﷺ ولید چې د بلقیسې تخت یې په وړاندې ایښی دی نو ویې ویل چې:

الف: دا زما د رب ﷻ فضل دی چې زما د اتباع او پیروی په اثر زما یوه اُمتي د سترګو په رپ کېدو د بلقیسې تخت دلته حاضر کړ.

ب: البته دا کار زما د رب ﷻ د پلوه په ماباندې یو امتحان دی چې زه یې شکر کوم او که ناشکري یې کوم.

ج: زما رب ﷻ زما شکر ته لا څه چې د هیچا شکر کولو ته څه اړتیا نه لري، نو هرڅوک چې شکر وکړي د هغه د خپل خان دپاره ګټه ده چې نعمتونه به ورباندې اضافه شي، او هرڅوک چې ناشکري وکړي نو هغه فقط خپل خان ته ضرر ورساوه، دا ځکه چې زما رب ﷻ په یقیني توګه د هر شي او هر چا څخه بې پروا دی، خو د دې سره-سره کریم دی او په شکر ګذارۍ سره خپل نعمتونه اضافه کوي.

۶ـ بیا سلیمان ﷺ خپلو نوکرانو ته هدایت ورکړ چې د بلقیسې تخت د هغې دپاره ناآشنا وګرځوئ، یا په بل عبارت: څه تغیر او تبدیل پکښې واقع کړئ، ترڅو مونږ د یوه پلوه نوموړې وآزمایو چې عقل او ذکاوت یې په کومه درجه کښې دی، ایا د خپل تخت پېژاندلو ته هدایت موندلی شي او که دا د هغو کسانو د جملې څخه ده چې پېژاندلو ته یې لاره نه شي موندلی، او د بله پلوه هغې ته د خپل نبوت یوه معجزه هم ور ولیده کړو چې مونږ د هغې تخت په خارق العاده توګه دلته حاضر کړی دی.

## توضیحات

۱ـ که څه هم د بلقیسې د لومړي وخت څخه زړه نه وه چې د سلیمان ﷺ سره په جنګ باندې اخته شي، مګر د خپل اطمنان دپاره یې د یوې جرګې په لاس سلیمان ﷺ په تحفه باندې امتحان کړ او پوهه شوه چې دا یو عادي پاچا نه بلکې دا یو پیغمبر پاچا دی، نو د ده سره جنګ کول بل څه نه دي بلکې خپل خان وژل او سپکول دي، د همدې کبله یې وغوښتل چې مخامخ خبرې ورسره وکړي او بیا بیعت ترسره کړي.

نو خپل تخت یې په محفوظ ځای کښې وساته او د امنیت دپاره یې ورباندې بنه غښتلی تولګی وټاکه چې حفاظت یې وکړي[۱] او پخپله د سلیمان ﷺ ملاقات ته ورروانه شوه.

## د تخت په انتقال کښې څه غرض وه؟

۲ـ که څه هم علماوو کرامو[۲] د تخت په انتقال کښې د سلیمان ﷺ غرض په متعدو وجوهو باندې تعبیر کړی دی، چې ځینې وجوه خو بالکل دنبوت د منصب سره منافات لري، مګر مونږ ته چې کومه وجه په زړه پورې او د سیاق او سباق (وړاندې بېرته) سره مناسبه برېښي هغه دا ده چې:

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۰۲
(۲) زاد المسیر ج۶ ص۶۹؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۱۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سلیمان ﷺ لومړی خل د هُدهُد په سلسله په خارق العاده ډول بلقیسه دعوت کړه چې په نتیجه کښې د انقیاد په حال د ملاقات دپاره ورروانه شوه، نو د دوهم خل دپاره یې وغوښتل چې نوموړې ته خپل نبوت یوه بله معجزه وروليده کړي ترڅو په اطمنان سره منقاده او په اسلام کښې داخله شي.
د هغې دپاره چې کله چې هغې خپل تخت ولید نو په اطمنان سره یې اعتراف وکړ چې: ﴿ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴾ یعنې او موږ ته خو د دغې معجزې څخه وړاندې د هُدهُد په ذریعه او د وفد (جرګې) په سلسله ستا په نبوت باندې علم راکړی شوی وه او موږ لا پخوا تاته غاړه ایښودونکې وه، خو دغې معجزې زموږ اطمنان حاصل کړ او علم مو پرې ښه قوي شو.

## عفریت څه معنی؟

۳_ په ﴿ قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ کښې د ﴿ عِفْرِيتٌ ﴾ کلمه د "عَفَرَ" _لکه "شَرَفَ"_ څخه اشتقاق شوې ده، "عَفَرَ" د خاورو معنی ورکوي[۱]، او عرب وایې چې: "عَافَرَ زَيْدٌ عَمْرًا" یعنې په پهلوانی کښې زید په عَمرو باندې برلاسی شو نو په خاورو کښې یې لت پت (خړ پړ) کړ.
نو ذکره شوې کلمه د هغه چا دپاره وضعه شوې ده کوم چې جید او کره نظر لري او د کار په اجراء کښې د ډېر زیات نفوذ خاوند وي او په ډېرې ښې طریقې سره یې ترسره کولی شي[۲]، برابره خبره ده چې نوموړی کس انسان وي او که پېری، نو د تشخیص دپاره ورسره په ایت شریف کښې د ﴿ مِّنَ ٱلْجِنِّ ﴾ کلمه نازله شوې ده، چې دغه کس انسان نه وه بلکې پېری وه.
نوموړي کس سلیمان ﷺ ته د تخت د انتقال وعده ورکړه، ترڅو چې ته د دغه ځای څخه (چې اوس د خلکو د شخړو د فیصلو دپاره ناست یې) پورته کېږې نو زه به تخت راورسوم ته به وایې چې هغه ویلي وي چې تر غرمې پورې به دا کار وکړم، ځکه چې سلیمان ﷺ به د سبا څخه تر غرمې پورې د قضاء او فیصلو دپاره کېناست[۳].

## سوالونه او جوابونه

۴_ د ﴿ قَالَ ٱلَّذِى عِندَهُۥ عِلْمٌ مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ الآية، په ارتباط د سرې زړه د لاندې پوښتنو جوابونه غواړې:
الف: دغه کس څوک وه چې په ایت کښې ترې په ﴿ ٱلَّذِى ﴾ سره تعبیر شوی دی؟
موږ وایو چې: د دغه کس په تعین کښې علماوو کرام متعدد اقوال کړي دي[۴] لاندې مثالونه یې ولولئ:
اول: دغه کس د پرښتو څخه یوه پرښته یا جبرائیل امین ﷺ وه.

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۵۱
(۲) القاموس المحیط ج۳ ص۲۶۰
(۳) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۱۶۲
(۴) روح المعاني ۹ ص۲۰۲؛ زاد المسیر ج۶ ص۷۰؛ التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۱۹۷؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۰۴.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: دغه کس خضر ﷺ وه.

دریم: دغه کس پخپله سلیمان ﷺ وه. په دې قول سره په ﴿ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبْلَ ﴾ کښې په ي.
سره د سلیمان ﷺ د پلوه عفریت مخاطب ګرځول کېږي چې: ای عفریته! ته وګوره چې زه یې درته د
سترګو په رپ کښې راوړم.

څلورم: دغه کس د بني اسرائیلو څخه یو صالح سړی وه چې آصف "علیه الرحمة" نومېده.

اکثرو علماوو همدغه څلورم قول غوره ګڼلی دی، او مونږ ته هم همدغه قول غوره برېښي، چې د
عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوی دی[1].

څرنګه چې د آصف "علیه الرحمة" کرامت د سلیمان ﷺ دپاره معجزه وه بلکې هغه علیه الرحمة د همده ﷺ
په پېروی سره د ذکر شوي کرامت خاوند ګرځېدلې وه، نو څکه سلیمان ﷺ د نوموړي په کار (د
تخت په انتقال) د الله ﷻ شکر اداء کړه چې: ﴿ هَٰذَا مِن فَضْلِ رَبِّى ﴾ الآية.

ب: نوموړی آصف "علیه الرحمة" د څه ډول علم خاوند وه چې ذکر شوی خارق العاده کار یې ورباندې
ترسره کړ؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ په نومونو کښې یو نوم دی چې: د "اسم الله الأعظم" یعني د الله ﷻ د
لوی نوم لقب ورکړی شوی دی، هرڅوک چې په همدغه نامه سره د الله ﷻ څخه کوم شی وغواړي نو
الله ﷻ یې غوښتنه قبلوي، نو آصف "علیه الرحمة" په همدغه نامه باندې علم درلود او په همدغه نامه
باندې یې سوال وکړ. د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

د یوه اوږده حدیث مضمون دی چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ د یوه سړي څخه د سوال څه کلمات
واورېده نو ویې وفرمایل چې: «قَدْ سَأَلَ اللهَ بِاسْمِ اللهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى وَإِذَا دُعِيَ بِهِ
أَجَابَ»[2] یعني: یقیناً دغه سړي د الله ﷻ څخه د الله ﷻ په هغه لوی نوم سره سوال وکړ کوم چې د ده ﷻ
څخه ورباندې د څه شي سوال وکړی شي هغه ورکوي، او که پرې وبللی شي نو هغه قبلوي.

ج: دغه کتاب د کوم کتاب څخه عبارت دی چې په ﴿ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ کښې په تعریف سره ورته اشاره
شوې ده؟

مونږ وایو: څرنګه چې وړاندې ترجیح ورکړه شوه، د تخت راوړونکی پرښته نه وه بلکې انسان
وه، نو د ﴿ ٱلْكِتَٰبِ ﴾ څخه هغه کتاب مطلب دی کوم چې د الله ﷻ د پلوه نازل شوی وي[3] لکه
تورات، انجیل او زبور.

د: په ﴿ طَرْفُكَ ﴾ کښې د "طَرْف" کلمه د څه شي څخه عبارت ده؟

مونږ وایو چې: د "طَرْف" کلمه اصلاً د سترګو د بڼو دپاره وضعه شوې ده او د بڼو بنوررولو ته هم

---

(١) تفسیر ابن کثیر ج٣ ص٣٦٤؛ الدر المنثور ج٦ ص٣٦٠
(٢) مسند احمد حنبل ج٩ ص١٠، ١٣
(٣) البحر المحیط ج٨ ص٢٤٠

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



طَرْف وايي، خو د سترګو په نظر کېښې هم استعمالېږي(١) چې په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی، خو علماوو کرامو په لاندې دوه وو معناوو باندې تفسيره کړې ده:

اول: ځيني وايي چې: د نظر بېرته راتاوېدل د سرعت څخه کنايي دي(٢)، يعني زه به د بلقيسې تخت په دومره تېزۍ سره راوړم لکه د سترګو رپېدل.

دوهم: ځيني وايي چې: دلته کنايي معنی نه بلکې خپله حقيقي معنی مراده ده(٣)، يعني زه به يې د سترګو په رپ کښې راوړم؛ همدا معنی سعيد بن جبير الشهيد "عليه الرحمة" داسې تعبيره کړې ده چې: "قَالَ لِسُلَيْمَانَ أَنْظُرْ إِلَى السَّمَاءِ، فَمَا أَطْرَقَ حَتَّى جَاءَ بِهِ فَوَضَعَهُ بَيْنَ يَدَيْهِ"(٤) يعني د علم خاوند سليمان ﷺ ته ووېلې چې ته پورته اسمان ته وګوره، نو کله چې هغه ﷺ اسمان ته وکاته نو خپل سر يې لا نه وه راښکته کړی (ښکته يې لا نه وه کتلي) چې تخت يې راووړ او په مخکښې يې ورته کېښود.

مونږ ته همدغه دوهم تفسير په زړه پورې برېښي او څه مجبوريت نه ګورو چې د طرف کلمه په کنايي معنې باندې تفسيره کړو.

هـ: که څوک وايي چې: د شام او يمن ترمنځ خو يو نيم زره ميله، يا د دوه وو مياشتو د مزل مسافه ده(٥)، نو په کار دي چې د "طرف" کلمې لومړی معنی په زړه پورې وګڼله شي چې تناسب يې ورسره ځرګند دی، نه دوهمه معنی چې تناسب يې ورسره پوره ځرګند نه دی؟

مونږ وايو چې: دوهمه معنی ورسره ځرګند تناسب لري، دا څکه چې دا کار د ممکناتو څخه دی او الله ﷻ په هرممکن کار باندې قادر دی؛ يا په بل عبارت: د تخت انتقال يوه معجزه وه او ټول معجزات په همدغسې خارق العاده او حيرانوونکي کيفيت سره صورت نيسي، تاسو خو د موسی ﷺ د همسا معجزه او د صالح ﷺ د اوښې معجزه دريه زړه کړئ.

په دې باندې علاوه سرعت کوم تاکلی حد نه لري چې د هغه څخه ورپورته محال وګڼلی شي، لکه چې همدا موضوع ځينو مفسرينو کرامو د لمر په طلوع کښې واضحه کړې ده(٦) که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ ته يې ليکل چندان ضرور ونه برېښېدل.

و: که څوک وايي چې: د تخت انتقال په څه کيفيت سره صورت ونيوه؟

مونږ وايو چې:

اول: ځينو علماوو کرامو وېلي دي چې: الله ﷻ د بلقيسې تخت هلته معدوم کړ او د سليمان ﷺ په حضور کښې يې تازه خلق کړ(٧).

---

(١) مفردات الراغب ص٣١٢.
(٢) تفسير القرطبي ج١٣ ص٢٠٦؛ البحر المحيط ج٨ ص٢٤٠
(٣) تفسير ابي السعود ج٦ ص٢٨٧
(٤) الدر المنثور ج٦ ص٣٦١
(٥) تفسير المظهري ج٧ ص١١٧
(٦) حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج٣ ص٤٩٣
(٧) روح المعاني ج١٩ ص٢٠٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا جواب مونږ ته د ایتونو سره چندان موافق نه بریښي، ظاهره دا ده چې تخت انتقال شوی دی اوعوض شوی نه دی.

دوهم: ذکر شوی تخت په هوا کښې راوړ شو او د سلیمان ﷺ په حضور کښې کېښود شو[1].

د دې ډول انتقال دپاره د نبي کریم ﷺ د معراج رحله یو مثال جوړېدلی شي چې د مکې معظمې څخه یې شام ته او بیا یې سِدرةُ المُنتهی ته صورت ونیوه او بیا بېرته د شروع کېدلو په ځای باندې ختم شو.

دريم: ذکر شوی تخت هلته په ځمکه کښې ډوب شو او د سلیمان ﷺ مخې ته ـ د سترګو په رپ کښې ـ د ځمکې څخه را بهر شو[2]، او د ډوبېدلو او بهر راوتلو ځایونه سمدستي خپل عادي حال ته واړولی شوه. یا په بل عبارت: د تخت انتقال نه هوايي صورت نیولی وه او نه د ځمکې پر مخ، بلکې دغه انتقال د ځمکې په ګېډه کښې تحقق موندلی وه.

د دې ډول انتقال دپاره د موسی ﷺ د قبر انتقال یو نظیر جوړېدلی شي چې په یوه اوږده حدیث کښې ورته اشاره شوې ده چې: موسی ﷺ د تیه په بیدیا کښې وه چې ملک الموت ﷺ ورته د روح د قبض دپاره ورغی، نو الله ﷻ ته یې سوال وکړ چې: ای الله! ما مقدسې ځمکې (بیت المقدس) ته د یوې ډبرې د ګذار په اندازه ورنږدې کړې، نو الله ﷻ یې قبر په ځمکه کښې ور وچلاوه آن تر دې چې هلته ورنږدې شو، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «فَلَوْ كُنْتُ ثَمَّ لَأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ عِنْدَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ»[3] یعنې نو که زه هلته وی نو ما به تاسو ته د موسی ﷺ قبر درښودلی وی چې د لارې ترخنګ د شګو د سرې غونډۍ په نزد موقعیت لري.

اکثرو علماوو کرامو دریم قول ته ترجیح ورکړې ده او د رئیس المفسرین (عبدالله بن عباس رضي الله عنهما) څخه هم همدا روایت شوی دی[4]، نو مونږ هم ترجیح ورکوو، والله ﷻ أعلم.

## تنکیر څه معنی؟

٥ـ په ﴿ قَالَ نَكِّرُوا لَهَا عَرْشَهَا ﴾ کښې د ﴿ نَكِّرُوا ﴾ کلمه د تنکیر څخه اشتقاقه شوې ده، د یو شي تنکیر د هغه د داسې ګرځولو څخه عبارت دي چې ونه پېژاندل شي[5]، یعنې: سلیمان ﷺ خپلو نوکرانو ته امر وکړ چې د بلقیسې دپاره خپل تخت نااَشنا وګرځوئ.

اما دا خبره چې د نااَشنا ګرځولو طریقه یې څه وه؟ نو په هغې کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[6]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: څه شیان پکښې زیات او څه پکښې کم کړئ.

(١) المحرر الوجيز ج١٢ ص١١٣
(٢) تفسير ابن كثير ج٣ ص٣٦٤؛ تفسير البغوي ج٣ ص٤٢٠؛ تفسير الطبري ج١٩ ص١٦٤
(٣) صحيح البخاري ج١ ص١٧٨؛ صحيح مسلم ج٢ ص٢٦٧
(٤) الدر المنثور ج٦ ص٣٦١
(٥) مفردات الراغب ص٥٢٧
(٦) زاد المسير ج٦ ص٧٢

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د سرو زرو او سپینو زرو په منځکښې د مکانونو تبدیلي وکړئ.
ج: یاقوت د زبرجدو ځای ته یوسئ او ـبالعکس ـ د زبرجدو په ځای یاقوت ولګوئ.
د: ځينې غمي او جواهر ترې وباسئ.
هـ: د رنګونو تبدیلیو ته پکښې صورت ورکړئ، مثلاً سره برخه یې شنه کړئ او شنې برخې ته یې سور یا بل رنګ ورکړئ، او داسې نور.

## سوال جواب

ځ ـ که څوک وایي چې: وړاندې ـ په دوهمه توضیح کښې ـ تېر شوه چې د تخت په را انتقال کښې د سلیمان ﷺ مطلب دا وه چې بلقیسې ته یوه معجزه هم ورڅرګنده کړي، نو پوښتنه دا ده چې د دې مطلب د حاصلولو دپاره خو په کار وه چې په تخت کښې ورته تغیر نه وی واقع شوی، ته به وایې چې هغې نه ویل شوي وی چې: ای بلقیسې! که څه هم تا خپل تخت د ډېر کلک حفاظت لاندې پرېښې وه مګر الله ﷻ په خارق العاده توګه دغه دی دلته حاضر کړی دی؟
مونږ وایو چې: سلیمان ﷺ ته رسیدلي وه چې بلقیسه ډېره بې عقله ده[۱]، نو هغه ﷺ وغوښتل چې د معجزې په څرګندولو باندې علاوه د هغې د عقل اندازه هم واخلي، ترڅو همدغه اندازه په خبرو اترو کښې مراعات کړي، لکه چې مونږ ته خپل پیغمبر ﷺ توصیه کړې ده چې: «أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ»[۲] یعني خلک په خپلو ـ خپلو درجو کښې بنکته کړئ، د هر چا سره مناسب ـ مناسب چال چلند وکړئ.
نو که بالفرض تخت ورته ناآشنا نه وی ګرځولی شوی او هو بهو ورښودلی شوی وی، نو سلیمان ﷺ نه به خپل دغه مطلب په لاس نه وی ورغلی.

﴿فَلَمَّا جَاءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُ هُوَ ۚ وَأُوتِينَا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴿٤٢﴾ وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ كَافِرِينَ ﴿٤٣﴾ قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ ۖ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً وَكَشَفَتْ عَن سَاقَيْهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ۗ قَالَتْ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٤﴾﴾

[۴۲] نو کله چې بلقیسه (شام ته) ورغله (ورسېده او خپل تخت یې هلته ولید) نو (هغې ته) وویلی شوه چې: ایا ستا تخت دغه ډول (تخت) دی؟ (چې ستا په وړاندې ایښی دی).
هغې وویلې: لکه چې یقیناً دا همدا دی، او (بیا یې وویلې چې) مونږ ته د دې معجزې څخه لا وړاندې (د سلیمان ﷺ په نبوت باندې) علم راکړی شوی وه او مونږ (لا پخوا ورته) غاړې اېښودونکې وو (نو د دغې معجزې ښودلو ته چندان ضرورت نه وه).

(۱) تفسیر الطبري ج۱۹ ص۱۶۶
(۲) سنن ابي داود ج۴ ص۳۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۳] او (ای پیغمبره!) بلقیسه (د توحید د عقیدې څخه) دې خبرې منعه کړې وه چې هغې د الله ﷻ څخه په غیر (د باطلو معبودانو) عبادت کاوه، (او کله يې چې د توحید عقیده خپله کړه نو څکه یې پټه وساتله چې) یقیناً هغه د کافر قوم څخه وه (هغوی ورباندې د هرې خوا احاطه کړې وه).

[۴۴] (بیا) بلقیسې ته وویلی شوه چې: (د سلیمان ﷺ د ملاقات دپاره هغې) ماڼۍ ته ننوځه، نو کله يې چې ماڼۍ ولیدله نو د ژورو اوبو ګومان يې ورباندې وکړ، او د خپلو پنډیو (لېنړیو) څخه يې (خپلې پایڅې) لوڅې کړې (بډ وهلې). (په دغه وخت کښې ورته) سلیمان ﷺ وویلې چې: یقیناً دا (اوبه نه دي پایڅې مه بډ وهه، بلکې) د ښیښو څخه (جوړه کړې شوې) ښویه اوچته ماڼۍ ده.

بلقیسې وویلې چې: ای ربه! یقیناً ما په خپل ځان باندې ظلم کړی وه (چې کفر مې غوره کړی وه) او (ای ربه!) ما د سلیمان ﷺ سره (د) الله ﷻ (اطاعت) ته غاړه ایښې ده، چې د ټولو عالمونو رب (او پالونکی) دی (زه د غیر الله معبودانو څخه بېزاري اعلانوم).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د هغه وخت څینو مهمو ټکو ته اشاره شوې ده په کوم کښې چې بلقیسه د سلیمان ﷺ حضور ته ورغله، نو حاصل يې داسې راځېږي:

نو کله چې نوموړې شام ته ورسېده نو هلته لاندې کیفیات پېښ شوه:

۱ـ هغې ته خپل تخت ور وښودل شو او بیا ورته وویلی شوه چې: ای بلقیسې! ایا ستا تخت د همدغه تخت غوندې دی؟ هغې جواب ورکړ چې:

الف: لکه چې زما تخت یقیناً همدا دی.

ب: د دې معجزې ښودلو ته اړتیا نه وه، مونږ ته خو د دې څخه وړاندې د سلیمان ﷺ په نبوت باندې علم راکړی شوی وه، او د ده ﷺ اطاعت ته غاړې اېښودونکې وو.

یا په بل عبارت: مونږ لا د هُدهُد په خارق العاده لیک سره پوه شوې وو چې سلیمان ﷺ عادي پاچا نه دی، بیا زمونږ علم د جرګې په سبب لا پسې قوي شو.

۲ـ ای پیغمبره! بلقیسه د توحید د عقیدې د څرګندولو څخه دې خبرې منعه کړې وه چې هغې د ډېر پخوا څخه د باطلو معبودانو عبادت کاوه او د غیر الله په کفري عبادت کښې ډېره کلکه او راسخه وه، او کله يې چې د توحید عقیده خپله کړه نو بیا يې څکه د خپل ځان سره پټه وساتله چې نوموړې د کافر قوم ملکه او مشره وه (شاوخوا يې کفارو احاطه کړې وه) نو هغې ونه شو کړی چې د هغوی په منځکښې يې د خپل علم اظهار او څرګندونه کړې وی، نو د خپل علم د ښکاره کولو دپاره يې همدغه موقع غنیمت وګڼله او خپل اعتراف يې اعلان کړ.

۳ـ نوموړې ملکه علیها الرحمة هلته د یوه بل امتحان سره هم مخامخه شوه هغه دا چې:

الف: د سلیمان ﷺ سره د خبرو اترو دپاره هغې ماڼۍ ته ورروانه کړی شوه کومه چې د ښیښې څخه جوړه وه او لاندې ترې اوبه بهېدلې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: څرنګه چې د بېر صافه او ډېره شفافه وه او په کتلو سره نه څرګندېدله، فقط هغه او به څرګندېدلې کېدې چې ترې لاندې بهېدلې، نو نوموړې علیها الرحمة ورباندې ګومان وکړ چې دا ژورې اوبه دي، او دواړه پايڅې يې راپورته کړې او خپلې دواړه پونډۍ يې څرګندې کړې، تا به ويل چې په اوبو کښې ګډېږي.

ج: په دغه وخت کښې ورته پخپله سلیمان ﷺ ووېلې چې: دا اوبه نه دي بلکې دا يو ځای دی چې د ښیښو څخه جوړ کړی شوی دی او شفاف دی، په سترګو نه برېښي.

د: د دې خبرې په اورېدلو سره ملکې علیها الرحمة يو ځل بيا خپل اعتراف اعلان کړ چې:

اول: ای زما ربه! ما تر اوسه پورې په خپل ځان ظلم کړی وه چې کفر مې غوره کړی وه او ستا څخه پرته مې په ناحقه د بوتانو عبادت کاوه، ماته د پخوانيو کفرياتو عفوه وکړه، زه ورباندې پښېمانه يم.

دوهم: ما د سلیمان ﷺ سره د الله ﷻ دين ته غاړه اېښې ده چې د ټولو عالمونو رب او تربيه کوونکی دی، زه د ټولو باطلو معبودانو څخه بېزاره يم.

## توضیحات

۱_ که څه هم جائزه ده چې د ﴿ قِيلَ أَهَـٰكَذَا عَرْشُكِ ﴾، ﴿ قِيلَ لَهَا ٱدْخُلِى ٱلصَّرْحَ ﴾ دواړو جملو قائل پخپله سلیمان ﷺ وي، مګر بهتره داسې برېښي چې سلیمان ﷺ به دلته پخپله او بالذات قائل نه وي بلکې د خپلو نوکرانو په سلسله به يې د هغې غوږ ته دواړه جملې رسولې وي، که نه نو د ﴿ قَالَ إِنَّهُۥ صَرْحٌ ﴾ په شان به د ﴿ قِيلَ، قِيلَ ﴾ په عوض "قَالَ، قَالَ" را حکايت شوې وې.

## سوال جواب

۲_ که څوک وايي چې: په دې کښې څه حکمت وه چې بلقيس ته د شک په توګه پوښتنه راجع کړی شوه چې: ﴿ أَهَـٰكَذَا عَرْشُكِ ﴾ ايا ستا تخت د دغه تخت غوندې دی، او داسې ورته ونه ويلی شوه چې: "أهذا عَرْشُكِ" ايا ستا تخت دغه دی؟

مونږ وايو چې: په هغې جمله کښې د يو پلوه د جواب تلقين صورت نيوه او امتحان د منځه ته، او د بله پلوه يې د اشارې په توګه په تهديد باندې دلالت کاوه او سلیمان ﷺ نه غوښتل چې په خپل کور کښې د انقياد څخه وروسته خپله مېلمنه ملکه تهديده کړي.

نو لکه څنګه چې هغې ته ذکره شوې پوښتنه د شک په توګه راجع کړی شوې وه نو هغې هم د شک په توګه جوابه کړه چې: ﴿ كَأَنَّهُۥ هُوَ ﴾ لکه چې زما تخت همدا دی، نه يې په قطعي توګه اثبات وکړ چې: هو! زما تخت همدا دی، او نه يې ترې په قطعي توګه انکار وکړ چې دا نه دی، ترڅو د سوال سره موافق جواب ورکړي او د خپلې هوښيارۍ څرګندونه وکړي.

## يو نحوي تحليل

۳_ که څه هم مفسرينو کرامو[۱] په دې مقام کښې متعدد تحليلونه کړي مګر کوم تحليل چې مونږ

---

[۱] اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۱۶۹؛ البحر المحيط ج۸ ص۲۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته متبادر څرګند شوی دی او تفسیر مو وروباندې بناء کړی دی هغه په لاندې تکو باندې ولاړ دی(١).

الف: د ﴿ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴾ کلمات د بلقیسې د کلام تتمه ده چې مونږ ته حکایت شوې ده، او د ﴿ مِن قَبْلِهَا ﴾ ضمیر هغې معجزې ته راجع دی په کومې باندې چې مقام دلالت کوي، چې هغه په خارق العاده توګه د تخت د انتقال معجزه ده.

ته به وایې چې بلقیس ویلي وي چې مونږ خو دغې (د تخت د انتقال) معجزې ته محتاج نه وو، مونږ ته خو لا پخوا علم راکړی شوی وه چې سلیمان ﷺ په حقه پیغمبر دی او مونږ خو لا ورته پخوا غاړه اېښودونکي وو.

ب: په ﴿ وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "صَدَّهَا" دپاره د ﴿ مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ جمله د مصدر په تاویل سره فاعل واقع شوې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ كَٰفِرِينَ ﴾ جمله په هغې وجې باندې دلالت کوي د کومې د کبله چې بلقیسې د خپلې عقیدې اظهار نه شو کولی.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! بلقیسې د کفر لاره غوره کړې وه او د الله ﷻ څخه په غیر یې د لمر عبادت کاوه، همدغې کفري عبادت نوموړې منعه کړې وه چې په توحید باندې معتقده شي، خو کله چې هغې ته د سلیمان ﷺ دعوت ورسېد او د هُدهُد معجزه یې ولیده او هم ورته خپل لېږلي شوي وفد (جرګې) حالات بیان کړه نو دکفري عقیدې څخه واووښته او سلیمان ﷺ یې د یو حقاني پیغمبر په صفت ومانه، خو د خپلې دغې سمې عقیدې اظهار یې څخه ونه شو کړی چې نوموړې د کافر قوم څخه وه او شاوخوا یې کفارو احاطه کړې وه، خو مجردې چې د هغوی د منځه ووتله او سلیمان ﷺ ته ورسېدله نو د خپلې عقیدې اظهار یې وکړ چې: ﴿ وَأُوتِينَا ٱلْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ﴾ او مونږ ته لا د دې معجزې څخه پخوا علم راکړی شوی وه او مونږ لا پخوا سلیمان ﷺ ته منقاد وو.

## د ځو لغاتو معناوې

۴ـ په دې مقام کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ ٱدْخُلِى ٱلصَّرْحَ ﴾ کښې د "صَرْح" کلمه اوچتې ښایسته کوټې ته وضعه شوې ده(٢).

ب: په ﴿ حَسِبَتْهُ لُجَّةً ﴾ کښې د ﴿ لُجَّةً ﴾ کلمه د ژورو اوبو معنی ورکوي چې د ژوروالي اندازه یې سړي ته نه معلومېږي چې څومره به وي(٣).

ج: په ﴿ إِنَّهُۥ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ ﴾ کښې د ﴿ مُّمَرَّدٌ ﴾ کلمه د هغو حرفونو څخه اصلاً جوړه شوې ده د کومو څخه چې د ﴿ مَّرِيدًا ﴾ کلمې جوړښت موندلی دی، چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:١١٧] ایت

(١) تفسیر ابي السعود ج۶ ص٢٨٨

(٢) مفردات الراغب ص٢٨٧

(٣) لسان العرب ج٢ ص٣۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لاندې تحلیله کړې ده. خو په دې مقام کښې وړاندې وراضافه کوو چې ذکره شوې کلمه دلته د ښویه کړی شوې معنی ورکوې چې زیګوالی په کښې شتون ونه لري[۱].

نو د معنی حاصل بې داسې راځېژې چې:

د ملاقات دپاره سلیمان ﷺ په داسې یوه ماڼۍ کښې ناست وه چې د ښیښو څخه جوړه شوې وه او هغې ته د ورتګ لاره هم د ښیښې وه، د دغه ښیښې د ساختمان څخه لاندې د اوبو حوض وه چې ماهیان پکښې ګرځېدل راګرځېدل، نو بلقیسې ته وویلی شوه چې: ذکرې شوې ماڼۍ ته د ملاقات دپاره ورشه او هلته د سلیمان ﷺ سره خبرې اترې وکړه.

کله چې بلقیسه د ماڼۍ په لاره روانه شوه نو د ډېر شفافیت دکبله یې ښیښې هیڅ په نظر ورنغلې او سترګې یې په ماهیانو باندې ولګېدې چې په اوبو کښې ګرځېده راګرځېده، د همدې کبله یې خپلې پایڅې راپورته کړې او خپلې دواړه پونډۍ یې څرګندې کړې. لکه چې څوک په اوبو ګډېږي.

په همدغه وخت کښې وړاندې سلیمان ﷺ غږ وکړ چې خپلې پایڅې مه اوچتوه، ستا په وړاندې اوبه نشته چې لمدې شي، بلکې دغه کوټه (ماڼۍ) چې ته ور روانه یې دا یوه ښایسته اوچته ښویه کوټه او ماڼۍ ده چې د ډېرو زیاتو شفافو ښیښو څخه جوړه شوې ده چې تاته په نظر نه درځي.

## یادونه

۵ـ سلیمان ﷺ د تخت په خارق العاده انتقال سره بلقیسې ته خپل نبوت په اثبات ورساوه، او د ذکرې شوې د ښیښې ماڼۍ په وربښودلو سره یې هغې ته د خپل سلطنت او پاچاهۍ قوت ور ولید کړ، د همدې کبله هغې په ﴿ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ﴾ باندې اواز پورته کړ چې: ای ربه! ما تر اوسه په خپل ځان ظلم کړی وه.

## سوالونه او جوابونه

۶ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې تاوېږي راتاوېږي:

الف: بلقیس خو یو ځل وړاندې خپله مسلماني څرګنده کړې وه، لکه چې وړاندې په دړېمه توضیح کښې یې پوره شرحه تېره شوه ـ والحمد لله ﷻ ـ، نو په هغې باندې څه باعث وه چې د ﴿ وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَلَمِينَ ﴾ په ویلو سره یې یو ځل بیا پرې خپل اعتراف څرګند کړ؟

مونږ وایو چې:

اول: څه لرې نه ده چې هغه اعتراف به یې د سلیمان ﷺ په غیاب کښې د نوکرانو په وړاندې کړی وي، او دا اعتراف خو یې د سلیمان ﷺ په حضور کښې وکړ.

دوهم: په هغه اعتراف کښې څه اجمال وه چې مونږ غاړې اینښودونکي وو، خو په دې اعتراف کښې یې ذکر شوی اجمال پورته کړ چې ما د سلیمان ﷺ د نبوت په قبول سره د الله ﷻ ارشاداتو ته

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۲۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غاړه ایښې ده چې د ټولو عالمونو تربیه کوونکی (پالونکی) دی، او د بوتانو یا نورو مخلوقاتو عبادت باطل دی چې هیڅ یې د لاسه پوره نه دي.

ب: ایا سلیمان ﷺ په پای کښې ذکره شوې نوې مؤمنه بي بي خپله منکوحه وګرځوله او که څنګه؟ ځینې مفسرین کرام وايي[۱] چې د ذکرې شوې قیصې اکثره روایات د اسرائیلیاتو څخه دي چې دروغ او رښتیا یې ګډوډ دي، نو څکه مونږ د دغه سوال په هکله په لاندې لنډ جواب باندې اکتفاء کوو:

اول: ځینو علماوو کرامو د بلقیسې د نکاح په باره کښې توقف غوره کړی دی او وايي چې: "انتهى أمرها إلى قولها ﴿ وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَٰنَ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾"[۲] یعني الله ﷻ د هغې قیصه په ذکره شوې جمله باندې ختمه کړې ده، نو مونږ هم د همدغه څخه وړاندې نه تېرېږو.

دوهم: ځینې نور وايي چې سلیمان ﷺ بل چاته په نکاح باندې ورکړه.

دریم: بالآخره مشهوره دا ده چې نوموړې یې په خپلو ازواجو مطهراتو (ببیانو) کښې شامله کړه. که څوک غواړي چې د ذکر شوې اجمالي جواب تفصیل ولولي نو ځینو اوږدو کتابونو[۳] ته دې مراجعه وکړي.

ج: د سلیمان ﷺ د حکومت دوره څو کاله وه؟

مونږ وايو: لکه چې د الله ﷻ په توفیق د [النمل:۱۶] ایت لاندې لیکلی شوي دي، سلیمان ﷺ په دولس کلنۍ یا دیارلس کلنۍ کښې د خپل پلار (داوُد ﷺ) د حکومت خلیفه او نائب جوړ شو.

د ده ﷺ ټول عمر دري پنځوس (۵۳) کاله وه او څلوېښت (۴۰) کاله یې حکومت کړی دی، چې د حکومت په پنځه ویشتم (۲۵) کال د بلقیسې بي بي علیها الرحمة حکومت د سلیمان ﷺ په حکومت کښې شامل او مدغم شو[۴].

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴿٤٥﴾ قَالَ يَٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِٱلسَّيِّئَةِ قَبْلَ ٱلْحَسَنَةِ ۖ لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٤٦﴾ قَالُوا۟ ٱطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ ۚ قَالَ طَٰٓئِرُكُمْ عِندَ ٱللَّهِ ۖ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُونَ ﴿٤٧﴾ وَكَانَ فِى ٱلْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿٤٨﴾ قَالُوا۟ تَقَاسَمُوا۟ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ أَهْلِهِۦ

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۶۶
(۲) روح المعاني ج۱۹ ص۲۱
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۲۰؛ الدر المنثور ج۶ ص۳۶۸؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۱۶
(۴) تفسیر المظهري ج۷ ص۱۲۰؛ روح المعاني ج۱۹ ص۱۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ﴿٤٩﴾ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ﴿٥٠﴾ فَٱنظُرۡ
كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ مَكۡرِهِمۡ أَنَّا دَمَّرۡنَٰهُمۡ وَقَوۡمَهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٥١﴾ فَتِلۡكَ بُيُوتُهُمۡ خَاوِيَةَۢ
بِمَا ظَلَمُوٓاْۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٥٢﴾ وَأَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
وَكَانُواْ يَتَّقُونَ ﴿٥٣﴾ ﴾

[۴۵] او يقيناً مونږ ثموديانو ته د دوی (خواخوږی نسبي) ورور (د پيغمبر په حيث) وراستولی وه چې: تاسو يوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ (او شريک ورسره يکښې مه دروئ).

نو ناڅاپه ثموديان دوه ډلې شوه (ځينو ايمان راووړ او ځيني کافر پاتې شوه) چې (يو تربله) يې سره جګړې کولې (هرې ډلې خپل ځانونه په حقه ګڼل او کافرې ډلې د عذاب غوښتنه هم تکراروله).

[۴۶] صالح ﷺ (ورته يو ځل بيا) وويلې چې: ای زما قومه! تاسو د خوښۍ (توبې او رحمت ځخه وړاندې ولې په بدۍ (عذاب) سره عجله کوئ؟ (چې هله ژر شه عذاب راباندې رانبکته کړه).

تاسو د الله ﷻ ځخه ولې مغفرت نه غواړئ، شايد چې په تاسو باندې (د الله ﷻ د پلوه) رحم (او مهرباني) وکړی شي.

[۴۷] ثموديانو وويلې چې: (ای صالحه!) مونږ په تاباندې او په هغو کسانو باندې چې ستا سره دي بدفالي نيسو (چې ستاسو د کبله راباندې افتونه نازل شوه او په اختلاف اخته شوو).

صالح ﷺ (په جواب کښې) وويلې چې: ستاسو بدفالي د الله ﷻ په نزد ده (چې د کفري عقيدې د امله يې درباندې درنازله کړې ده)، بلکې تاسو يو قوم ياست چې (د الله ﷻ د پلوه) ازمويل کېږئ (چې ايمان راوړئ او که په کفر باندې کلکېږئ).

[۴۸] او (د ثموديانو) په ښار (الحجر) کښې نهه کسان وه چې په ځمکه کښې به يې فسادونه کول او اصلاح به يې (يکښې هيڅکله) نه کوله.

[۴۹] دوی (نهه کسېزې مفسدې ډلې) وويلې چې: تاسو (په خپلو منځو کښې) په الله ﷻ باندې د هر کلک سوګندونه وکړئ چې ضرور هرومرو به مونږ صالح ﷺ او د ده اهل (ټبر) د شپې (په چپاو کښې) هلاک کړو، بيا به هرومرو ضرور د صالح ﷺ وارث ته ووايو چې مونږ د صالح ﷺ د ټبر هلاکت ځای ته نه ياستو حاضر شوي (او نه مو د ده هلاکت ځای ليدلی دی)، او يقيناً مونږ د رښتيا ويونکو ځخه ياستو (مونږ دروغ نه وايو).

[۵۰] (مفسدانو سوګندونه وکړه) او (د صالح ﷺ د وژلو دپاره) يې پټ تدبير وکړ پټ تدبير کول، او (بالمقابل) مونږ هم (د دوی د هلاکت دپاره) پټ تدبير وکړ پټ تدبير کول حال دا چې مفسدانو درباندې شعور (علم) نه درلود.

[۵۱] نو (ای پيغمبره!) ته وګوره چې د هغوی د پټ تدبير عاقبت ځنګه شو؟ (عاقبت يې داسې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شو) چې مونږ هغوی او د هغوی قوم (ثمودیان) ټول هلاک کړ.

[٥٢] نو دغه دي د ثمودیانو کورونه (او ښارونه) چې د هغوی د ظلم (او کفر) د کبله خالي پراته دي. یقیناً په دغه (بیان) کښې د داسې قوم دپاره چې (په عبرت اخستلو باندې) پوهېږي (ډېره لویه) قدرتي نښه پرته ده.

[٥٣] او (بالمقابل) مونږ (صالح ﷺ او) هغو کسانو ته نجات ورکړ کومو چې (ورباندې) ایمان راوړی وه او دوی وه چې (د کفریاتو څخه) یې پرهېز ګاري کوله.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې په اثبات ورسېده چې بلقیسې علیها الرحمة د معجزاتو په لیدلو سره ایمان راووړ او په اسلام مشرفه شوه، په دې ایتونو کښې د عنادیانو ثمودیانو ذکر نازل شوی دی چې د معجزاتو تر اغېز لاندې واقع نه شوه حتی چې د معجزې اوښه یې هم قتله کړه او د صالح د وژلو دسیسه یې هم جوړه کړه. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې د صالح ﷺ او د ثمودیانو د قیصې ځینې نکات قرائت کړه چې:

١ـ مونږ هغوی ته د هغوی خواخوږي ورور صالح ﷺ د پیغمبر په حیث ورلېږلی وه، چې خپل نبوت یې ورته په معجزاتو سره په اثبات ورساوه او داسې دعوت یې ورکړ کوم چې په ټولو پیغمبرانو کښې عمومیت لري، هغه دا چې: ای زما قومیانو! تاسو د کفریاتو څخه لاس واخلئ او یوازې او یوازې د الله ﷻ عبادت وکړئ، چې همدغه ستاسو دپاره د نجات سبب جوړېدلی شي او بس.

٢ـ نو لکه څنګه چې ستا د دعوت په هکله ستا اُمت په دوه وو ډلو باندې ویشلی شوی دی، همدارنګه د صالح ﷺ د دعوت په مقابل کښې هم ثمودیان په دوه وو ډلو باندې تقسیم شوه، او دواړه ډلې په خپلو منځو کښې په جګړه باندې اخته شوې.

یوې ډلې په صالح ﷺ باندې ایمان راووړ او په اسلام سره مشرفه شوه، او بله ډله په کفر باندې په دې خبره کلکه شوه چې: مونږ په حقه یاستو او صالح ﷺ د پیغمبر په صفت نه پېژنو.

٣ـ صالح ﷺ دغه کافره ډله د الله ﷻ د عذابه وډار کړه چې تاسو ورسره په عبادت کښې شریکان مه دروئ که نه نو که اراده یې وشي ډېر سخت عذاب به درباندې درنازل کړي.

خو هغوی د صالح ﷺ ذکر شوی تهدید په تمسخر سره رد کړ چې هله ژر شه هغه عذاب په مونږ باندې رانازل کړه په کوم باندې چې ته مونږ تهدیدوې.

٤ـ خو صالح ﷺ یو خل بیا هغوی ته نصیحت وکړ چې: ای زما قومه! تاسو ولې د خوښۍ او خوشالۍ څخه وړاندې په سختۍ سره عجله کوئ، او د توبې څخه وړاندې ولې د عذاب غوښتنه کوئ؟ الله ﷻ خو د عذاب د نازلولو څخه ناتوانه نه دی، تاسو ته په کار وه چې په ایمان راوړلو باندې مو عجله کړې وی، د عذاب د نزول په وخت کښې توبه نه قبلېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تاسو ولې د الله ﷻ څخه د خپلو پخوانیو کفریاتو مغفرت نه غواړئ؟ که تاسو دا کار وکړئ او ایمان راوړئ نو شاید چې په تاسو باندې رحم او مهرباني وکړی شي، او که نه نو هرو مرو به تاسو د سخت عذاب سره مخامخ شئ.

۵ـ ثمودیانو صالح ﷺ مخاطب کړ چې: ای صالحه! مونږ په تاباندې بدفالي نیسو، همدا ستا د دعوت د کبله په مونږ کښې بې اتفاقي او اختلاف پیدا شو، پخوا خو مونږ ټول په یوه عقیده باندې متفق وه، خو همدا تا خینې خلک واړول او په خپل قوم کښې دې نا ارامي واچوله، نو په عوض د دې چې مونږ ته نصحیت وکړې خپل ځان او خپلو ملګرو ته دې نصیحت وکړه چې مونږ د یو پلوه پخواني اتفاق ته بېرته ورتاو شو او د بله پلوه د دغو سختیو څخه نجات مونده کړو په کومو باندې چې اخته یاستو.

۶ـ صالح ﷺ هغوی ته جواب ورکړ چې: تاسو په مونږ باندې بدفالي مه نیسئ، مونږ تاسو ته خیر راوړی دی، ستاسو بدفالي د الله ﷻ په نزد ده، چې تاسو د خپل رب ﷻ په وحدانیت باندې قائل نه یاست، که تاسو د کفریاتو څخه لاس واخلئ نو هم به اختلاف د منځه لاړ شي او هم به د هغو مشکلاتو څخه نجات مونده کړئ په کوم باندې چې اخته یاست، د وچکالۍ په عوض به درباندې بارانونه نازل شي. بلکې تاسو یو قوم یاست چې د امتحان لاندې نیولی شوي یاست، دنیا د امتحان ځای دی نو تاسو هم کله په سختیو او کله په اسائیو باندې ازمویل کېږئ.

۷ـ ای پیغمبره! ثمودیان ټول مفسدان وه خو په دوی کښې نهه کسه داسې وه چې په خمکه کښې به یې په دوامداره توګه فساد اچاوه او بالکل یې اصلاح نه کوله، د هغوی د فساد اچولو یو مثال دا دی چې:

یو ځلې دغه نهه کسان راغونډ شوه او یو تربله یې سره داسې وویلې چې: تاسو د الله ﷻ په نامه سوګندونه یاد کړئ چې په الله ﷻ مو دې سوګند وي چې هرومرو او خامخا به مونږ د شپې د پلوه د صالح په کور باندې ور وځېږو او پخپله صالح ﷺ او د ده ټول ټبر به هلاک کړو، یو به هم راڅخه ژوندی پاتې نه شي.

بیا به مونږ د صالح ﷺ وارث ته هرومرو ووایو چې: مونږ دغه مقتل (وژلځای) ته هیڅ ورغلي نه یاستو او مونږ هیڅ خبر نه یاستو چې دا کار به چا کړی وي، مونږ نه صالح ﷺ وژلی دی او نه مو د ده ټبر سټ کړی دی، یقیناً مونږ په دغې خبره کښې رښتیا ویونکي یاستو، زمونږ په خبره باور وکړه.

نو کله چې مونږ ذکره شوې نقشه عملي کړه، د صالح ﷺ د شره به نجات مونده کړو.

۸ـ ای پیغمبره! ثمودیانو د صالح ﷺ او د ده ﷺ د ټبر د سټ کولو پټ تدبیر جوړ کړ، د هر کلک تدبیر چې په سوګندونو باندې یې قوي کړ، یا په بل عبارت: ټولو د ذکرې شوې نقشې په عملي کولو باندې سوګندونه یاد کړه.

خو بالمقابل مونږ هم د دوی د هلاک دپاره د هر کلک پټ تدبیر ونیوه چې بالکل یې هیڅا مخنیوی نه شو کولی، چې هغوی ته ورروان وه مګر هغوی درباندې شعور نه درلود او نه یې درباندې باور کاوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۹_ نو ته وګوره! چې د دوارو تدبیرونو نتیجه څه شوه؟ نتیجه یې دا شوه چې:
الف: مونږ ذکره شوي قسم خوره ډله او د دوی ټول قوم پوپنا کړ او د ځرمې مو سټ کړه.
ب: نو د ثمودیانو کورونه او ښارونه دغه دي د دوی د کفر او ظلم د کبله خالي او کنډوالې او ویجاړ پراته دي، ته به وایې چې دلته به هیڅ ژوند نه وي کړی.
ج: ای پیغمبره! یقینًا د ثمودیانو په پوپنا کولو کښې د داسې قوم دپاره ډېره غټه قدرتي نښه پرته ده کوم چې پوهېږي او څه هوښیاري ولري. نو په کار دي چې ستا قوم د همدغو پوهو او هوښیارو خلکو ځنځه وګرځي او د عبرت درس ترې زده کړي.
د: دا د یو پلوه، او د بله پلوه مونږ د صالح ﷺ په شمول هغو کسانو ته نجات ورکړ کومو چې په صالح ﷺ باندې ایمان راوړی وه او په دوامداره توګه یې د کفریاتو ځنځه پرهېز کاوه.

## توضیحات

۱_ په ﴿ فَإِذَا هُمْ فَرِيقَانِ يَخْتَصِمُونَ ﴾ کښې د ﴿ فَرِيقَانِ ﴾ کلمه په دوه وو ډلو باندې دلالت کوي چې یوه ډله هغه کسان دي کومو چې په صالح ﷺ باندې ایمان راوړی وه او بله ډله هغه کسان دي کوم چې په خپل کفر باندې کلک پاتې وه.
الله ﷻ د دغو دوارو ډلو جګړه (سوال جواب) په [الأعراف:۷۵] ایت کښې نازل کړی دی، هیله ده چې همله وکتل شي.

## د "سَيِّئَة، حَسَنَة" معناوې

۲_ په ﴿ لِمَ تَسْتَعْجِلُونَ بِالسَّيِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ ﴾ کښې د "سَيِّئَة، حَسَنَة" دوارو کلمو معناوې خو واضحه دي، مګر په دې مقام کښې "سَيِّئَة" د عذاب ځنځه عبارت ده او "حَسَنَة" د رحمة او توبې معنی ورکوي[1].
دا د یو پلوه، او د بله پلوه صالح ﷺ ذکر شوی نصیحت خپل قوم ته د هغوی د غوښتنې په جواب کښې کړی وه چې: ﴿ يَٰصَٰلِحُ ٱئْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [الإعراف:۷۷] یعنې: ای صالحه! که ته رښتیا د پیغمبرانو د جملې ځنځه یې نو مونږ ته هغه عذاب راوله (راباندې نازل یې کړه) په کوم باندې چې ته مونږ ډاروې.
نو د معنی حاصل به یې داسې راوځېږي چې: ای زما قومه! تاسو د الله ﷻ ځنځه په توبه تائب کېدلو سره ولې عافیت او رحمت نه غواړئ چې د کفر په ادامې سره ترې د عذاب نزول غواړئ، تاسو ته په کار دي چې په توبې سره عجله وکړئ چې وخت یې درځنځه فوت نه شي او د عذاب په نزول سره عجله ونه کړئ، الله ﷻ خو د عذاب د نازلولو ځنځه څه عاجز نه دی.
په دې باندې علاوه، په ذکر شوي نصیحت سره د ثمودیانو هغه خبره رد کړی شوې ده کومه به

(۱) تفسير الطبري ج۱۹ ص۱۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې هغوی په خپلو منځو کښې کوله چې: "إِنْ وَقَعَ إِيْعَادُهُ ثُبْنَا حِينَئِذٍ"[1] يعني كه د صالح ﷺ د ډارولو عذاب رښتيا واقع شو نو په همغه وخت كښې به توبه وباسو.

## يو صرفي تحليل

٣ـ په ﴿ قَالُواْ ٱطَّيَّرْنَا بِكَ ﴾ کښې د ﴿ ٱطَّيَّرْنَا ﴾ کلمه په اصل کښې "تَطَيَّرْنَا" وه، نو کله چې د "ت" توری په "ط" باندې بدل او په بله "ط" کښې مدغم شو، نو په ساکن سره د کلمې شروع صورت ونیوه، چې دا کار په عربي ژبه کښې صرفي محال دی، نو ځکه د وصل همزه ورزیاته کړی شوه نو "اِطَّيَّرْنَا" ترې جوړه شوه، خو څرنګه چې په ایت کښې د ﴿ قَالُوا ﴾ د کلمې پسې متصله نازله شوې ده نو ذکره شوې د وصل همزه د تلفظ څخه لوېدلې ده او په لیک کښې پاتې ده.

نو ذکره شوې کلمه اصلاً د "تَطَيُّرْ" څخه اشتقاقه شوې ده چې په مرغانو باندې د فال نیولو معنی ورکوي، چې شرحه يې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف: ١٣١] ايت لاندې تېره شوې ده.

## رَهْط څه معنی؟

٤ـ په ﴿ وَكَانَ فِي ٱلْمَدِينَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ ﴾ کښې د ﴿ رَهْط ﴾ کلمه د هغه عدد دپاره وضعه شوې ده کوم چې د درېوو څخه تر لسو پورې او یا دا وو څخه ترلسو پورې وي[2]، او د "نَفَر" د کلمې اطلاق په هغه عدد باندې کېږي کوم چې د درېوو څخه نيولی آن تر نهو پورې رسېږي[3].

په دې مقام کښې د ﴿ رَهْط ﴾ د کلمې څخه هغه اشخاص مطلب دي کوم چې په قوم کښې مخور او مالدار خلک وه او د فساد خورولو څخه په غير يې بل کار نه وه[4]. د همدې ډلې څه وضاحت د [الشعراء: ١٥١] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد الله ﷻ.

## دا څه صيغه ده؟

٥ـ په ﴿ قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ تَقَاسَمُوا ﴾ کلمه دوه احتماله درلودلی شي[5]:

الف: چې دا (د تفاعل د باب څخه) د ماضي صيغه وګڼله شي او د ﴿ قَالُوا ﴾ د ضمير څخه حال واقع شي. نو په دې احتمال سره به د ﴿ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥ ﴾ الآية د ﴿ قَالُوا ﴾ دپاره مقوله وګرځوله شي.

يعني دغې مفسدې ډلې په داسې حال کښې وويلې چې په خپلو منځو کښې يې يو تربله کلک سوګندونه کړي وه، چې زمونږ دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې هرو مرو او ضرور به مونږ داسې او هغسې کارونه وکړو.

---

[1] روح المعاني ج١٩ ص٢١١
[2] تفسير الكشاف ج٣ ص٣٧٢
[3] تفسير ابي السعود ج٦ ص٢٩٠
[4] المحرر الوجيز ج١٢ ص١١٨
[5] اللباب في علوم الكتاب ج١٥ ص١٧٨

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: چې دا د نوموړي باب څخه د امر صيغه شي. نو په دې احتمال سره به ﴿ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ ﴾ الآية، د ﴿ قَالُوا ﴾ دپاره مقوله جوړه شي، او حاصل به يې داسې راوخېژي چې مفسدې ډلې وويلې چې په خپلو منځو کښې په الله ﷻ باندې کلک سوګندونه وکړئ چې هرومرو او ضرور به دغسې او هغسې وکړو. او بيا يې خپله همدغه ويل شوې خبره عملي کړه او سوګندونه يې وکړه (پلان يې طرحه کړ) خو الله ﷻ شنډ وګرځاوه.

د مفسدانو ډلې ذکر شوی پلان په هغه وخت کښې طرحه کړه چې کله يې د معجزې اوښه قتله کړه او د صالح ﷺ د پلوه هغوی په عذاب سره تهديد شوه، چې په دنيا کښې ستاسو فقط درې ورځې ژوند پاتې دی او بس[1]. نو هغوی قصد وکړ چې صالح ﷺ او د ده ﷺ ټبر ټول شهيدان کړي، چې که مونږ مړه کېږو نو ته خو به راڅخه هم ژوندي پاتې نه شې او نه به راڅخه په دنيا کښې ستا ټبر ژوند وکړي.

## يادوني

۶_ په دې مقام کښې د لاندې مطالبو تذکر او يادونه په کار ده:

الف: د ﴿ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا ﴾ په اړه مونږ د الله ﷻ په توفيق د [آل عمران:۵۴] لاندې د "مَكْر" کلمه توضيح کړې ده چې د پټ تدبير دپاره وضعه شوې ده، خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

د مفسدانو پټ تدبير دا وه چې د صالح ﷺ د وژلو دپاره د يوې غټې ډبرې ترشنګ پټ کيناستل، خو الله ﷻ ورباندې همدغه ډبره په بل مخ چپه کړه او ټول ترې لاندې ووژل شوه[2]، او يا دا چې په غيبي توګه په ډبرو باندې وويشتل شوه چې دوی څوک نه ليده خو د پرښتو د پلوه رجم کړی شوه[3].

ب: د ﴿ أَنَّا دَمَّرۡنَٰهُمۡ وَقَوۡمَهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴾ څخه څرګندېږي چې د مفسدې ډلې د هلاک عذاب او د نورو ثموديانو د هلاک عذاب جدا_جدا وه، نو د مفسدانو د هلاک عذاب خو لږ وړاندې ذکر شو او د نورو ثموديانو د هلاک عذاب په درېوو نومونو باندې ياد شوی دی، چې شرحه او تطبيق يې د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:۷۸] ايت لاندې تېر شوي دي چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو.

﴿ وَلُوطًا إِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهِۦٓ أَتَأۡتُونَ ٱلۡفَٰحِشَةَ وَأَنتُمۡ تُبۡصِرُونَ ۝٥٤ أَئِنَّكُمۡ لَتَأۡتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهۡوَةٗ مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ۝٥٥ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوۡمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخۡرِجُوٓاْ ءَالَ لُوطٖ مِّن قَرۡيَتِكُمۡۖ إِنَّهُمۡ أُنَاسٞ يَتَطَهَّرُونَ ۝٥٦ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَهۡلَهُۥٓ إِلَّا

(۱) تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۶۸
(۲) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۲۱۵
(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۴۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱمْرَأَتَهُۥ قَدَّرْنَٰهَا مِنَ ٱلْغَٰبِرِينَ ﴿۵۷﴾ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ﴿۵۸﴾

[۵۴] او (مونږ) لوط ﷺ (خپل قوم ته د پیغمبر په حیث لېږلی وه)، کله چې هغه ﷺ خپل قوم ته وویلې چې: ایا تاسو ډېر بې شرمه کار ته په داسې حال ورتګ کوئ چې تاسو (یو تربله) لیدنه کوئ (یو بل ته ګورئ).

[۵۵] ایا یقینًا تاسو د شهوت راني د حیثه بې د زنانه وو څخه سړیو (نارینه وو) ته ورتګ کوئ؟ بلکې تاسو یو قوم یاست چې ناپوهي کوئ (په جهل کښې اخته یاست).

[۵۶] نو د لوط ﷺ د قوم جواب (بل) نه وه مګر دا چې (یو تربله یې سره) وویلې چې: د لوط ﷺ تبر د خپل کلي (ښار) څخه وباسئ یقینًا دوی داسې خلک دي چې (خپل خانونه) پاک ساتي، (مونږ ورته پلیت بریښنو).

[۵۷] نو مونږ لوط ﷺ او د ده ﷺ ټبر ته نجات ورکړ، مګر د ده ﷺ مېرمنې ته (مو نجات ورنه کړ) څکه چې هغه مونږ (په خپل ازلي علم کښې) د پاتې کېدونکو جملې څخه مقدره کړې وه (چې د همدوی سره یو ځای هلاکه شوه).

[۵۸] او مونږ د لوط ﷺ په قوم باندې (د کُرت کاڼو) باران ووراوه باران ورول، نو ډېر بد وه د ډارولو شوو (د ډېرو) باران (چې وریاندې مو ورنازل کړ).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د عنادي کفارو یوه بل مثال ته اشاره شوې ده چې د معجزاتو تر اغېز لاندې واقع نه شوه او په نتیجه کښې یې اراده وکړه چې خپل پیغمبر د وطنه وشړي. نو حاصل یې داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د عبرت اخستلو دپاره د عنادي کفارو یو بل مثال هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ او مونږ لوط ﷺ هم خپل قوم ته د پیغمبر په حیث ورلېږلی وه، چې په معجزاتو سره یې ورته خپل رسالت په اثبات ورساوه او بیا یې ورته وویلې چې:

الف: ای زما قومه! تاسو خو په کفر باندې علاوه د نورو بې شرمه کارونو هم مرتکب یاست، نو د الله ﷻ څخه وډار شئ، په ماباندې ایمان راوړئ او د بې شرمه کارونو څخه لاس واخلئ.

ب: ایا تاسو بې حیا او ډېر بدکار ته په داسې حال کښې ورتګ کوئ چې تاسو یو بل ته په خپلو سترګو ګورئ (دا څومره بې حیا او څومره بد کار دی)؟

ج: هغه دا چې تاسو زنانه پرېږدئ او په عوض یې سړیو (نارینه وو) ته د شهوت د کبله ورتګ کوئ، یا په بل عبارت: تاسو په شهوت راني کښې د شهوت پرستۍ د امله د زنانه وو په عوض نارینه استعمالوئ.

د: ایا دغسې کار چرته کوم څناور او څاروي کړي دي؟ بلکې تاسو جاهل او ناپوه قوم یاست چې د څناورو او څارویو څخه زیات بې شعوره او بې علمه یاست.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ د ډېر جر او بحث او ډېرو هلو ځلو څخه وروسته لوط علیه السلام ته خپل قوم بل جواب ورنه کړ مګر همدا چې دوی ټولو په یوه خوله وویلې چې:

الف: یوازې لوط علیه السلام نه بلکې د ده علیه السلام ټول ټبر د خپل کلي او ښار څخه وباسئ؛ د ده دعوتي وینارو څخه نور مونږ پوزو ته رسیدلي یاستو، خو نومړي د خپل دعوت او نصیحت څخه لاس نه اخلي.

ب: ځکه د ده او د ده د ټبر ویستل ضروري دي چې دوی زمونږ عمل ته د پلیت لقب ورکوي، دوی ته مونږ پلیت او ناپاک برېښو. یا په بل عبارت: دوی داسې خلک دي چې پاکي خوښوي او د پلیتۍ څخه ځانونه ساتي، نو دوی ته په کار دي چې (د دوی په عقیده) د پلیتانو د ښاره ووځي او چرته خپلو ځانونو ته د پاکانو ښار او قریه وګوري.

۳ـ ای پیغمبره! مونږ د لوط علیه السلام د قوم نقشه سرچپه کړه، چې لوط علیه السلام ته او د ده علیه السلام ټول ټبر ته مو نجات ورکړ او د ذکر شوي قوم بنیاد مو وویست. یا په بل عبارت: لوط علیه السلام د خپل ټبر سره په ښار کښې پاتې شو او هغوی ترې په مرګ باندې وویستل شوه.

هو! د لوط علیه السلام څخه مو یوازې د ده مېرمنې ته نجات ورنه کړ او دا ځکه چې مونږ په خپل ازلي علم کښې مقرره کړې وه چې هغه به په عذاب کښې د پاتې کېدونکو څخه وي، چې دا هم کافره وه او د هغوی ملګرې وه.

د ذکر شوي قوم د پوپنا کولو عذاب دا وه چې مونږ وورباندې امتیازي باران وکړ او د اوبو د څاڅکو په عوض مو وورباندې کرت کاڼي وورول او ښار مو وورباندې سرچپه وګرځاوه.

نو د ډارول شوي قوم عذاب ډېر بد عذاب وه چې د کرت کاڼو د باران څخه عبارت وه، چې برسېره په بنیاد ویستلو باندې سپکونکی او تحقیر کوونکی هم وه.

## توضیحات

۱ـ په ﴿وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ﴾ کښې د ﴿تُبْصِرُونَ﴾ کلمه په لاندې معناوو سره تفسیره شوې ده[۱]:

الف: دا کلمه د هغه "بصر" څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د "بَصِیرَة" معنی ورکوي او مونږ ترې د زړه په سترګو تعبیر کوو. یعنې ایا تاسو دغه بې شرمه کار ته ورتګ کوئ حال دا چې تاسو په خپلو زړونو کښې پوهېږئ چې نارینه د دې کار دپاره نه دي پیدا شوي او هم په دې کار باندې ستاسو څخه پخوا بل قوم نه دی اخته شوی.

ب: دا د هغه "بصر" څخه مشتقه ده کوم چې د سر د سترګو دپاره وضعه شوی دی. یعنې تاسو دغه لوی عصیان مرتکب یاست حال دا چې تاسو د پخوانیو عاصیانو عاقبتونه په خپلو سترګو ګورئ چې کورونه او ښارونه یې کنډوالې پراته دي، او تاسو پوهېږئ چې د هغوی د هلاکت وجه بل شی نه وه بې د دې چې د پیغمبرانو دعوت یې نه قبلاوه.

ج: یا دا چې تاسو دغه کار ته په داسې حال باندې ورتګ کوئ چې یو بل ته ګورئ، یو د بل څخه

(۱) روح المعاني ج۱ ص۲۱۶؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه شرمېږئ او په مجالسو کښې ورته اقدام کوئ.

مونږ ته په دې مقام کښې دريم تفسير د لاندې وجوهو د کبله بهتر برېښي:

اول: په لومړنيو دواړو تفسيرونو باندې يوه پوښتنه صورت نيسي هغه دا چې: ذکر شوي قوم ته په دواړو تفسيرونو کښې څه علم اثبات شوی دی حال دا چې د ﴿ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴾ جمله د هغوی په جهل باندې دلالت کوي.

که څه هم د دې پوښتنې جواب دا دی چې دغه جمله داسې معنی کړو: بلکې تاسو يو قوم ياست چې خپل خانونه مو په ناپوهۍ باندې اچولي دي، لکه چې تاسو بالکل نه پوهېږئ چې د دې کار دپاره زنانه پيدا کړې شوي دي او يا تاسو د پخوانيو په کنډوالو کورونو باندې نه ياست ورغلي؛ مګر په دريم تفسير سره نه سوال صورت نيسي او نه جواب ته اړتيا شته.

دوهم: په همدې دريم تفسير باندې د مجاهد عليه الرحمة او قتادة عليه الرحمة په نزد دا ايت دلالت کوي[1] چې: ﴿ وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ﴾ [العنکبوت:۲۹] يعني: او تاسو په خپلو مجالسو کښې بې شرمه او ناآشنا کار ته ورتګ کوئ، يو د بل څخه نه شرمېږئ، د نارينه وو سره په ډاګه او علني توګه هغه کار اجراء کوئ د کوم دپاره چې دوی نه دي پيدا کړې شوي.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د لوط ﷺ قوم د وخت مسلمانان د پاکانو په نامه وبلل چې: ﴿ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴾ يعني يقيناً دوی داسې خلک دي چې ډېره پاکي خوښوي او ډېر پاکيزه دي، نو پوښتنه دا ده چې د دغه يادښت وجه څه وه؟

مونږ وايو چې: لوط ﷺ هغوی ته ويلي وه چې: ﴿ يَٰقَوْمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطْهَرُ لَكُمْ ﴾ [هود:۷۸] يعني اې زما قومه! دغه ستاسو مېرمنې چې په کورونو کښې ناستې دي زما لورګانې دي، چې ستاسو دپاره ډېرې زياتې پاکيزه دي، نو زما د کور محاصره پرېږدئ او هلته مراجعه وکړئ.

هغوی په ذکرې شوې جملې سره د لوط ﷺ نصيحت رد کړ او يو تربله يې سره وويلې چې: دغه خلک خپلو خانونو ته (په خپل ګومان) د پاکانو لقب ورکوي او مونږ ته پليتان وايي، دوی د خپله وطنه وشړئ چې دا د ناپاکانو وطن دی، دوی دې بل کوم پاک وطن ته لاړ شي؛ يا په بل عبارت: هغوی د استهزاء په توګه مسلمانانو ته ذکر شوی د پاکانو لقب ورکړی وه.

## يادونه

۳ـ د ذکر شوي قيصې پوره شرحه په وړاندېنيو سورتونو (لکه د هود سورت، د الحجر سورت او داسې نورو) کښې تېره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ، نو هيله ده چې د زياتو معلوماتو دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

[1] تفسير البغوي ج۳ ص۴۶۶؛ الدر المنثور ج۶ ص۴۶۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ ۗ ءَآللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾

**[۵۹]** (ای پیغمبره!) ووایه چې: ټولې ستاینې الله ﷻ پورې مختصې دي، او (ووایه چې) د الله ﷻ په هغو بندګانو باندې دې سلام وي کوم چې همده ﷻ (د نبوت دپاره) غوره کړي دي، (او هم ووایه چې): ایا الله ﷻ بهتر دی (او) که هغه بوتان (بهتر دي) کوم چې کفار يې ورسره (په عبادت کښې) شريکوي؟

## ارتباط او توضيحات

د سورت د پیل څخه تردې ځایه پورې الله ﷻ د څینو پیغمبرانو د حالاتو څه نکاتو ته اشاره کړې ده، چې د یو پلوه پکښې د نبي کريم ﷺ تسلي او ډاډينه نغښتې ده او د بله پلوه کفارو ته د اشارې په توګه اخطار ورکړی شوی دی.

په دغه ایت کښې اوس الله ﷻ د خپل پیغمبر توجه څه تفریعاتو ته اړولې ده هغه دا چې:

۱ـ ته به وایې چې نبي کريم ﷺ ته ويل شوي وي چې:

الف: الله ﷻ موسی ؑ ته نبوت ورکړی وه او په داسې معجزاتو باندې يې تائيد کړی وه چې فرعونيان ورباندې قلبًا قانع وه خو محض د عناد د کبله ترې انکاري وه، نو وګوره چې عاقبت او نتيجه يې څنګه شوه.

همدارنګه تاته هم الله ﷻ نبوت او معجزات درکړی دی خو کفار ترې په عنادي توګه انکاري دي، نو که دوی د خپل عنادي انکار څخه لاس وانخلي او ايمان رانه وړي، څه لرې نه ده چې د فرعونيانو غوندې په دردناک عذاب باندې اخته شي.

ب: داوُد ؑ ته الله ﷻ په علم او نبوت باندې علاوه پاچاهي هم ورکړې وه، تاته هم الله ﷻ علم او نبوت درکړی دی خو لږ څه وخت وروسته به مستحکم حکومت هم درپېرزو کړي.

ج: سلیمان ؑ ته الله ﷻ علم، نبوت او داسې حکومت ورکړی وه چې په مرغانو او پیريانو باندې هم چلېده، د همدې کبله يې بلقيسې ته اخطار ورکړ چې تسليم شه، که نه نو داسې لښکر در روان دی چې ته به يې هيڅ مقابله ونه شې کړی او د ذلت په حال کښې به مو د ښار څخه وباسي.

ای پیغمبره! په نژدې وخت کښې به تاته هم الله ﷻ داسې پياوړی حکومت درکړي چې د مکې مشرکان به يې د مقابلې توان ونه لري، او د ذلت سره به يې مخامخ کړي، نو دوی ته په کار دي چې د بلقيسې په شان تسليم شي او د ذلت څخه خپل ځانونه بچ کړي.

د: صالح ؑ او د ده تبر ته د وخت کفارو د وژلو نقشه جوړه کړه خو په نتيجه کښې يې دسيسه ناکامه شوه او په هغه کوهي کښې پخپله همدوی وغورځېدل کوم يې چې د مسلمانانو دپاره کنودلی وه، او ټول د ځرمې هلاک شوه.

نو ته مه غمژن کېږه او مه وارخطا کېږه، همداسې د وژلو نقشه به ستا دپاره هم د کفارو د پلوه ترتيب کړی شي او کور به دې تر محاصرې لاندې واقع شي، خو په نتيجه کښې به ته نجات مونده کړې او د همدوی د هلاکت ډېره به کېښودله شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵. لوط ﷺ ته هم د خپل وخت کفارو د وطنه د شړلو مشوره کړې وه چې هجرت ته یې مجبور کړي، خو نتیجه یې د همدوی په مرګ باندې تمامه شوه، او ټولو مسلمانانو ترې نجات مونده کړ. همدارنګه به په نن سبا کښې ستا قوم هم تا هجرت کولو ته مجبور کړي خو ستا د شړلو څخه وروسته به دوی په مکه معظمه کښې ډېر لږ وخت درنګ وکړي، یا په بل عبارت: ستا د ویستلو سره سم به د غزاګانو لړۍ پیل شي او کفار به څوک ووژل شي او څوک به د اسارت او بندیتوب لاندې واقع شي.

نو ای پیغمبره! ذکرې شوې اشارې په پام کښې ونیسه، او ﴿ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ﴾ د الله ﷻ حمد او ثنا ووایه او د ده ﷻ د نعمتونو شکرګذاري وکړه.

## د الله ﷻ غوره بندګان څوک دي؟

۲ـ د هغو کسانو په تشخیص کښې، چې په ﴿ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصۡطَفَىٰٓ ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده، علماء کرامو متعدد اقوال کړي دي[1] خو د وراندې شرحې د ایتونو د سیاق او سباق څخه څرګندېږي، چې په ایت شریف کښې به په قصدي توګه ټول پیغمبران مراد وي او په ضمني توګه به پکښې د ټولو پیغمبرانو اجابتي أمتیان هم شامل وي.

نو د ایت شریف خلاصه به داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! د ذکرو شوو پنځو پیغمبرانو څه حالاتو ته د مثال په توګه اشاره شوې ده، که نه نو په ټولو پیغمبرانو باندې داسې حالات ورغلي دي چې ستا دپاره پکښې زیاته تسلي او ډاډینه پرته ده، نو ته د الله ﷻ د حمد څخه وروسته په هغوی ټولو باندې سلام واستوه چې د مشکلاتو په ګاللو کښې ستا اندېوالان دي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ ءَآللَّهُ خَيۡرٌ أَمَّا يُشۡرِكُونَ ﴾ کښې د ﴿ خَيۡرٌ ﴾ کلمه په تفضیلي معنی باندې دلالت کوي، ته به وایې چې د بوتانو په عبادت کښې هم څه خیر شته دی او د موازنې په شکل پوښتنه مطرحه شوې ده، چې هوښیاران دې موازنه وکړي چې الله ﷻ د عبادت د حیثه بهتر دی او که بوتان؛ حال دا چې د بوتانو په عبادت کښې هیڅ خیر نشته بلکې سراسري شر دی؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال جواب د [الفرقان:۱۵] ایت لاندې تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، خو دومره وربانديې اضافه کوو چې: په محاورو کښې د مقابل جانب د تخجیل او تهدید دپاره کله-کله د ﴿ خَيۡرٌ ﴾ کلمه د موازنې په شکل استعمالېږي حال دا چې هلته موازنه محاله وي[2]، نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ایا کفار نه شرمېږي چې مخلوق د خالق سره برابره وي، حال دا چې الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی او هر شی یې پیدا کړي دي، حتی همدغه بوتان یې هم پیدا کړي دي چې مشرکان یې ورسره په

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۷۶؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۶۹؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۲۵

(۲) روح المعاني ج۲۰ ص۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عبادت کښې شريکان ګڼي او داسې تمه ورته کوي لکه چې مؤمنان يې الله ﷻ ته کوي، ابا د
موازنه صحت لري؟

لنډه دا چې په دغه مقام کښې استفهام د بوتانو څخه د کلي خيريت په نفي کولو باندې دلالت
کوي، نه په جزئي اثبات باندې.

## د ايت شريف ارشاد

۴ـ ذکر شوی ايت شريف مونږ ته د اشارې په توګه ارشاد کوي چې خپل کلامونه او مجالس د
الله ﷻ په حمد (ثناء) او په پيغمبرانو باندې په درود ويلو سره پيل کړو.

په همدې ارشاد باندې سلفو صالحينو عمل کړی دی[1]، او الله ﷻ ته اُميد دی چې همدا ارشاد
به د قيامت تر ورځې پورې معمول پاتې شي.

## يوه تبصره

۵ـ ذکر شوی ايت شريف په لاندې مطالبو باندې دلالت کوي:

الف: د الله ﷻ حمد او ثناء ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ﴾.

ب: په پيغمبرانو باندې د سلام او درود استول ﴿ وَسَلَـٰمٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَىٰٓ ﴾.

ج: الله ﷻ ته د ټولو عيبونو او نواقصو څخه د پاکۍ نسبت کول ﴿ ءَآللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾.

همدغه درېګوني مطالب په هغو درېوو ايتونو کښې هم په غير مرتب شکل سره اداء شوي دي په
کومو باندې چې مسلمانان خپلو مجالسو ته اختتام ورکوي، هغه دا چې: ﴿ سُبْحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا
يَصِفُونَ ۝ وَسَلَـٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ۝ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾ [الصافات: ۱۸۰ـ ۱۸۲].

نو که څوک کلام يا مجلس داسې شروع کړي چې:

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّهِ وَسَلَامٌ عَلَى عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَى؛ أَمَّا بَعْدُ....

او بيا داسې اختتام ورکړي چې: ﴿ سُبْحَـٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَـٰمٌ عَلَى
ٱلْمُرْسَلِينَ ۝ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴾. نو د دواړو ايتونو اشارې ارشادات به معمول ګرځي.

لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ.
سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ
وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ.

د الله ﷻ په توفيق نولسمه سپاره ختمه شوه او مونږ د خپل رب ﷻ څخه نور توفيق هم غواړو
جمعه، ۱۴۲۰/۱۰/۷ هـ ق = ۱۳۷۸/۱۰/۲۴ هـ ش = ۲۰۰۰/۱/۱۴ م.

(۱) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۲۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَأَنزَلَ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَنۢبَتْنَا بِهِۦ حَدَآئِقَ
ذَاتَ بَهْجَةٍ مَّا كَانَ لَكُمْ أَن تُنۢبِتُوا۟ شَجَرَهَآ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَعْدِلُونَ
﴿٦٠﴾ أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ
ٱلْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا
دَعَاهُ وَيَكْشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَآءَ ٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ
﴿٦٢﴾ أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِى ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ وَمَن يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦٓ ۗ
أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ تَعَٰلَى ٱللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٣﴾ أَمَّن يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَمَن يَرْزُقُكُم
مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ ٱللَّهِ ۚ قُلْ هَاتُوا۟ بُرْهَٰنَكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٦٤﴾

[۶۰] بلکې: ایا هغه اقدس ذات ﷻ (بهتر دی) چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړې دي او ستاسو دپاره یې د اسمان (د طرف) څخه (د باران) اوبه نازلې کړې دي، نو موږ په دې اوبو سره د ښایست والا باغونه رازرغونوو چې تاسو ته (ممکنه) نه ده چې ونې یې رازرغونې کړئ (یا هغه بوتان بهتر دي چې تاسو یې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریکان او برخوال ګرځوئ)؟

ایا د الله ﷻ سره (په حقه بل) معبود شته؟

بلکې مشرکان یو قوم دی چې (د حق څخه) تېری کوي (او بوتان ورسره په عبادت کښې برابروي).

[۶۱] بلکې ایا هغه اقدس ذات ﷻ (بهتر دی) چې ځمکه یې قرار (استوګنځای) ګرځولې ده، او په منځونو کښې یې (ورته) ویالې بهولې دي، او (همدې) ځمکې ته یې (د غرونو) میخونه پیدا کړي دي (چې اضطراري حرکت یې وریاندې دربدلی دی)، او (بالآخره) د دوه وو دریابونو په منځکښې یې پرده پیدا کړې (درولې) ده (چې اوبه یې سره نه ګډېږي. یا هغه بوتان بهتر دي چې تاسو یې د الله ﷻ سره په عبادت کښې برخوال ګرځوئ؟).

ایا د الله ﷻ سره (په حقه بل) معبود شته؟

بلکې د مشرکانو اکثریت نه پوهېږي (یا یې خپل ځانونه په ناپوهۍ اچولي دي).

[۶۲] بلکې ایا هغه اقدس ذات ﷻ (بهتر دی) چې د اړویستلی شوي کس اجابت کوي کله یې چې (خپلې اړتیا ته) وبلي، او چې (د بدحالي سرې) بدحالي لرې کوي، او (بالآخره) چې تاسو په ځمکه کښې خلیفګان ګرځوي (یا هغه بوتان بهتر دي چې تاسو یې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریکان جوړوئ؟).

ډېر لږ وخت تاسو پند اخلئ (چې سمدستي یې بېرته هېروئ).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۳] بلکې ایا هغه اقدس ذات ﷻ (بهتر دی چې عبادت يې وکړی شي) چې تاسو ته د وچې او دریاب په تیارو کښې لاربنودانه کوي، او (بالآخره) هغه اقدس ذات ﷻ چې د خپل رحمت (باران) په مخکښې زیری ورکوونکي بادونه چلوي (چې وريځې خوروي). (یا هغه بوتان د عبادت د حیثه بهتر دي چې تاسو يې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریکان ګرځوئ؟).

ایا د الله ﷻ سره (په حقه بل) معبود شته؟

الله ﷻ د هغو بوتانو څخه ډېر اوچت (پاک) دی چې مشرکان يې ورسره (په عبادت کښې) شریکوي.

[۶۴] بلکې ایا هغه اقدس ذات ﷻ (بهتر دی چې عبادت يې وکړی شي) چې اول ځل يې مخلوق پیدا کړی دی (او) بیا يې (د قیامت په ورځ) پیدا کول (بېرته اعاده کوي)، او (بالآخره) هغه اقدس ذات ﷻ چې تاسو ته د اسمان او ځمکې څخه روزي درکوي. (یا هغه بوتان بهتر دي چې عبادت يې وکړی شي چې تاسو يې د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریکان ګرځوئ؟).

(ای پیغمبره! مشرکانو ته) ووایه چې: تاسو (د خپلو باطلو معبودانو په اثبات باندې) قاطع دلیل راوړئ که تاسو یاست (په خپله خبره کښې) رښتیا ویونکي (لکه چې ما د خپلې خبرې په اثبات باندې ذکر شوي دلایل قائم کړه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنې ایت مضمون تعقیب شوی دی او کفارو ته د تخجیل او تهدید دپاره څو پوښتنې متوجه کړی شوې دي چې د مطلب خلاصه يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د وړاندېنۍ توبیخي پوښتنې په تعقیب مشرکانو ته لاندې نورې پوښتنې هم متوجه کړه ترڅو دوی په خپلې غلطۍ باندې ښه پوره تنبیه کړی شي او د شرکي عقیدې څخه لاس واخلي:

**لومړۍ پوښتنه:**

۱ـ ای مشرکانو! ایا هغه څوک چې لاندې کارونه کوي او یا يې کړي دي بهتر دی چې عبادت يې وکړی شي او که هغه بوتان په عبادت سره بهتر دي کومو ته چې تاسو د الله ﷻ سره په عبادت کښې اشتراک ورکوئ؟، کارونه دا دي:

الف: هغه څوک چې اسمانونه او ځمکې يې پیدا کړي دي.

ب: هغه اقدس ذات چې د اسمانه يې اوبه (باران) نازل کړی دی. نو:

اول: په دغو باراني اوبو باندې مونږ ستاسو دپاره ډېرې ښایسته باغچې او باغونه زرغونوو، او همدارنګه دغه باراني اوبه ستاسو دپاره د غرونو په سرونو کښې د واورې په شکل او د ځمکې په ګېډه کښې د حوضونو په ډول زخیره کوو چې تاسو ترې دوامداره استفاده وکړئ.

دوهم: تاسو ته دا ممکنه نه ده چې یا د اسمان څخه کوم څاڅکی باران رانازل کړئ او یا د ځمکې څخه کوم بوټی یا ونه رازرغونه کړئ (راوټوکوئ).

ای مشرکانو! کله چې د الله ﷻ سره د ذکرو شوو کارونو په سرته رسولو کښې بل شی نه اشتراک

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اېن خلق (۲۰) او نه اشتراک درلودلی شي، نو ایا د الله ﷻ سره په عبادت کښې بل معبود شته؟ ایا بل شی لري او نه لري چې په عبادت کښې ورسره اشتراک ولري؟
استحقاق لري چې په عبادت کښې ورسره اشتراک ولري؟
اې پیغمبره! مشرکان ښه پوهېږي چې د ذکر شوې پوښتنې جواب منفي دی خو دوی داسې یو قوم دی چې مخلوق د خالق سره برابروي او د سمې سیده لارې څخه عدول او تجاوز کوي.

دوهمه پوښتنه:

۲ـ اې مشرکانو! ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې دغه لاندې کارونه کوي بهتر دی چې عبادت یې وکړی شي او که هغه بوتان بهتر دي چې تاسو ورته په عبادت کښې اشتراک ورکوئ؟ کارونه دا دي:
الف: هغه اقدس ذات ﷻ چې ځمکه یې د ژوندیو شیانو دپاره قرار ځای ګرځولې ده، چې د ټولو دپاره د سکونت قابله ده او په دریابونو کښې یې د ډوبېدلو څخه ساتلې ده.
ب: هغه اقدس ذات چې د ځمکې په منځونو کښې یې ځای په ځای ویالې او سیندونه بهولي دي چې تاسو ترې د ټیوبلونو او کاریزونو په ذریعه استفاده کوئ.
ج: هغه اقدس ذات ﷻ چې د ځمکې دپاره یې غرونه د میخونو په شان د اضطراري حرکت د منځه وړونکي ګرځولي دی، او په دې باندې علاوه د واورې د حفاظت مراکز یې هم جوړ کړي دي.
د: هغه اقدس ذات ﷻ چې د دوه وو دریابونو ترمنځ یې مانع پیدا کړی دی، چې دواړه دریابونه (یو خوږ او بل تریو) څنګ په څنګ بهېږي خو د دې سره-سره چې دواړه یو جنس دي د یوه اوبه د بل د اوبو سره نه ګډېږي چې دواړه خلط ملط شي.
په دې باندې علاوه په داخل د ځمکه کښې یې هم خوږې او تروې اوبه پیدا کړي دي خو ځینې د ځینو نورو سره ګډېدلو ته نه پرېږدي چې خوږوالی یې بالکل د منځه لاړ شي او یا ترې خوږ لوړې اوبه جوړې شي.
اې مشرکانو! کله چې د الله ﷻ سره د ذکرو شوو کارونو په سرته رسولو کښې هیڅ شی اشتراک نه لري نو ایا د ده ﷻ سره بل شی په عبادت (معبودیت) کښې اشتراک درلودلی شي.
اې پیغمبره! مشرکان ښه پوهېږي چې د ذکرو شوو پوښتنو جواب منفي دی خو د دوی اکثریت نه پوهېږي او د ړانده تقلید پیرو دي. هو! اقلیت یې پوهېږي چې الله ﷻ واحد او لا شریک دی خو هغوی عناد نیولي دي او د قبول څخه یې انکار کوي.

دریمه پوښتنه:

۳ـ ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې دغه لاندې کارونه کوي په عبادت کولو سره بهتر دی او که د هغو باطلو معبودانو عبادت ګټور دی چې د دغو کارونو څخه عاجز دي او هیڅ شی یې د لاسه پوره نه دی؟ کارونه دا دي:
الف: هغه اقدس ذات ﷻ چې کله د ډېر ضرورت خاوند یې وبلي او سوال ورته وکړي نو د هغه اجابت کوي او ضرورت یې پوره کوي البته کله یې چې ورته اراده وشي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: همدارنګه د انسان څخه بدي او سختي لري کوي او یا یې د سختیو او مشکلاتو څخه بچ کوي.
ج: بالآخره هغه اقدس ذات ﷻ چې تاسو په ځمکه کښې خلیفه ګان ګرځوي او چې پلرونه مو مړه کېږي نو د توالد او تناسل په سلسله تاسو د هغوی په ځای باندې دروي، او هم ستاسو په ځای ستاسو اولاده خلیفه ګان جوړوي.

ای مشرکانو! ایا د الله ﷻ سره بل معبود د عبادت استحقاق لري؟

ای پیغمبره! دغه خبره ډېره زیاته څرګنده ده چې هر څوک چې په دغسې تکویناتو کښې څه توان نه لري هغه د عبادت مستحق هم نه دی، خو مشرکان ډېر لږ وخت د دغه نصیحت اورېدل کوي چې سمدستي یې بېرته هېرېږي او ترې غافل کېږي.

## څلورمه پوښتنه:

۴_ ایا هغه څوک چې لاندې کارونه کوي د معبودیت استحقاق لري او که هغه بوتان د معبودیت مستحق دي چې د دغو کارونو څخه عاجز او ناتوانه دي؟ کارونه دا دي:

الف: هغه اقدس ذات ﷻ چې تاسو ته په وچه او لمده (بیدیا او دریاب) کښې د لارې ښودانه کوي، د ورځې په غرونو او نورو آلاتو او اسبابو سره او د شپې په ستورو سره.

ب: هغه اقدس ذات ﷻ چې د باران په وړاندې بادونه چلوي او تاسو ته زیری درکوي چې دغه دی باران درروان دی. یا په بل عبارت: په بادونو سره وریځې خوروي او تاسو ته د باران تمه درکوي.

ای مشرکانو! کله چې بوتان د الله ﷻ سره نه د لارې په ښودانه کښې او نه د بادونو په چلولو کښې اشتراک لري، نو ایا د ده ﷻ سره په عبادت کښې اشتراک درلودی شي؟ نو ایا د ده ﷻ سره په حقه بل معبود شته؟

ای پیغمبره! بې شکه الله ﷻ د شریک څخه پاک او منزه دی او د هغو نسبتونو څخه ډېر زیات اوچت دی چې کفار یې ورته کوي، او خپل ځانونه یې ورباندې کفر ته ویستلي دي.

## پنځمه پوښتنه:

۵_ ایا هغه اقدس ذات ﷻ چې لاندې کارونه کوي د عبادت د حیثه بهتر دی او که هغه بوتان بهتر دي کوم چې دغه کارونه یو هم نه شي کولی؟ هغه دا چې:

الف: هغه اقدس ذات ﷻ چې اول خل یې ټول مخلوقات پیدا کړي دي، او د پیدا کولو سلسله یې لا روانه ده. بیا یې د اول پیدا کولو څخه وروسته بېرته فنا کوي او د قیامت په ورځ به یې دوهم خل بیا پیدا کړي.

ب: هغه اقدس ذات ﷻ چې تاسو ته د اسمان څخه په باران سره او د ځمکې څخه د نباتاتو په راټوکولو سره روزي درکوي.

ای مشرکانو! ایا د الله ﷻ سره بل په حقه معبود شته چې د ذکرو شوو کارونو کولو تمه ترې وکړی شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ ای پیغمبره! کفار (مشرکان) مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: ای مشرکانو! د کوم شي دپاره چې زه تاسو ته دعوت درکوم د هغه د اثبات دلایل خو دغه دي چې وړاندې تېر شوه، نو زه تاسو ته بې ثبوته دعوت نه درکوم.

ب: که تاسو د خپلې باطلې دعوې په هکله څه برهان او دلیل لرئ نو هلئ ژر شئ هغه راوړئ او زما په وړاندې یې کېږدئ.

ج: که تاسو ربښتیا ویونکي یاست چې الله ﷻ په عبادت کښې شریکان لري نو دلیل وړاندې قائم کړئ او که نه نو تاسو په یقیني ډول سره دروغژنان یاست.

تاسو ته په کار دي چې د دروغو څخه لاس واخلئ او زما دعوت قبول کړئ.

## توضیحات

۱_ په دې ایتونو کښې د وړاندېني ایت مضمون د پنځو پوښتنو په ضمن کښې تائید شوی دی او کفارو ته د تخجیل او توبیخ دپاره پنځه پوښتنې متوجه کړی شوې دي، خو په پنځو واړو پوښتنو کښې هغه نحوي تحلیل مقدر دی کوم چې په وړاندېني ایت کښې مذکور وه، فقط دومره فرق لري چې هلته د ﴿ أَمَّا يُشْرِكُونَ ﴾ کلمه په غیاب سره ذکره وه او دلته د مقام د غوښتنې په اثر په خطاب سره مقدره ده[1]، چې څرګندول یې په لاندې ډول سره صورت نیسي:

الف: ﴿ أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ ...... "خَيْرٌ أَمَّا تُشْرِكُونَ خَيْرٌ".

ب: ﴿ أَمَّن جَعَلَ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا ﴾ ...... "خَيْرٌ أَمَّا تُشْرِكُونَ خَيْرٌ".

ج: ﴿ أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ ﴾ ...... "خَيْرٌ أَمَّا تُشْرِكُونَ خَيْرٌ".

د: ﴿ أَمَّن يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَٰتِ ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ ﴾ ...... "خَيْرٌ أَمَّا تُشْرِكُونَ خَيْرٌ".

هـ: ﴿ أَمَّن يَبْدَؤُا ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ ...... "خَيْرٌ أَمَّا تُشْرِكُونَ خَيْرٌ".

په دې مقام کښې ځینو علماوو کرامو یو بل تحلیل هم جائز ګڼلی دی چې د معنی په حاصل کښې د اولني تحلیل سره چندان تفاوت نه لري، خو د مقدرو جملو په ظهور کښې ترې جدا دي.

د مثال په توګه د "الف" ایت مقدره جمله داسې ظاهرېږي[2] چې:

"أَمَّا تُشْرِكُونَ خَيْرٌ" ﴿ أَمَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾ ...... "خَيْرٌ".

او په همدې بانديې دې باقي نور مثالونه قیاس کړی شي.

## حَدِيقَة څه معنی؟

۲_ په ﴿ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ﴾ کښې د ﴿ حَدَآئِقَ ﴾ کلمه د "حَدِيقَة" جمعه ده چې علماوو کرامو په لاندې دولونو سره تعریفه کړې ده:

---

[1] روح المعاني ج۲۰ ص۴؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۷۶

[2] تفسیر المظهري ج۷ ص۱۲۶

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



الف: دا هغې ځمکې ته ویل کېږي کومه چې احاطه ولري، او یا په ژور ځای کښې پرته وي چې شاوخوا تري لوړې ځمکې احاطه کړې وي برابره خبره ده چې باغ وي او که نه[۱].

ب: هغه باغ د "حَدِيقَة" په نامه یادېږي کوم چې احاطه (دېوال) ولري، که دېوال یې نه درلود نو هغه ته "حَدِيقَة" نه ویل کېږي[۲].

څه لرې نه ده چې ذکره شوې کلمه به په دواړو معناوو کښې استعماله شوې وي او هرچا به د خپلو معلوماتو په رڼا کښې تعریفه کړې وي.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ بَهۡجَةٍ ﴾ کلمه د ښایست او سینګار دپاره وضعه شوې ده[۳].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: مونږ په دغو اسماني اوبو سره ښایسته باغونه او نور نباتات رازرغون کړي دي، ای مشرکانو! ایا ستاسو باطل معبودان یو څاڅکی باران رانازلولی شي او یا پرې کوم بوټی راټو کولی شي؟

## عَدل که عَدول

۲_ په ﴿ بَلۡ هُمۡ قَوۡمٞ یَعۡدِلُونَ ﴾ کښې د ﴿ یَعۡدِلُونَ ﴾ کلمه د "عَدۡل" _لکه "ضَرۡب"_ څخه اشتقاق شوې ده، او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۱] ایت لاندې لیکلي دي چې: عَدل کله د مساوات معنی ورکوي او کله د عدول (تجاوز) په معنی کښې استعمالېږي؛ په دې مقام کښې دواړه معناوې صحت لري، یعنې: مشرکان داسې قوم دی چې د حق څخه تجاوز کوي او د الله ﷻ سره خپل باطل ناتوانه معبودان برابروي.

## قرار څه معنی؟

۳_ که څه هم ځینو علماوو کرامو په ﴿ جَعَلَ ٱلۡأَرۡضَ قَرَارٗا ﴾ کښې د "قَرَار" کلمه په هغې معنی باندې تفسیره کړې ده د کومې په مقابل کښې چې اضطراب استعمالېږي[۴]، یعنې هغه اقدس ذات ﷻ چې ستاسو دپاره یې ځمکه په غرونو سره د اضطراري حرکت څخه قراره ګرځولې ده که نه نو تاسو به پکښې ژوند نه وی کړی.

مګر مونږ ته دا بهتره برېښي چې نوموړې کلمه په هغې معنی باندې تفسیره شي کومې ته چې الله ﷻ په بل ځای کښې داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ وَٱللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ بِسَاطٗا ﴾ [نوح:۱۹] یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره یې ځمکه فرش ګرځولې ده چې تاسو ورباندې ژوند وکړئ که بالفرض ټوله یې په اوبو کښې ډوبه کړې وی نو تاسو به پرې ژوند نه وی کړی.

مونږ څکه دغه معنی په دې مقام کښې غوره کړه چې په دې کښې تاسیس دی، او هغه معنی مو

(۱) لسان العرب ج۱۰ ص۳۸
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۲۰۰
(۳) لسان العرب ج۲ ص۲۱۶
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۷۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوره نه کړه کومه چې په عین ایت کښې د ﴿ وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِيَ ﴾ د جملې څخه فهمېږي چې په هغې کښې تاکید دی، او پوره واضحه ده چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

## یادونه

۴ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الفرقان: ۵۳] ایت لاندې د هغې پردې په هکله څه معلومات لیکلي دي کومه چې د دوه وو دریابونو ترمنځ واقع ده او په ﴿ وَجَعَلَ بَيْنَ ٱلْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ﴾ کښې ورته اشاره شوې ده، نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

## مُضطر څوک دی؟

۵ـ په ﴿ أَمَّن يُجِيبُ ٱلْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ ﴾ کښې د "مُضطَرّ" کلمه د اسم مفعول صیغه ده او د "اضطرار" څخه اشتقاقه شوې ده چې د مجردو مصدر یې "ضَرُورَةٌ" دی[1].

"مُضطَرّ" هغه چاته ویل کېږي چې د ټولو وسائلو څخه یې اُمید قطعه شي او هیله او اسره یې بوازې په الله ﷻ پورې انحصار مونده کړي چې د ده ﷻ څخه په غیر هیڅوک وسه نه لري چې ماته نجات راکړي، ای الله! همدا ته زما مشکلات حل کړې.

د دغه کس څخه مونږ په پښتو کښې په ار ویستلی شوي سره تعبیر کوو.

هوا! اضطرار متعدد صورتونه درلودلی شي لاندې څو مثالونه ولولې:

الف: کله- کله سړی د خارجي عواملو د کبله مضطر ګرځي لکه چې څوک د دښمن په محاصره کښې واقع شي او یا ورباندې په دریاب کښې بېړۍ طوفاني شي او داسې نور.

ب: کله-کله سړی د داخلي اسبابو د کبله د اضطرار سره مخامخ کېږي، لکه سخته لوږه او تنده، او یا لکه هغه سخت مرض چې طبیبان یې د معالجې څخه معذرت وغواړي او داسې نور.

## مطلب دا دی

۶ـ په ایت شریف کښې مطلب دا نه دی چې مضطر ته د سوال د اجابت وعده ورکړی شوې ده چې د سوال اجابت یې حتمي دی، بلکې لکه څنګه چې هر شی د الله ﷻ د ارادې پورې ارتباط لري همدارنګه د نورو د سوال اجابت هم د الله ﷻ په ارادې پورې موقوف دی. الله ﷻ فرمایي: ﴿ بَلْ إِيَّاهُ تَدْعُونَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُونَ إِلَيْهِ إِن شَآءَ ﴾ [الأنعام: ۴۱] یعنې د سخت مصیبت په حال کښې به تاسو بل چاته سوال ونه کړئ بلکې خاص الله ﷻ ته به سوال وکړئ، نو د کوم مصیبت د کبله چې تاسو ورته سوال کوئ د هغه څخه به مو خلاص کړي خو په دې شرط سره چې د هغه لرې کولو ته یې اراده وشي.

لنډه دا چې په ایت شریف کښې مطلب دا دی چې د مشکلاتو څخه د نجات په ارتباط د هر شي څخه امید قطعه کېدلی شي مګر د الله ﷻ څخه امید نه قطعه کېږي، خومره چې د اسبابو څخه نااُمیدي اضافه کېږي په هماغې اندازه الله ﷻ ته اُمید زیاتېږي او په سوال کښې اخلاص وده کوي.

---

[1] روح المعاني ج۲۰ ص۶؛ مفردات الراغب ص۳۰۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حتی د اضطرار په حال کښې دهریان کفار هم یوازې الله ﷻ ته امید کوي حال دا چې هغوی بالکل د الله ﷻ په موجودیت باندې عقیده نه لري. د همدې کبله فرعون د اضطرار په حال کښې غږ وکړ چې: ﴿ ءَامَنتُ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱلَّذِىٓ ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓا۟ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴾ [یونس: ۹۰] یعنې زه ایمان لرم چې یقیناً شان دا دې چې د عبادت لایق نه دی مګر هغه اقدس ذات دی په کوم باندې چې بني اسرائیلو ایمان راوړی دی (نو ای ربه! ماته هم نجات راکړې لکه څنګه چې دې هغوی ته نجات ورکړ).

ذکر شوی کیفیت د دې خبرې څرګند دلیل دی چې توحیدي عقیده فطري عقیده ده او هرڅوک په همدې عقیده باندې پیدا کېږي، بیا نو د ژوند په اوږدو کښې څوک په همدغې عقیدې باندې ثابت پاتې کېږي او څوک یو ډول او بل ډول کفر ته لاس اچوي خو د اضطرار په حال کښې بېرته په توحید باندې راټولېږي خو افسوس چې د اضطرار په حال کښې ایمان راوړل د الله ﷻ په نزد مقبول نه دي.

په دې مقام کښې خینو مفسرینو کرامو[1] دوه خوندورې قیصې ذکرې کړې دي چې د اضطراري حال سوال اجابت پکښې ډېر ښه منعکس شوی دی، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي مونږ د اوږدوالي کبله دلته رانقلې نه کړې.

﴿ قُل لَّا يَعْلَمُ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُ ۚ وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٦٥﴾ بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ ۚ بَلْ هُمْ فِى شَكٍّ مِّنْهَا ۖ بَلْ هُم مِّنْهَا عَمُونَ ﴿٦٦﴾ ﴾

[۶۵] (ای پیغمبره!) ووایه چې: هغه کسان کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې دي (ټول) په غیبو باندې نه پوهېږي، مګر یوازې الله ﷻ (ورباندې) پوهېږي (او بس).

او هغوی په دې هم شعور نه لري (نه پوهېږي) چې کله به (د قبرونو څخه) راپورته کړی شي (او بېرته به راژوندي کړی شي)؟.

[۶۶] بلکې د هغوی علم به د آخرت په هکله (هملته) کامل شي، بلکې هغوی ترې (په دنیا کښې) په شک کښې واقع دي، بلکې هغوی ترې (همدلته د زړه په سترګو) ړانده دي (هلته به یې سترګې ښې پوره رڼې وګرځي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې په قدرتي دلایلو سره دا په اثبات رسولی شوې ده چې په حقه معبودیت یوازې الله ﷻ پورې اختصاص لري او په دې ایتونو کښې په همدغه مطلب باندې په غیبي علم سره استدلال صورت نیولی دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په دې ایتونو کښې د مشرکانو هغه سوال هم جواب شوی دی کوم چې هغوی په وړاندېني ایت کښې د ﴿ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ د کلمې په بنیاد وړاندې کړی وه چې دغه ورځ به څه

[1] تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۷۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وخت راشي چې مونږ به پکښې د قبرونو څخه راپورته کړی شو[۱]. نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! کفارو ته د بوتانو په رد کښې او د قیامت د ورځې د قیام په هکله ووایه چې:
۱ـ هر څوک چې په اسمانونو کښې دي لکه پرښتې او هر څوک چې په ځمکه کښې دي لکه پیریان او انسانان یو هم په غیبو باندې نه پوهېږي حتی زه (چې د الله ﷻ په حقه پیغمبر یم) هم په غیبو باندې نه پوهېږم، او د قیامت د ورځې علم غیبي علم دی.

لنډه دا چې په غیبو باندې پوهېدل الله ﷻ پورې اختصاص لري، هو! که الله ﷻ اراده وکړي چې څوک په غیبو باندې پوه کړي نو دا ممکنه ده خو د قیامت غیبي علم الله ﷻ نه چاته ورکړی دی او نه به یې چاته ورکړي، زه تاسو ته یوازې هغه علوم درښودلی شم کوم چې الله ﷻ ماته راښودلي دي لکه شرعي احکام، اما د قیامت د قیام علم یې ماته نه دی راکړی.

د غیبي علم اختصاص د دې خبرې دلیل دی چې په حقه معبودیت هم په الله ﷻ پورې مختص دی، نو ستاسو باطل معبودان یو هم د الوهیت مستحق نه دي چې ستاسو اړتیاوې ورته معلومې نه دي.

لنډه دا چې: د الله ﷻ څخه په غیر ټول مخلوقات په غیبو علم نه لري او هم په دې نه پوهېږي او شعور قدرې هم نه لري چې دوی به څه وخت د قبرونو څخه راپورته کړی شي او څه وخت به بیا راژوندي کړی شي؟.

۲ـ ای پیغمبره! دغسې نه ده چې مشرکان به د قیامت د علم څخه جاهل پاتې شي بلکې د دوی علم به ورباندې په آخرت کښې کمال ته ورسېږي او پوه به شي چې د قیامت د قیام خبره حقه وه، هلته به پرې باور وکړي، بلکې نن ورځ (په دنیا کښې) د قیامت په هکله په شک کښې دي، بلکې لا د شک څخه هم زیات بدتر دي چې د زړونو سترګې یې ترې ړندې دي چې باور ورباندې نه کوي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿لَّا يَعْلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ إِلَّا ٱللَّهُ﴾ کښې د ﴿إِلَّا ٱللَّهُ﴾ کلمات منقطعه استثناء ده. یعنې په غیبو باندې د اسمانونو او ځمکو د اوسېدونکو څخه هیڅوک نه پوهېږي که څه هم پیغمبر وي، مګر الله ﷻ ورباندې پوهېږي او بس.

یوه ورځې أم المؤمنین (عائشې رضي الله عنها) په خپلو اورېدو خبرو کښې وفرمایل چې: «وَمَنْ زَعَمَ أَنَّهُ يُخْبِرُ بِمَا يَكُونُ فِي غَدٍ فَقَدْ أَعْظَمَ عَلَى اللهِ الْفِرْيَةَ»[۲] او هرڅوک چې ګومان وکړي چې نبي کریم ﷺ په هغه شي سره (بدون د وحې) هم خبر ورکولی شي چې سبا ته واقع کېږي نو یقیناً هغه کس په الله ﷻ باندې ډېر لوی دروغ وتړل؛ او بیا یې د استشهاد دپاره ذکر شوی ایت شریف قرائت کړه.

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۲۶
(۲) صحیح مسلم ج۱ ص۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۲_ مونږ _د الله ﷻ په توفیق_ د [الأنبیاء: ۵۰، ۹۵] ایتونو لاندې د علم غیب په هکله ټ معلومات لیکلي دي چې بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نه ګورو، هیله ده چې په همغو معلوماتو باندې یو نظر واچولی شي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: منقطعه مستثنی خو همېشه منصوبه وي[۱]، حال دا چې په ایت شریف کښې د ﴿ ٱللَّهُ ﴾ مبارکه کلمه (چې مستثنی واقع شوې ده) مرفوعه نازله شوې ده، نو په کار دي چې ذکره شوې مستثنی منقطعه ونه ګڼله شي؟

مونږ وایو چې: په دې مقام کښې مفسرینو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي[۲]، مګر لنډ جواب یې دا دی چې:

د بني تمیمو قبیله په خپله محاوره کښې منقطعه مستثنی هم مرفوعه لولي، او ایت شریف د همدې محاورې په بنیاد ولاړ دی.

## تدارک څه معنی؟

۴_ په ﴿ بَلِ ٱدَّٰرَكَ عِلۡمُهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ ﴾ کښې د ﴿ ٱدَّٰرَكَ ﴾ کلمه په اصل کښې "تَدَارَكَ" وه نو د "ت" توری په "د" تبدیل او بیا په "د" کښې ادغام شو او د وصل همزه ورسره اضافه شوه چې "اِدَّارَكَ" ترې جوړه شوه.

د نورو کلمې د تفسیر په هکله مفسرینو کرامو په دې مقام کښې ډېر اوږده بحثونه کړي دي[۳]، خو کوم تفسیر چې مونږ ته په زړه پورې بربښېدلی دی هغه دا دی چې:

دغه کلمه د "تَدَارُكْ" څخه اشتقاقه شوې ده، "تَدَارُكْ" دې ته ویل کېږي چې د یوه شي اول د آخر سره جمعه کړی شي او ښه قوت مونده کړي، عرب وایي چې: "تَدَارَكَ الْقَوْمُ"[۴] یعني د فلانکي قوم اول د آخر سره جمعه شو او ښه قوت یې ومونډ.

نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې: نن ورځ مخلوقات شعور نه لري چې کله به مبعوث شي، بلکې د دوی علم به د قیامت په ورځ د آخرت په هکله کامل شي بلکې دوی ترې په دنیا کښې په شک کښې دي، بلکې دوی ترې بالکل د زړه په سترګو ړانده دي.

مونږ څکه ذکر شوی تفسیر خوښ کړه چې همدا مضمون په لاندې ایتونو کښې نازل شوی دی:

الف: ﴿ أَسۡمِعۡ بِهِمۡ وَأَبۡصِرۡ يَوۡمَ يَأۡتُونَنَا لَٰكِنِ ٱلظَّٰلِمُونَ ٱلۡيَوۡمَ فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴾ [مریم: ۳۸] یعني به

(۱) شرح ملا جامي في النحو ص۱۵۷

(۲) روح المعاني ج۲۰ ص۹؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۷۸

(۳) البحر المحیط ج۸ ص۲۶۲؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۲۶

(۴) لسان العرب ج۱۰ ص۴۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کومه ورځ چې دوی مونږ ته راشي نو هلته به دوی څومره ښه اورېدونکي وي او څومره ښه به لیدونکي وي؟! مګر ظالمان (کفار) نن ورځ په ښکاره ګمراهۍ کښې واقع دي (کأنه او رانده دي).

ب: ﴿ لَّقَدْ كُنتَ فِى غَفْلَةٍ مِّنْ هَٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ ٱلْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴾ [ق:۲۲] یعنې د قیامت په ورځ به کافر نفس ته وویلی شي چې یقیناً ته په دنیا کښې د دغې ورځې څخه غافل وې، نو مونږ ستا څخه د غفلت پرده لرې کړه نو ستا سترګې نن ورځ ډېرې تېزې دي (حقایق پخپله ګوري).

ج: ﴿ وَبَدَا لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مَا لَمْ يَكُونُوا۟ يَحْتَسِبُونَ ﴾ [الزمر:۴۷] یعنې او کفارو ته به (د قیامت په ورځ) هغه شی څرګند شي کوم چې دوی نه وه چې د هغه د واقع کېدلو ګومان یې (په دنیا کښې) کاوه.

## سوالونه او جوابونه

د ذکر شوي تفسیر په بنیاد د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وایي چې: په ایت شریف کښې د ﴿ بَلِ ﴾ کلمه درې ځله نازله شوې ده، کومه چې د اضراب دپاره وضعه شوې ده چې وړاندېنی کلام ابطال شي او وروستنی کلام اثبات شي[۱]؛ نو ایا دغه معنی دلته صحت لرې حال دا چې وړاندېنی کلام ټول حقائق دي او د ابطال قابل نه دی؟

مونږ وایو چې: د ﴿ بَلِ ﴾ کلمه د دې دپاره هم استعمالېږي چې د وړاندې او بېرته دواړو کلامونو په اثبات باندې دلالت وکړي[۲]، نه په اضراب (ابطال) باندې، په دې مقام کښې همدغه استعمال مراد دی.

ب: که څوک وایي چې: د ﴿ ٱدَّٰرَكَ ﴾ کلمه ماضي ده حال دا چې وړاندې په مضارع سره تفسیره شوه چې د قیامت په ورځ به د هغوی علم کامل شي.

مونږ وایو چې: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النحل:۱] ایت لاندې لیکلي دي چې کله-کله د ځینو اغراضو د کبله د مضارع څخه په ماضي باندې تعبیر کېږي، په دې مقام کښې همدغه استعمال په نظر کښې نیولی شي دی چې د هغوی د علم په واقع کېدلو کښې شک او شبه نشته، ته به وایې چې بالکل واقع شوی دی.

ج: که څوک وایي چې: ظاهره دا ده چې په دواړو ایتونو کښې ټول غائب ضمیرونه د معنی په لحاظ په ﴿ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلْغَيْبَ ﴾ کښې د "مَنْ" کلمې ته راجع دي (کومه چې مؤمنانو او کفارو ته شامله ده)، حال دا چې دغه ارجاع د ﴿ بَلْ هُمْ ﴾، ﴿ بَلْ هُم ﴾ په دواړو ضمائرو کښې صحت نه لري دا ځکه چې په دنیا کښې خو یوازې کفار د قیامت د ورځې څخه په شک کښې واقع دي، بلکې د زړه په سترګو باندې ترې رانده دي او بس، نور خو ورباندې معتقد دي؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ په توفیق به دې کتاب کښې د [البقرة:۷۲] ایت لاندې لیکلي شوي دي

---

[۱] شرح ملا جامي ص ۳۷۲
[۲] لسان العرب ج ۱۱ ص ۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په محاورو کښې د ځينو افرادو فعل کله ټولو ته هم منسوب ګرځولی کېږي، لکه چې وايي: بَنُو فُلانٍ قَتَلُوا زَيْدًا" يعني: فلاني خيلو زيد وژلی دی، حال دا چې ټول يې قاتلان نه وي.
په دې مقام کښې ټول ضمائر يوازې د کفارو په ملحوظ د "مَنْ" کلمې ته راجع شوی دی، هسې نه چې ټول (مؤمنان او کفار) شکمن او ړانده دي.

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَءِذَا كُنَّا تُرَٰبًا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخْرَجُونَ ﴿٦٧﴾ لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا نَحْنُ وَءَابَآؤُنَا مِن قَبْلُ إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٦٩﴾ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُن فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ ﴿٧٠﴾﴾

[۶۷] او هغه کسان وايي کومو چې کفر غوره کړی دی چې: ايا کله چې مونږ خاورې شو او زمونږ پلرونه (هم خاورې شي) ايا مونږ (او زمونږ پلرونه) به يقيناً هرو مرو (د قبرونو څخه) راويستلی شوي ياستو؟

[۶۸] بې شکه دغه (د بېرته حشر کېدلو) وعده مونږ ته راکړه شوې ده، مونږ ته، او (زمونږ څخه) وړاندې زمونږ پلرونو ته (هم دغه وعده ورکړه شوې وه چې تر اوسه پورې رښتيا نه شوه).
دغه وعده نه ده مګر د پخوانيو قيصې دي (د هغوی په قيصو کښې شامله ده).

[۶۹] ته ورته ووايه چې: تاسو په ځمکه کښې لاړ شئ (وګرځئ) نو وګورئ چې د مجرمانو (کفارو) عاقبت څنګه شو (ژوند يې په څه شي تمام شو)؟

[۷۰] (ای پيغمبره!) په کفارو باندې مه غمژن کېږه (ستا په غاړه فقط ابلاغ او دعوت دی).
او د هغو (پټو دسيسو) څخه په زړه تنګی کښې مه کېږه (مه پرېوځه) کومې چې کفار يې (د اسلام د مخنيوي دپاره) په پټه پلانوي (او تدبيروي، الله ﷻ ستا ملګری دی).

## ارتباط او مطلب خلاصه

وړاندېني ايتونه په دې تمام شوي وه چې کفار د قيامت د ورځې څخه ړانده دي، او په دې ايتونوکښې د يو پلوه د هغوی هغه استدلال راحکايت شوی دی او بيا رد شوی دی د کوم په سبب چې د هغوی د زړه سترګې ړندې شوې وې، او د بله پلوه نبي کريم ﷺ ته ډاډ او تسلي ورکړه شوې "د چې د عنادي کفارو په کړنلاره باندې مه خپه کېږه. نو حاصل يې داسې راخېژي چې:
ای پيغمبره! اوس نو لاندې مطالبو ته متوجه شه:
۱ــ کوم کسان چې د آخرت څخه د زړه په سترګو ړانده دي د هغوی استدلال فقط همدا دی چې په تعجب سره وايي چې:
الف: ايا کله چې مونږ خاورې شو لکه څنګه چې زمونږ پلرونه خاورې شوي دي نو: ايا مونږ به د قبرونو څخه بېرته راوويستلی شو؟

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض دغه کار صحت درلودی نو زمونږ پلرونه خو به د هدیرو څخه بهرته راغلي وی، د مغوی د خاورې کېدلو خو زښتې ډېرې زمانې تېرې شوې، کله چې هغوی کفن په سر بهرته راستانه نه شول نو معلومه شوه چې د بیا راژوندي کولو خبره دروغه ده.

ب: کفار وايي چې: دغه د بیا راژوندي کېدلو وعده لکه څنګه چې مونږ ته نن ورځ راکوله کېږي همدغه وعده زمونږ پلرونو ته هم په خپلو-خپلو وختونو کښې ورکړه شوې وه، او شاید چې زمونږ څخه وروسته زمونږ اولادونو ته هم ورکړه شي، دغه وعده حقیقت نه لري او نه واقعیت موندلی شي بلکې د پخوانیو قیصو او افسانو څخه یوه افسانه ده، چې په هره زمانه کښې د خینو خلکو د پلوه تکرارېږي، مونږ په افسانو باور نه شو کولی.

۲_ای پیغمبره! د کفارو ذکر شوی استدلال رد کړه او په جواب کښې ورته ووایه چې:

الف: تاسو لاړ شئ او په ځمکه کښې وګورئ چې پخواني مجرم قومونه (لکه عادیان او ثمودیان) ولې پوپنا شوي دي؟

ایا د هغوی د هلاکت سبب همدا نه وه چې د خپلو-خپلو پیغمبرانو دعوت یې قبول نه کړ او همدا ستاسو غوندي استدلال یې کلک کړی وه چې زمونږ پلرونه ولې د هدیرو څخه بهرته نه راځي؟

لکه څنګه چې هغوی ته ذکر شوي استدلال څه ګټه ونه شوه رسولی نو تاسو ته به څه ګټه ورسوي؟ تاسو د هغوی څخه د عبرت درس واخلئ او په لوی لاس خپل خانونه هغې کندې ته مه ورغورځوئ په کومه کښې چې هغوی ورغورځېدلي وه.

ب: په دنیا کښې د مړو د بېرته د نه راستنېدلو وجه خو دا نه ده چې د بیا راژوندي کېدلو وعده دروغ ده، بلکې د دې وجه دا ده چې د بیا راژوندي کېدلو وخت نه دی را رسېدلی.

ایا تاسو ته دا وعده درکړه شوې ده چې د قیامت د قیام څخه وړاندې به په دنیا کښې مړي بېرته راژوندي کړی شي؟

هو! کله چې د دنیا عمر پوره شي او د ټولو خلکو (نېکان وي او که مجرمان وي) دوسیې تکمیلې شي نو هرومرو به دوی ټول د خپلو حساباتو د تصفیه کولو دپاره د قبرونو څخه راپورته کړی شي او قیامت به قائم شي.

۳_ای پیغمبره! کفار د خپل استدلال په بطلان باندې ښه پوهېږي خو عناد نیولی دی او د خپلې کرنلارې څخه لاس نه اخلي. نو:

الف: ته وربانديې مه غمژن کېږه چې مسلمانان نه شوه، ته خو به پرې هله غمژن کېدلی چې ستا په دعوت کښې څه قصور واقع شوی وی، او یا د هغوی د جنایاتو مسئولیت ستا په غاړه وي.

ب: ته وربانديې زړه تنګی کېږه هم مه، او تشویش مه کوه چې د دعوت په وړاندې به خنډ واقع شي او د پرمختګ مخه به یې بنده کړي، الله ﷻ ستا ملګری دی چې د کفارو په ټولو پټو تدابیرو باندې پوهېږي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝٧١ قُلْ عَسَىٰٓ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم
بَعْضُ ٱلَّذِى تَسْتَعْجِلُونَ ۝٧٢ وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا
يَشْكُرُونَ ۝٧٣ وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ۝٧٤ وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ فِى
ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ۝٧٥﴾

[۷۱] او مشرکان (مؤمنانو ته د نبي کریم ﷺ په شمول) وايي چې: دغه (د قیامت د قیام او یا د عذاب د نزول) وعده به کله (متحققه) شي، که تاسو یاست رښتیا ویونکي (نو وخت یې وټاکئ).

[۷۲] (اې پیغمبره! په جواب کښې ورته) ووایه چې: امید کوم چې د هغه شي ځینې برخې نژدې دي چې په تاسو باندې به پیوسته شي (درباندې به درنازلې شي) په کوم باندې چې تاسو عجله کوئ (او په تونده سره یې غواړئ).

[۷۳] او یقینًا ستا رب ﷻ په خلکو باندې د لوی فضل خاوند دی (چې د ذکرې شوې برخې په نازلولو باندې عجله نه کوي) او مګر د خلکو اکثریت ناشکري کوي (او د فرصت ختمول غواړي).

[۷۴] او یقینًا ستا رب ﷻ هرو مرو په هغه شي باندې پوهېږي چې د کفارو زړونه یې پټ ساتي او په هغه شي باندې (هم پوهېږي) چې دوی یې ښکاره کوي.

[۷۵] او (په دې باندې علاوه) نه په اسمان کښې داسې پټ شی شته او نه په ځمکه کښې (موجودیت لري) مګر (هغه ټول) په څرګند کتاب (لوح محفوظ) کښې (ثابت) دي (او وخت ورته ټاکلی شوی دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د کفارو هغه پوښتنه حکایت شوې او جوابه شوې ده په کومې باندې به چې هغوی خپلو وجدانونو ته قناعت ورکاوه او په مسلمانانو باندې به یې پرې مسخرې کولې. نو حاصل یې داسې راځي:

اې پیغمبره! په خپل امت باندې د قیامت د قیام په هکله څه نور معلومات هم ولوله هغه دا چې:

۱ـ وړاندې د کفارو هغه استدلال په ډېره واضحه توګه رد شو کوم چې هغوی د قیامت څخه د انکار په غرض قائم کړی وه. نو اوس هغوی خپلو ځانونو ته د قناعت دپاره بله پوښتنه مطرحه کوي چې: که بالفرض مونږ ومنو چې د قیامت د قیام وعده رښتیا ده نو تاسو دا وواياست چې څومره وخت ورته پاتې دی؟ او هغه دنیاوي عذاب به کله رابنکته شي په کوم باندې چې تاسو مونږ ته تهدید راکوی؟

۲ـ نو اې پیغمبره! ته د ذکرې شوې پوښتنې په جواب کښې کفار مخاطب کړه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای کفارو! تاسو عجله مه کوئ، زه الله ﷻ ته امید کوم چې ستاسو د غوښتنې ځینې برخې (دنیاوي عذاب) به تاسو ته ډېرې نژدې شوي وي او ډېر ژر به درپورې پیوسته شي.

یا په بل عبارت: که د قیامت قیام ستاسو په ژوند کښې صورت ونه نیسي نو د دنیاوي عذاب نزول خو به تاسو په خپلو سترګو وګورئ، او ستاسو په ژوند کښې به درباندې درنازل شي.

۳_ ای پیغمبره! یقیناً ستا رب ﷻ په خلکو باندې د ډېر لوی فضل خاوند دی چې د دوی په تعذیب سره عجله نه کوي، او نه یې هغه غوښتنه سمدستي منظوروي کومه چې دوی یې د عذاب د نزول په هکله وړاندې کوي، بلکې خلکو ته فرصت ورکوي ترڅو دوی د خپلو کفریاتو څخه توبه تائب شي او د عذاب څخه نجات مونده کړي.

مګر اکثره خلک ناشکري کوي او د عذاب په غوښتنه عجله کوي ترڅو یې فرصت د لاسه لاړ شي او په دائمي عذاب باندې اخته پاتې شي.

۴_ ای پیغمبره! یقیناً ستا رب ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې پوهېږي کوم چې کفار یې په زړونو کښې پټ ساتي او کوم چې دوی یې ښکاره کوي.

نو د کفارو د پلوه د قیامت د وخت پوښتنه د دې کبله صورت نه نیسي چې دوی ورباندې باور او یقین لري بلکې په زړونو کښې ترې منکران دي او عقیده ورباندې نه لري او پوښتنه د تمسخر او ملنډو په توګه وړاندې کوي.

نو که بالفرض المحال تاسو ورته د قیام وخت تعین کړئ چې په فلانکي تاریخ به قائم شي، نو هم به ورباندې ایمان رانه وړي او باور به پرې ونه کړي.

۵_ ای پیغمبره! هیڅ پټ شی نه په اسمانونو کښې شته او نه په ځمکو کښې مګر هغه ټول په أم الکتاب (لوح محفوظ) کښې لیکلي شوي دي، او وخت ورته ټاکلي شوی دی.

نو د قیامت د قیام او د عذاب د نزول دپاره هم په نوموړي کتاب کښې وختونه ټاکلي شوي دي، چې کله ټاکلي وخت راورسېږي نو ضرور به تحقق ومومي.

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ ﴾ کښې د ﴿ هَٰذَا الْوَعْدُ ﴾ څخه کوم وعد مراد دی؟

مونږ وایو چې: د دغه وخت په تعین کښې علماء کرام په دوه وو ډلو ویشلی شوي دي:

الف: ځینې وایي چې: د ﴿ هَٰذَا الْوَعْدُ ﴾ څخه دقیامت د قیام وعد مطلب دی په کوم باندې چې د ﴿لَقَدْ وُعِدْنَا هَٰذَا نَحْنُ﴾ [النمل:۶۸] ایت دلالت کوي[1].

ب: ځینې نور وایي چې: دلته ترې دنیاوي عذاب مراد دی، کوم چې د ﴿ قُلْ سِيرُوا فِي الْأَرْضِ

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ فَٱنظُرُواْ ﴾ الآیة [النمل: ۶۹] څخه د اشارې په توګه څرګندېږي[۱] یعني که تاسو د کفریاتو څخه لاس وانخلئ نو په تاسو باندې به هم د پخوانیو کفارو غوندې عذاب درنازل شي.

## تبصره

۲ـ مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: ﴿ هَـٰذَا ٱلْوَعْدُ ﴾ به د مطلق عذاب څخه عبارت وي چې ذکرو شوو دواړو وعدو ته شمولیت لري، په همدې شمولیت باندې په ﴿ بَعْضُ ٱلَّذِی تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ کښې د ﴿ بَعْضُ ﴾ کلمه هم دلالت کوي.

نو ته به وایې چې کفارو به خپله پوښتنه داسې مطرحه کړې وي چې: ای مسلمانانو! ستاسو په خپل خیال به په مونږ باندې دنیاوي عذاب څه وخت نازل شي او هم دا راته ووایاست چې د قیامت قیام ته څومره وخت پاتې دی چې تاسو ورباندې مونږ ډاروئ؟.

## د جواب درېګوني ټکي

۳ـ په ﴿ قُلْ عَسَىٰٓ أَن یَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعْضُ ٱلَّذِی تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ کښې نبي کریم ﷺ او مسلمانانو ته د کفارو د ذکرې شوې پوښتنې جواب ښودلی شوی دی چې لاندې ټکو ته پکښې توجه په کار ده:

الف: د ﴿ رَدِفَ ﴾ کلمه د "رِدْفٌ" ـ لکه "عِلْمٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، "رِدْفٌ" هغه راکب (سوربېدونکي) ته ویل کېږي کوم چې د بل راکب (سوربېدونکي) شاته په عین مرکب باندې پیوسته سور وي[۲]، په اصطلاح لاس یې ترې چاپېر کړی وي چې ونه غورځېږي.

د دغې معنی سره قُرب (نږدېکت) لازم دی، د همدې کبله په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضی الله عنهما ذکره شوې کلمه په "قَرُبَ" سره تفسیره کړې ده[۳]؛ همدا تفسیر امام البخاري علیه الرحمة هم خوښ کړی دی[۴].

ب: د ﴿ بَعْضُ ﴾ د کلمې څخه دنیاوي عذاب مطلب دی لکه د بدر غزا چې کفار پکښې څوک ووژلی شوه او څوک اسیران کړی شوه، دنیاوي عذاب د هغه عذاب یوه کوچنۍ برخه ده کوم چې کفارو غوښتی وه او د قیامت عذاب ته هم شامل وه.

ج: که څه هم د کفارو په غوښتنه کښې ظاهراً عجله نه برېښي مګر څرنګه چې هغوی ذکره شوې پوښتنه د استهزاء او مسخرو په توګه مطرحه کوله نو داسې وګڼله شوه لکه چې هغوی یې په عجلې سره غواړي[۵] نو ځکه په پوښتنې کښې د ﴿ تَسْتَعْجِلُونَ ﴾ په عوض "تقُولُونَ" نازل نه شو.

نو د ذکرو شوو درېواړو ټکو په ملحوظ د جواب حاصل داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! د کفارو

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۲۹
(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۳۲۵
(۳) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۲۹
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۲
(۵) روح المعاني ج۲ ص۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوښتنه جواب کړه او ورته ووایه چې دې خبرې ته امید دی چې په نژدې وخت کښې به په عجلې
سره د غوښتنې څه برخه په تاسو پورې پیوسته شي او په دنیاوي عذاب باندې به اخته شئ، لکه چې
لږ وروسته په بدر کښې په عذاب اخته شوه.

## غَائِبَة څه معنی؟

۴ـ په ﴿وَمَا مِنْ غَآئِبَةٍ فِي ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾ کښې د ﴿غَآئِبَةٍ﴾ کلمه لاندې دوه احتماله لري[1]:

الف: دا کلمه د وصفیت څخه اسمیت ته نقله شوې ده او د "ة" توری پکښې د تانیث دپاره نه بلکې د نقل دپاره دی.

ب: دا کلمه په خپل وصفیت سره باقي پاتې ده او د "ة" توری پکښې د تانیث دپاره نه بلکې د مبالغې دپاره دی، لکه چې په "علامة" او "داعیة" کښې د "ة" توري په مبالغې دلالت کوي.

په هر تقدیر، ذکره شوې کلمه د هر پټ شي څخه عبارت ده[2].

نو د معنی حاصل یې داسې راخېژي چې: په اسمانونو او ځمکو کښې برسېره په بنکاره شیانو باندې هیڅ د هر پټ شی نه دی مګر هغه په لوح محفوظ کښې هم لیکلی شوی دی.

نو د قیامت د قیام او دنیاوي عذاب د نزول وختونه دواړه هلته ټاکلي دي چې کله یې وخت راورسېږي نو هیڅ وړاندېوالی او بېرته والی به پکښې واقع نه شي.

اما د لوح محفوظ بیان د [الرعد:۳۹] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ والمنة.

﴿إِنَّ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَكۡثَرَ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ۝٧٦ وَإِنَّهُۥ لَهُدٗى وَرَحۡمَةٞ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٧٧ إِنَّ رَبَّكَ يَقۡضِي بَيۡنَهُم بِحُكۡمِهِۦۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡعَلِيمُ ۝٧٨ فَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۖ إِنَّكَ عَلَى ٱلۡحَقِّ ٱلۡمُبِينِ ۝٧٩ إِنَّكَ لَا تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ۝٨٠ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِي ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ۝٨١﴾

[۷۶] یقینًا دغه قرآن کریم په بني اسرائیلو باندې د هغه شي اکثریت (په حقه) بیانوي په کوم کښې چې دوی اختلاف کوي (نن ورځ همدا قرآن د علم مخزن دی او بس).

[۷۷] او بې شکه دا (قرآن کریم) د مومنانو دپاره هرو مرو لوی هدایت او لوی رحمت دی (چې هغوی ترې استفاده کوي).

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۱۷؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۸۲
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۷۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۷۸] (ای پیغمبره!) یقینًا ستا رب ﷻ به د بني اسرائیلو (او نورو خلکو) ترمنځ (د قیامت په ورځ) په خپل (خاص) حکم سره فیصله وکړي (او د عدل په مقتضی به هر چاته سزا یا جزا ورکړي).
او همدا (الله ﷻ) د کلکې ارادې خاوند دی (او هیڅوک یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی او هم) پوه دی (د اختلافاتو په شمول هر څه ورته معلوم دي).
[۷۹] نو (ای پیغمبره!) ته (خاص) په الله ﷻ باندې توکل (او اعتماد) وکړه، یقینًا ته په ښکاره حق باندې (ولاړ) یې (تاته څوک زیان نه شي رسولی).
[۸۰] بې شکه ته (خپل دعوت) مړو (عنادي کفارو) ته نه شي اورولی، او نه کڼو ته (خپل دعوت (او بلنه) وراورولی شې (خصوصًا لا) په هغه وخت کښې چې کاڼه خلک (ستا څخه) په داسې حال کښې مخونه واړوي چې مخ په شا تلونکي وي.
[۸۱] او (ای پیغمبره!) ته ړندو ته د هغوی د ګمراهۍ څخه هدایت کوونکی نه یې.
(لنډه دا چې:) ته نه (چاته دعوت) وراورولی شې (او نه ورته هدایت کولی شې) مګر هغه چاته کوم چې (نژدې وي چې) زموږ په ایتونو سره ایمان راوړي (استعداد یې د منځه نه وي تللی)، نو همدوی (دعوت ته) غاړه ایښودونکي دي (ژر دی چې دعوت به قبول کړي او ورته به منقاد شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په معاد (بیا راژوندي کېدلو) پورې مربوط وه او د دې ایتونو مضمون په نبوت پورې ارتباط لري چې حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:
۱ـ ته په حقه پیغمبر یې او د خپل رب ﷻ د پلوه درته حقائق وحې کېږي، د همدې کبله تا په ډېره واضحه طریقې سره د مشرکانو هغه اعتراض جواب کړ کوم چې هغوی د معاد په ارتباط راپورته کړی وه.
۲ـ ته په ډېره ښه طریقه سره کولی شې چې د بني اسرائیلو په اختلافاتو کښې د همدې قرآن کریم په ذریعه حقائق بیان او څرګند کړې.
که بالفرض المحال ته په حقه پیغمبر نه وی نو د هغوی د اختلافاتو څخه به ته څه خبر وی، چې حقایق پکښې کوم-کوم دي!؟.
۳ـ نو دا یقیني خبره ده چې دا قرآن (چې په تا باندې په حقه درنازل شوی دی) برسېره په دې چې ستا د نبوت ډېره لویه معجزه ده سراسري هدایت او رحمت هم دی، مګر هغه څوک ترې ګټه پورته کولی شي کوم چې ورباندې عقیده لري او ایمان یې ورباندې راوړی وي.
اما څوک چې عناد نیولي دي او د قرآن کریم تکذیب ته یې ملاوې تړلې دي هغوی ترې استفاده نه شي کولی بلکې د هغوی کفر او تکذیب ورباندې ورځ په ورځ لا اضافه کېږي.
۴ـ نو که نن ورځ (په دنیا کښې) بني اسرائیل په دې (قرآن کریم) سره خپل اختلافات پورته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه کړي او د محرفاتو او مزخرفاتو څخه حقائقو ته راتاو نه شي نو په یقین سره به د دوی ترمنځ (د قیامت په ورځ) ستا رب ﷻ حقې فیصلې وکړي او هر څوک به په جزا یا سزا باندې ورسوي، څکه چې ستا رب ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، چې د ارادې په وراندې یې هیڅوک خند نه شي واقع کېدلی، او هم پوه دی هرڅه ورته په ډاګه معلوم دي.

۵ـ نو ای پیغمبره! د وراندې ارشاداتو په نظر کښې نیولو سره لاندې هدایاتو ته متوجه شه:

الف: خپل دعوت ته په جدي توګه ادامه ورکړه او صرف په الله ﷻ باندې توکل وکړه، هیڅوک ستا د دعوت مخه نه شي بندولی.

ب: ته په حقه پیغمبر یې او په ښکاره حق باندې روان یې، د معاندینو او کینه ګرو هیڅ پروا مه کوه، الله ﷻ ستا ملګری دی، غلبه همدا ستا په برخه ده.

ج: ته په دې باندې مه خپه کېږه چې د حق د ښکارندولو سره‌سره عنادي کفار ستا دعوت نه قبلوي او ایمان درباندې نه راوړي او دا څکه چې:

اول: کفار د مړو غوندې دي بلکې زړونه یې د حق د موندلو څخه مړه دي او ته نه شې کولی چې مړو ته حق ورواوروې او درباندې قبول یې کړي.

دوهم: کفار د حق څخه کاڼه دي او ته نه شې کولی چې په غوږونو باندې کڼو خلکو ته خپل دعوت ورواوروې، او خصوصاً په هغه وخت کښې خو یې بالکل نه شي دراورولی کله چې همدغه کاڼه خلک ستا څخه مخونه واړوي او بېرته ستانه شي (مخ په شا وځغلي).

دریم: کفار دحق څخه رانده دي او ته خو ړوندو ته هدایت کوونکی نه یې، چې ورکه کړې لاره وروښایې چې دغسې لاړ شئ؛ (که ته هرڅومره هلې ځلې وکړې چې رانده په سمه لاره برابر کړې، هیڅ نتیجه به ورنه کړي).

د: ای پیغمبره! یقیناً ته هغه چاته حق دراورولی شې کوم چې عناد نه وي نیولي او د حقائقو پسې هڅه کوي نو دغسې خلک ستا د دعوت په نتیجه کښې د قرآن کریم په حقانیت باندې معتقد ګرځي، او قرآن کریم د حقاني کتاب په توګه پېژني، او بالآخره کوم ارشادات چې ورته ستا د پلوه کېږي هغو ته غاړې اېښودونکي او منقاد جوړېږي.

لنډه دا چې ستا په دعوت کښې څه نقصان او کمزوري نشته نقصان ټول په کفارو کښې دی چې د قبول استعدادونه یې د منځه تللي دي، نو ته ورباندې مه متاثر کېږه او مه درباندې خپه کېږه.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ عَلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَكۡثَرَ ٱلَّذِي هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَ ﴾ کښې د ﴿ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ﴾ څخه یهود او نصارا مراد دي، اوبه کومو شیانو کښې چې هغوی اختلاف لري او په قرآن کریم کښې په حقه بیان شوي دي، هغو مثالونه دا دي:

الف: ځینې بني اسرائیل وایې چې عیسی علیه السلام پخپله الله او یا د الله زوی دی، او ځینې وایې چې

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درېیم معبود دی، خو قرآن کریم وايي چې عیسی ﷺ د الله ﷻ بنده او پیغمبر دی او بس.

ب: هغوی د عیسی ﷺ په مرګ کښې هم شدید اختلاف لري خو قرآن کریم وايي چې هغوی دروغ وايي نه يې وژلی دی او نه يې په دار کړی دی بلکې الله ﷻ ژوندی اسمانونو ته اوچت کړی دی.

ج: هغوی د بي بي مريمې رضي الله عنها په هکله هم ډېرې ګډې وډې خبرې کوي، خو قرآن کريم وايي چې بي بي مريمه رضي الله عنها (د عیسی ﷺ مور) يوه پاکيزه او صديقه ښځه وه.

د بني اسرائيلو د اختلافاتو ځينې وضاحتونه د الله ﷻ په توفيق وړاندې تېر شوي دي، لکه د [النساء:۱۵۷] او د [المائدة:۱۴، ۶۴] ايتونو لاندې؛ بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

شايد چې د مکې مشرکانو ته به د بني اسرائيلو د اختلافاتو موضوع د دې دپاره ورپه ياده کړې شوې وي ترڅو مشرکان په غوږ باندې ووهلی شي چې تاسو ته خو بني اسرائيل اهل العلم برېښي مګر نن ورځ هغه څوک اهل العلم دي کوم چې اهل القرآن دي، چې د يو پلوه پکښې ټول حقائق بيان شوي دي او د بله پلوه پکښې د بني اسرائيلو د اختلافاتو جرړې هم ويستلی شوي دي.

نن ورځ تاسو ته ډېر لوی شرافت او عزت درنازل شوی دی، نو تاسو يې ناشکري مه کوئ او ايمان ورباندې راوړئ چې سيادت مو په نصيب شي.

## د سَمع او مَيت معناوې

۲ـ په ﴿ إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ کښې د ﴿ لَا تُسْمِعُ ﴾ کلمه اصلاً د "سَمَعَ" ـلکه "ضَرَبَ"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د قبول معنی ورکوي، او څه بيان يې د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:۹۳] ايت لاندې تېر شوی دی.

او د "مَوْتَىٰ" کلمه د "مَيِّتٌ" جمعه ده، د "مَيِّتٌ" کلمه حقيقتاً د هغه چا دپاره وضعه شوې ده د کوم چې روح د جسد څخه جدا شي، خو د کنايې په توګه هغه کافر هم د "مَيِّتٌ" په نامه يادېږي چې زړه يې د اسلام د قبول څخه مړ وي او د قبول استعداد يې ختم شوی وي. په دې مقام کښې د ﴿ ٱلْمَوْتَىٰ ﴾ څخه د همدغې کنايې معنی په لحاظ کفار مطلب دي او دا ځکه چې:

الف: همدې مضمون ته الله ﷻ داسې اشاره کړې ده چې: ﴿ إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ ٱلَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ وَٱلْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ ﴾ [الأنعام:۳۶] يعني: ای پيغمبره! يقيناً ستا د دعوت منښه او قبول هغه کسان کوي کوم چې اورېدل کوي او د قبول استعداد يې نه وي ختم شوی، او هر چې هغه کسان دي چې د قبول استعداد يې ختم شوی وي نو هغوی ستا د دعوت اجابت نه کوي، هغوی د مړو غوندې دي او مړي به الله ﷻ د قيامت په ورځ راژوندي کړي او د قبرونو څخه به يې را اوچت کړي نو هلته به ستا د دعوت قبول وکړي خو څه ګټه به ورته ونه رسوي.

همدارنګه الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَحْيَآءُ وَلَا ٱلْأَمْوَٰتُ ﴾ [فاطر:۲۲] يعني: ژوندي (مؤمنان) او مړي (کفار) يو برابر نه دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: دا مقام د تسلی ورکولو مقام دی، او تسلي په هغه وخت کښې صورت موندلی شي چې د ﴿ٱلْمَوْتَىٰ﴾ څخه د کنایې په توګه کفار مراد شي، یعني ای پیغمبره! ته مه خپه کېږه چې کفار په تا باندې ایمان نه راوړي، دا خو ستا قصور نه دی، دا خو د کفارو قصور دی چې د استعداد د ختمېدلو د کبله د مړو غوندې ګرځېدلي دي او ته خو نه شې کولی چې په دنیا کښې په مړو باندې خپل دعوت قبول کړې او هغوی ته یې ورواوروې، ترڅو ترې ګټه پورته کړي.

ج: ذکر شوی مضمون په ﴿إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِـَٔايَـٰتِنَا﴾ باندې تعقیب شوی او ختم شوی دی، یعني ته فقط هغو کسانو ته خپل دعوت اوروولی شې کوم چې زمونږ په ایتونو باندې ایمان راوړي او د ایمان راوړلو په هڅه کښې دي، او استعداد یې د منځه نه وي تللی.

که بالفرض د ﴿ٱلْمَوْتَىٰ﴾ څخه هغه کسان مطلب وي د کومو چې ارواګانې قبض شوې وي او د کنایې په توګه نه بلکې حقیقتًا مړه شوي وي، نو ضرور به د ذکر شوي تعقیب په عوض داسې تعقیب نازل شوی وی چې د همدغه مطلب سره یې سمون او توافق درلودی. مثلاً په دې جمله به مضمون ختم شوی وی چې: "إِنْ تُسْمِعُ إِلَّا مَنْ كَانَ حَيًّا" یعني ته اورول نه شې کولی مګر هغه چاته چې هغوی ژوندي وي او ارواګانې یې د بدنونو څخه نه وي جدا شوې.

## ایا مړې د ژوندیو خبرې اوري؟

۳ـ په سِمَاعُ الْمَوْتَى (مړو لرد د ژوندیو د خبرو په اورېدلو) کښې آن د صحابه کرامو ﷺ د زمانې څخه اختلاف النظر راروان دی، علماء کرام پکښې په لاندې دوه ډلو باندې وېشلی شوي دي:

الف: یوه ډله وایي چې: مړي د ژوندیو خبره نه شي اورېدلی، د دغې ډلې په سر کښې عائشه (أم المؤمنین رضي الله عنها) واقع ده.

دوی په ذکر شوي ایت شریف باندې استدلال نیسي کوم چې اوس د بحث لاندې دی، او په عین مضمون یا همدې ته ورته مضمون باندې دوه نور ایتونه هم راروان دي چې د [الروم:۵۳] او [فاطر: ۲۲] ایتونو څخه عبارت دي.

د استدلال حاصل یې داسې راخېژي چې دلته کفارو ته په عدم اسماع (نه وراورولو) کښې د مړو سره تشبیه ورکړه شوې ده او د عدم اسماع سره عدم سمع (نه اورېدل) لازم دي، نو کله چې نبي کریم ﷺ مړو ته اسماع (وراورول) نه شي کولی نو معلومه شوه چې مړی سمع (اورېدل) نه شي کولی.

ب: بله ډله وایي چې: مړي د ژوندیو خبرې اورېدلی شي، د دغې ډلې په سر کښې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما واقع دی، د دوی استدلال په لاندې ډول لوستلی شي:

اول: په ایت شریف کښې د مړو څخه د استفادې اورېدل او د دعوت قبلول منفي شوي دي چې مړی د مرګ څخه وروسته دعوت نه شي اورېدلی چې قبول یې کړي او ګټه ورته ورسولي شي، اما محض اورېدل په ایت شریف کښې نه اثبات شوي دي او نه پکښې منفي شوي دي بلکې په سکوت

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې پرېښودل شوي دي، خو د نورو نصوصو څخه په اثبات رسېږي، لکه:

دوهم: نبي کريم ﷺ اورېده حديث کښې فرمايلي دي چې: «إِنَّ الْمَيِّتَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ خَفْقَ نِعَالِهِمْ إِذَا انْصَرَفُوا»[۱] يعني: کله چې مړی په قبره کښې کېښودل شي نو يقيناً هغه د خېښوونکو خلکو د پڼو کړپهار اوري البته څه وخت چې ترې بېرته راوګرځي.

درېم: عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې: نبيّ کريم ﷺ د بدر په غزا کښې د هغه خام کوهي په غاړه باندې ودرېد په کوم کښې چې د مشرکانو مړي اچولی شوي وه او مړي يې مخاطب کړه او ويې وفرمايل چې: «هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا» يعني ايا تاسو هغه وعده حقه مونده کړه کومه چې ستاسو رب ﷻ ستاسو سره کړې وه؟ (چې آخرت حق دی، قرآن حق دی او داسې نور).

بيا نبي کريم ﷺ وويلې چې: «إِنَّهُمُ الْآنَ يَسْمَعُونَ مَا أَقُولُ لَهُمْ»[۲] يقيناً دوی همدغه اوس هغه خبرې اوري کومې چې زه يې ورته وايم (چې ما ورباندې مخاطب ګرځولي دي).

څلورم: څرنګه چې د سِمَاعُ الْمَوْتى د إثبات أحاديث ډېر دي نو ابو حنيفه عليه الرحمة هم ترې انکار نه دی کړی[۳].

پنځم: ځينې علماوو کرامو ليکلي دي[۴] چې عائشې صديقې (أم المؤمنين رضي الله عنها) د خپل قول څخه د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما قول ته رجوع کړې ده او هغه ورته غوره برېښېدلی دی.

که څوک غواړي چې په ذکره شوي موضوع (سِمَاعُ الْمَوْتى) کښې د دواړوجوانبو دلايل د نظره تېر کړي نو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[۵]، او يا دې هغه کتابونه ولولي کوم چې خاص په همدغې موضوع کښې تصنيف شوي دي[۶].

﴿ وَإِذَا وَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُواْ بِـَٔايَـٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿٨٢﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَـٰتِنَا فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿٨٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبْتُم بِـَٔايَـٰتِى وَلَمْ تُحِيطُواْ بِهَا عِلْمًا أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ وَوَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُواْ فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ﴿٨٥﴾ أَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّا جَعَلْنَا ٱلَّيْلَ لِيَسْكُنُواْ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٨٦﴾ ﴾

---

(۱) صحيح مسلم ج۲ ص۳۸۶؛ صحيح البخاري ج۱ ص۱۷۸
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۵۶۷
(۳) حواشي ترمذي ج۱ ص۲۰۲
(۴) اضواء البيان ج۶ ص۴۲۹
(۵) اضواء البيان ج۶ ص۴۱۶_۴۳۹؛ روح المعاني ج۲۱ ص۵۵
(۶) البصائر للشيخ حمد الله الباکستاني ص۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۸۲] او کله چې په کفارو باندې (د وعیداتو) خبره واقع شي (واقع کېدلو ته نژدې شي) نو مونږ به دوی (خلکو) ته د ځمکې څخه داسې یو ځاروی راوباسو چې د دوی سره به خبرې کوي، چې یقیناً خلک وه چې زمونږ (د الله ﷻ) په ایتونو باندې یې یقین نه کاوه.

[۸۳] او (ای پیغمبره!) هغه ورځ (وخت یاد کړه) چې مونږ د هر (دعوتي) أمت څخه (د حشر په میدان کښې) بنه لوی ټولګی حشر کړو (البته دا ټولګی به) د هغو کسانو څخه عبارت وي کومو چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کاوه.

نو دوی (دغه لوی ټولګی به د. خورېدلو او بې نظمیو څخه) را ایسارولی کېږي (د توبیخ او تخجیل دپاره).

[۸۴] آن تر دې چې کله دوی (خاص مقام ته) ورشي (حاضر شي) نو الله ﷻ به (ورته) ووایي چې:
ایا تاسو زما ایتونو ته په داسې حال کښې د دروغو نسبت کاوه چې د علم د حیثه مو وربانديې احاطه نه وه کړې (خپل ځانونه مو ورباندې نه وه پوه کړي)؟

ایا (د تکذیب څخه په غیر) هغه څه شی دی چې (په دنیا کښې) تاسو وئ چې کاوه به مو؟ (ایا تاسو د تکذیب څخه په غیر بل شی کړی دی؟).

[۸۵] او (په دغه وخت کښې به) ورباندې (د وعیداتو) خبره واقع شي (او ثبوت ته به ورسېږي) نو دوی به (د ډېر خجالت او شرمندګۍ دکبله) خبرې نه کوي (او چپ به ولاړ وي).

[۸۶] (ای پیغمبره!) ایا کفار نه ګوري (نه پوهېږي) چې یقیناً مونږ شپه د دې دپاره (تیاره) ګرځولې ده چې خلک پکښې ارام وکړي، او ورځ مو لیدونکې (روښانه ګرځولې) ده، (چې دوی پکښې کار او کسب وکړي).

یقیناً په دغه (ګرځولو) کښې د داسې قوم دپاره (زښت ډېر) دلایل دي چې ایمان راوړي (ایمان راوړلو ته چمتو وي نو همدا ورته کفایت کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

الف: د وړاندېنیو ایتونو څخه په [النمل:۷۲] ایت کښې الله ﷻ نبي کریم ﷺ ته توصیه کړې وه چې کفار مخاطب کړي چې أمید دی چې ځینې عذابونه په نژدې وخت کښې درپورې پیوسته شي.
په دې ایتونو کښې د متباقي عذابونو د رسېدلو وختونو ته اشاره شوې ده چې د قیامت په علاماتو به پیل شي.

ب: د وړاندېنیو نژدې ایتونو مضمون دا وه چې عنادي کفار د حق د اورېدلو څخه ړانده کاڼه دي، او په دې ایتونو کښې هغو وختونو ته اشاره شوې ده په کومو کښې به چې هغوی د حق اورېدلو ته چمتو کېږي او غاړې به ورته ږدي مګر څه ګټه به ورته نه رسوي او د قبول درجې ته به نه رسېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي چې:
ای پیغمبره! نن ورځ خو کفارو ستا په معجزاتو باندې خپل ځانونه ړانده او کاڼه اچولي دي او ته

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه شي کولی چې حق ورباندې ومني، خو په آینده کښې داسې وختونه راروان دي، چې دوی به پخپله حق ته غاړې کېږدي او ورته به تسلیم شي خو هغه به داسې وختونه وي چې حق ته غاړه اېښودل او ایمان راوړل به چاته څه ګټه نه شي رسولی هغه دا چې:

۱ـ کله چې د قیامت ورځ ډېره نژدې شي او داسې علامات څرګند شي چې حقایق بربنډ کړي او په کفارو باندې د عذاب خبره متحققه شي، نو:

الف: دوی ته به موږ د ځمکې څخه په معجزانه توګه داسې یو څناور راوباسو چې د خلکو سره به خبرې کوي او هغه حقایق به ورته بیانوي د کومو څخه چې هغوی منکر وه او غاړې یې ورته نه اېښودلې.

ب: دغه څناور به خلکو ته په خپلو خبرو کښې وایي چې: یقیناً د دې څخه وړاندې خلک وه چې زموږ یعني د الله ﷻ د ایتونو څخه یې انکار کاوه او خپل ځانونه یې ورباندې رانده کانه اچولي وه. نو په دغه وخت کښې به کفار مجبور وي چې حقایق د یوه ښاروي په خوله ومني خو څه ګټه به ورته ونه رسوي، چې د قبول وخت به یې تېر شوی وي.

۲ـ همدارنګه په هغه وخت کښې به هم حقایق ښکاره شي چې کله قیامت قائم شي او لاندې کیفیت صورت ونیسي:

الف: چې موږ به د هرې ډلې او هر اُمت څخه د مشرانو یو ټولګی جدا حشر کړو، البته چې دا ټولګی به د هغو خلکو څخه عبارت وي چې زموږ ایتونو او دلایلو ته یې د دروغو نسبت کاوه او د همدې مطلب دپاره یې دعوت چلاوه. یا په بل عبارت: هغه کسان به د نورو څخه جدا راغونډ کړو کومو چې د کفر مشري کوله او د أئمة الکفر لقب یې ګټلی وه.

ب: د دغو کفري مشرانو څخه به یو هم پرېنږدو چې په عوامو کښې پټ پاتې شي، حتی د دغې ډلې اولني راویستلی شوي کسان به ورته را ایسارول کېږي ترڅو د ټولو څخه یوه غټه ډله جوړه شي.

ج: آن تر دې چې دوی ټول زما په حضور کښې ودرېږي نو دوی ته به زه ووایم، او ټول به مخاطب وګرځوم چې:

د: ای کفري مشرانو! ایا تاسو هغه کسان یاست چې زما ایتونو ته مو د دروغو نسبت کاوه او نور خلک مو همدغه تکذیب ته دعوتول؟

هـ: حال دا چې ستاسو تکذیب د څه علم په بنیاد ولاړ نه وه، او تاسو زما په ایتونو او دلایلو باندې علمي احاطه نه وه کړې، که بالفرض المحال زما په ایتونو کښې څه دروغو موجودیت درلودی اوتاسو هغه کشف کړې وی نو بیا به تاسو ته څه ملامته او پړه نه وی متوجه شوې.

و: ایا تاسو خلکو ته خپل جهل او ناپوهي د پوهې په څېره کښې نه وه ښودلې چې پام کوئ چې د بوت پرستی او نورو کفریاتو څخه لاس وانخلی؟

ز: ای کفري مشرانو! ایا ستاسو کړنلاره همدغسې نه وه؟ ایا تاسو په همدغه ډول سره کفر ته دعوت نه چلاوه؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ح: که داسې نه وي نو هغه څه شی وه چې د دغې کړنلارې څخه په غیر تاسو عملي کاوه؟ تاسو بې پخپله وواياست.

۳ـ ای پیغمبره! په دغه وخت کښې به په کفارو باندې د عذاب خبره واقع شي او خپله ملامتې به پخپله په سکوت سره ومني او چپ به ودرېږي، او دا ځکه چې په دوی باندې به ظلم نه وي کړی شوی بلکې دوی به په خپلو ځانونو باندې پخپله ظلم کړی وی، او انکار به هم ترې ونه شي کړی او چې کله ترې انکار وکړي نو خپل اندامونه به ورباندې شهادت ووايي.

۴ـ ای پیغمبره! په دنیا کښې مونږ په قرآني (تنزيلي) دلايلو باندې علاوه زښت ډېر تکويني او خلقي دلايل هم پیدا کړي دي چې د حق پلټونکو ته د حق د پېژاندلو دپاره کفايت کوي. د مثال په توګه:

الف: ایا خلک نه ګوري چې مونږ شپه تیاره پیدا کړې ده چې دوی پکښې ارام وکړي، لکه چې مړي په قبرونو کښې پټ پراته وي؟.

ب: ایا دوی نه ګوري چې مونږ ورځ روښانه ګرځولې ده چې دوی پکښې د خوبه راپورته شي او په کار او کسب پیل وکړي، نو ایا مونږ قدرت نه لرو چې مړي د قبرونو څخه راپورته کړو او د حساب کتاب دپاره یې د حشر په میدان کښې ودروو؟

۵ـ یقینًا په دغه بیان کښې د داسې قوم دپاره ډېر لوی دلايل پراته دي کوم چې د دلايلو پلټنه کوي او د حق موندلو پسې هڅه کوي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ وَإِذَا وَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِمْ أَخْرَجْنَا لَهُمْ ﴾ کښې د ﴿ وَقَعَ ﴾ کلمه د "وُقُوع" څخه اشتقاقه شوې ده، خو دلته ترې واقع کېدو ته نږدې وخت مراد دی او دا ځکه چې د ﴿ ٱلْقَوْلُ ﴾ څخه هغه وعيدات او کيفيات مطلب دي کوم چې عين د قيامت په قيام کښې صورت نه نیسي بلکې د قيامت په قرب کښې صورت نیسي، اما په راتلونکي ﴿ وَوَقَعَ ٱلْقَوْلُ عَلَيْهِم ﴾ ایت کښې د ﴿ ٱلْقَوْلُ ﴾ څخه هغه وعيدات مراد دي کوم چې په عين قيامت کښې صورت نیسي.

نو د معنی حاصل به یې داسې راوخېژي چې: او کله چې په کفارو باندې د وعيداتو او عذابونو (د قيامت د قيام) وخت رانژدې شي نو مونږ به دوی ته د ځمکې څخه په خارق العاده توګه یو ځناور راوباسو.

## د دابة الأرض پېژاندنه

۲ـ په ﴿ أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د ﴿ دَآبَّةً ﴾ کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [هود: ۶] ایت لاندې ښه شرحه کړې ده چې په لغت کښې هغه شي ته ويله کېږي کوم چې په ځمکه باندې په کراره-کراره (ورو-ورو) حرکت کوي، او په عام عرف کښې دغه کلمه څلور پښې خاروي پورې او یا فقط په آس پورې اختصاص لري. په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې په ارتباط علماوو کرامو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اوږده بحثونه کړي دي(۱). د مثال په توګه:

الف: دغه ﴿ دَآبَّةً ﴾ د انسان څخه عبارت ده چې ږیره به هم ولري.

ب: دغه یو ځاروی دی چې څلور پښې لري، او د دوه وو وزرو درلودونکی هم دی.

ج: دغه فقط یو ځاروی دی او یا ډېر ځاروي دي چې په مختلفو وطنونو کښې به ظهور وکړي.

د: دغه ځاروی فعلاً موجود دی خو په خپل وخت کښې به راڅرګند شي، او یا به په همغه وخت کښې خلق کړی شي او فعلاً موجودیت نه لري.

ه: دغه ځاروی به فقط په یو ځل څرګند شي او یا به درې ځله ظهور وکړي چې ورکېږي به او څه وخت وروسته به بیا ظهور کوي.

و: د دغه ځاروي طول او عرض (اوږدوالی او پلنوالی) هم مختلف ښودلی شوی دی.

ز: د دغه ځاروي د ظاهرېدلو په ځای کښې هم اختلاف شته، چې د صفا د غونډۍ څخه او یا د بل ځای څخه به راووځي.

ح: بالآخره ځینو علماوو کرامو د ذکر شوي ځاروي په ارتباط متعدد روایات راغونډ کړي دي(۲)، چې اکثریت یې د نبي کریم ﷺ څخه په غیر په سلفو صالحینو پورې ارتباط لري.

نو که څوک غواړي چې اوږده بحثونه او متعدد روایات د نظره تېر کړي نو هملته دې مراجعه وکړي خو مونږ د دغه ځاروي په ارتباط په هغې اندازې بیان باندې اکتفاء کوو کوم چې د اېت شریف سره ډېرې نژدې اړیکې لري او بس. هغه دا چې:

## دغه ځاروی موجود دی یا به موجود شي

۳ـ په ایت شریف کښې د ﴿ أَخْرَجْنَا ﴾ کلمه په دوه وو صورتونو صادقېږي چې:

الف: نوموړی ځاروی فعلاً هم موجود وي خو په خپل وخت کښې به یې فقط خروج صورت ونیسي.

ب: نوموړی به په همغه وخت کښې موجود شي او خلکو ته به ورڅرګند کړی شي.

۴ـ همدارنګه د ذکرې شوې کلمې څخه (چې د "إِخْرَاجٌ" څخه اشتقاقه شوې ده) یو ځل راوېستل معلومېږي نو متبادره دا ده چې په خروج کښې به یې تعدد صورت ونه نیسي.

## د دغه ځاروي د خروج وخت

۵ـ نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَ خُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى وأَيُّهُمَا مَا كَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا فَالْأُخْرَى عَلَى أَثَرِهَا قَرِيبًا»(۳) یعنې د قیامت د علامانو څخه د ظهور د حیثه د مغرب څخه د لمر راختل دي او د ځاښت په وخت کښې په خلکو د دابة الأرض

---

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۲۱۷؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۲۸؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۳۲؛ روح المعاني ج۲۰ ص۲۲

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۷۴؛ تفسیر الخازن ج۳ ص۵۴۰. الدر المنثور ج۶ ص۳۷۷؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۳۵

(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۴۰۴؛ سنن ابي داوُد ج۲ ص۲۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ذکر شوی ځاروی) راوتل دي، نو هره يوه چې په دغو دوارو کښې په خپلې ملګرې علامې باندې څرګنېږي شوه نو بله ملګرې به يې ورپسې نژدې ظهور وکړي.

## د دغه ځاروي څېره عجيبه ده

۶ـ په ايت شريف کښې د ﴿ لَهُمۡ ﴾ د کلمې څخه څرګندېږي چې ذکر شوی ځاروی د شکل د پېړه او هم د نورو حيثيتونو د کبله ډېر عجيب ځاروی دی، او د الله ﷻ د قدرت يو بارز مثال دی، چې د خلکو پاره بالکل خارق العاده دي، مګر نور کيفيت يې الله ﷻ ته ډېر ښه معلوم دی چې څنګه او څنګه به وي.

## دا يو ځاروی دی او انسان نه دی

۷ـ د ﴿ دَآبَّةً ﴾ د کلمې څخه سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځي چې نوموړی ساکښ ځناور دی او انسان نه دی، او هم پکښې تعدد نشته.

همدارنګه په ﴿ مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ ﴾ کښې د "من" توري څخه څرګندېږي چې ذکر شوی ځاروی د انسانانو او نورو ځارويو په شان په توالد سره نه پيدا کېږي، بلکې د الله ﷻ په کامل قدرت سره به د ځمکې څخه را بهر شي، لکه څنګه چې د صالح ﷺ د معجزې اوښه په مستقيمه توګه د ځمکې څخه راووتله او توالد پکښې صورت ونه نيوه.

## دا ځاروی به په کومه ژبه خبرې کوي؟

۸ـ په ﴿ تُكَلِّمُهُمۡ ﴾ کښې ځينو علماوو کرامو ليکلي دي چې ذکر شوی ځاروی به په فصيحه عربي ژبه خبرې کوي[١]. خو مونږ ته دا هم څه بعيده نه برېښي چې په نورو ژبو به هم خبرې وکړي البته کله چې د غير عربي انسان سره خبرو کولو ته اراده وکړي. په همدغه عموميت باندې په ايت شريف کښې د ﴿ ٱلنَّاسَ ﴾ کلمه هم دلالت کوي.

په دې باندې علاوه دا څه عجيبه نه ده چې په هره ژبه خبرې وکړی شي خکه چې هغه به داسې وخت وي چې ځينې جمادات به هم خبرې وکړي لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ الْإِنْسَ وَحَتَّى تُكَلِّمَ الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ وَشِرَاكُ نَعْلِهِ وَتُخْبِرَهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ»[٢] يعني زما دې په هغه اقدس ذات باندې سوګند وي چې زما روح د هغه ﷻ په بلا کيفه لاس کښې دی، چې قيامت به تر هغه قائم نه شي ترڅو چې درندګان د انسانانو سره خبرې وکړي، او ترڅو چې د سړي سره د خپلې متروکې موتی او د خپلې پڼې وندنې خبرې وکړي، او (ترڅو) چې سړي ته خپل ورون په هغه شي باندې خبر ورکړي کوم چې د ده تېر د ده څخه وروسته (د ده په غياب کښې) کړی وي (چې دا يې ورکړی دی او هغه يې اخستی دی).

[١] تفسير البغوي ج۳ ص۴۲۸
[٢] جامع الترمذي ج۲ ص۴۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دا ځاروی په خبرو کښې څه وایي؟

۹ـ د ځینو علماوو کرامو[۱] نظر دا دی چې د نوموړي ځاروي خبرې به دا وي چې: "هذا مؤمن وهذا کافر" یعنې چاته به اشاره کوي چې دا مؤمن دی او چاته به اشاره کوي چې دا کافر دی.

خو ظاهره دا ده چې د دغو علماوو کرامو به حصر مطلب نه وي، بلکې د نوموړي ځاروي د خبرو یو مثال به یې ښودلی وي، او دا ځکه چې ځینو علماوو کرامو د ذکر شوي ځاروي څه نورې خبرې هم روایت کړې دي[۲].

### دوه قرائتونه

۱۰ـ په ﴿أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴾ کښې د "أنّ" توری په دوه ډوله قرائت شوی دی چې دواړه قرائتونه مشهور او متواتر دي[۳]. هغه دا چې:

الف: ذکر شوی توری (أنّ) د همزې په زَوَر سره دی او حرف جر (ب) ورسره مقدره ده چې به ﴿أَخْرَجْنَا﴾ پورې تعلق نیسي[۴]. یعنې او مونږ به په دغه وخت کښې ځکه ذکر شوی ځاروی خلکو ته راوباسو ترڅو ورسره خبرې وکړي چې:

تر اوسه پورې زمونږ په ایتونو باندې خلکو د پیغمبر په خوله ایمان نه راووړ او باور یې وربانډې نه کاوه، خو اوس به وربانډې د یوه ځناور او ځاوري په خوله ایمان راوړي خو څه ګټه به ورته ونه رسوي او په درد به یې دوا نه شي.

ب: ذکر شوی توری (إنّ) د همزې په زېر سره دی او دغه جمله الله ﷻ مونږ ته د ځاروي د خولې څخه راحکایته کړې ده چې د ﴿تُكَلِّمُهُمْ﴾ دپاره تفسیر واقع شوې ده[۵].

### یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۱ـ که څوک وایي چې: ایا په دغه قرائت کښې صحت لري چې د ﴿أَنَّ ٱلنَّاسَ كَانُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا لَا يُوقِنُونَ﴾ جمله د ځاروي د خولې حکایت وګڼله شي حال دا چې په دې تقدیر سره به د ﴿بِـَٔايَـٰتِنَا﴾ د "نَا" کلمه د ځاروي څخه عبارت شي او متبادره دا ده چې دغه د "نَا" کلمه د الله ﷻ د اقدس ذات څخه کنایي ده؟!

مونږ وایو چې: د دغه سوال دپاره ځینو علماوو کرامو متعدد جوابونه لیکلي دي[۶]، خو بهتر جواب یې دا دی چې الله ﷻ د ځاروي خبره بالمعنی حکایت کړې ده. یا په بل عبارت: ځاروی به

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۷۴
(۲) الدر المنثور ج۶ ص۳۸۳
(۳) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۱۶
(۴) البحر المحیط ج۸ ص۲۶۹
(۵) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۲۸
(۶) تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خلکو ته ووايي چې: "إِنَّ النَّاسَ كَانُواْ بِآيَاتِ الله لا يُوقِنُونَ"، خو الله ﷻ مونږ ته د "بِآيَاتِ اللهِ" په عوض ﴿ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾ راحکايت کړ.

نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: نومورې څاروی به خطابه ورکړي چې تر اوسه پورې خلکو (کفارو) د الله ﷻ په ايتونو (قرآن کريم) باندې يقين نه کاوه خو نن ورځ مجبور دي چې باور ورباندې وکړي او ايمان ورباندې راوړي مګر څه ګټه به ورته ونه رسېږي چې د مجبوريت ايمان د الله ﷻ په نزد مقبول نه دی.

## أهل التشيع څه وايي؟

۱۲ـ په اهل التشيع کښې يوه ډله (الإماميه) وايي[۱] چې: د "دَابَّةُ الأَرْضِ" څخه يو انسان نه بلکې متعدد انسانان مراد دي چې د قيامت په قرب (نژدو) کښې به د علي ﷺ په شمول ځينې امامان بېرته دنيا ته راوستلی شي ترڅو نور کمالات هم حاصل کړي او په خپلو غليمانو باندې زړونه يخ کړي. همدارنګه به ځينې د کفر مشران بېرته دنيا ته راستانه کړی شي ترڅو د خپلو کړو وړو سخته سزا وګوري؛ دوی دغه کار ته د رجعت لقب ورکوي.

که څه هم د الله ﷻ کامل قدرت د رجعت څخه عاجز نه دی، چې ممکن کار دی، مګر خبره په دې کښې ده چې ايا دا ممکن کار به واقع شي او که نه؟ يا په بل عبارت: رجعت خو ذاتي امکان لري مګر وقوعي امکان نه لري چې اهل الشيع ورباندې هيڅ دليل نه دی اقامه کړی او نه به يې ورباندې اقامه کړي آن تر دې چې د همدوی څخه يوه ډله چې د "الزيديه" په نامه يادېږي د رجعت څخه شديد انکار کوي[۲]. نو معلومه شوه چې د رجعت عقيده محض خيالي شی دی او کوم ثبوت نه لري.

## فَوج څه معنی؟

۱۳ـ په ﴿ وَيَوْمَ نَحْشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٍ فَوْجًا مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَـٰتِنَا ﴾ کښې د "فَوْج" کلمه هغه لوی ټولګي ته وضعه شوې ده کوم چې د زښتو ډېرو افرادو څخه تشکيل شوی وي[۳]، نو ايت شريف په لاندې دوه ډوله تفسير مونډلی شي[۴]:

الف: چې د ﴿ أُمَّةٍ ﴾ کلمې څخه دعوتي امت مراد کړی شي چې کفارو او مسلمانانو ټولو ته شموليت ولري، نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: ای پيغمبره! هغه وخت ياد کړه چې مونږ د هر پيغمبر د دعوتي أمتيانو څخه هغه بنه لوی ټولګی جدا حشر کړو کومو چې زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت کاوه.

ب: چې د ﴿ أُمَّةٍ ﴾ کلمه صرف د کفارو څخه عبارت شي او مؤمنانو ته شامله نه ګڼله شي، نو حاصل

(۱) تفسير نمونه لاهل التشيع ج۱۵ ص۵۵۳
(۲) روح المعاني ج۲۰ ص۲۷
(۳) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۱۳۳
(۴) اضواء البيان ج۶ ص۴۳۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



به یې داسې شي چې: ای پیغمبره! هغه وخت یاد کړه چې مونږ د هر پیغمبر د کفري اُمتیانو څخه هغه لوی ټولګی جدا حشر کړو کومو چې زمونږ ایتونو ته د دروغو نسبت کاوه او د همدې دپاره یې دعوت چلاوه او ډېر وربانديې کلک وه او پېروان یې درلوده.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۴ـ که څوک وایي چې: د قیامت په ورځ خو ټول خلک حشر کېږي چې یوازې په کفارو او یا په کفارو کښې یوازې مشرانو (رئیسانو) پورې خو اختصاص نه لري، نو د څه حکمت په بنیاد په دې ایت شریف کښې صرف د کفارو حشر ته او یا په کفارو کښې صرف د مشرانو (رئیسانو) حشر ته اشاره وشوه او بس؟

مونږ وایو چې: دلته اولنی حشر مطلب نه دی چې ټولو خلکو ته شامل دی، ترڅو اعتراض وارد شي، بلکې دلته د حشر په میدان کښې د توبیخ او تخجیل دپاره دوهم حشر مراد دی، په همدغه مطلب باندې متصل ایت دلالت کوي چې: ﴿ حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو قَالَ أَكَذَّبْتُم بِـَٔايَٰتِى ﴾ الآیة.

## تبصره

۱۵ـ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه سره څه منافات نه لري، څه لرې نه ده چې د قیامت په ورځ د حشر په میدان کښې یو ځل ټول کفار توبیخ او تخجیل کړی شي او بل ځل یوازې مشران (رئیسان) د همدې موخې دپاره جدا ودرولی شي او توبیخي او تخجیلي کلمات ورواورولی شي؛ مګر څرنګه چې دوهم تفسیر ته ورته مضمون په بل ایت کښې نازل شوی دی چې: ﴿ ثُمَّ لَنَنزِعَنَّ مِن كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى ٱلرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا ﴾ [مریم:۶۹] یعني مونږ به هرومرو ضرور د هرې ډلې (کفارو) څخه هغه کسان راوباسو (جدا کړو) کوم چې هغوی په ډېر مهربان الله ﷻ باندې د سرکشۍ د حیثه زیات سخت (او کلک) وه؛ نو مونږ ته همدغه دوهم تفسیر غوره برېښي، والله ﷻ أعلم بأسرار کتابه.

﴿ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِى ٱلصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ۚ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ ﴿٨٧﴾ وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِىَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ ۚ صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ ۚ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ ﴿٨٨﴾ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴿٨٩﴾ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِى ٱلنَّارِ هَلْ تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٠﴾ ﴾

[۸۷] او (ای پیغمبره!) هغه ورځ (یاده کړه) چې په شپېلۍ کښې (په اول ځل) پوکی وکړی شي نو هغه کسان به (ټول) وډار شي کوم چې په اسمانونو کښې او کوم چې په ځمکه کښې دي (د ډاره به

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مړه شي)، مګر هغه کسان (به مړه نه شي) کومو ته چې الله ﷻ اراده کړې وي (چې تر څه وخته پورې دې ژوندي پاتې شي).

او (د دغو ژوندیو پاتې شوو کسانو ژوند همه دوام نه لري څکه چې:) ټول (مخلوقات) به الله ﷻ ته په داسې حال کښې ورځي (او په حضور کښې به يې د مرګ څخه وروسته ودرېږي) چې ذليلان (عاجزان) به وي.

[۸۸] او (ای کتونکیه!) ته به (د قیامت په ورځ) غرونه په داسې حال کښې وګوري چې (په خپلو ځايونو باندې) د ولاړو ګومان به پرې کوې حال دا چې هغه به (د خپلو ځايونو څخه اوچت کړی شوي وي او په تېزۍ سره به) روان وي، د وريځو د (تېزو) روانېدلو په شان.

(غرونه الله ﷻ پاخه ودرولي دي) د هغه الله ﷻ پاخه ودرول چې هر (قوي) شی يې قوي جوړ کړی دی (او کله يې چې ورته اراده وشي نو کاواکه به يې وګرځوي).

يقيناً الله ﷻ په هغو (ټولو کړو وړو) خبردار دی کوم چې تاسو يې کوئ (او ورباندې اخته ياست).

[۸۹] هر څوک چې (د قیامت په ورځ) په نېکۍ سره راتګ وکړي نو ده لره د هغې (نېکۍ) څخه بهتر اجر دی، په داسې حال کښې چې دوی به په دغې ورځ کښې د لوی ډار څخه امن درلودونکي وي (او پرښتې به موقع په موقع ډاډ ورکوي).

[۹۰] او هرڅوک چې په بدۍ سره راتګ وکړي نو مخونه به يې په اور کښې وغورځولی شي (سر په ځړې به پکښې واچول شي).

(او هم به ورته د توبيخ دپاره وويلی شي چې:) ايا تاسو ته جزا درکوله کېږي (بلکې نه درکوله کېږي) مګر د هغه کارونو جزا چې تاسو په دنيا کښې وئ چې (هغه) مو کول (په تاسو باندې ظلم نه دی کړی شوی).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې هم د وړاندېنيو ايتونو غوندې د قيامت د ورځې خينو حالاتو ته اشاره شوې ده چې د مطلب خلاصه يې داسې راځي:

ای پيغمبره! په خپل اُمت باندې د قيامت د ورځې څه نور حالات هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ خپل اُمت ته دې هغه ورځ هم وربه ياده کړه چې:

الف: اول ځل په شپېلۍ کښې پوکی وکړی شي نو هغه څوک به په ډار کښې واقع شي او بيا به مړه شي کوم چې په اسمانونو کښې دي او کوم چې په ځمکو کښې دي. لکه پرښتې، پيريان، انسانان او نور ساکښان.

مګر هغه څوک به د لومړنۍ شپېلۍ په پوکولو باندې مړه نه شي کومو ته چې الله ﷻ اراده کړې وي چې په دغه وخت کښې دې ژوندي پاتې شي، لکه مقربې پرښتې (جبرائيل ﷺ) او نور.

ب: بيا به د څه وخت څخه وروسته هغه څوک هم بدون د شپېلۍ د پوکولو څخه مړه شي کوم چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د اولني شپېلۍ ځخه ژوندي پاتې شوي وه.

نو يوازې اقدس ذات ﷻ به باقي وي چې ازلي او ابدي دی او هيڅکله وربانديې فنا نه شي ورتلای.

ج: بيا به الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره شپېلۍ وهونکې پرښته راژوندۍ کړي

د: بيا به شپېلۍ وهونکې پرښتته د الله ﷻ په امر د دوهم ځل دپاره په شپېلۍ کښې پوکی وکړي نو ټول مړه شوي ساکښان به راژوندي شي او ټول به د الله ﷻ په حضور کښې د حساب کتاب دپاره د عاجزۍ او ناتوانۍ په حال کښې ودرېږي.

ه: ای پيغمبره! د اول ځل شپېلۍ پوکولو ځخه وروسته، برسېره په دې چې د ځينو خاصو کسانو ځخه په غير به ټول ساکښان مړه شي، غرونه به هم د خپلو-خپلو ځايونو ځخه حرکت وکړي او په ډېر سرعت سره به د وېنځاړېدلو په لور روان شي.

و: ته به وربانديې ګومان کوې چې دا په خپلو-خپلو ځايونو باندې کلک ولاړ دي حال دا چې هغه به د وريځو د سرعت غونديې په سرعت سره د زوال په لور تلل کوي.

۲_ ای پيغمبره! د لويو غرونو مستحکم جوړول او ځای په ځای يې په عمرونو-عمرونو د کاواکۍ ځخه ساتل د هغه الله ﷻ مستحکم کار دی چې هر مستحکم شي ته يې استحکام او قوت ورکړی دی، او کله يې چې اراده وشي نو استحکام ترې بېرته اخلي او د کمزورۍ او تزلزل سره يې مخامخ کوي.

يقيناً الله ﷻ په هغه ټولو کړو وړو بانديې خبردار دی کوم چې تاسو لګيا ياست چې کوئ يې.

۳_ کله چې تاسو د الله ﷻ په حضور کښې د حساب کتاب دپاره حشر کړی شئ نو هر چاته به په لانديې ډول د خپل عمل مطابق جزا يا سزا ورکړی شي:

الف: هر چا چې نيکي کړې وي نو ضرور به هغه ته د خپلو اعمالو په نسبت بهتره جزا او اجر ورکړی شي چې د يوې نېکۍ اجر به يې اقلاً د لسو نيکيو د اجر اندېول وي.

په دې بانديې علاوه هغوی به په دغې ورځ کښې د الله ﷻ د عذابه او غضبه په امن کښې وي، او هيڅ خطر به ورته متوجه نه وي.

ب: او هرڅوک چې په بدۍ سره راتګ وکړي او د حساب کتاب دپاره د کفري عقيدې په درلودلو سره وړانديې شي نو هرومرو ضرور به هغوی په دوزخ کښې په مخونو بانديې وروغورځولی شي.

او په دې بانديې علاوه به د توبيخ او تخجيل دپاره ورته پوښتنه متوجه کړی شي چې:

ايا تاسو ته جزا (سزا) درکولی کېږي؟ بلکې تاسو ته د هيڅ شي جزا (سزا) نه درکوله کېږي مګر د هغو کړو وړو سزا چې تاسو په دنيا کښې د هغو عملي کوونکي وئ.

نو په تاسو بانديې هيڅ ظلم او تېری نه دی شوی بلکې همغه شی مو ورېبه کوم مو چې پخپله کړلی وه او بس.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# توضیحات

۱_ په ﴿ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ ﴾ کښې د "الصُّوْر" په هکله د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۷۳] ایت لاندې څه تحقیق تېر شوی دی، خو په دې مقام کښې د لاندې معلوماتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: ځینې مفسرین کرام وایي چې: په دې ایت شریف کښې د دوهم ځل دپاره په شپېلۍ کښې پوکی کول مطلب دي[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به پکښې اول ځل پوکی کول مراد وي، او دا ځکه چې دلته یې په تعقیب باندې د ﴿ فَفَزِعَ ﴾ کلمه نازله شوې ده، چې د "فَزَعٌ" _لکه "شَرَفٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، او په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "مَاتَ" مره کېدلو سره تفسیره کړې ده[۲].

یا په بل عبارت: د "فَزَعٌ" کلمه د ډار معنی ورکوي[۳]، مګر دلته هغه ډار مراد دی د کوم سره چې مرګ ملګری وي، کوم ته چې په [الزمر:۶۸] ایت کښې په ﴿ فَصَعِقَ ﴾ سره اشاره شوې ده[۴].

ب: د ذکر شوي تفسیر په بنیاد په ﴿ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ کښې د ﴿ مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ په تفسیر کښې علماوو کرامو متعدد اقوال ذکر کړي دي[۵] لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: د ﴿ مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ څخه څلور مقربې پرښتې (جبرائیل، میکائیل، اسرافیل، ملک الموت علیهم السلام) مراد دي چې په اولنۍ شپېلۍ سره به مړې نه شي، او څه وخت وروسته به د مرګ سره مخامخ شي.

دوهم: دولس پرښتې به په ذکر شوي وخت کښې وفاتې نه شي چې څلور مقربې پرښتې دي د کومو چې وړاندې نومونه واخستل شوه او اته تنه پرښتې هغه دي کومو ته چې په [الحاقة:۱۷] ایت کښې اشاره شوې ده چې په دغې ورځ کښې به د عرش العظیم پورته کوونکې وي.

مونږ ته داسې برېښي _والله ﷻ اعلم_ چې علماوو کرامو به د ﴿ مَن شَآءَ ٱللَّهُ ﴾ دپاره یو- یو مثال ذکر کړی وي او حصر به یې مطلب نه وي، څه لرې نه ده چې په دغه وخت کښې څه نور کسان هم د څه وخته پورې ژوندي پاتې شي چې یوازې الله ﷻ ورباندې علم لرې او بس.

خو د دوی د ژوندي پاتې کېدلو معنی دا نه ده چې دوی به تر پایه پورې د مرګ څخه بچ شي بلکې معنی یې دا ده چې دوی به په اولنۍ شپېلۍ باندې مړه نه شي مګر د دوهمې شپېلۍ څخه وړاندې به د مرګ سره مخامخ شي، او بیا به په همدغې دوهمې شپېلۍ سره د نورو مړو په شمول بېرته راژوندي کړی شي.

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۶ ص۳۰۵
(۲) تفسیر ابن عباس في هذا المقام.
(۳) مفردات الراغب ص۳۹۳
(۴) تفسیر تبصیر الرحمن ج۲ ص۲۲۱
(۵) عمدة القاري على البخاري ج۱۹ ص۱۴۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: څرنګه چې ذکر شوی ایت شریف په ﴿ وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَٰخِرِينَ ﴾ باندې ختم شوی دی چې د شپېلۍ د دوهم ځل پوکولو څخه نمایندګي کوي، نو معلومه شوه چې په ﴿ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ ﴾ کښې به لومړی ځل شپېلۍ وهل مراد نه وي، که بالفرض لومړنی ځل پو کول مراد وی نو ایت به په ذکره شوې جمله باندې نه وی ختم شوی؟

مونږ وایو چې: په دوهم ځل شپېلۍ وهلو او هم په ورپسې ټولو حالاتو باندې دا خبره صادقېږي چې د لومړي ځل پوکولو څخه وروسته یې صورت نیولی دی، که څه هم ځینې حالات ترې لږ وروسته دي لکه د ژوندیو مړه کېدل، او ځینې ترې ډېر وروسته دي لکه د مړو بېرته راژوندي کېدل او یا د حساب کتاب صورت نیول او داسې نور.

## یادونه

۳ـ مونږ په دې مقام کښې هغه څه ولیکل کوم چې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي خو ـإن شاء الله ﷻـ د [الزمر:۶۸] ایت لاندې به مونږ همدغه موضوع په تحقیقي ډول سره تعقیبه کړو چې د نفخاتو شمېره څو ده او د "فَزَع" او "صَعِق" څخه کوم ډار او کومه بې هوشي مراده ده؟، ترڅو د ایتونو او احادیثو ترمنځ په همدې ارتباط هغه اشتباه د منځه لاړه شي کومه چې د چا ذهن ته ورځي.

## یادونه

۴ـ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[۱] هغه پنځه حالتونه واضحه کړي دي کوم چې د قرآن کریم په مختلفو ایتونو کښې نازل شوي دي او کوم به چې په غرونو باندې د قیامت په ورځ وار په وار ورعارض شي او په نتیجه کښې به ترې ځمکه بالکل خالي وګرځي، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## فزع څه معنی؟

۵ـ لږ وړاندې د الله ﷻ په توفیق په اولنۍ توضیح کښې تېره شوه چې د "فَزَع" کلمه هغې وېرې او ډار ته وضعه شوې ده چې د یوه خطرناک شي د کبله سړي ته عارضېږي.

خو په ﴿ وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ ءَامِنُونَ ﴾ کښې د نوموړې کلمې څخه ډېره لویه وېره او ډار مراد دی، او دا ځکه چې د یو پلوه دغه کلمه نکره نازله شوې ده او د بله پلوه پکښې تنوین د تعظیم دپاره دی لکه چې په بل ایت کښې وربانـدې صراحت شوی دی چې: ﴿ لَا يَحْزُنُهُمُ ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ ﴾ [الأنبياء:۱۰۳] یعني: په دغې ورځ به مؤمنان ډېره لویه وېره او ډار غمژن نه کړي اوهیڅ خطر به ورته متوجه نه وي بلکې موقع په موقع به ورته پرښتې بشارت او زېرې ورکوي.

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاتې شوه دا خبره چې د قيامت په ورځ كښې به هغه كوم وخت وي چې ذكره شوې لويه وېره او
دار په كفارو باندې ورنازل شي؟ نو د دې پوښتنې جواب ته په متصل ايت كښې اشاره شوې ده چې:
﴿فَكُبَّتْ وُجُوهُهُمْ فِي ٱلنَّارِ﴾ يعنې دا به هغه وخت وي چې كفار په مخونو باندې سر په څړې دوزخ
ته ورواچولې شي، أعاذنا الله ﷻ منها.

﴿إِنَّمَآ أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلْبَلْدَةِ ٱلَّذِى حَرَّمَهَا وَلَهُۥ كُلُّ شَىْءٍ ۖ وَأُمِرْتُ أَنْ
أَكُونَ مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٩١﴾ وَأَنْ أَتْلُوَا۟ ٱلْقُرْءَانَ ۖ فَمَنِ ٱهْتَدَىٰ فَإِنَّمَا يَهْتَدِى لِنَفْسِهِۦ ۖ وَمَن
ضَلَّ فَقُلْ إِنَّمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلْمُنذِرِينَ ﴿٩٢﴾ وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ سَيُرِيكُمْ ءَايَٰتِهِۦ فَتَعْرِفُونَهَا ۚ وَمَا
رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٩٣﴾﴾

[۹۱] (اې پيغمبره!) خلكو ته ووايه چې:) يقينًا ماته امر كړى شوى دى چې د دغه ښار (مكې معظمې) د رب ﷻ عبادت وكړم (البته) هغه رب ﷻ چې همدغه ښار يې محترم ګرځولى دى (چې امنيت پكښې زښت ډېر ټينګ دى)، او خاص همده ﷻ لره هر شى دى (هر څه كولى شي او هر څه يې په اختيار كښې دي).

او (همدارنګه) ماته امر كړى شوى دى چې زه (همده ﷻ ته) د غاړې اېښودونكو د جملې څخه شم (غاړې اېښودلو ته ادامه وركړم).

[۹۲] او (دا امر هم راته كړى شوى دى) چې زه قرآن كريم (په خلكو باندې) تلاوت كړم (او خپل دعوت ته ادامه وركړم).

نو هرڅوک چې (زما په دعوت سره) لاره مونده كړي نو يقينًا هغه د خپل ځان دپاره لاره مونده كړه (ګټه يې همده ته راجع ده).

او هر څوک چې لاره وركه كړي (خپلې ګمراهۍ ته ادامه وركړي) نو ورته ووايه چې: يقينًا زه (فقط) د ډاروونكو (پيغمبرانو) څخه يم (ستاسو د كفرياتو مسئوليت ماته راجع نه دى).

[۹۳] او (اې پيغمبره!) ته ووايه چې: الله ﷻ پورې تولې ستاينې (مختصې) دي (چې ماته يې نبوت راكړې دى او د دعوت توفيق يې رابښلى دى).

ژر دى چې الله ﷻ به تاسو ته (اې كفارو!) خپل دلايل درولېد كړي، نو تاسو به يې وپېژنئ (چې همدا حقاني او رښتياني دلايل دي، د قيامت ورځ راروانه ده).

او (اې پيغمبره!) ستا رب ﷻ د هغو كارونو څخه ناخبره نه دى كوم چې تاسو لګيا ياست چې كوئ يې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د سورت په آخر كښې د توحيد د اثبات او د شرک د ابطال څخه وروسته څه ارشادات نازل شوي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي چې د یو پلوه پکښې د نبي کریم ﷺ تسله او ډاډینه نغښتې ده او د بله پلوه پکښې عنادي کفار د عذاب په نزول سره تهدید شوي دي، نو حاصل یې داسې راخېژي:

ای پیغمبره! د توحید د اثبات او د شرک د ابطال څخه وروسته لاندې ارشادات په نظر کښې ونیسه:

۱_ کفار او مشرکان مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: یقیناً زه د الله ﷻ د پلوه مامور او مکلف یم چې د نعمتونو شکریه یې وکړم او خاص د همده ﷻ عبادت وکړم او دا ځکه چې:

ب: الله ﷻ د همدغې مکې معظمې رب دی چې زمونږ دپاره یې د امن ځای ګرځولې ده، د همدغه ښار څخه بهر هیڅوک په امن کښې نه دي چې قتل او قتول پکښې جریان لري او غلا غصب پکښې روان دي.

ج: الله ﷻ دغه ښار د ټولو خلکو په زړونو کښې محترم ګرځولی دی چې آن د ابراهیم ﷺ د زمانې څخه پکښې خلک د انسان وژنې څخه لا څه چې د ښکار کولو څخه هم ځانونه ساتي.

د: همدغه د مکې معظمې رب ﷻ د هر شي رب دی او هرڅه د همده ﷻ په واک او اختیار کښې دي (هر شی یې مملوک او مخلوق دی).

هـ: ماته د همده ﷻ د پلوه امر شوی دی چې د همده ﷻ احکامو ته غاړه کېږدم او ورته د منقادینو څخه وګرځم.

و: زه په دې مکلف یم چې د همده ﷻ عبادت او انقیاد ته دعوت وچلوم، او احکام یې ټولو خلکو ته ورسوم.

ز: د مکې معظمې رب ﷻ په ما باندې قرآن کریم نازل کړی دی او ماته یې توصیه کړې ده چې په ټولو خلکو باندې یې قرائت کړم او موقع په موقع یې ورته تشریح او بیان کړم.

۲_ ای پیغمبره! کفارو ته ووایه چې: ما خو خپل مکلفیت ترسره کړ چې قرآن کریم مې په تاسو باندې په کراتو مراتو باندې تلاوت کړ او د انحرافي عقیدې څخه مې منعه کړئ، نو:

الف: که څوک د قرآن کریم ارشادات قبول کړي او د لارې مشال یې وګرځوي نو هغه فقط خپل ځان ته ګټه وکړه چې د خپل رب ﷻ رضا یې حاصله کړه او د ابدي دوزخ څخه یې خپل ځان وژغوره،

ب: او هرڅوک چې په خپله ګمراهۍ باندې کلک پاتې شي او د قرآن کریم څخه د خپلې لارې د مشال کار وانخلي نو هغوی فقط خپل ځانونه په خطره کښې واچول.

ج: ته هغوی ته اطلاع ورکړه او ورته ووایه چې: زه ستاسو د کړو وړو مسئول نه یم او ستاسو د کفریاتو او ګمراهیو بار زما په اوږو باندې نه لوېږي.

بلکې زه د پیغمبرانو د جملې څخه یو پیغمبر یم، او د ډاروونکو د جملې څخه یو ډاروونکی یم، ما خپله فریضه اداء کړه نور نو تاسو پوهېږئ او کار مو.

۳_ ای پیغمبره! دا هم خلکو ته ووایه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: الحمد لله ﷻ چې په ما باندې یې قرآن کریم نازل کړی دی او هم یې د دې توفیق رابښلی دی چې زه یې هو بهو خلکو ته ورسوم او هیڅ قصور پکښې ونه کړم.

ب: ای خلکو! تاسو چې زما دعوت ته غاړې نه ږدئ او د قرآن کریم د عظیم الشان نعمت ناشکري کوئ نو ډېر ژر دی چې الله ﷻ به تاسو ته د دې قرآن کریم حقانیت په سترګو درولید کړي، چې په دنیا کښې به دربانډې عذاب درنازل کړي او په آخرت کښې به مو په دائمي دوزخ کښې سر په خړې ورواچوي.

په دغو وختونو کښې به تاسو د قرآن کریم په حقانیت اعتراف وکړئ او شکرګزاری ته به یې چمتو شئ خو هلته به درته څه ګټه ونه شي رسولی او انقیاد به مو د قبول درجې ته ونه رسېږي.

۴ـ ای پیغمبره! یقینًا ستا رب ﷻ د هغو کارونو څخه ناخبره نه دی چې تاسو یې کوئ، ستا هلې ځلې هم ورته معلومې دي او د کفارو انکار هم ترې پټ نه دی، د قیامت په ورځ به د هر چا سره مناسب چال چلند وکړي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ﴾ الآیة، کښې لاندې نکاتو ته اشاره ده.

الف: ای کفارو! که تاسو د الله ﷻ فقط د دغه یوه نعمت شکریه وکړئ نو هم په شریک درولو به ورته قائل نه شئ هغه دا چې مکه معظمه یې ستاسو دپاره د امن تاتوبی ګرځولی دی حال دا چې ستاسو په شاوخوا وطنونو کښې د هیڅا سر او مال په امن کښې نه دی.

ب: آن د ابراهیم ﷺ د زمانې څخه راپه دېخوا په دې حرم شریف کښې لا ځینې مباح شیان حرام کړی شوي دي لکه ښکار کول او داسې نور، خو تاسو پکښې د داسې حرام کار مرتکبین یاست چې هغه په ټولو زمانو او ټولو وطنونو کښې قطعي حرام دي چې هغه د کفر او شرک څخه عبارت دي.

نو تاسو ته په کار دي چې د دغه اشد حرام څخه لاس واخلئ او نوره ادامه ورنه کړئ حال دا چې تاسو خپل ځانونه د ابراهیم ﷺ اولاده ګڼئ او د خپل نیکه لاره مو پرېښې ده.

ج: هر شی د الله ﷻ ملکیت دی او هر څه د همده ﷻ په اختیار کښې دي، نو که بالفرض الله ﷻ د مکې معظمې په عوض بل کوم ښار محترم ګرځولی وی نو تاسو به د دنیا د نورو خلکو په شان د چور او چپاول سره مخامخ وی.

نو زه یو ځل بیا تاسو دعوتوم چې د الهي نعمتونو شکریه وکړئ او د کفریاتو او شرکیاتو څخه لاس واخلئ.

## درې ډوله تفسیر

۲ـ دا ایت شریف ﴿ سَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ فَتَعۡرِفُونَهَا ﴾ په لاندې درېوو ډولو باندې تفسیر کېدلی شي چې د هر ډول تفسیر دپاره یې په بل ایت کښې نظیر موندلی کېږي، هغه دا چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای مشرکانو! ژر دی چې الله ﷻ تاسو ته د خپل قدرت دلایل د عذاب په شکل کښې درولید کړي نو تاسو به یې وپېژنئ چې رښتیا الله ﷻ په هر شي باندې قادر دی.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې نازل شوی دی چې: ﴿ سَأُوْرِيكُمْ ءَايَتِي فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴾ [الأنبياء:۳۷] یعني: ای کفارو! تاسو د عذاب په شکل کښې زما د قدرت په دلایلو باندې زما څخه عجله مه کوئ، ژر دی چې بدون ستاسو د غوښتنې څخه یې درولید کړم (د بدر غزا لرې نه ده).

ب: ای کفارو! ډېر ژر دی چې الله ﷻ تاسو ته د قرآن کریم (اسلام) د حقانیت دلایل درولید کړي نو تاسو به یې وپېژنئ چې دا دلایل حقاني او رښتیاني دلایل دي (د قیامت د قرب علامات لکه دابة الأرض او پخپله د قیامت قیام څه لرې نه دي).

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده او د کفارو د قیامت د ورځې حال یې راحکایت کړی دی چې: ﴿ فَٱرْجِعْنَا نَعْمَلْ صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ﴾ [السجدة: ۱۲] یعني: ای زمونږ ربه! مونږ ولیده او مونږ واورېده نو مونږ بېرته دنیا ته ستانه کړه، یقینًا مونږ (د اسلام په حقانیت) یقین کوونکي (باورکوونکي) یاستو.

ج: ای کفارو! ژر دی چې الله ﷻ تاسو ته د قرآن کریم په حقانیت باندې خپل دلایل درولید کړي نو تاسو به یې وپېژنئ چې دا رښتیاني او حقاني دلایل دي، هغه دا چې په ټوله دنیا کښې به یې پلوشې خورې شي او تاسو به یې مخنیوی ونه کړی شئ.

همدا مضمون الله ﷻ په بل ایت شریف کښې داسې نازل کړی دی چې: ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ﴾ [فصلت:۵۳] یعني: ژر دی چې مونږ به کفارو ته د قرآن کریم د حقانیت دلایل په اطرافو کښې او د دوی په نفسونو کښې ورولید کړو چې په دنیا کښې به یې پلوشې خورې شي او دوی به یې د کمزورۍ او ناتوانۍ د کبله د وړاندې تګ هیڅ مخنیوی ونه کړی شي.

د النمل سورت د الله ﷻ په توفیق ختم شو او مونږ د الله ﷻ څخه د لا زیات توفیق آرزو کوو.

۱۴۲۰/۱۰/۲۹ هـ ق - ۱۳۷۸/۱۱/۱٦ هـ ش - ۲۰۰۰/۲/۵م

Scanned by CamScanner

# القصص (۲۸)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ د دې سورت نوم د راتلونکي [۲۵] ایت څخه اخستلی شوی دی چې همدغه د ﴿ ٱلۡقَصَصَ ﴾ کلمه پکښې نازله شوې ده، او د موسی ﷺ هجرت او نجات ته پکښې اشاره شوې ده. شاید چې دا نوم به ورته د دې دپاره خوښ کړی شوی وي ترڅو مونږ اشارةً پوه کړی شو چې د پیغمبرانو پیروي کول او د کفارو څخه د مؤمنانو خوا ته هجرت کول د نجات او نصرت نښه ده.

نو لکه څنګه چې الله ﷻ موسی ﷺ ته د فرعون څخه نجات ورکړ همدارنګه به د محمدي ﷺ امت دپاره د مدینې منورې هجرت د نصرت سبب جوړ کړي.

۲ـ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

ألف: د دې سورت (القصص) د ټولو ایتونو شمېره اته اتیا (۸۸) ایتونو ته رسېږي[۱] چې د دې سورت ټول ایتونه (د دوه یا درې ایتونو څخه په غیر چې اختلاف پکښې دی[۲] نور ټول) بالاتفاق مکي دي[۳] او په هغه وخت کښې نازل شوي دي چې نبي کریم ﷺ لا په خپل سفر کښې مدینې منورې ته نه وه رسیدلي.

ب: د کلمو شمېره يې يو زرو څلور سوه يو څلويښت (۱۴۴۱)، او د حرفونو شمېره يې پنځه زره اته سوه (۵۸۰۰) ده[۴].

### د دې سورت محتويات

۳ـ د دې سورت عمده بحثونه د نورو مکي سورتونو غوندې په عقیدوي موضوعاتو باندې څرخېږي، او په همدې مطالبو باندې پکښې دلایل او براهین هم نازل شوي دي، او دوه وو قیصو ته هم پکښې اشاره شوې ده چې په دواړو کښې د وخت مشرکان او د قیامت د ورځې پورې ټول کفار په غوږ باندې وهلی شوي دي چې:

الف: حکومتي سلطې هیڅکله د الله ﷻ د قدرت مخه نه شي نیولی د همدې کبله فرعون ونه شو کړی چې د مغلوبیت څخه خان خلاص کړي او خپله سلطه ژوندۍ وساتي.

ب: همدارنګه مالي سلطه هم د الله ﷻ د قدرت مخنیوی نه شي کولی لکه چې قارون ته د خسف څخه د خزانو او مالونو ډېروالي نجات ورنه کړی شو.

نو ټولو کفارو ته عموماً او د مکې مشرکانو ته خصوصاً په کار دي چې د فرعون او قارون څخه عبرت واخلي او د اسلام د وړاندې تګ په مخنیوي کښې زیار ونه باسي.

---

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۴۲۳
(۲) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۲۴۷
(۳) تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۷۹
(۴) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۲۱۳؛ تفسير الخازن ج۴ ص۵۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دوارو سورتونو تناسب

۴_ دا سورت (القصص) د وړاندیني سورت (النمل) سره د ډېرو وجوهو د کبله تناسب لري[۱] خو لاندې يوه وجه يې د مثال په توګه ولولئ:

په "النمل" کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِۦٓ إِنِّىٓ ءَانَسْتُ نَارًا ﴾ [النمل:۷]

يعنې هغه وخت ياد کړه چې موسی ؑ خپل ټبر ته وويلې چې يقيناً ما اُور وليد، تاسو همدلته تم شئ زه به تاسو ته د اوچوکي په سر کښې څه اور راوړم چې تاسو ورباندې تاوده شئ، او يا به د لارې د مندلو څه خبر راوړم او يا به لا دواړه کارونه وکړم.

په ذکر شوي ايت شريف کښې لاندې پوښتنې مجملې او بې جوابه پاتې وې چې:

الف: موسی ؑ چې د فرعون په کور کښې تربيه شوی وه د دې څه وجه وه او بيا ورته څه باعث وه چې د هغه د کور څخه بلکې د مصر څخه وتښتېد؟.

ب: د موسی ؑ ټبر (مېرمن) څوک وه او د کوم ځای وه او د ازدواج سبب يې څه شی وه؟

ج: د موسی ؑ د دغه سفر موجبه څه شی وه چې د طور په غره باندې تېرېده او الله ﷻ په نبوت سره سرلوړی کړ؟ او داسې نورې پوښتنې.

نو ذکرې شوې ټولې پوښتنې په دې سورت کښې جوابې شوي دي.

يا په بل عبارت: د هغه سورت اجمال دلته پوره ته شوی، او اجمال او تفصيل خو قوي تناسب دی.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿ طسٓمٓ ۝١ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْمُبِينِ ۝٢ نَتْلُوا۟ عَلَيْكَ مِن نَّبَإِ مُوسَىٰ وَفِرْعَوْنَ بِٱلْحَقِّ
لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ۝٣ إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً
مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْىِۦ نِسَآءَهُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ۝٤ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ
عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝٥ وَنُمَكِّنَ
لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَحْذَرُونَ ۝٦ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] دغه (راتلونکي ايتونه) د روښانه کتاب (قرآن کريم) ايتونه دي.

---

[۱] روح المعاني ج ۲۰ ص ۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۳] مونږ په تا باندې (ای پیغمبره!) د داسې قوم دپاره چې (په قرآن کریم باندې) ایمان راوړي د موسی ﷺ او د فرعون د مهم خبر (خبرونو) ځنې (څه برخه) په حقه سره قرائت کوو (چې هیڅ شک او شبه پکښې نشته، هغه دا چې:)

[۴] یقینًا فرعون (د مصر) په ځمکه کښې (په خلکو باندې) لویي (تکبر) کاوه، او د دې ځمکې اهل (اوسېدونکي) یې متعددې ډلې ګرځولي وه (داسې چې:) د دوی څخه یې یوه ډلګی کمزوري کوله، چې د دوی زامن (نارینه ماشومان) یې ذبحه کول او د دوی ښځې (زنانه ماشومانې) یې (ژوندۍ) پرېښودلې.

یقینًا فرعون د مفسدانو څخه وه (چې ځینې نور یې څوک وژل او څوک تعذیبول او داسې نور).

(دا ډلګی د بني اسرائیلو څخه عبارت وه، او بالمقابل بلې ډلې ته یې عزت ورکاوه کومه چې د نوموړي خپل قومیان وه).

[۵] (فرعون دا کار کاوه) او مونږ اراده کړې وه چې په هغو کسانو باندې (په نجات سره) احسان کېږدو کوم چې په ځمکه کښې کمزوري ګرځولي شوي وه. او (دا مو هم اراده کړې وه) چې هغوی اماماں (مشران) وګرځوو، او همدوی (د ځمکې) وارثان جوړ کړو.

[۶] او (بالآخره مونږ اراده کړې وه چې:) همدوی ته په ځمکه کښې قدرت (او توان) ورکړو، او فرعون او (د ده وزیر) هامان او د دوی دواړو لښکرو ته د کمزوري کړی شوو (بني اسرائیلو) د پلوه هغه شی ورولید کړو د کوم څخه چې دوی ډارېدل (هغه دا چې که دوی قدرت مونده کړي نو زمونږ حکومت به ختم کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وړاندېنۍ سورت (النمل) په دې مضمون باندې ختم شوی وه چې: ای کفارو! یا ای خلکو! ډېر ژر به الله ﷻ د خپل قدرت نښې تاسو ته په دنیا او آخرت کښې په سترګو باندې دروليدې کړي.

په دې ایتونو کښې هغه قیصه پیل شوې ده په کومه کښې چې الله ﷻ د خپل کامل قدرت یوه نښه پخوانیو قومونو ته ورلیده کړې وه او د قیامت د ورځې پورې تول خلک یې وربانډې په حکایت سره خبر کړه ، نو حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته خلک په "طسم" سره مخاطب کړه ترڅو دوی پوه شي چې دا کتاب په حقه د الله ﷻ د پلوه په تا باندې درنازل شوي دي، ځکه چې:

الف: دغه کتاب (قرآن کریم) د همغو تورو څخه ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې د خلکو کلامونه ترکیبېږي او روزمره وربانډې غږېږي او ماشومان خبرې اترې کوي، خو د دې سره-سره دوی تول ورسره د یوه سورت یا یوه ایت د جوړولو سیالي نه شي کولی.

ب: د دې کتاب (قرآن کریم) د حقانیت بل دلیل او برهان دا دی چې مونږ په تا باندې د موسی ﷺ او د فرعون د حالاتو څخه ځینې مهم او ګټور معلومات قرائت کوو. او ته یې هو بهو خلکو ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابلاغوې، که بالفرض ته په حقه پیغمبر نه وی او دا کتاب په حقه الهي کتاب نه وی نو تا به د هغوی د حالاتو څخه هیڅکله یوه کړې هم نه وی قرائت کړي؛ خو د دغه دلیل څخه هغه څوک ګټه پورته کولی شي کوم چې ایمان لري او ستا په نبوت باندې عقیده کوي (عناد نه وي نیولي).

۲_ ای پیغمبره! د قیصې مهم ټکي او ګټور معلومات دا دي چې:

الف: یقیناً فرعون په خپله زمانه کښې په ځمکه کښې ډېر زیات تکبر او لویې کوله آن تر دې چې خپل ځان ته یې د اعلی رب لقب ورکړی وه.

ب: نوموړي د خپلې زمانې خلک په دوه وو برخو ویشلي وه، یوې ډلې ته په عزت او احترام باندې قائل وه چې دا ډله د ده خپل قومیان وه.

او د بلې ډلې په سپکاوي پسې یې راخستې وه چې هغه د موسی ﷺ قومیان وه او د یوسف ﷺ په سلسله د شام څخه مصر ته تللي وه او هملته استوګن شوي وه.

ج: د دې دپاره چې د موسی ﷺ قومیان روزمره کمزوري او ذلیل وګرځي او په دماغونو کښې یې د یوسف ﷺ د حکومت راژوندي کېدل خطور ونه کړي او د فرعون د حکومت د ړنګولو خیال ورسره پیدا نه شي نو فرعون به د هغوی زامن وژل او لورګانې به یې ژوندۍ پرېښودلې ترڅو تر یې په راتلونکې کښې د خدمتګارۍ کار واخلي.

یقیناً چې فرعون په دنیا کښې د مفسدانو د جملې څخه وه او په ځمکه کښې یې په کفر باندې علاوه نور ډېر فسادونه کړي دي.

۳_ دا خو د فرعون تګلاره وه چې د خپلې سلطې د قائم ساتلو دپاره یې زرګونه ماشومان د تېغه تېر کړه، خو بالمقابل مونږ بله اراده درلوده چې د فرعون د ارادې په مقابل قطب کښې واقع وه، هغه دا چې:

الف: مونږ اراده درلوده چې کمزورو او ذلیلو خلکو ته قوت او عزت ورکړو او د فرعون د سلطې څخه یې نجات په نصیب کړو.

ب: مونږ قصد کړی وه چې همدغه کمزوري خلک په دنیا کښې امامان او مشران وګرځوو او سیادت همدوی ته ورپېرزو کړو.

ج: مونږ غوښتل چې همدغه ذلیله خلک په ځمکه کښې د فرعونیانو خلیفه ګان وګرځوو او د حکومت واګې د همدوی په لاس ورکړو.

د: زمونږ اراده وه چې په ځمکه کښې همدوی ته امکانیات ورکړو او همدوی د باغونو او ښایسته مساکنو خاوندان جوړ کړو.

هـ: او بالآخره زمونږ په نزد فیصله شوې خبره وه چې مونږ د همدغه کمزوري قوم د پلوه فرعون او د ده وزیر (هامان) او نورو اراکینو ته هغه کار وولید کړو د کوم د واقع کېدلو څخه چې دوی ډارېدل او د هغه د مخنیوي دپاره یې د هغوی نارینه ماشومان د پسونو په شان ذبحه کول.

لنډه دا چې هغه د فرعون غوښتنه وه او دغه زمونږ غوښتنه وه، چې په نتیجه کښې زمونږ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غوښتنه ترسره شوه او د هغه غوښتنه د خاورو سره برابره شوه.

## توضیحات

۱_ ظاهره دا ده چې په ﴿ إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي ٱلْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا ﴾ الآية- کښې لاندې ټکو ته اشاره ده[۱]:

الف: فرعون د خپل قلمرو خلک (خپل رعیت) په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ویشلی وه:

اول: یوه معززه ډله وه چې د نوموړي حبل قومیان (قبطیان) وه چې د مراتبو په اختلاف سره یې په متعددو کارونو باندې مقرر کړي وه چې هر یوه کار د عزت څخه نمایندګي کوله.

دوهم: بله ډله خلک یې ذلیلان او حقیران ګرځولي وه چې دوی د موسی ﷺ قومیان (سبطیان) وه.

ب: دغه کمزورې ډله خلک (سبطیان) د فرعون د پلوه د لاندې حالاتو سره مخامخ وه:

اول: ځینې به یې د پسونو په څېر ذبحه کول او یا به یې په نورو عذابونو سره معذبول.

دوهم: په ځینو باندې به یې توهین آمیزه کارونه اجراء کول لکه د لارو جارو کول، د تشنابونو وینځل او داسې نور.

## هامان څوک وه؟

۲_ په ﴿ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا ﴾ کښې د "هَامَان" کلمه د هغه سړي نوم دی کوم چې د فرعون د وزیرانو مشر وه، او د رعیت اداره یې د همده په لاس کښې ورکړې وه. د همدې کبله یې هغه ته امر کړی وه چې یوه ډېره هسکه ماڼۍ ورته جوړه کړي چې هلته پکښې د موسی ﷺ د معبود سره خبرې اترې وکړي، لکه چې په راتلونکي [۳۸] ایت کښې ورته اشاره شوې ده.

## یادونه

۳_ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۴۹] ایت لاندې هغه وجه ډېره ښه تحقیقه شوې ده د کومې د کبله چې فرعون د بني اسرائیلو د نارینه ماشومانو په وژلو او ذبحه کولو باندې پیل کړی وه.

همدارنګه د [الأعراف:۱۳۷] ایت لاندې هغه موضوع ښه شرحه شوې ده کومې ته چې په ﴿ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ ایت کښې اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ والمنة.

﴿ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ أَنْ أَرْضِعِيهِ ۖ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي ٱلْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِيٓ ۖ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٧﴾ فَٱلْتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا ۗ إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا۟ خَٰطِـِٔينَ

(۱) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۲۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۹۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿وَقَالَتِ ٱمۡرَأَتُ فِرۡعَوۡنَ قُرَّتُ عَيۡنٖ لِّي وَلَكَۖ لَا تَقۡتُلُوهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ۝٩﴾

[۷] او مونږ د موسی ﷺ مور ته الهام کړی وه چې (د څه وخته پورې) هغه (خپل زوی) ته تی ورکړه. نو کله چې ته ورباندې (د فرعون د وژلو څخه) وډاره شوې نو په سیند (رودنیل) کښې یې وغورځوه، او (د غرقېدلو څخه ورباندې) مه ډارېږه او مه (یې په فراق باندې) غمژنه کېږه.

(او دا څکه چې) یقینًا مونږ تاته د ده (ستا د زوی) بېرته درتاوونکي یاستو او هم یې (بیا) د پیغمبرانو د جملې څخه ګرځوونکي یاستو (ته هیڅ تشویش مه کوه).

[۸] نو (هغه ورباندې وډاره شوه او په سیند کښې یې لاهو کړ چې) د فرعون تبر وموند (د سیند څخه یې) د دې دپاره (راونیوه) ترڅو دوی ته (په نتیجه کښې) دښمن او د غم (سبب) وګرځي.

یقینًا فرعون او (د ده مشاور) هامان او هم د دوی دواړو لښکرې (دوی ټول) خطاکاران وه (چې په تدبیر سره یې د الهي تقدیر مخنیوی کاوه).

[۹] او د فرعون ماندینې وویلې چې: (دا ماشوم) زما دپاره او ستا دپاره د سترګو یخوالی دی (د خوشالی سبب دی).

تاسو دا (ماشوم) مه وژنئ، شاید چې مونږ ته ګټه ورسوي او یا به یې په ولدیت (زوی توب) سره ونیسو.

(نو فرعون او د ده مشورچیانو ذکر شوی وړاندیز قبول کې حال دا چې دوی (په عاقبت باندې) نه پوهېدل (چې څه نتیجه به ورکړي؟).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د موسی ﷺ د ماشومتوب حالاتو ته اشاره شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

۱ـ ای پیغمبره! موسی ﷺ په همغه وخت کښې تولد شو په کوم کښې چې فرعون د بني اسرائیلو د نارینه وو ماشومانو په وژلو لاس پورې کړی وه.

نو د همدې کبله د موسی ﷺ مور په سخت تشویش کښې واقع شوه او وډاره شوه چې په نن سبا کښې به فرعونیان زما دغه تازه زېږېدلی ماشوم هم زما د سترګو لاندې ذبحه کړي. نو:

الف: مونږ د هغې د تشویش مخنیوی وکړ او هغې ته مو الهام وکړ چې:

ب: په ډاډه زړه خپل دغه ماشوم ته تی ورکوه او خپلې سترګې ورباندې یخوه، هیڅکله به فرعونیان ستا د ماشوم د وژلو توان مونده نه کړي.

ج: هو! کله چې ته ورباندې وډاره شوې نو په ډېر اطمنان سره خپل ماشوم د لرګي په صندوق کښې واچوه (د صندوق ټول چاودونه ښه بند کړه چې اوبه ورداخلې نه شي).



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: بیا دغه بند کړی شوی صندوق په دریاب (رود نیل) کښې په ډېرې خاطر جمعی سره لاهو کړه
او هیڅ مه ډارېږه چې په دریاب کښې به غرق شي، مونږ یې درته د غرقېدو څخه ساتو.
هـ: همدارنګه د ماشوم په جدا کېدلو (فراق) باندې خفه کېږه هم مه، او دا ځکه چې:
و: یقیناً مونږ ستا غېږې ته د دغه ماشوم بېرته راستنوونکي یاستو، لږ وخت وروسته به همدغه
ماشوم تاته په داسې حال کښې درتاو کړو چې ته به بیا وربانديې ډارېږې هم نه.
ز: دغه ماشوم به مونږ هیڅکله ضائع نه کړو، بلکې مونږ غواړو چې همدغه ماشوم د پیغمبرانو
د جملې څخه وګرځوو او غواړو چې ته د پیغمبر مور جوړه شې.
۲ـ کله چې د موسی ﷺ مور په خپل زوی باندې د وژلو څخه وډاره شوه نو ذکره شوي الهام شوې
نقشه یې عملي کړه او خپل ګران زوی یې په یوه صندوق کښې د رودنیل څپو ته ورغورځاوه. نو:
الف: څرنګه چې د رودنیل څخه د فرعون کور ته یوه ویاله وربېله شوې وه نو ذکر شوی صندوق
په قدرتي توګه په همدغې بېلې شوې ویالې کښې د نوموړي کور ته ورتاو شو.
ب: هلته د فرعون ټبر ذکر شوی صندوق د اوبو څخه راونیوه ترڅو د دوی دپاره په نتیجه کښې د
صندوق خاوند دښمن وګرځي او د همدوی د خپګان باعث جوړ شي. یا په بل عبارت: الله ﷻ د
کامل قدرت په بنیاد د فرعون په لاس د همده په کور کښې د همده هغه دښمن تربیه او غټ کړ د
کوم د مخنیوي دپاره چې نوموړي په زرګونو ماشومان قتل کړي وه او د قتلولو لړۍ یې لا روانه وه.
ح: یقیناً چې پخپله فرعون او د ده مشورچیان لکه هامان او نور خطاکاران وه، دوی په دې نه
پوهېده چې که ربنتیا په بني اسرائیلو کښې د داسې ماشوم ـ چې د هغه په ذریعه به د دوی سلطنت
سرچپه شي ـ زېږېدل مقدر وي نو دا کار به ضرور او هرومرو صورت ونیسي او د ماشومانو وژل به
یې مخنیوی ونه شي کړی. او که دغه کار مقدر نه وی نو د ماشومانو وژل به څه ګټه ورسوي؟.
په هر تقدیر د ماشومانو وژنه د خطاکارۍ څخه په غیر بل شی نه وه.
۳ـ کله چې فرعون د ذکر شوي صندوق په قیصه خبر شو نو اراده یې وکړه چې دغه ماشوم هم
ووژني او دا ځکه چې دغه ماشوم بل څوک نه دی بلکې د بني اسرائیلو د جملې څخه دی چې خپلې
مور د وژلو او ذبحه کولو د وېرې په سیند کښې لاهو کړی دی، نو په کار دي چې دا هم د نورو
ماشومانو غوندې ختم کړو.
مګر په عین حال کښې د فرعون ټبر (مېرمنه) چې آسیه نومېده د ذکرې شوې ارادې په وړاندې
خنډ واقع شوه او ویې ویلې چې:
الف: ای فرعونه! دا نوراني ماشوم مه وژنې، په ده باندې به زه او ته دواړه سترګې یخې کړو.
ب: یا په بل عبارت: دغه ماشوم مه وژنې، شاید چې مونږ ته په آینده کښې ګټه ورسوي، د خبر
نښې پکښې د ورایه ښکارېږي.
ج: دا مه وژنې، شاید چې مونږ یې په زوی توب سره ونیسو، که چرته یې مونږ په خپل لاس په
خپل کور کښې د خپل زوی غوندې غټ کړو نو ګومان نه کوم چې دا تولې ښېګڼې به هېرې کړي

او زمونږ د سلطنت د چپه کولو هڅه به وکړي.

۴_ ای پیغمبره! هغوی ښکه ذکري شوې خبرې کولې چې شعور یې نه درلود او نه پوهېده چې موسی ﷺ به هیڅکله د خپل حقیقي تربیه کوونکي (الله ﷻ) احسانات او انعامات هېر نه کړي چې خپل رسالت د پښتو لاندې کړي.

## توضیحات

۱_ په ﴿ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ ﴾ کښې د "أَوْحَيْنَا" کلمه د "وَحْيٌ" څخه اشتقاقه شوې ده چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النساء:۱۶۳] ایت لاندې ښه پوره څېړلې ده. خو په دې مقام کښې د "الهام" معنی ورکوي.

همدارنګه کومه قیصه چې په دې ایتونو کښې ذکره شوې ده هغه د "طه" سورت په دوهمه رکوع کښې په څه زیات تفصیل سره نازله شوې ده، هیله ده چې د تفصیل دپاره همهلته مراجعه وکړی شي.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د موسی ﷺ مور خپل زوی ته د الهام مطابق څومره وخت تې ورکړ؟

مونږ وایو چې: ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې هغې خپل زوی (موسی ﷺ) تر څلورو میاشتو پورې د خپل ځان سره وساته او بیا وربانديې وډاره شوه نو په رود نیل کښې یې لاهو کړ[1]، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال وإلیه المرجع والمآل.

## التقاط څه معنی؟

۳_ په ﴿ فَٱلۡتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرۡعَوۡنَ لِيَكُونَ لَهُمۡ عَدُوّٗا وَحَزَنًا ﴾ کښې د "اَلنَّقَطُ" کلمه د "اِلْتِقَاطٌ" څخه اشتقاقه شوې ده، "اِلْتِقَاطٌ" دې ته ویل کېږي چې سړی یو شی بدون د ارادې او پلټنې څخه مونده کړي[2].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په "لِيَكُوْنَ" کښې د "لَ" توری د عاقبة دپاره دی، د عاقبة "لَ" دې ته ویل کېږي چې د کارکوونکي په کار باندې داسې نتیجه مرتبه شي، کومه چې د هغه غرض نه وی، لکه چې وایي: "لِدُوْا لِلْمَوْتِ وَابْنُوْا لِلْخَرَابِ" یعنې اولادونه وزېږوئ چې په نتیجه کښې د مرګ سره مخامخ شي او تعمیرات جوړ کړئ چې په عاقبت کښې ونړېږي.

نو په دې مقام کښې یې حاصل داسې راځېږي چې: د فرعون ټبر د دریاب څخه موسی ﷺ بې تکلفه راونیوه چې دوی یې طلب نه وه کړی بلکې اوبو ورووړ.

په رانیولو کښې یې غرض دا نه وه چې دښمن ترې ورته جوړ شي خو د دغه کار نتیجه یې همدغه وګرځېدله چې هم ورته دښمن شو او هم یې د غم سبب شو.

---

[1] تفسیر الطبري ج۲۰ ص۳۰؛ الدر المنثور ج۶ ص۳۹۳

[2] لسان العرب ج۷ ص۳۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## آسیه رضي الله عنها کامله ښځه وه

۴_ که څه هم په ایت شریف ﴿ وَقَالَتِ ٱمْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَ ﴾ کښې د فرعون میرمن په نامه سره نه ده یاده شوې، مګر د هغې نوم آسیه وه او کامله ښځه وه، لکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «كَمُلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا آسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ وَمَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَفَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ»[۱] یعنې د سړيو څخه ډېر کسان کمال ته رسېدلي دي چې یا نبوت او یا ولایت ورکړى شوى دى، او د ښځو څخه کمال ته نه دي رسېدلي مګر یوه د فرعون ماندینه آسیه رضي الله عنها کمال ته رسېدلې وه او بله د عمران لور مریمه رضي الله عنها کمال ته رسېدلې وه چې دواړه د الله ﷻ دوستانې وې، او بالاخره عائشه رضي الله عنها کامله ښځه ده او صدیقه ده، د دې بهترې په نورو ښځو باندې داسې مثال لري لکه چې په ښوروا کښې میده کړی شوې ډوډۍ په نورو خوراکانو باندې بهتري لري.

## په موسی ﷺ باندې دا نوم چا کېښود؟

۵_ د "مُوسَى" کلمه د دوه وو برخو څخه تشکیله شوې ده چې د هغوی په ژبه کښې یې یوه برخه (مُو) د اوبو معنی ورکوي او بله برخه (سَى) یې د ګڼو ونو دپاره وضعه شوې ده.
نو څرنګه چې په اوبو کښې لاهو شوی ماشوم د ویالې د هغې برخې څخه را اُوچت کړی شو د کومې په غاړه چې ګڼې ونې ولاړې وې نو بي بي آسیې رضي الله عنها ورباندې د "مُوسَى" نوم کېښود[۲]، چې په همدې نامه به بلل کېده.

## يادونه

۶_ د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې کله فرعون د خپلې میرمنې د پلوه مخاطب کړی شو چې: ﴿ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَ ﴾ یعنې دا ماشوم مه وژنئ دا به زما دپاره او هم ستا دپاره د سترګو د یخوالي (خوشالۍ) سبب وګرځي، نو هغه جواب ورکړ چې ستا دپاره به د خوشالۍ سبب جوړ شي، نه زما دپاره، که بالفرض هغه جواب ورکړی وی چې زما دپاره به هم د خوشالۍ سبب وګرځي لکه څنګه چې ستا دپاره د خوشالۍ سبب ګرځي نو: "لَهَدَاهُ اللهُ كَمَا هَدَاهَا"[۳] یعنې اُمید دا چې الله ﷻ د هغې غوندې ده ته هم ورباندې هدایت کړی وی.

## ایا فرعون اولاد درلود؟

۷_ خینو مفسرینو کرامو د ﴿ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا ﴾ لاندې لیکلي دي چې فرعون یوازې یوه لور

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۴۸۴؛ جامع الترمذي ج۲ ص۵؛ سنن ابن ماجه ص۲۳٦
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۳٦
(۳) روح المعاني ج۲۰ ص۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



درلوده⁽¹⁾، نو ښکه ورته خپلې ماندېنې د موسی ﷺ په ارتباط وړاندېز وکړ چې دغه ماشوم مه وژنه، یا به راته ګټه ورسوي لکه چې نوراني څېره یې په همدې مطلب باندې دلالت کوي او یا به یې په ولدیت (زوی توب) سره ونیسو چې زه او ته نارینه اولاد نه لرو، نو په نتیجه کښې یې هغه ته قناعت ورکړ چې ذبحه یې نه کړ.

دا هم څه لرې نه ده چې د هغې مطلب به دا وه چې مونږ به یې په ولدیت سره ونیسو او په خپل کور کښې به یې تربیه کړو او د خطر څخه به یې بچ شو.

﴿وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا ۖ إِن كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِۦ لَوْلَآ أَن رَّبَطْنَا عَلَىٰ قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٠﴾ وَقَالَتْ لِأُخْتِهِۦ قُصِّيهِ ۖ فَبَصُرَتْ بِهِۦ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿١١﴾ ۞ وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ ٱلْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰٓ أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُۥ لَكُمْ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ﴿١٢﴾ فَرَدَدْنَٰهُ إِلَىٰٓ أُمِّهِۦ كَىْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلَا تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾﴾

[۱۰] او د موسی ﷺ د مور زړه (د ده ﷺ د یاد څخه پرته د بل هر شي څخه) خالي وګرځېد، یقینًا نژدې وه چې ضرور په همده (خپل زوی) سره اظهار وکړي (خلک د خپل زوی په هکله خبر کړي)، که مونږ د هغې په زړه باندې خپل تړل (صبر او ثبات ورکول) نه وی (ورنازل) کړي (نو هغې به په لوړ اواز سره ویلي وی چې: ای افسوسه! زما زوی اوبو یوړ).

(البته دا) د دې دپاره چې هغه د باور کوونکو د ډلې څخه وګرځي (پاتې شي).

[۱۱] او د موسی ﷺ مور د هغه خور (خپلې لور) ته وویلې چې: خپل ورور (موسی ﷺ) تعقیب کړه (چې څه شو او چرته ورسېد؟).

نو (هغه لاړه او) خپل ورور یې د لرې څخه ولید (چې خلک ورباندې راټول وه، او بنه یې وپېژاند) حال دا چې هغوی پوه نه شوه (چې دا د ماشوم خور ده او د همده د جاسوسۍ پسې راوتلې ده).

[۱۲] او مونږ په موسی ﷺ باندې (خپلې مور ته د ورستنېدلو څخه) مخکښې ټولې تې ورکوونکې زنانه (د تې رودلو په حیث په قدرتي توګه) حرامې کړې وې.

نو د موسی ﷺ خور (هغوی مخاطب کړه او ورته یې) وویلې چې: ایا زه تاسو ته د داسې یوه کور په اهل باندې لاربنوونه وکړم چې ستاسو دپاره د دې ماشوم کفالت وکړي (روزنه یې په غاړه واخلي) په داسې حال کښې چې هغوی د ده دپاره د خیر غوښتونکي دي؟

[۱۳] نو مونږ (په دغې ذریعې سره) موسی ﷺ خپلې مور ته د دې دپاره ورتاو کړ ترڅو (پرې) د

---

⁽¹⁾ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هغې سترګې یخې شي او (هم د دې دپاره) چې غمژنه نه شي او ترڅو پوه شي چې یقیناً د الله ﷻ وعده حقه ده.

(ای پیغمبره! د الله ﷻ هره یوه وعده حقه ده) مګر اکثره خلک نه پوهېږي (او باور پرې نه کوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د موسی ﷺ د فراق حال ته اشاره شوې وه چې د خپلې مور څخه جدا شو، او په دې ایتونو کښې یې د وصال حال نازل شوی دی چې د خپلې مور غېږې ته بېرته ورستون کړی شو. یا په بل عبارت: هلته د موسی ﷺ مور ته د خپل زوی سره د پیوستون وعده نازله شوې وه، او دلته د همدغې وعدې پوره کېدلو او رښتیا کېدلو ته اشاره شوې ده. نو حاصل یې داسې راځېژي چې:

ای پیغمبره! د ذکرې شوې وعدې رښتیا کېدلو په لاندې ډول صورت ونیوه:

۱ـ کله چې د موسی ﷺ مور خپل ګران زوی د فرعون د ډاره په سیند کښې لاهو کړ نو د ډېر سخت اضطراب او وارخطایۍ سره مخامخه شوه، آن تردې چې:

الف: د هغې د زړه څخه هر شی بهر شو او ټول فکر او ذکر یې د خپل زوی په حال کښې انحصار وموند او هیڅ شی نه ورپه یادېده، تا به ویل چې د هغې زړه د بل هر شي څخه خالي او فارغ شوی دی چې بل هیڅ شی پکښې نه ځایېږي.

ب: که مونږ د هغې زړه قوي کړی نه وی او حوصله مو نه وی ورغنه کړې، نو ضرور به یې په څرګنده توګه خپل غم په ډاګه کړی وی، چې زه هغه ښځه یم چې په خپل لاس مې خپل زوی په سیند کښې وغورځاوه، یا په بل عبارت: هغې به په خپله خوله فرعونیان خبر کړي وی چې زما زوی تولد شوی وه او ما په دریاب کښې لاهو کړ.

یقیناً نوموړې بې بې نژدې وه چې دا کار یې کړی وی خو مونږ ورته د غم د زغملو توان د دې دپاره ورکړ ترڅو هغه د الله ﷻ په وعدو باندې د باور کوونکو څخه پاتې شي او پټه یې ونه ښوېږي.

۲ـ هغې د الله ﷻ په توفیق په خپل زوی باندې خپله خوله پټه کړه خو:

الف: خپلې لور (د موسی ﷺ خور) ته یې توصیه وکړه چې ته د سیند په غاړې-غاړې لاړه شه، او هلته په شاوخوا کښې خپل ورور ولټوه چې څه شو؟ ایا په قطعي توګه سیند یووړ او که چرته په کوم ساحل کښې نښتی دی او یا چا رانیولی دی؟

ب: د موسی ﷺ خور د خپلې مور د هدایت په مطابق د خپل ورور (موسی ﷺ) په لټونې پسې روانه شوه.

ج: هغې په یوه ځای کښې د لرې څخه ولید چې ډېر خلک په یوه ماشوم باندې راټول دي، او په دې هڅه کښې دي چې هغه ته کومه تی ورکوونکې زنانه مونده کړي او په شودو باندې یې موړ کړي.

د: هغې خپل ورور وپېژاند او په قیصه باندې یې خپل ځان ښه پوه کړ چې دا هغه ماشوم دی کوم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې لږ وخت وراندې په صندوق کښې د سیند څخه رانیولی شوی دی او فرعون امر کړی دی چې یوه دایي ورته موندنه کړی شي.

لنډه دا چې هغې خپل ورور وپېژاند خو خلک نه پوهېده چې دا د دې ماشوم خور ده او د همده په لټې پسې راوتلې ده، هغوی ورباندې ګومان وکړ چې دا هم د ننداړچیانو څخه ده.

۳ـ ای پیغمبره! مونږ په موسی ﷺ باندې خپلې مور ته د ورستنېدلو څخه وړاندې د نورو تولو دایګانو تي رودل په قدرتي توګه حرام کړي وه چې د هیچا تی یې نه آخست، د همدې کبله فرعونیانو هڅه کوله چې یوه تی ورکوونکې زنانه ورته موندنه کړي.

خو دې خبرې هغوی حیران کړي وه چې ماشوم د یو پلوه په ژړا سره تی غواړي او وږی دی او د بلې خوا د یوې ښځې تی هم نه قبلوي چې خان پرې مور کړي، ای کاش! چې داسې زنانه موندنه شي چې دا ماشوم یې تی واخلي.

۴ـ په عین حال کښې په هغوی باندې د موسی خور غږ وکړ چې: ایا زه تاسو ته داسې کورنۍ په ګوته کړم چې د دغه ماشوم کفالت وکړي په داسې حال کښې چې هغوی ورته د ملک او ملکې د خوشالۍ دپاره خیر غوښتونکي دي او ورته مخلص دي؟.

۵ـ سمدستي هغوی د نوموړې وړاندیز قبول کړ چې: ولې نه؟! دغسې کورنۍ راپه ګوته کړه. نو سمدستي هغوی د هغې په لارښوونه موسی ﷺ خپلې مور ته روغ رمټ ورووړ.

کله چې هغې خپل لاهو کړی شوی ماشوم په خپله غېږه کښې خپل تي ته واچاوه نو سمدلاسه یې د تي په رودلو شروع وکړه، او هغوی ډېر زیات خوشاله شوه چې دغه ده د ماشوم دپاره تی ورکوونکې زنانه موندنه شوه.

۶ـ ای پیغمبره! په دغه ډول سره مونږ خپله وعده رښتیا کړه او موسی ﷺ مو خپلې مور ته روغ رمټ ورستون کړ، دا د دې دپاره چې:

الف: ترڅو پرې هغه خپلې سترګې یخې کړي او پرې خوشاله شي.

ب: ترڅو ورباندې د فراق د غمه بې غمه شي.

ج: ترڅو پرته د تشویش او اندېښنې خپل ماشوم د خپله خانه سره وساتي.

د: بالآخره ترڅو هغه پوه شي چې یقینًا د الله ﷻ وعده حقه ده، ډېر ژر به راته دوهمه وعده هم پوره کړي او دغه ماشوم به پیغمبر وګرځوي.

۷ـ ای پیغمبره! د ذکرې شوې وعدې غوندې د الله ﷻ هره یوه وعده ضرور رښتیا کېدونکې ده، نو ډېر ژر به مرې بېرته راژوندي کړي او خپله وعده به رښتیا کړي، مګر د خلکو اکثریت نه پوهېږي او باور ورباندې نه کوي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَارِغًا ﴾ کښې د ﴿ فَارِغًا ﴾ کلمه د "فراغ" ـ لکه "شراب" ـ څخه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اشتقاقه شوې ده، "فَرَاغ" د شُغل (مشغولتیا) په مقابل کښې استعمالېږي[۱] چې مونږ ترې به خالیتوب سره تعبیر کوو.

پاتې شوه دا خبره چې هغه څه شی وه د کوم څخه چې د موسی ﷺ د مور زړه فارغ او خالي ګرځېدلی وه؟ نو د دغه شي په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۲]، خو مونږ ته هغه قول بهتر برېښي کوم چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او عبد الله بن مسعود ﷺ څخه روایت شوی دی[۳]. هغه دا چې: د موسی ﷺ د مور زړه د بل هر شي څخه خالي شو او بل هیڅ شي پکښې خطور نه کاوه یوازې د خپل زوی یادښت پکښې تاوېده راتاوېده او بس. یا په بل عبارت: هغه د خپل زوی د فراق د کبله د ډېر لوی تشویش او ډېرې غټې فکرمندۍ سره مخامخه شوه چې خپل زوی ترې بالکل نه هېرېده.

په دې تفسیر باندې وروستنی متصل کلام دلالت کوي چې: ﴿ إِن كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ ﴾ یعني که د الله ﷻ کومک د هغې سره ملګرتیا نه وی کړی نو هغې به ضرور خپل غم خلکو ته په ډاګه کړی وی.

## سوال جواب

۲_ که څوک وایي چې: د موسی ﷺ مور ته خو په ﴿ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِيٓ إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [القصص: ۷] سره ډاډ او وعده ورکړه شوې وه، لکه چې شرحه یې لږ وړاندې تېره شوه _ والحمد لله ﷻ، نو په کار وه چې هیڅ تشویش یې نه وی کړی؟

مونږ وایو چې:

الف: د ځینو مفسرینو[۴] د صورت حال د بیان څخه داسې معلومېږي چې الهامي وحې هومره اطمنان سړي ته نه بښي څومره اطمنان چې د نبوت وحې یوه پیغمبر ته بښي.

د همدې کبله کله چې موسی ﷺ د خپل امت سره د دریاب او د فرعون د لښکر ترمنځ محاصره شو نو هیڅ وارخطا نه شو او د خپلو ملګرو تشویش یې رد کړ چې: ﴿ قَالَ كَلَّآ ۖ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ﴾ [الشعراء: ۶۲] یعني دغسې نه ده چې مونږ به د فرعون د لښکریانو په قبضه کښې واقع شو، یقیناً زما سره خپل رب ﷻ ملګری دی نو ژر دی چې د نجات لاره به راوښایي.

د دوی د صورت حال د بیان مهم ټکي دا دي:

اول: د موسی ﷺ مور په داسې کور کښې استوګنه درلوده چې د رود نیل په غاړه اباد وه.

دوهم: هغې ته الله ﷻ د هغې د ماشوم په هکله الهام کړی وه چې: د تالاشي کوونکو د رانګ په وخت کښې په عجلې سره خپل ماشوم د یوه داسې صندوق په ذریعه په دریاب کښې لاهو کړه کوم

(۱) مفردات الراغب ص۳۹۱
(۲) تفسیر روح المعاني ج ۲۰ ص۴۸
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۵۵
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص ۱۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه چي تا د ښه اوږده پړي په وسیله د ساحل پورې ارتباط ورکړی وي او تړلی دې وي. کله چې د کور تالاشي ختمه شي نو د صندوق سره مربوط پړی خپل خان ته راکاږه او د صندوق څخه خپل ماشوم را اوچت کړه.

دریم: هغې د خپل ماشوم د حفاظت دپاره د همدغې نقشې د عملي کولو څخه کار واخست خو بو خل بې د همدغې نقشې په تعمیل کښې په ساحل پورې د صندوق تړل او بندول هېر شوه.

څلورم: کله چې تالاشي ختمه شوه او هغې وغوښتل چې پړی راکش کړي او خپل ماشوم د دریاب څخه راوباسي نو ګوري چې مربوط پړی موجودیت نه لري او صندوق د ماشوم سره اوبو وړی دی، چې تړل یې ورڅخه هېر شوي وه.

پنځم: نو هغه د سخت اضطراب سره مخامخه شوه، نو که د الله ﷻ نصرت نه وی هغې به خپل خان پخپله رسوا کړی وی چې: زه هغه غمژنه بوره ښځه یم چې خپل زوی مې په خپل لاس په دریاب کښې لاهو او غرق کړ.

شپږم: نو هغې چیغه پورته نه کړه او د زړه براس یې فقط په همدې وویست چې خپله لور یې د معلوماتو په راغونډولو پسې ولېږله.

ب: که څه هم د موسی ﷺ مور په الهي الهام باندې ډاډه شوې وه مګر کله یې چې د خپل ماشوم جدایي په خپلو سترګو ولیده نو په غیر اختیاري توګه د اضطراب سره مخامخه شوه، او دا څکه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ»[1] یعني خبرېدل د لیدلو غونډې نه دي بلکې د لیدلو اثر د خبرېدلو څخه زیات دی.

که بالفرض د موسی ﷺ مور ته ذکر شوی الهام نه وی شوی او ډاډ نه وی ورکړی شوی، نو د خپل زوی په جدا کېدلو سره به یې زړه ترق چاودی وی.

د هغې حالت هوبهو د مریمې رضي الله عنها حالت ته ورته وه، چې په بې پلاره ماشوم زېږېدلو سره ورته د الله ﷻ د پلوه بشارت ورکړی شوی وه خو د دې سره-سره کله یې چې د ماشوم زېږېدنه په خپلو سترګو ولیده نو د خولې څخه یې دا اواز پورته شو چې: ﴿ يَٰلَيۡتَنِي مِتُّ قَبۡلَ هَٰذَا ﴾ [مریم:۲۳] یعنې ای کاش! چې زه د دې څخه لا وړاندې مړه شوې وی او هیڅا مې نوم په خوله نه وی اخستی.

مونږ ته همدغه دوهم جواب راجح برېښي، والله ﷻ أعلم وعلمه اکمل.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳ــ که څوک وایي چې: د ﴿ فَبَصُرَتۡ بِهِۦ عَن جُنُبٖ ﴾ څخه څرګندېږي چې د موسی ﷺ خور خپل ورور د لرې څخه ولید او خپل خان یې ورباندې ناګاره کړ چې زه خو لا هغه نه پېژنم او نه د هغه په پلټنې پسې راوتلې یم، حال دا چې د ﴿ فَٱلۡتَقَطَهُۥٓ ءَالُ فِرۡعَوۡنَ ﴾ [القصص: ۸] څخه معلومېږي چې ماشوم به د فرعون په کور کښې موجودیت درلود. نو پوښتنه دا ده چې ایا د فرعون کور

[1] مسند احمد حنبل ج۱ ص۲۶۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(شاهي ارګ) ته هغه ورغلې وه او هلته یې د ورایه خپل ورور ولید؟

مونږ وایو چې: کله چې ماشوم د ټولو زنانه وو د ټیونو څخه خپله خوله بنده کړه نو هلته بیا لاندې کیفیتونه پېښ شوه[1]:

الف: د فرعون مېرمنې هغه د خدمتګارانو په ذریعه بازار ته وویست چې که هلته ورته کومه زنانه مونده شي او ماشوم یې تی واخلي، نو په بازار کښې ورباندې د خپلې خور سترګې ولګېدلې.

ب: د موسی ﷺ خور خدمتګاران رهبري کړه آن تر دې چې لاهو شوی ماشوم یې خپل کور ته ورووړ او د خپلې مور په غېږ کښې یې واچاوه.

ج: د فرعون مېرمن چې د قیصې څخه خبره شوه نو د موسی ﷺ مور یې خپل ځان ته راوغوښتله او غوښتنه یې ترې وکړه چې ته همدلته اوسېږه او دغه ماشوم ته تی ورکوه، چې زما د سترګو تور دی.

د: هغې دا وړاندیز قبول نه کړ او ویې ویلې چې زه خپل کور اور لرم زه دلته نه شم پاتې کېدلی، هو! که تاسو غواړئ چې زه ستاسو ماشوم ورروزم نو ماته یې راکړئ ترڅو یې زه د خپله ځانه سره خپل کور ته یوسم او وخت په وخت به یې تاسو ځارنه کوئ.

ه: د فرعون مېرمنې همدا مشوره ومنله او ماشوم یې خپلې مور ته د نابلدې ښځې په نامه ورتسلیم کړ، او د ښو پربمانه تحفو سره یې بېرته کور ته رخصت کړ.

و: د بېلتون او وصال ترمنځ ډېر لږ وخت وه، لکه یوه شپه او ورځ یا په مثل د دې.

ز: د ځینو علماوو کرامو څخه روایت دی چې فرعون د موسی ﷺ مور ته په یوه شپه او ورځ کښې یو دینار د استمرار په توګه ورکاوه[2]، والله ﷻ أعلم.

## یوه بله پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَهُمْ لَهُۥ نَٰصِحُونَ ﴾ کښې د "هُمْ" ضمیر هغې کورنۍ ته راجع دی په کومه کښې چې د موسی ﷺ مور شامله وه، او د "لَهُ" ضمیر ماشوم (موسی ﷺ) ته راجع دی. نو حاصل یې داسې راځېږي لکه چې د موسی ﷺ خور اعتراف کړی وي چې زه دغه ماشوم پېژنم او مور یې هم راته معلومه ده. حال دا چې لږ وړاندې په دریمه توضیح کښې تېر شوه چې هغې په خپل ورور باندې خپل ځان ناګاره کړی وه چې دا هیڅ نه پېژنم؟

مونږ وایو چې: د هغې د خبرو څخه فرعونیانو هم ذکر شوی اعتراضي مفهوم اخستی وه، نو د وینا وروسته یې سمدستي د استنطاق لاندې ونیوه چې هله ژر شه چې د دغه ماشوم مور راته په ګوته کړه چې څوک ده.

خو هغې د هوښیارۍ څخه کار واخست او هغوی ته یې په دې قناعت ورکړ چې په "لَهُ" کښې زما مطلب ماشوم نه دی لکه چې تاسو ترې مخالف مطلب اخستی دی. بلکې زما مطلب پاچا دی[3].

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۸۱
(۲) الدر المنثور ج۶ ص۳۹۶
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۲۴؛ تفسیر الخازن ج۴ ص۵۴۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يا په بل عبارت: کومې کورنۍ ته چې زه تاسو وربولم هغوی د پاچا (فرعون) دپاره ډېر خيرخوا او خواخوږي دي، که هغوی خبر شي چې د دغه ماشوم په ژړا باندې پاچا غمژن دی نو د هغه به ډېره ښه پالنه وکړي او پاچا به د غمه وژغوري.

## يادونه

۵ـ که څوک غواړي چې د موسی ﷺ قيصه مفصله او مرتبه ولولي نو ځينو اوږدو کتابونو[۱] ته دې مراجعه وکړي، چې دا کتاب د اوږدو او بې ضرورته موضوعاتو په بيان باندې ډېره ږدي.

﴿وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسْتَوَىٰٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًا ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِى ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٤﴾ وَدَخَلَ ٱلْمَدِينَةَ عَلَىٰ حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِۦ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِۦ ۖ فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ۖ قَالَ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ۖ إِنَّهُۥ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّى ظَلَمْتُ نَفْسِى فَٱغْفِرْ لِى فَغَفَرَ لَهُۥٓ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٦﴾ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَىَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ﴿١٧﴾ فَأَصْبَحَ فِى ٱلْمَدِينَةِ خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا ٱلَّذِى ٱسْتَنصَرَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُۥ ۚ قَالَ لَهُۥ مُوسَىٰٓ إِنَّكَ لَغَوِىٌّ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾ فَلَمَّآ أَنْ أَرَادَ أَن يَبْطِشَ بِٱلَّذِى هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقْتُلَنِى كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًۢا بِٱلْأَمْسِ ۖ إِن تُرِيدُ إِلَّآ أَن تَكُونَ جَبَّارًا فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلْمُصْلِحِينَ ﴿١٩﴾﴾

[۱۴] او کله چې موسی ﷺ خپل قوت ته ورسېد او (په عقل باندې) برابر (پوخ) شو، نو مونږ ورته حکم (د فيصلو توان) او علم (دواړه) ورکړه. او همدغه ډول مونږ محسنانو (نېکانو) ته (د قيامت تر ورځې پورې) جزا ورکوو.

[۱۵] او موسی ﷺ (د ښهر ښځه) ښار (مصر) ته د ښار د اهل (اوسېدونکو) څخه د غفلت (ناخبرۍ) په وخت کښې ورننوت. نو هلته يې دوه سړي مونده کړه چې دواړه سره په جنګ (اخته) وه، (په دواړو کښې) دغه (يو سړی) د موسی ﷺ د ډلې (قوم) څخه وه او دغه (بل سړی) د ده ﷺ د دښمنانو (د ډلې) څخه وه.

نو د موسی ﷺ څخه هغه سړي مدد (نصرت) وغوښت کوم چې د ده ﷺ د ډلې څخه وه، (البته)

[۱] تفسير الطبري ج۲ ص۴۱؛ تفسير الكشاف ج۳ ص۳۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په (ضد د) هغه سړي باندې کوم چې د ده ﷺ د دښمنانو (د ډلې) څخه وه. نو (د هغه په نصرت کښې) موسی ﷺ ده (دښمن سړي) ته سوک ورکړ نو په هغه باندې يې (د مرګ) حکم (د الله ﷻ فيصله) عملي کړه (هغه يې په سوک سره ووژه).

(نو) موسی ﷺ وويلې چې: دغه (کار) د شيطان د عمل (کار) څخه دی.

يقيناً شيطان (د انسان دپاره) دښمن (او) ښکاره بې لارې کوونکی (خطا کوونکی) دی.

[۱۶] (بيا) موسی ﷺ (د سوال لاسونه پورته کړه او) ويې ويلې چې: ای زما ربه! يقيناً ما په خپل ځان باندې ظلم وکړ (چې په خلاف الاولی کښې مې واقع کړ) نو ماته مغفرت وکړې.

نو الله ﷻ ورته مغفرت وکړ (او سوال يې ورته قبول کړ). يقيناً چې الله ﷻ ښښونکی (او) مهربان دی.

[۱۷] (بيا) موسی ﷺ وويلې چې: ای زما ربه! په دې سبب چې تا په ما باندې (دهر) انعامونه کړي دي (او د توبې د قبول انعام دې هم راباندې وکړ) نو زه به هيڅکله د مجرمانو (عاصيانو) مددګار ونه ګرځم (زه به همېشه د مظلومانو او کمزورو سره نصرت او مدد کوم).

[۱۸] نو موسی ﷺ (د دغه قتل په سبب) په ښار (مصر) کښې دارېدونکی وګرځېد چې څارنه يې کوله (چې د دې قتل نتيجه به څه کېږي)، نو (په عين وخت کښې) ناڅاپه ورته هغه سړي د مدد غوښتنې اواز وکړ کوم چې (فقط) پرون يې ترې نصرت غوښتی وه (او د نصرت په نتيجه کښې قتل واقع شوی وه).

نو موسی ﷺ (د مدد کولو څخه وراندې) ورته وويلې چې: يقيناً ته هرومرو ښکاره بې لارې سړی يې (د پروني جنګ لانجه دې لا ختمه نه ده چې نن په بل جنګ باندې اخته شوی يې).

[۱۹] نو (بيا) يې چې کله اراده وکړه چې په هغه (سړي) باندې غوټه وکړي (راويې نيسي) کوم چې د دواړو دپاره دښمن وه، نو (همدغه) دښمن وويلې چې:

ای موسی! ايا ته غواړې چې ما هم داسې ووژنې لکه چې پرون دې يو نفس (سړی) وژلی وه؟ ته (د بل هيڅ شي) اراده نه لرې مګر د دې چې ته (د مصر) په ځمکه کښې (لوی) جبر کوونکی (ظالم) وګرځې، او (همدارنګه) ته اراده نه لرې (ته نه غواړې) چې د اصلاح کوونکو څخه وګرځې (جوړ شې، نو د خپلو کړو وړو نتائجو ته منتظر اوسه).

## د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د موسی ﷺ د طفوليت دورې ته اشاره شوې ده او په دې ايتونو کښې د هغه د ځوانۍ په هغو حالاتو باندې رڼا اچولې شوې ده کومو چې د نبوت د ورکړې دپاره د مقدمې شکل درلود، نو حاصل يې داسې راځي:

ای پيغمبره! موسی ﷺ خپله د طفوليت دوره د فرعون په کور کښې او د همده تر اشراف لاندې تېره کړه. نو:

۱ـ کله چې موسی ﷺ بدني قوت او ځوانۍ ته ورسېد او عقل يې هم تکامل وکړ (ښه پوره

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



هوښیار شي نو مونږ ورته په منازعاتو او شخړو کښې د حکم کولو او فیصلو توان ورکړ، او په دې باندې علاوه پوهه او لدني علم مو هم ورپېرزو کړ.

او دا څکه چې موسی ﷺ د نېکانو څخه وه او مونږ نېکانو ته د قیامت تر ورځې پورې دغسې غوره جزا او اجرونه ورکوو.

۲۰_ موسی ﷺ ښه پوهېده چې فرعونیان په باطله لاره باندې روان دي او په دې باندې علاوه په بني اسرائیلو باندې د ډېر زیات ظلم او تېرې څخه کار اخلي. نو په همدغه اندېښمن حال کښې یو وخت د لاندې کیفیت سره مخامخ شو:

الف: یو خلې په داسې وخت کښې د ښهر څخه ښار ته ورننووت چې ښاریان ناخبره وه او څه ګڼه ګوڼه نه وه (او یا ټول د غرمې په خوب ویده پراته وه).

ب: هلته یې دوه کسان مونده کړه چې دواړه په جګړه اخته دي، په دغه وخت کښې شاوخوا د خلکو څخه خالي وه، یوازې دوه جنګیان هلته حاضر وه او درېیم تن موسی ﷺ وه چې د هغوی ننداره یې وکړه.

ج: په دغو دواړو جنګیانو کښې یو تن د موسی د ډلې او قوم څخه وه چې په ښار کښې یې د مظلومانو په شکل ژوند کاوه، او بل تن د ده ﷺ د دښمنانو څخه وه چې د فرعونیانو او ظالمانو څخه وه.

د: په همدغه حال کښې د موسی ﷺ څخه خپل قومي مظلوم کومک وغوښت چې د دغه ظالم په مقابل کښې زما سره مدد وکړه او د ده د ظلم څخه نجات راکړه.

هـ: موسی ﷺ خپل قومي ته د نجات په غرض او خپل دښمن ته د تادیب په غرض د دواړو ترمنځ مداخله وکړه او د جنګ د ختمولو په لړه کښې یې خپل دښمن ته یو سوک ورکړ چې دغه مظلوم پرېږده او نور یې مه زوروه.

و: موسی ﷺ نومورې په کومه وژونکې وسله باندې ونه واهه، خو د هغه دپاره الله ﷻ د سوک څخه وژونکې وسله جوړه کړه او سمدستي په همدغه یوه سوک سره یې روح قبض شو.

ز: موسی ﷺ سمدستي په خپل کار باندې پښېمانه شو چې دا کار شیطاني کار وه، د دې کار په سبب به فرعونیان په خپلو ظلمونو کښې نوره اضافه وکړي.

یقیناً چې شیطان د انسانانو دپاره غټ دښمن او ښکاره بې لارې کوونکی دی، شیطان په دې کار سره غواړي چې په بني اسرائیلو باندې د ظلم او فتنې اور ته لمن ووهي او لا نور یې تازه کړي.

ح: په عین وخت کښې موسی ﷺ خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه چې:

اول: ای زما ربه! ما په خپل خان ظلم او تېرې وکړ چې د جنګ په ختمولو کښې مې د سوک څخه کار واخست، کاش چې د خولې په نصیحت باندې مې اکتفاء کړې وی. نو ماته مغفرت وکړې او د دغه خطا کار د جنایت څخه راتېر شې چې بني اسرائیلو ته مې د فتنې اور تازه کړ، دا قتل به پټ پاتې نه شي او خلک به وروباندې خبر شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د موسی ﷺ رب ﷻ د خپل مخلص بنده سوال قبول کړ او مغفرت یې ورته وکړ، او دا ځکه چې: یقیناً د موسی ﷺ رب ﷻ آن د قیامت تر ورځې پورې یوازې همدی ﷻ بښونکی او مهربان دی، نو خپل بنده (موسی ﷺ) ته یې په مغفرت باندې علاوه نورې مهربانۍ هم ورته کړې او د دښمن څخه یې نجات ورکړ.

دوهم: موسی ﷺ دا هم وویلې چې: ای زما ربه! په دې سبب چې تا په ما باندې لوی انعام وکړ او مغفرت دې راپېرزو کړ، او نور نعمتونه دې هم زښت ډېر راکړي دي؛ نو زه به په راتلونکې کښې هیڅکله د جنایتکارانو کومکي جوړ نه شم، او همېشه به د مظلومانو پلوي کوم.

۳ـ د نوموړي فرعوني سړي د وژلو څخه وروسته د موسی ﷺ سره ډار پیدا شو او د اوضاع څارنه او ترقب یې کاوه (غوږ یې نیولی وه) چې د دغه مقتول په هکله به څوک قاتل نیولی کېږي؟ ایا دا کار به بني اسرائیلو ته په ضرر تمام نه شي؟

موسی ﷺ په همدې چرتونو کښې وه چې:

الف: بله ورځ موسی ﷺ ګوري چې یو سړی ورته ناري وهي او د کومک غوښتنه ترې کوي، البته چې دا هغه سړی دی کوم چې پرون (یوه ورځ وړاندې) یې ترې نصرت غوښتی وه او په نتیجه کښې په سوک سره د یوه قبطي په وژلو باندې تمام شوی وه.

ته به وایې چې نوموړی ورته نن بیا دعوت ورکوي چې هله راشه دغه بل قبطي (فرعوني) سړی هم په یوه سوک سره د دنیا څخه رخصت کړه او ما ترې خلاص کړه.

ب: موسی ﷺ نوموړی تهدید کړ چې: یقیناً ته په ښکاره ګمراهۍ کښې اخته یې، د جنګ څخه په غیر ستا بل کار نشته، پرون دې د یوه فرعوني سره لاس اچولی وه او نن د بل فرعوني سره په جنګ اخته یې. ته نور څه نه غواړې فقط همدا غواړې چې په مصر کښې په بني اسرائیلو (سبطیانو) باندې ظلم او تېری لا اضافه کړې او فرعونیان (قبطیان) ورته لا په غُصه کړې.

ج: موسی ﷺ د ذکر شوي تهدید سره‌سره اراده وکړه چې همغه کس ته لاس ورواچوي او د جنګ څخه یې کېنوي، کوم چې د دواړو دښمن وه. البته دا د دې دپاره چې خپل قومي (سبطي) ته نجات ورکړي او جنګ ختم کړي.

د: خو کله چې همدغه د دواړو دښمن (قبطي) خپل طرف ته د موسی ﷺ په حرکت باندې پوه شو نو داسې خطاب یې ورته وکړ چې:

هـ: ای موسی! ته غواړې چې نن ما ووژنې لکه چې پرون دې هغه بل سړی وژلی دی او په یوه سوک سره دې د هغه ژوند ته خاتمه ورکړې ده؟ ای موسی! ته پرته د دې چې د مصر په ځمکه کښې یو غټ ظالم او جابر جوړ شې نور څه نه غواړې، ته اراده نه لرې چې دوه جنګیان اصلاح کړې او جنګ ختم کړې بلکې ته د یو جنګي په وژلو سره د جنګ ختمول غواړې، او په ځمکه کښې فساد خوروې.

۴ـ ای پیغمبره! د دغه قبطي خبره سمدستي په ټول ښار کښې خوره شوه، چې د پرونۍ وژل شوي سړي قاتل بل څوک نه فقط موسی ﷺ دی، آن تر دې چې فرعون هم ورباندې خبر شو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ د ﴿وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥ وَٱسۡتَوَىٰٓ﴾ الآیة غوندې یو ایت وړاندې په [یوسف:۲۲] کښې تېر شوی دی او څومره تحقیق چې پکښې مونږ ته ضرور څرګند شوی وه هغه مو د الله ﷻ په توفیق همدلته لیکلي دي او بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، یوازې همدا یوه خبره وربانديې وراضافه کوو چې دلته د ﴿وَٱسۡتَوَىٰٓ﴾ جمله اضافه نازله شوې ده چې هلته نه ده نازله شوې.

ځینې مفسرین کرام وایي چې دا جمله د ﴿بَلَغَ أَشُدَّهُۥ﴾ جملې دپاره تفسیر واقع شوې ده[1] مګر مونږ ته په دې مقام کښې دا هم څه لږې نه ړښښې چې په اوله جمله کښې جسمي قوت ته اشاره وي او په دوهمه جمله کښې عقلي قوت ته، نو حاصل به یې داسې راوځېږي چې:

او هر کله چې موسی ﷺ خپل جسمي قوت (زلمیتوب) ته ورسېد او په عقل بانديې هم ښه پوره شو مونږ ورته د نبوت د ورکړې څخه وړاندې د فیصلو توان او ډول-ډول علوم او مهارتونه ورکړه، او همداسې کار مونږ د قیامت تر ورځې پورې د ټولو نېکوکارانو سره کوو.

### دا قیصه په کوم ښار کښې پېښه شوې وه؟

۲_ په ﴿وَدَخَلَ ٱلۡمَدِینَةَ عَلَىٰ حِینِ غَفۡلَةٖ مِّنۡ أَهۡلِهَا﴾ کښې علماوو کرامو متعددې خبرې کړې دي[2] لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ٱلۡمَدِینَةَ﴾ څخه د "مُنف" ښار مطلب دی چې د مصر د مربوطاتو څخه دی. او دا ځکه چې یوه ورځې فرعون هلته سفر کړی وه نو موسی ﷺ هم هغه ښار ته حرکت وکړ او په داسې وخت کښې ورورسېد چې ښاریان د قیلولې (غرمې) په خواړه خوب باندې ویده وه او لارې کوڅې د خلکو څخه خالي پرتې وې، یوازې دوه نفره هلته موجود وه او هغه دواړه هم سره په جنګ اخته وه[3].

ب: د ﴿ٱلۡمَدِینَةَ﴾ څخه پخپله د "مصر" ښار مراد دی. او دا ځکه چې موسی ﷺ خو د فرعون په شاهي ارګ کښې اوسېده چې د دغه ښار څخه بهر واقع وه، نو یو ځل د غرمې په وخت او یا د ماښام په تیاره کښې د قصر (ماڼۍ) څخه ښار ته ورداخل شو او د دوه وو جنګیانو سره مخامخ شو[4].

دا هم څه لږې نه ده چې ذکرې شوې پېښې د ښار په کومه کوڅه کښې صورت نیولې وي، چې په هغه وخت کښې به د خلکو د ګڼې ګوڼې څخه خالي وه.

### تبصره

۲_ مونږ ته دوهمه خبره متبادره او ظاهره برېښي او په دې باندې علاوه په لاندې ایتونو کښې هم راته بهتره برېښي چې د ﴿ٱلۡمَدِینَةَ﴾ څخه د مصر ښار مراد کړی شي:

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۵۱
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۳۸؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۲۲۵؛ التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۲۳۳
(۳) المحرر الوجیز ج۱۲ ص ۱۵۰
(۴) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۶؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ﴿ فَأَصْبَحَ فِي ٱلْمَدِينَةِ خَآئِفًا ﴾ [القصص:۱۸].

ب: ﴿ وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ ﴾ [القصص: ۲۰].

۴_ په ﴿ فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ ﴾ کښې خینو علماوو کرامو لیکلي دي چې د دوی دواړو د جنګ لامل دا وه چې فرعوني سړي غوښتل چې په اسرائیلي سړي باندې د سون لرګي پخلنځي (مطبخ) ته ورسوي، خو هغه د دغه کار څخه منعه وکړه چې لرګي نه په شا کوم. فرعوني سړی د فرعون خباز (ډوډۍ پخوونکی) وه⁽¹⁾، والله ﷻ أعلم بحقیقة الحال.

## وکز څه معنی؟

۵_ په ﴿ فَوَكَزَهُۥ مُوسَىٰ ﴾ کښې د ﴿ فَوَكَزَهُۥ ﴾ کلمه د "وَكَزَ" _لکه "ضَرَبَ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، "وَكَزَ" دېته وايي چې څوک د خپل لاس ګوتې خپل ورغوي ته ورقات کړي او د څټک په شکل ورباندې وهل وکړي⁽²⁾، چې په پښتو کښې ترې مونږ په سوک وهلو سره تعبیر کوو.

## سوال جواب

۶_که څوک وايي چې: په ﴿ فَقَضَىٰ عَلَيْهِ ﴾ کښې د "قَضَىٰ" کلمه د "قَضَاء" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې د مرګ د فیصلې څخه عبارت ده، او ظاهره دا ده چې مستتر ضمیر پکښې موسی ﷺ ته راجع دی لکه چې په معطوف علیها جمله ﴿ فَوَكَزَهُۥ ﴾ کښې مستتر ضمیر هم د الله ته راجع دی. نو د مرګ فیصله خو د موسی ﷺ په واک کښې نه وه، دا خو د الله ﷻ خاصه ده؟

مونږ وايو چې: خینو علماوو کرامو ذکر شوی ضمیر د دغه اعتراض د وجې الله ﷻ ته راجع ګڼلی دی⁽³⁾، او د ضمائرو انتشار ته یې نه دی کتلي.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې دغه ضمیر هم موسی ﷺ ته راجع وګڼلی شي، او دا خکه چې کله د "قَضَىٰ" کلمې دپاره د "عَلَىٰ" توری متعلق واقع شي _لکه چې دلته واقع شوی دی_ نو په هغه وخت کښې "قَضَاء" د فیصلې معنی نه بلکې د قتل معنی ورکوي⁽⁴⁾.

نو په دې تقدیر به یې د معنی حاصل داسې راوخېژي چې موسی ﷺ ذکر شوی جنګي قبطي سړی په سوک باندې ووهه نو ویې واژه (د الله ﷻ لخوا د مرګ فیصله یې ورباندې عملي کړه).

## سوال جواب

۷_ که څوک وايي چې: که د ذکر شوي قبطي کافر سړي وژنه موسی ﷺ ته جائزه وه نو په کار وه چې په ﴿ هَٰذَا مِنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ سره یې نه وی یاده کړې او شیطاني کار یې نه وی ګڼلی، بلکې

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص ۲۶۰
(۲) لسان العرب ج۵ ص ۴۳۰
(۳) روح المعاني ج ۲۰ ص ۵۵
(۴) القاموس المحیط ج۳ ص ۲۴۱؛ لسان العرب ج۱۵ ص ۱۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابن خلق (٢٠) د رحماني کار لقب يې ورکړی وی، همدارنګه په کار وه چې په ﴿ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ﴾ سره
باید چې خپل خان ته د ظلم نسبت نه وی کړی او نه يې په ﴿ فَٱغْفِرْ لِي ﴾ سره مغفرت غوښتی وی، او
بې بالآخره نه ورته باید الله ﷻ په ﴿ فَغَفَرَ لَهُۥ ﴾ سره د مغفرت اعلان کړی وی.
او که وژنه يې ورته ته ناجائزه وه نو بیا دا پوښتنه منځته راځي چې ایا دا وژنه د هغه د عصمت
سره منافي نه وه؟ پیغمبران خو ټول د ګناهونو څخه په عصمت کښې وه.
مونږ وایو چې: ذکره شوې وژنه موسی ؑ ته ګناه وه خو هغه ګناه نه چې پیغمبران ترې په
عصمت کښې وه، بلکې دا هغه ډول ګناه وه د کومې څخه چې په خلاف الأَولی (نه بهتر) باندې
تعبیر کېږي[1]، چې پوره څېړنه يې د [البقرة:٣٧] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق تېره شوې ده.
باتې شوه دا خبره چې دغې وژنې ته څنګه د خلاف الأَولی لقب ورکړی شو؟ نو د دې وجوه دا دی:
الف: په هغه وخت کښې خو موسی ؑ ته د جهاد امر نه وه ورکړی شوی او د ده ؑ د عالي
شان سره مناسبه وه چې بې د اجازې يې دغه قتل ته اقدام نه وی کړی او تر هغه وخته پورې يې ورته
انتظار کړی وی ترڅو ورته دعوت صورت نیولی وی او د الله ﷻ د پلوه يې اجازه ترلاسه کړې وی.
په دې تقدیر دغه خلاف الأَولی کار کټ مټ د یونس ؑ خلاف الأَولی کار ته ورته ګڼلی کېږي،
چې بدون د اجازې د خپل قوم د منځه بهر شو او الله ﷻ ورته د ماهي ګېډه تر څه وخته پورې
بندیخانه وګرځوله، چې څه شرحې ته يې په [الأنبياء:٨٧] ایت کښې اشاره شوې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ
او څه نور وضاحت يې په [الصافات: ١٤٠] ایت کښې راروان دی.
ب: موسی ؑ ته په کار وه چې بدون د سوک وهلو څخه يې جنګ خلاص کړی وی، او که په
سوک وهلو يې خلاصولی نو بیا ورته په کار وه چې د سوک په وهلو کښې يې احتیاط کړی وی چې
ډېر قوي سوک يې نه وی ورکړی، او یا به يې د بدن په هغه اندام باندې نه وی وهلې د کوم په وهلو
کښې چې د مرګ خطر وه.
ج: بالآخره په دغه وخت کښې دا ډار موجود وه چې د فرعوني کافر سړي وژنه د بني اسرائیلو
(سبطیانو) دپاره غټه فتنه جوړه شي.
یا په بل عبارت: هلته د دې خطره وه چې د دغه قتل د کبله د هغوی د غټانو په وژلو باندې هم د
نارینه وو ماشومانو غوندې شروع شوې وی او دا غلې فتنه د موسی ؑ په لاس راپورته شوې وی.

## سوالونه او جوابونه

٨ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:
الف: که څوک وایي چې: په ﴿ قَالَ رَبِّ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ ﴾ کښې به موسی ؑ کوم نعمت ته
اشاره کړې وي؟

[1] التفسير الكبير ج٢٤ ص٢٣٤

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د دغه نعمت په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۱] لاندې مثالونه يې ولولئ:

اول: دلته هغو نعمتونو ته اشاره ده کوم چې په هغه ﷺ باندې د تولد څخه وروسته د الله ﷻ له پلوه ورنازل شوي وه، چې په درياب کښې يې د غرق څخه بچ کړه، د وژلو څخه يې نجات ورکړ چې د بني اسرائيلو د نورو ماشومانو غوندې ذبحه نه کړی شو، او بالآخره د هغه چا په غېږ کښې يې تربيه کړ کوم چې د ده په وژنې پسې تاند واهه.

دوهم: دلته هغه قوت (زور) ته اشاره ده، کوم چې الله ﷻ موسی ﷺ ته وربښلی وه چې د يو سوک په اثر يې د قبطي ژوند ته خاتمه ورکړه، په هغه وخت کښې دومره قوت بل چا نه درلود.

درېم: دلته د مغفرت لوی نعمت په نظر کښې نيولی شوی دی، چې د قبطي په وژنه کښې د خلاف الاولی مرتکب شو او الله ﷻ ورته مغفرت وکړ.

زمونږ په فکر په ذکره شوي جمله کښې ټولو الهي نعمتونو ته اشاره ده چې د شمېر لاندې نه واقع کېږي او د علماوو کرامو به هم حصر مطلب نه وي بلکې هر چا به يې يوه-يوه مثال ته اشاره کړې وي.

ب: که څوک وايي چې: ايا ذکره شوې جمله ﴿ بِمَآ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ ﴾ د خلاف الأولی مغفرت ته شامله ګڼل کېدلی شي حال دا چې په دغه وخت کښې خو لا ورته نبوت نه وه ورکړی شوی چې د وحې په ذريعه ورته معلومات شوي وي چې د همدې کبله يې د خپل دعوت په دوران کښې د فرعون د يو اعتراض په جواب کښې وويلې چې: ﴿ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴾ [الشعراء: ۲۱] يعني هو، ما قبطي وژلی وه خو په هغه وخت کښې زه د شريعت څخه ناخبره وم، نو ستاسو څخه وتښتېدلم او خپل رب ﷻ راته د نبوت حکم وبانښه او د پيغمبرانو د جملې څخه يې وګرځولم.

نو پوښتنه دا ده چې: موسی ﷺ په څه پوه شو چې الله ﷻ ورته يو بل نعمت هم ورکړی دی چې د خلاف الأولی ګناه مغفرت يې ورته کړی دی؟

مونږ وايو چې: څه لرې نه ده چې الله ﷻ به په الهام سره خبر کړی وي او يا به يې ورته په خوب کښې معلومات ورکړي وي[۲]، چې د خلاف الأولی ګناه مغفرت درته وکړی شو، والله ﷻ أعلم.

ج: که څوک وايي چې: د ﴿ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ﴾ څخه د اشارې په توګه داسې معلومېږي چې موسی ﷺ نوموړی اسرائيلي سړی ـچې په جنګ اخته وهـ د مجرمينو څخه وباله، حال دا چې هغه خو مظلوم وه چې په نجات ورکولو کښې يې قبطي ووژل شو؟

مونږ وايو چې:

اول: د "اَلْمُجْرِمِين" کلمه د "مُجْرِم" جمعه ده چې د "اِجْرَام" څخه اشتقاقه شوې ده. نو په دې مقام کښې د ګناه کسب کولو معنی نه ورکوي ترڅو اعتراض وارد شي. بلکې دلته يې معنی دا ده چې

(۱) تفسير الكشاف ج۳ ص۳۹۹؛ تفسير البغوي ج۳ ص۴۳۹؛ البحر المحيط ج۸ ص۲۹۳

(۲) روح المعاني ج۲۰ ص۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بل څوک په ګناه کښې واقع کړي[۱]. نو حاصل به يې داسې راوخېژي چې: زه به په راتلونکي کښې د هغه چا کومک ته اقدام ونه کړم چې نور خلک په ګناه کښې واقع کوي، لکه چې زه د دغه اسرائيلي سړي په سبب په خلاف الاَولی ګناه کښې واقع شوم.

د قتادة رحمه الله د کلام حاصل دی چې: موسی علیه السلام مجرمانو سره د عدم نصرت وعده وکړه خو "إن شاء الله" يې ونه ويلې، د همدې کبله د نوموړي اسرائيلي مجرم په نصرت کښې يو خل بيا واقع شو[۲]، لکه چې د همدې مجموعې په [۱۹] ايت کښې ورته اشاره شوې ده.

دوهم: همدغه اسرائيلي سړی کافر وه او د مجرمينو څخه وه[۳]، نو موسی علیه السلام ژمنه وکړه چې بيا به هيڅکله د کافرانو سره مرسته ونه کړم که څه هم زما خپل قومي (اسرائيلي) وي.

درېيم: موسی علیه السلام خپل رب جل جلاله ته کلکه وعده ورکړه چې په راتلونکي کښې به هم زه د مجرمانو او متکبرانو مرستې ته ور ونه دانګم او د کمزورو او مظلومانو مرسته به کوم[۴].

خو ای زما ربه! ما ته د همدغه کار دپاره توفيق راکړه او هم راسره کومک وکړه چې د دوهم خل دپاره په خلاف الاَولی ګناه کښې واقع نه شم.

## تبصره

۹ـ الله جل جلاله د خپل کتاب (قرآن کريم) په اسرارو باندې ډېر ښه پوهېږي، خو مونږ ته د سياق او سباق (وړاندې ورسته) په نظر کښې نيولو سره درېيم جواب په زړه پورې برېښي.

## يادونه

۱۰ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو ډېر اثار راغونډ کړي دي چې مسلمان بايد د مجرم او جنايتکار سره مرسته ونه کړي[۵]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو همدلته دې مراجعه وکړي، مونږ په دې موضوع کښې په همغه بحث اکتفاء کوو کوم چې د [هود:۱۱۳] ايت لاندې په دې کتاب کښې تېر شوی دی، والحمد لله جل جلاله والمنة والشکر.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۱۱ـ که څوک وايي چې: په ﴿قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقۡتُلَنِي كَمَا قَتَلۡتَ نَفۡسٗا بِٱلۡأَمۡسِ﴾ کښې د ﴿قَالَ﴾ د کلمې مستتر ضمير چاته راجع دی، يا په بل عبارت: هغه کس څوک وه چې په موسی علیه السلام باندې يې د قتل اتهام ولګاوه؟

مونږ وايو چې:

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۵۵

(۲) تفسير الطبري ج۲۰ ص۴۷

(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۴۳۹

(۴) تفسير ابي السعود ج۷ ص۷

(۵) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۲۶۳؛ الدر المنثور ج۶ ص۳۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د علماوو کرامو اکثریت وايي چې دا د اسرائیلي د قول حکایت دی، چې په ﴿ قَالَ ﴾ کښې ضمیر همده ته راجع دی[۱]. د نوموړي د مرستې دپاره موسی ﷺ د دواړو جنګیانو لور ته حرکت وکړ خو هغه په خپل خیال کښې خطا شو او ګومان یې وکړ چې دا ځل به ما په سوک باندې وهي، چې راته په غُصه دی او د ﴿ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ﴾ خطاب یې راته وکړ.

دوی وايي چې جنګي اسرائیلي په موسی ﷺ باندې د قتل ادعاء وکړه او سمدستي یې خپلې پښې سپکې کړې او وتښتېد چې خپل ځان د سوک د وهلو څخه بچ کړي.

لنډه دا چې قبطي جنګي او یا نورو قبطیانو ذکره شوې ادعاء واورېده او په ټول ښار کښې یې: سترګو په رپ کښې خوره کړه، آن تر دې چې د فرعون کابینه هم ورباندې خبره شوه، او پرېکړه یې وکړه چې که دا کار حقیقت لري نو باید چې موسی ﷺ اعدام شي.

ب: لږ علماء کرام وايي چې ذکر شوی ضمیر قبطي ته راجع دی او په موسی ﷺ باندې د قتل ادعاء همده کړې ده[۲]. پاتې شوه دا خبره چې قبطي چا خبر کړ چې د مقتول قاتل بل څوک نه دی بلکې موسی ﷺ دی او بس؟ نو د دې جواب دا دی چې: ذکر شوي اسرائیلي د قتل خبره د خپلو اسرائیلیانو څخه نه وه پټه کړې او د افتخار دپاره یې ورته رسولې وه چې داسې کار صورت نیولی دی؛ نو په نتیجه کښې ورباندې د همدغه قبطي په شمول نور قبطیان هم خبر شوي وه[۳].

دا د یو پلوه، او د بله پلوه مونږ ته دا هم څه لرې نه برېښي چې قبطي به د تهدید په توګه په موسی ﷺ باندې د قتل اتهام لګولی وي، لکه چې خلک په جنګونو کښې عموماً یو تر بله دغسې دروغجن اتهامات لګوي، خو دا بېله خبره وه چې په دې مقام کښې اتهام حقیقت درلود.

لنډه دا چې همدغه د قبطي اتهام په ټول ښار کښې خور شو، او چې کله موسی ﷺ وتښتېد نو ټول خلک ورباندې متیقن شوه چې قاتل همدی دی.

## تبصره

۱۲ــ مونږ ته داسې برېښي ــوالله ﷻ أعلمــ چې قرآن کریم دوهم قول ته ترجیح ورکوي او دا څکه چې:

الف: د ضمیر دپاره د بعیدې مرجع څخه قریبه مرجع بهتره ده، نو په دې مقام کښې که وګڼو چې موسی ﷺ ته د قاتل لقب د اسرائیلي د پلوه ورکړی شوی وه نو د ﴿ قَالَ ﴾ ضمیر به بعیدې مرجع ته راجع شي کومه چې وړاندې په ﴿ ٱلَّذِى ٱسْتَنصَرَهُۥ بِٱلْأَمْسِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلَّذِى ﴾ کلمه ده.

او که همدغه لقب د قبطي د پلوه ورکړی شوی وګڼو نو ذکر شوی ضمیر به متصلې نژدې مرجع ته راجع شي کومه چې په ﴿ بِٱلَّذِى هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا ﴾ کښې د "ٱلَّذِي" کلمه ده.

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۹۳؛ روح المعاني ج۲۰ ص۵۷
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۰۱؛ التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۲۳۶
(۳) في ظلال القرآن ج۵ ص۲۶۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ يَٰمُوسَىٰٓ أَتُرِيدُ أَن تَقْتُلَنِي ﴾ الآية په ډېر ستغ او تريخ مضمون باندې مشتمل دی چې د نبطي کافر دښمن د خولې سره ډېر ښه تناسب لري.

اسرائيلي سړی که هرڅومره ناشکره وه، وه به، خو شايد چې ناشکري به يې دغه حد ته نه وي رسېدلې چې په ذکره شوې ستغې خطابې باندې هغه څوک مخاطب کړي کوم چې لږ وخت وړاندې د ده په نصرت کښې د قتل مرتکب شوی وه.

﴿وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنْ أَقْصَا ٱلْمَدِينَةِ يَسْعَىٰ قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَٱخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ﴿٢٠﴾ فَخَرَجَ مِنْهَا خَآئِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢١﴾ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَآءَ مَدْيَنَ قَالَ عَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يَهْدِيَنِي سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿٢٢﴾﴾

[۲۰] او (يو) سړی د ښار (مصر) د لرې څنډې څخه په داسې حال کښې ورغی چې په څغاسته ورروان وه.

(دغه) سړي وويلې چې: ای موسی! يقيناً (د حکومت) مشران ستا په هکله مشوره کوي چې تا (د فرعوني مقتول په کسات کښې) قتل کړي.

نو (د ښار څخه) بهر ووځه، بې شکه زه ستا دپاره د ناصحانو (خير غوښتونکو) د ډلې څخه يم (بل څه مطلب نه لرم).

[۲۱] نو موسی ﷺ (د ناصح نصيحت قبول کړ او) د ښار څخه (په فرعي لاره باندې په څغاسته) په داسې حال کښې بهر شو چې ډارېدونکي وه (او) څارنه يې کوله (چې پوليس مې مخ ونه نيسي).

(په دې باندې علاوه د سوال لاسونه يې پورته کړه او) ويې ويلې چې: ای زما ربه! ماته د ظالم قوم (فرعونيانو) څخه نجات راکړې.

[۲۲] او کله يې چې د مدين ښار طرف ته مخه کړه نو ويې ويلې چې: زه خپل رب ﷻ ته أميد کوم چې برابره لاره راته وښايي (او د نجات خای ته مې روغ رمټ ورسوي).

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو مضمون تعقيب شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! کله چې په ټول مصر کښې دا خبره خوره شوه چې د وژلي شوي سړي قاتل موسی ﷺ دی، او د فرعون د مجلس غړو ته هم ورسېده نو بيا لاندې کيفيتونه پېښ شوه:

۱ ـ موسی ﷺ ته د مصر د لرې څنډې څخه يو سړی په څغاسته ورغی او ورته يې وويلې چې:

الف: يقيناً د فرعون د کابينې غړو ستا په هکله مجلس دائر کړی دی او غواړي چې تا د وژلي شوي سړي په کسات کښې قتل کړي، يا په بل عبارت: پرونی وژلی شوی سړی په تاباندې درتپې.

ب: نو ستا په هکله زما مشوره دا ده چې د دې ښار څخه ووځه او چرته بل وطن ته وتښته، زما

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې خبره کښې نور هیڅ مطلب نشته زه فقط ستا دپاره د خیر غوښتونکو څخه یم او بس.

۲ـ موسی ﷺ د ذکر شوي خیرخوا نصیحت ومانه او د هغه خبره یې سمدستي عملي کړه چې:

الف: په داسې حال کښې د ښار (مصر) څخه بهر شو چې د فرعوني پولیسو څخه په ډار کښې واقع وه، چې په لاس بانديې ورنه شم، او همدارنګه د وتلو په حال کښې یې هرې خوا ته خار کاوه چې د دوی په محاصره کښې واقع نه شم، او لاره مې بنده نه کړي.

ب: خو په عین حال کښې یې خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړي وه چې: ای زما ربه! ما د ظالم قوم (فرعونیانو) څخه نجات راکړې.

۳ـ الله ﷻ د موسی ﷺ سوال قبول کړ او د نجات دپاره یې د مدین ښار په لاره وربرابر کړ.

کله یې چې د همدغه ښار په طرف مخه کړه او ورمخامخ شو نو په ډاډه زړه سره یې داسې وویلې چې: زه خپل رب ﷻ ته اُمید لرم چې برابره لاره راته وښایي، چې د امن خای ته ورباندې ورسیږم او د فرعونیانو څخه نجات مونده کړم.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ ﴾ کښې د ﴿ رَجُلٌ ﴾ کلمه د چا څخه عبارت ده؟ یا په بل عبارت: هغه څوک وه چې موسی ﷺ ته یې په ډېره بیړه سره د فرعون د جرګې خبره وررورسوله؟

مونږ وایو چې: د نوموړي سړي په هکله اکثرو مفسرینو کرامو دې ته ترجیح ورکړې ده چې دا هغه سړی وه د کوم ذکر چې په [المؤمن:۲۸] ایت کښې نازل شوی دی[۱]، کوم چې د فرعون د تره زوی وه[۲] حتی د کابینې او شورا غړی یې هم وه[۳]، والله ﷻ أعلم.

## تلقاء څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلۡقَآءَ مَدۡيَنَ ﴾ کښې د ﴿ تِلۡقَآءَ ﴾ کلمه د "لَقِيَ يَلْقَى لِقَاءً" دپاره نادر مصدر دی چې د "تِبْيَانٌ" څخه په غیر بل نظیر نه لري[۴]. که څه هم "تِلْقَاءً" د پیوستون معنی ورکوي مګر په دې مقام کښې ترې علماوو کرامو د "طرف" معنی اخستې ده[۵].

نو د مدین ښار (چې د ابراهیم ﷺ د زوی په نامه نومولی شوی دی) د مصر څخه اته منزله لرې پروت دی چې په هغه وخت کښې د فرعون د تسلط لاندې نه وه او موسی ﷺ یې لاره نه پېژندله، مګر الله ﷻ په خپل فضل د هغه طرف ته ورمخامخ کړ[۶].

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۵۱؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۴۰
(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۳۹۹
(۳) في ظلال القرآن ج۵ ص۲۶۸۵
(۴) لسان العرب ج۱۵ ص۲۵۴
(۵) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۵۷
(۶) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دواړه هجرتونه تقریبًا متشابه وه

۳ـ د مکې معظمې څخه مدینې منورې ته د نبي کریم ﷺ هجرت او د مصر څخه د مدین ښار ته د موسی ﷺ هجرت په لاندې وجوهو کښې متشابه او غیر متشابه نسبتونه لري:

الف: د نبي کریم ﷺ کور د قریشو مشرکانو د پلوه د محاصرې لاندې نیولی شوی وه او په خپل کور کښې محاصره وه خو الله ﷻ ورته په خپل فضل سره نجات ورکړه لکه چې څه بیان یې د [الأنفال: ۳۰] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

او موسی ﷺ د مصر په ښار کښې د فرعونیانو د محاصرې لاندې واقع شوی وه چې د ښار تولې لویې لارې د فرعوني پولیسو د پلوه بندې کړی شوې وې، خو الله ﷻ موسی ﷺ ته د یوې فرعي لارې په ذریعه د مصر څخه د وتلو توان ورکړ.

ب: د نبي کریم ﷺ په هکله د مکې مشرکانو د قتل (وژلو) فیصله کړې وه او د موسی ﷺ په ارتباط د فرعون کابینه (د شورا غړي) همدې فیصلې ته رسېدلي وه.

ج: د نبي کریم ﷺ هجرت د نبوت د ورکړې څخه وروسته صورت نیولی وه او د موسی ﷺ هجرت د نبوت د ورکړې څخه وړاندې تحقق موندلی وه.

د: نبي کریم ﷺ په دغه سفر کښې یو ملګری (ابو بکر ﷺ) درلود، او موسی ﷺ په سفر کښې یوازې وه او ملګری یې نه درلود.

هـ: دوی دواړو (نبي کریم ﷺ او ابو بکر ﷺ) د سورلۍ اوښان درلوده، خو موسی ﷺ پیاده وه.

و: نبي کریم ﷺ ته الله ﷻ خای ښودلی وه چې مدینې منورې ته هجرت وکړه، او موسی ﷺ ته خپل هجرت خای نه وه ښودلی شوی خو الله ﷻ په خپل فضل سره د مدین ښار ته ورساوه.

ز: نبي کریم ﷺ د لارې د ښوداني دپاره یو مزدور نیولی وه چې د لارې په پېژاندلو کښې پوره ماهر وه[۱] او عبد الله بن ارقط نومېده[۲]، خو موسی ﷺ لاره ښودونکی نه درلود او الله ﷻ ورته په غیبي توګه هدایت کاوه.

ح: نبي کریم ﷺ د خپل هجرت په اتم کال بېرته مکې معظمې ته ورتاو شو چې الله ﷻ ورته فتحه کړه، او موسی ﷺ د راجح روایت په بنیاد[۳] لس کاله وروسته بېرته مصر ته ورستون شو چې په لاره کښې الله ﷻ د نبوت په تاج باندې سرلوړی کړ.

﴿وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدۡيَنَ وَجَدَ عَلَيۡهِ أُمَّةٗ مِّنَ ٱلنَّاسِ يَسۡقُونَ وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ ٱمۡرَأَتَيۡنِ تَذُودَانِۖ قَالَ مَا خَطۡبُكُمَاۖ قَالَتَا لَا نَسۡقِي حَتَّىٰ يُصۡدِرَ ٱلرِّعَآءُۖ وَأَبُونَا شَيۡخٞ

---

(۱) صحیح البخاري ج۱ ص۵۵۴
(۲) سیرت ابن هشام ج۲ ص۱۰۲
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾ فَسَقَىٰ لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّىٰٓ إِلَى ٱلظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ
﴿٢٤﴾ فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا تَمْشِي عَلَى ٱسْتِحْيَآءٍ قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا
سَقَيْتَ لَنَا ۚ فَلَمَّا جَآءَهُۥ وَقَصَّ عَلَيْهِ ٱلْقَصَصَ قَالَ لَا تَخَفْ ۖ نَجَوْتَ مِنَ ٱلْقَوْمِ
ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٥﴾ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِيُّ
ٱلْأَمِينُ ﴿٢٦﴾ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ٱبْنَتَيَّ هَٰتَيْنِ عَلَىٰٓ أَن تَأْجُرَنِي ثَمَٰنِيَ
حِجَجٍ ۖ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ ۖ وَمَآ أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ ۚ سَتَجِدُنِيٓ إِن شَآءَ
ٱللَّهُ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ قَالَ ذَٰلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ ۖ أَيَّمَا ٱلْأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلَا
عُدْوَٰنَ عَلَيَّ ۖ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٌ ﴿٢٨﴾ ﴾

[٢٣] او كله چې موسى ﷺ د مدين اوبو (ځا) ته ورسېد نو په هغه باندې يې د خلكو څخه يوه ډله په داسې حال كښې مونده كړه چې (ګډې) يې خړوبولې.

او د دوى څخه نږدې (دوى ته نا رسيده) يې دوه زنانه موندې كړې چې (خپلې ګډې) يې (د خلكو د ګډو څخه) را ايسارولې (چې ورسره خلطې نه شي).

موسى ﷺ (دغو دوارو زنانه وو ته) وويلې چې: ستاسو څه حال دى؟ (په تاسو څه باعث دى چې خپلې ګډې د خړوبولو څخه را ايساروئ؟).

(دغو دوارو په جواب كښې) وويلې چې: مونږ دواړه تر هغه خپلې ګډې نه خړوبوو ترڅو چې شپانه (نارينه د خپلو ګډو د خړوبولو څخه) فارغ شي (او كورونو ته ستانه شي).

او (دا يې هم وويلې چې:) زمونږ پلار لوى بوډا (ډېر سپين ږيرى) دى.

[٢٤] موسى ﷺ (د زړه سوي د امله) دواړو ته (د بل كوهي څخه ګډې) خړوبې كړې، (او) بيا (د ونې) سورې ته ورتاو شو نو (خپل رب ﷻ ته يې سوال وكړ او) وې ويلې چې:

اى زما ربه! زه هغه شي ته محتاج يم چې ته يې (نن ورځ) ماته رانازل كړې، هره يوه ښېګڼه چې وي (زه د هر حيثه فقير يم).

[٢٥] نو موسى ﷺ ته (د دغو دوارو زنانه وو څخه) يوه زنانه ورغله چې د حياء په حال كښې به تلل كول (او ورته يې) وويلې چې: يقيناً زما پلار تا د دې دپاره بللې چې تاته زمونږ دپاره ستا د خړوبولو مزدوري دركړي.

نو موسى ﷺ (دعوت قبول كړ او) كله چې هغه ته ورغى او (خپل ټول) بيان (قيصه) يې ورباندې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیانه کړه (نو) شعیب ﷺ (ورته داډ ورکړ او) ویې ویلې چې دارېږه مه، ته د ظالم قوم څخه خلاص شوې (او نجات دې مونده کړې).

[۲۶] (د هغوی څخه) یوې زنانه وویلې چې: ای زما پلاره! دغه (سړی د ګډو څرولو دپاره) مزدور ونیسه (او دا څکه چې:) یقیناً بهتر هغه څوک چې ته یې (د ګډو دپاره) مزدور نیسې قوتناک (او) امانتګر سړی دی (او دغه دواړه صفتونه په دغه سړي کښې شته).

[۲۷] شعیب ﷺ وویلې چې: (ای موسی!) زه اراده لرم چې د خپلو دغو دواړو لورانو څخه یوه لور په دې شرط په نکاح درکړم چې ته زما دپاره آته کاله مزدوري (شپني) وکړې.

نو که لس کاله دې پوره کړه نو دا به ستا د پلوه (احسان) وي، او زه اراده نه لرم چې په تاباندې (د لسو کلونو په پوره کولو سره) مشقت واچوم.

ژر دی چې که د الله ﷻ اراده وي ته به ما د صالحانو (د ډلې) څخه مونده کړې.

[۲۸] موسی ﷺ وویلې چې دغه (لوظ او عهد) به زما او ستا ترمنځ (مقرر) وي (نو) د دواړو نېټو څخه هره یوه نېټه چې ما پوره کړه نو په ماباندې به (ستا د پلوه کوم) تجاوز (او تېری) نه وي.

او الله ﷻ په هغه خبرو اترو باندې چې مونږ (زه او ته) یې وایو څارونکی (او شاهد) دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د وړاندېنیو ایتونو مضمون (د موسی ﷺ د هجرت بیان) تعقیب شوی دی، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! کله چې موسی ﷺ د مصر د حدودو څخه خارج شو او د مدین د ښار حدودو ته ورداخل شو نو هلته د لاندې حالاتو سره مخامخ شو:

۱ـ د مدین په مربوطاتو کښې په یوه ځای کښې ګوري چې خلک راغونډ شوي دي او د یوې څا څخه اوبه راوباسي او خپلې ګډې وریاندې څروبوي.

په دې وخت کښې هلته دوه زنانه هم ګوري چې خپلې ګډې یې د خلکو د ګنې ګوڼې څخه لرې څه وړاندې په یوه ګوښه کښې ایسارې کړې دي او نه یې پرېږدي چې هغه اوبه خور ته ورشي په کوم باندې چې د خلکو ګډې لګیا دي اوبه څښي.

لنډه دا چې دوی دواړه منتظرې وې چې د خلکو ګډې څروبې شي او د څا شاوخوا فارغه شي نو دوی به هلته ورشي او خپلې ګډې به څروبې کړي.

۲ـ د موسی ﷺ په دغو دواړو زنانه وو باندې زړه وسوزېد او پوښتنه یې ترې وکړه چې ستاسو دواړو څه حال دی؟ په تاسو باندې څه باعث دی چې خپلې ګډې د خلکو د ګډو سره نه ضمیمه کوئ، ترڅو ستاسو ګډې هم څروبې شي؟

۳ـ هغوی دواړو موسی ﷺ ته جواب ورکړ چې:

الف: مونږ نه غواړو چې د شپنو سره اختلاط وکړو او د اوبو په څروبولو کښې ورسره شریکې شو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: مونږ تر هغه وخته پورې انتظار وباسو او خپلې ګډې د خوړېدلو څخه په پنډغالي کښې راایساروو ترڅو چې شپانه خپلې ګډې خړوبې کړي او د ځا څخه بهرته ستانه شي او ځا فارغه شي.

ج: مونږ ځکه د ګډو خړوبول په خپله غاړه اخستي دي چې مونږ دواړه ورور نه لرو چې ګډې رانه خړوبې کړي او پلار مو زوړ بوډا دی چې د خړوبولو توان نه لري، که مونږ یا ورور درلودی او یا مو پلار خوان وی نو مونږ به دغه کار په غاړه نه وی اخستی.

۴ـ نو موسی ﷺ د ذکرو شوو دواړو زنانه وو دپاره د یوې بلې ځا څخه ګډې خړوبې کړې دکومې په خوله باندې چې د غټې درنې ډبرې سرپوښ ایښودل شوی وه.

۵ـ بیا موسی ﷺ د یوه پردیس سړي په شکل د یوې ونې سوري ته ورتاو شو او وږی او ستړی ستومانه هلته کېناست. په همدغه حال او په همدغه وخت کښې یې خپل رب ﷻ ته د سوال لاسونه پورته کړه چې: ای زما ربه! هره یوه ښېګڼه چې ته نن ورځ ماته د خپلو غیبي خزانو څخه رانازله کړې نو زه ورته ډېر زیات اړ او محتاج یم. یا په بل عبارت: زه نن ورځ د هر حیثه احتیاج یم، هر یو احتیاج چې راته عنایت کړې نو هغه به ستا ډېره لویه مهرباني او پېرزوینه وي.

۶ـ نو سمدستي الله ﷻ د موسی ﷺ د اړتیاوو د پوره کولو ډېره کېښودله چې:

الف: ذکرو شوو دواړو زنانه وو خپلې ګډې د خپل عادت په خلاف د خړوبولو څخه وروسته خپل کور ته ورستنې کړې، او خپل پلار ته یې د ګړندیو راستنېدلو وجه په تفصیل سره بیانه کړه، چې یوه نابلده او ناآشنا سړي راته په عجیبه طریقه سره ګډې خړوبې کړې او دا دی د نورو خلکو څخه وړاندې مونږ خپل کور ته خپلې ګډې راورسولې.

ب: د زنانه وو پلار خپلې یوې لور ته وظیفه وکړه چې په زغرده لاړه شه هغه پردیس سړی دلته راوله کوم چې تاسو دواړو ته یې ګډې خړوبې کړې دي، ترڅو هغه ته د خړوبولو مزدوري ورکړم.

ج: دغه مؤظفه زنانه په ډېره حیاناکه توګه موسی ﷺ ته ورغله او ورته یې وویلې چې:

د: یقینًا زما پلار تا د دې دپاره بلي ترڅو تاته د هغه کار مزدوري درکړي کوم چې تا زمونږ د ګډو په خړوبولو کښې ترسره کړی وه، نو هیله ده چې زما د پلار د بلنې اجابت وکړې او هلته ورشې، که بالفرض ته د خړوبولو مزدوري نه اخلې نو دا خبره به د همغه په حضور کښې وکړې.

۷ـ موسی ﷺ د ذکرې شوې زنانه راوړی دعوت قبول کړ، او د هغې د پلار د ملاقات په نیت هلته ورروان شو.

کله چې هلته ورسېد نو په هغه باندې یې خپله ټوله قیصه د اول څخه تر آخره پورې بیانه کړه چې زه د ظالم قوم څخه راوتښتېدلم او دا دی اوس دغه ځای ته په نابلدتیا کښې راورسېدلم.

۸ـ د زنانه وو پلار د موسی ﷺ ټوله قیصه په ښه دقت سره په سړه سینه واورېده او په پای کښې یې ډاډ ورکړ چې اوس نو ډارېږه مه. یقینًا ته نن ورځ د ظالم قوم د ظلم څخه بچ شوې، په دې وطن کښې د هغه هیڅ سلطه نشته او دا وطن د هغه په قلمرو کښې شامل نه دی.

۹ـ په دې منځکښې د ذکرو شوو زنانه وو څخه یوې زنانه خپل پلار ته وړاندیز وکړ چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ای زمونږ پلاره! دغه پردیس سړی د ګډو دپاره مزدور ونیسه او دا ځکه چې:

ب: د یو پلوه همدغه پردیس دېر زیات محتاج دی چې د احتیاج څخه به خلاص شي او د شپې تېرولو ځای به مونده کړي، او د بله پلوه مونږ هم مزدور ته اړتیا لرو، او بهتر مزدور هغه دی کوم چې د مزدورۍ د باره وتلی شي او قوت لري او هم د امانتدارۍ خاوند وي.

نو دغه دواړه صفتونه په دغه پردیس سړي کښې شته دي، هیله ده چې زما وړاندیز منظور کړئ.

۱۰ـ د زنانه وو پلار د خپلې لور وړاندیز په ښه وقت سره واورېد او په زړه کښې یې وساته، بلکې موسی ﷺ ته یې داسې صورت حال وړاندې کړ چې په ذکر شوي پېشنهاد باندې مشتمل وه، هغه داسې چې:

الف: زه اراده لرم چې تاته د خپلو دغو دواړو لورګانو څخه یوه لور په نکاح باندې درکړم چې زما د کور دپاره د محارمو څخه وګرځې.

ب: خو دا پکښې شرط ده چې ته زما سره دلته اته کاله تېر کړې او دلته به زما مزدوري کوې. هو! که په خپله خوښه دې په اتو کالو باندې دوه کلونه نور هم وراضافه کړه او لس کاله دې زما مزدوري وکړه نو دا به ستا د پلوه احسان وي، زما د پلوه د دغو دوه وو کالو کوم شرطیت او لزوم نشته.

زه اراده نه لرم چې په تاباندې سختې دروړلم او د مشکلاتو سره دې مخ کړم زما نیت دې چې په تاباندې اساني دروړلم.

نو د دوه وو اضافه کلونو د تېرولو په هکله به هم زه د خپل لوظ څخه ونه ګرځم چې هله ژر شه لس کاله پوره کړه.

ج: که د الله ﷻ اراده او خوښه وي نو زه به په یوه کار کښې هم تاته مشکلات ایجاد نه کړم او په ټولو اوضاعو کښې به زه د صالحانو او نېکانو څخه جوړ شم.

۱۱ـ موسی ﷺ ذکر شوي وړاندیز قبول کړ او ویې وویلې چې:

الف: دغه به زما او ستا ترمنځ لوظ او وعده وي، چې نه به ترې ته پښېمانه کېږې او نه به ترې زه بې لوظي او بې وفایي کوم.

ب: په هره یوه وعده باندې چې ما راتګ وکړ په ماباندې به ستا د پلوه کوم تجاوز او تېری نه وي، یا په بل عبارت: اته کاله مزدوري کول په ماباندې حتمي دي او نور دوه کاله زما د خوښې پورې مربوط دي.

ج: کومې خبرې او وعدې چې ما او تا یو تړلې وکړې په هغو باندې الله ﷻ شاهد دی او همدی ﷻ د ټولو افعالو او اقوالو څارونکی او مراقب دی، هر څه د همده ﷻ په تصرف او ملکیت کښې دي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدۡيَنَ ﴾ الآیة کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ وَرَدَ ﴾ کلمه د "وُرُوْدْ" څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې د "دُخُوْلْ" په معنی نه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې د "وُصُوْل" (پیوستون) په معنی سره ده[۱].

ب: په ﴿ مَآءَ مَدْيَنَ ﴾ کښې د ﴿ مَآء ﴾ د کلمې څخه د چینې یا کاریز اوبه مطلبې نه دي بلکې د اُوبو ځا (کوهی) ترې مطلب دی[۲].

ج: په ﴿ أُمَّةً مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلنَّاسِ ﴾ د کلمې څخه د خلکو هغه ټولګی مراد دی کوم چې د نارینه وو او زنانه وو دواړو څخه تشکیل شوی وي، که بالفرض یوازې نارینه ترې مطلب وی نو د یو پلوه به دغه کلمه ﴿ مِّنَ ٱلنَّاسِ ﴾ نه وی نازله شوې او یوازې د ﴿ أُمَّةً ﴾ په نزول به اکتفاء شوې وی چې په متفق الصفة ټولګي باندې دلالت کوي. او د بله پلوه به موسی ﷺ دواړو زنانه وو ته پوښتنه نه وی راجع کړې چې تاسو دواړه په هغې ډله کښې ولې نه شاملېږئ او دا ځکه چې په دغه صورت کښې خو به د عدم شمول وجه معلومه وی چې هغوی د څرمې نارینه وه، او دوی دواړو نه غوښتل چې د نارینه وو په ډله کښې فقط دوه تنه اشتراک وکړي.

د: د ﴿ يَسْقُونَ ﴾ کلمه د "سَقْيٌ" څخه اشتقاقه شوې ده چې د څړوبولو معنی ورکوي خو دا خبره ځرګنده نه ده چې شپنو به څه ډول حیوانات څړوبول؟ خو ځینو علماوو کرامو لیکلي دي چې هغوی ګډې څړوبولې[۳] نه اوښان او خره او یا نور.

هـ: د ﴿ تَذُودَانِ ﴾ کلمه د "ذَوْدٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د شړلو معنی ورکوي[۴] خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په منعه کولو او ایسارولو باندې تفسیره کړې ده[۵].

یعنې هغوی دواړو د ځا څخه لرې په یوه ګوښه کښې خپلې ګډې ایسارې کړې وې ترڅو شپانه د څړوبولو څخه فارغ شي نو بیا به دوی د خپلو ګډو د څړوبولو بندوبس کوي.

و: په ﴿ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُ ﴾ کښې د ﴿ يُصْدِرِ ﴾ کلمه د "صَدْرٌ" ـ لکه "ضَرْبٌ" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د انصراف او رخصت کېدلو معنی ورکوي[۶]، د همدې کبله هغه طواف ته د طواف الصدر لقب ورکړی شوی دی کوم چې د حاجیانو د پلوه د رخصت کېدلو په وخت کښې صورت نیسي.

یعنې مونږ تر هغه وخته پورې خپلې ګډې رااېساروو ترڅو چې شپانه د خپلو ګډو د څړوبولو څخه فارغ شي او بېرته خپلو کورونو ته ستانه شي.

ز: که څوک وايي چې دغو زنانه وو د شپنو د فراغت څخه وروسته خپل ګډې په څه ډول څړوبولې؟ مونږ وایو چې: د دوی دواړو د څړوبولو په هکله علماوو کرامو لاندې صورتونه لیکلي دي[۷]:

---

(۱) روح المعاني ج ۲۰ ص۵۹؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۲۳۴
(۲) البحر المحیط ج۸ ص۲۹۶
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۶۹؛ تفسیر الطبري ج ۲۰ ص۵۵
(۴) مفردات الراغب ص۱۸۵
(۵) المحرر الوجیز ج ۱۲ ص۱۵۷؛ الدر المنثور ج ۶ ص۴۰۴
(۶) مفردات الراغب ص۲۸۳
(۷) تفسیر الطبري ج ۲۰ ص۵۷؛ الدر المنثور ج ۶ ص۴۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: دوی دواړو به خپلې ګډې په هغو اوبو باندې خړوبولې کومې به چې د شپنو څخه اضافه شوې وې او د اوبو په اخورونو کښې به باقي پاتې وې[۱] او که د هغوی څخه به هلته اوبه پاتې نه شوې نو د دوی دواړو ګډې به په هغې ورځ نه خړوبېدلې.

دوهم: د دغې ځا بوقه سپکه وه، دوی دواړو کولې شوه چې د شپنو د فراغت څخه وروسته د خپلو ګډو دپاره د ځا څخه اوبه رااوچتې کړې.

ح: که څوک وايي چې: د ذکرو شوو زنانه وو جواب خو په ﴿ لَا نَسْقِى حَتَّىٰ يُصْدِرَ ٱلرِّعَآءُ ﴾ سره پوره کېده نو په څه منظور هغوی په خپل جواب باندې د ﴿ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴾ جمله اضافه کړه؟

مونږ وايو چې: دا جمله يې د دې دپاره اضافه کړه ترڅو موسى ﷺ په خپل مجبوريت باندې خبر کړي چې مونږ دواړه د ترحم وړې ياستو، که زمونږ پلار څه توان درلودی او ډېر زيات بوډا نه وی نو په مونږ باندې به يې ګډې نه وی خړوبې کړې.

ط: که څوک وايي چې: دغه ډېر عمری بوډا څوک وه؟ يا په بل عبارت: دغه دواړه زنانه د چا لورګانې وې؟

مونږ وايو چې: علماوو کرامو د دغه شخص په تعين کښې متعدد اقوال کړي دي[۲]، مګر مشهوره دا ده چې دغه دواړه زنانه د شعيب ﷺ لورګانې وې[۳] چا ته چې الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا ﴾ [هود:۸۴] يعني او مونږ د مدين ښار ته د دوی (خواخوږي نسبي) ورور شعيب ﷺ (د پيغمبر په صفت) وراستولی وه.

ي: که څوک وايي چې: ايا شعيب ﷺ ته مناسبه وه چې په خپلو لورګانو باندې شپني وکړي؟

مونږ وايو چې: ځينو مفسرينو کرامو[۴] د دې پوښتنې په جواب کښې ليکلي دي چې مناسب او غير مناسب کارونه د وطنونو په اختلاف سره فرق کوي، يو کار په يوه وطن کښې غير مناسب وي خو عين کار په بل وطن کښې ډېر ښه مناسب وي او څه د عيب ګوته ورته نه نيوله کېږي، نو په زنانه وو باندې شپني کول هلته د مدين په ښار کښې غير مناسب کار نه وه.

خو کوم جواب چې پخپله د ايتونو څخه څرګندېږي هغه دا دی چې: دغه کار په اضطراري حالت کښې صورت نيولی وه، چې مزدور (شپانه) مزدوري (شپني) پرېښې وه او شعيب ﷺ په همدې هڅه کښې وه چې بل مزدور مونده کړي، د همدې کبله ورته خپلې يوې لور وړانديز وکړ چې: ﴿ يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ ﴾ ای پلاره! همدغه سړی د مزدور (او شپانه) په حيث ونيسه.

او پوره واضحه ده چې د اضطرار په حال کښې خو غير مناسب لا څه چې غير جائز کارونه هم جواز مونده کوي (لکه چې په دغه حال کښې د مرداري غوښې خوړل هم جائز دي).

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۲۶۹؛ المحرر الوجيز ج۱۲ ص۱۵۸
(۲) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۲۷۰؛ زاد المسير ج۶ ص۹۶
(۳) روح المعاني ج۲۰ ص۶۱
(۴) البحر المحيط ج۸ ص۲۹۷؛ التفسير الكبير ج۲۴ ص۲۴۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د خړوبولو صورت

۲_ په ﴿ فَسَقَىٰ لَهُمَا ﴾ کښې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې موسی ؑ د شپنو څخه د نوبت غوښتنه وکړه چې هغوی یې اجابت وکړ نو د زنانه وو ګډې یې خړوبې کړې[۱].

خو مونږ ته دا صورت ډېر بعید برېښي او دا ځکه چې د هغو شپنو به د کومو چې په خپلو وطندارانو ناتوانه زنانه وو باندې زړونه نه سوزېدل او نوبت یې نه ورکاوه په یو پردیس او نااشنا سړي څنګه زړونه سوزولي وي او نوبت به یې ورکړی وي؟!

او ځینو مفسرینو کرامو پکښې نور صورتونه لیکلي دي[۲] چې یو هم مونږ ته د موسی ؑ د حال سره مناسب ښکاره نه شو، نو د همدې کبله مو هغه صورت خوښ کړ کوم چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوی دی[۳] او حاصل یې په لاندې سوال جواب کښې لوستلی شئ:

موسی ؑ: په تاسو دواړو زنانه وو باندې څه باعث دی چې خپلې ګډې د خلکو د ګډو سره نه ضمیمه کوئ چې خړوبې شي؟

زنانه: مونږ دواړه تر هغه وخته پورې خپلې ګډې را ایساروو ترڅو چې خلک خپلې ګډې خړوبې کړي او څا مونږ ته فارغه شي.

مونږ د باعزته ټبرڅا سړي لورګانې یاستو چې د نارینه وو سره اختلاط نه خوښوو، او په دې باندې علاوه پلار مو کمزوری دی، ګډې نه څرولی شي اونه یې خړوبولی شي.

موسی ؑ: دلته نژدې بل کوهی (د اوبو بله څا) شته؟

زنانه: هو، دلته بله څا هم شته خو د هغې خوله په داسې غټه ډبره باندې پټه (بنده) ده چې یوه ډله سړي یې ترې پورته کولی شي او بس. د لږو کسانو ورباندې زور نه رسېږي چې ترې اوچته یې کړي.

موسی ؑ: تاسو دواړه دغه څا ماته راوښایئ (راپه ګوته یې کړئ).

دواړو زنانه وو موسی ؑ په نوموړې څا باندې ودراوه چې دغه ده.

نو موسی ؑ یوازې په یوه سر ډبره اوچته کړه او په یوه قوي بوقه باندې یې ټولې ګډې خړوبې کړې او بیا یې بېرته د څا خوله په همغې درغنې باندې بنده کړه.

### څو نکات

۳_ په ﴿ فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ ﴾ الآية- کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ ﴾ کلمات د متعلق په اعتبار سره د ﴿ فَجَآءَتۡهُ ﴾، ﴿ تَمۡشِي ﴾ دواړو جملو سره ارتباط لري. یا په بل عبارت: د ذکر شوې زنانه تګ (مزل) د یوې حیاناکې پېغلې په شکل دا چې په څېټې کښې یې خپل ځان ښه پوره نغښتی وه او د بې باکه پېغلې په شان یې په ناز او نخرو

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۲۳۹
(۲) تفسیر ابي السعود ج۷ ص۸، المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۵۸
(۳) الدر المنثور ج۶ ص۴۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



منزل نه کاوه چې د چا توجه خپل خان ته راواړوي.

ب: همدارنګه د هغې پیغام رسونې هم د ادب او حیاء څخه نمایندګي کوله. د ښه وضاحت دپاره لاندې اشاراتو ته متوجه شئ:

اول: هغې فقط په ضروري خبرو باندې اکتفاء وکړه حتی چې خپلې خبرې یې د "ای فلانکیه!" په ویلو باندې هم شروع نه کړې بلکې مستقیمًا یې په مطلب باندې پیل وکړ چې: ﴿ إِنَّ أَبِي ﴾ الآیة.

دوهم: هغې د دعوت نسبت خپل پلار ته وکړ چې زه نه بلکې زما پلار تاته دعوت درکوي چې: ﴿ يَدْعُوكَ ﴾.

دریم: هغې د دعوت غرض په ډېرو صریحو الفاظو کښې بیان کړ چې دغه دعوت د دې کبله صورت نیولی دی چې تاته د ګډو د څړوبولو مزدوري درکړي: ﴿ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا ﴾.

دا ټول د دې دپاره چې د مسافر نااشنا سړي په زړه کښې څه بل خیال پیدا نه شي.

ج: که څوک وایي چې: ایا د موسی ﷺ د مېړانې او پاکیزه خاصیت سره دا مناسبه وه چې په ثوابي څړوبولو باندې مزدوري واخلي او د همدې غرض دپاره دعوت قبول کړي؟

مونږ وایو چې: ذکرو شوو دواړو زنانه وو لا د وړاندې څخه موسی ﷺ ته خپل پلار معرفي کړی وه چې: ﴿ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴾ او زمونږ پلار ډېرعمری بوډا دی. نو موسی ﷺ د دې دپاره دعوت قبول کړ چې هغه ته خپل ټول حالات شرحه کړي او د هغه د تجربو څخه ګټه پورته کړي د همدې کبله یې د رسېدلو سره سم د خپلو حالاتو په شرحه باندې پیل وکړ: ﴿ فَلَمَّا جَاءَهُ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ﴾ الآیة.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه موسی ﷺ هم نه غوښتل چې د ذکرې شوې بلونکې پیغلې سره بې ضرورته خپلې خبرې اوږدې کړي، د همدې کبله یې هغې ته جواب ورنه کړ چې زه په ثوابي عمل باندې مزدوري نه اخلم ترڅو د هغې سره خبرې د ضرورت څخه اضافه نه شي. یا په بل عبارت: موسی ﷺ غوښتل چې د مزدورۍ نه اخستلو موضوع د هغې د پلار سره مطرحه کړي چې اصلاً وړاندیز هم د همغه د پلوه صورت نیولی وه.

د همدې کبله کله چې موسی ﷺ د شعیب ﷺ کور ته ورسېد نو هلته یې د سختې لوږې سره-سره د خوراک او څښاک څخه لاس ونیوه، البته د دې ډاره چې دا د څړوبولو اجرت (مزدوري) ونه ګرځي او ثواب یې ضائع نه شي. خو کله چې ورته شعیب ﷺ داډ ورکړ چې دا اجرت نه دی بلکې مېلمه پالنه ده چې ماته د خپلو پخوانیو پلرونو څخه راپاتې ده «فجلس وأكل»[1] یعنې نو بیا خوراک او څښاک ته کېناست او خپل خان یې موړ کړ.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د شعیب ﷺ لور په څه پوه شوه چې موسی ﷺ قوتناک او امانتدار دی؟

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: هغې په کوم دلیل خپل پلار ته د موسی ﷺ په هکله په ﴿ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِيُّ ٱلْأَمِينُ ﴾ کښې د "قَوِي" او هم د "أَمِين" لقبونه ورکړه؟

مونږ وایو چې: هغې ته د موسی ﷺ قوت هغه وخت څرګند شوی وه کله یې چې په یوه سر د کوهي د خولې څخه هغه درنه ډبره اوچته کړه کومه به چې په عادي توګه لسو تنو اوچتوله[1]، لکه چې څه مربوط بیان یې لږ وړاندې په دوهمه توضیح کښې تېر شو، والحمد لله ﷻ.

او امانتداري یې ورته په هغه وخت کښې په اثبات ورسېدله کله چې نوموړې زنانه او موسی ﷺ دوه په دوه د بیدیا څخه د شعیب ﷺ کور ته ور روان وه او دا څکه چې:

د لارې په اوږدو کښې د موسی ﷺ ټولو حرکاتو او سکناتو (ټولو کړو وړو) د ده ﷺ د امانتدارۍ څخه نمایندګي کوله، آن تر دې چې موسی ﷺ نوموړې ته توصیه وکړه چې ته په ما پسې وروسته راځه او د لارې ښودانه راته کوه چې هغې خوا ته یا دې خوا ته تاو شه، ترڅو په تا باندې زما نظر ونه نښلي، البته دا ښودانه هم باید په خوله نه بلکې د یوې ګټکۍ په غورځولو سره صورت ونیسي[2].

## لاندې څو ټکو ته توجه په کار ده

۵ـ په ﴿ قَالَ إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ٱبْنَتَيَّ ﴾ الآية- کښې لاندې څو ټکو ته توجه په کار ده:

الف: په دې کښې علماء کرام اختلاف لري[3]، چې په ذکرو شوو دواړو پېغلو کښې مشره څه نومېده، او کشرې څه نوم درلود؟.

همدارنګه په دې کښې هم سره مختلف دي چې موسی ﷺ مشره په نکاح واخستله اوکه کشرې سره یې د نکاح عقد صورت ونیوه؟.

څرنګه چې دا چندان ګټور بحث نه دی نو مونږ ترې صرف نظر کوو او فقط همدومره لیکو چې:

د ایتونو په ذکره شوې مجموعه کښې د "إِحْدَىٰ" کلمه درې خله تکراره شوې ده: ﴿ فَجَآءَتْهُ إِحْدَىٰهُمَا ﴾، ﴿ قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا ﴾، ﴿ إِحْدَى ٱبْنَتَيَّ ﴾.

نو مونږ ته داسې ذهن ته راځي ـوالله ﷻ أعلمـ چې د دغې کلمې څخه به په درېواړو ځایونو کښې یوه انجلۍ مراده وي، یا په بل عبارت: موسی ﷺ به همغه انجلۍ په نکاح باندې اخستې وي کومې چې ورته د خپل پلار پیغام وروړی وه، او کومې چې خپل پلار ته مشوره ورکړې وه چې موسی ﷺ د خپلو ګډو دپاره مزدور ونیسي. برابره خبره ده چې د هغې صفوراء نوم وه او که شرفاء نومېده، او هم برابره خبره ده چې هغه کشره او که مشره وه.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۵۷

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۸۵

(۳) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۷۳؛ تفسیر الخازن ج۴ ص۵۵۹؛ تفسیر الطبري ج۲۰ ص۶۲؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۴۲؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿إِنِّيٓ أُرِيدُ أَنۡ أُنكِحَكَ إِحۡدَى ٱبۡنَتَيَّ﴾ د کلماتو څخه په تبادر سره فهمېږي چې شعیب ﷺ
په لومړي سر کښې موسی ﷺ ته فقط وعده ورکړې وه چې یوه لور به ورته منکوحه وګرځوي، او د
نکاح عقد صورت نه وه نیولی، که نه نو ضرور به یې یوه لور تعین کړې وی ځکه چې په عقد کښې
د منکوحې تعین ضرور دی.

بالمقابل موسی ﷺ هم د شعیب ﷺ سره د اتو کالو شپنې کولو لوظ وکړ، هسې نه چې شپنې
کول د مهر په حیث وټاکل شوه.

هو! د دغو دواړو متبادلو وعدو او توافق څخه به وروسته د نکاح عقد صورت نیولی وی او د
مهر په هکله به هم د شعیب ﷺ د شریعت په مطابق تصمیم نیولی شوی وی، والله ﷻ اعلم.

د همدې کبله مونږ په دې مقام کښې دا مسئله نه مطرحه کوو چې شپنې کول مهر ګرځېدلی شي
او که نه؟، که څوک غواړي چې په همدغې مسئله کښې د محمدي ﷺ شریعت حکم ولولي نو خپلو
اوږدو کتابونو[1] ته دې مراجعه وکړي.

ج: که څوک وایي چې: کله چې موسی ﷺ د نکاح په مهر کښې شپنې نه وه کړې نو تر لسو کالو
پورې یې مزدوري څه شی وه؟

مونږ وایو چې: موسی ﷺ د خپلې مېرمنې په شمول فقط په ګېډه مزدور وه، لکه چې د لاندې
حدیث څخه یې د اشارې په توګه څه وضاحت ځرګندېږي:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ د همدې سورت (القصص) په قرائت باندې شروع وکړه کله چې د
موسی ﷺ قیصې ته راورسېد نو ویې فرمایل چې: «إِنَّ مُوسَى ﷺ آجَرَ نَفْسَهُ ثَمَانِيَ سِنِينَ أَوْ عَشْرًا عَلَى
عِفَّةِ فَرْجِهِ وَطَعَامِ بَطْنِهِ»[2] یعنې یقیناً موسی ﷺ د خپل عورت د پاک ساتلو او د خپلې ګېډې د
خوراک په غرض خپل ځان اته کاله یا لس کاله د شعیب ﷺ دپاره د شپانه په حیث مزدور وګرځاوه.

د: په ایت شریف کښې مونږ ته ارشاد دی چې:

اول: مؤمن ته جائزه ده چې کله صالح سړی مونده کړي نو د خپلو اړوندو زنانه وو څخه د کومې
یوې وړاندیز ورته وکړي او د شعیب ﷺ په قدم لاړ شي. د ښه وضاحت دپاره لاندې د یوه حدیث
مضمون ولولی[3]:

کله چې حفصه بنت عمر رضی الله عنها کونډه شوه او عدت یې تېر شو نو خپل پلار (عمر ﷺ)
عثمان ﷺ ته د هغې د نکاح کولو وړاندیز وکړ چې د هغه د پلوه منفي جواب ورکړی شو.

بیا یې ابو بکر ﷺ ته د هغې د نکاح وړاندیز وکړ چې د ده د پلوه په سکوت سره جواب شو.

بالآخره د نبي کریم ﷺ په مطالبې سره نوموړې بي بي رضی الله عنها د أمهات المؤمنین په ډله کښې
شامله شوه.

---

[1] بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع ج۲ ص۲۷۷
[2] صحيح البخاري ج۱ ص۳۰۱؛ سنن ابن ماجه ص۱۵۵
[3] صحيح البخاري ج۲ ص۷۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: څرنګه چې د شعيب ﷺ لور خپل پلار ته په ډېر باريکې اشارې سره مشوره ورکړه چې موسی ﷺ خپل زوم جوړ کړي، نو د دې امت مؤمنانو زنانه وو ته جائزه ده چې همغې پسې اقتداء وکړي او خپلو وليانو ته په اشاراتو سره د مېړه په انتخاب کښې خپل رضايت څرګند کړي، او يا کوم صالح سړي ته په خپله خوله د نکاح د عقد وړانديز وکړي.

د سېرت څېنو کتابونو د هغو زنانه وو تعداد نهه ښودلی دی کومو چې نبي کريم ﷺ ته دغه ډول وړانديزونه کړي وه[1]. پاتې شوه دا خبره چې ايا نبي کريم ﷺ د دغو وړانديز کوونکو زنانه وو څخه کومه يوه د اُمهات المؤمنين په ډله کښې شامله کړې ده او که نه؟ نو په دې کښې اختلاف دی[2]، څېنې علماء کرام وايي چې: هو، زينب بنت خزيمه رضي الله عنها د همدې جملې څخه وه کومه چې د نبي کريم ﷺ په حيات کښې وفاته شوې ده، او څېنې نور وايي چې: نبي کريم ﷺ د دغسې زنانه وو څخه د يوې وړانديز هم نه دی قبول کړی.

هـ: د ګډو څرول (شپني کول) د ټولو پيغمبرانو سنت دی، لکه چې يوه ورځې نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: هيڅ پيغمبر نه دی مبعوث شوی مګر ګډې يې څرولې دي (شپني يې کړې ده).

صحابه کرامو ﷺ عرض وکړ چې: ای د الله رسوله! تا هم ګډې څرولې دي؟ نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «نَعَمْ كُنْتُ أَرْعَاهَا عَلَى قَرَارِيطَ لِأَهْلِ مَكَّةَ»[3] يعني هو، ما هم د مکې د اهل (خلکو) دپاره په څو قيراطونو (يوه ګډه په يوه قيراط) باندې او يا په "قراريط" نومې مقام کښې څرولې دي.

و: که څوک وايي چې: موسی ﷺ څو کاله شپني وکړه؟ يا په بل عبارت: په ﴿ عَلَىٰٓ أَن تَأۡجُرَنِي ثَمَٰنِيَ حِجَجٖۖ فَإِنۡ أَتۡمَمۡتَ عَشۡرٗا فَمِنۡ عِندِكَۖ ﴾ کښې موسی ﷺ واجبي وعده پوره کړه که اختياري؟ مونږ وايو چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې په خپله اختياري وعده باندې ودرېد او پوره لس کاله يې د شعيب ګډې وڅرولې[4].

## وکيل څه معنی؟

٦_ په ﴿ وَٱللَّهُ عَلَىٰ مَا نَقُولُ وَكِيلٞ ﴾ کښې د "وکيل" کلمه د هغه چا دپاره وضعه شوې ده کوم ته چې يو کار ورسپارلی شي، خو د شاهد او حافظ د معناوو دپاره متضمنه ده[5]. په دې مقام کښې د شاهد معنی په زړه پورې برېښي. يعني زما او ستا په خبرو او معاهدو باندې الله ﷻ شاهد دی.

﴿ فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى ٱلۡأَجَلَ وَسَارَ بِأَهۡلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارٗاۖ قَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ جَذۡوَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ لَعَلَّكُمۡ تَصۡطَلُونَ

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۱۷٦

(۲) تفسير ابن کثير ج۳ ص۵۰۰؛ تفسير البغوي ج۳ ص۵۳۷؛ تفسير القرطبي ج۱۴ ص۲۰۸

(۳) صحيح البخاري ج۱ ص۳۰۱؛ سنن ابن ماجه ص۱۵۵

(۴) الدر المنثور ج٦ ص۴۰۹؛ احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۴۹

(۵) روح المعاني ج۲۰ ص٦۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ مِن شَٰطِيِٕ ٱلْوَادِ ٱلْأَيْمَنِ فِي ٱلْبُقْعَةِ ٱلْمُبَٰرَكَةِ مِنَ ٱلشَّجَرَةِ أَن
يَٰمُوسَىٰٓ إِنِّيٓ أَنَا ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٣٠﴾ وَأَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَءَاهَا تَهْتَزُّ كَأَنَّهَا جَآنٌّ
وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ يَٰمُوسَىٰٓ أَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ إِنَّكَ مِنَ ٱلْءَامِنِينَ ﴿٣١﴾ ٱسْلُكْ يَدَكَ
فِي جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهْبِ فَذَٰنِكَ
بُرْهَٰنَانِ مِن رَّبِّكَ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِۦٓ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٣٢﴾ قَالَ رَبِّ
إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾ وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا
فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِيٓ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾ قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ
وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا بِـَٔايَٰتِنَآ أَنتُمَا وَمَنِ ٱتَّبَعَكُمَا ٱلْغَٰلِبُونَ ﴿٣٥﴾

[٢٩] نو هر کله چې موسی عليه السلام (معهوده ټاکلې) نبته (په اکمله وجه) پوره کړه، او د خپل اهل (ښځې) سره (مصر ته) روان شو، نو د طور غره د طرفه يې اور وليد.

(او) خپل اهل ته يې وويلې چې تاسو (همدلته) درنګ وکړئ (ايسار شئ)، يقينًا ما اور وليد (زه هلته ورځم) شايد چې تاسو ته ترې (د لارې د موندلو) خبر راوړم، (او) يا د اور څخه سوی لرګی راوړم (چې اور ورپورې نښتی وي)، ښايي چې تاسو (ترې دلته) اور بل کړئ (او وربانديې تاوده شئ).

[٣٠] نو کله چې موسی عليه السلام اور ته ورغی (هلته وربانديې) د وادي د ښي څنډې څخه په مبارک ځای کښې د ونې څخه (په بلا کيفه توګه) اواز وکړی شو چې:

ای موسی! يقينًا زه (خبرې کوونکی) همدا زه الله ﷻ يم (چې) د ټولو عالمونو رب (تربيه کوونکی) يم.

[٣١] او (بل دا چې: ای موسی!) خپله همسا وغورځوه، نو (دستي يې وغورځوله او اژدها ترې جوړه شوه)، کله چې موسی عليه السلام خپله همسا وليده چې خوځېږي لکه چې دا نری مار وي (او په تېزۍ سره لکه د نري مار حرکت کوي) نو په داسې حال کښې يې ترې مخ واړاوه چې بېرته تښتېدونکی وه او (وربانديې) راتاو نه شو.

(په عين وخت کښې الله ﷻ مخاطب کړ چې:) ای موسی! (اژدها ته) مخ ورواړوه او (ترې) ډارېږه مه، يقينًا ته د امن درلودونکو د (ډلې) څخه يې.

[٣٢] (ای موسی!) خپل لاس دې په ګرېوان کښې ننباسه چې بدون د مرضه به تک سپين راووځي (دا دې بله معجزه شوه).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او خپل وزر (خپل لاس) خپل خان ته وصل کړه (په زړه باندې یې) د ډار د امله (کېږده چې ډار دې لرې شي او زړه دې ارام ونیسي).
نو دغه دواړه معجزې (همسا، سپین لاس) ستا د رب ﷻ د پلوه (ستا د نبوت د اثبات دپاره) فرعون او د ده (د شورا) مشرانو ته قاطع دلیلونه دي (ته هغوی توحید ته دعوت کړه ځکه چې) یقیناً دوی (فرعونیان) فاسق قوم دی.
[۳۳] موسی ﷺ وویلې چې: ای زما ربه! یقیناً ما د فرعونیانو څخه یو نفر (کس) وژلی دی نو زه ډارېږم چې (د هغه په کسات کښې به) ما ووژني.
[۳۴] او (بل دا چې زه فصیح نه یم او) وررور مې هارون ﷺ همدی زما څخه د ژبې (بیان) د حیثه فصیح دی نو هغه هم زما سره د کومکي په حیث پیغمبر وګرځوه ترڅو ما د صادقیت مقام ته ورسوي. یقیناً زه ډارېږم چې فرعونیان به مې (د عدم فصاحت د امله) دروغژن وګڼي (دروغژن به ورته څرګند شم).
[۳۵] الله ﷻ (ورته) وویلې چې: ډېر ژر به ستا مټ ستا په وررور (هارون ﷺ) سره قوي کړم، او تاسو دواړو ته به سلطه (غلبه) وګرځوم (درکړم).
نو فرعونیان به تاسو دواړو ته (د ضرر او قتل د حیثه) در وصل نه شي (کسات به درڅخه وانخستلی شي).
(لنډه دا چې:) زمونږ د معجزاتو په سبب تاسو دواړه او هغه کسان کوم چې ستاسو پیروي کوي (په فرعونیانو باندې) غلبه موندونکي یاست.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د موسی ﷺ د سفر وروستنی کړی بیانه شوې ده چې حاصل یې داسې راځېږي: ای پیغمبره! شعیب ﷺ او موسی ﷺ دواړه په خپلو لوظونو او عهدونو باندې کلک ودرېده، او یوه هم ترې تخلف ونه کړ نو بیا لاندې حالاتو صورت ونیوه:
۱ـ موسی ﷺ د خپلې مېرمنې سره د مصر په لور روان شو ترڅو د لسو کالو څخه وروسته د خپلې مور او نورو اقاربو سره ملاقات وکړي.
خو د سفر په اوږدو کښې د طور مقام ته په داسې حال کښې ورسېد چې د یو پلوه ترې مصر ته غزېدلې لاره خطا شوې وه او د بله پلوه تکه توره سړه شپه وه، نو دوی دواړه هم د لارې موندلو ته محتاج وه او هم یې اور ته ضرورت درلود چې په سړه شپه کښې ورباندې خانونه تاوده کړي.
۲ـ په عین وخت کښې موسی ﷺ د طور د غره پلو ته رڼا ولیده نو خپل اهل (مېرمن) یې مخاطبه کړه چې:
الف: ما هاغلته اور (رڼا) ولیده نو تاسو همدلته خای په خای تم شئ ترڅو زه هلته ورشم شاید چې:
ب: زه تاسو ته د لارې د موندلو خبر راوړم چې مصر ته غزېدلې لاره هغه ده او یا دغه ده.
ج: یا به په سوي اوچوکي کښې اور راوړم، بنایي چې تاسو به ورباندې تاوده شئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: بالآخره یا به لا دواړه مطلبونه تر لاسه کړم.

نو تاسو ته په کار دي چې د همدې ځایه حرکت ونه کړئ، او ځای په ځای کېنئ:

۳ـ کله چې موسی ﷺ د اور په لور روان شو او هلته ورغی نو حالات هغسې نه وه لکه څنګه چې موسی ﷺ اټکل کړی وه، بلکې حالات داسې وه چې:

الف: د هغه مبارک میدان د ښي طرف څخه چې موسی ﷺ د اور په ګومان ورغلی وه بلکې هلته د یوې شنې ونې څخه ورباندې په بلاکیفه توګه اواز وکړی شو چې:

ب: ای موسی! یقینًا زه همدا زه الله ﷻ یم، همدا زه د ټولو عالمونو پالونکی یم، او هرڅه همدا زما په واک او اختیار کښې دي.

ج: ای موسی! ته د نبوت دپاره ما انتخاب (غوره) کړې او تاته مې په خپل کامل علم کښې متعدد معجزات هم درکړي دي. د مثال په توګه:

د: ته خپله همدغه همسا وغورځوه کومه چې تا په خپل لاس کښې نیولې ده او ښه یې پېژنې چې د لرګي څخه ده، او بیا ورته وګوره چې د هغې څخه څه شی جوړېږي؟.

هـ: د همسا د غورځولو سره سم د هغې څخه غټ ښامار جوړ شو چې ډېر په تېزۍ سره ځغاست. یا په بل عبارت د دغه ښامار تېزي او سرعت د نري مار وه او غټوالی یې د لوی اژدها وه.

و: موسی ﷺ د اژدها څخه ډېر زیات وډار شو حتی چې مخ بېرته ستون شو او مخ بېرته روان شو، او سترګې یې هم ورته نه وراړولې.

ز: په عین حال کښې الله ﷻ مخاطب کړ چې: ای موسی! اژدها ته مخ ورواړوه او ترې تښتېدنه مه، او مه ترې ډارېږه، او دا ځکه چې: یقینًا ته د امن درلودونکو کسانو څخه یې، تاته هیڅ ضرر نشته.

ح: ای موسی! ستا د معجزاتو بل مثال دا دی چې ته خپل لاس په ګرېوان کښې ننباسه چې په داسې حال کښې تک سپین راووځي چې هیڅ ډول مرض به ورپورې نه وي، بلکې د معجزې په توګه به رڼو جوړ شي. او بیا خپل همدغه لاس په دوهم ځل خپل ګرېوان ته ننباسه چې دا ځل به په عادي حال سره ترې رابهر شي.

ط: موسی ﷺ د دغې معجزې ننداره هم وکړه چې ټکی په ټکی تطبیق شوه.

ي: همدارنګه الله ﷻ په دغه وخت کښې موسی ﷺ ته د ډار د مخنیوي دپاره یوه ډېره مهمه طریقه هم ورو ښودله چې:

ای موسی! د ډار د کبله خپل لاس خپل ځان ته ضمیمه کړه او په زړه باندې یې کېږده، چې سدستي به ارام ونیسې او د اضطراب څخه به خلاص شې.

د همدغې طریقې څخه کار اخله، برابره خبره ده چې تاته د اژدها د کبله او یا د بل شي د کبله ډار متوجه شوی وي.

یا: ای موسی! دغه دواړه معجزې (د همسا معجزه او د سپین لاس معجزه) ستا د رب ﷻ د پلوه ستا د نبوت د اثبات دپاره دوه دلایل دي چې په هر یوه باندې ستا حقانیت او صداقت ښکاره کېږي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو دغه دواړه معجزې درسره واخله او فرعون او د ده د مجلس اراکینو (د شورا اعضاوو) ته لاړ شه. هغوی ته دعوت ورکړه چې د وحدانیت عقیدې ته راوګرځي او فسق فجور پرېږدي، یقیناً چې هغوی فاسق قوم دی، دعوت یې ضرور دی.

۴ـ بیا موسی علیه السلام د خپل رب ﷻ په حضور کښې خپل احتیاجات وړاندې کړه چې:

الف: ای زما ربه! ما خو د فرعونیانو څخه یو نفر وژلی وه، د همدې کبله مې لس کاله عمر په جلاوطنۍ کښې تېر کړ. نو زه ډارېږم چې هغوی به ما د کسات په توګه ووژني او د دې موقع به رانه کړي چې زه هغوی ته د توحید دعوت ورکړم.

ب: په دې باندې علاوه زما ژبه لږ څه غوټه لري او په ښه فصاحت سره خبرې نه شم کولی نو زه ډارېږم چې ما به دروغژن وګڼي او همدا زما د ژبې نښتل به د عدم قبول دپاره بهانه ونیسي، او یا به زه ونه توانېږم چې د استدلال په موقع هغوی ته قناعت ورکړی شم.

نو هیله ده چې زما ورور (هارون علیه السلام) زما سره د پیغمبر په حیث هغوی ته ور ولېږې او د نبوت تاج هغه ته هم ورپه سر کړې، چې هغه زما څخه د ژبې د چلښت د حیثه زیات فصیح دی، نو کله چې زه د خپل حقانیت په څرګندونه کښې کمزوری کېږم هغه به مې کومک کوي او زما څخه به د تکذیب مخنیوی کوي.

۵ـ الله ﷻ د موسی علیه السلام سوالونه قبول کړه او ورته یې وویلې چې:

الف: ژر دی چې ستا مټ به ستا په ورور سره قوي کړم او هغه ته به هم د نبوت تاج ورپه سر کړم.

ب: ژر دی چې زه به تاسو دواړو ته سلطه درکړم نو فرعونیان به ونه توانېږي چې تاسو دواړو ته د ضرر رسونې په حیث درورسېږي (درنژدې شي)، او د مقتول کسات درڅخه واخلي. البته د دې کبله چې ستاسو سره زمونږ معجزات موجود دي چې هغوی یې په مقابل کښې جرئت نه شي کولی.

نو د همدغو معجزاتو په سبب تاسو دواړه او هغه څوک غلبه درلودونکي دي کوم چې ستاسو دواړو پیروي کوي.

## توضیحات

۱ـ د دې ایتونو په ارتباط د "طه" او "النمل" په سورتونو کښې څه وضاحتونه تېر شوي دي ـوالحمد لله ﷻـ بیا واضحه کولو ته یې اړتیا نه ګورو.

## جَذْوَة څه معنی؟

۲ـ په ﴿أَوْ جَذْوَةٍ مِّنَ النَّارِ﴾ کښې د ﴿جَذْوَةٍ﴾ کلمه د هغه نیم سوي لرګي یا اوچوکي څخه عبارت ده د کوم په سر پورې چې اور نښتی وي، او د انتقال دپاره مساعد وي[1] د همدغه اور څخه په [طه: ۱۰] ایت کښې په "قَبَس" سره تعبیر شوی دی، د همدې کبله ځینې علماء کرام وایي چې: د

---

(۱) مفردات الراغب ص۸۸

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دَلْوَةٌ او "قَبِسَةٌ" او هم "جَمْرَةٌ" (سکروټه) درېواړه کلمې مترادفې دي او یوه معنی ورکوي[۱].

## الْأَيْمَن څه معنی؟

۲ـ په ﴿نُودِيَ مِن شَطِيِ ٱلْوَادِ ٱلْأَيْمَنِ﴾ کښې د "أَيْمَن" کلمه متعددې معناوې لري[۲]، خو په دې مقام کښې مفسرینو کرامو په لاندې معناوو سره تفسیره کړې ده[۳]:

الف: دلته هغه "أَيْمَن" مطلب دی چې په مقابل کښې یې "أَيْسَر" (کیڼ) استعمالېږي. یعنې موسی ﷺ ته د وادي د هغې څنډې څخه اواز وکړی شو کومه چې د موسی ﷺ په ښي طرف کښې واقع وه.

ب: دلته د میمون (مبارک) معنی ورکوي د کوم په مقابل کښې چې د "أَشَام" کلمه استعمال مومي چې د بې برکته معنی ورکوي. یعنې موسی ﷺ ته د وادي (میدان) د مبارکې څنډې څخه اواز وشو.

که څه هم ځینو مفسرینو کرامو په دې مقام کښې لومړنی معنی بعیده ګڼلې ده[۴]، مګر مونږ ته قرینه بریښي او دا خکه چې د برکت معنی د ﴿فِي ٱلْبُقْعَةِ ٱلْمُبَٰرَكَةِ﴾ څخه څرګندېږي، او د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

## یادونه

۴ـ د ﴿كَأَنَّهَا جَآنٌّ وَلَّىٰ مُدْبِرًا وَلَمْ يُعَقِّبْ﴾ کلمات په [النمل: ۱۰] ایت کښې هم نازل شوي دي او هملته یې د الله ﷻ په توفیق ډېره ښه شرحه موندلې ده، چې بیا شرحه کولو ته یې اړتیا نه ګورو، هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

## متعدد تفسیرونه

۵ـ د ﴿وَٱضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ ٱلرَّهْبِ﴾ جمله علماوو کرامو په متعددو ډولونو سره تفسیره کړې ده، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: که څه هم د "جَنَاح" کلمه د وزر دپاره وضعه شوې ده، مګر په دې مقام کښې ترې لاس مطلب دی[۵]، او د ﴿مِنَ ٱلرَّهْبِ﴾ څخه هغه ډار مراد دی کوم چې موسی ﷺ ته د لاس د سپینوالي د کبله پیدا شوی وه چې دغه به د کوم مرض د کبله صورت نیولی وي[۶]، نو حاصل یې داسې راخېژي:

ای موسی! د هغه ډار د مخنیوي د کبله چې درپېښ شوی دی ته خپل لاس خپل خان ته ضمیمه کړه او په خپل ګرېوان کښې یې د دوهم ځل دپاره ننباسه نو ډېر ژر به په خپل عادي رنګ سره راووځي او ستا تشویش به اوچت شي.

---

(۱) القاموس المحیط ج۱ ص۴۶۵
(۲) لسان العرب ج۱۳ ص۴۶۱
(۳) روح المعاني ج۲۰ ص۷۳
(۴) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۰۴
(۵) مفردات الراغب ص۹۸
(۶) زاد المسیر ج۶ ص۹۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا تفسیر ځکه غوره نه برېښي چې الله ﷻ په ﴿ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ﴾ کښې د ﴿ مِنْ غَيْرِ سُوٓءٍ ﴾ کلمات په صراحت سره موسی ؑ ته اورولی وه نو د دغه صراحت څخه وروسته د موسی ؑ تشویش هیڅ معنی نه لري او څوک ورباندې باور نه شي کولی.

ب: مرغه د اضطراب په حال کښې خپلې وزرې غوړوي او الوتنې ته خپل ځان جوړوي، او د اطمنان او ارامۍ په وخت کښې خپلې وزرې خپل ځان ته ضمیمه کوي.

نو دا جمله د اطمنان او ارامۍ څخه کنایي ده، ته به وايي چې موسی ؑ ته ارشاد شوی وي چې د اژدها (ښامار) څخه مه ډارېږه او ارام او مطمئن اوسه هغه تاته څه ضرر نه رسوي او نه يې درته رسولی شي[۱].

په دې تفسیر سره ذکره شوې جمله د ﴿ وَلَا تَخَفْ إِنَّكَ مِنَ الْآمِنِينَ ﴾ دپاره تاکید ګرځي او پوره واضحه ده چې د تاکید څخه تاسیس بهتر دی.

ج: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) وايي چې: په دې جملې سره الله ﷻ موسی ؑ ته یوه ډېره مهمه توصیه کړې ده[۲] چې ای موسی! په هر ځای او هر وخت کښې چې ته د ډار سره مخامخ شوې نو خپل لاس دې په خپله سینه (خپل زړه) باندې کېږده، سمدستي به دې خوف او ډار د منځه لاړ شي او اطمنان او ارام به دې نصیب شي.

مونږ ته همدغه تفسیر غوره برېښي چې هم د ارشاداتو د مقام سره مناسب دی او هم پکښې تاسیس دی.

## د ډار په وخت کښې مونږ ته څه په کار دي؟

۶ـ مونږ (ټولو مسلمانانو) ته د قیامت تر ورځې پورې په کار دي چې د خوف او ډار په وخت کښې د موسی ؑ غوندې په ذکر شوی ارشاد باندې عمل وکړو او خپل لاس په زړه باندې کېږدو او خپل ځان ته يې ضمیمه کړو، الله ﷻ ته اُمید دی چې خوف به مو لرې شي او زړه به مو ارام او اطمنان مونده کړي[۳].

## یوه عجیبه قیصه

۷ـ یوه ورځې د پنځم خلیفه (عمر بن عبد العزیز) رحمه الله په وړاندې یوه لیکونکي تیز واچاوه (په باد سره يې اودس مات شو)، لیکونکی ډېر وارخطا شو او ډار ورسره پیدا شو چې د خلیفه د تهدید لاندې به واقع شي، نو خپل قلم يې وغورځاوه او د خپله ځایه اوچت شو. تا به ویل چې د دغه خابه خپلې پښې سپکوي او تښتي.

نو خلیفه رحمه الله ورته په ﴿ وَاضْمُمْ إِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ ﴾ سره توصیه وکړه چې:

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۷۳؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۶۶
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۸۸؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۴۵
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۸۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابن خلق (۲۰)

اې لیکونکیه! قلم دې ببرته را اوچت کړه، او مه ډارېږه او مه وارخطا کېږه، خپل لاس په خپل زړه باندې کېږده چې اطمنان او ارام دې نصیب شي. ته په دې باندې پوه شه، کوم شی چې ما ستا څخه واورېد هغه مې د خپلې خانه دومره ډېر اورېدلی دی چې په هغې اندازه مې د بل چا څخه نه دی اورېدلی[1]، یا په بل عبارت دا کار پخپله زما څخه هم کېږي.

داسې معلومېږي چې خلیفه رحمه الله به د نبي کریم ﷺ هغه ارشاد ته اشاره کړې وي کوم چې د یوه اورده حدیث برخه ده چې: «ثُمَّ وَعَظَهُمْ فِيْ ضِحْكِهِمْ مِنَ الضَّرْطَةِ» یعنې بیا نبي کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته د تېز د کېله د دوی د خندا په هکله وعظ وکړ او ویې فرمایل چې: «إِلَى مَا يَضْحَكُ أَحَدُكُمْ مِنْ مَا يَفْعَلُ»[2] ستاسو یو کس څه شي ته (د څه دپاره) د هغه فعل څخه خاندي کوم چې پخپله یې کوي (نو لکه څنګه چې په خپل ځان نه خاندي په کار دي چې په بل چا باندې هم ونه خاندي).

## معانقة څه ته وايي؟

۸ـ د قرائت د علماوو کرامو په اصطلاح په ﴿ فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِـَٔايَٰتِنَآ أَنتُمَا ﴾ الآية کښې د ﴿ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ په کلماتو باندې د دوه وو وقفونو معانقه ده، چې پیل یې هم د وقف څخه دی او ختم یې هم په وقف باندې کېږي.

یا په بل عبارت: جائزه ده چې په ﴿ إِلَيْكُمَا ﴾ باندې وقف وکړی شي او ذکر شوي ﴿ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ کلمات د وروستني کلام سره تعلق ونیسي، یعنې: اې موسی! تاسو دواړه او هغه څوک چې ستاسو پیروي کوي زمونږ د معجزاتو په سبب برلاسی او غالب یاست.

او دا هم جائزه ده چې په ذکرو شوو کلماتو ﴿ بِـَٔايَٰتِنَا ﴾ باندې وقف وکړی شي، نو په دې تقدیر به د لومړني کلام سره تعلق مونده کړي. یعنې: اې موسی! زمونږ د ایتونو او معجزاتو په سبب به تاسو دواړو ته فرعونیان د ضرر په حیث در ونه رسېږي چې د مقتول کسات درڅخه واخلي.

ذکرو شوو علماوو کرامو په قرآن کریم کښې د معانقې د پېژاندلو دپاره د وقفونو په سرونو باندې د درېوو ټکو اینبودل علامه ګرځولې ده، نو ذکره شوې معانقه په قرآن کریم کښې داسې لیکي چې: "إِلَيْكُمَا ∴ بِآيَاتِنَا ∴" الآية.

﴿ فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ قَالُواْ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِيٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾ وَقَالَ مُوسَىٰ رَبِّيٓ أَعْلَمُ بِمَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ مِنْ عِندِهِۦ وَمَن تَكُونُ لَهُۥ عَٰقِبَةُ ٱلدَّارِ ۖ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٣٧﴾ وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم

---

[1] تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۰۸

[2] صحیح البخاري ج۲ ص۷۳۷؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ فَٱجْعَل لِّي صَرْحًا لَّعَلِّيٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ
مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٣٨﴾ وَٱسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُۥ فِي ٱلْأَرْضِ بِغَيْرِ ٱلْحَقِّ
وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُمْ إِلَيْنَا لَا يُرْجَعُونَ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذْنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَٰهُمْ فِي ٱلْيَمِّ فَٱنظُرْ كَيْفَ
كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾ وَجَعَلْنَٰهُمْ أَئِمَّةً يَدْعُونَ إِلَى ٱلنَّارِ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ لَا
يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾ وَأَتْبَعْنَٰهُمْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلْمَقْبُوحِينَ ﴿٤٢﴾

[۳۶] نو کله چې موسی ﷺ زمونږ د واضحه معجزو سره فرعونیانو ته ورغی (نو) دوی وویلې چې: دغه (هره یوه معجزه) نه ده مګر جادو دی چې (په الله ﷻ باندې) په دروغو تپل شوی دی.

او مونږ دغه (دین) په خپلو لومړنیو (پخوانیو) پلرونو کښې نه دی اورېدلی (په هغوی کښې کوم پیغمبر نه دی تېر شوی).

[۳۷] او موسی ﷺ وویلې چې: زما رب ﷻ په هغه چا باندې ډېر ښه پوهېږي کوم چې د ده ﷻ د نزده یې هدایت (دین) راوړی دی.

او (زما رب ﷻ) په هغه چا باندې (هم ډېره ښه پوهه لري) د چا دپاره چې د دنیا (او آخرت) انجام دی، یقینًا شان دا دی چې ظلم کوونکی قوم فلاح (کامیابي) نه مومي.

[۳۸] او فرعون وویلې چې: ای د مشرانو ډلې! زه تاسو ته د خپل ځان څخه پرته په بل هیڅ معبود باندې علم نه لرم (تاسو زما څخه په غیر بل معبود نه لرئ).

نو ماته (ای هامانه!) په خټه باندې اور بل کړه (خامې خښتې پخې کړه).

نو ماته دنګه ماڼۍ وګرخوه (جوړه کړه) شاید چې زه د موسی ﷺ معبود ته وروخېژم (د هغه سره وګورم که بالفرض په اسمان کښې موجودیت ولري).

او یقینًا زه هرومرو په موسی ﷺ باندې ګومان کوم چې د دروغژنانو د ډلې څخه دی (چې خپل ځان ته په دروغو د پیغمبر لقب ورکوي).

[۳۹] او (د معجزاتو د ظهور څخه وروسته هم) فرعون (د حق د قبول څخه) په ناحقه په ځمکه کښې تکبر وکړ او د ده لښکر (هم تکبر اختیار کړ).

او دوی (ټولو) ګومان وکړ چې یقینًا دوی به مونږ ته راجع نه کړی شي (بیا راژوندي نه کړی شي).

[۴۰] نو مونږ فرعون او د ده لښکر (په غضب سره) ونیوه نو (ټول) مو په دریاب کښې وغورځول.

نو (ای پیغمبره!) ته وګوره چې د ظالمانو انجام څنګه شو؟ (ټول غرق شوه).

[۴۱] او فرعونیان مونږ (په کفر کښې) امامان ګرځولي وه چې اور (دوزخ) ته به یې بلل کول (نو په دنیا کښې مو غرق کړه) او د قیامت په ورځ به ورسره (هم) کومک ونه کړی شي (چې څوک د

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عذاب څخه نجات ورکړي).

[۴۲] او مونږ په دغې دنیا کښې په فرعونیانو پسې لعنت تابع وګرځاوه (چې د قیامت د ورځې پورې وربانديې لعنت ویل کېږي).

او دوی د قیامت په ورځ د بدرنګو کړی شوو څخه دي (او د هر خیر څخه د لرو کړی شوو څخه دي).

## د مطلب خلاصه

یعنې ای پیغمبره! اوس په خپل اُمت باندې د موسی ﷺ د هغو حالاتو څخه ځینې حالات قرائت کړه کوم چې هغه ﷺ ته د دعوت په مرحلې کښې پېښ شوي وه هغه دا چې:

۱ـ نو کله چې موسی ﷺ فرعونیانو ته د یوه پیغمبر په حیث ورغی او د خپل رسالت د اثبات دپاره یې واضحه معجزات ورڅرګند کړه نو هغوی یې دعوت قبول نه کړ، او بهانه یې ونیوه چې:

الف: دغه خوارق (چې موسی ﷺ ورته د خپل نبوت دلایل وایي) بل شی نه دی مګر فقط جادو دی او په دروغو سره الله ﷻ ته نسبت ورکول کېږي ترڅو وربانديې خلک تېر باسي.

ب: او همدارنګه مونږ د دغه شخص (موسی ﷺ) په څېر د کس په اره په خپلو پخوانیو پلرونو کښې هیڅ نه دي اورېدلي چې پکښې تېر شوی وي، که بالفرض حقیقت یې درلودی نو ضرور به یې په پخوانیو کښې امثال تېر شوي وی.

لنډه دا چې مونږ یې نه د نبوت دعوه منو او نه د دغې دروغینې دعوې دلیل قبلوو.

۲ـ دا خو د فرعونیانو خبره وه چې وړاندې قرائت شوه، د موسی ﷺ خبره دا وه چې:

الف: زما رب ﷻ هغه څوک ډېر ښه پېژني کوم چې د ده ﷻ د پلوه په حقه رالېږلی شوی وي، که بالفرض زه په دروغو سره د نبوت دعوه کېږ یم نو ضرور به ماته سزا راکړي.

ب: همدارنګه زما رب ﷻ په هغه چا باندې هم ښه پوره عالم دی چا چې آخرت ګټلی دی او په حقه روان دی.

نو په آخرت کښې به ښه پوره واضحه شي چې تاسو په حقه یاست او که زه په حقه یم؟ لنډه دا چې ظالمان نه په دنیا کښې کامیابي موندلی شي او نه په آخرت کښې، نو په آینده کښې به څرګنده شي چې د دواړو دارینو کامیابي د چا په برخه ده، زما او که ستاسو؟ او هم به واضحه شي چې ظالمان تاسو یاست او که زه؟.

۳ـ بیا د خلکو د اغفال دپاره فرعون خپل وزیر (هامان) مخاطب کړ چې:

الف: ای هامانه! هله ژر شه بتی جوړې کړه او په خامو خښتو باندې اور بل کړه چې پخې شي.

ب: بیا ترې یوه ښه لوړه ماڼۍ جوړه کړه ترڅو زه پکښې د موسی ﷺ معبود ته ورواوچت شم، او خبرې ورسره وکړم، چې ایا موسی ﷺ په رښتیا هغه رالېږلی دی؟

یا په بل عبارت: که بالفرض رښتیا د موسی ﷺ رب زما څخه په غیر بل رب وي نو هغه به ضرور په اسمان کښې وي، په ځمکه کښې خو زما څخه په غیر بل رب نشته.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: دا کار خکه ضرور دی چې زه ګومان کوم چې موسی ﷺ د دروغژنانو د ډلې څخه دی نو لازمه ده چې دروغ او رښتیا یې خپل خان ته معلوم کړم.

۴_ ای پیغمبره! ذکره شوې حیله او بهانه د فرعون د پلوه صرف د خلکو د اغفال دپاره په کار واچوله شوه، که نه نو اصلاً نوموړي د حق څخه تکبر کاوه، همدارنګه د ده لښکر هم په خمکه کښې تکبر کوونکی وه، نه یې غوښتل چې حق ته تسلیم شي.

بلکې کومه کړنلاره چې فرعونیانو غوره کړې وه هغوی ته هم په خپلو زړونو کښې ناحقه ښکارېده، خو د عناد د کبله ورباندې کلک وه.

او د عناد وجه یې دا وه چې هغوی ته دنیاوي عیش او عشرت نهایي هدف برېښېده د هغوی ګومان وه چې د قبرونو څخه به را پورته نه کړی شي او مونږ ته به رجوع ونه کړي او نه به د حساب کتاب سره مخامخ شي.

۵_ نو د همدې کبله مونږ هغوی ته د تکبر او کفریاتو جزا ورکړه چې پخپله فرعون او د ده لښکر مو ټول په غضب سره ونیوه او په دریاب کښې مو ورغورځول.

۶_ ای پیغمبره! ته ګوره چې د ظالمانو عاقبت څنګه شو چې ټول د خرمې په دریاب کښې غرق کړی شو؟ او د قیامت د ورځې عذاب خو لا ورته پاتې دی چې د بیا راژوندي کېدلو څخه وروسته به ورسره ملاقي شي.

۷_ مونږ هغوی په خپل وخت کښې د کفر امامان ګرځولي وه چې خلک به یې دوزخ ته دعوتول، او نن هم په پټه خوله دوزخ ته بلنه کوي خو صرف هغه کسان یې دعوت او بلنې ته لبیک وایي کوم چې د همدوی په قدم باندې روان دي او د هغوی په شان حقائق د پښو لاندې کوي او بس.

نو د قیامت په ورځ به نه د فرعونیانو سره او نه د دوی د پیروانو او شاګردانو سره نصرت وکړی شي او نه به څوک مونده کړي چې د دائمي دوزخ څخه نجات ورکړي.

۸_ نو د قیامت د ورځې پورې د فرعونیانو د کفریاتو پېټی درنېږي او د خپلو شاګردانو د کفریاتو په هکله بې ونډې نه پاتې کېږي.

په دې باندې علاوه په دنیا کښې مونږ د مؤمنانو د پلوه په هغوی پسې د لعنت ښېراوې پیروګې ګرځولي دي چې هرڅوک ورباندې لعنت استوي.

هغوی د قیامت په ورځ د بد شکله کړی شوو څخه دي چې د یو پلوه به ورباندې هملته هم لعنت ویل کېږي او د بله پلوه به یې څېرې او شکلونه هم د ملعونیت او معذبیت څخه نمایندګي کوي، چې سترګې به یې تکې شنې، ګرځېدلې وي او په زولنو او غورابونو کښې به تړلی شوي وي او داسې نور.

## توضیحات

۱_ په ﴿ قَالُوا مَا هَٰذَا ﴾ کښې د "هَٰذَا" کلمه د مذکور په اعتبار سره خوارقو او بیّناتو ته اشاره ده چې د ﴿ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى ﴾ کلمات ورباندې دلالت کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې كفارو (فرعونيانو) وويلې چې دغه خوارق (چې موسى ﷺ يې د خپل نبوت دلايل بولي) ټول جادو دی او په دروغو سره ورباندې د معجزاتو نوم اينښودلی کېږي.

او په ﴿ وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا ﴾ کښې د "هَذَا" کلمه هغه حق دين ته اشاره ده د کوم دپاره چې موسى ﷺ دعوت چلاوه، په همدې باندې د ﴿ فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴾ کلمات دلالت کوي.

يعنې دغه توحيدي دين چې موسى ﷺ ورته دعوت چلوي او خپل خان ته د پيغمبر لقب ورکوي مونږ نه په پخوانيو پلرونو کښې د دغه غوندې دين اورېدلی دی او نه مو دا اورېدلي دي چې د ده غوندې ورته چا دعوت چلولی دی.

## په ياد ولرئ

په ياد ولرئ! چې فرعونيانو د توحيد (حق دين) د اورېدلو څخه عناداً انکار وکړ چې په پخوانيو پېړيو کښې نه دی تېر شوی، که نه نو د يوسف ﷺ په نبوت او د ده ﷺ په حق دين باندې خو واړه او زاړه ټول خبر وه او ټولو اورېدلی وه.

د همدې کبله د استدلال په مقام کښې يوه مؤمن سړي د هغوی توجه داسې ورواړوله چې: ﴿ وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ ﴾ [غافر:۳۴] يعنې او يقيناً تاسو ته د موسى ﷺ څخه وړاندې يوسف ﷺ په څرګندو معجزو سره راغلی وه.

## يادونه

۲ـ کوم مضمون ته چې موسى ﷺ د دعوت په اول وخت کښې د فرعون په وړاندې اشاره کړې وه چې ﴿ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾، همغه مضمون په پای کښې تحقق وموند چې الله ﷻ ورته په ﴿ فَٱنظُرْ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾ [۴۰] سره اشاره کړې ده. يعنې نو ته وګوره چې د ظالمانو عاقبت څنګه شو؟ ايا همغسې نه شو لکه څنګه چې ورته موسى ﷺ په ابتداء کښې اشاره کړې وه؟ همدارنګه د هر پيغمبر خبره هرومرو تحقق مونده کوي هم په دنيا کښې او هم په آخرت کښې، نو د دې امت کفارو ته هم په کار دي چې د پيغمبر ﷺ په خبره باور وکړي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى ﴾ د کلماتو څخه اشارة څرګندېږي چې فرعونيانو د فرعون څخه په غير نور معبودان نه درلوده، حال دا چې خپل قوم ورته د "آلِهَة" کلمه مضافه کړې ده چې د معبودانو په تعدد باندې دلالت کوي، الله ﷻ د هغوی څخه حکايت کړی دی چې: ﴿ وَيَذَرَكَ وَءَالِهَتَكَ ﴾ [الأعراف:۱۲۷] يعنې فرعونيانو فرعون ته وويلې چې: ايا ته موسى ﷺ او د ده قوم پرېږدې چې په ځمکه کښې فساد وکړي حال دا چې دوی ټولو ستا عبادت هم پرېښی او ستا د متعددو معبودانو عبادت يې هم د پښو لاندې کړی دی؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د ذکر شوي سوال جواب د الله ﷻ په توفیق د همدغه [الأعراف:۱۲۷] ایت لاندې تېر شوی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو، یوازې لاندې معلومات ورباندې وراضافه کوو:

الف: فرعون عوام خلک د دې لایق نه ګڼل چې د ده په عبادت کوونکو کښې شامل شي[1] نو مقوی ته یې څه بوتان ټاکلي وه او خپل ځان یې فقط د خواصو معبود ګرځولی وه چې په ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ ﴾ کښې یې ترې په ﴿ ٱلۡمَلَأُ ﴾ سره تعبیر کړی دی. یعنې د شورا غړي او د مجلس ارکان او مشران.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: فرعون د دعوت په ابتدایي مرحله کښې خپل قوم ته ویلي وه چې: ﴿ مَا عَلِمۡتُ لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرِي ﴾ زه علم نه لرم چې تاسو ته به زما څخه په غیر بل معبود وي چې تاسو یې عبادت وکړئ. خو د دعوت په وروستنۍ مرحله کښې یې خلوبنت کاله وروسته خپل ځان ته د أعلی رب (لوی رب) لقب ورکړ[2]، الله ﷻ د فرعون د خولې څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلۡأَعۡلَىٰ ﴾ [النازعات:۲۴] یعنې فرعون خپل رعیت راغونډ کړ او په لوړ اواز سره یې ورته وویلې چې: زه ستاسو لوی رب یم، نو د دې څخه وروسته الله ﷻ د دنیا او آخرت دواړو په عذابونو باندې اخته کړ.

## یو ځل کتل یې بې ګټې نه دي

۴ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الشعراء:۲۳] ایت لاندې څه تحقیق لیکلی دی چې فرعون د الله ﷻ په ارتباط څه عقیده درلوده؟ چې په دې مقام کښې د ذکر شوي تحقیق لوستل بې ګټې نه دي، هیله ده چې هلته مراجعه وکړی شي.

## د پخو خښتو صنعت

۵ـ علماء کرام د ﴿ فَأَوۡقِدۡ لِي يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ ﴾ څخه فهموي چې د خښتو د پخولو صنعت په رومبي ځل فرعون خپل وزیر (هامان) ته وروښود، چې پخوا د هیچا زده نه وه[3]، که بالفرض دغه صنعت رواج درلودی او د خلکو زده وی نو فرعون به ورته د ذکر شوي عبارت په عوض په دې عبارت سره امر کړی وی چې: "إِطْبَخْ لِيَ الآجُرَّ" ماته خامې خښتې پخې کړه، او دې ته به څه اړتیا نه وی چې هغه ته په خټو باندې د اور بللو امر وکړي، والله ﷻ أعلم.

## دروغېنه ماڼۍ

۶ـ که څوک وایي چې: د ﴿ فَٱجۡعَل لِّي صَرۡحٗا لَّعَلِّيٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ ﴾ د جملې څخه معلومېږي چې فرعون بالکل لیونی وه، ایا دا د لیوني خبره نه ده چې خپل وزیر یې د داسې ماڼۍ په جوړولو باندې مکلف کړ چې تر اسمانه اوچته وي؟ همدارنګه وزیر (هامان) هم په لیونتوب کښې د نوموړي

---

(۱) حاشیة الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۵۱۴
(۲) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۸۸؛ تفسیر المراغي ج۲۰ ص۶۰
(۳) البحر المحیط ج۸ ص۳۰۶؛ التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۲۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځکه کم نه وه چې د ذکرې شوې دروغینې ماڼۍ په جوړولو يې شروع کوله.

ایا هامان ته په کار نه وه چې د هسکې ماڼۍ په عوض يې نوموړی لیونی آمر د یوه داسې غره څوکې ته خېژولی وی چې د اوچتې ماڼۍ څخه څو چنده اوچت او لوړ وه؟

مونږ وايو چې: د ذکرې شوې پوښتنې د جوابولو دپاره متعددو جوابونو صورت نیولی دی لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: ځینې علماء کرام وايي چې د فرعون د ﴿ صَرْحًا ﴾ د کلمې څخه رصدخانه مطلب وه[1] چې: ای هامانه! ماته یوه رصدخانه جوړه کړه او ښه قوي دوربینونه پکښې ولګوه ترڅو زه په اسمان کښې د موسی ﷺ د رب پلټنه وکړم او هلته يې پکښې وګورم.

ب: فرعون دغه امر په خپل وزیر باندې د دې دپاره صادر کړی وه چې په موسی ﷺ پورې خندنې او مسخرې وکړي، او وزیر هم د خپل پاچا په مطلب باندې پوه وه[2].

ج: که څه هم ذکر شوي دواړه جوابونه هم د سوال مخنیوی کولی شي خو کوم جواب چې غوره برېښي هغه دا دی چې کله فرعون د موسی ﷺ د معجزاتو په مقابل کښې فاحشه ماتې وخوړه او خطر ورسره پیدا شو چې عوام به يې د ربوبیت څخه انکار کړي، نو د دوی د اغفال دپاره يې خپل وزیر ته د ماڼۍ د جوړولو پروژه توصیه کړه، ترڅو عوام په غوږ ووهي چې زما او د موسی ﷺ مقابله پای ته نه ده رسېدلې، بلکې زه غواړم چې د هغه د رب سره پخپله وګورم او خبرې ورسره وکړم، البته په هغه صورت کښې که بالفرض موسی ﷺ زما څخه په غیر بل رب ولري.

نو ای خلکو! تاسو بې غمه په خپل دین باندې کلک اوسئ، زه به ډېر ژر دغه معضله حل کړم او تاسو ته به خبر درکړم.

## عوامو په دې خبره څنګه باور وکړ؟

۷ـ پاتې شوه دا خبره چې عوامو په دغسې طفلانه خبره باندې څنګه باور وکړ او د فیصلې په انتظار غافل کېناستل؟ نو د دې جواب دا دی چې:

د حکامو په مقابل کښې که څه هم خلک د ډار د امله ساکت پاتې کېږي او په طفلانه کارونو باندې يې اعتراض نه کوي او خپل ځانونه په ناپوهۍ باندې وهي، خو اکثره خلک داسې وي چې د خپلو حکامو په ډېرو څرګندو دروغو باندې هم باور کوي او د ړانده تقلید په بنیاد په ښکروړو دروغو باندې يې د رښتیاوو ګومان کوي. د ښه وضاحت دپاره لاندې مثالونه ولولئ:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [یونس:۹۲] ایت لاندې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روایت یوه برخه د ځینو مفسرینو کرامو څخه نقل کړې ده[3] چې کله فرعون په دریاب کښې غرق شو نو بني

---

(۱) تفسیر البیضاوي في هذا المقام
(۲) في ظلال القرآن ج۵ ص۲۶۹۴
(۳) تفسیر البغوي ج۲ ص۳۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اسرائیلو باور ونه کړ چې هغه به مړ شوی وي، په اصطلاح د دوی خیال وه چې اوس به د درياب په داخل کښې خپل الوهيت چلوي، او د فرعون مړینه ورته محاله بریښېدله.

نو الله ﷻ درياب ته امر وکړ چې د فرعون لاش وچې ته وغورځوي ترڅو د بني اسرائيلو باور راشي چې رښتيا مړ شوی دی او ژوندی پاتې نه دی.

ب: د پاکستان د اټک په سيمه کښې د اباسيند په غاړه د اکبر پاچا د زمانې څخه يوه قلا ولاړه ده، د دې قلا په ارتباط په خلکو کښې خوره ده چې د دې قلا د داخل څخه د ځمکې په تل کښې نوموړي پاچا څو زره ميله اوږد تونل غزولی وه او آن ډيلي ته يې رسولی وه چې هغه به پکښې تګ راتګ کاوه او هيڅوک به ورباندې نه خبرېده.

په دغو خرافاتو باندې تر نن ورځې[1] پورې هم خلک باور کوي. څه لرې نه ده چې ذکره شوې طفلانه خبره به نوموړي پاچا د خپل زور د ښودولو په غرض په خپل رعيت کښې خوره کړې وي چې د بغاوت خيال يې په سرونو کښې ونه ګرځي.

## تبصره

۸ـ په ذکرو شوو درېواړو جوابونو کښې د دوهم او درېم جواب غوښتنه دا ده چې ذکره شوې دروغينه مانۍ دې نه وي جوړه شوې ، اوَ د جوړولو تپ او لاش دې محض د تمسخر او يا اغفال دپاره صورت نيولی وي او بس.

اما نظر اولني جواب ته پکښې علماء کرام اختلاف لري[2]. ځينې وايي چې دا مانۍ جوړه کړی شوه او بيا الله ﷻ په قدرتي توګه راچپه کړه چې فرعونيانو ته يې درانه مالي او نفسي تاوانونه ورسول. خو ځينې نور وايي چې هغه سرته ونه رسېدله او کار يې ناتمام پاتې شو، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

## د حديث شريف يو مصداق

۹ـ په ﴿ فَأَخَذْنَهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذْنَهُمْ فِى ٱلْيَمِّ ﴾ کښې د حديث شريف يوه مصداق ته اشاره شوې ده هغه دا چې: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې الله ﷻ فرمايي: «الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ»[3] يعنې حقيقي لويي او پاچاهي زما څادر دی، او د شان عظمت زما لنګ دی (دغه دواړه په ما پورې اختصاص لري)، نو هرڅوک چې زما سره د دغو دواړو څخه په يوه کښې منازعه وکړي او خپل ځان ته يې ثابت وګڼي نو زه به يې په اور (دوزخ) کښې واچوم، او په ذلت به يې اخته کړم.

ځرنګه چې فرعون خپل ځان حقيقي واکدار ګاڼه او خپل ځان ته د شان په عظمت باندې قائل وه

---

(۱) ۱۳۷۹/۱/۱ هـ ش
(۲) تفسير الطبري ج۲۰ ص۷۸؛ التفسير الكبير ج۲۴ ص۲۵۳؛ تفسير القرطبي ج۱۳ ص۲۸۹
(۳) سنن ابي داوُد ج۲ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل خان یې د اعلی رب په نامه باله، نو الله ﷻ ورسره هغه څه وکړه کومو ته چې په ایتونو کښې اشاره شوې ده.

## قبح څه معنی؟

۱۰_ په ﴿ وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ هُم مِّنَ ٱلْمَقْبُوحِينَ ﴾ کښې د "مَقْبُوحِين" کلمه د اشتقاق په لحاظ سره لاندې دوه احتماله درلودلی شي[1]:

الف: ځینې علماء کرام وایي چې: دا کلمه د "قُبح" _لکه "رُشد"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې د حسن په ضد کښې استعمالېږي چې مونږ ترې په بدرنګۍ سره تعبیر کوو. یعنې فرعونیان به د قیامت په ورځ د هغو کسانو د ډلې څخه وي کوم به چې ډېرې بدرنګې څېرې ولري چې سترګې به بې شنې وي او ژبې به یې راوتلې وي، او هم به یې یوه شونډه ککرې ته پورته شوې وي او بله به یې ښکته نامه ته رسېدلې وي او داسې نور[2].

ب: ځینې علماء کرام وایي چې دغې کلمې د "قَبح" _لکه "ضَرب"_ څخه اشتقاق موندلی دی چې د لرې کولو معنی ورکوي یعنې هغوی به د قیامت په ورځ د هر خیر څخه لرې کړی شوي وي[3]، نه به د الله ﷻ رحمت مونده کړي او نه به یې د کوم شفاعتګر شفاعت په برخه شي او داسې نور.

زمونږ په نزد ذکر شوي دواړه اشتقاقونه سره څه منافات نه لري نو که د بدلیت په لحاظ سره دواړه مراد کړی شي ډېره ښه خبره ده.

﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَهْلَكْنَا ٱلْقُرُونَ ٱلْأُولَىٰ بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٣﴾ ﴾

[۴۳] او یقینًا مونږ موسی ﷺ ته د هغه څخه وروسته کتاب (تورات) ورکړی وه چې مونږ رومبنی پیړۍ هلاکې کړې وې (لکه عادیان او ثمودیان او نور).

(البته) په داسې حال کښې چې (نوموړی کتاب) د خلکو دپاره د بصیرتونو درلودونکی او لار ښودونکی وه، او (هم ورته زمونږ د پلوه) رحمت وه.

(دا د دې دپاره چې:) شاید دوی پند قبول کړي (او ګټه ترې پورته کړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو باندې د موسی ﷺ د دعوت د اولنۍ مرحلې بیان ختم شو چې د فرعونیانو په غرق باندې پای ته رسېدلی وه.

[1] لسان العرب ج۲ ص۵۵۲
[2] البحر المحیط ج۸ ص۳۰۷
[3] تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۹۰؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې ایتونو کښې د موسی ﷺ د دعوت دوهمې مرحلې ته اجمالي اشاره شوې ده، دغه مرحله یوازې بني اسرائیلو پورې اختصاص لري او د تورات په ورکړه پیل کېږي، نو خلاصه یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د فرعونیانو د غرق څخه وروسته مونږ موسی ﷺ ته تورات ورکړ چې د خلکو اذهانو ته یې بصیرتونه وربښل او په ضروریاتو باندې یې ورته رڼا اچوله او همدارنګه دغه کتاب د الله ﷻ د پلوه یو رحمت وه چې د ده ﷻ د رضامندۍ د حاصلولو لاره یې واضحه کوله.

د دې کتاب ورکړې ته په هغه وخت کښې څکه ضرورت وه چې مونږ پخوانۍ پېړۍ هلاکې کړې وې لکه عادیان او ثمودیان او نور، او د پخوانیو پیغمبرانو د نبوت پلوشې تتې شوې وې.

که بالفرض پخوانیو پېړیو په خپلو خپلو پیغمبرانو باندې ایمان راوړی وی نو وروستنیو خلکو ته به یې الهي دین ژوندی ساتلی وی او د جدید شریعت نزول ته به اړتیا نه وی پېښه شوې.

نو د دغه ضرورت په موقع مونږ نوموړی کتاب د دې دپاره نازل کړ ترڅو پرې خلک عمل وکړي او د پخوانیو پېړیو د هلاک څخه عبرت واخلي.

﴿ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلْأَمْرَ وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾
وَلَٰكِنَّآ أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ ۚ وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِيٓ أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُوا۟
عَلَيْهِمْ ءَايَٰتِنَا وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ ﴿٤٥﴾ وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا وَلَٰكِن
رَّحْمَةً مِّن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٤٦﴾
وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا
فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾ ﴾

[۴۴] او (ای پیغمبره!) ته خو (د غره) په غربي څنډه کښې (حاضر) نه وې کله (او چرته) چې مونږ موسی ﷺ ته (د تورات د ورکړې) کار انجام کړ، او نه ته (هلته په همدغه کار باندې) د شاهدانو د جملې څخه وې.

[۴۵] او مګر مونږ (ډېرې) پېړۍ (خلک) پیدا (او فنا) کړه، نو په دوی باندې د ژوند موده اوږده شوه (الهي دین یې تحریف او تغیر کړ نو تاته مو د هغه د تصحیح دپاره وحې وکړه).

او (ای پیغمبره!) ته د مدین (ښار) په اهالیوو کښې اوسېدونکی (هم) نه یې، چې (د هغوی څخه د زده کړې د امله د خپلې زمانې) په خلکو باندې زمونږ ایتونه قرائت کوې (چې موسی ﷺ او شعیب ﷺ څنګه معاهده وکړ؟).

او مګر مونږ (د پیغمبرانو) لېږونکي یاستو (ته مو هم خلکو ته استولی یې او وحې درته کوو).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۶] او (ای پیغمبره!) ته د طور (د غره) په څنډه کښې (هم هلته حاضر) نه وی کله چې مونږ موسی ﷺ ته په بلاکیفه توګه) اواز وکړ (او د نبوت تاج مو ورپه سر کړ).

او مګر (تاته دغه معلومات) د خپل رب ﷻ د رحمت (او مهربانۍ) د کبله (درکړی شوی) دی، (البته دا) د دې دپاره چې داسې قوم (د الهي عذابه) وډار کړې چې ستا څخه وړاندې (په نژدې زمانه کښې) داروونکی (پیغمبر) نه دی ورغلی.

شاید چې دوی پند واخلي (او مستقیمې لارې ته راجع شي).

[۴۷] او (ای پیغمبره! مونږ به ته د پیغمبر په صفت خلکو ته نه وی لېږلی) که چرته (دا خبره موجوده) نه وی چې (کله) خلکو ته د هغو (جنایتونو په سبب) مصیبت ورسېږي کوم چې د دوی لاسونو وړاندې کړي دي نو دوی به ووایي چې:

ای زمونږ ربه! مونږ ته دې ولې پیغمبر نه لېږه چې مونږ ستا د ایتونو (احکامو) پیروي کړې وی او مونږ د مؤمنانو (د ډلې) څخه ګرځېدلي وی (نو ستا په لېږلو سره مو د ذکر شوي اعتذار مخه بنده کړه).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنې ایت کښې د تورات ضرورت ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې د یو پلوه د قرآن کریم ضرورت ته اشاره کېږي او د بله پلوه د نبوت په اثبات باندې دلایل اقامه کړی شوي دي چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! ته په حقه د الله ﷻ د پلوه د خلکو د هدایت دپاره استولی شوی یې، او پخپله همدغه قرآن کریم (چې تاته درکړی شوی دی) په دې دلالت کوي چې ته د نبوت په ادعاء کښې رښتینی یې او دا څکه چې:

۱ـ د طور د غره په غربي څنډه کښې خو تا موجودیت نه درلود چرته چې مونږ موسی ﷺ ته د تورات د ورکړې کار ترسره کړ او نه ته هلته د حاضرینو څخه وې چې دغه کار ستا د سترګو لاندې انجام شوی وي او بالآخره نه ته د هغو اویا نفرو د جملې څخه یې کوم چې د موسی ﷺ سره د طور غره ته تللي وه.

نو که بالفرض ته په حقه پیغمبر نه وی او په وحې سره تاته مونږ معلومات نه وی درکړي نو تا به د غیبو څخه څنګه اخبار کړي وی چې د تورات ورکړې صورت نیولی وه او که نه، او که صورت یې نیولی وه نو دغه کار په څه ډول انجام شو؟

هو! په ذکره شوې موقع کښې خو ته حاضر نه وې چې واقعات دې په سترګو لیدلي وی، مګر مونږ تاته نبوت درکړ او ستا نبوت ته په دغه وخت کښې خلکو ضرورت هم درلود او دا څکه چې:

مونږ د موسی ﷺ د وفات څخه وروسته ډېرې پېړۍ خلک پیدا کړه او په څمکه کښې یې اوږده عمرونه تېر کړه خو دوی په خپل منځکښې تورات معمول ونه ساته او په تحریف سره یې حق او باطل ګډوډ کړه. نو خلک احتیاج شوه چې الهي حق دین ورته یو ځل بیا تجدید کړی شي، او حق د باطل څخه جدا کړی شي. نو:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د ې کار د سر ته د رسولو دپاره مو تاته وحې وکړه او په هغو واقعاتو باندې مو مو
بهو خبر کړې کومو چې په زرګونو کلونه وړاندې صورت نیولی وه، که بالفرض ته په حقه پیغمبر نه
وی نو د دغو واقعاتو یوه ذره کوچنۍ کړۍ به دې هم نه وی بیانه کړې.

۲ـ همدارنګه: ای پیغمبره! ته خو د مدین په ښار کښې هم اوسېدلی نه یې چې هغه واقعات دې
په سترګو لیدلي وی کوم چې د موسی ﷺ او شعیب ﷺ ترمنځ تېر شوي دي، ایا ته د هغوی دواړو
په معاهده کښې حاضر وې؟

ته هلته حاضر نه وې مګر مونږ د خلکو د هدایت دپاره د پیغمبرانو لېږونکي یاستو او ته د
همدې ډلې ځخه یو لوړ رتبه پیغمبر یې.

۳ـ همدارنګه: ای پیغمبره! ته د طور د غره په څنډه کښې هغه وخت هم حاضر نه وې چې کله
مونږ موسی ﷺ ته ابتدایي وحې وکړه او په بلا کیفه توګه مو ورباندې اواز وکړ چې: ﴿ إِنِّىٓ أَنَا ٱللَّهُ
رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾ یقینًا زه او همدا زه (خبرې کوونکی) الله ﷻ یم (او) رب العالمین یم.

رښتیا چې تا هلته په هغه وخت کښې موجودیت نه درلود مګر تاته ستا خپل رب ﷻ د رحمت د
کبله نبوت درکړ او په غیبي ضروري علومو باندې یې پوه کړې.

البته دا د دې دپاره چې: ته هغه قوم د الله ﷻ د عذابه وډار کړې کوم ته چې په نژدې وخت کښې
ستا ځخه وړاندې هیڅ ډاروونکی نه دی ورغلی، شاید چې دوی ستا دعوت قبول کړي او په دنیا او
آخرت کښې ترې ګټه پورته کړي.

۴ـ ای پیغمبره! ستا د دعوت په مقابل کښې د خلکو عکس العمل مونږ ته لا په ازل کښې
معلوم وه چې څوک ورباندې ایمان راوړي او څوک ورځخه انکار کوي.

خو که چرته د دې خبرې مخنیوی مطلب نه وي چې کله منکرانو ته د دوی د انکار د امله او د
هغه جنایاتو د امله مصیبت او عذاب ورسېږي کوم چې د دوی خپلو لاسونو کړي دي او پخپله یې
مرتکب شوي دي، نو دوی به ووایي چې:

ای زمونږ ربه! مونږ ته دې ولې په دنیا کښې پیغمبر نه را استاوه، چې مونږ یې پیروي کړې وی
او ستا احکام مو په سر او سترګو قبول کړي وی او بالآخره د مؤمنانو د ډلې ځخه شمېرل شوي وی.

ای زمونږ ربه! زمونږ عقلونه دومره صاف او روښانه نه وه چې مونږ ورباندې حق د باطل ځخه
جدا کړی وی او په سمه لاره روان شوي وی.

که بالفرض د دغې خبرې مخنیوی مطلب نه وی نو مونږ به ورته د پیغمبر په حیث نه وی
وراستولی چې قرآني ایتونه ورباندې قرائت کړې، بلکې د دوی ایمان او انکار به مو تکویني دلایلو
ته سپارلی وی او بس.

## توضیحات

۱ـ الله ﷻ په دې مقام کښې د نبي کریم ﷺ غیبي معلومات په دریو ګروپونو باندې ویشلي دي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اين خلق (۲۰)
هر ګروپ په مستقله توګه د نبوت په حقانيت باندې دلالت کوي.
چې د همدې کيله د درېواړو ګروپونو په نزول کښې د وقوعي ترتيب مراعات نه دی کړی شوی ترڅو په مجموعه درېواړو باندې څوک د يوه دليل ګومان ونه کړي، ګروپونه دا دي:

الف: ﴿وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلْغَرْبِيِّ إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى﴾ الآية.

ب: ﴿وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ﴾ الآية.

ج: ﴿وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذْ نَادَيْنَا﴾ الآية.

څينو علماوو کرامو لومړنی ګروپ په هغو حالاتو باندې تفسير کړی دی کومو چې موسی ﷺ ته د نبوت د ورکړې په وخت کښې صورت نيولی وه، او درېم ګروپ يې هغو حالاتو ته اشاره ګڼلې ده کوم چې هغه ﷺ ته د تورات د ورکړې په وخت کښې متحقق شوي وه[1]. که څوک يې تفصيل شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مګر مونږ ته د ذکرو شوو دواړو ګروپونو تفسيرول بالعکس غوره برېښي او دا ځکه چې:

د درېم ګروپ بيان په ﴿نَادَيْنَا﴾ باندې مشتمل دی او د نبوت د ورکړې په بيان کښې د ﴿نُودِىَ﴾ کلمه نازله شوې ده ـ لکه چې لږ وړاندې په [القصص: ۳۰] کښې تېره شوه ـ، او پوره واضحه ده چې د ﴿نَادَيْنَا ، نُودِىَ﴾ دواړه کلمې د يوه مصدر "مُنَادَاةٌ" څخه اشتقاقي شوي دي.

اما د تورات د ورکړې په بيان کښې چې په [الأعراف:۱۴۵] ايت کښې ورته اشاره شوې ده، نه د "نَادَيْنَا" کلمه نازله شوې ده او نه د "نُودِيَ".

## شاهدان څوک وه؟

۲ـ په ﴿وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ﴾ کښې د ﴿ٱلشَّٰهِدِينَ﴾ د کلمې څخه هغه جرګه مطلب ده کومه چې موسی ﷺ د خپل خانه سره د طور غره ته بيولې وه ترڅو د تورات ورکړه په خپلو سترګو وګوري او بيا د بني اسرائيلو د قناعت دپاره ورباندې شهادت ورکړي[2]، همدغې جرګې ته په [البقرة: ۵۵] ايت کښې اشاره شوې ده.

موسی ﷺ د طور غره ته د خپل قوم څخه درې خلې اويا کسيزې جرګې بيولې وې چې پوره تفصيل يې د [الأعراف:۱۵۵] ايت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ على ذلک.

نو د ايت شريف مطلب داسې راځي چې: ای پيغمبره! ته خو د هغې اويا کسيزې جرګې غړی هم نه وې د کومې په حضور کښې چې موسی ﷺ ته تورات ورکړی شوی وه.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ﴾ د جملې مضمون خو د ﴿وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ

[1] حاشية الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۵۱۶؛ تفسير اللباب ج۱۵ ص۲۶۵
[2] تفسير روح المعاني ج۲۰ ص۸۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلْغَرْبِيِّ ﴾ د جملې څخه په ډاګه څرګندېږي څکه چا چې د تورات د ورکړې په وخت کښې هلته شتون نه درلود نو ضرور به هغه د شاهدينو او حاضرينو څخه هم نه وه.

نو پوښتنه دا ده چې: د دغه يو مضمون په تکراري نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: که څه هم د دغه سوال د جوابولو دپاره ځينو علماوو کرامو بل جواب غوره کړی دی[۱]، مګر کوم جواب چې متبادر دی هغه دا دی چې: په دې مقام کښې تخصيص بعد تعميم په نظر کښې نيولی شوی دی چې هلته مطلق موجوديت نفي شوی دی او دلته هغه موجوديت منفي ګرځولی شوی دی کوم چې د شهادت دپاره صورت نيولی وي، نو د دواړو جملو حاصل داسې راځېږي چې:

ای پيغمبره! تا خو د تورات د ورکړې په وخت کښې نه د طور غره په غربي څنډه کښې موجوديت درلود، او نه ته د هغې جرګې غړی وې کومه چې د صحنې د ليدلو دپاره هلته بېولی شوې وه.

د تعميم څخه وروسته د تخصيص قاعده په [البقرة:۹۸] ايت کښې هم اجراء شوې ده چې د پرښتو د ذکر څخه وروسته خاص د جبرائيل ﷺ او مکائيل ﷺ نومونه نازل شوي دي او بس.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۴_ که څوک وايي چې: په ﴿ وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِىٓ أَهْلِ مَدْيَنَ تَتْلُواْ عَلَيْهِمْ ءَايَـٰتِنَا ﴾ کښې د ﴿ عَلَيْهِمْ ﴾ ضمير چاته راجع دی؟

مونږ وايو چې:

الف: په ﴿ أَهْلِ مَدْيَنَ ﴾ کښې د "أَهْل" کلمې ته راجع دی کومه چې ډېر نږدې په صراحت سره ذکره ده، مګر د ﴿ تَتْلُوا ﴾ کلمه د هغه تلاوت (قراءة) څخه نه ده اشتقاقه شوې کوم چې د تعليم او ښوداني په توګه وي، بلکې د هغه تلاوت څخه يې اشتقاق موندلی دی کوم چې د تعلم او زده کړې په توګه صورت نيولی وي[۲].

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي چې: ای پيغمبره! تا خو د مدين ښار په خلکو کښې هم اوسېدانه نه ده کړې چې د هغوی څخه دې زمونږ ايتونه او د موسی ﷺ هغه حالات زده کړي وې کوم چې په هغه ﷺ باندې په نوموړي ښار کښې تېر شوي وه.

ب: خو مونږ ته دا متبادره برېښي چې ذکر شوی ضمير د دې زمانې کفارو ته راجع وګڼل شي[۳]، که څه هم دوی دلته نږدې په صراحت سره مذکور نه دي مګر حکمًا مذکور ګڼلی کېږي چې د کلام سوق د دې دپاره راروان دي چې همدوی د نبي کريم ﷺ په نبوت باندې قناعت وکړي او ايمان وربانده راوړي.

يعني ای پيغمبره! ته خو د مدين د ښار د اوسېدونکو څخه هم نه يې چې هلته دې د موسی ﷺ

(۱) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۵۱۶
(۲) البحر المحيط ج۸ ص۳۰۹
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۲۶۴؛ تفسير البغوي ج۳ ص۴۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



حالات په خپلو سترګو باندې ليدلي وي او يا دې هلته د هغه ﷺ قيصې اورېدلې وي، او بيا ممدغه زده کړي شوي يا ليدلي شوي حالات د خپلې زمانې په کفارو باندې قرائت کوي چې داسې بې وکړه او داسې يې ووېلې.

که بالفرض ته د نوموړي ښار د اوسېدونکو څخه وې نو کفارو به څنګ درلود چې ستا غيبي معلومات يې ستا د نبوت دلايل نه وی ګڼلي.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: د ﴿ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ ﴾ څخه د "فترة الوحي" د زمانې موجوديت معلومېږي چې بالکل به د پيغمبر د لېږلو څخه خالي وه لکه چې په [المائدة:۱۹] ايت کښې وربانډې صراحت شوی دی، حال دا چې په بل ايت کښې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴾ [فاطر:۲۴] يعنې هيڅ ټولګی نه وه مګر داروونکی پکښې تېر شوی دی، چې د فترت زمانه پکښې منفي شوې ده؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي سوال د جوابولو دپاره ځينو مفسرينو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[1]، خو کوم شی چې سړي ته په تبادر سره ذهن ته ورځي هغه دا دي چې: په دې ايت کښې چې بحث پکښې روان دی د ﴿ نَذِيرٌ ﴾ د کلمې څخه پيغمبر مطلب دی، د همدې کبله دلته د "نذير" اتيان (ورتګ) منفي شوی دی، او متبادره دا ده چې اتيان په پيغمبر پورې اختصاص لري او د ده څخه په غير بل داعي ته شامل نه برېښي.

اما هلته د ﴿ نَذِيرٌ ﴾ د کلمې څخه مطلق داعي إلى التوحيد مطلب دی چې پيغمبر او بل داعي دواړو ته شموليت لري. د همدې کبله هلته د "أتى" کلمه نه بلکې د ﴿ خَلَا ﴾ کلمه نازله شوې ده چې دواړو ته په تبادر سره شاملېږي.

او پوره واضحه ده چې د فترة زمانه که څه هم د پيغمبرانو د لېږلو څخه خالي وه مګر د دعاة إلى التوحيد څخه خالي نه وه.

د دغسې داعيانو ډېر بارز مثال د سيرت کتابونو زيد بن عَمرو بن نفيل رحمه الله ښودلی دی[2] که څوک يې د پوره سوانحو لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## يو نحوي تحليل

۶ـ د "لَوْلا" کلمه په عربي کلام کښې په لاندې دوه وو معناوو سره استعمالېږي[3] چې:

اول: د امتناع دپاره، چې يو شی د بل شي د کبله صورت ونه نيسي. لکه "لَوْلا عَلِيٌّ لَهَلَكَ عُمَرُ".

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۸۷

(۲) سيرت ابن هشام ج۱ ص۲۴۴

(۳) شرح ابن عقيل على الفيه ابن مالك في النحو ج۲ ص۳۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که علي نه وی نو عمر به هلاک شوی وی، یعنې د عمر هلاک ځکه صورت ونه نیوه چې علي موجود وه، که نه نو د عمر هلاکت یقیني وه.

دوهم: بل د تحضیض دپاره، چې په تېزولو باندې دلالت کوي.

نو په ﴿ وَلَوۡلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةُۢ ﴾ کښې د "لَوۡلا" کلمه امتناعیه ده او په ﴿ لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولاً ﴾ کښې د "لَوۡلا" کلمه تحضیضیه ده.

نو په همدې بنیاد د دې ایت شریف ﴿ وَلَوۡلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ فَيَقُولُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولاً فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ وَنَكُونَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ نحوي تحلیل په لاندې تفصیل سره صورت نیسي:

الف: د "لَوۡلا" توری د امتناع دپاره دی.

ب: د "أَنۡ" توری مصدریه دی چې خپل مدخول د مصدر په تاویل سره اړوي.

ج: د ﴿ تُصِيبَهُم مُّصِيبَةُۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ جمله معطوف علیها ده.

د: د ﴿ رَبَّنَا ﴾ کلمه منادی ده چې د نداء توری (يَا) ورسره مقدر دی.

ه: د "لَوۡلا" توری د تحضیض دپاره دی.

و: د ﴿ أَرۡسَلۡتَ إِلَيۡنَا رَسُولاً ﴾ جمله تحضیضیه ده.

ز: ﴿ فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ ﴾ الآية د تحضیض جواب دی.

ح: تحضیضیه جمله د خپل جواب سره د نداء جواب دی.

ي: نداء د منادی او خپل جواب سره د ﴿ فَيَقُولُواْ ﴾ دپاره مقوله ګرځي.

يا: ﴿ فَيَقُولُواْ ﴾ د خپلې مقولې سره په ﴿ تُصِيبَهُم ﴾ جمله باندې عطفه ده.

يب: ﴿ تُصِيبَهُم ﴾ د خپلې معطوفې جملې سره د "أَنۡ" توري دپاره مدخول دی چې دواړه د مصدر په تاویل سره مبتدأ ګرځېدلې دي.

يج: د دغې مبتدأ خبر مقدر دی چې په "مَوۡجُوۡدٌ" سره ترې تعبیر کوو.

يد: مبتدأ او مقدر خبر جمله اسمیه امتناعیه شوه.

يه: د دغې امتناعیه جملې جوابیه جمله مقدره ده چې په "مَا أَرۡسَلۡنٰكَ" سره ترې تعبیر کوو.

نو حاصل به یې داسې راوخېژي چې: ای پیغمبره! که چرته دا خبره موجوده نه وی چې کله کفارو ته د خپلو کړو وړو (کفریاتو) د کبله په دنیا یا آخرت کښې څه مصیبت ورسېږي او په عذاب باندې مبتلا شي نو دوی به ضرور ووایي چې: ای زموږ ربه! موږ ته دې ولې د خپل پیغمبر په ذریعه شریعت نه رالېږه چې موږ یې پیروي کړې وی او د مؤمنانو د ډلې څخه شمېرل شوي وی (په عذاب باندې نه وی اخته شوي، که چرته ذکر شوې خبرې موجودیت نه درلودی) نو موږ به ته هغوی ته د پیغمبر په حیث نه وی وراستولی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دغه مضمون په ډېرو ایتونو کښې منعکس شوی دی، د مثال په توګه د [طه:۱۳۵] ایت هم په عین مضمون باندې دلالت کوي، هیله ده چې د ښه وضاحت دپاره یو ځل هلته مراجعه وکړی شي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایي چې: ذکر شوی مطلب بدون د ﴿ تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتۡ أَيۡدِيهِمۡ ﴾ عبارت څخه ترلاسه کېدلی شو که چرته: "وَلَوۡلَآ أَن يَقُولُواْ" _تر آخره پورې_ نازل شوی وی، نو د ذکر شوي عبارت په اضافه نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو _والله ﷻ أعلم_: د ذکر شوي عبارت په نزول کښې دې ته اشاره ده چې:

الف: کفارو ته د خپلو کړو وړو مصیبت (عذاب) ضرور رسېدونکی دی.

ب: کفار په خپل کفر کښې دومره کلک دی چې د پیغمبر د عدم ارسال په صورت کښې به د ندامت او پښېمانۍ د کبله اعتذار وړاندې نه کړي بلکې د تعذیب د کبله به یې وړاندې کړي.

که بالفرض دوی د تعذیب څخه نجات مونده کړي نو خپلو کفریاتو ته به ادامه ورکړي، همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ ﴾ [الأنعام:۲۸] یعني که بالفرض د محشر د میدان څخه کفار بېرته دنیا ته ورتاو کړی شي (په دوزخ کښې ورواچولی شي) نو هرومرو ضرور به دوی هغو کارونو ته بېرته ورو ګرځي چې دوی ترې په اول ځل منعه کړی شوي وه او دوی یې مرتکب شوي وه، دوی په دغې خبرې کښې دروغژنان دي چې که مونږ بېرته دنیا ته واستولی شو نو مونږ به صحیح مسلمانان وګرځو.

﴿ فَلَمَّا جَآءَهُمُ ٱلۡحَقُّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ لَوۡلَآ أُوتِيَ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ مُوسَىٰٓۚ أَوَلَمۡ
يَكۡفُرُواْ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبۡلُۖ قَالُواْ سِحۡرَانِ تَظَٰهَرَا وَقَالُوٓاْ إِنَّا بِكُلّٖ كَٰفِرُونَ ﴿٤٨﴾
قُلۡ فَأۡتُواْ بِكِتَٰبٖ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمَآ أَتَّبِعۡهُ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٤٩﴾ فَإِن
لَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكَ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهۡوَآءَهُمۡۚ وَمَنۡ أَضَلُّ مِمَّنِ ٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ بِغَيۡرِ
هُدٗى مِّنَ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٠﴾ وَلَقَدۡ وَصَّلۡنَا لَهُمُ ٱلۡقَوۡلَ
لَعَلَّهُمۡ يَتَذَكَّرُونَ ﴿٥١﴾ ﴾

[۴۸] نو کله چې زمونږ د نزده (طرفه) مشرکانو ته حق ورغی (ور ورسېد) نو دوی وویلې چې: ولې محمد ﷺ ته د هغه شي په مثل شی ورنه کړی شو کوم چې موسی علیه السلام ته ورکړی شوی وه (ولې قرآن په یو ځل نازل نه شو او ولې د اژدها معجزه ورنه کړی شوه؟ او داسې نور).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره! دوی دا خبره کوي) او ایا دوی ستا څخه وړاندې په هغه شي باندې نه وه کافر شوي کوم چې موسی علیه السلام ته ورکړې شوی وه؟

(هغه دا چې:) دوی وویلې چې: (قرآن او تورات دواړه) دوه سحرونه دي چې یو تربله کومک کوي (یو بل تائیدوي).

او دوی (دا هم) وویلې چې: یقیناً مونږ په هر یوه سره کافر یاستو (ترې انکار کوو).

[۴۹] ته (ورته) ووایه چې: نو تاسو د الله ﷻ د نزده (له طرفه) یو (داسې) کتاب راوړئ چې د دغو دواړو کتابونو (قرآن، تورات) څخه ښه لارښوونکی وي، ترڅو یې زه پیروي وکړم.

که تاسو (په خپله خبره کښې) رښتیني یاست (نو دغه کار وکړئ).

[۵۰] نو که چرته یې (ستا د وړاندیز) اجابت ونه کړ (او هیڅکله به یې ونه کړي) نو ته پوه شه چې: یقیناً مشرکان د خپلو خواهشاتو پیروي کوي (او اعتراض یې په حقیقت ولاړ نه دی).

او د هغه چا څخه زیات بې لارې څوک دی کوم چې د الله ﷻ د طرفه د هدایت څخه په غیر د خپلو خواهشاتو پیروي کوي.

یقیناً الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي (او هرڅوک چې د خپلو خواهشاتو پیروي کوي هغه د ظالمانو څخه دي).

[۵۱] او بې شکه مونږ د حق خبره (د قرآن کریم په ټوټه-ټوټه نزول سره) مشرکانو ته بیا- بیا پیوسته کړې (بیانه کړې) ده، شاید چې دوی پند واخلي (او حق ته غاړې کېږدي هسې نه چې د اعتراض دپاره یې پلمه او بهانه جوړه کړي).

## ارتباطونه

۱ـ په وړاندېنیو ایتونو کښې د نبي کریم ﷺ د نبوت دلایلو ته اشاره شوې وه او په دې ایتونو کښې په همدې هکله د کفارو اعتراضات جواب شوي دي.

۲ـ هلته د ایمان د نه راوړلو د هغې بهانې بیان وه چې هغوی به وړباندې د پیغمبر د نه استولو په صورت کښې د قیامت په ورځ استدلال کولی.

او دلته د ایمان د نه راوړلو هغه پلمه بیانه شوې ده په کومې باندې چې هغوی د پیغمبر د استولو په صورت کښې استدلال نیسي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په قرآن کریم کښې د عنادي کفارو حالات په خپل اُمت باندې قرائت کړه چې:

۱ـ که بالفرض مونږ هغوی ته د پیغمبر په صفت ته نه وی وراستولی نو د قیامت په ورځ به یې د نجات دپاره په اعتذار کښې هغه بهانه وړاندې کړې وی کومې ته چې په وړاندېني ایت کښې اشاره شوې ده. خو نن ورځ چې زمونږ د پلوه هغوی ته حق دین ورغی او ته مو د پیغمبر په صفت ور واستولې نو اوس د ایمان نه راوړلو دپاره بله بهانه نیسي او وایي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ مونږ باور نه کوو چې دا (محمد ﷺ) په حقه پیغمبر دی او دا ځکه چې ده ته هغه شیان نه دي ورکړی شوي کوم چې موسی ؑ ته ورکړی شوي وه. مثلاً:

الف: په موسی ؑ باندې په یوه ځل سره تورات نازل شوی وه، او په ده ﷺ باندې په دفعاتو سره او ټوټه-ټوټه خپل کتاب نازلېږي.

ب: هغه ؑ ته داسې معجزات ورکړی شوي وه کوم چې ده ﷺ ته نه دي ورکړی شوي، د مثال په توګه: د هغه د همسا څخه اژدها جوړېده، او لاس یې سپین ځلېده او هم په هغه باندې مَن او سَلوی نازل شوې وه او د وچې ډبرې څخه ورته د اوبو چینې راخوټېدلې وې او داسې نور؛ حال دا چې دغه معجزات یو هم ده (محمد ﷺ) ته نه دي ورکړی شوي.

که بالفرض دا (محمد ﷺ) په حقه پیغمبر وي نو د موسی ؑ غوندې معجزات ولې نه ورکول کېږي او قرآن کریم ورباندې ولې په یو ځل نازل نه شو؟، نو معلومه شوه چې نوموړی د نبوت په دعوه کښې دروغژن دی، العیاذ بالله ﷻ.

دوی وایي چې: که محمد ﷺ ته د موسی ؑ غوندې معجزات ورکړی شوي وی او قرآن کریم ورباندې په دفعاتو نه، بلکې په یو ځل نازل شوی وی، نو مونږ به ورباندې ضرور ایمان راوړی وی.

۳ـ ای پیغمبره! د کفارو ذکر شوی اعتراض د الزام په توګه داسې جواب کړه چې:

ایا دوی ستا د مبعوثیت څخه وړاندې په هغو معجزاتو باندې کفر نه وه اختیار کړی کوم چې موسی ؑ ته ورکړی شوي وه او د هغه کتاب څخه یې انکار نه وه کړی کوم چې په موسی ؑ باندې په یو ځل نازل شوی وه؟. د مشرکانو خبره به هلته په ځای وی چې دوی وړاندې په موسی ؑ باندې ایمان راوړی وی او د هغه ؑ په معجزاتو باندې یې باور کړی وی او د هغه کتاب یې منلی وی.

یا په بل عبارت: که ذکره شوې بهانه هغه څوک ونیسي چې په موسی ؑ باندې یې ایمان راوړی وه یو څه وجه به ولري، اما د مشرکانو دپاره خو دغه بهانه په هر اړخیزه توګه ښکاره باطله ده.

نو حقیقت دا دی چې: که تاته د الله ﷻ د پلوه د موسی ؑ غوندې کتاب او معجزات درکړی شي هم، دوی به درباندې ایمان رانه وړي.

۴ـ د همدې کبله مشرکان وایي چې: دغه دواړه کتابونه (قرآن او تورات) یو هم الهي کتاب نه دی بلکې دواړه دوه سحرونه او د دروغو کتابونه دي چې یو د بل دروغ تاییدوي او یو تربله سره کومک کوي نو مونږ یو هم نه منو او د هر یوه څخه انکار کوونکي یاستو.

۵ـ نو ای پیغمبره! ته مشرکانو ته ووایه چې: هر کله تاسو نه تورات منئ او نه قرآن کریم د الهي کتاب په صفت پېژنئ، نو مهرباني وکړئ تاسو د الله ﷻ د نزده یو کتاب راوړئ چې هغه د تورات او قرآن کریم دواړو څخه ښه هدایت کوونکی او په لاره باندې ښه سموونکی وي، ترڅو زه هم د هغه پیروي وکړم. که تاسو په خپله خبره کښې رښتیني یاست هلئ ژر شئ بل غوره کتاب راوړئ!.

یا په بل عبارت: چې تاسو زما د غوره کتاب پیروي نه کوئ زه به ستاسو د غوره الهي کتاب پیروي وکړم خو که تاسو یې راوړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ مشرکان به هیڅکله ستا د وړاندیز اجابت ونه کړی شي او بل غوره الهي کتاب به رانه وړی شي. نو کله یې چې تاته اجابت ونه کړ او ستا د کتاب (قرآن کریم) انکار ته یې هم ادامه ورکړه نو ته پوه شه _بلکې هر هوښیار سړی دې پوه شي_ چې مشرکان (کفار) په عنادي توګه نه غواړي چې د الهي کتاب پیروي وکړي.

هغوی د هیڅ حق پیروي نه کوي صرف د خپلو خواهشاتو پیروي کوي او د موسی ﷺ خوارق محض د پلمې او بهانې د کبله یادوي او بس.

۷_ نو د هغه چا څخه زیات ګمراه او زیات بې لارې څوک دی کوم چې بدون د الله ﷻ د هدایته د خپل خواهش پیروي کوي؟

۸_ ستا همدا ذکر شوی واضحه استدلال کفایت کوي چې ظالمان (کفار) ورباندې هدایت موندلی کړي او ایمان پرې راوړي، خو دا کار څکه صورت نه نیسي چې یقیناً الله ﷻ ظالم قوم ته هدایت نه کوي چې حق د پښتو لاندې کوي او په ضلالت پسې هڅه کوي.

۹_ ای پیغمبره! د کفارو ذکر شوی اعتراض زمونږ د پلوه د تحقیق په توګه داسې جواب کړه چې: د قرآن کریم په وقفه ئیز نزول کښې (برسېره په دې چې مونږ ستا د امیتوب حال په نظر کښې نیولی دی) د خلکو دپاره مو هم پکښې زیاتې فایدې او ګټې نغښتې دي، چې د قرآن کریم د اولنیو مخاطبینو اکثریت لیک او لوست نه لري نو په وقفه ئیز نزول کښې وِرته د قرآن کریم حفظ او فهم دواړه اسانېږي، او هم ورباندې د تشریعي احکامو تعمیل مشکل نه ګرځي او داسې نور.

نو کفارو ته په کار دي چې د دغه ډول نزول شکریه وکړي او پند ترې واخلي هسې نه چې د اعتراض پلمه یې وګرځوي او خپل کفر پرې لا قوي کړي.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق ذکر شوي ایتونه د لاندې نکاتو په ملحوظ تفسیر کړي دي:

الف: د جمعي تول ضمائر مو پکښې د مشرکانو څخه عبارت ګڼلي دي، او حاصل مو هغسې راویستلی دی کوم چې په خلاصه مطلب کښې لیکلی شوی دی، او دا څکه چې د یو پلوه د وړاندې څخه د همدوی (مشرکانو) د قناعت دپاره بحث را روان دی، او د بله پلوه په دې تفسیر سره ضمائر د انتشار څخه بچ پاتې کېږي.

اما ځینو علماوو کرامو پکښې ځینې ضمائر مشرکانو ته راجع ګڼلي دي او ځینې نور یې د اهل الکتابو څخه عبارت بللي دي[1]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

ب: مونږ په ﴿ بِمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ﴾ کښې د "مَا" د کلمې څخه تورات او معجزات دواړه مراد اخستي دي، چې د یو پلوه د تخصیص دپاره څه دلیل په لاس کښې نشته او د بله پلوه په تعمیم کښې فائده ډېره ده.

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۲۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اما ځينو علماوو کرامو د ذکرې شوې کلمې څخه يوازې تورات مراد اخستی دی[۱] او ځينو لا د تورات او انجيل دواړو پورې اختصاص ورکړی دی[۲]، خو د تخصيص دپاره يې دليل نه دی ذکر کړی، که څوک غواړي چې پخپله يې ولولي نو هملته دې مراجعه وکړي.

ج: په ﴿ سِحۡرَانِ تَظَـٰهَرَا ﴾ کنبې مونږ د مثنى دواړه ضميرونه هغو دوه ډوله شيانو ته راجع اخستي دی کوم چې موسى ﷺ او نبي کريم ﷺ ته ورکړی شوي وه، لکه تورات، قرآن او معجزات.

اما ځينو علماوو کرامو ذکر شوي دواړه ضميرونه پخپله موسى ﷺ او نبي کريم ﷺ ته راجع اخستي دي[۳]، او ځينو پکښې نور احتمالات هم ليکلي دي[۴]، علاقمندان دې هملته مراجعه وکړي.

که څه هم په دغه صورت کنبې په اصل مطلب باندې چندان اثر نه پرېوځي خو مونږ څکه خوښن نه کړچې د ﴿ قُلۡ فَأۡتُواْ بِكِتَـٰبٍ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ هُوَ أَهۡدَىٰ مِنۡهُمَآ ﴾ جمله د ضمائرو هغه ډول ارجاع ته ترجيح ورکوي کومه چې مونږ خوښنه کړې ده.

يعني اى پيغمبره! مشرکانو ته ووايه چې کله تاسو په قرآن کريم او تورات دواړو باندې کافر ياست او په دواړو باندې د جادو نومونه ږدئ نو تاسو د الله ﷻ د نزده داسې کتاب راوړئ کوم چې د دغو دواړو کتابونو څخه ډېر ښه هدايت کوونکی وي ترڅو يې زه هم پيروي وکړم.

ستاسو ذکر شوي نوم اينبودل خو به هلته په ځای خبره وی چې تاسو بل ښه کتاب راوړلی شوی، خو خبره دغسې نه ده، تاسو د يوه ايت د راوړلو څخه عاجز ياست پاتې خو لا ټول قرآن يا ټول تورات.

## سوال جواب

د: که څوک وايي چې: مشرکانو په کوم وخت کنبې تورات او قرآن دواړه په ګډه د جادو په نومونو باندې ياد کړي وه؟

مونږ وايو چې: يو ځل مشرکانو د يهودو مشرانو او علماوو ته يوه جرګه لېږلې وه ترڅو د نبي کريم ﷺ په هکله د هغوی نظر واخلي چې ايا په تورات کنبې يې ذکر شته او که څنګه؟

هغوی جرګې ته جواب ورکړ چې: هو، محمد ﷺ زمونږ په کتاب (تورات) کنبې په همغه صفت باندې ياد شوی دی د کوم چې درلودونکی دی.

(شايد چې اهل الکتابو به خکه حقيقت ويلی وي چې دا قيصه د هجرت څخه وړاندې پېښنه شوې وه او د هغوی ګومان نه وه چې د نبي کريم ﷺ دعوت به مونږ پورې رارسېږي او هجرت به صورت نيسي که نه نو د حققيت پټول خو د هغوی عادت وه).

کله چې مشرکانو د خپلې جرګې د پلوه د هغوی پيغام واورېد نو د تورات او قرآن دواړو څخه

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۰ ص۸۳
(۲) البحر المحيط ج۸ ص۳۱۱
(۳) تفسير ابن کثير ج۳ ص۳۹۲؛ تفسير البغوي ج۳ ص۴۴۹
(۴) تفسير الطبري ج۲۰ ص۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يې انکار وکړ او په دواړو باندې يې د جادو نومونه کېښودل، لکه چې په ايت شريف کښې تري الله ﷻ حکايت کړی دی[۱].

## توصيل څه معنی؟

۲ــ په ﴿وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ ٱلْقَوْلَ﴾ کښې د ﴿وَصَّلْنَا﴾ کلمه اصلاً د "وَصْل" ــ لکه "ضَرْب" ــ څخه اشتقاقه شوې ده چې د پيوستون معنی ورکوي[۲] او باب يې (تفعيل) په تکثير باندې دلالت کوي او "الْقَوْل" د حق څخه عبارت دی چې د قرآن کريم په ايتونو کښې په متکرر ډول سره بيان شوی دی[۳].

د همدې کبله ذکره شوې کلمه عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په "بَيَّنَّا" سره تفسيره کړې ده[۴]. يعنې مونږ په قرآن کريم کښې حقايق په يو ځل نه بلکې بيا-بيا بيان کړي دي چې يو ځل بيان يې د بل ځل د بيان څخه فاصله نه لري، يا په بل عبارت: د حقايقو بيان مو ژوندي ساتلي دي ترڅو ترې خلک ګټه واخلي او د کفرياتو څخه اجتناب وکړي.

لنډه دا چې د قرآن کريم تدريجي نزول د خلکو دپاره ډېر ګټور دی خو کفار په خپله ګټه نه پوهېږي او اعتراض ورباندې کوي.

## يادونه

۳ــ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الفرقان: ۳۲] ايت لاندې د قرآن کريم د تدريجي نزول ډېرې ګټې ذکرې کړې دي، هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِهِۦ هُم بِهِۦ يُؤْمِنُونَ ۝٥٢ وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِهِۦٓ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّنَآ إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِۦ مُسْلِمِينَ ۝٥٣ أُو۟لَٰٓئِكَ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُم مَّرَّتَيْنِ بِمَا صَبَرُوا۟ وَيَدْرَءُونَ بِٱلْحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ۝٥٤ وَإِذَا سَمِعُوا۟ ٱللَّغْوَ أَعْرَضُوا۟ عَنْهُ وَقَالُوا۟ لَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ سَلَٰمٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِى ٱلْجَٰهِلِينَ ۝٥٥﴾

[۵۲] هغه کسان کومو ته چې مونږ د قرآن کريم (د نزول) څخه وړاندې کتاب ورکړی دی، دوی په قرآن کريم باندې ايمان راوړي (او باور ورباندې کوي).

[۵۳] او کله چې په دوی باندې قرآن کريم قرائت کړی شي نو دوی وايي چې مونږ پرې ايمان راوړی دی، يقيناً دا (قرآن کريم) زمونږ د رب ﷻ د پلوه په حقه (ربښتيا) نازل شوی دی، بې شکه مونږ د ده (د نزول) څخه مخکښې (ورته) غاړه ايښودونکي وو.

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۹۱

(۲) لسان العرب ج۱۱ ص۷۲۶

(۳) تفسير الطبري ج۲۰ ص۸۷

(۴) تفسير البغوي ج۳ ص۴۴۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۴] دغه کسان چې دي دوی ته به خپل اجر (او ثواب) په دې سبب دوه کرتې ورکړی شي چې دوی (په حق دین باندې) صبر کړی وه (او ثابت قدمه پاتې وه).

او (هم په دې سبب) چې دوی په نیکۍ سره د بدۍ مخنیوی کوي، او د هغو مالونو څخه کوم چې مونږ ورروزي کړي دي (زمونږ په لاره کښې) انفاق کوي.

[۵۵] او کله چې دوی (د عبث ویونکو څخه) عبث خبرې واوري نو دوی ترې مخونه اړوي، او (هغوی ته) وایي چې مونږ لره خپل عملونه دي او تاسو لره خپل عملونه دي (زمونږ په عملونو باندې تاسو نه نیولی کېږئ).

په تاسو باندې دې (زمونږ د پلوه د متارکې) سلام وي، مونږ جاهلان (د جاهلانو دین) نه غواړو (او نه د دوی غوندې سپکې سپورې خبرې کوو).

## شان نزول او ارتباط

د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې علماوو کرامو متعدد روایات لیکلي دي[۱]، چې نبي کریم ﷺ ته د اهل الکتابو یوه جرګه ورغله او خپل ایمان یې په هغو کلماتو سره څرګند کړ کومې چې په ایتونو کښې نازلې شوې دي.

اما د دغې جرګې په کمیت کښې روایات مختلف دي چې په ځینو کښې اویاکسېزه، او په ځینو کښې څلوېښت کسیزه ښودلې شوې ده، او په ځینو کښې نور عددونه په ګوته شوي دي.

همدارنګه د ذکرې شوې جرګې په کیفیت کښې هم روایتونه اختلاف لري چې ځینو دحبشې او ځینو د نجران او ځینو د شام او بالآخره ځینو د مختلفو افرادو څخه مخلوطه ښودلې ده.

په دې کښې هم اختلاف دی چې دا جرګه د هجرت څخه وړاندې مکې معظمې ته ورغلې وه او که د هجرت څخه وروسته یې په مدینه منوره کښې صورت نیولی وه؟.

مونږ ته داسې برېښي ـ والله ﷻ اعلم ـ چې نبي کریم ﷺ ته به متعددې جرګې ورغلې وي خو علماوو کرامو به ځینو یوه جرګه ذکره کړې وي او ځینو به د بلې جرګې نوم اخستی وي، او د ایتونو مضمون او مفهوم عام دی ټولو جرګو ته شاملېږي حتی هغې جرګې ته هم شامل دی کومې چې په نبي کریم ﷺ باندې ایمان راووړ او کله چې د ده ﷺ د حضور څخه رخصت شوه نو ابو جهل ورته ډېرې ستغې او سپورې خبرې وکړې چې تاسو ډېره بې عقله او بې خیره جرګه یاست چې خپل قوم د معلوماتو دپاره رااستولي وئ خو تاسو د هغوی د مشورې څخه پرته ایمان راووړ او د خپل پلرني دین څخه تېر شوئ او داسې نور. نوموړې جرګې ابو جهل ته بالمثل ستغ او سپور جواب ورنه کړ بلکې په هغې وینا باندې یې اکتفاء وکړه کومه چې الله ﷻ د دوی د خولو څخه مونږ ته حکایت کړې ده چې: ﴿ وَقَالُوا۟ لَنَآ أَعْمَـٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَـٰلُكُمْ ﴾ الآیة[۲]. یعنې زمونږ دپاره خپل عمل دی او ستاسو دپاره

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۹۳؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۴۹؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۲۷۱
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپل عمل دی که بالفرض مونږ بدکار کړی وي نو ضرر به یې هیڅکله تاسو ته راجع نه شي او تاسو به ورباندې ونه نیول شئ، مونږ په همدغه جواب باندې اکتفاء کوو او د بالمثل جواب څخه ډډه کوو.

همدارنګه دغه مفهوم هغه ټولګي ته هم شمولیت لري کوم چې د جرګې په شکل نه بلکې د مدینې منورې د اوسېدونکو په صورت کښې نبي کریم ﷺ ته ورغلي وه او هلته په ایمان باندې مشرف شوی وه، لکه عبد الله بن سلام رضی الله عنه او د ده ملګري رضی الله عنهم.

لنډه دا چې ذکر شوي ټول وفدونه او ټولګي د ایتونو دپاره مصداقات ګڼلی کېږي او سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[1].

اما د ایتونو د ارتباط وجه دا ده چې: د وړاندېنیو ایتونو په اولنی توضیح کښې مونږ د الله ﷻ په توفیق لیکلي دي چې د مکې معظمې مشرکانو د معلوماتو دپاره اهل الکتابو ته یوه جرګه لېږلې وه خو کله چې ورته خپلې جرګې د هغوی د خولې څخه حقیقت وروور نو د قرآن او تورات دواړو څخه انکاري شوه.

په دې ایتونو کښې دېته اشاره کېږي چې د اهل الکتابو ځینې کسانو ذکر شوی حقیقت د نبي کریم ﷺ په حضور کښې په خپلو خولو باندې هم څرګند کړ اما اکثریت ترې منحرف شوه او خپل پخوانی نظر یې د پښو لاندې کړ، نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! کومو کسانو ته چې د قرآن کریم څخه وړاندې مونږ کتاب ورکړی دی او هغوی دخپل کتاب په مقتضی کلک ولاړ دي او تحریف یې نه دی ورکړی نو:

۱ـ هغوی د قرآن کریم په هکله داسې نظر لري:

الف: هغوی ورباندې په پوره اخلاص سره ایمان راوړي او پوره باور کوي چې بې شکه دا الهي کتاب دی.

ب: کله چې په هغوی باندې د قرآن کریم څه ایتونه قرائت کړی شي نو وایي چې مونږ په دغه قرآن کریم باندې ایمان راوړی دی چې یقینًا همدا قرآن کریم زمونږ د رب ﷻ د پلوه د خلکو د هدایت دپاره په حقه نازل شوی دی او دا هغه کتاب دی د کوم د نازلېدلو وعده چې مونږ ته پخوا راکړه شوې وه.

ج: نو د همدې کبله مونږ په همدې کتاب (قرآن کریم) باندې د ده د نزول څخه وړاندې ایمان راوړی وه او مونږ ورته لا د وړاندې څخه غاړه ایښودونکي وه، چې په سر او سترګو به یې منو.

۲ـ ای پیغمبره! د اهل الکتابو ذکرو شوو کسانو ته به زمونږ د پلوه دوه کرته او دوه چنده اجر ورکړی شي او دا څکه چې:

الف: دوی په قرآن کریم باندې د نزول څخه وړاندې هم ایمان راوړی وه او د نزول څخه وروسته هم ورباندې معتقد پاتې شوه. دوی په خپل کتاب باندې هم حقاني ایمان راوړی وه او عمل یې

(۱) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورباندې کړې وه او قرآن کریم یې هم په خپلو ځانونو باندې عقیدةً او عملاً تطبیق کړ.
یا په بل عبارت: لکه څنګه چې په پخواني کتاب باندې صابر او ثابت وه همدارنګه قرآن کریم ته هم په صبر سره وفادار پاتې شوه.

ب: د همدې کبله دوی د بدۍ جواب په بدۍ سره نه بلکې په نېکۍ سره ورکوي او د ښو خاصیتونو څخه کار اخلي (په نېک خوی سره د بد خوی مخنیوی کوي).

ج: دوی د هغو مالونو څخه چې مونږ ورپېرزو کړي دي په فقیرانو باندې او زمونږ په لار کښې انفاق کوي، او د بخل (سوګتې) څخه ځانونه ساتي.

د: دوی چې کله د بد خویه خلکو څخه عبث او بې باکه خبرې واوري نو مخ ترې اړوي او بالمثل (ورته) مقابله ورسره نه کوي، چې په عبثیاتو شروع وکړي.

هـ: د بدخویه خلکو په مقابل کښې د دوی جواب دا وي چې:

اول: کوم عملونه چې مونږ کوو دا زمونږ د خپلو ځانونو دپاره دي، نو که ګټور وي خپلو ځانونو ته به ګټه ورسوو او که ضرري وي نو خپلو ځانونو ته به مو ضرر رسولی وي، تاسو زمونږ په کړو وړو باندې نه نیول کېږئ.

دوهم: کوم عملونه چې تاسو کوئ د هغو ګټه او ضرر صرف تاسو ته راجع دی او بس، مونږ پورې څه ارتباط نه لري.

دریم: زمونږ د پلوه په تاسو باندې د متارکې سلام دی مونږ ستاسو سره خبره نه اوږدوو او د جاهلانو او ناپوهانو لاره نه خپلوو، نو نه مو خبرې منو او نه درته بالمقابل بالمثل پوچ او سنغ جوابونه درکوو.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [البقرة:۱۳۲] ایت لاندې لیکلي دي چې په عرف کښې د "إسلام" کلمه په محمدي (ﷺ) شریعت پورې خاصه کړی شوې ده، خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې معلومات وراضافه کوو:

الف: ځینې علماء کرام دغه اختصاص نه مني[1]، دوی وايي چې: هر اسماني دین د "إسلام" په نامه بلل کېږي، او همدارنګه "مُسْلِم" د هر هغه چا لقب دی چې د الله ﷻ په وحدانیت معتقد وي او د الهي وحې تصدیق کوي نور که د هر پیغمبر امتي وي په دغه لقب باندې څه اثر نه غورځوي.

ب: ځینو علماوو کرامو په عدم اختصاص باندې زښت ډېر ایتونه راغونډ کړي دي[2]، او ځینو د دواړو طرفینو (اختصاص او عدم اختصاص) دلایل رانقل کړي دي[3]، که څوک یې د لوستلو شوق لري هملته دې مراجعه وکړي.

---

(۱) البحر المحیط ج۸ ص۳۱۴؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۲۱
(۲) تفهیم القرآن ج۳ ص۸۸۵
(۳) روح المعاني ج۲۰ ص۹۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ماثور تفسير

۲ـ د ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ أَجۡرَهُم مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُواْ ﴾ جمله نبي كريم ﷺ په يوه اوږده حديث كښې ډېره ښه تفسيره كړې ده چې فرمايلي يې دي چې: «وَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنَ أَهْلِ الْكِتَابِ آمَنَ بِنَبِيِّهِ وَآمَنَ بِي فَلَهُ أَجْرَانِ»[۱] يعنې او د اهل الكتابو څخه هر سړى چې په خپل پيغمبر باندې ايمان راوړي او تر هغه ژوندى پاتې شي چې په ما باندې هم ايمان راوړي نو دغه سړي ته د الله ﷻ په نزد دوه اجرونه دي.

## يادونه

۳ـ په ﴿ وَيَدۡرَءُونَ بِٱلۡحَسَنَةِ ٱلسَّيِّئَةَ ﴾ كښې د افعالو ښه والي ته اشاره ده چې د بدخويانو د بد خوى مخه په نېک خوى سره نيسي. همدا مطلب يوه پښتون شاعر په خپل شعر كښې داسې ځاى په ځاى كړى دى چې[۲]:

په ښه خوى د بدخويانو بې پروا يم :: په نرمى لكه اوبه د اور سزا يم

دا هم څه لرې نه ده چې د "الْحَسَنَة" څخه طاعت او عبادت مراد وي، او د "السَّيِّئَة" څخه ګناه او عصيان مطلب وي، يعنې ذكر شوي اهل الكتاب خپل ګناهونه د طاعتونو په سبب د منځه وړي.

د دې ډول د منځه وړلو پوره بيان د احاديثو په رڼا كښې د [هود:۱۱۴] ايت لاندې تېر شوى دى، والحمد لله ﷻ وله الشكر والمنة.

او په ﴿ وَإِذَا سَمِعُواْ ٱللَّغۡوَ ﴾ الآية- كښې د اقوالو ښه والي ته اشاره ده چې د بدې خبرې جواب په بدې خبرې سره نه وركوي.

د ذكرو شوو دواړو جملو مضمون ته الله ﷻ اشاره كړې ده چې: ﴿ وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴾ [فصلت:۳۳] يعنې د هغه چا څخه د قول د حيثه څوک ډېر ښايسته دى كوم چې الله ﷻ ته دعوت چلوي او صالح عمل كوي او هم وايي چې يقيناً زه د غاړې اېښودونكو څخه يم.

## د متاركې سلام

۴ـ په ﴿ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمۡ لَا نَبۡتَغِي ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴾ كښې د ﴿ سَلَٰمٌ ﴾ د كلمې څخه مسنونه سلام مطلب نه دى چې په احترام باندې دلالت كوي بلكې د متاركې (پرېښودلو) سلام ترې مراد دى چې پوره بيان يې د [مريم:۴۷] ايتونو لاندې تېر شوى دى، والحمد لله ﷻ وله الشكر والمنة.

## سلمان الفارسي ﷺ په اسلام مشرف شو

۵ـ په دې مقام كښې ځينو مفسرينو كرامو[۳] د سلمان الفارسي ﷺ په اسلام باندې د مشرف

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۶۱

(۲) د عبد الرحمن مومند ديوان ص۱۰۱

(۳) الدر المنثور ج۶ ص۴۲۳؛ سيرت ابن هشام ج۱ ص۲۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کېدلو ډېره اوږده، عجیبه او خوندوره قیصه لیکلې ده، مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړه، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هیله ده چې همله‌ته مراجعه وکړي.

﴿إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾
وَقَالُوا إِن نَّتَّبِعِ الْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَا ۚ أَوَلَمْ نُمَكِّن لَّهُمْ حَرَمًا آمِنًا يُجْبَىٰ
إِلَيْهِ ثَمَرَاتُ كُلِّ شَيْءٍ رِّزْقًا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٧﴾﴾

[۵۶] یقینًا ته هغه چاته هدایت نه شې کولی (د ایمان راوړلو توفیق نه شې ورکولی) کوم چې تاته محبوب دی (او ستا زړه غواړي چې په ایمان باندې مشرف شي). او مګر الله ﷻ هغه چاته هدایت کوي (د ایمان راوړلو توفیق ورکوي) کومو ته یې چې اراده وشي.

او الله ﷻ په هدایت موندونکو (توفیق موندونکو) باندې ډېر ښه پوهېږي (ډېر ښه یې پېژني).

[۵۷] او کفار وایي چې: که مونږ تا سره د هدایت (دعوت) پیروي وکړو نو مونږ به د خپلې ځمکې (مکې معظمې) څخه (د ټولو عربو د پلوه) وتښتولی شو (نو مونږ دعوت نه قبلوو).

ایا مونږ د دوی دپاره حرم شریف د امن خاوند (ځای) نه دی ګرځولی چې د هر شي (هر ډول) میوجات ورته (د هره طرفه د دې دپاره) ورغونډولی کېږي ترڅو مونږ د خپله نزده (ورته روزي ورکړو) روزي ورکول.

(دا کار مونږ کوو) مګر د دوی اکثریت نه پوهېږي (د دوی خیال دی چې دا د کفر برکت دی خو داسې نه ده، که دوی ایمان راوړي نو نعمتونه به یې لا اضافه شي).

## شان نزول

ذکر شوي دواړه ایتونه سره په شان نزول کښې جدا جدا دي چې تفصیل یې دا دی:

۱ـ تقریبًا ټول علماء متفق دي چې لومړنی ایت شریف د ابو طالب (د نبي کریم ﷺ تره) په هکله نازل شوی دی[۱] چې څه بیان یې د الله ﷻ په توفیق د [التوبة:۱۱۳] ایت لاندې تېر شوی دی او څه بیان یې دا دی:

الف: د نبي کریم ﷺ تره (ابو طالب) مریض وه (چې د همدغه مرض په وجه وفات هم شو) نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «قُلْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ لَكَ بِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[۲] یعنې ای کاکا! ته د توحید کلمه ووایه او د شرک څخه براءت څرګند کړه چې زه ستا دپاره په همدغې کلمې سره د الله ﷻ په حضور کښې د قیامت په ورځ شاهدي ووایم او د مغفرت شفاعت درته وکړم.

ابو طالب جواب ورکړ چې: که د قریشو د پیغور خبره نه وی (دوی به ووایي چې بې ثباتي او

---

(۱) تحفة الأحوذي شرح جامع الترمذي ج۹ ص۳۵
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وارخطايي ورباندې باعثه شوه ځکه يې د توحيد کلمه وويلې) نو ما به ستا سترګې په ذکرې شوې کلمې سره يخې کړې وی او ته به مې ورباندې خوشاله کړی وی، خو د پیغور د کبله دا کار نه شم کولی، نو ذکر شوی ايت شريف نازل شو.

ب: په يوه بل اوږده حديث کښې نبي کريم ﷺ خپل تره مخاطب ګرځوي چې: «يَا عَمِّ! قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ كَلِمَةً أَشْهَدُ لَكَ بِهَا عِنْدَ اللهِ» يعنې نبي کريم ﷺ خپل تره ابو طالب ته د مرض الموت په حال کښې په مکرر ډول سره د توحيد کلمه وړاندې کړه، مګر هغه ورباندې تلفظ ونه کړ او منعه يې ترې وکړه، د هغه وروستنۍ خبره دا وه چې: «عَلَى مِلَّةِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ»[1] يعنې زه د عبد المطلب په دين باندې يم د شرکي عقيدې څخه لاس نه اخلم، نو الله ﷻ ذکر شوی لومړنی ايت شريف نازل کړ.

۲ـ يوه ورځې الحارث بن عثمان بن عبد مناف نبي کريم ﷺ ته وويلې چې مونږ ښه پوهېږو چې ستا خبرې حقې دي خو ځکه ايمان نه راوړو چې که مونږ دا کار وکړو نو ټول عرب به زمونږ په خلاف لاسونه يو کړي او د مرغانو غوندې به مو په منبوکو کښې د خپلې ځمکې (مکې معظمې) څخه والوزوي، مونږ خو د ټولو عربو زور نه لرو؛ نو الله ﷻ ذکر شوی دوهم ايت شريف نازل کړ[2].

## سوال جواب

که څوک وايي چې: دوهم ايت خو د ﴿وَقَالُوا﴾ په کلمې سره شروع شوی دی چې د جمعې په ضمير باندې مشتمله ده، نو د څه حکمت په بنياد د شان نزول په مطابق په "وَقَالَ" مفرده کلمه سره شروع نه شو؟

مونږ وايو ـوالله ﷻ أعلمـ چې: که څه هم په دواړو ايتونو کښې متعين اشخاص مطلب نه دي بلکې د مفهوم عموم په نظر کښې نيولی کېږي، خو دا هم څه لرې نه ده چې د ذکر شوي "الحارث" سره به نورو همنظرو خلکو هم هلته موجوديت درلود.

## ارتباط

اما د ارتباط وجه يې دا ده چې: په وړاندېنيو ايتونو کښې الله ﷻ د اهل الکتابو د ځينو جرګو حال نازل کړی دی چې په يوه ملاقات سره يې په نبي کريم ﷺ باندې ايمان راووړ او په ايمان سره مشرف شوه. نو څه لرې نه ده چې د نبي کريم ﷺ مبارک زړه غوښتي وي چې: ای کاش! چې زما په حقانيت باندې زما اقاربو او قوميانو هم د اهل الکتابو غوندې علم راغلی وی او په ايمان باندې مشرف شوي وی، دوی خو ما سره په يوه ښار کښې اوسېږي او د نبوت دلايل روزمره ګوري او د قرآن کريم ايتونه روزمره اوري.

نو په ذکرو شوو دواړو ايتونو کښې نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکړی شوه چې ستا اقارب او قوميان

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ ص۴۰؛ مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۱۷۰
(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۲۸

Scanned by CamScanner

هم ستا په صداقت باندې ښه پوهېږي خو دوی څینې د عناد د کبله او څینې د پیغور او بالآخره څینې د عربو د اختطاف د ډاره په تا باندې ایمان نه راوړي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

۱_ ای پیغمبره! کوم کار چې ستا په توان کښې دی هغه دا دی چې ته ټولو خلکو ته عموماً او خپلو اقاربو او قومیانو ته خصوصاً الهي احکام ابلاغ کړې، چې دا کار تا په ډېره ښه توګه ترسره کړی دی، نو د هغوی په کافر پاتې کېدلو باندې دومره مه غمژن کېږه چې خپل ځان د هلاکت په خطر کښې واچوې.

ستا په توان کښې دا نشته چې چاته د هدایت توفیق ورکړې او په ایمان باندې یې مشرف کړې، که څه هم تاته ډېر محبوب وي او زړه دې غواړي چې په ایمان مشرف شي؛ مګر دا کار فقط الله ﷻ کولی شي او بس، چې د ایمان توفیق ورکړي او مطلب ته یې ورسوي. او دا ځکه چې:

۲_ یوازې الله ﷻ په هغو کسانو باندې ډېر ښه علم لري کوم چې هدایت موندلو ته مستعد وي او د دې لیاقت لري چې په ایمان سره مشرف شي او هدایت مونده کړي.

البته دوی هغه کسان دي چې د هدایت موندلو پسې هڅه کوي او په همدې لټه کښې وي چې حق مونده کړي او منګولې وربانډې خښې کړي، نو په همدې بنیاد لاندې کسان هدایت نه شي موندلی:

الف: څوک چې ایمان راوړل عیب ګڼي او ډارېږي چې که ایمان راوړو نو د خلکو د پېغور لاندې به واقع شو چې فلانی د دوزخ د ډاره ایمان راوړ، زمونږ دوزخ قبول دی خو پېغور نه قبلوو.

ب: څوک چې د ایمان راوړلو د امله د خلکو څخه ډارېږي چې که ایمان راوړو نو د هره طرفه به راباندې خلک راټول شي او ښکې به مو وباسي او بالآخره د خپله وطنه به مو وتلو ته مجبور کړي، زمونږ دوزخ قبول دی خو د خلکو غُصه نه شو قبلولی.

۳_ ای پیغمبره! ایا ذکر شوي مکیان نه ګوري او نه پوهېږي چې:

الف: مکه معظمه ورته چا د امن ځای ګرځولی ده؟ چې چارچاپېره خلک نه د عیب لګولو څخه او نه د لوټ (غارت) څخه مامون دي، او نه د اطمنان او ډاډ ژوند لري، ایا دا مامونیت ورته مونږ نه دی ورکړی؟

ب: ایا مکیانو ته مونږ د میوجاتو پراخي نه ده وربه برخه کړې چې د هره طرفه ورباندې د هر جنس میوجاتو انتقالات جریان لري؟

ج: که ذکر شوي مکیان ایمان راوړي او د نعمت شکرګزاري وکړي نو ایا مونږ به یې امنیت او اطمنان لا اضافه نه کړو؟ ایا د میوجاتو پراخي به یې زیاته نه کړو؟

نو کله چې دوی ته مونږ د کفر په حال کښې امنیت او اطمنان ورکړی دی، د اسلام په حال کښې خو به ورباندې ضرور اضافه وکړو.

نن ورځ دوی د کفر امامان او مشران دي، په هغه وخت کښې به دوی د اسلام امامان او مشران

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جوړ شي او عزت او احترام به يې په ټولو عربو کښې لا پسې زيات شي.

د: خو د دوی اکثريت نه پوهېږي، چې اسلام ورته ذلت او حقارت بربښي او کفر د عزت او احترام موجب ګڼي، حال دا چې خبره بالعکس ده.

## توضيحات

۱ـ که څوک وايي چې: په ﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ ﴾ کښې الله ﷻ د نبي کريم ﷺ څخه هدايت نفي کړې دی چې ته چاته هدايت نه شې کولی حال دا چې په بل ايت کښې يې ورته ثابت کړی دی چې: ﴿ وَإِنَّكَ لَتَهْدِيَ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴾ [الشورى:۵۲] يعنې او يقيناً ته خلک برابرې لارې ته هدايت کوې. نو پوښتنه دا ده چې: ايا دغه دواړه ايتونه سره څه تضاد نه لري؟

مونږ وايو چې: بندګانو ته د الله ﷻ هدايت په څلور ډوله دی[1]:

الف: يو دا چې هر مکلف ته يې عقل، حواس او پوهه ورکړې ده.

ب: بل هدايت د دعوت په معنی سره دی چې د پيغمبرانو په رالېږلو او د کتابونو په نازلولو سره يې خلک حقې لارې ته دعوت کړي دي.

ج: بل هدايت د توفيق معنی ورکوي چې په ايمان راوړلو او د ښکو کارونو په کولو سره يې مطلب ته وصل کړي.

د: بل هدايت د قيامت په ورځ د جنت د لارې د ښودلو څخه عبارت دی، چې جنتيانو ته به هلته ورکړې شي.

په ذکرو شوو څلورو واړو هدايتونو کښې يوازې دوهم ډول هدايت بندګان هم کولی شي چې د حق دين دپاره دعوت وچلوي، او متباقي درېواړه هدايتونه په الله ﷻ پورې اختصاص لري او د بندګانو څخه منفي دي.

په همدې بنياد په دغه ايت شريف کښې چې د بحث لاندې دی د ﴿ لَا تَهْدِي ﴾ کلمه د هغه "هداية" څخه اشتقاقه شوې ده کوم چې د توفيق معنی ورکوي، او په ذکره شوې شمېره کښې درېم نمبر دی، او په [الشورى:۵۲] ايت کښې د "تَهْدِي" کلمه د هغه "هداية" څخه اخستلی شوې ده کوم چې د دعوت معنی ورکوي او په پورتنی شمېره کښې دوهم نمبر دی.

## د ابو طالب وفات

۲ـ په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو د ابو طالب په هکله څېړنې کړې دي، د ځينو په نظر نوموړی مسلمان وفات شوی دی[2] او ځينې نور وايي چې د کفر په حال کښې د دنيا څخه تللی دی[3]. که څه هم د شان نزول د رواياتو غوښتنه دا ده چې نوموړی به د کفر په حال کښې مړ شوی

---

(۱) مفردات الراغب ص۵۳۶

(۲) تفسير نمونه لاهل التشيع ج۵ ص۱۹۳، ج۱۶ ص۱۲۱

(۳) تفسير الخازن ج۴ ص۵۷۳؛ تفسير ابن كثير ج۳ ص۳۹۵؛ حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۳ ص۵۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي خو د سيرت ښينو كتابونو ليكلي دي چې هغه د توحيد كلمه وويلې مګر نبي كريم ﷺ وانه وريدله[۱]، والله ﷻ أعلم.

زمونږ په فكر په دې موضوع كښې سكوت بهتر دى او مونږ په دې هكله څه مكلفيت هم نه لرو، الله ﷻ ته د قيامت په ورځ هر څوك ورځي او د هر چا سره به مطابق چال چلند كوي.

## په ياد ولرئ

۳_ په ياد ولرئ چې په ﴿ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ ﴾ كښې د "مُهْتَدِيْنَ" كلمه د مقام په لحاظ اصلاً د هغه هداية څخه اشتقاقه شوې ده كوم چې د ذكرو شوو څلور ګونو معناوو څخه په دريمه معنى باندې دلالت كوي[۲]، يعنې الله ﷻ هغه كسان ډېر ښه پېژني د كومو چې د هدايت استعداد باقي دى او د توفيق وركولو لياقت لري، د همدوى د جملې څخه د اهل الكتابو هغه وفدونه او جرګې هم دي كومو ته چې په وړاندېنيو ايتونو كښې اشاره شوې ده.

## جِبَايَةٌ څه معنى؟

۴_ په ﴿ يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ ﴾ كښې د ﴿ يُجۡبَىٰ ﴾ كلمه د "جِبَايَةٌ" _لكه "كِتَابَةٌ"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د راغونډولو معنى وركوي د همدې كبله د اوبو حوض (ډنډ) ته "جَابِيَةٌ" وايي چې په خپل ځان كښې د اوبو راغونډوونكى دى[۳].

يعنې ايا مونږ مكه معظمه د خپلو اوسېدونكو دپاره حرم نه دى ګرځولى چې ښكار كول پكښې حرام دي؟! او د امن ځاى مو نه دى ګرځولى چې په بې غمۍ سره ورته د هره طرفه هر ډول ميوجات ورروان دي او د هر ډول چور چپاول څخه پكښې امنيت دى؟!.

﴿ وَكَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَرۡيَةِۭ بَطِرَتۡ مَعِيشَتَهَاۖ فَتِلۡكَ مَسَٰكِنُهُمۡ لَمۡ تُسۡكَن مِّنۢ بَعۡدِهِمۡ إِلَّا قَلِيلٗاۖ وَكُنَّا نَحۡنُ ٱلۡوَٰرِثِينَ ﴿٥٨﴾ وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ حَتَّىٰ يَبۡعَثَ فِيٓ أُمِّهَا رَسُولٗا يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۚ وَمَا كُنَّا مُهۡلِكِي ٱلۡقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهۡلُهَا ظَٰلِمُونَ ﴿٥٩﴾ وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتُهَاۚ وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٠﴾ أَفَمَن وَعَدۡنَٰهُ وَعۡدًا حَسَنٗا فَهُوَ لَٰقِيهِ كَمَن مَّتَّعۡنَٰهُ مَتَٰعَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا ثُمَّ هُوَ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ ﴿٦١﴾ ﴾

---

(۱) سيرت ابن هشام ج۲ ص۲۶
(۲) روح المعاني ج۲۰ ص۹۶
(۳) مفردات الراغب ص۸۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۵۸] او مونږ د داسې ښارونو څخه څومره ډېر هلاک کړي دي چې په خپل معاش (د ژوند په سامان آلاتو) کښې به یې سرکشي (او طغیان) کاوه.

نو (د هلاکو شوو سرکشانو) مساکن دغه دي چې د دوی څخه وروسته پکښې استوګنه نه ده کړې شوې مګر لږ وخت (چې مسافران او یا سیاحان هلته ورغلي وي).

او مونږ همدا مونږ باقي پاتې کېدونکي یاستو (نور ټول موجودات فاني کېدونکي دي).

[۵۹] او (ای پیغمبره!) ستا رب ﷻ تر هغه پورې د ښارونو هلاکوونکی نه دی ترڅو چې د هغوی په مرکزي ښار کښې داسې پیغمبر واستوي چې په (اهالیو) باندې یې زمونږ ایتونه قرائت کړي (او توحید ته یې دعوت کړي).

او مونږ د ښارونو هلاکوونکي نه یاستو مګر په داسې حال کښې چې اهل یې ظالمان وي (او دپیغمبر دعوت قبول نه کړي).

[۶۰] او (د مکیانو په شمول ای خلکو!) تاسو ته چې هر شی درکړی شوی دی هر (دنیاوي) شی چې وي نو (هغه) د نژدې (حقیر) ژوند متاع او ښایست دی (ډېر ژر به د زوال سره مخامخ شي).

او هر شی چې (ستاسو دپاره) د الله ﷻ په نزد دی (نو هغه) بهتر او دائم دی.

ایا نو تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ؛ (چې فاني شي ته په باقي شي باندې ترجیح ورکوئ)؟

[۶۱] ایا نو هغه څوک چې مونږ ورسره ښایسته وعده کړې ده چې نوموړی ورسره (هرومرو) ملاقي کېدونکی دی، د هغه چا غوندې دی کوم ته چې مونږ متاع ورکړې ده د نژدې (حقیر) ژوند متاع؟، بیا هغه (همدغه کس) د قیامت په ورځ (زمونږ په وړاندې د حساب کتاب دپاره) د حاضر کړی شوو څخه دی (چې د خپلو کړو وړو سزا به ومومي؛ ایا دا دواړه یو برابر دي؟).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د مشرکانو د ایمان نه راوړلو بهانه رده شوې وه چې مونږ د عربو د ډاره ایمان راوړلو ته اقدام نه کوو، په دې ایتونو کښې همدغه مضمون تعقیب شوی دی او ذکر شوې بهانه په نورو وجوهو سره هم رده شوې ده چې حاصل یې داسې راڅېږي:

ای پیغمبره! د مکې مشرکانو ته په کار دي چې د مسلمانېدلو په صورت کښې د عربي کفارو د څخه د لاندې وجوهو د کبله ونه ډار شي:

۱_ د مکې په مشرکانو باندې به د اسلام د قبول په صورت کښې د عربي کفارو د پلوه لا څه چې د هیچا د پلوه تېری ونه کړی شي چې د خپل وطن څخه یې وشړي او دا ځکه چې:

الف: مونږ څومره ډېر متکبر ښارونه هلاک کړي دي، لکه عادیان، ثمودیان او نور.

ب: د هلاکو شوو قومونو مساکن دوی په خپلو سترګو ګوري چې د هلاک څخه وروسته کنډوالې پراته دي، او په پټه خوله نورو کفارو ته وعظ کوي چې د هغوی کړنلاره خپله نه کړي.

ج: د هغوی په کنډوالو کورونو کښې د لږ وخت دپاره یوازې هغه څوک اوسېږي چې د لارې مسافر وي او هلته دمه جوړه کړي، او یا هغه څوک چې د عبرت اخستلو دپاره پکښې لږ وخت تم

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شي، بل څوک پکښې استوګنه نه کوي.
د: نو که د مکې مشرکان په ایمان مشرف شي مونږ به متکبرانو عربي قبائلو ته وسه ورنه کړو چې تالا ترغه یې کړي او د خپله وطنه یې وشړي لکه چې دوی ګومان کوي، بلکې په دې صورت کښې به د دوی مشري او امنیت لا قوي او مستحکم وګرځو.
۲_ زمونږ څخه په غیر نور ټول قوتونه بلکې ټول موجودات فاني کېدونکي دي او فقط همدا مونږ باقي پاتې کېدونکي یاستو، او د عارضي قوتونو څخه ډار څه په کار نه دی؟.
۳_ ای پیغمبره! ستا رب ﷻ د ښارونو او قومونو تر هغه پورې هلاکوونکی نه دی ترڅو چې د هغوی په مرکزي ښار کښې پیغمبر واستوي، او په چاپیریال باندې یې زمونږ ایتونه قرائت کړي.
یا په بل عبارت: مونږ د ښارونو او قومونو په هیڅ حال هلاکوونکي نه یاستو مګر په داسې حال کښې چې اهل یې ظالمان وي او د پیغمبر د دعوت څخه خپل انکار ته ادامه ورکړي.
نو په کار دي چې د مکې معظمې اوسېدونکي په خپل هلاک باندې د اسلام راوړلو په حال کښې نه بلکې کفر ته د ادامې په حال کښې وډار شي.
۴_ په دې باندې علاوه: ای د مکې معظمې اوسېدونکو! که بالفرض المحال د اسلام د قبول په صورت کښې عربي قبائل تاسو ربښتیا د وطنه وشړي هم باید تاسو د اسلام د قبول څخه امتناع ونه کړئ، ځکه چې کوم شی چې تاسو ته درکړی شوی دی مشرې ده او که امنیت دی، یا عزت او وقار دی دا ټول د فاني او حقیر ژوند پورې اختصاص لري چې د څو ورځو څخه زیات دوام نه شي کولی، دا د همدې ژوند ډول او سنګار دی.
بالمقابل کوم شی چې تاسو ته د اسلام د قبول په صورت کښې د الله ﷻ په نزد ساتلی شوی دی، هغه هم بهتر دی او هم دوامدار او باقي دی.
نو ایا تاسو د عقل څخه کار نه اخلئ چې ترڅو په فانیاتو باندې باقیاتو ته ترجیح ورکړئ؟
۵_ نو په همدې بنیاد تاسو د لاندې دوه وو کسانو په حال کښې فکر وکړئ:
الف: یو هغه څوک چې بل چا نه بلکې مونږ ورته ډېره ښایسته او نېکه وعده ورکړې وي چې نوموړی ورسره ضرور ملاقي کېدونکی وي او د تخلف امکان نه لري.
ب: بل هغه څوک چې مونږ ورته په دغه فاني او حقیر ژوند کښې ښه ډېر د ژوند اسباب ورکړي وي چې فقط همدلته ترې ښه پراخه استفاده کوي او بس، حال دا چې نوموړي کس د آخرت دپاره هیڅ خوری نه وي تیار کړی او خالي لاس آخرت ته سفر وکړي او د حساب کتاب دپاره د هغې ډلې څخه وګرځي کوم چې د الله ﷻ په وړاندې حاضر کړی شوي وي.
نو ایا دغه دواړه کسان یو برابر دي؟ په کار دي چې د مکیانو په شمول هیڅوک په فانیاتو باندې خپل ځان د باقیاتو څخه محروم نه کړي.

## توضیحات

۱_ مونږ په ګڼ شمېر خایونو کښې د الله ﷻ په توفیق لیکلی دی چې په نصوصو کښې د مورد

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خصوص اعتبار نه لري بلکې مطلب پکښې د مفهوم تعمیم وي، نو په همدې بنیاد ذکر شوي اینونه د قیامت تر ورځې پورې هغو ټولو کسانو ته شامل دي کوم چې د دنیاوي فانیاتو د کبله د مسلمانېدلو څخه انکار وکړي او خپل ځان د ایمان څخه محروم وګرځوي.

## په یاد ولرئ

۲ـ په یاد ولرئ چې: په ﴿ لَمْ تُسْكَن مِّنۢ بَعْدِهِمْ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ کښې د ﴿ قَلِيلًا ﴾ کلمه یا د "زَمَانًا" دپاره او یا د "سُكْنَى" دپاره صفت ده، یعنې د هلاک کړی شوو کفارو څخه وروسته د هغوی په ښارونو کښې هیڅ زمانه او یا هیڅ ډول استوګنه نه ده کړی شوې مګر لږه زمانه او یا لږه استوګنه، چې هلته څوک په لاره تېرېدونکی وي او یا د عبرت اخستلو او یا د ننداری کولو دپاره د سیاحت په توګه هلته ورشي.

## ام القری څه معنی؟

۳ـ په ﴿ حَتَّىٰ يَبْعَثَ فِىٓ أُمِّهَا ﴾ کښې د ﴿ أُمِّهَا ﴾ ضمیر د ﴿ ٱلْقُرَىٰ ﴾ کلمې ته راجع دی چې د "أُمُّ الْقُرَى" عبارت ترې جوړېږي.

مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۹۲] ایت لاندې لیکلي دي چې د مکې معظمې د القابو څخه یو لقب "أُمُّ الْقُرَى" هم دی، چې په دې مقام کښې ځینو علماوو کرامو د "أُمُّ الْقُرَى" څخه همدغه مکه معظمه مراده کړې ده[۱]، مګر د مقام په لحاظ بهتره برېښي چې دلته به مطلق مرکزي ښار مطلب وي چې د دنیا ټولو مرکزي ښارونو ته شامل شي، په کومو کښې چې په پخوانیو زمانو کښې پیغمبران علیهم السلام استولی شوي وه.

شاید چې په مرکزي ښارونو پورې به د پیغمبرانو استولو څکه تخصیص موندلی وي چې هلته عادةً مشران اوسېږي، او خلک (عوام) په کفر او اسلام کښې د همدوی پیروي کوي، لکه چې په یوه اوږده حدیث کښې نبي کریم ﷺ د رومیانو مشر ته داسې لیک استولی وه چې: «أَسْلِمْ تَسْلَمْ يُؤْتِكَ اللهُ أَجْرَكَ مَرَّتَيْنِ فَإِنْ تَوَلَّيْتَ فَإِنَّ عَلَيْكَ إِثْمَ الْيَرِيسِيِّينَ»[۲] یعنې ای د رومیانو مشره! مسلمان شه چې د خطراتو څخه سالم او روغ پاتې شې، او الله ﷻ درته دوه کرته اجر درکړي (څکه چې ته د اهل الکتابو څخه یې)، نو که د اسلام څخه مخ تاو کړې او قبول یې نه کړې، نو په تاباندې د دهقانو (عوامو) ګناه هم ده (ستا په ذریعه به ټول رعیت بې لارې پاتې شي).

﴿ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِىَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٦٢﴾ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغْوَيْنَآ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا ۖ تَبَرَّأْنَآ إِلَيْكَ ۖ مَا كَانُوٓا۟

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۹۶
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



إِيَّانَا يَعْبُدُونَ ﴿٦٣﴾ وَقِيلَ ٱدْعُوا۟ شُرَكَآءَكُمْ فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا۟ لَهُمْ وَرَأَوُا۟ ٱلْعَذَابَ
لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا۟ يَهْتَدُونَ ﴿٦٤﴾ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَآ أَجَبْتُمُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾ فَعَمِيَتْ
عَلَيْهِمُ ٱلْأَنۢبَآءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَآءَلُونَ ﴿٦٦﴾ فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا
فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾

[۶۲] او هغه ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ (بالذات یا بالواسطه) کفارو ته اواز وکړي نو (د تخجیل دپاره ورته) ووایي چې زما هغه شریکان چرته دي کوم چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې ګومان به مو کاوه؟ (چې دوی ما سره په عبادت کښې برخه لري).

[۶۳] هغه (ګمراه کوونکي) کسان به ووايي په کومو باندې به (چې د ګمراه کړی شوو کسانو په نزد هم) د تعذیب خبره ثابته شوې وي چې: ای زمونږ ربه! دغه (کسان) هغه کسان دي کوم چې مونږ ګمراه کړي وه، مونږ ورته د ګمراهۍ دعوت ورکړی وه (نو دوی په خپل اختیار ګمراه شوه) لکه څنګه چې مونږ (په خپل اختیار) ګمراه شوي وو (نو مونږ د دوی په ګمراهۍ پړه نه یاستو).

مونږ (د دوی څخه) تاته خپله بېزاري اعلانوو، (او دا ځکه چې:) دوی (په دنیا کښې) نه وه چې زمونږ عبادت (اطاعت) به یې کاوه (بلکې دوی د خپلو خواهشاتو عبادت کوونکي وه).

[۶۴] او (کفارو ته) به وویلی شي چې خپل شریکان (باطل معبودان خپل شفاعت ته) دروبلئ؛ نو دوی به یې ورویلي خو هغوی به ورته اجابت ونه کړي (بلنه به یې قبوله نه کړي او نه به یې قبلولی شي).

او (په عین حال کښې) به (ټول) کفار عذاب وګوري او (ټول به متقین شي چې نجات نشته نو په حسرت سره به ووایي چې:) کاش چې یقینًا دوی (په دنیا کښې) وی چې سمه لاره یې موندلې وی.

[۶۵] او هغه ورځ (یاده کړه) چې الله ﷻ کفارو ته اواز وکړي نو ورته ووايي چې: (ای کفارو!) هغه څه خبره ده په کومې سره چې تاسو پیغمبرانو ته جواب ورکړی وه؟ (په دوی باندې مو ولې ایمان رانه وور؟).

[۶۶] نو په دوی باندې به په دغې ورځ کښې (د خپل انکار) دلایل خلط ملط (مشتبه) شي، نو دوی به (په همدې هکله) یو تربله پوښتنې هم ونه کړي (دوی به پوهېږي چې د هیڅا سره جواب نشته).

[۶۷] نو هر هغه څوک چې (د کفر څخه) توبه وباسي او ایمان راوړي او صالح عمل وکړي نو امید دی چې (د قیامت په ورځ به) دوی د فلاح موندونکو د ډلې څخه وګرځي (دوی دې همدا امید وکړي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د وروستني ایت مضمون دا وه چې ایا مؤمن او کافر یو برابر دي؟.
په دې ایتونو کښې د همدغې پوښتنې جواب نازل شوی دی چې حاصل یې داسې راځي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! د قیامت په ورځ به د مؤمن او کافر تفاوت ډېر ښه ځرګند شي چې کفار به د عذابونو او خجالتونو سره مخامخ شي او مؤمن ته به د عذابونو څخه نجات او کامیابي ورپه برخې شي چې د دواړو لږ تفصیل دا دی:

۱ـ ته خو هغه ورځ یاده کړه چې الله ﷻ کفارو ته علی رُؤس الأشهاد (د ټولو خلکو په وړاندې) د تخجیل او شرمولو دپاره اواز وکړي او ورته ووایي چې: ای کفارو! زما په عبادت کښې هغه شریکان نن ورځ چرته دي چې تاسو ته د عذاب څخه نجات درکړي لکه چې تاسو همدغسې ګومان کاوه؟، تاسو خو د همدغې ورځې دپاره د هغوی په عبادت باندې مشغول وئ، نو دوی به د سخت خجالت سره مخامخ شي.

۲ـ په ذکر شوي خجالت باندې علاوه بل خجالت به یې دا وي چې په دغې ورځ کښې به هغه کسان (په کومو باندې چې د عذاب خبره ثابته شوې ده، کوم چې نن ورځ د خلکو په ګمراه کولو باندې بوخت دي او د کفر مشران او امامان دي) خپلو پیروانو او کشرانو ته اشاره وکړي او وبه وایي چې:

الف: ای زمونږ ربه! دغه ډله هغه کسان دي کوم چې مونږ ګمراه کړي وه، او ګمراهۍ ته مو دعوت ورکړی وه. یا په بل عبارت: مونږ دوی کفر ته دعوت کړي وه مګر زور مو وریاندې نه وه کړی، نو دوی هم په خپل اختیار سره ګمراه شوي دي لکه څنګه چې مونږ په خپل اختیار سره ګمراهي قبوله کړې وه، مونږ په ګمراهۍ کښې یو برابر یاستو.

ب: ای زمونږ ربه! مونږ تاته د دوی څخه خپله بېزاري وړاندې کوو، د دوی په ګمراهۍ باندې مونږ ونه نیسې، هرڅوک پوهېږي او کار یې.

ج: لنډه دا چې دوی په دنیا کښې زمونږ عبادت نه دی کړی بلکې دوی د خپلو خواهشاتو عبادت کوونکي وه.

۳ـ په دغې ورځ کښې به عابدینو (کفارو) ته وویلی شي چې تاسو خپلو معبودانو او شریکانو ته دعوت ورکړئ چې د عذاب مخه درځخه واړوي او نجات درکړي.

هغوی به دعوت ورکړي مګر معبودان به یې اجابت ونه کړي او نه به یې اجابت کولی شي، چې خپله بېزاري به یې لا د وړاندې څخه اعلانه کړې وي.

۴ـ په عین حال کښې به عابدین او معبودین دواړه جانبه عذاب وګوري چې په زغرده به ورروان وي، او نجات به ترې ممکن نه وي.

نو په دغه وخت کښې به ټول د حسرت اواز پورته کړي چې: ای کاش! چې دوی په دنیا کښې په حقه لاره باندې تللي وی، او کفر یې نه وی غوره کړی.

۵ـ ای پیغمبره! هغه ورځ هم خپل امت ته یاده کړه چې کله الله ﷻ کفارو ته د تخجیل دپاره علی رؤس الأشهاد (د ټولو خلکو په وړاندې) اواز وکړي او ورته ووایي چې: ای کفارو! تاسو پیغمبرانو ته په دنیا کښې څه جواب ورکړی وه البته کله چې هغوی تاسو ته د حقې لارې دعوت درکاوه؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ابن خلق (۲۰)
نو کفار به د جواب څخه د زړه په سترګو ړانده شي او د همدې حیثه به وړاندې توره تیاره جوړه شي، چې د سکوت څخه په غیر به بله چاره ونه لري.

حتی دوی به په دغه وخت کښې یو تربله پوښتنه هم نه کوي چې جواب زده کړي او دا ځکه چې هیڅوک به جواب نه لري او ټول به د جواب په نه درلودلو کښې یو برابر وي.

ع ـ ای پیغمبره! په دغې ورځ کښې به نجات او کامیابي د مؤمنانو په نصیب وي او دا ځکه چې دوی به په لاندې قاعده کښې شامل وي:

هرڅوک چې د کفر څخه توبه تائب شي او خپل ایمان ته ادامه ورکړي او په دې باندې علاوه صالح عمل هم وکړي، نو په کار دي چې همدغه کسان امید او هیله وکړي چې دوی د مفلحانو او کامیابانو څخه وګرځي.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي:

الف: که څوک وایي چې: په ﴿ وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ ﴾ الآیة- کښې عابدینو او کشرانو ته سوال راجع کړی شوی دی چې ستاسو په خیال زما شریکان چرته دي ترڅو ستاسو په درد وخوري؟. نو د دغې پوښتنې جواب دلته کوم یو دی؟

مونږ وایو چې: د دغې پوښتنې جواب په دې مقام کښې مقدر دی خو په نورو ایتونو کښې وړاندې صراحت شوی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: ﴿ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ أَضَلُّونَا فَـَٔاتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ ٱلنَّارِ ﴾ [الأعراف:۳۸] یعنې د قیامت په ورځ به عابدان (کشران) کافران ووایي چې: ای زمونږ ربه! مونږ دغو (مشرانو او معبودانو) ګمراه کړي یاستو، نو ته دوی ته د اور څخه غبرګ عذاب ورکړه (زمونږ په عوض هم دوی معذب کړه).

دوهم: ﴿ قَالُواْ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ شُرَكَآؤُنَا ٱلَّذِينَ كُنَّا نَدْعُواْ مِن دُونِكَ ﴾ [النحل:۸۶] یعنې مشرکان به د قیامت په ورځ خپلو معبودانو او مشرانو ته اشاره وکړي او وبه وایي چې ای زمونږ ربه! دغه دي زمونږ هغه شریکان (معبودان او مشران) کومو ته به چې مونږ په دنیا کښې عبادت کوونکي وو د کومو به چې مونږ ستا څخه پرته عبادت کاوه او بلل به مو، نو زمونږ په عوض همدوی معذب کړه.

ب: که څوک وایي چې: په دغه مقدر جواب باندې په دې مقام کښې کومې جملې دلالت کوي؟

مونږ وایو چې: په همدغه مقدر جواب باندې د معبودانو او مشرانو هغه خبره دلالت کوي کومه چې الله ﷻ د هغوی د خولو څخه دلته راحکایته کړې ده چې: ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغْوَيْنَآ ﴾ الآیة- یعنې کله چې عابدین او کشران په خپلو معبودینو او مشرانو باندې ملامته وړواچوي چې ای ربه! هغوی ملامته دي نو هغوی معذب کړه، نو هغوی به د خپلو ځانونو څخه د دفاع په خاطر ووایي چې دوی په خپل اختیار ګمراه شوي دي مونږ وړاندې د زور څخه کار نه دی اخستی بلکې فقط دعوت مو ورکړی وه او دوی پخپله خوښه قبول کړی وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: که څوک وايي چې: په ﴿ قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡقَوۡلُ ﴾ کښې د موصول ﴿ ٱلَّذِين ﴾ څخه څوک مراد دي، او د ﴿ ٱلۡقَوۡلُ ﴾ څخه کوم قول مطلب دی؟

مونږ وايو چې: د ﴿ ٱلَّذِين ﴾ موصول خو ځيني علماوو کرامو يوازې په شيطانانو سره[1] او ځينو يوازې په ګمراه کوونکو انسانانو سره[2] او بالآخره ځينو د دواړو ډلو په مجموعې سره تفسير کړی دی[3]، چې ابليس او د ده انسي او جني کومکيان پکښې ټول شامل دي.

مونږ ته همدغه دريم تفسير بهتر برېښي، چې د تخصيص دپاره راته څه وجه څرګنده نه شوه.

او د ﴿ ٱلۡقَوۡلُ ﴾ څخه د الله ﷻ دا قول مراد دی چې: ﴿ وَتَمَّتۡ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴾ [هود:۱۱۹][4] يعنې ای پيغمبره! ستا د رب ﷻ خبره تمامه شوې (فيصله شوې) ده چې هرومرو به زه دوزخ د پيريانو او خلکو (انسانانو) د جملې څخه په ټولو (کفارو) باندې ډک کړم.

د: که څوک وايي چې: دوزخ ته داخلېدل خو په کفري مشرانو پورې اختصاص نه لري بلکې کشران پکښې هم شامل دي نو ايا د ﴿ ٱلۡقَوۡلُ ﴾ څخه د ذکر شوي ايت شريف اراده کول صحت لري؟

مونږ وايو چې: کله چې کفري پيروان د خپلې ګمراهۍ پړه او ملامته په کفري مشرانو باندې واچوي نو نظر د دوی خيال او ګومان ته به فقط د کفري مشرانو تعذيب فيصله شوی وګڼل شي، دوی به اټکل کوي چې مونږ به نجات مونده کړو او اعتذار به مو ځای ونيسي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: هغه کسان به ووايي په کومو باندې چې د پيروانو کافرانو په ګومان دوزخ ته د داخلېدلو خبره فيصله شوې وي (حال دا چې دا فيصله ټولو ته شامله ده).

## يادونه

۲ـ الله ﷻ د ټولو ګمراه کوونکو د مشر (ابليس عليه اللعنة) د خولې څخه په [إبراهيم:۲۲] ايت کښې ښه اوږد مضمون راحکايت کړی دی چې په آخرت کښې به يې خپلو پيروانو ته واوروي، نو د دې مقام د ښه وضاحت دپاره يې يوځل کتل ګټور پرېووځي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: په ﴿ فَعَمِيَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَنۢبَآءُ ﴾ کښې د ﴿ فَعَمِيَتۡ ﴾ د کلمې نسبت د ﴿ ٱلۡأَنۢبَآءُ ﴾ کلمې ته شوی دی چې دلته د حجتونو معنی ورکوي[5]، حال دا چې ړندوالی د ژوندېو شيانو صفت دی؟

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۰ ص۹۸
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۴۵۲
(۳) تفسير ابن کثير ج۳ ص۳۹۷؛ المحرر الوجيز ج۱۲ ص۱۷۹
(۴) البحر المحيط ج۸ ص۳۱۸
(۵) تفسير القرطبي ج۲ ص۳۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د "عَمِيَ" کلمه چې د ﴿ فَعَمِيَتْ ﴾ کلمه ترې اشتقاقه شوې ده کله-کله د اشتباه او التباس په معنی باندې هم استعمالېږي[1]، لکه چې يو صحابي ﷺ وايي چې: «انطلقنا في قابل حاجين فعمي علينا مكانها»[2] يعني مونږ د نبي کريم ﷺ سره د حديبيه په مقام کښې د يوې ونې لاندې بيعت وکړ خو بل کال چې مونږ حج ته تللو او په هغه ځای باندې ورغلو نو په مونږ باندې د ونې ځای مشتبه او خلط ملط شو، ومو نه شو کړی چې ويې پېژنو.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: د قيامت په ورځ به کفار د خپل کفر او شرک دپاره څه بهانې وړاندې کړي چې مونږ ملامته نه ياستو بلکې زمونږ مشران ملامت او پړه دي، مگر کله چې د هغوی څخه د پيغمبرانو په هکله پوښتنه وکړی شي چې تاسو دوی ته څه جواب ويلی وه او د دوی دعوت مو په کوم دليل رد کړی وه؟ نو په دوی باندې به ټول دلايل ګډوډ شي او هيڅ بهانه به هم جوړه نه کړی شي او نه به په دې هکله سره يوتربله وپوښتي چې دغې پوښتنې ته څه جواب ورکړو؟.

﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ ۚ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ وَتَعَـٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾ وَهُوَ ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ لَهُ ٱلْحَمْدُ فِى ٱلْأُولَىٰ وَٱلْـَٔاخِرَةِ ۖ وَلَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٧٠﴾ ﴾

[۶۸] او (ای پيغمبره!) ستا رب ﷻ هغه شی پيدا کوي کوم ته يې چې اراده وشي او (هغه شی) غوره ګرځوي (کوم ته يې چې اراده وشي).

(يا په بل عبارت:) بنيادمانو ته (د يو شي) غوره ګرځول نشته (او نه غوره شی پېژاندلی شي).

الله ﷻ ته پاکي ده او همدی ﷻ د هغو شيانو (بوتانو) څخه ډېر اوچت دی کوم چې مشرکان يې (ورسره په عبادت کښې) شريکوي (او د معبوديت او شافعيت دپاره غوروالی ورکوي).

[۶۹] او ستا رب ﷻ په هغو شيانو باندې پوهېږي کوم چې د بنيادمانو سينې (زړونه) يې پټ ساتي او په هغو شيانو باندې (هم پوهېږي) کوم چې دوی يې ښکاره کوي.

[۷۰] او ستا رب ﷻ الله ﷻ چې دی په حقه بل معبود نشته مگر همدی ﷻ دی (او بس) خاص همده ﷻ ته په اولنۍ او وروستنۍ (دواړو) کورونو کښې جنس حمد (ټول حمدونه) دي، او خاص همده ﷻ ته حکم دی (فيصله د همده ﷻ په اختيار کښې ده).

او (ای خلکو!) خاص همده ﷻ ته به تاسو (د مرګ څخه وروسته د فيصلو دپاره) ورو ګرځولی شئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونو مضمون په دې خبره باندې هم مشتمل وه چې کفار به د قيامت په ورځ د

(۱) مفردات الراغب ص۳۶۱؛ لسان العرب ج۱۵ ص۱۰۰

(۲) مسند احمد بن حنبل ج۹ ص۱۷۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خپلې عقيدې او خپلې مفكورې په غلطۍ باندې پوه شي، او په دې ايتونو كښې د هغوى د غلطيا وجې ته اشاره شوې ده.

يعنې اى پيغمبره! مشركان د دې حق نه لري چې د مخلوقاتو څخه كوم شي ته يا كوم چا ته بهتري وركړي او د عبادت په استحقاق ورته قائل شي. او دا څكه چې:

۱ـ يوازې ستا رب ﷻ هغه شى پيدا كوي كوم ته يې چې اراده وشي او هغه شي ته بهتري وركوي كوم ته يې چې اراده وشي. يا په بل عبارت: لكه څنګه چې پيدا كول ستا د رب ﷻ پورې اختصاص لري همدارنګه غوره او بهتر ګرځول هم د همده ﷻ كار دى او بس.

۲ـ ستا رب ﷻ په خپلو مخلوقاتو كښې ځينو ته په ځينو نورو باندې بهتري وركوي خو دا بهتري يې يوه مخلوق ته هم نه ده وركړې چې د خپل اقدس ذات سره يې په عبادت كښې شريک وګرځوي.

۳ـ نو په همدې بنياد مشركان دا حق نه لري او د دې جواز ورته نشته چې ځينې مخلوقات د عبادت په استحقاق سره بهتر وګرځوي، بلكې الله ﷻ لره په عبادت كښې د اشتراک څخه پاكي ده او د هغو خيالاتو څخه اوچت دى د كومو چې مشركان په همدې هكله مرتكب شوي دي.

۴ـ اى پيغمبره! د مشركانو كفريات په شرک پورې انحصار نه لري بلكې ستا رب ﷻ د دوى په هغو باطلو اعتقاداتو او هغو ناحقه عداوتونو باندې پوهېږي كوم چې دوى يې په خپلو زړونو كښې پټ ساتي، او هغه جنايات يې ورته هم معلوم دي كوم چې دوى يې ښكاروي.

۵ـ لهذا دا چې:

الف: څوک چې مخلوقات پيدا كوي او يا كوم يوه مخلوق ته بهتري وركوي هغه فقط الله ﷻ دى او بس.

ب: په حقه سره معبود هيڅوک او هيڅ شى نه دى مګر الله ﷻ دى او بس.

ج: په دنيا او آخرت كښې ټولې ستاينې الله ﷻ پورې مختصې دي او بس. دا څكه چې ټول ښايسته صفات په همده ﷻ پورې اختصاص لري، او د مخلوقاتو څخه يې چې چاته اراده وشي د ښو صفاتو خاوند يې جوړوي مګر د معبوديت صفت يې هيڅ مخلوق ته نه دى وركړى او نه يې وركوي.

د: په ټولو مخلوقاتو كښې چې كوم حكم نافذ دى (روزمره پكښې چلېږي) هغه فقط د الله ﷻ حكم دى او بس.

هـ: بالآخره: اى مكلفينو! تاسو ټول به د مرګ څخه وروسته خاص الله ﷻ ته ورتاو كړى شئ او هر چاته به موافقه جزا يا سزا وركړي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ﴾ كښې د "يَخْتَارُ" كلمه د "اختيار" څخه اشتقاقه شوې ده. اختيار په لاندې دوه وو معناوو باندې استعمالېږي[۱]:

(۱) تفسير القاسمي ج۱۳ ص۱۲۰

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: يو هغه اختيار دی په کوم باندې چې د يوه شي موجوديت مرتبېږي، چې د ارادې معنی ورکوي، او په مقابل کښې يې اضطرار استعمالېږي لکه د ګوزن وهلي سړي لاس چې بلا اختياره په اضطرار سره حرکت کوي.

ب: بل هغه اختيار دی کوم چې يوه موجود شي ته د ترجيح او تفضيل معنی ورکوي او په مقابل کښې يې د تحقير کلمه استعمالېږي.

په دې مقام کښې اولنۍ معنی مراده نه ده بلکې دلته دوهمه معنی مطلب ده، او دا ځکه چې په دې معنی باندې د ﴿ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ﴾ جمله دلالت کوي چې د "مَا يَشَاءُ" معنی "مَا يُرِيْدُ" ده.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پيغمبره! لکه څنګه چې ستا رب ﷻ هغه شيان پيدا کوي کومو ته يې چې اراده وشي همدارنګه هغه موجوداتو ته بهتري او ترجيح هم ورکوي کومو ته يې چې د فضيليت ورکولو اراده وشي.

## خِيَرَة څه معنی؟

۲ـ په ﴿ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلْخِيَرَةُ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْخِيَرَةُ ﴾ کلمه د "اِخْتِيَار" د کلمې سره په ذکرو شوو دواړو معناوو کښې مرادفه ده[1]، نو علماوو کرامو د دغې جملې مضمون په درې ډوله اخستی دی[2] هغه دا چې:

الف: ځينې علماء کرام وايي چې: دا جمله د ﴿ وَيَخْتَارُ ﴾ د جملې سره اتباط لري چې د "ما" توری پکښې د نفې دپاره نه دی بلکې د "يَخْتَارُ" دپاره مفعول دی، او هم د ﴿ ٱلْخِيَرَةُ ﴾ کلمه د "اِخْتِيَار" د کلمې دوهمه معنی ورکوي[3]. يعنې ستا رب ﷻ د خپلو بندګانو دپاره هغه شی غوره کوي کوم چې د دوی دپاره غوره او بهتر وي.

دا تفسير د معتزله وو د عقيدې سره دومره فرق لري چې هغوی غوره او اصلح په الله ﷻ باندې واجب ګڼي، او اهل السنة والجماعة وايي چې: په الله ﷻ باندې د هيڅ شي وجوب او لزوم نشته، هو! که په خپل فضل او رحم سره کوم شی په خپل اقدس ذات باندې لازم کړي (لکه چې د ساکښانو روزي يې په خپل اقدس ذات باندې لازمه کړې ده) نو دا بېله خبره ده.

ب: ځينې نور وايي چې: د "ما" توری موصول نه دی بلکې د نفې دپاره دی، د ﴿ ٱلْخِيَرَةُ ﴾ کلمه د "اختيار" اولنۍ معنی ورکوي[4]. يعنې بندګانو ته هغه اختيار نشته په کوم باندې چې يو شی موجودېږي بلکې د هر شي موجوديت د الله ﷻ په اراده پورې توقف لري. برابره خبره ده چې اعيان وي او که اعراض.

---

(۱) لسان العرب ج۴ ص۲۶۶؛ القاموس المحيط ج۲ ص۱۳۲

(۲) تفسير البيضاوي في هذا المقام: كما في حواشي الشيخ زاده ج۳ ص۵۲۰

(۳) تفسير الكشاف ج۳ ص۴۲۷

(۴) تفسير ابي السعود ج۷ ص۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې تفسیر سره ذکر شوې جمله د ﴿ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ ﴾ د جملې دپاره تاکید واقع کېږي چې هر شی ته الله ﷻ وجود ورکوي او بندګان کوم شي ته وجود نه شي ورکولی.

ج: د ﴿ ٱلۡخِيَرَةُ ﴾ کلمه د "اختیار" دوهمه معنی ورکوي او د "ما" توری د نفي دپاره دی. یعنې بندګان حق نه لري چې په مخلوقاتوکښې یوه ته په بل باندې بهتري ورکړي، دا کار صرف الله ﷻ پورې اختصاص لري.

په دې تفسیر سره دا جمله د "يَخۡتَارُ" دجملې مضمون تاکیدوي او د مشرکانو کړنلاره ردوي چې خپلو بوتانو (باطلو معبودانو) ته يې په معبودیت او شفاعتګرۍ سره په نورو مخلوقاتو باندې بهتري ورکړې وه.

همدارنګه د مشرکانو هغه اعتراض هم پکښې جوابېږي کوم چې الله ﷻ د هغوی د خولو څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ﴾ [الزخرف:۳۱] یعنې دغه قران ولې د دغو دوه وو ښارونو (مکه او طائف) څخه په یوه لوی سړي (لوی مشر) باندې نازل نه شو، (که بالفرض دا حقاني کتاب وي نو دغسې کار به شوی وی).

مونږ ته همدغه دریم تفسیر په زړه پورې برېښي چې د سباق او سیاق (وړاندې ورسته) سره ډېر ښه پیوند اخلي، او ځینو علماوو کرامو ډېر ښه تشریح کړی دی[۱]، نو که د چا زیات تفصیل ته زړه نه په تنګېږي نو هملته دې مراجعه وکړي.

## یادونه

۳ـ که څوک غواړي چې د هغو شیانو څه مثالونه د نظره تېر کړي کومو ته چې الله ﷻ بهتري ورکړې ده نو ځینو اوږدو تفاسیرو ته دې مراجعه وکړي[۲] چې ډېر ښه تفصیل یې ورکړی دی، الله ﷻ دې ورته اجرونه ورکړي.

## د استخارې ارشاد

۴ـ ایت شریف مونږ ته دا ارشاد کوي چې په کارونو کښې استخاره وکړو او د الله ﷻ څخه پکښې خیر وغواړو. په کار کښې د خیر غوښتلو طریقه په لاندې ټکو کښې واضحه کېږي:

الف: څوک چې د یو کار د کولو اراده وکړي نو باید چې دوه رکعته نفلي لمونځ وکړي او بیا د استخارې دعاء ولولي، لکه چې نبي کریم ﷺ په صحابه وو کرامو ؓ ته همدغسې توصیه کوله[۳].

ب: د استخارې دعاء په هغو کارونو پورې ځانګړې نه ده چې په کولو کښې یې د خیر طرف شکي او یا مرجوح وي. نو په کار دي چې د هغو کارونو په هکله هم استخاره وکړی شي د کومو د خیر طرف چې راجح وي او یا پکښې یقیني وي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۱۰۳
(۲) تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۲۲
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۱۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې مضمون باندې يو حديث شريف ډېره ښه رڼا اچوي چې: كله چې زينب بنت جحش رضي الله عنها ته زيد ﷺ طلاق وركړ او عدت يې ختم شو نو نبي كريم ﷺ ورته همدغه زيد ﷺ د قاصد په حيث ورولېږه ترڅو د هغه ﷺ سره نكاح وكړي او په أمهات المؤمنين كښې خپل ځان شامل كړي.

د بلنې په جواب كښې هغې رضي الله عنها وويلې چې: «مَا أَنَا بِصَانِعَةٍ شَيْئًا حَتّى أُوَامِرَ رَبِّي. فَقَامَتْ إِلَى مَسْجِدِهَا»[۱] يعنې زه تر هغه د يو شي كوونكې نه يم ترڅو چې د خپل رب ﷺ سره مشوره وكړم. نو سمدستي د خپل كور جومات ته پورته شوه چې دوه ركعته لمونځ وكړي او د استخارې دعاء ولولي.

نو د استخارې څخه وروسته يې قاصد (خپل پخواني مېړه زيد ﷺ) ته د "هو" جواب وركړ، همدې قيصې ته په [الأحزاب:۳۷] ايت كښې اشاره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

ج: د استخارې دعاء دا ده چې: «اللّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ. اللّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي _أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ_ فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ. وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي _أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ_ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ»[۲].

د: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي «فَيُسَمِّيهِ»[۳] يعنې استخاره كوونكې چې په «هَذَا الأَمْرَ» سره هر كار ته اشاره كوي نو هغه دې په نامه باندې ياد كړي، چې زه په دغه كار كښې د خير غوښتنه كوم.

## سوال جواب

ه: كه څوك وايي چې په ذكره شوې دعاء كښې په دوه ځايونو كښې راوي شك كړى دى چې په دواړو ځايونو كښې يې ورته په «أَوْ قَالَ» سره اشاره كړې ده، نو پوښتنه دا ده چې: استخاره كوونكې بايد څرنګه تلفظ وكړي ترڅو د شك څخه بهر شي؟

مونږ وايو چې: بايد نوموړى په لاندې دوه وو طريقو سره خپل ځان د شك څخه وباسي:

اول: چې په دواړو ځايونو كښې د «أَوْ قَالَ» په كلماتو باندې تلفظ ونه كړي او وړاندې ېږته كلمات مجموعًا ولولي او داسې ووايي چې: "...اللّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ... وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ...".

خينو مفسرينو كرامو ذكره شوې دعاء په همدغه شكل سره روايت كړې هم ده[۴].

---

(۱) صحيح مسلم ج۱ص۴۶۱
(۲) صحيح البخاري ج۱ ص۱۵۶، ج۲ ص۹۴۴، ۱۰۹۹
(۳) سنن ابن ماجه ص۹۸
(۴) الدر المنثور ج۶ ص۴۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: په دې طريقې کښې هم په دواړو خايونو کښې د «أَوْ قَالَ» کلمات د تلفظ څخه وغورځوي خو بيا يو خل د «أَوْ قَالَ» څخه وړاندې کلمات ولولي او بل خل د «أَوْ قَالَ» څخه وروسته کلمات ولولي، مثلاً ووايي چې: "... اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي" او بيا ووايي چې: "اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ..." تر آخره پورې.

همدغه ډول ته د صحيح البخاري ځينو حواشيو اشاره کړې ده[۱].

و: په کار ده چې ذکره شوې دعاء درې کرته ولولي لکه چې عبد الله بن زبير ﷺ کله غوښتل چې کعبه شريفه ترميمه کړي نو وبې ويلې چې: «إِنِّي مُسْتَخِيرٌ رَبِّي ثَلاثًا ثُمَّ عَازِمٌ عَلَى أَمْرِي»[۲] يعنې: يقيناً زه د خپل رب ﷻ څخه درې کرته خير غواړم (درې کرته د استخارې دعاء لولم) بيا په خپل کار باندې بريد کوونکی (شروع کوونکی) يم.

ز: په دې مقام کښې ځينو مفسرينو کرامو څه نور معلومات هم ليکلي دي[۳] هغه دا چې:

اول: بايد ذکره شوې دعاء اوه کرته ولوستله شي؛ هغوی په همدې هکله يو حديث هم رانقل کړی دی، خو مونږ د احاديثو په کتابونو کښې تر اوسه پورې نه دی موندلی.

دوهم: بايد د دوه رکعته نفلي لمانځه په لومړي رکعت کښې ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ سورت او په دوهم رکعت کښې د ﴿ قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴾ سورت ولولي.

دريم: ځينې علماء کرام وايي چې بايد په لومړني رکعت کښې دغه ايت ولولي: ﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ﴾ الآية په کوم کښې چې بحث روان دی، او په دوهم رکعت کښې دا ايت قرائت کړي چې: ﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ ﴾ [الأحزاب:۳۶].

زمونږ په فکر که په دغو دواړو قولونو باندې عمل وکړی شي نو ښه به وي، داسې چې په لومړي رکعت کښې د ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴾ سورت سره همدغه ايت يو خای کړي په کوم چې بحث روان دی او په دوهم رکعت کښې د "إخلاص" سورت سره د "الأحزاب" ايت ملګری کړي.

څلورم: د استخارې کولو څخه وروسته بايد سړی خپل زړه ته وګوري چې کوم لور ته مايل دی، هر طرف ته چې مايل وي نو -إن شاء الله ﷻ- په همغه طرف کښې خير دی.

ح: په خلکو کښې دا غلطه خبره مشهوره ده چې د استخارې کولو څخه وروسته بايد سړی ويده شي ترڅو ورته په خوب کښې معلومات ورکړی شي چې په کوم طرف اقدام وکړي.

زمونږ په فکر د زړه ميلان هم چندان اعتبار نه لري بلکې الله ﷻ ته اميد دی چې بهتر لوری به ورته اسان کړي او خنډونه به يې د مخې لرې کړي او بالمقابل په غير بهتر لوري کښې به ورته خنډونه او موانع پيدا کړي.

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۹۴۴
(۲) صحيح مسلم ج۱ ص۴۳۰
(۳) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۳۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لنډه دا چې د استخارې کولو څخه وروسته باید سړی په اطمنان او ډاډ سره په معهود کار باندې اقدام وکړي إن شاء الله ﷻ چې په همدغه کار کښې به نا امیده نه شي. د همدې کبله نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «مِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ اسْتِخَارَتُهُ الله... وَمِنْ شِقْوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللهِ»[1] يعنې د بنيادم د نېکبختی څخه دا ده چې د الله ﷻ څخه د خير غوښتنه وکړي، او بالمقابل د بنيادم د بدبختی څخه دا ده چې د الله ﷻ څخه د خير غوښتنه پرېږدي.

﴿ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمُ ٱلنَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ مَنْ إِلَـٰهٌ غَيْرُ ٱللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ ۖ أَفَلَا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾ ﴾

[۷۱] (اې پيغمبره!) ته ورته ووايه چې: تاسو ماته خبر راکړئ، که (بالفرض) الله ﷻ په تاسو باندې د قيامت تر ورځې پورې شپه دائمه (همېشه) وګرځوي، نو داسې معبود څوک دی چې د الله ﷻ څخه په غير تاسو ته رڼا (ورځ) راولي؟

ايا نو تاسو (د وحدانيت دلايل) نه اورئ؟

[۷۲] (دا هم ورته) ووايه چې: تاسو ماته خبر راکړئ، که (بالفرص) الله ﷻ په تاسو باندې تر قيامت د ورځې پورې ورځ دائمه (همېشه) وګرځوي، نو داسې معبود څوک دی چې د الله ﷻ څخه په غير تاسو ته داسې شپه راولي چې تاسو پکښې ارام وکړئ؟.

ايا نو تاسو (د الله ﷻ د قدرت دلايل) نه ګورئ؟ (او خانونه مو ورباندې تپ ړانده اچولي دي).

[۷۳] او الله ﷻ د خپل رحمت د کبله ستاسو دپاره شپه او ورځ د دې دپاره ګرځولي (پيدا) کړي دي چې په شپه کښې ارام وکړئ او (په ورځ کښې) د الله ﷻ فضل (حلال مال) ولټوئ (کار او کسب وکړئ)، او (بل د دې دپاره چې) شايد تاسو شکر وکړئ (او د خپل رب ﷻ پيغمبر ومنئ).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې دا مضمون شامل وه چې ټول حمدونه په دنيا او آخرت کښې په الله ﷻ پورې اختصاص لري، د دې ايتونو مضمون دا دی چې ټول شکرونه هم په همده ﷻ پورې مختص دي. نو د مطلب خلاصه يې داسې راځېږي چې:

[1] مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۳۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! خپل امت ته د الله ﷻ نعمتونه وریه یاد کړه او ورته ووایه چې:

۱ـ تاسو ماته خبر راکړئ چې:

که بالفرض الله ﷻ په تاسو باندې شپه دوامداره وګرځوي او آن د قیامت تر ورځې پورې یې اوږده کړي چې بالکل دریاندې لمر راونه خېژوي، نو په دغه صورت کښې د الله ﷻ څخه په غیر بل کوم معبود دی چې په تاسو باندې رڼا راولي او توره شپه دریاندې روښانه کړي؟

پوره واضحه ده چې دا کار د بل هیڅ معبود د لاسه پوره نه دی، نو ایا تاسو اوس هم د الله ﷻ د وحدانیت دلایل نه اورئ؟

۲ـ ای پیغمبره! دا هم ورته ووایه چې تاسو ماته خبر راکړئ چې:

که بالفرض الله ﷻ ـبالعکسـ په تاسو باندې ورځ تر قیامته پورې اوږده کړي چې لمر ته بالکل غروب ورنه کړي او په دوامداره توګه یې درته په سرونو باندې وچورلوي، نو په دغه صورت کښې د الله ﷻ څخه په غیر بل کوم معبود شته چې په تاسو باندې شپه راولي او لمر ته غروب ورکړي ترڅو تاسو پکښې ارام وکړئ او خپله دمه پکښې جوړه کړئ؟

پوره څرګنده ده چې دلته هم جواب منفي دی او هیڅوک او ستاسو هیڅ معبود به دریاندې شپه رانه وستلی شي، نو ایا تاسو اوس هم د الله ﷻ د کامل قدرت دلایلو ته نه ګورئ او خپل ځانونه مو وریاندې تېې رانده اچولي دي.

۳ـ لنډه دا چې الله ﷻ د خپل لوی رحمت د پلوه ستاسو دپاره شپه او ورځ پیدا کړي دي چې وار په وار دریاندې تېرېږي او راتېرېږي، ترڅو په شپه کښې ارام وکړئ او په ورځ کښې د الله ﷻ فضل ولټوئ او د حلال رزق د کسب کولو دپاره په هڅه کښې شئ.

په تاسو باندې د الله ﷻ نعمتونه دومره ډېر او زیات دي چې تاسو یې د شمېر لاندې نه شئ راوستلی، خو د دغو دوه وو لویو نعمتونو ذکر تاسو ته د دې دپاره وکړی شو چې د همدغو دوه وو نعمتونو شکریه هم د ایمان راوړلو دپاره کفایت کوي، نو تاسو ته په کار دي چې د الله ﷻ نعمتونه هېر نه کړئ او په سوچه عبادت سره یې یاد کړئ.

## توضیحات

۱ـ د ﴿أَرَءَيۡتُمۡ﴾ کلمه د "أخبروني" معنی ورکوي[1] چې څه تحلیل یې د [الأنعام: ۴۰] ایت لاندې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ والمنة.

## سَرۡمَد څه معنی؟

۲ـ که څه هم په دوارو ایتونو کښې د ﴿سَرۡمَدًا﴾ کلمه ځینو مفسرینو کرامو تحلیله کړې ده چې د "م" توری پکښې زائد دی او اصلي حرفونه یې "س، ر، د" دي چې د پیوستون او عدم انقطاع

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۱۰۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معنی ورکوي[۱]، مګر مونږ ته د أهل اللغة قول بهتر برېښي چې نومورې کلمه د زمانې همېشوالي وضعه شوې ده برابره خبره ده چې شپه وي او که ورځ[۲].

## یو نحوي تحلیل

۳ـ د دواړو ایتونو په ﴿ مَنۡ إِلَٰهٌ غَيۡرُ ٱللَّهِ يَأۡتِيكُم ﴾ کلماتو کښې نحوي تحلیل په لاندې ډول دی:

الف: د "مَنۡ" کلمه مبتدأ ده.

ب: د ﴿ إِلَٰه ﴾ کلمه موصوفه ده، چې یو صفت یې د ﴿ غَيۡرُ ٱللَّهِ ﴾ کلمه ده او بل صفت یې د خپلو متعلقاتو سره د ﴿ يَأۡتِيكُم ﴾ جمله ده.

ج: موصوف د دواړو صفتونو سره د مبتدأ خبر دی.

نو د معنی معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای کفارو! د الله ﷻ څخه په غیر ستاسو په معبودانو کښې هغه کوم یو معبود دی چې د دائمي شپې په صورت کښې درباندې رڼا راولي او یا د دائمي ورځې په صورت کښې درباندې شپه راولي؟

﴿ وَيَوۡمَ يُنَادِيهِمۡ فَيَقُولُ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمۡ تَزۡعُمُونَ ۝٧٤ وَنَزَعۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا فَقُلۡنَا هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ فَعَلِمُوٓاْ أَنَّ ٱلۡحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ۝٧٥ ﴾

[۷۴] او (ای پیغمبره!) هغه ورځ (وریاده کړه) چې کله الله ﷻ (بالذات یا بالواسطه) مشرکانو ته (د ټولو خلکو په وړاندې) اواز وکړي نو (ورته) ووایي چې: زما هغه شریکان (نن ورځ) چرته دي (په کومو باندې) چې تاسو (په دنیا کښې) ګومان کاوه (چې زما سره په عبادت کښې برخوال دي)؟

[۷۵] او مونږ به (په دغې ورځ کښې) د هر ټولګي څخه شاهد (د هغوی پیغمبر) راوباسو، نو (بیا به مشرکانو ته) ووایو چې تاسو (په خپلو شرکیاتو باندې) خپل برهان (او دلیل) راوړئ.

نو دوی به (هلته) پوه شي چې یقینًا (په الوهیت کښې) حق خاص الله ﷻ لره دی، او د دوی څخه به هغه بوتان (د کومکیانو په حیث) ورک شي کوم چې دوی به (په دنیا کښې) په دروغو جوړول (چې دا په الوهیت کښې شریکان دي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د هغو پوښتنو ذکر وه د کومو د جواب څخه چې مشرکان په دنیا کښې عاجزان دي، په دې ایتونو کښې د هغې پوښتنې ذکر دی د کومې د جواب څخه به چې هغوی

(۱) البحر المحیط ج۸ ص۳۲۱؛ تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۲۸؛ حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۳ ص۵۲۰
(۲) لسان العرب ج۳ ص۲۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د قیامت په ورځ عاجزان وګرځي. نو حاصل يې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د کفارو څه نور اُخروي حالات هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ ـ ورته یاده کړه چې الله ﷻ به د قیامت په ورځ د کفارو څخه پوښتنه وکړي او ورته وبه وايي چې: ای کفارو! نن ورځ زما هغه د عبادت شریکان چرته دي په کومو باندې چې تاسو په دنیا کښې ګومان کاوه؟

نو هغوی به د ذکرې شوې پوښتنې په وړاندې هک پک ودرېږي، نه به د خپلې ادعاء دپاره کوم دلیل په لاس کښې لري او نه به وربانديې کوم شاهد تېرولی شي، نو د انکار څخه پرته به بله لاره ونه لري خو انکار به هم ورته څه په ګټه تمام نه شي او خپل اندامونه به يې انکار تکذیب کړي.

۲ ـ په عین حال کښې به مونږ د هر امت څخه د هغوی پیغمبر د شاهد په حیث راوباسو او په هغوی به شاهدي ورکړي چې مونږ ورته الهي ارشادات رسولي وه خو هغوی وربانديې کافر پاتې شوي وه.

۳ ـ نو یو ځل بیا به مونږ کفارو ته ووایو چې: کله تاسو ته هم په اثبات ورسېدله چې یقیناً تاسو زمونږ د حقې لارې په مقابل کښې بله لاره غوره کړې وه او د عبادت دپاره مو بوتان درولي وه، نو هلئ ژر شئ د خپلې کړنلارې د اثبات او حقانیت دپاره خپل دلیل او برهان وړاندې کړئ!

۴ ـ نو هلته به کفار متیقن شي او په داسې پوهه باندې به پوه شي چې انکار به ورسره نه شي یوځای کولی، نو نتیجه به يې داسې راوځېږي چې:

الف: بې شکه حق الله ﷻ لره دی، د همده ﷻ وینا حقه ده، او مونږ په دروغو روان وو (د الوهیت حق په همده ﷻ پورې اختصاص لري او بس).

ب: د کفارو څخه به هغه ټول دروغ ورک شي او هیڅ ګټه به ورته ونه شي رسولی کوم چې نن ورځ ذوی لګیا دي چې جوړوي يې، او خپلو ځانونو ته وربانديې اطمنان ورکوي.

## توضیحات

۱ ـ که څوک وايي چې: د ﴿ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ﴾ الآیة غوندې یو ایت لږ وړاندې په [۶۷] ایت کښې تېر شوی دی، نو ایا دا تکراري نزول نه دی؟

مونږ وایو چې: که څه هم د دواړو ایتونو په کلماتو او حروفونو کښې څه فرق نشته او ظاهراً تکرار برېښي خو په حقیقت کښې تکرار نه دی بلکې د دواړو أیتونو فرق ته د دواړو د ارتباط په وجوهو کښې اشارې شوې دي، هغه دا چې:

هلته د مشرکانو په خجالت او سپکاوي کښې خبره راراونه وه حتی د قیامت په ورځ به ورته په همدې منظور د ﴿ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ﴾ خطاب متوجه کړی شي. او دلته د هغوی د حجت د نه درلودلو موضوع مطرحه ده چې په همدې لحاظ به د قیامت په ورځ هم په ﴿ أَيۡنَ شُرَكَآءِيَ ﴾ سره مخاطب وګرځولی شي، بلکې په صراحت سره به ورته وویلی شي چې: ﴿ هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ ﴾ یعنې که تاسو د خپلو شرکیاتو دپاره څه حجت لرئ نو راوړاندې يې کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۲ـ په ﴿ وَنَزَعْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا ﴾ کښې د "شهید" کلمه د الله ﷻ په توفیق د [هود:۱۸] ایت لاندې پوره شرحه شوې ده، خو په دې مقام کښې علماء کرام وایي چې ذکره شوې کلمه د هر امت د پیغمبر څخه عبارت ده[۱]. یعنې برسېره په دې چې مشرکان به د قیامت په ورځ د خپلو ځانونو د نجات دپاره څه برهان ونه لري خو سره د دې به په هرې ډلې باندې خپل‌خپل پیغمبر ﷺ د شاهد په توګه هم شهادت ورکړي، چې ما ورته د احکامو ابلاغ کړی دی خو دوی په کفر کلک وه.

﴿ إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ مِنَ ٱلْكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِٱلْعُصْبَةِ أُو۟لِى ٱلْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُۥ قَوْمُهُۥ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾ وَٱبْتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ ۖ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ۖ وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ ۖ وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ فِى ٱلْأَرْضِ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٧٧﴾ قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِىٓ ۚ أَوَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَهْلَكَ مِن قَبْلِهِۦ مِنَ ٱلْقُرُونِ مَنْ هُوَ أَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَأَكْثَرُ جَمْعًا ۚ وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾ ﴾

[۷٦] یقینًا قارون د موسی ؑ د قوم (بني اسرائیلو) څخه وه، نو په دوی باندې یې تېری وکړ، او مونږ نوموړي ته د ګڼو خزانو څخه هومره ورکړې وې چې یقینًا د هغو کلیګانو د قوت خاوند ټولګي ته میلان ورکاوه (چې سقوط ورکړي، ورباندې درنبدلې).

(ته) هغه وخت (یاد کړه) چې کله ورته خپل قوم وویلې چې:

(ای قارونه! د خزانو په ډېروالي دومره) مه خوشالېږه (چې آخرت درڅخه هېر شي) یقینًا الله ﷻ (دغسې) خوشالي کوونکی نه خوښوي.

[۷۷] او ته په هغو (مالونو) کښې وروستنی کور ولټوه کوم چې الله ﷻ تاته درکړي دي (ثوابونه ورباندې وګټه). او ته د دنیا څخه خپله برخه مه هېروه (کومه چې ستا په آخرت کښې په درد خوري) او (د الله ﷻ د مخلوق سره) احسان کوه لکه څنګه چې الله ﷻ ستا سره احسان کړی دی. او ته په ځمکه کښې فساد مه کوه، یقینًا چې الله ﷻ فساد خوروونکي نه خوښوي.

[۷۸] قارون (د خپل قوم په جواب کښې) وویلې چې: یقینًا کوم شی چې ماته راکړی شوی دی هغه د داسې علم په بنیاد (ولاړ) دی کوم چې زما په نزد دی (د کوم چې زه درلودونکی یم (او یا هغه زما په نظر د الهي علم په بنیاد راکړی شوی دی چې زه یې لیاقت لرم).

---

[۱] تفسیر الطبري ج۲۰ ص۱۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ای پیغمبره!) ایا (نوموړي دغسې جواب وکړ) او نه پوهېده چې یقینًا الله ﷻ د ده څخه وړاندې د پېړیو څخه هغه څوک هلاک کړي دي کوم چې د نوموړي څخه د قوت د حیثه کلک وه او د مالونو د جمعه کولو د حیثه ترې زښت زیات وه.

او (ای پیغمبره!) د (ذکرو شوو په غضب سره هلاکو شوو) مجرمانو څخه به (د قیامت په ورځ) د دوی د ګناهونو په باب پوښتنه ونه کړی شي (او په دوزخ کښې به وروغورځولی شي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

مونږ د الله ﷻ په توفیق د دې سورت (القَصص) په سریزه کښې لیکلي دي چې په دې سورت کښې دوه قیصو ته اشاره شوې ده، چې یوه د حکومتي سلطي قیصه ده لکه د فرعون، او بله د مالي سلطې قیصه ده لکه د قارون؛ دغه دواړه ډوله سلطې د الله ﷻ د قدرت مخنیوی نه شي کولی او خپلو خاوندانو ته د الهي عذاب څخه نجات نه شي ورکولی.

د سورت د پیل څخه تر وړاندېنیو ایتونو پورې د فرعوني سلطې او د نورو مربوطاتو بیان ختم شو نو په دې ایتونو کښې د قارون د مالي سلطې بیان پیل شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! لکه څنګه چې فرعون ته خپلې حکومتي سلطې او قوت څه ګټه ونه شوه رسولی، همدارنګه مالي سلطه او د مال ډېروالی هم چاته په ګټه نه تمامېږي چې د الله ﷻ د عذاب مخه ترې واړوي، نو د مثال په توګه په خپل اُمت باندې د قارون قیصه په لنډه توګه قرائت کړه چې ځیني مهم ټکي یې دا دي:

۱_ قارون بل څوک نه وه بلکې د موسی ﷺ د قومیانو څخه وه، هغه ته په کار وه چې د هر چا څخه وړاندې یې ورته اطاعت کړی وی او افتخار یې حاصل کړی وی.

خو نوموړی په موسی ﷺ باندې لا څه چې په خپل ټول قوم باندې یې هم بغاوت وکړ او ټول یې حقیر او سپک وګڼل، چې زه ډېر مالونه لرم او تاسو زما سره سیالي نه شئ کولی.

۲_ د بغاوت او تکبر وجه یې دا وه چې:

الف: مونږ نوموړي ته دومره ډېره شتمني ورکړې وه چې زښتې ډېرې کوټې او تحویلخانې وریاندې ډکې وې، او ټولې قلف او مهرولاک وې.

ب: آن تر دې چې د تحویلخانو کلیګانې یې په یوه غټ قوتناک ټولګي باندې درنېدلې او نژدې وې چې هغوی یې اوچتې نه شي کړی.

۳_ نوموړي ته موسی ﷺ لا څه چې خپل قوم هم نصیحتونه وکړه او د تکبر او بغاوت څخه یې منعه کړ چې:

الف: ای قارونه! په خپلو شتمنیو او مالونو باندې دومره خوشالي مه کوه چې الله ﷻ درڅخه هېر شي او د ده ﷻ په مخلوق باندې بلکې په خپل قوم باندې تکبر وکړې او هغوی حقیر او سپک وګڼې. یقینًا الله ﷻ دغه ډول خوشالي کوونکي نه خوښوي چې د شکر په عوض تکبر او

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بغاوت کوي، نو د الله ﷻ د غضبه وړ شه.

ب: کومه شتمنۍ چې الله ﷻ تاته درکړې ده د هغې په ذریعه آخرت وګټه، او د وروستني کور غم وخوره، نو د الله ﷻ په لاره کښې یې ولګوه او فقیرانو ته خیراتونه ورکړه ترڅو ستا دپاره د آخرت زخیره او پانګه وګرځي.

ج: ته د دنیا څخه خپله برخه مه هېروه، په دنیا کښې ستا برخه فقط هغه ده چې یا یې د آخرت دپاره انفاق کړې او د الله ﷻ رضامندي وربانديې حاصله کړې، او یا یې وخورې او په خپل ځان او خپل عیال باندې یې په مشروعه طریقه مصرف کړې.

د دغو دواړو ډولونو څخه په غیر نوره شتمني ستا برخه نه ده بلکې ستا د وارثانو برخه ده چې هغوی ته به د میراث په توګه پاتې شي.

د: ته په خپل مالي قوت سره د الله ﷻ د مخلوق سره ښېګڼې وکړه لکه څنګه چې الله ﷻ ستا سره احسان کړی دی او د نورو خلکو په نسبت یې ډېره شتمنې درکړې ده، الله ﷻ ته لکه څنګه چې ورکول اسان دي همدارنګه بېرته اخستل هم ورته کوم مشکل کار نه دی.

هـ: بالآخره ته د خپلې شمتنۍ په ذریعه په ځمکه کښې فساد مه کوه چې تکبر او بغاوت ته پکښې ادامه ورکړې، او دا خکه چې الله ﷻ مفسدان نه خوښوي.

۴ـ قارون د خپل قوم خواخوږي او نصیحتونه رد کړه چې: زما کړنلاره الله ﷻ ته معلومه ده، نو کله یې چې د خپل علم سره‌سره ماته پرېمانه شتمني راکړې ده نو څرګنده شوه چې الله ﷻ زما څخه راضي دی او زما کړنلاره ورته مقبوله ده؛ بلکې زه د شتمنیو په راغونډولو کښې هغه لیاقت او پوهه لرم کومه چې د بل چا سره نشته.

تاسو خپل نصیحتونه بېرته واخلئ؛ زه د خپلې تګلارې بدلوونکی نه یم، زه به هیڅکله د الله ﷻ د غضب لاندې واقع نه شم.

۵ـ ای پیغمبره! قارون د خپل قوم نصائح رد کړه، ایا په دغه حال کښې نوموړی نه پوهېده چې: یقینًا الله ﷻ د قارون څخه وړاندې د ډېرو پېړیو کفار او ناشکران هلاک کړي دي، حال دا چې هغوی د قارون څخه هم د قوت او پیروانو د حیثه زیات وه او هم یې د نوموړي څخه مالونه او شتمنۍ ډېرې راغونډې کړې وې خو کله چې الله ﷻ ورته په غضب شو نو نه ورته قوت ګټه ورسولی شوه او نه ورته شتمنیو نجات ورکړی شو.

یا په بل عبارت: که بالفرض د قوت زیادت او د شتمنیو کثرت د الله ﷻ د رضامندۍ نښه وی نو ذکر شوي قومونه او پېړۍ به الله ﷻ په غضب سره نه وی هلاکې کړی، او نه به یې د هغوی نوغې ویستلې وی.

۶ـ ای پیغمبره! که څه هم د پخوانیو هلاکو شوو پېړیو دنیاوي عذاب په هلاک سره اختتام وموند مګر همدغه ډول هلاک د اُخروي عذاب د اثبات دپاره ښه پیاوړې دلیل وګرځېد.

د همدې کبله به هلته مجرمان او جنایتکاران دوزخ ته ورواچولی شي حال دا چې د جنایاتو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پوښتنه به یې د اثبات پاره هیڅ صورت ونه نیسي، چې په دنیاوي عذاب سره په ثبوت رسېدلی دی. هو! که د تهدید دپاره وپوښتلی شي نو هغه بېله خبره ده.

## توضیحات

۱_ په ﴿ إِنَّ قَـٰرُونَ كَانَ مِن قَوۡمِ مُوسَىٰ ﴾ کښې د ﴿ مِن قَوۡمِ مُوسَىٰ ﴾ کلمات ناطق دي چې قارون د موسی ﷺ د قوم (بني اسرائیلو) څخه وه، پاتې شوه دا خبره چې د موسی ﷺ سره یې د قرابت څه اړیکه درلوده؟ نو په دې کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[۱]، خو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په شمول د اکثرو علماوو په نزد نومړی د موسی ﷺ د تره زوی کېده[۲].

## د څو لغاتو معناوې

۲_ په ﴿ إِنَّ قَـٰرُونَ ﴾ الآیة کښې د لاندې لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ فَبَغَىٰ عَلَيۡهِمۡ ﴾ کښې د "بَغَى" کلمه د "بَغْي" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د حد څخه د تجاوز معنی ورکوي[۳]، او د قارون په متعددو حالاتو باندې صادقېږي[۴] لکه:

اول: قارون په خپلو قومیانو باندې تکبر کاوه او په سپک نظر یې ورته کتل.

دوهم: نومړي وریاندې ظلم کاوه او هغه حقوق یې نه ورکول کوم چې الله ﷻ د هغه په شمتني کښې ورته فرض کړي وه.

دریم: نومړي به خپل قومیان په تنګ لاسی او فقر سره کنځل او داسې نور.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: قارون د موسی ﷺ د قوم څخه وه لکه څنګه چې د مکې قریش د نبي کریم ﷺ د قوم څخه دي، نومړي به وریاندې تېری کاوه لکه چې مکیان او قریش په مسلمانانو باندې تېری کوي او په نبي کریم ﷺ باندې ایمان نه راوړي.

نو لکه څنګه چې قارون ته مالي قوت او د موسی ﷺ قرابت د الهي عذاب څخه نجات ورنه کړی شو همدارنګه به مکیانو ته مالي قوت او د نبي کریم ﷺ سره قرابت د الهي عذاب څخه نجات ورنه کړی شي. لکه څنګه چې هغوی ته خپل اسراف د هلاکت سبب جوړ شو همدارنګه به دوی ته هم د حد څخه تجاوز کول د هلاکت سبب وګرځي، نو دوی ته په کار دي چې د هغوی څخه عبرت واخلي.

ب: په ﴿ مِنَ ٱلۡكُنُوزِ ﴾ کښې د "كُنُوز" کلمه د "كَنْز" جمعه ده، د الله ﷻ په توفیق د "كَنْز" شرحه د [التوبة: ۳۴] ایت لاندې تېره شوې ده چې د مالونو هغې مجموعې ته وضعه شوې ده کومه چې د حاجت څخه اضافه وي. نو ذکره شوې کلمه د مالونو د متعددو او مختلفو مجموعاتو معنی ورکوي.

ج: په ﴿ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ ﴾ کښې د "مَفَاتِح" کلمه _لکه څنګه چې د [الأنعام: ۵۹] ایت لاندې د الله ﷻ

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۱۱۱
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۹۸
(۳) مفردات الراغب ص۵۳؛ لسان العرب ج۱۴ ص۷۸
(۴) البحر المحیط ج۸ ص۴۲۳؛ زاد المسیر ج۶ ص۱۱۱؛ التفسیر الکبیر ج۲۵ ص۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په توفیق شرحه شوې ده_ لاندې دوه احتماله لري:

اول: چې د "مَفتَحٌ" _لکه "مَقْتَلٌ"_ جمعه شي نو د خزانو معنی به ورکړي.

دوهم: چې "مِفتَحٌ" _لکه "مِمْبَرٌ"_ جمعه وګڼله شي نو د کلیګانو معنی به ورکړي.

په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو د اولنۍ معنی اراده کول بهتر ګڼلي دي[۱] او ځینو ته دوهمه معنی ښه ښکاره شوې ده[۲]، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

د: په ﴿ لَتَنُوٓأُ ﴾ کښې د "تَنُوءُ" کلمه د "نَوْء" _لکه "قَوْل"_ څخه اشتقاقه شوې ده چې متعددې معناوې لري، خو یوه معنی یې بل شي ته میلان ورکول او غورځولو ته ورنږدې کول دي[۳]، چې په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده.

هـ: په ﴿ بِٱلْعُصْبَةِ ﴾ کښې د "عُصْبَة" کلمه وړاندې د [یوسف:۸] ایت لاندې د الله ﷻ په توفیق شرحه شوې ده چې د یوې پیاوړې ډلې معنی ورکوي؛ خو د افرادو په تعداد کښې یې اختلاف دی، ځینو یې تعداد تر څلوېښتو نفرو پورې ښودلی دی او ځینې وایي چې افراد یې اویا نفره دي[۴]. احتمال لري چې د مقام د غوښتنې په لحاظ به دلته همدغه اویا نفري ډله مراد وي، والله ﷻ أعلم.

نو د معنی حاصل به یې داسې را وځېږي چې: مونږ قارون ته د مالونو د مجموعاتو څخه دومره ډېرې مختلف النوع مجموعې ورکړې وې، چې د هغو د صندوقونو کلیګانو اویا کسیزه قوتناکه ډله سقوط ته ورکړوله. یا په بل عبارت د ګلیګانو وزن یې دومره زیات وه چې ذکرې شوې ډلې په سختۍ سره اوچتولی شوې.

## سوال جواب

۳_ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا ﴾ کښې قارون ته خپل قوم د کومې برخې د نه هېرولو توصیه وکړه؟

مونږ وایو چې: ذکره شوې جمله علماوو کرامو په دوه ډوله تفسیره کړې ده، او څه لرې نه ده چې د بدلیت په اعتبار سره دواړه مراد کړی شي، هغه دا چې:

الف: ای قارونه! مونږ تاته داسې نه وایو چې ته خپله ټوله شتمني د آخرت دپاره مصرفه کړه او د دنیا څخه هیڅ څکه مه کوه، بلکې مونږ وایو چې د دنیا څخه خپله برخه هم مه هېروه چې خپل نفس او عیال هم په تا باندې حق لري، دوی ته خپل حق ورکړه.

ب: د دنیا څخه خپله هغه برخه مه هېروه کومه چې تاته په درد خوري او د مرګ څخه وروسته تاته په ګټه تمامېږي.

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۲۹۰

(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۳۹۹

(۳) القاموس المحيط ج۴ ص۴۵۵؛ لسان العرب ج۱ ص۱۷۴

(۴) تفسير البغوي ج۳ ص۴۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د قارون جواب

۴ـ قارون د خپلو قومیانو د نصائحو په مقابل کښې فقط همدومره جواب ورکړ چې: ﴿ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِيٓ ﴾؛ د دې جملې یا د دې جواب په تفسیر کښې علماوو کرامو متعدد اقوال لیکلي دي[۱] چې په لاندې دوه وو صورتونو کښې خلاصه کېږي[۲]:

الف: په ذکره شوې جمله کښې د ﴿ عِلۡمٍ ﴾ څخه د الله ﷻ علم مطلب دی او د ﴿ عِندِيٓ ﴾ کلمه په ﴿ أُوتِيتُهُۥ ﴾ پورې تعلق نیسي او د "نَظَرِيْ، عَقِيْدَتِيْ" معنی ورکوي. یعنې کومه شتمني چې ماته راکړه شوې ده زما په نظر او زما په عقیده هغه ماته د الله ﷻ د علم په بنیاد راکړه شوې ده، چې زه یې لیاقت لرم او الله ﷻ زما د کړنلارې څخه راضي دی.

ب: د ﴿ عِلۡمٍ ﴾ څخه د نوموړي خپل علم مراد وه او د ﴿ عِندِيٓ ﴾ کلمه دمتعلق په اعتبار سره د ﴿ عِلۡمٍ ﴾ صفت واقع شوې ده، یعنې کومه شتمني چې ماته راکړه شوې ده هغه د داسې علم په بنیاد ولاړه ده چې یوازې زه وریاندې موصوف یم (زما زده او د بل چا نه زده).

پاتې شوه دا خبره چې هغه کوم علم وه چې قارون ورته په خپل ځان پورې اختصاص ورکاوه؟، نو د هغه په تعین کښې علماوو کرامو ګڼ صورتونه بنودلي دي[۳]. لاندې مثالونه یې ولولئ:

اول: په بني اسرائیلو کښې په تورات باندې قارون ډېر ښه پوهېده، نوموړی د هغو اویا کسانو څخه هم وه کوم چې موسی ؑ د مناجات دپاره د طور غره ته بیولي وه[۴].

دوهم: نوموړی په تجارتي او اکتسابي علومو کښې پوره ماهر وه.

درېم: نوموړي د دفن کړې شوو خزانو په راویستلو کښې بشپړ مهارت درلود، حتی چې د یوسف ؑ دفن کړې شوې خزانې یې راویستلې وې[۵].

څلورم: د نوموړي د کیمیاء علم زده وه چې د اوسپنې او نورو فلزاتو څخه به یې سره زر او سپین زر جوړول.

## د دې ایت یو نظیر

۵ـ کوم مضمون چې الله ﷻ قارون د خولې څخه راحکایت کړی دی په هغه باندې په هره زمانه کښې ناشکره انسان قول کوي، او د خپلو شتمنیو او خوشالیو دپاره یوه بهانه او بله بهانه تراشي ترڅو د الله ﷻ د احساناتو څخه خپلې اوږې خالي کړي. الله ﷻ فرمایي: ﴿ فَإِذَا مَسَّ ٱلۡإِنسَٰنَ ضُرّٞ دَعَانَا ثُمَّ إِذَا خَوَّلۡنَٰهُ نِعۡمَةٗ مِّنَّا قَالَ إِنَّمَآ أُوتِيتُهُۥ عَلَىٰ عِلۡمٍۭ ﴾ [الزمر: ۴۹] یعنې نو کله چې انسان ته

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۱۱۲
(۲) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۹۰
(۳) التفسیر الکبیر ج۱۵ ص۱٦
(۴) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۳۱۵
(۵) روح المعاني ج۲۰ ص۱۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ضرر ورسبوي نو مونږ بلې، بيا چې کله مونږ ورته د خپله پلوه نعمت ورکړو او ضرر تري لرې کړو نو بدمستي وايي چې: يقيناً دغه نعمت ماته د علم په بنياد راکړى شوى دى، چې زه يې مستحق وم او يا يې ما د تحصيل په طريقه باندې علم درلود چې خپل ځان ته مې راجلب کړ.

## تبصره

٦ـ څه ضرورت نشته چې مونږ زيار وباسو او د قارون خبرو ته رښتياني مصداقات مونده کړو ترڅو هغه څوک د دروغو څخه بچ کړو کوم چې د موسى ﷺ نبوت دروغ ګڼي، او په الله ﷻ باندې يې د دروغو څخه ډډه نه کوله.

څه لرې نه ده چې نوموړي دخپلو ناصحانو په وړاندې په دروغو سره د مختلفو علومو دعوه کړې وي ترڅو نصائح رد کړي او د الله ﷻ د احساناتو څخه په پلمو باندې خپلې اوږې سپکې کړي، چې ماته دغه شى معلوم دى او په هغه باندې پوهېږم.

## ايا د کيمياء علم حقيقت لري؟

٧ـ د کيمياء د علم په هکله علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ويشلى شوي دي:

الف: ځينې وايي چې: دغه علم هيڅ تحقق نه شي موندلى چې په فلزاتو کښې په کسب او صنعت سره بدلون صورت ونيسي، څوک يې چې دعوه کوي هغوى ټول دروغ وايي[1]، دا علم د عنقاء مرغه په شان مفهوم لري خو مصداق يې نه پخوا تېر شوى دى او نه به په راتلونکي کښې موجود شي.

ب: ځينې نور وايي چې: دغه علم مصداق درلودلى شي او ممکنه ده چې په صنعت او کسب سره په فلزاتو کښې بدلون صورت ونيسي[2].

د کيمياء د علم په باب ځينو مفسرينو کرامو[3] ډېر اوږد بحث ليکلى دى او د نفي او اثبات دپاره يې د دواړو جانبو دلايل ذکر کړي دي، که څوک يې د لوستلو شوق لري او په عربي ژبه پوهېږي نو هملته دې مراجعه وکړي.

## په ياد ولرئ

٨ـ په ياد ولرئ چې ذکر شوي پنځه فقره ئيز نصيحت به قارون ته د خپل قوم د پلوه د هغو تېريو په مقابل کښې ورکړى شوى وي کومو ته چې الله ﷻ په ﴿ فَبَغَىٰ عَلَيۡهِمۡ ﴾ کښې اشاره کړې ده.

دا هم څه لرې نه ده چې موسى ﷺ به نوموړي ته د خپل قوم څخه د احتساب يوه جرګه ورالېږلې وي او هغوى به ورته پنځه فقره ئيز نصيحت وړاندې کړى وي، چې د همدغه ټولګي او جرګې څخه په راتلونکي ايت کښې په ﴿ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ ﴾ سره تعبير شوى دى.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۳۹۹

(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۴۵۵؛ تفسير المظهري ج۷ ص۱۸۲

(۳) روح المعاني جج ۲۰ ص۱۱۲ـ۱۲۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په هر تقدير، کله چې قارون دالله ﷻ د بندګۍ څخه خپلې اوږې خالي کړې نو خپل ځان يې د هغو ټولو مکلفيتونو څخه فارغ وګڼه کوم چې نوموړي ته په ذکر شوي پنځه فقره نيز نصيحت کښې متوجه کړی شوي وه.

## دا د قارون په جواب کښې شامل نه دی

۹_ په ايت شريف کښې په ﴿ عَلَىٰ عِلۡمٍ عِندِیٓ ﴾ باندې تام وقف دی چې د قارون جواب وربانديې اختتام مونډلی دی، او په ﴿ أَوَلَمۡ يَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ ﴾ الآية سره بل کلام پيل شوی دی چې د قارون په زيات غفلت او جهالت باندې دلالت کوي.

يا په بل عبارت: په دغه کلام سره د قارون جواب رد شوی دی چې که نوموړي علم او پوه درلودلی نو د پخوانيو هلاکو شوو قومونو څخه به يې عبرت اخستی وی، او که شتمني د الله ﷻ د رضامندۍ علامه وی نو الله ﷻ به هغوی په غضب سره نه وی هلاک کړي، خو نوموړي علم نه درلود او نه ترې الله ﷻ راضي وه، خو په دروغو يې دعوه کير وه.

## پوښتنې او جوابونه

۱۰_ په ﴿ وَلَا يُسۡـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾ کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: که څوک وايي: ظاهره دا ده چې ذکره شوې جمله د هلاکو شوو قومونو د اُخروي عذاب څخه کنايي ده او په ﴿ ذُنُوبِهِمۡ ﴾ کښې ما بعد ﴿ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾ ته ضمير راجع دی، نو اضمار قبل الذکر لازم شو چې نحويان يې نه خوښوي؟

مونږ وايو چې: د ﴿ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾ کلمه په ﴿ وَلَا يُسۡـَٔلُ ﴾ باندې مرفوعه ده او په رتبه کښې د ﴿ ذُنُوبِهِمۡ ﴾ څخه وړاندې ده که څه هم په لفظ کښې ترې وروسته ده، د دغسې اضمار قبل الذکر څخه نحويان ډډه نه کوي.

نو حاصل به داسې را وخېژي چې: د قيامت په ورځ به په الهي عذاب او غضب باندې هلاکو شوو قومونو څخه د جناياتو په هکله پوښتنه ونه کړی شي، او دا ځکه چې په غضب سره هلاکت به يې د جناياتو ثبوت وي. ته به وايې چې په دوی باندې به د (دزد با پشتاره) متل صادقېږي.

ب: که څوک وايي چې: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَقِفُوهُمۡۖ إِنَّهُم مَّسۡـُٔولُونَ ﴾ [الصافات:۲۴] يعنې اى پرښتو! کفار ودروئ چې يقيناً دوی سوال کړی شوي دي، د جناياتو په هکله ترې پوښتنې صورت نيسي، نو ايا دغه دواړه ايتونه په متناقض مضمون باندې دلالت نه کوي؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي سوال په هکله د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:۶] ايت لاندې جواب تېر شوی دی چې منفي پوښتنه د معلوماتودپاره ده او مثبته پوښتنه د تهديد او توبيخ دپاره ده، چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو خو دلته وربانديې وراضافه کوو چې: د کفارو څخه د پوښتنې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نفي او اثبات به د قيامت په ورځ د مواقفو په اعتبار سره هم صورت ونيسي، چې په ځينو کښې به پوښتلى شي او په ځينو کښې به ونه پوښتلى شي، والله ﷻ أعلم بحقيقة الحال وإليه المرجع والمآل.

﴿فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ قَالَ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا يَٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ
أُوتِىَ قَٰرُونُ إِنَّهُۥ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ ﴿٧٩﴾ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ وَيْلَكُمْ ثَوَابُ ٱللَّهِ خَيْرٌ
لِّمَنْ ءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَلَا يُلَقَّىٰهَآ إِلَّا ٱلصَّٰبِرُونَ ﴿٨٠﴾ فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ
فَمَا كَانَ لَهُۥ مِن فِئَةٍ يَنصُرُونَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُنتَصِرِينَ ﴿٨١﴾ وَأَصْبَحَ
ٱلَّذِينَ تَمَنَّوْا۟ مَكَانَهُۥ بِٱلْأَمْسِ يَقُولُونَ وَيْكَأَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ مِنْ
عِبَادِهِۦ وَيَقْدِرُ ۖ لَوْلَآ أَن مَّنَّ ٱللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا ۖ وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٨٢﴾﴾

[۷۹] نو قارون په خپل قوم باندې په خپل ډول (او سنګار) کښې ور ووت.

(نو) هغو کسانو وويلې کومو چې نژدې (حقير) ژوند اراده کاوه (او خوښاوه) چې: اى كاش! چې مونږ ته (هم) د هغو (شيانو) غوندې (شيان) وى کوم چې قارون ته ورکړى شوي دي، يقينًا قارون د لويې برخې خاوند دى.

[۸۰] او هغو کسانو وويلې کومو ته چې علم ورکړى شوى وه چې: افسوس دى تاسو لره (د قارون د مالونو ارمان مه کوئ او دا ځکه چې) د الله ﷻ اجرونه (او ثوابونه) د هغه کس دپاره ډېر غوره دي چې ايمان يې راوړى وي او صالح عمل يې کړى وي (چې دا باقي دى او هغه فاني دى.

خو) د نومورې خبرې سره نه ملاقي کېږي مګر صبر کوونکى (چې قناعت درلودونکى وي او بس).

[۸۱] نو (په نتيجه کښې) مونږ په قارون او د ده په کور سره ځمکه کښنوله (ټول مو په ځمکه کښې خسف کړه).

نو د قارون دپاره نه کوم ټولګى وه چې د الله ﷻ څخه پرته يې ورسره نصرت (او مدد) کړى وى او نه (پخپله) د انتقام اخستونکو څخه وه (چې پخپله يې خپل ځان ته نجات ورکړى وى).

[۸۲] او هغه کسان چې پرون يې د قارون د مرتبې (مقام) آرزو کوله داسې وګرځېدل چې ويلې به يې چې تعجب دى چې يقينًا الله ﷻ د خپلو بندګانو څخه هغه چاته روزي پراخه وي کومو ته يې چې اراده وشي، او (هغه چاته يې) تنګوي (کومو ته يې چې اراده وشي)، که چېرته په مونږ باندې د الله ﷻ احسان نه وى (او د قارون مقام ته يې رسولي وى) نو مونږ به يې هم (نن ورځ په ځمکه کښې خسف کړي وى.

تعجب دى چې يقينًا شان دا دى چې کافران (په دنيا او آخرت کښې) فلاح نه شي موندلى (ضرور د ناکامۍ سره مخامخ کېدونکي دي).



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د قارون د قیصې پاتې نکات ذکر شوي دي او قیصه يې پای ته رسېدلې ده، نو حاصل يې داسې راخېژي:

ای پیغمبره! اوس د قارون د قیصې انجام او نتیجه په خپل امت باندې قرائت کړه. هغه دا چې:

۱_ کله چې قارون د خپل قوم د خواخوږو خلکو نصائح رد کړه او خپل بغاوت ته يې ادامه ورکړه نو په خپل قوم باندې په ډېر زیات ډول او سنګار او کبر او غرور کښې ورووت، او د خپل بغاوت څرګندونه يې وکړه، نو د دغه حالت په لیدلو سره خلک په دوه وو ډلو باندې ووېشلی شوه چې:

الف: کومو خلکو چې دا حقیر ژوند خوښاوه نو هغوی د ډېر تاثیر لاندې واقع شوه او د قارون غوندې حال يې د خپلو ځانونو دپاره هم خوښ کړه او آرزو يې وکړه چې:

ای کاش چې مونږ هم د قارون غوندې شتمنې درلودی او لکه څنګه چې هغه ته هر ډول مالونه ورکړی شوي دي همدارنګه مونږ ته هم راکړی شوي وی. او دا څکه چې نوموړی د ډېرې لویې برخې خاوند دی او مونږ ترې محروم یاستو.

ب: بالمقابل د قارون ذکر شوي ډول او سنګار د علم په خاوندانو باندې هیڅ اثر ونه غورځاوه او خپل ثبات او استقامت يې د لاسه ورنه کړ بلکې غولېدلي او دنیا خوښوونکي ډلې ته يې داسې نصیحت وکړ چې:

اول: تاسو ته افسوس او حسرت دی چې د قارون د ډول او سنګار تر اغېز لاندې واقع شوئ او په سترګو کښې درته د لویې درلودونکی څرګند شو.

دوهم: تاسو ته څکه افسوس دی چې د قارون ډول او سنګار ټول دنیاوي حالات دي چې په نن سبا کښې د منځه تلونکي دي، د دغسې فاني حالاتو ارمان په کار نه دی، چې د الله ﷻ د اجر او رضامندۍ څخه خالي وي.

درېیم: د الله ﷻ اجر او رضامندي د هغو کسانو دپاره چې ایمان يې راوړی وي او نېک عمل يې ورسره ملګری کړی وی د قاروني حالاتو څخه ډېر بهتر دي، چې همېشه دي او د فنا لاندې نه واقع کېږي، نو په کار دي چې سړی د دغو حالاتو ارمان او اُمید وکړي. یا په بل عبارت: هغه لویه برخه نه ده بلکې دغه لویه برخه ده.

څلورم: خو دغې لویې برخې ته نه شي رسېدلی مګر هغه کسان کوم چې صبر کوونکي وي او ثبات او استقامت د لاسه ورنه کړي.

۲_ نو کله چې د قارون کبر او غرور اوج ته اوچت شو مونږ نوموړی ژوندی خسف کړ او ځمکې ښکته راښکود.

نوموړی لا څه چې د هغه کور او ښکلې ماڼۍ هم ځمکې راښکوده او خپلې ګېډې ته يې کش کړه، نو په سات ګړۍ کښې د ځمکې په مخ باندې نه قارون ولېدل شو او نه د هغه ښکلی کور او نه يې مالونه باقي پاتې شوه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳- ای پیغمبره! د خسف په وخت کښې د قارون هیڅ شی او هیڅوک په کار نه شوه، نه یې داسې کوم ټولګی ودرلودلی شو چې نوموړي ته د الله ﷻ د غضب په مقابل کښې نصرت ورکړي چې نجات یې په نصیب شي او نه یې وکړی شو چې انتقام واخلي او خپل خان د الهي عذابه بچ کړي.

۴- هو! کومو خلکو چې پرون د قارون د مقام ارمان کاوه چې کاش مونږ هم د هغه غوندې شتمني درلودی، هغوی په خپله وینا باندې پښېمانه شوه او په تعجب سره یې وویلې چې:

الف: مونږ په خپل خیال کښې خطا شوي وو چې د قارون حال مو د لویې برخې په نامه یاداوه. مونږ اوس پوه شو چې الله ﷻ دنیاوي مالونه دوست او دښمن دواړو ته ورکوي، دا خو د مراتبو د اوچتوالي دلایل نه دي.

ب: عجیبه ده چې الله ﷻ هغه چاته روزي پراخوي کوم ته یې چې اراده وشي، برابره خبره ده چې هغه یې دوست وي او که دښمن. همدارنګه د خپلې ارادې مطابق د خپلو بندګانو د جملې څخه په هغو کسانو باندې یې تنګوي کومو ته یې چې اراده وشي.

ج: نو شتمني د عزت علامه نه ده او فقیري د ذلت دلیل نه دی، بلکې الله ﷻ څوک په هغه ازمايي او څوک په دي.

د: که په مونږ باندې الله ﷻ احسان او فضل نه وی کړی او هومره شتمني یې راکړې وی څومره یې چې قارون ته ورکړې وه نو نن ورځ به یې مونږ هم په ځمکه کښې ژوندي ننویستلي وی؛ لله ﷻ الحمد والشکر چې د دغسې شتمنۍ څخه یې وساتلو او زمونږ امید یې پوره نه کړ.

ه: تعجب دی چې کفار نه شي کامیابېدلی که څه هم ډول او سنګار یې ډېر زیات شي، چې په انجام کښې د ناکامۍ سره مخامخ کېدونکي دي.

## توضیحات

۱- په ﴿ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ﴾ کښې ځینو مفسرینو کرامو د "زِینَته" کلمې په شرحه کښې دا موضوع څېړلې ده چې قارون د څومره غلامانو، څومره وینځو او څومره زیوراتو سره په خپل قوم باندې ورووتلی وه[۱]؟. مونږ ځکه دلته رانقل نه کړه چې کوم صحیح حدیث مو پکښې د نظر لاندې رانغی، که څوک یې د لوستلو تابیا لري نو هملته دې مراجعه وکړي.

## سوال جواب

۲- که څوک وايي چې: په ﴿ ٱلَّذِينَ يُرِيدُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴾ سره څوک مطلب دي؟ یا په بل عبارت: د قاروني شتمنیو ارمان مسلمانانو کړی وه او که کفارو او منافقانو؟

مونږ وایو چې:

الف: ځینې علماء کرام وايي چې دغه ارمان مؤمنانو کړی وه چې د بشري خاصیت د کبله یې

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۴۴۰؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۳۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځخه صورت نیولی وه، او یا به یې دا مطلب وه چې: ای کاش! چې مونږ د غسې شتمني درلودی چې په جهاد کښې مو مصرفه کړې وی[۱].

ب: او ځینې نور وایي چې ذکر شوی ارمان د کفارو او منافقانو ځخه حکایت شوی دی[۲]، خو د ایتونو ځخه د اول قول ترجیح ځرګندیږي او دا ځکه چې:

اول: که ذکر شوی ارمان کفارو کړی وی نو دوهمې پلې ځخه به د ﴿ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ﴾ په عوض په "أُولُوا الْإِيمَانَ" سره تعبیر شوی وی.

دوهم: که ارمان کوونکي کفار وی نو دوی به د خسف ځخه وروسته د ﴿ وَيْكَأَنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴾ کلمات نه وی ویلي، والله ﷻ أعلم.

## د قارون کور هم خسف شو

۳ـ په ﴿ فَخَسَفْنَا بِهِۦ وَبِدَارِهِ ٱلْأَرْضَ ﴾ کښې دې ته اشاره ده چې د قارون کور هم په ځمکه کښې خسف شو، چې دروازې یې د سرو زرو ځخه جوړې وې او هم یې د کور په داخل کښې سره زر فرش کړی شوي وه[۳].

علماوو کرامو د هغه د کور د خسف دوه وجې ښودلې دي ـ والله ﷻ أعلم ـ هغه دا چې:

الف: کوم خلک چې د قارون سره همعقیده وه او په فسق او فجور کښې ورسره ملګري وه هغوی په نوموړي ښایسته کور کښې استوګنه درلوده، نو الله ﷻ ورباندې کور خسف کړ او د قارون په انجام باندې یې اخته کړه[۴].

ب: د قارون د خسف ځخه وروسته به منافقانو ویلی چې موسی ﷺ غواړي چې د هغه کور په خپل تصرف کښې راولي او د میراث په توګه ورباندې قبضه وکړي چې د هغه د تره زوی دی، نو الله ﷻ درې ورځې وروسته نوموړی کور خسف کړ او د منافقانو اشتباه یې جوابه کړه[۵].

## یو لغوي تحلیل

۴ـ په ﴿ وَيْكَأَنَّ ٱللَّهَ ﴾، ﴿ وَيْكَأَنَّهُۥ ﴾ کښې علماوو کرامو د "وَيْكَأَنَّ" کلمه په ګنو طریقو سره تحلیله کړې ده چې شمېره یې تقریبًا اوو ته رسیږي[۶]، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، خو مونږ ته چې کوم تحلیل د مقام سره ښه مناسب بریښیدلی دی هغه په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو[۷].

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۱۲۲
(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۳۲
(۳) الدر المنثور ج۶ ص۴۴۱
(۴) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۱۱۶
(۵) تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۳۱۸؛ زاد المسیر ج۶ ص۱۱۵
(۶) لسان العرب ج۱۵ ص۴۱۸، القاموس المحیط ج۴ ص۶۶۵، مفردات الراغب ص۵۷۲؛ تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۲۴
(۷) روح المعاني ج۲۰ ص۱۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د "وَيْ" کلمه د تعجب او پښېمانتيا دپاره وضعه شوې ده.

ب: د "كَأَنَّ" کلمه که څه هم اصلاً د تشبيه دپاره وضعه شوې ده، خو په دې مقام کښې د تحقيق معنى ورکوي.

نو په دواړو جملو کښې به يې حاصل داسې راوخېژي چې: تعجب دی چې يقينًا الله ﷻ د خپلې ارادې مطابق د چا دپاره پراخه روزي ورکوي او په چا باندې يې تنګوي. تعجب دی چې بې شکه شان دا دی چې کفار کاميابي نه شي موندلی او آخرني نتيجه يې ناکامي ده.

## د قارون په باب څه معلومات

۵_ ځينو مفسرينو کرامو د قارون په باب زښت ډېر معلومات ليکلي دي[۱] که څوک يې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مګر مونږ ته چې د کومو معلوماتو ذکر ضروري برېښېدلی دی هغه دا دي:

الف: قارون د موسى ﷺ د نبوت څخه وړاندې هم په مصر کښې لوی سرمايه دار وه او د ټولو خلکو څخه يې غټه پانګه درلوده[۲]؛ د همدې کبله الله ﷻ نوموړی د درېوو کفري مشرانو څخه شمېرلی دی چې: ﴿ ...إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَهَـٰمَـٰنَ وَقَـٰرُونَ فَقَالُواْ سَـٰحِرٌ كَذَّابٌ ﴾ [غافر:۲۴] يعني مونږ موسى ﷺ د خپلو ځرګندو معجزاتو سره فرعون او هامان او بالآخره قارون ته لېږلی وه، ترڅو دوی درېواړه ورباندې ايمان راوړي او نور خلک د دوی پيروي وکړي؛ خو دغو درېواړو وربانديې ايمان رانه وړ او درېواړو د دروغژن او جادوګر په نامه وباله.

ب: که څوک وايي چې: د قارون د خسف واقعه په مصر کښې د فرعونيانو د غرق څخه وړاندې پېښه شوې ده او که وروسته يې د سينا په ټاپو کښې صورت نيولی دی؟

مونږ وايو چې: د [القصص:۷۸] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق ليکلی شوي دي چې قارون د تورات عالم وه، او تورات خو د فرعون د غرق څخه وروسته نازل شوی دی، او همدارنګه نوموړی د هغو اويا کسانو د ډلې څخه وه کومه چې موسى ﷺ د خپله خانه سره د طور غره ته بيولي وه. نو ذکره شوې واقعه د فرعونيانو د غرق څخه وروسته واقع شوې ده[۳].

ج: که څوک وايي چې: وړاندې تېر شوه چې قارون د کفري او شرکي مشرانو څخه وه او د فرعونيانو سره همعقيده وه، نو پوښتنه دا ده چې نوموړی څنګه د غرق څخه بچ پاتې شو، حال دا چې هلته خو يوازې مسلمانانو د غرق څخه نجات موندلی کړی وه او بس؟

مونږ وايو چې: که څه هم قارون په اولنيو وختونو کښې د کفري مشرانو څخه وه مګر په وروستنيو وختونو کښې يې په منافقت سره ايمان راوړی وه[۴]، او په همدغه ظاهري ايمان باندې د

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۴۵۶؛ تفسير الخازن ج۴ ص۵۸۴؛ تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۰۰

(۲) تفسير ابن کثير ج۴ ص۷۶

(۳) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۱۹۳

(۴) تفسير ابي السعود ج۷ ص۲۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



غرق څخه بچ شو، لکه څنګه چې سامري ته همدغه ظاهري ایمان د غرق څخه نجات ورکړ.

که بالفرض قارون په منافقت سره ایمان نه وی راوړی نو خپل قوم به ورته هغه پنځه فقره نیز نصیحت نه وی وړاندې کړی کوم چې باید یوه مسلمان ته وړاندې کړی شي که څه هم په باطن کښې کافر وي، کوم ته چې په [القصص:۷۶_ ۷۷] ایتونو کښې اشاره شوې ده.

لنډه دا چې د دریاب څخه هغه ټول کسان روغ رمټ پوریوتلي وه کومو چې په موسی ﷺ باندې ایمان راوړی وه، برابره خبره ده چې حقیقي ایمان وه او که د منافقت په توګه یې صورت نیولی وه.

یا په بل عبارت: د ذکر شوي نجات موندونکي ټولګي یوه نظیر ته نبي کریم ﷺ په خپل یوه اوږده حدیث کښې اشاره کړې ده چې: «لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ»[1] یعنې دغه داسې ټولګی دی چې د دوی په سبب د دوی د مجلس کیناستونکی نه بدبخته کیږي، که څه هم هلته د ذکر د اورېدلو دپاره ناست نه وي، بلکې د بل غرض دپاره وریښن شوی وي.

د: که څوک وایي چې: قارون خپل باطني خبث (منافقت) په څه سره څرګند کړ چې د خسف سبب ورته جوړ شو؟

مونږ وایو: که څه هم علماوو کرامو د نوموړي د منافقت د څرګندونې دپاره متعدد صورتونه لیکلي دي[2] مګر مونږ یوازې د یوه صورت په ذکر باندې اکتفاء کوو هغه دا چې[3]:

اول: موسی ﷺ قارون مکلف کړ چې د شرعي حکم په بنیاد د خپل مال زکات ورکړي، نوموړي د زکات د فرضیت څخه انکار وکړ چې دا الهي حکم نه دی بلکې ته غواړې چې په همدې حیلې سره زما څخه څه مال ترلاسه کړې.

بیا یې د موسی ﷺ د بدنامولو په موخه او د عوامو د ملګري کولو دپاره په لاندې ډول یوه دسیسه ترتیبه کړه چې:

دوهم: یوې ښځې ته یې ښه ډېر مال د رشوت په توګه ورکړ ترڅو هغه د بني اسرائیلو په یوه لویه اجتماع کښې په موسی ﷺ باندې دا تور ولګوي چې د هغې سره یې غیر شرعي جنسي ارتباط نیولی دی.

دریم: بله ورځ موسی ﷺ د زنا په هکله خلکو ته خطابه ورکوله چې قارون ورباندې غږ وکړ چې: ای موسی! دغه شرعي حکم په تاباندې هم اجراء کېدونکی دی او که ته ترې وتلی یې؟

څلورم: موسی ﷺ جواب ورکړ چې: دا شرعي حکم دی، زما په شمول په ټولو مؤمنانو باندې باید اجراء کړی شي.

پنځم: قارون وویلې چې: خلک وایي چې تا د فلانکۍ ښځې سره ذکر شوی غیر شرعي عمل ترسره کړی دی؛ او د خپلې خبرې د تصدیق دپاره یې سمدستي ذکره شوې زنانه راوغوښتله ترڅو

---

(۱) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۵۶
(۲) الجواهر للطنطاوي ج۱۴ ص۷۲
(۳) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۱۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ټولو خلکو په وړاندې اعتراف وکړي.

شپږم: موسی ﷺ ذکرې شوې ښځې ته سوګند ورکړ چې: ستا دې په هغه اقدس ذات باندې قسم وي چې په ما باندې یې تورات نازل کړی دی چې ایا دغه کار ربښتیا صورت نیولی دی؟

اوم: دغې ښځې ذکره شوې ټوله نقشه افشاء کړه چې: زه قارون لمسولې یم او دومره-دومره مال یې راکړی دی ترڅو په تا باندې په لویه اجتماع کښې بهتان ولګوم، خو زه د الله ﷻ څخه ډارېږم او د بهتان څخه ډډه کوم، او ربښتیانې خبره مې تاسو ته وکړه چې دا دسیسه ده، حقیقت نه دی.

اتم: موسی ﷺ سمدستي الله ﷻ ته په سجده شو او د قارون د هلاکت سوال یې وکړ.

نهم: الله ﷻ د موسی ﷺ سوال قبول کړ او وحې یې ورته وکړه چې: د قارون په هکله مې ځمکه ستا په اختیار کښې درکړه، ته چې ورته هرڅه امر وکړې هغه به سمدستي اجراء کړي.

لسم: نو موسی ﷺ ځمکې ته امر وکړ چې قارون خپلې ګېډې ته درکش کړه او خسف یې کړه، نو ځمکې في الحال خپل ځان ته راښکود او خسف یې کړ.

ه: څه لرې نه ده چې نبي کریم ﷺ به په دغه حدیث شریف کښې قارون ته اشاره کړې وي چې فرمایلي یې دي: «بَيْنَمَا رَجُلٌ يَجُرُّ إِزَارَهُ مِنَ الْخُيَلَاءِ خُسِفَ بِهِ فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فِي الْأَرْضِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ»[1] یعنې په پخوانیو زمانو کښې یو سړی وه چې د تکبر دکبله به یې خپل لنګ په ځمکه باندې راښکود، نو د همدغه تکبر د کبله خسف کړی شو، نو نوموړی به د قیامت تر ورځې پورې په اواز کولو (شرنګهار) سره په ځمکه کښې ښکته روان وي.

## راغورځولی شوي مړي

۶ـ قارون او د ده ملګري خو ځمکې ژوندي راښکوده او په خپله ګېډه کښې یې پټ کړه، مګر کله-کله د دې برعکس څینو خلکو ته ځمکه په خپله ګېډه کښې ځای نه ورکوي او دفن کړی شوی مړی بېرته خپل مخ ته راغورځوي، د مثال په توګه:

الف: د نبي کریم ﷺ د وحې یو لیکونکی مرتد شو او کفارو ته ور وتښتېد، خو چې کله مړ شو خلکو درې ځله دفن کړ او ځمکې په هر ځل د خپلې ګېډې څخه خپل مخ ته راګوزار کړ[2]، بالآخره د یوه مردار څاروي په شکل د نوموړي لاش د مرغانو خوراک شو.

ب: همدارنګه د نبي کریم ﷺ په زمانه کښې یو په ناحقه قاتل هم چې کله مړ شو درې ځله دفن کړی شو خو په هر ځل به ځمکې راګوزاراوه[3]، چې بالآخره د غره په یوه کنده کښې د ځمکې په مخ پرېښودل شو.

همدا مضمون د [النساء:۹۴] ایت په شان نزول کښې تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۲۹۸؛ مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۳۴۵
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۴ ص۲۴۳
(۳) سنن ابن ماجه ص۲۸۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ تِلْكَ ٱلدَّارُ ٱلْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي ٱلْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَٱلْعَٰقِبَةُ
لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾ مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى ٱلَّذِينَ
عَمِلُوا۟ ٱلسَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾ ﴾

[۸۳] دغه وروستنی کور مونږ د هغو کسانو دپاره ګرځوو (ورکوو) کوم چې په ځمکه کښې نه د تکبر اراده لري او نه د فساد (او نه پکښې تکبر او فساد عملي کوي).

(د دنیا نعمتونه هرچاته ورکوو) او (نېک) عاقبت د پرهېزګارانو دپاره (خاص کړی شوی) دی.

[۸۴] هرڅوک چې په نېکۍ سره راتګ وکړي نو هغه ته (د الله ﷻ په نزد) د نیکۍ څخه بهتره (جزا) ده.

او هرڅوک چې په بدۍ سره راتګ وکړي نو هغو کسانو ته به جزا ورنه کړی شي کومو چې بد عملونه (او کارونه) کړي دي مګر د هغو (مثل) کوم چې دوی (په دنیا کښې) دي چې عملي کوي بې (او ادامه ورکوي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

وروستنې ایتونه په دې مضمون باندې هم مشتمل وه چې الله ﷻ د خپلې ارادې مطابق چاته روزي پراخوي او چاته یې تنګوي، په دې ایتونو کښې همدغه مضمون تعقیب او تکمیل شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! مونږ خپل نعمتونه په لاندې ډول بندګانو ته ورکوو:

۱_ دغه وروستنی کور (جنت) مو خپلو هغو بندګانو ته ځانګړی کړی دی چې په ځمکه کښې د فرعون او قارون غوندې تکبر او فساد نه کوي، بلکې اراده هم نه لري چې تکبر او فساد دې وده مونده کړي او په دې ځمکه کښې دې خور شي.

۲_ اما د دنیا نعمتونه خپلو دوستانو ته هم ورکوو او خپل دښمنان (مفسدان او متکبران) ترې هم بې برخې نه پرېږدو خو په دومره توپیر سره چې دنیاوي نعمتونه مفسدانو ته په بد عاقبت تمامېږي، او متقیانو ته د نېک عاقبت نتیجه ورکوي؛ نو په همدې بنیاد:

الف: هر څوک چې په نیکۍ سره راتګ وکړي او خپله تقوی پکښې منعکسه کړي نو د هغه دپاره د نېکۍ څخه بهتر اجر دی چې اقلاً لس چنده به ورکړی شي.

ب: او هرڅوک چې په بدۍ سره راتګ وکړي او خپل فساد او تکبر ته پکښې انعکاس ورکړي نو دغو کسانو لره چې بد عملونه یې کړي دي هیڅ جزا به ورنه کړی شي مګر مثل د هغو اعمالو چې دوی یې په دنیا کښې مرتکب شوي وه. یا په بل عبارت: د احسان په موقع کښې الله ﷻ د جزا چندونه اضافه کوي مګر د ګناه په هکله د بالمثل جزا څخه زیادت نه کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضيحات

۱ـ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام: ۱۶۰] ايت لاندې په دې موضوع کښې څه تحقيق تېر شوی دی چې د نېکۍ جزا اقلاً لس چنده ده او د بدۍ جزا د هماغه يو چند څخه اضافه نه ده، چې بيا ليکلو ته يې څه اړتيا نه ګورو فقط لاندې سوال جواب وراندې اضافه کوو:

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د يوې ګړۍ کفر او د تل ترتله (ابد الآباد) دوزخ مماثلت د کوم معيار په بنياد ولاړ دی؟

مونږ وايو چې[1]:

الف: د جزا او د جنايت په مماثلت باندې يوازې الله ﷻ پوهېږي او بس.

لکه څنګه چې په حدودو کښې د مماثلت معيار د جنايت موده نه ده، بلکې بشري قوانين او حکومتونه هم د يوې ګړۍ بغاوت دپاره کله اعدام او کله دائمي حبس جزا ټاکي، همدارنګه د کفري جنايت او جزا دپاره زمانه معيار نه شي ګرځېدلی، ترڅو اعتراض وارد شي.

ب: د الله ﷻ د عظيم شان سره هر يو جنايت د دې وړ دی چې دائمي او تلپاتې جزا ورته وټاکلی شي؛ مګر دا د الله ﷻ مهرباني او فضل دی چې د کفر څخه په غير نورو جناياتو ته يې ابد الآباد جزاوې نه دي ټاکلې، بلکې دغه ډول جزا ته يې فقط په کفر پورې اختصاص ورکړی دی، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ ﴾ [النساء:۴۸] يعنې يقيناً الله ﷻ دا جنايت نه بښي چې شريک ورسره ودرول شي، او د دغه جنايت څخه راټيټ هغه چاته مغفرت کوي کومو ته يې چې اراده وشي.

ج: څرنګه چې کفار په کفري عقيده باندې عزم درلودونکي دي، که بالفرض دوی تل ترتله ژوندي پاتې شي هم د کفر څخه به لاس وانخلي، نو جزا يې هم ابد الآباد وګرځولی شوه.

همدې مضمون ته الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ وَلَوۡ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنۡهُ وَإِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ﴾ [الأنعام:۲۸] يعنې کفار به د قيامت په ورځ ووايي چې: که مونږ بېرته دنيا ته ورتاو کړی شو نو مونږ به کفر اختيار نه کړو (خو خبره داسې نه ده)، او دا څکه که بالفرض دوی بېرته دنيا ته تاو کړی شي نو دوی به بيا هغو کارونو ته وروګرځي دکومو څخه چې دوی منعه کړی شوي وه، او يقيناً کفار به خپلې دغې خبرې کښې دروغژنان دي.

د: د الله ﷻ صفات او تنزيهات ازلي او ابدي دي نو څوک چې وړاندې کافر شي په کار دي چې په ابدي جزا باندې اخته کړی شي.

هـ: د الله ﷻ صفات او تنزيهات محدوديت نه لري بلکې غير متناهي دي نو په کار دي چې انکار

(۱) روح المعاني ج ۲۰ ص ۱۲۷؛ التفسير الكبير ج ۲۵ ص ۲۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوونکو ته هم غیر محدوده او غیر متناهي جزا ورکړی شي، او د ابد الآباد دپاره په دوزخ کښې واچولی شي، العیاذ بالله ﷻ.

﴿ إِنَّ ٱلَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ۚ قُل رَّبِّيٓ أَعْلَمُ مَن جَآءَ بِٱلْهُدَىٰ وَمَنْ هُوَ فِي ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٨٥﴾ وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓاْ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾ وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ ۖ وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾ وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ۘ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ۚ لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾ ﴾

[۸۵] یقیناً هغه اقدس ذات ﷻ چې په تا باندې یې قرآن کریم فرض کړی (نازل کړی) دی هرومرو د بېرته ورګرځېدلو ځای (مکې معظمې) ته همغه ستا وراړونکی دی (ضرور به تا هلته بیا خل بیا به اطمنان سره ورداخل کړي).

(ته مطمئن اوسه، ته فقط همدا) وایه چې زما رب ﷻ په هغه چا باندې ډېر ښه پوه دی کوم چې په هدایت سره راتګ کوي (په شریعت باندې سم چلېږي) او په هغه چا باندې هم ډېر ښه پوه دی کوم چې په ښکاره ګمراهۍ کښې وي (په غلطه لاره روان وي).

[۸۶] او (ای پیغمبره!) تا (د قرآن کریم د نزول څخه وړاندې) امید نه درلود چې تاته به کتاب (قرآن کریم) درواچولی شي (درنازل شي)، مګر د خپل رب ﷻ د لوی رحمت د کبله (تاته قرآن کریم درنازل کړی شو)، نو هرومرو او هیڅکله د کفارو دپاره کومک کوونکی مه کېږه.

[۸۷] او مشرکان دې تا د الله ﷻ د ایتونو څخه (په فریب سره) وانهړوي (البته) د هغه څخه وروسته چې تاته درنازل کړی شو (چې دعوت ورته ونه چلوې).

او (ای پیغمبره!) خپل رب ﷻ ته (په دوامداره توګه) دعوت وچلوه، او هرو مرو او خامخا د مشرکانو څخه مه کېږه (خپلې توحیدي عقیدې ته ادامه ورکړه).

[۸۸] او ته د الله ﷻ سره بل معبود مه بله (په عبادت کښې یې ورسره مه شریکوه او دا ځکه چې:) په حقه معبود نشته مګر همدی ﷻ دی او بس، هر شی عدم (فنا) موندونکی دی مګر اقدس ذات ﷻ (چې ازلي او ابدي دی).

خاص همده ﷻ ته حکم دی (فیصله د همده ﷻ په واک کښې ده) او خاص همده ﷻ ته به تاسو (د فیصلو دپاره) بېرته ورتاو کړی شئ.

## شان نزول او ارتباط

کله چې نبي کریم ﷺ د هجرت په سفر کښې د ثور غار څخه د شپې ووت او د جُحفې مقام ته

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورسېد چرته چې مکې معظمې ته لاره ببله شوې ده، نو مکه معظمه يې په مبارک زړه کښې وګرځېده او خپل اصلي ټاټوبي ته يې شوق او رغبت تاو راتاو شو.

نو الله ﷻ ذکر شوی اولنی ايت شريف نازل کړ، او وعده يې ورکړه چې ته به ضرور بېرته خپل اصلي ټاټوبي ته راوګرځولی شي (تشويش مه کوه).

اما د ارتباط دپاره يې بايد لاندې څو ټکي په پام کښې ونيولی شي:

۱ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې اُخروي کاميابي متقيانو پورې مختصه ګرځولې شوې ده، او په دې ايتونو کښې دنياوي نېک عاقبت ته هم په همدوی پورې اختصاص ورکړی شوی دی، او نبي کريم ﷺ ته د يوه مثال په شکل اشاره شوې ده.

۲ـ د سورت د اول سر څخه د فرعونيانو او قارونيانو د ناکامۍ بيان او د موسی ؑ د کاميابۍ بيان پيل شوی وه چې همدلته پای ته ورسېد.

په دې ايتونو کښې په ذکرو شوو بياناتو باندې يوې تبصرې ته اشاره شوې ده چې نبي کريم ﷺ پکښې څو نکتو ته متوجه کړی شوی دی. نو حاصل يې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پيغمبره! د ذکرو شوو بياناتو په نظر کښې نيولو سره دغو ارشاداتو ته متوجه شه:

۱ـ يقيناً کوم اقدس ذات ﷻ چې په تا باندې يې قرآن کريم درنازل کړی دی هغه ﷻ داسې نه دی چې تا به د کاميابۍ پړاو ته ونه رسوي او په نيمايي لاره کښې به دې پرېږدي. نو:

الف: همغه اقدس ذات ﷻ مکې معظمې ته د کاميابۍ په حال کښې بېرته ستا ورستنونکی دی، ته به لږ څه وخت وروسته په ښه قوت سره بېرته هلته ورو ګرځې، او په ډاګه به ور داخل شې چې د هيچا څخه به نه ډارېږې بلکې مشرکان به ستا څخه ډارېږي، نن ورځ ته د هغوی څخه پټ ګرځې او هلته به هغوی ستا څخه پټېږي.

ب: ته د خپل خان او خپلو ملګرو د اطمنان دپاره وايه چې: زما رب ﷻ هغه څوک ډېر ښه پېژني کوم چې په سمه لاره باندې روان دی او هغه هم ورته ډېر ښه معلوم دی کوم چې په څرګنده ګمراهۍ کښې اخته دي، نو د هر چا سره به د هغه د حال مطابق چال چلند وکړي.

۲ـ ای پيغمبره! د قرآن کريم د نزول څخه وړاندې خو تا دا اميد نه درلود چې تاته به نبوت درکړی شي او د کتاب خاوند به وګرځولی شې.

تا ذکر شوی اميد نه درلود مګر ستا د رب ﷻ رحمت او فضل وه چې تاته يې د غيبو څخه کتاب درکړ نو.

الف: په ياد ولره! چې دا کتاب به ستا رب ﷻ د لوړې کاميابۍ مقام ته ورسوي او تاته به په ديني دښمنانو باندې غلبه درکړي، لکه څنګه يې چې موسی ؑ ته د خپل وخت په دښمنانو (فرعونيانو او قارونيانو) باندې غلبه ورکړې وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: هرومرو او خامخا ته کفارو ته کومکي مه جوړېږه چې په دين کښې ورته مداهنت او سستي وکړې او کفر تقويه کړې.

ته خپل دريغ همدغسې مضبوط او قوي ولره ترڅو ستا د استقامت او ثبات څخه ستا امت عبرت واخلي او کفارو ته ميلان ونه کړي.

ج: يا په بل عبارت: ستا استقامت بايد دومره کمزوری نه شي چې کفار ترې ګټه پورته کړي او تا د الله ﷻ د احکامو څخه واړوي، چې يا پکښې تخفيف وکړې او يا ورته د خپنو څخه تېر شې.

د: الهي احکام او اېتونه تاته د دې دپاره نه دي درنازل کړی شوي چې ته پکښې تغير واقع کړې، بلکې ستا دنده دا ده چې هوبهو يې په څمکه کښې پياده کړې، او نه يې بايد ستا څخه څوک د بدلون رابدلون تمه وکړي.

هـ: ته د خپل رب ﷻ توحيد ته په قوي عزم سره دعوت وچلوه او هرومرو او هيڅکله د مشرکانو څخه مه ګرځه چې په عزم کښې دې سستي واقع شي، او نه دې دغه کار ستا د پيروانو څخه صورت ونيسي.

و: يا په بل عبارت: ته هيڅکله د الله ﷻ سره بل معبود مه بله او په عبادت کښې اشتراک مه ورکوه، او نه دې دا کار ستا پيروان وکړي، او بالآخره نه دې څوک ستا څخه تمه وکړي چې ته به خپل دريغ بدل يا نرم کړې. او دا څکه چې:

ز: په حقه هيڅ معبود نشته مګر همدی ﷻ دی او بس.

ح: هر شی هلاکېدونکی او د زوال سره مخامخ کېدونکی دی مګر د ده ﷻ اقدس ذات د هلاک او زوال څخه پاک او منزه دی، نو خاص همدی ﷻ د عبادت مستحق دی او بس.

ط: نهايي فيصله او حقيقي حکم همده ﷻ پورې اختصاص لري.

ي: خاص همده ﷻ ته به تاسو ټول (ای انسانانو او پيريانو!) ورتاو کړی شئ نو ستاسو په ټولو کړو وړو کښې به په عدل او انصاف سره فيصله وکړي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾ کښې د ﴿ فَرَضَ ﴾ کلمه اکثرو مفسرينو کرامو په "أنزل" سره تفسيره کړې ده[۱]، شايد چې د دې وجه به دا وي چې لکه څنګه چې د قرآن کريم تعمل په خلکو باندې فرض او قطعي الاداء دی همدارنګه يې په نبي کريم ﷺ باندې ټول رانازلول او تکميلول هم د الله ﷻ په نزد حتمي او ضروري وه.

نو نن چې ته د مکې معظمې څخه وشړلی شوې څوک دې دا سې خيال ونه کړي چې د قرآن کريم نازلولو مخه بنده کړی شوه او کار يې نيمګړی پاتې شو.

(۱) تفسير البغوي ج۳ ص۴۵۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## معاد څه معنی؟

۲ـ په ﴿ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ ﴾ کښې علماوو کرامو د ﴿ مَعَادٍ ﴾ کلمه په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده، چې تقريبًا اتو معناوو ته رسيږي[1]، خو کومه معنی چې موږ ته غوره برېښي او د ايتونو د سباق او شان نزول سره بهتر تړاو درلودلی شي هغه دا ده چې په دې مقام کښې د ﴿ مَعَادٍ ﴾ کلمه په مکه معظمه سره تفسيره شي[2].

مکې معظمې ته دغه لقب ځکه ورکول شوی دی چې:

الف: د "مَعَاد" کلمه د "عَود" ـلکه "قَوْل"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې ورګرځېدلو او ورتاوېدلو معنی ورکوي، نو مکه معظمه هم د خلکو دپاره د حج او عمرې په غرض د بيا-بيا ورتاوېدلو ځای دی[3].

ب: او که د "عَادَة" څخه اخستلی شوې وګڼله شي چې د خوی او اموخت (محبت) په معنی دلالت کوي[4]، نو مکه معظمه هم د نبي کريم ﷺ د زېږيدو ځای وه چې هملته لوی شوی وه او محبت يې ورسره هم درلود، لکه چې هر انسان خپل اصلي ټاټوبي سره مينه او محبت لري.

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې: نبي کريم ﷺ د خپل هجرت په وخت کښې مکه معظمه مخاطبه کړه چې: «أَنْتِ أَحَبُّ بِلَادِ اللهِ إِلَى اللهِ وَأَنْتِ أَحَبُّ بِلَادِ اللهِ إِلَيَّ وَلَوْ لَا أَنَّ الْمُشْرِكِيْنَ أَخْرَجُوْنِيْ لَمْ أَخْرُجْ مِنْكِ»[5] يعني ای مکې! ته د الله ﷻ په ښارونو کښې الله ﷻ ته محبوب ښار يې او ته د الله ﷻ په ښارونو کښې ماته هم محبوب ښار يې، که چرته زه مشرکانو ستا څخه نه وی ويستلی نو يقينًا زه به ستا څخه نه وی وتلی او په خپله خوښه به درڅخه نه وی خارج شوی.

### يادونه

۳ـ په لاندې جملو کښې نبي کريم ﷺ ته خطاب متوجه دی:

الف: ﴿ فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴾ [القصص:۸۶].

ب: ﴿ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ [القصص:۸۷].

ج: ﴿ وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ ﴾ [القصص:۸۸].

او موږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:۱۴۷] ايت لاندې نبي کريم ﷺ ته د دغه ډول خطاب د متوجه کولو څه حکمتونو ته اشاره کړې ده، نو هيله ده چې هلته يو وار مراجعه وکړی شي.

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۰۲؛ تفسير البغوي ج۳ ص۴۵۹؛ تفسير القاسمي ج۱۳ ص۱۳۱
(۲) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۳
(۳) روح المعاني ج۲۰ ص۱۲۸
(۴) تفسير الطبري ج۲۰ ص۱۲۶
(۵) تفسير ابن کثير ج۴ ص۱۷۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۴ـ كه څوک وايي چې: په ﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ ﴾ كښې د ﴿ هَالِكٌ ﴾ كلمه د اسم فاعل صيغه ده چې د مضارع غوندې په حال يا استقبال باندې دلالت كوي؛ يعني هر شی في الحال (سمدستي) فاني كېدونكى او د عدم درلودونكى دى، او يا به په راتلونكي كښې د فناء او عدم درلودونكى وګرځي.

نو پوښتنه دا ده چې په دې مقام كښې كومه معنى مراده ده؟ په داسې حال كښې چې د اولنۍ معنى څخه د "وحدة الوجود" بوى پورته كېږي، او دوهمې معنى ته په كتلو سره بايد جنتونه او دوزخونه او د دغو امثال هم بايد فنا كېدونكي وګرځي او ابدي وجود ونه لري.

مونږ وايو چې: د ذكر شوي عبارت څخه د بدليت په لحاظ دواړه معناوې مرادول صحت لري، او دا څكه چې:

هر شی په نظر سره خپل ذات ته سمدستي د عدم درلودونكى دى او هم په راتلونكې كښې د فناكېدلو او معدومېدلو قابل دى، او په نظر سره د الله ﷻ ارادې ته هر شی په عارضي توګه موجود دى او د موجوديت د ادامې قابليت لري.

د دغې عمومي قاعدې څخه يوازې الله ﷻ بهر دى، چې وجود يې ذاتي دى او ازلي او هم ابدي دى.

نو جنتونه او دوزخونه او امثال يې نظر خپلو-خپلو ذواتو ته معدوم دي او په نظر سره د الله ﷻ ارادې ته په عارضي توګه موجود دي.

همدارنګه نظر خپلو-خپلو ذواتو ته د ابديت قابل نه دي او په نظر سره د الله ﷻ ارادې ته د دوام قابل لا څه چې دائمي او ابدي دي.

اما د وحدة الوجود معتقدين خو د الله ﷻ څخه په غير بل هيڅ شي ته په موجوديت قائل نه دي؛ دوى وايي چې دا محض خيالات او اوهام دي[1].

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ كه څوک وايي چې: په ذكر شوي ايت كښې د ﴿ إِلَّا وَجْهَهُ ﴾ استثناء څه معنى وركوي؟

مونږ وايو چې:

الف: ځينو علماوو كرامو د ﴿ وَجْهَهُ ﴾ څخه د الله ﷻ رضامندي مراده كړې ده. يعني هر شی (هر عمل) ضائع دى پرته د هغه عمل څخه چې په هغه كښې د الله ﷻ رضامندي په نظر كښې نيولې شوې وي[2].

---

(۱) شرح العقائد النسفيه ص۹

(۲) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۱۹۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم دغه جواب په خپل ذات کښې صحیح دی مګر په دې مقام کښې یې د تفسیر په حیث منل مشکل دي، ځکه چې په دې جواب کښې د ﴿ كُلُّ شَيْءٍ ﴾ کلمات یوازې په عمل پورې خاص کړی شوي دي چې د تخصیص دپاره یې هیڅ دلیل نشته.

ب: اکثره علماء کرام دلته د ﴿ وَجْهَهُۥ ﴾ څخه د الله ﷻ اقدس ذات مرادوي[۱]، یعنې هر شی فاني کېدونکی دی مګر یوازې د الله ﷻ اقدس ذات ازلي او ابدي دی.

همدا جواب په لاندې وجو سره تائید مومي:

اول: په ﴿ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ [الرحمن:۲۷] کښې د ﴿ ذُو ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ کلمات د ﴿ وَجْه ﴾ دپاره صفت واقع شوی دی، حال دا چې عین کلمات په ﴿ تَبَٰرَكَ ٱسْمُ رَبِّكَ ذِي ٱلْجَلَٰلِ وَٱلْإِكْرَامِ ﴾ [الرحمن:۷۸] کښې د "رَبّ" دپاره صفت واقع شوی دی.

نو معلومه شوه چې په لومړي ایت کښې به د ﴿ وَجْه ﴾ څخه تربیه کوونکی اقدس ذات مطلب وي لکه څنګه چې په دوهم ایت کښې ورباندې صراحت شوی دی.

دوهم: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ: أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلُ»[۲] یعنې ډېره رښتیا خبره چې یو شاعر یې وایي د لبید شاعر خبره ده هغه دا چې: اګاه اوسئ چې د الله ﷻ څخه په غیر هر شی باطل دی او زوال موندونکی دی.

نو نبي کریم ﷺ ځکه ذکرې شوې کلمې ته د «أَصْدَقُ كَلِمَةٍ» لقب ورکړی دی ـ والله ﷻ أعلم ـ چې د همدغه ایت مضمون پکښې اداء شوی دی په کوم چې بحث روان دی، حال دا چې په همدغه شعري کلمه کښې د "مَا خَلَا اللهَ" په عوض "مَا خَلَا وَجْهُ اللهِ" نه دی ویل شوی.

## سوال جواب

۶ـ که څوک وایي چې: په دې مقام کښې که د ﴿ وَجْهَهُۥ ﴾ څخه "ذَاتَهُ" مطلب وي نو په دې کښې څه حکمت دی چې همدغسې نازل نه کړی شو، او صراحت ورباندې ونه کړی شو؟

مونږ وایو چې: د "وَجْه" کلمه په استعمالاتو کښې په أشرف ذات باندې دلالت کوي، نو په دې مقام کښې د ذکرې شوې کلمې په نزول سره د استثناء دلیل ته اشاره شوې ده[۳]، یعنې اقدس ذات ﷻ ځکه د ذکرې شوې کلیه قاعدې څخه وتلی دی چې په ټولو ذواتو باندې باعظمته او با عزته دی، چې وجود یې ذاتي دی او د ده ﷻ څخه په غیر د نورو ټولو موجوداتو وجودونه د همده ﷻ د پلوه ورکړی شوي دي (د ټولو وجودونه سوالي دي).

یا په بل عبارت: لکه څنګه چې یو لوڅ بربنډ فقیر په سوالي جامې سره د فقر څخه نه خلاصېږي

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۱۳۰؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۰۳؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۵۹
(۲) صحیح البخاري ج۱ ص۵۴۱
(۳) مفردات الراغب ص۵۵۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او د جامې مالک نه ګڼلی کېږي، همدارنګه ټول مخلوقات د خپلو-خپلو وجودونو مالکان نه دي او سات په سات د زوال په خطر کښې واقع دي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وايي چې: د ﴿ وَجْهَهُ ﴾ څخه د اقدس ذات مرادول خو تاويلي معنی ده، نو ایا دا به بهتره نه وه چې په خپله اصلي معنی باندې پرېښودله شوې وی او تاویل نه وی ورکړی شوی لکه چې سلفو صالحينو د الله ﷻ په اسماء او صفاتو کښې همدغه طریقه غوره ګڼلې ده؟

نو د معنی حاصل به يې داسې را ختلی وي چې: هر شی هلاکېدونکی او زوال موندونکی دی مګر یوازې د الله ﷻ مخ د دې قاعدې څخه وتلی دی، هغه مخ چې څنګه د همده ﷻ د شان سره مناسب وي.

مونږ وايو چې: د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:۱۱۵] ایت او د [الأعراف:۵۴] ایت لاندې ليکلی شوي دي چې د متعارفې معنی اراده کول تاویل نه دی، که څه هم هغه مجازي او یا کنايي معنی وي، نو د "وَجْه" څخه د "اشرف ذات" اراده کول غیر متعارفه معنی نه ده ترڅو تاويلي وګڼلی شي.

د همدې کبله د حديبيه په صلحه کښې نبي کريم ﷺ ته د قريشو استازي (عروة بن مسعود) په خپله وینا کښې وویلې چې: "فَإِنِّي وَاللهِ لَأَرَى وُجُوهًا وَإِنِّي لَأَرَى أَشْوَابًا مِنَ النَّاسِ خَلِيقًا أَنْ يَفِرُّوا وَيَدَعُوكَ"[۱] يعنې ای محمده! که ته زمونږ سره جنګ وکړې، نو يقينًا زه ستا په ملګرو کښې خينې مخور (ذوات) ګورم (چې تا به یوازې پرېږدي)، او يقينًا زه پکښې خينې نور داسې ګډوډ خلک هم ګورم چې په جنګ کښې به ستا څخه وتښتي او تا به یوازې پرېږدي.

بلکې د عربي ژبې څخه علاوه د پښتو ژبې په شمول په ټولو ژبو کښې دغه ډول استعمال په کثرت سره اورېدل کېږي.

د الله ﷻ په فضل او توفيق د "القَصص" سورت پښتو ترجمه او تفسير بشپړ شو.

د همده ﷻ څخه نور اضافه توفيق او فضل غواړو.

آمِينَ يَا رَبَّ الْعَالَمِيْنَ.

۱۴۲۱/۱/۲۲ هـ ق - ۱۳۷۹/۲/۶ هـ ش - ۲۰۰۰/۴/۲۶م.

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۳۷۸

Scanned by CamScanner

# العنكبوت (۲۹)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱ـ د دې سورت نوم (العنكبوت) د راتلونكي [۴۱] ایت سره تړاو لري.

۲ـ د دې سورت د ایتونو ټوله شمېره فقط نهه شپېتو (۶۹) ته رسېږي[۱].

۳ـ د کلمو شمېره یې یو زرو نهه سوه یو اتیا (۱۹۸۱)، او د حرفو شمېره یې څلور زره یو سلو پنځه نوي (۴۱۹۵) ته رسیږي[۲].

۴ـ علماء کرام د دې سورت په ایتونو کښې د مکیتوب یا مدنیتوب له لحاظه په لاندې ډول اختلاف لري:

الف: ځیني وايي چې په دې سورت کښې ځیني ایتونه مدني دي چې د هجرت څخه وروسته نازل شوي دي[۳]، ځکه چې:

اول: د دې سورت په ځینو ایتونو کښې ـلکه شپږم او نهه شپېتم ایتونهـ د جهاد ذکر نازل شوی دی او پوره واضحه ده چې جهاد خو د هجرت څخه وروسته فرض شوی دی.

دوهم: د دې سورت په یوولسم ایت کښې د منافقانو ذکر ته اشاره شوې ده او پوره څرګنده ده چې منافقت خو په مدینه منوره کښې وده کړې ده.

دریم: بالآخره په [۵۶] ایت کښې یې د هجرت ترغیب نازل شوی دی.

اما د سورت اکثریت ایتونه یې د مکیتوب غوښتنه کوي.

نو د دغو دلایلو په بنیاد ذکر شوی سورت د مدني او مکي ایتونو دواړو مجموعه تشکیلوي.

ب: ځیني نور علماء کرام وايي چې: د دغه سورت ټول ایتونه مکي دي[۴]، او د جهاد څخه په دې مقام کښې وسلوال جهاد مطلب نه دی ترڅو د سورت په مدنیتوب باندې دلالت وکړي بلکې دلته ترې د فتنو په مقابل کښې مقاومت او استقامت مراد دی چې د نبي کریم ﷺ د مبعوثیت سره جوخت په مکه معظمه کښې پیل شوی دی.

او دلته د منافقت څخه هغه منافقت مراد نه دی کوم چې په مدینه منوره کښې وده کړې وه، بلکې دلته د هغو ضعیفو مسلمانانو ایمان ته اشاره ده کومو چې د کفارو د تعذیبونو د کبله ایمان نه شو په ډاګه کولی او د فتنو تحمل یې نه شو کولی.

او بالآخره په دې سورت کښې د حبشې هجرت ته مسلمانان ترغیب کړی شوي دي کوم چې د مدینې منورې د هجرت څخه وړاندې یې صورت نیولی وه.

الله ﷻ د هر ښه پوهېږي خو موږ ته همدغه دوهم نظر راجح برېښي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۳۲۳؛ تفسير الخازن ج۵ ص۲
(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۳۰۵
(۳) زاد المسير ج۶ ص۱۱۹؛ المحرر الوجيز ج۱۲ ص۱۹۹
(۴) في ظلال القرآن ج۵ ص۲۷۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## د دې سورت محوري موضوع

۵_ د دې سورت محورې موضوع په لاندې تکو کښې خلاصه کېدلی شي:

الف: ربښتینی ایمان صرف د خولې اقرار نه دی، ترڅو چې ورسره د فتنو په مقابل کښې مقاومت ملګری نه شي.

ب: د کفارو د تعذیب په مقابل کښې ټولو پیغمبرانو علیهم السلام او د دوی پیروانو د ثبات او استقامت څخه کار اخستی دی لکه نوح ، ابراهیم  او نور، نو په کار ده چې په همدوی پسې اقتداء وکړی شي.

ج: د کفارو تعذیب صورت نیسي خو په نتیجه کښې دوی د ناکامۍ او هلاکت سره مخامخ کېدونکي دي، لکه چې فرعونیان، عادیان، ثمودیان او نور ورسره مخامخ شوه.

لنډه دا چې د کفارو باطل معبودان د غنې د کور غوندې دي چې نه دوی ته په یخنۍ کښې په درد خوري او نه ورته په ګرمۍ کښې په کار ورځي.

د: د خپل ایمان د حفاظت په ارتباط باید مؤمنان هر ډول کړاوونه وګالي که څه هم دوی ته د خپل اصلي وطن څخه په هجرت تمام شي، او دا ځکه چې ټوله ځمکه د الله  ملکیت دی او په هر ځای کښې همدی  د روزۍ ورکوونکی وي.

### د دواړو سورتونو تناسب

۶_ د "القصص" او "العنکبوت" دواړو سورتونو په مضامینو کښې ډېر نژدېوالی پروت دی، لاندې څو مثالونه یې د نظره تېر کړئ:

الف: هلته هغه کړاوونو ته اشاره شوې وه کوم چې د فرعون د پلوه په مسلمانانو باندې تحمیل شوي وه خو په نتیجه کښې یې د فرعونیانو په غرق سره اختتام مونده کړ. او دلته څه نورو کړاوونو ته اشاره شوې ده چې په نتیجه کښې د مسلمانانو په کامیابۍ سره تمام شوي دي، لکه د نوح  په زمانه کښې، یا د ابراهیم په زمانه کښې او داسې نور.

ب: هلته د دریاب څخه د موسی  او د ده د ملګرو د سالم او روغ رمټ پوربوتلو بیان نازل شوی وه، او دلته د ابراهیم  اور ته اشاره شوې ده چې د الله  په فضل ترې روغ او سالم راووت.

ج: هلته د سالمې عقیدې د تثبیت دپاره په یوه طریقه سره دلایل نازل شوي وه او دلته د همدې مطلب دپاره په بله طریقه سره براهین وړاندې کېږي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ۝١ أَحَسِبَ ٱلنَّاسُ أَن يُتۡرَكُوٓاْ أَن يَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا وَهُمۡ لَا يُفۡتَنُونَ ۝٢ وَلَقَدۡ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۖ فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ وَلَيَعۡلَمَنَّ ٱلۡكَٰذِبِينَ ۝٣ أَمۡ حَسِبَ ٱلَّذِينَ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ أَن يَسْبِقُونَا ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ۝٤ مَن كَانَ يَرْجُوا۟ لِقَآءَ ٱللَّهِ فَإِنَّ
أَجَلَ ٱللَّهِ لَءَاتٍ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ۝٥ وَمَن جَٰهَدَ فَإِنَّمَا يُجَٰهِدُ لِنَفْسِهِۦٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَغَنِىٌّ
عَنِ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٦ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّـَٔاتِهِمْ
وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَحْسَنَ ٱلَّذِى كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ۝٧ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه

[۱]

[۲] ايا خلک ګومان کوي چې د دې وينا په ويلو سره به پرېښودل شي چې مونږ ايمان راوړی دی، حال دا چې دوی به په امتحان کښې وانه چولی شي (ترڅو د ذکرې شوې وينا صدق او کذب څرګند شي)؟

[۳] او يقيناً مونږ هغه کسان هم امتحان کړي وه کوم چې د دوی څخه وړاندې (تېر شوي) دي (نو دوی به هم امتحان کړو).

نو هرومرو ضرور به الله ﷻ هغه کسان معلوم کړي کومو چې (ذکره شوې وينا په) رښتيا سره کړې وي، او هرومرو او ضرور به الله ﷻ دروغژنان هم معلوم کړي.

[۴] ايا هغه کسان ګومان کوي کوم چې (د کفر په شمول) جنايات کوي چې دوی به زمونږ څخه وړاندې شي (دوی به زمونږ د ارادې مخه بنده کړي)؟.

هغه شی ډېر بد دی چې دوی وربانديې حکم کوي (چې زمونږ د ارادې په وړاندې به خنډ واقع شي).

[۵] هرڅوک چې د الله ﷻ سره د ملاقات (د قيامت د ورځې) څخه ډارېږي (او هلته د نجات تمه لري) نو (دوی دې په اطمنان سره نېک اعمال کوي او دا خکه چې:) يقيناً د الله ﷻ (ټاکلې شوې) نېټه راتلونکې ده (هيڅ مخالفت پکښې نشته) او الله ﷻ (د ټولو اقوالو) اورېدونکی (دی او په ټولو افعالو باندې) پوه دی.

[۶] او هرڅوک چې جهاد وکړي (د الله ﷻ په لاره کښې مشکلات وګالي) نو يقيناً هغه د خپل ځان دپاره جهاد وکړ (ګټه يې همده ته راجع ده، او دا ځکه چې:) يقيناً الله ﷻ ضرور د ټولو عالمونو څخه بې پروا دی.

[۷] او هغه کسان کوم چې ايمان راوړي او نېک عملونه وکړي نو هرومرو ضرور به ترې مونږ ګناهونه ورژوو، او هرومرو ضرور به جزا ورکړو د هغه ښايسته عمل (مطابقه) کوم چې دوی وه چې (هغه) به يې (په دنيا کښې) کاوه.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت وروستني ايتونه په لاندې مطالبو باندې هم مشتمل وه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: د دعوت په هکله سستي کول په غیر مستقیمې طریقې باندې د مشرکانو سره کومک کول دي، نو مؤمنان ترې باید په جدي توګه ځانونه وساتي.

ب: د الله ﷻ څخه په غیر د هیچا څخه ډار په کار نه دی، چې دا ټول فاني دي او یوازې الله ﷻ ازلي او ابدي دی او یوازې همده ﷻ ته به ټول راجع کړی شي.

او دغه سورت همدغو مطالبو ته په اشارې سره شروع شوی دی چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" د ویلو څخه وروسته په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ خلکو ته ووایه چې:

الف: دا قرآن کریم داسې کتاب دی چې د خپل ځان حقانیت پخپله په اثبات رسوي، نو په دې کتاب باندې ایمان راوړونکي کسان دې ته اړ نه دي چې په همدې ارتباط څه زیار وباسي او زحمتونه وګالي. او دا څکه چې:

ب: دا کتاب د هغو تورو څخه ترکیب شوی دی د کومو څخه چې د خلکو خبرې روزمره ترکیب مومي لکه "ا، ل، م" او داسې نور، خو سره د دې که بالفرض ټول مخلوقات سره لاس یو کړي ترڅو د دې کتاب د ایتونو غوندې یو ایت جوړ کړي نو هیڅکله به په دغه مطلب باندې بریالي نه شي.

نو ایا دا ممکنه ده چې ټول مخلوقات دې د یوه ایت د جوړولو څخه عاجز وي او یوازې نبي کریم ﷺ دې په یوه ځان (تنها) ټول کتاب جوړ کړی وي؟

ج: هو! خلک په دې کتاب باندې د عمل او باور په ساحه کښې ثبات او استقامت ته اړ دي چې د کفارو د پلوه تعذیبونه وګالي او اجرونه وګټي. او دا څکه چې:

د: ایا خلک دا ګومان کوي چې دوی به په همدې وینا پرېښودلی شي چې: "آمَنَّا" مونږ په دغه کتاب ایمان راوړی دی، او په دوی باندې به هیڅ امتحان او ازموینه ونه کړی شي او د دې کتاب د تعمیل په هکله به د هیڅ مشکلاتو سره مخامخ نه کړی شي؟

۲ـ دغسې نه ده، زمونږ دا عادت نه دی چې یوازې د "آمَنَّا" په ویلو باندې مونږ څوک پرېږدو، دا زمونږ پخوانی طریقه ده، د همدې کبله مونږ د دې زماني د خلکو څخه وړاندې د نورو زمانو خلک هم یوازې د "آمَنَّا" په ویلو باندې نه دي پرېښي بلکې د امتحان لاندې مو واقع کړي دي.

۳ـ نو د همدغې طریقې په بنیاد به الله ﷻ هرومرو او ضرور د دې زمانې خلک هم د امتحان لاندې واقع کړي ترڅو ورته ښه پوره جوته شي ـ لکه چې په ازل کښې ورته جوته وه ـ چې څوک د "آمَنَّا" په ویلو کښې د عملي ساحې په اړوند رښتیني دي او څوک په همدې ارتباط دروغژنان دي.

یا په بل عبارت: ترڅو په خپل ازلي علم باندې علاوه یو ځل بیا د هغه علم په مطابق پوه شي چې څوک د ایمان په دعوه کښې رښتیني دي او څوک دروغژنان دي، او ترڅو خلکو ته هم هر یوه ته د خپل خپل ځان وزن معلوم شي چې د ایمان په هکله یې څومره مقاومت درلود.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ دا د یو پلوه، او د بله پلوه: ایا هغه کسان کوم چې په جنایاتو او کفریاتو کښې اخته دي او روزمره په مؤمنانو باندې تیري او ظلمونه کوي، دا ګومان کوي چې د خپلو تېرېو د کبله به زمونږ د ارادې په وړاندې خنډ واقع شي او وبه کړی شي چې د اسلام د پرمختګ مخه بنده کړي؟!

دوی به هیڅکله دا کار ونه کړی شي، او دا ډېر بد حکم او ناکاره فیصله ده چې دوی ورته په خپلو خیالونو کښې ځای ورکړی دی او ورته په تمه دي.

۵_ ای پیغمبره! په مؤمنانو باندې د ښه اطمنان او ډاډینې دپاره لاندې مطالب قرائت کړه چې زړونه یې ارام مونده کړي او حوصلې یې پیاوړې شي:

الف: هرڅوک چې د الله ﷻ څخه ډارېږي او د همده ﷻ د ثوابونو امید لري نو هغوی دې مطمئن اوسي، چې د الله ﷻ وعده (د قیامت ورځ) هرومرو او ضرور راتلونکې ده، نو دوی به ډېر ژر په خپلو غوښتنو باندې کامیاب او سرلوړي شي. او دا څکه چې:

اول: الله ﷻ د هغو ټولو سپورو او ستغو خبرو اورېدونکی دی په کومو باندې چې دوی د کفارو د کبله مخاطب ګرځولي شوي دي او یا ګرځولی کېږي.

دوهم: همدارنګه الله ﷻ په هغو ټولو نادودو او ظلمونو باندې پوه دی کوم چې د کفارو د پلوه ورباندې اجراء کېږي، نو هیڅ قول او هیڅ عمل به یې بې جزا پرېنږدي.

ب: او هرڅوک چې د ذکرو شوو نادودو په زغملو باندې برسېره د الله ﷻ په لاره کښې د اسلامي دعوت په چلولو کښې جهاد وکړي او مشقتونه وګالي نو یقیناً هغوی دا کار د خپلو خانونو د ګټې دپاره وکړ، چې ټولې ښېګڼې یې همدوی ته راجع دي او بس. او دا څکه چې یقیناً الله ﷻ د دوی په شمول د ټولو عالمونو څخه بې پروا دی او هیچا ته احتیاج نه دی.

ج: لنډه دا چې هغه کسان کومو چې ایمان راوړی وي او صالح اعمال یې کړي وي نو هرو مرو او ضرور به مونږ د هغوی څخه خطاګانې او ګناهونه ورژوو او عفوه به ورته وکړو او هم به ورته د هغه عمل ډېره ښایسته جزا ورکړو کوم چې دوی یې عملي کوي.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق-د ﴿الٓمٓ﴾ او د نورو امثالو په هکله په وړاندېنیو سورتونو کښې څه حکمتونه او بیانات لیکلي دي چې نور څه ورباندې نه ورزیاتوو.

مګر په دې مقام کښې خینو مفسرینو کرامو د همدغو تورو په نزول کښې څه نور حکمتونه هم اضافه کړي دي[1]؛ که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي، مونږ د اوږدوالي د کبله دلته رانقل نه کړه.

۲_ که څه هم خینو مفسرینو کرامو[2] د ذکرو شوو ایتونو په شان نزول کښې د متعددو مؤمنانو

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۵ ص۲۶

(۲) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۱۹۹؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۲۹؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۶۰؛ زاد المسیر ج۶ ص۱۱۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نومونه اخستي دي لکه عمار بن یاسر ﷺ او داسې نور، مګر د ایت شریف مفهوم عام دی او د قیامت تر ورځې پورې هغه ټولو مؤمنانو ته شمولیت لري کوم چې د کفارو د پلوه د تعذیب لاندې واقع کېږي؛ لکه چې لاندې حدیث شریف په همدې مطلب باندې دلالت کوي:

خباب بن الأرت ﷺ د هغو صحابه وو کرامو ﷺ څخه وه کومو چې د بعثت په لومړنیو وختونو کښې ایمان راوړی وه او د کفارو د پلوه یې ډېر اذیتونه لیدلي وه.

د نوموړي د کلام مضمون دی چې یوه ورځې مونږ نبي کریم ﷺ ته ورغلو په داسې حال کښې چې هغه ﷺ د کعبې شریفې د سوري لاندې څادر اغوستی وه، او عرض مو ورته وکړ چې: ای د الله رسوله! مونږ د کفارو د اذیتونو څخه ډېر په تنګ یاستو، نو ایا زمونږ دپاره د الله ﷻ څخه د نصرت غوښتنه نه کوي ترڅو مونږ ته نجات راکړي؟.

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «قَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ يُؤْخَذُ الرَّجُلُ فَيُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ فَيُجْعَلُ فِيهَا فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُجْعَلُ نِصْفَيْنِ وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ لَحْمِهِ وَعَظْمِهِ فَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَاللهِ لَيَتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرُ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللهَ وَالذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ»[1] یعني: یقیناً ستاسو څخه وړاندې داسې خلک تېر شوي دي چې یو سړی به ونیولی شو او په ځمکه کښې به ورته ژور ځای وکنودل شو او پکښې به واچولی (ودرولی) شو، بیا به یې په سر باندې د اوسپنې اره کېښودله شوه او دوه ټوټې به واچولی شو. او داسې هم پېښ شوي دي چې د اوسپنې په ګومنځه باندې به یې غوښې د هډوکو او پلو څخه ګومنځ کړی شوې، خو دغو کارونو به نوموړی د دین څخه نه شو اړولی او ثبات یې نه شو ورخرابولی. په الله ﷻ سوګند دی چې دغه کار (اسلام) به هرومرو تمام شي او نتیجې ته به ورسېږي حتی چې یو سورېدونکی به یوازې د صنعاء څخه حضرموت ته روان وي او نوموړی به نه ډارېږي مګر د الله ﷻ څخه او د شرمخ څخه په خپلو ګډو باندې، خو تاسو تونديي کوئ او په عجله سره نجات غواړئ.

## یادونه

۳ـ د ذکرو شوو ایتونو مضمون د قرآن کریم په نورو ایتونو کښې هم نازل شوی دی، نو د ښه وضاحت دپاره باید د [البقرة:۲۱۴] او د [آل عمران:۱۴۲، ۱۸۶] ایتونو ته مراجعه وکړی شي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: د الله ﷻ ټول صفات ازلي او ابدي دي حال دا چې په دې مقام کښې د ﴿ فَلَيَعْلَمَنَّ ﴾، ﴿ وَلَيَعْلَمَنَّ ﴾ دواړو کلمو څخه د علم د حدوث وړمه پورته کېږي؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ په توفیق د همدغه سوال دپاره د [البقرة:۱۴۳] ایت لاندې ښه تحقیقي جوابونه تېر شوي دي چې دلته رانقلول یې کتاب اوږدوي، نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۱۰۲۷؛ مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۴۵۱

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## هېر مو نه شي!

۵_ هېر مو نه شي چې په ﴿ مَن كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ يَرْجُوا ﴾ کلمه د "رجاء" څخه اشتقاق شوې ده چې د ډار معنی ورکوي، او شرحه يې د الله ﷻ په توفيق د [يونس:۷] ايت لاندې تېره شوې ده.
دا د يو پلوه، او د بله پلوه ذکره شوې جمله شرطيه جمله ده چې جزائيه جمله يې مقدره ده چې په "فَلْيَطْمَئِنَّ" سره ترې تعبير کولی شو او په همدغې مقدرې جملې باندې د ﴿ فَإِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ لَءَاتٍ ﴾ جمله دلالت کوي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوخېژي چې: هرڅوک چې د الله ﷻ د ملاقات (د قيامت د ورځې) څخه ډارېږي نو هغه دې په پوره ډاډ سره نېک عملونه کوي، او دا! خکه چې الله ﷻ د هر شي دپاره نېټه ټاکلې ده او د الله ﷻ نېټه وروسته کېږي خو دروغ کېږي نه، بلکې ضرور راتلونکې ده، نو په کار دي چې څوک ورته بې حوصلې نه شي.

﴿ وَوَصَّيْنَا ٱلْإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيْهِ حُسْنًا وَإِن جَٰهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِى مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ فَلَا
تُطِعْهُمَآ إِلَىَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٨ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا وَعَمِلُوا ٱلصَّٰلِحَٰتِ
لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِى ٱلصَّٰلِحِينَ ۝٩ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ فَإِذَآ أُوذِىَ فِى ٱللَّهِ جَعَلَ
فِتْنَةَ ٱلنَّاسِ كَعَذَابِ ٱللَّهِ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ لَيَقُولُنَّ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ أَوَلَيْسَ ٱللَّهُ
بِأَعْلَمَ بِمَا فِى صُدُورِ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝١٠ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ
۝١١ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّبِعُوا سَبِيلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطَٰيَٰكُمْ وَمَا هُم
بِحَٰمِلِينَ مِنْ خَطَٰيَٰهُم مِّن شَىْءٍ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ۝١٢ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ
وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ۝١٣ ﴾

[۸] او مونږ انسان ته د خپل مور او پلار په نسبت ښايسته توصيه کړې ده (چې اطاعت به وکړي) او (دا موهم ورته ويلي دي چې: ای انسانه!) که (بالفرض) هغوی دواړه ستا په هکله کوښښ وکړي (تا وهڅوي) چې ته زما سره (په عبادت کښې) هغه شی (بوت) شريک کړې (شريک وګڼې) د کوم په موجوديت چې تاته علم نشته (او نه پرې هغوي علم لري)، نو (په دغه صورت کښې) د دواړو اطاعت مه کوه (او خبره يې مه منه. او دا خکه چې):
خاص ماته ستاسو (تولو) رجوع ده نو زه به مو په هغو کارونو باندې خبر کړم (جزا يا سزا به درکړم) کوم چې تاسو ياست چې کوئ يې.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۹] او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي هرومرو ضرور به مونږ هغوی (د قیامت په ورځ) د صالحانو په ډله کښې داخل کړو.

[۱۰] او د خلکو څخه ځینې هغه څوک دي چې وايي: مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی (چې شریک نه لري).

نو کله چې ورته د الله ﷻ (په وحدانیت) کښې اذیت ورسېږي نو (سمدستي د توحید عقیده پرېږدي او) د خلکو فتنه (تعذیب) د الله ﷻ د تعذیب غوندې ګڼي (حال دا چې دا دائمي دی او هغه موقت دی). او که چرته ستا د رب ﷻ د پلوه (مؤمنانو ته) نصرت ورشي (او د غنیمت خاوندان جوړ شي) نو هرومرو او ضرور به هغوی ووايي چې یقینًا مونږ (د آمنًا په ویلو سره) ستاسو سره وو (نو مونږ ته په غنیمت کښې برخه راکړئ).

ایا (دوی به دا خبره کوي) او (ایا) الله ﷻ په هغه شي باندې ډېر ښه پوه نه دی کومو چې د عالمونو په سینو کښې (پټ) دي؟

[۱۱] او هرومرو او ضرور به الله ﷻ هغه کسان معلوم کړي کومو چې (په اخلاص سره) ایمان راوړی دی، او هرومرو او ضرور به منافقان هم معلوم کړي (چې په ایمان راوړلو کښې مخلص نه دي).

[۱۲] او هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی هغو کسانو ته وايي کومو چې ایمان راوړی دی چې زمونږ د لارې (دین) پیروي وکړئ او ستاسو ګناهونه دې ضرور مونږ (په اوږو) اوچت کړو (ستاسو ګناهونه دې زمونږ په غاړو وي). حال دا چې نوموړي کفار د دوی د ګناهونو څخه د هیڅ شي پورته کوونکي نه دي؛ یقینًا هغوی (په دغې وعده کښې) ضرور دروغژنان دي.

[۱۳] او هرومرو ضرور به هغوی خپل (پخواني) ګناهونه اوچت کړي او (څه نور) ګناهونه به (هم) د خپلو (پخوانیو) ګناهونو سره اوچت کړي (د کومو چې د ګمراه کولو د کبله مرتکب شوي دي).

او هرومرو او ضرور به د هغوی څخه د قیامت په ورځ د هغه (قول) پوښتنه هم وکړی شي کوم چې هغوی دي چې دروغ جوړوي (چې: ستاسو ګناهونه دې زمونږ په غاړه وي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو ایتونو مضمون په دې باندې هم مشتمل وه چې په مؤمنانو باندې د ایمان په هکله امتحان هرو مرو راتلونکی دی، خو د امتحان ډولونه نه وه ښودلي شوي چې دوی به د څه ډول امتحان لاندې واقع کېږي. په دې ایتونو کښې د امتحان ځینو مثالونو ته اشاره شوې ده چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د امتحانونو او ازمېښتونو ځینې مثالونه قرائت کړه چې:

۱ـ ځینې خلک د ایمان راوړلو په هکله د مور او پلار د امتحان لاندې واقع کېږي چې:

الف: خپل مور او پلار یې مخاطب کړي چې: هله ژر شه بېرته کفر او بوت پرستۍ ته راوګرځه، که نه نو ته زمونږ د پلوه عاق یې، که ته دا کار ونه کړې نو په لوی لاس به خپل ځان په عاصیانو

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کښې شامل کړي، ایا دا د اسلام حکم نه دی چې ته د مور او پلار اطاعت وکړې، ایا په تاباندې د دوی اطاعت واجب نه دی؟

ب: رښتیا چې مونږ هر انسان ته کلکه توصیه کړې ده چې د والدینو اطاعت وکړي او دوی دواړه خوشاله وساتي، خو د دې سره‌سره دا توصیه مو هم ورته کړې ده چې:

ج: ای انسانه! که ستا والدین هڅه وکړي چې ته کفر ته واوړې او پرته له دلیله زمونږ سره په عبادت کښې په شریک باندې قائل شې، نو په دغه صورت کښې په تاباندې د هغوی دواړو اطاعت واجب نه دی بلکې تاته توصیه ده چې د اطاعت څخه به یې خپل خان ژغورې او غوښتنه به یې نه قبلوې. او دا ځکه چې:

د: د قیامت په ورځ ستاسو څخه یوازې زما د اطاعت او عصیان په هکله پوښتنه او ګروګنه کېږي او بس، نو په دغې ورځ کښې ستاسو ټولو یوازې ماته رجوع ده چې د فیصلو په ترځ کښې به مو په هغو کړو وړو باندې خبر کړو کوم چې تاسو په دنیا کښې کړي وي.

یا په بل عبارت: د مور او پلار اطاعت هله ضرور دی چرته چې مونږ ضرور کړی وي، او زمونږ عصیان پکښې شامل نه وي، که نه نو په دغه صورت کښې خو هیڅ جواز نه لري.

هـ: په همدې بنیاد هرڅوک چې ایمان راوړي او نېک عملونه وکړي که څه هم د مور او پلار په عدم رضایت باندې ورته تمام شي، نو هرو مرو او ضرور به مونږ دغه کسان د صالحانو په ټولګې کښې شامل کړو او جنت به ورکړو.

۲ـ ځینې خلک د ایمان په هکله د کفارو د لاسه د تعذیب د امتحان لاندې واقع کېږي چې مربوط بیان یې دا دی:

الف: په خلکو کښې داسې ډله هم شته چې ډېر په اسانۍ سره "آمَنَّا بِاللهِ" وایي چې: مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی چې په عبادت کښې شریک نه لري او محمد ﷺ په حقه پیغمبر دی.

ب: خو کله چې په همدې هکله ورته اذیت ورسېږي او د کفارو د پلوه د تعذیب لاندې واقع شي نو سمدستي بېرته کفر ته ورګرځي او د معذبیت توان پکښې نه وي. یا په بل عبارت: سمدستي کفر غوره کوي او خپل خان د ابدي الهي عذاب مستحق جوړوي، سمدستي د بندګانو (کفارو) موقت عذاب ته په الهي ابدي عذاب باندې ترجیح ورکوي.

ج: ای پیغمبره! که چرته هرومرو مسلمانانو ته ستا د رب ﷻ د پلوه نصرت ور ورسېږي او په دښمنانو باندې بری مونده کړي، چې د غنیمتونو خاوندان جوړ شي، نو ذکره شوې بې استقامته او بې صبره ډله خلک به هرومرو ضرور هغوی ته ووایي چې: مونږ ایمان راوړی وه او "آمَنَّا بِاللهِ" مو ویلې وه، مونږ خو ستاسو ملګري یاستو نو مونږ ته هم په غنیمتونو کښې برخه وتاکئ:

د: دغه ډله غواړي چې د "آمَنَّا بِاللهِ" په ویلو باندې مؤمنان وغولوي خو دا کار هیڅکله نه شي کولی، او دا ځکه چې: ایا الله ﷻ په هغه شي باندې ډېر ښه پوه نه دی کوم چې د همدغې ډلې په شمول د ټولو عالمونو په زړونو کښې پټ دي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ ډېر ښه پوه دی، چې د همدغه مضمون په نزول باندې یې وریاندې مؤمنان هم پوه کړه او د دوی د چل مخه یې ونیوه.

هـ: دغسې نه ده لکه چې دغه ډله خیال کوي، بلکې هرومرو او ضرور به الله ﷻ هغه خلک معلوم کړي کومو چې رښتیاني ایمان راوړی دی، او هرومرو او ضرور به الله ﷻ منافقت شکله خلک هم معلوم کړي چې مؤمنان به یې ښه وپېژني، او دوی ته به هم خپل ځانونه ښه پوره څرګند شي چې د ایمان سره یې اخلاص درلود او که نه.

۲ـ ځینې خلک د ایمان په ارتباط د یوه بل امتحان لاندې واقع کېږي چې تفصیل یې دا دی:

الف: هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی او غواړي چې نور خلک هم د خپلو ځانونو غوندې په ګمراهۍ اخته کړي، هغو کسانو ته وایي کومو چې په الله ﷻ باندې ایمان راوړی دی چې: تاسو دغه لاره پرېږدئ کومه چې تاسو تازه غوره کړې ده، او زمونږ د لارې پیروي وکړئ او زمونږ غوندې بوتانو ته په الوهیت قول وکړئ، که بالفرض تاسو ته به هر وخت کښې زمونږ په لاره کښې نه خطر متوجه شو او تاسو عاصیان وشمېرل شوئ نو هرومرو او ضرور به مونږ ستاسو جنایتونه په خپلو اوږو بار کړو. یا په بل عبارت: ستاسو ګناه دې زمونږ په غاړه وي، تاسو بالکل په خاطرجمعۍ سره زمونږ لارې ته راواوړئ.

ب: ای پیغمبره! د قیامت په ورځ هرڅوک په خپله ګناه باندې پخپله نیولی کېږي، نو ذکره شوې کفري دعوتي ډله هم نه شي کولی چې د بل چا یا د مرتدانو د ګناه متحمل شي بلکې د هغوی د جنایاتو څخه د ډېر لږ جنایت تحمل هم نه شي کولی.

نو یقیناً دوی په خپله وینا کښې دروغژنان دي لکه څنګه چې په بوت پرستۍ او کفر کښې دروغژنان دي.

ج: هو! د همدغې ګمراه کوونکې ډلې به ـ د خپلو ګمراهیو د پېټي سره‌سره ـ د ګمراه کولو د جنایت پېټی هم په اوږو بار شي، خو دا په دې معنی نه چې د ګمراه کړی شوو کسانو د ګناه پېټی به سپک کړي لکه څنګه چې دوی دروغینه وعده ورکوي.

د: بلکې د قیامت په ورځ به ترې په خپلو کفریاتو باندې علاوه د دغو دروغو پوښتنه هم وکړی شي د کومو په ذریعه یې چې نور خلک کفر او ارتداد ته په دنیا کښې هڅولي وه، او دروغینې وعدې یې ورکړې وې.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حُسۡنٗا ﴾ الآیة- کښې چې کوم امتحان ته اشاره شوې ده په هغه باندې سعد بن ابي وقاص ﷺ مبتلا شوی وه، چې کله نوموړی په ایمان باندې مشرف شو نو خپله مور (جمیله) ورباندې په غُصه شوه[۱]، چې مونږ یې په لاندې ټکو کښې لنډ مطلب لیکو:

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۴؛ اسباب النزول للواحدي ص۲۳۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



جمیله: ای سعده! زه خبره شوې یم چې تا خپل پلرنی دین پرېښی دی او بل دین دې غوره کړی دی.

سعد: هو، زه په ایمان مشرف شوی یم او هغه دین مې قبول کړی کوم چې محمد ﷺ راوړی دی.

جمیله: ضرور به ته دغه دین پرېږدې او خپلې اصلي پخواني دین ته به را اوړې، که نه نو زه به نه څه وخورم او نه به څه وڅښم ترڅو چې د لوږې او تندې څخه مړه شم او تاته خلک د مور د قاتل لقب درکړي، چې ای هغه څوکه چې خپله مور دې ووژله!.

سعد: ای مورې! دا کار مه کوه ځکه چې زه په هیڅ وجه د دغه دین پرېښودونکی نه یم.

جمیله: زه (خپل) د نه خوراک اعتصاب ته ادامه ورکوم.

نو تر دوه وو یا درې ورځو پورې یې ادامه ورکړه چې د ډېر زیات مشکل سره مخامخ شوه.

سعد: ای زما مورې! په الله ﷻ باندې سوګند یادوم چې زه به دغه دین پرېنږدم، که څه هم ستا یو سل ارواګانې وي او یوه-یوه ستا د بدن څخه جدا شي. نور نو ستا خوښه چې خپل اعتصاب ته ادامه ورکوې او که په خوراک او څښاک باندې پیل کوې.

کله چې دغه زنانه (جمیله) د خپل زوی د ارتداد څخه ناامیده شوه نو په خوراک او څښاک باندې یې پیل وکړ او سعد ﷺ د امتحان څخه کامیاب راووت.

۲_ که څه هم د ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا ﴾ الآیة- په شان نزول کښې ځینو مفسرینو کرامو لیکلي دي چې په مکه معظمه کښې یوه ډله خلک وه چې ایمان یې راوړی وه خو د کفارو (مشرکانو) د تعذیب تحمل یې ونه شو کړی او بېرته کافر شوه او په امتحان کښې ناکام شوه[۱]؛ مګر څرنګه چې سلفو صالحینو په مصداقاتو باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۲] نو څه لرې نه ده چې د همدې ایت شریف د مصداقاتو څخه هغه پېښې هم وګڼلی شي کومو چې په مدینه منوره کښې صورت نیولی وه او د الله ﷻ په توفیق ورته د [الحج:۱۱] ایت لاندې اشاره شوې ده.

## هېر مو نه شي

۳_ په دې مقام کښې باید لاندې مطالب هېر نه کړی شي:

الف: په ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَقُولُ ءَامَنَّا ﴾ الآیة کښې د ﴿ مَن ﴾ کلمې څخه هغه کسان مطلب دي کوم چې د مشرکانو د اذیت د کبله قلبًا په خپل ایمان باندې پښېمانه شوي وه او کفر ته بېرته ستانه شوي وه.

نو هغه کسان په دغې ډلې کښې شامل نه دي کومو چې د هغوی د اذیتونو د کبله یوازې په ژبه باندې په کفري خبرې تلفظ کړی وه حال دا چې زړونه یې په ایمان باندې مطمئن وه، چې پوره شرحه یې د الله ﷻ په توفیق د [النحل:۱۰۶] ایت لاندې تېره شوې ده.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۱۳۲؛ زاد المسیر ج۶ ص۱۲۳

(۲) تفسیر القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسیر المنار ج۹ ص۶۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: د ﴿ وَلَئِن جَآءَ نَصْرٌ مِّن رَّبِّكَ ﴾ الآیة مفهوم عام دی، لاندې دواړه صورتونه هم پکښې شمولیت لري:

اول: که بالفرض الله ﷻ د هجرت څخه وړاندې په مکه معظمه کښې مؤمنانو ته دومره نصرت ورکړی وی چې د غنیمتونو خاوندان ګرځېدلي وی، نو ذکرو شوو کسانو به ضرور د ﴿ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ﴾ په کلماتو باندې تلفظ کړی وی، چې مونږ خو ستاسو ملګري او مؤمنانو وو مونږ ته په غنیمت کښې برخه راکړئ. نو څرنګه چې هلته دغه ډول نصرت صورت ونه نیوه نو ذکرې شوې وینا هم تحقق مونده نه کړه، که نه نو هغوی ورته چمتو وه.

دوهم: کله چې الله ﷻ په مؤمنانو باندې په مدینه منوره کښې دغه ډول نصرت ورنازل کړ او د غنیمتونو خاوندان یې وګرځول نو څه لرې نه ده چې عین خبره حقیقتًا هلته منافقانو کړې وي او په ذکرو شوو کلماتو باندې یې خولې ښورولې وي، لکه چې د [النساء:۱۳۸] ایت د ارشاداتو څخه څرګندېږي.

ج: په ﴿ وَلَيَعْلَمَنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ کښې د "مُنَافِقِين" د کلمې څخه په دې مقام کښې هغه کسان مطلب دي کومو چې حقیقتاً ایمان راوړی وه خو د اذیتونو په مقابل کښې یې مقاومت ونه شو کړی او بېرته کفر ته ورواوښتل.

څرنګه چې دغه ډله خلک په خوی خاصیت او د ﴿ إِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ ﴾ د کلماتو په ویلو کښې د حقیقي منافقانو سره متحد وه نو ځکه ترې د ﴿ ٱلْمُنَٰفِقِينَ ﴾ په نامه تعبیر وکړی شو.

حقیقي منافقین هغه کسان دي کومو چې یوازې په خوله ایمان راوړی وي او په زړه کښې په کفر باندې کلک وي، چې پوره شرحه یې د [البقرة:۸] ایت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ والشکر.

۴ــ په ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ الآیة کښې یوه بل ډول امتحان ته اشاره ده هغه دا چې:

کله به د مشرکانو د پلوه په ځینو کسانو باندې د تعذیب صورت اغېزمن واقع نه شو نو بیا به یې کفر ته د دروغینو وعدو په ورکولو سره دعوت چلاوه، چې که بالفرض بوت پرستي ګناه وګڼله شي او په راتلونکې کښې تاسو ته څه مسؤلیت راجع کړی شي نو هغه مسؤلیت مونږ په غاړه اخلو او تاسو ته وعده درکوو چې تاسو به درباندې نه نیولی کېږئ، تاسو په پوره اطمنان سره په خپل پلرني دین باندې کلک پاتې شئ او ایمان مه راوړئ، او که ایمان مو راوړی وي نو بېرته ترې وګرځئ:

کومو کفارو (د کفر مشرانو) چې د ذکرې شوې دروغینې وعدې څخه کار اخست، د هغوی نومونه ځینو علماوو کرامو لیکلي دي[1].

خو الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي چې په دغه امتحان کښې به څومره او څوک ـ څوک ناکام شوي وي او څومره او څوک به ترې کامیاب او بریالي وتلي وي؟، د دې خبرې په هکله چا څه معلومات نه دي ورکړي چې مونږ دلته رانقل کړي وی.

---

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۱۴۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یادونه

۵_ نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې د ﴿ وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَّعَ أَثْقَالِهِمْ ﴾ الآیة د هر ښه تفسیر کړی دی چې: «وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا»[۱] یعنې او هرڅوک چې ګمراهۍ ته بلنه وکړي نو په دغه بلوونکي باندې د ګناه څخه د هغه چا د ګناهونو په مثل وربارېږي کومو چې د نوموړي پیروي کړې ده او د هغه دعوت یې قبول کړی دی، خو دغه بارېدنه د پیروانو د ګناهونو څخه هیڅ شی نه کموي، بلکې دغه سرباري ګناهونه د ګمراه کولو نتیجه ده.

## امتحانونه او بدلون

۶_ په ذکرو شوو ایتونو کښې الله ﷻ د هغو امتحانونو مثالونه نازل کړي دي کومو چې د قرآن کریم د نزول په زمانه کښې په مکه معظمه کښې صورت نیولی وه.

مګر د زمانو په بدلون سره د امتحانونو ډولونه هم بدلېږي رابدلېږي، د مثال په توګه نن ورځ[۲] د افغانستان اسلامي حکومت د یوه خاص امتحان سره مخامخ دی، هغه دا چې کفري ممالکو وربانديې اقتصادي بندیزونه لګولي دي ترڅو یې دې ته مجبور کړي چې په غیر شرعي توګه مخلوط تعلیمي نظام پلی کړي او ښځو ته د سړیو سره یو ځای د زده کړې حق ورکړي، او هم یې په همدغې غیر شرعي توګه په رسمي دوائرو کښې وټاکي.

الله ﷻ دې توفیق ورکړي چې د اسلام دښمنه ټولنو د دسیسو په مقابل کښې خپل استقامت ته ادامه ورکړي او د مداهنت څخه کار وانخلي، امید دی چې په نتیجه کښې به مطلب ته ورسېږي.

﴿ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿١٤﴾ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَصْحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلْنَٰهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ ﴿١٥﴾ وَإِبْرَٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾ إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا إِنَّ ٱلَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا فَٱبْتَغُوا۟ عِندَ ٱللَّهِ ٱلرِّزْقَ وَٱعْبُدُوهُ وَٱشْكُرُوا۟ لَهُۥٓ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَإِن تُكَذِّبُوا۟ فَقَدْ كَذَّبَ أُمَمٌ مِّن قَبْلِكُمْ وَمَا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٨﴾ ﴾

---

(۱) صحیح مسلم ج۲ ص۳۴۱

(۲) ۱۳۷۹/۲/۲۴ = ۱۴۲۱/۳/۱۰ هـ ق

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۴] او بې شکه مونږ نوح ﷺ خپل قوم ته (د پیغمبر په حیث) لیږلی وه، نو په هغوی کښې یو زر کاله پاتې شو (او دعوت یې پکښې چلاوه) مګر پنځوس کاله.

نو (د نهه نیم سوه کاله دعوت څخه وروسته) هغوی په داسې حال کښې طوفان ونیول چې دوی ظالمان (او کافران) وه (د دعوت څخه یې ګټه پورته نه کړه).

[۱۵] نو مونږ نوح ﷺ ته او د بېړۍ ملګرو (سورلیو) ته نجات ورکړ او بېړۍ مو د ټولو عالمونو دپاره (د خپل کامل قدرت) نښه وګرځوله.

[۱۶] او (مونږ) ابراهیم ﷺ (هم د پیغمبر په حیث لیږلی وه) کله چې هغه ﷺ خپل قوم ته وویلې چې: (خاص) د الله ﷻ عبادت وکړئ او د همده ﷻ څخه وډار شئ (په عبادت کښې ورسره شریک مه دروئ).

دغه (تګلاره) ستاسو دپاره زیاته ګټوره ده که تاسو یاست (چې په څه باندې) پوهېږئ (نو همدغه تګلاره تعقیب کړئ).

[۱۷] یقینًا تاسو د الله ﷻ څخه په غیر د (بل شي نه بلکې د ناتوانه) بوتانو عبادت کوئ، او (په الله ﷻ باندې) دروغ جوړوئ (تړئ).

بې شکه هغه کسان د کومو چې تاسو د الله ﷻ څخه پرته عبادت کوئ هغوی ستاسو دپاره د روزۍ (درکولو) توان نه لري، نو تاسو د الله ﷻ په نزد روزي ولټوئ او عبادت یې وکړئ او همده ﷻ ته شکر ګزاري وکړئ چې تاسو به خاص همده ﷻ ته ور وګرځولی شئ.

[۱۸] او که تاسو (زما) تکذیب وکړئ نو (ماته هیڅ ضرر نه شئ رسولی او دا خکه چې) ستاسو څخه مخکښې ډېرو اُمتونو (د خپلو-خپلو پیغمبرانو) تکذیب کړی دی (نو یوازې پخپله په عذاب اخته شوه) چې په پیغمبر باندې خو نه دی مګر څرګند ابلاغ دی (او دا ما په ښه طریقه باندې ترسره کړی دی والحمد لله ﷻ).

## ارتباطونه او د مطلب خلاصه

الف: وړاندې الله ﷻ په اجمالي توګه اشاره کړې وه چې: ﴿ وَلَقَدْ فَتَنَّا ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ﴾ [العنکبوت: ۳] یعني او یقینًا مونږ هغه کسان هم د ازموینې لاندې واقع کړي وه کوم چې د دې زمانې د خلکو څخه مخکښې تېر شوي دي.

په دې ایتونو کښې د ذکر شوي ایت شریف اجمال ته لږ څه تفصیل ورکړی شوی دی.

ب: وړاندې د امتونو د امتحاناتو مثالونه ښودلی شوي وه او دلته د پیغمبرانو د امتحاناتو په مثالونو باندې پیل شوی دی، او د څو متعددو پیغمبرانو نومونه اخستلی شوي دي.

ج: بالآخره دلته د امتحانونو په ذکرو شوو ډولونو باندې علاوه څه نورو ډولونو ته یې هم اشاره شوې ده، لکه اوږد دعوت، په اور کښې غورځول او داسې نور.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په خپل امت باندې د ښه وضاحت دپاره د اطمنان او تسکین په خاطر د دې پیغمبرانو حالات قرائت کړه چې د دعوت په اوږدو کښې یې څومره مشکلات ګاللي دي او په پای کښې یې څومره لوی بری او کامیابي په برخه شوې ده. هغه دا چې:

۱ـ مونږ نوح ﷺ خپل قوم ته د کفریاتو د مخنیوي په خاطر او د توحید د اشاعت دپاره لیږلی وه چې د دعوت پیل او انجام یې په لاندې ډول صورت وموند:

الف: نوح ﷺ په خپل قوم کښې د یو زر کلونو څخه فقط پنځوس کاله کم دعوت وچلاوه او ډیر مشکلات یې وګالل. همدارنګه په همدغې اوږده دعوتي موده کښې د وخت مؤمنان هم د کفارو د پلوه د امتحان په توګه د زښتو زیاتو تعذیبونو سره مخامخ شوه او خپل استقامت یې خراب نه کړ.

ب: د نهه نیم سوه کاله اوږده دعوت په اثر هم هغوی د خپلو کفریاتو او شرکیاتو څخه لاس وانخست، نو په نتیجه کښې هغوی د خپل ظلم او کفر د کبله طوفان ونیوه او د څرمې تول پوینا شوه.

ج: خو مونږ فقط نوح ﷺ او هغه چا او همدارنګه هغه شي ته د طوفان څخه نجات ورکړ کوم چې ورسره په بیړۍ کښې پورته شوي وه او اندیوالي یې ورسره کلکه کړې وه.

د: مونږ د نجات ذکره شوې بیړۍ آن د قیامت تر ورځې پورې د ټولو عالمونو دپاره د خپل کامل قدرت یوه نښه وګرځوله، چې ډیرو خلکو په خپلو سترګو سره د جودي غره په څوکه ولاړه ولیدله، او نورو ته مونږ د پیغمبرانو په ذریعه خبر ورکړ او په کیفیت باندې مو پوه کړه.

۲ـ همدارنګه مونږ ابراهیم ﷺ هم خپل قوم ته د پیغمبر په حیث ورلیږلی وه چې د دعوتي جملو مثالونه یې دا دي:

الف: ابراهیم ﷺ خپل قوم ته وویلې: ای زما قومه! تاسو فقط او فقط د الله ﷻ عبادت وکړئ او د همده ﷻ څخه وډار شئ او په عبادت کښې ورسره شریک او شریکان مه دروئ.

ب: دغه عقیده او تګلاره ستاسو دپاره په دنیا او آخرت کښې په ګټه تمامیږي، چې په دواړو دارینو کښې به پرې د الهي عذابه په امن کښې پاتې شئ او هم به د اجرونو مستحق وګرځئ.

ج: که تاسو یاست چې په خپل خیر او شر باندې پوهیږئ نو ذکره شوې توصیه عملي کړئ.

د: ای زما قومه! یقیناً تاسو د الله ﷻ څخه په غیر د بل شي عبادت نه کوئ بلکې د بوتانو عبادت کوئ چې تاسو په خپلو لاسونو باندې جوړ کړي دي او د ګټې او ضرر هیڅ توان پکښې نشته. بلکې تاسو دروغ جوړوئ چې همدغه د عبادت مستحق ګڼئ او د خیر او شر توان ورته اثباتوئ، نو زه تاسو ته ارشاد کوم چې د دغه باطل خط السیر څخه لاس واخلئ او دا ځکه چې:

هـ: یقیناً هغه باطل معبودان چې تاسو یې د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوئ د دې ملکیت او توان نه لري چې تاسو ته روزي درکړي او ستاسو اړتیاوې پوره کړي. بلکې هغوی پخپله په هر آن کښې الله ﷻ ته احتیاج دي.

و: نو تاسو د دغو محتاجانو څخه د خپلو اړتیاوو پوره کول مه غواړئ بلکې د الله ﷻ په نزد روزي ولټوئ او همده ﷻ ته د خپلو احتیاجاتو په هکله دسوال لاسونه پورته کړئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ز: بلکې خاص د همده ﷻ عبادت وکړئ او د هغو بې شمېره نعمتونو شکریه یې وکړئ کوم یې چې تاسو ته درېبرزو کړي دي. او دا څکه چې:

ح: تاسو د الله ﷻ څخه هیڅ د تېښتېدلو لاره نه لرئ، ستاسو رجوع خاص همده ﷻ ته لازمه ده چې هلته به د خپلو کړو وړو د مجازات سره مخامخ شئ.

۳ـ ای زما قومه! که تاسو زما دعوت قبول نه کړئ او خپلو کفریاتو ته ادامه ورکړئ نو ما ته هیڅ ضرر نشته څکه چې:

الف: ستاسو څخه وړاندې هم ډېرو اُمتونو د خپلو خپلو پیغمبرانو دعوتونه نه دي قبول کړي خو په نتیجه کښې پیغمبرانو نجات موندلی دی او یوازې د دعوت نه قبلوونکي په عذاب باندې اخته شوي دي، تاسو خو د نوح ؑ د قوم حالات درېه زړه کړئ.

ب: زما په غاړه خو ستاسو په ارتباط بل شی واجب نه دی یوازې دعوت او د احکامو ابلاغ زما وجیبه ده، چې د الله ﷻ په توفیق زه یې د اداء کولو څخه بریالی راووتلم، نور نو تاسو پوهېږئ او کار مو.

## توضیحات

۱ـ په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرام د نوح ؑ د ټولو عمر په هکله متعدد اقوال لیکلي دي چې تقریبًا پنځو قولونو ته رسېږي[1]، مونږ په هغه قول باندې اکتفاء کوو کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأعراف:۵۹] ایت لاندې لیکلي دي چې ټول عمر یې د (۱۴۵۰) کالو په شاوخوا کښې وه، والله ﷻ أعلم.

نوح ؑ د خپل عمر لویه برخه (۹۵۰) کاله په دعوت کښې تېره کړې ده او په دغه اوږده دعوت کښې یې ډېر مشکلات ګاللي دي، شاید چې په دغو مشکلاتو ګاللو کښې به هغه کسان هم بې برخې نه وي پاتې شوي کومو چې وروباندې په خپله زمانه کښې ایمان راوړی وه او بیا ورسره د نجات په بېړۍ کښې سواره شوي وه، وجزاهم الله خیر الجزاء.

### یوه عجیبه عبرتي خبره

۲ـ انس بن مالک ؓ وایي چې: د نوح ؑ سره د مرګ په وخت کښې ملک الموت ؑ داسې سوال جواب وکړ:

ملک الموت ؑ: ای ډېر اوږد عمره پیغمبره! دا راته ووایه چې دنیا او دلته د ژوند مزه درته څنګه برېښي؟

نوح ؑ: «کَرَجُلٍ دَخَلَ بَيْتًا لَهُ بَابَانِ فَوَقَفَ فِي وَسَطِ الْبَيْتِ هُنَيْهَةً ثُمَّ خَرَجَ مِنَ الْبَابِ الآخَرِ»[2] یعني

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۱۲۴

(۲) الدر المنثور ج۶ ص۴۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ماته خپل ځان داسې برېښي لکه چې يو سړی يوې داسې کوټې ته ورداخل شي چې دوه دروازې ولري، نو په داخل کېښې يې ساتکوټی (ډېر لږ وخت) ودرېږي او بيا ترې د بلې دروازې څخه ووځي.

## طوفان څه معنی؟

۳ـ په ﴿ فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ ﴾ کښې د "طُوفَان" په کلمه کښې "الف" او "نون" زائد دي او اصلي حروف يې "ط، و، ف" دي. دغه کلمه په اصل کښې هرې هغې حادثې ته وضعه شوې ده کومه چې په انسانانو باندې احاطه وکړي او د تېښتېدلو لاره ترې ورکه کړي. خو په هغو اوبو کښې ډېره استعمالېږي کومې چې په هر شی باندې وروخېژي او هر شی ډوب کړي[1].

په دې مقام کښې همدغه معنی مراده ده، چې په دغه وخت کښې د اوبو څخه يوازې ېېړۍ او د ېېړۍ سورليو نجات مونده کړ او نور هر شی په اوبو کښې ډوب شو، چې بشپړ بيان يې د "هود" په سورت کښې تېر شوی دی، والحمد الله ﷻ.

﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ كَيْفَ يُبْدِئُ ٱللَّهُ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥٓ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ بَدَأَ ٱلْخَلْقَ ۚ ثُمَّ ٱللَّهُ يُنشِئُ ٱلنَّشْأَةَ ٱلْـَٔاخِرَةَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾ يُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ وَيَرْحَمُ مَن يَشَآءُ ۖ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾ وَمَآ أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ ۖ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِـَٔايَـٰتِ ٱللَّهِ وَلِقَآئِهِۦٓ أُو۟لَـٰٓئِكَ يَئِسُوا۟ مِن رَّحْمَتِى وَأُو۟لَـٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾ ﴾

[۱۹] (کفار د قيامت څخه منکران دي او) ايا دوی نه ګوري (نه پوهېږي) چې الله ﷻ په اول خل څنګه پيدا کول کوي؟

بيا الله ﷻ پيدا کول اعاده کوي (مخلوقات پيدا کوي لکه چې په اول خل يې پيدا کړي دي) او دا څکه چې) يقيناً دغه کار (پيدا کول او اعاده کول) په الله ﷻ باندې اسان دی (هيڅ اشکال ورته نه لري).

[۲۰] (ای پيغمبره! کفارو ته) ووايه چې: تاسو په ځمکه کښې وګرځئ نو وګورئ چې الله ﷻ (په لومړي خل) پيدا کول څنګه پيل کړي دي؟

بيا به الله ﷻ (همدارنګه مخلوقات) پيدا کړي وروستني پيدا کول (او قيامت به قائم کړي)، بې شکه الله ﷻ په هر شي باندې د قدرت څښتن دی.

---

(۱) مفردات الراغب ج ۳۲۰: القاموس المحيط ج۳ ص ۱۱۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۱] الله ﷻ هغه څوک معذبوي کوم ته يې چې اراده وشي او په هغه چا باندې رحم کوي کوم ته يې چې اراده وشي. او تاسو به خاص همده ﷻ ته ورواړولی شئ.
[۲۲] او تاسو نه په ځمکه کښې (د الله ﷻ) عاجز ګرځوونکي یاست او نه په اسمان کښې (تاسو به ترې په هیڅ ځای کښې خلاصون مونده نه کړئ)، او (همدارنګه) تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست شته او نه نصرت کوونکی (چې په دوستۍ او یا په زور سره د عذابه نجات درکړي).
[۲۳] او هغه کسان کوم چې د الله ﷻ په ایتونو او د ده ﷻ په ملاقات (د قیامت په قیام) باندې کفر غوره کړی دی، دغه کسان زما د رحمت څخه نااُمیده دي (هلته به نا امیده وګرځي) او دغه کسان چې دي همدوی لره (زما په نزد) دردناک عذاب دی.

## ارتباط

د ایتونو په دغې مجموعه کښې د الله ﷻ د پلوه د ابراهیم ﷺ په کلام باندې یوه عبرتي تبصره نازله شوې ده، او نبي کریم ﷺ ورباندې مخاطب ګرځولی شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په کار دي چې کفار عمومًا او قریش خصوصًا د ابراهیم ﷺ د هغه نصیحت څخه عبرت واخلي کوم ته چې په وړاندې ایتونو کښې اشاره شوې ده، هغه دا چې:

۱ـ د بوټانو د لاسه هیڅ شی پوره نه دی او (د روزۍ په شمول) هر شی د الله ﷻ په واک او اختیار کښې قرار لري.

۲ـ چې کفار ترې عبرت نه اخلي نو: ایا دوی نه ګوري چې الله ﷻ پیدا کولو ته څنګه د نشت څخه صورت ورکوي، او د عدم څخه هغو شیانو ته موجودیت ورکوي کومو ته يې چې اراده وشي او دغه سلسله د دوی تر سترګو لاندې روانه ده او د دوی په خپلو خانونو کښې تطبیق ده؟.

۳ـ کله چې هغوی ښه پوهېږي چې دغه کار یوازې د الله ﷻ پورې اختصاص لري او د ده ﷻ څخه په غیر هیڅوک توان نه لري چې څه شي ته موجودیت ورکړي، نو هغوی ته په کار دي چې دا عقیده هم خپله کړي چې ضرور به الله ﷻ د فنا کولو څخه وروسته یو ځل بیا مخلوقات بېرته راژوندي کړي. یا په بل عبارت: هغوی خو په ابتدایي ژوند باندې علم لري چې هر شي ته د الله ﷻ د پلوه ورکړی شوی دی، نو باید چې دوهم ځل ژوند ورباندې قیاس کړي. او دا ځکه چې:

۴ـ نظر بشري قدرت ته اعاده د ابتداء څخه اسانه ده، اما نظر د الله ﷻ کامل قدرت ته دغه دواړه کارونه (ابتداء او اعاده) هر یو ډېر اسان دي هیڅ مشکل پکښې نشته.

۵ـ نو ای پیغمبره! یو ځل بیا دغه حقائق خلکو ته قرائت کړه چې:

الف: ای خلکو! تاسو لاړ شئ او په ځمکه کښې سیاحت وکړئ او ښکته پورته پکښې وګرځئ: ترڅو وګورئ چې الله ﷻ په څومره ډېرو مختلفو کیفیتونو سره مخلوقات پیدا کړي دي چې په شکلونو او نورو صفاتو کښې یو تربله څومره توپیر لري؟ ایا د همده ﷻ څخه پرته بل څوک دا کار کولی شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نو تاسو ته په کار دي چې د خپل سیاحت په نتیجه کښې په دې خبره باندې هم عقیده وکړئ چې په وروستني پیدا کولو کښې به یو خل بیا الله ﷻ خپل مخلوقات په مختلفو کیفیتونو سره راژوندي کړي، او دا څکه چې الله ﷻ په هر شي باندې قدرت درلودونکی دی.

۶ـ کله چې الله ﷻ یو خل بیا د قیامت په ورځ مخلوقات راژوندي کړي نو هلته به د خپل کامل قدرت او کاملې واکدارۍ ځرګندونه په لاندې ډول سره وکړي:

الف: هغه څوک به معذب کړي کوم ته یې چې اراده وشي او په هغه چاباندې به رحم او مهرباني وکړي کوم ته یې چې اراده وشي.

ب: خاص همده ﷻ ته به تاسو ټول وروګرځولی شئ او هیڅوک به په قبر کښې پاتې نه شي چې د حساب کتاب دپاره حاضر نه کړی شي؛

ج: لنډه دا چې: ای انسانانو! تاسو داسې نه یاست چې الله ﷻ عاجز وګرځوئ او وربانديې زورور شئ، چې په ځمکه یا آسمان کښې ترې پټ شئ او حساب کتاب ته حاضر نه شئ.

د: همدارنګه تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست شته او نه درته کومک کوونکی شته، چې په ځمکه یا اسمان کښې پنا درکړي او د حساب کتاب څخه مو بچ کړي.

۷ـ ای پیغمبره! په دنیا کښې هم ټول مؤمنان زما رحمت ته هیله مند دي او د قیامت په ورځ به هم ورته همدوی په تمه وي او خاص په همدوی باندې به ورعنایت کړی شي.

اما هغه کسان چې کفر یې غوره کړی دی او د الله ﷻ د دلایلو او هم د قیامت د ورځې څخه انکار کوي، همدغه ډله خلک په دنیا کښې زما د رحمت پرواګېر نه دی او د قیامت په ورځ به ترې نا امید وګرځي او همدغې ډلې ته هلته دردناک عذاب دی.

## توضیحات

۱ـ که څوک وایې چې: ظاهره داسې برېښي چې د ﴿ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ﴾ جمله د ﴿ يُبْدِئُ ٱللَّهُ ٱلْخَلْقَ ﴾ په جمله باندې عطفه ده، حال دا چې په دې تقدیر مطلوبه معنی د منځه ځي او دا څکه چې کفارو خو د بیا پیدا کولو راګرځول نه دي لیدلي، بلکې دوی خو ترې انکار کوي؟

مونږ وایو چې: دغه جمله په هغې جملې باندې عطفه نه ده ترڅو اعتراض وارد شي بلکې دا جمله د ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا ﴾ په جمله باندې عطفه ده او حاصل یې هغسې راځېږي لکه څنګه چې وړاندې د مطلب په خلاصه کښې ورته اشاره شوې ده.

۲ـ دا د یوه پلوه، او د بله پلوه نبي کریم ﷺ په یوه اوږده قدسي حدیث کښې دا جمله ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ﴾ ډېره ښه تفسیره کړې ده چې فرمایلي یې دي چې: «عَطَائِي كَلَامٌ وَعَذَابِي كَلَامٌ إِنَّمَا أَمْرِي لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ»[۱] یعنې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ماته هر شی اسان

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۷۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دی او دا څکه چې زما ورکړه فقط کلام دی او زما عذاب هم فقط کلام دی، هغه دا چې: یقیناً یوه شي ته چې کله زه اراده وکړم نو هغه ته فقط همدومره وایم چې "شه" نو هغه سمدستي همغسې کېږي څنګه چې ورته ما امر کړی وي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ﴿ قُلْ سِيرُواْ ﴾ الآية- مضمون خو په وړاندېنې ایت ﴿ أَوَلَمْ يَرَوْاْ كَيْفَ ﴾ الآية- کښې اداء شوی دی، نو په تکراري نزول کښې یې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې: د دواړو ایتونو مضمون تکراري نه دی بلکې په اولنې ایت کښې بنیادمان د خپلو ځانونو پیدا ایښت ته متوجه کړی شوي دي چې څنګه د خاورو یا نطفو څخه په متعددو مراحلو سره د سرېتوب مرحلې ته رسولی شوي دي. او په دوهم ایت کښې هغوی متوجه کړی شوي دي چې د الله ﷻ د کامل قدرت نښانې د نورو مخلوقاتو په پیدا ایښت کښې د نظره تېرې کړي.

ترڅو په دغو دواړو فکرونو باندې د بیا راژوندي کولو موضوع قیاس کړي، ته به وايې چې په ذکرو شوو دواړو ایتونو کښې هغه ایت شریف ته اشاره شوې ده په کوم کښې چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْـَٔافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ ﴾ [فصلت:۵۳] یعنې: ژر دی چې مونږ به انسانانو ته د خپل قدرت دلایل په اطرافو کښې او هم د دوی په ځانونو کښې وروليده کړو، ترڅو دوی ته حقیقت ښه څرګند شي.

﴿ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾ وَقَالَ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَٰنًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ۖ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٥﴾ ۞ فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌ ۘ وَقَالَ إِنِّى مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّىٓ ۖ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٦﴾ وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ إِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَجَعَلْنَا فِى ذُرِّيَّتِهِ ٱلنُّبُوَّةَ وَٱلْكِتَٰبَ وَءَاتَيْنَٰهُ أَجْرَهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَإِنَّهُۥ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٢٧﴾ ﴾

[۲۴] نو د ابراهیم عليه السلام د قوم جواب هیڅ نه وه مګر دا چې دوی (یو تربله) وویلې چې: ابراهیم عليه السلام (د قتل په یوې ذریعې سره) قتل کړئ او یا یې په اور باندې وسوزئ (چې بیا دوی همدغه د اور سوزل غوره کړه). یقیناً په دغه (نجات) کښې د

خو الله ﷻ ورته د اور څخه نجات ورکړ (چې وېې نه شو سوزولی)، یقیناً په دغه (نجات) کښې د داسې قوم دپاره چې یقین کوي د قدرت ډېرې (لویې) نښې شته دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۵] او د نجات څخه وروسته ابراهیم ﷺ خپل قوم ته وویل چې: یقیناً تاسې د الله نه پرته
په دې په خپل ژوند کښې د خپلمنځي دوستۍ لپاره بوتان د معبودانو په توګه نیولي دي
چې د لاسه یې نه دي، بیا به د قیامت په ورځ ستاسو ځینې د ځینو نه بېزاري ښکاره کړي
او ځینې به په ځینو لعنت وایي.

او ستاسو د ټولو استوګنځای اور دی، او تاسو لپاره به هیڅ کومک کوونکی نه وي.

[۲۶] نو ابراهیم ﷺ ته په تاریخ کې لوط ﷺ ایمان راوړ، چې د هغه وراره و او وروسته
پیغمبر شو، او ابراهیم ﷺ وویل: زه د خپل رب ﷻ په لور هجرت کوونکی یم.

او ابراهیم ﷺ وویل چې: یقیناً زه د خپل رب ﷻ (د رضا) په لور هجرت کوونکی یم، څکه
هغه ﷻ دیاره دا وطن پرېږدم، یقیناً زما رب ﷻ هغه دی د کمال او غلبې والا او د
حکمت څښتن دی.

[۲۷] او موږ ابراهیم ﷺ ته (زوی) اسحاق ﷺ او (لمسی) یعقوب ﷺ وروبخښل او موږ
د ده ﷺ په اولاده کښې (د ده څخه وروسته) نبوت او اسماني کتاب ورکړ، او په خصوصي توګه
اختصاص ورکړ، او موږ ابراهیم ﷺ ته په دنیا کښې اجر ورکړ.

او یقیناً هغه ﷺ د قیامت په ورځ کښې د صالحانو د اعلی ځای څخه دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

کله چې هغه تبصره ختمه شوه کومې چې د ابراهیم ﷺ په اصلاحي کلام پسې تړلې وې
ورته به دې ایتونو کښې د اصلاحي کلام په مقابل کښې د کفارو د غبرګون بیان شوی دی
چې حاصل یې داسې راځي.

ای پیغمبره! اوس به خپل امت ته دا نکات قرائت کړه چې:

۱ـ کله چې د وخت کفار مشرکان د ابراهیم ﷺ د اصلاحي کلام په مقابل کښې د دلیل سره
مخامخ شول او هیڅ نه شو کولی چې د هغه په لاره ورته منفي کړي، نو لاندې صورت حال پېښ شو:

الف: د مشرکانو نهایي جواب دا و چې په خپلو منځو کښې یې پرېکړه وکړه چې
ابراهیم ﷺ سره د دې څخه په غیر بل چاره نشته چې یا یې ووژنئ، یا یې په اور کې وسوځوئ،
او بیا یې په یوه خاص ډول سره ووژنئ چې په اور کښې یې وسوځوئ او داسې یې بلکل ورته
لګه څګه چې تو موږ ورته ژغورنه ورکړې ده او د دې پېښو د آیت د کلمه یې ښکاره ده.

ب: بیا د ټولو وروستنۍ پرېکړه دا شوه چې ابراهیم ﷺ په اور باندې ورته کړي او د هغه
خبر یې بلکل وسوځوي چې د هغې عمل د ترسره کولو دپاره یې ورته عظیم انسان اورته کړ
تو موږ پیغمبر یې بلکل وروباچاوه.

ج: خو الله ﷻ ورته د اور د سوځولو څخه نجات ورکړ او اور یې ورباندې سړې او د سلامتۍ
درلودونکی وګرځاوه.

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: یقیناً په دغه اعجازي نجات کښې د قیامت تر ورځې پورې د هغه قوم دپاره د پر ستر قدرتي دلایل پراته دي کوم چې په حقیقي معناوو کښې ایمان راوړي. او دا څکه چې: دوی پوهېږي چې مؤمنان د امتحان سره مخامخ کېږي خو په نتیجه کښې کامیابي د همدوی په برخه وي او دښمنان بې د خجالت او شرمندګۍ سره مخامخ کېږي.

۲_ کله چې ابراهیم ﷺ د مشرکانو د اور څخه نجات مونده کړه او روغ رمټ ترې راووت نو بیا یې وروستني نصائح هغوی ته داسې متوجه کړه چې:

الف: ای مشرکانو! تاسو په دې حقیر ژوند کښې د الله ﷻ څخه په غیر بوتان د معبودانو په صفت د دې دپاره نیولي دي چې:

اول: تاسو ورسره مینه او محبت لرئ او هم خیال کوئ چې په عبادت سره هغوی هم ستاسو سره مینه او محبت لري او که ضرورت ورته پېښ شو نو شفاعت به مو وکړي.

دوهم: تاسو د بوتانو عبادت په خپلو منځو کښې هم د مینې او محبت ذریعه ګرځولې دی چې نول ورباندې راټول یاست او په اتفاق سره مو دغه لاره غوره کړې ده.

ب: خو په یاد ولرئ چې د قیامت په ورځ به ستاسو ذکر شوی محبت په دښمنۍ باندې بدل شي او دا څکه چې: هلته به تاسو د خپلو معبودانو څخه انکار وکړئ او هغوی به ستاسو د عبادت څخه منکر شي، همدارنګه به هلته مشران په کشرانو باندې په غُصه وي او کشران به مشرانو ته غابښ چیچي، او هم به هلته تاسو ټول عابدین او معبودین، او هم کشران او مشران یو پر بل لعنت وایاست، او د بغض او دښمنۍ څرګندونه به کوئ.

ج: هلته به تاسو د ټولو وروستنی کور دوزخ وي چې ستاسو هیڅوک به ترې نجات مونده نه کړي.

د: هلته به نه ستاسو د یوه کس دپاره مددګاران مونده شي چې نجات ورکړي او نه به یوه ډله په دغه مطلب باندې بریالۍ شي.

۳_ په پای کښې ابراهیم ﷺ د سخت امتحان څخه بریالی راووت او ټول مشرکان په خپله شرکي عقیده باندې کلک پاتې شوه او هیچا ورباندې ایمان رانه ووړ، نو:

الف: یو ورباندې لوط ﷺ خپله پخوانۍ توحیدي عقیده تقویه کړې وه چې د ده نبوت یې قبول کړی وه، او بل ورباندې بي بي ساره رضي الله عنها مؤمنه (معتقده) شوه. نو د دوی دواړو څخه پرته په ټوله جامعه کښې دریم کس ایماندار مونده نه شو.

ب: نو ابراهیم ﷺ د الله ﷻ په اجازه قصد وکړ چې د دغو مشرکانو د سیمې څخه هجرت وکړي.

ج: نو د همدې کبله یې وویلې چې: یقیناً زه د دغې سیمې څخه هغې ځای ته هجرت کوونکی یم کوم چې ماته د خپل رب ﷻ د پلوه ټاکلی شوی دی، چې د شام منطقه ده.

یقیناً زما رب ﷻ همدی د کلکې ارادې خاوند دی چې د مشرکانو ټولې دسیسې یې شنډې کړې، او همدی د حکمت څښتن دی چې د هجرت ځای یې راته وټاکه.

۴_ ای پیغمبره! که څه هم ابراهیم ﷺ د ډېرې بې کسۍ په حال کښې هجرت وکړ مګر:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: مونږ ورته ښه پراخه زوزات وبابنه چې د بي بي ساري ﷺ د کیډې څخه مو ورته اسحق ﷺ
د زوی په حیث او یعقوب ﷺ مو ورته د لمسي په حیث وربښلي کړ.

ب: او هم مو د هغه ﷺ په اولاده کښې نبوت او اسماني کتاب وګرځاوه. چې وروستي ټول
پیغمبران د هغه ﷺ په اولاده کښې مبعوث شوي دي او ټول اسماني کتابونه (لکه تورات، انجیل،
زبور او قرآن) په همدوی باندې ورنازل شوي دي.

ج: همدارنګه مونږ ابراهیم ﷺ ته په دې نږدې دنیا کښې د مشکلاتو د ګاللو اجر ورکړ، چې
وروستني ټول امتونه یې په نېک نامه یادوي او درود وریاندې استوي.

د: بالآخره نوموړی په آخرت کښې د صالحانو د ډلې څخه دی، چې دا د اولو العزمو پیغمبرانو
ډلې څخه عبارت ده.

## توضیحات

۱ـ د ابراهیم ﷺ کومې قیصې ته چې په دې مقام کښې اشاره شوې ده هغه په [الأنبیاء] سورت
کښې ښه مفصله نازله شوې ده، هیله ده چې د زیات تفصیل دپاره همغه مراجعه وکړی شي.

## یو نحوي تحلیل

۲ـ مفسرینو کرامو په ﴿ إِنَّمَا ٱتَّخَذْتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ أَوْثَـٰنًا مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِى ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا ﴾ کښې د
اعراب په لحاظ متعدد تحلیلونه کړي دي[۱]، خو کوم تحلیل چې مونږ ته غوره او لنډ برېښېږي
دی هغه په لاندې ټکو ولاړ دی:

الف: په ﴿ إِنَّمَا ﴾ کښې د "مَا" توری موصول نه دی بلکې د "إِنَّ" د عمل دپاره کافه دی.

ب: د ﴿ ٱتَّخَذْتُم ﴾ کلمه دوه وو مفعولو ته متعدي ده، چې اول مفعول یې د ﴿ أَوْثَـٰنًا ﴾ کلمه ده او
دوهم مفعول یې د "آلِهَةً" مقدره کلمه ده چې د ﴿ مِّن دُونِ ٱللَّهِ ﴾ کلمات وریاندې دلالت کوي.

ج: د ﴿ مَّوَدَّةَ ﴾ کلمه د ﴿ بَيْنِكُمْ ﴾ د کلمې دپاره مضافه ده، او هم منصوبه ده چې د ﴿ ٱتَّخَذْتُم ﴾
دپاره مفعول له واقع شوې ده.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ای مشرکانو! یقیناً تاسو بوتان د الله ﷻ څخه په غیر
معبودانو په صفت د دې کبله نیولي دي چې په نږدې او حقیر ژوند کښې ستاسو د منځ د دوستۍ
او محبت اسباب دي، تاسو په همدغه کار باندې یو تربله ځپلې دوستۍ ټینګوئ، خو په یاد ولرئ
چې دغه دوستي به مو د قیامت په ورځ په دښمنۍ او عداوت باندې بدله شي.

## متعدد تفسیرونه

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ ثُمَّ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا ﴾

---

[۱] تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَمَأْوَىٰكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴾ کښې د "کُمْ" په څلورو ضمائرو سره څوک مخاطب دي؟

مونږ وايو چې: په دغو ضمائرو کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات ليکلي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: دغه ضمائر يوازې عبادت کوونکو ته راجع دي چې د قيامت په ورځ به مشران کفار په کشرانو کفارو باندې پړه وراچوي او لعنت به ورته غواړي او کشران به بالعکس مشرانو ته د ملامتۍ ګوته ونيسي. لکه چې همدا مضمون په [الأعراف:۳۹] ايت کښې تېر شوی دی، او په [الأحزاب:۶۸] او [سبأ:۳۳] ايتونو کښې راروان وي.

ب: دغه ضمائر د عابدينو او معبودينو دواړو مجموعې ته متوجه دي، يعنې د قيامت په ورځ به دغه دواړه ډلې يوه په بلې باندې پړه اچوي او د الله ﷻ د رحمت څخه به ورته لرېوالی غواړي. لکه چې همدا مضمون په [النحل:۸۶] او [مريم:۸۲] ايتونو کښې تېر شوی دی.

## تبصره

۴ـ څرنګه چې ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره څه منافات نه لري او په نورو ايتونو کښې په ثبوت باندې هم رسېدلي دي، نو مونږ ته بهتره برېښي چې د بدليت په لحاظ سره دواړه اراده کړی شي.

## لومړنی هجرت کوونکی څوک دی؟

۵ـ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنبياء:۷۱] ايت لاندې د ابراهيم ﷺ د هجرت په هکله ښه ګټور معلومات ليکلي دي خو په دې مقام کښې وربانديې وراضافه کوو چې[1]:

الف: لومړی کس چې د خپلې مېرمنې سره يې د الله ﷻ په لاره کښې د کفارو د لاسه هجرت کړی دی، هغه ابراهيم ﷺ دی، چې خپله مېرمن (ساره رضي الله عنها) ورسره ملګرې وه او د عراق څخه يې شام شريف ته في سبيل الله ﷻ هجرت وکړ.

ب: لومړی کس چې په انفرادي توګه يې هجرت په نصيب شوی دی هغه لوط ﷺ دی، چې د ابراهيم ﷺ وراره وه او په ذکر شوي هجرت کښې ورسره ملګری وه.

ج: لومړی سړی چې د خپلې ماندينې سره په هجرت برياليی شوی دی او د آخر الزمان پيغمبر ﷺ د امتيانو څخه دی هغه عثمان ؓ دی، چې خپله ماندينه (رقية بنت محمد ﷺ) ورسره ملګرې وه او د مکې معظمې څخه يې حبشې ته هجرت وکړ.

د: لومړی هغه ځمکه چې هغې ته في سبيل الله هجرت صورت نيولی دی هغه د شام ځمکه ده، چې د ابراهيم ﷺ او د ده مېرمن (ساره رضي الله عنها) او هم يې وراره (لوط ﷺ) هلته هجرت کړی وه، خو کله چې قيامت نژدې شي يو خل به بيا د شام ځمکه د هجرت ځمکه وګرځي. د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۳۳۹؛ تفسير البغوي ج۳ ص۴۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: یوه ورځې یوه صحابي ﷺ د نبي کریم ﷺ څخه وغوښتل (چې د فتنو په وخت کښې) مونږ ته څه امر کوې؟ (چې چرته لاړ شو؟).

نبي کریم ﷺ وویلې چې: «هَا هُنَا وَنَحَا بِيَدِهِ نَحْوَ الشَّامِ»(۱) یعنې شام طرف ته یې په خپل مبارک لاس سره اشاره وکړه چې تاسو دغه طرف ته پنا یوسئ او دغه ښار ته هجرت وکړئ.

دوهم: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «لَتَكُونَنَّ هِجْرَةٌ بَعْدَ هِجْرَةٍ إِلَى مُهَاجَرِ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ»(۲) یعنې په یقین سره هرومرو او ضرور به ستاسو د پلار (ابراهیم ﷺ) هجرت ځای (شام) ته د یوه هجرت څخه وروسته بل هجرت صورت ونیسي (بیا-بیا به هلته هجرت وکړی شي).

## سوال جواب

۶_ که څوک وایې چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په ﴿ فَـَٔامَنَ لَهُۥ لُوطٌ ﴾ کښې د "لَهُ" په عوض "بِهِ" نازل نه کړی شو لکه چې په اکثره ترکیبونو کښې د ایمان متعلق د "ب" توری واقع کېږي؟

مونږ وایو ـوالله ﷻ أعلمـ چې دا د دې دپاره ترڅو ټول خلک په غوږ ووهلی شي چې لوط ﷺ لا د وړاندې څخه مؤمن او موحد وه، خو د ابراهیم ﷺ نبوت ته د ظهور سره سم تسلیم شو او غاړه یې ورته کېښودله.

که بالفرض د "لَهُ" په عوض "بِهِ" نازل شوی وی نو ذکره شوې نکته به پټه پاتې وی او چا به ګومان کړی وی چې لوط ﷺ به په خپل تره (ابراهیم ﷺ) باندې تازه ایمان راوړی وي او پخوا به ایماندار نه وه، حال دا چې دا مطلب غلط دی.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۷_ که څوک وایې چې: په دې کښې څه حکمت دی چې په دې مقام کښې الله ﷻ د ابراهیم ﷺ په اولاده کښې د اسماعیل ﷺ نوم یاد نه کړ حال دا چې اسحق ﷺ د هغه څخه کشر وه؟

مونږ وایو: ځینو علماوو کرامو ذکر شوې سوال ته متعدد جوابونه کړي دي(۳) مګر مونږ په هغه جواب باندې اکتفاء کوو کوم چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنبياء:۷۲] ایت لاندې لیکلي دي؛ چې په دې مقام کښې د هجرت برکاتو ته اشاره شوې ده، او د اسماعیل ﷺ مور (هاجره رضی الله عنها) مهاجره نه وه او د اسحق ﷺ مور (ساره رضی الله عنها) مهاجره وه.

## په یاد ولرئ

۸_ په یاد ولرئ کوم شي ته چې په ﴿ وَءَاتَيْنَٰهُ أَجْرَهُۥ فِى ٱلدُّنْيَا ﴾ کښې د "أجر" په کلمې سره اشاره شوې ده هغه په [النحل:۱۲۲] ایت کښې په ﴿ حَسَنَةً ﴾ سره یاد شوی دی، نو هیله ده چې محترم

---

(۱) ترمذي ج۲ ص۴۳
(۲) ابن حنبل ج۲ ص۲۸۵_۶۲۹
(۳) ... ج۲۰ ص۱۵۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لوستونکي په دې مقام د ښه پوهېدلو دپاره هلته یو ځل مراجعه وکړي، چې مونږ پکښې مناسب تحقیق کړی دی، والحمد لله ﷻ والشکر له.

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ
ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ
ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ
ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرْنِى عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٣٠﴾ وَلَمَّا جَآءَتْ رُسُلُنَآ
إِبْرَٰهِيمَ بِٱلْبُشْرَىٰ قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَـٰلِمِينَ
﴿٣١﴾ قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا۟ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ إِلَّا ٱمْرَأَتَهُۥ
كَانَتْ مِنَ ٱلْغَـٰبِرِينَ ﴿٣٢﴾ وَلَمَّآ أَن جَآءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِىٓءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ
ذَرْعًا وَقَالُوا۟ لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ ۖ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ إِلَّا ٱمْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ
ٱلْغَـٰبِرِينَ ﴿٣٣﴾ إِنَّا مُنزِلُونَ عَلَىٰٓ أَهْلِ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ رِجْزًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ بِمَا كَانُوا۟
يَفْسُقُونَ ﴿٣٤﴾ وَلَقَد تَّرَكْنَا مِنْهَآ ءَايَةًۢ بَيِّنَةً لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٣٥﴾﴾

[۲۸] او (مونږ) لوط علیه السلام (د پیغمبر په حیث لېږلی وه)، کله یې چې خپل قوم ته وویلې چې: یقینًا تاسو ضرور (دې) بې شرمه کار ته ورتګ کوئ (البته داسې بې شرمه کار) چې ستاسو څخه وړاندې ورته د عالمونو څخه یوه کس هم اقدام (سبقت) نه دی کړی.

[۲۹] ایا تاسو یقینًا ضرور سړیو (نارینه وو) ته (د شهوت رانی دپاره) ورتګ کوئ؟ او (یقینًا) تاسو (په قتل او غصب سره) لارې شکوئ؟ او په خپلو مجالسو کښې (په ډاګه) بدکار (ناآشنا) کار ته ورتګ کوئ؟

نود لوط علیه السلام د قوم جواب نه وه مګر دوی وویلې چې: مونږ ته د الله ﷻ عذاب راوله که چرته ته (په دې خبره کښې) د رښتیا ویونکو څخه یې (چې په مونږ باندې به الهي عذاب رانښکته شي).

[۳۰] لوط علیه السلام وویلې (خپل رب ﷻ ته یې د سوال لاسونه پورته کړه) چې: ای زما ربه! ماته په فساد کوونکي قوم باندې نصرت راکړې (چې ټول هلاک شي او د ځمکې مخ ترې پاک شي).

[۳۱] (الله ﷻ ذکر شوی سوال قبول کړ) او کله چې زمونږ لېږلی شوي (د پرښتو ټولګی) ابراهیم علیه السلام ته په زیري سره ورغی، نو (د زوی او لمسي د زیري ورکولو څخه وروسته یې ورته)

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وویلې چې: یقینًا مونږ د دغه ښار د اهل هلاکوونکي یاستو (د خبیثانو ښار ته یې اشاره وکړه)، یقینًا د دې ښار اهل ظالمان دي (په عقیدوي او عملي ظلم باندې اخته دي).

[۳۲] ابراهیم ﷺ وویلې چې: یقینًا په دې ښار کښې (خو) لوط ﷺ (هم) اوسېږي (نو د هغه حال به څنګه شي؟).

د پرښتو ټولګي وویلې چې: مونږ په هغو (ټولو) کسانو باندې ښه پوه یاستو کوم چې په (دغه) ښار کښې اوسېږي، (نو) هرومرو او ضرور به مونږ لوط ﷺ او د ده ﷺ کهول ته نجات ورکړو، مګر د ده ﷺ ماندینه، چې دا (په عذاب کښې) د پاتې کېدونکو څخه ده.

[۳۳] او هر کله چې زمونږ لېږلی شوي (د پرښتو ټولګی) لوط ﷺ ته ورغله نو هغه ﷺ د دوی په سبب غمژن شو او (همدارنګه) د همدوی د کبله د قدرت د حیثه تنګ (کمزوری) شو (د دوی حفاظت توان یې په خپل ځان کښې ونه لید).

(پرښتو اطمنان ورکړ) او (ورته یې) وویلې چې: مه ډارېږه مه، او غمژن کېږه مه (او دا ځکه چې یقینًا مونږ تاته او ستا کهول ته نجات درکوونکي یاستو، مګر ستا ماندینه، چې دا (په عذاب کښې) د پاتې کېدونکو څخه ده.

[۳۴] یقینًا مونږ د دغه ښار په اهالیوو باندې د اسمان (د طرف) څخه (په دې سبب) د عذاب ورنازلوونکي یاستو چې دوی (په دوامداره توګه) فسق (فجور) کوي (او ستا دعوت یې رد او تکذیب کړ).

[۳۵] (نو مونږ دغه ښار سرچپه کړ) او (د خپل قدرت) واضحه نښه مو ترې (په دنیا کښې) پرېښودله (البته) د داسې قوم دپاره چې د عقل څخه کار اخلي (او د زړه په سترګو کتل کولی شي).

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د ابراهیم ﷺ د قیصې په تعقیب د لوط ﷺ قیصې ته اشاره شوې ده چې د پیغمبرانو د امتحانونو په سلسله کښې د یوه بارز او څرګند امتحان مثال دی، نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د امتحاناتو په لړۍ کښې د لوط ﷺ قیصه هم قرائت کړه چې عبرت ترې واخلي، هغه دا چې:

۱ـ مونږ لوط ﷺ خپل قوم ته د پیغمبر په حیث وراستولی وه. ترڅو هغوی د شرک او کفر څخه وژغوري او توحیدي عقیدې ته یې دعوت کړي.

نو ته هغه وخت یاد کړه چې لوط ﷺ په دعوت باندې علاوه هغوی ته وویلې چې:

الف: ای زما قومه! عجیبه ده چې یقینًا تاسو په کفر باندې برسېره د هر بې شرمه کار ته ورنګ کوئ او د هر لوی جنایت مرتکب کېږئ.

ب: دغه دومره بد او ناکاره عمل دی چې ستاسو څخه وراندې ورته د ټولو عالمونو څخه هیڅ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اقدام نه دی کړی او په هیڅ جنس کښې دغه ډول عمل سابقه نه لري. د مثال په توګه: نه په سپیو کښې، نه په خرو کښې او نه په نورو اجناسو کښې دغه عمل صورت نیولی دی.

ج: یا په بل عبارت: ایا تاسو سړیو (نارینه وو) ته د جنسي ارتباط په غرض ورتګ کوئ.

د: په دې باندې علاوه تاسو لارې پرې کوئ او په لاره باندې د تېرېدونکو په مال او عزت باندې صرفه نه کوئ، او بې عزتې وراړوئ، او هم یې په وژلو باندې تهدیدوئ.

هـ: همدارنګه په خپلو مجالسو کښې د انسان د فطرت سره ناآشنا کارونه اجراء کوئ، چې په ګټکیو باندې ویشتل کوئ او خپل عورتونه بربنډوئ او داسې نور.

و: ای زما قومه! زه لکه چې ستاسو د عقیدوي سمون دپاره دلته رالېږلی شوی یم، ستاسو عملي سمون هم زما دنده او فریضه ده، نو دا دی ما خپله فریضه د الله ﷻ په توفیق اداء کړه نو تاسو ته په کار دي چې په هره ساحه کښې زما نصیحت قبول کړئ که نه نو په تاسو باندې به الهي عذاب درنازل شي او بنیاد به مو وباسي، او بیا به هیڅ مددګار مونده نه کړئ.

۲ـ ذکر شوي قوم لوط ﷺ دروغژن وباله او په ډاګه یې ورته وویلې چې: که ته د صادقانو څخه یې نو ژر شه په مونږ باندې الهي عذاب راښکته کړه، مونږ به هیڅکله خپل خط السیر بدل نه کړو.

۳ـ کله چې لوط ﷺ د خپل قوم د پلوه په قطعي توګه جواب شو او د هغوی د عقیدې او عمل د سمون څخه ناأمید شو نو خپل رب ﷻ ته یې د سوال لاسونه پورته کړه چې:

ای زما ربه! ماته په دغه فساد اچوونکي قوم باندې نصرت راکړه او د څرمې یې هلاک کړه، زما اُمید نشته چې د دغو په اولاده کښې به څوک مونده شي چې دعوت قبول کړي.

۴ـ الله ﷻ د لوط ﷺ سوال قبول کړ او د ذکر شوي قوم د هلاک دپاره یې د پرښتو یو ټولګی مکلف کړ، چې څه کیفیت یې دا دی:

الف: الله ﷻ د پرښتو ذکر شوي ټولګي ته د دوه وو کارونو په اجراء کولو باندې امر کړی وه:

اول: چې ابراهیم ﷺ ته زیری ورکړي چې الله ﷻ به ورته زوی ورکړي او برسېره په دې په خپل ژوند کښې به یې په لمسي باندې هم سترګې یخې شي.

دوهم: بل دا چې د لوط ﷺ قوم هلاک کړي او بالکل یې بنیاد وباسي.

ب: کله چې ذکر شوي ټولګي ابراهیم ﷺ ته زیری او بشارت ورکړ نو بیا یې په خپل دوهم ماموریت باندې هم خبر کړ چې مونږ مکلف کړی شوي یاستو چې د دغه ښار اوسېدونکي پوپنا کړو، او د لوط ﷺ د قوم په طرف یې اشاره وکړه. او دا څکه چې د دغه ښار اوسېدونکي ظالمان دي او د اصلاح استعداد یې بالکل د خاورو سره برابر کړی دی.

ج: ابراهیم ﷺ بشارت د الله ﷻ په حمد سره قبول کړ خو په دوهم ماموریت کښې یې ذکر شوي ټولګي ته خپله خواشیني څرګنده کړه چې: یقینًا په دغه ښار کښې لوط ﷺ هم اوسېږي او تاسو د ټولو اوسېدونکو د هلاک فرمان راوړی دی، نو پوښتنه دا ده چې:

د: د هغه په هکله ستاسو ماموریت څه دی؟ ایا د هغه په وړاندې ټول ښار پوپنا کوئ او که هغه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ته د نجات ورکولو څخه وروسته ورسره ذکر شوی عمل ترسره کوئ؟

هـ: د پرښتو ټولګي جواب ورکړ چې: ته هیڅ تشویش مه کوه، مونږ په هغو خلکو باندې ډېر ښه پوهېږو کوم چې په دغه ښار کښې اوسېږي، مونږ هغه څوک پېژنو چې د هلاک وړ دي او هغه څوک هم راته معلوم دي چې نجات یې په برخه دی.

و: نو هرومرو او ضرور به مونږ لوط ﷺ ته او د ده کور کهول ته نجات ورکړو او نور ټول اوسېدونکي به هلاک کړو.

ز: هو! د لوط ﷺ په کورنۍ کښې یوه کسه نجات موندونکې نه ده چې هغه د ده ﷺ ماندینه ده، د دې په هکله زمونږ معلومات دا دي چې دغه زنانه په عذاب کښې د پاتې کېدونکو په ډله کښې شامله ده چې د نور قوم غونډې په خپله کفري عقیده باندې کلکه ده.

۵ـ کله چې د پرښتو ټولګی د ابراهیم ﷺ څخه د لوط د قوم په طرف رخصت شو او هلته ورسېد نو بیا لاندې کیفیت پېښ شو:

الف: څرنګه چې ذکر شوی ملکي ټولګی لوط ﷺ ته د ښایسته هلکانو په څېرو کښې ورغی او وریاندې مېلمانه شوه حال دا چې هغه ﷺ ته د خپل قوم عادت او خاصیت ډېر ښه معلوم وه، نو:

ب: د دغه ټولګي په سبب سره ډېر غمژن شو او د همدوی په سبب ډېر زړه تنګی شو، چې په څه شان سره به خپلو مېلمنو ته د فاجر قوم څخه نجات ورکړي، او په خپل خان کښې یې د هغوی د آبرو ساتلو توان ونه ولید.

ج: نو د همدې کبله یې ورته ډېرې زارۍ وکړئ چې: ای زما قومه! دا زما مېلمانه دي، ما خپلو مېلمنو ته مه خجالت کوئ او د دوی په وړاندې مې مه شرموئ، چې بې عزتي ورواړوئ.

د: مګر فاجر قوم د ده زارۍ ونه منلې او د ده سوال یې قبول نه کړ، نو په ډېر اضطرار سره یې وویلې چې: ای کاش! چې ما څه قوت درلودی، ترڅو مې د خپلو مېلمنو څخه دفاع کړې وی.

هـ: په عین وخت کښې د پرښتو ټولګي خپل خانونه لوط ﷺ ته ور وپېژاندل چې مونږ ملکي ټولګی یاستو، دغه فاجر قوم به هیڅکله ستا بې عزتي او سپکاوی ونه کړی شي، نو ته مه دارېږه او مه غمژن کېږه.

و: بلکې مونږ د دغه فاجر قوم سره د بل کار کوونکي نه یاستو بې د دې چې دوی ټول پوپنا کړو.

ز: یقیناً مونږ تا او ستا د کورنۍ ټولو غړو ته نجات ورکوونکي یاستو نو ته په همدې منظور د خپلې کورنۍ ټول غړي شپې د شپې د دغه ښار څخه وباسه، چې د سهار مهال د دغه قوم د هلاک دپاره ټاکلی شوی دی.

ح: مګر یوازې ستا ماندینه د نجات درلودونکو څخه نه ده، او مونږ ورته نجات نه ورکوو، چې یقیناً دغه زنانه په عذاب کښې د پاتې کېدونکو د ډلې څخه شمېرلې شوې ده.

ط: ای لوطه! مونږ دغه ښار په اوسېدونکو باندې د اسمان د طرفه د دې کبله د عذاب ورنازلونکي یاستو چې دوی په دوامداره توګه فسق کوي او د جنایاتو څخه لاس نه اخلي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۶_ ای پیغمبره! کله چې تاکلی شوی وخت راورسېد نو مونږ دغه فاجر قوم ټول هلاک کړ او د دوی ښار مو کنډواله وګرځاوه. او په پای کښې مو د قیامت تر ورځې پورې د تاریخ په اوږدو کښې د خلکو دپاره د خپل کامل قدرت یوه څرګنده او عظیم الشانه نښه پرېښودله، چې د عقل خاوندان ترې کار واخلي.

## توضیحات

۱_ څرنګه چې د لوط ﷺ قیصه په وړاندېنیو سورتونو لکه "الأعراف"، "هُود" ، "الحِجْر" او داسې نورو کښې ځای په ځای نازله شوې ده نو که په دې مقام کښې د تفسیر په هکله چاته څه مشکل وربېښ شي هیله ده چې هملته مراجعه وکړي، الله ﷻ ته امید دی چې مشکل به یې حل شي.

## په یاد ولړئ

۲_ په یاد ولړئ چې د ﴿ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ ﴾ جمله د ﴿ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ ﴾ جملې دپاره تفسیر واقع شوې ده، یعنې ایا تاسو داسې فاحش جنایت ته ورتګ کوئ چې په ټولو عالمونو کښې سابقه نه لري، چې هغه نارینه وو ته بلکې سړیو ته د شهوت په حیث ورتګ دی.

اما د ﴿ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ ﴾ په جمله کښې علماء کرامو[1] متعدد تفسیرونه کړي دي لکه:

الف: تاسو د انسان د نسل لاره قطعه کوئ چې نارینه وو ته ورتګ کوئ، او زنانه پرېږدئ چې د بنیادمانو دپاره د کښت او زراعت مثال لري.

ب: تاسو د مسافرانو لاره قطعه کوئ چې خپل قبیح او فاحش جنایت ورباندې تحمیلوئ، نو د همدغه ډار د کبله هغوی ستاسو د ښارونو په لاره باندې نه درځي.

ج: تاسو د مسافرانو مالونه په غصب سره اخلئ او په قتل او وژلو باندې دریغ نه کوئ.

که څه هم ذکر شوې معناوې سره څه منافات نه لري، د بدلیت په لحاظ د ټولو اراده کول څه بدکار نه دی، مګر مونږ ته دریمه معنی په زړه پورې برېښي، والله ﷻ أعلم.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په یاد ولړئ چې ذکره شوې جمله د ﴿ لَتَأْتُونَ ٱلْفَـٰحِشَةَ ﴾ په جمله باندې عطفه ده، او د ذکر شوي خبیث قوم یوه بل جنایت ته پکښې اشاره شوې ده، او په نږدې جمله باندې عطفه نه ده چې د استفهام لاندې واقع شي.

## منکر یعنې څه؟

۳_ په ﴿ وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ﴾ کښې د "نادي" کلمه د "نَدْو" _لکه "ضَرْب"_ څخه اشتقاقه شوې ده. څرنګه چې د "نَدْو" لفظ د اجتماع دپاره وضعه شوی دی نو ذکره شوې کلمه د هغه ځای دپاره نوم ګرځولی شوې ده چېرته چې خلک د کیناستلو یا شورې دپاره غونډېږي، دغه ځای ته

(۱) روح المعاني ج۲۰ ص۱۵۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



"دَارُ النَّدْوَة" هم وايي لکه چې مشرکانو په همدې نامه باندې په مکه معظمه کښې يو ځای درلود(۱).

او په همدغه عبارت کښې د ﴿ٱلۡمُنكَرَ﴾ کلمه د مقام په لحاظ سره علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده(۲) نو لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: دلته دغه کلمه د تېزونو څخه عبارت ده. يعنې تاسو په خپلو مجالسو کښې په ډاګه تېزونه خوشې کوئ.

ب: دلته د مسخرو معنی ورکوي. يعنې تاسو په خپلو مجالسو کښې په مسافرينو باندې مسخرې او خندنې کوئ.

ج: دلته دغه کلمه د ګټکيو د ويشتلو څخه عبارت ده. يعنې تاسو په خپلو مجالسو کښې يو تربلَه په ګټکيو باندې ويشتل کوئ او يا همدغه عمل د مسافرينو سره اجراء کوئ.

وروستنيو دوارو تفسيرونو ته نبي کريم ﷺ هم اشاره کړې ده البته کله چې ترې په دې مقام کښې د ﴿ٱلۡمُنكَرَ﴾ د کلمې د تفسير په هکله پوښتنه وشوه، هغه دا چې:

«كَانُوا يَخْذِفُونَ أَهْلَ الطَّرِيقِ وَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ»(۳) يعنې کوم منکر عمل ته چې د لوط ؈ قوم په خپلو مجالسو کښې ورتګ کاوه، هغه د دې څخه عبارت وه چې: هغوی به اهل الطريق (مسافران) په ګټکيو باندې ويشتل او په هغوی باندې به يې ملنډې وهلې.

د: د "مُنكَر" کلمه په دې مقام کښې د دې څخه عبارت ده چې هغوی به فاحش عمل (نارينه وو ته ورتګ) په خپلو مجالسو کښې اجراء کاوه، او په ډاګه به يې مرتکب ګرځېدل، تا به ويل چې يو خر په بل خره باندې خېژي.

## تبصره

۴ـ زمونږ په فکر په ذکرو شوو ځلورو وارو تفسيرونو کښې قوي تفسيرونه هغه دي کوم چې د نبي كريم ﷺ څخه روايت شوي دي چې دوهم او درېم دي، اما دا هم ورسره څه منافات نه لري چې لومړنی او ځلورم تفسير د بدليت په لحاظ اراده کړی شي، شايد چې په حديث شريف کښې به د منکر فقط مثالونو ته اشاره شوې وي او حصر به پکښې مطلب نه وي. والله ﷻ اعلم.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وايي چې: د څه وجې په بنياد الله ﷻ د لوط ؈ د خولې څخه د خپل قوم د عملي جناياتو د مخنيوي په هکله دعوت راحکايت کړی دی او د هغوی د کفرياتو په اړه يې څه نه دي راحکايت کړي؟

---

(۱) القاموس المحيط ج۴ ص۳۵۰

(۲) تفسير الطبري ج۲۰ ص۱۴۵؛ البحر المحيط ج۸ ص۳۵۴

(۳) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۲۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ وایو چې: د لوط ﷺ د عقیدوي دعوت په هکله د ابراهیم ﷺ د عقیدوي دعوت په حکایت باندې اکتفاء کړې شوې ده، چې په [العنکبوت:۱۶] ایت کښې یې صورت نیولی دی.
او دا ځکه چې د یو پلوه ټول پیغمبران په عقیدوي دعوت کښې متحد دي، او د بله پلوه دغه دواړه پیغمبران په یوه زمانه کښې تېر شوي دي. حتی ځینې لا وایي چې: لوط ﷺ د خپښانو ښار ته د ابراهیم ﷺ د نائب په حیث استولی شوی وه[1].

## یو تفسیري تحلیل

۵ـ په کار دي چې د ﴿ سِیٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا ﴾ په تفسیر کښې لاندې تحلیل په پام کښې ونیولی شي:

الف: په ﴿ بِهِمۡ ﴾، ﴿ بِهِمۡ ﴾ کښې د "ب" دواړه توري د سببیت دپاره دي، او د "هُم، هُم" دواړه ضمیرونه د پرښتو ټولګي ته راجع دي.

ب: د ﴿ ذَرۡعٗا ﴾ کلمه د "ضَاقَ" کلمې د نسبت څخه د تمیز په حیث منصوبه ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د "ذَرۡع" کلمه[2] د "ذِرَاع" سره مرادفه ده چې تر څنګلې پورې لاس ته وضعه شوې ده چې په اکثرو وختونو کښې د یو ګز دپاره معیار ګرځولی کېږي.
خو کله چې نوموړې کلمه د تنګوالي دنسبت څخه تمیز واقع شي ـ لکه چې دلته واقع شوې ده ـ نو د کمزورۍ معنی ورکوي.
نو د ذکرو شوو نکاتو په نظر کښې نیولو سره یې مضمون داسې راځېږي چې: لوط ﷺ د پرښتو په سبب غمژن کړې شو او د همدوی په سبب د قدرت د حیثه کمزورۍ شو چې د مېلمنو د حفاظت توان یې ونه درلود.
همدې مضمون ته په بل ایت کښې اشاره شوې ده چې: ﴿ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ﴾ [هود: ۸۰] یعنې لوط ﷺ وویلې چې: که ما لره ستاسو په مقابله کښې قوت وی او یا مې یوه قوتناک طرف ته پنا وړې وی (نو ما به ستاسو سره دغسې او هغسې کړي وی).

﴿ وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗا فَقَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱرۡجُواْ ٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿٣٦﴾ فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلرَّجۡفَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دَارِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٣٧﴾ وَعَادٗا وَثَمُودَاْ وَقَد تَّبَيَّنَ لَكُم مِّن مَّسَٰكِنِهِمۡۖ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَعۡمَٰلَهُمۡ فَصَدَّهُمۡ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَكَانُواْ مُسۡتَبۡصِرِينَ ﴿٣٨﴾ وَقَٰرُونَ وَفِرۡعَوۡنَ

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۵ ص۵۸
(۲) مفردات الراغب ص۱۸۰؛ لسان العرب ج۸ ص۹۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَهَـٰمَـٰنَ ۖ وَلَقَدْ جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَٱسْتَكْبَرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَمَا كَانُوا۟
سَـٰبِقِينَ ﴿٣٩﴾ فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنۢبِهِۦ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ
أَخَذَتْهُ ٱلصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ ٱلْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ
ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَـٰكِن كَانُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾ ﴾

[۳۶] او د مدین ښار ته (مونږ) د دوی (خواخوږی) ورور شعیب ﷺ (د پیغمبر په حیث لیږلی وه)، نو (هغوی ته یې) ووېلې چې: ای زما قومه! (خاص) د الله ﷻ عبادت وکړئ او د وروستي ورځې امید وکړئ (وربانذې معتقد شئ)، او (بالآخره) په ځمکه کښې د مفسدانو په حیث مفسدانه حرکت مه کوئ.

[۳۷] نو هغوی یې تکذیب وکړ، نو (د) زلزلې (عذاب) ونیوه، نو په خپلو کورونو کښې په زنګنونو باندې پرېوتلي وګرځېدل (ټول پوپنا شوه).

[۳۸] او عادیانو او ثمودیانو لره (هم الهي عذاب ونیول او هلاک شوه) او یقیناً تاسو ته د هغوی هلاک د هغوی د استوګنځایونو (ښارونو) څخه ښه پوره څرګند بېږي (چې کنډوالې پراته دي).

(هغوی ته پیغمبرانو دعوت ورکړ) او شیطان ورته خپل (قبیح) اعمال ښایسته کړه نو د (حق) لارې څخه یې په داسې حال کښې واړول چې هغوی بینایان (هوښیاران) وه (خو د خپلې هوښیارۍ څخه یې کار وانخست).

[۳۹] او قارون او فرعون او هامان (هم مونږ هلاک کړي دي) حال دا چې هغوی ته موسی ﷺ د څرګندو معجزاتو سره ورغلی وه، نو هغوی په ځمکه کښې تکبر وکړ (او حق یې قبول نه کړ) حال دا چې هغوی (په الله ﷻ باندې) وړاندې کېدونکي نه وه (چې د ارادې مخه یې ورته بنده کړې وی او خپلو ځانونو ته یې نجات ورکړی وی).

[۴۰] نو (د کفارو څخه) هر یو مونږ په خپله‌خپله ګناه باندې نیولی دی. نو د دوی څخه ځینې هغه کسان دي چې مونږ ورباندې ډېر سخت باد ورلېږلی دی (چې ډبرې به یې رغړولې)، او د دوی څخه ځینې هغه کسان دي چې هغوی لره تېز اواز ونیول (او هلاک شوه) او ځینې د دوی څخه هغه څوک دي چې مونږ پرې ځمکه خسف کړه او (بالآخره) ځینې یې هغه څوک دي چې مونږ غرق کړه او (په دغو ټولو صورتونو کښې) الله ﷻ نه وه چې په کفارو باندې یې تېری کړی وی مګر هغوی چې وه پخپله یې (په خپلو ځانونو) ظلم (او تېری) وکړ.

## د مطلب خلاصه

په دې اېتونو کښې د ځینو پیغمبرانو نومونه اخستل شوي دي او ځینو ته اشارې شوې دي، ...

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د خپلو-خپلو کفري قومونو د پلوه یې کړاوونه ګاللي دي خو په نتیجه کښې الله ﷻ هغوی ته کامیابي ورکړې ده او کفري قومونه یې هلاک کړي دي. نو حاصل یې داسې راخېژي چې:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د څو نورو پیغمبرانو څه لنډ حالات هم قرائت کړه چې عبرت ترې واخلي هغه دا:

۱_ مونږ د مدین ښار ته د هغوی خواخوږی ورور شعیب ﷺ د پیغمبر په صفت وراستولی وه ترڅو د هغوی عقیدوي او عملي کړه وړه رهبري کړي، نو د همدې کبله یې هغوی مخاطب کړه چې:

الف: ای زما قومه! تاسو خاص د الله ﷻ عبادت وکړئ او د بوتانو او غیر الله د عبادت څخه په جدي توګه خانونه په څنګ کړئ.

ب: تاسو وروستنی ورځ په نظر کښې ونیسئ او د همغې دپاره څوري تیار کړئ، دغه ورځ ضرور راتلونکې ده او هیڅکله به تاسو د هغې څخه بچ پاتې نه شئ.

ج: تاسو په ځمکه کښې د فساد کوونکو په حیث حرکت مه کوئ چې یا په کیل او وزن کښې کمبود واقع کړئ او یا په غلا او دوکې سره د خلکو مالونه وخورئ.

۲_ نو نتیجه دا شوه چې هغوی د شعیب ﷺ د خواخوږی مراعات ونه کړ او د ده ﷺ نصائح یې نه د عقیدې په هکله او نه د اعمالو په ارتباط پیاده کړه، بلکې د هغه ﷺ نبوت یې تکذیب کړ، او رد برد ترې انکاري شوه.

د همدې کبله هغوی لره زلزلې ونیوه او په خپلو کورونو کښې په زنګنونو باندې پرېوتلي وګرځېده، او ټول د ځرمې پوپنا او هلاک شوه.

۳_ همدارنګه مونږ عادیانو ته هود ﷺ د پیغمبر ﷺ په حیث ورلېږلی وه خو هغوی قبول نه کړ، نو یو تېز باد مو ورباندې وچلاوه چې ټول یې هلاک کړه او د خرما د ونو د ډډونو په شان یې په ځمکه باندې وغورځول.

۴_ ثمودیانو ته مو هم صالح ﷺ د دوی خواخوږی ورور د پیغمبر په صفت وراستولی وه چې هغوی یې هم تکذیب وکړ او په یوې تېزې چیغې سره مو د هغوی بنیاد وویست او ټول مو هلاک کړه.

۵_ د عادیانو او ثمودیانو پوپنا کول خو تاسو ته د هغوی د کنډوالو کورونو څخه ښه په وضاحت سره څرګند برې، البته کله چې تاسو شام ته په سفر سره ځئ او یا ترې بېرته مکې معظمې ته راستنېږئ.

۶_ ای پیغمبره! ذکرو شوو کافرو قومونو سترګې درلودې، هغوی کولی شوه چې په خپلو خانونو او په ځمکې او اسمانو کښې یې د الله ﷻ د کامل قدرت نښې نښانې لیدلې وی او عبرت یې ترې اخستی وی.

خو په هغوی باندې شیطان سترګې پټې کړې او خپل کړه وړه یې ورته ښایسته وبرېښول، چې په نتیجه کښې یې د سمې لارې څخه واړول او د زړه په سترګو باندې یې رانده کړه (د خپلو عقلونو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه یې کار وانخست). یا په بل عبارت: د سر په سترګو بینا وه او د زړه په سترګو ړانده وه.

۷_ موږ قارون او فرعون او هم هامان درېواړه په عذاب کښې سره ونیوه، چې درېواړو ته موسی علیه السلام د ځرګندو معجزاتو سره ورغلی وه او حقې لارې ته یې دعوت کړې وه خو هغوی په ځمکه کښې تکبر او سرکشي وکړه او په خپلو ګمراهیو باندې یې علاوه نور ډېر خلک بې بې لارې کړه، بلکې د هغوی اراده وه چې د الله ﷻ د دین رڼا مړه کړي او د کامیابۍ مخه یې بنده کړي؛ مګر د هغوی دا خیال عبث وو او وې ونه شو کړی چې په الله ﷻ باندې سبقت وکړي او په زور ازمایۍ کښې ورباندې برلاسي جوړ شي.

۸_ ای پیغمبره! لنډه دا چې موږ هر یو هلاک شوی کافر او همدارنګه د دوی هره یوه هلاک شوې کافره ډله په خپلو_خپلو ګناهونو سره نیولې دي بلکې د حکمت په غوښتنه مو په ډول_ډول آفتونو سره هلاک کړې دي. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: نو ځینې هغه کسان دي چې موږ ورباندې تېز باد ورواستاوه لکه عادیان، او یا مو ورباندې د ډبرو د ګرټکانو باران وکړ لکه د لوط علیه السلام قوم او نور.

ب: ځینې هغه کسان دي چې هغوی لره تېزې چیغې ونیوه او زړونه یې ترق وروچول، لکه ثمودیان او نور.

ج: ځینې هغه کسان دي کوم چې موږ ورباندې ځمکه کښوله او په ځمکه کښې مو خسف کړه، لکه قارون او د ده ملګري.

د: بالآخره ځینې هغه کسان دي چې موږ په اوبو کښې غرق کړه، لکه د نوح علیه السلام قوم، یا فرعونیان او داسې نور.

۹_ لنډه دا چې الله ﷻ داسې نه دی او نه داسې وه چې په هلاکو شوو کافرو قومونو باندې یې ظلم او تېری کړی وی، مګر هغوی وه چې په خپلو_خپلو ځانونو باندې یې ظلمونه کړي وه چې د پیغمبرانو دعوت یې قبول نه کړ او عقیدةً او عملاً یې الهي دین پیاده نه کړ.

## توضیحات

۱_ په ذکر شوو ایتونو کښې چې د هلاکو شوو قومونو کومو عبرتي ځینو قیصو ته اشاره شوې ده، هغه په تېر شوو سورتونو (لکه "الأعراف" او "هُود" او نورو) کښې مشرحې نازلې شوې دي، نو هیله ده چې د زیات تفصیل دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

## یو نحوي تحلیل

۲_ د ﴿ وَعَادًا وَثَمُودَا ﴾ کلمې په مقدر عامل سره منصوبې دي چې موږ ترې په "اخذ العذاب" سره تعبیر کوو، په همدغه مقدر عامل باندې په وراندېني نژدې ایت کښې د ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ ﴾ جمله دلالت کوي. یعنې عادیان او ثمودیان هم الهي عذاب ونیول او ټول یې د ځرمې پوښنا کړه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## حاصب څه معنی؟

۳_ په ﴿ فَمِنۡهُم مَّنۡ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِ حَاصِبٗا ﴾ کښې د "حاصب" کلمه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الإسراء:۶۸] ایت لاندې شرحه کړې ده چې د هغه قوي باد دپاره وضعه شوې ده کوم چې په قرتکانو باندې ویشتل کوي.

که څه هم ذکره شوې کلمه د لوط ﷺ د قوم په هکله نازله شوې ده چې: ﴿ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ حَاصِبًا إِلَّآ ءَالَ لُوطٖ ﴾ [القمر:۳۴] یعني: یقینًا مونږ د لوط ﷺ په قوم باندې کاڼي وروونکی باد ورولیږه (چې ټول پوپنا شوه) مګر د لوط ﷺ کهول (ټبر) نجات ومونډ (البته د کاڼو باران د ښارونو د سرچپه کولو څخه علاوه وه).

خو څه لرې نه ده چې په ذکر شوې هلاک شوې ګروپ کښې عادیان هم شامل وې چې متعددې ورځې وریاندې سخت باد چلېدلی وه، چې پوره بیان یې د "الحاقة" په سورت کښې نازل شوی دی، او هم څه لرې نه ده چې قرتکاني به یې هم وریاندې وررغړولي وي، والله ﷻ اعلم.

﴿ مَثَلُ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ أَوۡلِيَآءَ كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ ٱتَّخَذَتۡ بَيۡتٗاۖ وَإِنَّ أَوۡهَنَ ٱلۡبُيُوتِ لَبَيۡتُ ٱلۡعَنكَبُوتِۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ۝٤١ إِنَّ ٱللَّهَ يَعۡلَمُ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مِن شَيۡءٖۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٤٢ وَتِلۡكَ ٱلۡأَمۡثَٰلُ نَضۡرِبُهَا لِلنَّاسِۖ وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ ۝٤٣ خَلَقَ ٱللَّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٤٤ ﴾

[۴۱] د هغو کسانو مثال کومو چې د الله ﷻ څخه په غیر دوستان نیولي دي (په عدم ګټه کښې دغښې) د مثال غونډې دي چې (په ډېر مشقت سره) کور جوړوي (خو نه پرې د لمر او یخنۍ چاره صورت نیسي او نه څه مقاومت لري).

او (دا خکه چې) یقینًا د ټولو کورونو ډېر کمزوری هرومرو د غښې کور دی، که مشرکان (په واقعي پوهې باندې) پوهېدلی (نو بوتانو ته به یې د الوهیت لقب نه وی ورکړی چې د ګټې او ضرر داوړو توان نه لري).

[۴۲] یقینًا الله ﷻ په هغو شیانو باندې پوهېږي (هغه پېژني) کوم چې هغوی یې د الله ﷻ څخه په غیر بلنه (عبادت) کوي، (خو د دې سره-سره تر څه وخته پورې یې ترې عذاب ټال کړی دی) او (دا خکه چې) الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او هم) د حکمت څښتن دی.

[۴۳] او دغه مثالونه مونږ د خلکو (د پوه کولو) دپاره وهو (بیانوو)، او دا په عقلونو کښې نه راولي مګر د (ربښتیانی) پوهې درلودونکي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۴۴] الله ﷻ اسمانونه او ځمکې په حقه پيدا کړي دي (عبثيات نه دي)، يقيناً په دغه (ذکر شوي بيان) کښې د مؤمنانو دپاره (د الهي قدرت) ډېره لويه نښه (پرته) ده.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې په هغه حقيقت باندې صراحت شوی دی کوم ته چې په وړاندېنيو ايتونو کښې اشاره شوې وه، هغه دا چې: بوتان (باطل معبودان) ناتوانه دي او خپلو عابدينو ته هيڅ ګټه نه شي رسولی، نو حاصل يې داسې راځېژي:

اى پيغمبره! د ښه وضاحت دپاره خپل امت ته د بوتانو ناتوانۍ په يوه مثال کښې انځور کړه:

۱ـ هغه کسان چې د الله ﷻ څخه په غير د باطلو معبودانو په عبادت باندې مشغول دي ترڅو ورته په درد وخوري، داسې مثال لري لکه غڼه چې زيار وباسي ترڅو د خپل خان دپاره کور جوړ کړي.

۲ـ حال دا چې په ټولو کورونو کښې بې مزې او کمزوری کور د غڼې کور دی، چې نه د لمر د وړانګو مخنيوی کولی شي او نه وربانڊې د سړوښې مخه نيوه کېږي، او نه د باد يا بل شي په مقابل کښې مقاومت کولی شي.

۳ـ همدارنګه د باطلو معبودانو عبادت نه عابدينو ته څه ګټه جلبولی شي او نه ترې د مصيبتونو مخه اړولی شي او نه څه مقاومت کولی شي.

که بالفرض څه يې د لاسه پوره وی نو د ذکرو شوو هلاکو شوو کفارو قومونو څخه به يې کوم يوه ته د الهي عذاب څخه نجات ورکړی وی، نو په ټولو دوستانو کښې د باطلو معبودانو په شان کمزوري او ناتوانه دوستان نشته.

که کفار (مشرکان) پوهېدلی او د زړونو سترګې يې بينا وی نو د دغسې ناتوانه دوستانو په دوستۍ باندې به يې اعتماد نه وی کړی او د شرکياتو څخه به يې خانونه بچ ساتلي وی.

۴ـ ای پيغمبره! مونږ دغه امثال خلکو ته د دې دپاره بيانوو چې شرعي مطالب ورته پوره څرګند شي او سرونه يې وربانډې خلاص شي. خو د دغو امثالو څخه يوازې هغه کسان ګټه پورته کوي کوم چې د خپلو عقلونو څخه کار اخلي او هم پوهه درلودونکي وي.

که نه نو همدغه امثال د هغو کسانو دپاره د کفر او ضلالت د لا زيادت سبب جوړېږي کوم چې د عقلونو څخه کار نه اخلي او خپل خانونه يې وربانډې ګول اچولي وي.

دوی وربانډې د عيب ګوته ږدي او د عبثياتو څخه يې ګڼي حال دا چې الله ﷻ ټولې ځمکې او ټول اسمانونه بلکې ټوله دنيا په حقه او د حکمت په بنياد پيدا کړې ده، او د عبثياتو څخه پاکه او خالي ده.

۵ـ ای پيغمبره! په همدغه حقاني پيدايښت باندې د دنيا په هر وړوکي او غټ جزء کښې د الهي قدرت او وحدانيت ډېره لويه نښه او دليل نغښتی دی چې د ايمان راوړلو دپاره کفايت کوي، مګر

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بوازې مومنان ترې د خپل اطمنان دپاره استفاده کوي او یا ترې هغه کسان د ایمان راوړلو دپاره هم ګټه پورته کوي کوم چې د ایمان راوړلو په تکل کښې وي او د حقې لارې موندلو پسې تاند وهي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿كَمَثَلِ ٱلۡعَنكَبُوتِ﴾ کښې د "عَنكَبُوت" کلمه رباعي مزید فیها کلمه ده چې وزن یې د "فعللوت" دی او مذکر او مؤنث پکښې یو برابر دي[1]، "عَنكَبُوت" د هغه کوچني ساکښ نوم دی چې د خپلې ګېډې څخه د بر نرۍ-نرۍ تارونه وباسي او د ځاګانو په خولو او د کوټو په کونجونو او یا نورو خایونو کښې ترې کورونه جوړوي.

دغه ساکښ ته په پښتو کښې غڼه یا جولاګۍ وايي، او کور یې د غڼې یا د جولاګۍ د جال په نامه یادېږي.

۲ـ په ﴿وَمَا يَعۡقِلُهَآ إِلَّا ٱلۡعَٰلِمُونَ﴾ کښې د مشرکانو هغه اعتراض د اشارې په توګه رد شوی دی د کوم په رد باندې چې په [البقرة:۲۶] ایت کښې صراحت شوی دی. هغه دا چې: که دا کتاب (قرآن کریم) د الله ﷻ د پلوه په حقه نازل شوی وی نو په دې کښې به د حقیرو او کوچنیو ساکښانو (لکه مچ او غڼې) نوموته نه وی نازل شوي.

د رد حاصل یې د الله ﷻ په توفیق همهلته ښه پوره شرحه شوی دی چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه کورو، اما په دې مقام کښې یې خلاصه دا ده چې:

مونږ دغه ډول مثالونه د خلکو د پوه کولو دپاره بیانوو چې په معقولو شیانو باندې یې د محسوسو شیانو په څېره کښې سرونه خلاص شي او د زړه د کومې ورباندې پوه شي. مګر هغه کسان ترې معکوسه نتیجه اخلي او د اعتراض په نظر ورته ګوري کوم چې د عقلونو څخه کار نه اخلي او په اهمیت باندې یې نه پوهېږي، او یا یې ورباندې خپل خانونه رانده کانه اچولي دي، ته به وايې چې په هیڅ شي باندې نه پوهېږي.

د الله ﷻ په توفیق د شلمې سپارې پښتو ترجمه او تفسیر ختم شو.

د الله ﷻ څخه هیله کوو چې لا نور زیات توفیق راکړي چې نشاط مو اضافه کړي او مرسته راسره وکړي، آمین یا رب العالمین.

۱۴۲۱/۴/۴ هـ ق - ۱۳۷۹/۳/۱۶ هـ ش - ۲۰۰۰/۶/۶ م

---

(۱) لسان العرب ج۲ ص ۶۲۶ ـ ۶۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ ۖ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ ۗ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ ۗ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ ﴿٤٥﴾ ﴾

[۴۵] هغه شی (په خپل اُمت باندي) تلاوت کړه کوم چي تاته وحي کړی شوی دی چي د کتاب (قرآن کریم) څخه عبارت دی، او لمونځ ودروه. (او ستا اُمت دي هم تلاوت وکړي او لمونځونه دي ودروئ او دا څکه چي) یقیناً لمونځ (چي په تلاوت باندي هم مشتمل دی) د بي شرمه کار او (په شریعت کښي) د ناآشنا کار څخه (خلک) منعه کوي، او ضرور (په دغي باره کښي) د الله ﷻ ذکر (د بل هر شي څخه په تاثیر کښي) لوی دی.

او (په خاصه توګه په دي لحاظ چي) الله ﷻ په هغو کارونو باندي پوهېږي کوم چي تاسو يې (په مهارت سره) اجراء کوئ (نو ضرور به د قیامت په ورځ سزا یا جزا درکړي).

## ارتباطات او توضیحات

۱ ــ وړاندیني ایتونه په دي باندي مشتمل وه چي په قرآني امثالو باندي هغه خلک پوهېږي کوم چي د عقل څخه کار اخلي، او هغه کسان تري ګټه او عبرت پورته کوي کوم چي د ربښتیاني ایمان درلودونکي وي.

په دي ایتونو کښي نبي کریم ﷺ ته توصیه شوي ده چي په مؤمنانو باندي د قرآن کریم ایتونه بیا ـ بیا ولولي چي د عبرت اخستلو دپاره ګټور تمامېږي. همدي مضمون ته الله ﷻ اشاره کړي ده چي: ﴿ وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ ﴾ [الذاریات:۵۵] یعني ای پیغمبره! مؤمنانو ته بیا ـ بیا د الهي ارشاداتو یادونه کوه او دا څکه چي بیا ـ بیا یادونه مؤمنانو ته په ګټه تمامېږي.

۲ ــ هلته د متعددو پیغمبرانو په قیصو سره د هغوی د مشکلاتو د ګاللو ذکر نازل شوی وه. په دي ایتونو کښي نبي کریم ﷺ ته ارشاد شوی دی چي د مشکلاتو په زغم کښي هغوی پسي اقتداء وکړي او د کومک غوښتلو دپاره د لمانځه د اقامت څخه کار واخلي، ته به وایي چي دلته د بل ایت مضمون منعکس شوی دی، چي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ ﴾ [البقرة:۱۵۳] یعني ای مؤمنانو! تاسو د جهاد د مشکلاتو د زغم پاره په صبر او لمانځه سره د الله ﷻ څخه کومک وغواړئ.

## سوال جواب

۳ ــ که څوک وایي چي: ﴿ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ ﴾ جمله د وړاندېنیو دواړو جملو "اتْلُ، أَقِمِ" دپاره د استدلال مقام لري، حال دا چي په هغو دواړو جملو سره نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی چي د فحشاء او منکر دارتکاب څخه معصوم وه؟

مونږ وایو چي: ذکره شوي جمله د هغي مقدري جملي دپاره د استدلال حیثیت لري په کومي باندي چي ذکري شوي دواړه جملي دلالت کوي، چي مونږ تري په "وَلْيَتْلُوا، وَلْيُقِيمُوا الصَّلوةَ" سره

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



تعبیر کوو. یعني مؤمنان دې هم ستا غوندې د قرآن کریم بیا- بیا تلاوت ته او د لمانځه اقامت ته ادامه ورکړي او دا ځکه چې لمونځ (چې په تلاوت باندې هم مشتمل دی) د بې شرمه او په شریعت کښې د ناآشنا کارونو ځخه منعه کول کوي.

## لمونځ خیر ته بلونکی دی

۴ـ لمونځ لکه څنګه چې د فحشاء او منکراتو ځخه منعه کوونکی دی همدارنګه په نېکو او معروفو کارونو باندې امر کوونکی هم دی، لکه چې الله ﷻ د شعیب ﷺ په قیصه کښې فرمایلي دي چې: ﴿ قَالُوا۟ يَـٰشُعَيْبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَآ ﴾ [هود:۸۷] یعنې د مدین ښاریانو شعیب ﷺ ته وویلې چې: ای شعیبه! ایا تاته خپل لمونځ امر کوي چې مونږ د هغو بوتانو عبادت پرېږدو د کومو چې زمونږ پلرونو عبادت کاوه؟

د همدې ایت [هود:۸۷] په تفسیر کښې سفیان علیه الرحمه وایي چې: "وَاللهِ تَأْمُرُهُ وَتَنْهَاهُ"[۱] یعنې په الله ﷻ سوګند دی چې لمونځ خپل لمونځ کوونکي ته په معروفو باندې امر کوي او د منکراتو ځخه یې منعه کوي.

نو څه لرې نه ده چې مونږ لمانځه ته د "داعي إلی الخیر" (خیر ته د بلونکي) لقب ورکړو.

## یوه پوښتنه او دهغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: ځینې خلک لمونځونه کوي خو د دې سره-سره د فحشاء او منکراتو مرتکب ګرځي، نو ایا په دغسې کسانو سره د ایت شریف عمومي مفهوم ته څه تاوان نه رسېږي؟

مونږ وایو چې: د دغه سوال د جوابولو دپاره علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي[۲] خو کوم جوابونه چې مونږ ته په زړه پوري برېښي هغه فقط دوه جوابه دي، او څه لرې نه ده چې د بدلیت په لحاظ سره دواړه اراده کړی شي، هغه دا چې:

الف: لمونځ د داسې اقوالو او افعالو مجموعه ده چې سړي ته د حال په ژبه د خیریه کارونو دپاره دعوت ورکوي، او د منکراتو ځخه ورته د اجتناب توصیه کوي، یا په بل عبارت: د لمونځ کوونکي سره مناسبه نه ده چې د فواحشو او منکراتو مرتکب جوړ شي.

نو په دغه لحاظ سره لمونځ د هر چا دپاره داعي الی الخیر دی خو څوک یې دعوت قبلوي او څوک یې نه قبلوي.

الله ﷻ تول پیغمبران علیهم السلام د دعوت الی الخیر دپاره رالېږلي دي او تول کتابونه یې د همدې مطلب دپاره نازل کړي دي، خو د تاریخ په اوږدو کښې یې چا دعوت ته په لبیک سره جواب ورکړ او چا شا ورواړوله.

په همدغه جواب باندې لاندې دوه اثار هم دلالت کوي:

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۰ ص۱۵۵

(۲) روح المعاني ج۲۰ ص۱۶۳؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۲۲۶؛ التفسیر الکبیر ج۲۴ ص۷۶؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۳۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: عبد الله بن عباس رضي الله عنه فرمايلي دي چې: «مَنْ لَمْ تَنْهَهُ صَلَاتُهُ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ لَمْ يَزْدَدْ بِصَلَاتِهِ مِنَ اللهِ إِلَّا بُعْدًا»[1] يعنې هر چا لره چې خپل لمونځ د فحشاء او منكر څخه منعه نه كړي نو هغه ته د لمانځه په سبب د الله ﷻ د رحمت په نسبت نه زياتوي مگر لريوالی. او دا څكه چې په تقدير به جنايتو كښې مخ په وړاندې ځي. او سات په سات د الهي رحمت څخه لرې كېږي.

دوهم: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايلي دي چې: «لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يُطِعِ الصَّلَاةَ»[2] يعنې د هغه دپاره كامل لمونځ نشته كوم چې د خپل لمانځه اطاعت نه كوي. او دعوت يې نه قبلوي.

ب. دعوت الی الخير: د لمانځه خاصيت دی چې هرو مرو د سړي په اوصافو كښې تغير پېښوي. اما دا خبره چې څومره تغير او په څه كيفيت سره؟ نو دا د لمانځه په كم او كيف پورې اړه لري. چې د اتر په وړاندې يې موانع شتون لري او كه څنگه؟ د لمونځ كوونكي خوراك او څښاك حلال دی كه حرام؟ همدارنگه د لمانځه شروط او اركان كامل دي او كه ناقص دي؟ او داسې نور.

د ښه وضاحت دپاره لاندې نصوص ولولئ:

اول: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ صَلَّى لِلهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ»[3] يعنې هر څوک چې څلوېښت ورځې په جمعې سره لمونځ اداء كړي چې اولنی تكبير ترې فوت نه شي، نو هغه ته به د دوو شيانو څخه نجات وليكلی شي، چې يو د دوزخ څخه نجات دی او بل د نفاق څخه نجات او خلاصون دی.

دوهم: يوه ورځ يوه سړي د نبي كريم ﷺ په حضور كښې عرض وكړ چې: ای د الله رسوله فلانی سړی د شپې لمونځونه كوي او چې څنگه سبا كړي نو بيا غلاوې كوي.

نبي كريم ﷺ جواب وركړ چې: «إِنَّهُ سَيَنْهَاهُ مَا تَقُولُ»[4] يعنې يقيناً شان دا دی چې ډېر ژر به دغه لمونځ نوموړی سړی د هغه شي څخه منعه كړي چې ته يې وايې. يا په بل عبارت كه همدغه لمانځه ته ادامه وركړي نو د غلا كولو څخه به يې منعه كړي.

## د لمانځه يو نظير

۶ـ نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ النَّارَ»[5] يعنې هر څوک چې شاهدي ووايي چې په حقه معبود نشته مگر يو الله ﷻ دی او يقيناً محمد ﷺ د الله ﷻ پيغمبر دی. نو الله ﷻ به ورباندې د دوزخ اور حرام كړي.

خو د لاندې حديث څخه څرگندېږي چې ذكر شوی حديث د موانعو په عدم باندې مشروط دی

(۱) تفسير الطبري ج۲۰ ص۱۵۵

(۲) تفسير الطبري ج۲۰ ص۱۵۵

(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۵۶

مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۴۷

جامع الترمذي ج۲ ص۹۲

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که څه هم په عبارت کښې پرې صراحت نه دی شوی، چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «يُعَذَّبُ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ التَّوْحِيدِ فِي النَّارِ حَتَّى يَكُونُوا فِيهَا حُمَمًا ثُمَّ تُدْرِكُهُمُ الرَّحْمَةُ فَيُخْرَجُونَ»[۱] يعنې د توحيد خاوندانو څخه به ځينې خلک په اور (دوزخ) کښې معذب کړی شي آن تردې چې پکښې به سکاره وګرځي، بيا به د الله ﷻ رحمت وررسېږي نو د دوزخ څخه به وويستلی شي.

۷ـ لنډه دا چې لمونځ د مراتبو په اختلاف سره ډېر لوی داعي إلى الخير دی، د همدې کبله نبي کريم ﷺ د مرګ په حال کښې (چې اواز يې ډېر کمزوری وه) ووېلې چې: «الصَّلَاةَ الصَّلَاةَ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ»[۲] يعنې ای زما اُمته! د لمانځه حفاظت وکړئ، د لمانځه حفاظت وکړئ، او هم د هغو مراعات وکړئ چې ستاسو ښې لاسونه يې مالکان شوي دي.

## دوه ډوله تفسير

۸ـ علماوو کرامو د ﴿ وَلَذِكْرُ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ﴾ جمله په متعددو طريقو سره تفسيره کړې ده[۳]. لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د "ذِكْرُ" کلمه معلوم مصدر دی چې مفعول يې مقدر دی، او د "أَكْبَرُ" د کلمې مفضل عليه مقدر دی، چې مونږ ترې داسې تعبير کوو چې: "وَلَذِكْرُ اللهِ إِيَّاكُمْ أَكْبَرُ مِنْ ذِكْرِكُمْ إِيَّاهُ ﷻ"[۴]. يعنې ای بندګانو! که تاسو الله ﷻ په عبادت سره ياد کړئ نو الله ﷻ به تاسو په احساناتو سره ياد کړي، حال دا چې ستاسو د ذکر څخه د الله ﷻ ذکر ډېر بهتر دی، دا ځکه چې ستاسو ذکر د بندګۍ څخه نمايندګي کوي او د الله ﷻ ذکر د الوهيت څخه نمايندګي کوي او د اجرونو او احساناتو د ورکړې معنی ورکوي چې ستاسو دپاره لويه کاميابي ده، نو تاسو ته په کار دي چې خپلې کاميابۍ پسې تاند ووهئ.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه اوږده قدسي حديث کښې اشاره کړې ده چې: «فَإِنْ ذَكَرَنِي فِي نَفْسِهِ ذَكَرْتُهُ فِي نَفْسِي وَإِنْ ذَكَرَنِي فِي مَلَإٍ ذَكَرْتُهُ فِي مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ»[۵] يعنې الله ﷻ فرمايي چې که يو بنده ما د خپله ځانه سره په بندګۍ او عبادت سره ياد کړي زه به يې د خپله ځانه سره په رحمت او احسان سره ياد کړم، او که ما په يوه ټولګي کښې په عبادت سره ياد کړي زه به يې د دوی د ټولګي څخه په بهتر ټولګي کښې په انعام سره ياد کړم؛ نو په هر تقدير د بنده دپاره زما ذکر بهتر او ګټور دی.

ب: د "ذِكْرُ" د کلمې فاعل مقدر دی (دا مجهول مصدر دی) او د "أَكْبَرُ" د کلمې دپاره مفضل عليه مقدر دی[۶]، نو مونږ ترې داسې تعبير کوو چې: "وَلَذِكْرُ اللهِ أَكْبَرُ مِنَ التِّلَاوَةِ وَالإِقَامَةِ" يعنې ای

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۸۷
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۲۲۵
(۳) تفسير القرطبي ج۱۳ ص۳۴۹؛ تفسير الخازن ج۵ ص۲۰؛ زاد المسير ج۶ ص۱۳۳
(۴) تفسير الطبري ج۲۰ ص۱۵۸
(۵) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۰۱
(۶) تفسير ابي السعود ج۷ ص۴۲؛ نظم الدرر ج۵ ص۵۶۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بندګانو! د فحشاء او منکر څخه د منعه کولو په اړوند د قرآن کریم د تلاوت او د لمانځه د اقامت څخه د الله ﷻ ذکر ډېر لوی دی، چې کله تاسو د الله ﷻ عظیم شان دربه زړه کړئ نو د منکراتو څخه په اجتناب درکولو کښې به درته زیات اغېزمن او ګټور واقع شي، حتی چې د قرآن کریم تلاوت او د لمانځه اقامت هم د دې کبله د منکراتو مخنیوی کوي چې دغه دواړه د الله ﷻ په ذکر باندې مشتمل دي. نو تاسو ته په کار دي چې هیڅکله الله ﷻ هېر نه کړئ، چې د ګناهونو څخه په اجتناب کښې درسره کومک وکړي.

په دې مقام کښې ځینو مفسرینو کرامو[1] د احادیثو یوه لویه مجموعه راغونده کړې ده چې د ذکر الله ﷻ په افضلیت کښې روایت شوي دي، هیله ده چې لوستونکي یې یو ځل له نظره تېر کړي.

## تبصره

٩ـ که څه هم ذکر شوي دواړه تفسیرونه یو تر بله سره څه منافات نه لري، ممکنه ده چې د بدلیت په لحاظ دواړه اراده کړی شي، اما کوم تفسیر چې ـزمونږ په فکرـ د مقام غوښتنه ده او متصله ﴿وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تَصْنَعُونَ﴾ جمله ورباندې دلالت کوي هغه دوهم تفسیر دی. نو حاصل به یې داسې راوځي چې: ای بندګانو! د الله ﷻ ذکر د منکراتو څخه د اجتناب دپاره ډېر ښه موثر دی، خصوصاً په دې لحاظ چې تاسو ایمان ولرئ چې الله ﷻ په هغو ټولو کارونو باندې پوهېږي کوم چې تاسو یې په دنیا کښې اجراء کوئ او پکښې اخته یاست، نو د قیامت په ورځ به ضرور سزا یا جزا درکړي.

﴿وَلَا تُجَادِلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ مِنْهُمْ ۖ وَقُولُوٓا۟
ءَامَنَّا بِٱلَّذِىٓ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَأُنزِلَ إِلَيْكُمْ وَإِلَٰهُنَا وَإِلَٰهُكُمْ وَٰحِدٌ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٤٦﴾
وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ ۚ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَمِنْ
هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤْمِنُ بِهِۦ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿٤٧﴾ وَمَا كُنتَ تَتْلُوا۟ مِن قَبْلِهِۦ
مِن كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ ۖ إِذًا لَّٱرْتَابَ ٱلْمُبْطِلُونَ ﴿٤٨﴾ بَلْ هُوَ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ فِى
صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٤٩﴾ وَقَالُوا۟ لَوْلَآ
أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَٰتٌ مِّن رَّبِّهِۦ ۖ قُلْ إِنَّمَا ٱلْءَايَٰتُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿٥٠﴾
أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ

---

(١) تفسير المظهري ج٧ ص٢٠٦، تفسير البغوي ج٣ ص٤٦٩

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ۖ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلْأَرْضِ ۗ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ وَكَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٥٢﴾

[۴۶] او (ای مؤمنانو!) تاسو د اهل الکتابو (یهود او نصاراوو) سره مجادله مه کوئ مگر په هغې طریقې سره کومه چې ډېره ښایسته (بهتره) وي. مگر د دوی (د جملې) څخه د هغو کسانو سره (په سختۍ سره هم مجادله کولی شئ) کومو چې (په کفر باندې علاوه نور) ظلم کړی وي (چې د هغوی د پلوه سخته مجادله پیل شي).

او (ښه طریقه دا ده چې هغوی ته) تاسو ووایاست چې مونږ په هغه کتاب ایمان راوړی دی کوم چې مونږ ته نازل شوی دی او کوم چې تاسو ته درنازل شوی دی، او زمونږ معبود او ستاسو معبود (یکي) یو دی، او مونږ خاص همده ﷻ ته غاړې ایښودونکي یاستو (مونږ او تاسو سره ډېر نژدې یاستو).

[۴۷] او (ای پیغمبره!) همدارنگه (د پخوانیو کتابونو غوندې) مونږ تاته هم کتاب (قرآن کریم) درنازل کړی دی (چې هیڅ شک او شبه پکښې نشته).

نو هغه کسان کومو ته چې مونږ کتاب ورکړی دی په دې (قرآن کریم) باندې باور کوي، او د دغو خلکو (مشرکانو) څخه (هم) خینې هغه کسان دي چې باور ورباندې کوي. (خو د دغو باور کوونکو اکثریت عناداً ترې انکاري دي)، او زمونږ په ایتونو سره په عنادي توگه انکار نه کوي مگر (کلک) کافران.

[۴۸] او (ای پیغمبره!) د دې (قرآن کریم) څخه وړاندې، ته نه وې چې څه کتاب (لیک) ولولې، او (ته نه وې) چې په خپل ښي لاس سره څه لیکنه وکړې.

په دغه وخت کښې (چې تا پخوا لوست کولی شوی او یا دې اوس لیکنه کولی شوی) هرو مرو به (د حق) باطلوونکو (ستا په نبوت کښې) څه شک کړی وی (او د شک دپاره به یې ړنده وجه درلودلې وی).

[۴۹] (دغسې نه ده) بلکې دا (قرآن کریم) د هغو کسانو په سینو کښې واضحه دلایل دي کومو ته چې علم ورکړی شوی دی (او د جحود څخه بچ پاتې دي). او زمونږ په ایتونو سره جحود نه کوي (په عنادي توگه نه کافر کېږي) مگر (د حق څخه) تېری کوونکي (ظالمان).

[۵۰] او اهل الکتاب (د مشرکانو په اشاره) وایي چې په محمد ﷺ باندې د خپل رب ﷻ د پلوه ولې ایتونه (زمونږ د پیغمبرانو غوندې معجزات) نه دي نازل شوي (که نوموړی په رښتیا پیغمبر وي نو دغه کار به شوی وی).

نه (ورته په جواب کښې) ووایه چې: یقیناً ایتونه (معجزات) د الله ﷻ په نزد دي (زما په نزد نه دي) او یقیناً زه فقط ښکاره ډاروونکی یم (او بس).

[۵۱] (ای پیغمبره!) ایا (اهل الکتاب ذکره شوې غوښتنه کوي) او دا خبره ورته کفایت نه کوي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې يقيناً مونږ په تاباندې داسې كتاب (قرآن كريم) نازل كړی دی چې (روزمره) ورباندې (په معجزانه توګه) لوستل كېږي.

بې شكه په دغه (معجزانه نازولو ) كښې د داسې قوم دپاره چې ايمان راوړي (او عناد نه وي نيولی) هرومرو لوی رحمت او لوی پند دی.

[۵۲] (بيا ورته) ووايه چې: زما او ستاسو ترمنځ الله ﷻ د شاهد په حيث بس دی، چې په هغو (ټولو شيانو) باندې پوهېږي كوم چې په اسمانونو او ځمكو كښې موجوديت لري.

او هغه كسان كوم چې په باطلو عقيده لري او په الله ﷻ باندې كافر كېږي (عقيده ورباندې نه كوي) دغه كسان همدوی زيانكاران (او تاوانيان) دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني ايت په مضمون كښې دا خبره هم شامله وه چې لمونځ د مؤمنانو دپاره داعي الى الخير دی. په دې ايتونو كښې د يو پلوه هغوی ته د اشارې په توګه توصيه شوې ده چې تاسو د نورو خلكو دپاره داسې دعوت كوونكي وګرځئ لكه څنګه چې ستاسو دپاره لمونځ دعوت كوونكی دی، او د بله پلوه پكښې څه ارشادات نازل شوي دي چې بايد د دعوت په اوږدو كښې ترې كار واخستلی شي ترڅو د دعوت په وړاندې څه خنډ پېښ نه شي. نو حاصل يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د الله ﷻ د پلوه مؤمنانو ته ابلاغ كړه چې:

۱ـ تاسو د دعوت په جريان كښې د مخاطبينو حال په پام كښې ونيسئ او دعوت ته ادامه وركړئ. د مثال په توګه:

الف: تاسو د اهل الكتابو سره بحث او جګړه مه كوئ مګر په هغې طريقې سره كومه چې ډېره ښه او د هغوی د حال سره موافقه وي. يا په بل عبارت: هغوی ته داسې دعوت مه وركوئ لكه څنګه چې بې كتابه كفارو ته دعوت وركوئ، چې بالكل د اسماني اديانو څخه انكار كوونكي وي.

ب: هو! د اهل الكتابو څخه د هغې ډلې په دعوت كښې په تاسو باندې په ستغو او سپورو خبرو په وراورولو كښې څه باک نشته كومې چې ـبرسېره پر كفرـ په تاسو باندې ظلم كړی وي او سپورې او ستغې خبرې يې درته اورولې وي، او تاسو هغوی ته بالمثل جواب وركړئ.

ج: د دعوت كومه طريقه چې د اهل الكتابو سره موافقه ده او ښايسته طريقه ده، هغه دا ده چې تاسو هغوی ته د دعوت په جريان كښې ووايااست چې:

اول: ای اهل الكتابو! مونږ په هغه كتاب باندې ايمان راوړی دی كوم چې تاسو ته درنازل شوی وه، او مونږ هغه ځوک د پيغمبر په صفت پېژنو كوم چې تاسو ته د پيغمبر په صفت دراستولی شوی وه، لكه موسى ؑ او عيسى ؑ او داسې نور.

نو تاسو هم زمونږ غوندې په هغه كتاب باندې ايمان راوړئ چې مونږ ته نازل شوی دی چې د قرآن كريم څخه عبارت دی، او په هغه پيغمبر باندې عقيده وكړئ چې مونږ ورباندې معتقد ياستو.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: مونږ او تاسو د توحید په عقیده کښې متحد یاستو، تاسو هم د الله ﷻ سره په عبادت کښې بوتان نه شریکوئ او مونږ هم همدغه عقیده لرو.

دریم: په همدې بنیاد مونږ د همدغه واحد لا شریک الله ﷻ حکم ته غاړې ایښودونکي یاستو. نو په تېرو شوو زمانو کښې د تېرو شوو پیغمبرانو شریعتونه حقې لارې وې، او په دې زمانه کښې پخواني شریعتونه منسوخ ګرځېدلي دي او د اطاعت حقه لاره همدا یوه لاره ده کومې ته چې مونږ تاسو رابلو چې د محمدي (ﷺ) شریعت څخه عبارت ده.

نو هیله ده چې تاسو هم زمونږ غوندې الهي احکامو ته غاړې ایښودونکي وګرځئ او د آخر الزمان پیغمبر ﷺ شریعت قبول کړئ.

۲ـ ای پیغمبره! حقیقت همدا دی، لکه څنګه چې مونږ په پخوانیو زمانو کښې پیغمبرانو ته کتابونه او شریعتونه ورنازل کړي وه همدارنګه مو په دې زمانه کښې همدا تاته کتاب او شریعت درنازل کړی دی. نو هلته خاص په هغو شریعتونو کښې زمونږ رضامندي نغښتې وه او نن ورځ ـ تر قیامته پورې ـ زمونږ رضامندي ستا د شریعت په تعمیل کښې نغښتې ده اوبس.

۳ـ دغه خو یو څرګند حقیقت دی، پاتې شوه دا خبره چې دغه حقیقت څوک قبلوي او څوک یې نه قبلوي، نو هغه په خلکو پورې اړه لري نو:

الف: هغه کسان کومو ته چې مونږ پخواني کتابونه ورکړي وه هغوی په دغه کتاب (قرآن کریم) باندې د حقانیت عقیده لري، او دا څکه چې په پخوانیو کتابونو کښې د تحریف سره-سره داسې دلایل شته چې د حقانیت د اثبات دپاره یې کفایت کوي، مګر ـ د بده مرغه ـ هغوی په عنادي توګه کفر غوره کړی دی.

ب: په دې باندې علاوه، که څه هم د دغو مشرکانو د جملې څخه څینې په جهلي توګه کافر دي مګر د دوی څینې کسان هم د قرآن کریم په حقانیت باندې قلباً قناعت لري خو د دې سره-سره په عنادي توګه په کفر باندې کلک دي.

لنډه دا چې دا کتاب زمونږ د پلوه په داسې دلایلو باندې مشتمل دی کوم چې د حق د پېژاندلو دپاره کفایت کوي، نو په همدې بنیاد زمونږ د دلایلو څخه انکار نه کوي مګر هغه کسان کومو چې کفر غوره کړی دی او په عنادي توګه ورباندې کلک ولاړ دي.

۴ـ ای پیغمبره! د دې کتاب د حقانیت او ستا د صداقت یو دلیل دا دی چې: د دې کتاب د نزول څخه وړاندې تا نه کوم کتاب لوستی دی او نه دې لوستل زده وه، او بل دلیل یې دا دی چې: تا په خپل لاس سره پخوا هیڅ کتاب نه دی لیکلی او نه دې لیکل زده وه، حتی اوس هم لیک او لوست نه شې کولی.

که بالفرض تا کوم کتاب لوستی وی او یا په لیک او لوست باندې پوهېدلې، نو په دغه وخت کښې به د باطلو خاوندانو او د حق د پېښو لاندې کوونکو څه رنده وجه درلودی چې د دې کتاب (قرآن کریم) په حقانیت او ستا په صداقت کښې یې څه شک او شبه وکړي. د مثال په توګه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: مشرکانو به ویلی چې دا کتاب (قرآن کریم) حقاني کتاب نه دی بلکې د اهل الکتابو د کتابونو څخه لیکلی شوی او زده کړی شوی دی.

ب: اهل الکتابو به ویلی چې آخر الزمان پیغمبر زمونږ په کتابونو کښې أمي ښودلی شوی دی، او دا (محمد ﷺ) أمي نه دی بلکې لیک او لوست کولی شي، نو معلومه شوه چې نوموړی د نبوت په دعوت کښې دروغژن دی.

۵ـ لنډه دا چې: دا کتاب (قرآن کریم) داسې کتاب نه دی چې د شک او شبهې دپاره پکښې د ګوتې اېښودلو ځای مونده کړی شي، بلکې دا کتاب د ایتونو د تعدد په لحاظ د واقعي علم د خاوندانو په زړونو کښې واضحه دلایل دي، چې د یو پلوه په خپل حقانیت باندې دلالت کوي او د بله پلوه ستا صداقت هر چاته په ډاګه ګرځوي.

آن تر دې چې په همدې حقیقت باندې ظالمان (عنادي کفار) هم پوهېږي، مګر د عناد او د تکبر د کبله ترې په قصدې توګه انکار کوي او څرګند دلایل تر پښنو لاندې کوي.

۶ـ د همدې کبله د اهل الکتابو عنادي کفار د مشرکانو په اشاره وايي چې: دا (محمد ﷺ) په حقه پیغمبر نه دی که نه نو په ده باندې د خپل رب ﷻ د پلوه هغه ډول معجزات ولې نازل نه کړی شوه کوم چې زمونږ په پیغمبرانو باندې په پخوانیو زمانو کښې نازل کړی شوي وه؛ یا په بل عبارت: نوموړی ولې د خپلې همسا څخه ښامار نه شي جوړولی او داسې نور.

۷ـ ای پیغمبره! دغو عنادیانو ته په جواب کښې ووایه چې:

الف: د معجزاتو نازلول او هم د معجزاتو د ډول تشخیصول صرف د الله ﷻ کار دی او بس، همدی ﷻ اختیار لري چې معجزات نازلوي او که نه؟ که نازلوي یې نو څه ډول معجزات نازلوي؟.

ب: زما دنده (مکلفیت) یوازې او یوازې د احکامو ابلاغ دی، نو یقیناً زه ستاسو دپاره څرګند ډاروونکی یم او بس.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د الله ﷻ په نزد معجزات زښت ډېر دي، اهل الکتابو ته په ورنازلو شوو معجزاتو کښې انحصار نه لري.

ج: ایا ذکرو شوو عنادي کفارو ته ستا د صداقت د اثبات دپاره دا خبره کفایت نه کوي چې: یقیناً مونږ په تاباندې معجز کتاب درنازل کړی دی، چې روزمره وربانډې ستا د پلوه قرائت کېږي؟ بې شکه په دغه معجز کتاب کښې د الله ﷻ د پلوه ډېر لوی رحمت او لوی پند نغښتی دی، مګر هغه قوم ترې استفاده کولی شي کوم چې د قرآن کریم په واقعیت باندې عقیده کوي، او څوک چې ورته د عناد په نظر ګوري هغوی ترې د ګټې د پورته کولو څخه بې برخي دي.

د: ای پیغمبره! کفار مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

ای کفارو! کله چې تاسو زما د صداقت د اثبات دپاره قرآن کریم کافي نه بولئ نو باید چې الله ﷻ خو زما او ستاسو ترمنځ د شاهد په حیث کافي وبولئ، ایا تاسو د الله ﷻ شهادت هم نه قبلوئ حال دا چې الله ﷻ په هغو ټولو شیانو باندې پوهېږي کوم چې په اسمانونو او ځمکه کښې موجودیت لري؟.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



که بالفرض المحال زه د نبوت په دعوه کښې دروغژن وی نو الله ﷻ به هرو مرو زه رسوا کړی وی او روزمره به یې زما تائید نه وی کړی (د اسلام د پرمختګ مخه به یې بنده کړې وی او اسلامي تولنه به یې د کمزورۍ په لور سوق کړې وی).

۸ـ نو د ذکر شوي استدلال نتیجه دا راخېژي چې: کفار په باطله عقیده کلک دي او کوم کسان چې په باطلو باندې عقیده کوي او د الله ﷻ څخه انکاري وي نو همغوی زیانکاران او تاوانیان دي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ وَلَا تُجَـٰدِلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ ﴾ الآیة کښې د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې پیدا کېږي:

الف: که څوک وایي چې: تاسو ته د دې سورت په سریزه کښې راجحه برېښېدلې وه چې دا سورت مکي دی، حال دا چې دغه ایت یې مدني توب ته ترجیح ورکوي، ځکه چې د اهل الکتابو سره د مجادلې خطره په مدینه منوره کښې موجوده وه چې د هغوی اصلي ټاټوبی وه، نه په مکه معظمه کښې چې د مشرکانو استوګنځای وه؟

مونږ وایو چې: په دې ایت شریف کښې مؤمنانو ته د مجادلې طریقه ښودلې شوې ده او پوره واضحه ده چې د هجرت څخه وړاندې هغوی په خپلو سفرونو کښې د اهل الکتابو سره ځای په ځای د بحث سره مخامخ کېدل[۱]، نو ایت شریف د سورت مدني بودن ته ترجیح نه شي ورکولی.

ب: بله پوښتنه دا ده چې: د حق په مقابل کښې مجادله کوونکي اهل الکتاب خو ټول ظالمان دي، نو د ﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنۡهُمۡ ﴾ استثناء څه معنی لري؟

مونږ وایو چې: دلته د ظلم څخه په کفر باندې علاوه نور ظلم مطلب دی[۲]، لکه چې سخې سپورې خبرې وکړي او خپل عناد په ډاګه کړي، نو په دې صورت کښې مؤمنانو ته اجازه ورکړی شوه چې بالمثل جواب ورواوروي.

## عجیب جواب

۲ـ په ﴿ وَقُولُوٓاْ ءَامَنَّا ﴾ الآیة کښې عجیب جواب مرموز دی، کوم چې په یوه حدیث کښې وړاندې رانا اچولې شوې ده، هغه دا چې:

یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «لَا تُصَدِّقُوا أَهْلَ الْكِتَابِ وَلَا تُكَذِّبُوهُمْ وَقُولُوا ﴿ آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا ﴾ الآیة»[۳] یعنې تاسو د اهل الکتابو په اقوالو کښې صرف په هغو اقوالو باندې عقیده وکړئ کوم چې په ما أنزل الله کښې شامل وي، او په اجمالي توګه وواياست چې مونږ پرې ایمان راوړی دی، اما د ما أنزل الله څخه په غیر مه د هغوی تصدیق کوئ او مه تکذیب کوئ (هلته

(۱) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۲۲۹
(۲) روح المعاني ج۲۱ ص۲
(۳) صحیح البخاري ج۱ ص۳۶۹

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



سکوت غوره کړئ، ترڅو په لاشعوري توګه یا د دروغو تصدیق ونه کړئ او یا رښتیاوو ته د دروغو لقب ورنه کړئ، او دا څکه چې هغوی ما أنزل الله تحریف کړی دی.

## دوه ډوله تفسیر

۳ـ مفسرین کرام د ﴿ فَٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَٰهُمُ ٱلْكِتَٰبَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ۖ وَمِنْ هَٰٓؤُلَآءِ مَن يُؤْمِنُ بِهِۦ ﴾ په تفسیر کښې په لاندې دوه وو ګروپونو ویشلي شوي دي:

الف: ځینې وایي چې د ﴿ فَٱلَّذِينَ ﴾ څخه د پخوانیو زمانو مسلمانان اهل الکتاب مطلب دي[۱]، او په ﴿ وَمِنْ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ سره هغو مسلمانانو ته اشاره شوې ده کوم چې د اهل الکتابو څخه په ایمان مشرف شوي وه، لکه عبد الله بن سلام ﷺ او نور.

یعنې پخوانیو اهل الکتابو ـ چې خپل کتاب یې لانه وه تحریف کړی ـ د دې قرآن کریم په حقانیت باندې ایمان راوړی وه، او ستا د زمانې د اهل الکتابو څخه هم ځینې په ایمان باندې مشرف شوي دي، دغه او هغه د دې خبرې دلیل دی چې ته د نبوت په دعوه کښې رښتینی یې.

ب: ځینې نور وایي چې د ﴿ فَٱلَّذِينَ ﴾ څخه مسلمانان اهل الکتاب مراد دي[۲]، او د ﴿ هَٰٓؤُلَآءِ ﴾ څخه مشرکان او نور کفار مطلب دي.

نو په دې تفسیر سره یې حاصل داسې راځېږي چې: ای پیغمبره! د اهل الکتابو څخه چې کوم کسان په ایمان مشرف شوي دي، لکه عبد الله بن سلام ﷺ او نور، هغوی عقیده لري چې دا کتاب (قرآن کریم) په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی، او د دوی څخه په غیر د مشرکانو او نورو کفارو څخه به هم ځینې کسان په ایمان مشرف شي او ایمان به درباندې راوړي، نو دغه او هغه کفایت کوي چې ستا صداقت درباندې په اثبات ورسېږي.

## تبصره

۴ـ په دې مقام کښې مونږ خپل نظر په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

الف: په لومړني تفسیر کښې دا کمی دی چې د ﴿ فَٱلَّذِينَ ﴾ موصول څخه پخواني اهل الکتاب اراده کول متبادر نه دي، ظاهره دا ده چې دلته د همدې زمانې اهل الکتاب مطلب دي چې بحث پکښې روان دی.

په دې باندې علاوه، که بالفرض دلته پخواني اهل الکتاب مراد وی نو د ﴿ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ ﴾ په عوض به "آمَنُوا بِهِ" نازل شوی وی، چې په تېره شوې زمانې باندې یې دلالت کړی وی.

ب: دوهم تفسیر څکه کمزوری برېښي چې د ﴿ فَٱلَّذِينَ ﴾ موصول عام دی، نو یوازې په مسلمانانو اهل الکتابو پورې تخصیص ورکول هیڅ دلیل نه لري.

---

(۱) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۴
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: زمونږ په نظر دغه موصول د دې زمانې ټولو اهل الکتابو ته شامل دی، برابره خبره ده چې په ایمان باندې مشرف شوي وي او که په خپل کفر باندې کلک وي.

د: نو د معنی حاصل به یې داسې راوخیژي چې:

اې پیغمبره! لکه څنګه چې اهل الکتابو ته مونږ په حقه کتاب ورنازل کړی وه همدارنګه مو تاته هم په حقه قرآن کریم درنازل کړی دی، په دغه حقیقت باندې ټول اهل الکتاب عقیده لري او په خپل کتاب کښې شواهد ګوري، حتی تا د خپلو ځامنو په شان پیژني، چې په حقه د الله ﷻ د پلوه وراستولی شوی یې، خو اکثریت یې په عنادي توګه جحود او انکار غوره کوي.

اما د اهل الکتابو څخه په غیر نور کفار په دوه وو ګروپونو ویشلي شوي دي، چې ځینې عناد نیولي دي او په معجزاتو سره ورته ستا نبوت په اثبات رسېدلی دی خو په کفر کلک دي، او ځینې نور د جهالت د کبله په کفر ولاړ دي او تر اوسه پورې یې لا ته نه یې پیژندلی.

ه: مونږ څکه ذکر شوی تفسیر غوره کړ چې په همدې تفسیر باندې په ﴿ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ ﴾ کښې د ﴿ يَجْحَد ﴾ کلمه دلالت کوي، چې د "جُحُود" ـ لکه "قُعُود" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، او "جُحُود" د هغه انکار معنی ورکوي د کوم سره چې علم ملګری وي[1].

یا په بل عبارت: "جُحُود" د یوه شي هغو نفي کولو ته وضعه شوی دی کوم چې په زړه کښې ثابت وي، او یا د یوه شي هغه اثبات ته ویل کېږي کوم چې په زړه کښې منفي وي[2].

د "جُحُود" د کلمې څه شرحه د الله ﷻ په توفیق د [النمل:۱۴] ایت لاندې تېره شوې ده.

## نبي کریم ﷺ لیکونکی او لوستونکی نه وه

۵ـ د ﴿ وَمَا كُنتَ تَتْلُواْ مِن قَبْلِهِۦ مِن كِتَٰبٍ وَلَا تَخُطُّهُۥ بِيَمِينِكَ ﴾ الآية- په ارتباط ټول علماء کرام د اجماع په توګه متفق دي چې نبي کریم ﷺ د نبوت څخه وړاندې لوستونکی او لیکونکی نه وه.

اما د نبوت څخه وروسته د ځینو علماوو کرامو په عقیده، په معجزانه توګه نبي کریم ﷺ لیکونکی او لوستونکی ګرځېدلی وه. یا په بل عبارت: اُمیتوب یې یوه معجزه وه او لیکونکی جوړېدل یې بله معجزه وګرځېده.

خو په ذکر شوي ایت شریف کښې د ﴿ وَلَا تَخُطُّه ﴾ کلمه په ډاګه دلالت کوي چې د نبوت څخه وروسته هم لیکونکی او لوستونکی نه دی جوړ شوی. دا څکه چې دغه کلمه د مضارع صیغه ده چې په حال او استقبال دواړو باندې دلالت کوي، نو لیکنه یې په دواړو کښې نفي شوې ده.

که څوک په دې موضوع کښې اوږد بحث غواړي نو ځینو اوږدو کتابونو ته دې مراجعه وکړي[3]، چې د نفي او اثبات دواړو دلایل پکښې شته دي.

(۱) لسان العرب ج۳ ص۱۰۶
(۲) مفردات الراغب ص۸۶
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۱۷؛ روح المعاني ج۲۱ ص۴؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۲۳۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## دلته کوم علم مطلب دی؟

۶ـ په ﴿ فِى صُدُورِ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ ﴾ کښې د "عِلم" څخه نافع علم مراد دی کوم چې مؤمنانو ته ورکړی شوی دی او په سینو کښې ثابت او راسخ دی(۱)، د همدې کبله په ایت شریف کښې ﴿ صُدُورِ ﴾ کلمه اضافه نازله شوې ده، ترڅو د علم په ثبوت او رسوخ باندې دلالت وکړي.

نو د معنی حاصل یې داسې راځېژي چې: اهل الکتابو ته عمومًا او خینو نورو کفارو ته خصوصًا د قرآن کریم د حقانیت علم ورکړی شوی وه، خو د هغوی په سینو کښې یې ځای ونه نیوه او ګټه یې ترې وانخستله بلکې جحود (انکار) یې ورسره ملګری کړ. اما مؤمنانو ته چې په همدې هکله کوم علم ورکړی شوی دی دا نافع علم دی چې د دوی په سینو کښې یې ځای نیولی دی او انکار ورسره نه دی ملګری، که بالفرض المحال دوی دا کار وکړي نو بیا به دوی هم ظالمان وي او خپل علم به یې په مناسب ځای کښې نه وی استعمال کړی او مناسبه ګټه به یې ترې نه وی اوچته کړې.

## سوال جواب

۷ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَقَالُوا۟ لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْهِ ءَايَـٰتٌ مِّن رَّبِّهِۦ ﴾ الآیة کښې د ﴿ وَقَالُوا۟ ﴾ ضمیر چاته راجع دی؟ یا په بل عبارت: نبي کریم ﷺ ته د معجزاتو فرمایش چا ورکړی وه؟

مونږ وایو چې: خینو مفسرینو کرامو فرمایش ورکوونکي مشرکان ګڼلي دي(۲) او ذکر شوی ضمیر یې همدوی ته راجع اخستی دی، چې د فرمایشاتو مثالونو ته یې په [الإسراء: ۹۰] ایت کښې اشاره شوې ده.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې په دې مقام کښې به ذکر شوې ضمیر اهل الکتابو ته راجع وي او د فرمایشي معجزاتو غوښتونکي به همدوی وي. او دا ځکه چې:

الف: په ﴿ وَقَالُوا۟ ﴾ کښې د عاطف "و" توری دلالت کوي چې دغه ضمیر اهل الکتابو ته راجع دی چې د وړاندې څخه په همدوی کښې بحث را روان دی.

هو! څه لرې نه ده چې دوی به فرمایش ته مشرکانو لمسولي وي ترڅو څه بهانه ترلاسه کړي.

ب: همدارنګه د ﴿ ءَايَـٰتٌ ﴾ کلمې څخه معلومېږي چې دلته فرمایش کوونکي اهل الکتاب دي، او دا ځکه چې د [الإسراء: ۹۰] ایت څخه ښکارېږي چې مشرکانو د نبي کریم ﷺ څخه د معجزاتو مجموعه نه وه غوښتې، بلکې په انتخابي توګه یې د یوې معجزې فرمایش ورکړی وه چې یا دا وکړه او یا دا وکړه. اهل الکتابو ته او خاصتًا یهودانو ته نهه معجزې ورکړی شوې وې نو هغوی به عنادي توګه فقط همدغه نهه معجزې په نبوت باندې د دلالت دپاره معیار ګرځولي وې، چې که نه په حقه پیغمبر یې نو د موسی ؑ په شان نهه ګوني معجزې ځرګندې کړه او یا اقلاً د دغو څخه څو

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۷۱؛ تفسیر القرطبي ج۱۳ ص۳۵۴

(۲) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



معجزې د خرګندولو دپاره انتخاب کړه، کله چې ته نه دا کوې او نه هغه، نو معلومه شوه چې ته د نبوت په دعوه کښې صادق نه يې.

## په نبوت باندې د الله ﷻ شهادت

۸ـ په ﴿ قُلْ كَفَىٰ بِٱللَّهِ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ شَهِيدًا ﴾ کښې دېته اشاره ده چې الله ﷻ د نبي کريم ﷺ په نبوت باندې شهادت ورکوي.

مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۱۹] ايت لاندې د الهي شهادت ډولونه ليکلي دي، چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو، خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې:

دا هم د الله ﷻ شهادت دی چې روزمره د نبي کريم ﷺ د دين پلوشې زياتوي، که بالفرض المحال نبي کريم ﷺ د نبوت په دعوه کښې دروغژن وی نو د شرمندګۍ سره به يې مخامخ کړی وی بلکې ژوندی به يې نه وی پرېښی. لاندې وضاحتونه ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ ٱلْوَتِينَ ﴾ [الحاقة:۴۶] يعني که بالفرض المحال نبي کريم ﷺ په مونږ باندې ځينې خبرې دروغې تړلې وی نو هرو مرو به مونږ د نبي لاسه ځخه نيولی وی او بيا به مو د ده شارګونه پرې کړي وی (ژوندی به مو نه وی پرېښی چې دوروغ وتړي).

ب: ځينو علماوو کرامو ليکلي دي[1] چې يوه ورځې مسيلمة الکذاب (چې په دروغو يې د نبوت دعوه کړې وه) د يوه سړي په ګړه سترګه باندې لاس راکش کړ (ترڅو سمه شي) نو سمدستي د نوموړي سړي سترګه ړنده شوه (او ذکر شوی دروغژن شرمنده شو).

﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ ۚ وَلَوْلَآ أَجَلٌ مُّسَمًّى لَّجَآءَهُمُ ٱلْعَذَابُ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝٥٣ يَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ ۝٥٤ يَوْمَ يَغْشَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ وَيَقُولُ ذُوقُوا۟ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٥٥ ﴾

[۵۳] او (ای پيغمبره!) ستا ځخه مشرکان په عذاب سره عجله (تادي) غواړي (چې هله ژر شه! راباندې رانازل يې کړه).

او که نومولې شوې (ټاکلې شوې) نېټه نه وی نو ضرور به دوی ته عذاب ورغلی وی (هر شی په خپل وخت کښې تحقق مومي). او هرومرو ضرور به دوی ته په ناځاپي توګه عذاب ورشي حال دا چې دوی به (يې په ورتګ) شعور نه لري.

[۵۴] (ای پيغمبره!) ستا ځخه مشرکان په عذاب سره عجله (تادي) غواړي. او يقيناً دوزخ په کفارو باندې احاطه کوونکی دی (هيڅکله به ترې نجات مونده نه کړی شي).

---

(۱) النبراس شرح شرح العقائد ص۲۷۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[55] هغه ورځ (یاده کړه) چې کفارو لره به عذاب پټ کړي، هم د دوی له پاسه او هم د دوی د پښو د پلوه (د هرې خوا به وربانديې احاطه وکړي)، او الله ﷻ به (ورته) ووايي چې د هغو کړو وړو (جزا) وڅکئ کوم چې تاسو په دنیا کښې وئ چې کول به مو.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د قرآن کریم حقانیت په دلایلو سره په اثبات ورسېد، او په دې ایتونو کښې د مشرکانو عکس العمل حکایت شوی او رد شوی دی چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! څرنګه چې مشرکان د قرآن کریم د حقانیت دلایل نه شي ردولی نو د ایمان د نه راوړلو دپاره لاندې بهانه نیسي:

۱_ ستا څخه د عذاب په نزول سره عجله کوي او وايي چې:

الف: که دا قرآن کریم حقاني کتاب وي او ته په حقه پیغمبر يې نو په مونږ باندې ولې الهي عذاب نزول نه مومي، حال دا چې مونږ نه دا کتاب منو او نه په تاباندې عقیده لرو.

ب: ایا الله ﷻ قدرت نه لري چې مونږ ژوندي پرېږدي او په عذاب سره مو پوپنا کړي؟، نو کله چې مونږ بنه په خوشالۍ کښې ژوند کوو نو معلومه شوه چې مونږ په حقه یاستو او ته په خپله دعوه کښې دروغژن يې.

۲_ ته ورته په جواب کښې ووایه چې:

الف: ستاسو د ژوندي پاتې کېدلو وجه دا نه ده چې ستاسو دین (بوت پرستي) حق دی، بلکې وجه يې دا ده چې تاسو ته د عذاب د نزول نېټه نه ده رسېدلې او د الله ﷻ په نزد هر شي په خپل ټاکلي وخت سره تحقق مونده کوي، نه وړاندې کېږي او نه وروسته کېږي.

که دغه خبره نه وی نو ستاسو د غوښتنې سره سم به په تاسو باندې عذاب درنازل شوی وی.

ب: هو! کله چې ټاکلې نېټه راورسېږي نو په ناڅاپي توګه به دربانديې عذاب درنازل شي چې په هغه وخت کښې به يې تاسو هیڅ غوښتنه نه کوئ بلکې په نازلېدلو باندې به يې بالکل شعور هم نه لرئ.

۳_ ای پیغمبره! مشرکان خو ستا څخه د عذاب په نزول سره عجله کوي حال دا چې هرو مرو او ضرور به په دوی باندې عذاب ورنازلېږي، که بالفرض په دنیا کښې د عذاب د نېټې د رسېدلو څخه وړاندې مره شي هم د عذاب څخه نجات نه شي موندلی. او دا څکه چې:

الف: یقینًا دوزخ په کفارو باندې احاطه کوونکی دی، برابره خبره ده چې په دنیا کښې يې عذاب لیدلی وی او که نه.

ب: ته خو مشرکانو ته هغه ورځ وریه یاده کړه چې د هره طرفه وربانديې دوزخي عذابونه احاطه وکړي، چې د پاسه به هم وربانديې عذاب ورنازلېږي او د پښو د پلوه به يې هم رانیسي، او په اور باندې علاوه ماران او لړمان به هم وربانديې مسلط کړی شوي وي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: په همدغه حال کښې به د تخجیل دپاره دوی ته د الله ﷻ د پلوه وویلی شي چې هغه عذاب وڅکئ او خوند ترې واخلئ کوم چې په دنیا کښې تاسو د خپلو ځانونو دپاره ګټلی وه.

## توضیحات

۱_ د ﴿ وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِٱلْعَذَابِ ﴾ څخه څرګندېږي چې مشرکانو مستقیمًا نبي کریم ﷺ مخاطب ګرځولی وه چې: که ته د نبوت په دعوه کښې رښتینی یې او زمونږ په هکله دې د تعذیب خبره رښتیا وي نو هله ژر شه موعود عذاب په مونږ باندې رانښکته کړه، که نه نو ته دروغژن یې.

خو په غیر مستقیمه توګه هغوی ذکر شوی سوال الله ﷻ ته راجع کاوه لکه چې په بل ځای کښې وربانديې صراحت شوی دی. هغه دا چې: ﴿ وَإِذْ قَالُواْ ٱللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ ٱلْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ ٱلسَّمَآءِ أَوِ ٱئْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ [الأنفال: ۳۲] یعنې او (ای پیغمبره!) هغه وخت یاد کړه چې مشرکانو وویلې چې: ای الله! که چرته دغه (قرآن کریم) ستا د نزد څخه همدا حق وي نو په مونږ باندې د اسمانه کاڼي راوروه او یا مونږ ته دردناک عذاب راوله (راباندې رانازل یې کړه).

## دلته کوم عذاب ته اشاره ده؟

۲_ د ﴿ وَلَيَأْتِيَنَّهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴾ په تفسیر کښې علماء کرام په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ویشلي شوي دي:

الف: ځینې وایي چې دلته اُخروي عذاب مطلب دی[۱] چې وروسته ضرور راتلونکی دی، نو په دې تفسیر سره دوهم ایت د لومړي ایت دپاره بیان او تاکید واقع کېږي.

ب: ځینې نور وایي چې دلته دنیاوي عذاب مراد دی[۲] چې یو ځل د بدر په غزا کښې متحقق شوی دی، او په دوهم ایت کښې اُخروي عذاب ته اشاره ده.

مونږ ته همدغه دوهم تفسیر راجح برېښي چې په تاسیس باندې مشتمل دی، او په اولنی تفسیر کښې تاکید دی، د تاکید څخه خو تاسیس غوره وي.

## د ایت شریف یو نظیر

۳_ د ﴿ يَوْمَ يَغْشَىٰهُمُ ٱلْعَذَابُ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ ﴾ مضمون په بل ایت شریف کښې داسې منعکس شوی دی چې: ﴿ لَهُم مِّن جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَمِن فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ﴾ [الأعراف: ۴۱] یعنې کفارو لره به د دوزخ څخه د اور فرش وي، او د پاسه به وربانديې د اور برستنې وي (چې د هره طرفه به یې وربانديې احاطه کړې وي).

## سوال جواب

۴_ که څوک وایي چې: د ﴿ ذُوقُواْ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ څخه څرګندېږي چې کفارو ته به د خپلو اعمالو

---

(۱) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۱۸

(۲) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۲۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



څخه عذاب جوړ شي، نو ایا د ایت شریف څخه دغه ډول مطلب اخستل صحت لري؟

مونږ وایو چي: ایت شریف په دوه وو طریقو سره تفسیر کېدلی شي چي د دواړو طریقو مطلب یو دی. هغه دا چي:

الف: چي اعمال د جزا او عذاب څخه کنایه شي. یعني د خپلو اعمالو جزا وڅکئ.

ب: چي الله ﷻ د کفارو اعمال د عذاب په شکل واړوي. لکه چي نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښي فرمایلي دي چي: «مَنْ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ مُثِّلَ لَهُ مَالُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ»[۱] یعني هر چاته چي الله ﷻ مال ورکړی وي خو نوموړی یې مفروضه زکات ورنه کړي، نو خپل مال به ورته د ګنجي منګور په شکل واړولی شي چي د قیامت په ورځ به یې په غاړه کښي پروت وي او په ونګیو به ورته چک ورکوي چي زه خو ستا خزانه او ستا مال یم (ولې اوس راپوري په تنګ یې).

﴿يَٰعِبَادِيَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ أَرۡضِي وَٰسِعَةٞ فَإِيَّٰيَ فَٱعۡبُدُونِ ﴿٥٦﴾ كُلُّ نَفۡسٖ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِۖ ثُمَّ إِلَيۡنَا تُرۡجَعُونَ ﴿٥٧﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ غُرَفٗا تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ نِعۡمَ أَجۡرُ ٱلۡعَٰمِلِينَ ﴿٥٨﴾ ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَلَىٰ رَبِّهِمۡ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٥٩﴾ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٖ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٦٠﴾﴾

[۵۶] ای زما هغو بندګانو چي ایمان یې راوړی دی! یقیناً زما ځمکه پراخه ده، نو خاص ماته او خاص زما عبادت وکړئ.

[۵۷] هر نفس د مرګ څکونکی دی (مړ کېدونکی دی)، بیا به (د قیامت په ورځ) خاص مونږ ته راجع کړی شئ.

[۵۸] او هغه کسان چي ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، هرومرو ضرور به مونږ هغوی د جنت څخه په داسي ماڼیو کښي واوسوو چي لاندي به تري (ځلور ډوله) ویالي بهیږي (البته) په داسي حال کښي چي دوی به پکښي همېشه وي.

د (نېک) عمل کوونکو اجر ډېر ښه دی (چي ذکر شوی جنت دی).

[۵۹] (نېک عمل کوونکي) هغه کسان دي کوم چي (په مشقتونو باندي) یې صبر کړی وي او په خپل رب ﷻ باندي توکل (او اعتماد) کوي.

[۶۰] او په ځمکه باندي د خوځېدونکو څخه زښتو ډېرو ته کوم چي خپله روزي نه اوچتوي (او نه یې زخیره کوي) الله ﷻ ورته روزي ورکوي، او تاسو ته هم (روزي درکوي نو تشویش مه کوئ) او همدی ﷻ (ستاسو د ټولو اقوالو) اورېدونکی (او په ټولو کړو وړو باندي مو) پوهېدونکی دی.

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۶۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط او د مطلب خلاصه

کله چې په وړاندېنیو ایتونو کښې مشرکانو ته ابلاغ کړی شوه چې دوی به ضرور په دنیا او آخرت دواړو کښې د الهي عذاب سره مخامخ شي، نو هغوی په مؤمنانو باندې خپل ظلم او تېری ته زور ورکړ او د عبادت په وړاندې يې لا خنډ وګرځېدل.

نو الله ﷻ ورته په هجرت کولو سره توصیه وکړه او ذکر شوي ایتونه يې نازل کړه چې د مطلب خلاصه يې په لاندې ډول راځېږي:

ای پیغمبره! څرنګه چې په مؤمنانو باندې د مشرکانو د پلوه فشار او ظلم ډېر زیات شوی دی چې د خپل رب ﷻ عبادت ته يې نه پرېږدي، نو زما د پلوه ورته ابلاغ کړه چې:

۱_ ای زما هغو بندګانو چې ایمان يې راوړی دی او همدا ایمان ورته د اور سره سکروټه جوړ شوی دی! تاسو لاندې ارشادات او وصایا په نظر کښې ونیسئ:

الف: یقینًا زما ځمکه پراخه ده، تاسو د دغه وطن څخه هجرت وکړئ او هغه وطن ته لاړ شئ چې هلته د مشرکانو سلطه موجودیت نه لري، او د عبادت مخه مو نه شي بندولی.

ب: تاسو خاص زما عبادت وکړئ او زما په بندګۍ باندې کلک اوسئ، نو د ځمکې په هره ټوټه کښې چې تاسو ته زما عبادت کول اسان وي او مانع وجود نه لري هملته استوګنه غوره کړئ.

ج: د خپل وطن څخه په انتقال او د خپلو اقاربو څخه په جدا کېدلو مه غمژن کېږئ، او دا ځکه چې هر سا لرونکی مړ کېدونکی دی، چې هرو مرو به یوه ورځ د خپلوانو او محبوبانو څخه جدا شي او د دار الفناء څخه به دار البقاء ته منتقل شي.

د: په دې باندې علاوه، د قیامت په ورځ به بیا تاسو ټول زمونږ حضور ته د حساب کتاب دپاره راجع کړی شئ، او وړاندېني او وروستني به سره د محشر په یوه میدان کښې حشر کړی شئ، نو ستاسو جدايي دائمي نه ده بلکې موقته ده.

۲_ ای پیغمبره! د دې دپاره چې په مؤمنانو باندې هجرت دروند تمام نه شي، زمونږ د پلوه لاندې زیري ورکړه:

الف: کومو کسانو چې ایمان راوړی وي او نېک عملونه يې کړي وي او برسېره په دې د الله ﷻ په لاره کښې يې هجرت په نصیب شوی وي، نو هرومرو او ضرور به مونږ هغوی ته د خپلو کورونو په عوض د جنت څخه په داسې اوچتو بنګلو او ماڼیو کښې اوسېدانه ورپه برخه کړو چې د ونو لاندې به يې څلور ډوله ویالې رواني وي، چې سوچه اوبه، شوده، شات او شراب به په بېلو-بېلو ویالو کښې روان وي.

ب: په دې باندې علاوه، هغوی به په ذکرو شوو ماڼیو کښې همېشه وي او هیڅکله به ترې بهر نه کړی شي. یا په بل عبارت: فاني کور به ورته په دائمي کور باندې بدل کړو.

نو د نېکو عملونو دپاره دا ډېر ښه خوندور اجر او ثواب دی چې هملته به ترې ابدي استفاده وکړي.

ج: خو نېکعملان (د صالح عمل خاوندان) هغه څوک دي چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: د بې وطنۍ او د خپلوانو څخه په جدايۍ باندې صبر کوي او د سفر مشقات زغمي
دوهم: چې فقط په خپل رب ﷻ باندې توکل او اعتماد کوي او يوازې همدی ﷻ خپل کارساز او روزي رسان ګڼي، او دا ځکه چې:
د: څومره ډېر ساکښان او په ځمکه باندې خوځېدونکي حيوانات خپله روزي نه اوچتوي چې د يو ځای څخه يې يوسي او په بل ځای کښې يې زخيره کړي خو د دې سره- سره الله ﷻ ورته روزي ورکوي، او ښه ماړه يې ساتي.

اې مهاجرو مخلصو بندګانو! تاسو پوه شئ چې همدغه د هر شي روزي رسان الله ﷻ ستاسو روزي رسان هم دی او تاسو ته هم روزي درکوي، که څه هم تاسو د خپلو ځانونو سره د هجرت په وخت کښې څه خوري او روزي نه وي اوچته کړې او دار الهجرة ته مو نه وي انتقاله کړې.
هـ: تاسو پوره ډاډه اوسئ، همدا الله ﷻ په هر وخت کښې ستاسو سوالونه اوري او د قبول مقام ته يې رسوي، او همدارنګه ستاسو په ټولو حالاتو باندې پوه دی او احتياجات مو درپوره کوي، نو هيڅ تشويش مه کوئ او په ډاډه زړه د الله ﷻ په لاره کښې هجرت وکړئ او خپل ځانونه جهاد ته چمتو کړئ.

## توضيحات

۱ـ که څه هم ذکر شوي ايتونه د قيامت تر ورځې پورې د ټولو مؤمنانو دپاره توصيه او ارشاد دی، خو د نزول په وخت کښې صحابه کرامو ﷺ ذکر شوی ارشاد عملي کړ چې حبشې ته يې هجرت پيل کړ او بيا يې د نبي کريم ﷺ په شمول مدينې منورې ته هجرت شروع او تمام کړ[۱] والحمد لله ﷻ.

## د هجرت ترغيبات

۲ـ په ذکرو شوو ايتونو کښې د في سبيل الله هجرت دپاره زښت ډېر ترغيبات نازل شوي دي، لاندې مثالونه يې ولولئ:
الف: الله ﷻ خپل بندګان مستقيماً مخاطب ګرځولي دي، چې ﴿ يَٰعِبَادِيَ ﴾ يې نازل کړی دی او "قُلْ يَاعِبَادِي ، يَاأَيُّهَا الْمُؤْمِنُون" يا د دې امثال کلمات يې نه دي نازل کړي.
ب: په ﴿ إِنَّ أَرْضِى وَٰسِعَةٌ ﴾ کښې مؤمنان پوه کړی شوي دي چې تاسو خاص د الله ﷻ په عبادت باندې مکلفيت لرئ او په کوم خاص وطن کښې اوسېدل ستاسو مکلفيت نه دی.
همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ اشاره کړې ده چې: «الْبِلَادُ بِلَادُ اللهِ وَالْعِبَادُ عِبَادُ اللهِ فَحَيْثُمَا أَصَبْتَ خَيْرًا فَأَقِمْ»[۲] يعني ټول ښارونه د الله ﷻ ملکيت دی، او ټول بندګان د الله ﷻ بندګان دي، نو په هر ښار کښې چې ته خير (ښېګڼې) ته رسېږې (لاس ته درځي) نو هملته اوسېږه.
همدارنګه نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «سَافِرُوا تَصِحُّوا وَاغْزُوا تَسْتَغْنُوا»[۳] يعني په ځمکه کښې

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۱۹
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۱ ص۳۵۰
(۳) مسند احمد بن حنبل ج۳ ص۳۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سفرونه وکړئ چې صحت (د بدن روغوالی) لاس ته درشي، او د الله ﷻ په لاره کښې غزاګانې وکړئ چې د احتیاج څخه خلاص شئ.

ج: په ﴿ كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې د خپل وطن پرېښودل حتمي دي چې هرڅوک به یوه ورځ بلا اختیاره په مرګ سره ترې جدا کېږي، خو په هغه وخت کښې به پکښې اجر او ثواب موجودیت ونه لري. نو بندګانو ته په کار دي چې حتمي واقع کېدونکي جدایي د هجرت په بنیاد په اختیار سره قبوله کړي چې د اجرونو مستحقین وګرځي.

د: په ﴿ ثُمَّ إِلَيْنَا تُرْجَعُونَ ﴾ کښې دېته اشاره ده چې په هجرت کښې د خپلو قومیانو څخه جدا کېدل شته خو دا موقته جدایي ده، چې د قیامت په ورځ به وراندېنې او وروستنې ټول د الله ﷻ په حضور کښې غونډېږي.

هـ: په ﴿ لَنُبَوِّئَنَّهُم مِّنَ ٱلْجَنَّةِ غُرَفًا ﴾ کښې في سبیل الله مهاجرینو ته وعده ورکړه شوې ده چې دوی ته به د دنیاوي فاني کورونو په عوض جنتي دائمي کورونه او مانۍ ورکړی شي، چې د سرو زرو او سپینو زرو خښتې به پکښې کارېدلې وي.

و: په ﴿ وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ ﴾ الآیة کښې د رزق تضمین ورکړی شوی دی او د اطمنان دپاره د ساکښانو روزي ورکولو ته متوجه کړی شوي دي چې عبرت ترې واخلي او هجرت کولو ته زړه نازړه نه شي. همدا مضمون نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې داسې منعکس کړی دی چې: «لَوْ أَنَّكُمْ تَوَكَّلْتُمْ عَلَى اللهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَتَرُوحُ بِطَانًا»[1] یعني که چرته تاسو په الله ﷻ باندې حقاني (واقعي) توکل وکړئ نو الله ﷻ به تاسو ته داسې روزي درکړي لکه مرغانو ته یې چې ورکوي (هغه دا چې) سهار وږې ګېډې روان شي چې نه ورسره روزي وي او نه یې څه زخیره کړي وي خو د شپې د مخې ګېډور (ماړه) خپلو جالو ته ورستنېږي.

## زخیره کوونکي ساکښان

۳ـ ځینو علماوو کرامو د هغو ساکښانو نومونه اخستي دي کوم چې د بلې ورځې دپاره روزي زخیره کوي، لکه سفیان بن عیینه رحمه الله وایي چې: "لَيْسَ شَيْءٌ يَخْبَأُ إِلَّا الْإِنْسَانُ وَالْفَارَةُ وَالنَّمْلَةُ"[2] یعني پرته د انسان، مږک او مېږي څخه بل هیڅ شی د راتلونکي ورځې دپاره روزي نه زخیره کوي.

## د پښتو څو اشعار

۴ـ یوه پښتون شاعر د ذکرو شوو مضامینو څخه ځینې مضامین په خپلو اشعارو کښې داسې ځای په ځای کړي دي[3] چې:

---

(۱) سنن ابن ماجه ص۳۰۷

(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۷۳؛ زاد المسیر ج۶ ص۱۲۸

(۳) د عبد الرحمن مومند دیوان ص۲۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بدلوې په دنیا دین او ایمان ولې؟ :: نه پوهېږې په خپل سود او په زیان ولې؟
همېشه په ځای د شکر شکایت کړې :: منکرېږې په عطاء د سبحان ولې؟
مدام اوښکې تویوې د رزق له غمه :: در ګوهر په بها پلورې ارزان ولې؟
چې په هر بېګا سامان د هر سبا کړې :: کورو کر شوې د محشر په سامان ولې؟
چې ښخوا تر قضا خپله رضا غواړې :: بېهوده په لوټو ولې اسمان ولې؟
په ژوند ومره چې د مرګ له غمه خلاص شي :: اسان کار دې کړ په ځان باندې ګران ولې؟
غیرې مینې دې په زړه باندې انبار کړې :: په کعبه کښې ننباسې بوتان ولې؟
زړه د نفس په پېروی درخخه لاړ شو :: د خبیث په لاس دې ورکړ قرآن ولې؟
چې یوسف د حبشې په بها مومې :: د مطلوب په بها نه پلورې خان ولې؟
بد د بدو پښېمانې کاندي رحمانه :: ته په خپلو بدو نه شوې پښېمان ولې؟

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾ اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَن يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ لَهُ إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٢﴾ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ مِن بَعْدِ مَوْتِهَا لَيَقُولُنَّ اللَّهُ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٦٣﴾ وَمَا هَٰذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٦٤﴾﴾

[۶۱] او که ته د کفارو (مشرکانو) څخه سوال وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړې دي او لمر او سپوږمۍ (چا) مسخر کړي دي؟

نو هرومرو ضرور به هغوی (په جواب کښې) ووایي چې: (دا کارونه الله ﷻ (کړي دي).
نو (د دې اعتراف سره سره دوی) کوم پلو ته (د حق څخه) اړولی کېږي؟

[۶۲] الله ﷻ (برسېره په پیدا کولو باندې) د خپلو بندګانو څخه هغه چاته روزي پراخوي کوم ته یې چې اراده وشي. او (هغه) چاته یې تنګوي (کوم ته یې چې اراده وشي دغه کارونه په همده ﷻ پورې خاص دي)؛ یقیناً الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی (او هر څه ورته معلوم دي).

[۶۳] او که ته د هغوی (کفارو) څخه پوښتنه وکړې چې هغه څوک دی چې د اسمانه اوبه (باران) نازلوي نو ځمکه ورباندې د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته ژوندۍ جوړوي؟

نو هرومرو ضرور به هغوی (په جواب کښې) ووایي چې (دا کارونه) الله ﷻ (کړي دي او کوي یې) (نو ته) الحمد لله ووایه (چې هغوی خپل ځانونه پخپله ملامته کړه). بلکې د هغوی اکثریت عقل څخه کار نه اخلي (که نه نو په عبادت کښې به یې د الله ﷻ سره بوتان نه وی شریکان کړي).

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۶۴] او دغه نژدې (حقیر) ژوند نه دی مګر (بې ګټې) مشغولتیا او لوبې دي، او یقیناً وروستنی کور ضرور همدا ژوند دی (ابدي دی زوال نه لري)، که کفار (په خپله ګټه او تاوان) پوهېدلی (نو فاني کور ته به یې په باقي کور باندې ترجیح نه وی ورکړې).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د ایتونو په وړاندېنۍ مجموعه کښې د مشرکانو د عناد یوه مثال ته اشاره شوې وه چې د مؤمنانو د عبادت مانع ګرځېدلې وه، نو الله ﷻ د ایتونو په وروستۍ مجموعه کښې هغوی ته د نجات لاره وښودله او د هجرت په هکله یې ارشادات او ترغیبات ورنازل کړه.

کله چې دغه ارشادات او ترغیبات هم ختم شوه نو په دې ایتونو کښې د کلام مخ بېرته وړاندېنۍ موضوع ته واړولی شو او د مشرکانو د عناد او تکبر بلکې د هغوی د استدلال د کاواکۍ او تناقض بیان نازل شو، چې خلاصه یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل اُمت باندې د کفارو (مشرکانو) د کلام د تناقض څرګندونې په غرض لاندې مثالونه قرائت کړه:

۱ ـ که ته مشرکانو (بوت پرستانو) ته پوښتنه زاجع کړې او ورته ووایاست چې: ای مشرکانو! تاسو چې خپلو بوتانو ته په عبادت کښې په اشتراک باندې قائل یاست نو د دې خبرې جواب راکړئ چې:

الف: هغه څوک دی چې اسمانونه او ځمکې یې پیدا کړي دي؟

ب: هغه څوک دی چې لمر او سپوږمۍ یې مسخر کړي دي او په کار باندې یې اچولي دي؟

ایا ستاسو بوتان په خلق یا په تسخیر کښې څه برخه لري چې تاسو ورته په عبادت کښې په برخه درلودلو باندې قائل یاست؟

۲ ـ نو هغوی به هرو مرو او ضرور په جواب کښې ووایي چې دا کارونه یوازې الله ﷻ کړي دي او لا کوي یې، زمونږ بوتان پکښې هیڅ برخه نه لري.

بنه نو د دغسې واضحه دلیل سره- سره مشرکان څنګه د حق څخه باطل ته اړولی کېږي، د هغوی د عقایدو د تصحیح دپاره خو همدغه یو سوال جواب هم کفایت کاوه.

۳ ـ که ته د هغوی څخه سوال وکړې چې ساکښانو ته روزي څوک ورکوي؟ ایا ستاسو باطل معبودان کوم یوه ساکښ ته د روزۍ ورکولو توان لري؟

په دغه سوال کښې هم جواب منفي دی او هغوی یو وړوکی مثال هم نه شي موندلی چې د هغوی بوتان یې په روزي رسونه کښې برخوال وي.

بلکې حقیقت دا دی چې: یوازې الله ﷻ د خپلو بندګانو څخه هغه چاته پراخه روزي ورکوي کوم ته یې چې خوښه شي، او په هغه چا باندې یې تنګوي کوم ته یې چې اراده وشي، بل هیڅوک او هیڅ شی پکښې مداخله نه شي درلودی. او دا ځکه چې: یقیناً یوازې الله ﷻ په هر شي باندې پوه دی او د هر ساکښ احتیاجات او اړتیاوې ورته معلومې دي، او بس.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴_ که ته د هغوی څخه پوښتنه وکړې چې د اسمانه اوبه چا نازلې کړې دي او په شپېو شپېو بارانونه څوک وروي، چې مړه او وچه کلکه ځمکه وربانديې تکه شنه او زرغونه ګرځوي؟

د دغه سوال په جواب کښې به هم مشرکان بل هیڅ ونه شي ویلی بې د دې چې هرومرو او ضرور دغه کار یوازې الله ﷻ کوي او بس، چې د ده ﷻ څخه په غیر هیڅوک د اسمانه یو ځاڅکی هم نه شي راکوزولی.

۵_ ای پیغمبره! په دغه وخت کښې د "الحمد لله" په ویلو سره د الله ﷻ حمد او ثناء ووایه چې مشرکانو په خپلو خولو خپل ځانونه ملامت کړه. او دا ځکه چې:

الف: د عبادت غوښتنه دا ده چې د مشرکانو بوتان دې د اسمانونو او ځمکو په پیداکولو کښې، د لمر او سپوږمۍ په تسخیرولو کښې، د روزیو په ورکولو کښې او د باران په نازلو کښې برخوال وي. حال دا چې هغوی پخپله اعتراف کوي چې په دغو شیانو کښې هیڅ برخه نه لري، خو د دې سره-سره په عبادت کښې یې برخوال ګڼي.

ب: په دغه تناقض او د استدلال په دغې کاواکۍ هرڅوک پوهېږي، او هر عاقل یې درک کولی شي، که هغوی د عقل څخه کار واخلي پخپله به هم وربانديې پوه شي، خو اکثریت یې د عقل څخه کار نه اخلي.

۶_ هغوی فاني دنیا اصلي هدف ګرځولې ده، حال دا چې:

الف: دغه حقیر او نژدې ژوند خو بل شی نه دی مګر بې مطلبه مشغولیتا او بې فایدې لوبې دي، چې ډېر ژر د فنا سره مخامخ کېدونکي دي.

ب: اما وروستنی کور په حقیقت کښې همغه کور دی او واقعي ژوندون همغه ژوندون دی چې فنا او زوال وربانديې نه ورځي.

ج: که بالفرض مشرکانو (کفارو) د خپلو عقلونو څخه کار اخستلی او پخپله ګټه او تاوان پوهېدلی، نو فاني دنیا ته به یې په باقي دنیا باندې ترجیح نه وی ورکړې.

## توضیحات

۱_ مونږ د الله ﷻ په توفیق په ﴿ إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ ﴾ کښې د "لَهو" او "لَعِب" دواړه کلمې د [الأنعام: ۳۲] ایت لاندې پوره توضیح کړې دي، او کوم اعتراض چې د خلکو ذهن ته ورځي هغه مو جواب کړی دی، چې بیا لیکل یې څه ګټه نه لري؛ نو هیله ده چې لوستونکي هلته یو ځل مراجعه وکړي.

## یو صرفي تحلیل

۲_ په ﴿ وَإِنَّ ٱلدَّارَ ٱلْآخِرَةَ لَهِيَ ٱلْحَيَوَانُ ﴾ کښې د "حَيَوَان" کلمه په اصل کښې "حَيَيَان" وه خو په غیر قیاسي توګه دوهمه "ي" په "و" باندې بدله شوه او د "حَيَوَانُ" کلمه ترې جوړه شوه[۱].

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پاتې شوه دا خبره چې دا څه صيغه ده؟ نو د دې جواب دا دی چې:

الف: ځينې علماء كرام وايي چې "حَيَوَانٌ" صفت نه دی بلكې مصدر دی او آخرني كور ته د مبالغې په توګه دغه لقب وركړی شوی دی[۱] چې ابدي كور دی او زوال ورباندې نه عارضېږي. يا په بل عبارت: ذكر شوی كلام د "زَيْدٌ عَدْلٌ" د قبيلې څخه دی چې د مبالغې په توګه زيد ته د عدل لقب وركړی شوی دی.

ب: ځينې نور وايي چې: ذكره شوې د "حَيَوَان" كلمه مصدر نه ده بلكې صفت ده[۲]، او هغه شي ته وضعه شوې ده كوم چې د ژوند مَقَرّ (د قرار نيولو ځای) وي؛ خو د ژوند مَقَرّ په دوه ډوله دی:

اول: يو هغه مَقَرّ دی كوم چې په ژوند باندې موصوف وي او ژوندی وي (حواس ولري) او د زوال سره مخامخ كېږي.

دوهم: بل هغه دی كوم چې په ابدي توګه باقي وي او هيڅ زوال ورباندې نه ورځي.

په دې مقام كښې همدغه دوهمه معنی مراده ده، چې په آخرت كښې نه مؤمنانو ته زوال شته او نه كفارو ته، بلكې دا دائمي كور دی.

## تبصره

۳ـ څرنګه چې ذكر شوي دواړه تحليلونه صرف په طريقه كښې اختلاف لري او په مطلب او مصداق كښې دواړه متحد دي، نو هر يو چې څوک غوره كړي باک يې نشته، خو مونږ ته دوهم تحليل راجح برېښي، والله ﷻ أعلم.

﴿ فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴿٦٥﴾ لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ ﴿٦٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴿٦٧﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ ﴿٦٨﴾ وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٦٩﴾ ﴾

[۶۵] نو كله چې مشركان په بېړۍ كښې سواره شي (او بېړۍ طوفاني شي) نو دوی الله ﷻ په داسې حال كښې بللي چې خاص الله ﷻ ته د خپل دين (اعتقاد) سوچه كرخوونكي وي. نو هر كله چې الله ﷻ ورته وچې ته نجات وركړي نو ناڅاپه دوی (ورسره په عبادت كښې) شريكان دروي.

[۶۶] ترڅو (د دغه كار نتيجه دا شي چې) مشركان په هغه شي سره ناشكري وكړي كوم چې مونږ

---

(۱) تفسير الكشاف ج۳ ص۴۶۳

(۲) مفردات الراغب ص۱۳۶؛ القاموس المحيط ج۱ ص۷۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورته ورکړي وه (چې د نجات څخه عبارت دی)، او ترڅو (د بوتانو په عبادت سره په خپل گومان

گټه واخلي (یا د ژوند څخه مستفید شي)؛ نو ډېر ژر به دوی (په خپل عاقبت باندې) پوه شي.

[۶۷] آیا مشرکان نه گوري (نه پوهېږي) چې یقیناً مونږ (ورته) حرم د امن ځای گرځولی دی،

حال دا چې خلک د دوی په چاپیریال کښې تښتولی کېږي (چور کېږي او وژل کېږي).

آیا نو مشرکان په باطلو (بوتانو) باندې ایمان راوړي او د الله ﷻ په نعمت باندې ناشکري کوي؟

[۶۸] او د هغه چا څخه زیات ظلم کوونکی څوک دی، چې په الله ﷻ باندې دروغ تړي، او یا

هغه وخت حق ته د دروغو نسبت وکړي کله چې ورته ورشي.

آیا په دوزخ کښې د کفارو دپاره د اوسېدانې ځای نشته (بلکې شته)؟!

[۶۹] او هغه کسان کوم چې زمونږ (په دین) کښې زیار باسي (هر ډول زیار چې وي) ضرور مونږ

هرو مرو به هغوی ته خپلې لارې وروښایو (مؤثرې طریقې به ورزده کړو).

او یقیناً الله ﷻ د محسنانو (ښایسته کارکوونکو) سره (په مرسته او نصرت سره) ملگری دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د یو پلوه د مشرکانو د اقوالو څو مثالونه راحکایت شوي وه چې د

هغوی د عقایدو سره یې تناقض درلود، او په دې ایتونو کښې یې یوه فعلي تناقض ته اشاره شوې

ده چې د هغوی د عقایدو سره تناقض لري. او د بله پلوه هلته د مشرکانو په حالاتو کښې د ﴿ لَا

يَعْقِلُونَ ﴾ کلام نازل شوی وه او په دې ایتونو کښې په همدغه کلام باندې استدلال اقامه کړی شوی

دی، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د مشرکانو د افعالو څخه د یوه فعل مثال هم په خپل امت باندې قرائت کړه کوم چې

د هغوی د عقیدې سره متناقض دی او د هغوی د بې عقلۍ او بې علمۍ څخه نمایندگي کوي هغه دا:

۱ ـ په هغه وخت کښې چې هغوی په بېړۍ کښې سواره شي او بېړۍ طوفاني وگرځي، نو په ډېر

اخلاص سره الله ﷻ ته سوالونه کوي او د هلاک او غرق څخه ترې نجات غواړي. په دغه وخت کښې

هغوی خپل باطل معبودان تول هېروي، ته به وایې چې هیڅکله یې بوت پرستي نه ده کړې.

خو کله چې الله ﷻ هغوی ته نجات ورکړي او روغ رمټ یې وچې ته پورېباسي، نو سمدستي په

ناڅاپي توگه بدون د تفکره هغوی خپلې پخوانۍ بوت پرستۍ ته بېرته وگرځي او د توحیدي عقیدې

په عوض شرکي عقیده خپلوي، ته به وایې چې هیڅکله یې په اخلاص سره الله ﷻ نه دی بللی.

۲ ـ د ذکرې شوې کړنلارې نتیجه دا جوړېږي چې هغوی برسېره په کفر او شرک باندې، د هغه

نعمت ناشکري هم کوي چې مونږ ورته تازه په تازه ورکړ او د غرق څخه مو نجات ورکړ.

او بله نتیجه یې دا راځېږي چې مشرکان څو ورځې او شپې د فاني دنیا څخه څه لنډه او تنگه

استفاده وکړي، او په اجتماعي میلو سره بوت پرستۍ ته ادامه ورکړي.

نو دغو سادگانو او بې عقلانو ته به ډېر ژر څرگنده شي او پوه به شي چې هغوی د گمراهۍ په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ځومره غټه کنده کښې لویدلي دي، خو دغه پوهه او ندامت به ورته څه ګټه ونه شي رسولی.

۳ـ ای پیغمبره! ایا مشرکان نه پوهېږي او د زړه په سترګو نه ګوري چې مونږ حرم شریف د همدوی دپاره د امن ځای ګرځولی دی؟ که نه نو د همدوی په شاوخوا کښې امنیت نشته او خلک تښتول کېږي او وژل کېږي. مونږ خو کولی شو چې په همدغه وچه کلکه ځمکه کښې یې د قارون غونډې خسف کړو، زمونږ قدرت خو په دریاب پورې منحصر نه دی. لکه چې په دریاب کښې ورته بوتانو نجات نه شو ورکولی همدارنګه په وچه کښې هم د هغوی د نجات څخه عاجز دي.

نو مشرکانو ته په کار دي چې په وچه او لمده دواړو کښې اخلاص د لاسه ورنه کړي او توحیدي عقیده خپله کړي.

عجیبه ده، نو ایا هغوی په باطلو (معبودانو بوتانو) باندې ایمان راوړي او په عبادت کښې ورته په اشتراک قول کوي، او د الله ﷻ په بې شمېره نعمتونو باندې ناشکري کوي؟

۴ـ ای پیغمبره! د هغه چا څخه ستر ظالم څوک دی چې په بل چا باندې نه بلکې په الله ﷻ باندې دروغ تړي او وایي چې زه پیغمبر یم، حال دا چې پیغمبر نه وي او نه ورته وحې کېږي.

همدارنګه ایا د هغه چا څخه لوی ظالم بل څوک دی چې حق ته د وررسېدلو سره سم د دروغو نسبت وکړي او په تکذیب باندې یې لاس پورې کړي.

نو که بالفرض المحال زه په دروغو باندې خپل ځان پیغمبر وتراشم نو زما څخه به غټ ظالم بل نه وي، او که تاسو حق (زما نبوت) تکذیبوئ نو تاسو به غټ‌غټ ظالمان یاست.

۵ـ نو ایا په دوزخ کښې دکفارو دپاره عمومًا او د غټو-غټو ظالمانو دپاره خصوصًا استوګنځای نه دی تیار کړی شوی؟ هو! ورته تیار کړی شوی دی او همدا سزا ورسره موافقه او مطابقه ده.

۶ـ بالآخره هغو کسانو ته کوم چې زمونږ د دین په هکله جهاد کوي، هر ډول جهاد چې وي، مونږ وعده ورکوو چې هرومرو او ضرور به د خپلې رضامندۍ لارې وزده کړو او په همدې ارتباط به داسې مهارتونه وربېرزو کړو چې په کسبې توګه به یې نه وي زده کړي.

په دې باندې علاوه، یقینًا الله ﷻ د ټولو احسان کوونکو او مخلصانو سره ملګری دی نو ضرور به ورته په دښمنانو او غلیمانو باندې غلبه او نصرت هم ورکړي.

## توضیحات

۱ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام: ۴۱] ایت لاندې د عکرمه ﷺ د مسلمانېدلو قیصه لیکلې ده، چې د ﴿ فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلْفُلْكِ ﴾ الآیة سره قوي ارتباط لري، که څوک یې د لوستلو شوق لري نو همغلته دې مراجعه وکړي.

## د ایت شریف نظائر

۲ـ د ﴿ وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا ﴾ الآیة په مضمون باندې الله ﷻ نور ایتونه هم نازل کړي دي، لاندې مثالونه یې ولولئ:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تَنصُرُواْ ٱللَّهَ يَنصُرۡكُمۡ وَيُثَبِّتۡ أَقۡدَامَكُمۡ ﴾ [محمد:۷] یعنې ای هغو کسانو کومو چې ایمان راوړی دی، که تاسو د الله ﷻ د دین سره کومک او نصرت وکړئ نو الله ﷻ به ستاسو سره نصرت او کومک وکړي او قدمونه به مو ثابت کړي.

ب: ﴿ وَٱلَّذِينَ ٱهۡتَدَوۡاْ زَادَهُمۡ هُدٗى وَءَاتَىٰهُمۡ تَقۡوَىٰهُمۡ ﴾ [محمد:۱۷] یعنې او هغه کسان کومو چې سمه لاره موندلې ده او سیده ورباندې روان دي، الله ﷻ به هغوی ته هدایت (رهنایي) ورزیاته کړي او خپله پرهیزګاري به یې ورته دوامداره ورکړي.

## د نصرت ضمني وعده

۳_ دا سورت په دې باندې پیل شوی وه چې هرومرو او ضرور به مؤمنان د زمانې په اوږدو کښې د امتحان سره مخامخ کېږي، لکه چې د نوح ﷺ او د ابراهیم ﷺ په شمول ټول پیغمبران د ازمېښتونو سره مخامخ شوي دي، خو د سورت په وروستني ایت کښې الله ﷻ هغوی ته په ضمني او اشاري توګه وعده ورکړه چې نصرت او کامیابي ستاسو په برخه ده. تاسو مطمئن او ډاډه اوسئ، الله ﷻ ستاسو ملګری دی.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ذکر شوي ایت شریف کښې دې ته هم اشاره ده چې په تاسو باندې د مشکلاتو درنازلول په کفارو باندې د مشکلاتو د ورنازلو غوندې د الله ﷻ د غضب څخه نمایندګي نه کوي، بلکې دا ستاسو د درجاتو د لوړوالي او د اجرونو د ډېروالي په بنیاد صورت نیسي. که بالفرض د غضب څخه یې نمایندګي کولی نو الله ﷻ به ستاسو سره ملګری نه وی، او خپل نصرت به یې نه وی درپېرزو کړی.

## د ایت شریف یو مصداق

۴_ مونږ د افغانستان په جهاد کښې د ذکر شوي ایت شریف یو مصداق په خپلو سترګو ولید، هغه دا چې افغان مجاهدینو نه عسکري زده کړه کړې وه او نه یې د وسلې کارول زده وه، بلکې زیات شمېر یې په لیک او لوست باندې نه پوهېده.

خو د جهاد په اوږدو کښې الله ﷻ د وسلې په استعمال او د جنګ په تکتیک کښې دومره مهارت ورپېرزو کړ، تابه ویل چې په دغه شق کښې یې شل کاله تحصیل کړی دی، او په دې باندې علاوه ډېرو لیک او لوست هم زده شو، او په سیاسي چارو کښې هم د زیاتې پوهې خاوندان وګرځېدل.

د العنکبوت سورت د الله ﷻ په توفیق او د همده ﷻ په نصرت او کومک پای ته ورسېد. د همده ﷻ څخه لا نور زیات توفیق غواړو.

نېټه: ۱۴۲۱/۴/۱ هـ ق - ۱۳۷۹/۵/۱۰ هـ ش - ۲۰۰۰/۷/۱م

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

# الروم (٣٠)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# سریزه

۱_ دا سورت د "الرُّوم" سورت نومېږي چې همدغه کلمه د دې سورت په لومړي ایت کښې نازله شوې ده، نو دا هغه سورت دی په کوم کښې چې د مغلوبیت څخه وروسته د رومیانو غالبیت ته اشاره شوې ده.

۲_ دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی[۱].

۳_ د دې سورت اعداد په لاندې ډول دي:

الف: د دې سورت د ایتونو ټوله شمېره فقط (۶۰) ایتونو ته رسېږي[۲].

ب: د کلماتو شمېر یې (۸۱۹)، او د حرفونو شمېر یې (۳۵۳۴) دی[۳].

## د دې سورت محتویات

۴_ په دې سورت کښې هم د نورو مکي سورتونو په شان عقیدوي احکام نازل شوي دي، لکه د الله ﷻ توحید، د قیامت د ورځې قیام او داسې نور، مګر دلته زیات زور په دې باندې اچولی شوی دی، چې د هر شي موجودیت (برابره خبره ده چې عزت وي او که ذلت) په الله ﷻ پورې مختص دی، او د ده ﷻ څخه په غیر د هیچا په قدرت باندې کوم شي وجود نه شي موندلی[۴].

## د دواړو سورتونو تناسب

۵_ دا سورت (الرُّوم) او وړاندی سورت (العنکبوت) سره یو تربله ډېرې نژدې اړیکې لري؛ هلته د عقیدوي احکامو دلایلو ته په اجمال سره اشاره شوې وه او دلته همدغه دلایل تفصیلوار نازل شوي دي، نو دا سورت د هغه سورت دپاره د متمم مثال لري.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

﴿الٓمٓ ۝١ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ۝٢ فِيٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ وَهُم مِّنۢ بَعۡدِ غَلَبِهِمۡ سَيَغۡلِبُونَ ۝٣ فِي بِضۡعِ
سِنِينَۗ لِلَّهِ ٱلۡأَمۡرُ مِن قَبۡلُ وَمِنۢ بَعۡدُۚ وَيَوۡمَئِذٖ يَفۡرَحُ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ۝٤ بِنَصۡرِ ٱللَّهِۚ يَنصُرُ
مَن يَشَآءُۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٥ وَعۡدَ ٱللَّهِۖ لَا يُخۡلِفُ ٱللَّهُ وَعۡدَهُۥ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ
لَا يَعۡلَمُونَ ۝٦ يَعۡلَمُونَ ظَٰهِرٗا مِّنَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَهُمۡ عَنِ ٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ غَٰفِلُونَ ۝٧﴾

(۱) الدر المنثور ج۶ ص۴۷۸
(۲) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۱۵
(۳) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۳۸۱؛ تفسیر الخازن ج۵ ص۳۱
(۴) نظم الدرر ج۵ ص۵۸۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱]

[۲] رومیان (اهل الکتاب، د فارسیانو د پلوه) مغلوب کړی شوه.

[۳] (البته) د عربو ځمکې ته په نژدې (ځمکه) کښې، حال دا چې همدوی (رومیان) به د خپل مغلوبیت څخه وروسته (په فارسیانو باندې) ژر غلبه ترلاسه کړي.

[۴] (البته) د څو کلونو په اوږدو کښې، (او دا ځکه چې) د رومیانو د غلبې څخه وړاندې او وروسته (په دواړو حالاتو کښې) حکم (او فیصله) الله ﷻ پورې اختصاص لري (هلته یې مغلوب کړه او بیا به یې غالب کړي).

او په دغه وخت کښې به (چې رومیان غالب وګرځولی شي) مؤمنان خوشالي کوي (او مشرکان به خپه وي).

[۵] (همدارنګه به مؤمنان) د الله ﷻ په نصرت سره (هم خوشالي کوي کوم به چې ورسره مستقیمًا وکړی شي). الله ﷻ د هغه چا سره نصرت کوي کوم ته یې چې اراده وشي، او همدی ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د زیاتې مهربانۍ څښتن دی.

[۶] (د ذکر شوو نصرتونو وعده بل چا نه بلکې الله ﷻ کړې ده) د الله ﷻ وعده کول. الله ﷻ په خپله وعده کښې خلاف نه کوي، مګر اکثره خلک نه پوهېږي (او د الله په وعده باندې باور نه لري).

[۷] د خلکو اکثریت د حقیر (او نژدې) ژوند څخه په ظاهر باندې پوهېږي حال دا چې دوی د وروستني ژوند څخه بې خبره (او غافل) دي (چې د دې ژوند په تعقیب ورروان دی).

## ارتباط

وړاندېنی سورت مؤمنانو ته د نصرت د وعدې په ورکولو باندې ختم شوی وه، او دا سورت د نصرت یوه مثال ته په اشارې سره پیل شوی دی چې لږ وروسته به ـ ان شاء الله ﷻ ـ ورباندې رڼا واچوله شي.

## شان نزول

علماوو کرامو د ذکرو شوو ایتونو شان نزول ډېر ښه مشرح لیکلی دی چې مونږ یې په لاندې څو ټکو باندې اکتفاء کوو:

۱ـ د هجرت څخه تقریبًا پنځه کاله وړاندې په هغه جنګ کښې فارسیانو (مشرکانو) په رومیانو (اهل الکتابو) باندې غلبه ومونده کوم چې د هغوی ترمنځ یې دولس کلنه سابقه درلوده.

۲ـ کله چې د غلبې ذکر شوی خبر مکې معظمې ته ورسېد نو د مکې مشرکان ورباندې ډېر خوښ او خوشاله شوه، چې زمونږ همعقیده خلک په خپلو حریفانو باندې د غلبې خاوندان وګرځېدل او هغوی ته یې داسې فاحشه ماتې ورکړه چې بیا به په ټول عمر کښې سرونه راپورته نه کړي.

۳ـ مشرکانو به مؤمنان په غوږ باندې وهل چې اهل الکتاب هیڅکله غلبه نه شي موندلی، په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نن سبا کښې به مونږ (د مکې مشرکان) هم ستاسو اهل الکتابو (اهل القرآن) بېخ او بنیاد وباسو او د همېشه دپاره به مو د ځمکې د مخ څخه ټغر ټول کړو، لکه څنګه چې زمونږ ورونو (فارسیانو) د رومیانو (اهل الکتابو) ټغر د ځمکې د مخه ټول کړ.

۴_ بالمقابل د ذکر شوي خبر په اورېدلو سره او د مشرکانو د سپکو سپورو خبرو په اورولو سره مؤمنان ډېر خپه شوه او زښت ډېر وزورېدل، نو الله ﷻ ذکر شوي ایتونه نازل کړه او داډ یې ورکړ، چې خلاصه یې په لاندې ډول سره راخېژي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحیم" لوستلو څخه وروسته مؤمنانو ته داډ ورکړه چې:

۱_ الله ﷻ په نصرت سره ستاسو ملګری دی، د همدې کبله یې درباندې داسې معجز کتاب (قرآن کریم) نازل کړی دی چې خپل حقانیت پخپله په اثبات رسوي. د مثال په توګه:

الف: دغه قرآن کریم د هغو تورو څخه ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې د ټولو خلکو خبرې ترکیب مومي، لکه "الف، لام، میم" او داسې نور، خو د دې سره- سره ټول مخلوقات یې د سیالی څخه عاجز دي، که بالفرض ټول مخلوقات سره لاسونه یو کړي چې د دې کتاب د یوه ایت غوندې یو ایت جوړ کړي نو دا کار به یې د وسې پوره نه شي.

دا د دې خبرې دلیل دی چې قرآن کریم بشري کتاب نه دی بلکې الهي کتاب دی، که نه نو په یوه وړوکي برخه کښې خو به بې سیالی او بې مثله نه وی پاتې شوی.

ب: همدارنګه دا قرآن کریم په داسې مضامینو باندې مشتمل دی چې په هغو باندې پوهېدل د هیچا په توان کښې نشته. د ښه وضاحت دپاره لاندې یو مثال د نظره تېر کړئ:

نن ورځ رومیان د فارسیانو (مشرکانو) د پلوه مغلوب کړی شوه او ډېره زیاته فاحشه ماتې یې وخوړه. د رومیانو فاحشه ماتې د عربو څخه پټه نه ده او دا ځکه چې د دوی د ماتې خوړلو موقعیت د عربي ټاپو سره نژدې پروت دی، او چندان لرېوالی ترې نه لري.

خو په یاد ولرئ چې د څو کالو په اوږدو کښې به همدغه مغلوب او فاحش شکست خوړونکي رومیان بېرته په فارسیانو باندې غالب وګرځي او پخوانی برم او قوت به د دوهم ځل دپاره ترلاسه کړي. او دا ځکه چې:

۲_ ټول واک او اختیار په الله ﷻ پورې اختصاص لري، که د چا مغلوبیت په برخه کېږي او که چاته غالبیت لاس ته ورځي دا دواړه د همده ﷻ په اراده باندې څرخېږي او بس.

نن ورځ چې رومیانو شکست وخوړ دا هم د الله ﷻ اراده وه او سبا چې غلبه ترلاسه کوي هغه به هم د الله ﷻ په اراده صورت ونیسي.

۳_ ای پیغمبره! مؤمنانو ته بشارت او زیری ورکړه، کله چې څو کاله وروسته رومیان غلبه مونده کړي په عین ورځ کښې به مؤمنان د الله ﷻ په نصرت سره فائز شي. یا په بل عبارت: په دغې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ورځ کېنې به مؤمنانو ته دوه خوشالي لاس ته ورشي، چې د يو پلوه به د اهل الکتابو (روميانو) په غلبه باندې خوشاله وي او د بله پلوه به په خپل الهي نصرت باندې خوشالېږي چې په مشرکانو باندې به برلاسي وګرځي. او دا څکه چې:

الف: نصرت يوازې د الله ﷻ په واک او اختيار کېنې دی او بس، نو د همغه چا سره نصرت کوي کوم ته يې چې اراده وشي، چې هيڅوک يې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي واقع کېدلی.

ب: فقط الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی او همدی ﷻ په خپلو مخلوقاتو باندې ډېر مهربان دی.

۴_ بايد مؤمنان په ذکر شوي بشارت باندې مطمئن او خوشاله شي څکه چې دا بشارت د بل چا نه بلکې د الله ﷻ بشارت او وعده ده او الله ﷻ هيڅکله په وعده کېنې بې وفايي او خلاف نه کوي، مګر د خلکو اکثريت نه پوهېږي او په الله ﷻ باندې ګومان کوي چې په خپله وعده به وفا ونه کړي.

۵_ د خلکو اکثريت څکه ذکر شوی ګومان کوي چې:

الف: خلک د دې حقيرې او نژدې دنيا ظاهر ته ګوري او په همدغه باندې د هر شي په هکله فيصله کوي، د دوی خيال دی چې ماتې خوړلې روميان به د قوت خاوندان جوړ نه شي او غلبه موندونکي فارسيان به د کمزورۍ سره مخامخ نه شي.

ب: د خلکو د اکثريت تول او تله په ظاهر باندې ولاړه ده، چې په غيبي اُمورو علم نه لري او کوم کتاب (قرآن کريم) چې ورته په غيبي علومو باندې اطلاع ورکوي په هغه باندې دوی معتقد نه دي، د همدې کبله د ټولو اُخروي کارونو څخه غافل او ناخبره دي.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: په ﴿ فِىٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ ﴾ سره کومې ځمکې ته اشاره ده، يا په بل عبارت: روميان په کومه ځمکه کېنې مغلوب وګرځېدل؟

مونږ وايو: که څه هم علماوو کرامو د ذکرې شوې ځمکې په تشخيص کېنې متعدد اقوال کړي دي[1] خو مونږ ته بهتره برېښي چې د ﴿ ٱلۡأَرۡضِ ﴾ څخه به د عربو ځمکه مطلب وي او کومه ځمکه چې د دوی ځمکې ته نژدې واقع ده نو هغه د شام ځمکه ده[2]، يعنې روميان د شام په ځمکه کېنې مغلوب وګرځېدل چې عربي ځمکې ته نژدې واقع ده.

شايد چې د ﴿ فِىٓ أَدۡنَى ٱلۡأَرۡضِ ﴾ په نزول کېنې به دېته اشاره وي چې د روميانو مغلوبيت په داسې سيمه کېنې صورت نيولی دی چې د دوی ځمکې ته نژدې ده او دوی يې په څرنګوالي ښه پوره خبر او واقف دي، چې د بېرته د غالب کېدلو هيڅ شيمه پکېنې پاتې نه ده، خو د دې سره-سره په څو کالو کېنې به دوی بېرته په پښو ودرېږي او په خپلو حريفانو (فارسيانو مشرکانو) باندې به غالب وګرځي، او د کفارو اتکل به د خاورو سره برابر شي.

---

(۱) زاد المسير ج۶ ص۱۴۲
(۲) تفسير الکشاف ج۳ ص۴۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## بضع څه معنی؟

۲ـ په ﴿ فِي بِضْعِ سِنِينَ ﴾ کښې د "بضع" کلمه د الله ﷻ په توفیق د (الیوسف ۴۲) آیت لاندې شرحه شوې ده خو په دې مقام کښې ورباندې لاندې وضاحت ور اضافه کوو

په عربي ژبه کښې قاعده ده چې د یوه څخه نیولې تر دریوو عدد پورې د "نیف" یا "نیفه" کلمه استعمالوي او د څلورو څخه نیولې تر نهه عدد پورې د "بضع" کلمه استعمالیږي[1]

په ذکر شوي استعمال باندې لاندې حدیث شریف هم دلالت کوي چې

کله چې ذکر شوې آیتونه نازل شوه او کفارو دروغ وګڼل نو دوی د ابو بکر ﷺ سره دا شرط کیښود چې که په راتلونکو پنځو کالو کښې رومیان په فارسیانو باندې غالب شوه نو هغوی به ابوبکر ته دومره‌دومره اوښان ورکوي او که غالب نه شوه نو بالعکس هغوی به د ابو بکر ﷺ نه دومره‌دومره اوښان اخلي. نو نبي کریم ﷺ ابو بکر ﷺ مخاطب کړ چې: «أَلَا احْتَطْتَ يَا أَبَا بَكْرٍ فَإِنَّ الْبِضْعَ مَا بَيْنَ ثَلَاثٍ إِلَى تِسْعٍ»[2] یعني: ای ابا بکره د احتیاط څخه دې ولې کار وانخیست چې پنځه کاله دې ورسره شرط کړه او دا ځکه چې د "بضع" کلمه خو په هغه عدد باندې اطلاق کیږي کوم چې د دریوو څخه نیولې تر نهو پورې په منځکښې واقع وي؟ احتیاط دا وه چې تر نهو کالو پورې دې ورسره نیټه اوږده کړې وی.

په ځینو روایاتو کښې شته چې نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «فَزَايِدْهُمْ فِي الْخَطَرِ وَمَادَّهُمْ فِي الْأَجَلِ»[3] یعني ای ابو بکره شرط ورسره زیات کړه او موده ورسره اوږده کړه نو ابو بکر ﷺ هم سل اوښانو په عوض سل اوښان شرط کړه او موده یې ورسره تر نهو کالو پورې اوږده کړه

که څوک غواړي چې په همدې موضوع کښې اوږد بحث د نظره تیر کړي نو ځینو مهمو کتابو ته دې مراجعه وکړي[4].

### سوالونه او جوابونه

۳ـ په دې مقام کښې د سړي په زړه کښې لاندې پوښتنې ګرځي راګرځي:

الف: په دې مقام کښې د ﴿ بِضْعِ ﴾ څخه څو کاله مراد دي؟ یا په بل عبارت: د آیت شریفه نازلیدو څخه څو کاله وروسته رومیان په فارسیانو (مجوسیانو) باندې غالب وګرځیدل او خلک پوه شو چې قرآن کریم رښتیا ویلي وه؟

مونږ وایو چې: په آیت کښې د ﴿ بِضْعِ ﴾ کلمه د اوو (۷) کالو څخه عبارت ده[5]. یعنې شو...

---

(۱) لسان العرب ج۹ ص۳۴۹
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۴
(۳) تفسير البغوي ج۳ ص۴۷۶
(۴) تفسير المظهري ج۷ ص۲۱۹؛ المحرر الوجيز ج۱۲ ص۲۴۳
(۵) الدر المنثور ج۶ ص۴۸۰؛ جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خبره چې دغه اوه کاله د کوم کال څخه پیل او په کوم کال باندې ختم شوه؟ نو په دې کښې علماء کرام په دوه وو برخو ویشلي شوي دي چې:

اول: ځینې وایي چې: دغه اوه کاله د حدیبې د صلحې په کال پوره شوه چې د هجرت په شپږم کال باندې یې صورت نیولی وه[۱].

په دې قول سره به ذکر شوی ایت شریف د هجرت څخه یو کال وړاندې نازل شوی وي (په همدغه کال به رومیان مغلوب ګرځېدلي وي).

دوهم: ځینې نور وایي چې اوه کاله د بدر د غزا په موقع بشپړ شوه چې د هجرت په دوهم کال پېښه شوې ده[۲].

د دې قول په بنیاد به ذکر شوي ایتونه د هجرت څخه پنځه کاله وړاندې نازل شوي وي (په همدغه کال کښې به رومیانو شکست خوړلی وه).

مونږ ته همدغه دوهم قول په زړه پورې برېښي، لکه چې د ابو سعید الخدري ﷺ څخه روایت دی چې: «فَنَصَرَنَا اللهُ عَلَى مُشْرِكِي الْعَرَبِ وَنَصَرَ اللهُ أَهْلَ الْكِتَابَ عَلَى الْمَجُوْسِ»[۳] یعني د بدر په غزا کښې مونږ د عربي مشرکانو سره په جنګ شوو او رومیان د فارسیانو سره په جګړه بوخت شوه، نو الله ﷻ مونږ ته په عربي مشرکانو باندې نصرت راکړ او رومیانو (اهل الکتابو) ته یې په فارسي مشرکانو (اور پرستانو) باندې نصرت ورکړ. نو په دغه ورځ کښې مونږ د یو پلوه په خپل نصرت باندې خوشاله شو او د بله پلوه د اهل الکتابو په غلبې باندې خوښ شو، لکه چې الله ﷻ زمونږ څخه حکایت کړی دی چې: ﴿ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ ۝ بِنَصْرِ اللَّهِ ﴾ او په دغې ورځ کښې به مؤمنان د الله ﷻ په نصرت باندې خوشالي کوي.

ب: بله پوښتنه دا ده چې: د څه حکمت په بنیاد الله ﷻ د ذکرو شوو اوو کالو څخه د ﴿ بِضْعِ ﴾ په کلمې سره تعبیر نازل کړ او مستقیمًا یې ورته اشاره ونه کړه چې اوه کاله وروسته به نومورې غلبه سرچپه شي؟

مونږ وایو ـ او الله ﷻ د هر بنه پوهېږي ـ شاید چې د ﴿ بِضْعِ ﴾ کلمې په نزول کښې به دا مطلب وي ترڅو د قرآن کریم یوه بل اعجاز ته اشاره وکړی شي چې:

رومیان خو به د راتلونکو درېوو کالو څخه وروسته د څو کالو په اوږدو کښې په خپلو حریفانو باندې غلبه مونده کړي نو که څوک د قرآن کریم د غیب ویلو سره سیالي کولی شي هغه دې مهرباني وکړي او په دغو څو کالو کښې د غلبې کال مشخص کړي چې په دغه کال به یې غلبه په برخه شي.

نو کله چې هیڅوک نه د غلبې په صورت نیولو علم لري او نه یې وخت تشخیصولی شي معلومه

---

(۱) تفسیر الخازن ج۵ ص۳۲

(۲) اسباب النزول للواحدي ص۲۳۲

(۳) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۱۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شوه چې دا الهي کتاب دی او بشري کتاب نه دی. نو څنګه یې چې په ذکره شوې غیب ویلو کښې دروغ نشته همدارنګه یې د قیامت د ورځې د قیام او د قبرونو څخه د مړو په بیا راژوندي کېدلو او د نورو اخروي امورو په اخباراتو کښې هم دروغ نشته.

## یادونه

۴ـ علماوو کرامو لیکلي دي چې: کله رومیان په خپلو حریفانو باندې غالب شوه او د قرآن کریم خبره رښتیا واقع شوه نو: «وَأَسْلَمَ عِنْدَ ذَلِكَ نَاسٌ كَثِيرٌ»[1] یعني او په دغه وخت کښې ډېر خلک مسلمانان شوه او په ایمان باندې مشرف وګرځېده.

﴿ أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِم ۗ مَّا خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَجَلٍ مُّسَمًّى ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنَ النَّاسِ بِلِقَاءِ رَبِّهِمْ لَكَافِرُونَ ﴿٨﴾ أَوَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوا أَشَدَّ مِنْهُمْ قُوَّةً وَأَثَارُوا الْأَرْضَ وَعَمَرُوهَا أَكْثَرَ مِمَّا عَمَرُوهَا وَجَاءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ ۖ فَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾ ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِينَ أَسَاءُوا السُّوأَىٰ أَن كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَكَانُوا بِهَا يَسْتَهْزِئُونَ ﴿١٠﴾ ﴾

[۸] ایا (کفار په غفلت کښې پراته دي) او په خپلو زړونو کښې تفکر نه کوي؟ چې الله ﷻ اسمانونه او ځمکې او هغه شیان چې د دغو (دواړو) ترمنځ (موجود) دي، نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره (د حکمتونو په مطابق) او په ټاکلو شوو نېټو سره (چې هیڅ شی دائمي نه دی).

او یقینًا د خلکو څخه ډېر د خپل رب ﷻ په ملاقات (د قیامت په قیام) سره انکار کوونکي دي (او دلایل یې د پښو لاندې کړي دي).

[۹] ایا (کفار غفلت کوي) او په ځمکه کښې (عبرتي) سیر نه کوي؟ نو چې وګوري چې د هغو کسانو (کفارو) عاقبت څنګه شو کوم چې د دوی څخه وړاندې تېر شوي دي؟ (لکه عادیان، ثمودیان او نور).

هغوی د دوی څخه د قوت د حیثه کلک وه او ځمکه یې (د دوی څخه زیاته) اړولې وه (او حاصلات یې ترې اخستې وه)، او (هم) یې ځمکه د هغه څخه زیاته اباده کړې وه کومه چې دوی اباده کړې ده. او (په دغو مادي نعمتونو باندې علاوه) هغوی ته خپل پیغمبران په معجزاتو (او دلایلو) سره ورغلي وه.

---

[1] جامع الترمذي ج۲ ص۱۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ نه وه چې په هغوی باندې تېری (او ظلم) وکړي او لکن (پخپله) دوی وه چې په خپلو ځانونو باندې یې تېری (او ظلم) وکړ (هغه دا چې):

[۱۰] بیا د هغو کسانو عاقبت (په دنیا او آخرت کښې) ناکاره جوړ شو کومو چې ناکاره (او بد کارونه) کول، چې د الله ﷻ ایتونو ته یې د دروغو نسبت وکړ او دوی وه چې په ایات الله باندې به یې مسخرې کولې (او ملنډې به یې ورباندې وهلې).

## ارتباط د مطلب خلاصه

د وړاندېني وروستني ایت مضمون دا وه چې کفار یوازې د نژدې دنیا ظاهر ته ګوري او د راتلونکې دنیا ځخه غافل دی کومه چې د دې دنیا په تعقیب راروانه ده، په دې ایتونو کښې هغو وجوهو ته اشاره شوې ده په کومو باندې چې هغوی د غفلت د خوبه راببدارېدلی شي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! ایا کفار خپل غفلت ته ادامه ورکوي او د لاندې وجوهو ځخه استفاده نه کوي ترڅو د غفلت د خوبه راببدار شي:

الف: الله ﷻ اسمانونه او ځمکې او هغه شیان کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موجودیت لري، نه دي پیدا کړي مګر په حقه سره چې د حکمتونو ځخه ډک دي او د حساباتو د تصفیه کولو دپاره یې د قیامت قیام ضرور دی.

ب: په دې باندې علاوه دغه ټول مخلوقات یې دلته د دوام دپاره نه دي پیدا کړي بلکې د هر شي د بقاء دپاره نېټه معینه ده، کله چې معینه نېټه پوره شي نو بیا د سترګو د رپ په اندازه هم بقاء نه شي درلودلی. یا په بل عبارت: لکه چې په دنیا کښې هر شی تاکلی عمر لري همدارنګه ټوله دنیا هم د ټاکلي عمر درلودونکې ده، او په پای کښې به ضرور او هرومرو د زوال او فناء سره مخامخ کېږي.

لنډه دا چې د غفلت د خوبه د راببدارېدلو دپاره ډېر وجوه شته خو د خلکو اکثریت د خپل رب ﷻ سره په ملاقات او د قیامت په قیام عقیده نه لري، او د ذکرو شوو وجوهو ځخه قصداً استفاده نه کوي او خپل کفر ته ادامه ورکوي.

۲_ ایا کفار خپل غفلت ته ادامه ورکوي او په ځمکه کښې فکري سیر نه کوي ترڅو د زړه له کومې پوه شي چې د هغو کفارو عاقبت ځنګه شو کوم چې د دوی ځخه پخوا تېر شوي وه؟ ایا هغوی ژوندي پاتې شوه؟ حال دا چې:

الف: هغوی د دوی په پرتله په قوت کښې سخت او کلک وه.

ب: هغوی د ځمکې ځخه د دوی په نسبت زیات حاصلات اخستي وه او زیاتې ګټې یې ترې پورته کړې وې.

ج: هغوی په ځمکه کښې د دوی ځخه زیاته ابادي کړې وه او هم د دوی ځخه د هغوی عمرونه اوږده وه.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: هغوی ته خپل پیغمبران د معجزو سره ورغلي وه، خو هغوی قبول نه کړه او په خپل کفر او انکار باندې کلک پاتې شوه. یا په بل عبارت: الله ﷻ په هغوی باندې ظلم او تېری نه وه کړی بلکې رحم او مهرباني یې ورباندې کړې وه چې د هدایت اسباب یې ورته ټول ورکړي وه، خو هغوی ترې استفاده ونه کړه او په خپلو ځانونو یې ظلم وکړ، چې د پیغمبرانو تکذیب ته یې ملاوې وتړلې او ملنډې یې ورباندې ووهلې.

۳_ په پای کښې د هغو کسانو عاقبت بد او ناکاره وګرځېد کومو چې بدۍ کولې او د ګمراهۍ لار یې غوره کړې وه، هغه دا چې:

الف: د الله ﷻ ایتونه یې تکذیب کړه، او د پیغمبرانو د قبول څخه انکاري شوه.

ب: په الهي ایتونو او پیغمبرانو باندې یې ملنډې وهلې او خندنې یې ورپورې کولې.

۴_ نو ایا د دې زمانې کفار څه ګومان کوي چې د دوی عاقبت به د هغوی په څېر ونه ګرځي حال دا چې دوی هم د هغوی غونډې د الهي ایتونو (دلایلو) څخه انکار کوي او په الهي پیغمبر باندې ملنډې وهي او ورپورې خاندي؟

## توضیحات

۱_ که څوک وایي چې: د ﴿أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا فِي أَنفُسِهِم مَّا خَلَقَ اللَّهُ﴾ الآیة څخه مطلوبه معنی د ﴿فِي أَنفُسِهِم﴾ د کلماتو څخه په غیر هم ترلاسه کېدلی شوه، او دا ځکه چې تفکر خو په نفسونو (زړونو) کښې صورت نیسي او بس، نو پوښتنه دا ده چې د دغو کلماتو په نزول کښې څه حکمت دی؟

مونږ وایو چې:

الف: دغه کلمات د تفکر په فراغت او قوت باندې دلالت کوي، یعنې په ښه قوي فراغت او قوت سره تفکر وکړئ چې: ایا مخلوقات عبث پیدا کړی شوي دي؟

د ذکرو شوو کلماتو نظیر د عربو دا قول دی چې: "اضْمِرْهُ فِيْ نَفْسِكَ"[۱] یعنې دغه خبره په زړه کښې ښه کلکه وساته.

ب: د ﴿فِي أَنفُسِهِم﴾ کلمات په ﴿أَوَلَمْ يَتَفَكَّرُوا﴾ پورې د ظرف په لحاظ نه بلکې د مفعول په لحاظ تعلق نیسي[۲]، او د ﴿مَّا خَلَقَ اللَّهُ﴾ الآیة، جمله مستانفة ده. یعنې ای کفارو! د هر شي څخه وړاندې تاسو په خپلو ځانونو او نفسونو کښې په دقت سره فکر وکړئ چې: ایا د ژوند مختلف مراحل (لکه ظالمیت، مظلومیت او داسې نور) به یې تصفیه ونه لري او ټول خلک به په ژوند او مرګ کښې یو برابر وي؟

۲_ په ﴿فَيَنظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾ کښې چې کوم انجام ته اشاره شوې وه، همغه باندې په ﴿ثُمَّ كَانَ عَاقِبَةَ الَّذِينَ أَسَاءُوا السُّوأَىٰ﴾ کښې صراحت شوی دی.

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۴٦۸
(۲) روح المعاني ج۲۱ ص۲۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يعنې د هغو خلکو عاقبت په دنيا او آخرت کښې بدرنګی شو کومو چې بدي غوره کړې وه او د خپلو پيغمبرانو عليهم السلام نصائحو او ارشاداتو ته يې اعتناء نه کوله، په دنيا کښې په الهي غضب سره هلاک کړی شوه او د آخرت بدي خو يې ځرګنده ده چې دوزخ او د دوزخ عذابونه او کړاوونه دي.

﴿ ٱللَّهُ يَبۡدَؤُاْ ٱلۡخَلۡقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ ثُمَّ إِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿١١﴾ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُبۡلِسُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴿١٢﴾ وَلَمۡ يَكُن لَّهُم مِّن شُرَكَآئِهِمۡ شُفَعَٰٓؤُاْ وَكَانُواْ بِشُرَكَآئِهِمۡ كَٰفِرِينَ ﴿١٣﴾ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يَوۡمَئِذٖ يَتَفَرَّقُونَ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَهُمۡ فِي رَوۡضَةٖ يُحۡبَرُونَ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَا وَلِقَآيِٕ ٱلۡأٓخِرَةِ فَأُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلۡعَذَابِ مُحۡضَرُونَ ﴿١٦﴾ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ وَحِينَ تُصۡبِحُونَ ﴿١٧﴾ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَعَشِيّٗا وَحِينَ تُظۡهِرُونَ ﴿١٨﴾ يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَيُحۡيِ ٱلۡأَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَاۚ وَكَذَٰلِكَ تُخۡرَجُونَ ﴿١٩﴾ ﴾

[۱۱] الله ﷻ اول ځل مخلوقات پيدا کوي بيا يې (د مړه کېدلو څخه وروسته دوهم ځل) پيدا کوي (او ژوندي کوي يې) بيا به تاسو خاص الله ﷻ ته (د حساباتو د تصفيه کولو دپاره) راجع کړی شئ.

[۱۲] او (هغه وخت) چې د قيامت ورځ قائمه شي (او د حساباتو تصفيه پيل شي نو) په دغه وخت کښې به مجرمان (کافران) نااميده (چپ او لا جوابه) شي.

[۱۳] او کفارو لره به د خپلو شريکانو (باطلو معبودانو) څخه هيڅ شفاعت کوونکی نه وي او (هم) دوی به په خپلو شريکانو (د باطلو معبودانو په عبادت سره) کافران (انکاريان) شي (چې مونږ يې هيڅ عبادت نه دی کړی).

[۱۴] او (هغه وخت) چې د قيامت ورځ قائمه شي په دغه وخت کښې به خلک (په عمده توګه په دوه وو ډلو) جدا جدا شي.

[۱۵] نو هر هغو کسانو چې ايمان راوړی وي او نېک عملونه يې کړي وي نو دوی به په (عظيم الشان) باغ (جنت) کښې (په دوامداره ډول) خوشاله ګرځولی کېږي (او هم به ښايسته کول کېږي).

[۱۶] او هر هغو کسانو چې کفر غوره کړی وي او زمونږ ايتونو ته او (هم) د وروستنۍ ورځې سره ملاقي کېدلو ته يې د دروغو نسبت کړی وي، نو دغه کسان به عذاب کښې (د همېشه دپاره) حاضر کړی شوي وي.

[۱۷] نو (تسبيح ووايئ) د الله ﷻ تسبيح (البته) کله چې تاسو په ماښام کښې داخلېږئ او کله چې په سبا کښې داخلېږئ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۸] او خاص الله ﷻ ته په اسمانونو او ځمکو کښې حمد (او ثناء) ده، (نو تاسو د تسبیحاتو سره تحمیدات هم ملګري کړئ).

او (همدارنګه تاسو) د ورځې په آخر (مازیګر) کښې (تسبیحات ووایاست) او هم کله چې تاسو د ماسپښین په وخت کښې داخلېږئ.

[۱۹] الله ﷻ (د کامل قدرت درلودونکی دی چې) ژوندی د مړي څخه وباسي او مړی (بې روحه شی) د ژوندي څخه راوباسي، او (هم) ځمکه د هغې د مړه کېدلو (وچېدلو) څخه وروسته (بیا) ژوندۍ کوي (زرغونوي)، او همدارنګه به تاسو (د الله ﷻ د پلوه د قبرونو څخه) وویستل شئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني متصل ایت مضمون په دوه ټکو مشتمل وه، یو د کفار بد عاقبت او بل یې د الله ﷻ د ایتونو تکذیب او استهزاء.

په دې ایتونو کښې په لومړي ټکي باندې ښه پوره رڼا اچولې شوې ده او د دوهم ټکي د رد دلایل نازل شوي دي، چې حاصل یې داسې راځېژي:

ای پیغمبره! د وړاندېنیو مضامینو په ارتباط په خپل امت باندې دا مطالب قرائت کړه:

۱ ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: ټول مخلوقات یې د ابتداء څخه پیدا کړي دي او په پیدا کولو کښې ورسره د هیچا او هیڅ شي اشتراک نشته.

ب: د فنا کولو څخه وروسته به الله ﷻ بیا د پیدا کولو اعاده وکړي او بیا به یې موجود کړي، خو دومره توپیر به ولري چې لومړي ځل پیدا کولو په تدریج سره صورت نیولی وه او دوهم ځل به په یو ځل (برته د تدریجه) صورت ونیسي.

ج: بیا به نو تاسو ـ ای انسانانو او پیریانو ـ د الله ﷻ حضور ته د حساباتو د تصفیه کولو دپاره راجع کړی شئ.

۲ ـ کله چې د قیامت قیام صورت ونیسي او د حساباتو تصفیه پیل شي نو:

الف: په دغه وخت کښې به کفار د ډېرې حیرانتیا د کبله چپ پاتې شي او د هره طرفه به یې د خیر او ښېګنې تمه وشکېږي، او دا ځکه چې:

ب: په دنیا کښې خو کفارو په دې منظور د خپلو باطلو معبودانو عبادت کاوه چې په سخته کښې به ورته په درد وخوري، مګر په دغې ورځ کښې به ترې ناأمیده شي او دا ځکه چې د معبودانو څخه به د خپلو خانونو دپاره هیڅ شفاعت کوونکی موندنه نه کړي.

ج: کله یې چې د شفاعت تمې پرې شي نو سمدستي به یې د اشتراک څخه انکار وکړي، حتی د عبادت څخه به یې د سوګند په یادولو سره انکاري شي.

۳ ـ ای پیغمبره! کله چې د قیامت ورځ قائمه شي او حسابات تصفیه شي نو خلک به په دوه و!

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ګروپونو باندې ووېشلی شي، چې يوه ډله به د مؤمنانو او بله ډله به د کفارو څخه تشکيله شي، چې تفصيل يې دا دی:

الف: نو هر څا چې په دنيا کښې ايمان راوړی وي او نېک عملونه يې کړي وي نو هغوی به په جنتونو او ميوجاتو کښې خوشاله کړی شي او په دائمي توګه به پکښې بنايسته ساتلی کېږي.

ب: بالمقابل هغه کسان کومو چې زمونږ ايتونو ته د دروغو نسبت کړی وي او هم يې په دنيا کښې د قيامت په ملاقات (د قيامت په ورځ او د مرګ څخه وروسته په بيا ژوندون) عقيده او باور نه درلود، نو هغوی به د دوزخ په عذابونو کښې د همېشه دپاره حاضر کړی شوي وي چې هيڅکله به ترې غائب نه کړی شي، او نه به ورباندې عذابونه څه تخفيف کړی شي.

۴ـ ای مؤمنانو! کله چې دغسې سخته ورځ راتلونکې ده نو:

الف: تاسو الله ﷻ ته پاکي اثباتوئ البته کله چې په بېګا کښې داخلېږئ او هم د ماښام او ماسختن لمونځونه کوئ.

ب: د الله ﷻ تسبيحات وايئ کله چې تاسو په سبا کښې داخلېږئ، او هم د سبا لمونځ اداء کړئ.

ج: خاص الله ﷻ ته حمد او ثناء ده، په اسمانونو کښې او هم په ځمکو کښې، نو تاسو هم په هر وخت کښې د تسبيحاتو سره تحميدات په دوامداره توګه ملګري کړئ، او د اهل السموات او اهل الارض سره خپلې انډيوالۍ ته ادامه ورکړئ.

د: د ورځې په آخر کښې هم د الله ﷻ تسبيحات ووايئ او هم د مازيګر لمانځه ته ادامه ورکړئ.

هـ: بالآخره تاسو په هغه وخت کښې هم د الله ﷻ تسبيحات ووايئ کله چې تاسو د لمر په زوال کښې داخلېږئ، او په همدغه وخت کښې د ماسپښين لمونځ هم دائمًا اداء کړئ.

ترڅو الله ﷻ تاسو ته جنتونه درکړي او د دوزخ د عذابونو څخه مو بچ وساتي.

۵ـ د الله ﷻ وعده حقه ده او د قيامت ورځ به هرومرو قيام ومومي او دا څکه چې:

الف: الله ﷻ هغه مقتدر اقدس ذات دی چې ژوندی شی د مړي څخه راوباسي، لکه چرګوړی د هګۍ څخه او يا په معنوي حيات سره ژوندی شی (مؤمن) د مړي (کافر پلار) څخه او داسې نور.

ب: همدارنګه ـ بالعکس ـ الله ﷻ مړی د ژوندي څخه راوباسي. يا په بل عبارت: د چرګې څخه هګۍ راوباسي او د مؤمن څخه کافر زېږوي.

ج: الله ﷻ وچه کلکه (مړه) ځمکه د هغې د وچوالي څخه وروسته راژوندۍ کوي او نباتات ترې رازرغونوي.

نو ای انسانانو! همدارنګه به تاسو هم د قيامت د قيام په وخت کښې د الله ﷻ د پلوه د قبرونو څخه رابهر کړی شئ او د حساب کتاب دپاره به د ده ﷻ په حضور کښې ودرولی شئ.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ يُبْلِسُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴾ کښې د ﴿ يُبْلِسُ ﴾ کلمه د "إبْلاس" څخه اشتقاقه شوې ده، مونږ د

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۴۴] ايت لاندې د "اِبْلاس" متعددې معناوې كړې دي، لكه نااميده كېدل او د اعتذار څخه چپ پاتې كېدل او داسې نور، نو بيا ليكلو ته يې اړتيا نه ګورو، دغه ټولې معناوې په دې مقام كښې هره يوه په زړه پورې برېښي.

## د دوه وو لغاتو معناوې

۲ــ په ﴿ فَهُمۡ فِي رَوۡضَةٖ يُحۡبَرُونَ ﴾ كښې د ﴿ رَوۡضَةٖ ﴾ كلمه د هغه ميوه لرونكي باغ دپاره وضع شوې ده كوم چې ډېر تروتازه او سپېڅلى وي[1] چې دلته ترې جنت مراد دى.

او د ﴿ يُحۡبَرُونَ ﴾ كلمه پكښې د "حِبْر" ـلكه "عِلْم"ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې د نعمتونو د اثارو او هم د خوشاليو او ښايست (ډول او سنګار) معنى وركوي[2].

نو حاصل يې داسې راخېژي چې: باعمله مؤمنانو ته به د قيامت په ورځ په عظيم الشان باغ كښې په دوامداره توګه نعمتونه وركول كېږي او د تل دپاره به پكښې خوشاله او ښايسته أوسولى كېږي.

## يادونه

۳ــ مونږ د الله ﷻ په توفيق د [آل عمران:۲۴] ايت لاندې دا موضوع ښه تحقيقه كړې ده چې عاصيان مؤمنان هم جنتيان دي او د همدوى په ډله كښې شامل دي، چې بيا تحقيقولو ته يې اړتيا نه ګورو، هيله ده چې هملته مراجعه وكړى شي.

## د تسبيح او تحميد فضائل

۴ــ په ﴿ فَسُبۡحَٰنَ ٱللَّهِ حِينَ تُمۡسُونَ ﴾ الآية كښې مونږ ته ارشاد شوى دى چې د خپل رب ﷻ په تسبيحاتو او تحميداتو باندې خپلې ژبې لمدې وساتو، ترڅو راته الله ﷻ د دوزخ څخه نجات راكړي او جنت ته مو داخل كړي.

د تسبيحاتو او تحميداتو د فضائلو په باب زښت ډېر احاديث روايت شوي دي، لاندې دوه مثالونه يې ولولئ:

الف: نبي كريم ﷺ فرمايي چې: «مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ»[3] يعنې هر څوک چې د الله ﷻ تسبيحات د ده ﷻ د تحميداتو سره په ورځ كښې سل كرته ووايي نو ګناهونه به يې ترې توى شي اګر كه د درياب د ځګونو په اندازه زيات وي.

ب: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كَلِمَتَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ»[4] يعنې دوه كلمې دي چې ډېر مهربان الله ﷻ نه

---

(۱) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۳۹۳
(۲) القاموس المحيط ج۱ ص۵۷۳؛ مفردات الراغب ص۱۰۴
(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۹۴۸
(۴) صحيح البخاري ج۲ ص۱۱۲۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(ال ما احی (٢١)) ...مجبري دي، په ژبه باندې سپکې دي خو د قيامت د ورځې په تله کښې درنې دي، چې يوه کلمه د «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ» څخه او بله د «سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ» څخه عبارت ده.

## د لمانځه پنځه وختونه

٥ـ که څه هم ځينو علماوو کرامو د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په روايت د ذکر شوي ايت شريف څخه په لاندې ډول سره د پنځو لمونځونو وختونه استنباط کړي دي[1]:

الف: د ﴿ حِينَ تُمْسُونَ ﴾ څخه د ماښام او ماسخوتن وختونه مطلب دي.

ب: د ﴿ وَحِينَ تُصْبِحُونَ ﴾ څخه د سهار وخت مراد دی.

ج: د ﴿ وَعَشِيًّا ﴾ څخه د مازيګر وخت اخستل کېږي.

د: د ﴿ وَحِينَ تُظْهِرُونَ ﴾ څخه د ماسپښين وخت اراده کېږي.

مګر مونږ ته داسې برېښي چې د رئيس المفسرين ﷺ به حصر مطلب نه وي بلکې محض مثالونه به يې ښودلي وي، چې پنځه لمونځونه د تسبيحاتو او تحميداتو ډېر ګټور صورتونه دي. نو سړي ته په کار دي چې په ذکرو شوو وختونو کښې ـچې حالات پکښې بدلېږي رابدلېږي او د الهي کامل قدرت نمايندګي کويـ په لمونځونو باندې علاوه، خپل رب ﷻ ياد کړي او خپله ژبه درباندې لمده وساتي.

## يادونې

٦ـ په دې مقام کښې بايد لاندې ټکي په ذهن کښې وساتلی شي:

الف: په ﴿ حِينَ تُمْسُونَ ﴾ کښې د ﴿ تُمْسُونَ ﴾ کلمه اصلاً د "مَسَاء" څخه اشتقاقه شوې ده، د "مَسَاء" اطلاق کله-کله په هغه وخت باندې هم کېږي کوم چې د مازيګر د لمانځه څخه آن د شپې ترنيمايي پورې امتداد پيدا کوي[2].

په ذکر شوي روايت کښې د همدغه اطلاق په بنياد د- ذکرې شوې کلمې په تفسير کښې د ماسخوتن د لمانځه وخت هم شامل ګڼلی شوی دی.

ب: که څه هم د "عَشِيًّا" کلمه د ورځې آخر ته وضعه شوې ده چې د مازيګر تر لمانځه پورې اختصاص پيدا کوي[3]، مګر کله-کله يې په هغه وخت باندې هم اطلاق کېږي کوم چې د زوال څخه آن ترسبا پورې غزېدلی دی[4].

نو دغه اطلاق ته په کتلو سره جائزه ده، چې د ماسخوتن د لمانځه وخت د "عَشِيًّا" د کلمې په تفسير کښې شامل وګڼل شي.

---

(١) تفسير ابي السعود ج٧ ص٥٥

(٢) لسان العرب ج١٥ ص٢٨١

(٣) لسان العرب ج١٤ ص٦٠

(٤) مفردات الراغب ص٣٤٧

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



ج: موږ دالله ﷻ په توفيق د ﴿يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ﴾ دواړو جملو د
[ال عمران:۲۷] ايت لاندې تفسير پوره شرحه کړې ده هيله ده چې هلته يې خپل مراجعه وکړای شي

﴿وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ خَلَقَكُم مِّن تُرَابٍ ثُمَّ إِذَآ أَنتُم بَشَرٌ تَنتَشِرُونَ ﴿٢٠﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَنْ
خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَٰجًا لِّتَسْكُنُوٓا۟ إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً ۚ إِنَّ فِى
ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ
أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْعَٰلِمِينَ ﴿٢٢﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ
وَٱلنَّهَارِ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَسْمَعُونَ ﴿٢٣﴾ وَمِنْ
ءَايَٰتِهِۦ يُرِيكُمُ ٱلْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا وَيُنَزِّلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَيُحْىِۦ بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ
مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٤﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن تَقُومَ ٱلسَّمَآءُ
وَٱلْأَرْضُ بِأَمْرِهِۦ ۚ ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِّنَ ٱلْأَرْضِ إِذَآ أَنتُمْ تَخْرُجُونَ ﴿٢٥﴾ وَلَهُۥ مَن فِى
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ كُلٌّ لَّهُۥ قَٰنِتُونَ ﴿٢٦﴾ وَهُوَ ٱلَّذِى يَبْدَؤُا۟ ٱلْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُۥ وَهُوَ
أَهْوَنُ عَلَيْهِ ۚ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٧﴾﴾

[۲۰] او د الله ﷻ (د کامل قدرت) د دلايلو څخه دا ده چې تاسو يې دخاورو څخه پيدا کړي ياست بيا (اوس) تاسو (په تدريج سره) بنيادمان ياست چې په ځمکه کښې خورېږئ.

[۲۱] او د الله ﷻ (د کامل قدرت) د دلايلو څخه دا هم ده چې ستاسو دپاره يې همدا ستاسو د نفسونو (جنس) څخه جوړې (ماندينې) پيدا کړې دي، ترڅو تاسو دوی ته ميلان وکړئ (او ارام او اطمنان حاصل کړئ)، او الله ﷻ ستاسو (مېړونو او ماندينو) ترمنځ محبت او مهرباني ګرځولې (اچولې) ده.

يقيناً په دغه (کار) کښې د داسې قوم دپاره هرومرو (د قدرت) لويې نښې دي کوم چې (د الله ﷻ په مصنوعاتو کښې) تفکر (سوچ) کوي.

[۲۲] او د الله ﷻ د (قدرتي) دلايلو څخه د اسمانونو او ځمکو پيداکول هم دي او ستاسو د ژبو (لغاتو) او د رنګونو (څېرو) اختلاف (هم دی).

يقيناً په دغه (خلق او اختلاف) کښې د پوهانو دپاره ډېر (لوی) دلايل (نښتې) دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۳] او د ده ﷻ د (قدرتي) دلايلو څخه په شپه او ورځ کښې ستاسو خوب دی او (هم) د الله ﷻ د فضل (حلال مال) څخه ستاسو پلټنه (ده).

يقينًا په دغه (کار) کښې د داسې قوم دپاره (د قدرت) لوی دلايل (نغښتي) دي کوم چې غوږ ږدي (او د زړه په غوږو خبره اوري).

[۲۴] او د ده ﷻ (د قدرت) د دلايلو څخه دا هم ده چې تاسو ته (په اسمان کښې) برېښنا دربښايي (دربښکاره کوي) په داسې حال کښې چې تاسو ډارېدونکي ياست (چې تکه راونه لوېږي) او (هم) تمه کوونکي ياست (چې ورښت به درباندې وورېږي).

او (د قدرتي دلايلو څخه دا هم شمېرل کېږي چې) الله ﷻ د اسمان (د طرف) څخه اوبه (باران) رانښکته کوي، نو په همدې (باران) سره ځمکه د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته ژوندۍ کوي.

يقينًا په دغو (برېښنا او هم په باران) کښې د داسې قوم دپاره پوره دلايل (پټ) دي کوم چې د عقل څخه کار اخلي.

[۲۵] او د ده ﷻ د (قدرتي) دلايلو څخه دا هم ده چې اسمان او ځمکه يې په خپل امر (حکم) سره باقي پاتې کړي دي (چې بقاء ته تر ټاکلي وخته پورې ادامه ورکړي).

بيا چې کله (نبته پوره شي او) تاسو (د حشر دپاره) په معجزانه بللو سره د ځمکې څخه وروبولي (چې راپورته شئ) نو تاسو به ناڅاپه (د قبرونو څخه) راووځئ.

[۲۶] او خاص الله ﷻ ته هغه څوک (او هغه شی) دي چې په اسمانونو او ځمکه (کښې موجود) دي، (دغه) ټول يوازې الله ﷻ ته اطاعت کوونکي (غاړې اېښودونکي) دي.

[۲۷] او الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اول ځل پيدا کول کوي، بيا به (د قيامت په ورځ) پيدا کول اعاده کړي، او دا (اعاده کول) په الله ﷻ باندې (نظر ستاسو عاداتو ته) ډېر اسان دي.

او (په واقع کښې ورته پيدا کول او اعاده کول يو برابر دي او دا ځکه چې) خاص همده ﷻ ته په اسمانونو او ځمکو کښې ډېر لوړ شان (او صفت) دی (چې په دواړو کښې مثل او سيال نه لري)، او همدی ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او هم) د حکمت څښتن دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وراندېنيو ايتونو موضوع تعقيب شوې ده او په حشر او نشر باندې د الله ﷻ څو نورو دلايلو ته اشاره شوې ده چې حاصل يې داسې راځي:

اى پيغمبره! په بعث بعد الموت باندې د الله ﷻ د کامل قدرت څو نور دلايل په خپل امت باندې قرائت کړه، هغه دا چې:

۱ـ د الله ﷻ د کامل قدرت د دلايلو څخه يو دليل دا دی چې تاسو يې د يو اصل (آدم ﷺ) په لحاظ د خاورو څخه پيدا کړي ياست البته د هغو خاورو څخه چې وراندې پکښې د حيات او ژوند هيڅ اثرات موجود نه وه، بيا الله ﷻ د همدغه يو نفس (آدم ﷺ) څخه په توالد او تناسل سره تاسو

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



رابهر کړئ او په ځمکه کښې يې خواره واره کړئ، چې ښې ښايسته څېرې لرئ او په ځمکه کښې گرځئ راگرځئ.

ايا همدغه اقدس ذات نه شي کولی چې ستاسو د خاورې شوو بدنونو څخه دوهم ځل تاسو پيدا کړي او ښې ښايسته څېرې درکړي؟

۲_ د ده ﷻ د کامل قدرت د دلايلو څخه دا هم ده چې:

الف: الله ﷻ ستاسو د خپلو نفسونو څخه ستاسو دپاره جوړې (ښځې) پيدا کړې دي، د دې دپاره چې تاسو د هغوی سره سکون مونده کړئ او په ارامۍ او اطمنان باندې په دنيا کښې ژوند وکړئ.

ب: همدارنگه الله ﷻ ستاسو (د مېړونو او ماندينو) ترمنځ دوستي او محبت او هم مهرباني او زړه سوی اچولی دی.

يقينًا په دغه مذکور بيان کښې د داسې قوم دپاره کوم چې د تفکر او سوچ څخه کار اخلي، د الهي قدرت ډېرې لويې نښې نغښتې دي. نو خلکو ته په کار دي چې د عقيدې د تصحيح په غرض ترې گټې او فايدې اوچتې کړي.

۳_ د الله ﷻ د کامل قدرت د دلايلو څخه دا هم ده چې:

الف: الله ﷻ اوه واړه اسمانونه پيدا کړي دي چې بدون د ستنو څخه يې درولي دي، او هم يې اوه واړه ځمکې پيدا کړې دي او د معيشت په رنگارنگ ضروورياتو باندې يې مشتملې گرځولې دي.

ب: د الله ﷻ د کامل قدرت د نښو څخه دا هم ده چې تاسو ته يې بېلا بېلې ژبې درزده کړې دي، چې څوک په يوه ژبه او څوک په بله ژبه خبرې کوئ. او هم ستاسو رنگونه او څېرې يې بدلې رابدلې پيدا کړې دي، چې ستاسو يو کس هم د بل کس په څېره باندې نه دی، بلکې هرڅوک يې په ځانگړې څېره باندې پيدا کړی دی چې نه پخوا چاته ورکړه شوې وه او نه به وروسته چاته ورکړی شي.

يقينًا په ذکر شوي بيان کښې د پوهانو دپاره د الهي قدرت زښت ډېر دلايل نغښتي دي، په کار دي چې الله ﷻ وريانده وپېژاندل شي.

۴_ د الله ﷻ د کامل قدرت د نښو څخه لاندې کيفيات هم دي:

الف: د شپې د پلوه ستاسو ويده کېدل هم د قدرت نښه ده چې غرې مو ارام نيسي او استراحت کوئ، که بالفرض تاسو خوب نه درلودلی نو د همېشه دپاره به ستړي ستومانه وی.

ب: او د ورځې د پلوه ستاسو بيدارېدل هم لويه قدرتي نښه ده چې په کار او کسب باندې مشغولېږئ او حلال رزق (د الله ﷻ فضل) ترلاسه کوئ، که بالفرض تاسو د ورځې هم د شپې غوندې ويده وی نو د معيشت اسباب به مو گډ وډ شوي وی.

يقينًا په ذکرو شوو کيفياتو کښې د داسې قوم دپاره د قدرت ستر او عظيم الشان دلايل پراته دي کوم چې خبرې ته د زړه په غوږونو غوږ نيونه کوي.

۵_ د الله ﷻ د کامل قدرت د نښو څخه دا هم ده چې:

الف: الله ﷻ تاسو ته په اسمان کښې بربښناوې درليدل کوي، په داسې حال کښې چې تاسو د يوه

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پلوه ورته تمه کوونکي ياست چې وربښت او باران راروان دی او د بله پلوه دارېدونکي ياست چې تندر (تکه) درباندې راپرېنوځي. ايا د الله ﷻ څخه په غير بل څوک برېښنا پيدا کولی شي؟

ب: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د بل طرفه نه بلکې د اسمان د طرفه اوبه (باران) رابښکته کوي، نو په همدغه باران سره مړه (وچه کلکه) ځمکه راژوندی کوي چې ډول-ډول نباتات، ترې رازرغونوي او په باغونو باندې يې تکه شنه جوړوي، ايا د ده ﷻ څخه په غير بل څوک دغه کار کولی شي؟

يقيناً په دغه ذکر شوي کار کښې د داسې قوم دپاره د قدرت د هر لوی دلايل نغښتي دي کوم چې د عقل څخه کار اخلي او شوده بوده نه وي.

۶_ د الله ﷻ د کامل قدرت د دلايلو څخه دا هم ده چې خاص د همده ﷻ په امر او حکم سره اسمان او ځمکه (دواړه) تر ټاکلي وخته پورې باقي پاتې دي او نه فنا کېږي، بيا نو کله چې د اسمان او ځمکې د فنا کېدلو وخت پوره شي نو سمدستي به دواړه د زوال سره مخامخ کړي.

کله چې د اسمان او ځمکې نظام د منځه لاړ شي او د قيامت ورځ قائمه شي نو الله ﷻ به تاسو ټول د ځمکې څخه د راپورته کېدلو په منظور راوبلي چې: ای زړو هډوکو او ورستو غوښو! تاسو ټول راژوندي شئ او د الله ﷻ حضور ته د خپلو حساباتو د تصفيه کولو دپاره د قبرونو څخه رااوچت شئ. نو سمدستي به په ناڅاهانه توګه تاسو ټول رااوچت شئ او د خپلو قبرونو څخه به راووځئ.

ايا د الله ﷻ څخه پرته بل څوک دا کار کولی شي؟ بل هيڅوک يې توان نه لري، ځکه چې:

۷_ هرڅوک چې په اسمانونو کښې او يا په ځمکو کښې دي، او همدارنګه هر شی چې په دغو دواړو کښې موجوديت لري، د ټولو ملکيت الله ﷻ پورې اختصاص لري او ټول خاص الله ﷻ ته غاړه ايښودونکي دي او فقط د همده ﷻ د امر تابع دي او بس.

۸_ بالآخره الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: د پيدا کولو شروع همده ﷻ پورې خاصه ده او بل هيڅوک توان نه لري چې يو ډېر وړوکي شي ته وجود ورکړي.

ب: د ټولو شيانو د موجوديت څخه وروسته به الله ﷻ ټول فنا کړي او بيا به يې د فنا او زوال څخه وروسته يو ځل بيا اعاده کړي او بيا به يې موجود کړي، حال دا چې دغه (بيا وجود ورکول) په الله ﷻ باندې د اول پيدا کولو څخه ډېره اسانه ده.

يا په بل عبارت: که څه هم د الله ﷻ په نزد د خلق ابتداء او يا يې اعاده _دواړه_ څه تفاوت نه لري چې هر يو د "کن" په امر سره صورت نيسي، مګر نظر ستاسو عُرف او عادت ته ابتداء د اعادې څخه اسانه ده؛ نو څرنګه چې تاسو د خلق د ابتداء څخه منکر نه ياست چې يوازې د الله ﷻ د کامل قدرت په بنياد يې تحقق موندلی دی، نو تاسو ته څه مناسب دي چې د اعادې څخه انکاري ياست؟!

ج: لنډه دا چې خاص الله ﷻ ته ډېر لوی او عظيم شان دی چې هيڅوک او هيڅ شی يې مثل او سيال نه شي ګرځېدلی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د: همدی ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، چې د ارادې په وړاندې یې هیڅ شی څه خنډ نه شي جوړېدلی.

هـ: همدی ﷻ د حکمت څښتن دی، چې د کامل قدرت سره-سره کفارو ته په دنیا کښې د ژوند کولو فرصت ورکوي، ترڅو فکر وکړي او د کفر څخه لاس واخلي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ وَمِنْ ءَايَـٰتِهِۦ مَنَامُكُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ﴾ ایت شریف په لاندې دوه ډوله سره تفسیر کېدلی شي:

الف: چې ﴿ مَنَامُكُم ﴾، ﴿ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ﴾ په ﴿ بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ﴾ دواړو پورې تعلق ونیسي، یعنې: د الهي قدرت څخه په شپه او ورځ کښې ستاسو خوب او ستاسو حلال رزق پلټنه ده.

که څه هم خوب په شپه کښې ډېر وي او کسب په ورځ کښې زیات وي، مګر دواړه په دواړو کښې صورت نیسي اوبالکل ترې نه خالي کېږي.

ب: چې ﴿ مَنَامُكُم ﴾ په ﴿ بِٱلَّيْلِ ﴾ سره مربوط وګڼل شي او ﴿ وَٱبْتِغَآؤُكُم مِّن فَضْلِهِۦٓ ﴾ په ﴿ وَٱلنَّهَارِ ﴾ پورې تعلق ونیسي ته به وایې چې داسې نازل شوی دی چې: "وَمِنْ آيَاتِهِ مَنَامُكُمْ وَابْتِغَاؤُكُمْ مِنْ فَضْلِهِ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ".

مونږ ته همدغه دوهم تفسیر غوره برېښي، چې په بل ایت شریف کښې ورباندې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ ﴾ [القصص:۷۳] یعنې او د الله ﷻ د رحمت څخه دا هم ده چې تاسو ته یې شپه او ورځ (دواړه داسې) ګرځولي دي چې تاسو پکښې ارام وکړئ او د دې دپاره چې تاسو پکښې د الله ﷻ فضل (حلال رزق) ولټئ.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وایې چې په ﴿ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ﴾ کښې د ﴿ أَهْوَنُ ﴾ کلمه د اسم تفضیل صیغه ده نو باید چې حاصل یې داسې راوخېژي چې: په الله ﷻ باندې د ابتدایي خلق څخه د خلق اعاده ډېره اسانه ده؛ حال دا چې دا مطلوبه معنی نه ده، ځکه چې الله ﷻ ته هر څه اسان دي؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو ذکر شوی سوال په متعددو لارو سره جواب کړی دی[۱]، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ عَلَيْهِ ﴾ ضمیر "خَلْق" ته راجع دی چې د مخلوق په معنی سره دی. یعنې اعاده په مخلوق باندې اسانه ده چې په یو ځل صورت نیسي، او ابتدایي خلقورباندې سخت دی چې مختلف مراحل ورباندې تېرېږي، لکه نطفه او علقه او داسې نور.

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۷۶؛ اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۴۰۳؛ المحرر الوجیز ج۱۲ ص۲۵۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: ذکر شوی ضمیر الله ﷻ ته راجع دی خو د ﴿ أَهْوَنُ ﴾ کلمه تفضیلي معنی نه ورکوي بلکې د
"هَیِّنٌ" په معنی سره ده. یعنې اعاده هم په الله ﷻ باندې اسانه ده لکه چې ابتداء ورباندې اسانه ده.
مونږ ته دغه دواړه جوابونه غوره نه برېښي ځکه چې دواړه غیر متبادر دي.
ج: نوموړی ضمیر الله ﷻ ته راجع دی او د ﴿ أَهْوَنُ ﴾ کلمه په خپلې تفضیلي معنی سره باقي
ده، مګر تفضیلیت یې په نظر سره د خلکو معتقداتو او عادتونو ته صورت نیولی دی.
یعنې ای کفارو! تاسو په ابتدايي خلق باندې اعتراف کوئ چې د الله ﷻ په قدرت سره یې تحقق
موندلی دی، او د اعادې څخه انکاري یاست، حال دا چې نظر ستاسو معتقداتو او عاداتو ته د
ابتداء څخه اعاده ډېره اسانه ده.
مونږ ته همدغه دریم جواب په زړه پوری برېښي چې د ﴿ وَلَهُ ٱلْمَثَلُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴾ تعقیب ورباندې د
اشارې په توګه دلالت کوي، یعنې که څه هم ستاسو په معتقداتو او عاداتو کښې د ابتداء څخه اعاده
اسانه ده خو د الله ﷻ عالي شان دغسې نه دی، بلکې ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ [الشوری: ١١] الله ﷻ
لره هیڅ مثل نشته، نو هر څه ورته اسان دي.

﴿ ضَرَبَ لَكُم مَّثَلًا مِّنْ أَنفُسِكُمْ ۖ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِى مَا
رَزَقْنَٰكُمْ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ
لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾ بَلِ ٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓا۟ أَهْوَآءَهُم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۖ فَمَن يَهْدِى مَنْ
أَضَلَّ ٱللَّهُ ۖ وَمَا لَهُم مِّن نَّٰصِرِينَ ﴿٢٩﴾ ﴾

[٢٨] الله ﷻ ستاسو دپاره (ای مشرکانو!) د خپلو نفسونو څخه (د توحید د اثبات په ارتباط یو)
مثال وهي (بیانوي، نو غوږ ورته کېږدئ، هغه دا چې):
ایا تاسو ته د هغو (غلامانو) څخه څه شریکان شته کوم چې ستاسو ښي لاسونه یې مالکان شوي
دي، (البته) په هغه مال کښې کوم چې مونږ تاسو ته روزي کړی دی (او تاسو یې حقیقي مالکان او
پیدا کوونکي نه یاست)، داسې شریکان چې تاسو (او هغوی د) مال (په تصرف) کښې یو برابر یاست
(حتی چې) تاسو د هغوی څخه داسې دارېږئ لکه څنګه چې د خپلو ځانونو (سیالانو) څخه دارېږئ
(او بدون د اجازې یې تصرف نه شئ کولی)؟
(پوره واضحه ده چې دلته ستاسو جواب منفي دی، نو په کوم دلیل د الله ﷻ سره په عبادت
کښې د بوتانو په اشتراک قائل یاست حال دا چې خپلو ځانونو ته ورباندې قول نه شئ کولی؟).
(ای پیغمبره!) مونږ د داسې قوم دپاره (د توحید) دلایل دغه دول (تفصیلوار) بیانوو کوم چې د
عقل څخه کار اخلي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۹] بلکې هغه کسان کومو چې ظلم غوره کړی دی، بدون د علمه (او بدون د دلیله) د خپلو خواهشاتو پیروي کوي (هسې نه چې دلایل نه دي ورکړی شوي).
نو هغه چاته به څوک هدایت وکړي کوم چې الله ﷻ گمراه کړي وي (څوک ورته هدایت نه شي کولی) او نه ورته (د عذاب څخه) کومک کوونکی شته.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې په عمده توگه دوه مطلبونه په دلایلو سره په اثبات ورسولی شوه، یو د الله ﷻ توحید او بل د ده ﷻ په اعاده (بعث الموت) باندې کامل قدرت.
بیا د خلکو د قناعت دپاره لومړی مطلب ـ د مخلوقاتو د عاداتو مطابق ـ په وړاندېني ایت کښې په مثال کښې وښودل شو چې: ﴿ وَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِ ﴾، او په دې ایتونو کښې دوهم مطلب په همدغسې یو مثال کښې ښودل کېږي چې حاصل یې داسې راځېږي:
۱ـ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه خلکو (مشرکانو او کافرانو) ته ووایه چې:
الف: الله ﷻ ستاسو د قناعت دپاره یو مثال بیانوي، کوم چې همدا ستاسو په خانونو پورې ارتباط نیسي نو غوږ ورته کېږدئ. هغه دا چې:
ب: ایا تاسو په هغو مالونو کښې کوم چې مونږ تاسو ته روزي کړي دي، او تاسو مو د هغو مجازي مالکان گرځولي یاست، داسې شریکان درلودلی شئ کوم چې ستاسو مملوکان وي؟
ج: یا په بل عبارت: ایا ستاسو مملوکان (غلامان) ستاسو سره ستاسو په مالونو کښې شریکان گرځېدلی شي؟ او یا تاسو هغوی د خپلو خانونو سره د داسې شریکانو په حیث منلی شئ چې تاسو او هغوی په مالکیت کښې یو برابر شئ، حتی چې تاسو په خپلو مالونو کښې د هغوی د اجازې پرته ازاد تصرف نه شئ کولی، او ډارېږئ چې هغوی به خپه شي او خپله برخه به جدا کړي؟
د: پوره واضحه ده چې په ذکر شوي تصویري مثال کښې ستاسو جواب منفي دی.
هـ: کله چې تاسو خپل مجازي مملوکان د شریکانو په حیث نه شئ قبلولی او نه ستاسو سره هغوی په ربښتیانې توگه شریکان جوړېدلی شي، بلکې دا ډول شرکت په تناقض باندې مشتمل دی، چې باید غلامان هم مالکان شي او هم مملوکان، حال دا چې تاسو او هغوی په بشریت کښې یو برابر یاست.
نو پوښتنه دا ده چې: د الله ﷻ سره د ده ﷻ حقیقي مملوکان (مخلوقات) څنگه په عبادت کښې شریکان بولئ، حال دا چې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ ﴾ هیڅ مثل او سیال نه لري؟
۲ـ ای پیغمبره! مونږ دغه رنگ په واضحه توگه د خپل وحدانیت دلایل بیانوو، خو صرف هغه قوم ترې استفاده کولی شي کوم چې د عقل څخه کار اخلي او په صحیحو معناوو کښې هوښیاران دي.
۳ـ نو کوم کسان چې په کفر او شرک باندې کلک دي د دې وجه دا نه ده چې هغوی ته د توحید

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دلایل نه دي ښودلي شوي، بلکې وجه یې دا ده چې کفار (ظالمان) په دلایلو باندې پښې ږدي، او بدون د علمه او بدون د دلیله د خپلو خواهشاتو پیروي کوي (په ګړه لاره باندې کلکېږي).

ځکه یې الله ﷻ په همغې کږې لاره باندې روانوي کومه چې هغوی د خپلو ځانونو دپاره غوره کړې ده (الله ﷻ حق پلټونکو ته هدایت کوي او بس). نو څوک دی چې الهي ګمراه کړی شوو ته هدایت وکړي؟ او یا ورسره د عذابونو څخه په نجات کښې کومک وکړي؟

لنډه دا چې دغسې هوا پرستانو ته نه هدایت کوونکي شته او نه کومک کوونکی.

## توضیحات

په دې مقام کښې لاندې درې نحوي تحلیلونه ولولئ[۱]:

الف: په ﴿ هَل لَّكُم مِّن مَّا مَلَكَتْ أَيْمَٰنُكُم مِّن شُرَكَآءَ فِي مَا رَزَقْنَٰكُمْ ﴾ کښې د ﴿ مِّن شُرَكَآءَ ﴾ کلمه د "مِنْ" په زیادت سره مؤخره مبتدأ ده، او د "لَكُمْ" کلمه د متعلق (ثابت) په لحاظ سره مقدم خبر دی.

ب: په ﴿ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ ﴾ کښې د "وَهُمْ" کلمه مقدره ده چې په "أَنْتُمْ" باندې عطفه ده، ظهور یې داسې راڅرګندېږي چې: "فَأَنْتُمْ وَهُمْ فِيهِ سَوَاءٌ".

دا جمله د وړاندېني انکاري استفهام جواب دی.

نو د وړو تحلیلونو د معنی حاصل هغسې راڅرګندېږي کوم ته چې وړاندې د مطلب په خلاصه کښې اشاره شوې ده.

ج: د ﴿ تَخَافُونَهُمْ كَخِيفَتِكُمْ أَنفُسَكُمْ ﴾ جمله د ﴿ فَأَنتُمْ فِيهِ سَوَآءٌ ﴾ جملې دپاره تفسیر او بیان واقع شوې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ أَنفُسَكُمْ ﴾ څخه احرار (ازاد) کسان مطلب دي، یعنې چې ستاسو غلامان ستاسو سره داسې مساوي او برابر وي لکه څنګه تاسو ازاد شریکان یو تربله سره برابر او مساوي یاست، حتی چې یو شریک هم د بل شریک د رضایت څخه په غیر تصرف نه شي کولی، او یو تربله سره ډارېږئ چې په غُصه به شي او شرکت به تجزیه کړي (خپله ونډه به جدا کړي او تصرف کوونکي به د ملامتې لاندې واقع کړي).

۲ـ برسېره پر دې چې د ذکرو شوو ایتونو مضمون په [النحل:۷۱] ایت کښې منعکس شوی دی، یو نظیر یې د [النحل:۵۶] ایت لاندې ښه پوره شرحه شوی هم دی، والحمد لله ﷻ.

﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٣٠﴾ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ

(۱) تفسیر روح المعاني ج۲۱ ص۳۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٣١﴾ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُوا۟ دِينَهُمْ وَكَانُوا۟ شِيَعًا ۖ كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٣٢﴾ ﴾

[۳۰] نو (ای پیغمبره!) خپل مخ دې الهي دین ته ودروه (خپله ټوله توجه ورواړوه) په داسې حال کښې چې (د ټولو باطلو ادیانو څخه) څنګ کوونکی یې (او ستا امت دې هم همدغسې کار وکړي او دا څکه چې دا دین) د الله ﷻ هغه دین دی چې ټول خلک یې په همدغه دین باندې (همدغه دین ته) مستعد پیدا کړي دي، مستعد پیدا کول.

د الله ﷻ پیدا کولو ته هیڅ بدلون نشته (چې څوک یې استعداده پیدا کړي)، دغه برابر (او مستقیم) دین دی (چې د عقل او فطرت سره موافق دی)، او مګر اکثره خلک نه پوهیږي (چې د دغه برابر دین څخه انحراف کوي).

[۳۱] (ای پیغمبره!) په داسې حال کښې (تاسو حق دین ته توجه واړوئ) چې خاص الله ﷻ ته (د عقیدې په سمون او د عمل په اخلاص سره) رجوع کوونکي یاست.

او تاسو د الله ﷻ (د عذاب) څخه (ځانونه) وساتئ (ترې ویډار شئ) او تاسو لمونځونه ودروئ، او د مشرکانو څخه مه جوړیږئ (چې نه یې عقیده سمه ده او نه عمل).

[۳۲] (البته) د هغو کسانو څخه چې خپل (فطري) دین یې شندلی دی او دوی ډلې-ډلې جوړ شوي دي، (دوی ټول په باطلو لارو باندې روان دي خو د دې سره-سره) هره یوه ډله په هغه دین باندې خوښه ده کوم چې د هغې په نزد دی (ورباندې روانه ده).

## ارتباطونه او د مطلب خلاصه

۱ــ د سورت د اول سر څخه تر دې ځایه پورې الله ﷻ خپل وحدانیت او د قیامت په قیام باندې خپل کامل قدرت په متعددو دلایلو سره په اثبات ورسول، او په مثالونو کښې یې هم تشریح کړل. په دې ایتونو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده چې تا خپله فریضه اداء کړه او دومره دلایل دې کفارو ته واورول چې د ایمان د راوړلو دپاره کفایت کوي، اوس د مؤمنانو حال ته متوجه شه او په دین باندې د استقامت او ثبات توصیه ورته وکړه.

۲ــ وړاندیني نژدې ایتونه د ﴿ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ﴾ په جمله باندې هم مشتمل وه چې د دلایلو څخه هوښیاران استفاده کوي او بس. په دې ایتونو کښې اشاره شوې ده چې د اسلام دین فطري او معقول دین دی، هغه څوک ترې مخ اړوي کوم چې د عقل څخه کار نه اخلي، نو حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! د دعوت په هکله خو تا خپله فریضه په کامله توګه اداء کړه نو اوس لاندې مطالب په پام کښې ونیسه:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۱_ ته خپله ټوله توجه د اسلام دین ته واړوه او په همدې باندې کلک اوسه، او هم دې ستا امت په دین باندې کلک شي او منګولې دې ورباندې ښخې کړي.

۲_ یا په بل عبارت: تاسو ټول د هغه دین پیروي وکړئ کوم چې د الله ﷻ دین دی او خلک یې ورباندې پیدا کړي دي (خلکو ته یې طبعي ګرځولي دي) نو د دغه طبعي او فطري دین پیروي په خلکو اسانه ده.

۳_ د الله ﷻ خلق (پیدا کولو) ته هیڅ تبدیل نشته، نو د قیامت تر ورځې پورې د خلکو پیدابنت ته په همدغې طریقې سره ادامه ورکوي، چې د الهي دین پیروي ورته طبعي ګرځوي.

۴_ دغه د توحید دین برابر او مستقیم دین دی چې د عقل او طبیعت دواړو سره موافق دی، مګر اکثره خلک نه پوهېږي او د طبعي او عقلي دین څخه انحراف کوي او په غیر عقلي او غیر طبعي ادیانو پورې کلک نښلي.

۵_ ای پیغمبره! تاسو ټول په داسې حال کښې په خپل الهي دین باندې کلک اوسئ چې خاص الله ﷻ ته په توبه او د عمل په اخلاص سره رجوع کوونکي او د لاندې صفاتو درلودونکي یاست:

الف: خاص د الله ﷻ څخه وډار شئ او د عذاب څخه یې خانونه وساتئ؛

ب: تاسو خپل لمونځونه د ټولو حقوقو سره ودروئ ترڅو ستاسو سره په تقوی کښې کومک وکړي او د جنایاتو څخه مو منعه کړي.

ج: تاسو د مشرکانو څخه مه جوړېږئ چې شرکي او کفري عقیده خپله کړئ او خپل نېک اعمال ټول ضائع کړئ.

د: یا په بل عبارت: د هغو کسانو څخه مه جوړېږئ کومو چې خپل حق عقلي او طبعي دین ټوټه-ټوټه کړی دی، چې په ځینو برخو باندې یې ایمان راوړی او په ځینو نورو برخو باندې یې کفر غوره کوي، ځوک د یو بوت عبادت کوي او ځوک بل بوت ته په سجده پرېوځي. نو د همدې کبله هغوی په متعددو ډلو باندې وېشلي شوي دي چې یوه ډله یې هم په سمه لاره روانه نه ده، تاسو د ټولو څخه خپل خانونه په ځنګ وساتئ.

خو د دې سره-سره هر یو ټولګی او هره یوه ډله په همغه دین باندې خوشاله ده او ورباندې راضي ده کوم یې چې خوښ کړی دی، او هم ورته خپل دین د ټولو ادیانو څخه بهتر برېښي.

## توضیحات

۱_ که څه هم په ﴿ فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗا ﴾ کښې د ﴿ فَأَقِمۡ ﴾ په ضمیر سره یوازې نبي کریم ﷺ مخاطب کړی شوی دی مګر په حقیقت کښې دغه خطاب بالتبع ټول امت ته شامل دی.

یعني ای پیغمبره! ته د خپل امت په شمول خپله توجه په دین پورې کلکه کړه او په همدې باندې په قوت سره ودرېږه.

۲_ علماوو کرامو د ﴿ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيۡهَاۚ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِ ﴾ په ارتباط اوږده

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بیانات لیکلي دي[۱] که څوک د اوږدو بیاناتو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي خو کوم مطالب چې مونږ ته د ایت شریف سره ډېر نژدې برېښېدلي دي هغه په لاندې ټکو کښې خلاصه کوو:

الف: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۱۴] ایت لاندې د "ف، ط، ر" په اشتقاقي معنی کښې څه تحقیق لیکلی دی چې دغه توری په یوه شي کښې د درز (چاود) په پیدا کولو باندې دلالت کوي؛ او الله ﷻ خپل اقدس ذات په ﴿ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ کښې د ﴿ فَاطِرِ ﴾ په کلمې سره ځکه ستایلی دی چې اسمانونه او ځمکې یې د عدم په چاودولو او د منځه په وړلو سره موجود کړي دي.

ب: "فِطۡرَةٌ" کلمه د "قِبۡلَةٌ" په وزن د مصدر صیغه ده، په دغه وزن باندې مصدر د نوعې (ډول) دپاره استعمالېږي. هغه دا چې:

ج: که څه هم بنیادم په خوراک او څښاک او ځینو نورو طبعي استعدادونو کښې د څارویو څخه څه تفاوت نه لري، الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴾ [طه:۵۰] یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هر شي ته یې مناسب شکل ورکړی دی او بیا یې ورته د خپل شکل څخه د استفادې لاره هم ښودلې ده، چې داسې خوراک او څښاک کوه او په دې ډول سره ګرځه راګرځه او داسې نور؛ مګر الله ﷻ د خپل اقدس ذات په پېژاندلو باندې د مکلفیت استعداد یوازې د بنیادم په خلقت (پیدائښت) کښې ایښی دی او بس، او نورو څارویو ته یې نه دی ورکړی، نو د بنیادم پیدائښت یوه خاصه نوعه (ډول) پیدائښت دی.

د: کوم استعدادي قوت چې په اسانۍ سره پرې اثرات مرتبېږي او د خلقت سره موافق وي هغه په دې نومونو یادېږي[۲]: "مِزَاج، طَبِيۡعَة، قَرِيۡحَة، سَجِيَّة، غَرِيۡزَة، فِطۡرَة، سَلِيۡقَة". خو د "فِطۡرَة" کلمه خاص په هغه استعدادي قوت پورې اختصاص لري په کوم باندې چې د الله ﷻ د پېژاندنې اثر ترتب مومي.

نو مونږ وایو چې د انسان دپاره د الله ﷻ پېژاندنه فطري شی دی، او که ووایو چې دا یو طبعي شی دی، هم باک یې نشته.

نو د ذکر شوي وضاحت په بنیاد په ﴿ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ﴾ کښې د "فِطۡرَتَ" کلمې اضافت د تخصیص دپاره نه بلکې د تشریف دپاره دی لکه چې په بَيۡتَ اللهِ کښې د "بَيۡتَ" اضافت همدغه مطلب افاده کوي.

ه: همدې مضمون ته نبي کریم ﷺ اشاره کړې ده چې: «مَا مِنۡ مَوۡلُوۡدٍ إِلَّا يُوۡلَدُ عَلَى الۡفِطۡرَةِ، ثُمَّ يَقُوۡلُ: اقۡرَءُوا ﴿ فِطۡرَةَ اللهِ الَّتِي ﴾ الآيَة»[۳] یعنې: هیڅ مولود نه دی مګر په "فِطۡرَة" باندې تولد کېږي (د الله ﷻ د پېژاندلو استعداد پکښې ایښودل شوی وي)؛ بیا نبي کریم ﷺ وفرمایل چې تاسو د اطمنان دپاره دغه ایت شریف ﴿ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ﴾ الآية ولولئ.

و: ډېرو علماوو کرامو د ﴿ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ﴾ کلمه په مقدر عامل "اتبعوا" سره منصوبه ګڼلې ده او د

---

(۱) حاشیه الشیخ زاده علی تفسیر البیضاوي ج۴ ص۲۷؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۶۰؛ تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۲۴

(۲) لسان العرب ج۲ ص۵۸۸، ج۵ ص۵۶، ۳۸۷، ج۱۴ ص۳۷۲؛ مفردات الراغب ص۴۱۶

(۳) صحیح مسلم ج۲ ص۳۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بندګانو د حال سره یې تعلق ورکړی دی[۱]، یعنې ای بندګانو! تاسو د فطرة الله پیروي وکړئ او د خپل فطري استعداد په بنیاد په دین باندې کلک اوسېږئ.

خو مونږ ته دا ډول تفسیر په زړه پورې نه برېښي چې په عین مضمون باندې د ﴿ فَأَقِمۡ وَجۡهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفٗاۚ ﴾ جمله دلالت کوي.

مونږ ته بهتره برېښي چې مقدر عامل به یې د "فَطَرَ" کلمه وي، او د الله ﷻ د عالي شان بیان به پکښې مرموز وي، ته به وایې چې داسې نازل شوی دی چې "فَطَرَ اللهُ النّاسَ فطرَةً" یعنې ای بندګانو! تاسو په خپل دین باندې کلک شئ ځکه چې الله ﷻ خلک همدغه دین ته مساعد پیدا کړي دي، مساعد پیدا کول.

ز: ځینو علماوو کرامو دا جمله ﴿ لَا تَبۡدِيلَ لِخَلۡقِ ٱللَّهِۚ ﴾ په نهې سره مؤوله کړې ده[۲]، یعنې ای بندګانو! تاسو خلق الله ﴿ فِطۡرَتَ ٱللَّهِ ﴾ مه تبدیلوئ چې د توحید لاره پرېږدئ او کفري لاره غوره کړئ.

خو مونږ ته بهتره برېښي چې نوموړې جمله په خپل حال پرېښودله شي او په نهې سره تاویل ورنه کړی شي، ته به وایې چې د وراندېنۍ جملې وضاحت پکښې مرموز دی.

په دې تقدیر یې حاصل داسې راځېږي چې: الله ﷻ خلک د فطري استعداد موافق پیدا کړي دي، او الله ﷻ چې د هر ډول پیدا کولو اراده وکړي د هغه ډول څوک مخنیوی نه شي کولی، نو د خلکو پیدا کول به په همدغه فطري استعداد باندې د قیامت تر ورځې پورې ادامه ولري، او هیڅ بدلون به مونده نه کړي.

ح: لنډه دا چې مونږ ته د همدغه ایت شریف په اعراب او تفسیر کښې دا ایت شریف نظیر برېښي چې ﴿ سُنَّةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِي قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلُۖ وَلَن تَجِدَ لِسُنَّةِ ٱللَّهِ تَبۡدِيلٗا ﴾ [الفتح:۲۳] یعنې الله ﷻ طریقه ایښې ده هغه طریقه چې د پخوا څخه تېره شوې ده (هغه دا چې مؤمنانو ته به په کفارو باندې غلبه ورکوي)، او ته به هیڅکله د قیامت تر ورځې پورې دالله ﷻ د طریقې (او قانون) بدلون مونده نه کړې (دا قانون دائمي دی).

ط: د دې خبرې څه شرحه د [الأعراف:۱۷۲] ایت لاندې تېره شوې ده چې "اسلام فطري دین دی او په همدې بنیاد په عالم الذر کښې د الله ﷻ په ربوبیت باندې ټولو بنیادمانو اعتراف کړی دی".
هیله ده چې په دې مقام باندې د ښه پوهېدلو دپاره هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## د ایت شریف ارشاد

۳ـ ذکر شوی ایت شریف مونږ ته دا ارشاد کوي چې باید خپلو اولادونو ته دیني روزنه ورکړو او په لوی لاس یې فطري استعداد بې نوره نه کړو چې د فسق او فجور سره یې مینه او علاقه پیدا شي.

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۷۹
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۴۰۹؛ زاد المسیر ج۶ ص۱۵۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مونږ ته لازمه ده چې د غیر شرعي کارونو او خبرو څخه د خپلو اولادونو په وړاندې په جدي توګه خپل خانونه بچ وساتو، ترڅو هغوی ته په غیر شعوري توګه د جنایاتو دعوت ورنه کړو.

د ښه وضاحت دپاره د حدیث شریف لاندې مضمون ولولئ:

عبد الله بن عامر ﷺ وایي چې: زه خپلې مور یوه ورځې ورو بللم چې: ها فلانکیه! دلته راشه چې څه درکړم. نو نبي کریم ﷺ زما د مور بلنه واورېدله او داسې سوال جواب یې ورسره وکړ:

نبي کریم ﷺ: ایا ستا اراده ده چې خپل زوی ته څه شی ورکړې؟

زما مور: هو، زه غواړم چې کجورې ورکړم.

نبي کریم ﷺ: اګاه اوسه! که ته خپل زوی ته څه شی ورنه کړې او ثابته شي چې د دروغو وعده دې ورکړې وه «كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ»[1] نو په تا باندې به د یو کرت دروغو ګناه ولیکله شي.

## سوال جواب

۴ـ که څوک وایي چې: په ﴿ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ ﴾ کښې د ﴿ مُنِيبِينَ ﴾ کلمه د ﴿ فَأَقِمْ ﴾ د مستتر ضمیر څخه حال واقع شوې ده، خو دا جمعه ده او هغه مفرده ده، او د نحویانو په نزد باید حال او ذو الحال په إفراد او جمعیت کښې یو برابر وي؟

مونږ وایو چې: وړاندې په لومړنی توضیح کښې د الله ﷻ په توفیق لیکلی شوي دي چې د ﴿ فَأَقِمْ ﴾ په کلمه کښې نبي کریم ﷺ ته د ټول امت په ملحوظ خطاب متوجه شوی دی، نو ذو الحال هم په واقع کښې مفرد نه دی بلکې جمعه ده، نو اعتراض نه واردېږي.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ـ که څوک وایي چې: د ﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾ څخه سړي ته ذهن ته ورځي چې د لمانځه په عدم اقامت سره سړی د مشرکانو څخه جوړېږي، نو پوښتنه دا ده چې ایا د ایت شریف څخه په دغه ډول سره مفهوم اخستل صحت لري؟

مونږ وایو چې: د ﴿وَلَا تَكُونُوا۟ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ﴾ جمله یوازې د ﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ د ارشاد پورې تعلق نه نیسي لکه چې معترض خیال کړی دی، بلکې دا جمله د وړاندېنیو دریو ارشاداتو ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ﴾، ﴿ مُنِيبِينَ إِلَيْهِ وَٱتَّقُوهُ ﴾، ﴿ وَأَقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ ﴾ په مجموعي پورې تړاو لري.

نو حاصل یې داسې راځي چې: ای مؤمنانو! تاسو په الهي حق دین باندې عقیدةً او عملاً کلک اوسئ او د مشرکانو غوندې مه کېږئ چې نه یې عقیده سمه ده او نه یې عمل او عبادت صحت لري.

یا په بل عبارت: تاسو د کفارو غوندې مه جوړېږئ چې د مشکلاتو په وخت کښې الله ﷻ ته رجوع کوونکي وي او د خوشالۍ په وخت کښې خپلو بوتانو ته رجوع کوونکي ګرځي او شرک غوره کوي.

---

(۱) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۳۲۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په همدې مطلب باندې په راتلونکي ايت شريف کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ﴾ الآية.

## يادونه

۶ـ د الله ﷻ په توفيق د [الأنعام:۱۵۹] ايت لاندې د ﴿ مِنَ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمْ وَكَانُواْ شِيَعًا ﴾ جمله ښه پوره شرحه شوې ده چې په بيا شرحه کولو باندې يې کتاب اوږدېږي، او مونږ تر وسې-وسې کوښښ کوو چې په غير ضروري بحثونو باندې يې اوږد نه کړو.

﴿وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ثُمَّ إِذَآ أَذَاقَهُم مِّنْهُ رَحْمَةً إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴿٣٣﴾ لِيَكْفُرُواْ بِمَآ ءَاتَيْنَٰهُمْ فَتَمَتَّعُواْ فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٣٤﴾ أَمْ أَنزَلْنَا عَلَيْهِمْ سُلْطَٰنًا فَهُوَ يَتَكَلَّمُ بِمَا كَانُواْ بِهِۦ يُشْرِكُونَ ﴿٣٥﴾ وَإِذَآ أَذَقْنَا ٱلنَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُواْ بِهَا وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴿٣٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْاْ أَنَّ ٱللَّهَ يَبْسُطُ ٱلرِّزْقَ لِمَن يَشَآءُ وَيَقْدِرُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأَيَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٣٧﴾﴾

[۳۳] او کله چې خلکو ته بدحالي ورسېږي نو دوی خپل رب ﷻ په داسې حال کښې بللي چې خاص همده ﷻ ته رجوع کوونکي وي.

بيا چې کله الله ﷻ هغوی ته د خپله جانبه (بدون د استحقاقه) مهرباني وروڅکي (بد حالي ترې لرې کړي)، نو ناڅاپه د هغوی يوه ډله د خپل رب ﷻ سره (په عبادت کښې) شريکان نيسي.

[۳۴] ترڅو (د دغه کار نتيجه دا شي چې) هغوی په هغه (نعمت) سره کافران (او ناشکران) جوړ شي کوم چې مونږ ورته ورکړي وه.

نو (زمونږ د پلوه ورته ووايه چې: څو معدودې ورځې د نعمتونو څخه) ګټه پورته کړئ نو ډېر ژر دی چې (په خپلو غلطياوو باندې به) پوه شئ.

[۳۵] ايا مونږ په مشرکانو باندې کوم دليل (يا کتاب) ورنازل کړی دی نو هغه (دليل يا کتاب) د هغو معبودانو (په حقيت او واقعيت) باندې تکلم کوي (او پرې ناطق دی) کوم چې هغوی يې (د الله ﷻ په عبادت کښې) په اشتراک قول کوي (او پرې مشرکان شوي دي)؟

[۳۶] او کله چې مونږ خلکو ته رحمت (او مهرباني) وروڅکو (ورکړو) نو دوی پرې (د بې دينۍ او تکبر) خوشالي کوي، او که دوی ته د هغو جناياتو په سبب څه بدي ورسېږي کوم چې د دوی لاسونو مخکښې لېږلي دي (او پخپله يې مرتکب شوي دي) نو ناڅاپه دوی (د الله ﷻ د رحمت څخه) نااميده کېږي (او بې صبري کوي).

[۳۷] ايا دوی (دغه کار کوي) او (دې ته) نه ګوري (نه پوهېږي) چې يقيناً الله ﷻ هغه چا ته روزي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



پراخوي کوم ته يې چې اراده وشي او (هغه چا ته يې) تنګوي (کوم ته يې چې اراده وشي، دا دواړه د حکمت په بنياد صورت نيسي).

(ای پيغمبره!) يقيناً په دغه (مذکور بيان) کښې د داسې قوم دپاره (د الهي کامل قدرت) عظيم الشانې نښې نغښتې دي، کوم چې (د الله ﷻ په وحدانيت) باور کوي (او ايمان ورباندې راوړي، همدوی ترې ګټه اخلي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنيو ايتونو مضمون دا وه چې د اسلام دين فطري او طبعي دين دی او غير اسلامي اديان غير فطري او غير طبيعي اديان دي. په دې ايتونو کښې په همدغه مضمون باندې څه رڼا اچولې شوې ده او څه اضافه وضاحت ورکړې شوی دی چې حاصل يې داسې راځي:

۱ـ ای پيغمبره! د دې خبرې د ښه وضاحت دپاره چې "د اسلام دين فطري او طبعي دين دی" په خپل امت باندې لاندې مثال قرائت کړه:

الف: کله چې خلکو ته سختي او مشقت ورسېږي او د مشکلاتو سره مخامخ شي نو دوی ټول (کفار وي او که مؤمنان) خپل رب ﷻ په داسې حال کښې بلي چې د عقيدې په سمون او د عمل په اخلاص ورته رجوع کوي (يوازې هم ده ﷻ ته د مشکلاتو څخه د نجات سوالونه کوي). او په دغه وخت کښې خپلو باطلو معبودانو ته خپل احتياج نه وړاندې کوي، که بالفرض غير اسلامي اديان فطري او طبعي وی نو کفارو به د خپلو مشکلاتو حل کولو ته باطل معبودان وربللي وی.

ب: خو د دې سره-سره چې بيا کله الله ﷻ د خپله جانبه دوی ته رحمت او مهرباني وروڅکي او د مشکلاتو څخه نجات ورکړي، نو د خلکو څخه يوه ډله په ناځاپي توګه د خپل رب ﷻ سره په عبادت کښې شريکان دروي، حال دا چې د همدغو شريکانو په ناتوانی باندې يې لږ وخت وړاندې اعتراف کاوه چې احتياج يې نه وروړاندې کاوه او پوهېدل چې د لاسه يې څه پوره نه دي.

ج: د نجات څخه وروسته د کفارو يو ټولګی په ذکر شوي اخلاص باندې باقي پاتې کېږي او اکثريت يې بيرته کفر ته ورتاوېږي. اما مؤمنان په اضطراري او غير اضطراري (دواړو) حالاتو کښې خاص خپل رب ﷻ ته رجوع کوونکي دي.

۲ـ ای پيغمبره! د ذکر شوي بيان په تعقيب لاندې مطالب قرائت کړه:

الف: ذکره شوې کړنلاره اختيارول بله نتيجه نه لري بې د دې چې کفار د هغو نعمتونو ناشکري وکړي کوم چې يوازې مونږ ورکړي دي او د دوی باطلو معبودانو پکښې هيڅ مداخله نه ده کړې او نه يې پکښې کولی شي.

ب: همدغې مشرکې او ملحدې ډلې ته زمونږ د پلوه ابلاغ کړه چې:

د څو شمارلی شوو ورځو پورې د دنيا څخه لنډه تنګه استفاده وکړئ، نو ډېر ژر دی چې په خپله خطاکارۍ باندې به پوه شئ، خو په دغه وخت کښې به تاسو ته پوهېدل هيڅ ګټه ونه شي رسولی او

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د الهي عذاب څخه به نجات درنه کړی شي.

۳_ کله چې غير اسلامي اديان نه فطري او نه طبيعي دي او نه يې په ثبوت باندې څه عقلي دليل شته چې د حقيقي انعام کوونکي ناشکري دې وکړی شي، نو زمونږ د پلوه کفارو ته دا پوښتنه راجع کړه چې: ايا مونږ په دوی باندې کوم دليل او يا کوم کتاب نازل کړی دی چې د بوتانو په اثبات باندې ناطق وي؟ او د دوی په کفري او شرکي عقيده باندې دلالت وکړي؟

لنډه دا چې د کفري عقيدې په اثبات باندې نه فطري دليل شته او نه ورباندې کوم عقلي يا نقلي دليل شتون لري بلکې يو لک او څلورشت زره ـزيات يا کم_ پیغمبران مونږ صرف د دې دپاره ځمکې ته را استولي دي چې توحيدي عقيده خلکو ته ورزده کړي او د کفري عقيدې څخه يې وژغوري.

۴_ او کله چې مونږ خلکو ته د خپلې مهربانۍ د مخې (بدون د استحقاقه) د خوشاليو او نعمتونو پراخي ورپېرزو کړو نو هغوی ورباندې سمدستي د تکبر او سرکشۍ خوشالي کوي او شکرگزاري يې په دماغ کښې نه گرځي.

او که چرته ورته د هغو گناهونو په سبب څه بدي او مصيبت ورسېږي کوم چې د دوی خپلو لاسونو وړاندې لېږلي دي او همدوی يې پخپله مرتکب شوي دي، نو هغوی په ناڅاپي ډول زمونږ د رحمت څخه نااميدي کوي او د صبر څخه کار نه اخلي چې مونږ ته راجع شي او د مصيبت د لرې کولو سوال راته وړاندې کړي.

۵_ البته دغه کړنلاره هغه خلک غوره کوي د کومو چې فطري استعداد د خاورو سره برابر شوی وي، چې نه ورباندې نعمتونه اثر غورځوي او نه د مصيبت تر اغېز لاندې واقع کېږي.

ايا ذکر شوي خلک دې ته نه گوري او په دې باندې نه پوهېږي چې د نعمتونو پراخي او تنگي دواړه د الله ﷻ په اراده باندې څرخېږي او د حکمتونو په مطابق صورت نيسي؟

۶_ يقيناً په دغه بيان او دغو حالاتو کښې د داسې قوم دپاره د الهي قدرت عظيم الشان دلايل نغښتي دي کوم چې ايمان راوړي او د فطري استعداد په مطابق توحيدي عقيده خپلوي.

## توضيحات

۱_ که څوک وايي چې: ايا په ﴿ إِذَا فَرِيقٌ مِّنْهُم بِرَبِّهِمْ يُشْرِكُونَ ﴾ کښې د ﴿ فَرِيق ﴾ کلمه هغو مؤمنانو ته هم شموليت لري کوم چې د فطري توحيدي عقيدې د درلودلو سره-سره د خوشالی حالات خپل مهارت يا بل کوم سبب ته منسوب کړي، او يا وواېي چې زه په دغې يا هغې دوا باندې روغ رمټ شوم؟

مونږ وايو چې: د ځينو علماوو کرامو په نظر د مؤمنانو (موحدينو) ذکره شوې وينا د مجاز په توگه په تشريک باندې نومولی شي[1]، خو حقيقتاً ورته دغه لقب نه شي ورکولی، او شرک نه گڼلی کېږي. يا په بل عبارت: ذکر شوی قول ـد رياکارۍ غوندې_ عملي شرک دی خو عقيدوي شرک

[1] المحرر الوجيز ج۱۲ ص۲۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نه دی چې د اسلامي ملت څخه وربانديې خارج شي او په کفري ملت کښې شامل وګڼلی شي (په ایت شریف کښې د همدغې کفري ډلې د حالاتو بیان مطلب دی او بس).

لنډه دا چې په عصیان باندې لکه څنګه چې د مجاز په توګه د کفر اطلاق کېږي، همدارنګه کله-کله د شرک په نامه هم یادېږي[1] خو عملي شرک، نه عقیدوي شرک.

د همدې مقام پورې اړوند څه خوندور بحث د [یوسف:۱۰۶] ایت لاندې تېر شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ هیله ده چې د زیات تفصیل دپاره هلته مراجعه وکړی شي.

## یادونه

۲ـ نبي کریم ﷺ په خوشالۍ او خپګان کښې د مؤمن حال پوره څرګند کړی دی، که څوک غواړي چې نظر ورباندې واچوي نو د [هود:۹] ایت تفسیر ته دې مراجعه وکړي چې هلته مونږ د الله ﷻ په توفیق په همدې موضوع کښې د نبي کریم ﷺ یو حدیث رانقل کړی دی.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وايي چې: د ﴿ وَإِذَا مَسَّ ٱلنَّاسَ ضُرٌّ دَعَوْاْ رَبَّهُم مُّنِيبِينَ إِلَيْهِ ﴾ څخه څرګندېږي چې کفار د مصیبت په وخت کښې الله ﷻ ته رجوع کوونکي ګرځي او همدا د دې خبرې دلیل دی چې د اسلام دین فطري او طبعي دین دی، او د ﴿ إِذَا هُمْ يَقْنَطُونَ ﴾ څخه فهمېږي چې هغوی د مصیبت په حالاتو کښې د الله ﷻ څخه نا امیده کېږي؛ نو ایا دغه دواړه ایتونه سره یو تربله څه منافات نه لري؟ مونږ وايو چې[2]:

الف: هلته د ﴿ ٱلنَّاس ﴾ د کلمې څخه یوه ډله مطلب ده او دلته ترې بله ډله مراده ده، چې یوه ډله هغسې کوي او بله ډله دغسې کوي.

ب: هلته د ﴿ ضُرٌّ ﴾ د کلمې څخه عظیم الشان ضرر مطلب دی، لکه په دریاب کښې بېړۍ طوفاني کېدل او داسې نور، او دلته د ﴿ سَيِّئَة ﴾ د کلمې څخه عادي مشکلات مطلب دي، نو یو ایت د بل ایت سره څه تضاد نه لري.

ج: مونږ ته په جواب کښې دا هم څه لرې نه برېښي چې په دواړو ایتونو کښې به یوه زمانه مراده نه وي ترڅو تضاد لازم شي، بلکې مطلب به دا وي چې کفار د مشکلاتو په وخت کښې کله هغسې کوي او کله دغسې لاره غوره کوي، والله ﷻ أعلم بمراده في ذلک.

﴿ فَـَٔاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ وَٱلْمِسْكِينَ وَٱبْنَ ٱلسَّبِيلِ ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لِّلَّذِينَ يُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ ۖ وَأُوْلَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَاْ فِىٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ فَلَا يَرْبُواْ

(۱) التفسیر الکبیر ج۲۵ ص۱۲۸
(۲) روح المعاني ج۲۱ ص۴۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



عِندَ ٱللَّهِ وَمَآ ءَاتَيۡتُم مِّن زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجۡهَ ٱللَّهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُضۡعِفُونَ ﴿٣٩﴾

[۳۸] نو (ای پیغمبره!) ته د قرابت خاوند ته خپل حق ورکړه، او مسکین ته (هم) او د لارې بچي (مسافر) ته (هم، او ستا امت دې هم دا کار وکړي).

دغه (کار) د هغو کسانو دپاره بهتر دی کوم چې د الله ﷻ رضامندي غواړي، او همدغه کسان همدوی برى (کامیابي) موندونکي دي.

[۳۹] او (ای مؤمنانو!) هغه مال چې تاسو ورکوئ کوم چې د سُودي مال څخه عبارت دی (البته) د دې دپاره چې د خلکو په مالونو کښې زیات شي (وده وکړي)، نو د الله ﷻ په نزد به (دغه مال) زیات نه شي (او وده به ونه کړي).

او هغه مال چې تاسو ورکوئ کوم چې د صدقې څخه عبارت دی (نفلي وي او که فرضي وي) په داسې حال کښې چې تاسو (وربانديې) د الله ﷻ وجه (بلا کیفه مخ او رضامندي) طلبوئ، نو دغه کسان همدوی د چندونو موندونکي دي (البته په اجر او ثواب کښې).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېنیو متصلو دوه ایتونو په مضامینو کښې دوه مطلبونه هم شامل وه، یو دا چې د جنایاتو په سبب سړی په دنیا کښې هم په مصیبت اخته کېدلی شي، او بل دا چې د رزق پراخي او تنګي (دواړه) د حکمتونو په بنیاد ولاړ دي او یوازې د الله ﷻ په اختیار او ارادې پورې توقف لري.

په دې ایتونو کښې لومړی ایت په لومړي مطلب باندې رڼا اچوي او په دوهم ایت کښې دوهم مطلب ته څه وضاحت ورکړی شوی دی چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! اوس په خپل امت باندې څه وضاحتونه قرائت کړه، هغه دا چې:

۱ـ د دې دپاره چې تاسو په دنیا کښې هم د خپلو عملونو په سبب په مصیبت اخته نه شئ، نو ته او ستا امت د حقدارانو حقونه ورکړئ، لکه:

الف: د قرابت خاوندانو ته خپل حق ورکړئ، برابره خبره ده چې مالي حق وي لکه چې کوم یو خپلوان مو شل شوی وګرځي او د خپل رزق د لاس ته راوړلو توان ونه لري او تاسو نفقه ورکړئ، او یا د صله رحمۍ حق وي لکه چې د هغوی څخه کوم یو ستاسو بنېګڼې ته اړ شي او تاسو ورسره خواخوږي وکړئ.

ب: تاسو مسکینانو ته هم مالي او اخلاقي حقونه ورسپارئ.

ج: تاسو د مسافرانو (پردیسانو) او نورو مسلمانانو حقوق هم په ډېره ښه توګه اداء کړئ.

خو په یاد ولرئ چې حقدارانو ته دغه ذکر شوي حقونه ورکول د هغو کسانو دپاره ډېر بهتر دي او د مصیبت په مخنیوي کښې ورته ډېر ګټور دي کوم چې ذکر شوي کارونه فقط او فقط د الله ﷻ د اقدس ذات دپاره ترسره کړي، او همدغه د حقوقو ترسره کوونکي کسان همدوی د فلاح خاوندان دي، او همدوی د خپلو اعمالو د بدو نتایجو څخه نجات موندونکي دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲ـ د همدې کبله ستاسو مالي ورکړه لاندې دوه صورتونه درلودلی شي:

الف: چې تاسو خلکو ته څه سودي مالونه د دې دپاره ورکړئ ترڅو د هغوی په مالونو کښې زیادت وکړي او تاسو یې ترې د زیادت سره بېرته واخلئ. دغه ډول ورکړه که څه هم ستاسو په نظر د رزق د پراخۍ باعثه بریښي مګر حقیقت دا دی چې دغه ډول ورکړه د الله ﷻ په نزد بې برکته ده، او روزي ورباندې نه اضافه کېږي.

ب: کوم مال چې تاسو خلکو ته د صدقې او خیرات په توګه ورکوئ، ترڅو د الله ﷻ رضامندي حاصله کړئ او خپل خانونه ورباندې د ګناهونو څخه تزکیه او پاک کړئ. نو دغه ډول ورکړه ستاسو دپاره با برکته او د رزق د زیادت باعثه ده.

لنډه دا چې د ذکر شوې ورکړې خاوندان همدوی د چندونو درلودونکي دي، او په څو چنده به ورته الله ﷻ د صدقاتو بدله ورکړي او رزق به یې ورته پراخه کړي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم په ﴿ فَـَٔاتِ ذَا ٱلْقُرْبَىٰ حَقَّهُۥ ﴾ کښې ځینو علماوو کرامو جائزه ګڼلې ده چې د ﴿ فَـَٔاتِ ﴾ په کلمې سره هر یو اورېدونکی یا هر یو مالدار مخاطب وګرځولی شي[۱]، مګر مونږ ته بهتره بریښي چې ذکر شوی خطاب به ـ د زیات اهتمام د امله ـ نبي کریم ﷺ ته اصالةً او ټول امت ته بالتبع متوجه وي، لکه چې همدغسې یو خطاب د همدې سورت په دېرشم [۳۰] ایت کښې لږ وړاندې تېر شوی دی چې ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ﴾ الآية.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه په ﴿ حَقَّهُۥ ﴾ کښې د حق څخه مطلق حق مطلب دی، برابره ده چې مالي وي یا غیر مالي وي او یا اخلاقي وي[۲].

## ربا څه معنی؟

۲ـ په ﴿ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن رِّبًا لِّيَرْبُوَا۟ فِىٓ أَمْوَٰلِ ٱلنَّاسِ ﴾ کښې د ﴿ لِّيَرْبُوَا۟ ﴾ کلمه د "رَبُوا، رِباءً" څخه اشتقاقه شوې ده، چې د زیادت معنی ورکوي، او د "رِبا" کلمه د همدغه باب دپاره اسم دی[۳]، یا په بل عبارت: د "رِبا" کلمه د هغه مال څخه عبارت ده چې په اصلي عوض باندې اضافه ورکړی شوی وي او یا اضافه اخستلی شوی وي.

پاتې شوه دا خبره چې په دې مقام کښې دغه مال د کوم مال څخه عبارت دی چې د الله ﷻ په نزد د زیادت درلودونکی نه دی؟ نو د دې جواب څخه وړاندې په کار دي چې یوه مقدمه په پام کښې ونیوله شي هغه دا چې

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۴۴

(۲) المحرر الوجيز ج۱۲ ص۲۶۲

(۳) لسان العرب ج۱۴ ص۳۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## مقدمه

۳_ په دې مقام باندې د ښه پوهېدلو دپاره لاندې ټکي په حفظ کښې ساتل په کار دي:
الف: کوم مال چې څوک چاته د هبې (بخشش) په توګه ورکوي هغه لاندې ډولونه درلودلی شي:
اول: چې په ورکړه کښې د ورکوونکي نیت صرف د الله ﷻ رضامندي وي او بس.
د دې ډول ورکړې نتیجه دا ده چې الله ﷻ به ورکوونکي ته ورکړی شوی مال په چندونو سره په خپل نزد کښې اضافه کړي.

همدې مضمون ته نبي کريم ﷺ په يوه حديث کښې اشاره کړې ده چې: «مَنْ تَصَدَّقَ بِعَدْلِ تَمْرَةٍ مِنْ كَسْبٍ طَيِّبٍ وَلَا يَقْبَلُ اللهُ إِلَّا الطَّيِّبَ فَإِنَّ اللهَ يَتَقَبَّلُهَا بِيَمِينِهِ ثُمَّ يُرَبِّيهَا لِصَاحِبِهِ كَمَا يُرَبِّي أَحَدُكُمْ فَلُوَّهُ حَتَّى تَكُونَ مِثْلَ الْجَبَلِ»[۱] يعنې هرڅوک چې د خپل پاکيزه کسب څخه د يوې کجورې په اندازه صدقه (خيرات) وکړي _او الله ﷻ نه قبلوي مګر پاکيزه_ نو يقيناً الله ﷻ به يې په ښي لاس (ډېر ښه قبول) سره قبوله کړي، بيا به يې خپل خاوند ته تربيه (غټه) کړي، لکه چې ستاسو يو کس د خپلې اسپې کوتی تربيه کوي (او غټوي)، آن تر دې چې ذکره شوې يوه کجوره به ورته د غره په مثل وګرځوي.
د دغه ډول ورکړی شوي مال څخه نبي کريم ﷺ استفاده نه کوله او دا ځکه چې په دغه ډول مال سره _فرضي وي او که نفلي_ د صدقه کوونکي ګناهونه وينځلی کېږي او خيرې او چرک لري. يا په بل عبارت: لکه څنګه چې په استعمال سره اوبه خيرنېږي همدارنګه په خيراتي مالونو کښې هم څه معنوي خيرې صورت نيسي، چې د نبي کريم ﷺ د پاک مزاج سره يې سمون نه خوري.
د همدې کبله کله به چې نبي کريم ﷺ ته څه شی وروړ شو نو پوښتنه به يې وکړه چې دا هديه ده او که صدقه؟ «فَإِنْ قِيلَ صَدَقَةٌ لَمْ يَأْكُلْ وَإِنْ قِيلَ هَدِيَّةٌ بَسَطَ يَدَهُ»[۲] يعنې نو که په جواب کښې به ورته وويلی شوه چې دا صدقه ده نو هغه به يې نه خوړ (استفاده به يې ترې نه کوله) او که ورته به وويلی شوه چې دا هديه ده نو خپل مبارک لاس به يې وروغزاوه.
دوهم: چې په ورکړه کښې د ورکوونکي نيت صرف رياکاري وي چې خلک ورباندې آفرين ووايي او د خلکو توجه خپل ځان ته راواړوي.
په دې ډوله هبه (ورکړه) کښې څه اجر او ثواب نشته، چې پوره بيان يې د الله ﷻ په توفيق د [يوسف:۱۰۶] ايت لاندې تېر شوی دی.
درېيم: چې په ورکړه کښې فقط د يوه دوست (يوه مسلمان ورور) خوشالول او راضي ساتل مطلب وي، دغه ډول ورکړه د تحفې او سوغات په نامه يادېږي. لکه چې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «تَصَافَحُوا يَذْهَبْ الْغِلُّ وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا وَتَذْهَبُ الشَّحْنَاءُ»[۳] يعنې تاسو د ملاقات په وخت کښې

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۱۸۹
(۲) سنن النسائي ج۱ ص۳۶۶
(۳) الموطأ للإمام مالک ص۵۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مصافحه وکړئ (یو بل ته لاس ورکړئ) چې په دې کار سره ستاسو کینه د منځه خي، او یو بل ته سوغاتونه او تحفې وکړئ چې په دې کار سره ستاسو ترمنځ محبت (مینه) پیدا کېږي او بغض (عداوت) مو د منځه ورکېږي.

څرنګه چې په هدایاوو او تحفو باندې ګناهونه نه وېنځلې کېږي او خیری پکښې صورت نه نیسي نو نبي کریم ﷺ به ترې استفاده کوله.

عائشه (أم المؤمنین رضی الله عنها) وايي چې: «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا»[۱] يقيناً نبي کريم ﷺ وه چې هدیه یې قبلوله او (هدیه کوونکي ته یې) ورباندې عوض هم ورکاوه.

همدارنګه نبي کريم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «وَمَنْ أَهْدَى لَكُمْ فَكَافِئُوهُ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُوهُ فَادْعُوا لَهُ»[۲] یعنې او هغه څوک چې تاسو ته څه تحفه درکړي نو تاسو یې بدل ورکړئ (تاسو هم بالمقابل تحفه ورکړئ) نو که هغه څه مو ونه موندل چې نوموړي ته یې په بدل کښې سوغات کړئ نو دعاء ورته وکړئ (او د الله ﷻ څخه ورته خیر وغواړئ).

ب: د تحفې بدل او عوض د "رِبَا" په نامه باندې هم یادېږي، او دا څکه چې وړاندې په دوهمه توضیح کښې تېر شوه چې د "رِبَا" کلمه د هغه مال نوم دی کوم چې په اصلي عوض باندې اضافه ورکړی شي. څرنګه چې په تحفو او سوغاتونو کښې اصلي مطلب د یوه دوست خوشالول وي، نو عوض اخستل پرې په اصلي مطلب باندې زیادت دی.

د همدې کبله عبد الله بن عباس رضی الله عنهما وايي چې: «الرِّبَا رِبَاءَانِ، فَرِبًا لا يَصِحُّ (رِبَا الْبَيْعِ)، وَرِبًا لَا بَأْسَ بِهِ، وَهُوَ هَدِيَّةُ الرَّجُلِ يُرِيدُ فَضْلَهَا وَإِضْعَافَهَا»[۳] یعنې سود په دوه ډوله دی، یو سود دی چې شرعاً صحت (او جواز) نه لري (چې هغه د بیو سود دی)، او بل سود دی چې څه ګناه پکښې نشته دا سود د سرې د تحفې او سوغات څخه عبارت دی چې زیادت او چندونه یې مطلب وي.

ج: که څوک وايي چې: په هغو تحفو کښې خو اخروي اجر او ثواب نشته په کومو باندې چې د عوض اخستل په نظر کښې نیولی شوي وي، چې دا کار پلورلو او پېرودلو ته ورته دی؛ نو ایا په هغو تحفو کښې هم ثواب نشته په کومو کښې چې عوض اخستل په نظر کښې نه وي نیولي شوي؟

مونږ وایو چې: په سوغاتونو (تحفو) کښې له دې حیثه چې تحفې دي مطلقاً هیڅ اجر نشته برابره خبره ده چې عوض اخستل په نظر کښې نیولی شوی وي او که نه[۴].

مګر په هغو سوغاتونو او تحفو کښې چې عوض اخستل پکښې په نظر کښې نه وي نیولی شوي بلکې د الله ﷻ د رضامندۍ دپاره د یوه مسلمان ورور د زړه خوشالي او محبت ورباندې باعث وي، نو امید دی چې د همدغه حیثه به الله ﷻ سوغات ورکوونکي ته ډېر اجرونه ورکړي. په دې حیث په

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۶
(۲) مسند احمد بن حنبل ج۲ ص۴۱۱
(۳) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۳۴
(۴) احکام القرآن للجصاص ج۳ ص۳۵۰؛ الدر المنثور ج۶ ص۴۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوغات باندې هغه متل صادقېږي چې وايي "هم ثواب او هم خرما". د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

اول: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ وَأَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِي إِنَاءِ أَخِيكَ»[۱] يعنې په شريعت کښې هر يو معروف کار صدقه ده او دا هم د شرعي معروف څخه ده چې ته د خپل ورور سره په پراخه مخ (تنده) ملاقي شې، او دا هم ده چې د خپلې بوقې څخه د خپل ورور په لوښي کښې څه اوبه ورتوی کړې (ورواچوې).

دوهم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ»[۲] يعنې هرڅوک چې د الله ﷻ دپاره محبت کوي او د الله ﷻ دپاره کينه (او عداوت) کوي، او هم د الله ﷻ د رضامندۍ دپاره ورکړه کوي، او د الله ﷻ دپاره د ورکړې څخه منعه کوي، نو يقيناً دغه کس خپل ايمان کامل کړ.

دريم: نبي کريم ﷺ د پخوانيو قومونو څخه د يوه سړي قيصه بيانه کړې ده چې د يوه دوست ليدلو ته روان وه او په لاره کښې ورسره يوې پرښتې لاندې سوال جواب وکړ:

پرښته: ته چرته ځې؟

سړی: زه اراده لرم چې يو ديني ورور ته ورشم کوم چې په دغه ښار کښې دی.

پرښته: ايا د هغه د پلوه تاته څه نعمت او ښېگڼه رسېدلې ده چې ته يې په خپل ورتګ سره پالې؟

سړی: نه! زما سره يې ښېگڼه نه ده کړې چې زه يې وپالم، زما د ورتګ باعث فقط همدا دی چې زه ورسره صرف د الله ﷻ دپاره محبت او مينه کوم.

پرښته: نو زه تاته اطلاع درکوم چې زه د الله ﷻ رالېږلې شوی بنده يم ترڅو تاته ورسوم چې: «قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ»[۳] يقيناً الله ﷻ ته محبوب وګرځولې لکه څنګه چې تا د الله ﷻ دپاره د نوموړي سره محبت درلود.

څلورم: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَا أَحَبَّ عَبْدٌ عَبْدًا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا أَكْرَمَ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ»[۴] يعنې هيڅ بنده د الله ﷻ دپاره د بل بنده سره محبت نه کوي، مګر نوموړی په حقيقت کښې د خپل رب ﷻ اکرام کوي.

## د "ربا" کلمه د کوم مال څخه عبارت ده؟

۴ـ د پورتنۍ مقدمې په پام کښې نيولو سره مونږ وايو چې په دې مقام کښې د ﴿ رِبًا ﴾ کلمه علماوو کرامو په دوه وو معناوو سره تفسيره کړې ده:

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۸
(۲) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۸۷
(۳) صحيح مسلم ج۲ ص۳۱۷
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۲۸۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: ځینې علماء کرام وايي چې: په دې مقام کښې د ﴿ رِبًا ﴾ د کلمې څخه ظاهري معنی مراده ده چې د معاملاتو سود دی او په قطعي توګه حرام دی[1]. يعنې الله ﷻ سودي مالونو ته په خپل نزد وده نه ورکوي بلکې محوه کوي يې؛ همدا مضمون په [البقرة:۲۷۶] ايت کښې تېر شوی دی.

ب: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما په شمول اکثره مفسرين کرام ترې دلته هغه هدايا او تحفې مرادوي د کومو په ورکړه چې د زيات عوض اخستل په نظر کښې نيولی شوی وي[2].

د قرآن کريم د نزول په زمانه کښې داسې خلکو موجوديت درلود چې په تحفو او هداياوو کښې به يې د زيات عوض اخستل مطلب وه. د مثال په توګه:

يوه ورځې يوه اعرابي سړي نبي کريم ﷺ ته يو جونګی د تحفې په شکل ورکړ خو نبي کريم ﷺ نوموړي ته په شپږو ځوانانو اوښانو سره عوض ورکړ، خو بيا هم نوموړی خپه وه.

کله چې نبي کريم ﷺ ته د نوموړي د خپګان خبر ورسېد نو الله ﷻ يې په حمد او ثناء سره ياد کړ او بيا يې وفرمايل چې: «إِنَّ فُلَانًا أَهْدَى إِلَيَّ نَاقَةً فَعَوَّضْتُهُ مِنْهَا سِتَّ بَكَرَاتٍ فَظَلَّ سَاخِطًا وَلَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ لَا أَقْبَلَ هَدِيَّةً إِلَّا مِنْ قُرَشِيٍّ أَوْ أَنْصَارِيٍّ أَوْ ثَقَفِيٍّ أَوْ دَوْسِيٍّ»[3] يعنې يقينًا ماته فلاني سړي يوه اوښه د تحفې په شکل راکړې وه، خو ما ورته په شپږو ځوانانو اوښو سره د هغې عوض ورکړ، نو د دې سره-سره نوموړی خپه شو، يقينًا ما قصد وکړ چې زه به د هيچا څخه تحفه قبوله نه کړم مګر د هغه چا څخه چې قريشي يا انصاري يا ثقفي او يا دوسي وي (چې دوی په دغسې مواردو کښې نه خپه کېږي).

## تبصره

۵ـ څرنګه چې ذکر شوي دواړه تفسيرونه سره يو تربله منافات نه لري نو بهتره دا ده چې: د ﴿ رِبًا ﴾ د کلمې څخه په ايت شريف کښې "ما يطلق عليه الربا" واخستل شي، ترڅو دواړو معناوو ته شامله شي. يعنې سود په يوه معنی سره هم د الله ﷻ په نزد کښې زيادت او برکت نه شي موندلی، خو يوازې د بيې د سود عاقبت او انجام د محوې سره هم مخامخ کېدونکی دی.

## د زکوة او إضعاف معناوې

۶ـ په ﴿ وَمَآ ءَاتَيْتُم مِّن زَكَوٰةٍ تُرِيدُونَ وَجْهَ ٱللَّهِ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُضْعِفُونَ ﴾ کښې د ﴿ زَكَوٰةٍ ﴾ کلمه علماوو کرامو په صدقې (خيرات) سره تفسيره کړې ده[4] برابره ده چې فرضي وي او که نفلي.

او د "مُضْعِفُونَ" کلمه د اسم فاعل صيغه ده چې "إِضْعَاف" څخه اشتقاقه شوې ده چې د مجردو مصدر يې "ضِعْف" ـ لکه "عِلْم" ـ دی، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الأعراف:۳۸] ايت لاندې ليکلي دي چې د "ضِعْف" کلمه په ډېرو امثالو کښې هم استعمالېږي، دلته همدغه استعمال مراد دی.

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۴۵
(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۴۸۴
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۳۱
(۴) تفسير الطبري ج۲۱ ص۴۸؛ تفسير القرطبي ج۱۴ ص۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دا د يو پلوه، او د بله پلوه د "إفعَال" د باب يوه خاصه دا هم ده چې فاعل د مجردو د مصدر خاوند وګرځي[۱].

نو په ذکرو شوو ملحوظاتو سره يې د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: او کوم مال چې تاسو ورکوئ هر ډول خيرات چې وي (نفلي وي او که فرضي) او ستاسو د الله ﷻ د رضامندی حاصلول نيت وی، نو همدغه کسان يعنې همدا تاسو په ثوابونو او اجرونو کښې د چندونو خاوندان ياست.

﴿ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۖ هَلْ مِن شُرَكَآئِكُم مَّن يَفْعَلُ مِن ذَٰلِكُم مِّن شَىْءٍ ۚ سُبْحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٤٠﴾ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِى ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِى عَمِلُوا۟ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٤١﴾ قُلْ سِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَٱنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلُ ۚ كَانَ أَكْثَرُهُم مُّشْرِكِينَ ﴿٤٢﴾ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ ٱلْقَيِّمِ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ يَوْمٌ لَّا مَرَدَّ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ ۖ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴿٤٣﴾ مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ ۖ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ ﴿٤٤﴾ لِيَجْزِىَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن فَضْلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٤٥﴾ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦٓ أَن يُرْسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٍ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ وَلِتَجْرِىَ ٱلْفُلْكُ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٤٦﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلًا إِلَىٰ قَوْمِهِمْ فَجَآءُوهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَٱنتَقَمْنَا مِنَ ٱلَّذِينَ أَجْرَمُوا۟ ۖ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٧﴾﴾.

[۴۰] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو يې پيدا کړي ياست، بيا يې روزي درکړې ده، بيا مو ارواګانې قبضه وي، بيا مو (د قيامت په ورځ) راژوندي کوي.

(ای مشرکانو!) ايا ستاسو د شريکانو (باطلو معبودانو) څخه هغه څوک شته کوم چې د دغو کارونو څخه څه کار وکړي؟ (د کوم يوه کار د کولو توان لري)؟.

(کله چې جواب منفي دی نو) الله ﷻ ته (د ټولو نواقصو څخه) پاکي ده، او د هغو (شريکانو د شرکت) څخه ډېر اوچت دی کوم چې مشرکان يې ورسره (په عبادت کښې) شريکان بولي.

[۴۱] په وچه او لمده (ښارونه وي او که دريابونه) د هغو جناياتو د کبله فساد (بې نظمي) بروز کوي (څرګندېږي) د کومو چې د خلکو لاسونه کسب کوي، (البته دا) د دې دپاره چې الله ﷻ دوی ته

(۱) صرف العزيز ص۲۸۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د هغو (جناياتو د جزا) څه برخه په دنيا کښې وروڅکې کوم چې دوی عملي کړي دي، شايد چې دوی (الله ﷻ ته) رجوع وکړي (او د جناياتو د ارتکاب څخه توبه تائب شي).

[۴۲] (اى پيغمبره! مشرکانو ته) ووايه چې: تاسو په ځمکه سير وکړئ (پکښې وګرځئ راوګرځئ نو وګورئ چې د هغو کسانو عاقبت (انجام) څنګه شو کوم چې وړاندې (تېر شوي) دي؟ (ايا هغوی د الهي غضب لاندې رانغله؟ او دا ځکه چې) د هغوی اکثريت مشرکان (مفسدان) وه.

[۴۳] نو خپل مخ دې مستقيم دين ته ودروه (په تعميل کښې ورته بشپړه توجه وکړه، او ستا امت دې هم همداسې وکړي. البته) د داسې ورځې د راتګ څخه وړاندې چې د الله ﷻ د پلوه هغې ته بېرته ستنول نشته (ضرور راتلونکې ده)، په دغې ورځ کښې به خلک (په جدي او قوي توګه) جدا جدا شي.

[۴۴] (نو هر چا چې (په دنيا کښې) کفر غوره کړی وه په هغه باندې به (د) خپل کفر (جزا وربار) وي. او چا چې (په دنيا کښې) صالح عمل کړی وي نو د دوی د خپلو ځانونو دپاره د ارام نيولو ځايونه برابروي (دوی ته به د ارام ځای ورکړی شي).

[۴۵] (البته دا) د دې دپاره چې الله ﷻ هغو کسانو ته د خپل فضل د کبله (نېکه) جزا ورکړي کومو چې ايمان راوړی وي او نېک عملونه يې هم کړي وي. يقيناً الله ﷻ کفار نه خوښوي (چې پوره څرګندونه به يې د قيامت په ورځ صورت ونيسي).

[۴۶] او د الله ﷻ (د توحيد) د دلايلو څخه دا هم ده چې الله ﷻ (په خپل کامل قدرت سره) بادونه په داسې حال چلوي چې (په باران سره) زيری ورکوونکي دي.

(البته دا د دې دپاره چې خلک خوشاله کړي) او د دې دپاره چې الله ﷻ د خپل رحمت (باران) څه برخه و. وڅکي، او د دې دپاره چې د الله ﷻ په امر سره (په دريابونو کښې چې د باران څخه سرچينه اخلي) ... جاري شي (او پکښې وچلېږي)، او (هم) د دې دپاره چې تاسو د الله ﷻ فضل (حلال مال) څخه څه پلټنه وکړئ. او (بالآخره د دې دپاره چې) شايد تاسو (د الله ﷻ د نعمتونو) شکريه وکړئ (او په سوچه عبادت يې مشغول شئ).

[۴۷] او يقيناً مونږ ستا څخه مخکښې (ډېر) پيغمبران خپلو قومونو ته ورلېږلي وه، نو هغوی (په خپلو-خپلو وختونو کښې) د معجزاتو سره ورغله (خو قبول يې نه کړه) نو مونږ د هغو کسانو څخه (په هلاک سره) انتقام واخست کومو چې جرمونه (او جنايات) کول.

او په مونږ باندې (په دوامداره توګه) د مؤمنانو نصرت حق (او ثابت) دی (مونږ دا کار تفضلاً په خپل اقدس ذات باندې لازم کړی دی).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

۱ _ د سورت د پيل څخه په محوري موضوع (عقيده) کښې بحث راروان دی، خو د څه مناسباتو د کبله په وراندېنيو ايتونو کښې څه نور مطالب نازل شوه، کله چې هغه ختم شوه نو په دې ايتونو کښې د کلام مخ بېرته محوري موضوع ته اړولی شوی دی او لاندې نکاتو ته پکښې اشاره شوې ده:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د الله ﷻ د توحید دلایل، د شرک او کفر دنیوي او اخروي نتائج او مفاسد، نبي کریم ﷺ ته د نصرت وعده او تسلي، کفارو ته د عذاب وعید، او داسې نور؛ چې حاصل یې داسې راځېږي:

د الله ﷻ د وحدانیت په ارتباط مشرکان مخاطب کړه او پوښتنه ورته راجع کړه چې:

۲_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په دوامداره توګه لاندې کارونه کوي:

الف: تاسو یې د نشت څخه پیدا کړي یاست او درګرده د نشت څخه مو پیدا کوي.

ب: بیا په دنیا کښې تاسو ته د خپلې ارادې په مطابق روزي درکوي او ژوندي مو ساتي.

ج: بیا د ټاکلي عمر د پوره کېدلو څخه وروسته ستاسو ارواګانې قبض کوي، او بېرته مو د عدم خوا ته سوقوي.

د: بیا مو د قیامت په ورځ بېرته راژوندي کوي او د حساب کتاب دپاره مو په خپل حضور کښې دروي.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا ستاسو د باطلو معبودانو او خیالي شریکانو څخه داسې څوک شته چې د ذکرو شوو کارونو څخه کوم یو کار وکړي او یا یې وکړی شي؟

یا په بل عبارت: ستاسو په موجودیت کښې ستاسو معبودان څه مداخله کولی شي؟ ایا دوی تاسو ته روزي پراخولی یا تنګولی شي؟ یا دوی تاسو ته د مرګ څخه نجات درکولی شي؟ بالآخره: ایا دوی ستاسو د بېرته راژوندي کولو مخه نیولی شي؟

معلومه ده چې په ذکرو شوو ټولو پوښتنو کښې جواب منفي دی، نو تاسو په کوم دلیل او کوم استحقاق هغوی د الله ﷻ سره په عبادت کښې شریکان ګرځوئ حال دا چې هغوی ستاسو په هکله د هیڅ تصرف توان نه لري.

حقیقت دا دی چې الله ﷻ ته د هر ډول نواقصو څخه پاکي ده او د هغو شریکانو د اشتراک څخه ډېر اوچت دی کوم چې کفار یې ورسره د خپلو خیالاتو په مطابق شریکوي.

۳_ ای پیغمبره! د کفر او نورو جنایاتو اثرات په دنیا کښې د مرتکبینو پورې منحصر نه پاتې کېږي بلکې په دوامداره توګه په دنیا کښې ظهور کوي او نورو ته هم تجاوز کوي. د مثال په توګه:

الف: د همدغو جنایاتو او کفریاتو د بدو اثراتو په سبب ښارونه د فسادونو سره مخامخ کېږي او خلک پکښې یو د بل ګرېوان ته لاس اچوي، او یا پکښې مرضونه او آفتونه خورېږي.

ب: د همدغه سببه په دریابونو کښې بېړۍ او اوبتلونه غرقېږي، او هم دریابونه طغیان کوي او په ښارونو او کلو باندې ورخېژي، او یا پکښې بحري جنګونه صورت نیسي او خلک پکښې د هلاکت سره مخامخ کېږي او داسې نور.

ذکر شوي اثرات د دې دپاره متحقق کېږي چې جنایتکاران د خپلو جنایاتو څه جزاوې او اثرات په دنیا کښې وګوري او وڅکي ترڅو د خپلو جنایاتو څخه لاس واخلي او مخونه ترې واړوي. یا په بل عبارت: ترڅو توبه تائب شي او خپل رب ﷻ ته وروګرځي، البته د جنایاتو جزاوې به یې د قیامت په ورځ تکمیل شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۴ـ ای پیغمبره! که مشرکان په ذکره شوې خبره باندې باور نه کوي او یقین یې نه راځي چې د جنایاتو په سبب په دنیا کښې آفتونه راڅرګندېږي، نو ته هغوی مخاطب کړه او ورته ووایه چې:

الف: تاسو لاړ شئ او په ځمکه کښې ورانې ویجاړې کنډوالې وګورئ او بیا ښه فکر وکړئ چې هغوی په څه سبب هلاک شوي دي؟ یا په بل عبارت: د هغو مشرکانو او کفارو عاقبت څنګه وه کوم چې وړاندې تېر شوي دي؟

ب: ایا هغوی ته د خپلو جنایاتو او کفریاتو د کبله آفتونه نه وه رسېدلي؟

هو! هغوی د دې کبله هلاک شوي وه چې زیات شمېر یې مشرکان وه، او په شرک او کفر کښې امامان او مشران وه، چې په نتیجه کښې مشران او کشران په الهي عذاب باندې اخته شوه.

۵ـ ای پیغمبره! څرنګه چې دنیا د الله ﷻ په نوم اباده ده او ته آخر الزمان پیغمبر یې، ترڅو چې ستا دین په دنیا کښې پیروان ولري نو قیامت به نه قائمېږي، د دنیا بقاء ستا د دین د بقاء پورې تړلې ده؛ نو ته خپله په همدغه مستقیم دین باندې قائم اوسه او خپله ټوله توجه همدغه دین ته ورواړوه او دعوت ورته وچوله، همدارنګه ستا امت دې همدغه کار وکړي ترڅو د دین په برکت سره دغه دنیا تر ټاکلي وخته پورې باقي پاتې شي او د زوال سره مخامخه نه شي.

لنډه دا چې تاسو د خپل دین تعمیل ته ادامه ورکړئ البته د هغه څخه وړاندې چې د قیامت ورځ قائمه شي او دنیا ورانه شي. د قیامت ورځ ضرور او هرومرو په خپل وخت راتلونکې ده او د الله ﷻ د جانبه هغې ته ستنول او وروسته کول نشته.

۶ـ کله چې د قیامت ورځ قائمه شي نو په دغې ورځ کښې به ټول خلک په لاندې دوه وو ډلو سره ببېل-ببېل شي:

الف: هر چا چې په دنیا کښې کفر غوره کړی وي نو په هغه باندې به په دغې ورځ د خپل کفر مکمله جزا ورواچوله شي، او په دائمي توګه به په دوزخ کښې وروغورځولی شي.

ب: هرڅوک چې نن ورځ ایمان راوړي او نېک عملونه کوي نو هغوی په حقیقت کښې د خپلو ځانونو دپاره ارامګاه جوړوي. نو د قیامت په ورځ به په همدغې ارامګاه کښې د خوشالۍ دائمي ژوند تېروي او جنتونو ته به داخل کړی شي.

البته دا د دې دپاره چې الله ﷻ د خپل فضل څه برخه هغو کسانو ته د جزا په شکل ورکړي کومو چې په دنیا کښې ایمان راوړی وي او نېک عملونه یې کړي وي.

۷ـ یقینًا الله ﷻ کفار نه خوښوي (که څه هم په دنیا کښې تر څه وخته پورې روزي ورکوي) دا ناخوښي به په هغه ورځ ښه پوره څرګنده شي کله چې جنتیان جنت ته داخل شي او دوزخیان دوزخ ته سر په خړې ورټېل وهل شي.

۸ـ اما په دنیا کښې د الله ﷻ د پلوه د کفارو د ناخوښۍ څرګندونه په بشپړه توګه صورت نه نیسي، د مثال په توګه: د الله ﷻ د نعمتونو او د قدرتي دلایلو څخه دا هم ده چې هوا ته حرکت ورکوي او د یوه ځایه یې بل ځای ته انتقالوي. دا د دې دپاره چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: دغه بادونه تاسو ته زیری درکوونکي دي چې هغه دی باران راروان دی، سات ګری ته به راباندې راوورېږي.

ب: ترڅو الله ﷻ تاسو ته ـ د زیري په مطابق ـ د خپل رحمت (باران) څخه څه برخه دروڅکي او څه خُوند به یې درپېرزو کړي.

ج: په بادونو کښې یو حکمت دا هم دی چې د الله ﷻ په امر سره ورباندې په دریابونو کښې بېړۍ چلېږي.

د: بل حکمت پکښې دا دی چې تاسو د بېړیو په ذریعه د یوې وچې څخه بلې وچې ته لاړ شئ او راشئ او هم تجارتي مالونه انتقال او را انتقال کړئ.

هـ: بالآخره ترڅو تاسو د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړئ، ستاسو کائره ډله د کفر څخه د اسلام دین ته راوګرځي او ستاسو جنایتکاره ډله د جنایت څخه لاس واخلي. که بالفرض الله ﷻ په دنیا کښې د کفارو د ناخوښۍ پوره څرګندونه کولی نو کفارو ته به یې د ذکرو شوو نعمتونو څخه د استفادې توان نه وي ورکړي او نه به یې د ګټې پورته کولو فرصت وربښلی وی.

۹ـ ای پیغمبره! کفار د الله ﷻ د نعمتونو څخه استفاده کوي خو شکریه یې نه کوي او تاته د دروغژن نسبت کوي، نو ته ډېر مه غمژن کېږه، او دا ځکه چې:

الف: مونږ ستا څخه وړاندې ډېر پیغمبران د معجزاتو سره خپلو-خپلو قومونو ته استولي وه خو تولو قومونو په خپل-خپل وار تکذیب کړه، او ایمان یې ورباندې رانه ووړ.

ب: خو نتیجه یې دا شوه چې مونږ ترې په دنیا کښې هم څه ناڅه انتقام واخست او مؤمنانو ته مو ورباندې بری ورکړ، او پوره انتقام یې د قیامت ورځې ته وروسته شوی دی.

ج: د انتقام اخستل په پخوانیو کفارو پورې اختصاص نه درلود، او نه یې لري، بلکې مونږ په خپل اقدس ذات باندې تفضلاً او ترحماً لازمه کړې ده چې مونږ به د کفارو څخه انتقام اخلو او مؤمنانو ته به ورباندې نصرت ورکوو.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ ﴾ کښې باید لاندې نکات په نظر کښې ونیولی شي:

الف: د "فَسَاد" کلمه دېته وضعه شوې ده چې یو شی د اعتدال څخه خارج شي، برابره خبره ده چې خروج یې لږ وي او که ډېر، چې په مقابل کښې یې د "صَلاح" کلمه استعمالېږي[۱].

پاتې شوه دا خبره چې په دې مقام کښې د نوموړې کلمې څخه څه معنی مراده ده؟ نو د دې جواب دا دی چې: ځینو علماوو کرامو خو جانزه ګڼلې ده چې دلته ترې کسبي فسادونه مراد شي،

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۹۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



لکه وژل او وهل او یا غصب او غلا او نور[۱]، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته ذکره شوې کلمه په عموم سره پرېښودله شي ترڅو غیر کسبي فسادونو ته هم شامله شي، لکه غرق او طوفان او هم وچکالي او مرضونه او نور.

ب: د "بَر، بَحْر" دواړو کلمو لغوي معناوې خو څرګندې دي چې بیابان او دریاب دی، خو د مقام په لحاظ سره یې په مراد کښې په لاندې ډول اختلاف دی:

اول: ځینې علماء کرام وایي چې دلته دواړه کلمې په خپلو لغوي معناوو باندې پاتې دي، چې "بَر" د بیابان معنی ورکوي او "بَحْر" دریاب ته وضعه شوې ده[۲].

دوهم: اکثره علماء کرام وایي چې د "بَر" کلمه دلته په خپله اصلي معنی باندې پاتې ده مګر د "بَحْر" څخه اباد ښارونه مطلب دي[۳].

دغه ډول معنی په یوه اوږده حدیث کښې هم روایت شوې ده چې کله رئیس المنافقین د نبي کریم ﷺ سره غیر انساني وضعه وکړه نو سعد بن عبادة ﷺ نبي کریم ﷺ ته داډ ورکړ چې: «وَلَقَدْ اجْتَمَعَ أَهْلُ هَذِهِ الْبَحْرَةِ عَلَى أَنْ يَتَوَجُوهُ فَيُعَصِّبُوهُ» [۴] ای پیغمبره! ستا د راتګ څخه وړاندې د دغه ښار (مدینې منورې) خلکو اتفاق کړی وه چې نوموړي ته تاج ورپه‌سر کړي او د مشرۍ پګړۍ ورته وتړي خو د دوی دغه پلان ستا په راتګ سره شنډ شو چې نوموړی ـ رئیس المنافقین ـ وریاندې ډېر په غُصه شو، نو ځکه یې ستا سره غیر انساني وضعه وکړه.

په دې حدیث کښې د مدینې منورې د ښار څخه په «هَذِهِ الْبَحْرَةِ» سره تعبیر شوی دی.

مونږ ته غوره برېښي چې د "بَر" کلمه په خپله اصلي معنی سره پرېښودله شي او د "بَحْر" کلمه د ما یطلق علیه البحر (هر هغه شی چې د بحر اطلاق پرې کېږي) په تاویل سره ښارونو او دریابونو دواړو ته شامله شي.

دا معنی ځکه غوره ده چې فسادونه خو په بیابانونو او ښارونو پورې انحصار نه لري، په دې زمانه کښې خو بحري جنګونه د هیچا څخه پټ نه دي.

## سوال جواب

ج: که څوک وایي چې: دنیاوي مصیبتونه خو صالحانو ته لا څه چې پیغمبرانو ته هم رسیدلي دي، نو ایا دغسې پېښې د ایت شریف سره څه منافات نه لري؟

مونږ وایو چې: د الله ﷻ په توفیق د [الأنفال:۲۵] او [الرعد:۱۱] ایتونو لاندې ښه تحقیقي بحث تېر شو دی چې د ذکر شوي سوال د جوابولو دپاره کفایت کوي.

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۴۸
(۲) المحرر الوجیز ج۱۲ ص۲۶۵
(۳) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۸۵؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۳۵
(۴) صحیح البخاري ج۲ ص۸۴۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خو په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې: په ایت شریف کښې د ﴿ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ ﴾ کلمات نازل شوي دي. نو حاصل يې داسې راخېژي چې: د خلکو د ګناهونو د کبله په دنيا کښې مصيبتونه عموميت پيدا کوي حتی هغه کسان هم ورباندې اخته کېږي کوم چې د ګناهونو نه وي مرتکب شوي، او يا هغه کسان کوم چې د ګناه څخه په عصمت کښې دي.

نبي کريم ﷺ ته د احد په غزا کښې مصيبت ورسېد خو د خپله لاسه نه بلکې د هغه ټولګي د ګناه د کبله کوم چې پوره قيصه يې د [آل عمران:۱۴۴] ايت لاندې تېره شوې ده، والحمد لله ﷻ.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ ﴾ جمله لږ وړاندې په [۳۰] ايت کښې يو خل نازله شوې ده نو پوښتنه دا ده چې په تکراري نزول کښې يې څه حکمت دی؟

مونږ وايو چې: دواړه خطابونه د مقام په لحاظ فرق لري، تکرار پکښې نشته، هغه دا چې:

الف: د اولني خطاب مقام دا وه چې د اسلام دين فطري دين دی، که کفار يې نه مني، نه دې مني، تاسو ورباندې کلک او قائم اوسئ.

ب: د دوهم خطاب مقام دا دی چې د اسلام دين د فسادونو مخنيوی کوي او دنيا د ورانېدلو څخه ساتي. که کفار يې په عمل کښې نه پياده کوي نو تاسو ورباندې پوره کلک اوسېږئ ترڅو دنيا خپل وروستني پړاو ته ورسېږي او تاکلی عمر پوره کړي.

## د اسلام دين د بقاء او برکت دين دی

۳ـ د اسلام دين د بقاء او برکت دين دی چې په قوت سره يې برکتونه زياتېږي او په کمزورۍ سره يې کمېږي. د برکتونو کمبود د انسان پورې انحصار نه لري بلکې په حشراتو او حيواناتو باندې يې هم اثر لوېږي. د ښه وضاحت دپاره لاندې نکات ولولئ:

الف: د [المائدة:۹۷] ايت په مطابق، د دنيا عمر د اسلام دين پورې تړاو لري، ترڅو چې د اسلام دين پيروان ولري دنيا به باقي وي، که نه نو ضرور به د زوال سره مخامخ کېږي او قيامت به قائمېږي.

ب: ابو هريره ﷺ فرمايلي دي چې: «إِقَامَةُ حَدٍّ بِأَرْضٍ خَيْرٌ لِأَهْلِهَا مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً»[۱] يعنې په ځمکه د يوه شرعي حد قائمول (اجراء کول) د ځمکې د اهاليو دپاره د څلوېښتو شپو باران څخه ډېر ښه دی. يا په بل عبارت: د څلوېښتو شپو په باران سره ځمکه دومره برکتونه نه ښکاره کوي څومره چې د يوه شرعي حد په اجراء کولو سره يې راښکاره کوي، او دا ځکه چې د حدودو په اجراء سره جنايتکاران د اسلام د دين تعميل ته راګرځي او د ځمکې برکت زياتېږي.

که څه هم ذکر شوی حديث موقوف دی مګر حکماً مرفوع ګڼلی کېږي، ځکه چې دغسې مضمون کوم صحابي د خپله ځانه (بدون د اوربدلو څخه) نه شي ويلی.

---

(۱) سنن النسائي ج۲ ص۲۵۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيَا وَأَذَاهَا إِلَى رَحْمَةِ اللهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيحُ مِنْهُ الْعِبَادُ وَالْبِلَادُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَابُّ»[1] یعنې مومن بنده (چې کله مړ شي نو) د دنیا د مشقتونو او اذیتونو څخه د الله ﷻ رحمت ته ورخلاص شي (ستوماني يې ووځي)، او فاجر سړی (چې کله مړ شي نو) د هغه د شره نور بندګان او ښارونه او هم ونې او په ځمکه ګرځېدونکي ساکښان په استراحت شي (کومه بې برکتي چې د هغه د جنایاتو د کبله په ځمکه خوره وه د هغې لمن ټوله شي).

د: نبي کریم ﷺ په یوه ډېر اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې: «ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ أَنْبِتِي ثَمَرَتَكِ وَرُدِّي بَرَكَتَكِ فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ وَيَسْتَظِلُّونَ بِقِحْفِهَا وَيُبَارَكُ فِي الرِّسْلِ» الحدیث[2] یعنې کله چې الله ﷻ دجال او زوزي مازوزي هلاک کړي او عیسی ﷺ په ځمکه کښې الهي عدالت قائم کړي نو د الله ﷻ د پلوه به ځمکې ته وویلی شي چې: ای ځمکې! خپلې میوې دې رازرغونې کړه او خپل برکتونه دې بېرته راوګرځوه.

نو برکتونه به دومره زیات شي چې یوه ډله کسان به یو انار خوري او د پوستکي څخه به يې د خپلو ځانونو دپاره سوري جوړوي او ټول به ترې لاندې ځایېږي. او په شودو کښې به هم ډېر زیاتوالی صورت ونیسي چې: یوه لنګه اوښه به د یوه لوی قوم دپاره کفایت کوي، او یوه لنګه غوا به یوه غټې ټولګۍ ته شوده ورکوي، او یوه لنګه ګډه به د یوې وړوکې کورنۍ د شودو ارتیاوې پوره کوي.

## یادونه

۴ـ په پورتني حدیث کښې د «وَرُدِّي بَرَكَتَكِ» کلمې څخه څرګندېږي چې بتداء کښې د ځمکې برکتونه زیات وه خو د بې عدالتۍ د کبله په ورو-ورو کم شوي دي. د همدې مطلب لاندې تائید ولولئ:

ځینې محدثین په یوه اوږده روایت کښې وايي چې: "وُجِدَ فِي زَمَنِ زِيَادٍ أَوْ ابْنِ زِيَادٍ حُفْرَةٌ فِيهَا حَبٌّ أَمْثَالُ النُّوَمِ عَلَيْهِ مَكْتُوبٌ هَذَا نَبَتَ فِي زَمَانٍ كَانَ يُعْمَلُ فِيهِ بِالْعَدْلِ"[3] یعنې د زیاد یا ابن زیاد په زمانه کښې په ځینو حفریاتو (کندو) کښې یوه کڅوړه ومونډله شوه چې په هغې کښې (د غنمو) داسې داني وې چې د اوږې د دانو په اندازه غټې وې، او وربانديې لیکلي شوي وه چې دغه په داسې زمانه کښې زرغون شوي دي په کومه کښې چې په عدل باندې عمل کېده (او د اسلام دین عملي وه).

د همدې مطلب تائید د ځینو اقوالو څخه هم څرګندېږي[4] خو مونږ ته قوي ښکاره نه شوه نو دلته مو رانقل نه کړه، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو همدلته دې مراجعه وکړي.

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۹۶۴
(۲) صحیح مسلم ج۲ ص۴۰۲
(۳) مسند احمد ج۲ ص۱۵۴
(۴) روح المعاني ج۲۱ ص۴۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## صدع څه معنی؟

۵- په ﴿ يَوْمَئِذٍ يَصَّدَّعُونَ ﴾ كښې د ﴿ يَصَّدَّعُونَ ﴾ كلمه د "تَفَعُّل" د باب څخه ده خو د مجردو مصدر يې "صدع" دى، او مونږ د الله ﷻ په توفيق د [الحجر:۹۴] ايت لاندې ليكلي دي چې د يوه كلک شي ماتول د "صدع" په نامه يادېږي، چې جدا كېدل ورسره لازم دي.

په دې مقام كښې يې د "تَفَعُّل" د باب په لحاظ د معنى حاصل داسې راخېژي چې: په دغې ورځ كښې به خلک په ډېر قوي ډېلتون سره يو تربله ډېل او جدا شي چې بيا به تر ابد الآباد پورې (تل ترتله) سره راغونډ نه شي، هغه دا چې يوه ډله به جنت ته لاړ شي او بله ډله به په دوزخ كښې وروغورځولى شي، العياذ بالله ﷻ.

## يو نحوي تحليل

۶- په ﴿ مُبَشِّرَٰتٍ وَلِيُذِيقَكُم مِّن رَّحْمَتِهِۦ ﴾ كښې ځينو علماوو كرامو متعدد احتمالات ليكلي دي[۱] چې د ﴿ وَلِيُذِيقَكُم ﴾ جمله په څه شي باندې عطفه ده، مگر بهتره دا ده چې دا جمله په هغې جمله باندې عطفه ده كومه چې د ﴿ مُبَشِّرَٰتٍ ﴾ د كلمې څخه فهمېږي، نو صورت به يې داسې جوړ شي چې: "لِيُبَشِّرَكُمْ وَلِيُذِيقَكُمْ مِنْ رَحْمَتِهِ"[۲]. يعنې الله ﷻ په داسې حال كښې بادونه چلوي چې زيرى وركوونكي دي، دا د دې دپاره چې تاسو ته د يو پلوه زيرى دركړي او د بله پلوه د خپل رحمت (باران) څخه څه برخه در وڅكي (درنازله كړي).

## يادونه

۷- د ﴿ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ په ارتباط د [النساء:۱۴۱] ايت لاندې ښه خوندور بحث تېر شوى دى، چې الله ﷻ د مؤمنانو نصرت په خپل اقدس ذات باندې ترحمًا لازم كړى دى خو د دې سره-سره په دنيا كښې په ځينو ځايونو كښې مؤمنان ماتې خوري. هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وكړى شي.

﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى يُرْسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُۥ فِى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ يَشَآءُ وَيَجْعَلُهُۥ كِسَفًا فَتَرَى ٱلْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلَٰلِهِۦ ۖ فَإِذَآ أَصَابَ بِهِۦ مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦٓ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿٤٨﴾ وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم مِّن قَبْلِهِۦ لَمُبْلِسِينَ ﴿٤٩﴾ فَٱنظُرْ إِلَىٰٓ ءَاثَٰرِ رَحْمَتِ ٱللَّهِ كَيْفَ يُحْىِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَآ ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمُحْىِ ٱلْمَوْتَىٰ ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ

---

(۱) البحر المحيط ج۸ ص۳۹۸

(۲) اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۴۲۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴿٥٠﴾ وَلَئِنۡ أَرۡسَلۡنَا رِيحٗا فَرَأَوۡهُ مُصۡفَرّٗا لَّظَلُّواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ يَكۡفُرُونَ ﴿٥١﴾ فَإِنَّكَ لَا
تُسۡمِعُ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ﴿٥٢﴾ وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِ ٱلۡعُمۡيِ عَن
ضَلَٰلَتِهِمۡۖ إِن تُسۡمِعُ إِلَّا مَن يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُم مُّسۡلِمُونَ ﴿٥٣﴾ ﴾

[۴۸] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې بادونه رالېږي (چلوي) نو وريځې (ورباندې) پورته کوي (پيدا کوي) نو الله ﷻ وريځې په اسمان کښې (په هوا کښې) خوروي څنګه يې چې اراده وشي (هر لور ته او په هر ډول سره).

او الله ﷻ (کله-کله) وريځې ټوټې-ټوټې ګرځوي، نو ته (په هر صورت کښې) ګورې چې څاڅکي (باران) يې د منځه راوځي (او په ځمکه ورېږي)، نو کله چې الله ﷻ په دې (باران) سره د خپلو بندګانو څخه هغه چاته (څه برخه) ورسوي کومو ته يې چې اراده وشي نو ناڅاپه هغوی خوشاله شي.

[۴۹] او (حال دا چې) يقيناً همغوی د دې څخه وړاندې چې باران ورباندې ورنازل شي (فقط) د باران د نزول څخه مخکښې هرومرو (د ورېښت څخه) نااميدي کوونکي وه.

[۵۰] نو (ای اورېدونکيه!) ته د الله ﷻ د رحمت (باران) آثارو ته وګوره چې څنګه (مړه) ځمکه د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته راژوندۍ کوي (او نباتات پکښې زرغونوي).

بې شکه همدغه کار کوونکی (الله ﷻ) ضرور (د قبرونو څخه) د مړو ژاوندي کوونکی (هم) دی، او همدا (الله ﷻ) په هر شي باندې د (کامل) قدرت درلودونکی دی.

[۵۱] او که چېرته مونږ (په همدغې زرغونې ځمکې باندې تود يا سوړ) باد وروچلوو نو (ذکر شوې خوشالېدونکي خلک خپل) نبات (شنيلی) تک زېړ وګوري نو ضرور د خوشالۍ څخه وروسته دوی ناشکري کوي (ته به وايې چې پخوا ورته هيڅ نعمت نه وه ورکړی شوی).

[۵۲] نو (ای پيغمبره!) يقيناً ته مړو ته (خپل دعوت) نه شې ور اوروَلی او نه کڼو ته خپل دعوت وراوروَلی شې (او خاصتاً) هغه وخت چې هغوی په داسې حال کښې مخ اړونکي وي چې مخ بېرته روان وي (او تاته يې شاګانې دراړولې وي).

[۵۳] او (ای پيغمبره!) ته د ړندو د ضلالت څخه د دوی هدايت کوونکی نه يې (چې نجات ورکړې او مطلب ته يې ورسوې).

ته (خپل دعوت) نه شې ور اوروَلی (نجات نه شې ورکولی) مګر هغه چاته چې زمونږ په ايتونو باندې يې ايمان راوړي نو دوی (مونږ ته) غاړه ايښودونکي وي.

## ارتباطونه

۱ ـ په وړاندېنيو ايتونو کښې د ﴿ أَن يُرۡسِلَ ٱلرِّيَاحَ مُبَشِّرَٰتٖ ﴾ کلمات مجمل نازل شوي وه، خو په دې ايتونو کښې يې اجمال پوره شوی او څه تفصيل ورکړی شوی دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۲_ دا ایتونه د وړاندېنیو ایتونو غونډې د توحید په دلایلو شروع شوي او نبي کریم ﷺ ته په تسلي ورکولو ختم شوي دي.

۳_ هلته د خلکو د جنایاتو بدو اثراتو ته اشاره شوې وه او دلته د دوی بې ثباتۍ او ناټینګۍ ته اشاره کېږي. نو حاصل یې داسې راځېږي:

## د مطلب خلاصه

ای پیغمبره! په خپل امت باندې څه نور مطالب هم قرائت کړه، هغه دا چې:

۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې په ځمکه کښې بادونه چلوي، دغه بادونه په لاندې لحاظونو سره د الله ﷻ د کامل قدرت او د ده ﷻ د وحدانیت څخه نمایندګي کوي:

الف: دغه بادونه وریځې پورته کوي، او په هوا کښې یې موجودوي، ایا د ده ﷻ څخه په غیر بل څوک وریځ موجودولی شي؟

ب: الله ﷻ بیا دغه وریځې په هوا کښې خوروي او هر لور ته یې چې اراده وشي همغه لور ته یې سوقوي.

ج: دغه وریځې کله-کله نرۍ-نرۍ او باریکه وي او کله-کله ترې الله ﷻ غټې-غټې توټې جوړوي، ته به وایې چې غرونه دي او یو د بل د پاسه ایښي دي.

د: بیا ته ګورې چې د همدغې وریځې د منځونو څخه د اوبو څاڅکی راوځي او په ځمکه باندې په مختلفو کیفیتونو سره راوریږي، کله نرۍ-نرۍ او کله په شېبو-شېبو او داسې نور.

ه: کله چې الله ﷻ همدغه څاڅکي او باران د خپلو بندګانو د جملې څخه هغه چاته ورسوي کومو ته یې چې اراده وشي او وریاندې یې ووروي، نو په ناڅاپي توګه هغوی خوشاله او خوښ شي.

و: یقینًا همدغه په باران باندې خوشالېدونکي خلک د اورښت څخه مخکښې داسې ناامیده وه چې د باران د شروع پورې یې خپلې ناامیدۍ ته ادامه ورکوله. یا په بل عبارت: د عدم باران د کبله د هغوی د ناامیدۍ او په باران سره د هغوی د خوشالۍ ترمنځ څه وخت نه وي تېر شوی چې د وخت د تېرېدلو په سبب یې ناامیدي هېره شوې وي، بلکې خوشالي او ناامیدي یې سره یو تربله پیوستون لري خو د خپلې بې ثباتۍ د امله د ناامیدۍ څخه سمدستي طغیان او سرکشۍ ته وردانګي.

۲_ نو ای کتونکیه! ته وګوره چې الله ﷻ په خپل رحمت (باران) سره څنګه مړه ځمکه د هغې د مرګ (وچوالي) څخه وروسته راژوندۍ کوي؟

او وګوره چې په روحاني باران (قرآن کریم) سره څنګه مړه زړونه په اسلام سره مشرف ګرځوي او د کفر څخه نجات ورکوي؟.

همدارنګه الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره د قبرونو څخه د مړو ژوندي کوونکی هم دی، چې د قیامت په ورځ به ټول مبعوث کړي او د حساب کتاب دپاره به یې په خپل حضور کښې ودروي، او دا ځکه چې الله ﷻ په هر شي باندې د کامل قدرت څښتن دی، چې د وچې ځمکې راشنه کول او د مړو راپاڅول ورته هیڅ تفاوت نه لري.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۳ـ ای پیغمبره! د خلکو بې ثباتی ته وګوره چې د باران په ورېدلو سره خوشالېږي چې ځمکه به ورته نبات او شنیلي رازرغون کړي، خو د الله ﷻ شکریه نه کوي چې په توحید ورته قائل شي.

او که چرته مونږ په همغه نبات (شنیلي) باندي باد وچلوو او دوی خپل شنیلي وګوري چې تک زیړ ګرځېدلي دي، او په سات ګړی کښې به وچ کلک او پوپنا شي، نو د ذکرو شوو خوشالیو څخه وروسته بیا ناشکري کوي او د الله ﷻ څخه خپل ځانونه مرور جوړوي چې دغسې دې ولې وکړه.

حال دا چې دوی ته په کار وه چې لاندې حالات یې خپل کړي وی:

الف: د وچکالۍ په وخت کښې د الله ﷻ څخه نه وی ناامیده شوي.

ب: د باران د ورېدلو څخه وروسته په خپلو نباتاتو شکر کوونکي ګرځېدلي وی، او د الله ﷻ د نعمت شکریه یې په عبادت سره کړې وی.

ج: او د نعمت د زوال په وخت کښې باید الله ﷻ ته راجع شوي وی او سوال زارۍ یې ورته کړې وی او د خپلې بندګۍ څرګندونه یې کړې وی.

۴ـ نو ای پیغمبره! په یقین سره تا کفارو ته زښت ډېر قوي دلایل واورول چې د دوی د ایمان راوړلو دپاره پوره کفایت کوي، خو ته لاندې کارونه نه شې کولی:

الف: ته مړو ته شرعي احکام نه شې اورولی او نه ته د دې دپاره استولی شوی یې چې په مړو باندې شرعي احکام تطبیق کړې، حال دا چې کفار د مړو غوندې دي چې زړونه یې مړه دي.

ب: ته هغو ګنګو خلکو ته هم دعوت او رابلل نه شې وراورولی کوم چې ستا د دعوت څخه په داسې حال کښې مخ اړوونکي وي چې مخ په شا تلونکي وي او تاته هیڅ مخ نه دراړوي، او نه دریاندې بېرته راتاوېږي. کفار د همدغو ذکرو شوو کڼو غوندې دي چې د دعوت څخه نفرت کوي.

ج: او ته د ټپو ړندو خلکو هم هدایت کوونکی نه یې، چې ستا هدایت قبول کړي چې د ضلالت او ګمراهۍ څخه لاس واخلي او ستا دعوتي لاره خپله کړي.

د کفارو که د سر سترګې ړندې نه دي نو د زړه سترګې یې ړندې دي او هیڅ بصیرت نه لري چې ستا د دلایلو په مزایاوو باندې پوه شي.

د: نو ته د دغو عنادي کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې مه غمژن کېږه، ستا په دعوت کښې نیمګړتیا نشته، نیمګړتیا پخپله په همدوی کښې ده او بس. او دا ځکه چې:

ه: یقیناً ته هغه چاته اورول کولی شې کومو چې هوډ نیولی وي چې زمونږ په ایتونو باندې ایمان راوړي (چې عناد ونه لري)، نو دغه ډول خلک همدوی غاړه ایښودونکي دي او بس.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِي يُرۡسِلُ ٱلرِّيَٰحَ فَتُثِيرُ سَحَابٗا ﴾ الآية کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د "سَحَاب" کلمه د "سَحْب" ـلکه "ضَرْب"ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د راکش کولو معنی ورکوي، وریځې ته ځکه دغه نوم ایښودلی شوی دی چې په باد سره یو ځای بل ځای کشوله کېږي،

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او یا همدا وریځې اوبه راکش کوي او په ځمکه باندې یې وروي(۱).

ب: د "سَحَاب" کلمه اسم جنس ده چې تذکیر او تانیث پکښې دواړه جائز دي د همدې کبله ورته په ﴿مِنْ خِلَٰلِهِ﴾ کښې مذکر ضمیر راجع شوی دی(۲).

ج: د ﴿كِسَفًا﴾ کلمه د "كِسْفَةٌ" _لکه "قِطْعَةٌ"_ جمعه ده او مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الإسراء: ۹۲] ایت لاندې لیکلي دي چې نوموړې کلمه د مالوچو یا وریځو ټوټو ته وضعه شوې ده، چې په دې مقام کښې همدغه دوهمه معنی مراده ده.

## څو نکات

۲_ په ﴿وَإِن كَانُوا۟ مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ عَلَيْهِم مِّن قَبْلِهِۦ﴾ الآية کښې لاندې نکاتو ته پام ضرور دی:

الف: د "إِنْ" کلمه شرطیه نه ده بلکې د مثقل "إِنَّ" څخه مخففه شوې ده چې د تحقیق معنی ورکوي(۳).

ب: د ﴿مِّن قَبْلِهِۦ﴾ کلمې د ضمیر په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد تجویزونه لیکلي دي(۴) که څوک یې د لوستلو شوق لري نو هملته دې مراجعه وکړي چې دلته رانقلول یې اوږدوالی پیدا کوي.

خو مونږ ته هغه تجویز په زړه پورې برېښي کوم چې شیخ المفسرین (ابن جریر الطبري علیه الرحمة) ته غوره برېښېدلی دی(۵) هغه دا چې:

ذکر شوی ضمیر د ﴿أَن يُنَزَّلَ﴾ کلمې ته راجع دی چې متصله ورسره ذکره ده او مضمون یې پکښې تاکید شوی دی. او تاکید ته د ضرورت وجه دا ده چې د ﴿مِن قَبْلِ أَن يُنَزَّلَ﴾ کلمات په اتصال باندې دلالت نه کوي، احتمال وه چې د باران د نزول او د ناامیدۍ ترمنځ فاصله موجوده وی او د هغوی خپله ناامیدي هېره شوې وی ځکه به باران ته خوشاله شوي وی؛ خو دغه احتمال د ﴿مِّن قَبْلِهِۦ﴾ په تاکید سره د منځه لاړ.

یعنې ذکر شوي خلک د باران څخه وړاندې آن د باران تر ورېدلو پورې ناامیدي کوونکي وه، او د باران په وربنت سره سمدستي یې خپله ناامیدي یو طرف ته کړه او په خوشالۍ مشغول شوه، ته به وایې چې هیڅکله وړباندې ناامیدي نه وه ورغلې.

د همدې تجویز تائید د عبد الله بن مسعود ﷺ په قرائت سره هم صورت نیسي چې د ده ﷺ په قرائت کښې د ﴿مِّن قَبْلِهِۦ﴾ کلمات نشته(۶).

(۱) مفردات الراغب ص ۲۳۰
(۲) روح المعاني ج۲۱ ص۵۳
(۳) تفسير ابي السعود ج۷ ص۶۴
(۴) حاشيه الشيخ زاده على تفسير البيضاوي ج۴ ص۳۲؛ التفسير الكبير ج۲۵ ص۱۳۳؛ زاد المسير ج۶ ص۱۵۶؛ البحر المحيط ج۸ ص۳۹۹
(۵) تفسير الطبري ج۲۱ ص۵۴
(۶) تفسير البغوي ج۳ ص۴۸۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په ﴿ وَلَئِنْ أَرْسَلْنَا رِيحًا فَرَأَوْهُ مُصْفَرًّا ﴾ کښې د ﴿ فَرَأَوْهُ ﴾ بارز ضمیر خو هغه نبات ته راجع دی کوم چې اسم جنس دی او په قلیل او کثیر دواړو باندې یې اطلاق کېږي[۱]، حال دا چې د "نبات" کلمه وړاندې ذکره نه ده، نو اضمار قبل الذکر لازمېږي؟

مونږ وایو چې: وړاندې په ﴿ فَانظُرْ إِلَىٰ آثَارِ رَحْمَتِ اللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ آثَارِ ﴾ کلمه د نباتاتو څخه عبارت ده چې په "نبات" اسم جنس باندې مشتمله ده. او دا ځکه چې د الله ﷻ رحمت د باران معنی ورکوي او د باران آثار نبات یا نباتات دي.

۴ـ دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ مِنْ بَعْدِهِ ﴾ د ضمیر په مرجع کښې علماوو کرامو متعدد احتمالات لیکلي دي[۲]، خو کوم شی چې مونږ ته بهتر برېښي هغه دا دی چې: د دغه ضمیر مرجع به هغه استبشار وي په کوم باندې چې په وړاندېني ایت کښې د ﴿ يَسْتَبْشِرُونَ ﴾ کلمه مشتمله ده.

مونږ ځکه دغه مرجع خوښه کړه چې د ﴿ يَكْفُرُونَ ﴾ د کلمې سره په ډېره ښه توګه پیوند نیسي.

## د سماع الموتی موضوع

۵ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [النمل: ۸۰] ایت لاندې د سماع الموتی موضوع په هغې اندازه سره څېړلې ده څومره چې مونږ ته الله ﷻ توفیق راکړي وه، په دې مقام کښې ورباندې وراضافه کوو چې: دلته هم پکښې ځینو مفسرینو کرامو ډېر اوږد بحث کړی دی[۳]، او ځینو پکښې ډېر احادیث او اثار راغونډ کړي دي[۴] که څوک یې د لوستلو شوق لري او اوږدو بیاناتو ته یې زړه نه په تنګېږي، نو هیله ده چې هملته مراجعه وکړي، مونږ ته یې دلته رانقلول چندان ګټور ونه برېښېدل.

﴿ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِن بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِن بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفًا وَشَيْبَةً ۚ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ ۖ وَهُوَ الْعَلِيمُ الْقَدِيرُ ﴿٥٤﴾ وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُوا غَيْرَ سَاعَةٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَانُوا يُؤْفَكُونَ ﴿٥٥﴾ وَقَالَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ وَالْإِيمَانَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِي كِتَابِ اللَّهِ إِلَىٰ يَوْمِ الْبَعْثِ ۖ فَهَٰذَا يَوْمُ الْبَعْثِ وَلَٰكِنَّكُمْ كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٥٦﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يَنفَعُ الَّذِينَ ظَلَمُوا مَعْذِرَتُهُمْ وَلَا هُمْ يُسْتَعْتَبُونَ ﴿٥٧﴾

---

(۱) تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۸۵

(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۸۷؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۳۷

(۳) روح المعاني ج۲۱ ص۵۸

(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۳۸؛ تفسیر القاسمي ج۱۳ ص۱۸۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



وَلَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِي هَٰذَا الْقُرْآنِ مِن كُلِّ مَثَلٍ ۚ وَلَئِن جِئْتَهُم بِآيَةٍ لَّيَقُولَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُبْطِلُونَ ﴿٥٨﴾ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٥٩﴾ فَاصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ اللَّهِ حَقٌّ ۖ وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ ﴿٦٠﴾

[۵۴] الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو يې د ناتوانۍ څخه پيدا کړي ياست (په ابتدايي مراحلو کښې ډېر کمزوري وئ)، بيا الله ﷻ (تاسو ته) د (مرحلئيزې) کمزورۍ څخه وروسته قوت وګرځاوه (درکړ)، بيا الله ﷻ د (مرحلئيز) قوت څخه وروسته (تاسو ته) کمزوري (بوډاتوب) او د وينتو سپينول وګرځول (درکړه).

(او دا ځکه چې) الله ﷻ هغه شی پيدا کوي کوم ته چې (په هر کيفيت) اراده وکړي، او همدی ﷻ (په هر شي باندې) پوه (او په هر شي باندې) د قدرت څښتن دی.

[۵۵] او په کومه ورځ چې قيامت قائم شي نو مجرمان (کفار) به سوګندونه وکړي چې: دوی (په کوم ځای کښې) د يوه ساعت څخه (اضافه) وخت نه دي تېر شوي (پاتې شوي).

دغه ډول دوی (په دنيا کښې وه چې د رښتياوو څخه دروغو ته) وراړولی کېدل.

[۵۶] او هغه کسان به (ورته په جواب کښې) ووايي کومو ته چې راسخ علم او ايمان ورکړی شوی دی چې: (ای کفارو! تاسو دروغ واياست او دا ځکه چې) تاسو خو په کتاب الله کښې (د لوح محفوظ د ټاکلي مودې په مطابق) د بيا راژوندي کېدلو تر وخته پورې اوسېدلي (تېر شوي) ياست (چې الله ﷻ يې په دقيقه اندازه باندې ډېر ښه پوهېږي).

نو دغه (ورځ) د بيا راژوندي کېدلو ورځ ده او مګر تاسو (په دنيا کښې وئ چې نه پوهېدئ (او باور مو ورباندې نه کاوه).

[۵۷] نو په دغې ورځ کښې به هغو کسانو ته کومو چې ظلم (کفر) غوره کړی دی د هغوی معذرت څه ګټه ونه شي رسولی او نه به هغوی داسې وي چې ترې وغوښتلی شي چې تاسو (خپل رب ﷻ) راضي کړئ (بيا به نجات درکړي).

[۵۸] او يقيناً مونږ د خلکو (د هدايت) دپاره په دغه قرآن کريم کښې د هر ډول مثالو څخه بيان کړی دی (او په هر اسلوب مو دلايل نازل کړي دي خو کفار عناد نيولي دي). او که ته ورته هر ډول معجزه ور وړې (فرمايشي وي اوکه غير فرمايشي) نو هرومرو ضرور به هغه کسان (تاسو ته) ووايي کومو چې (عناداً) کفر غوره کړی دی چې تاسو نه ياست مګر د داسې وينا ويونکي ياست چې حقيقت نه لري (چې په جادو باندې د معجزې نوم ږدئ).

[۵۹] (ای پيغمبره!) په دغه ډول سره الله ﷻ د هغو کسانو په زړونو باندې مهر وهي کوم چې (په حقايقو) نه پوهېږي (او يا يې ورباندې ځانونه ناخبره اچولي وي).

[۶۰] نو ته صبر کوه (خپله حوصله مه خرابوه) يقيناً د الله ﷻ وعده حقه ده (ستا بريالیتوب

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راروان دی)، او هغه کسان دې تا د حقې لارې څخه وانه ړوي کوم چې (ستا په نبوت) یقین نه کوي (چې د خپلو ځانونو غونډې دې په باطله عقیده إخته کړي).

## ارتباطات او د مطلب خلاصه

۱ـ د وړاندېنیو ایتونو په تعقیب په دې ایتونو کښې لاندې مطالبو ته اشاره شوې ده:

الف: د توحید د افاقي دلایلو څخه وروسته د توحید انفسي دلایل.

ب: د قیامت د ورځې د حالاتو څه بیان او وضاحت.

ج: د کفارو د عناد شدت او د سورت په مضامینو باندې یوه تبصره.

د: بالآخره نبي کریم ﷺ ته تسلي او توصیه.

نو حاصل یې داسې راځېږي چې:

ای پیغمبره! د سورت په پای کښې په خپل امت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۲ـ د الله ﷻ د پلوه ورته ابلاغ کړه چې: ای خلکو! که تاسو په خپلو ګرېوانو کښې سرونه ښکته کړئ نو په خپلو ځانونو کښې به د الله ﷻ د توحید دلایل مونده کړئ هغه دا چې:

الف: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې مرحله په مرحله په کمزورۍ او ناتوانۍ کښې پیدا کړئ.

ب: بیا الله ﷻ تاسو د مرحلئیزې کمزورۍ څخه وویستلئ او په مرحلئیزه توګه یې قوت ته ورداخل کړئ او مرحله په مرحله یې بدنًا او عقلاً پیاوړي کړئ.

ج: د مرحله ئیز قوت څخه وروسته بیا الله ﷻ تاسو د کمزورۍ حال ته ورتاو کړئ چې قوت مو په ضعف بدل شو او تور وېښتان مو تک سپین وګرځېده.

د: نو تاسو د دې خبرې جواب راکړئ چې: ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک څه وسه او توان لري چې تاسو د دغسې مختلفو کیفیاتو سره مخامخ کړي؟

ایا الله ﷻ د دې توان نه لري چې تاسو یو ځل بیا د قبرونو څخه ژوندي راپورته کړي، او د حساب کتاب دپاره مو په خپل حضور کښې ودروي؟

هـ: بې شکه الله ﷻ هغه شی پیدا کوي کوم ته یې چې اراده وشي، په هر کیفیت او هر وخت کښې چې وي. دا ځکه چې الله ﷻ په کامل علم سره ستاسو په ټولو خاورو شوو بڅرکو باندې علم لري او هم همدی ﷻ د قدرت څښتن دی چې ستاسو د بدنونو خاورو شوو برخو ته یو ځل بیا ترکیب ورکړي.

۳ـ ای پیغمبره! کله چې الله ﷻ خلک بېرته راژوندي کړي او د قیامت ورځ قائمه شي، نو کفار به په سوګندونو سره ووایي چې دوی په دنیا کښې د یوه ساعت یا د یوې ګړۍ څخه اضافه وخت نه دی تېر کړی، په دېر لږ وخت باندې یې دائمي عمر خراب او برباد شو.

لنډه دا چې کفار به په دغې ورځ کښې د حقیقت څخه داسې سرچپه روان وي لکه چې نن ورځ به دنیا کښې ترې سرچپه روان دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا په بل عبارت: کفار به هلته دروغ وایي لکه چې نن ورځ دروغ وايي، او په دروغو به سوګندونه کوي لکه چې نن ورځ (په دنیا کښې) د دروغو په سوګندونو اخته دي.

۴_ د کفارو ذکره شوې خبره به د علم خاوندان _مؤمنان او پرښتې_ رده کړي چې تاسو دروغ واياست او سوګوندونه مو غلط دي او دا څکه چې: تاسو ډېر وخت تېر کړی دی البته هومره وخت چې په کتاب الله (لوح محفوظ) کښې تاسو ته ټاکلی شوی وه، څه مو په دنیا کښې تېر کړی دی او څو مو په قبرونو (عالم برزخ) کښې تېر کړ، آن تردې چې د قیامت تر ورځې پورې مو مقرر وخت پوره کړ. نو دغه د قیامت ورځ ده چې تاسو د قبرونو څخه راپورته شوي یاست خو تاسو په دنیا کښې وئ چې د قیامت په ورځ مو علم نه درلود او یا مو ورباندې خپل ځانونه ګول اچولي وه.

نو په دغې ورځ کښې به هغو کسانو ته د دوی معذرتونه څه ګټه ونه شي رسولی، کومو چې کفر اختیار کړی دی او په خپلو ځانونو باندې یې ظلم او تېری کړی دی.

همدارنګه به د همدغو ظالمانو څخه مطالبه ونه کړی شي چې تاسو د الله ﷻ په حضور کښې څه معذرت وړاندې کړئ، ګوندې ستاسو څخه مقبول وګرځي او د عذابه نجات درکړی شي.

یا په بل عبارت: په دغې ورځ کښې به د کفارو څخه نه وړاندې کړی شوي معذرتونه ومنل شي او نه به ورته د مقبولو معذرتونو توصیه وکړی شي چې دغسې وکړئ ګوندې نجات مونده کړئ. او دا څکه چې هلته به په هغوی باندې د معذرتونو ټولې دروازې تړلې وي.

۵_ ای پیغمبره! مونږ د خلکو د پوه کولو دپاره په دغه قرآن کریم کښې هر ډول دلایل او په هر اسلوب سره وضاحت بیان کړی دی، ترڅو ترې دوی استفاده وکړي او د قیامت په ورځ اعتذار وړاندې نه کړي. مګر خلک عناد نیولي دي، چې هیڅ ډول دلیل ته غوږ نه ږدي، او په هیڅ ډول معجزې باندې قناعت نه خپلوي.

د همدې کبله کله چې ته عنادي کفارو ته معجزه وروړې، هره یوه معجزه چې وي (فرمایشي وي او که غیر فرمایشي)، نو هرومرو او ضرور به هغه کسان ووایي کومو چې عنادي کفر غوره کړي دي چې ته د باطلو خاوند یې چې د سحر او جادو څخه کار اخلې او ستا پیروان هم د باطلو خاوندان دي چې د جادو او باطلو پیروي کوي، نو تاسو ټول نه یاست مګر د باطلو څښتنان یاست.

۶_ ای پیغمبره! مونږ په دغه ډول سره د هغو کسانو په زړونو باندې مهر لګولی دی کوم چې د الله ﷻ په وحدانیت او ستا په نبوت نه پوهېږي او یا یې ورباندې خپل ځانونه ناپوه اچولي دي

۷_ ای پیغمبره! ته د کفارو په اذیتونو باندې صبر کوه او خپله حوصله مه خرابوه، او دا څکه چې د الله ﷻ وعده حقه ده، په ټاکلي میعاد سره به ته ورباندې غالب شې او په ټاکلي وخت سره به د قیامت ورځ قائمه شي.

او هرومرو او ضرور دې هغه کسان تا کموزنه او سپک نه کړي کوم چې ستا په نبوت یقین نه کوي. یا په بل عبارت: خپل ځان پوره اداره کړه چې کفار دې بې حوصلې او مضطرب نه کړی شي، او ثبات دې خراب نه کړی شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



# توضیحات

۱ـ په ﴿ خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ﴾ الآیة کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

الف: که څه هم د "ضَعُف" کلمه د "ض" په زور یا پېښ سره د کمزورۍ معنی ورکوي[۱]، خو عبد الله بن عمر ﷛ یوه ورځې همدغه ایت شریف په نبي کریم ﷺ باندې د "ض" په زوَر سره قرائت کړ، نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «مِنْ ضُعْفٍ»[۲] یعنې په پېښ سره یې ولوله.

ب: د ﴿ خَلَقَكُم مِّن ضَعْفٍ ﴾ په ترکیب کښې مبالغه نغښتې ده، یعنې الله ﷻ بنیادمان په داسې کمزورې حالاتو پیدا کړي دي، ته به وایې چې کمزوري یې اصل دی او د همدې کمزورۍ څخه یې جوړښت موندلی دی.

د همدې ترکیب یو نظیر په بل ایت کښې تېر شوی دی چې: ﴿ خُلِقَ ٱلْإِنسَـٰنُ مِنْ عَجَلٍ ﴾ [الأنبیاء: ۳۷] یعنې انسان دومره تونده کوونکی دی ته به وایې چې د همدغې توندۍ څخه جوړ شوی دی.

ج: په ایت شریف کښې درې ځله د "ضَعْف" کلمه نازله شوې ده: ﴿ مِّن ضَعْفٍ ﴾، ﴿ مِنۢ بَعْدِ ضَعْفٍ ﴾، ﴿ ضَعْفًا ﴾. او دوه کرته پکښې د "قُوَّة" کلمې نزول موندلی دی ﴿ قُوَّةً ﴾، ﴿ قُوَّةٍ ﴾.

نو مفسرین کرام یې په تفسیر کښې تقریبًا په لاندې دوه وو ډلو وېشلي شوي دي:

یوه ډله وایي چې: د ﴿ مِّن ضَعْفٍ ﴾ او ﴿ مِنۢ بَعْدِ ضَعْفٍ ﴾ څخه په دواړو کلمو کښې د طفولیت (ماشومتوب) کمزوري مراده ده، او په ﴿ ضَعْفًا ﴾ کښې د بوډاتوب کمزورۍ ته اشاره ده[۳]. اما د "قُوَّة" دواړه کلمې د ځوانۍ د قوت معناوې ورکوي. یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د طفولیت په ضعف کښې پیدا کړي یاست او بیا یې د همدغه ضعف څخه د ځوانۍ قوت ته رسولي یاست، او بیا مو د ځوانۍ قوت بېرته د بوډاتوب په کمزورۍ بدلوي.

د بلې ډلې د بیان د طرز څخه معلومېږي چې: د "ضَعْف" درېواړه کلمې د بېلې‌-بېلې کمزورۍ معناوې ورکوي او همدارنګه د "قُوَّة" کلمه هم په دواړو ځایونو کښې بېل‌-بېل قوت ته اشاره ده[۴].

یعنې الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې تاسو یې د خاورو او نطفو د ضَعف څخه مرحله په مرحله د جنین توب ضعف ته ورسولئ؛ او بیا یې د روح په پوکولو سره قوت درکړ او مرحله په مرحله یې د طفولیت څخه د ځوانۍ قوت ته پورته کړئ، خو بالآخره بیا یې د ضعف په مرحلو کښې د ارذل العمر ضعف ته ورښکته کړئ. ایا د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک په تاسو باندې ذکر شوي مراحل تېرولی شي؟ ایا همدغه الله ﷻ په دې قدرت نه لري چې د مرګ د مرحلې څخه وروسته یو ځل بیا تاسو د دوهم ژوند خاوندان وګرځي؟

---

(۱) مفردات الراغب ص۳۰۴
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۱۲۱
(۳) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۵۷؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۸۷؛ روح المعاني ج۲۱ ص۵۸
(۴) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## تبصره

د: مونږ ته دوهم تفسیر په زړه پوری برېښي او دا ځکه چې ذکر شوې پنځه واړه کلمې نکرې نازلې شوې دي او د عربیت قانون دا دی چې نکره کلمه چې بیا د نکارت په حال کښې ذکره شي نو په هر ځای کښې په بېله-بېله معنی باندې دلالت کوي چې یوه به د بلې څخه مغایره وي[۱]، لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ فَإِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ۝ إِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴾ [الشرح:۵_۶] یعنې: نو یقیناً د یوې سختۍ سره اساني شته ، یقیناً د همدغې سختۍ سره بله اساني هم شته.

## د قیامت د ورځې یو نوم "السَّاعَة" دی

۲_ د قیامت ورځ په ډېرو نومونو باندې یاده شوې ده چې د هغو څخه یو نوم یې "السَّاعَة" دی، لکه چې په ﴿ وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ ﴾ کښې په همدې نامه باندې یاده شوې ده.

د دې ډول نوم اینبودلو یو نظیر دا دی چې د "النَّجْم" کلمه د لغت په لحاظ عامه ده مګر د غالب استعمال د کبله د "الثُّرَيَّا" ستورو (پیرونو) پورې خاصه شوې ده[۲].

په همدې اړه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۳۱] ایت لاندې ښه تحقیقي بحث لیکلی دی، خو دلته ورباندې وراضافه کوو چې: څه لرې نه ده چې د دې کبله به ورته دغه نوم اینبودل شوی وي چې د دغې ورځې تحقق او موجودیت په هغه وخت کښې صورت نیسي کوم چې د دنیا د عمر وروستنی سات او ورستنۍ ګړۍ وي.

## سوال جواب

۳_ که څوک وايي چې: د ﴿ مَا لَبِثُوا۟ غَيْرَ سَاعَةٍ ﴾ څخه په کوم ځای کښې مَکث او تالېدل مطلب دي، یا په بل عبارت: کفار به د قیامت په ورځ په کوم ځای کښې د تالېدلو څخه انکار وکړي چې مونږ پکښې د یوې ګړۍ څخه اضافه وخت نه دی تېر کړی؟

مونږ وایو چې: علماوو کرامو د نوموړي ځای په باب لاندې اقوال کړي دي:

الف: ځینې دې ته ترجیح ورکوي چې دوی به د دنیا د عمر څخه انکار وکړي[۳] چې زمونږ ټول عمر د یوې ګړۍ څخه اضافه نه وه.

ب: ځینې نور وايي چې هغوی به د عالم البرزخ د عمر څخه انکاري شي[۴].

ج: او ځینو ته دا بهتره برېښېدلې ده چې هغوی به د دواړو شپېلیو د ما بین وخت ته د یوې ګړۍ نسبت وکړي[۵] لکه چې نبي کریم ﷺ په یوه حدیث کښې فرمایلي دي چې: «مَا بَيْنَ النَّفْخَتَيْنِ

---

(۱) تفسیر ابي السعود ج۹ ص۱۷۳

(۲) تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۸۶

(۳) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۴۷

(۴) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۵۷؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۸۸

(۵) روح المعاني ج۲۱ ص۵۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



أَرْبَعُونَ»(۱) يعني د هغو دواړو شپېليو فاصله به څلوېښت وي چې په يوې باندې دنيا ورانېږي او په بلې باندې مړي راژوندي کېږي (الله ﷻ پوهېږي چې څلوېښت ورځې به وي يا مياشتې يا کلونه او يا نور).

## تبصره

۴ــ مونږ ته داسې برېښي ــوالله ﷻ أعلمــ چې ذکر شوي درېواړه اقوال سره څه منافات نه لري، څه لري نه ده چې د بدليت په لحاظ درېواړه اراده کړی شي، چې ځينې کفار به په يوه خبره سوګند کوي او ځينې په بله، او يا به په يوه حال کښې د يوې خبرې څخه انکاري وي او په بل حال کښې به د بلې خبرې څخه انکار خپلوي.

## يوه پوښتنه او د هغې جواب

۵ــ که څوک وايي چې: د ذکرو شوو درېواړو اقوالو څخه يو هم صحت نه لري او دا ځکه چې د کفارو عمر خو په دنيا کښې او په برزخ کښې او هم د دواړو شپېليو په ما بين کښې د يوه ساعت څخه زيات دی، نو پوښتنه دا ده چې ايا کفار به د قيامت په ورځ باندې په دروغو سوګندونه خوري؟

مونږ وايو چې: که څه هم ځينو علماوو کرامو د کفارو ذکر شوي سوګند ته څه د رښتيا ګرځولو وجې برابرې کړې دي(۲)، مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د رښتياتوب لارې يې ونه شي سنجولی.

خلک وايي چې: "اوښه کوم ځای دې برابر دی پاتې دې لا غاړه". کفارو په کوم ځای کښې رښتيا ويلي دي چې هلته يې خبرو ته د صدق خواوې ولټوو، ايا دوی هغه کسان نه دي چې د خپل شرک او کفر څخه به انکار وکړي؟ چې: ﴿ وَٱللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴾ [الأنعام: ۲۳] يعنې زمونږ دې په الله ﷻ باندې سوګند وي چې زمونږ رب دی چې مونږ په دنيا کښې مشرکان نه وو.

د همدې کبله ذکره شوې جمله په ﴿ كَذَٰلِكَ كَانُواْ يُؤْفَكُونَ ﴾ جملې سره تعقيب شوې ده، يعنې لکه څنګه چې کفار به دغې ورځ کښې د حق او حقيقت څخه تاوېږي او دروغ وايي همدارنګه به دوی په دنيا کښې وه چې د حق او حقيقت څخه به اړول کېدل.

## څو نکات

۶ــ په ﴿ وَقَالَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ وَٱلْإِيمَٰنَ لَقَدْ لَبِثْتُمْ فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ الآية کښې لاندې نکات په نظر کښې ساتل په کار دي:

الف: هغه کسان چې کفارو ته به جواب ورکړي د پيغمبرانو او پرښتو او هم د مؤمنانو څخه عبارت دي(۳).

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۷۳۵؛ صحيح مسلم ج۲ ص۴۰۶

(۲) تفسير المظهري ج۷ ص۲۴۳

(۳) تفسير الكشاف ج۳ ص۴۸۷؛ البحر المحيط ج۸ ص۴۰۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: که څه هم د ﴿ ٱلۡعِلۡمَ ﴾ کلمه په ﴿ ٱلۡإِيمَٰنَ ﴾ باندې مشتمله ده مګر د زيات اهتمام دپاره ورباندې صراحت وکړی شو، لکه چې په [الرحمن:۶۸] ايت کښې د ﴿ فَٰكِهَةٌ ﴾ څخه وروسته د ﴿ وَنَخۡلٌ وَرُمَّانٌ ﴾ په دواړو کلمو باندې صراحت شوی دی.

ج: که څه هم علماوو کرامو په دې مقام کښې د ﴿ كِتَٰبِ ٱللَّهِ ﴾ کلمه په متعدو معناوو سره تفسيره کړې ده، لکه د الله ﷻ علم يا قضاء او يا هم حکم يا قرآن کريم او داسې نور[۱]، مګر کومه معنی چې مونږ ته بهتره برېښي او په نورو معناوو باندې مشتمله ده هغه د لوح محفوظ معنی ده.

نو حاصل به يې داسې راخېژي چې: ای کفارو! تاسو چې څومره وختونه په دنيا کښې يا په قبرونو او يا د دوه وو نفخو ترمنځ تېر کړی دی هغه مونږ ته بالضبط معلوم نه دي، خو په لوح محفوظ کښې ثبت او ساتل شوي دي، مونږ په دې يقين لرو چې تاسو په دروغو سوګندونه کوئ، تاسو پوه شئ چې دغه سوګندونه به تاسو ته هيڅ ګټه ونه شي رسولی.

## استعتاب څه معنی؟

۷ـ په ﴿ وَلَا هُمۡ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴾ کښې ﴿ يُسۡتَعۡتَبُونَ ﴾ کلمه د "استعتاب" څخه اشتقاقه شوې ده چې اصلي مصدر يې يا "عتبی" او يا "اعتاب" دی، چې تحليل يې د الله ﷻ په توفيق د [النحل:۸۴] ايت لاندې تېر شوی دی. يعني د کفارو څخه به د قيامت په ورځ ونه غوښتل شي چې تاسو الله ﷻ په توبې سره راضي کړئ، او يا به د هغوی څخه ونه غوښتلی شي چې د خپلو ځانونو څخه الهي عذاب لرې کړئ، او دا ځکه چې د دغو دواړو خبرو وخت به د قيامت په ورځ فوت شوی وي.

## د ابطال او استخفاف معناوي

۸ـ په دې مقام کښې د لاندې دوه وو لغاتو معناوې ولولئ:

الف: په ﴿ أَنتُمۡ إِلَّا مُبۡطِلُونَ ﴾ کښې د ﴿ مُبۡطِلُونَ ﴾ کلمه د "اِبۡطَال" څخه اشتقاقه شوې ده، د "اِبۡطَال" د معناوو څخه يوه دا ده چې څوک داسې قول وکړي کوم چې حقيقت نه لري[۲].

يعني کله چې ته کفارو ته معجزه ورښکاره کړې چې دا د نبوت دليل دی، نو هغوی تا او ستا پيروانو ته خطاب کوي چې تاسو داسې خبره کوئ کومه چې حقيقت نه لري، يا په بل عبارت: تاسو په جادو باندې د معجزې نوم ږدئ.

ب: په ﴿ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۖ وَلَا يَسۡتَخِفَّنَّكَ ﴾ کښې د ﴿ يَسۡتَخِفَّنَّكَ ﴾ کلمه د "اِسۡتِخۡفَاف" څخه اخستله شوې ده، "اِسۡتِخۡفَاف" دې ته هم وايي چې سړی بل څوک د حقې لارې څخه بې لارې کړي او په هغې باطلې لاره باندې يې د خپله ځانه سره روان کړي په کومه باندې چې پخپله روان وي[۳].

---

(۱) تفسير ابي السعود ج۷ ص۶۶؛ تفسير البيضاوي في هذا المقام.
(۲) مفردات الراغب ص۴۹
(۳) القاموس المحيط ج۲ ص۸۵؛ لسان العرب ج۹ ص۸۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په دې مقام کښې که څه هم نبي کريم ﷺ مخاطب کړی شوی دی خو اصلاً د ده ﷺ د اجابت امت په غوږ باندې وهل مطلب دي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځېږي چې: ای پيغمبره! د الله ﷻ وعده حقه ده او د قيامت ورځ راروانه ده، نو تاسو په خپل دريځ او خپل دين باندې کلک اوسېږي او د کفارو شبهاتو او ګوت نيونو ته هيڅ اِلتفات مه کوئ، او د غاښ چيچي څخه يې مه دارېږئ. هسې نه چې تاسو د هغوی د پلوه متزلزل شئ او د خپل واقعي دريځ څخه مو پښې وښيېږي او د هغوی باطل دين او باطلې عقيدې ته مو ورواوړوي.

د الروم سورت د الله ﷻ په توفيق او مهربانۍ ختم شو
مونږ د خپل مهربان رب ﷻ څخه لا زيات توفيق غواړو.
۱۴۲۱/۸/۱۹ هـ ق - ۱۳۷۹/۷/۵ هـ ش - ۲۰۰۰/۱۰/۱۷م

Scanned by CamScanner

# لقمان (۳۱)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱ـ دا سورت د "لُقمَان" سورت په نامه نومولی شوی دی چې همدغه کلمه د دې سورت په [۱۲] او [۱۳] ایتونو کښې نازله شوې ده. شاید چې د دغه نوم په انتخاب کښې به دې ته اشاره وي چې د اسلام دین فطري دین دی، هرڅوک چې د خپل عقل څخه په صحیحو معناوو کښې کار واخلي هغه به ورباندې هرومرو اعتراف وکړي او لا ورته د عوت به هم وچلوي.

ته به وایې چې کفارو ته ویل شوي وي چې: ای مشرکانو! په تاسو کښې خو د لقمان حکیم ګټور نصائح مشهور دي، ایا د هغه په نصائحو کښې د توحید نصیحت شامل نه وه؟

۲ـ د دې سورت د ایتونو شمېر څلور دېرشو (۳۴) ته رسېږي[۱]، او د کلماتو شمېر یې پنځه سوه او اته څلوېښت (۵۴۸) دی او د حروفو شمېر یې دوه زره یوسلو لسو (۲۱۱۰) ته پورته شوی دی[۲].

## د سورت شان نزول

۳ـ د اکثرو علماوو کرامو په نزد او د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روایت په بنیاد دا سورت مکي سورت دی او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی[۳].

۴ـ یوه ورځې د مکې معظمې مشرکانو پوښتنه وکړه (شاید چې د نبي کریم ﷺ څخه به یې کړې وي) چې د خپل زوی سره د لقمان قیصه څنګه وه؟ او هم یې د مور او پلار سره د نېکۍ کولو په باب پوښتنه وکړه، نو ذکر شوی سورت نازل شو[۴].

## د سورت محتویات

۵ـ په دې سورت کښې د همغو موضوعاتو په هکله اکثره ارشادات نازل شوي دي د کومو په هکله چې په مکي سورتونو کښې ارشادات نازلېده، لکه د الله ﷻ توحید، د نبي کریم ﷺ نبوت، د قیامت ورځ او داسې نور.

## د "الروم" او "لقمان" دواړو سورتونو تناسب

۶ـ ذکر شوي دواړه سورتونه یو تربله کلکې اړیکې لري. لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: دواړه سورتونه په ﴿ الٓمٓ ﴾ تورو باندې پیل شوي دي.

ب: په دواړو کښې ځینو قدرتي دلایلو ته او د بنیادم ابتدایي خلقت ته اشاره شوې ده.

ج: په دواړو کښې د بنیادم د ناتینګۍ او بې ثباتۍ مثالونه بنودلی شوي دي.

د: په دواړو کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده او داسې نور.

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۸۹

(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۴۳۵

(۳) الدر المنثور ج۶ ص۵۰۳؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۴۱

(۴) روح المعاني ج۲۱ ص۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿الٓمٓ ۝١ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ۝٢ هُدًى وَرَحْمَةً لِّلْمُحْسِنِينَ ۝٣ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ
ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُم بِٱلْءَاخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ۝٤ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَىٰ هُدًى مِّن رَّبِّهِمْۖ
وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ۝٥﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر با رحمه الله ﷻ په نامه.

[١]

[٢] دغه (راتلونکي ایتونه) د داسې کتاب ایتونه دي چې د حکمت والا (او محکم) دی.

[٣] په داسې حال کښې چې د محسنینو (نېکانو) دپاره (د الله ﷻ د پلوه عظیم الشان) هدایت او (ستر) رحمت دی.

[۴] (نېکان) هغه کسان دي چې لمونځونه دروي او زکاتونه ورکوي، حال دا چې همدوی په وروستنۍ ورځ باندې یقین (او باور) لري.

[۵] همدغه (ډله) د خپل رب ﷻ د پلوه په کامل هدایت باندې ده، او همدغه (ډله) همدوی کامیابي (او خلاصی) موندونکي دي.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د "الرُّوم" د سورت د وروستني ایت مضمون په دې باندې هم مشتمل وه چې:

ای پیغمبره! د کفارو په عنادي اعتراضاتو باندې خپل استقامت مه خرابوه، او په حق دین باندې کلک اوسه، او ستا اُمت دې هم همدغه ستا کړنلاره تعقیب کړي، ترڅو کفار ونه توانېږي چې تاسو د حق دریځ څخه واړوي او په باطل دریځ باندې مو روان کړي.

په دې ایتونو کښې همدغه مضمون منعکس شوی دی چې حاصل یې داسې راځېژي:

ای پیغمبره! د بسم الله الرحمن الرحیم د لوستلو څخه وروسته خپل اُمت ته په حق دریځ باندې د کلکو پاتې کېدلو دپاره لاندې نکات قرائت کړه:

١ـ کوم کتاب چې تاسو ته درنازل شوی دی هغه د خپل ځان حقانیت پخپله اثباتوي او د کفارو اعتراضاتو ته پخپله جواب ورکوي. او دا څکه چې:

الف: دغه کتاب د هغو تورو څخه ترکیب موندلی دی د کومو څخه چې د خلکو خبرې ترکیب مومي او روزمره ورباندې خبرې کوي. لکه "الف، ل، م" او داسې نور. خو د دې سره-سره، که بالفرض المحال ټول وراندېني او وروستني مخلوقات سره لاس یو کړي ترڅو د دې کتاب د یوه ایت غونډې یو ایت جوړ کړي د وسې به یې پوره نه شي.

نو پوره څرګنده شوه چې دا بشري کتاب نه دی بلکې الهي کتاب دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ب: نو په همدې بنیاد دغه ایتونه چې په دې سورت کښې را روان دي د هغه کتاب ایتونه دي چې د حکمت درلودونکی دی او په حق باندې دومره محکم دي چې هیڅوک یې خواته حرکت نه شي ورکولی چې د اعتراضاتو اثر وربادې وغورځوي.

نو په کار دي چې تاسو (د دې محکم کتاب پیروان) هم په خپل حقاني دریځ باندې کلک او مستقیم پاتې شئ؛ او د کفارو په مقابل کښې خپل حقاني دریځ وساتئ؛

۲_ دا کتاب په ذکر شوي اعجاز باندې علاوه لاندې امتیازات هم لري:

الف: دا کتاب د ټولو خلکو دپاره د دنیا او آخرت لارښود دی.

ب: دا د الله ﷻ رحمت دی، ترڅو چې د دې کتاب پیروان په دنیا کښې موجودیت ولري نو دنیا به اباده وي، او قیامت به نه قائمیږي.

ج: که څه هم دا کتاب هدایت او رحمت دی مگر هغه کسان ترې پوره ګټه پورته کوي چې په اخلاص سره ورباندې عمل وکړي او د خپلو ځانونو دپاره یې د دنیا او آخرت مشال وګرځوي.

۳_ یا په بل عبارت: د لاندې صفاتو درلودونکي کسان د دې کتاب څخه ګټه اُوچتوي:

الف: کوم کسان چې خپل لمونځونه دروي او په بدني عبادتونو کلک وي.

ب: کوم کسان چې زکاتونه ورکوي او په مالي عبادتونو باندې کلک ولاړ وي.

ج: البته چې بدني او مالي عبادتونو ته په داسې حال کښې ادامه ورکوي چې په أخروي ژوند باندې هم په دوامداره توګه یقین او باور لري.

۴_ ای پیغمبره! دغه کسان هغه ډله ده کومه چې د خپل رب ﷻ د پلوه په هدایت او سمه لاره باندې روانه ده، او د داسې رڼا درلودونکي دي چې د ژوند په یوه څنډه کښې یې هم تیاره نشته.

او همدغه ډله په دنیا او آخرت کښې کامیاب او بریالي دي، یا په بل عبارت: همدغه ډله د حکمت او استقامت خاوندان دي، نو ورته په کار دي چې په حق دریځ باندې محکم ودریږي او خپل استقامت وساتي.

## توضیحات

د ښه وضاحت دپاره په دې مقام کښې لاندې نکاتو ته توجه په کار ده:

۱_ په ﴿ تِلْكَ ءَايَٰتُ ٱلْكِتَٰبِ ٱلْحَكِيمِ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْحَكِيمِ ﴾ د کلمې دریګونې معناوې د [یونس:۱] ایت لاندې لیکلی شوې دي _والحمد لله ﷻ_ چې بیا لیکلو ته یې اړتیا نه ګورو.

۲_ د ذکرو شوو ایتونو متباقي توضیحات د "البقرة" د رومبنیو ایتونو د توضیحاتو څخه څه تفاوت نه لري او هلته د الله ﷻ په توفیق تېر شوي دي، بیا لیکلو ته یې څه اړتیا نشته.

﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشْتَرِى لَهْوَ ٱلْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا

أُولَٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ۞ وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا كَأَن لَّمْ يَسْمَعْهَا

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيۡهِ وَقۡرٗاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۝٧ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ
جَنَّٰتُ ٱلنَّعِيمِ ۝٨ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٗاۚ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ۝٩ ﴾

[۶] اود خلکو څخه ځيني هغه څوک دی چې د خبرو لهو (مشغولوونکي خبرې) د دې دپاره اخلي ترڅو (بندګان) د الله ﷻ د لارې څخه په داسې حال کښې بې لارې کړي چې (هغوی) بدون د علم څخه وي (نه پوهېږي)، او (همدارنګه د دې دپاره دا کار کوي چې) د الله ﷻ لار (او ايتونه) په مسخرو (خندنيو) سره ونيسي.

دغه ډله (خلک) چې دي همدوی لره سپکوونکی عذاب دی (چې هرومرو به ورسره مخامخ شي).

[۷] او کله چې په (ذکرو شوو) ځينو خلکو باندې زمونږ ايتونه تلاوت کړی شي نو په داسې حال کښې ترې مخ اړوي چې هغوی تکبر کوونکي وي، لکه چې يقيناً په دواړو غوږونو کښې يې درونډ والی وي (تلاوت نه اوري).

نو (ای پيغمبره!) دغو ځينو خلکو ته په دردناک عذاب سره زيری (خبر) ورکړه.

[۸] يقيناً هغه کسان چې دي کومو چې ايمان راوړی دی او نېک (صالح) عملونه يې کړي دي د همدوی دپاره د ډېرو نعمتونو جنتونه دي.

[۹] په جنتونو کښې به (دوی) همېشه وي، الله ﷻ (وعده کړې ده) وعده کول (دا وعده حقه ده) حقه (چې هيڅ شک او شبه پکښې نشته).

او الله ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی (او) د حکمت څښتن دی.

## شان نزولونه

د ذکرو شوو ايتونو په شان نزول کښې متعدد واقعات روايت شوي دي خو مونږ فقط د دوه وو روايتونو په ليکلو باندې اکتفاء کوو چې دواړه په النضر بن الحارث پورې ارتباط لري هغه دا:

۱ـ مقاتل علیه الرحمة وايي چې نوموړی (النضر) يو مشرک تاجر وه چې د فارس اونورو وطنونو په تجارت بوخت وه.

نوموړي به په خپلو تجارتي سفرونو کښې د عجمو ليکلې شوې قيصې په پيسو رانيولې او په مکه معظمه کښې به يې خورولې، ترڅو خلک د قرآن کريم د اورېدلو څخه منعه کړي اوخپل خان ته يې راجذب کړي.

نوموړي به د خپل دعوت په وخت کښې خلکوته ويل چې: محمد تاسو ته د عاد او ثمود قيصې دراوروي او زه مو د رستم او اسفنديار او نورو پهلوانانو په حالاتو باندې خبروم، نو تاسو قرآن ته غوږ مه نيسئ ماته غوږ کېږدئ چې زما ډېرې خوندورې قيصې دي. نو ذکر شوي ايتونه نازل شوه[۱].

۲ـ عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي چې نوموړي (النضر) په خپلو سفرونو کښې يوه ډمه وينځه

---

[۱] اسباب النزول للواحدي ص۲۳۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



خریداري کړې وه. نو کله به چې د چا د اسلام د راوړلو په اراده باندې خبر شو سمدستي به يې ذکره شوې دمه (وينځه) د هغه کور ته ورواستوله او د هغې په لاس به يې ورباندې شراب کباب نوش جان کړه او د سندرو او ګډا ننداره به يې ورته وړاندې کړه، او بيا به يې نوموړې سړي مخاطب کړ چې: دغه صحنه درته د هغه شي څخه بهتره او ګټوره ده د کوم د اورېدلو دپاره چې تاته محمد دعوت درکوي، چې لمونځ وکړه او روژه ونيسه او هم د محمد په وړاندې په جهاد کښې خپل ځان ووژنه.

نو ذکر شوې ايتونه نازل شوه[1].

## تبصره

۳ـ د شان نزول د واقعاتو تعدد څه باک نه لري، څه لرې نه ده چې نوموړي (النضر) دواړه کارونه کړي وي. همدارنګه د ذکرو شوو دواړو روايتونو سره هغه روايت هم منافي نه دی کوم چې د سورت د شان نزول په هکله وړاندې په سريزه کښې ليکلی شوی دی، څه لرې نه ده چې "النضر" به دغسې کړي وي او قريشو به هغسې پوښتنه کړې وي، او بيا به د ذکر شوي سورت ايتونه لړ-لړ نازل شوي وي، والله ﷻ أعلم.

## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې هغه ډله ښودلې شوې ده کومه چې په قرآن کريم باندې عقيده لري او په عمل کښې يې پياده کوي. په دې ايتونو کښې هغه خلک ښودل شوي دي چې په قرآن کريم باندې نه عقيده لري او نه ورباندې عمل کوي، بلکې دغه حکيم کتاب د خرافياتو او واهياتو سره برابروي.

همدارنګه په دې اياتونو کښې د دواړو ډلو اُخروي جزاګانو ته هم اشاره شوې ده، او د دواړو انجام او عاقبت هم ټاکلی شوی دی.

## د مطلب خلاصه

يعنې ای پيغمبره! د محسنانو د ډلې په مقابل کښې اوس د مفسدانو د ډلې څه حالات په خپل امت باندې قرائت کړه. هغه دا چې:

۱ـ د خلکو د جملې څخه ځينې هغه خلک دي چې لاندې عادتونه او خاصيتونه لري:

الف: هغوی د خبرو څخه مشغولوونکې خبرې رانيسي او خلک ورباندې د قرآن کريم د اورېدلو څخه غافلان ګرځوي.

او يا په خپلو پيسو باندې دمې وينځې رانيسي او د خلکو د اغفال دپاره يې ګډوي.

ب: البته چې دغه ډله خلک د دې دپاره ذکرو شوو کارونو ته ادامه ورکوي ترڅو دوی وتوانېږي چې د الله ﷻ د لارې څخه ـچې قرآن کريم يې بيانوونکی دیـ خلک واړوي او کفري ډله ورباندې غټه کړي.

---

[1] تفسير المراغي ج۲۱ ص۷۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: که څه هم هغوی د ټولو خلکو په ګمراه کولو پسې په هڅه کښې دي خو د هغوی نقشه فقط په بې علمه او بې وقوفه خلکو باندې مثمره واقع کېدلی شي، اما په مؤمنانو او مخلصانو باندې يې هيڅ اغېز نشته.

د: دغه ډله خلک په دې باندې علاوه چې په الهي لارې باندې نه پخپله تلل کوي او نه بل څوک پرېږدي چې ورباندې لاړ شي، د الله ﷻ ايتونه په مسخرو او خندنيو سره نيسي، چې د بې هوده مزخرفو قيصو او خرافاتو سره يې تشبيه کوي، بلکې لا هغو ته ورباندې ترجيح ورکوي.

۲ـ ای پیغمبره! دغه ډله خلک چې دې همدوی ته د الله ﷻ د پلوه سپکوونکی عذاب ټاکلی شوی دی، چې هرو مرو او ضرور به ورباندې مبتلا شي. او دا ځکه چې:

۳ـ کله په همدغو باندې زمونږ ايتونه ولوستلی شي او دعوت ورکړی شي چې عمل ورباندې وکړئ او د عبثياتو څخه لاس واخلئ، نو:

الف: هغوی ورته سمدستي شاوې وراړوي، او په داسې حال کښې ترې مخ په شا خي چې تکبر کوونکي او لويې کوونکي وي، بلکې قبول يې ورته سپکاوی او بې عزتي برېښي.

ب: هغوی د ايتونو په مقابل کښې داسې وضعه خپلوي ته به وايې چې د سره يې اورېدلي نه دي، او غوږونو ته يې هيڅ نه دي رسېدلي بلکې غوږونه يې څه درونډوالی لري، که هر څومره په لوړ اواز ورته ابلاغ کړی شي بيا هم هغوی يې نه اورېدلی برېښوي.

۴ـ نو ای پیغمبره! ذکرې شوې ډلې ته د الله ﷻ د پلوه په دردناک عذاب سره خبر ورکړه، چې نظر د دغې ډلې تالاش ته داسې برېښي چې دغه به ورته بشارت وي، چې شپه او ورځ يې په تحصيل کښې تاند وهي.

۵ـ بالمقابل يقينًا د هغو کسانو دپاره چې ايمان يې راوړی دی او نيک عملونه يې ورسره ملګري کړي دي (قرآن کريم يې علمًا او عملاً قبول کړی دی) د همدغو کسانو دپاره په آخرت کښې:

الف: زينت ډېر او بې شمېره نعمتونه ټاکلي شوي دي چې جنتونه ورباندې مشتمل دي.

ب: دوی به په دغو نعمتونو کښې همېشه وي او هيڅکله به ترې ونه ويستلی شي او نه به په نعمتونو باندې زوال او فنا ورشي.

ج: دا وعده بالکل حقه ده او دا ځکه چې دا د بل چا وعده نه ده بلکې د الله ﷻ وعده ده، ايا په وعده کښې د الله ﷻ څخه بل څوک ښه وفاکوونکی شته؟

۶ـ ای پیغمبره! الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، کولی شي چې کفار پوينا کړي، خو د دې سره سره حکيم هم دی نو تر يو وخته پورې د هغوی ژوندې پرېښودل د حکمت غوښتنه ده ترڅو د امتحان او ازمېښت دوره پوره کړي.

## توضیحات

۱ـ که څه هم په ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡتَرِي لَهۡوَ ٱلۡحَدِيثِ﴾ کښې د "من" کلمه د لفظ په لحاظ مفرده

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ده او د معنی په لحاظ جمعه ده، د همدې کبله ورته په ایت شریف کښې د مفرد او جمعې (دواړه) ضمائر راجع کړی شوي دي لکه ﴿ أُذُنَيْهِ ﴾، ﴿ لَهُمْ ﴾ او داسې نور؛ خو مونږ په ترجمه او تفسیر کښې د لفظ په مراعات باندې د معنی مراعات ته ترجیح ورکړې ده.

دا د یو پلوه، او د بله پلوه د ﴿ يَشْتَرِى ﴾ کلمه د "اشتراء" څخه اشتقاقه شوې ده چې مفسرینو کرامو په دې مقام کښې په دوه وو معناوو باندې[1] تفسیره کړې ده:

الف: د یوه شي رانیول، چې په مقابل کښې یې د "بَيْع" کلمه استعمالېږي.

ب: د یوه شي غوره کول او خوښول، لکه چې الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَٰبِ يَشْتَرُونَ ٱلضَّلَٰلَةَ وَيُرِيدُونَ أَن تَضِلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴾ [النساء:۴۴] یعنې ته هغو کسانو ته نه ګورې چې هغوی ته د کتاب څخه څه برخه ورکړه شوې ده چې ګمراهي (په بیه) اخلي (خوښوي) او د دې خبرې اراده لري چې تاسو هم د هغوی غوندې سمه لاره ورکه کړئ.

مونږ ته بهتره برېښي چې د "اِشتراء" څخه "ما يطلق عليه الاشتراء" (هر هغه شی چې د اشتراء اطلاق پرې کېږي) واخستل شي ترڅو پکښې ذکرې شوې دواړه معناوې شاملې شي.

## لهو الحدیث څه معنی؟

۲ـ مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۳۲] ایت لاندې د "لَهْوٌ" کلمه تعریفه کړې ده چې دا د هغه شي څخه عبارت ده کوم چې سړی د اصلي مقصود څخه مشغولوي او د لږ تلذذ څخه وروسته د منځه ځي، په دې مقام کښې ورباندې د ښه وضاحت دپاره وراضافه کوو چې:

الف: په ایت شریف کښې ذکره شوې کلمه د ﴿ ٱلْحَدِيثِ ﴾ کلمې ته مضافه شوې ده، نو دلته هر مشغولوونکی شی نه بلکې هرې مشغولوونکې خبرې مطلب دي، چې لاندې صورتونه پکښې ټول شامل دي:

اول: د خرافي قیصو او واهیاتو کتابونه، چې د دروغو څخه ډک وي.

دوهم: د عبثیاتو او سندرو فیتې (کاسیټې)، برابره خبره ده چې د ټیپ فیتې وي او که د ټلویزون، او یا د کمپیوټر سي دي ګانې وي.

درېم: سندرغاړې زنانه او سندغاړي نارینه (ډمې او ډمان)، چې په اجرت سره سرودونه ترسره کوي او یا بدون د اجرت څخه دغه کار کوي.

څلورم: بالآخره د ډمبازی او نڅا ټول مجالس او غونډې پکښې شمولیت لري، او هم پکښې د ساز او سرود ټول سامانونه شامل برېښي.

ب: د ایت شریف مضمون په ډېرو احادیثو کښې هم روایت شوی دی، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۱۶۰

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: نبي كريم ﷺ فرمايلي دي چې: «لَيَشْرَبَنَّ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا يُعْزَفُ عَلَى رُءُوسِهِمْ بِالْمَعَازِفِ وَالْمُغَنِّيَاتِ يَخْسِفُ اللَّهُ بِهِمُ الْأَرْضَ وَيَجْعَلُ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ»[۱] يعني زما د امت څخه به هرومرو او ضرور يوه ډله خلک شراب وڅښي او د خپل نامه څخه په بدل نوم به يې نوموي (چې دا شراب نه دي بلکې بير يا شربت دي)، دغه ډله خلک به دا خاصيت هم ولري چې د دوی په سرونو باندې (د دوی په وړاندې) به د سرود سامانونه غږولی کېږي او سندرغاړې ښځې به ورته نڅولی کېږي، په دغو خلکو به الله ﷻ ځمکه خسفه کړي، او بيزوګان او خنزيران به ترې جوړ کړي.

دوهم: نبي كريم ﷺ په خپل يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «...وَظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ وَالْمَعَازِفُ»[۲] يعني او کله چې سندغاړې ښځې او د سرود آلات (سامانونه) څرګند شي نو په دغه وخت کښې بايد د وخت خلک د قيامت قيام ته منتظر اوسي.

دريم: په يوه اوږده حديث کښې راغلي دي چې يوه ورځې يوه ښخنوکي سړي (عمرو بن قرة) نبي کريم ﷺ ته وړاندېز وکړ چې: ای د الله رسوله! ماته داسې برېښي چې زما روزي په نغاره وهلو (او سندرو) کښې ګرځولې شوې ده، نو ماته اجازه راکړه چې خلکو ته نغاره وډنګوم او سندرې ورته ووايم ترڅو راته پيسې راکړي، خير دی نور بدکارونه او فحاشي به نه کوم.

نبي کريم ﷺ جواب ورکړ چې: «لَا آذَنُ لَكَ وَلَا كَرَامَةَ وَلَا نُعْمَةَ عَيْنٍ كَذَبْتَ أَيْ عَدُوَّ اللَّهِ لَقَدْ رَزَقَكَ اللَّهُ طَيِّبًا حَلَالًا فَاخْتَرْتَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْكَ مِنْ رِزْقِهِ»[۳] يعني نه به اجازه درکړم او نه به دې د سوال په قبول سره اکرام کړم، او بالآخره نه به دې ورباندې سترګې يخې کړم چې خوشاله شې، ای د الله دښمنه! ته دروغ وايې چې الله ﷻ ستا روزي په حرامو کښې ګرځولې ده، بلکې الله ﷻ ستا روزي په پاکيزه او حلالو کښې ګرځولې ده (چې په همدې لارې يې حاصله کړې)، خو تا د الله ﷻ د رزق څخه هغه رزق غوره کړی دی کوم يې چې په تاباندې حرام کړی دی.

څلورم: نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «وَأَمَرَنِي رَبِّي عَزَّ وَجَلَّ بِمَحْقِ الْمَعَازِفِ وَالْمَزَامِيرِ وَالْأَوْثَانِ وَالصُّلُبِ وَأَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ»[۴] يعني زه الله ﷻ د عالمونو دپاره رحمت او هدايت رالېږلی يم، او امر يې راته کړی دی چې دغه شيان محوه او نابود کړم: د سرود سامان، د سندرو او خوش اوازی آلات، بوتان، د نصاراوو صليبونه، بلکې د جاهليت د زمانې ټول رواجونه او دودونه.

## د ساز او سرود شرعي حکم

۳ـ په دې مقام کښې د شان نزول د روايتونو په مطابق د ﴿وَمِنَ النَّاسِ﴾ څخه کفار مطلب دي، او دا ځکه چې په ايت شريف کښې ورته د کفارو خاصيتونه منسوب شوي دي لکه: ﴿لِيُضِلَّ عَن

---

(۱) صحيح البخاري ج۲ ص۸۳۷ ؛ سنن ابن ماجه ص۲۹۰
(۲) جامع الترمذي ج۲ ص۴۵
(۳) سنن ابن ماجه ص۱۸۷
(۴) مسند احمد بن حنبل ج۸ ص۳۰۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سَبِيلِ ٱللَّهِ ﴾، ﴿ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ﴾، ﴿ وَلَّىٰ مُسْتَكْبِرًا ﴾، ﴿ كَأَنَّ فِيٓ أُذُنَيْهِ وَقْرًا ﴾ او داسې نور.

پاتې شوه دا خبره چې د ذکرو شوو خاصيتونو څخه په غير د ساز او سرود شرعي حکم څه دی؟، نو په دې هکله ځينو مفسرينو کرامو[۱] او ځينو فقهاوو کرامو[۲] اوږده بحثونه کړي دي خو مونږ فقط د لاندې نکاتو په ذکر باندې اکتفاء کوو:

الف: "لَهْو" خو د عبثياتو څخه ده او اصلي حکم يې تحريم دی، هوا کوم دولونه چې ترې ويستلې شوي دي نو هغه بېله خبره ده، لکه چې نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «كُلُّ مَا يَلْهُو بِهِ الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ بَاطِلٌ إِلَّا رَمْيَهُ بِقَوْسِ وَتَأْدِيبَهُ فَرَسَهُ وَمُلَاعَبَتَهُ أَهْلَهُ فَإِنَّهُنَّ مِنَ الْحَقِّ»[۳] يعنې هر هغه شی په کوم سره چې مسلمان سړی مشغولتيا کوي باطل دی (څه اجر او ثواب پکښې نشته) مګر په لندې سره د سړي غشي ويشتل او خپل آس ته ادب ورښودل (چې د جهاد سره اموخته شي) او د سړي د خپل کهول (مانديني) سره ساتېری کول، او دا ځکه چې دغه درېواړه حق دي (اجر پکښې شته دي).

ب: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَرَامِ وَالْحَلَالِ الدُّفُّ وَالصَّوْتُ»[۴] يعنې د نکاح په هکله په ما بين د حلالې او حرامې کښې دارېال او اواز دی (چې شهرت ته ورسوله شي او عادي سندرې پکښې وويلی شي).

ج: يوه ورځې د بي بي عائشې رضي الله عنها د خپلوانو څخه يوه انجلۍ واده شوه، نو نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه چې: ايا تاسو د ډولۍ سره هغه څوک واستاوه کوم چې سندرې وايي؟

بي بي جواب ورکړ چې: نه.

نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: انصار سندرو ته ميلان لري، کاشکې چې هغه څوک مو ورسره استولی وی چې دا سندره يې ورته ويلې وی چې: «أَتَيْنَاكُمْ أَتَيْنَاكُمْ :: فَحَيَّانَا وَحَيَّاكُمْ»[۵] مونږ تاسو ته راغلو، مونږ تاسو ته راغلو، نو الله ﷻ دې مونږ هم ژوندي لري او تاسو دې هم ژوندي لري.

د: نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالْغِرْبَالِ»[۶] يعنې دغه شرعي نکاح تاسو اعلانه کړئ او غربال (دارېال) ورباندې ووهئ.

ه: يو ځل د اختر په ورځ د بي بي عائشې رضي الله عنها په کور کښې دوه وړ انجنکيانو سندرې ويلې (چې څه مهارت يې پکښې نه درلود) خو د بعاث جنګ يې پکښې ستايه.

ابوبکر الصديق رضي الله عنه ورته په غصه شو او ورته يې وويل چې ايا تاسو د شيطان اواز بل چرته نه،

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۶۶؛ تفسير المظهري ج۷ ص۲۴۸؛ تفسير القرطبي ج۱۴ ص۵۱
(۲) الفقه الإسلامي وادلته ج۳ ص۵۷۱
(۳) جامع الترمذي ج۱ ص۲۹۲
(۴) جامع الترمذي ج۱ ص۲۰۷
(۵) سنن ابن ماجه ص۱۳۶
(۶) سنن ابن ماجه ص۱۶۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بلکې د نبي کریم ﷺ په کور کښې اوچوتوی؟!

نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: ای ابا بکره! «إِنَّ لِكُلِّ قَوْمٍ عِيدًا وَهَذَا عِيدُنَا»(۱) یقیناً د هر قوم دپاره اختر دی، او دا ورځ زمونږ اختر دی (ورته مه په غُصه کېږه).

و: یوه ورځې نبي کریم ﷺ د کومې غزا څخه روغ او فاتح راستون شو، نو یوه ښځه ورته راغله او ورته یې وویلې چې: ای د الله رسوله! ما په خپل ځان نذر منلی وه که ته الله ﷻ فاتح او روغ راستون کړې، نو زه به (د کفارو او منافقانو د تخجیل دپاره) ستا په سر باندې دپاسه داریال ووهم.

نبي کریم ﷺ ورته جواب ورکړ چې: «أَوْفِي بِنَذْرِكِ»(۲) یعنې ته دې خپل نذر پوره کړه (زما د سر دپاره داریال ووهه).

ز: ذکر شوی حدیث په بل روایت کښې ښه مشرح روایت شوی دی چې مونږ یې مضمون په لاندې تکو کښې لیکو:

اول: یوه توره انجلۍ نبي کریم ﷺ ته هغه وخت ورغله چې د کومې غزا څخه راستون شوی وه.

دوهم: هغې وویلې چې: ای د الله رسوله! ما په خپل ځان نذر منلی وه که چرته الله ﷻ د غزا څخه تا روغ رمټ راستون کړي نو ستا په وړاندې به داریال ووهم، او خپله خوشالي به څرګنده کړم.

دریم: نبي کریم ﷺ ورته وویلې چې: «إِنْ كُنْتِ نَذَرْتِ فَاضْرِبِي وَإِلَّا فَلَا» که چرته تا نذر منلی وي نو نذر پوره کړه (داریال ووهه) او که نه نو نه (داریال مه وهه).

څلورم: نو هغې د داریال په وهلو پیل وکړ.

پنځم: په دغه وخت کښې ابو بکر ؓ راغی، خو نوموړې خپلې خوشالۍ ته ادامه ورکړه، بیا عثمان ؓ راغی خو بیا هم نوموړې غلې نه شوه، حتی چې د علي ؓ په راتګ سره یې هم د خپل داریال وهل بس نه کړه.

شپږم: کله چې عمر ؓ مجلس ته راغی نو نوموړې انجلۍ خپل داریال د ځان لاندې کېښود او د پاسه وریاندې کېناسته، تابه ویل چې خپل داریال پټوي.

اوم: نبي کریم ﷺ عمر ؓ مخاطب کړ چې: «إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَخَافُ مِنْكَ يَا عُمَرُ!»(۳) یعنې ای عمره! یقیناً ستا څخه شیطان دارېږي.

او دا ځکه چې زه ناست وم او نوموړې خپل داریال واهه، د ابو بکر په راتګ سره یې هم بس نه کړ، او همدارنګه د عثمان ؓ او علي ؓ د دواړو په حضور کښې یې هم درزاوه، نو کله چې ته راغلې ای عمره! هغې داریال ګوزار کړ.

ح: که څوک وایي چې: ایا د ذکر شوي حدیث اول او آخر سره څه تضاد نه لري چې په اول کښې یې اجازه ورکړه چې داریال ووهه، او په آخر کښې یې د شیطان په نامه یاده کړه؟

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۲۹۱؛ صحیح البخاري ج۱ ص۱۳۰ بالمضمون
(۲) سنن ابي داود ج۱ ص۱۱۳
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۲۱۰

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



مونږ وايو چې: اجازه خو د دې دپاره وه چې خپل نذر پوره کړي (داريال ته يو درز يا دوه درزه ورکړي) هسې نه چې ادامه ورکړي، او هيڅ غلې کېږي نه، نو څکه نبي کريم ﷺ د نوموړې انجلی د جواز څخه اضافه داريال وهل د شيطان په لقب ورکولو سره رد کړ.

## تبصره

۴_ د ذکرو شوو نصوصو څخه څرګندېږي چې سرود اصلاً شيطاني کار دی او تحريم پکښې اصل دی. نو په کومو مواردو کښې چې د نبي کريم ﷺ د پلوه اجازه ورکړه شوې ده هغه په خپلو مواردو پورې اختصاص لري او هيڅوک د همدغې خاصې اجازې په بهانه په نورو مواردو کښې سرود جائز نه شي ګڼلی.

لنډه دا چې د دې زمانې د ساز او سرود مروج مجالس ټول ناجائز دي او ټول د فساد سرچينې دي، د ښه وضاحت دپاره يې لاندې مثالونه ولولی:

الف: چې سندر غاړې ښځه يا هغه سندرغاړی هلک چې د ښځو لباس يې ورغوستی وي ناځي او سندرې وايي، او فاسقان او فاجران ورباندې راغونډ شوي وي.

ب: چې ټيپ شوې سندرې ورته چيلانې وي، او رقاصان ورته رقص کوي او ورته ګډېږي.

ج: چې زنانه او نارينه ګډوډ وي او ټول په اتڼ اخته وي، چې په خلکو کښې د برګ اتڼ په نامه يادېږي.

د: چې زنانه په لارې رواني وي او داريال وهي او د هيچا څخه نه حيا ورځي او نه ترې شرمېږي.

هـ: چې په تلويزون کښې ذکرې شوې صحنې ګوري.

او داسې نور چې نن ورځ رواج دي او خلک ورباندې افتخار کوي، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

﴿خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ بِغَيۡرِ عَمَدٖ تَرَوۡنَهَاۖ وَأَلۡقَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ رَوَٰسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٖۚ وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَنۢبَتۡنَا فِيهَا مِن كُلِّ زَوۡجٖ كَرِيمٍ ﴿١٠﴾ هَـٰذَا خَلۡقُ ٱللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ ٱلَّذِينَ مِن دُونِهِۦۚ بَلِ ٱلظَّـٰلِمُونَ فِي ضَلَـٰلٖ مُّبِينٖ ﴿١١﴾ وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا لُقۡمَـٰنَ ٱلۡحِكۡمَةَ أَنِ ٱشۡكُرۡ لِلَّهِۚ وَمَن يَشۡكُرۡ فَإِنَّمَا يَشۡكُرُ لِنَفۡسِهِۦۖ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٞ ﴿١٢﴾ وَإِذۡ قَالَ لُقۡمَـٰنُ لِٱبۡنِهِۦ وَهُوَ يَعِظُهُۥ يَـٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِۖ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ﴿١٣﴾﴾

[۱۰] الله ﷻ اسمانونه بدون د ستنو څخه پيدا کړي دي تاسو يې ګورئ (چې ستنې نه لري)، او الله ﷻ په ځمکه باندې (د غرونو) ميخونه اچولي دي چې په تاسو سره به وښورېږي (اضطراري حرکت به وکړي او استوګنه به مو ورباندې مشکله شي)، او الله ﷻ په ځمکه کښې د هرې نوعې حرکت کوونکو (ساکښانو) څخه (ساکښان) خواره کړي دي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او مونږ د اسمان (د پلوه) څخه اوبه (باران) نازل کړی دی نو مونږ (ورباندې) په ځمکه کښې د هرې ګټورې نوعې څخه (نباتات) زرغون کړي دي.

[۱۱] دغه د الله ﷻ پیدا کول دي، نو (ای مشرکانو!) تاسو هغه شی راولید کړئ (راوښایست) کوم چې هغو (بوتانو) پیدا کړی دی چې (تاسو یې) بدون د الله ﷻ څخه (عبادت کوئ).
بلکې ظالمان (مشرکان) په ځرګنده ګمراهۍ کښې (واقع) دي.

[۱۲] او یقینًا مونږ لقمان ته حکمت ورکړی وه چې خاص د الله ﷻ دپاره شکرګزاري وکړه.
او هرڅوک چې شکرګزاري وکړي نو بې شکه هغه د خپل ځان دپاره شکرګزاري وکړه (ګټه یې همده ته راجع ده)، او هرڅوک چې ناشکري (کفران) وکړي نو (ضرر یې په همده باندې دی ځکه چې) یقیناً الله ﷻ (د شکرګزارۍ څخه) بې پروا دی (او هم په ښو صفاتو) ستایل شوی دی.

[۱۳] او هغه وخت یاد کړه چې لقمان خپل زوی ته په داسې حال کښې ووېل چې نوموړي ته یې وعظ کاوه چې: ای زما زوی ګوتیه! د الله ﷻ سره په شرک عقیده مه کوه (خپل ځان ترې وساته)، یقینًا (د الله ﷻ سره په) شرک (باندې عقیده کول) ډېر لوی ظلم دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنیو ایتونو کښې د قرآن کریم څخه د منحرفې ډلې ذکر وه چې د الله ﷻ سره شریکان درول. په دې ایتونو کښې د همدغې ډلې خلکو د قناعت دپاره دوه ور ډولو دلایلو ته اشاره کېږي.
یو دا چې: د خپل عقل څخه کار واخلئ او په کائناتو کښې فکر وکړئ، او بل دا چې د هوښیار سړي خبرو ته غوږ کېږدئ که څه هم پیغمبر نه وي. نو حاصل یې داسې راځېږي:
ای پیغمبره! د دې دپاره چې د توحید څخه منحرفه ډله په سمه لاره روانه شي، دغه دلایل ورته واوروه:

۱_ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې لاندې کارونه کوي:

الف: الله ﷻ اسمانونه بدون د ستنو څخه پیدا کړي دي او بدون د ستنو څخه یې درولي دي، آیا تاسو ته د اسمانونو ستنې ښکارېږي؟ که بالفرض ستنې یې درلودی نو تاسو به لیدلې وی.

ب: الله ﷻ ځمکې پیدا کړي دي او هم یې ورباندې د میخونو په حیث غرونه اچولي دي، چې په اضطراري حرکت سره به تاسو ته حرکت درکړي او په مخ به یې ژوند ونه کړی شئ، د همېشه دپاره به زلزله وي.

ج: الله ﷻ د هر ډول حرکت کوونکو ژوندیو ساکښانو څخه زښت ډېر په ځمکه کښې خواره کړي دي، او هر یوه ته یې پکښې مناسب ځای ټاکلی دی، چې ځیني په دریاب کښې اوسېږي او ځینې د ځمکې په ګېډه کښې او هم ځینو په غرونو او ځینو په سمڅو کښې ځایونه نیولي دي او داسې نور.

د: په دې باندې علاوه، مونږ د بل پلوه نه بلکې د اسمان د طرفه اوبه (باران) نازل کړي دي چې په ځمکه باندې یې ورور.

Scanned by CamScanner

هم بیا مونږ په همدغه باران سره په ځمکه کښې د هر ډول ښه نباتات را زرغونوو چې مخلوقاتو ته ګټور او نافع واقع کیږي، او هر ډول ګټې ترې اخلي.

۲ـ ای پیغمبره! مشرکان مخاطب کړه چې: دغه شیان چې تاسو یې په وړاندې شوي، دا ټول د الله ﷻ مخلوق دي، او همدغه ﷻ پیدا کړي دي چې هیڅوک او هیڅ شی ورسره پکښې اشتراک نه لري، نو که تاسو په خپله شرکي عقیده کښې رښتیني یاست نو هغه شی راوښایاست کوم چې ستاسو بوتانو پیدا کړي وي چې تاسو د الله ﷻ څخه په غیر په معبودیت سره نیولي دي؟

۳ـ پوره واضحه ده چې د مشرکانو جواب د ذکر شویو پوښتنو په مقابل کښې منفي دی، نو ځرنګه چې د مشرکانو باطل معبودان په پیدا کولو کښې برخه نه لري نو معلومه شوه چې په معبودیت کښې هم بې برخې دي.

نو مشرکان د شرک په ارتکاب سره په خپلو ځانونو باندې ظلم کوي بلکې همدوی په ښکاره ګمراهۍ کښې واقع دي.

۴ـ په دې باندې علاوه که مشرکان د خپل عقل څخه کار نه اخلي نو د هغه څه په وړاندې دې فکر وکړي کوم چې همدوی ته هوښیار او د حکمت خاوند بریښي، هغه دا چې:

الف: مونږ لقمان ته یا عمله علم ورکړی وه، او د دې توفیق مو ورپښلی وه چې حق ته دعوت وچلوي.

ب: مونږ نوموړي ته الهامًا توصیه کړې وه چې ته خاص د الله ﷻ د نعمتونو شکریه وکړه چې د حکمت خاوند مو ګرځولی یې.

ج: مونږ نوموړی په دې باندې پوه کړی وه چې د نعمتونو د شکرګزارۍ ګټه او فائده همدا ته بېرته ورګرځي او دا ځکه چې:

هرڅوک چې شکرګزاري وکړي نو یقینًا هغه د خپل ځان دپاره شکرګزاري وکړه. او هرڅوک چې ناشکري او د نعمتونو کفران وکړي نو ضرر یې خاص همده ته راجع دی. یقینًا الله ﷻ د خلکو د شکرګزارۍ څخه بې پروا دی (هیڅ ارتیا ورته نه لري) او همدی ﷻ د ښو صفاتو درلودونکی دی. برابره ده چې څوک وربانديې اعتراف وکړي او که ترې منکر شي.

د: ته هغه وخت خلکو ته وریاد کړه چې:

اول: نوموړي لقمان بل چاته نه بلکې خپل زوی ته نصیحت کاوه او د الله ﷻ د عذابه یې ډاراوه.

دوهم: په ډېره نرمه لهجه (چې د مهربانۍ څخه یې نمایندګي کوله) یې ورته توصیه وکړه چې: ای زما زوی ګوتیه! د الله ﷻ سره شریک یا شریکان مه دروه، د دغه کار څخه خپل ځان بچ وساته. ځکه چې یقینًا شرک ډېر لوی ظلم دی، د دغه لوی ظلم مرتکب کېږه مه، چې هیڅ جبیره نه لري.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ﴾ کلماتو شرحه د [الرعد: ۲] ایت لاندې، او د ﴿ وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



زَوْبِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ ﴾ جملې شرحه د [النحل:۱۵] ايت لاندې د الله ﷻ په توفيق تېره شوې ده، چې بيا ليکلو ته يې اړتيا نه ګورو.

## لقمان څوک وه؟

۲_ په ﴿ وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا لُقْمَٰنَ ٱلْحِكْمَةَ ﴾ کښې د ﴿ لُقْمَٰنَ ﴾ په باب علماوو کرامو زښت ډېر معلومات ليکلي دي[1] لاندې مثالونه يې ولولئ:

الف: د جمهورو علماووکرامو په نزد لقمان د اولياء الله څخه وه خو پيغمبر نه وه.

ب: نوموړی د داوُد ﷺ د زمانې په شاوخوا کښې تېر شوی دی.

ج: نوموړی د تور پوستو حبشو څخه وه او اصلي مَسکن يې سوډان وه.

د: لقمان په ګټورو خبرو باندې په ټوله دنيا کښې شهرت لري، چې د مکې معظمې مشرکانو هم د هوښيار سړي په نامه باندې پېژاند.

هـ: د نوموړي څخه د يو زرو څخه زيات نصائح رانقل شوي دي او د خلکو په ژبو باندې جاري دي او په کتابونو کښې ليکلي شوي دي[2].

و: د هغه د نصائحو څخه ځينو مفسرينو کرامو هم يوه غټه مجموعه راغونډه کړې ده[3]، که څوک يې د لوستلو شوق لري نو همځته دې مراجعه وکړي.

## حکمت څه معنی؟

۲_ الله ﷻ د لقمان په هکله د هغو شيانو په ذکر باندې اکتفاء کړې ده چې مونږ ته په ګټه تمامېږي. هغه دا چې:

الف: الله ﷻ لقمان ته حکمت ورکړی وه، ترڅو وروستنيو خلکو ته د هغه خبرې په ګټه تمامې شي، د نوموړي په نصائحو کښې حکمت او واقعيت د ورايه بربښي.

مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:۲۶۹] ايت لاندې ليکلي دي چې د ﴿ ٱلْحِكْمَةَ ﴾ کلمه تقريباً (۲۹) معناوې لري چې په ټولو کښې "استقامت" او "ثبات" پروت دی، دلته ورباندې وراضافه کوو چې:

کله چې د نوموړې کلمې نسبت بنده ته وکړی شي نو علم او د عمل توفيق ترې مرادېږي او چې کله يې الله ﷻ ته نسبت وشي نو د هغه علم معنی ورکوي چې د معلوم (واقع) په مطابق وي[4].

ب: الله ﷻ مونږ ته د لقمان د نصائحو څخه ځو مثالونه رانازل کړه، چې په اول سر کښې يې د توحيد نصيحت قرار لري چې بايد د شرک څخه اجتناب وکړی شي.

ج: که څه هم د لقمان نصائح د هغه په اولاد پورې اختصاص نه درلود مګر الله ﷻ د ده هغه

---

(۱) تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۴۳؛ روح المعاني ج۲۱ ص۸۳؛ المحرر الوجيز ج۱۳ ص۱۲

(۲) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۶۱

(۳) الدر المنثور ج۶ ص۵۰۹

(۴) اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۴۴۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نصائح راحکایت کړه په کومو باندې چې نوموړي خپل زوی مخاطب کړی وه.

دا د دې دپاره چې که په توحید کښې د دنیا او آخرت ښېګڼې نه وی نغښتې او شرک او کفر په ټولو فساداتو باندې نه وی مشتمل، نو لقمان به ورباندې خپل ګران زوی نه وی مخاطب کړی.

د: ته به وایې چې مشرکان او کفار په غوږ باندې وهل شوي دي چې که تاسو لقمان د حکیم په صفت پېژنئ او په همدې صفت باندې په تاسو کښې شهرت لري نو د هغه خاص نصیحت هم قبول کړئ په کوم باندې یې چې خپل زوی مخاطب کړی وه.

## ایا د لقمان زوی کافر وه؟

۳_ ځینو مفسرینو کرامو په ﴿ يَٰبُنَيَّ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ لَا تُشۡرِكۡ ﴾ کلمې څخه فهم کړی ده چې احتمال شته چې د لقمان زوی به کافر او مشرک وه[1]، خو پلار ورته نصیحت وکړ چې د شرک او کفر څخه لاس واخله.

مګر مونږ ته بهتره برېښي چې د نوموړي زوی به موحد وه او کافر به نه وه، د همدې کبله یې په خپلو نصائحو کښې د لمانځه د ودرولو او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر نصائح هم ورته اورولي دي، لکه چې وروسته راروان دي، نو په دې تقدیر د ﴿ لَا تُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ ﴾ معنی داسې کېږي چې توحید ته ادامه ورکړه او د شرک بالله څخه خان وساته.

﴿ وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيۡنِ أَنِ ٱشۡكُرۡ
لِي وَلِوَٰلِدَيۡكَ إِلَيَّ ٱلۡمَصِيرُ ١٤ وَإِن جَٰهَدَاكَ عَلَىٰٓ أَن تُشۡرِكَ بِي مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٞ
فَلَا تُطِعۡهُمَاۖ وَصَاحِبۡهُمَا فِي ٱلدُّنۡيَا مَعۡرُوفٗاۖ وَٱتَّبِعۡ سَبِيلَ مَنۡ أَنَابَ إِلَيَّۚ ثُمَّ إِلَيَّ
مَرۡجِعُكُمۡ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٥ يَٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٖ
فَتَكُن فِي صَخۡرَةٍ أَوۡ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ أَوۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَأۡتِ بِهَا ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٞ ١٦
يَٰبُنَيَّ أَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ وَأۡمُرۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ إِنَّ ذَٰلِكَ
مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ ١٧ وَلَا تُصَعِّرۡ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمۡشِ فِي ٱلۡأَرۡضِ مَرَحًاۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا
يُحِبُّ كُلَّ مُخۡتَالٖ فَخُورٖ ١٨ وَٱقۡصِدۡ فِي مَشۡيِكَ وَٱغۡضُضۡ مِن صَوۡتِكَۚ إِنَّ أَنكَرَ
ٱلۡأَصۡوَٰتِ لَصَوۡتُ ٱلۡحَمِيرِ ١٩ ﴾

(١) روح المعاني ج٢٠ ص٨٥

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۱۴] او مونږ بنیادم ته د مور او پلار په ارتباط توصیه (کلک حکم) کړې دی (او دا خکه چې) بنیادم لره خپله مور (په خپله گېډه کښې) په داسې حال اوچتوي چې یوه کمزوري یې په بلې کمزورۍ (د پاسه) وي (کمزوري یې روزمره زیاتېږي)، او (بیا یې په غېږه کښې په داسې حال اوچتوي چې) جدا کېدل (د تې څخه بېرې کول) یې په دوه وو کالو کښې صورت نیسي.

(زمونږ توصیه ورته دا ده چې ای بنیادمه!) ته زما دپاره شکرگزاري وکړه (چې زه ستا خالق یم) او د خپلو والدینو دپاره هم (شکرگزاري وکړه چې دوی دواړه ستا مجازي مربیان دي).

او خاص ماته (د قیامت په ورځ) ستا راگرځېدل دي (چې ترځو درسره حساب کتاب وکړی شي).

[۱۵] او که (بالفرض) دوی دواړه ستا په هکله کوښښ وکړي چې ته زما سره (په عبادت کښې هغه شی (بوت) شریک وگرځوې د کوم (په اشتراک او یا په موجودیت) باندې چې تاته علم نشته، نو (په دغه صورت کښې) ته د هغوی دواړو اطاعت مه کوه، خو د دې سره-سره په دنیا کښې د دواړو سره نیکي (او ښېگڼې) ملگرې کړه (او دنیاوي اندیوالي ورسره مه پرېږده).

(په دې صورت کښې) ته د هغه چا پېروي وکړه کوم چې مونږ ته رجوع کوي (او تا سمې لارې ته دعوتوي، او دا خکه چې) بیا (د مرگه وروسته) خاص ماته ستاسو رجوع ده نو زه به مو په هغه شي باندې خبر کړم کوم چې تاسو یاست چې (په دنیا کښې یې) کوئ.

[۱۶] (لقمان علیه السلام خپل زوی ته وویلې چې:) ای زما زوی گوتیه! یقیناً که چرته ستا اطاعت یا معصیت د اوړي (د دانو) څخه د یوې دانې په اندازه وي، نو (بیا) د ډبرې (په داخل) کښې وي او یا په اسمانو یا په ځمکو کښې وي (په کوم لرې ځای کښې موجودیت ولري) نو هم الله ﷻ به یې (د حساب کتاب دپاره) راوړي.

یقیناً الله ﷻ ډېر باریک لیدونکی (او په ډېر باریک شي باندې) خبردار دی.

[۱۷] ای زما زوی گوتیه! لمونځ ودروه، او (خلکو ته) په نېکۍ امر وکړه او (هم یې) د بدو (په شریعت کښې د ناآشنا کار) څخه منعه کړه، او په هغه (مصیبت) باندې صبر وکړه کوم چې تاته ورسېږي (خصوصاً د دعوت په جریان کښې).

یقیناً دغه (نصائح) د کلکو (او دائمي) کارونو څخه دي (چې په هیڅ شریعت کښې د نسخې سره نه دي مخامخ شوي).

[۱۸] او د خلکو (د تحقیر) د کبله خپل مخ مه تاوه وه (چې سم ورته نه گورې)، او (هم) په ځمکه کښې د نخرو (او ناز) په حیث تلل مه کوه (د ځمکې څخه تواضع زده کړه).

یقیناً الله ﷻ هر یو تکبر کوونکی (او) فخر کوونکی نه خوښوي.

[۱۹] او په خپلو تللو کښې متوسط تلل کوه (مه منډې وهه او مه ډېر په ورو-ورو ځه)، او (هم) د خپل اواز څخه ټیټوالی وکړه (په لوړ اواز خبرې مه کوه).

یقیناً (په ساکښانو کښې) د اوازونو ډېر بد (او په غوږونو باندې سخت اواز) د خرو اواز (هنگېدل) دي (لوړ اواز هنگېدلو ته ورته دی).

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## ارتباط

په وړاندېنيو ايتونو کښې الله ﷻ د لقمان علیه الرحمة نصائح په دې پېيل کړې وه چې: اې زوی ګوټيه! د الله ﷻ د نعمتونو شکريه وکړه او د شرک څخه خپل ځان بچ وساته، چې شرک ډېر لوی ظلم دی.

الله ﷻ د لقمان علیه الرحمة د نوموړي نصيحت په تعقيب د خپله جانبه د والدينو حق نازل کړ، او بيا يې د هغه علیه الرحمة د متباقي نصائحو حکايت راتکميل کړ، البته دا د دې دپاره ـ والله ﷻ اعلم ـ چې: الله ﷻ حقيقي مربي دی او مور او پلار مجازي مربيان دي، او د الله ﷻ شکرګزاري د دوی دواړو په شکر ګزارۍ پورې تړلې ده. د ښه وضاحت دپاره لاندې احاديث ولولئ:

۱ـ نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «مَنْ لَا يَشْكُرُ النَّاسَ لَا يَشْكُرُ اللهَ»[۱] هر هغه څوک چې د خلکو شکرګزاري نه کوي هغه د الله ﷻ شکرګزاري هم نه کوي.

۲ـ نبي کريم ﷺ په يوه اوږده حديث کښې فرمايلي دي چې: «مَنْ لَمْ يَشْكُرِ الْقَلِيلَ لَمْ يَشْكُرِ الْكَثِيرَ»[۲] يعنې هر هغه څوک چې د لږ (واړه) نعمت شکريه اداء نه کړي، هغه د ډېر (لوی) نعمت شکريه هم نه اداء کوي.

## د مطلب خلاصه

يعنې اې پيغمبره! د لقمان د نصائحو د حکايت څخه وړاندې په خپل اُمت باندې د مور او پلار په هکله څه ارشادات قرائت کړه چې:

۱ـ مونږ انسان (بنيادم) ته توصيه کړې ده او کلک حکم مو ورباندې کړی دی چې په ټولو اديانو کښې باقي دی او هيڅکله منسوخ نه دی ګرځېدلی، او دا څکه چې:

الف: د بنيادم سره خپل مور او پلار (دواړو) زښت ډېر زحمتونه او مشقتونه تېر کړي دي.

ب: خاصتاً نوموړی خپلې مور د کمزورۍ په حال په خپله ګېډه کښې آن د زېږېدو تر وخته پورې اوچت کړ، چې روزمره به يې د دغه بار د امله کمزوري او ضعف اضافه کېده.

او دا څکه چې څومره چې يو ماشوم د مور په ګېډه کښې غټېږي په همغې اندازې سره يې د مور پښتی درنېږي او د يوه ضعف دپاسه په بل ضعف باندې اخته کېږي.

ج: بيا يې د ذکر شوې کمزورۍ په انجام کښې د تولد او لنګون مشقات هم تېر کړي دي.

د: د تولد څخه وروسته يې بيا په خپله غېږ کښې اوچت کړی دی او آن تر دوه وو کالو پورې يې ورته شوده (په اصطلاح د خپل ځان غوښې) ورکړي دي.

۲ـ زمونږ د توصيې تفسير او وضاحت دا دی چې:

الف: اې انسانه! ته زما شکريه کوه، په وحدانيت مې عقيده وکړه او شريک راسره مه دروه، چې د نشت څخه مې پيدا کړی يې او موجوديت مې درکړی دی.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۷

(۲) مسند بن حنبل ج۷ ص۹۱

Scanned by CamScanner

ب: همدارنګه ته د خپلې مور او پلار شکریه هم وکړه چې دوی دواړه ستا مجازي تربیه کوونکي دي او ستا په تربیه او روزنه کښې یې زښت ډېر مشقتونه ګاللي دي، نو اطاعت یې کوه او خبره یې منه.

ج: ای بنیادمه! ستاسو ټولو خاص ماته رجوع ده او د قیامت په ورځ به ضرور زما په حضور کښې ودرولی شئ او د ټولو حقوقو څخه به عموماً او د ذکرو شوو حقوقو څخه به خصوصاً وپوښتلی شئ.

د: که بالفرض ستا مور او پلار ستا په هکله زیار وباسي چې تا مشرک جوړ کړي او کفر ته دې دعوت کړي، چې د الله ﷻ په عبادت کښې په شریک عقیده وکړه او هغه بوتان ورسره په عبادت کښې شریکان وګڼه د کومو په عدم اشتراک باندې چې ته باور لرې او یا اقلاً د هغو په اشتراک باندې علم نه لرې، نو په دغو دواړو صورتونو کښې د هغوی (والدینو) دعوت مه قبلوه او اطاعت یې مه کوه، بلکې د هغه چا اطاعت وکړه کوم چې تا توحید ته دعوتوي.

ه: هو! په همدغه صورت کښې هم د مور او پلار سره په دنیا کښې شرعي معروف کارونه کوه او خبره یې منه. یا په بل عبارت: کافرو والدینو سره په دنیاوي معاملاتو کښې ډېره ښه انډیوالي او ګوزاره کوه، خو د دین په هکله د هغوی پروا مه لره، دا کار عقوق الوالدین نه ګڼلی کېږي.

و: په دې صورت کښې خاص د هغه چا پیروي کوه کوم چې ماته د عقیدې په اخلاص او هم په توبې سره رجوع کوي، برابره خبره ده چې دغه کس ستا خپلوان وي او که بېګانه. او دا څکه چې:

ز: ستاسو ټولو (پلرونو او اولادونو) د قیامت په ورځ خاص ماته رجوع ده چې هلته به مو زه په هغه شي باندې خبر کړم کوم چې تاسو یاست چې په دنیا کښې یې کوئ، نو په دغې ورځ کښې به هر چاته د خپلو کړو وړو سزا یا جزا ورکړه شي.

۳ـ ای پیغمبره! اوس نو په خپل امت باندې د لقمان حکیم متباقي هغه نصائح قرائت کړه کوم چې نوموړي د ډېر زړه سوي د کبله خپل زوی ته اورولي وه، هغه دا چې:

الف: ای زوی ګوټیه! که بالفرض ستا عمل دومره کوچنی وی چې د اوري یوې کوچنۍ دانې په اندازه وي، او بیا د همدغه کوچنیوالي سره-سره د یوه کاڼي په داخل کښې وي او یا د اسمانونو په بل کوم لرې ځای کښې وي او یا د ځمکو په کومه پټه برخه کښې موجودیت ولري هم، الله ﷻ به د قیامت په ورځ نوموړی عمل د محاسبې دپاره حاضر کړي، او سزا یا جزا به ورباندې مرتبه کړي.

او دا څکه چې یقیناً الله ﷻ د ډېرو باریکو شیانو لیدونکی دی او د ډېرو باریکو شیانو په حال باندې خبردار دی.

ب: ای زما زوی ګوټیه! ته په دوامداره توګه لاندې اعمال خپل کړه:

اول: د همېشه دپاره خپل لمونځ دروه او بدني عبادتونه کوه.

دوهم: په دوامداره توګه خلکو ته په نېکیو سره امر کوه، او د بدو کارونو څخه یې منعه کوه.

درېیم: په هغه مصیبت باندې صبر کوه کوم چې تاته د دعوت په لاره کښې ورسېږي، ترڅو الله ﷻ اجرونه او عوضونه درکړي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



يقيناً ذکر شوي کارونه د مهمو مقصودي کارونو څخه دي چې په دوامداره توګه يې مراعات په کار دی.

ج: ته د خلکو څخه د تکبر او غرور د کبله خپل مخ مه تاوه چې حقير او سپک يې وګڼې او سم ورته نه ګورې (د خپل ځان سيالان درته نه بريښي).

د: ته په ځمکه کښې په افراطي خوشالۍ سره تلل او ګرځېدل راګرځيدل مه کوه. او د همدغې ځمکې څخه تواضع زده کړه د کومې څخه چې اصلاً جوړ کړی شوی يې. يقيناً الله ﷻ هر متکبر او په نورو خلکو باندې فخر کوونکی نه خوښوي، نو پام کوه چې په دغې ډله کښې خپل ځان شامل نه کړې.

هـ: په مزل کښې منځنی مزل غوره کړه، مه ډېر په ورو ځه چې دا ډول تلل د تکبر څخه نمايندګي کوي، او مه ډېر په چالاکۍ او تېزۍ ځه چې دا ډول د وقار سره منافي دي.

و: بالآخره ای زويه! د خپل اواز څخه هم څه بنکته کړه او په ډېر زيات لوړ اواز سره خبرې مه کوه. دا ځکه چې: د ډېرو بدو اوازو څخه د خره اواز (هنګېدل) ډېر بد دي، نو پام کوه چې د خره د اواز سره خپل اواز مشابه جوړ نه کړې.

## توضيحات

۱ـ که څوک وايي چې ځينو مفسرينو کړامو د ﴿ وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ ﴾ الآية دپاره د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه هغه واقعه د شان نزول په حيث ليکلې ده چې تاسو د [العنکبوت:۸] ايت دپاره د شان نزول په حيث مفصله رانقله کړې ده[۱].

نو پوښتنه دا ده چې: ايا يوه واقعه د دوه وو بېلو بېلو ايتونو دپاره شان نزول ګرځېدلی شي؟

مونږ وايو چې: سلفو صالحينو په مصداقاتو باندې د شان نزولونو اطلاق کاوه[۲]، نو په همدې بنياد هيڅ حرج نشته چې يوه واقعه د دوه وو بېلو بېلو ايتونو دپاره مصداق جوړه شي، په دې مقام کښې د نوموړي صحابي رضي الله عنه په واقعه باندې دواړه ايتونه صدق مومي.

## ماشوم ته د تي ورکولو موده

۲ـ په ﴿ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيۡنِ ﴾ کښې هغه مودې ته اشاره ده په کومه کښې چې بايد يو ماشوم د خپلې مور تی وروي، خو څرنګه چې همدا موضوع مونږ د الله ﷻ په توفيق د [البقرة:۲۳۳] ايت لاندې د ضرورت په اندازه شرحه کړې ده نو په بيا شرحه کولو باندې يې کتاب نه اوږدوو.

## د مور حق زيات دی

۳ـ په دې مقام کښې د ﴿ حَمَلَتۡهُ أُمُّهُۥ وَهۡنًا عَلَىٰ وَهۡنٖ وَفِصَٰلُهُۥ فِي عَامَيۡنِ ﴾ جملو څخه څرګندېږي چې د مور حق د پلار د حق په نسبت زيات دی، چې د دې کراوونه تکي په تکي ياد کړی شو، همدې

---

(۱) تفسير الطبري ج۲۱ ص۷۰؛ تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۴۵

(۲) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



مضمون ته د نبي کریم ﷺ سره د یوه صحابي ﷺ په لاندې سوال جواب کښې هم اشاره شوې ده چې:

صحابي ﷺ: ای د الله رسوله! زه (په خپلوانو کښې) د چا سره نیکي وکړم؟

نبي کریم ﷺ: د خپلې مور سره دې.

صحابي ﷺ: بیا د چا سره؟

نبي کریم ﷺ: د خپلې مور سره دې.

صحابي ﷺ: بیا د چا سره؟

نبي کریم ﷺ: د خپلې مور سره دې.

صحابي ﷺ: بیا د چا سره؟

نبي کریم ﷺ: «ثُمَّ أَبَاكَ ثُمَّ الْأَقْرَبَ فَالْأَقْرَبَ»[۱] یعنې بیا د خپل پلار سره دې، بیا چې څوک درته نژدې وي نو نژدې وي (بیا د نورو خپلوانو سره د درجاتو په تفاوت نیکي وکړه).

## دوه ډوله تفسیر

۴_ د ﴿ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌ ﴾ کلمات مفسرینو کرامو په دوه ډوله تفسیر کړي دی:

الف: که مور او پلار زیار وباسي چې ته زما سره هغه شی شریک کړې د کوم په عدم اشتراک باندې چې ته علم لرې او یا اقلاً د کوم په اشتراک باندې چې علم نه لرې، نو په دواړو صورتونو کښې د هغوی اطاعت مه کوه او کفر او شرک مه اختیاره وه[۲].

ب: دلته عدم علم د عدم موجودیت څخه کنایه دی[۳]، ته به وایې چې داسې "مَا لَيْسَ بِشَيْءٍ" نازل شوی دی، یعنې: که هغوی دواړه وغواړي چې ته زما سره په عبادت کښې هغه باطل معبودان شریک وګڼې کوم چې په واقع کښې د اشتراک په صفت موجودیت نه لري، نو په دغه وخت کښې د مور او پلار اطاعت مه کوه، او د رانده تقلید څخه اجتناب وکړه.

## د معروف معنی

۵_ په ﴿ وَصَاحِبْهُمَا فِي ٱلدُّنْيَا مَعْرُوفًا ﴾ کښې د "مَعْرُوف" کلمه په دې مقام کښې په یوه حدیث کښې ډېره ښه تفسیره شوې ده چې: اسماء بنت ابي بکر رضي الله عنهما وایي چې: د نبي کریم ﷺ د حیات په زمانه کښې یوه ورځې ماته خپله مور راغله حال دا چې هغه مشرکه وه، نو ما د نبي کریم ﷺ څخه فتوی وغوښتله چې: ای د الله رسوله! زما کافره مور راغلې ده چې فقیره هم ده (د نېکۍ کولو رغبت لري) نو ایا زه ورسره صله رحمي وکړم؟ (څه ورکړم چې د احتیاج مخه یې ونیسي؟).

نو نبي کریم ﷺ جواب راکړ چې: «نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ»[۴] هو، د خپل مور سره دې صله رحمي وکړه.

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۱؛ مسند احمد بن حنبل ج۷ ص۲۳۷

(۲) تفسیر المظهري ج۷ ص۲۵۶

(۳) تفسیر الکشاف ج۳ ص۴۹۴

(۴) صحیح البخاري ج۱ ص۳۵۷؛ مسند احمد بن حنبل ج۱۰ ص۲۶۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سوال جواب

۶ـ که څوک وايي چې: په ﴿ يَٰبُنَيَّ إِنَّهَآ إِن تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ ﴾ کښې د "إِنَّهَا" ضمیر څه شي ته راجع دی؟

مونږ وايو چې: د ذکر شوي ضمیر د مرجع په تعین کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي چې ټول د وړاندېني کلام څخه حکمًا یا معنًی فهمېږي، او همدارنګه ټول اقوال تقریبًا د مطلب په إفاده کښې تفاوت نه لري، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: د ﴿ إِنَّهَآ ﴾ ضمیر هغه مبهم ضمیر دی چې نحویان یې د "ضمیر القصة" په نامه یادوي چې وروستي جمله یې تفسیر واقع شوې ده[۱].

ب: دغه ضمیر "عمل" ته راجع دی چې د "معصیة او إطاعة" په لحاظ موٌنث ګڼلی شوی دی[۲].

ج: دا ضمیر "خِصْلَة" ته راجع دی چې نېک او بد دواړو خصلتونو ته شمولیت لري[۳].

## یادونه

۷ـ په ﴿ إِنَّ ذَٰلِكَ مِنْ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴾ کښې مونږ د الله ﷻ په توفیق د [آل عمران:۱۸۶] ایت لاندې د ﴿ عَزْمِ ٱلْأُمُورِ ﴾ کلمات شرحه کړي دي، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## تصعیر څه معنی؟

۸ـ په ﴿ وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ ﴾ کښې د "لا تُصَعِّرْ" کلمه د "تَصْعِيْر" څخه اشتقاقه شوې ده، چې اصل مجرد یې "صَعَرٌ" ـلکه "شَرَفٌ"ـ دی، "صَعَرٌ" د هغه مرض نوم دی کوم چې د اوښ په څټ کښې پیدا کېږي چې بیا سم نه شي کتلی[۴].

نو د معنی حاصل یې داسې راځېږي چې: ته خپل مخ د خلکو د تحقیر د کبله بل خوا مه تاوه وه او د خپله ځانه په "صَعَرٌ" مرض باندې اخته اوښ مه جوړه وه، چې خلک درته سپک برېښي او په بېرته تندي ورته نه ګورې.

د ذکرې موضوع په ارتباط نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمايلي دي چې: «وَأَنْ تُكَلِّمَ أَخَاكَ وَأَنْتَ مُنْبَسِطٌ إِلَيْهِ وَجْهُكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنَ الْمَعْرُوفِ»[۵] یعني او چې ته د خپل ورور سره په داسې حال کښې خبرې کوې چې مخ دې ورته خور وي (تندی دې ورته نه وي تروه کړې) دغه کار هم د معروف څخه دی الله ﷻ به اجر درکړي.

---

(۱) البحر المحیط ج۸ ص۴۱۴؛ تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۶۷
(۲) نظم الدرر ج۶ ص۱۸
(۳) تفسیر البیضاوي في هذا المقام
(۴) تفسیر الطبري ج۲۱ ص۸۴؛ لسان العرب ج۴ ص۴۵۶
(۵) سنن ابي داوٗد ج۲ ص۲۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## یو صرفي تحلیل

۱ـ په ﴿إِنَّ أَنكَرَ ٱلْأَصْوَٰتِ لَصَوْتُ ٱلْحَمِيرِ﴾ کښې ځينو علماوو کړامو د ﴿أَنكَرَ﴾ کلمه د شذوذ په توګه د "منکور" (اسم مفعول) دپاره د تفضيل صيغه ګڼلې ده⁽¹⁾ لکه څنګه چې د شذوذ په توګه د "اشغل" کلمه د "مشغول" اسم مفعول دپاره د تفضيل صيغه ده.

مګر مونږ ته بهتره بريښي چې دا به د "نُکر" دپاره د تفضيل صيغه وي، د "نُکر" کلمه صفت مشبه ده او د سخت معنی ورکوي⁽²⁾، لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿يَوْمَ يَدْعُ ٱلدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ نُّكُرٍ﴾ [القمر:۶] يعنې کله چې بلونکی (د قيامت په ورځ خلک) يوه سخت او نا آشنا شي ته وبلي.

نو د معنی حاصل به يې داسې راوځېږي چې: يقيناً د ږونديو شيانو په اوازونو کښې د هر سخت او د غوږونو سره نا آشنا اواز د خرو اواز دی، نو پام کوه چې په اوچت اواز کښې خپل خان د خرو سره مشابه نه کړې.

کله چې خر شيطان وګوري نو په هنګاري شروع وکړي، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَسَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهَا رَأَتْ شَيْطَانًا»⁽³⁾ يعنې کله چې تاسو د چرګانو اواز (د چرګانو اذان) واورئ نو د الله ﷻ څخه فضل وغواړئ ځکه چې چرګانو پرښته ليدلې ده (ترڅو تاسو ته په سوال باندې امين ووايي)، او کله چې تاسو د خره اواز (هنګاري) واورئ نو د الله ﷻ په نامه پنا وغواړئ ځکه چې يقيناً خره شيطان ليدلی دی (ترڅو تاسو د هغه د شر څخه بچ پاتې شئ).

﴿أَلَمْ تَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ
ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ
﴿۲۰﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّبِعُوا۟ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ قَالُوا۟ بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ ۚ أَوَلَوْ
كَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ يَدْعُوهُمْ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلسَّعِيرِ ﴿۲۱﴾ وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ
فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ ۗ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ ﴿۲۲﴾ وَمَن كَفَرَ فَلَا يَحْزُنكَ
كُفْرُهُۥٓ ۚ إِلَيْنَا مَرْجِعُهُمْ فَنُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوٓا۟ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿۲۳﴾ نُمَتِّعُهُمْ
قَلِيلًا ثُمَّ نَضْطَرُّهُمْ إِلَىٰ عَذَابٍ غَلِيظٍ ﴿۲۴﴾﴾

⁽¹⁾ البحر المحيط ج۸ ص۴۱۷ : اللباب في علوم الكتاب ج۱۵ ص۴۵۲
⁽²⁾ مفردات الراغب ص۵۲۷ : لسان العرب ج۴ ص۴۲۰
⁽³⁾ صحيح البخاري ج۱ ص۴۶۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[۲۰] (ای بنیادمانو!) ایا تاسو نه ته گورئ (نه پوهیږئ) چې یقیناً الله ﷻ ستاسو (ګټې) دپاره هغه شیان مسخر کړځولي دي کوم چې په اسمانونو کښې دي او هغه شیان (هم) کوم چې په ځمکو کښې دي او (ایا تاسو نه پوهیږئ چې یقیناً) الله ﷻ په تاسو باندې خپل نعمتونه په داسې حال کښې پوره کړي دي چې ځرګند دي (په سترګو لیدل کیږي) او ناڅرګند دي (چې په سترګو نه لیدل کیږي).

او (د دې سره‌سره) د خلکو ځنې ښتي هغه خلک دي چې د الله ﷻ (د توحید) په هکله بې‌له د ضروري علمه او (بدون) د استدلالي هدایته او (بدون) د روښانه کتابه (الهي وحي) جګړې کوي.

[۲۱] او کله چې ورته وویلی شي (څرنګه چې تاسو په خپله عقیده برطل نه لرئ نو) د هغه شي پیروي وکړئ کوم چې الله ﷻ نازل کړی دی (او روښانه کتاب دی).

دوی (په جواب کښې) وايي چې بلکې موږ د هغه شي پیروي کوو په کوم باندې چې موږ خپل پلرونه موندلي دي (موږ د هغوی تقلید کوو).

(نو ته ورته ووایه چې) ایا (تاسو د هغوی تقلید کوئ) که څه هم شیطان دوی چې هغوی ته سوزوونکي عذاب ته بللي وي؟ (ایا تاسو دوزخ ته هم ورځانګئ).

[۲۲] او هغه څوک چې خپل مخ الله ﷻ ته تسلیم کړي (ورته منقاد شي) حال دا چې هغه احسان کوونکی (مومن) هم وي، نو یقیناً هغه په ډېره محکمه کړۍ سره کلکه نیونه وکړه (چې هیڅکله به قطعه نه شي)، او خاص الله ﷻ ته د ټولو کارونو انجام (او عاقبت) دی (نو هغه به په دې شي چې تیولي شوي کړي، څومره قوي ده).

[۲۳] او (ای پیغمبره!) هرڅوک چې کفر غوره کړي نو د هغه کفر دې تا غمژن نه کړي (او دا ځکه چې) خاص موږ ته (د قیامت په ورځ) د هغوی رجوع ده نو موږ به یې په هغو عملونو (کړو وړو) باندې خبر کړو (سزا به ورکړو) کوم چې دوی یې عملي کوي.

یقیناً الله ﷻ د سینو په خاوندانو (په هغو حالاتو چې په سینو کښې قرار لري) ښه پوه دی.

[۲۴] موږ به هغوی ته (په دنیا کښې) لږ غوندې ګټه ور ورسوو، بیا به یې سخت عذاب (دوزخ) ته مجبور کړو (په خوښه او ناخوښه به یې پکښې ورګوزار کړو).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندې ځنې د الله ﷻ د توحید د دلایلو په بیان کښې بحث را روان دی، په همدې مناسبت د لقمان حکیم نصائح هم راحکایت کړی شوه، د نصائحو د اتمام ځنې وروسته دا دی یو ځل بیا د کلام مخ د توحید دلایلو ته اړولی شوی دی او په پای کښې نبي کریم ﷺ ته تسلي هم ورکړه شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د توحید څه نور دلایل هم قرائت کړه هغه دا چې:

۱ـ خلکو ته د الله ﷻ د پلوه ووایه چې: ای خلکو!

الف: ایا تاسو نه ګورئ چې یقیناً بل چا نه بلکې یوازې الله ﷻ تاسو ته هغه شیان مسخر کړي دي

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوم چې په اسمانونو کښې دي (لمر دی او که سپوږمۍ او نور) دا ټول ستاسو په خدمت کښې په کار مشغول دي؟

ب: ایا تاسو نه ګورئ چې هغه شیان هم د الله ﷻ دپلوه ستاسو دپاره په کار اچولی شوي دي کوم چې په ځمکه کښې موجودیت لري، نو په غره او راغه او بوټو او معادنو کښې همدا ستاسو منافع اچولی شوي دي؟

ج: ایا تاسو نه ګورئ چې الله ﷻ په تاسو باندې خپل ظاهري نعمتونه پوره کړي دي کوم چې تاسو یې په خپلو سترګو کتلی شئ؛ یا په بل عبارت: ایا الله ﷻ تاسو ته بېه پرېمانه مادي نعمتونه نه دي درکړي؟

د: بالآخره ایا تاسو ته الله ﷻ هغه نعمتونه نه دي درپېرزو کړي کوم چې ستاسو د نظر لاندې نه واقع کېږي او تاسو یې په سترګو نه ګورئ لکه عقل، علم او نور؟. یا په بل عبارت: ایا الله ﷻ تاسو ته خپل معنوي نعمتونه نه دي دراستولي لکه پیغمبران او الهي کتابونه او داسې نور؟

پوره واضحه ده چې د ذکر شوو سوالونو دپاره د "هو" څخه په غیر بل ځواب نشته او تاسو نه شئ کولی چې په "نه" سره یې جواب کړئ.

نو پوښتنه دا ده چې: ایا د ذکرو شوو نعمتونو شکریه د توحید د عقیدې په خپلولو او د شرک څخه په اجتناب کولو مناسبه نه ده؟

۲ـ د ذکرو شوو دلایلو د موجودیت سره ـ سره د خلکو څخه ځیني دي چې:

الف: د الله ﷻ په توحید کښې جګړې کوي او عناداً په دلایلو قناعت نه کوي، دوی په خپلو شرکیاتو باندې څه علم نه لري لکه څنګه چې د اهل الحق عقیده په فطري او طبعي کیفیت باندې ولاړه ده.

ب: د هغوی سره په خپلو عقایدو باندې څه استدلالي علوم هم نشته لکه چې موحدین خپله عقیده په استدلاتو باندې هم په اثبات رسوي.

ج: د هغوی په باطلو عقایدو باندې کوم نقلي دلیل هم نشته چې کوم اسماني کتاب او یا کوم پیغمبر ورباندې قول کړی وي، حال دا چې د توحیدي عقیدې په واقعیت باندې یو لک او څلیرشت زره ـ زیات یا کم ـ پیغمبران او ټول اسماني کتابونه شهادت ورکوي.

۳ـ د همدې کبله کفار د خپلو عقایدو د اثبات دپاره استدلال نه شي قائمولی، نو کله چې هغوی ته وویلی شي چې تاسو ټول د ما أنزل الله پیروي وکړئ چې حقانیت یې عقلاً او هم نقلاً په اثبات رسېدلی دی، نو وایي چې: که څه هم مونږ په خپلې عقیدې کوم دلیل نه لرو مګر مونږ یې پرېښودونکي نه یاستو او دا ځکه چې زمونږ پلرونه په همدغې عقیدې باندې مړه شوي دي نو مونږ د هغوی پیروي کوو، زمونږ دپاره همدغه تقلید کفایت کوي.

۴ـ ای پیغمبره! ته ذکرو شوو کفارو ته ووایه چې: ایا تاسو په هر حال د خپلو پلرونو پیروي کوئ: اګر چې د هغوی حال دا وه چې شیطان د دوزخ سوزونکي عذاب ته وربللي وه، نو ایا په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدغه حال کښې هم تاسو د خپلو پلرونو پیروي او روند تقلید کوئ او په لوی لاس خپل ځانونه دوزخ ته ورداخلوئ؟

۵ـ ای پیغمبره! دا خو د مشرکانو او کفارو حال وه، خو بالمقابل د موحدینو حال هم په خپل امت باندې قرائت کړه هغه دا چې:

هرڅوک چې خپل مخ بلکې خپل ځان الله ﷻ ته تسلیم کړي حال دا چې هغه نیکوکار وي او عقیده او عمل یې دواړه سم وي، نو یقیناً د غسې کس په ډېرې قوي او کلکې کړۍ پورې خپل ځان وتاړه او ډېر قوي زنځیر یې ونیوه؛ دغه زنځیر به نه په دنیا کښې څه نواقص مونده کړي او نه به په آخرت کښې وربادې پښېمانه شي. بلکې په همدغه قوي پړي سره به د الله ﷻ رضا او جنت ته ورسېږي او دا ځکه چې خاص الله ﷻ ته د ټولو اُمورو او ټولو کارونو عاقبت او انجام دی.

۶ـ ای پیغمبره! کله چې د کفارو کافر پاتې کېدل د دلایلو د کمبود او یا ضعف د کبله صورت نه نیسي بلکې دوی صرف عناد نیولی دی او په رانده تقلید باندې روان دي، نو د دوی څخه چې هرڅوک کافر پاتې شي د هغه کفر دې تا غمژن نه کړي، ستا په دعوت کښې نقصان نشته، دا د دوی خپل جهالت دی نو:

الف: د دوی ټولو خاص مونږ ته رجوع ده او د قیامت ورځ راروانه ده، نو هرومرو او ضرور به مونږ دوی ټول په هغو کړو وړو باندې خبر کړو کوم چې دوی لګیا دي کوي یې او یا یې وراندې تېر کړي دي.

او دا ځکه چې الله ﷻ په هغو ټولو حالاتو باندې پوه دی کوم چې د سینو خاوندان دي او په زړونو کښې ساتلي شوي دي.

ب: د الله ﷻ په علم کښې همدوی ته څه عمر ټاکلی شوی دی ترڅو پکښې دوی د ابتلاء او ازمېښت لاندې واقع شي. نو د همدې کبله به مونږ ذکرو شوو کفارو ته د کفر سره-سره په دنیا کښې څه لنډه تنګه او موقته موقع ورکړو او بیا به یې غلیظ او سخت عذاب ته مجبور کړو، چې د خلاصون او تېښتېدلو لاره به هیڅ طرف مونده نه کړي.

## توضیحات

۱ـ د ﴿ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ﴾ په هکله مفسرینو کرامو په متعددو تفسیرونو سره بیان کړی دی، لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف: ظاهري نعمتونه هغه دي چې په سترګو باندې لیدل کېږي لکه ښایسته څېره او مال او ثروت، او باطني هغه دی چې په سترګو نه لیدل کېږي لکه علم او عقل او نور شیان.

ب: ظاهري نعمتونه د مادي نعمتونو څخه عبارت دي او باطني نعمتونه د معنوي نعمتونو معنی ورکوي لکه د اسلام دین او نور.

د الله ﷻ نعمتونه دومره ډېر دي چې هیڅوک یې د احاطې لاندې نه شي واقع کولی او نه د چا په وسه کښې شته چې نومونه یې وپېژني او یا یې په اندازه باندې پوه شي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدې موضوع پوره بیان د الله ﷻ په توفیق د [إبراهیم:۳۴] ایت لاندې تېر شوی دی، هیله ده چې هلته یو ځل مراجعه وکړی شي.

## یادونه

۲ـ دا ایت شریف ﴿ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِي ٱللَّهِ ﴾ الآية د [الحج:۸] ایت لاندې شرحه شوی دی ـ والحمد لله ﷻ ـ، په بیا شرحه کولو باندې یې کتاب نه شو اوږدولی.

﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۚ قُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٢٥﴾ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِيُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٢٦﴾ وَلَوْ أَنَّمَا فِي ٱلْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَٰمٌ وَٱلْبَحْرُ يَمُدُّهُۥ مِنۢ بَعْدِهِۦ سَبْعَةُ أَبْحُرٍ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٢٧﴾ مَّا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ إِلَّا كَنَفْسٍ وَٰحِدَةٍ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعٌۢ بَصِيرٌ ﴿٢٨﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِي ٱلنَّهَارِ وَيُولِجُ ٱلنَّهَارَ فِي ٱلَّيْلِ وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِيٓ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى وَأَنَّ ٱللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدْعُونَ مِن دُونِهِ ٱلْبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْعَلِيُّ ٱلْكَبِيرُ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۵] (ای پیغمبره!) که ته د مشرکانو څخه پوښتنه وکړې چې اسمانونه او ځمکې چا پیدا کړي دي، نو هرومرو ضرور به دوی ووایي (جواب به درکړي) چې (دا ټول) الله ﷻ (پیدا کړي دي).
(نو ته) الحمد لله ووایه (چې مشرکانو په خپله پړه اعتراف وکړ).
بلکې (اعتراف لا پرېږده چې) د مشرکانو اکثریت نه پوهېږي (ځانونه ورته پړه نه برېښي).
[۲۶] خاص الله ﷻ پورې د هغو شیانو ملکیت اختصاص لري کوم چې په اسمانونو اوځمکو کښې دي. یقینًا الله ﷻ همدی ﷻ بې پروا (او) ستایلی شوی دی (د ښو صفاتو خاوند دی).
[۲۷] او که چرته (بالفرض) هغه شی قلمونه شي کوم چې په ځمکه کښې موجودیت لري، چې د ونو څخه عبارت دي، او دریاب (سمندر) ورته مداد (د لیکلو رنګ) جوړ شي په داسې حال کښې چې (د تمامېدلو څخه) وروسته یې په نورو اوو دریابونو (سمندرونو) سره امداد وکړی شي هم، د الله ﷻ کلمات (د کلماتو لیکنه) به تمام نه شي (البته هغه کلمې کومې چې د الله ﷻ په صفاتو باندې دلالت کوي).
یقینًا الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند (او) د حکمت څښتن دی.
[۲۸] (ای انسانانو!) ستاسو پیدا کول او (د مرګ څخه وروسته) بیا راژوندي راپاځول (د الله ﷻ

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په نزد) نه دي مګر د يوه نفس (د پيداکولو او ژوندي راپاڅولو) غوندې دي. يقيناً الله ﷻ اورېدونکی (او) ليدونکی (بينا) دی.

[۲۹] ايا ته نه ګورې (نه پوهېږې) چې يقيناً الله ﷻ شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې ننباسي، او هم يې لمر او سپوږمۍ (تاسو ته) مسخر کړي دي؛ چې هر يو تر ټاکلې مودې پورې (په خپل-خپل مدار کښې) تلل کوي (ځرخېږي).

يقيناً الله ﷻ په هغو (کړو وړو) باندې خبردار دی چې تاسو يې عملي کوئ.

[۳۰] دغه (ذکر شوي دلايل) له دې سببه (ذکر شوه چې تاسو پوه شئ) چې: يقيناً الله ﷻ همدی حق دی (ازلي او ابدي دی) او هغه شيان کوم چې مشرکان يې بدون د الله ﷻ څخه بلې (عبادت يې کوي) هغه ټول باطل دي (د معبوديت استحقاق نه لري)، او چې يقيناً الله ﷻ (د ټولو نواقصو څخه) اوچت (او) لوی دی.

## د مطلب خلاصه

په دې ايتونو کښې د وړاندېنيو ايتونو غوندې د الله ﷻ د توحيد دلايلو ته اشاره شوې ده او د علم او قدرت کمال په کښې ښودلي شوي دي چې حاصل يې داسې راځېږي:

۱ـ ای پيغمبره! که ته کفارو ته د توحيد د دلايلو په هکله يوه پوښتنه راجع کړې او ورته ووايې چې: ای مشرکانو! دا ټول اسمانونه او دا ټولې ځمکې چا پيدا کړي دي؟ نو هرومرو او ضرور به هغوی جواب درکړي چې دا ټول الله ﷻ پيدا کړي دي او هيڅوک يې په پيدا کولو کښې اشتراک نه لري. دا ځکه هغوی خپلو باطلو معبودانو ته د اسمانونو او ځمکو په پيدا کولو کښې په برخه عقيده نه لري.

۲ـ نو کله چې هغوی ذکر شوی جواب درکړ ته د الله ﷻ حمد ووايه چې کفارو خپل خانونه پخپله ملامته کړه، او دا ځکه چې کله د اسمانونو او ځمکو په پيداکولو کښې باطل معبودان برخه نه لري نو په عبادت کښې يې برخه د کومه کړه، د عبادت استحقاق خو په خلق باندې د کامل قدرت پورې تړلی دی.

لنډه دا چې مشرکان په خپله ملامته باندې پخپله اعتراف کوي، بلکې اکثريت يې نه پوهېږي او يا يې خپل خانونه ورباندې ناخبره اچولي دي.

۳ـ نو حقيقت دا دی چې د هغو شيانو پيداکول او ملکيت په الله ﷻ پورې اختصاص لري کوم چې په اسمانونو او ځمکو کښې موجوديت لري، او هيڅوک او هيڅ شی ورسره پکښې برخوال نه دی.

خو د دې سره-سره يقيناً الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو د عبادت او ستاينې څخه بې پروا دی، او دا ځکه چې بدون د مخلوقاتو د ستاينې څخه د ستاينې درلودونکی دی او د ښو صفاتو خاوند دی چې مخلوقات يې د حال په ژبه حمد او ثنا وايي.

۴ـ ای پيغمبره! خلکو ته د الله ﷻ کامل علم او کامل قدرت په يوه مثال کښې واضحه کړه چې:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: که بالفرض د ځمکې د ټولو ونو او بوټو د ښاخونو څخه قلمونه جوړ کړی شي.
ب: او دریاب ورته مداد (د لیکلو رنګ) وګرځولی شي.
ج: د دغه یوه دریاب سره اوه دریابونه نور هم د لیکلو د رنګ په حیث یوځای شي.
د: ټولې پرښتې او انسانان او هم پیریان او نور، لیکونکي جوړ کړی شي.
هـ: ترڅو هغه کلمات ولیکي کوم چې د الله ﷻ په معلوماتو باندې دلالت کوي، او یا هغه کلمات ولیکي کوم چې د الله ﷻ د کامل قدرت څخه نمایندګي کوي.
و: نو دا ټول شیان به ختم شي او ذکر شوي کلمات به انجام او تمام ته ونه رسېږي، او دا ځکه چې دغه شیان ټول فاني او متناهي دي او د ذکرو شوو کلماتو مدلولات نه تمامېدونکي دي.
یقینًا الله ﷻ د کلکې ارادې خاوند دی، هیڅ شی یې د ارادې مخه نه شي نیولی، او همدارنګه د حکمت څښتن هم دی، چې هر کار یې په حکمت ولاړ دی.
۵_ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه خلکو ته ووایه چې: ستاسو د ټولو پیداکول او ستاسو د ټولو بیا راژوندي کول د الله ﷻ کامل قدرت ته نه دي مګر د یو نفس د پیدا کولو غوندې دي.
یا په بل عبارت: د الله ﷻ په نزد ستاسو د ټولو پیداکول او ستاسو د ټولو بېرته راژوندي کول د یو سړي د پیداکولو او بیا راژوندي کولو غوندې دي چې دواړه صورتونه فقط د الله ﷻ په ارادې پورې توقف لري او بس.
یقینًا الله ﷻ د ټولو مسموعاتو اورېدونکی دی او د ټولو مبصراتو لیدونکی دی، نو لکه څنګه چې په یوه آن کښې ټول مسموعات اوري او ټول مبصرات ګوري همدارنګه په یوه آن کښې په ټولو مقدوراتو باندې قدرت هم لري، او هم په ټولو معلوماتو باندې عالم دی.
۶_ ای پیغمبره! ایا ته نه ګورې، ایا ته علم نه لرې؟ بلکې ګورې یې او پوهېږې چې:
الف: یقینًا الله ﷻ په خپل کامل قدرت سره شپه په ورځ کښې ننباسي او ورځ په شپه کښې.
ب: یقینًا الله ﷻ لمر او سپوږمۍ مسخر کړي دي چې هر یو په خپل مدار کښې تر ټاکلي وخت پورې روان دي، او هر یو په خپل مدار کښې چورلېږي.
ایا په دغو شیانو کښې د الله ﷻ څخه په غیر بل څوک څه تصرف کولی شي؟
ج: ایا ته علم نه لرې؟ چې یقینًا الله ﷻ په هغو کارونو باندې خبردار دی کوم چې تاسو یې روزمره عملي کوئ او پکښې مشغول یاست.
۷_ ای پیغمبره! دغه د الله ﷻ ذکر شوي صفات ځکه واقعیت لري چې:
الف: یقینًا الله ﷻ همدی ﷻ حق دی او ازلي او ابدي دی، ټول صفات یې ریښتیا دي.
ب: او یقینًا هغه شیان چې مشرکان یې د الله ﷻ څخه په غیر عبادت کوي او بلنه یې کوي، هغوی باطل دي، نن سبا فاني کېدونکي دي او د معبودیت په صفت باندې هیڅ واقعیت نه لري.
ج: یقینًا الله ﷻ همدی ﷻ د ټولو نواقصو څخه أوچت دی، او همدی ﷻ د ټولو شرکیاتو څخه لوی او پاک دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱ـ د ﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِي ٱلْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَٰمٌ وَٱلْبَحْرُ يَمُدُّهُ ﴾ الآية په ورته مضمون باندې يو ايت وړاندې [الكهف:۱۰۹] تېر شوی دی چې مونږ هلته د الله ﷻ په توفيق يوه اندازه څېړلی دی، نو بده نه ده چې د دې ايت د ښه وضاحت په موخه ورته مراجعه وکړی شي.

خو په دې مقام کښې وړاندې وراضافه کوو چې:

په ﴿ مَّا نَفِدَتْ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِ ﴾ کښې د ﴿ كَلِمَٰتُ ٱللَّهِ ﴾ څخه ځينو علماوو کرامو هغه کلمات اراده کړي دي کوم چې د الله ﷻ په معلوماتو او يا په مقدوراتو باندې دلالت کوي[۱]. مګر مونږ ته داسې برېښي چې هغوی د معلوماتو او مقدوراتو نومونه د مثال په توګه ذکر کړي دي، که نه نو هغه کلمات ټول غير متناهي دي کوم چې د الله ﷻ په تنزيهاتو باندې دلالت کوي او يا داسې نور.

## سوال جواب

۲ـ که څوک وايي چې: د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې يوه ورځې د يهودانو د علماوو يوه ډله نبي کريم ﷺ ته په مدينه منوره کښې ورغله او لاندې سوال جواب يې ورسره وکړ:

يهودان: ای محمده! زمونږ سره يوه پوښتنه ده هيله ده چې جواب يې راکړې، هغه دا چې ته په ﴿ وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا ﴾ [الإسراء:۸۵] ايت سره څوک مرادوې؟ يا په بل عبارت: دا خطاب مونږ ته دی او که ستا خپل قوم ته دی؟. (يعنې: تاسو ته نه دی درکړی شوی مګر لږ علم).

نبي کريم ﷺ: په ايت شريف کښې ټول انسانان مراد دي، چې تاسو او زما قوم ټول پکښې شموليت لري.

يهودان: ايا ته په خپل کتاب کښې نه لولې چې مونږ ته تورات راکړی شوی دی، چې د هر شي بيانوونکی دی؟ نو مونږ ته خو ډېر علم راکړی شوی دی، بايد چې مونږ پکښې شموليت ونه لرو.

نبي کريم ﷺ: «إِنَّهَا فِيْ عِلْمِ اللهِ قَلِيْلٌ وَعِنْدَكُمْ مِنْ ذٰلِكَ مَا يَكْفِيْكُمْ»[۲] يقينًا تورات د الله ﷻ د علم په نسبت ډېر لږ شی دی، او ستاسو په نزد د دغه علم څخه هومره اندازه ده کومه چې تاسو ته کفايت کوي. نو الله ﷻ د همدې خبرې د تصديق دپاره دا ايت شريف ﴿ وَلَوْ أَنَّمَا فِي ٱلْأَرْضِ مِن شَجَرَةٍ أَقْلَٰمٌ ﴾ الآية نازل کړ.

نو پوښتنه دا ده چې: ايا دا ايت په مدينه منوره کښې نازل شوی دی، حال دا چې تاسو د دې سورت په سريزه کښې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما د روايت په مطابق دا سورت مکي ښودلی دی؟

مونږ وايو چې: سلفو صالحينو په مصداق باندې د شان نزول اطلاق کاوه[۳]، نو څه لرې نه ده چې

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۰۰

(۲) تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۵۱

(۳) تفسير القاسمي ج۱ ص۲۷؛ تفسير المنار ج۹ ص۶۴۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په وراندېني روایت کښې همدغه اطلاق مطلب وي. یا په بل عبارت: د یهودو ذکره شوې قیصه د ایت شریف یو مصداق دی او څه لرې نه ده چې په عین وخت کښې نبي کریم ﷺ ایت قرائت کړی هم وي.

## یادونه

۳_ که څه هم مفسرینو کرامو اوفقه ګڼلي ده چې په ﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ﴾ الآیة کښې په ﴿أَلَمْ تَرَ﴾ سره هغه څوک مخاطب کړی شي په کوم چې د خطاب لیاقت وي[۱]. مګر مونږ ته بهتره برېښي چې دلته به وړاندې نبي کریم ﷺ مخاطب وي. دا ځکه چې راتلونکی متصل ایت په ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْحَقُّ﴾ سره شروع شوی دی او پوره واضحه ده چې دلته په ﴿ذَٰلِكَ﴾ کښې په ک سره نبي کریم ﷺ مخاطب دی.

په هر تقدیر، په ایت شریف کښې هغه کسان په غوږ وهلی شوي دي کوم چې د توحید د عقیدې څخه انکاري دي.

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱلْفُلْكَ تَجْرِى فِى ٱلْبَحْرِ بِنِعْمَتِ ٱللَّهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايَـٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَـَٔايَـٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ۝٣١ وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوْجٌ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ۚ وَمَا يَجْحَدُ بِـَٔايَـٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ۝٣٢﴾

[۳۱] ایا ته نه ګورې چې بېړۍ په دریاب (سمندر) کښې د الله ﷻ په نعمت (فضل) سره د دې دپاره چلېږي چې الله ﷻ تاسو ته (د خپل کامل قدرت) څه دلایل در ولیدا کړي (چې په کفر اخته نه شئ او یا ترې لاس واخلئ).

یقیناً د دغو (بېړیو په چلېدنت) کښې د هر صبر کوونکي (او) شکر ګزار (بنده) دپاره (د کامل قدرت) ډېر لوی دلایل (پراته) دي.

[۳۲] او کله چې خلکو لره (په بېړۍ کښې) داسې څپې پټ کړي لکه غرونه، نو دوی الله ﷻ په داسې حال کښې بلي چې ده ﷻ ته د خپل دین (انقیاد) خالص ګرځوونکي وي (د شرک څخه بالکل بېزاري اعلانوونکي وي)، نو کله چې الله ﷻ وچې ته نجات ورکړي (او روغ رمټ یې پوره باسي) نو د دوی یوه ډله په سمه لاره باندې تلونکي وي (او متباقي بېرته کفر ته ورګرځي).

او زمونږ د ایتونو (او دلایلو) څخه انکار نه کوي مګر هر تګمار (او هر) ناشکره.

## د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې هم د الله ﷻ د توحید د دلایلو لړۍ تعقیبه شوې ده، چې حاصل یې داسې راځېږي:

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۰۱

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ای پیغمبره! په خپل امت باندې دې د توحید څه دلایل نور هم قرائت کړه هغه دا:

۱ـ ایا ته نه ګورې او همدارنګه ستا امت نه ګوري (علم نه لري) چې یقینًا په دریاب (سمندر) کښې د الله ﷻ د نعمت او احسان په سبب بېړۍ چلېږي، که نه نو د درنو شیانو او د اوبو خو سره منافات دی چې په سر باندې یې ګرځي او پکښې ډوبېږي نه.

د بېړیو چلښت ته الله ﷻ د دې دپاره صورت ورکوي، ترڅو تاسو ته د خپل کامل قدرت ننښې او د عظیم الشانه نعمتونه سلسله درولیده کړي.

۲ـ خو ای پیغمبره! د بېړیو د چلښت څخه عبرت نه اخلې او د الهي دلایلو څخه استفاده نه کوي، مګر هغه څوک چې ایمان لرونکی او د توحیدي عقیدې درلودونکی وي. یا په بل عبارت: هغه څوک تري ګټه پورته کولی شي چې په مصائبو کښې صبر کوونکی وي او په نعمتونو او خوشالیو کښې شکرګزار وي.

د بېړۍ د طوفاني ګرځېدلو په وخت کښې الله ﷻ ته په صبر سره رجوع کوي او اجر ګټي او د طوفان څخه د نجات په وخت کښې شکر کوي او اجر ګټي.

۳ـ هو! څوک چې موحدین نه دي او خپلو ځانونو ته یې شرک غوره کړی دی نو د هغوی حال دا دی چې:

الف: کله چې دوی د سمندر څپې پټ کړي او بېړۍ طوفاني شي او د غرونو غوندې څپو سره مخامخه شي، نو په دغه وخت کښې الله ﷻ ته په داسې حال رجوع کوي چې خپل دین او انقیاد یې ورته سوچه ګرځولی وي، او یوازې د همده ﷻ څخه خپل نجات غواړي او زارۍ ورته کوي.

ب: خو څرنګه چې الله ﷻ ورته د طوفان څخه نجات ورکړي او روغ رمټ یې وچې ته پورېباسي، نو په دغه وخت کښې د بېړۍ سوربدونکي په لاندې دوه وو ګروپونو باندې ووېشلی شي:

اول: ځینې کسان هغه دي چې د نجات څخه وروسته هم په مستقیمه او سمه لاره باندې روان پاتې وي، لکه څنګه چې د طوفان په وخت کښې موحدین وه همدارنګه د طوفان څخه د نجات په وخت کښې هم موحد وي او د شرکیاتو څخه خپل ځان بچ ساتي.

دوهم: ځینې نور سمدستي خپل کفري او شرکي عقیدې ته بېرته ورګرځي او هغه وعده تر پښو لاندې کوي کومه یې چې د طوفان په وخت کښې خپله کړې وه، او هم د نجات ناشکري کوي.

لنډه دا چې زمونږ په ایتونو او نعمتونو څخه انکار نه کوي مګر هر هغه څوک چې تګ او وعده ماتوونکی او ناشکره وي.

## توضیحات

۱ـ په ﴿ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ کښې د "صبور" او "شکور" دواړه کلمې د مؤمن څخه عبارت دي، یعنې په ذکرو شوو افعالو کښې خاص د مؤمن دپاره د قدرت دلایل نغښتي دي چې همدی تري ګټه پورته کوي.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



همدې موضوع ته الشعبي هم اشاره کړې ده چې: "الصَّبْرُ نِصْفُ الْإِيمَانِ وَالشُّكْرُ نِصْفُ الْإِيمَانِ وَالْيَقِينُ الْإِيمَانُ كُلُّهُ"[1] يعني صبر نيم ايمان دی، او شکر هم نيم ايمان دی، او يقين ټول ايمان دی.

او دا ځکه چې د معصيتونو څخه اجتناب صبر دی او په طاعتونو باندې ثبات او استقامت شکر دی، او کامل ايمان خو د عقيدې په شمول د ذکر شوو دواړو شيانو څخه په غير بل شی نه دی.

## ظُلَّة څه معنی؟

۲_ په ﴿ مَوْجٌ كَالظُّلَلِ ﴾ کښې د "ظُلَل" کلمه د "ظُلَّة" جمعه ده. "ظُلَّة" د هغه شي دپاره وضعه شوې ده کوم چې په سر باندې سوري کوي لکه وريځ، غر او داسې نور.[2]

په دې مقابل کښې شايد چې د غره سره تشبيه مطلب وي، يعني: کله چې هغوی داسې لوی لوی څپې پټ کړي لکه غرونه، نو په دغه وخت کښې په اخلاص سره الله ﷻ ته راجع کيږي.

## د اقتصاد معنی

۳_ په ﴿ فَمِنْهُم مُّقْتَصِدٌ ﴾ کښې د ﴿ مُّقْتَصِدٌ ﴾ کلمه د اقتصاد څخه اشتقاقه شوې ده چې د مجردو مصدر يې "قصد" دی، د "قصد" کلمه د لارې استقامت ته وضعه شوې ده[3] الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ ﴾ [النحل:۹] يعني په الله ﷻ باندې د فضل او مهربانۍ په وجه د سمې لارې بيان دی، چې خلکو ته يې ورنازل کړي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځي: چې کله الله ﷻ طوفاني بېړۍ ته نجات ورکړي نو ځينې خلک په هغې سمې لارې باندې ثابت پاتې کيږي کومه يې چې د طوفان په وخت کښې غوره کړې وه.

د همدې جملې څخه عکرمه بن ابي جهل ﷺ هم دی چې مفصله قيصه يې د [الانعام:۴۱] ايت لاندې تېره شوې ده او ځينو مفسرينو کرامو ورته د ذکر شوي ايت شريف لاندې هم اشاره کړې ده.[4]

## ختر څه معنی؟

۴_ په ﴿ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴾ کښې د ﴿ خَتَّارٍ ﴾ کلمه د مبالغې صيغه ده او د "خَتْرٌ" لکه ضَرَبَ څخه اشتقاقه شوې ده. د "ختر" کلمه د تګی، او د ډېرې بدې تګی، دپاره وضعه شوې ده.

په دې مقام کښې د ﴿ كُلُّ خَتَّارٍ كَفُورٍ ﴾ کلمات د ﴿ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ ﴾ په مقابل کښې نازل شوي دي، او رښتيا چې بې صبره خلک تګان وي.

نو د معنی حاصل يې داسې راځي چې: زموږ د ايتونو او د قدرت د دلايلو څخه انکار نه کوي مګر هر ډېر تګ او ډېر ناشکره، چې د کفارو څخه عبارت دي.

---

(۱) تفسير القرطبي ج۱۴ ص۷۹
(۲) مفردات الراغب ص۵۰۱
(۳) لسان العرب ج۳ ص۳۵۳
(۴) روح المعاني ج۲۱ ص۱۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمْ وَٱخْشَوْاْ يَوْمًا لَّا يَجْزِى وَالِدٌ عَن وَلَدِهِۦ وَلَا مَوْلُودٌ هُوَ جَازٍ
عَن وَالِدِهِۦ شَيْـًٔا ۚ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ ۖ فَلَا تَغُرَّنَّكُمُ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِٱللَّهِ
ٱلْغَرُورُ ﴿٣٣﴾ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلْمُ ٱلسَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ ٱلْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِى ٱلْأَرْحَامِ ۖ وَمَا تَدْرِى
نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا ۖ وَمَا تَدْرِى نَفْسٌۢ بِأَىِّ أَرْضٍ تَمُوتُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌۢ ﴿٣٤﴾ ﴾

[۳۳] ای خلکو! تاسو د خپل رب ﷻ (د غضب) څخه (خپل خانونه) په وقایه کښې کړئ، او د داسې ورځې څخه وډار شئ چې هیڅ والد (پلار) د خپل ولد څخه (د عذاب) مخنیوی نه شي کولی، او نه (په هلته) داسې مولود (ولد) وي چې هغه د خپل والد څخه د څه شي مخه نیوونکی وي، یقیناً د الله ﷻ وعده حقه ده (د قیامت قیام راتلونکی دی).

نو تاسو لره دې حقیر (او بې ثباته) ژوند ونه غولوي (چې آخرت ورباندې هېر کړئ)، او (همدارنګه) هرومرو (او ضرور) تاسو دې په الله ﷻ سره (هم) غولوونکی (شیطان) ونه غولوي (او دوکه دې درنه کړي چې الله ﷻ غفور او رحیم دی).

[۳۴] یقیناً د قیامت (د قیام) علم د الله ﷻ په نزد (محفوظ) دی، او الله ﷻ باران نازلوي (او خاص همدی ﷻ ورباندې علم لري چې څه وخت او څومره نازلوي)، او الله ﷻ په هغه شي باندې هم (کامل) علم لري کوم چې په رحمونو کښې قرار لري (او ټول کیفیات یې ورته څرګند دي)، او (همدارنګه د الله ﷻ څخه په غیر) هیڅ نفس (هیڅوک) علم نه لري چې هغه عمل څه دی کوم چې سبا ته یې کوي، او هیڅ نفس (هیڅوک) پوهه نه لري چې په کومه ځمکه به مري.
یقیناً الله ﷻ (په هر شي) پوه دی (او په هر شي باندې) خبردار دی.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

الله ﷻ خلکو ته تر دې ځایه د خپل توحید دلایل په ډول ډول اسالیبو او شکلونو بیان کړه ترڅو دوی د قناعت له لارې د توحید عقیده خپله کړي او د کفر او شرک څخه لاس واخلي، او هم ترې اجتناب وکړي، په دې ایتونو کښې د وعظ او نصیحت په توګه دوی د توحید عقیدې ته وربللی شوي دي، چې حاصل یې داسې راځي:

۱ـ ای پیغمبره! د الله ﷻ د پلوه د متعددو دلایلو د قرائت څخه وروسته خلکو ته د ناصح او خیر غوښتونکي په حیث نصیحت وکړه چې:

الف: ای خلکو! د خپل رب ﷻ د غضبه په وقایه کښې شئ او د کفري عقیدې څخه لاس واخلئ او یا ترې اجتناب وکړئ، چې د ده ﷻ عذاب ډیر سخت دی.

ب: همدارنګه د قیامت د ورځې د عذابونو او سختیو څخه وډار شئ، دا داسې ورځ ده چې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اول: هیڅ پلار به د خپلې مهربانۍ او عطوفت سره-سره د خپل اولاد څخه الهي عذاب دفعه نه شي کړی او مخه به یې ونه شي نیوی.

دوهم: په دغې ورځ کښې به هیڅ اولاد د خپل پلار څخه د عذاب د څه برخې مخنیوونکی هم نه وي، او هرڅوک به د خپل نجات په غم کښې اخته وي.

نو په کار ده چې هرڅوک توحیدي عقیده خپله کړي، نه دې پلرونه د اولادونو روند تقلید وکړي او نه دې اولادونه د پلرونو رانده تقلید ته ملاوې وتړي.

ج: یقیناً د الله ﷻ هره یوه وعده حقه ده او هرو مرو ضرور رښتیا کېدونکې ده، نو د قیامت د قیام په وعده کښې یې هم دروغ نشته.

د: نو ای خلکو! تاسو دې حقیر او نږدې ژوند ونه غولوي چې په آخرت باندې یې بهتر وګڼئ او خپل ابدي ژوند وروباندې تخریب کړئ.

هـ: تاسو ته په کار دي چې ثبات او استقامت د لاسه ورنه کړئ او هم هرو مرو او ضرور دې تاسو په الله ﷻ سره د بر غولوونکی (شیطان) تېر نه باسي، چې الله ﷻ غفور او رحیم دی. او دا څکه چې: رښتیا چې الله ﷻ غفور او رحیم دی، خو د دې سره-سره د انتقام خاوند هم دی، او په هره خبره کښې رښتینی هم دی، او د پیغمبرانو په سلسله یې تاسو ته ابلاغ کړې ده چې شرک او کفر نه بښي، او د دې څخه په غیر یې د نورو ګناهونو مغفرت ته په خپله اراده پورې توقف ورکړی دی.

۲_ ای خلکو! که تاسو د قیامت د قیام په هکله تاکلی وخت غواړئ چې کله به تحقق ومومي، نو دا تمه مه کوئ او دا څکه چې قیامت د قیام علم د هغو پنځو علومو څخه دی کوم چې الله ﷻ په خپل اقدس ذات پورې مختص ګرځولي دي، پنځه علوم د لاندې علومو څخه عبارت دي:

الف: د قیامت د قیام علم د الله ﷻ پورې مختص دی.

ب: خاص الله ﷻ په څمکه باندې باران راوروي، او خاص همدی ﷻ پوهېږي چې په کومه څمکه او څومره ورښت ورنازلوي.

ج: خاص الله ﷻ په هغه شي باندې پوهېږي کوم چې په رحمونو کښې موجودیت لري، چې کوم-کوم کمیات او کوم-کوم صفات (کیفیات) لري او داسې نور.

د: خاص الله ﷻ پوهېږي چې په راتلونکو وختونو کښې به څه څه کارونه پېښېږي، نو هیڅوک نه پوهېږي چې سبا ته به څه کوي.

هـ: د هر شي د مرینې په ځای (او ټاټوبي) باندې یوازې الله ﷻ پوهېږي اوبس، نو هیڅوک علم نه لري چې په کومه څمکه باندې به یې روح قبض کېږي اود قدمونو (ګرځېدلو راګرځېدلو) شمېره به یې وروباندې پوره کېږي.

۳_ ای پیغمبره! خلکو ته ورسوه چې یوازې الله ﷻ کامل علم لري او یوازې الله ﷻ د کاملې خبرتیا څښتن دی.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## توضیحات

۱_ که څوک وايي چې د ﴿ لا يَجْزِي وَالِدٌ عَن وَلَدِهِ ﴾ الآية مضمون دا دی چې د قیامت په ورځ اولادونه او پلرونه یو تربله ګټه نه شي رسولی، حال دا چې د [الرعد:۲۳] ایت د مضمون څخه څرګندېږي چې دوی دواړه یو تربله څه فائده اړولی شي؟

مونږ وايو چې:

الف: دلته یو بل ته ګټه رسول د ولدیت او والدیت په لحاظ منفي شوی دی، او هلته یې په نورو لحاظونو ثبوت موندلی دی، مونږ وربانديې ـ د الله ﷻ په توفیق ـ هلته رڼا اچولې ده.

ب: هلته د مؤمنانو په هکله بحث جاري وه او دلته د کفارو په هکله بحث راروان دی، نو دواړه ایتونه سره څه منافات نه لري چې جواب ته یې اړتیا پاتې شي.

ج: بالآخره یو بل ته د ګټو رسونه د الله ﷻ په ارادې پورې توقف لري، لکه چې په [البقرة:۲۵۵] ایت کښې وربانديې صراحت شوی دی؛ نو معلومه شوه چې په همدغه ایت کښې هم ـ چې بحث پکښې جریان لري ـ د "إِلَّا بِإِذْنِهِ" کلمات مراد دي.

## غرور څه معنی؟

۲_ په ﴿ وَلَا يَغُرَّنَّكُم بِاللَّهِ الْغَرُورُ ﴾ کښې د "غَرُوْر" کلمه د "غُرُوْر" ـ لکه "قُتُوْل" ـ څخه اشتقاقه شوې ده، چې د غولولو معنی ورکوي[1]، مثلاً چې چاته په دروغو د ښېګڼو تمه ورکړې شي.

خو په دې مقام کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او سعید بن جبیر علیه الرحمة ذکره شوې کلمه په شیطان سره تفسیره کړې ده[2]، او په الله ﷻ سره یې د غولونې صورت دا دی چې شیطان سړی د ګناه او عصیان ارتکاب ته وهڅوي، خو د دې سره ـ سره په دروغو تمه هم ورکړي چې عصیان او ګناه بلکې کفر به درته الله ﷻ وبښي او جزا به درنه کړي، او یا به دې باطل معبودان شفاعت وکړي.

## یادونه

۳_ ځینو مفسرینو کرامو[3] د ﴿ إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ ﴾ الآية په اړه لیکلي دي چې دا د هغو پوښتنو په جواب کښې نازل شوی دی کومې چې نبي کریم ﷺ ته یوه سړي راجع کړې چې:

الف: زما ماندینه امیدواره ده، ماته خبر راکړه چې نارینه اولاد به وزیږوي او که ښځینه؟

ب: ماته د خپل تولد نېټه معلومه ده، خو ته ماته خبر راکړه چې زه به کله مړ شم.

ج: زمونږ وطن د وچکالۍ سره مخامخ دی، ته خبر راکړه چې باران به کله په مونږ باندې رانازل کړی شي؟

---

(۱) لسان العرب ج۵ ص۱۱
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۹۶؛ الدر المنثور ج۶ ص۵۳۰
(۳) زاد المسیر ج۶ ص۱۶۸؛ تفسیر البغوي ج۳ ص۴۹۶؛ تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۵۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نو الله ﷻ د نوموړي په جواب کښې ذکر شوي ایت شریف نازل کړ.

مګر مونږ ته د الله ﷻ په توفیق څرګندېږي چې په دې ایت شریف کښې به هغه پوښتنه هم جوابه شوې وي کومې چې د وړاندېني ایت په تعقیب د ځینو خلکو په اذهانو کښې خطور کړې وي، هغه دا چې: د کومې ورځې د عذابه چې ته مونږ ډاروې هغه به کله او څه وخت قائمه شي؟

د جواب حاصل یې داسې راځېږي چې: د نوموړې ورځې د قیام علم په هغو پنځو علومو کښې شامل دی کوم چې الله ﷻ په خپل اقدس ذات پورې مختص ګرځولي دي، دغه علم یې نه چاته ورکړی دی، او نه به یې وروسته ورکړي، تاسو ته په کار دي چې د عذابه یې د نجات بندوبس وکړي، او د وخت د تعین په هکله یې پوښتنه ونه کړئ.

## څه ګټور معلومات

۴ـ غواړو چې د ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥ عِلۡمُ ٱلسَّاعَةِ ﴾ الآیة په ارتباط څه نور ګټور معلومات لوستونکو ته وړاندې کړو، هغه دا:

الف: په ذکر شوي ایت شریف کښې پنځو موضوعاتو ته اشاره شوې ده، لکه چې یوه ورځې نبي کریم ﷺ وفرمایل چې: «مَفَاتِحُ الْغَيْبِ خَمْسٌ»[۱] یعنې د غیبو خزانې یا کونجیګانې پنځه دي، او بیا یې ذکر شوی ایت شریف د استشهاد په توګه قرائت کړ.

ب: مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الأنعام:۵۹] ایت لاندې څه معلومات لیکلي دي چې د دې مقام سره ارتباط لري او خلاصه یې لاندې لوستلی شئ:

اول: د ﴿ مَفَاتِح ﴾ کلمه مو د تفسیر او تصریف په لحاظ بنه پوره شرحه کړې ده.

دوهم: د "غَيْب" د کلمې تعریف او ځینې اړونده بحثونه مو لیکلي دي.

دریم: ﴿ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ ﴾ په ذکرو شوو پنځو کښې انحصار نه لري، اما د دغو پنځو ذکر ته د ځینو حکمتونو په بنیاد تخصیص ورکړی شوی دی.

ج: د قیامت د قیام علم الله ﷻ هیچا ته نه دی ورکړی، حتی یوه ورځې جبرائیل ؑ د دین د تعلیم په بنیاد د نبي کریم ﷺ څخه څو پوښتنې وکړې، نو یوه پوښتنه پکښې دا وه چې د قیامت ورځ به کله وي؟ نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې: «مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ»[۲] یعنې د چا څخه چې د قیامت په هکله پوښتنه کړی شوې ده (چې زه یم) د پوښتنې کوونکي څخه (چې ته یې) ورباندې بنه پوه نه دی (دواړه ورباندې نه پوهېږو).

## سوال جواب

د: که څوک وایي چې: د قیامت د قیام څه نښې او علامې خو په شریعت کښې ښودلی شوي

---

(۱) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۴
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۷۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دي، نو ایا په نبنو او علامو سره څه علم نه حاصلیږي؟

مونږ وایو چې: نښې د قیامت په قرب او نږدېکت باندې دلالت کوي، مګر د قیام وخت مشخص نه شي ګرځولی، چې څو کاله وروسته په کوم سات او کومه دقیقه به قائم شي.

د همدې موضوع په ارتباط د [الأعراف:۱۸۷] ایت لاندې څه نور وضاحت هم تېر شوی دی، والحمد لله ﷻ.

## یوه پوښتنه او د هغې جواب

هـ: که څوک وایي چې: ایا د هوا او موسم پېژندلو خبره علم نه ګڼلی کېږي چې سبا ته به هلته یا دلته ورښت صورت ونیسي؟

مونږ وایو چې: د هغوی علم په آلاتو او اسبابو باندې ولاړ دی او داسې علم نه دی چې د نقیض او تخلف امکان ونه لري، د همدې کبله هوا پېژندونکي د خپلې خبرې دروغ ختل نه نفي کوي او نه يې نفي کولی شي؛ مثلاً داسې نه وايي، او نه يې ویلی شي، چې ورښت به حتمي صورت ونیسي. په همدې موضوع کښې ځینو مفسرینو کرامو ډېر ښه خوندور بحث کړی دی[۱].

## یوه بله پوښتنه او د هغې جواب

و: که څوک وایي چې: ایا په ﴿ مَا فِي ٱلْأَرْحَامِ ﴾ باندې پوهېدل په الله ﷻ پورې اختصاص موندلی شي، حال دا چې په نني عصر کښې په آلاتو او اسبابو سره د مور په رحم کښې نارینه اولاد پېژندل کېږي؟

مونږ وایو چې: همدغه پوښتنه مونږ د الله ﷻ په توفیق د [الرعد:۸] ایت لاندې ډېره ښه جوابه کړې ده چې د وضاحت سره يې یو ځل بیا په لاندې ټکو کښې راخلاصه کوو:

اول: په ﴿ مَا فِي ٱلْأَرْحَامِ ﴾ کښې د "ما" توری عام مفهوم افاده کوي، حتی چې آن د نطفې حال ته هم شاملېږي، او پوره واضحه ده چې په دغه حال کښې يې نه چا د پېژندلو دعوه کړې ده او نه به يې دعوه وکړي.

دوهم: الله ﷻ په ﴿ مَا فِي ٱلْأَرْحَامِ ﴾ باندې پوهېدل په ټولو کیفیاتو باندې علم د احاطې په توګه په خپل اقدس ذات پورې مختص ګرځولی دی چې رنګ، عقل، پوهې او نورو ټولو نفساني کیفیاتو ته شامل دی. خو په نني عصر کښې لا څه چې په راتلونکي عصر کښې به هم هیڅوک دعوه ونه شي کړی، چې دا ماشوم به هوښیار وي او هغه به بې عقل وي، او هغه به حلیم وي او دغه به غُصناک وي او داسې نور.

دریم: په ﴿ مَا فِي ٱلْأَرْحَامِ ﴾ باندې چې کوم علم په الله ﷻ پورې اختصاص لري هغه علم داسې باوري علم دی چې د نقیض او د دروغ ختلو احتمال نه لري، اما کوم علم چې په نني عصر کښې په

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۱۲

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



آلاتو او اسبابو سره صورت نیسي په هغه کښې د دروغ ختلو احتمال د منځه نه شي تلی، لکه چې د همدغې خبرې تصدیق د هغې لنډکی قیصې څخه څرګندېږي کومه چې مونږ د الله ﷻ په توفیق د ذکر شوي ایت په توضیحاتو کښې لیکلې ده، او که بالفرض څوک ادعاء وکړي چې زه ورباندې په یقین سره پوهېږم نو هغه په یقین سره کافر دی.

## یوه قیصه

ز: یوه ورځې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما سره یوه یهودي لاندې سوال جواب وکړ:

یهودي: زه غواړم چې تا د علم النجوم په حساب سره په درېوو خبرو باندې خبر کړم:

اول: ستا زوی به لس ورځې وروسته مړ شي.

دوهم: ته به پخپله تر هغه ژوندی یې چې په سترګو به ړوند شې.

درېم: زه به هم د روان کال تر پایه پورې ژوندی پاتې نه شم.

ابن عباس رضي الله عنهما: دا راته وایه چې چرته به مړ شې (په کومه ځمکه به دې روح قبض شي).

یهودي: په دې نه پوهېږم.

ابن عباس رضي الله عنهما: الله ﷻ ربښتیا ویلي دي چې: ﴿ وَمَا تَدۡرِي نَفۡسُۢ بِأَيِّ أَرۡضٖ تَمُوتُۚ ﴾ یعنې او هیڅ نفس نه پوهېږي چې په کومه ځمکه به مړ شي.

په پای کښې د یهودي ذکرې شوې درېواړه خبرې ربښتیا شوې[۱]، خو دغه (ربښتیا توب) دلالت نه کوي چې نوموړی نجومي په غیبو باندې پوهېده، بلکې د یو پلوه ذکره شوې پوهه په آلاتو او اسبابو باندې ولاړه وه، او علم غیب د هغه علم نوم دی کوم چې په آلاتو او اسبابو باندې ولاړ نه وي، او د بله پلوه، د یو ځل صدق غوښتنه دا نه ده چې هر ځل به یې خبره ربښتیا وي.

د ښه وضاحت دپاره لاندې حدیث ولولئ:

یو ورځې د نبي کریم ﷺ څخه چا د کاهنانو (او نجومیانو) په هکله پوښتنه وکړه، نو نبي کریم ﷺ جواب ورکړ چې دا هیڅ شی نه دی. بیا یې ترې پوښتنه وکړه چې: ای د الله رسوله! کاهنان خو کله خبره کوي چې همغه حقه وي (هماغسې وشي لکه څنګه چې هغوی خبر ورکړی وي).

نو نبي کریم جواب ورکړ چې: «تِلْكَ الْكَلِمَةُ مِنَ الْحَقِّ يَخْطَفُهَا مِنَ الْجِنِّيِّ فَيَقُرُّهَا فِي أُذُنِ وَلِيِّهِ فَيَخْلِطُونَ مَعَهَا مِائَةَ كَذْبَةٍ»[۲] یعنې دغه د حق څخه هغه خبره ده چې جني (شیطان) یې د پرښتو څخه راوتښتوي نو د خپل دوست (کاهن) په غوږ کښې یې وتغوي (واچوي) نو کاهنان ورسره سل دروغه ګډ کړي.

## مرګ ته ورځغلي

ح: نبي کریم ﷺ فرمایلي دي چې: «إِذَا قَضَى اللهُ لِعَبْدٍ أَنْ يَمُوتَ بِأَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً»[۳] یعنې

---

(۱) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۸۲
(۲) صحیح البخاري ج۲ ص۸۵۷؛ صحیح مسلم ج۲ ص۲۳۳
(۳) جامع الترمذي ج۲ ص۳۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کله چې الله ﷻ یوه بنده ته اراده وکړي چې په کومه ځمکه کښې ومري، نو الله ﷻ نوموړې ځمکې ته د بنده ارتیا پیښه کړي چې په ځغاسته هلته ورشي او د خپل مرګ ځای ته خپل ځان ور ورسوي.

همدا موضوع په لاندې مثالونو کښې ښه واضحه کېږي:

اول: د افغانستان خلکو ته د الله ﷻ د پلوه مقرره وه چې په ټوله دنیا کښې خواره واره شي او په مختلفو ځایونو کښې د ځینو ارواګانې قبض کړی شي. دا نقشه ورباندې د دې کبله تطبیق شوه چې دوی هجرت کولو ته اړ او مجبور کړی شوه.

یا په بل عبارت: هر مړ کېدونکی د خپلې مړینې ځای ته په ځغاسته ورغی او په منډه یې خپل ځان وروورساوه، او ځینې لا ورته هلته منتظر ناست دي، خو په خپل ځان خبر نه دي.

همدارنګه د جهاد په دوران کښې د جهاد د فریضې د اداء کولو د کبله د نړۍ مجاهدینو افغانستان ته راوادانګل، او بیا د افغانانو شهیدانو په شمول هر یو شهید هغه ځای ته په ځغاسته ورغی چرته یې چې د شهادت جام نوش جان کړ، فإنا لله وإنا إليه راجعون.

دوهم: وایي چې یوه ورځې د سلیمان ﷺ په مجلس کښې ملک الموت د یوه ناآشنا سړي په څېره ناست وه او په مجلس کښې یې یوه تن ته په ډېر زیر سره وکتل، نو هغه د وارخطایی د کبله د سلیمان ﷺ سره لاندې سوال جواب وکړ:

د مجلس یو تن: دا ناآشنا سړی څوک وه چې ماته یې په دقت سره وکتل.

سلیمان ﷺ: دا ملک الموت ﷺ وه.

د مجلس یو تن: داسې ښکارېږي چې ملک الموت زما د روح د قبض اراده لري؛ نو ای پیغمبره! ته باد ته امر وکړه چې ما هند ته والوزوي، او هلته مې واچوي.

نو سلیمان ﷺ دا کار وکړ، خو ملک الموت ورته اطلاع ورکړه چې الله ﷻ ماته د نوموړي یو تن په هکله امر وکړ چې په هند کښې یې روح قبض کړم، حال دا چې هغه دلته (په شام) کښې ناست وه، زه حیران وم چې د الله ﷻ امر به څنګه تعمیل کړم[۱]، خو نوموړي په ځغاسته ځان هند ته ورساوه ترڅو ورباندې زه خپل ماموریت عملي کړم.

د اقیصه که واقعیت ونه لري هم عبرت ترې اخستل کېږي.

اللهم اجعل آخر كلامنا لَا إِلَهَ إِلاَّ اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ.

د "لُقمَان" سورت د الله ﷻ په توفیق ختم شو، او د نور توفیق غوښتونکي هم یاستو.

۳۰/رجب/ ۱۴۲۱ هـ ق - ۱۳۷۹/۸/۶ هـ ش - ۲۰۰۰/۹/۲۸ م.

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۱۲؛ تفسیر البیضاوي في هذا المقام

Scanned by CamScanner

# السجدة (٣٢)



Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



## سریزه

۱_ مونږ د "البقرة" سورت په سریزه کښې د الله ﷻ په توفیق په خاص-خاص نومونو سره د سورتونو د نومولو متعدد مناسبات ښودلي دي، د هغو د جملې څخه یو مناسبت دا دی چې د سورت مضمون د خپل نامه په مفهوم باندې مشتمل وي، لکه څنګه چې د "الإخلاص" سورت مضمون د اخلاص په مفهوم باندې اشتمال لري.

په دې مقام کښې همدغه مناسبت په پام کښې نیولی شوی دی چې د دې سورت د [۱۵] ایت مضمون د تلاوت په سجده باندې مشتمل دی. ته به وایې چې په "السجدة" کښې د "ا، ل" توري عهدي دی او د تلاوت سجدې ته پکښې اشاره شوې ده نو د "السّجدة" په نامه نومولی شوی دی.

۲_ د دې سورت د ایتونو شمېره (۳۰) ته رسېږي(۱)، او ټولې کلمې یې (۶۸۰) کلمې دي او د حرفونو شمېر یې (۱۵۱۸) تورو ته پورته شوی دی(۲).

۳_ د دې سورت په ځینو ایتونو کښې د مکیتوب او مدنیتوب د لحاظه د علماوو کرامو څه اختلاف شته(۳)، مګر د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما (رئیس المفسرین) د یو روایت په بنیاد دا سورت ټول مکي سورت دی(۴) او د هجرت څخه وړاندې نازل شوی دی.

۴_ نو په همدې بنیاد په دې سورت کښې په عمده توګه هغه موضوعات تعقیب شوی دی کوم چې د اکثریت په لحاظ عموماً په مکي سورتونو کښې تعقیبېږي لکه د توحید دلایل، د قیامت قیام اثبات، د نبوت د ثبوت اظهار، نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکول او داسې نور.

۵_ په همدغو موضوعاتو سره د دواړو سورتونو (لقمان، السجدة) تناسب هم د ورایه څرګندېږي او څه دقیق تفکر ته اړتیا نه لري.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ الٓمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ لَا رَيْبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝٢ أَمْ يَقُولُونَ ٱفْتَرَىٰهُ ۚ بَلْ
هُوَ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۝٣ ٱللَّهُ
ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ۖ مَا
لَكُم مِّن دُونِهِۦ مِن وَلِىٍّ وَلَا شَفِيعٍ ۚ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ۝٤ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى

---

(۱) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۹۷
(۲) اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۴۷۰
(۳) تفسیر القرطبي ج۱۴ ص۸۴
(۴) الدر المنثور ج۶ ص۵۳۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ٱلۡأَرۡضِ ثُمَّ يَعۡرُجُ إِلَيۡهِ فِي يَوۡمٖ كَانَ مِقۡدَارُهُۥٓ أَلۡفَ سَنَةٖ مِّمَّا تَعُدُّونَ ۝٥ ذَٰلِكَ عَٰلِمُ
ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝٦ ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥۖ وَبَدَأَ خَلۡقَ ٱلۡإِنسَٰنِ
مِن طِينٖ ۝٧ ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن مَّآءٖ مَّهِينٖ ۝٨ ثُمَّ سَوَّىٰهُ وَنَفَخَ فِيهِ مِن
رُّوحِهِۦۖ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ۝٩ ﴾

د ډېر مهربان (او) ډېر بارحمه الله ﷻ په نامه.

[۱] ۰

[۲] (دا قرآن کریم جوړ کړی شوی نه دی بلکې) نازل کړی شوی کتاب دی، د دې (کتاب په حقانیت) کښې شک نشته (دا د شک او اشتباه ځای نه دی).

(دا قرآن کریم) د رب العالمین ﷻ د پلوه (د خلکو د هدایت دپاره نازل شوی) دی.

[۳] ایا کفار وایي چې دا (قرآن کریم) محمد د خپله ځانه جوړ کړی دی؟

(دغسې نه ده) بلکې همدا ستا د رب ﷻ د پلوه حق (د واقع په مطابق کتاب) دی (د دې دپاره په تاباندې درنازل شوی دی) ترڅو (ورباندې) داسې قوم (د خپل رب ﷻ د عذابه) وډار کړې چې ستا څخه مخکښې ورته هیڅ ډاروونکی نه دی ورغلی (چې د نبوت سره ډېر ناآشنا دی)، شاید چې دوی (وربانډې) هدایت مونده کړي (او د نبوت سره آشنا شي).

[۴] (تاته څکه دا کتاب درکړی شو چې) الله ﷻ هغه اقدس ذات دی کوم چې اسمانونه او ځمکې او (هم) هغه (مخلوقات) چې د دوی دواړو ترمنځ (موجود) دي، (دا ټول یې) په شپږو ورځو کښې پیدا کړي دي بیا یې په عرش العظیم باندې (د خپل شان سره مناسبه) إستواء کړې ده (هیڅ ته یې په روزمره کارونو کښې هم د تصرف څه اختیار نه دی ورکړی).

(نو ای کفارو!) تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر نه دوست شته او نه شفاعتګر (چې په دوستۍ یا شفاعت سره نجات درکړی شي). ایا نو تاسو (د ذکر شوي مضمون څخه) پند نه اوچتوئ؟ (چې د شرکیاتو څخه اجتناب خپل کړئ).

[۵] (او دا ځکه چې:) الله ﷻ (پخپله) د اسمان څخه تر ځمکې پورې د هر کار تدبیر (او انتظام پخپله) کوي، بیا هر یو کار بېرته (د) الله ﷻ (حضور) ته وراوچتېږي (او په اختتام کښې یې فیصله کوي، البته) په داسې ورځ کښې چې (د اوږدوالي) اندازه یې د هغو کلونو څخه چې تاسو (وربانډې شمېرل کوئ، یو زرکاله (اوږده) ده، (دغه ورځ د قیامت د ورځې څخه عبارت ده).

[۶] دغه (د ذکرو شوو صفاتو خاوند ﷻ) په پټو او ښکاره وو باندې پوه دی (او هم) د کلکې ارادې خاوند (او) د ډېر رحم ښتن دی.

[۷] هغه (اقدس ذات دی) چې هر شی یې پیدا کړی دی د هغه سره یې احسان (هم) کړی دی

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



(بې شماره نعمتونه يې هم ورکړي دي). او (همدغه اقدس ذات ﷻ) په ړومبي ځل سره يې انسان (آدم ﷺ) د ختې څخه پيدا کړ.

[۸] بيا يې د ده ﷺ اولاده د (غذاګانو) زېښنلو (لعاب) څخه وګرځوله (پيدا کړه، دا لعاب) د حقيرو اوبو (منيو) څخه عبارت دي.

[۹] بيا يې (د څو مراحلو څخه وروسته) د آدم ﷺ نسل (د انسان په شکل) برابر کړ، او د خپل روح (چې د ده ﷻ خاص مخلوق دی) څخه يې پکښې پو کړ.

او (هم) يې تاسو ته غوږونه او سترګې او زړونه وګرځول (پيدا کړه). (خود دې نعمتونو سره-سره) تاسو ډېر لږ شکرګزاري کوئ.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

د وړاندېني سورت د وروستني ايت مضمون دا وه چې: "مَفَاتِحُ الْغَيْبِ" (د غيبي علومو کونجيګانې او يا خزانې) خاص او خاص په الله ﷻ پورې ارتباط لري او بس.

د دې سورت په ذکرو شوو لومړنيو ايتونو کښې د يو پلوه د "مفاتح الغيب" دپاره د قرآن کريم يو مثال ښودلی شوی دی، او د بله پلوه الله ﷻ د خپل کامل علم او خپل کامل قدرت څه نور وضاحتونه هم نازل کړي دي، چې خلاصه يې داسې راځېږي:

ای پيغمبره! د "بسم الله الرحمن الرحيم" د ويلو څخه وروسته په خپل اُمت باندې لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ کوم "مفاتح الغيب" چې الله ﷻ پورې اختصاص لري د هغو يو بارز مثال دغه قرآن کريم دی، او دا ځکه چې:

الف: دغه قرآن کريم د هغو تورو څخه ترکيب موندلی دی د کومو څخه چې د بندګانو کلامونه ترکيب مومي او روزمره ورباندې خبرې کوي، لکه "ا، ل، م" او داسې نور، خو د دې سره تول مخلوقات د دې څخه ناتوانه دي چې د دې قرآن کريم د يوه ايت په مثل يو کلام جوړ کړي، حتی نه هم نه شي کولی او نه دې پخوا کولی شوه چې د قرآن کريم د يوه ايت مثل ترکيب کړي.

ب: دا د دې حقيقت دليل دی چې قرآن کريم بشري کتاب نه دی بلکې د "مفاتح الغيب" څخه يوه کړۍ ده، دا ځکه چې: د مخلوقاتو ترمنځ علمي تفاوت شته او الله ﷻ په تفاوت سره پيدا کړي دي، خو په دومره تفاوت سره يې نه دي پيدا کړي چې يو کس دې يوازې په يو سر تول کتاب جوړ کړي او نور تول مخلوقات دې په ګډه د يوه ايت د جوړولو توان هم ونه لري.

ج: نو پوره واضحه شوه چې دا کتاب د رب العالمين د پلوه د همدوی د هدايت دپاره نازل شوی دی، ترڅو ترې دوی په دنيا او آخرت کښې د مثال په توګه استفاده وکړي.

د: او دا هم پوره څرګنده شوه چې په حقانيت او واقعيت کښې يې داسې شک او شبه نشته کومې چې د يوه اساسي تکي څخه سرچينه اخستې وي، بلکې په دغه مورد کښې تولې

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اشتباهگانې بې بنیاده او بې اندازې کاواکه دي.

۲ـ ای پیغمبره! مشرکان تاته ګوته نیسي او وايي چې دا کتاب یې د خپله خانه جوړ کړی دی، او په دروغو باندې یې په الله ﷻ پورې د دې دپاره ورتپلی دی چې په خلکو باندې یې قبول کړي، او څه اعتبار ورته کسب کړي، خو:

الف: دغسې نه ده لکه چې هغوی خیال کاوه، بلکې اعجاز یې په لوړ اواز سره نارې وهي چې دا کتاب ستا د رب ﷻ د پلوه تاته په حقه درکړی شوی دی.

ب: البته دا د دې دپاره چې ته په دې کتاب سره هغه قوم د الله ﷻ د عذابه وډار کړې چې ستا څخه وړاندې ورته څو پېړۍ ډاروونکی (پیغمبر) نه دی ورغلی، کوم چې د پیغمبر سره ډېر ناآشنا دی او بالآخره کوم ته چې د یوه بنیادم پیغمبر ګرځېدل ډېر لرې او نه کېدونکی کار برېښي.

شاید چې هغوی ستا دعوت ومني او په رښتیانیو معناوو کښې د الله ﷻ د عذابه وډار شي او د شرک څخه توحید ته راوګرځي.

ج: که بالفرض المحال تا خپل ځان هغوی ته په دې غرض پیغمبر په صفت معرفي کولی ترڅو ورباندې خپل ریاست او مشري قائمه کړې ـلکه چې هغوی همداسې خیال کوي ـ نو هرومرو به تا دغه کار د یوې داسې لارې څخه پیل کړی وي چې د هغوی د اذهانو څخه دومره لرې نه وي لکه څومره چې ترې نبوت لرې برېښي.

یا په بل عبارت: که بالفرض تا دا کار کولی نو د جوګیتوب یا جادوګر او یا د بل باطل خوښوونکي سړي لقب به دې خپل ځان ته ورکړی وي، او بیا به هغوی په ډېره اسانه سره قبول کړی وی.

۳ـ الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې:

الف: ټول اسمانونه او ټولې ځمکې بلکې هغه ټول مخلوقات یې کوم چې د دغو دواړو ترمنځ موجودیت لري، د خپلې ارادې مطابق په شپږو ورځو کښې پیدا کړي دي، او هیڅوک ورسره په دغه پیداکولو کښې برخوال نشته.

ب: د ذکر شوي پیدا کولو څخه وروسته بیا الله ﷻ په عرش العظیم باندې داسې استواء وکړه کومه چې د ده ﷻ د شان سره مناسبه ده، او د ټولو مخلوقاتو روزمره چارې او کارونه یې هم په خپله اراده کښې وساتل؛ هیچا ته یې په دغه انتظام کښې برخه ورنه کړه او نه ورته څه اړتیا وه چې برخه یې پکښې ورکړې وی.

۴ـ نو ای مشرکانو! په همدې بنیاد تاسو ته د الله ﷻ څخه په غیر هیڅ دوست او هیڅ شفاعتګر نشته چې په الهي انتظام کښې څه مداخله وکړی شي او تاسو ته نجات درکړي.

ایا نو تاسو د همدې نصیحت څخه پند نه اخلئ؟ ایا تاسو نه پوهېږئ څوک چې په الهي انتظام کښې هیڅ مداخله نه شي کولی بلکې پخپله همدغه انتظام ته منقاد وي، هغه به چاته څه ګټه ورسولی شي؟

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



۵ـ په الهي نظام کښې څکه څوک مداخله نه شي کولی چې د اسمان څخه نیولې آن تر ځمکې پورې په ټوله ساحه کښې یوازې الله ﷻ خپل تکویني اوامر نازلوي او د کارونو تنظیم ته صورت ورکوي.

بیا به همدغه ارشادات د نتائجو په لحاظ بېرته د الله ﷻ حضور ته د فیصلې دپاره وړپوړته او د ده ﷻ اقدس حضور ته به وړاندې شي. البته دا به په هغې سختې ورځې کښې صورت ونیسي د کومې اوږدوالی چې ستاسو د کلونو په معیار یو زر کاله دی.

لنډه دا چې د الله ﷻ څخه په غیر نه څوک د دنیا په انتظام کښې مداخله کولی شي او نه یې د اختتام په نتائجو کښې د لاس وهنې توان لري، نو خاص همدی ﷻ د عبادت لیاقت لري او بس.

۶ـ ای پیغمبره! خلکو ته ووایه چې دغه اقدس ذات ﷻ د لاندې صفاتو درلودونکی هم دی:

الف: په پټو او ښکارندو ټولو شیانو باندې پوه دی، کوم شیان چې د خلکو څخه غائب دي هغه د الله ﷻ څخه غائب نه شي کېدلی.

ب: همدی ﷻ د کلکې ارادې درلودونکی دی، هیڅوک او هیڅ شی یې د ارادې په وړاندې خنډ نه شي جوړېدلی.

ج: همدی ﷻ ډېر مهربان دی چې د ډېرې مهربانۍ د امله یې کفارو ته فرصت ورکړی دی چې د قرآن کریم په حقانیت کښې فکر وکړي او خپلې عقیدې سمې کړي، که نه نو دوی سمدستي د هلاکت لیاقت لري.

د: همدی ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هغو ټولو شیانو ته یې ډېر ښایست ورکړی دی کوم یې چې پیدا کړي دي، هر شی یې په هغې طریقې باندې په ډېره ښه توګه پوه کړی دی د کومې دپاره یې چې پیدا کړی دی، او کوم شکل یې چې ورکړی دی د هغه څخه د استفادې لارې چارې یې په ډېره ښه طریقه ورزده کړې دي، او بالآخره پرېمانه نعمتونه یې ورپېرزو کړي دي.

هـ: الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې د انسان غوندې ښایسته بشر یې د بل شي څخه نه بلکې د خاورې او ختې څخه شروع کړی دی. یا په بل عبارت: آدم ﷺ یې په قدرتي توګه د ختې څخه جوړ کړ او بیا یې پکښې روح پوه کړ او د ښایسته څېرې خاوند یې وګرځاوه.

و: بیا یې د آدم ﷺ نسل او اولاده د غذاګانو د لعاب څخه پیدا کړه او لا پیدا کوي یې. د غذاګانو لعاب او شیره د هغو سپکو او حقیرو اوبو څخه عبارت ده کومه چې د مني په نوم یادېږي.

ز: د جوړولو ترتیب یې دا وه چې د حقیرې منی څخه یې د انسان دپاره د غوښو او هډوکو بدني چوکاټ جوړ کړ، چې د حقیرې نرمې منی سره بالکل ضد او منافي بریښي.

ح: بیا الله ﷻ په همدغه غوښین چوکاټ کښې هغه روح واچاوه د کوم په حقیقت باندې چې یوازې الله ﷻ پوهېږي، نو په کار دي چې همده ﷻ ته یې اضافت وکړی شي او بس.

ط. په دغه روح باندې الله ﷻ ذکر شوی خوړین او غوښین اسکلټ ژوندی کړ او د حس او حرکت خاوند یې جوړ کړ.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ي: ای بینادمانو! په ذکره شوې طريقې سره الله ﷻ تاسو داسې مرحلې ته ورسولئ په کومه کښې چې تاسو د غوږو، سترګو، زړونو او نورو اندامونو خاوندان جوړ شوئ.
خو حقيقت دا دی چې په تاسو کښې شکرګزاران ډېر لږ دي، او ډېر لږ وخت شکرګزاري کوئ، بلکې ستاسو اکثريت ناشکران تشکيلوي، چې د ابتداء څخه تر انتهاء پورې د الله ﷻ د خارجي او داخلي نعمتونو څخه مستفيد ياست خو د دې سره په عبادت کښې ورسره شريکان دروئ.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ الٓمٓ ﴾ کښې د قرآن کريم د حقانيت يو معجز دليل پټ دی، چې الله ﷻ قرآن کريم ته د هغو تورو څخه ترکيب ورکړی دی د کومو څخه چې روزمره د خلکو خبرې ترکيب مومي، او د دوی په اختيار کښې دي، خو د دې سره‌سره د قرآن کريم د يوه ايت غوندې يوه کلام ته ترې ترکيب نه شي ورکولی.
په دغو ايتونو کښې د ذکر شوي دليل څه نظائرو ته اشاره شوې ده، هغه دا چې:
الف: بنيادم د خاورو څخه بنګلې او دنګ تعميرات جوړولی شي مګر د يوه ګل د جوړولو څخه ترې عاجز دی، حال دا چې خاوره يې په ولکه کښې ده.
ب: د ختو او نورو شيانو څخه ښې ډولې مجسمې جوړولی شي خو په روح باندې يې نه شي ژوندي کولی او هم عقل او حواس نه شي ورښبلی، لکه څنګه چې الله ﷻ آدم ﷺ د ختو څخه جوړ او عقل او حواس يې وروښښل.
ج: بنيادم د ميوجاتو څخه لعاب ويستلی شي مګر مني ترې نه شي جوړولی چې د انسان د جوړښت دپاره اساس ګرځي.
د: نرمې اوبه منجمدې ګرځولی شي خو د بنيادم يا بل کوم ځاروي اسکلټ ترې نه شي جوړولی، او داسې نور.
نو څرنګه چې په ذکرو شوو خلقي شيانو کښې هيڅوک عقيده نه شي درلودلی چې دا د انسان صنعت دی، يا په بل عبارت: د مثال په توګه هيڅوک عقيده نه شي کولی او نه يې کوي چې د تورو خاورو څخه ښايسته ګلان او نبات الله ﷻ نه دي پيدا کړي بلکې انسان پيدا کړي دي: نو په کار دي چې قرآن کريم ته هم کفار د دروغين کتاب لقب ورنه کړي، او په دې عقيده وکړي چې په حقه د الله ﷻ د پلوه نازل شوی دی.

## خو منظوم نظاير

۲ـ يوه پښتون شاعر په خپلو اشعارو کښې د ذکر شوي اعجازي دليل خو نظائر په ډېره ښه طريقه ځای په ځای کړي دي[۱]، چې مونږ ترې د بېلګې په توګه فقط څو بيتونه را اخلو، هغه دا چې:

(۱) د عبد الرحمن مومند ديوان ص۱۹۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



په نامه د هغه خدای مې دا بیان دی :: چې یو نوم یې په نومونو کښې سبحان دی
هر یو کار چې وهر چاوو ته مشکل وي :: هغه کار واړه وده وو ته اسان دی
څوک افتاب شي په اسمان راخېژولی :: ده افتاب راخېژولی په اسمان دی
څوک د لمر په مخ حجاب شي غوړولی :: ده پټ کړی لمر په ابر کښې پنهان دی
څوک یو څاڅکی پرېوستی شي د اسمانه :: نازل کړی ده په مونږ باندې باران دی
څوک شي روح ننوستی په یوه ماشي :: ژوندی کړی ده په روح تمام جهان دی
څوک د خاورو شي یو ګل پیدا کولی :: ده له خاورو پیدا کړی ګلستان دی
په سجود یې ځمکې سر دی لګولی :: خوړند سر یې په رکوع سره اسمان دی
هره ونه په قیام ورته ولاړه :: هر ګیاه یې په تسبیح سره زبان دی
هر ماهي یې په دریاب کښې حمد وایي :: هر مرغه یې په چمن کښې ثناخوان دی
مخلوقاتو هسې نه دی پېژاندلی :: لکه ده سره چې قدر د خپل څان دی
منزه دی له جملو وو جهتونو :: او بیا هر جهت په ده باندې ودان دی
له زرګونو صفتونو راشه ګوره :: چې یې کړی نیم صفت عبد الرحمن دی

## یادوني

۳ـ په دې مقام کښې باید څو یادونې په یاد کښې وساتلی شي هغه دا چې:

الف: د ﴿ لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّآ أَتَىٰهُم ﴾ الآية غوندې یو بل ایت په لږ تفاوت سره وړاندې په [القصص: ۴۶] کښې تېر شوی دی، چې مونږ ترې لاندې ـ د الله ﷻ په توفیق ـ څه سوال جواب لیکلی دی یو خل کتل یې بد نه دي.

ب: همدارنګه مونږ د [الأعراف: ۵۴] ایت لاندې د ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ ﴾ جمله ښه پوره شرحه کړې ده ـ والحمد لله ﷻ ـ، هیله ده چې هلته یو خل مراجعه وکړی شي.

## متعدد تفسیرونه

۴ـ مفسرینو کرامو د ﴿ يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلْأَرْضِ ﴾ الآية دپاره ګڼ تفسیرونه کړي دي[۱]، چې تقریباً لسو تفسیرونو ته رسېږي، او په ایت شریف کښې د مراتبو په تفاوت سره د ټولو د تحمل توان شته.

مګر کوم تفسیر چې مونږ ته بهتر او غوره برېښېدلی دی هغه په لاندې تکو ولاړ دی:

الف: د ﴿ يُدَبِّرُ ﴾ کلمه د "تدبیر" څخه اشتقاقه شوې ده، "تدبیر" دېته ویل کېږي چې څوک یو کار په پوره دقت سره پلانګزاري کړي چې بهتره او ښه نتیجه ورکړي[۲].

---

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۲۲؛ تفسیر ابي السعود ج۷ ص۸۰؛ تفسیر الطبري ج۲۱ ص۹۱؛ نظم الدرر ج۶ ص۵۳
(۲) القاموس المحیط ج۲ ص۱۴۷؛ لسان العرب ج۴ ص۲۷۳؛ مفردات الراغب ص۱۶۶

Scanned by CamScanner

د ميرويس اباسين لخوا سکين شو



په دې مقام کښې د "تدبير" د کلمې څخه هغه تدبير مطلب دی کوم چې د الله ﷻ د عالي شان سره مناسب وي، کوم ته چې الله ﷻ اشاره کړې ده چې: ﴿ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ ﴾ [الطلاق: ١٢] يعني الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې اوه اسمانونه يې پيدا کړي دي، او د ځمکو څخه يې هم د اسمانونو په تعداد اُوه ځمکې پيدا کړي دي.

د دغو دواړو په مجموعه کښې يې د حکمتونو په مطابق روزمره الهي حکم چلېږي او بښکته کېږي، د همدې حکم په موافق کارونه صورت نيسي.

مثلاً: بارانونه ورېږي او نباتات وربانديې زرغونېږي، شپه او ورځ يو د بل په تعقيب چلېږي، اوړی او ژمی يو بل تعقيبوي، حيوانات په مختلفو څېرو بانديې پيدا کېږي او د يو حال څخه بل حال ته ورانتقالېږي او داسې نور[1].

ب: د ﴿ ٱلْأَمْرَ ﴾ څخه هغه امر مطلب دی کوم چې په "أُمُور" سره جمعه کېږي[2] او مونږ يې په کار سره ترجمه کوو.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه تعريفي توري پکښې د جنس يا استغراق دپاره دی[3]، چې هغو ټولو کارونو ته شموليت لري کوم چې د تشريع يا تکوين او تسخير په توګه اجراء کېږي.

ج: د ﴿ مِنَ ٱلسَّمَآءِ إِلَى ٱلْأَرْضِ ﴾ کلمات د ټول عالم څخه کنايه دي، او په دغو دواړو بانديې ځکه صراحت وکړی شو ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د انسان تفکر او نظر ظاهراً د دغو دواړو څخه بهر تجاوز نه کوي.

که نه نو د الله ﷻ مخلوقات په دغو دواړو کښې انحصار نه لري، لکه چې فرمايي: ﴿ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ﴾ [المدثر: ٣١] يعني اې پيغمبره! ستا د رب ﷻ په لښکرو (مخلوقاتو) باندې هيڅوک د احاطې په توګه علم نه لري مګر همدی ﷻ او بس.

د: په ﴿ ثُمَّ يَعْرُجُ ﴾ کښې د ﴿ يَعْرُجُ ﴾ کلمه د "عُروج" څخه اشتقاقه شوې ده، چې د پورته ورختلو معنی ورکوي[4]، او ضمير پکښې ﴿ ٱلْأَمْرَ ﴾ ته راجع دی.

هـ: په ﴿ إِلَيْهِ ﴾ کښې الله ﷻ ته ضمير راجع دی لکه چې د ﴿ يُدَبِّرُ ﴾ مستتر ضمير همده ﷻ ته راجع دی.

د دې ډول ضمير يو نظير په بل ايت کښې تېر شوی دی چې: ﴿ وَقَالَ إِنِّى مُهَاجِرٌ إِلَىٰ رَبِّىٓ ﴾ [العنكبوت: ٢٦] يعني او ابراهيم ﷺ وويلې چې يقيناً زه خپل رب ﷻ ته هجرت کوونکی يم (زه هغه وطن ته هجرت کوم چې خپل رب ﷻ راته ښودلی دی).

---

(١) تفسير البغوي ج٣ ص١٣٦
(٢) البحر المحيط ج٨ ص٤٣٠
(٣) التحرير والتنوير ج١٣ ص٣٠
(٤) مفردات الراغب ص٣٣١

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



او په ﴿ فِي يَوْمٍ ﴾ کښې د «فِي» توری پوازې په ﴿ يَعْرُجُ ﴾ پورې تعلق نیسي او بس.

نو د پاسنیو ټکو په پام کښې نیولو سره یې مضمون داسې راځېږي چې:

الله ﷻ اسمان ځځه نیولې آن تر ځمکې پورې په ټوله دنیا بلکې په ټول عالم کښې د حکمتونو په بنیاد کارونو ته صورت ورکوي.

یا په بل عبارت ژوندي کول او مړه کول او داسې نور د همده ﷻ په اختیار کښې دي. د بادونو چلښت او د بارانونو ورښت او داسې نور پوازې د همده ﷻ د ارادې په مدار ځرخېږي او بس.

دا ټول مخلوقات الله ﷻ عبث نه دي پیدا کړي. او نه پکښې الهي تدبیر عبث او بې حکمته صورت نیولی دی. چې د پیداکولو او تدبیرولو ځخه وروسته یې هیڅ ځارنه او مراقبت ونه کړي. بلکې داسې ورځ راتلونکې ده چې ټول أمور به پوازې الله ﷻ ته د فیصلې دپاره ور اوچت شي او د حکمتونو په موافق به پکښې اجراءات صورت ونیسي. البته دغه ورځ د هغې سختې ورځې ځخه عبارت ده کومه چې ستاسو (انسانانو) د کلونو په حساب یو زر کاله اوږده ده. کومه چې د قیامت د ورځې ځخه عبارت ده.

## سوال جواب

۵ـ که څوک وایي چې د قیامت ورځ خو پنځوس زره کاله اوږده ده. ځکه چې نبي کریم ﷺ په یوه اوږده حدیث کښې فرمایلي دي چې «...فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى يُقْضَى بَيْنَ الْعِبَادِ فَيُرَى سَبِيلَهُ إِمَّا إِلَى الْجَنَّةِ وَإِمَّا إِلَى النَّارِ»[۱] یعنې د سرو زرو او سپینو زرو زکات نه ورکوونکي به په خپلو پیسو باندې په داسې ورځ کښې داغل کېږي د کومې اندازه چې پنځوس زره کاله ده. آن تر دې چې د بندګانو ترمنځ فیصله صورت ونیسي. نو بیا به یا د جنت لاره وګوري او یا به د دوزخ لاره.

نو پوښتنه دا ده چې ایا د دغه ایت مفهوم ـ چې په بحث پکښې روان دی ـ د ذکر شوي حدیث د مفهوم سره څه تناقض نه لري؟

موږ وایو چې د ذکر شوي اعتراض دپاره علماوو کرامو متعدد جوابونه کړي دي لاندې مثالونه یې ولولئ:

الف. د قیامت ورځ د اشخاصو په اعتبار تفاوت پیدا کوي[۲]. نو په څینو به زر کاله اوږده وي او په څینو باندې به پنځوس زره کاله او داسې نور.

ب. دواړه عددونه سره څه منافات نه لري ځکه چې دواړه د یوې اوږدې مودې ځخه کنایه دي[۳] چې د مبالغې په توګه ترې په یوه ځای کښې په زر کاله او په بل ځای کښې په پنځوس زره کاله تعبیر شوی دی.

---

(۱) صحیح مسلم ج۱ ص۳۱۸
(۲) تفسیر البغوي ج۳ ص۴۹۸
(۳) تفسیر المراغي ج۲۱ ص۱۰۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ج: دواړه عددونه د شدت او سختی څخه نمایندګي کوي[۱] او مشخص عدد په یوه ځای کښې هم مطلب نه دی، والله ﷻ أعلم بمراده.

## احسان څه معنی؟

٦ـ په ﴿ٱلَّذِيٓ أَحۡسَنَ كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقَهُۥ﴾ کښې د ﴿أَحۡسَنَ﴾ کلمه د "إحسان" څخه اشتقاقه شوې ده، که څه هم مفسرینو کرامو په دې مقام کښې ذکره شوې کلمه په متعددو معناوو باندې تفسیره کړې ده[۲] مګر د لغت په لحاظ سره لاندې دوه معناوې درلودلی شي[۳]:

الف: بل چا ته نعمت ورکول او ښه ورسره کول.

ب: خپله عقیده او خپل عمل ښایسته کول.

په دې مقام کښې اوله معنی مراده ده، یعنې الله ﷻ چې هر شی پیدا کړی دی نو هغه ته یې بې شمېره نعمتونه هم ورکړي دي.

همدا مضمون په بل ایت کښې داسې منعکس شوی دی چې: ﴿رَبُّنَا ٱلَّذِيٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَيۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ﴾ [طه: ۵۰] یعنې موسی ﷺ فرعون مخاطب کړ چې زمونږ رب ﷻ هغه اقدس ذات دی چې هر شي ته یې پیدابښت او څېره ورکړې ده، بیا یې ورته لاربښودانه هم کړې ده، چې د خپل شکل او څېرې څخه دغسې او هاغسې استفاده وکړي.

## یادونه

۷ـ په ﴿ثُمَّ جَعَلَ نَسۡلَهُۥ مِن سُلَٰلَةٖ﴾ کښې د ﴿سُلَٰلَةٖ﴾ کلمه د الله ﷻ په توفیق د [المؤمنون: ۱۲] ایت لاندې ډېره ښه توضیح شوې ده، یو ځل کتل یې د دې مقام دپاره ګټور دي.

﴿وَقَالُوٓاْ أَءِذَا ضَلَلۡنَا فِي ٱلۡأَرۡضِ أَءِنَّا لَفِي خَلۡقٖ جَدِيدِۭۚ بَلۡ هُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ كَٰفِرُونَ ۝١٠
قُلۡ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلۡمَوۡتِ ٱلَّذِي وُكِّلَ بِكُمۡ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمۡ تُرۡجَعُونَ ۝١١ وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ
ٱلۡمُجۡرِمُونَ نَاكِسُواْ رُءُوسِهِمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ رَبَّنَآ أَبۡصَرۡنَا وَسَمِعۡنَا فَٱرۡجِعۡنَا نَعۡمَلۡ
صَٰلِحًا إِنَّا مُوقِنُونَ ۝١٢ وَلَوۡ شِئۡنَا لَأٓتَيۡنَا كُلَّ نَفۡسٍ هُدَىٰهَا وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي
لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ۝١٣ فَذُوقُواْ بِمَا نَسِيتُمۡ لِقَآءَ يَوۡمِكُمۡ
هَٰذَآ إِنَّا نَسِينَٰكُمۡۖ وَذُوقُواْ عَذَابَ ٱلۡخُلۡدِ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ۝١٤ إِنَّمَا يُؤۡمِنُ بِـَٔايَٰتِنَا

(۱) اللباب في علوم الکتاب ج۱۵ ص۴۷۳؛ تفسیر الخازن ج۵ ص۷۲
(۲) زاد المسیر ج۶ ص۱۷۲
(۳) مفردات الراغب ص۱۱۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



اَلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ۩ ﴿١٥﴾
تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ
﴿١٦﴾ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾

[۱۰] او مشرکان وايي چې: ایا کله چې مونږ په ځمکه کښې ورک شو (خاورې شو، مونږ به بېرته راژوندي کړی شو؟) ایا یقیناً مونږ به په نوي پیدایښت کښې شو؟

(دا دومره د تعجب خبره نه ده) بلکې مشرکان د خپل رب ﷻ په ملاقات (د قیامت په ورځ) کفر کوونکي (انکار کوونکي) دي (او ذکره شوې خبره پلمه نیسي).

[۱۱] (ورته) ووایه چې هغه ملک الموت به تاسو (ستاسو ارواګانې) پوره واخلي (قبض کړي) کوم چې په تاسو باندې مقرر کړی شوی دی، بیا به (بېرته راژوندي کړی شئ او) خپل رب ﷻ ته (په د حساب کتاب دپاره) ورتاو کړی شئ.

[۱۲] او که ته هغه وخت (حال) وګورې (نو ډېر عجیبه حال به وګورې) چې کله مجرمان (کفار) د خپل رب ﷻ په نزد (د خجالت د کبله) د خپلو سرونو ښکته کوونکي وي (ټيټ ګوري).

(په دغه وخت کښې به وايي چې:) ای زمونږ ربه! مونږ (هغه څه) ولیده او مونږ واورېدل (کوم چې مونږ په دنیا کښې دروغ ګڼل)، نو (ای ربه!) مونږ بېرته (دنیا ته) تاو کړه، چې مونږ (هلته) صالح عمل وکړو، یقیناً مونږ باور کوونکي یاستو (مونږ ایمان راوړی دی).

[۱۳] او که زمونږ اراده وشي نو مونږ به هر نفس (هر چا) ته د هغه هدایت ورکړو (او په سمه لاره تللو ته به یې مجبور کړو)، مګر (مونږ داسې نه کوو ځکه چې) زما د پلوه دا خبره تثبیت (فیصله) شوې ده چې هرومرو (او) ضرور به زه د پېریانو او انسانانو (د مجرمانو) څخه دوزخ ډکوم، د ټولو څخه.

[۱۴] نو (په دوزخ کښې به ورته ووېلی شي چې:) تاسو د خپلو اعمالو مزه) په دې سبب وڅکئ چې تاسو د خپلې دغې ورځې ملاقات هېر کړی وه، یقیناً مونږ (نن ورځ) تاسو (د خپل رحمت څخه هېر کړئ (متروک مو وګرځولئ). او د هغو (جنایاتو) په سبب دائمي عذاب وڅکئ کوم چې تاسو (په دنیا کښې) وئ چې عملي کول به مو.

[۱۵] یقیناً زمونږ په ایتونو سره هغه کسان ایمان راوړي کوم چې کله ورباندې پند ورکړی شي نو (سمدستي په ځمکه باندې) سجده کوونکي پرېوځي، او (هم) د خپل رب ﷻ د حمد (او ثنا) سره (د ده ﷻ) پاکي هم بیانوي (او تسبیحات یې وایي)، حال دا چې دوی تکبر نه کوي (د عبودیت او بندګۍ څخه سرکشي نه کوي).

[۱۶] (هغه کسان ورباندې ایمان راوړي) د کومو اړخونه چې د ویده کېدو د ځایونو څخه، په داسې حال کښې لرې وي چې خپل رب ﷻ د ډار او تمې په حال کښې بلي (او د شپې لمونځونه

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوي)، او (په دې باندې علاوه) د هغو مالونو څخه کوم چې مونږ ورته روزي کړي دي (په صدقاتو کښې) انفاق (خرڅ هم) کوي.

[۱۷] نو هيڅ نفس (هيڅوک د) هغو (نعمتونو په کم او کيف) باندې نه پوهيږي کوم چې ورته پټ ساتلی شوي دي، چې د سترګو د يخوونکو (نعمتونو) څخه عبارت دي.

(دغو کسانو ته به) د هغو عملونو په سبب (جزا ورکړی شي) جزا ورکول کوم چې همدغه کسان دي چې عملي کوي يې.

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په وړاندېنيو ايتونو کښې د نبي کريم ﷺ د نبوت اثبات مطرح وه چې دا قرآن کريم ربښتياني الهي کتاب دی، او بل پکښې د الله ﷻ د توحيد څو دلايلو ته اشاره شوې وه. په دې ايتونو کښې د قيامت د قيام او د مرګ څخه وروسته د بيا ژوندي کېدلو موضوع مطرحه شوې ده چې حاصل يې داسې راځيږي:

ای پيغمبره! مشرکان لکه څنګه چې د الله ﷻ د وحدانيت او ستا د رسالت څخه انکاري دي همدارنګه دوی د ايمانداری دريم اصل (بعث بعد الموت) هم نه مني. د همدې کبله:

۱ـ مشرکان په تعجب سره وايي او خپل انکار څرګندوي چې:

ايا کله چې مونږ خاورې شو او په ځمکه کښې ورک او منحل شو، ايا ربښتيا مونږ به بېرته راژوندي شو او بيا به د نوي او تازه ژوند خاوندان وګرځو؟ دا خبره مونږ بالکل نه منو او نه د منلو وړ ده، چې خاورې شوي او ايره شوي بدنونه دې بېرته د پخوانی څېرې او شکل غوندې شکل واخلي.

۲ـ ای پيغمبره! ايا د مرګ څخه وروسته بيا ژوندي کېدل څه د تعجب خبره ده؟ حال دا چې الله ﷻ ټول مخلوقات د نشت (عدم) څخه پيدا کړي دي.

مشرکان هم په خپلو زړونو کښې په دې باندې پوهيږي چې الله ﷻ په بيا راژوندي کولو باندې قدرت لري، خو د دې کبله ترې انکار کوي چې د حساب کتاب د رامخې ته کېدلو څخه خپلې اوږې سپکې کړي او څه يې چې خوښه وي د هغو مرتکب شي.

لنډه دا چې مشرکان يوازې د بعث بعد الموت څخه انکاري نه دي بلکې دوی د خپل رب ﷻ په حضور کښې د درېدلو څخه او د قيامت د ورځې د نورو کيفياتو څخه هم منکران دي.

۳ـ نو ته د مشرکانو ذکره شوې عقيده رده کړه او ورته ووايه چې:

الف: ای مشرکانو! ايا تاسو نه پوهيږئ چې تاسو د دوه وو برخو څخه تشکيل ياست: يوه برخه مو هډوکي او غوښې دي چې د مرګ څخه وروسته خاورې کېږي او د منځه ځي، بله برخه مو ارواګانې دي چې نه په خاورو کښې ځنبيږي او نه د منځه ځي، بلکې په قدرتي توګه ساتلی کېږي.

ب: کله چې الله ﷻ ستاسو د مرګ اراده وکړي نو هغه ملک الموت کوم چې په تاسو باندې ګومارل شوی دی، سمدستي ستاسو ارواګانې اخلي او په قدرتي توګه يې ساتي؛ نو د ارواګانو په

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



بېلتون سره ستاسو بدنونه د انحلال سره مخامخ کېږي.

ج: کله چې الله ﷻ اراده وکړي چې تاسو بېرته راژوندي کړي، نو سمدستي به مو خاورې شوي بدنونه بیا تشکیل کړي او جدا شوو ارواګانو ته به ورسره پیوستون ورکړي، نو في الحال به تاسو ژوندي شئ؛ او د خپل رب ﷻ په حضور کښې به د حساب کتاب دپاره ودرولی شئ.

۴ـ ای پیغمبره! نن ورځ خو کفار د قیامت د ورځې څخه په تعجب سره انکار کوي، او که ته همدغه کسان په هغه وخت کښې وګورې په کوم کښې چې همدوی د لاندې کیفیاتو درلودونکي وي، نو ډېر عجیبه کیفیات به وګورې:

الف: کله چې ذکرو شوو انکار کوونکو مجرمانو (کفارو) خپل سرونه د خپل رب ﷻ په حضور کښې د خجالت د کبله ښکته او ځوړند نیولي وي.

ب: کله چې هغوی د ډېر ذلت په حال کښې وایي چې:

اول: ای زمونږ ربه! مونږ هغه څه په خپلو سترګو ولیده د کومو څخه به چې مونږ په دنیا کښې انکار کاوه، او خپل خانونه به مو ورباندې رانده اچولي وه.

دوهم: مونږ هغه څه په خپلو غوږونو واورېده او قبول مو کړه کوم چې مونږ په دنیا کښې نه قبلول او غوږ به مو ورته نه نیوه.

دریم: نو ای زمونږ ربه! مونږ بېرته دنیا ته ورتاو کړه ترڅو مونږ هلته صالح عمل وکړو او د دغې ورځې دپاره تیارې ونیسو.

څلورم: ای زمونږ ربه! یقیناً مونږ ستا د رالېږلي شوي پیغمبر په حقانیت او صداقت باندې باور کوونکي یاستو، زمونږ باور د قبول مقام ته ورسوه او د خپلو عذابونو څخه ورباندې نجات راکړه.

۵ـ ای پیغمبره! په دغې ورځ به نه د کفارو اعتذار مقبول وګرځي او نه به یې دنیا ته د بېرته ورتاوولو سوال ومنل شي، او دا ځکه چې:

مونږ په دنیا کښې هغوی ته ښه کافي دلایل ورنازل کړي دي، ترڅو پکښې فکر وکړي او په اختیاري ایمان باندې مشرف شي، خو هغوی ورباندې خپل خانونه رانده او کانه اچولي دي، ته به وایې چې د هغوی په لاس کښې د ایمان راوړلو دپاره هیڅ دلیل موجودیت نه لري.

هوا که زمونږ اراده وشي نو په قدرتي توګه به هر چاته هدایت ورکړو او په سمه لاره به یې روان کړو، مګر دا کار مونږ نه کوو، دا ځکه چې: زما سره دا خبره فیصله او نه بدلېدونکې ده چې زه به هرومرو او ضرور د پیریانو او انسانانو څخه د دواړو د مجرمانو په مجموعې باندې دوزخ ډک کړم.

۶ـ نو کله چې مونږ د خپلې ارادې په مطابق د دواړو ډلو په مجرمانو باندې دوزخ ډک کړو نو په همدغه حال کښې به یې مخاطب وګرځوو چې:

الف: نو اوس د عذاب مزه وڅکئ، البته په دې سبب چې تاسو زمونږ ارشادات هېر کړي وه او خپل خانونه مو ورباندې رانده او کانه اچولي وه.

تاسو د خپلې دغې (د قیامت د) ورځې په ملاقات باندې باور نه کاوه او د قبرونو څخه ژوندي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



راپورته کېدل درته لرې او عجيب بريښېدل. نو دغه دی چې ستاسو همدغې عقيدې په سبب مونږ تاسو د خپل رحمت څخه بې برخې کړئ او په غټ مصيبت باندې مو اخته کړئ.

ب: نو نن ورځ د خپلو کړو وړو او اعمالو په سبب د دائمي عذاب مزه وڅکئ او خوند يې واخلئ.

۷_ ای پیغمبره! زمونږ په ایتونو او دلایلو باندې هغه څوک ایمان نه راوړي کومو چې ورباندې د عناد د کبله خپل ځانونه راندہ او کاڼه اچولي دي. يقينًا هغه کسان ورباندې باور کوي او ګټه ترې اوچتوي چې لاندې صفات ولري:

الف: کله چې هغوی ته زمونږ په ایتونو باندې پند ورکړی شي نو سمدستي الله ﷻ ته په سجده پرېوځي او تواضع او بندګي اختياروي.

ب: سمدستي د خپل رب ﷻ حمد او ثناء وايي او د ټولو نواقصو او شرکياتو څخه ورته د پاکۍ او تنزيه نسبت کوي.

ج: هغوی د خپل رب ﷻ د عبادت څخه تکبر نه کوي او ارشادات يې شاته نه غورځوي.

د: هغوی خپل اړخونه د ویده کېدو د ځایونو او بسترو څخه جدا کوي، ترڅو په نوافلو او د تهجد په لمونځونو سره خپل رب ﷻ وبلي او په داسې حال کښې ورته د سوال لاسونه پورته کړي چې د يو پلوه يې د عذابه ډارېږي او د بله پلوه يې د رضامندۍ او مهربانيو اُميد کوي.

هـ: په دې باندې علاوه، د خپلو هغو مالونو څخه چې الله ﷻ ورپېرزو کړي دي د خپل رب ﷻ د رضامندۍ دپاره مالي عبادت کوي او د حقدارانو حقوق نه هېروي.

۸_ نو ای پیغمبره! کوم نعمت چې د الله ﷻ د پلوه ذکرو شوو مؤمنانو ته پټ ساتلی شوی دی په هغه باندې هيڅوک نه پوهېږي، چې هغه څومره بهتر او څومره غوره دی، خو همدومره تعبير ترې کفايت کوي چې نوموړی نعمت د داسې نعمت څخه عبارت دی په کوم باندې به چې د هغوی سترګې يخې شي.

البته دغه ممتاز نعمت هغوی ته د هغو عملونو په سبب پټ ساتلی شوی دی کوم چې هغوی په دنیا کښې دي چې د خلکو څخه يې پټ په توره شپه کښې عملي کوي.

## توضيحات

۱_ په ﴿ أَءِذَا ضَلَلْنَا فِي ٱلْأَرْضِ ﴾ کښې د ﴿ أَءِذَا ﴾ کلمه په مقدر "نُبْعَثُ" پورې تعلق نيسي[1]، چې متصله راتلونکې جمله ﴿ أَءِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴾ ورباندې دلالت کوي.

نو د عربيت په لحاظ يې مضمون داسې راځېژي چې: ايا کله چې مونږ په ځمکه کښې تيت پرک شو مونږ به بېرته راژوندي کړی شو؟ ايا مونږ به هرومرو په نوي ژوند کښې قرار ولرو؟

## ملک الموت يعني څوک؟

۲_ په ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ﴾ کښې ځينو مفسرينو کرامو د ملک الموت نوم "عزرائيل"

(۱) تفسير الكشاف ج۳ ص۵۰۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



[illegible]

[illegible]

د تلاوت سجده

[illegible]

تجافي څه معنی؟

[illegible]

د آیت شریف ارشاد

[illegible]

[illegible]

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



نوافل) د سړي عقيده پخوي او ايمان يې قوي کوي.

د شپې د نوافلو په فايدو او ګټو کښې نبي کريم ﷺ فرمايلي دي چې: «عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ، وَإِنَّ قِيَامَ اللَّيْلِ قُرْبَةٌ إِلَى اللهِ وَمَنْهَاةٌ عَنِ الْإِثْمِ وَتَكْفِيرٌ لِلسَّيِّئَاتِ وَمَطْرَدَةٌ لِلدَّاءِ عَنِ الْجَسَدِ»[۱] يعنې تاسو په قيام الليل (د شپې په نوافلو) هميشوالي وکړئ، چې يقيناً دا د وړاندېنيو صالحانو طريقه ده (نو تاسو د هغوی په طريقه لاړ شئ)، او يقيناً قيام الليل الله ﷻ ته د نژدېکت سبب دی، او هم د ګناه څخه منعه کوونکی دی، او د بديو (معاصيوو) محوه کوونکی (د منځه وړونکی) دی، او (بالآخره) د لمونځ کوونکي د جسد (بدن) څخه د مرض طردوونکی (شړونکی) دی.

دا د يو پلوه، او د بله پلوه ځينو مفسرينو کرامو د قيام الليل په فضايلو کښې بنه ډېر احاديث راغونډ کړي دي[۲] چې لوستل يې ګټور دي.

## «قُرَّةِ أَعْيُنٍ» څه معنی؟

۷ـ په ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ ﴾ کښې د ﴿ قُرَّةِ أَعْيُنٍ ﴾ کلمات د [الفرقان:۷۴] ايت لاندې ښه پوره تحليل شوي دي ـ والحمد لله ﷻ، چې د خوشاليو څخه کنايه دي چې بيا تحليلولو ته اړتيا نه ګورو، مګر د مقام په لحاظ لاندې حديث شريف وړباندې اضافه کوو:

نبي کريم ﷺ د ابو هريره ﷺ په روايت په يوه قدسي حديث کښې د الله ﷻ څخه حکايت کوي چې: «أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ»[۳] يعنې الله ﷻ فرمايلي دي چې: ما د خپلو صالحينو بندګانو دپاره داسې نعمتونه تيار کړي (او پټ مې ورته ساتلي دي) چې نه سترګو ليدلي دي، او نه غوږونو اورېدلي دي، او نه يې د کوم بنيادم په زړه کښې خطور کړی دی (نه د چا په زړه کښې تېر شوي دي).

بيا ابو هريره ﷺ ذکر شوی ايت شريف د استشهاد په توګه قرائت کړ.

﴿ أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا ۚ لَّا يَسْتَوُۥنَ ﴿١٨﴾ أَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَلَهُمْ جَنَّٰتُ ٱلْمَأْوَىٰ نُزُلًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فَسَقُوا۟ فَمَأْوَىٰهُمُ ٱلنَّارُ ۖ كُلَّمَآ أَرَادُوٓا۟ أَن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَآ أُعِيدُوا۟ فِيهَا وَقِيلَ لَهُمْ ذُوقُوا۟ عَذَابَ ٱلنَّارِ ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَدْنَىٰ دُونَ ٱلْعَذَابِ ٱلْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ

---

(۱) جامع الترمذي ج۲ ص۱۹۵

(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۵۰۱؛ تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۵۹؛ تفسير المظهري ج۷ ص۲۷۴

(۳) صحيح البخاري ج۲ ص۷۰۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



﴿ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ ﴿٢٢﴾﴾

[۱۸] ایا نو هغه څوک چې مؤمن وي د هغه چا غوندې دی چې فاسق وي (او د شریعت د پولو څخه وتلی وي)؟ (دا) دواړه هیڅکله هم برابر نه دي (بلکه ډیر فرق لري).

[۱۹] هر چې هغه کسان دي کوم چې ایمان راوړی دی او صالح عملونه یې کړي دي نو دوی لره د اوسیدو لپاره جنتونه دي، په داسې حال کې چې (دا ورکړه) د هغو اعمالو په سبب میلمستیا ده کوم چې دوی به کول.

[۲۰] او هر چې هغه کسان دي کوم چې فاسق (د شریعت د پولو څخه وتلي) شوي دي نو د هغوی د استوګنې ځای دوزخ دی.

هر کله چې اراده وکړي چې له هغه ځای څخه را ووځي نو بیرته به په هغه کې ورګرځول شي (او دوی ته به ویل کېږي) وڅکئ د اور هغه عذاب چې تاسو به هغه (په دنیا کې) دروغ ګڼلو او ورته به مو نسبت ورکاوه.

[۲۱] او مونږ به ضرور دوی ته (د دنیا) عذاب څخه د لوی عذاب (آخرت د عذاب) څخه وړاندې ور وڅکوو، شاید چې دوی (مونږ ته) راوګرځي (او د کفر څخه توبه وکړي).

[۲۲] او د هغه چا څخه زیات ظالم څوک دی کوم چې د خپل رب په آیتونو (دلایلو) سره پند ورکړ شي (او) هغه ترې بیا اعراض وکړي؟ (دا ډیر لوی ظالم دی)
یقیناً مونږ د مجرمانو (کافرانو) څخه انتقام اخستونکي یو (او ضرور سزا ورکوونکي یو).

## ارتباط او مطالب خلاصه

د دې لنډو آیتونو مضمون د قیامت د ورځې په څه حالاتو باندې مشتمل وه، او په دې آیتونو کې د یو پلوه د دغې ورځې ضرورت ته اشاره شوې ده، او د بل پلوه د پرتلې په توګه د مؤمنانو او کافرو اخروي نتائج څه شرحه شوي دي چې حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! په خپل امت باندې د قیامت د ورځې په ارتباط لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ د قیامت د ورځې قیام د حکمت غوښتنه ده چې دنیا باید ضرور په پای کې د حسابونو تصفیه وکړي. که بالفرض د قیامت ورځ قائمه نه شي او د قبرونو څخه مړي بیرته د محاسبې دپاره راژوندي نه کړې شي نو پوره څرګنده ده چې مؤمن او کافر به یو برابر شي. او دا ځکه چې په دې تقدیر به مؤمنانو ته د ایمان مکافات ورنه کړی شي او کفار به د خپلو کفریاتو مجازات ونه ګوري.

نو ایا مونږ هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی د هغه چا غوندې وګرځوو چې فسق یې غوره کړی دی او د توحید د پولو څخه بالکل وتلی دی؟ ایا مونږ دغه دواړه د نتایجو په لحاظ یو برابر وګرځوو؟ دا کار هیڅکله نه شي کیدلی او هیڅکله دغه دواړه ډلې سره یو تر بله نه شي برابریدلی. نو

۲ـ ذکر شوې دواړه ډلې یو تر بله بیلې او جدا دي چې لږ څه تفصیل یې دا دی:

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الف: هغه کسان کومو چې ایمان راوړی دی او نېک او صالح عملونه یې کړي دي، نو د همدوی دپاره د اوسېدانې ځای جنت دی.

د دې دپاره چې د دوی د ایمان او صالح عمل قدرداني وشي، نو جنت ته به د معززو مېلمنو په حیث ځکه ورداخل شي چې دوی دي چې په دنیا کښې نېکه طریقه او لاره عملي کوي.

ب: بالمقابل هغه کسان کوم چې د اسلامي چوکاټ څخه وتلي دي او کفر یې غوره کړی دي، نو د دوی د اوسېدانې ځای دوزخ دی ترڅو د خپلو کړو وړو نتیجه په خپلو سترګو وګوري.

ج: دغه کفار به په دوزخ کښې په دائمي توګه پراته وي، بلکې هر کله چې ورته د وتلو خیال پیدا شي او د وتلو په لټه کښې ولوېږي نو سمدستي به د دوزخ په منځکښې بېرته ورګوزار کړی شي او د وتلو آرزو به یې د خاورو سره برابره کړی شي.

د: په عین حال کښې به ورته د تحقیر په توګه وویلی شي چې: ای کفارو! تاسو نن ورځ د دوزخ د هغه عذاب مزه وڅکئ کوم چې تاسو به یې په دنیا کښې تکذیب کاوه، او دروغ به درته برېښېده.

۳ـ ای پیغمبره! هرومرو او ضرور به مونږ کفارو ته د لوی عذاب (اُخروي عذاب) څخه وړاندې د حقیر عذاب (دنیاوي عذاب) څخه هم څه ناڅه عذاب وروڅکو او پرې مبتلا به یې کړو. شاید چې هغوی د کفریاتو څخه لاس واخلي او سمه عقیده خپله کړي او هم په لوی عذاب باندې د اخته کېدلو څخه خپل ځانونه بچ کړي.

۴ـ خو د دې سره‌سره په کفارو کښې داسې غټ‌غټ ظالمان شته چې په دنیاوي عذاب باندې بې هم عقل سر ته نه ورځي او عبرت ترې نه اخلي.

نو د هغه چا څخه ډېر زیات ظالم بل څوک دی کوم ته چې د خپل رب ﷻ په دلایلو او قدرتي نښو باندې پند ورکړی شي، خو هغه ترې اعراض کوي او عبرت او ګټه ترې نه اوچتوي؟

نو د همدې کبله مونږ پرته له شکه د دغسې مجرمانو څخه انتقام اخستونکي یاستو، او دوی ته په جرمونو او کفریاتو باندې سزا ورکوونکي یاستو.

## توضیحات

۱ـ د ﴿أَفَمَن كَانَ مُؤْمِنًا كَمَن كَانَ فَاسِقًا﴾ الآیة مضمون د قرآن کریم په نورو ایتونو کښې هم نازل شوی دی، لاندې څو مثالونه یې ولولئ:

الف: الله ﷻ فرمایلي دي چې: ﴿أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ﴾ [ص:۲۸] ایا مونږ هغه کسان په ځمکه کښې د فساد اچوونکو غونډې وګرځوو کومو چې ایمان راوړی دی او نېک (صالح) عملونه یې کړي دي؟ ایا مونږ متقیان د فاجرانو غونډې ورګرځوو؟ (چې د قیامت ورځ قانمه نه کړو او د حساباتو تصفیه پرېږدو)؟.

ب: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾ [الجاثیة:۲۱] یعنې ایا هغه کسان کومان

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



کوي کوم چې بدی ، کفر یا نور گناه کسب کوي، چې څوک به یې د هغو گناهو څوک وي وګرځوي کومو چې ایمان راوړی دی او نیک (صالح) عملونه یې کړي دي؛ چې د دوی ټولو ژوند او مرګ به برابر شي؟ هغه حکم ډیر بد حکم دی کوم چې دوی یې کوي ځکه چې د حسابونو د تصفیه کولو ورځ به قائمه نه شي او نه او بد به سره ټول برابر جوړ شي.

ځ الله ﷻ فرمایي چې: ﴿ لَا يَسْتَوِي أَصْحَابُ النَّارِ وَأَصْحَابُ الْجَنَّةِ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَائِزُونَ ﴾ [الحشر: ۲۰] یعني د الله ﷻ په نزد د اور ملګري او د جنت ملګري دو برابر نه دي، د جنت ملګري همدوی د قیامت په ورځ کامیاب دي او هغوی د ناکامۍ سره مخامخ کیدونکي دي.

## ادنی عذاب کوم عذاب دی؟

۲ـ په ﴿ وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ ﴾ کښې د ﴿ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ ﴾ کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو باندې تفسیر کړې ده[۱]. مګر کومه معنی چې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روایت شوې ده[۲] او تقریبا په نورو معناوو باندې مشتمله ده، هغه دا ده چې ادنی عذاب د دنیاوي عذاب معنی ورکوي لکه مرضونه، مصیبتونه، آفتونه او نور هغه لیبان په کومو باندې چې الله ﷻ بندګان د دې دپاره مبتلا کوي ترڅو څپل رب ﷻ ته راجع او د ګناهانو څخه توبه تائب شي او اکبر عذاب د اخروي عذاب څخه عبارت دی.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې د څه حکمت په بنیاد په ذکر شوي ایت شریف کښې "الأدنی ـ الأبعد" یا "الأکبر ـ الأصغر" نازل نه کړی شو، ترڅو د دوه وو ضدینو په نزول سره د دنیاوي عذاب او اخروي عذاب مقایسه په ښه واضحه توګه متحققه شوې وی؟

مونږ وایو چې: ځینو علماوو کرامو ویلي دي چې په دې ډول نزول کښې د تخویف د اړوني زیادت ملحوظ دی[۳] او دا ځکه چې

په "الأدنی، الأصغر" کښې د "الأدنی" کلمه په زیات تخویف دلالت کوي چې د قریب او نږدیکت معنی پکښې پرته ده، او په "الأکبر، الأبعد" کښې د "الأکبر" کلمه همدغه مفهوم بهتر اداء کوي، چې د لرې عذاب څخه لوی عذاب ډیر خوفناک دی.

خو بهتره داسې بریښي ـ والله ﷻ اعلم ـ چې د ذکرو شوو دواړو کلمو په ذکر سره د هغو دواړو اضدادو ته هم اشاره شوې ده، ځکه وایي چې هر ضد په بل ضد باندې دلالت کوي.

نه به وایي چې ایت شریف داسې نازل شوی وی چې "من العذاب الأدنی الأصغر دون العذاب الأکبر

---

(۱) زاد المسیر ج۶ ص۱۷۲
(۲) تفسیر ابن کثیر ج۳ ص۴۶۲؛ الدر المنثور ج۶ ص۵۵۳
(۳) روح المعاني ج۲۱ ص۱۳۵

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



الأبعد: يعني كفارو ته به مونږ هرومرو د لوی لږې عذاب څخه وراندې، نږدې وروکی عذاب ورڅکو.

د دې ډول نزول یو نظیر وراندې ـ د الله ﷻ په توفیق ـ د بنې څېړنې سره تېر شوی دی، چې: ﴿وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ ٱلْحَرَّ﴾ [النحل:۸۱] يعني الله ﷻ هغه اقدس ذات دی چې ستاسو دپاره يې كميسونه گرځولي (پيدا کړي) دي چې تاسو د گرمی (او یخنی) څخه ساتي.

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَٰبَ فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِۦ ۖ وَجَعَلْنَٰهُ هُدًى لِّبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿٢٣﴾ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا۟ ۖ وَكَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا يُوقِنُونَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٢٥﴾﴾

[۲۳] او بې شکه مونږ موسی ﷺ ته کتاب (تورات) ورکړی وه نو ته د خپل کتاب (قرآن کریم) د پیوستون (وحې) څخه په شك کښې مه پرېوځه.

او مونږ هغه (د موسی ﷺ کتاب) د بني اسرائیلو دپاره هدایت گرځولی وه (لکه چې ستا د قوم دپاره مو قرآن کریم هدایت گرځولی دی).

[۲۴] او مونږ د بني اسرائیلو څخه (د تورات په ذریعه ځینې کسان داسې) امامان گرځولي وه (جوړ کړي وه) چې زمونږ په امر به يې (خلکو ته) لاربښودانه کوله، (البته) کله چې هغوی صبر وکړ (او په خپل کتاب کلك شوه)، او وه چې زمونږ په ایتونو سره يې په دوامداره توگه باور او یقین ساته.

[۲۵] يقيناً ستا رب ﷻ همدی ﷻ به د خلکو ترمنځ د قیامت په ورځ په هغو (قضایاوو) کښې (حقې) فیصلې وکړې، په کومو کښې چې (نن ورځ) خلك دي چې اختلاف (پکښې) کوي (او د عناد د کبله حق او حقیقت ته غاړې نه ږدي).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د بعث الموت د اثبات څخه وروسته د یو پلوه نبي کریم ﷺ ته تسلي ورکړه شوې ده، چې د کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې مه غمژن کېږه، او د بل پلوه ورته پکښې زیری ورکول کېږي چې د دې کتاب (قرآن کریم) په ذریعه به ستا اُمت په دنیا کښې امامان او مقتدایان وگرځي. چې حاصل يې داسې راځېږي:

ای پیغمبره! څرنگه چې تا خپل دعوتي امت د ډېرو دلایلو په وړاندې کولو سره دعوت کړه، خو عنادي کفار د خپل عناد څخه رابنکته نه شوه چې ستا دعوت قبول کړي، نو د خپل خان د تسلی دپاره لاندې مطالب قرائت کړه:

۱ـ مونږ يقيناً موسی ﷺ ته کتاب ورکړی وه چې تورات نومېده، دا کتاب د هغه جنس څخه وه کوم چې د الله ﷻ د پلوه پیغمبرانو ته ورکول کېږي. همدا کتاب مو د بني اسرائیلو دپاره هدایت گرځولی وه چې د هغوی دپاره يې په دنیاوي او أخروي کارونو کښې د مشال مثال درلود.

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د همدغه الهي کتاب د جنس څخه مو تاته هم کتاب درکړی دی چې قرآن کريم نومېږي، دا (قرآن کريم) داسې کتاب دی چې خپل ځان پخپله په اثبات رسوي او په حقانيت کښې يې هيڅ شک او شبه نشته.

نو په همدې اساس، ته د خپل کتاب د ملاقات او پيوستون (وحې) څخه په يوه وره شبهه کښې هم مه کېږه، او نه دې پکښې بل څوک شبهه کوي.

نو لکه چې د بني اسرائيلو دپاره هغه کتاب مشال وه ستا د أمت دپاره دا کتاب مشال او څراغ دی.

۲ـ د بني اسرائيلو څخه مونږ د ورکړی شوي کتاب په ذريعه د وخت امامان جوړ کړه، چې زمونږ په امر به يې په همدغه کتاب سره حقې لارې ته دعوت چلاوه، يا په بل عبارت. خينو به د پيغمبرانو په صفت د دعوت سلسله تعقيبوله او خينو به د دعاة الى الخير په حيث په همدې لاره کښې زيار او کوښښ کاوه. البته د دنيا امامت د هغوی هغه وخت په برخه شو کله چې هغوی په خپل کتاب باندې کلک شوه او د جناياتو څخه يې صبر خپل کړ.

او په دې باندې علاوه، هغوی زمونږ په ايتونو باندې خپل باور او يقين ته ادامه ورکوله.

نو که ستا أمت په خپل کتاب (قرآن کريم) باندې کلک شي او کلکه عقيده ورباندې وساتي، نو په دې زمانه کښې به امامت د همدوی په برخه شي او همدوی به د دعوت الى الخير مشران جوړ شي.

۳ـ ای پيغمبره! په ذکر شوي بشارت باندې علاوه، د دې کبله هم د عنادي کفارو په کافر پاتې کېدلو باندې مه غمژن کېږه چې داسې ورځ هرومرو راتلونکې ده چې ستا رب ﷻ به په همدغې ورځ کښې د ټولو خلکو ترمنځ د هغو شيانو په هکله حقې فيصلې وکړي په کومو کښې چې نن ورځ همدوی په اختلاف او شقاق باندې اخته دي؛ هلته به ورته ستا صداقت بنه پوره څرګند شي خو څه ګټه به ورته ونه شي رسولی.

## توضيحات

۱ـ که څوک وايي چې: په ﴿ فَلَا تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَآئِهِ ﴾ کښې د ﴿ لِقَآئِهِ ﴾ ضمير څه شي ته راجع دی؟

مونږ وايو چې: د دغه ضمير د مرجع په تعين کښې علماوو کرامو متعدد اقوال کړي دي[1]. د مثال په توګه:

الف: خينې وايي چې نوموړی ضمير (موسى ؑ) ته راجع دی[2]، او مصدر خپل مفعول ته مضاف دی (فاعل يې حذف دی چې د نبي کريم ﷺ څخه عبارت دی).

نبي کريم ﷺ خو د موسى ؑ سره د معراج په شپه ملاقات کړی وه چې د همده ؑ په مشوره يې څو کرته د الله ﷻ په حضور کښې د تخفيف عرض وړاندې کړ، چې په نتيجه کښې الله ﷻ د

---

(۱) تفسير المظهري ج۷ ص۲۷۷؛ تفسير تيسير الرحمن ج۲ ص۱۵۲

(۲) تفسير البغوي ج۳ ص۲۰۵؛ المحرر الوجيز ج۱۳ ص۳۱؛ تفسير ابن کثير ج۳ ص۴۶۳

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ډېرې مهربانۍ د مخې پنځوس لمونځونه پنځو لمونځونو ته رالنډ کړه[۱].

نو حاصل به يې داسې راخېژي چې: تا د موسی ﷺ سره د معراج په شپه په حقه ملاقات کړی وه، ته په دغه ملاقات کښې هيڅ شک او تردد مه کوه.

ب: په ﴿لِقَآىِٕهِۦ﴾ کښې ضمير ﴿ٱلۡكِتَٰبَ﴾ ته راجع دی[۲] او مصدر خپل مفعول ته مضاف دی او فاعل يې حذف دی چې د موسی ﷺ څخه عبارت دی). يعنې ته په دې کښې شک او تردد مه کوه چې موسی ﷺ خپل کتاب سره ملاقي شو او په حسن قبول سره يې قبول کړه.

ج: ذکر شوی ضمير ﴿ٱلۡكِتَٰبَ﴾ ته راجع دی خو د "مِثْل" کلمه ورسره مقدره ده[۳]، ته به وايې چې داسې "لِقَاءِ مِثْلِهِ" نازل شوی وي. يعنې ته په دې کښې څه شک مه کوه چې ته هم د موسی ﷺ د کتاب غوندې د يوه کتاب سره ملاقي شوی يې او درکړی شوی دی.

## تبصره

۲ـ که څه هم ذکر شوي جوابونه واقعيت لري او په حقانيت کښې يې څه شک او تردد نشته مګر د تفسير په حيث يې منل ډېر سخت او غير متبادر دي. مونږ ته بهتره برېښي چې ذکر شوی ضمير ﴿ٱلۡكِتَٰبَ﴾ مطلق الهي کتاب ته راجع شي، چې تورات او قرآن بلکې ټولو اسماني کتابونو ته شامل دی، او ټول يې مصداقات دي.

نو حاصل به داسې راوخېژي چې: مونږ موسی ﷺ ته اسماني کتاب ورکړی وه، او تاته مو هم اسماني کتاب درکړی دی، نو ته د خپل کتاب په پيوستون او ملاقات کښې شک او تردد مه کوه، او خپل باور ته وربانديې ادامه ورکړه، که نور څوک پکښې شک کوي نو هغوی پوهېږي او کار يې.

زمونږ د جواب يو نظير په [الشعراء:۵۷] ايت کښې د ښې پوره شرحې سره تېر شوی دی ـوالحمد لله ﷻ علی ذلک، نو هيله ده چې هلته يو ځل مراجعه وکړی شي.

## پوښتنې او جوابونه

۳ـ زمونږ د جواب په بنياد د سړي په ذهن کښې لاندې پوښتنې تېرېدلی شي:

الف: ايا نبي کريم ﷺ د خپل کتاب په حقانيت کښې څه شک درلوده چې الله ﷻ ورته توصيه وکړه چې شک پکښې مه کوه؟

مونږ وايو چې: د دغې پوښتنې جواب د [يونس:۹۴] ايت لاندې په ډېره خوندوره او مزه ناکه طريقه ليکلی شوی دی ـوالحمد لله ﷻ علی حسن توفيقه، هيله ده چې هملته مراجعه وکړی شي.

ب: بله پوښتنه دا ده چې: د "لِقَاء" کلمه خو اکثره د قيامت د ورځې په هکله استعمالېږي، د کتاب په هکله خو اکثره هغه کلمات استعمال شوي دي کوم چې د "نُزُول" د کلمې سره تړاو لري، او

---

(۱) صحيح البخاري ج۱ ص۴۷۳؛ صحيح مسلم ج۱ ص۹۱
(۲) زاد المسير ج۶ ص۱۷۷
(۳) تفسير الكشاف ج۳ ص۵۱۶

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



یا وربانديې د "وَحْي" کلمه دلالت کوي. نو پوښتنه دا ده چې ایا د دغه ایت نظیر په بل ایت کښې چرته شته چې د ذکر شوي مصدر (لقاء) متعلقات د قرآن کریم په ارتباط استعمال شوي وي؟

مونږ وایو چې: د ذکر شوي مصدر متعلقات د قرآن کریم په نورو ایتونو کښې استعمال شوي دي. د مثال په توګه الله ﷻ فرمايلي دي چې: ﴿ إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلاً ثَقِيلاً ﴾ [المزمل:۵] یعني یقینًا مونږ به ډېر ژر په تاباندې دروند قول (قرآن کریم) د وحې په ذریعه درواچوو (او درسره به یې پیوسته کړو نو خپل خان ورته چمتو کړه).

## د ایت شریف اشاره

۴_ د ﴿ وَجَعَلْنَا مِنْهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا لَمَّا صَبَرُوا ﴾ څخه د اشارې په توګه نبي کریم ﷺ ته بشارت ورکړې شوی دی چې: د دې قرآن کریم په ذریعه به ستا د اُمت څخه د نړۍ امامان جوړ شي.

او هم پکښې کفار په غوږ وهلی شوي دي چې تاسو د قرآن کریم د پرمختګ مخه نه شئ بندولی ځکه چې فرعونیانو د تورات د پرمختګ مخه بنده نه کړی شوه؛ نو د عناد څخه لاس واخلئ او د فوائدو څخه یې ګټه پورته کړئ.

په همدې مضمون باندې په بل ایت کښې صراحت شوی دی چې: ﴿ وَإِنَّهُ لَذِكْرٌ لَكَ وَلِقَوْمِكَ ﴾ [الزخرف:۴۴] یعني یقینًا دا قرآن کریم ستا دپاره او ستا د قوم دپاره د ذکر (په شرف او عزت سره د یادونې) سبب دی.

﴿ أَوَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّنَ الْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَاكِنِهِمْ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ أَفَلَا يَسْمَعُونَ ﴿٢٦﴾ أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا نَسُوقُ الْمَاءَ إِلَى الْأَرْضِ الْجُرُزِ فَنُخْرِجُ بِهِ زَرْعًا تَأْكُلُ مِنْهُ أَنْعَامُهُمْ وَأَنفُسُهُمْ أَفَلَا يُبْصِرُونَ ﴿٢٧﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْفَتْحُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٢٨﴾ قُلْ يَوْمَ الْفَتْحِ لَا يَنفَعُ الَّذِينَ كَفَرُوا إِيمَانُهُمْ وَلَا هُمْ يُنظَرُونَ ﴿٢٩﴾ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَانتَظِرْ إِنَّهُم مُّنتَظِرُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾

[۲۶] (کفار په خپل عناد کلک دي) او ایا دوی ته دې (خبرې) لار ونه ښودله چې مونږ د دوی څخه پخوا خومره ډېر هلاک کړي دي (البته) د (پخوانیو) پیړیو څخه (لکه عادیان، ثمودیان او نور) حال دا چې دوی د هغوی په استوګنځایونو کښې ګرځي (راګرځي).

یقینًا په دغه (کار) کښې ډېر عظیم الشان دلایل (پټ) دي.

ایا نو کفار (دغې خبرې ته) غوږ نه نیسي؟ (باید چې غوږ ورته کېږدي).

[۲۷] (کفار په عناد کلک دي)، او ایا دوی نه ګوري چې یقینًا مونږ به ګیا ځمکې ته (د باران یا

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



ویالو په ذریعه) اوبه ورسوق کوو (وربهوو)، نو په همدې اوبو سره (ترې) مونږ کښتونه (نباتات) راوباسو، چې د دوی څاروي ترې (روزي) خوري، او پخپله دوی (هم ترې د روزۍ استفاده کوي). ایا نو دوی نه ګوري (یا دوی بصیرت نه لري).

[۲۸] او کفار وايي چې: دغه فیصله (د فیصلې ورځ قیامت) به کله وي که تاسو (په خپله خبره کښې) ربښتیني یاست (نو وخت یې راته وټاکئ).

[۲۹] (ته ورته) ووایه چې: د فتحې په ورځ به هغو کسانو ته د دوی ایمان ګټه ونه رسوي کومو چې (نن ورځ) کفر غوره کړی دی (او ورباندې کلک دي)، او نه به دوی ته مهلت ورکړی شي (او نه به یې عذاب څه وروسته کړی شي).

[۳۰] نو (ای پیغمبره!) د دوی څخه مخ واړه وه (او ناندرۍ ورسره مه وهه)، او (خپل نصرت ته) منتظر اوسه، یقیناً کفار هم انتظار کوونکي دي (البته خپلې بدې ورځې ته او ستا مرګ ته).

## ارتباط او د مطلب خلاصه

په دې ایتونو کښې د مشرکانو د هغې پوښتنې په ارتباط څه مطالب نازل شوي دي، کومه به چې هغوی د ورانديني متصل ایت په تړاو د استهزاء او مسخرو په توګه مطرحه کوله، هغه دا چې د فیصلې ورځ به کله تحقق مونده کړي، چې تاسو ورباندې مونږ ډاروئ، کله چې تر اوسه متحققه نه شوه نو معلومه ده چې د هغې ورځې راتلل دروغ دي. نو حاصل یې داسې راځي:

ای پیغمبره! د عنادي کفارو د استهزايي پوښتنې په ارتباط لاندې مطالب قرائت کړه چې د قیامت تر ورځې پورې عنادیانو کفارو ته جواب وګرځي:

۱ـ ایا عنادي کفار په خپل عناد باندې کلک دي او د خپل عقل څخه کار نه اخلي چې د عناد مخنیوی یې وکړي. یا په بل عبارت: ایا دوی ته دې خبرې حقه لاره ونه ښودله چې مونږ د دوی څخه وړاندې څومره ډېر قومونه هلاک کړي دي، حال دا چې دوی د هغوی په ورانو او ویجاړو مساکنو باندې په خپلو سفرونو کښې تېرېږي راتېرېږي؟

هغوی هم د دوی غوندې عنادیان وه چې همدا عناد یې د هلاکت سبب شو، ایا دوی ته د هلاکت خطر نشته؟

یقیناً د پخوانیو قومونو په دغو کنډوالو مساکنو او په هلاکت کښې ډېر لوی او عظیم الشان عبرتي دلایل پراته دي، البته چې عبرت ترې دوه ډوله خلک اخستلی شي چې:

الف: څوک چې د خپلو عقلونو څخه کار اخلي.

ب: څوک چې د پیغمبر خبرې او دعوت ته غوږ ږدي.

څرنګه چې ستا د زمانې عنادي کفار د خپلو عقلونو څخه کار نه اخلي نو ایا دوی دعوت ته هم غوږ نه ږدي؟

۲ـ عنادي کفار خو د پخوانیو هلاکو شوو قومونو څخه عبرت نه اخلي، نو دوی ته په کار دي

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



چې په خپل چاپېريال کښې فکر وکړي او د قيامت د ورځې قيام په مسخرو سره ونه نيسي. د مثال په توګه:

الف: ايا دوی نه ګوري او علم نه لري چې يقيناً يوازې همدا مونږ وچې کلکې بې زراعته ځمکې ته د اسمان د پلوه اوبه ورسوق کوو (وربهوو).

ب: نو په دغو اوبو سره د ذکرې شوې ځمکې څخه نبات رازرغونوو چې د همدغو نباتاتو څخه د دوی څاروي او هم دوی پخپله خوراک کوي، او د غذاوو کار ترې اخلي

ج: نو ايا دوی دومره بصيرت او هم د سترګو رڼا نه لري ترڅو پوه شي چې هغه اقدس ذات چې د وچې کلکې ځمکې څخه نباتات رازرغونوي هغه د همدې ځمکې څخه مړي هم ژوندي راپورته کولی شي.

۳ـ ای پيغمبره! د عنادي کفارو عنادي او استهزايي پوښتنه دا ده چې دوی ستا په شمول ټول مؤمنان مخاطب ګرځوي او ورته وايي چې: دغه د فيصلې ورځ به کله تحقق مونده کړي؟ که تاسو په خپله خبره کښې رښتيني ياست نو د راتللو وخت يې وتاکئ؛

۴ـ نو ته په جواب کښې ووايه چې:

الف: په دغې ورځ کښې به کفار په نومورې ورځ باندې عقيده او باور وکړي چې دا حقه ده، خو ايمان به ورته هيڅ ګټه ونه شي رسولی چې نن ورځ ورباندې باور نه کوي او د ايمان راوړلو په عوض ورپورې خندا نې کوي.

ب: په دغې ورځ کښې به کفار مهلت وغواړي خو هيڅ مهلت به ورنه کړی شي او نه به بېرته دنيا ته د دوی غوښتنه قبوله کړی شي.

۵ـ ای پيغمبره! د ذکرو شوو عنادي کفارو څخه خپل مخ واړه وه او ناندرۍ ورسره مه وهه (فقط خپل دعوت ته ترخپلې وسې ادامه ورکړه)، بالآخره ته همدې ته منتظر اوسه چې تاته ورباندې خپل رب ﷻ برۍ درکړي او ورباندې غالب وګرځې.

يقيناً هغوی هم ستا مغلوبيت ته انتظار کوونکي دي او ورته په تمه ناست دي، خو هيڅکله به په دغې آرزو کښې کامياب نه شي، همدارنګه ذکر شوي کفار خپل هلاکت ته منتظر دي خو شعور ورباندې نه لري، چې د هلاکت په لور روان دي.

## توضيحات

۱ـ په ﴿ أَنَّا نَسُوقُ ٱلْمَآءَ إِلَى ٱلْأَرْضِ ٱلْجُرُزِ ﴾ کښې لاندې ټکو ته توجه په کار ده:

الف: د ﴿ نَسُوقُ ﴾ کلمه د "سَوْق" ـ لکه "ضَرْب" ـ څخه اشتقاقه شوې ده چې په دې مقام کښې د اوبو د بهولو معنی ورکوي[۱]. دا کار په لاندې دوه وو ډولونو سره صورت نيسي:

اول: چې د اوربنت څخه ډکه وريځ کوم وطن ته رابشکودله شي او هلته ترې باران وورولی شي.

(۱) روح المعاني ج۲۱ ص۱۳۹

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



دوهم: چې سیندونه او نهرونه د یو ځای څخه بل ځای ته وغزولی شي او هلته ورباندې ځمکه خړوبه وګرځولی شي.

ب: د ﴿ ٱلْجُرُزِ ﴾ کلمه مفرده ده چې په "أجْرَاز" سره جمعه کېږي، دغه کلمه د لغت کتابونو په متعددو معناوو سره معنی کړې ده[1] لکه:

اول: هغه ځمکه چې نباتات نه زرغونوي، نه په وایې چې نباتات یې خوړلي دي.

دوهم: هغه ځمکه چې د هغې نباتات څارویو او ساکښانو خوړلي وي، او هیڅ نبات یې په مخ باندې پاتې نه وي.

دریم: هغه ځمکه چې هغې ته باران نه وي رسېدلی او وچه کلکه پرته وي.

په دې مقام کښې ذکرې شوې معناوې سره څه منافات نه لري نو که ټولې د بدلیت په لحاظ واخستلی شي او یا د ﴿ ٱلْجُرُزِ ﴾ څخه "ما یطلق علیه الجرز" مراد کړی شي، هیڅ باک یې نشته.

## د "ٱلْفَتْحُ" څخه کومه فتحه مراده ده؟

۲ـ په ﴿ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْفَتْحُ ﴾ کښې د ﴿ ٱلْفَتْحُ ﴾ کلمه علماوو کرامو په متعددو معناوو سره تفسیره کړې ده[2]، خو کومه معنی چې تر ټولو مونږ ته په دې مقام کښې په زړه پورې برېښي او د وړاندېنیو ایتونو سره ښه پوره پیوند اخلي، هغه دا ده چې دلته ترې د قیامت ورځ مراده شي.

یعني ای پیغمبره! ته کفارو ته وواېه چې د قیامت په ورځ نه ستاسو ایمان قبلېږي او نه به تاسو ته هلته څه مهلت درکړی شي.

په بل ایت کښې په همدې مضمون باندې تقریبًا صراحت کړی شوی دی چې: ﴿ قُلْ يَجْمَعُ بَيْنَنَا رَبُّنَا ثُمَّ يَفْتَحُ بَيْنَنَا بِٱلْحَقِّ ﴾ [سبأ: ۲۶] یعني ورته وواېه چې مونږ او تاسو به ټول زمونږ رب ﷻ (د قیامت په ورځ) راغونډ کړي بیا به ستاسو په شمول زمونږ په منځکښې په حقه فیصله وکړي.

## سوال جواب

۳ـ که څوک وایي چې: په دې کښې څه مطلب وه چې په ﴿ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴾ کښې مؤمنانو ته د کفارو خطابه راحکایت کړی شوه، ایا ذکره شوې پوښتنه یوازې نبي کریم ﷺ ته نه وه راجع شوې؟

مونږ وایو ـ والله ﷻ أعلم ـ چې: کفارو به ذکره شوې پوښتنه د دې دپاره ټولو مؤمنانو ته راجع کړې وي، ترڅو هغوی ته د قیامت په ورځ کښې شک ورواچوي، په اصطلاح د هغوی د شیطانت مطلب وه خو الحمد لله ﷻ اغیزمن واقع نه شو.

د "ٱلسَّجْدَة" سورت د الله ﷻ په توفیق ختم شو، د الله ﷻ څخه نور توفیق هم غواړو.

نېټه: ۱۴۲۱/۸/۹ هـ ق - ۱۳۷۹/۸/۱۵ هـ ش.

(۱) لسان العرب ج۵ ص۳۱۷

(۲) زاد المعاد ج۶ ص۱۷۸؛ اضواء البیان ج۶ ص۵۰۸

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د "رَجاء" معنی ..... ۵
د پرښتو د راښکته کېدلو معنی ..... ۶
تبصره ..... ۶
د "عُتُوّ" معنی ..... ۶
مشرکان به پرښتې څه وخت ګوري؟ ..... ۶
د "حجر" معنی ..... ۷
"هَباء" څه معنی؟ ..... ۷
د "مَقیل" معنی ..... ۸
د "بالغمام" تفسیر ..... ۱۱
"عَضّ" یا "عَضِیْض" څه معنی؟ ..... ۱۱
"ظالم" او "فُلان" څوک څوک دي؟ ..... ۱۲
دواړه خبرې رښتیا شوي ..... ۱۲
تبصره ..... ۱۳
"خذلان" څه معنی؟ ..... ۱۳
د ایت شریف ارشاد ..... ۱۴
یو نحوي تحلیل ..... ۱۴
دا شکایت دی ښېرا نه ده ..... ۱۵
ایا اسماني کتابونه په یوځل نازل شوي وه؟ ..... ۱۷
سوال جواب ..... ۱۷
"تَرْتِیل" څه معنی؟ ..... ۱۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..... ۱۸
د وقفه ئیز نزول نور حکمتونه ..... ۱۸
یادونه ..... ۱۹
دلته د "کِتَاب" څخه تورات مطلب دی ..... ۲۱
سوال جواب ..... ۲۲
د "دَمَار" او "تَبَار" معناوي ..... ۲۲
یو نحوي تحلیل ..... ۲۳
أَصْحَابَ الرَّسّ څوک وه؟ ..... ۲۳
په "ذَلِكَ" سره څه شي ته اشاره ده ..... ۲۴
د مشرکانو مسخره امیزه کلمات ..... ۲۶
یادوني ..... ۲۶
څو تکي ..... ۳۱
د "سُبَات" او "نُشُور" معناوي ..... ۳۳
یو صرفي تحلیل ..... ۳۳
سوال جواب ..... ۳۴
د "هٔ" د ضمیر مرجع څه شی دی؟ ..... ۳۴
تبصره ..... ۳۵
د خلکو اکثریت ځنګه ناشکري کوي؟ ..... ۳۵
په قران کریم سره دعوت کول جهاد دی ..... ۳۶
د دریابونو ترمنځ پرده موجودیت لري ..... ۳۶
تبصره ..... ۳۸
عجیبه حکمتونه ..... ۳۹
د "نسب" او "صهر" ارتباط ..... ۳۹
څو تکي ..... ۴۳
یادونه ..... ۴۳
څو مهم او په زړه پوري مطالب ..... ۴۴
تبصره ..... ۴۵
"سِرَاج" څه معنی؟ ..... ۴۸
د "خِلْفَة" معنی ..... ۴۸
د "هَوْن" معنی ..... ۴۹
د متارکې سلام ..... ۴۹
یادونه ..... ۴۹
"غَرَام" څه معنی؟ ..... ۵۰
د "إِسْرَاف" او "قَتَار" معناوي ..... ۵۰
یو نحوي تحلیل ..... ۵۰
یادونه ..... ۵۱
تبصره ..... ۵۳
څو پوښتني او د هغو جوابونه ..... ۵۴
"شُهُود" او "شهادة" څه معنی؟ ..... ۶۰
"لَغْو" څه معنی؟ ..... ۶۰


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د "قُرَّةُ" معنی ........ ۶۱
سوال جواب ........ ۶۲
ماثور تفسیر ........ ۶۲
"عبث" څه معنی؟ ........ ۶۳

الشعراء (۲۶)

سریزه ........ ۶۵
د "بَخعٌ" معنی ........ ۶۹
سوال جواب ........ ۶۹
د دغې ډول خارق العاده نښې بې نظیر ........ ۷۰
دا مستأنفه جمله ده ........ ۷۲
یادونې ........ ۷۳
سوال جواب ........ ۷۳
دوه پوښتنې او د هغو جوابونه ........ ۷۴
موسی ﷺ څومره عمر درلود ........ ۷۹
متعدد تفسیرونه ........ ۷۹
"ضَلال" څه معنی؟ ........ ۸۰
دا اقرار دی که انکار؟ ........ ۸۱
تبصره ........ ۸۲
فرعون څه ډول کفري عقیده درلوده ........ ۸۲
سوال جواب ........ ۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۸۳
سوال جواب ........ ۸۹
"ضَیرٌ" څه معنی؟ ........ ۸۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۸۹
بیا پولیس واستول شوه ........ ۹۲
د څو لغاتو معناوې ........ ۹۲
یو اعرابي تحلیل ........ ۹۳
ایا بني اسرائیل مصر ته ستانه شوه؟ ........ ۹۳
څو نکات ........ ۹۷
"طَوْد" څه معنی؟ ........ ۹۸
په دریاب کښې دولس کوڅې جوړې شوې ........ ۹۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۹۹
تبصره ........ ۹۹
یادونې ........ ۱۰۰
سوال جواب ........ ۱۰۳
الأسلوب الاحمق وپیژنئ ........ ۱۰۳
پوښتنې او جوابونه ........ ۱۰۳
دا منقطعه استثناء ده ........ ۱۰۴
سوال جواب ........ ۱۰۴
د "لسان صدق" معنی ........ ۱۰۷
یادونه ........ ۱۰۷
د "خِزيٌ" یا "خَزایَةٌ" معناوې ........ ۱۰۷
سلیم زړه څه معنی؟ ........ ۱۰۸
زړه پاچا دی ........ ۱۰۹
سوال جواب ........ ۱۱۲
دوه ډوله تفسیرونه ........ ۱۱۲
ماثور تفسیر ........ ۱۱۲
"کُبکِبَةٌ" څه معنی؟ ........ ۱۱۳
سوال جواب ........ ۱۱۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۱۳
سوال جواب ........ ۱۱۴
سوال جواب ........ ۱۱۸
هېر مو نه شي ........ ۱۱۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۱۹
په یاد ولرئ ........ ۱۱۹
"رَذلٌ" او "رُذالٌ" څه معنی؟ ........ ۱۱۹
د "ریعٍ" او "عَبَثٌ" معناوې ........ ۱۲۳
"مَصانِعٌ" څه معنی؟ ........ ۱۲۴
د "بَطشٌ" معنی ........ ۱۲۴
هېر مو نه شي ........ ۱۲۴


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




سوال جواب ........ ۱۲۵
د دوه وو لغاتو (طلع، هضیم) معناوي ........ ۱۳۰
"فاره" څه معنی؟ ........ ۱۳۱
سوال جواب ........ ۱۳۱
یادونه ........ ۱۳۲
سوال جواب ........ ۱۳۲
دوه ووله تفسیر ........ ۱۳۶
د "قلی" او "قلاء" معناوي ........ ۱۳۷
سوال جواب ........ ۱۳۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۴۱
سوال جواب ........ ۱۴۲
"جِبِلّة" څه معنی؟ ........ ۱۴۲
"یَوْم الظُّلَّة" د کومې ورځې نوم دی؟ ........ ۱۴۳
د دغې ورځې عذاب ........ ۱۴۳
رُوحُ الأمین څوک دی؟ ........ ۱۴۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۴۷
سوال جواب ........ ۱۴۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۴۸
د بني اسرائیلو علماء یعني څوک؟ ........ ۱۴۹
د "أعْجَم" یا "أعْجَمي" معناوي ........ ۱۴۹
سوال جواب ........ ۱۵۰
د اخرت خوشالي او غمونه ........ ۱۵۲
یو اعرابي تحلیل ........ ۱۵۳
"عَزل" څه معنی؟ ........ ۱۵۴
د "عَشِیرَة" معنی ........ ۱۵۶
نبي کریم ﷺ ارشادات عملي کړه ........ ۱۵۷
یادونه ........ ۱۵۸
سوال جواب ........ ۱۵۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۵۸
یادونه ........ ۱۵۹
سوال جواب ........ ۱۶۰
"اِلْقاء" څه معنی؟ ........ ۱۶۲
سوال جواب ........ ۱۶۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۶۳
"هَیْم" څه معنی؟ ........ ۱۶۳
سوال جواب ........ ۱۶۴
د شعر په باب څو شرعي احکام ........ ۱۶۴
وربه شي خبر به شي ........ ۱۶۶

النمل (۲۷)

سریزه ........ ۱۶۸
د دې ایتونو متشابه ایتونه ........ ۱۷۰
دلته د "اِلْقاء" معنی ........ ۱۷۱
د درې لغاتو (شهاب، قبس، صَلْي) معناوي ........ ۱۷۵
هېر مو نه شي ........ ۱۷۶
موسی علیه السلام ډېر سخت ودار شو ........ ۱۷۷
دا منقطعه استثناء ده ........ ۱۷۷
سوال جواب ........ ۱۷۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۷۸
داود علیه السلام ته د زغرو جوړولو صنعت ښودلی
شوی وه ........ ۱۸۱
د ایت شریف ارشاد ........ ۱۸۲
سوال جواب ........ ۱۸۲
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ........ ۱۸۲
"وَزِع" څه معنی؟ ........ ۱۸۴
لښکر کښې د څه دپاره؟ ........ ۱۸۴
څو د پام ور ټکي ........ ۱۸۵
خندا په درې دوله ده ........ ۱۸۷
سوال جواب ........ ۱۸۷
یادونه ........ ۱۸۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۱۸۸


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



سوال جواب ...... ۱۹۱
تبصره ...... ۱۹۲
سخت عذاب د کوم عذاب څخه عبارت دی ۱۹۲
سوال جواب ...... ۱۹۲
"نبأ" د کوم ښار نوم دی؟ ...... ۱۹۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۱۹۳
یادونه ...... ۱۹۴
د بلقیسې عجیبه تخت ...... ۱۹۴
یو نحوي تحلیل ...... ۱۹۴
څو سوالونه او جوابونه ...... ۱۹۴
د لیک د القاء کیفیت ...... ۱۹۶
سوال جواب ...... ۱۹۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۰۰
د لیک شکل څنګه وه؟ ...... ۲۰۰
دوه ډوله تفسیر ...... ۲۰۱
هدیه څه معنی؟ ...... ۲۰۱
سوال جواب ...... ۲۰۳
د "ذِلّة" او "صغر" معناوي ...... ۲۰۴
د بلقیسې جنګ ته نیت نه وه ...... ۲۰۶
د تخت په انتقال کښې څه غرض وه؟ ...... ۲۰۶
"عِفْرِیتٌ" څه معنی؟ ...... ۲۰۷
سوالونه او جوابونه ...... ۲۰۷
دلته "تنکیر" څه معنی؟ ...... ۲۱۰
سوال جواب ...... ۲۱۱
سوال جواب ...... ۲۱۳
یو نحوي تحلیل ...... ۲۱۳
د څو لغاتو معناوي ...... ۲۱۴
یادونه ...... ۲۱۵
سوالونه او جوابونه ...... ۲۱۵
دلته د "سَیِّئَة" او "حَسَنَة" معناوي ...... ۲۲۰
یو صرفي تحلیل ...... ۲۲۱
"رَهْطٌ" څه معنی؟ ...... ۲۲۱
دا څه صیغه ده؟ ...... ۲۲۱
یادوني ...... ۲۲۲
متعدد تفسیرونه ...... ۲۲۴
سوال جواب ...... ۲۲۵
څو نکات ...... ۲۲۶
د الله ﷻ غوره بندګان ...... ۲۲۷
سوال جواب ...... ۲۲۷
د ایت شریف ارشاد ...... ۲۲۸
تبصره ...... ۲۲۸
یو نحوي تحلیل ...... ۲۳۳
"حَدِیقَة" څه معنی؟ ...... ۲۳۳
د "بَهْجَة" معنی ...... ۲۳۴
د "عَدل" یا "عدول" معناوي ...... ۲۳۴
"قَرَار" څه معنی؟ ...... ۲۳۴
"مُضْطَرّ" څوک دی؟ ...... ۲۳۵
دا منقطعه استثناء ده ...... ۲۳۷
سوال جواب ...... ۲۳۸
"تَدَارَکَ" څه معنی؟ ...... ۲۳۸
سوالونه او جوابونه ...... ۲۳۹
د "ادارک" صرفي تحلیل ...... ۲۳۹
یوه پوښتنه او د هغې جواب ...... ۲۴۳
تبصره ...... ۲۴۴
د جواب درېګوني ټکي ...... ۲۴۴
"غَائِبَة" څه معنی؟ ...... ۲۴۵
د بني اسرائیلو د اختلافاتو مثالونه ...... ۲۴۷
د "سَمْعٌ" او "مَیِّتٌ" معناوي ...... ۲۴۸
ایا مړه د ژوندیو خبري اوري؟ ...... ۲۴۹
دلته د "وُقُوع" معنی ...... ۲۵۳
د "دابة الأرض" پېژاندنه ...... ۲۵۳
دغه څاروی موجود دی یا به موجود شي ...... ۲۵۴

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د دغه خاروي د خروج وخت ........ ۲۵۴
د دغه خاروي څېره عجیبه ده ........ ۲۵۵
دا یو خاروی دی انسان نه دی ........ ۲۵۵
دا خاروی به په کومه ژبه خبري کوي؟ ........ ۲۵۵
دا خاروی په خبرو کښې څه وایي؟ ........ ۲۵۶
دوه قرائتونه ........ ۲۵۶
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۵۶
اهل التشیع څه وایي؟ ........ ۲۵۷
"فَوْج" څه معنی؟ ........ ۲۵۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۵۸
تبصره ........ ۲۵۸
د "الصُّوْر" په هکله معلومات ........ ۲۶۱
سوال جواب ........ ۲۶۲
"فَزَعَ" څه معنی؟ ........ ۲۶۲
څو نکات ........ ۲۶۵
دري دوله تفسیر ........ ۲۶۵

القصص (۲۸)

سریزه ........ ۲۶۸
څو تکي ........ ۲۷۲
هامان څوک وه؟ ........ ۲۷۲
سوال جواب ........ ۲۷۵
"اِلْتِقَاط" څه معنی؟ ........ ۲۷۵
د عاقبت "ل" کوم یو دی؟ ........ ۲۷۵
آسیه رضي الله عنها کامله ښځه وه ........ ۲۷۶
په موسی علیه السلام باندې دا نوم چا کېښود؟ ........ ۲۷۶
یادونه ........ ۲۷۶
ایا فرعون اولاد درلود ........ ۲۷۶
"فَرَاغ" څه معنی؟ ........ ۲۷۹
سوال جواب ........ ۲۸۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۸۱
یوه بله پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۸۲
د "استوی" معنی ........ ۲۸۷
دا قیصه په کوم ښار کښې پېښه شوې وه؟ . ۲۸۷
تبصره ........ ۲۸۷
"وَکَزَ" څه معنی؟ ........ ۲۸۸
سوال جواب ........ ۲۸۸
سوال جواب ........ ۲۸۸
سوالونه او جوابونه ........ ۲۸۹
تبصره ........ ۲۹۱
یادونه ........ ۲۹۱
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۹۱
تبصره ........ ۲۹۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........ ۲۹۴
"تِلْقَاءَ" څه معنی؟ ........ ۲۹۴
دواړه هجرتونه متشابه وه ........ ۲۹۵
څو تکي ........ ۲۹۹
د خروبولو صورت ........ ۳۰۲
څو نکات ........ ۳۰۲
سوال جواب ........ ۳۰۳
لاندې څو تکو ته توجه په کار ده ........ ۳۰۴
"وَکِیل" څه معنی؟ ........ ۳۰۶
"جَذْوَة" څه معنی؟ ........ ۳۱۰
د "اَلْاَیْمَن" معنی ........ ۳۱۱
متعلق تفسیرونه ........ ۳۱۱
د دار په وخت کښې مونږ ته څه په کار دي؟ ۳۱۲
یوه عجیبه قیصه ........ ۳۱۲
معانقه څه ته وایي؟ ........ ۳۱۳
په یاد ولرئ ........ ۳۱۷
یادونه ........ ۳۱۷
سوال جواب ........ ۳۱۷


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




یو خل کتل یې بې ګټې نه دي ............ ۳۱۸
د پخو خښتو صنعت ............ ۳۱۸
دروغینه مانۍ ............ ۳۱۸
عوامو څنګه باور وکړ ............ ۳۱۹
تبصره ............ ۳۲۰
د حدیث شریف یو مصداق ............ ۳۲۰
"قُبح" څه معنی؟ ............ ۳۲۱
د غیبي معلوماتو درې ګروپونه ............ ۳۲۴
شاهدان څوک وه؟ ............ ۳۲۵
سوال جواب ............ ۳۲۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۲۶
سوال جواب ............ ۳۲۷
د "لَولا" د کلمې استعمال ............ ۳۲۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۲۹
څو نکات ............ ۳۳۲
سوال جواب ............ ۳۳۳
توصیل څه معنی؟ ............ ۳۳۴
ایا د "اسلام" کلمه محمدي شریعت پورې خاصه ده؟ ............ ۳۳۷
ماثور تفسیر ............ ۳۳۸
یادونه ............ ۳۳۸
د متارکې (پرېکون) سلام ............ ۳۳۸
سلمان الفارسي رضی الله عنه په اسلام مشرف شو ............ ۳۳۸
سوال جواب ............ ۳۴۲
د ابو طالب وفات ............ ۳۴۲
په یاد ولرئ ............ ۳۴۳
"جِبایَة" څه معنی؟ ............ ۳۴۳
په یاد ولرئ ............ ۳۴۶
"أمُّ القُرَی" څه معنی؟ ............ ۳۴۶
څو پوښتنې او جوابونه ............ ۳۴۹
سوال جواب ............ ۳۵۰
"اختیار" څه معنی؟ ............ ۳۵۲
د "اختیار" معناوې ............ ۳۵۲
د "خِیَرَة" معنی ............ ۳۵۳
د استخارې ارشاد ............ ۳۵۴
سوال جواب ............ ۳۵۵
"سَرمَد" څه معنی؟ ............ ۳۵۸
یو نحوي تحلیل ............ ۳۵۹
سوال جواب ............ ۳۶۰
یادونه ............ ۳۶۱
قارون د موسی علیه السلام د تره خوی وه ............ ۳۶۴
د څو لغاتو معناوې ............ ۳۶۴
سوال جواب ............ ۳۶۵
د قارون جواب ............ ۳۶۶
د دې ایت نظیر ............ ۳۶۶
تبصره ............ ۳۶۷
ایا د کیمیا علم حقیقت لري ............ ۳۶۷
په یاد ولرئ ............ ۳۶۷
دا د قارون په جواب کښې شامل نه دی ............ ۳۶۸
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ............ ۳۶۸
سوال جواب ............ ۳۷۱
د قارون کور هم خسف شو ............ ۳۷۲
یو لغوي تحلیل ............ ۳۷۲
د قارون په باب څه معلومات ............ ۳۷۳
د ځمکې ښخه راغورزولې شوې مرې ............ ۳۷۵
سوال جواب ............ ۳۷۷
دلته د "فَرَض" معنی ............ ۳۸۰
"مَعاد" څه معنی؟ ............ ۳۸۱
سوال جواب ............ ۳۸۲
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۸۲
سوال جواب ............ ۳۸۳
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۳۸۴


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



### العنکبوت (۲۹)


سریزه ............ ۳۸۶
د ایت شریف عموم ته اعتبار دی ............ ۳۹۱
سوال جواب ............ ۳۹۱
هېر مو نه شي ............ ۳۹۲
د سعد بن ابي وقاص ﷺ قیصه ............ ۳۹۵
هېر مو نه شي ............ ۳۹۶
د ایت مفهوم عام دی ............ ۳۹۷
دلته د منافقت معنی ............ ۳۹۷
یادونه ............ ۳۹۸
امتحانونه او بدلون ............ ۳۹۸
د نوح ﷺ ټول عمر ............ ۴۰۱
یوه عجیبه عبرتي خبره ............ ۴۰۱
"طُوفَان" څه معنی؟ ............ ۴۰۲
سوال جواب ............ ۴۰۴
ماثور تفسیر ............ ۴۰۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۴۰۵
یو نحوي تحلیل ............ ۴۰۸
متعدد تفسیرونه ............ ۴۰۸
روښنی هجرت کوونکی څوک دی؟ ............ ۴۰۹
سوال جواب ............ ۴۱۰
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۴۱۰
په یاد ولرئ ............ ۴۱۰
په یاد ولرئ ............ ۴۱۵
منکر یعنې څه؟ ............ ۴۱۵
سوال جواب ............ ۴۱۶
یو تفسیري تحلیل ............ ۴۱۷
یو نحوي تحلیل ............ ۴۲۰
"حَاصِب" څه معنی؟ ............ ۴۲۱
د "عَنکَبُوت" معنی ............ ۴۲۳
سوال جواب ............ ۴۲۴
لمونځ خیر ته بلونکی دی ............ ۴۲۵
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۴۲۵
د لمانځه یو نظیر ............ ۴۲۶
دوه ډوله تفسیر ............ ۴۲۷
تبصره ............ ۴۲۸
څو پوښتنې او د هغو جوابونه ............ ۴۳۳
عجیب جواب ............ ۴۳۳
دوه ډوله تفسیر ............ ۴۳۴
تبصره ............ ۴۳۴
نبي کریم ﷺ لیکونکی او لوستونکی نه وه. ۴۳۵
دلته کوم علم مطلب دی؟ ............ ۴۳۶
سوال جواب ............ ۴۳۶
په نبوت باندې د الله ﷻ شهادت ............ ۴۳۷
دلته کوم عذاب ته اشاره ده؟ ............ ۴۳۹
د ایت شریف یو نظیر ............ ۴۳۹
سوال جواب ............ ۴۳۹
د هجرت ترغیبات ............ ۴۴۲
زخیره کوونکي ساکښان ............ ۴۴۳
د پښتو څو اشعار ............ ۴۴۳
یو صرفي تحلیل ............ ۴۴۶
د ایت شریف نظائر ............ ۴۴۹
د نصرت ضمني وعده ............ ۴۵۰
د ایت شریف یو مصداق ............ ۴۵۰


### الروم (۳۰)


سریزه ............ ۴۵۲
سوال جواب ............ ۴۵۵
"بِضْع" څه معنی؟ ............ ۴۵۶
سوالونه او جوابونه ............ ۴۵۶
یادونه ............ ۴۵۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ............ ۴۶۰
"اِبْلَاس" څه معنی؟ ............ ۴۶۳


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو




د دوه وو لفاتو معناوي ..................... ۴۶۴
د تسبیح او تحمید فضائل ..................... ۴۶۴
د لمانځه پنځه وختونه ..................... ۴۶۵
یادونې ..................... ۴۶۵
دوه دوله تفسیر ..................... ۴۷۰
سوال جواب ..................... ۴۷۰
درې نحوي تحلیلونه ..................... ۴۷۳
د "فطرة" په ارتباط اوږد بحث ..................... ۴۷۵
د ایت شریف ارشاد ..................... ۴۷۷
سوال جواب ..................... ۴۷۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..................... ۴۷۸
سوال جواب ..................... ۴۸۱
سوال جواب ..................... ۴۸۲
دلته "حق" عام دی ..................... ۴۸۴
"رِبَا" څه معنی؟ ..................... ۴۸۴
یوه مقدمه ..................... ۴۸۵
د "رِبَا" کلمه د کوم مال څخه عبارت ده؟ ..... ۴۸۷
تبصره ..................... ۴۸۸
د "زکوة" او "إضعاف" معناوي ..................... ۴۸۸
څو نکات ..................... ۴۹۳
سوال جواب ..................... ۴۹۴
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..................... ۴۹۵
د اسلام دین د بقاء او برکت دین دی ..................... ۴۹۵
یادونه ..................... ۴۹۶
"صدع" څه معنی؟ ..................... ۴۹۷
یو نحوي تحلیل ..................... ۴۹۷
څو ټکو ته توجه په کار ده ..................... ۵۰۰
څو نکات ..................... ۵۰۱
سوال جواب ..................... ۵۰۲
د "سماع الموتی" موضوع ..................... ۵۰۲
څو نکات ..................... ۵۰۶
تبصره ..................... ۵۰۷
د قیامت د ورځې یو نوم "الساعة" دی ..................... ۵۰۷
سوال جواب ..................... ۵۰۷
تبصره ..................... ۵۰۸
یوه پوښتنه او د هغې جواب ..................... ۵۰۸
څو نکات ..................... ۵۰۸
"استعتاب" څه معنی؟ ..................... ۵۰۹
د "إبطال" او "إستخفاف" معناوي ..................... ۵۰۹


## لقمان (۳۱)


سریزه ..................... ۵۱۲
څو نکات ..................... ۵۱۴
د "اشتراء" معنی ..................... ۵۱۸
"لهو الحدیث" څه معنی؟ ..................... ۵۱۸
د ساز او سرود شرعي حکم ..................... ۵۱۹
تبصره ..................... ۵۲۲
"لقمان" څوک وه ..................... ۵۲۵
"حکمت" څه معنی؟ ..................... ۵۲۵
ایا د لقمان څوی کافر وه؟ ..................... ۵۲۶
سوال جواب ..................... ۵۳۰
ماشوم ته د تې ورکولو موده ..................... ۵۳۰
د مور حق زیات دی ..................... ۵۳۰
دوه دوله تفسیر ..................... ۵۳۱
دلته د "مَعْرُوف" معنی ..................... ۵۳۱
سوال جواب ..................... ۵۳۲
"تصعیر" څه معنی؟ ..................... ۵۳۲
یو صرفي تحلیل ..................... ۵۳۳
متعدد تفسیرونه ..................... ۵۳۶
دلته "کلمات الله" څه معنی؟ ..................... ۵۴۰
سوال جواب ..................... ۵۴۰
یادونه ..................... ۵۴۰


Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو



د "صَبور" او "شَکور" معناوې ........................ ۵۴۲
"ظُلَّة" څه معنی؟ ........................ ۵۴۳
د "اقتصاد" معنی ........................ ۵۴۳
"ختر" څه معنی؟ ........................ ۵۴۳
سوال جواب ........................ ۵۴۶
"غُرُوُر" څه معنی؟ ........................ ۵۴۶
یادونه ........................ ۵۴۶
څه گټور معلومات ........................ ۵۴۷
سوال جواب ........................ ۵۴۷
یوه پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۴۸
یوه بله پوښتنه او د هغې جواب ........................ ۵۴۸
یوه قیصه ........................ ۵۴۹
مرگ ته ورخغلي ........................ ۵۴۹

## السجدة (۳۲)

سریزه ........................ ۵۵۲
د قرآن کریم د اعجاز نظائر ........................ ۵۵۷
څو منظوم نظایر ........................ ۵۵۷
یادوني ........................ ۵۵۸
متعدد تفسیرونه ........................ ۵۵۸
سوال جواب ........................ ۵۶۰
"اِحْسَان" څه معنی؟ ........................ ۵۶۱
ملک الموت یعنې څوک؟ ........................ ۵۶۵
"تَجَافِي" څه معنی؟ ........................ ۵۶۶
د ایت شریف ارشاد ........................ ۵۶۶
"قُرَّةِ اَعْيُن" څه معنی؟ ........................ ۵۶۷
د ایت شریف امثال ........................ ۵۶۹
ادنی عذاب کو. عذاب دی؟ ........................ ۵۷۰
[illegible] ........................ ۵۷۰
[illegible] ...اب ........................ ۵۷۲
[illegible] ........................ ۵۷۳
پوښتنې او جوابونه ........................ ۵۷۳
د ایت شریف ارشاد ........................ ۵۷۴
څو ټکو ته توجه په کار ده ........................ ۵۷۶
د "اَلْفَتْح" څخه کومه فتحه مراده ده؟ ........................ ۴۷۷
سوال جواب ........................ ۵۷۷

Scanned by CamScanner

د میرویس اباسین لخوا سکین شو

Scanned by CamScanner